(د الشرح الثميري خصوصيات)

(۱) هره مسئله يې جلا جلا ليکلېده او پر هغه باندې نمبر لګولئ دئ چي په پُوهَنَه او را ايستلوکې آساني وي .

(۲) د هرې مسئلې بامحاوره ترجمه سوې ده .

(۳) د هرې مسئلې وجه يعني دليل عقلي او دليل نقلي يې پيش کړئ دئ .

(۴) د هرې مسئلې تحت د احاديثو ذخيره يې پيش کړې ده .

(۵) کوم مسئله پر کوم اصول باندې فِټ ده هغه اصول يې بيان سوئ دئ .

(۶) د لغت تحت يې دمُشکل الفاظو تحقيق پيش کړئ دئ .

(۷) دفائدې تحت يې د امامانو اختلاف په مختصر انداز کي پېش کړئ دئ .

(۸) د تشريح تحت يې مُشکله مسئله په آسان انداز سره پيش کړې ده .

(۹) دليل ته ډېر طوالت نه دئ ورکړئ چي طلبآء زيات تنګ نه سي .

(۱۰) ژَبَه عام او آسان فهم استعمال سوې ده .

(۱۱) دليل او اصول يې د هدايې او صَحاحِ سته رنګه اهمو کتابو څخه اخستل سوئ دئ .

(۱۲) د وراثت مسئله يې دکېلکولېټر په مرسته په نوي انداز سره پېش کړې ده چي د مُناسَخې ټول بحث په دوه منټ کي حل کيږي .

..... كِتَابُ البُيُوعِ .....

[۸۲۰] (۱) اَلبَيعُ يَنعَقِدُ بِالاِيجَابِ وَالقَبُولِ اِذَاكَانَابِلَفظِ المَاضِيِّ .

ضروري پام لرنه : بيع ،د بَاعَ يَبِيعُ بَيعًا څخه مشتق دئ،معنيْ خرڅول،د مال په بدله كي مال ورکول،د اِشتقاق ماخذ ئې بَاعٌ دئ، بيع د ايجاب او قبول څخه منعقد كيږي كه خرڅونكئ مخكي ايجاب وكي كه رانيونكئ،د بيع د جواز دليل دا آيت دئ وَ اَحَلّ اللهُ

الْبَيعَ وَ حَرّمَ الرِّبَوا (الف) (آیت ۲۷۵ سورة البقرة ۲) ددې آیت څخه معلوم سو چې بیع جائز ده.

پام لرنه : کتاب البیوع د معاملات څخه دئ نو ځکه په بیع کې ډیري مسئلې پر تَعَامُلُ النّـاس باندي بِنَـآء دي. نـو ځکـه ددې مسئلو لپـاره حـدیث یـا د صـحابي قـول راوړل ضروري نه دئ. دغه رنګه مسئلې صرف پر اُصُول باندي مُتفرع دي. خـو د اُصُـول د تعیین لپاره به حدیث یا د صحابي د قول وړاندي کولو کوشش کوو.

[۸۲۰] (۱) بیع په ایجاب او قبول سـره منعقد کیږي چې کلـه دواړي د فعلِ ماضـي دصیغو څخه وي .

تشریح : بیع په ایجاب او قبول سره منعقد کیږي یعنـي چې یـو سړئ ووائـي ، مـا وا خَستَئ او بل سړئ ووائي چې ما درباندي خرڅ کړي، نو په دغه ایجاب او قبول سـره بیع تامیږي خو شرط دادئ چې دغه دواړه لفظونه د فعلِ ماضي د استعمال کړي.

وجه : (۱) د فعلِ ماضي په استعمالولو سره خبره پخه او مضبوطه وی.ځکـه چې پـه عربي ژبه کی خو یا فِعلِ ماضي ده یافِعلِ مُضَارِع ده. او د فِعلِ مُضارع ترجمه یا حال ده یا استقبال ده. نو که چیري د استقبال معنيْ واخلې نـو بیـا خـو بـه د اخسـتلو یـا خرڅولو صرف وعده وي.باقاعده اخستل یا خرڅول خو نه سو.نو ځکه د خبري د پخوالي او مضبوطئ لپاره به حتمًا د فعلِ ماضي صیغه استعمالوي (۲) په حـدیث کـې راغلي دي قَالَ لِي اَلعَدَآء بِنِ خَالِدُ بِنِ هَوذَه ألاَ اُقرِئُکَ کِتَابًا کَتَبَهُ لِـي رَسُولُ اللهِ صَـلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ قَالَ قُلتُ بَلْي فَاَخرَجَ لِي كِتَابًا هٰذَا مَا اِشتَرِيْ العَدَآءُ بِنِ خَالِدُ بِنِ هَـوذَه مِـن مُحَمّدٍرَسُولِ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ اِشتَرِيْ مِنهُ عَبدًا اَو اَمَةً لاَ دَآءَ وَلاَ غَائِلَـةَ وَلاَ خُبثَـةَ (الف) (ترمـذي شـریف،باب ماجـآء فـي کتابـة الشـروط ص۲۳۰نمبر۱۲۱۶) پـه دې حدیث کې اِشتَرِيْ د فعلِ ماضي صیغه استعمال سوې ده چې خبـره پخـه او مضـبوطه سي.او بیا ئې دغه د خرڅولو او را نیولو عمل تر لیک لانـدي هـم را وسـتلئ دئ چـي نوره پُختګي او مضبوطوالي پکښي پیدا سي (۳) او پـه یـو بـل حـدیث کـي هـم د فعلِ ماضی صیغه استعمال سوې ده عَن اَنَسٍ بِنِ مَالِکٍ اَنّ رَسُولَ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيـهِ وَسَلّمَ بَاعَ حِلسًا وَ قَدحًاوَقَالَ مَن يَشتَرِي هٰذَا الحِلسَ وَ القَدحَ ؟ فَقَالَ رَجُلٌ اَخَذتُهُمَا بِدِرهَمٍ (ب) (ترمذي شریف.باب ماجآء في بیع من یزیـدص۲۳۰ نمبـر۱۲۱۸) پـه دې حـدیث کـي اَخِستُونکي سړي اَخَذتُهُمَا بِدِرهَمٍ لفظ ویلـئ دئ او د فعـلِ ماضـي صـیغه ئـې اسـتعمال کړې ده.نو په دغه وجه په بیع کي د فعلِ ماضي صیغه استعمالول ضروري ده .

اصـول : (۱) پـه معـاملاتو کـي پخـه او مضـبوطه خبـره کـول ضـروري ده (۲) پـه خرڅولو او رانیولو کي دي د فعلِ ماضي صیغې استعمال کړي او ایجاب او قبـول دي په وکړي. ددې وجه داده چې د بائع او مُشتري د رضامندئ بغیره بیع نه سي کېدلائي

حاشیه : (الف) الله تعالیٰ بیع حلال کړې ده او سُود ئې حرام کړئ دئ .

او ددغه رضامندئ اِظهار په ايجاب او قبول سره کيږي. نو ځکه د ايجاب او قبول ضرورت سته په حديث کي ددې ثبوت موجود دئ عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ کُنّا مَعَ

حاشيه : (الف) ماته عدآء بن خالدبن هوذه وفرمائل آيا زه ستا په مخکي دارنګه خط نه ولولم (ووايم) چي زوما لپاره ئې ليکلئ دئ.ماورته وويل هو ! نو يو خط ئې راوکښئ (چي په هغه کي دا ليکي و) دا هغه دئ چي عدآء بن خالد بن هوذه د محمد څخه مريئ يا مينځه اَخستې ده چي په هغه کي ناجوړي نسته.دوکه نسته.خباثت نسته (ب) حضور ځل او پياله خرڅ کړل. وفرمائل دا ځل او پياله څوک اَخلِي ؟ يوه وويل دا دواړه ما د يوه دِرهَم په بدله کي واخستل .

[۲۸۱] (۲) فَاِذَا وَجَبَ اَحَدُ المُتَعَاقِدَينِ البَيعَ فَالآخَرُ بِالخِيَارِ اِن شَآ ءَ قَبِلَ فِي المَجلِسِ وَاِن شَآ ءَ رَدّهُ .

النّبِيّ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ فِي سَفَرٍ فَکُنتُ عَلْي بِکرٍ صَعبٍ لِعُمَرَ ..... فَقَالَ النّبِيّ لِعُمَرَ بِعنِيهِ قَالَ هُوَ لَکَ يَا رَسُولَ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ (الف) (بخاري شريف باب اذااشتري شيئا فوهب من ساعته قبل ان يتفرقاص۲۸۴نمبر۲۱۱۵) په دې حديث کي حضورصلي الله عليه وسلم د بِعنِيهِ لفظ په ويلوسره ايجاب کړئ دئ او حضرت عمر هُوَ لَکَ يَا رَسُولَ اللهِ ووائي قبول کړئ دئ.نو ځکه په بيع کي ايجاب او قبول ضروري دي .

پام لرنه : چي بائع مَبِيعَه ورکړي او مُشتري ئې واخلي او قيمت ئې معلوم وي او هيڅ ډول ايجاب و قبول ونه کړي نو دې ته بَيعِ تَعَاطِي وائي.په دا ډول کولو سره هم بيع تاميږي.ځکه چي رضامندي پکښي راغله او دَلاَلَةً ايجاب و قبول وسول .

[۲۸۱](۲) بياچي کله د خرڅونکي او رانيونکي څخه يوه د بيعِ ايجاب وکئ نو وهغه دوئم ته اختيار دئ که خوښه سي په مجلس کي دې قبول کړي او که خوښه سي هغه دي رَد کړي.

تشريح : چي کله يو د بيعِ ايجاب وکي نو هغه بَل ته اختيار دئ که خوښه سي هغه دي قبول کړي که خوښه سي رَد دې کړي لېکن د قبلولو اختيار تر هغه وخته پوري دئ تر څو چي مجلس برقراره وي. چي هر وخت مجلس پائي ته ورسيږي بيا د قبلولو اختيار نه لري .

وجه : (۱) مجلس که هر څونه وُږد وي خو دا جَمعٌ لِلمُتَفَرّقَات ګڼل سوئ دئ.ځکه چي که سَم دستي دقبلولوشرط پرولګول سي نووقبلونکي ته به دسوچ اوفکرکولو موقع نه سي پيدا. او که چيري د مجلس د ختم کېدو وروسته هم د قبلولو اختيار

حاشيه : (الف) عبدالله بن عمرفرمائي چي موږ دحضور سره په يوه سفر کي و.زه دحضرت عمر پر يوه ځوان وُښ سپور وم. حضور و عمر ته وفرمائل دا پر ماباندي خرڅ کړه.عمر وفرمائل يَارَسُولَ الله هغه ستا لپاره دئ .

[۲۸۲](۳) فَاَيّهُمَا قَامَ مِنَ المَجلِسِ قَبلَ القَبُولِ بَطلَ الاِيجَابُ .

ورکول سي نو پر ایجاب کونکي سړي باندي به ډېره وُړده مُده انتظار کول لازم سي چي دهغه لکبله به حرج رامینځ ته سي. نو ځکه شریعت د دواړو تر مینځ دغه مجلس یو مِعیَار ګرزولئ دئ (٢) په لوړ حدیث کي حضور صلي الله علیه وسلم بِعنِیهِ لفظ ویلئ دئ او حضرت عمر رضي الله تعاليْ عنه په دغه مجلس کي د هُوَ لَکَ یَا رَسُولَ اللهِ په لفظ سره قبول کړئ دئ. ددې څخه دا معلومیږي چي په مجلس کي به قبلوي .

پام لرنه : که چیري د مجلس د اختتام وروسته قبول کړئ او ایجاب کونکي هم ورسره ومنل بیا هم بیع صحیح کیږي ځکه چي رضامندي راغله .

پام لرنه : په خط او پیغام استولو کي د هغه خط او پیغام رسېدو مجلس مُعتبر دئ چي که په دغه مجلس کي مُرسَل اِلَیهِ قبول کړئ نو خبره خلاسه ده.

اصول : تر مجلس تر حد پوي ئې قبلولائي سي دهغه وروسته ئې نه سي قبلولائي.

[٨٢٢](٣) د بائع او مُشتري څخه چي هر یو د قبول څخه مخکي د مجلس څخه ولاړ سي نو ایجاب به باطل سي .

وجه : د قبلولو اختیار خو صرف د مجلس تر حد پوري ونو ځکه د مجلس د اختتام وروسته بیا د قبلولو اختیار نه لري او ایجاب به ختم سي. ځکه چي د مجلس څخه ولاړېدل د ایجاب څخه د اِعرَاض دلیل دئ .

پام لرنه : هر هغه عمل چي پر اِعرَاض باندي دلالت کوي په هغه باندي هم مجلس ختمیږي او ایجاب باطلیږي.مثلاً د ایجاب وروسته قبلونکئ سړئ په دغه مجلس کي په بَل کار ځان مشغول کړي نو په دې سره هم د ایجاب مجلس ختمیږي .

اصول : په اِعرَاض کولو سره مجلس ختمیږي .

[٨٢٣](۴) فَاِذَا حَصَلَ الاِیجَابُ وَالقَبُولُ لَزِمَ البَیعُ وَلاَ خِیَارَ لِوَاحِدٍ مِنهُمَا اِلاّ مِن عَیبٍ اَو عَدَمِ رُؤیَةٍ .

---

[٨٢٣](۴) چي کله ایجاب او قبول حاصل سي نو بیع به لازم سي او د بائع او مُشتري دواړو څخه و یوه ته اختیار نسته. ماسوائ د عَیب او د نه لیدلو په وجه .

تشریح : بائع او مُشتري دواړو ایجاب او قبول وکئ اُوس بیع مُکمّل سوه.که څه هم مجلس موجود او دوام ولري خو بیا هم ویوه ته د بیع د ختم کولو اختیار نسته. البته ! که چیري په مَبِیعَه کي عیب وی یا ئې مَبِیعَه نه وي لیدلې نو د خِیَارِ عَیب او خِیَارِ رُؤیَت په وجه د بیعِ د ماتولو او ختم کولو اختیار سته.د مجلس د دوام او بقآء لکبله د خِیَارِ مجلس په وجه بیع د ختم کولو اخیار نه لري .یعني د احنافو په نېز و یوه ته هم خِیَارِ مجلس نه دئ حاصل .

وجه : (١) په حدیث کي راغلي دي عَن حَکِیم بِنِ حِزَامٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ اَلبَیعَانِ بِالخِیَارِ مَالَم یَتَفَرّقَا (الف) (بخاري شریف.باب اذا بین البیعان ولم یکتما

ونصــحاص۲۷۹نمبــر ۲۰۷۹\مســلم شــريف.باب ثبــوت خيــار المجلس للمتبــايعين ج۲ص۳۱نمبر ۱۵۳۱\ابوداؤدشريف.۳۴۵۹\ترمذي شريف.نمبر۱۲۴۶)پـه دې حـديث كي دئ چي و بائع او مُشتري ته د بيع د ختم كولو اختيار سته تر هغو چي تَفَـرُق ئـې نه وي كړئ يعني نه دې قبلوي. د تَفَرّق معنيْ ده قبلول او خبره پر خبره باندي ايښـول (مضبوط كول) . چي د ايجاب وروسته قبول وكـړئ نـو بيـا خـو بيـع مضـبوط سـوه اُوس ئې نو د ختم كولو اختيار نه لري كه څه هم د بيع مجلس برقـراره وي. حضـرت عمر (رضي الله عنه) د تَفَرُق دغه تفسير كړئ دئ وَقَالَ عُمَرُ اَلبَيعُ

حاشيه: (الف) حضور وفرمائل وبائع او مُشتري ته اختيار دئ تر څو چي د قول تَفَرّق نه وي.يعني چي قبـول ئې نه كړي يا تر څو چي دُوئي سره جلا نه سي .

عَن صَفقَةٍ اَو خِيَارٍ (الف) (مصنف عبـدالرزاق ج۸ص۵۳نمبـر۱۴۲۷۴ بـاب البيـان بالخيارمـالم يتفرقـا \مصـنف ابـن ابـي شـيبة ۳۷۹مـن كـان يوجـب البيـع اذا تكلـم بـه ج۴ص۵۰۷نمبـر۲۲۵۶۹). حضـرت سُـفيان هـم د تَفَـرُق دغـه تفسـير كـړئ دئ قَـالَ السّفيَانُ وَالصّفقَةُ بِاللِّسَانِ (ب) (مصنف عبـدالرزاق ج۸ص۵۳نمبـر۱۴۲۷۳) يعنـي بيع په ژبه سره تاميرِي (۲) په حديث كي اَلمُتَبَايِعَانِ (بيـع كـونكي) لفظ راغلـئ دئ. او بيع كونكي هغه وخت كېدلائي سي چي كله دُوئي ايجاب او قبـول كـوي.او پـه دغـه حالت كي و دُوئي ته د نه قبلولو يا د قبلولو څخه مخكي و ايجـاب كـونكي تـه د خپلـي خبرِي د واپس اخستلو اختيار سته. او چي كـوم وخـت ئـې قبـول كـړئ نـو د مُتَبَايِعَـانِ صفت ختم سو نو ځكه د حديث په رُونَا كي اُوس دُوئي د خپلي خبرِي د واپس اخسـتلو اختيار نه لرِي. په يوه حديث كي راغلي دي قَالَ قَـالَ رَسُـولُ اللهِ صَـلّي اللهُ عَلَيـهِ وَسَلّمَ اَلبَيعَانِ بِالخِيَارِ مَالَم يَتَفَرّقَا مِن بَيعِهِمَا (مصنف ابن ابي شيبة ۷۸من قال البيعان بـالخيار مالم يتفرقا ج۴ص۵۰۶نمبر۲۲۵۶۰)

فائده : د امامِ شافعي او د نـورو امامـانو دا رأيـه ده چـي د قبلولـو وروسـته او د بيـع د مُكمّل كېدو وروسته هم تر څو چي د بيع هغه مجلس او ناسته دوام ولري نـو تـر هغـه وختـه پوري و دواړو تـه دخپلـي خپلـي خبـري د واپـس اخسـتلو او د بيـع د خـتم كولـو اختيار سته او ودواړو ته خِيَارِ مَجلِس حاصل دئ .

وجه : دُوئي هم د لوړ حديث څخه استدلال كوي. دُوئي فرمائي چي په حديث كي د مَـا لَم يَتَفَرّقَاڅخه تَفَرُق بِالاَبدَان مراد دئ.يعني چي بدني توګه يو د بله څخـه جـلا سـي تـر هغه وخته پوري و دواړو ته دخپلي خپلي خبري د واپس اخستلو اختيـار سـته پـه دغـه وجه ددې حديث رَاوِي عبدالله بن عمر به دا كول چي د يو شي د اخستلو وروسته چـي د بيعِ د ختم كولو اراده به نه وه نو به ولاړېدئ او څو قدمه (ګامونه)

حاشیه : (الف) حضرت عمر وفرمائل چي بيع په صَفقه سره پوره کيږي يعني په قبلولو سره. يا د بيعِ په اختيـار ولو سره پوره کيږي (ب) حضرت سُفيان وفرمائل چي په ژبه سره صَفقَه وي نو بيع تاميږي .

[۸۲۴](۵) وَالأعوَاضُ المُشَارُ اِلَيهَا لاَ يَحتَاجُ اِلْي مَعرِفَةِ مِقدَارِهَا فِـي جوازِالبَيعِ .

به تلئ چي مجلس بدل سي او و بائع ته د خِيَارِمَجلِس په وجه د بيع د ختم کېدو اختيـار نه سی پاته. ددې څخه دا معلوم سو چي رَاوِي په خپله د تَفَرُق څخه تَفَرُق بـالأقوال نـه بلکه تَفَرُق بِالاَبدَان اَخستَئ دئ. روايت دئ زَادَ اِبنُ عُمَرَ فِي رِوَايَتِهِ قَالَ نَـافِعُ فَکَـانَ اِذَا بَايَعَ رَجُلاً فَاَرَادَ اَن لاَ يَقبِلَهُ قَامَ فَمَشْي هَنِيئَةً ثُمّ رَجَعَ اِلَيـهِ (الـف) (مُسلِم شـريف.باب ثبــوت خيــارالمجلس للمتبــايعين ص۳۱نمبــر ۱۵۳۱\ ابوداؤدشــريف. بــاب فـــي خيارالمتبايعين ج۲ص۱۳۳ نمبر۳۴۵۷) په دې اثر کي دئ چي حضرت عمر بـه څـو قدمه (ګامه) تَګ کاوئ چي مجلس بدل سي او بائع ته د بيعِ د ختمولو اختيار نه سـي پاته .

اصول : د حنافو په نيز د خِيَارِ مَجلِس حق نه دي ورته حاصل .

[۸۲۴](۵) د بدلې شئ چي اشاره ورته سوې وي د بيع په جواز کي د هغـه د مقدار د معلومولو ضرورت نسته .

تشريح : د اَلآعوَاض څخه مَبِيع يا ثَمَن مراد دي چي پـه بدلـه کـي ورکـول کيـږي. کـه چيري مَبِيع يا ثَمَن مخته پراته وي او د بيع پر وخت وهغه ته اشاره وکړل سـي.نو بيـا چي ددې مقدار څونه دئ؟ څو کيلـو دئ ؟ تعـداد ئـې څونـه دئ ؟ د بيـع د جـواز لپـاره ددې ضرورت نسته. ددې د معلومولو بغيره هم بيع جائز ده .

وجـه : پـه تېـرو وختـو کـي چـي يـو شـئ بـه مخـامخ پـروت و نـو د هغـه د مقدار د معلومولوبغيره به بيع کوله ځکـه چـي مُشـتَرِي پـه دغـه حالـت کـي ددې داخسـتلولپاره راضي دئ.پاته سو دا چي داشئ ښَه دئ يا خراب دئ نو هغه خو مُشتَرِي په خپله په

حاشيه: (الف) حضرت نافع فرمائي چي کله حضرت عبدالله بن عمرد يو چا سره دبيـع کولـو او بېرتـه د اِقَـالې نـه کولو اراده درلوده نو به ولاړ سو او روان به سو بيا به بېرته راتلئ چي د خِيَارِمَجلِس په وجه بيع ختمه نه کړي .

[۸۲۵](۶) وَالأثمَـانُ المُطلَقَـةُ لاَ تَصِـحُ اِلاّ اَن تَکُـونَ مَعرُوفَـةَ القَـدرِ وَالصِّفَةِ .

سترګو ويني او بيا هم ئې اخلي نو دئ په دغه باندي راضي دئ.لهْذا بيع صحيح ده پـه حديث کي دئ سَمِعتُ اَبَـاهُرَيرَةَ يَقُولُ قَـالَ رَسُـولُ اللهِ صَـلّي اللهُ عَلَيـهِ وَسَـلّمَ لاَ يَفتَـرِقَنّ اِثنَـــانِ اِلاّ عَـــن تَـــرَاضٍ (الـــف) (ابوداؤدشـــريف.باب فـــي خيارالمتبـــايعين

ج۲ص۱۳۳نمبر۳۴۵۸) ددې څخه معلومیږي چې که چیري یو شئ مخامخ پروت وي او په رضامندي سره واخلي نو دا بیع جائز ده. په اندازه سره د یو شي د خرڅولو دلیل دا حدیث دئ اَنّ اِبنِ عُمَرَ قَالَ رَأیتُ النّاسَ فِي عَهدِ رَسُولِ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ يَبتَاعُونَ جُزَافًا يَعنِي اَلطّعَامَ (ب) (بخارى شريف.باب من راىْ اذا اشتريْ طعاما جزافا ص۲۸۶نمبر۲۱۳۷\مسلم شريف.باب بطلان بيع المبيع قبل القبض ج۲ص۵نمبر۱۵۲۷\۳۸۴۷) ددې حدیث څخه معلوم سو چې مَبِیع مخامخ پرته وي نوپه اندازه سره خرڅولائي سي که څه هم مقدارئې نه وي معلوم .

اصول : دبیع لپاره دغائب شي مقدار او صفت بیانیږي.دموجود شي د نه بیانیږي .

لغت : الأعوَاضُ : د عِوَضٌ جمع ده.د بدلې شئ.دلته مَبِیع یا ثمن ځینې مراد دئ .

[۸۲۵](۶) او مطلقا ثمن سره بیع نه صحیح کیږي مګر دا چې مقدار ئې معلوم وي او صِفَت ئې معلوم وي .

تشریح : هغه ثَمَن او قیمت چې مخامخ نه وي بلکه غائب وي او د هغه وخوا ته اشاره هم کیږي.چې ددې مقدار څو کېلو دئ یا څو لېټر دي یا تعداد ئې څونه دئاو صِفَت یعني بنَه دي که خراب دي دا شیان ئې نه وی معلوم تر هغه وخته پوري ددې خرڅول رانیول جواز نه لري .

حاشیه : (الف) حضور وفرمائل دوو کسان دي نه ځله جلاکیږي مګر په رضامندي سره (ب) عبدالله بن عمر فرمائي چې ما د حضور په زمانه کي خلګ ولیدل هغوئي به غَلّې په اَټکل (اندازه) سره خرڅولې .

وجه : (۱) کوم شئ چې مخامخ نه وي نو بائع بغیره د لیدلو پر هغه باندي د رضامندئ اظهار نه سي کولائي.نو ځکه په دي کي دُوګه ده.لهْذا ددې شي سره بیع جواز نه لري. په حدیث کي دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ قَدِمَ النّبِيُ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ اَلمَدِينَةَ وَهُم يَسلِفُونَ بِالثّمَرِ اَلسّنَتَينِ وَالثّلاَثَ فَقَالَ مَن اَسلَفَ فِي شَيءٍ فَفِي كَيلٍ مَعلُومٍ وَوَزنٍ مَعلُومٍ اِلْي اَجَلٍ مَعلُومٍ (الف) (بخاري شريف.باب السلم في وزن معلوم ص۲۹۸نمبر۲۲۴۰\مسلم شريف.ج۲ص۳۱نمبر۱۶۰۴) ددې حدیث څخه معلوم سو چې کومه مَبِیعَه یا ثمن مخامخ موجود نه وي خو دهغه کَیل (پیمانه) یا وزن او مُدَه (میعاد) معلوم وي بیا ئې خرڅول رانیول جائز دئ که نه نو بیا نه جواز نه لري (۲) د رضامندئ بغیره بیع جواز نه لري ددې دلیل په مسئله نمبر۵ کي د ابوداؤدشريف حدیث نمبر۳۴۵۸ تېرسوئ دئ (۳) او په کوم ثمن یا مبیع کي چې دوکه وي په هغه سره هم بیع جواز نه لري دلیل ئې دا حدیث دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ نَهْي رَسُولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ عَن بَيعِ الحَصَاةِ وَعَن بَيعِ الغَرَرِ (ب) (مسلم شريف.باب بطلان بيع الحصاة والبيع الذي فيه غرر ج۲نمبر۱۵۱۳\ابوداؤدشريف.باب في بيع الغرر ج۲ص۱۲۳نمبر۳۳۷۶)ددې څخه معلوم سو چې په کومه بیع کي چې دوکه وي هغه بیع جواز نه لري. چې شي معلوم نه وي نو دهغه بیع هم نه صحیح

کيږي دليل ئې دا حديث دئ عَن عَبدِاللهِ عَن رَسُولِ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيـهِ وَسَـلّمَ اَنّـهُ نَهْـي عَـن بَيعِ حَبلِ الحَبَلَةِ (ج) (مسلم شريف. باب تحريم بيع حبل الحبلة ج۲ص۲نمبر۱۵۱۴\بخاري شريف.باب بيع الغررو‌حبل الحبلة ص۲۸۷نمبر۲۱۴۳) په دې حديث کـې د هغـه حيـوان بيع ناجائز گڼلئ ده کوم چي د مور په نَس کي وي او نه سي ليدل کېدائي. دهغه صـفت مجهول دئ مقدار

حاشيه : (الف) حضور مديني نه تشريف راؤړئ نو خلگو تر دوو او درو کالو پوري په پور بيع کوله نو حضور ورته وفرمائل څوک چي په پور د يو شي بيع وکي نو دهغه کيل بايدمعلوم وي وَزَن ئې معلوم وي مُدَه ئې معلومـه وي (ب) حضور چي شَگَه ورتسه کړي دهغه بيـع او د ډُوکـې د بيـع څخـه منـع وکـړه (ج) حضـور د حاملـه (بَرَالبَه) حيوان د بَچِي د خرڅولو څخه منع وکړه .

[۸۲۶](۷) وَيَجُوزُ البَيعُ بِثَمَنٍ حَالٍ وَ مُؤجّلٍ اِذَا كَانَ الأَجَلُ مَعلُومًا .

ئې هم نه دئ معلوم. ددې حديث څخه دا معلوم سو چي دکوم غائب (پټ) شي مقـدار نه وي معلوم او صفت ئې نه وي معلوم هغه خرڅول يا په هغه باندي بَـل شـئ اَخَسـتَل جواز نه لري .

اصـول : (۱) د غائـب (پـټ) ثمـن مقـدار او صـفت بيـانول ضـروري دي (۲) د ډُوکې شئ نه مَبِيع جوړېدلائي سي او نه ثَمَن .

لغت : اَلأثمَانُ المُطلَقَةُ :چي کوم ثَمَن غائب وي يا دهغه مقدار يا صفت نـه وي معلـوم.
اَلقَدرُ : مقدار مثلاً څو کېلو دئ .

[۸۲۶](۷) بيع په نقد (نغد) ثَمن سره هم جائز ده او چي ثمـن پـه پـور وي هـم جـائز ده. خو په دې شرط چي تاريخ ئې معلوم وي .

وجه : (۱) چي د ثَمَن د اداَء کولو تاريخ نه وي معلوم نو مُشتَرِي بـه د ثَمَنُـو پـه اداَء کولو کي ټال مټول کوي او تنگول به کوي.نو ځکه د بيـع د وخـت څخـه دي د ثَمَنو د ورکولو تاريخ مُتَعَيّن کوي (۲) بيع په نَغدُو او په پـور دواړو ځکـه جـائز ده چـي پـه آيت کـي د مُطلَقًـا بيـع کولـو حُکـم دئ. آيـت دئ اَحَـلّ اللهُ البَيـعَ وَ حَـرّمَ الرِّبَـوا (آيـت ۲۷۵سورة البقرة) په دي کې د پور يا نغدو قيد نه دئ لگېدلئ لهْذا په نغدو او پـه پـور دواړو سره بيع جائز ده (۳) چي ثَمَن په پور وي دهغـه بيـع د جـواز دليـل دا حـديث دئعَن عَائِشَةَ اَنّ النّبِيّ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ اِشتَرِيْ طَعَامًامِن يَهُـودِيٍّ اِلْـي اَجَـلٍ وَرَهَنَـهُ دِرعًامِن

[۸۲۷](۸) وَمَن اَطلَقَ الثّمَنَ فِي البَيعِ كَـانَ عَلْـي غَالِـبِ نَقدِ البَلَـدِ فَـاِن كَانَتِ النُقُودُ مُختَلِفَةً فَالبَيعُ فَاسِدٌ اِلاّ اَن يُبَيِّنَ اَحَدُهَا .

حَدِيدٍ(الف) (بخاري شريف.باب شرآء النبي بالنسيئة ص۲۷۷ نمبر ۲۰۶۸\ ترمذي شريف.باب ماجآء في الرخصة في الشرآء الي اجل ص۲۳۰نمبر۱۲۱۴) ددې حديث څخه معلوم سو چي په پور ثَمَن سره مَبِيع اخستلائي سي. چي مُدَه ئې معلومه وي دهغه دليل په مسئله نمبر۶ کي دبخاري شريف حديث نمبر ۲۲۴۰ او د مُسلم شريف حديث نمبر۱۶۰۴ کي تير سوئ دئ .

اصول : چي ذُوکه نه سي ځکه د ثَمَن د ادآء کولو تاريخ بايد معلوم وي .

پام لرنه : که چيري تاريخ مُتعين نه کئ او وروسته اختلاف هم نه راغلئ نو بيع به جواز پيدا کړي.په لوړ حديث کي ودې ته اشاره سوې ده .

لغت : مُؤجّلٌ : مؤخر.ځنډېدل سوئ. اَلأَجَلُ : مُده. وخت .

[۸۲۷](۸) کوم چا چي په بيع کي ثَمَن مُطلق ذکر کړل نو دا به د ښار پر غالب نَقدِي باندي حمل وي.بيا که چيري نَغدِي (نَقدِي) مُختلفي (ډيري) وي نو بيع فاسد ده.مګر دا چي يو (خاص) نَقدِي بيان کړي.

تشريح : په ښار څو قسمه سِکّې (روپۍ.افغانئ.ثُمَن.رِيَال) چليږي د بيعِ کولو پر وخت ئې يوه سِکّه معلوم نه کړه.نو که چيري يوه سِکّه زياته (ډېره) چلېده بَس هغه ځيني مراد ده.

وجه : ځکه چي کومه سِکّه زياته چليږي نو د بيعِ کولو پر محال د انسان ذِهن وهغه ته ځي.لهٰذا هغه به ځيني مراد وي او بيع به جواز پيدا کړي.لېکن که چيري د ټولو سِکّو رِوَاج او چَلَن سره برابر وي او د هري سِکّې مَالِيّت مُختَلِف وي نو اُوس د

حاشيه : (الف) حضور د يوه يهودي څخه تر يوه وخته پوري په پور غلّه وَاخِستَه او دهغه په بَدلَه کې د اُوسپِينِي زَغرَه په ګرَو کي کښېښوله .

[۸۲۸](۹)وَيَجُوزُ بَيعُ الطّعَامِ وَالحُبُوبِ كُلِّهَا مُكَايَلَةً وَ مُجَازَفَـةً وَبِإنَـآءٍ بِعَينِهِ لاَ يُعرَفُ مِقدَارُهُ اَو بِوَزنِ حَجَرٍ بِعَينِهِ لاَ يُعرَفُ مِقدَارُهُ .

جَهَالَت په وجه بيع فاسد ده.ځکه چي بائع به د اعلٰي سِکّې مُطَالَبَه کوي او مُشتَرِي به اَدنٰي سِکّه ورکول غُوَاړِي. او يوه خاص سِکّه معلوم نه ده نو ځکه نِزَاع (جګړه) به رامينځ ته سي نو ځکه بيع فاسد ده.خوکه چيري د مجلس د اِختِتَام څخه مخکي يوه سِکّه معلوم کړي نو هغه سِکّه به متعين سي او بيع به جواز پيدا کړي .

اصول : چي تَعَيّن نه وي نو د غَالِب اعتبار به وي .

لغت : نَقدُالبَلَدِ : د ښار چلېدونکې سِکّه .

[۸۲۸](۹) جائز دئ د ډوډئ او دهر ډول غَلّوخرڅلاؤپه پيمانه اوپه اټکل (اندازه) سره او په معلوم لوښي (ګاسَه) سره چي دهغه اندازه نه وي معلومه يا د يوې معلومي ډَبَرِي په وزن سره چي د هغې مقدار (اندازه) نه وي معلومه .

تشريح : چي کومه مَبِيع مخامخ موجوده وي او د خوارکي مَوَادُو د جِنس څخه وي. دِرهَم او دِينَارُونَه نه وي نو هغه په څلور طريقو سره خرڅول جائز ده.چي ذکر ئې په متن کي سوئ دئ (۱) په لوښي کي دې پيمانه کي خرڅ دې کړي (۲) په اټکل دې هسي خرڅ کړي دا هم جائز دئ (۳) يو لوښئ دئ چي دهغه وزن يا پيمانه نه ده معلومه چي په دي څومره غَنَم راتلائي سي لېکن د بائع او مُشتَرِي تر مينځ دا مُعَاهَدَه وسوه چي د يوه لوښي په بَدلَه کي به پنځه پُونډُونَه (د برطانيې د سِکّې نوم پُونډ دئ) در کوم نوبيابيع جائز ده.دمِقدَارجَهَالَت څه خاص فرق نه پيدا کوي .دا ځکه چي مَبِيع مخامخ موجوده ده نو ځکه که ددې مقدار نه وي معلوم خوبياهم په اټکل سره ئې خرڅول جائزدئ(۴)دغه رنګه يوه ډبره ده چي دهغه مقدارنه دئ معلوم چي داډبره څوکېلووزن لري خوبياهم ددُوئي تر مينځ دا معاهده وسوه چي ددې ډبري د هر وزن په بَدلَه کي پنځه پُونډَه درکوم نو بيع جائز ده .

وجه : (۱) چي په اَټکَل او اندازه سره خرڅول جائز دئ نو په دې لوړه ذکر سوې طريقه سره هم خرڅول جائز دئ (۲) په اَټکَل سره د خرڅولو حديث دادئ اَنّ اِبنِ عُمَرَ قَالَ لَقَد رَ أيتُ النّاسَ فِي عَهدِ رَسُولِ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ يَبتَاعُونَ جُزَافًا يَعنِي اَلطّعَامَ يَضرِبُونَ اَن يَبِيعُوا فِي مَکَانِهِم حَتّيْ يَؤوهُ اِلْي رِحَالِهِم (الف) (بخاري شريف.باب من رايْ اذا اشتريْ طعاما جزافا ان لايبيعه حتي يؤويه اليْ رحاله ص۲۸۶نمبر۲۱۳۷\مسلم شريف.باب بطلان بيع المبيع قبل القبض ج۲ص۵نمبر۱۵۲۷) ددې حديث څخه معلوم سو چي په اَټکَل (اندازه) سره خوراکي مواد او غَلّه جات خرڅول جائز دي.او تر هغه وخته پوري دُوئي په اَټکل سره نه خرڅول تر څو چي به غَلّه کجاوې ته نه وه راغلې ددې څخه دا معلوم سوه چي کله غَلّه مخامخ پرته وي نو هغه وخت ئې بيا په اَټکل او اندازه سره ئې خرڅولائي سي.او چي کله مخامخ نه وي موجود نو بيا ضروري دئ چي دهغه مقدار او صفت معلوم وي. لکه څه رنګه چي د بخارې شريف او مسلم شريف حديثونه تېر سو مَن اَسلَفَ فِي شَئٍ فَفِي کَيلٍ مَعلُومٍ اِلْي اَجَلٍ مَعلُومٍ (بخاري شريف.نمبر۲۲۴۰\مسلم شريف.نمبر۱۶۰۴)

پام لرنه : دحديث د طَعَامٌ د لفظ څخه دا هم معلوم سو چي دِرهَم او دِينَار بغيره د وزن خرڅ کړي نو په هغه کي څه تفصيل دئ .

لغت : مُکَايَلَةً : په پيمانه سره . مُجَازَفَةً : په اَټکَل او اندازه سره .

حاشيه : (الف) ما د حضور په زمانه کي خلک وليدل چي په اَټکَل سره غَلّه اخستل او خرڅول او دهغه په ځـائ کي د خُرمَا د خرڅولو څخه ډَاډه کول تر دې چي هغه تر کجاوې نه وي رسېدلي .

[۸۲۹](۱۰) وَمَن بَاعَ صُبرَةَ طَعَامٍ كُلّ قَفِيزٍ بِدِرهَمٍ جَازَ البَيعُ فِي قَفِيزٍ وَاحِدٍ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ وَ بَطَلَ فِي البَاقِي اِلاّ اَن يُسَمّيْ جُملَةَ قُفزَانِهَا وَ قَالَ اَبُويُوسُفَ وَ مُحَمّدٌ يَصِحُ فِي الوَجهَينِ .

[۸۲۹](۱۰) يو چا د خوارکي مَوَادُو يوه کُوَړه (يوه غُوټَه) هر قَفِيز د يوه دِرهَم په بَدلَه کي نو د امام ابوحنيفه په نېز د يوه قَفِيز بيع صحيح کيږي او په دا نورو کي بيع باطله ده مګر دا که چيري ټوله قَفِيزُونَه معلوم کي. او صاحبينو وفرمائل چي په دواړو صورتو کي بيع جائز ده.

تشريح : د غَلّې يوه کُوَړه (خَرَئ) پرته ده خو د ټولي غَلّې قيمت ئې په يوه وار نه ولګاوئ او نه دا معلومه ده چي په دې خَرَئ کي څو قَفِيزَه غَلّه پرته ده او ددې مجموعي قيمت څو پُونډَه دئ ؟ . دا خو به د تَلّلُو وروسته معلومېږي چي دا څو قَفِيزَ دئ او ددې مجموعي قيمت څونه سو. په داسي صورت کي بائع وائي چي هر قَفِيز په يوه دِرهَم دئ. نو د امام ابوحنيفه په نېز فِي الحال صرف د يوه قَفِيز بيع صحيح ده .

وجه : اُوس د ټولي خَرَې نه مِقدَار معلوم دئ او نه ددې مجموعي قيمت معلوم دئ نو ځکه هغه لَږ تر لَږه (کم از کم) درجې ته به راګرزي او د يوه قَفِيز بيع به صحيح سي که پر دغه باندي جګړه او اختلاف راسي نو قَانُونًا به يو قَفِيز ځيني اخستل کيږي .

پام لرنه : چي ټوله خَرَه وتلي او دهغې مجموعي قيمت ورشمار کي وروسته پر دغه باندي بَائِع او مُشتَرِي راضي سي نو اُوس د ټولي خَرې بيع صحيح سوه. د امام ابوحنيفه قاعده داده چي د ايجاب او قبول څخه مخکي ټوله مَبِيع او دهغې قيمت بايد معلوم وي چي د ايجاب په وخت کي جَهَالَت نه وي. چي د ټولي خَرې مقدارمجهول وي نوخرڅول ئې منع دئ ددې ثبوت په حديث کي سته (۱) سَمِعتُ جَابِرَ بِنِ عَبدِاللّهِ يَقُولُ نَهْي رَسُولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ عَن بَيعِ الصّبرَةِ مِنَ التّمَرِ لاَ يَعلَمُ مَكِيلُهَا بِالكَيلِ المُسَمّيْ مِنَ التّمَرِ(الف) (مسلم شريف.باب تحريم بيع صبرة التمر المجهولة القدر بتمرج۲ص۶ نمبر ۱۵۳۰) په دې حديث کي دئ چي د ټولي خَرې مقدار نه وي معلوم نو هغه دي دخُورما په بَدلَه کي نه خرڅوي چي رِبْوا (سود) لازم نه سي. خو ددې سره سره دا هم ځيني معلومه سوه چي د ټولي خَرې مقدار نه وي معلوم نو د جهالت په وجه د ټولي خَرې بيع نه صحيح کيږي (۲) په حديث کي دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنّ رَسُولَ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ مَرّ بِرَجُلٍ يَبِيعُ طَعَامًا فَسَأ لَهُ كَيفَ تَبِيعُ ؟ فَاَخبَرَهُ فَاَوحْي اِلَيهِ اَن اُدخُل يَدَکَ فِيهِ فَاَدخَلَ يَدَهُ فِيهِ فَاِذَا هُوَ مَبلُولٌ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ لَيسَ مِنّا مَن غَشّ (ب) (ابوداؤد شريف.باب في

النهي عن الغش ص١٣٣نمبر٣٤٥٢\ترمذي شريف.باب ماجآء في كراهية الغش في البيوع ص٢٤٥نمبر١٣١٥) په دې حديث كي دئ چي نَاؤدَه غَنَم لاندي و او صفت ئې مجهول و نو ځكه حضورصلي الله عليه وسلم منع وكړه. لهٰذا د قبلولو په وخت كي كه د ټولي خَرې مقدار نه وي معلوم او دهغې مجموعي قيمت نه وي معلوم نو دټولي خَرې بيع نه صحيح كيږي .

اصول : د قبلېدو پر وخت د مَبِيعې مقدار او د هغه قيمت معلومېدل ضروري دئ.

فائده : صاحبين فرمائي چي ټوله خَرَئ تَلَل او د هغې مقدار او مجموعې ماليّت معلومول د بائع او مُشتَرِي په لاس كي دئ.دُوئي به فوراً وَتَلِي او مجموعي قيمت به معلوم كي او د مجلس د اِختِتَام څخه مخكي به دا كار پائ ته ورسيږي نو

حاشيه : (الف) حضور د خُورمَا د هغه خَرې د خرڅولو څخه منع وكړه چي پيمانَه ئې نه وي معلومه په پيمَانَه سره د معلومو خُورمَاؤو په بَدلَه كي.يعني د خُورماؤو دمعلومي پيماني په بدله كي دارنګه خَرَئ خرڅول چي دهغه پيمَانَه نه وي معلومه ددې څخه منع وكړه (ب) حضور د داسي سړي مَخ ته تيرسو چي چي غَنَم ئې خرڅول. حضور پوښتنه ځيني وكړه چي څه رنګه خرڅوې ؟ نو هغو وحضور ته وويل. حضور ته وَحِي راغلې چي خپل لاس مبارک په غَنَمُو كي داخل كړه.نو حضور په هغه كي لاس داخل كړئ هغ غَنَم نَاؤدَه و. نو حضور وفرمائل څوک چي دوكه كوي هغه زموږ څخه نه دئ .

[٨٣٠](١١) وَمَن بَاعَ قَطِيعَ غَنَمٍ كُلّ شَاةٍ بِدِرهَمٍ فَالبَيعُ فَاسِدٌ فِي جَمِيعِهَا .

بيا خو هيڅ رنګه جګړه (اختلاف) نه راځي نو ځكه د دُوئي په نېز چي د قبلولو څخه مخكي د ټولي خَرَې مقدار بيان كي نو هم بيع صحيح كيږي. او كه د ټولي خَرَې مقدار بيان نه كي بيا هم د ټولي خَرَې بيع صحيح كيږي .

اصول : د دُوئي اصول دادئ چي د مجلس د ختم كېدو څخه مخكي د ټولي خَرې مقدار معلومېدل او د هغې مجموعې قيمت معلومېدل مُمكِن دئ او د غه اِمكَان د بيع د جواز لپاره كافي دئ .

لغت : اَلصّبرَةُ : خَرَئ. كُوَرَه. قَفِيزٌ : د تَلَلُو يوه پيمانه ده. قُفزَانٌ ئې جمع ده .

[٨٣٠](١١) يو چا د وُزُو رَمَه خرڅه كړه دارنګه چي هره وُزَه په يوه دِرهَم نو په ټولو وُزُو كي بيع فاسده ده .

وجه : په وُزُوكي فرق سته يوه چَاغَه وي يوه ډَنګَرَه وي نودلوړي قاعدې په رُوڼا كي كه چيري په يوه وُزَه كي بيع جائز وګڼو نو جګړه (اختلاف) به راسي.بَائِع به غُوَارِي چي ډنګره وُزَه وركړي او مُشتَرِي به چَاغَه وُزَه اَخستَل غُوَارِي.نو ځكه په يوه وُزَه كي لا هم بيع نه صحيح كيږي.او د ټولي رَمې بيع ځكه نه صحيح كيږي چي د ټولي رَمې تعدادنه دئ معلوم اونه دټولي رَمې بيع سوې ده.اودغَنَمُوپه خَرَئ كي د

يوه قَفِيز بيع ځکه جائز سوې وه چي په غَنَمُو کي ډېر فرق نه وي غنم ټوله سره برابر دي. نو ځکه په يوه قَفِيز کي د بيعِ په جوازسره هيڅ رنګه جګړه نه پېښيږي .
اصول : چي په اَفرَادُ کي تفاوت (فرق) وي او د مجموعې بيع نه وي سوې نو د تَفَاوُت په وجه د يوه فَرد بيع هم نه صحيح کيږي .
لغت : قَطِيعٌ : د وُزُو مجموعه.د وُزُو رَمَه .

[۸۳۱](۱۲) وَكَذَالِکَ مَن بَاعَ ثَوبًا مُذَارَعَةً كُلّ ذِرَاعٍ بِدِرهَمٍ وَلَم يُسَمّ جُملَةَ الذِّرعَانِ [۸۳۲](۱۳) وَمَن اِبتَاعَ صُبرَةَ طَعَامٍ عَلٰي اَنّهَا

[۸۳۱](۱۲) يو چا کپړه خرڅه کړه د ګزو په حساب سره.هر ګز په يوه دِرهَم او ټوله ګزونه ئې نه کړه بيان نو دغه رنګه د يوه ګزه بيع هم نه صحيح کيږي .
تشريح : د کپړې په ټَان کي تَفَاوُت (فرق) و. هر ګز په جلا جلا انداز جوړ سوئ و.په ټوله ټَان کي څو ګزونه دي دا ئې بيان نه کړئ او نه ئې د ټوله ټَان بيع کړې ده او دا رنګه ئې وويل چي هر ګَز په يوه دِرهَم دئ نو د ټوله ټَان بيع ځکه نه صحيح کيږي چي نه خو ددې کپړې ټوله مقدار معلوم دئ او نه ددې مجموعي قيمت معلوم دئ.او د يوه ګزه بيع په دې وجه نه صحيح کيږي چي په هر ګزه کي تَفَاوُت (فرق) دئ.بائع به خراب او هغه کمزوري ګَز ورکول غُوَاړِي او مُشتَرِي به صحيح او اَعلٰي ګز اخستل غُوَاړِي نو لهٰذا د نِزَاع (اختلاف) په وجه د يوه ګزه بيع هم نه صحيح کيږي .
اصول : لوړ تير سو .
پام لرنه : که چيري د نَن سَبَا په رکم ټوله کپړه او ټوله ټَان په يوه رنګه وي نو بيا د يوه ګزه بيع جائز ده.يا دي دوباره ټوله ټَان ګَز کړي د ټوله ټَان بيع دي وکړي نو بيا هم د نَوِي او مُستَقِلّي رضامندئ په وجه د ټوله ټَان بيع صحيح کيږي.دغه لوړه مسله خو د اختلاف په صورت کي ده .
لغت : مُذَارَعَةً : د ذِرَاعٌ څخه مُشتق دئ په لاس (هَتَه) سره ناپول .
[۸۳۲](۱۳) يو چا د ډُوډَئ خَرَه (کُوَړَه) خرڅه کړه په دا ډَوَل چي سَل قَفِيز دي په سَل دِرهَم.بيا ئې هغه ددې څخه کَم وموندل (يعني لَږ) سول نو مُشتَرِي اختيار لري که خوښه سي دغه موجود دي د خپلي حِصّې مطابق ثَمَن (قيمت) سره واخلي

مِائَةُ قَفِيزٍ بِمِائَةِ دِرهَمٍ فَوَجَدَهَا اَقَلّ مِن ذَالِکَ كَانَ المُشتَرِي بِالخِيَارِ اِن شَآءَ اَخَذَ المَوجُودَ بِحِصّتِهِ مِنَ الثّمَنِ وَ اِن شَآءَ فَسَخَ البَيعَ وَ اِن وَجَدَهَا اَ كثَرَ مِن ذَالِکَ فَالزِّيَادَةُ لِلبَائِعِ .

او که خوښه سي نو بيع دي فسخ کړي او که د سلو قَفِيزُو څخه زيات وموندل نو هغه زِيَاتُوب د بائع دي .

تشرح : د غَلّےِ خَرَه (کُوَړَه) پرته ده بائع داسي وويل چي په دي کي سَل قَفِيزَ غَنَم دي په سَل دِرهَم ئې درکوم. نو اُوس خو ټوله مقدار معلوم دئ او د دمجموعې قيمت هم سَل دِرهَمه معلوم دئ نو ځکه د ټولي خَرې بيع صحيح سوه.لېکن چي څه وخت ئې وتلل نو هغه تر سَل قَفِيزَ څخه کم (لږ) سول نو دلته خو بائع دا هم ويلي و چي دا سَل قَفِيز دي او د سَلُو دِرهَمُو په مقابله کې درکوم نو يو قَفِيز په يوه دِرهَم سو نو ځکه که چيري مثلاً نوي قَفِيز سو نو بيا نوي دِرهَم لازمېږي.چي څونه حِصّه غَنَم دي هغونه حِصّه ثَمَن لازمېږي. لېکن ده خو د سَلُو قَفِيزُ خبره کړې وه او و مُشتَرِي ته دهغه څخه لَږ ورسېدل نو د وعدې مُطابق نه ور ورسېدل نو لهْذا وده ته اختيار سته که خوښه سي نوي په نِوِي دِرهَم دي نِوِي قَفِيز واخلي او که خوښه سي بيع دي فسخ کړي . او که چيري غَنَم تر سَل قَفِيزَ زِيَات سو نو خبره خو د سَلُو قَفِيزُو د ورکولو د سوې وه د زياتُ خبره نه وه سوې نو لهْذا دا زيات غَنَم به د بائع وي .

اصول : په دي کي اصول دادئ چي غَنَم په يوه رنګ دي په غَنَمُو کي تَفَاوُت نه راځي نو ځکه هر قَفِيز اصل دئ صِفَت نه دئ نو ځکه د هر قَفِيز په بَدلَه کي صرف يو دِرهَم لازمېږي.او د زِيَاتُوب قَفِيز قيمت نه دئ ملاؤسوئ نو ځکه هغه زياتوب قَفِيزُونَه به د بائع وي. په اَثَر کي راغلي دي سُمِعَ عِکرَمَةُ يَقُولُ اِن اِبتَعتَ طَعَامًا فَوَجَدتّهُ زَائدًا فَالزِّيَادَةُلِصَاحِبِ الطّعَامِ وَ النُقصَانُ عَلَيکَ (مُصَنّف عبدالرزاق.باب اشتريت طعامًا فوجدته زائدا ج٨ص١٣٣نمبر١۴۶١٠) په دې اثرکي دئ چي کومه

[٨٣٣](١۴) وَمَن اِشتَرِيْ ثَوبًا عَلْي اَ نّهُ عَشرَةَ اَذرُع بِعَشرَةِ دَرَاهِمَ اَو اَرضًا عَلْي اَ نّهَا مِائَةُ ذِرَاع بِمائةِ دَرَاهِمٍ فَوَجَدَهًا اَقَلّ مِن ذَالِکَ فَالمُشتَرِي بِالخِيَارِ اِن شَآ ءَ اَخَذَهَا بِجُملَةِ الثّمَنِ وَ اِن شَآ ءَ تَرَکَهَا وَ اِن وَجَدَهَا اَ کثَرَ مِنَ الذِّرَاعِ اَلّذِي سَمّاهُ فَهِیَ لِلمُشتَرِي وَ لاَ خِيَارَ لِلبَائِعِ .

ډُوډَئ زياته سوه هغه د بائع ده .

اصول : په غَلّه کي قَفِيز اصل دئ صفت نه دئ .

لغت : اِبتَاعَ : د بَاعٌ څخه مُشتق دئ معنيْ وائې خَستَئ .

[٨٣٣](١۴) يو چا کيړه واخسته په دا شرط چي دا لَس ګزه ده په لَس درهمه.يا ئې مځکه واخسته په دې شرط چي دا سَل ګزه ده په سَل دِرهَمَه.بيائې هغه ددې څخه کم (لږ) وموندله نو و مُشتَرِي ته اختيار دئ که خوښه سي نو دا مځکه او کپړه دي په پوره قيمت باندي واخلي او که خوښه سي دغه دي پريږدي.او که دهغو ګزو څخه

زياته وموندله څونه چي دُوئي سره مُتَعَيّن کړي و نو هغه ټوله د مُشتَرِي دي.او و بائع ته د منع کولو اختيار نسته .

تشريح : دا مسئله ددې څخه د لوړي ذکر سوي مسئلې په شان ده لېکن په حُکم کې فرق په دې وجه راغلئ دئ چي کپړه او مځکه په ګزه سره نَاپَوَل دا د کپړې او مځکي يو صِفَت دئ او قاعده داده چي د صفت په مقابله کي جلا يو قيمت نه راځي نو ځکه لَس ګزه يا سَل ګزه مځکه دا ګواکه صرف د ترغيب لپاره ذکر کيږي، د هر ګزه په مقابله کي يو دِرهَم جلا جلا نه راغلئ نو ګواکه د کپړې د ټوله تَان قيمت لَس دِرهَم سو او د مځکي د ټولي ټُکړې قيمت سَل دِرهَم سو که په تَان او مځکه کي ګزونه زيات وي يا کَم وي. نو ځکه که اَخلِي نو پوره لَس درهم او سَل درهم دي

[۸۳۴](۱۵) وَ اِن قَالَ بِعتُکَهَا عَلْي اَ نّهَا مِائَةُ ذِرَاعٍ بِمِائَةِ دِرهَمٍ کُلّ ذِرَاعٍ بِدِرهَمٍ فَوَجَدَهَا نَاقِصَةً فَهُوَ بِالخِيَارِ اِن شَآ ءَ اَ خَذَهَا بِحِصّتِهَا مِنَ الثّمَنِ وَ اِن شَآ ءَ تَرَکَهَا وَ اِن وَجَدَهَا زَائدَةً کَانَ المُشتَرِي بِالخِيَارِ اِن شَآ ءَ اَخَذَالجَمِيعَ کُلّ ذِرَاعٍ بِدِرهَمٍ وَ اِن شَآ ءَفَسَخَ البَيعَ.

ورکړي ټوله تَان او د مځکي ټوله ټُکړه دي واخلي. که ګزونه کم وي که زيات وي. البته چي ګُزُونَه کم وي نو په دې صورت کي به د مُشتَرِي رَغبَت کم وي نو ځکه وده ته د پرېښوولو اختيار حاصل دئ او چي ګُزُونَه زيات سي نو وبائع ته د منع کولو اختيار ځکه نسته چي ده خو د ټوله تَان او د مځکي دټولي ټوټې بيع کړې ده.هغه که هر څونه وي .

اصول : په کپړه او مځکه کي ګزونه صفت دئ او د صفت په مقابله کي جلا او مُستَقِل قيمت نه راځي تر څو چي هغه ئې اصل نه وي ګرزولئ .

[۸۳۴](۱۵) او وويل چي دا مځکه پر تا باندي خرڅوم په دا ډَوَل چي سَل ګزه ده د سَلُو دِرهَمُو په مقابله کي.هر ګز د يوه درهم په مقابله کي.بيا ئې هغه کم وموندل نو و مُشتَرِي ته اختيار دئ که خوښه سي هغه مځکه دي د هغې د خپل ثَمَن مُطابق واخلي او که خوښه سي پريدې اِږدِي.او که مځکه زياته وموندل نو مُشتَرِي اختيار لري که خوښه سي ټوله مځکه دي واخلي هر ګز د يوه دِرهَم په بَدلَه کي او که خوښه سي بيع دي ختمه کړي .

تشريح : په کپړه او مځکه کي ګَز صِفَت دئ لېکن که چيري صِفَت اصل وګرزوي نو بيا د صفت په مقابله کي هم جلا (مُستَقِل) قيمت راتلائي سي. دلته چي بائع کله دا وويل چي هر ګز د يوه دِرهَم په مقابله کي دئ نو هر ګَز ئې اصل وګرزاوئ لهْذا اُوس د هر ګزه په بَدلَه کي يو دِرهَم لازميږي.نو اُوس د مځکي د ټولي ټُکړې بيع نه

ده بلکه د هر ګزه بيع ده. نو ځکه چي هر څومره ګزونه وي هغونه دِرهَم به لازم سي .

[۸۳۵](۱۶) وَ لَو قَالَ بِعتُ مِنکَ هٰذِهِ الرّزمَةَ عَلْي اَ نّهَا عَشرَةَ اَثوَابٍ بِمِائَةِ دِرهَمٍ کُلّ ثَوبٍ بِعَشرَةٍ فَاِن وَجَدَهَا نَاقِصَةً جَازُ البَيعُ بِحِصّتِهِ وَ اِن وَجَدَهَا زَائدَةً فَالبَيعُ فَاسِدٌ .

که کم وي نو په هغه حساب سره به دِرهَم هم کم او که زيات وي نو په هغه حساب سره به دِرهَم هم زيات لازم سي. خو چي کله ګزونه کم وي نو و مُشتَرِي ته د وَعدې مُطابق ګزونه نه سو ملاؤلِهٰذَا دده به رَغبَت هم کم وي. نو ځکه وده ته د اخستلو او نه اخستلو دواړو اختيار حاصل دئ .

اصول : ګز صفت دئ لېکن که چيري هغه اصل وګرزوي نو بيا د هر ګزه په مقابله کي جلا جلا قيمت لګېدلائي سي .

پام لرنه : دا بايد وکتل سي چي بائع د مځکي د ټولي ټکړې قيمت لګوي که د هر هر ګزه جلا جلا قيمت لګوي. که چيري د ټولي ټُکړې قيمت لګوي نو که ګزونه زيات وي که کم وي د ټولي ټُکړې پوره قيمت به ورکوي. او که د هر ګزه قيمت لګوي نو د ګزه په حساب سره به د هغه قيمت مُتَعَيّن کيږي. دا راروانې ټولي مسئلې پر دغه اصولو باندي مُتَفَرّع دي .

[۸۳۵](۱۶) ما پر تا باندي دا غُوټَه خرڅه کړه په دا ډَوَل چي لَس کپړي دي په سَل دِرهَم. هره کپړه په لَس دِرهَم.بيا که چيري دا کم وموندل نو ددې د حِصّې په حساب سره به بيع جائز سي او که هغه زيات وموندل نو بيع فاسد ده .

تشريح : په يوه غُوټَه کي لَس تَانَ کپړه وه او هر تَان په جلا جلا انداز و.اُوس بائع وويل چي ټوله غُوټَه خرڅوم په دې شرط چي لَس تَان کپړه ده او هر تَان په لَس روپۍ دئ.نو بيا که چيري کپړه کم سوه مثلاً نَه کپړې وې.نو د لسو دِرهَمُو په حساب دي نوي دِرهَم ورکړي او نَه کپړې دي ځيني واخلي.او کپړې خو کمي دي نو ځکه د کتلو ضرورت ئې نسته او اختلاف به هم نه وي. او که چيري کپړې يَوُولَس سوې نو

[۸۳۶](۱۷) وَ مَن بَاعَ دَارًا دَخَلَ بِنَاؤُهَا فِي البَيعِ وَ اِن لَم يُسَمِّهِ

[۸۳۷](۱۸) وَمَن بَاعَ اَرضًا دَخَلَ مَافِيهَا مِنَ النّخلِ وَ الشّجَرِ فِي البَيعِ وَ اِن لَم يُسَمِّهِ .

د يوې کپړې په کتلو کي به اختلاف رامينځ ته سي.بائع به هغه بېکاره کپړه ورکول غُوَارِي او مُشتَرِي به ښَه ځيني غُوَارِي نو په نتيجه کي به اختلاف او نِزَاع راسي. لِهٰذَا په دې صورت کي بيع فاسد ده .

اصول : که د کپړې یا د یو بَل شي په افراد کي تَفَاوُت (فرق) وي او دهغه په کتلو کي اختلاف رامینځ ته کېدائي سي نو بیع فاسد ده .

لغت : اَلرِّزمَةُ : غُوټَه. ثَوبٌ : کپړه. تَان .

[٨٣٦](١٧) یو چا کُور واخستئ نو دهغه دېوال به هم په بیع کي داخل وي که څه هم دهغه نوم ئې نه وي اخستئ .

تشریح : یو چا کُور (مکان) واخستئ نو هغه شِیَان چي په عُرف کي په کُور کي دَنَنَه او شَامِل ګڼل کیږي او همېشه دَوَامًا د کُور سره تَړَلي او مُتّصِل وي دغه رنګه ټوله شِیَان په خپله ببله ذکر کولو په بیع کي شامل دي.که څه هم د بیع کولو پر محال ئې دهغوشِیَانُو نوم نه وي اخستئ .

اصول : کوم شئ چي د مَبِیع سره دَوَامًا مُتّصِل وي نو هغه شئ په بیع کي ببله ذکر کولو په خپله شامليږي .

[٨٣٧](١٨) یوچامځکه خرڅه کړه په هغه کي چي کومي دخُورمَادرختي یانوري درختي وي ټولي په بیع کي داخل دي که څه هم د هغو نوم نه وي اخستئ .

تشریح : مځکه ئې خرڅه کړه نو د خُورمَاؤ یا د بَل شي چي کومي درختي په هغه کي وجود لري هغه ټولي په خپله په بیع کي داخل دي که څه هم د بیع د کولو پر محال ئې دا نه وي ویلي چي زه د مځکي سره سره درختي هم اخلم .

[٨٣٨](١٩) وَ لاَ یَدخُلُ الزّرعُ فِي بَیعِ الأرضِ اِلاّ بِالتّسمِیَةِ .

وجه : د خُورمَاؤ درختي او دغه رنګه نوري درختي د همېشه لپاره پر مځکه لګېدلي وي. د کېتئ او ګَبنت (سُوزبَر) په شان څلور پنځه میاشتي بعد نه پرېکیږي بلکه دا د مځکي د یو مُستَقِل جُز حَیثِیّت لري.نو ځکه چي کله د مځکي بیع وکي نو دا درختي په خپله په بیع کي داخليږي. مګر که چیري باقاعده دا درختي د بیع څخه جلا کي نو بیا په بیع کي نه دي داخل .

اصول : کوم شِیَان چي د مَبِیع سره همېشه مُتّصِل وي هغه شِیَان په بیع کي داخل وي که څه هم دهغو نوم نه واخلي .

لغت : نَخلٌ : د خُورمَاؤ درخته .

[٨٣٨](١٩) ګَبنت په بیع کي نه دئ داخل مګر که چیري دهغه نوم واخلي .

تشریح : تر څو چي دا ونه وائي چي ګَبنت هم د مځکي سره اخلم تر هغه وخته پوري ګَبنت د مځکي په خرڅلاؤ کي نه شامليږي.

وجه : ګَبنت او سُوزبَر د مځکي سره همېشه نه وي مُتّصِل.هغه خو درې څلور میاشتي وروسته کاټيږي (پرېکيږي) او جلا کيږي. دا خو تر یو مُوَقّت وخته پوري د مځکي سره مُتّصِل وي نو ځکه دمځکي په بیع کي ګَبنت نه داخليږي تر څو چي په بیع کي دهغه نوم وانه خَستَل سي. په حدیث کي ودې ته اشاره سوې ده حضرت

عبدالله بن عمر رضي الله تعالٰي عنه روايت کړیٔ دیٔ عَن اِبنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰي عَنهُ اَنّ رَسُولَ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ قَالَ مَن بَاعَ نَخلاً قَد اَبَرّت فَثَمَرُهَا

[٨٣٩](٢٠) وَ مَن بَاعَ نَخلاً اَو شَجَرًا فِيهِ ثَمَرَةٌ فَثَمرَتُهُ لِلبَائعِ اِلاّ اَن يَشتَرِطَهَا المُبتَاعُ .

لِلبَائعِ اِلاّ اَن يَشتَرِطَ المُبتَاعُ (الف) (مُسلم شريف.باب من باع نخلا عليها تمرج٢ص١٠نمبر١٥٤٣\بخاري شريف.باب من باع خلا قد ابرت او ارضا مزروعة او باجارة ص٢٩٣نمبر٢٢٠٤) په دې حديث کي دیٔ چي د خُورمَا درخته ئې خرڅه کړه نو وفرمائل چي خُورمَاوې د بائع دي لېکن که چيري مُشتَرِي د اخستلو په وخت کي دا شرط لګولیٔ و چي دا خُورمَاوې هم زوما دي نو بيا خو دده دي .او خُورمَاوِي خو پر درخته باندي تر يو مُوَقّت وخته پوري لګېدلي وي بيا پرې کيږي. ددې څخه دا معلوم سو چي عارضي او د لَږ وخت لپاره کوم شیٔ دمَبِيع سره مُتّصِل وي نو هغه شیٔ په مَبِيع کي نه دیٔ داخل مګر دا چي شرط ورسره ولګوي .

اصول : کوم شیٔ چي د مَبِيع سره د مُوَقّت وخت لپاره مُتّصِل وي هغه شیٔ په مَبِيع کي نه دیٔ داخل .

لغت : اَلزّرعُ : کېتیٔ.ګېنت .

[٨٣٩](٢٠) يو چا د خُورمَا درخته خرڅه کړه يا ئې يوه بَله درخته خرڅه کړه چي پر هغه باندي مېوه موجود وه نو مېوه د بائع ده مګر دا که چيري مُشتَرِي شرط ولګاویٔ چي دا به هم په بَيع کي داخل وي .

تشريح : درخته ئې خرڅه کړه نو مېوه په بَيع کي نه ده داخله.مګر که چيري مُشتَرِي شرط ولګاویٔ چي د درختي سره مېوه هم زه اَخلَم نو بيا مېوه د درختي په بيع کي داخله ده .

وجه : مېوه د درختي سره همېشه نه وي مُوښَتي بلکه څه وخت وروسته به د درختي

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل کوم چا چي د خُورمَا دارنګه درخته خرڅه کړه چي پر هغه باندي مېوه راغلې وه نو دهغې مېوه د بائع ده مګر دا که چيري مُشتَرِي شرط ولګوي چي مېوه زه اَخلَم (نو به د مُشتَرِي سي) .

[٨٤٠](٢١) وَ يُقَالُ لِلبَائعِ اِقطَعهَا وَ سَلِّمِ المَبِيعَ .

څخه جلا سي او پرې به سي.او دحديث په رُونَا کي په مسئله نمبر ١٩ کي معلوم سو چي کوم شیٔ د مَبِيع سره همېشه نه ومُتّصِل هغه په مَبِيع کي نه داخليږي.حديثی تير

سو عَن عَبدِاللهِ بِنِ عُمَرَ اَنّ رَسُولَ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ قَالَ مَن بَـاعَ نَخـلاً قَد اَبَرّت فَثَمَرَتُهَا لِلبَائِعِ اِلاّ اَن يَشتَرِطَ المُبتَاعُ (بخاري شريف.باب من باع نخلا قدابرّت او ارضا مزروعة او باجارةٍ ص۲۹۳نمبر۲۲۰۴\ مسلم شريف.نمبر۱۵۴۳) په دې حـديث كـي دئ چي د خُورمَا درخته خرڅه کي نو خُورمَا په بيع کي نه ده داخله .

[۸۴۰](۲۱) و بائع ته به وويل سي چي مېوه دي پرې که او مَبِيع حواله که .

تشريح : چي مېوه د درختي په بيع کي نه سوه داخله نو بيا مېوه د بـائع ده او درختـه د مُشتَرِي ده.او دبائع مِلکِيّت د مُشتَرِي مشغوله کړئ دئ حالانکـه د دواړو مِلکِيّت بايد جلا جلا وائي.نو ځکه و بـائع تـه بـه وائـي چـي خپلـه مېوه دي کـاټ (پـرې کـه) او درخته خالي که او د مُشتَرِي په حواله ئې که .

وجه : بغيره د ضَمَان د بَل شي څخه فائده اخستل جواز نه لري. په حديث کي دئ عَن عَبدِاللهِ بِنِ عُمَرَ اَنّ رَسُولَ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ قَالَ لاَ يَحِلُ سَلَفٌ وَ بَيـعٌ وَ لاَ شَـرطَانِ فِـي بَيعٍ وَ لاَ رِبحٌ مَا لَم يَضمَنُ وَ لاَ بَيعٌ مَا لَيسَ عِندَکَ (الف) (ترمذي شـريف.باب ماجـآء فـي كراهيـة مـاليس عنـده ص۲۳۳نمبـر۱۲۳۴\سـنن للبيهقـي. بـاب الشـرط الـذي يفسـدالبيع ج۵ص۵۴۸نمبر۱۰۸۳۸) په دې حديث کي دئ چي د کوم شي ضَمَان نه ورکوي د هغه څخه فائده اخستل جواز نه لري. نو ځکه و بائع ته بـه وائـي چـي د مُشـتَرِي د درختـي څخه نوره فائده مَه اخله بَس خپله مېوه دي پرې گه

[۸۴۱](۲۲) وَ مَن بَـاعَ ثَمَـرَةً لَـم يُبـدَ صَـلاَحُهَا اَو قَـد بَـدَاَ جَـازَ البَيـعُ وَوَجَبَ عَلْي المُشتَرِي قَطعُهَا فِي الحَالِ فَاِن شَـرَطَ تَركَهَـا عَلْـي النّخـلِ فَسَدَ البَيعُ .

درخته و مُشتَرِي ته حواله که .

اصول : بغيره د اجازت او بغيره د ضَمَان د بَل د شي څخه فائده اخستل جواز نه لري .

[۸۴۱](۲۲) يو چا مېوه خرڅه کړه داسي چي دهغه صَلاحِيّت ښکاره سوئ و يا نـه و ښکاره سوئ نو بَيع جـائز ده. او پـر مُشـتَرِي بانـدي لازم دئ چي دا سَم دَسـتِي پـري کړي.نو که چيري ددې د پرې ښولو شرط ولګاوئ نو بَيع فاسد ده .

تشريح : داسي مېوه خرڅه کړي چي په ښَه راتلائي سي مثلاً انسان ئې خُورَلائي سـي يا ئې حيوان ته اچولائي سي نو داسي مېوه خرڅول جائز ده.بلکـه پـه حـديث کـي ددې تَرغِيب سته چي کله مېوه کارآمد سي نو بيا ئـې خرڅـوئ ددې څخـه مخکـې خرڅـول ښَه نه دئ. په حديث کي دئ عَن عَبدِاللهِ بِـنِ عُمَـرَ اَنّ رَسُـولَ اللهِ صَـلّي اللهُ عَلَيـهِ وَسَـلّمَ

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل چي حلال نه ده په پُور سره بيع کول او په هغه کي کي بَيع دَنَنَه کول.او نـه پـه بيع کي دوه شرطونه لګول.او نه د کوم شي چي ضَمَان ئـې اخستئ وي فائـده اخسـتل.او جـائز نـه دئ داسـي شـئ خرڅول چي ستا سره نه وي موجود .

نَهْـي عَـن بَيـعِ الثِّمَـارِ حَتّْـي يَبـدُوَ صَـلاَحُهَا نَهَـيْ البَـائِعُ وَ المُبتَـاعُ (الـف) (بخـاري شريف.باب بيع الثمارقبل ان يبدو صلاحهاص۲۹۱نمبر۲۱۹۵\مسلم شريف.باب النهـي عن بيع الثمار قبل بدو صلاحها بغيرشرط القطـع ج۲ ص۷نمبـر۱۵۳۴) پـه دې حيـث كي دئ چي مېوه د پخېدو څخـه مخكـي او د آفـاتُو څخـه د محفـوظ كېـدو مخكـي مَـه خرڅوئ .

پام لرنه : كه د آفاتُو څخه د محفوظ كېدو مخكي خرڅول وَغُوَارِي نو د احنافو پـه نېـز ئې خرڅولائي سي نفسِ جواز ئې سته .

حاشيه : (الف) حضور دمېوې د خرڅولو څخه منع وكړه تر څو چي د هغې صَلاَحِيّت نه وي ښكاره سوئ يعني تر هغه وخته چي د يوشي په ښَه نه وي.او منع كړل بائع او مُشتَرِي .

وجه : (۱) دا د بَائع مال دئ او خپل مال دئ خرڅولائي سي.هسي په يو نه يـو كـار خـو راتلائـي سـي پـه دغـه وجـه خـوې مُشـتَرِي اخلـي.لهْذا كومـه مېـوه چـي گارآمَـد (پَښَه) نه وي هغه هم بَائع خرڅولائي سي. البته د حديث په وجـه ددې خـرڅلاؤ ښَـه نه دئ (۲) دبخاري په حديث كي ددې صراحت سته چي د حضـور مختـه د بـائع او مُشتَرِي ډيري جګړې راغلې. نو ځكه حضور د مشورې په توګه و دُوئي ته وفرمائـل چي تر كومه وخته چي مېوه گارآمده سوې نه وي مَـې خرڅـوئ.چي د مُشـتَرِي تـاوان ونه سي. او د مېوې د قيمت په وركولو كي ټال مټول ونه كړي عَن زَيدِ بِـنِ ثَابِـتٍ قَـالَ كَانَ النّاسُ فِي عَهدِ رَسُولِ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيـهِ وَسَلّمَ يَبتَـاعُونَ الثِّمَـارَ فَـاِذَا جَذّ النّـاسُ وَ حَضَرَ تَقَاضِيُهُم قَالَ المُبتَاعُ اَنّهُ اَصَابَ الثّمَرَ اَلدِّمَانُ اَصَابَهُ مَرَضٌ اَصَـابَهُ قَشَـامُ عَاهَـاتٍ يَحتَجُونَ بِهَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ لَمّا كَثُرَت عِنـدَهُ اَلخُصُـومَةُ فِـي ذَالِـكَ فَاِمّا لاَ فَلاَ تَبتَاعُوا حَتّي يَبدُو صَلاَحُ الثّمَرَةِ كَالمَشوَرَةِيُشِيرُ بِهَا لِكَثـرَةِ خُصُـومَتِهِم (الـف) (بخاري شريف.باب بيع الثمارقبل ان يبدو صلاحهانمبر۲۱۹۳) پـه دې حـديث كـي صراحت سوئ دئ چي د كارآمد كېدو څخه مخكي به د مېوې بيع كولـه بيـا پـه هغو كي آفت (مرض) راتلئ او مېوې به خرابېدلې نو مُشتَرِي به د هغـه د قيمـت پـه وركولو كي ټال مټول كاوئ.چي كله دارنګه جګړې پـه ډېرښـت سـره د حضورصـلي الله عليـه وسلم مختـه راغلـې نـو حضـور صـلي الله عليـه وسـلم د مشـورې پـه توګـه وفرمائل چي تر هغه وخته

پوري چي مېوه كارآمد سوې نه وي مَې خرڅوئ.ددې مطلب دا سو چي اصل او

حاشيه : (الف) خلګو د حضور په زمانه كي مېوې خرڅولې.نو چي كله د خلګو شور زيـات سـو او ددې تقاضـا راغله.مُشتَرِي وويل چي په مېوه ناجوړي سوې ده.مـرض ورتـه راغلـئ دئ.آفـت ورتـه راغلـئ دئ.او پـه دې بـه دُوئي دقيمت كمولو دليل نيوئ.نو چي كله په دې باب كي جګړې زياتي سوې نو حضور وفرمائل چي كه د جګړو څخه نه منع كيږئ نو تر هغه وخته پورې مَه خرڅوئ تر څو چي د خُورمَا صَلاَحِيّت نـه وي ښـكاره سـوئ يعنـي پخېدو ته نه وي نژدې سوي.دا حُكم د مشورې په توګه و.چي ودې ته اشاره كړې ده د دُوئـي د جګړو د زِيَـاتُوب په وجه .

نفسِ خرڅلاؤ ئې جائز دئ.او دغه د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه مسلک دئ .

اصول : خپل شئ بائع خرڅولائي سي .

ومُشتَرِي ته ويل کيږي چي فوراً دي خپله مېوه پرې که اودرخته وبائع ته حواله که.

وجه : ځکه چي درخته د بائع مِلکِيّت ده او د بَل د مِلکِيّت څخه بې لـه ضَمَان فائده اخستل جواز نه لري. د ترمذي شريف حديث نمبر۱۲۳۴ وَلاَ رِبحُ مَا لَم يُضمَنُ تېر سوئ دئ .

او که چيري مُشتَرِي دا شرط ولګاوئ چي دا مېوه تر څه وخته پوري پرېږدم چي مېوه مُکَمّله پخه سي.نو ددې شرط د لګولو په وجه بيع فاسده ده .

وجه : (۱) دا د بيع سره يو جلا شرط دئ چي په هغه کي د مُشتَرِي ګټه ده.او په بيع کي دارنګه شرط لګول چي په هغه کي د مُتَعَاقِدَينُو څخه د يوه ګټه وي بيع فاسده وي.لوړ د ترمذي په حديث کي د شرط وبيع ته ناجائز ويل سوي دي عَبدُاللهِ بِنِ عُمَرَ اَنّ رَسُولَ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ قَالَ لاَ يَحِلُ سَلفٌ وَ بَيعٌ.وَ لاَ شَرطَانِ فِي بَيعٍ. وَ لاَ رِبحُ مَا لَم يُضمَنُ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجآء في کراهية بيع ماليس عنده نمبر۱۲۳۴) په دې حديث کي وَلاَ شَرطَانِ لفظ راغلئ دئ چي تفسير ئې دغه دئ چي د بيع سره د يو فائدې شرط ولګوي نو دهغه څخه بيع فاسيږي (۲) په يو اثر کي ودې ته سُود ويل سوي دي عَن عَبدِاللهِ بِنِ مَسعُودٍ قَالَ اَلصّفقَتَانِ فِي الصّفقَةِ رِبًا اَن يَقُولَ هُوَ بِالنّسِيئَةِ بِکَذَا وَ بِکَذَا (مصنف عبدالرزاق.باب بيعتان في بيعة ج۸ص۱۳۸\۱۳۹نمبر۱۴۶۳۳\۱۴۶۳۶)

پام لرنه : که د بيع کولو پر محال پر درخته باندي د مېوې د پرېښولو شرط ونه لګوي.خو وروسته د بائع په اجازت سره د مېوې د پخېدو لپاره پرېږ دي نو په دي کي څه حرج نسته بلکه دا به د بائع احسان وي .

[۸۴۲](۲۳) وَ لاَ يَجُوزُ اَن يَبِيعَ ثَمرَةً وَ يَستَثنِي مِنهَا اَرطَالاً مَعلُومَةً .

فائده : د امامِ شافعي مسلک دادئ چي تر څو پوري چي مېوه د يو شي په سَه سوئ نه وي تر هغه وخته پورې خرڅلاؤجوازنه لري.دده دليل هغه لوړحديث دئ چي په هغه کي د مېوې د خرڅلاؤ څخه منع راغلې ده تر څو چي مېوه کارآمده سوې نه وي(بخاري.نمبر۲۱۹۸\مسلم.نمبر۱۵۳۵)حديث لوړتېرسوئ دئ .

لغت : لَم يُبدَ صَلاَحُهَا : کومه مېوه چي کارآمد سوې نه وي.صلاحِيّت ئې نه وي ښکاره سوئ.

[۸۴۲](۲۳) او جواز نه لري چي مېوه خرڅه کړي او په هغه کي يو څو معلوم رِطلُونَه مُستَثنٰي کړي .

حاشيه : (الف) په پور خرڅول او په هغه کي بَلّه بيع دَنَنه کول.او په يوه بيع کي دوه شرطونه لګول جواز نه لري. او د کوم شي چي ضَمَان وا نه خِستَل سي دهغه څخه فائده اَخِستَل جواز نه لري .

تشريح : مثلاً د پنځو درختو مېوه خرڅوي او دا نه ده معلومه چي پر دې باندي څونه مېوه سته. ددې سره سره دا هم وائي چي په دي سَل (۱۰۰) کېلو مېوه نه خرڅوم نو دا رنګه استثنآء کول جواز نه لري چي دهغه په وجه نوره بيع مجهول ګرزي. دغه رنګه د سلو (۱۰۰) درختو مېوه خرڅوي خو دهغو څخه د پنځو درختو مېوه نه خرڅوي او نه ئې معلوموي چي کومي پنځه درختي دي. نو پنځه نيوي درختي مجهولي سوې. بائع به پنځه اعلٰي درختي ورکوي او مُشتَرِي به پنځه اَدنٰي درختي ځيني غُوَارِي. نو په دارنګه باندي داسي استثنآء چي بيع مجهول ګرزوي جواز نه لري. که چيري د اِستِثآء وروسته مَبِيع معلوم سي بيا جائز ده په حديث کي دئ عَن جَابِرِ بِنِ عَبدِاللهِ قَالَ نَهي رَسُولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ عَنِ المُزَابَنَةِ وَعَنِ

[۸۴۳](۲۴) وَ يَجُوزُ بَيعُ الحِنطَةِ فِي سُنبُلِهَا وَ البَاقِلّيْ فِي قَشرِهَا.

المُحَاقَلَةِ وَعَنِ الثُنيَا اِلاّ اَن يَعلَمَ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في المخابرة ص۱۲۷نمبر۳۴۰۵\ترمذي شريف.باب ماجآء في النهي عن الثنياص۲۴۲نمبر۱۲۹۰) په دې حديث کي دئ چي حضورصلي الله عليه وسلم د استثنآء کولو څخه منع وکړه .لېکن که چيري د استثنآء کولو څخه مَبِيع مجهول نه سي بلکه معلوم وي نو بيا جائز ده د اِلاّ اَن يَعلَمَ دغه مطلب دئ .

اصول : چي اِستِثنآء مجهول وي نو بيع جواز نه لري .

[۸۴۳](۲۴) جائز ده د غَنَمُو بيع دهغه په وَرِو کي.او د مُمپَلَئ بيع دهغې په خُوَر کي .

تشريح : هره هغه دَانَه چي په خپلوخُوَرُو کي وي او ډېره زِيَاته پټه نه وي.لَږ څه پټه وي.نو هغه د خُوَرُو سره خرڅول جائز ده .

وجه : (۱) په لَږ څه جهالت سره بيع نه فاسديږي.د عُمُومِ بَلويْ په وجه ددې ګُنجائش سته (۲) په حديث کې په خُوَرُو کي د غَنَمُو د بيع اجازت ورکړئ دئ عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّ رَسُولَ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ نَهي عَن بَيعِ النّخلِ حَتّيْ يَزهُوَ وَعَن بَيعِ السُنبُلِ حَتّيْ يَبِيضَ وَ يَامَنَ العَاهَةَ (ب) (مُسلم شريف.باب النهي عن بيع الثمارقبل بدو صلاحها ج۲ص۷نمبر۱۵۳۵\ابوداؤدشريف.باب بيع الثمارقبل ان يبدوصلاحهاج۲ص۱۲۲نمبر۳۳۶۸\ترمذي شريف.نمبر۱۲۲۷) په دې حديث کې د وَرِو (خُوَرُو) د بيع څخه منع راغلې ده تر څو چي هغه پخسوي نه وي

حاشيه : (الف) حضور د بيع مُزَابنَه. بيع مُحَاقَلَه څخه منع وکړه او د اِستِثنآء کولو څخه منع وکړه.مګر دا که چيري اِستِثنآء معلومه وه نو بيا جائز ده (ب) حضور د خُورمَا د بيع څخه منع وکړه تر هغو چي پَخسوې نه وي او د وَرِي د بيع څخه منع وکړه تر هغو چي سُفِين سوئ نه وي او د آفتو څخه محفوظ سوئ نه وي .

[۸۴۴](۲۵) وَ مَـن بَـاعَ دَاراً دَخَـلَ فِـي البَيـعِ مَفَـاتِيحَ اَغلاَقِهَـا [۸۴۵](۲۶) وَ اُجرَةُ الكَيّالِ وَ نَاقِدُ الـثّمَنِ عَلْـي البَـائعِ وَ اُجـرَةُ وَزّانِ الثّمَنِ عَلْي المُشتَرِي .

او سُپِين سوي نه وي. ددې څخه دا معلوم سو چي غَنَم په وَږُو (خُوَرُو) كي خرڅـول جائز دي كه څه هم غَنَم مَستُور او پَټ وي. او دغه حال بـه د مُمپِلَـئ هـم وي دهغـې د خُوَرُو سره (په خرڅولو) .

اصول : چي مَبِيع په خُوَرُو كي پټه وي نو په خرڅولو كـې څـه خـاص حـرج نسـته. د خُوَرُو لَږ څه جهالت مُعاف دئ .

فائده : د امامِ شافعي په نېز مُومپِلَئ د هغې په خُوَرُو كي خرڅول جواز نه لري .

وجه : دئ فرمائي چي مَبِيع په خُوَرُو كي پټه ده نو مَبِيع مجهول سوه نو ځكه ددې بيع جواز نه لري .

لغت : سُنبُلٍ : وَږِي. بَاقِلّيْ : مُومپِلَئ.پَلَئ. قَشرٌ : خُوَرُونَه.پوستُوكِي.

[۸۴۴](۲۵) يو چا كُور (مكان) خرڅ كړئ نو په بيع كـې د كُوَلـپ (تَـالِي) چَابِيَـانِ هم شاملي دي .

تشريح : هغه تَالا (كُوَلف) كوم چي د دروازې سره مُښتَـئ (پـه دروازه كـي دننـه) وي هغه تَالا (كُوَلف) د دروازې يو جُز وګرزېده. او جُز چي نوم ئې نـه واخلـې هـم په بيع كي داخل ګڼل كيږي.نو ځكه د كور په بيع (خرڅولو) كي چَابِيَانِ داخل دي.او چَابِي خو د دروازې جُز وي نو لهْذا چَابِي هم په بيع كي داخل وي.

اُصُول : د مَبِيع جُز بېله نوم اخستلو په بيع كي داخل دئ .

[۸۴۵](۲۶) د مَبِيع د تللو مـزدوري او د ثَمَـن د معلومولـو مـزدوري پـر بـائع ده.او د ثَمَن د وَزَن كولو مزدوري پر مُشتَرِي ده .

تشريح : د بائع ذِمّه داري ده چي كَيلِي مَبِيع پيمَانَه او كَيل كي بيا ئې و مُشتَرِي ته

[۸۴۶](۲۷) وَ مَن بَاعَ سَلعَةً بِثَمَنٍ قِيلَ لِلمُشتَرِي اِدفَعِ الـثّمَنَ اَوّلاً فَـاِذَا دَفَعَ قِيلَ لِلبَائِعِ سَلِّمِ المَبِيعَ .

حواله كي نو ځكه بائع به وركيل كوى او د كيل مزدوري به بائع وركوي. په اَثَـر كـي راغلـي دي عَـن بُـردَانَ اَبِـي النّظرِ قَـالَ كُنـتُ بِعـثُ مِـن رَجُلٍ طَعَامًـا فَـاَعطْي الرّجُلُ اَجرَالكَيّالِ فَسَألتُ الشّعَبِيّ عَن ذَالِكَ فَقَالَ اِعطِهِ اَنتَ فَاِنّمَا هُوَ عَلَيكَ (مصنف ابن ابـى شيبة ۲۵۰ الرجل يبيع الطعام علي مـن يكون اجرالكيّـال ج۴ص۴۴۵نمبـر ۲۱۹۳۱) دې اَثَر د كَيل كونكي اُجرَت پر بائع باندي لازم كړئ دئ. دغه رنګه كه چيري د ثَمَنُ د معلومولو ضرورت پيښ سو نو بائع به يو تجربه كاره سړئ رَاغُوَاږِي چي دا زومـا

ثَمَن وګوره چي صحيح دي كه كُوټَه دي ؟ نو ګواكه دبائع لپاره د ثَمَنُو صحيح والئ او خرابوالئ وكاتئ نو ځكه أُجرَت (مزدوري) به هم بائع وركوي. او ثَمَن خو مُشتَرِي اداَء كوي نو ځكه نو دئ به ور وَزَن كوي لِهٰذَا د وَزَن أُجرَت به مُشتَرِي وركوي دليل ئې دا حديث دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ اِحتَجَمَ النّبِيُ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ وَ اَعطٰي الحَجّامَ اَجرَهُ (الف) (بخاري شريف.باب خراج الحجام ص ۳۰۴نمبر۲۲۷۸) په دې حديث كې د حضورصلي الله عليه وسلم لپاره حجامت كړئ دئ نو ځكه دهغه أُجرت هم حضورصلي الله عليه وسلم و حَجّام ته وركړئ دئ .

أُصُول : د كوم چا لپاره چي كار كوي أُجرت به هم هغه وركوي .

لغت : كَيّالٍ : كَيل يعني پيمانه كونكئ سړئ. نَاقِدٌ : ثَمَن.دِرهَم.دَنَانِير كتونكئ سړئ چي صحيح دي كه كُوټَه دي. وَزّانٌ : غَنَم وغيره وزن كونكئ سړئ .

[۸۴۶](۲۷) كه يو چَا د ثَمَن په بدله كي سَامَان خرڅ كړئ نو و مُشتَرِي ته به ويل كيږي چي اَوّل ثَمَن راوړه.نو چي كله مُشتَرِي ثَمَن وركړه نو و بائع ته به ويل كيږي چي مَبِيع حواله كه .

حاشيه : (الف) حضور ښكر ولګول او حضور و حَجّام ته دهغه أُجرَت وركړئ .

تشريح : قاعده داده چي دِرهَم او دَنَانِير چي پيدائشي ثَمَن ورته ويل كيږي دا چي مُتَعَيّن كې نو هم نه مُتَعَيّن كيږي.مثلاً د پنځو روپئ په نُوټ ئې بيع وكړه او وروسته د پنځو روپئ سِكّه وركړه نو هم بيع صحيح ده.ځكه چي د پنځو د نُوټ او د پنځو د سكّې مَالِيّت سره برابر دئ او دا خو په معلومولو سره هم نه معلوميږي نو ځكه دا هم وركولائي سي.خو د قبض كولو وروسته دِرهَم او دَنَانِير مُتعين ګرزي. دومه قاعده داده چي سَامَان مثلاً غَلّه،دَانَه جَات په مُتعَيّن كولو سره مُتَعَيّن ګرزي.مثلاً پنځه كبلو غَنَم مُتَعَين سو نو دهغه په ځائ كي نور پنځه كبلو غَنَم نه سي وركولائي ځكه چي كېدلائي سي چي هغه غَنَم خراب وي چي په دې دوو قاعدو دي ځان پوه كړئ نو په دې ځان پوه كړه چي سامان ئې د دِرهَم يا دَنَانِير په مقابله كي خرڅ كړئ نو سَامَان خو دمخه څخه لا مُتَعَيّن دئ او ثَمَن يعني دِرهَم او دَنَانِير او نوټ د مخه څخه نه دي مُتَعَيّن سوي نو ځكه و مُشتَرِي ته به ويل كيږي چي مخكي ته ثَمَن وړاندي (را مينځ ته) كه چي دِرهَم او دَنَانِير په قبض كولو سره مُتَعَيّن سي او د بَائِع او مُشتَرِي دواړو په حق كې سره برابر سي.وروسته به و بَائِع ته ويل كيږي چي ته سامان وركړه .

پام لرنه : دا فيصله د جګړې په وخت كي ده چي كوم يو به اَوّل شئ وركوي كه چيري په رضامندي سره هر يو اَوّل وركي نو بيع جائز ګرزي .

وجه : د دِرهَم او دَنَانِير د نه معلومېدو دليل ددې حديث اشاره ده عَن عَمرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ اَلذّهَبُ بِالفِضّةِ رِبًا اِلاّ هَآ ءَ وَ هَآ ءَ . وَفِي حَدِيثٍ آخَرَ يَدًا بِيَدٍ (الف) (ابوداؤدشريف.باب الصرف ص۱۱۹نمبر۳۳۴۸\۳۳۴۹\ ترمذى شريف. باب

ماجآء في الصرف ص۲۳۵نمبر۱۲۴۳) په دې حديث كې ويـل سـوي دي چـې هَـآ ءَ وَ هَـآ ءَ يعني په يوه لاس ئې واخله او په بَل لاس ئې ورکه يعني په مجلس کې قبض کړه.

حاشيه :(الف) حضور صلي الله عليه وسلم وفرمائل سره زَر د سپينو زرو په مقابله کي سُود دئ لېکن که چېـري لاس په لاس وی (نو بيا سُود نه دئ) .

[٨٤٧](٢٨) وَمَن بَاعَ سَلعَةً بِسَلعَةٍ اَو ثَمَنًا بِثَمَنٍ قِيلَ لَهُمَا سَلِّمَا مَعًا.

ددې ښخه دا معلوم سو چي دِرهَم او دَنَانِير د مُتَعَيّن کولو ښخه هم نه مُتَعَيّن كيږي .

اصول : (١) سامان مُتَعَيّن ګرزي (٢) ثَمَن يعني دِرهَم او دَنَانِير چي معلوم کړې نو هم نـه مُتَعَيّن كيږي .

لغت : سَلعَةٌ : سامان. ثَمَنٌ : و دِرهَم او دَنَانِير ته پيدائشي ثَمَن ويل كيږي .

[٨٤٧](٢٨)که سامان دسامان په بَدلَه کي خرڅ کړئ،يائې ثَمَن دثَمَن په بدله کي خرڅ کـړه نوودواړوته به ويل كيږي چي په يوه واره ئې واخلئ او په يوه وار ئې ورکئ .

تشريح : مَبِيع هم د سَامَان يو قسم دئ او ثَمَن هم د سَامَان د قبيلې ښخـه دئ نـو ځکـه دواړه مُتَعيّن دي.ځکه د دواړو درجه سره برابره ده.لهٰذا و بَائِع او مُشتَرِي دواړو ته به ويل كيږي چي لاس په لاس به ورکوئ او لاس په لاس به ځله اخلئ.دا حق يو هم نه لري چي يـو ئـې مخکي واخلي او هغه بل ئې وروسته واخلي.چي کله مَبِيع درهم يـا دنـانير وي او ثَمَـن هم درهم يا دنانير وي نو په دې وخت کي هم دغه صورت دئ چي په مُتعَين کولو سره يو هم نه مُتَعَيّن كيږي لهٰذا ودواړو ته په يوه وار د اخستلو او ورکولو حُکم دئ.

وجه : په حديث کي ددې ثبوت سته عَن عِبَادَةَ بِنِ الصّامِتِ عَنِ النّبِـيِّ صَـلّي اللهُ عَلَيـهِ وَسَلّمَ قَالَ ..... بِيعُوا الذّهَبَ بِالفِضّةِ كَيفَ شِئتُم يَداً بِيَدٍ وَ بِيعُوا اَلبُرّ بِالتّمَرِ كَيفَ شِئتُم يَداً بِيَدٍ (الف) (ترمـذي شـريف.باب ماجـآء ان الحنطـة بالحنطـة مـثلا بمثـل وكراهيـة التفاضـل فيـه ص۲۳۵نمبر۱۲۴۰\ابوداؤدشريف.باب في الصرف نمبر۳۳۴۸)په دې حديث كي سـره زَر او سپين زَر يو قسم ثَمَن دي. دغه رنګه غَنَم او خُرومَا هم يو قسم سَامَان دئ نو ځکـه حُکم دغه دئ چي په يوه لاس ئې اخلئ او په بَل لاس ئې ورکوئ. ځکه يَدًا بِيَدٍ فرمـائلي دي. کـه

څه هم په زياتوب او کمي سره خرڅ کړي .

حاشيه : (الف) نبی صلي الله عليه وسلم وفرمائل چي تاسو سَرَه زَر د سپينو زرو په مقابله کي خرڅوئ چي په څه رکم ستاسو خُوَښَه سي لاس په لاس او تاسو غَنَم خرڅ وئ د خُورمَا په بدلـه چـي پـه څـه ډول ستاسو خُوَښَـه سـي لاس په لاس .

..... بَابُ خِيَارِ الشّرطِ .....

[٨٤٨](١) خِيَارُ الشّرطِ جَائِزٌ فِي البَيعِ لِلبَائِعِ وَالمُشتَرِي .

ضروري پام لرنه : دخِيَارِ شَرط مطلب دادئ چي د ايجاب او قبول وروسته بائع يا مُشتَرِي دواړه دا ووائي چي و موږ ته د درو ورځو اختيار راکه.په دې درو ورځو کي که زوما خوښه سي بيع به وکم او مو خوښه سي بيع به رَد کم او هغه بَل فريق پر دې باندي ,, هو ،، ووائي (يعني قبول ئې کي) ودې ته خِيَارِشَرط وائي اوس وده ته اختيار دئ که خوښه سي بيع ته دي جواز ورکړي او که خوښه سي بيع دي رَد کړي.خو که چيري تر درو ورځو پوري بيع نه کړه ختم نو بيا بيع برقراره ګرزي.ددې دليل دا حديث دئ عَن اِبنِ عُمَرَ عَنِ النّبِيِّ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ قَالَ اِنّ المُتَبَايِعَينِ بِالخِيَارِ فِي بَيعِهِمَا مَالَم يَتَفَرّقَا اَو يَكُونَ البَيعُ خِيَارًا (الف) (بخاري شريف.باب کم يجوزالخيارص٢٨٣نمبر٢١٠٧\مسلم شريف.باب ثبوت خيارالمجلس للمتبايعين ج٢ص٦نمبر١٥٣١\ابوداؤدشريف.باب في خيارالمتبايعين ج٢ص١٣٣نمبر٣٤٥٤) ددې حديث د لفظ اَو يَكُونَ البَيعُ خِيَارًا څخه معلوميږي چي و بَائِع او مُشتَرِي ته دا خِيَار حاصل دئ .

[٨٤٨](١) خِيَارِشَرط جائز دئ په بيع کي د بائع او مُشتَرِي لپاره .

تشريح : د ايجاب او قبول وروسته که دواړه يا يو خِيَارِشَرط واخلي نو وهغه ته خِيَارِشَرط حاصليږي .

وجه : لوړه حديث تير سو چي مُتَبَايِعَين يعني بَائِع او مُشتَرِي که خِيَارِ شرط واخلي نو و دُوئي ته دا خِيَار حاصل دئ .

حاشيه : (الف) حضورصلي الله عليه وسلم وفرمائل و بَائِع او مُشتَرِي ته اختيار سته په بيع کي تر هغو چي دُوئي دواړه نه وي ځله جلا سوي يا په بَيع کي خِيَارِ شَرط وي .

---

[٨٤٩](٢) وَلَهُمَا الخِيَارُ ثَلْثَةَ اَيّامٍ فَمَا دُونَهَا وَ لاَ يَجُوزُ اَكثَرَ مِن ذَالِکَ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي وَقَالَ اَبُويُوسُفَ وَ مُحَمّدٌ يَجُوزُ اِذَا سَمّيْ مُدّةً مَعلُومَةً .

[٨٤٩](٢) وبَائِع او مُشتَرِي دواړو ته د درو ورځو يا ددې څخه د کم (لږ) اختيار سته. او جواز نه لري ددې څخه زيات د امام ابوحنيفه په نيز او امام ابويوسف او امام مُحمّد فرمائلي دي چي جائز دئ تر څو چي مُتَعَيّنه مُدَه معلومه کړي .

تشريح : که د درو ورځو څخه زيات اختيار واخستئ نو د امام ابوحنيفه په نيز دا اختيار نه سي اخستلائي .

وجه : (١) د درو ورځو څخه په زيات اختيار اخستلو کي دهغه بَل سړي تَاوَان دئ.تر ډيرو ورځو پوري به اِنتِظَار کوي چي بَيع سوې ده که نه ؟ نو ځکه د درو ورځو څخه زيات اختيار نه سي ورکول کېدائي (٢) په حديث کي هم صرف د درو

ورځو د اِختِيَار ثبوت سته عَن اِبنِ عُمَرَ عَنِ النّبِيِّ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ قَالَ اَلخِيَارُ ثَلْثَةَ اَيّـامٍ (الف) (دارقُطني،كتـاب البيـوع ج٣ص٤٨نمبـر٢٩٩٣\سـنن للبيهقي،بـاب الـدليل علـي ان لايجوز شرط الخيارفي البيع اكثرمن ثلْثة ايامٍ ج٥ص٤٥٠نمبر١٠٤٦١\ترمذي،باب ماجآءفي المصراة ص٢٣٦نمبر١٢٥٢) ددې حديث څخه معلوم سو چي صرف د درو ورځو اختيار ورته حاصل دئ .

صاحبين فرمائي چي د خِيَارِشَرط معامله د بَائِع او مُشتَرِي پر صَوَابدِيد بانـدي ده يعني چي د دُوئـي دوو څـه رنګـه او هرڅونـه ورځـي خوښـه سـوه هغونـه ورځـي اختيار د ځان سره ساتلائي سي خو په دې شرط چي مُدَه ئې معلومه وي چي د څو ورځو اختيار اخلي ؟ مجهول به نه وي. د دده دليل دغه لُوَړ حـديث دئ چـي پـه هغه کي د درو ورځو قيد نه دئ لګېدلئ مُطلَقًا اختيار ئې ورکړئ دئ .

حاشيه : (الف) حضورصلي الله عليه وسلم وفرمائل خِيَارشَرط تر درو ورځو پوري وي .

[٨٥٠](٣) وَخِيَارُ البَائعِ يَمنَعُ خُرُوجُ المَبِيعِ مِن مِلكِهِ [٨٥١] (٤) فَاِن قَبِضَهُ المُشتَرِيُ فَهَلَکَ بِيَدِهِ فِي مُدّةِ الخِيَارِ ضَمِنَهُ بِالقِيمَةِ .

[٨٥٠](٣) د بَائِع اَختِيَار منع کوي د مَبِيع دده د مِلکِيّت څخه وَتَل .

تشريح : چي کله بَائِع خِيَارِشَرط دځان سره وساتي نو که څه هـم مَبِيـع د مُشـتَرِي لاس ته تللې وي خو بيا هم د بَائِع په مِلکِيّت کي ده دده د مِلکِيّت څخه نه ده وتلې .

وجه : چي بَائِع اختيار واخستئ نو ددې مطلب دادئ چي د بَيع کولو بـاوجود دئ مَبِيـع په خپل مِلکِيّت کي ساتل غُوَاړِي.چي کله دئ بَيع نَافِذ کړي نـو هغـه وخـت مَبِيـع دده د مِلکِيّت څخه وَزِي.په دغه وجه که چيري دئ (بَـائِع) مَبِيـع آزاد کـړي نـو آزادولائـي ئې سي او که چيري مُشتَرِي وغُوَاړِي چي مَبِيع آزاد کړي نو نه سي کولائي چي آزاد ئې کړي ځکه چي دده مِلکِيّت ته لا تر اُوسَه مَبِيع نه ده راغلې .

اصول : تر څو چي بَائِع په مُکمّله توګه سره راضي نه وي تر هغه وختـه پـوري مَبِيـع دده د مِلکِيّت څخه نه وزي.په حديث کي ودې ته اشاره سوې عَن اَبِي هُرَيرَةَ عَـنِ النّبِـيِّ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ قَالَ لاَيَفتَـرِقَنّ عَن بَيـعٍ اِلاّ عَـن تَـرَاضٍ (الـف) (ترمـذي شـريف،باب ماجـــاء فـــي خيارالمتبـــايعين ص٢٣٦نمبـــر١٢٤٨\ابوداؤدشـــريف،باب خيارالمتبـــايعين ص١٣٣نمبر٣٤٥٨) په دې حديث کي دئ چي بې له رضامندئ دي بَائِع او مُشتَرِي نه ځله جلا کيږي لهٰذا د خِيَارِشَرط په وجه مَبِيع د بَائِع د مِلکِيّت څخه نه وُزِي .

[٨٥١](٤)بيا که چيري مُشتَرِي پر مَبِيع باندي قبضه وکړه او په مُدّت خِيَار کي دده په لاس کي هلاک سوه نو مُشتَرِي به د قِيمَت ضَامِن وي .

تشريح : بَائِع د درو ورځو خِيَارِشَرط اخستئ و او مُشتَرِي د بَائِع په اجازت سره پر

حاشیه : (الف) حضور وفرمائل چي بَیع وکي نه دي ځله جلا کيږي مګر په رَضَامَندِي سره .

[۸۵۲](۵) وَ خِیَارُ المُشتَرِي لاَ یَمنَعُ خُرُوجُ المَبِیعِ مِن مِلکِ البَائِعِ اِلاّ اَن المُشتَرِي لاَیَملِکُهُ عِندَ اَبِي حَنِیفَةَ وَ قَالَ اَبُویُوسُفَ وَ مُحَمّدٌ یَملِکُهُ .

مَبِیع باندي قبضه وکړه وروسته د مُشتَرِي په لاس کي مَبِیع په هلاکت ورسېده نو کوم ثَمَن چي د دُوئي تر مینځ مُتَعَیّن سوي و هغه خو نه لازمیږي.لېکن په بازار کي چي ددې مَبِیع کوم قِیمَت دئ هغه به اداّء کوي .

وجه : (۱) د بَائِع سره اِختِیَار و نو ځکه دا مَبِیع دده د مِلکِیّت څخه نه ده وتلې او بَیع هم نه ده سوې. لېکن مُشتَرِي هسي د قیمت په توګه هغه شئ اخستئ و او هلاک سو نو ځکه چي په بازار کي دهغه شي کوم قیمت وي هغه پر مُشتَرِي باندي لازم دئ (۲) ددې ثبوت په یوه اَثَر کي سته. حضرت عُمَر رضي الله تعاليْ عنه د یوه سړي څخه آس واخستئ په دې شرط چي که مو چیري خُوَښ سو نو دځان سره به کښېږدم.بیا ئې یو سړئ پر هغه آس باندي سپورکئ چي دهغه په وجه آس عَیب دَارسو.حضرت عُمَرقَاضِي شُرَیح خپل فَیصَل جوړکئ نوقَاضِي شُرَیح وفرمائل چي تاخوصحیح سَالِم آس اخستئ ونوځکه یاخو صحیح سَالِم آس بېرته واپس که یا د هغه قیمت ورکه. فَقَالَ شُرَیحٌ لِعُمَرَ اَخَذتَهُ صَحِیحًا سَلِیمًا وَ اَنتَ لَهُ ضَامِنٌ حَتّيْ تَرُدّهُ صَحِیحًا سَلِیمًا (الف) (سنن للبیهقي،باب الماخوذ علي طریق السوم علي بیع شرط فیه الخیارج۵ص۴۵۰نمبر۱۰۴۶۳\مصنف عبدالرزاق،باب الرجل یشتري الشیئ علي ان یجربه فیهلک ج۸ص۲۲۴نمبر۱۴۹۷۹) ددې اثر څخه معلوم سو چي مُشتَرِي به قیمت ورکوي.ځکه چي دده دفِعل څخه مَبِیع هلاک سوې ده .

[۸۵۲](۵) د مُشتَرِي خِیَارِشَرط دمَبِیع د بَائِع دمِلکِیّت څخه وَتَل نه منع کوي مګر دا چي مُشتَرِي دهغه مَالِک نه ګرزي د امام ابوحنیفه په نبز.او صاحبین فرمائي چي د مَبِیع مَالِک ګرزي .

حاشیه : قاضي شریح و حضرت عُمَر ته وفرمائل تَا صحیح او سَالِم آس اخستئ و نو ځکه تَه ددې د قیمت ضَامِن ئې یا دا چي و ده تَه صحیح او سَالِم آس واپس که . پام لرنه : او صحیح و سالم آس نه سي واپس کولائي نو دهغه قیمت به ورکوي .

[۸۵۳](۶) فَاِن هَلَکَ هَلَکَ بِالثّمَنِ .

تشریح : خِیَارِشَرط مُشتَرِي اخستئ دئ.بَائِع نه دئ اخستئ.نو ځکه بَائِع خو دخپل طرف څخه بَیع مُکَمّله کړه لهْذَا د بَائِع د مِلکِیّت څخه مَبِیع وُزِي.لېکن مُشتَرِي خِیَارِشرط اخستئ دئ نو ګواکه مُشتَرِي تر اُوسَه پوري بَیع نه ده مُکَمّله کړې لهْذا دده په مِلکِیّت کي مَبِیع نه داخلیږي.او که چیري دده په مِلکِیّت کي مَبِیع داخله سي نو دا خو د مُشتَرِي نُقصَان دئ. مثلاً که چیري خپل وُرُور اخستئ و او خِیَارِشَرط ئې اخستئ و نو ددې باوجود خپل وُرُور دده په مِلکِیّت کي داخل سو او وُرُور خو ذِي رَحِمِ مَحرَم دي نو ځکه دا آزاد سو. نو اُوس مُشتَرِي نه غُوَښتَل لېکن بیا هم آزاد سو.

نو ځکه امام ابوحنيفه فرمائي چي کله د مُشتَرِي سره خِيَارِشَرط وي مَبِيع د مُشتَرِي پـه مِلکِيّت کي نه داخليږي .

لغت : ثَمَن : هغه دئ کوم چي د بَائِع او مُشـتَرِي تـر مينـځ قيمـت مُقَـرّر سـي. قِيمَـت : کوم قيمت چي په بازار کي لګېدلائي سي هغه ته قيمت وائي .

صاحبين فرمائي چي د مُشتَرِي په ملکِيّت کي داخلريږي .

وجه : ځکه چي د بَائِع د مِلکِيّت څخه وواتئ او مَملُوک شئ بايد د يو چا نه يـو چـا پـه مِلکِيّت کي وي که نه نو بيا خو مَملُوک نـه سـو. نـو ځکـه کـه څـه هم مُشـتَرِي خِيَـار اخستئ وي بيا هم دده په مِلکِيّت کي داخل دئ.

[۸۵۳](۶) بيا که چيري د مُشتَرِي په لاس کي هـلاک سـو نـو د ثَمَـن پـه بَدلَـه کـي پـه هلاک سي .

تشريح : مُشتَرِي خِيَارِشرط اخستئ و نو ځکه دده په مِلکِيّت کي نه وُ داخل سوئ لېکن چي کله مَبِيع و هلاکت ته قريب سو نودهلاکت څخه لَږ مُدَه مخکي دمُشتَرِي و مِلکِيّت تـه داخـل سو او بَيع مُکَمّله سوه. او چي بَيـع مُکَمّلـه سـوه نـو پـر مُشـتَرِي بانـدي ثَمَـن ادآء کـول لازم سو.يعني هغه قيمت کوم چي د بَائِع او مُشتَرِي تر مينځ مُقرر سوئ وُ .

اُصُول : چي بَيع مُکَمّله سي نو ثَمَن لازميږي .

[۸۵۴](۷) وَ کَذَالِکَ اِن دَخَلَهُ عَيبٌ [۸۵۵](۸) وَ مَن شَرَطَ لَهُ الخِيَـارُ فَلَهُ اَن يَفسَخَ فِي مُدّةِ الخِيَارِ وَ لَهُ اَن يُجِيزَهُ .

---

[۸۵۴](۷) دغه رنګه که په مَبِيع کي عَيب پيدا سو .

تشريح : يعني مُشتَرِي خِيَار اخستئ و او پـر مَبِيـع بانـدې قبضـه هـم کـړې وه. مَبِيـع د مُشتَرِي په لاس کي عَيب دَارَه سو نو بَيع تَام سوه. لهْذَا مُشتَرِي بـه ثَمَـن ورکـوي کـوم چي د دُوئي دوو تر مينځ مُقَرّر سوئ و.ځکه چي د مُشـتَرِي پـه لاس (قبضـه) کـي د مَبِيع په عَيب دَار کېدو سره بَيع مُکَمّله کيږي. ځکـه چـي مَبِيـع صـحيح او سَـالِم وه نـو اُوس ئې عَيب دَارَه څه رنګه بېرته واپس کوي ؟

وجه : په مسئله نمبر ۴ کي د قاضي شُرَيح جُملـه تېـره سـوه فَقَـالَ شُـرَيحٌ لِعُمَـرَ اَخَذتَـهُ صَحِيحًاسَلِيمًا وَ اَنتَ لَهُ ضَامِنٌ حَتّي تَرُدّهُ صَحِيحًا سَلِيمًا (الف) (سنن للبيهقي. باب الماخوذ علي طريق السوم وعلي بيع شرط فيه خيارج ۵ ص۴۵۰ نمبر ۱۰۴۶۳\| مصنف عبدالرزاق نمبر۱۴۹۷۹) ددې څخه معلوم سو چي کله مَبِيع د مُشتَرِي په لاس کي عَيب داره سـي نو دئ به دهغه قيمت ورکوي او مَبِيع د مُشتَرِي ده او بَيع به تام سي .

[۸۵۵](۸) کوم چا چي خِيَارِشَرط اخستئ وي هغه کولائي سي چي په مُدَتِّ خِيَـار کـي بَيع فَسخ کړي او دئ دا هم کولائي سي چي بَيع ته جواز ورکړي .

وجه : ده خو د بَيع د کولو او د ختم کولو دواړو اختيار اخستئ دئ لهْذَا و ده تـه بـه د دواړو اختيار وي. که خُوَښَه سي په درې ورځي کي دي بَيع ته جواز ورکړي او که

خُوَښَه سي نو په درې ورځې کي دَنَنَه دَنَنَه دي بَيع ختم کړي .

حاشيه : (الف) قاضي شريح و حضرت عُمَر ته وفرمائل تـا صـحيح او سَـالِم آس اخسـتئ و نـو ځکـه تـه ددې د قيمت ضَامِن ئې يا دا چي و ده تَه صحيح او سَالِم آس واپس که .ؘ

[٨٥٦](٩) فَاِن اَجَازَهُ بِغَيرِ حَضرَةِ صَاحِبِهِ جَازَ وَ اِن فَسَخَ لَم يَجزِ اِلاّ اَن يَکُونَ الآخَرُ حَاضِرًا .

[٨٥٦](٩) بيا که چيري د هغه بَل په عَدَمِ مَوجُودَگي کي بَيع تـه جـواز ورکـړئ نـو دا صحيح ده.اوکه بَيع فَسخ کړه نوجواز نه لري مګرهغه وخت چي هغه بَل حاضر وي.
تشريح : مثلاً بَائع خِيَارِشَرط اخستئ وي نـو کـه مُشـتَرِي مخـامخ نـه وي يـا وهغـه تـه معلوم نه وي نو بيا هم که بَيع ته جواز ورکول وَغُوَارِي نو جائز کولائي ئې سي .
وجه : ځکه چي و بَيع ته په جواز ورکولو کي د مُشتَرِي هيڅ نُقصَـان نسته هغـه خـو غُوَارِي چي بَيع جائز سي په دغه وجه خو هغه خِيَارِشَرط نه دئ اخستئ. نو ځکـه کـه و مُشتَرِي ته معلوم نه وي نو هم بَيـع جـائز کـولائي سـي. او کـه بَـائع بَيـع فَسـخ کـول غُوَارِي نو تر څو چې ومُشتَرِي ته خَبَر نه وي ورکړئ تر هغـه وخـت پـورې نـه سـي فَسخ کولائي.
وجه : (١) ځکه چي په فَسخ کولـو کـي د مُشـتَرِي نُقصَـان دئ.د مُشـتَرِي دا خيـال دئ چي دئ بَيع جائز کوي لېکن هغه فسخ کړه. اُوس ده د بَلِي مَبِيع تلاش (طلب) نه دئ کړئ او په اِنتِظَار دئ. لهْذَا که چيري فسخ کوي نـو وهغـه بَـل فَرِيـق تـه بـه اِطـلاع ورکوي چي دهغه فريق نُقصَان ونه سي (٢) په حـديث کـي ددې صـراحت سـته عَـن عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ قَالَ لاَ ضَرَرَ وَلاَ ضَـرَارَ (الـف) (د ارقطنـي، کتـاب في الاقضية ولاحکام ج٤ص١٤٦نمبر٣٠٦٠\٤٤٩٣) ددې حـديث څخـه معلـوم سـو چـي وبَل چا ته د نُقصَان رسولو څخه بايد انسان ډَډَه وکړي .
فائده : امام ابويوسف او امام شافعي فرمائي چي وهغه بَل فَرِيـق تـه د اِطـلاع ورکولـو بغيره هم که فَسخ کول وَغُوَارِي نو فسخ کولائي سي .

حاشيه : (الف) حضورصلي الله عليه وسلم وفرمائل نه خو نُقصَان پورته کول په کار دئ او نه نُقصَان ورکول په کار دئ .

[٨٥٧](١٠) فَاِذَا مَاتَ مَن لَهُ الخِيَارُ بَطَلَ خِيَارُهُ وَلَم يَنتَقِلُ اِلْي وَرَثَتِهِ .

وجـه : دغـه بَـل فريـق و اختيـار اخسـتونکي فريـق تـه د بَيـع د خـتم کولـو اختيـار هَـم ورکړئ دئ نو ځکه هغه ددې په غَيبُوبَت کي لکه څه رنګه چي بَيع جائز کولائي سـي دغه رنګه ئې ختم کولائي هم سي .

لغت : د ,, اِلاّ اَن يَکُونَ الآخَرُحَاضِراً،، دا مطلب نه دئ چي هغه بَل فريق دي حاضر وي بلکه مطلب ئې دادئ چي که هغه بَل فريق نه وي حاضر خو وهغه ته د بَيع د فَسخ کولو اِطلاَع ورکول سي.

[۸۵۷](۱۰) بيا که چيري هغه چي اِختِيَار ورته حاصل وُ مَړ سُو نو دهغه اِختِيَار به باطل سي.او دا دده و وَرَثَآءُ ته نه مُنتقِل کيږي .

تشريح : بَائِع يا مُشتَرِي کوم يوه چي خِيَارِشَرط اخستئ وي مَړ سي نو اُوس دا اِختِيَار دده و وَرَثَآءُ ته نه مُنتقِل کيږي. او و وَارِث ته ددې بَيع خِيَارِشَرط نه دئ حاصل. بلکه مخکي ايجاب او قبول سوي دي لِهٰذَا بَيع تَامَ او لازم ده .

وجه : (۱) دا ,, اِختِيَار,, د اِرَادې او د تَمَنّيْ نوم دئ چي بَيع ته جواز ورکړي يا نه. که نه اصل ايجاب او قبول خو مخکي لا سوي دي. او اراده يو مَعنَوِي شئ دئ. دا نه سي مُنتَقِل کېدائي لِهٰذَا خِيَار نه مُنتقِل کيږي (۲) په حديث کي ودې ته اشاره سوې ده عَن عَبدِالهِ بِنِ عُمَرَ اَنّ رَسُولَ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ قَالَ اَلمُتَبَايِعَانِ کُلّ وَاحِدٍ مِنهُمَابِالخِيَارِ عَلْي صَاحِبِهِ مَالَم يَتَفَرّقَا اِلاّ بَيعَ الخِيَارِ (الف) (باب البيعان بالخيار مالم يتفرقا ص۲۸۳نمبر۲۱۱۱) په دې حديث کې صرف ,, اَلمُتَبَايِعَانِ ,, يعني و بَائع او مُشتَرِي ته اختيار ورکړئ دئ. ددې مطلب دادئ چي د دُوئي دوو څخه علاوه و بَل چا ته دا اختيار نه دئ حاصل .

[۸۵۸](۱۱) وَ مَن بَاعَ عَبدًا عَلْي اَنّهُ خَبّازٌ اَو کَاتِبٌ فَوَجَدَهُ بِخِلاَفِ ذَالِکَ فَالمُشتَرِي بِالخِيَارِ اِن شَآ ءَ اَخَذَهُ بِجَمِيعِ الثّمَنِ وَاِن شَآ ءَ تَرَکَهُ .

فائده : امامِ شافعي فرمائي چي لکه څه رنګه چي خِيَارِعَيب او خِيَارِتَعيِين و وَرَثَآءُ ته مُنتَقِل کيږي دغه رنګه خِيَارِشَرط هم و وَرَثَآءُ ته مُنتقِل کيږي. او و دُوئي ته هم د بَيع د ختم کولو او جائز کولو حَق حاصل دئ .

[۸۵۸](۱۱) يو چَا غُلاَم (مريئ) خرخ کړئ په دې شرط چي دا ډُوډَئ پخونکئ (نَان بَائي) دئ يا کَاتِب دئ بيائې هغه ددې خلاف موندئ نو و مُشتَرِي ته ددې اختيار دئ چي که خُوښَه سي په پوره ثَمَن دې واخلي او که خُوښَه سي پري دې اِږدِي .

تشريح : غلام ئې خرخ کړئ په دې شرط چي دا نَان بَائي (يا اَشپَز) دئ. لېکن وروسته معلوم سو چي په غلام کي هغه صفت نسته نو ددې صفت د نېستوَالِي په وجه و مُشتَرِي ته د بَيع د جائز کولو او د ختم کولو اختيار سته. ځکه چي دهغه صفت د نِېستوَالِي په وجه دده رَغبَت کَم (لَږ) سو او بَائع د وعدې خِلاَفوَرزِي وکړه

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل و بَائِع او مُشتَرِي دواړو ته پر خپل ملکري باندي اختيار سته تر څو چي ځله جلا سوي نه وي مګر د خِيَارِشَرط په بيع کي .

نـو ځکـه وده تـه د ددې عَقد د ختم کولـو اختيـار سـته. او کـه چيـري مَرَيَـئ اخسـتل وَغُوَارِي نو په هغه قيمت به اخلي کوم چي د دُوئي دوو تر مينځ مُقَرّر سوئ و.

وجه : ډُوډَئ پَخَوَل (نَان بَائي)، کِتَابَت يو صِفَت دئ او مخکي دا تېر سـوي دي چـي د صِفَت په مُقَابَلَه کي مُستَقِل قيمت نه راځي نو ځکه ددې صِفَت د کَمِي په وجه په قِيمَت کي کَمَئ نه راځي .

پام لرنه : پاته سو دا چي د قِيمت پر کمولو باندي راضي سی نو دا ګواکـه جـلا صَـفقَه سوه ددې بيا ګُنجائش سته. خو قَانُونًـا پـه هغـه اَوّل قيمـت بانـدي اَخلِـي.ددې ثبـوت پـه حديث کي سته عَن عَبدِاللهِ بِنِ عُمَرَ اَنّ رَجُلاً ذُ کِرَ لِلنّبِيّ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ اَنّـهُ يُخدَعُ فِي البُيُوعِ فَقَالَ اِذَا بَايَعتَ فَقُل لاَ خَـلاَ بَـةَ (الـف) (بخـاري شـريف.باب مـايکره مـن الخداع في البيع ص۲۸۴نمبر۲۱۱۷\ترمذي شريف.باب ماجآء في من يخدع فـي البيـع ص۲۳۶نمبر۱۲۵۰) په دې حديث کې وهغه صحابي تـه د اِختِيَـار حُکـم ورکـړئ دئ کوم چي په بَيع کې دُوکَه خُوَړَل. لِهْذَا کوم خلک چي په صِفَت کي دُوکَه خُورِي وهغو ته د بَيع د ختم کولو اِختِيَار سته .

اصول : د مَرغُوبٌ فِيهِ صفت په فوتېدو سره و مُشتَرِي تـه د بَيـع د خـتم کولواِختِيَـار سته .

لغت : خَبّازٌ : ډُوډَئ پخونکئ.نان بَائي.د خُبزٌ اِسمِ فَاعِل دئ .

..... بَابُ خِيَارِ الرُؤيَةِ .....

حاشيه : (الف) دحضور په مَخ تَذکِرَه راغله چي يو سَړَ ئ په بَيع کي دُوکَه خُورِي نو حضور وفرمائل چي کلـه تَه بَيع کوي نو دا ورته وايه چي دُوکَه به نه وي (پام لرنه) (په هغه بَل حديث کې وده ته د ذُرُو ورځو د اِختِيَـار اخستلو حُکم کړئ و)

[۸۵۹](۱) وَمَن اِشتَرِيْ مَا لَم يَرَهُ فَالبَيعُ جَائِزٌ [۸۶۰](۲) وَ لَهُ الخِيَارُ اِذَا رَاْ هُ اِن شَآ ءَ اَخَذَهُ وَاِن شَآ ءَ رَدَّهُ .

..... بَابُ خِيَارِ الرُّؤيَةِ .....

ضروري پام لرنه : يو شئ ئي ليدلئ نه وي وَايَخلِي د ليدلو وروسته هغه وخت كه خُوَښَه سي وَايَخلِي او كه خُوَښَه سي نه وَاخلِي و دارنګه اِختِيَار ته خِيَارِرُؤيَة وائي.
خِيَارِرُؤيَة جائز دئ دليل ئي دا حديث دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ مَن اِشتَرِيْ شَيئًا لَم يَرَهُ فَهُوَ بِالخِيَارِ اِذَا رَاْ هُ (الف)(دارقطني، كتاب البيوع ج۳ص۵نمبر۲۷۷۹\سنن للبيهقي،باب من قال يجوز بيع العين الغائبة ج۵ص۲۴۰نمبر۱۰۴۲۶) ددې حديث څخه معلوم سو چي مَبِيع ئي نه وي ليدلې نو د ليدلو وروسته دهغه د اخستلو او نه اخستلو اختيار ورته حاصل دئ .

[۸۵۹](۱) يو سړِي واخستئ داسي شئ چي نه وي ليدلئ نو بَيع جائز ده .

وجه :(۱) چي نه وي ليدلئ هم يو شئ خرڅول جائز دئ. ځكه چي هغه مَال دئ او اختلاف او جګړه هم نه رامينځ ته كيږي. ځكه چي د بَيع كولو وروسته كه نه سوه خُوَښَه نو بَيع به ختم كړي (۲) د لوړ حديث څخه هم معلوم سو چي بې له ليدلو هم شئ اخستئ سي .

[۸۶۰](۲) او مُشتَرِي ته اختيار دئ چي مَبِيع ووينې كه خُوَښَه سي وَادِېخلِي او كه خُوَښَه سي واپس دې كي .

تشريح : د ليدلو وروسته و مُشتَرِي ته د اخستلو او نه اخستلو اختيار دئ .

وجه : (۱) ځكه چي دليدلو وروسته دده رِغبَت كَامِل نه دئ او نه دئ په هغه راضي دئ.او مخكي تيرسو چي بې له رضامندئ بَيع نه صحيح كيږي (۲) لوړحديث تير سو عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ مَن اِشتَرِيْ شَيئًا لَم يَرَهُ فَهُوَ بِالخِيَارِ اِذَا رَاْ هُ (الف) (دارقطني، كتاب البيوع ج۳ص۵نمبر۲۷۷۹\سنن للبيهقي، باب من قال يجوز بيع العين الغائبة ج۵ص۲۴۰نمبر۱۰۴۲۶) ددې حديث څخه معلوم سو چي د ليدلو وروسته و مُشتَرِي ته د اخسنلو او نه اخستلو اختيار سته .

[۸۶۱](۳) وَمَن بَاعَ مَا لَم يَرَهُ فَلاَ خِيَارَ لَهُ .

[۸۶۱](۳) يو چا خرڅ كړئ داسي شئ چي ليدلئ ئي نه دئ نو وهغه ته اِختِيَار نسته .

تشريح : بَائِع بې له ليدلو مَبِيع خرڅ كړه او وروسته خِيَارِرُؤيَت اخستل غُوَارِي.او دليدلو وروسته په خِيَارِرُؤيَت سره بَيع ختم كول غُوَارِي نو وده ته په خِيَارِرُؤيَت سره د بَيعِ د ختم كولو اختيار نه سي وركېدلائي .

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل كوم چا چي داسي شئ واخستئ چي ليدلئ ئي نه وي نو اِختِيَار لري كله چي هغه ووينې .

وجه : (١) مَبِيع خو دده سره ورسره وه.نو دده د بَيع كولو څخه مخكي وَلِـي نـه كَتَـل؟ نه ليدل دده غلطي وه لِهْذَا وده ته خِيَارِرُؤيَت نه سي ورکېدلائي (٢) په لوړ حديث کـې ,, مَن اِشتَرِيْ شَيَئًا ,, فرمائلي دي چي كوم چا شئ واخستئ،ددې څخـه دا معلـوم سـو چي و اخستونكي ته اختيار حاصل دئ. ,, مَن بَاعَ ,, لفظ ئې نـه دئ ويلـئ ددې څخـه معلوم سو چي و خَرڅَوُنكِي ته اختيار نه دئ حاصل (٣) د اَثَر څخه معلوميږي چـي و بَائِع ته خِيَارِرُؤيَت نه دئ حاصل عَن اِبنِ اَبِي مُلَيكَةَ اَنّ عُثمَانَ اِبتَاعَ مِن طَلحَةَ بِنِ عُبَيـدِاللهِ اَرضًا بِالمَدِينَةِ نَاقَلَهُ بِاَرضٍ لَهُ بِالكُوفَةَ فَلَمّا تَبَايَنَا نَـدِمَ عُثمَـانُ ثُـمّ قَـالَ بَايَعتُـکَ مَـالَم اَرَهُ فَقَـالَ طَلحَةُ اِنّمَا النّظَرُ لِي اِنّمَا اِبتَعتُ مُغِيبًاوَ اَمّا اَنتَ فَقَد رَاَيتَ مَا اِبتَعتَ فَجَعَلاَ بَينَهُمَا حَكَمًا فَحَكَمَا جُبَيرُ بِنِ مُطعِمٍ فَقَضَيْ عَلْي عُثمَانَ اَنّ البَيعَ جَائِزٌ وَ

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل كوم چا چي داسي شئ واخستئ چي ليدلئ ئې نـه وي نـو اِختِيَـار لـري كلـه چـي هغه ويني .

[٨٦٢](۴) وَاِن نَظَرَ اِلْي وَجهِ الصّبرَةِ اَو اِلْي ظَـاهِرِالثّوبِ مَطوِيًـا اَو اِلْي وَجهِ الجَارِيَةِ اَو اِلْي وَجهِ الدّا بّةِ وَ كَفلِهَا فَلاَ خِيَارَ لَهُ .

اَنّ النّظَرَ لِطَلحَةَ اِنّهُ اِبتَاعَ مُغِيبًا (الف) (سنن للبيهقي،باب من قـال يجوزبيـع العـين الغائبـة ج۵ص۴۳۹نمبـر۱۰۴۲۴) پـه دې اَثَـر كـي حضـرت جُبَيـربِن مُطعِـم و بَـائِع حضـرت عُثمَان ته خِيَارِرُؤيَت نه دئ وركـړئ بلكـه و مُشـتَرِي حضـرت طلحـه تـه خِيَارِرُؤيَت وركړئ دئ. ددې څخه دا معلوم سو چي و بَائِع ته خِيَارِرُؤيَت نه سي ملاوېدائي .

اُصُول : د بَائِع لپاره خِيَارِرُؤيَت نسته .

[٨٦٢](۴) كه د خَرَې (كُوَرِي) لُوَړَه حِصّه وليدل يا ئې د پېچَل سوي ښـكاره حِصّـه وليدل يا ئې د مِينځِي مَخ وليدئ يا ئې د حَيوَان مَخ وليدئ او د هغه دشَا خوا ئـې وليـده نو دده لپاره خِيَارِرُؤيَت نسته .

تشريح : د مَبِيع هرهر اَندَام ليدل ضروري نه دئ.بلكه په عُرف كي چي كومـه حِصّـه يا كوم اَندَام ليدل د ټوله بَدَن ليدل گَڼَل (شُمَارَل) كيږي د هغـې حِصّـې او انـدام ليـدل كِفَايَت كوي.او دهغه اَندَام په ليدلو سره خِيَارِرُؤيَت ختم كيږي. مثلاً د يوې خَرَې لـوړه حِصّه چي ويني د هغه څخه دټولي خَرَې معلومات كيږي.لِهْذَا د لُـوَرِي حِصّـې كتنـه كفايت كوي. دغه رنګه د مِينځِي د مَخ د ليدلو څخه د دې پُورَه اندازه

حاشيه : (الف) د ابن اَبِي مُلَيكَه څخه روايت دئ چي حضرت عُثمان د طلحه بن عُبَيدالله څخه په مَدِينَه كي مځكه وَاخِستَه په كُوفَه كي دده د مځكي په بَدلَه كي چي په مَالِ غَنِيمَت كي ورته ملاؤسوې وه.نو چي كله دواړه ځله جلا سو نو حضرت عُثمَان پښېمان سو.بيائې وفرمائل چي مَا داسي شئ خرڅ كړئ چي ليدلئ مـو نـه دئ. نـو حضـرت طلحه وفرمائل چي خِيَارِرُؤيَت به زُومَا وي. ځكه چي مَا غَائِب (پَټ) شئ اخستئ دئ. بَهَر حَال تا خو ليـدلئ دئ

کوم شئ چي دي خرڅ کړئ دئ.نو دواړو حضرت جُبَيربن مُطعِم خپل حَکَم مُقَرّر کړئ نو هغه د حضرت عُثمَان خلاف فيصله وکړه چي بَيع جائز ده او خِيَارِرُؤيَت د حضرت طلحه دئ.ځکه چي هغه د غَيبُوبَت شئ اخستئ دئ .

[٨٦٣](٥) وَ اِن رَاْي صِحنَ الدّارِ فَلاَ خِيَارَ لَهُ وَ اِن لَم يُشَاهِد بُيُوتَهَا [٨٦٤](٦) وَبَيعُ الاَعمْي وَشِرَا ؤُهُ جَائِزٌ وَلَهُ الخِيَارُ اِذَا اِشتَرَيْ .

کيږي لِهٰذَا د مَخ د ليدلو څخه خِيَارِرُؤيَت ساقطيږي.د حيوان مَخ او سُرِين (د شَا وُرَنُونَه او ډُوډِيَان او لَم) د ليدلو څخه پوره معلومات کيږي لِهٰذَا ددې په کتلو سره خِيَارِرُؤيَت ساقطيږي .

اُصُول : د کومي حِصّې په کتلو سره چي د ټولي مَبِيع عِلم کيږي دهغې حِصّې په کتلو سره خِيَارِرُؤيَت ساقطيږي .

لُغَت : مَطوِيًا : پيچَل سوئ. کَفَلٌ : د حيوان کُونَاټَئ.ډُوډَئ .

[٨٦٣](٥) او که د کُور صِحن وکاتئ نو مُشتَرِي ته اختيار نسته که څه هم دهغه کمرې (کُوټې) نه وي کتلي .

تشريح : دمُصَنّف په مُلک کي کمرې په يَوَه رَنګ وې دصِحن دليدلوڅخه دکمرو اندازه کېدله نو په دغه وجه مُصنف وفرمائل چي د صِحن د ليدلو څخه خِيَارِرُؤيَت ساقطيږي.که څه هم کمرې نه وي ليدلي.لېکن په کومو کوملکوکي چي د کمرې دَنَنَه حِصّې په جَلا جَلا طرز وي په هغوملکوکي به دَنَنَه حِصّې کَتَل هم لازم وي. ددې بغيره خِيَارِرُؤيَت نه ساقطيږي وجه او اُصُول مخکي تير سوي دي .

[٨٦٤](٦) د ړَاندَه خرڅول او دهغه اخستل جائز دي لېکن دده لپاره خِيَاررُؤيَت سته چي کله واخلي .تشريح : د نَابِينَاخرڅول او اخستل ځکه جائز دي چي هغه يو انسان دئ،عاقل او بالغ دئ،انساني ضرورتونه دئ هم لري لهٰذا دده خرڅول اواخستل دواړه جائز دي.لېکن خو دسُتُرګُو د نېستوالي لکبله مَبِيع ئې نه دليدلې نو ځکه و ده ته خِيَارِرُؤيَت سته.دده دخِيَارِرُؤيَت د ساقطېدو مختلفي طريقي دي دهغه تفصيل مخته راروان دئ .

[٨٦٥](٧) وَ يَسقُطُ خِيَارُهُ بِاَن يَجُسّ المَبِيعَ اِذَا كَانَ يُعرَفُ بِالجَسِّ اَو يَشُمّهُ اِذَا كَانَ يُعرَفُ بِالشّمِّ اَو يَذُوقَهُ اِذَا كَانَ يُعرَفُ بِالذّوقِ كَمَا فِي البَصَرِ .

[٨٦٥](٧) د ړَاندَه خِيَاربه ساقط سي په دارنګه چي مَبِيع په لاَس مَسح کړي که په مَسح کولوسره معلومېده،ياهغه بُوئي کړي که په بُوئي معلومېده، يا ئې وَڅَکِي که په څَکېدلو معلومېده لکه څه رنګه چي په کتونکي (ليدونکي) سړي کي وي .

تشريح :نَابِينَا مُشتَرِي لِيدَل نه سي کولائي نو ځکه د مَبِيع د حقيقت د معلومولو لپاره چي کومي نوري طريقې کېدلائي سي دهغو طريقو په استعمالولو سره خِيَارِرُؤيَت

ساقطيږي. او که په بُوئي کولو سره د مَبِيع حقيقت معلوميږي او د بُوئي کړئ نو خِيَارِرُؤيَت ئې ساقطيږي. او چي په څَکَلُو سره د مَبِيع حقيقت معلوميږي نو چي کله وَڅَکِي نو خِيَارِرُؤيَت ئې ساقطيږي. دغه رنګه چي نَابِينَا ئې په دې مَذکُورَه طريقو سره په يوه وګوري نو خِيَارِ ئې ساقطيږي. يا يو بَل څوک د مَبِيع د کتلو وَکِيل جوړ کړي او وَکِيل ئې وګوري نو دا به د نَابِينَا کَتَل شمارل کيږي او دده خِيَار به ساقط سي .

اُصُول : چي کله پر اَصل باندي عَمَل نه سي کولائي نو دهغه پر نَائِب باندي عَمَل کول هم کفايت کوي. لکه څه رنګه چي پر اَودَس کولو باندي قُدرَت نه لري نو تَيَمّم کول کفايت کوي .

لُغَت : يَجُسّ : دلاس په کَرَوَلُو ئې معلوم کړي. په مَس کولو ئې معلوم کړي . يَشُمّ: چي بُوئي ئې کړي . اَلبَصَرُ : کَتُونکَۍ .

[۸۶۶](۸) وَ لاَ يَسقُطُ خِيَارُهُ فِي العِقَارِ حَتّيْ يُوصَفُ لَهُ[۸۶۷](۹) وَ مَن بَاعَ مِلکَ غَيرِهِ بِغَيرِ اَمرِهِ فَالمَالِکُ بِالخِيَارِ اِن شَآ ءَ اَجَازَالبَيعَ وَ اِن شَآ ءَ فَسَخَ وَ لَهُ الاِجَازَةُ اِذَا کَانَ المَعقُودُ عَلَيهِ بَاقِيًا وَ المُتَعَاقِدَانِ بِحَالِهِمَا .

---

[۸۶۶](۸) او په مځکه کي دهغه خِيَارنه ساقطيږي تر هغه وخت چي دهغې وَصف ئې نه وي بيان کړئ .

تشريح : نَابِينَا مځکه واخسته اُوس دا په مَس کولو يا په بُوئي کولو يا په څَکُلُو سره نه سي معلومولائي نو ځکه دده د خِيَار د ساقطولو او د پوره رَضَامَندَئ طريقه داده چي بَائِع د مځکي پوره حقيقت بيان کړي او پوره وَصف ئې بيان کړي.چي هغه خبري واؤري نَابِينَا په رَاضِي سي نو خِيَارِرُؤيَت ئې ساقطيږي .

لُغَت : اَلعِقَارُ : مځکه .

[۸۶۷](۹) کوم چا چي د بَل چا مِلکِيّت دهغه د حُکم بغيره خرڅ کړئ نو و مَالِک ته اختيار سته که خُوَښَه سي بَيع ته دي جواز ورکړي او که خُوَښَه سي فَسخ دې کړي. او وده ته د جواز ورکول حَق سته تر څو چي مَعقُودٌ عَلَيهِ يعني مَبِيع باقي وي او بَائِع او مُشتَرِي پر خپل حالت وي .

تشريح : يو چا د بَل چا شئ د هغه مَالِک د اجازې بغيره خرڅ کړئ نو دا خرڅلاؤ جائز دئ .

وجه :ځکه چی دا عَاقِل او بَالِغ سړئ دئ او شئ مَملُوک او مَبِيع دئ. او په خپله د ځان لپاره نه دئ خرڅ کړئ بلکه د مَالِک لپاره خرڅ کړئ دئ. اُوس که د مَالِک

خُوَښَه سي نو بَيع ته دي جواز ورکړي او که خُوَښَه نه سی فَسخ دي کړي. ودي بَيع ته بَيعِ فُضُولِي وائي. ددې بَيعِ ثُبوت په دې حديث کي دئ عَن عُروَةَ اَنّ النّبِيّ صَلّي اللّهُ عَلَيهِ
وَسَلّمَ اَعطَاهُ دِينَارًا يَشتَرِي لَهُ بِهِ شَاةً فَاشتَرِيْ لَهُ بِهِ شَاتَينِ فَبَاعَ اَحَدَهُمَا بِدِينَارٍ فَجَآءَهُ بِدِينَارٍ وَ شَاةٍ فَدَعَا لَهُ بِالبَرَكَةِ فِي بَيعِهِ (الف) (بخاري شريف،کتاب المناقب ص۵۱۴نمبر ۳۶۴۲)په دې حديث کي دئ چي حضرت عُروَه دحضورصلّي الله عليه وسلم د حُکم بغيره په يوه دِينَار دُوې وُزې واخستې،بيا ئې بېله حُکم يوه وُزَه خرڅه کړه او يو دِينَار ئې ګټَه راوړه بېرته واپس راغلئ.او پر دې باندي حضورصلّي الله عليه وسلم وده ته دُعاَء وکړه ددې مطلب داسو چي حضورصلّي الله عليه وسلم دده دغه عَمَل خُوَښ کړئ او دغه بَيع ته جواز ورکړئ. حالانکه بېله حُکم بَيع کول دا د فُضُولِي بَيع وه. ددې څخه معلوم سو چي د فُضُولِي بَيع جائز ده. او هم ځيني معلوم سو چي و مَالِک ته وروسته د بَيع ختم کولو او جائز کول اِختِيَار سته .

اُصُول : د فُضُولِي بَيع جائز ده .

فائده : امامِ شافعي فرمائي چي د فُضُولِي بَيع جواز نه لري .

وجه : ځکه چي دده سره مَبِيع نسته.او په حديث کي دئ چي د کوم چا سره چي مَبِيع نه وي دهغه لپاره خرڅلاؤ جواز نه لري.په حديث کي دئ ذَکَرَ عَبدُاللهِ بِنِ عُمَرَقَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ لاَ يَحِلّ سَلَفٌ وَ بَيعٌ وَ لاَ شَرطَانِ فِي بَيعٍ وَ لاَ رِبحُ مَالَم يَضمَن وَ لاَ بَيعُ مَالَيسَ عِندَکَ (ب) (ابوداؤدشريف.باب في الرجل يبيع ماليس عنده ص۱۳۹نمبر۳۵۰۴\ترمذي شريف.نمبر۱۲۳۲) ددې حديث څخه معلوم سو چي کومه مَبِيع چي د سَړِي سره نه وي دهغې خرڅلاؤ جواز نه لري.نو ځکه د فُضُولِي بَيع جواز نه لري .

چي مَبِيع موجود وي بيا دهغه اجازه ورکولائي سي. دغه قَيد په دې وجه دئ چي د مَالِک د اجازې ورکولو وروسته به دغه بَيع سي. نو که چيري مَبِيع موجود نه وي

حاشيه : (الف) حضور وحضرة عُروه ته يو دِينَار ورکړئ چي دئ په دې باندي يَوَه وُزَه واخلي.هغو په دې يوه دِينَار دُوې وُزې (بُوزې) واخستې،بيا ئې يوه وُزَه په يوه دِينَار خرڅه کړه،نو حضور لره يو دِينَار يَوَه وُزَه راوړل، هغه دده لپاره په بَيع کي د بَرَکَت دُعاَء وکړه (ب) حضور وفرمائل په پُور خرڅوَل او دهغه سره بَيع کول حلال نه دئ،په بَيع کي دُوَه مخالف شرطونه لګول صحيح نه دئ.تر څو چي ضَامِن نه وي دهغه څخه نَفع اخستل صحيح نه ده،او کوم شئ چي ستا سره موجود نه وي دهغه خرڅول صحيح نه دئ .

[۸۶۸](۱۰) وَ مَن رَاْي اَحَدَ الثّوبَينِ فَاشتَرَاهُمَا ثُمّ رَاْي الآخَرَ جَازَ لَهُ اَن يّرُدّهُمَا .

نو بَيع به پر کوم شي باندي کيږي ؟ نو ځکه د اجازې لپاره د مَبِيع وجود ضروري دئ. دغه رنګه چي بَائِع موجود وي مُشتَرِي موجود وي او پر خپل حالت باندي وي يعني د اجازې پر وخت عَاقِل،بَالِغ او مَالِک وي نو بيا بَيع صحيح کيږي که نه نو

صحيح كيږي . په دغه وجه د مُتَعَاقِدَينُ يعني د بَائِع او مُشتَرِي دواړو پر خپل حالت باندي وجود ضروري دئ. مثلاً چي په دُوئي کي يو عَاقِل نه سي پاته نو اُوس به دهغه لَجَانِب ځخه بَيع په څه رنګه کيږي ؟

لُغَت : مَعقُودٌ عَلَيهِ : پر کوم شي چي عَقد سوئ وي. اَلمُتَعَاقِدَينِ : عَقد کونکي يعني بَائع او مُشتَرِي .

[۸۶۸](۱۰) يو چا د دو کپړو ځخه يوه وليدل بيا ئې دواړې رَانِيوې بيا ئې هغه بَلَه کپړه وليدل نو دده لپاره جائز دئ چي دواړې کپړې وَاپَس کي .

تشريح : صرف يوه کپړه ئې ليدلې وه او په يَوَه بَيع کې دُوَمَه کپړه هم رَانِيوَل چي ليدلې نه وهنو د دُوَمِي کپړې د خِيَارِرُؤيَت تَحت دواړي کپړې واپس کولائي سي .

وجه : دواړي کپړې جَلا جَلا دي د يوې ليدل دهغه بَلِي د ليدلو لپاره کفايت نه کوي نو ځکه په دُوَمَه کپړه کي به خِيَارِ رُؤيَت ورته حاصل وي. او دلته خو بَيع يوه ده چي يوه کپړه وَاپَس کي نو مَبِيع به نيمئ پاته سي او نِيمَئ به وَاپَس سي نو لِهٰذَا که وَاپَس کوي نو به دواړې او که اخلي نو به هم دواړې. په اَثَر کي راغلي دي عَنِ الشّعَبِيِّ فِي رَجُلٍ اِشتَرِيْ رَقِيقًا جُملَةً فَوَجَدَ بَعضُهُم عَيبًا قَالَ يَرُدّهُم جَمِيعًا اَو يَاخُذَهُم جَمِيعًا(مُصنف عبدالرزاق،باب الرجل يشتري المبيع جملة فيجدفي بعضه عيبا ج۸ص۱۵۶نمبر۱۴۶۹۹) په دې اَثَر کي دئ چي ټوله مَبِيع دي واخلي يا دي ټوله مَبِيع پرې اِږدِي.

اُصول : (۱) دلته دا اُصول جَارِي دئ چي مَبِيع مُختلف ده نوځکه ديوې مَبِيع ليدل

[۸۶۹](۱۱) وَمَن مَاتَ وَ لَهُ خِيَارُ الرّؤيَةِ بَطَلَ خِيَارُهُ [۸۷۰](۱۲) وَ مَن رَاْيِ شَيئًا ثُمّ اِشتَرْ ہُ بَعدَ مُدّةٍ فَاِن كَانَ عَلْي الصِّفَةِ الّتِي رَاْ ہُ فَلاَ خِيَارَ لَهُ وَ اِن وَجَدَهُ مُتَغَيّراً فَلَهُ الخِيَارُ .

د بَلِي مَبِيع د ليدلو لپاره کفايت نه کوي. لهٰذَا په هغه بَلَه مَبِيع کي به خِيَارِرُؤيَت ورته حاصل وي (۲) ټوله مَبِيع به وَاپَس کوي نِيمَئ نه سي وَاپَس کولائي .

[۸۶۹](۱۱) يوڅوک مَړ سواو د هغه لپاره خِيَارِرُؤيَت ونودهغه اِختِيَارباطِل سو .

وجه : خِيَارِرُؤيَت يو معنوي شئ دئ او د اِختِيَار او ارادې نوم دئ.او معنوي شئ و بَل ته نه مُنتقِل کيږي. نو ځکه د مرګ وروسته دا اِختِيَار و ورثآؤ ته نه مُنتقِل کيږي. بَاطِل به سي .

[۸۷۰](۱۲) يو چا يو شئ وليدئ بيائې د يوې مُدې وروسته هغه وليدئ نو که چيري پر هغه صِفَت وُ کوم چي ده ليدلئ دئ نو وده ته اِختِيَار نسته. او که ده وليدئ چي دا خو دهغه څخه مُتَغَيّر (بدل سوئ) دئ نو و مُشتَرِي ته خِيَارِرُؤيَت سته .

تشريح : دهغه رُؤيَت څخه خِيَارِرُؤيَت ساقطيږي چي دهغه څخه د مَبِيع پوره علم و انسان ته حاصل سي. او که د مَبِيع د حقيقت عِلم نه سي حاصل نو بيا دا رُؤيَت د اِختِيَار د ساقطېدو لپاره کفايت نه کوي. نو اُوس مثلاً که شُپږ مياشتي مَخکِي يو شئ

ليدلئ وي او مَبِيع أُوس هم پر هغـه حـال بانـدي موجـود وي نوهغـه مَخکَنَـئ رُؤيَـت د مَبِيـع د حقيقـت د معلومولـو لپـاره کفايـت کـوي. لِهْـذَا مُشـتَرِي تـه بـه خِيَارِرُؤيَـت نـه ملاؤيږي. په دې اَثر کي ددې ثبوت سته عَن اِبنِ سِيرِينَ قَالَ اِذَا اِبتَاعَ رَجُلٌ مِنکَ شَيئًا عَلْي صِفَةٍ فَلَم يُخَالِف مَا وُصِفَت لَهُ فَقَد وَجَبَ عَلَيهِ البَيعُ (الف) (مصنف عبدالرزاق،باب البيع علي الصفة وهي غائبة ج٨ص۴۴نمبر١۴٢٢٣٧)

په دې اَثَر کي دئ چي که پر هغه صِفَت باندي پاته وي نو خِيَارِرُؤيَت نه ورته ملاؤيږي.بَيع وَاجِب ده. او که چيري د مَبِيع حالت بَـدَل سـوئ وي نو هغه اَوّلَنَئ رُؤيَت د حقيقت د معلومولـو لپـاره کفايـت نـه کـوي. لِهْـذَا و مُشـتَرِي تـه خِيَارِرُؤيَت حاصل دئ. او دهغه تَحت وده ته د مَبِيع د وَاپَس کولو حَق حاصل دئ .

أُصُول : (١) هغه رُؤيَت چي ديو شي حقيقت معلوموي هغـه د خِيَارِرُؤيَـت د سـاقطېدو لپاره کفايت کـوي (٢) د کـوم رُؤيَـت څخـه چـي د شـي حقيقـت نـه سـي معلـوم هغـه د خِيَارِرُؤيَت د ساقطېدو لپاره کفايت نه کوي .

اَ بُوالحُسَين قُطب عفي عنه وعن والديه

.....بَابُ خِيَارِ العَيبِ .....

حاشيه : (الف) دحضرت ابن سيرين څخه روايت دئ چي يو څوک ستا څخه يَو شئ واخلي پر يو خـاص صـفت باندي او کوم صِفَت چې بيان کئ دهغه خلاف ئې ونه کړه نو پر هغه باندي بَيع واجب سوه .

[٨٧١](١) اِذَا اِطّلَعَ المُشتَرِي عَلٰي عَيبٍ فِي المَبِيعِ فَهُوَ بِالخِيَارِ اِن شَآءَ اَخَذَهُ بِجَمِيعِ الثَّمَنِ وَ اِن شَآءَ رَدّهُ وَ لَيسَ لَهُ اَن يُمسِكَهُ وَ يَأخُذَ النُقصَانَ .

..... بَابُ خِيَارِ العَيبِ .....

ضروري پام لرنه : چي په مَبِيع کي عَيب راسي او د هغه عَيب تَحت دمَبِيع دوَاپَس کولو اِختِيَار وي ودغه ته خِيَارِ عَيب وائي. ددې ثبوت په دې حديث کي دئ عَن عَائِشَةَ اَنّ رَجُلاً اِبتَاعَ غُلاَمًا فَاَقَامَ عِندَهُ مَاشَآءَ اللهُ اَن يُقِيمَ ثُمّ وَجَدَ بِهِ عَيبًا فَخَاصَمَهُ اِلْي النّبِيِّ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ فَرَدّهُ عَلَيهِ فَقَالَ الرّجُلُ يَا رَسُولَ اللهِ قَد اِستَغَلّ غُلاَمِي فَقَالَ رُسُولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ اَلخِرَاجُ بِالضّمَانِ(الف) (ابوداؤد شريف، باب فيمن اشتريْ عبدا فاستعمله ثم وجد به عيباج٢ص١٣٩ نمبر٣٥١٠\ ابن ماجه شريف،باب الخراج بالضمان ص ٣٢١نمبر٢٢٤٣\سنن للبيهقي،باب المشتري يجد بما اشتراه عيبًاوقد استعمله زمانا ج٥ص٥٢٦ نمبر ١٠٧٤٢) په دې حديث کي ددې ثبوت سته چي په غُلام کې عَيب پيدا کئ نو هغه ئې بِېرته و بَائع ته وَاپَس کئ.

[٨٧١](١) که مُشتَرِي په مَبِيع کي پر يوه عَيب باندي مُطّلِع (آګاه) سو نو وده ته اختياردئ که خُوَښَه سي په پوره ثَمَن سره دې واخلي او که خُوَښَه سي وَاپَس دې کي.لېکن دمُشتَرِي لپاره جواز نه لري چي مَبِيع وَګرزَوِي اونُقصَان واخلي .

تشريح : مُشتَرِي په دې سوچ سره پر مَبِيع باندي قبضه وکړه چي په مَبِيع کي هيڅ ډَوَل عَيب نسته وروسته عَيب معلوم سو نو وده ته د خِيَارِعَيب تَحت دا اِختِيَار سته چي پوره مَبِيع ببړته وَاپَس کي. لېکن دا نه سي کولائي چي مَبِيع خو ځان ته راوګرزوي او د عَيب په وجه چي څومره نُقصَان راغلئ دئ هغه نُقصَان د بَائِع څخه ببړته واخلي. په هغه صُورت کي وَاپَس کولائي سي چي د اَخَستَلُو پر محال ئې دغه عَيب نه وي ليدلئ او پر دغه عَيب دئ نه وی راضي سوئ. دُوَم شرط دادئ چي دارنګه عَيب وي چي د تَاجِرَانُو په اِصطِلاَح کي هغه عَيب ګڼَل کيږي. نو ددغه عَيب په وجه د خِيَارِعَيب تَحت مَبِيع وَاپَس کولائي سي .

وجه : (١) د مَبِيع د وَاپَس کولو وجه داده چي د مُشتَرِي حَق ضَائِع سو نو ځکه مَبِيع دي وَاپَس کي او خَپَل پُورَه حَق دي وُصُول کړي (٢) په لُوَړ حديث کي تير سو چي د عَيب تَحت صَحَابِي غُلاَم وَاپَس کئ ددې څخه معلوم سو چي د عَيب په وجه مَبِيع وَاپَس کولائي سي عَن عَائِشَةَ اَنّ رَجُلاً اِبتَاعَ غُلاَمًا فَاَقَامَ عِندَهُ مَاشَآءَ اللهُ اَن يُقِيمَ ثُمّ وَجَدَ بِهِ عَيبًا فَخَاصَمَهُ اِلْي النّبِيِّ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ فَرَدّهُ عَلَيهِ (الف) (ابوداؤد شريف،باب

حاشيه : (الف) د حضرت عائشې څخه روايت دئ چي يوه سړي مَرَيَئ واخستئ. نو دده سره تر هغه وخته چي د الله خُوَښَه وه موجود و بيا ئې په هغه کي عَيب و مُونډَئ نو دغه مُخَاصَمَت ئې د حضور دَر بَار ته يوړئ نو غلام ئې و بَائِع ته وَاپَس کئ. بَائِع وويل حضور دې سړي زوما غلام په قَرض کي مُبتلآء کړئ دئ نو حضور وفرمائل د ضَمَان په وجه خِرَاج لازميږي .

فيمن اشتريْ عبدا فاستعمله ثم وجد به عيباج۲ص۱۳۹ نمبر ۳۵۱۰) ددې حديث څخه معلوم سو چي د عَيب په وجه مَبِيع وَاپَس کولائي سي.او دا هم ځيني معلوم سو چي پوره مَبِيع دي وَاپَس کي. چي په مَبِيع کي څه اِضَافَه نه وي سوې نو نُقصَان دي نه ځيني اَخلِي. ددې اَثَر څخه دا هم معلوميږي چي پوره مَبِيع به وَاپَس کوي عَنِ الشّعَبِيِّ فِي رَجُلٍ اِشتَريْ رَقِيقًا جُملَةً فَوَجَدَ بَعضُهُم عَيبًا قَالَ يَرُدّهُم جَمِيعًا اَو يَاخُذَهُم جَمِيعًا (ب) (مُصنف عبدالرزاق،باب الرجل يشتري المبيع جملة فيجدفي بعضه عيبا ج۸ص۱۵۶نمبر۱۴۶۹۹) په دې اَثَر کي دئ چي پوره مَبِيع دي وَاپَس کي يا دي پوره مَبِيع دځان سره کښيږدي . تَاوَان

حاشيه : (الف) د حضرت عائشې څخه روايت دئ چي يوه سړي مَرَيَئ واخستئ. نو دده سره تر هغه وخته چي د الله خُوَښَه وه موجود و بيا ئې په هغه کي عَيب و مُوندَئ نو دغه مُخَاصَمَت ئې د حضور دَربَار ته يوړئ نو غلام ئې و بَائِع ته وَاپَس کئ. (ب) د حضرت شَعَبِي څخه روايت دئ چي يوه سَړِي څو مَرَيَان (غُلاَمَان) واخستل بيا ئې په بَعضُو دهغو کي عَيب و موندئ. حضرت شَعَبِي وفرمائل چي ټوله مَرَيَان ئې وَاپَس که يا ټُولَه در وګرزوه .

[۸۷۲](۲) وَ كُلّ مَا اَوجَبَ نُقصَانُ الثّمَنِ فِي عَادَةِ التُجّارِ فَهُوَ عَيبٌ [۸۷۳](۳) وَ الاِبَاقُ وَ البَولُ فِي الفِرَاشِ وَ السّرَقَةُ عَيبٌ فِي الصِّغرِ مَا لَم يَبلُغ فَاِذَا بَلَغَ فَلَيسَ ذَالِکَ عَيبٌ حَتّٰي يُعَاوِدَهُ بَعدَ البُلُوغِ .

دي نه ځيني اَخلِي ...... د نُقصَان د نه اَخَستلُو دُوَمَه وجه داده چي عَيب يو صِفَت دئ او د صِفَت په مُقَابَلَه کي هيڅ ډَوَل قِيمَت نه راځي. نو ځکه د عَيب لپاره به جَلا يو قِيمَت نه ورکول کيږي .

[۸۷۲](۲) هر هغه عَيب چي په ثَمَن کي نُقصَان لازموي د تَاجِرَانُ په عَادَت (عُرف) کي هغه عَيب دئ .

تشريح : تَاجِرَان چي وکوم شي ته عَيب وائي او د کوم عَيب په وجه چي په قِيمَت کي نُقصَان (کَمِي) راځي هغه عَيب دئ .

اُصُول : په عَيب کي دهغه ځائ د مُحَاوُرې (عُرف) اِعتِبَار دئ .

[۸۷۳](۳) تَښتېدَل او په بِستَرَه کي بَولِي کول او په کِشنِيوَالِي کي غَلاَ کول عَيب دئ تر څو چي بَالِغ سوئ نه وي. بيا چي کوم وخت بَالِغ سو نو هغه مخکنۍ عَيب نه دئ تر څو چي د بَالِغېدُو وروسته بيا دُوَم وار ونه کړي .

تشريح : دِلتَه په عبارت کي اِضطِرَاب دئ. د مُصَنِّف وَينَا داده چي په کِشنِيوَالِي کي د بَولُو کولو،تَښتېدَلو او غَلاَ کولو سَبَب جلا وي. او د بُلُوغ وروسته دغه ټولَه په بَل سَبَب سره کيږي. لِهٰذَا که چيري په کِشنِيوَالِي کي دغه ټوله عَيبُونَه په کښي وُ او مُشتَرِي په کِشنِيوَالِي کي واخستئ بيا د بُلُوغ وروسته د مُشتَرِي په قَبضَه کي دغه ټوله عَيبُونَه دُوَم وار بيا ښکاره سو نو مُشتَرِي ددغه عَيبُو لکبله دغه غُلاَم و بَائِع ته نه سي

وَاپَس کولائي. ځکه چي دا عَيبُونَه (ګواکه) نَوِي دي او د مُشتَرِي په قَبضَه کي ښکاره سوئ دي. دا هغه د بَائِع سره موجود عَيبُونَه نه دي. مګر که چيري د بَالِغېدو وروسته بَائِع دا غُلاَم اخستئ وُ او د بَالِغېدو وروسته دا عَيبُونَه راښکاره سوي وُ او دُوبَاره دغه عَيبُونَه د مُشتَرِي سره ښکاره سو نو بيا خو دا عَيبُونَه د بَالِغېدُو وروسته پيدا سوي عَيبُونَه دي او د مُشتَرِي سره هم دغه عَيبُونَه ښکاره سو نو اُوس خو دواړه عَيبُونَه په حقيقت کي يَو عَيب دئ لِهْذَا مُشتَرِي دا مَبِيع وَاپس کولائي سي. په بِستَرَه کي بَولِي کول په کِشنِيوَالِي کي د مَثَانې د کمزوري په وجه وي. او د بَالِغېدو وروسته د نَس د نَاجُوړَۍ په وجه وي. په کِشنِيوَالِي تېښته په دې وجه وي چي دده د بَازَئ کولو سره مِينَه او مَحَبّت وي او د بُلُوغ وروسته خو دئ سَمَجدَارَه سو نو اُوس تَښتېدَل د فِطرِي خَبَاثَت لکبله وي. د کِشنِيوَالِي غَلاَ په دې وجه وي چي دئ د شي پَروَاه نه کوي او د بُلُوغ وروسته د فِطرِي خَبَاثَت لکبله وي. نو ځکه په کِشنِيوَالِي کي دغه عَيبُونَه جَلاَ دي او چي لُوئي سي بيا دغه نُور او جَلاَ عَيبُونَه ګڼَل کيږي. نو ځکه په کِشنِيوَالِي کي دغه عَيبُونَه د بَائِع سره وُ او بيا چي کله مُشتَرِي ته ولاړئ نو په کِشنِيوَالِي دغه عَيبُونَه نه دي ښکاره سوي بلکه د بَالِغېدو وروسته دا عَيبُونَه ښکاره سوي دي لِهْذَا مُشتَرِي د عَيب تَحت دغه مَرَيَان (مَبِيع) نه سي وَاپَس کولائي .

وجه : ځکه چي د بَائِع لخوا دغه عَيبُونَه راغلي نه دي. په اَثَر کي دئ عَن حَمّادٍ فِي رَجُلٍ اِشتَرَيْ عَبدًا فَأُخبِرَ اَنّهُ آبِقٌ وَ هُوَ صَغِيرٌ قَالَ لاَ يُرَدّ مِن ذَالِکَ، اِنّمَا يُرَدّ مِن ذَالِکَ اِذَا فَعَلَهُ وَهُوَ کَبِيرٌ (الف) (مُصنف عبدالرزاق،باب هل يُردمن العسر والشين والحمق والابقج۸ص۱۶۷نمبر۱۴۷۷۴۰) په دې اَثَر کې په کِشنِيوَالِي کي د تِيښتِي لکبله د وَاپَس کولو اجازت نه دئ ورکړئ .

اُصُول : چي د بَائِع لخوا څخه عَيب نه وي راغلئ نو مُشتَرِي ئې نه سي وَاپَس کولائي .

لُغَت : اَلاِبَاقُ : تَښتِېدَل . اَلسّرَقَةُ : غلا کول . يُعَاوِدُهُ : چي دُوبَاره ښکاره سي .

حاشيه : (الف) د حضرت حَمّاد څخه رِوَايَت دئ چي يوه سَړِي مَرَيَئ واخستئ. بيا هغه ته خَبَر وَرکَوَل سُو چي دا خو په کِشنِيوَالِي تَښتېدَئ. وفرمائل چي ددې په وجه ئې نه سي وَاپَس کولائي. وَاپَس کيږي به په دې وجه چي دئ د لُوئيوَالِي په عُمَر کي تَښتېدلئ وائي .

[۸۷۴](۴) وَالبَخرُ وَالذّفرُ عَيبٌ فِي الجَارِيَةِ وَ لَيسَ بِعَيبٍ فِي الغُلاَمِ اِلاّ اَن يَکُونَ مِن دَ آ ءٍ [۸۷۵](۵) وَ الزّ نَآ وَ وَلَدُ الزّنَا عَيبٌ فِي الجَارِيَةِ دُونَ الغُلاَمِ .

[۸۷۴](۴) د خُولې بَدبُوئي او د بَغَل بَدبُوئي عَيب دئ په مينځه کي او نه دئ عَيب په غُلاَم کي مګر که چيري دا د ناجوړۍ په وجه وُ.

تشريح : د مينځي سره مَولْي شَپَه تېروي. نو كه د مينځي د خُولي يا د بَغَل ښځه بَدبُوئي راپورته كيږي نو شَپَه تېروَل ډېر ګران كار دئ. او د نَفعِ اخستلو ښځه به محروم پاته سي نو ځكه په مينځه كي دا شئ عَيب دئ. ددغه عَيبُو په وجه مينځه وَاپَس كولائي سي. لېكن د غُلاَم سره مَولْي شَپَه نه تېروي لِهٰذَا كه په غُلاَم كي بَدبُوئي وي نو دا عَيب نه دئ. اَلبَتّه كه چيري د نَاجُوړَئ په وجه دغه بَدبُوئي وي نو ناجوړي خو په خپله يو مُستَقِل عَيب دئ لِهٰذَا د ناجوړئ په وجه غُلاَم وَاپَس كولائي سي.

لُغَت : اَلبَخرُ : د خُولي بَدبُوئي. اَلذّفرُ : د بَغَل بَدبُوئي. اَلجَارِيَةُ : مينځَه. دَآءٌ : ناجوړي .

[۸۷۵](۵) زِنَا او وَلَدُالزِّنَا كېدل عَيب دئ په مينځَه كي نه په غُلاَم (مرئي) كي .

وجه : (۱) چي زِنَاګَارَه ښځَه وي دهغې چي كوم نَسَل وي دهغو عَادَت به هم خَرَاب وي. او په مِينځَه خو مَولْي (يا مَالِک) خپل نَسَل چَلَوِي نو ګواكه يوه عَادَت خرابونكې ښځَه كورته راغله نو ځكه په مِينځَه كي زِنَاګَارِي عَيب دئ. دغه رنګه مينځه خو په خپله زِنَاګَارَه نه ده لېكن ددې مُور زِنَا كړې ده دا ئې پيدا كړې ده او دا مِينځَه حرامي ده نو اُوس چي ددې ښځه كوم نَسَل پيداكيږي هغه ته به هم حرامي او عَيب دَارَه ويل كيږي. نو ځكه په مِينځَه كي زَنَاګَارِي او حَرَامِي تُوب عَيب دئ. د غُلاَم ښځه مَقصَد نَسَل چَلَوَل نه وي نو ځكه په دي كي دا دُوَاړَه شِيَان عَيب نه دي.

[۸۷۶](۶) وَ اِذَا حَدَثَ عِندَ المُشتَرِي عَيبٌ ثُمّ اِطّلَعَ عَلْي عَيبٍ كَانَ عِندَ البَائِعِ فَلَهُ اَن يَرجِعَ بِنُقصَانِ العَيبِ وَ لاَ يُرَدّ المَبِيعُ اِلاّ اَن يَرضْي البَائِعُ اَن يَأخُذَهُ بِعَيبِهِ .

لېكن كه چيري غُلاَم په زِنَا كي دُومرَه زِيَات بُخت وي چي د مَولْي په خِدمَت كولو كې خَلَل رَاځِي نو بيا دا عَيب شمېرل كيږي. او د دغه خِيَارِعَيب تَحت ئې و بَائِع ته وَاپَس كولائي سي (۲) دليل ئې دا اَثَر دئ عَن شُرَيحٍ اُختُصِمَ اِلَيهِ فِي اَمَةٍ زَنَت فَقَالَ اَلزِّنَا يَرُدُ مِنهُ (الف) (مُصنف عبدالرزاق،باب يرد من الزنا والحبل ج۸ص۱۶۶نمبر ۱۴۷۳۴) په دې اَثَر كې مِينځَه د زِنَا په وجه سره وَاپَس كړې ده .

[۸۷۶](۶) كه د مُشتَرِي سره په مَبِيع كي نَوَئ عَيب پيدا سو بيا پر هغه عَيب باندي آګاه سو كوم چي د بَائِع سره وُ نو د مُشتَرِي دپاره جائز دئ چي د عَيب د نُقصَان رُجُوع وكړي او مَبِيع دي بېرته نه وَاپَس كوي مګر دا كه بَائِع راضي وُ چي بِعَينِهِ هغه ځيني وَاخِلي .

تشريح : مُشتَرِي مَبِيع وَاخَستَل، بيا ئې دده سره يو نَوَئ عَيب پكي پيدا سو. وروسته معلوم سو چي د بَائِع سره هم يو عَيب پكښي وُ. اُوس چي مَبِيع وَاپَس كوي نو د يوه نَوِي عَيب سره ئې وَاپَس كوي. او چي نَه وَاپَس كوي نو د مُشتَرِي حَق ضَائِع كيږي. نو ځكه دلته دُوَه صورتونه دي. يو دا چي د صحيح سالم مَبِيع او د عَيب دَارَه مَبِيع تر مينځ چي كوم فرق

دئ هغه فرق دي د بَائِع څخه وُصُول کي او مَبِيع دي دځان سره کښېږ دي. او دُوَم صُورت دادئ چي که چيري بَائِع راضي وي نو د نَوِي عَيب باوجود دي مَبِيع وَاپَس کي.لېکن په دي صورت کي ددې عَيب دَارَه مَبِيع د اخستلو لپاره د بَائِع رضامندي ضروري ده. ځکه چي د مُشتَرِي سره هم په مَبِيع کي يَو نَوَئ‌عَيب پيدا سوئ دئ .

حاشيه : (الف) د قاضي شُرَيح مَخ ته يوه فيصله راغله، يوې مينځي زِنَا کړې وه، ده وفرمائل چي د زِنَا په وجه به وَاپَس کيږي .

وجه : (١) ددې دليل دا اَثَر دئ عَن اِبرَاهِيم فِي الرّجُلِ يَشتَرِي عَبدًا بِهِ عَيبٌ فَيَحدِثُ عِندَ المُشتَرِي عَيبًا، قَالَ يُرَدُ الدّاءُ بِدَائِهِ، وَ اِذَا حَدَثَ بِهِ حَدَثٌ فَهُوَ مِن مَالِ المُشتَرِي وَ يُرَدُ البَائِعُ فَضلَ مَا بَينَ الصِحّةِ وَالدّاءِ (الف) (مصنف عبدالرزاق،باب العيب يحدث عندالمشتري وکيف ان کان يُعرف انه قديم ج۵ص١۵٧نمبر١۴٧٠٣) په دې اَثَر کي دئ چي مُشتَرِي د عَيب نُقصَان وُصُولَوَلاَئي سي. په عبارت کي ,, يَرُدُ الدّاءُ بِدَائِهِ ,,راغلئ دئ نو ځکه که بَائِع راضي وي نو مَبِيع وَاپَس کولائي سي (٢) عَيب دَرَه اخستل د بَائِع خپل حَق دئ نو ځکه دئ خپل حَق ساقطولائي سي. دا مسئله پر دې خبره مُتَفَرّع ده چي د بَل چا حَق بايد ضَائِع نه سي. په اَثَر کي راغلي دي عَن شُرَيحٍ قَالَ عُهدَةُ السّلِمِ وَ اِن لَم يَشتَرِط لاَدَآ ءِ وَ لاَ غَائِلَةَ وَ لاَ خُبثَ وَ لاَ شَينَ (مُصنف ابن ابي شيبة ۵۴٢ في الرجل يشتري السلعة ولا تبرّأ اليه ج۵ص۵نمبر٢٣١۶٨) په دې اَثَر کي دئ چي که څه هم شرط نه وي لګولئ خو بيا هم بايد يو مُسلمان و بَل مُسلمان ته يوه داسي مَبِيع ورنه کړي چي هغه نَاجُوړَه وي يا و هلاکت ته نژدي وي او نه داسي چي څه خَبَاثَت پکښي او نه يوه عَيب دَارَه مَبِيع وي (٣) په يو بَل حديث کي دئ چي دُوګه ورکول صحيح کار نه ده عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنّ رَسُولَ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَ سَلّمَ مَرّ عَلْي صَبُرَةٍ مِن طَعَامٍ فَاَدخَلَ يَدَهُ فِيهَا فَنَالَت اَصَابِعَهُ بَلَلاً فَقَالَ يَاصَاحِبَ الطّعَامِ مَا هْذَا ؟ قَالَ اَصَابَتهُ السّمَآ ءُ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ أ فَلاَ جَعَلتَهُ فَوقَ الطّعَامِ حَتْي ْيَرَاهُ النّاسُ ثُمّ قَالَ مَن غَشّ فَلَيسَ مِنّا(ب) (ترمذي شريف،باب ماجآءفي کراهية الغش في البيوع فِي البيوع ص٢۴۵نمبر١٣١۵) ددې حديث څخه معلوم سو چي په مَبِيع کي دَنَنَه

حاشيه : (الف) د حضرت ابراهيم څخه روايت دئ چي يو چا مَرَئي واخستئ په هغه کي عَيب وُ.بيا د مُشتَرِي په قَبضَه کي بَل عَيب پکي راغلئ.وفرمائل چي عَيب دَار به د مَخکَنِي عَيب تَحت وَاپَس کيږي. لېکن چي په دي کي نَوَئ عَيب پيدا سي نو مَبِيع د مُشتَرِي مَال دئ او بَائِع به هغه فرق وَاپَس کوي کوم چي د صحيح سَالِم او عَيب دَارَه مَبِيع تر مينځ وي (ب) حضور د غَلّې پر يوه خَرَه باندي راتير سو.حضور خپل لاَس مُبَارَک په هغه کي داخل کړئ نو دده پر ګُوتُو باندي دهغه نُود (نُند) والئ و لګېدئ. نو حضور پوښتنه وکړه ائ د غَلّې والا دا څه شئ دئ ؟ هغه وويل ائ دخدائ رسول بَارَان سوئ وُ.حضور وفرمائل نَودَا غَلّه دي وَلِي نه لُوَړَوَل ؟ چي خلکو هغه ليدلې وائي. بيا حضور وفرمائل څوک چي دُوګه ورکړي هغه زُمُوږ څخه نه دئ .

[٨٧٧](٧) وَ اِن قَطَعَ المُشتَرِيُ الثّوبَ وَ خَاطَهُ اَو صَبَغَهُ اَو لَتّ السّوِيقَ بِسَمنٍ ثُمّ اِطّلَعَ عَلْي عَيبٍ رَجَعَ بِنُقصَانِهِ وَ لَيسَ لِلبَائِعِ اَن يأخُذَهُ بِعَينِهِ .

کوم عَيب وي بايد هغه ښکاره کړي او بَل چا ته دُوګه ورکول په کار نه ده. نو لِهٰذَا که و بَائِع يا مُشتَرِي ته څه نُقصَان رسېدلئ وي نو حَتّي الاِمکَان به د هغه د اِزَالې (ختم کولو) کوشش کيږي .

اُوصُول : حَتّي الاِمکَان به د نُقصَان د پوره کولو کوشش کيږي .

[٨٧٧](٧) که مُشتَرِي کپړه پرې کړه او جُوړ کړه (وَګَنډَل) يا ئې کپړه ورنګول يا ئې سَتُو په غُوړِئ ګډ کړل بيا پر عَيب باندي مُطّلِع سو نو دهغه د نُقصَان رجوع به کوي، او د بَائِع لپاره جواز نه لري چي مَبِيع بِعَينِهِ واخلي .

تشريح : دا مسئله پر دې اُصُول باندي مُتَفَرّع ده چي مَبِيع د مُشتَرِي قبضې ته ولاړه سي بيا يو داسي زِيَاتُوب پکښي راسي چي هغه د مَبِيع څخه نه سي جلاکېدائي، نو اُوس که مَبِيع وَاپَس کوي خو د زِيَاتُوب سره وَاپَس کيږي. په دې صورت کي د سُود شَائِبَه ده چي بَائِع سُود واخستئ. نو ځکه دغه يو صُورت دئ چي د صحيح او عَيب دَارَه مَبِيع تر مينځ چي کوم فرق دئ هغه وُصُول کړي .

وجه : (١) په اَثَر کي ددې ثبوت سته عَن عَلِيٍ فِي رَجُلٍ اِشتَرِيْ جَارِيَةً فَوَطِئَهَا فَوَجَدَ بِهَا عَيبًا قَالَ لَزِمَتهُ وَ يَرُدُ البَائِعُ مَا بَينَ الصِّحّةِ وَالدّ آ ءِ وَ اِن لَم يَكُن وَطِئَهَا رَدّهَا (الف) (سنن للبيهقي،باب ماجاء في من اشتريْ جارية فاصابها ثم وجدبها عيبا ج٥ ص٥٢٦ نمبر ١٠٧٤٥\مصنف عبدالرزاق،باب الذي يشتري الامة فيقع عليها ج٨ص١٥٢نمبر١٤٦٨٤) په دې اَثَر کي دئ چي د مينځې سره د وَطِي کولو وروسته عَيب معلوم سو نو مينځه

[٨٧٨](٨) وَ مَن اِشتَرِيْ عَبدًا فَاَعتَقَهُ اَو مَاتَ عِندَهُ ثُمّ اِطّلَعَ عَلْي عَيبٍ رَجَعَ بِنُقصَانِهِ .

نه سي وَاپَس کولائي بلکه د نُقصَان د وَاپَس اخستلو حُکم ئې کړئ دئ. نو دغه رنګه که کپړه کاټ کړه او وَګَنډَل (جوړه کړه) نو په کپړه کي زِيَاتُوب راغلئ. يا ئې ورنګوله نو هم په کپړه کي زِيَاتُوب راغلئ يا ئې په سَتّو باندي غُوَړِي ګډ کړل نو په سَتّو کي داسي زِيَاتُوب راغلئ چي هغه دسَتّو څخه نه سي جلا کېدلائي.نو ځکه د نُقصَان رجوع به کوي. او که بَائِع مَبِيع وَاپَس اخستل وَغُوَاړِي هم نو نه سي اخستلائي ځکه چي په دغه مَبِيع کي زِيَادَتِي سوې ده. نو اُوس که چيري دغه وَاپَس

حاشيه : (الف) د حضرت علي څخه روايت دئ چي يوه سړي مينځه واخسته او دهغې سره وَطِي وکړې.بيا ئې په هغه کي عَيب وَمُوندَئ نو وفرمائل چي مينځه پر مُشتَرِي لازم سوه. او د صحيح او عَيب دَارَه تر مينځ چي کوم فرق دئ بَائِع دي هغه وَاپَس کړي.اوکه دمينځې سره وَطِي نه وائي کړي نو ئې مينځه وَاپَس کولائي سوه .

اَخلِي نو د زِيَاتُوب په وجه د سُود او رِبْوا شَائِبَه لازميږي. لِهْذَا كه مَبِيع وَاپَس اخستل وَغُوَارِي نو نه سي اخستلائي .

اُصُول : چي په مَبِيع كي زِيَادَتِي راسي بياعَيب وَوِينِي نورُجُوع بِالنُقصَان به كوي .

[۸۷۸](۸) يو چا غُلاَم (مريئ) رَانِيوَئ بيا ئې هغه آزاد كړئ يا د مُشتَرِي سره مَړ سو بيا پر عَيب باندي مُطّلِع سو نو د نُقصَان رجوع به كوي .

تشريح : يو چا مريئ رَانِيوَئ بيا ئې هغه آزاد كړئ يا د ده په قبضه كي مَړ سو بيا پر عَيب باندي مُطّلِع سو نو رُجُوع بِالنُقصَان كولائي سي .

تشريح : كه غُلاَم مَړ سو دهغه وروسته مُشتَرِي په عَيب خَبَرسو نو غلام نه سي وَاپَس كولائي لېكن د مُشتَرِي حَق د بَائع سره پاته سو چي بَائِع به وَاپَس كوي نو صرف دغه كېدلائي سي چي د نُقصَان رُجُوع وكي. داسي هم نه دئ چي مُشتَرِي په قَصد سره دا مَرَيئ وَژَلَئ دئ چي بَائِع دا ووائي چي مُشتَرِي په دا عَيب سره راضي سوئ وُ. بلكه په قُدرَتِي مرګ سره مَړ سو نو ځكه رُجُوع بِالنُقصَان به كوي. په اَثَر كي راغلي دي عَنِ الزُهرِي فِي العُهدَةِ بَعدَالمَوتِ قَالَ يُنقَصُ عَنهُ بِقَدرِ

[۸۷۹](۹) فَاِن قَتَلَ المُشتَرِئُ العَبدَ اَو كَانَ طَعَامًا فَاَ كَلَهُ ثُمّ اِطّلَعَ عَلْي عَيبِهِ لَم يَرجِع عَلَيهِ بِشَيءٍ فِي قَولِ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَ قَالاَ يَرجِعُ بِنُقصَانِ العَيبِ .

العَيبِ (الف) (مصنف عبدالرزاق،باب العهدة بعدالموت والعتق ج۸ص۱۶۳نمبر ۱۴۷۲۴) په دې اَثَركي دئ چي دمرګ وروسته به دعَيب په اندازه دنُقصَان رجوع كوي. دغه رنګه چي مَرَيئ آزاد ګړي بيا وروسته پر عَيب باندي مُطّلِع سي نوهم دنُقصَان رجوع كولائي سي .

وجه (۱) آزادېدل د انسان اِنسَانِي حَق دئ نو چي مَولْي آزاد كړئ وده ته ګواكه خپل اِنسَانِي حق وركړئ نو چي څه كول په كار وُ هغه ئې وكړه نو آزاد ول دارنګه سو لكه دئ چي په خپله مَړ وي لِهْذَا په دې صُورت كي به هم نُقصَان وُصُولوي (۲) په اَثَر كي ددې ثبوت سته عَنِ الشّعَبِيِّ اَنّ رَجُلاً اِبتَاعَ عَبدًا فَاَعتَقَهُ فَوَجَدَ بِهِ عَيبًا فَقَالَ يَرُدُ عَلْي صَاحِبِهِ فَضلَ مَابَينَهُمَاوَيَجعَلُ مَا رُدّ عَلَيهِ فِي رِقَابٍ لاَنّهُ قَد كَانَ وَجهُهُ (ب) (مصنف عبدالرزاق،باب العهدة بعدالموت والعتق ج۸ص۱۶۴نمبر ۱۴۷۲۷) ددې اَثَر څخه معلوم سو چي كه د آزادېدو وروسته عَيب معلوم سو نو نُقصَان وصولولائي سي .

اُصُول : چي په خپله مَبِيع په هلاكت ورسيږي او وروسته عَيب معلوم سي نو اُوس خو دا شَائِبَه نسته چي مُشتَرِي په دې عَيب باندي راضي وُ نو ځكه د بَائِع څخه به نُقصَان وصولوي .

[۸۷۹](۹) بيا كه چيري مُشتَرِي غُلاَم قتل كړئ يا ډُوډَئ وه هغه ئې وَخُوَړَه بيا دهغه پر

حاشيه : (الف) د حضرت زُهرِي څخه د غُلاَم د مرګ وروسته د عُهدې په لَړ کي دا منقول دي ، وفرمائل چي د عَيب په مِقدَار به دهغه څخه کَمَوِي (ب) د حضرت شَعَبِي څخه نَقل سوي دي چي يو چَا مريئ رَانِيوَئ بيا ئي هغه آزاد کړئ،وروسته په هغه کي عَيب و مُوندَئ،وفرمائل چي پر بَائع باندي لازم دئ چي د دواړو تر مينځ کوم فرق دئ هغه وَاپَس کړي(يعني دصحيح اومَعيُوب تر مينځ چي کوم فرق دئ هغه به د بَائع څخه اَخلِي)بيا چې هر څَه وَاپَس کړل هغه به د مَرَيِئ پر غاړَه (ذِمّه) اَچَوَل کيږي،ځکه چي دئ ددې سبب جوړ سوئ دئ .

[٨٨٠](١٠) وَ مَن بَاعَ عَبدًا فَبَاعَهُ المُشتَرِي ثُمّ رُدّ عَلَيهِ بِعَيبٍ فَاِن قَبِلَهُ بِقَضَآءِ القَاضِي فَلَهُ اَن يَرُدّهُ عَلْي بَائِعِهِ الاَوّلِ وَ اِن قَبِلَهُ بِغَيرِ قَضَآءِ القَاضِي فَلَيسَ لَهُ اَن يَرُدّهُ عَلْي بَائِعِهِ الاَوّلِ .

عَيب باندي مُطّلِع سُو نو د امام ابوحنيفه په قول کي پر بَائِع باندي به هيڅ رجوع هم نه کوي. او صاحبينو وفرمائل چي نُقصان به وُصولوي .

تشريح : مُشتَرِي غُلاَم قتل کړئ، يا ډُوډَئ مَبِيع وه هغه ئي وَخُوړَل وروسته معلوم سو چي په دې مَبِيع کي خو عَيب وُنو امام ابوحنيفه فرمائي چي د بَائِع څخه نُقصَان نه سي وُصُولَوَلاَئي .

وجه : (١) ځکه چي په خپله ئي قَتل کړئ او و خُوَاړَئ نو اُوس که بَائِع دا مَبِيع وَاپَس وَغُوَاړِي نو مُشتَرِي ئي نه سي وَاپَس کولائي. او دا د مُشتَرِي د فِعل څخه وسو نو ګواکه د مُشتَرِي عَمَل مَبِيع د وَاپَس کولو څخه منع کړه لِهٰذَا مُشتَرِي د نُقصَان اخستلو حق نه لري (٢) قتل کول پر دې خبره دليل کېدلائي سي چي دئ په دې عَيب باندي راضي وُ. نو په دې وجه هم نُقصَان نه سي اخستلائي .

فائده : صاحبين فرمائي چي نُقصَان اخستلائي سي .

وجه : (١) ځکه چي و مُشتَرِي ته څه معلوم وُ چي په مَبِيع کي عَيب وُ نو ځکه دئ په عَيب سره نه وُ راضي. او د مُشتَرِي حَقِّ عَيب د بَائِع سره مَحبُوس دئ. لِهٰذَا دئ د عَيب په اندازه نُقصَان د بَائِع څخه اخستلائي سي (٢) د صاحبينو دليل لُوړ د حضرت علي اَثَر دئ چي د عَيب نُقصَان دي واخلي. دا مسئله پر دې اُصُول بِنآَء ده چي مُشتَرِي په خپله مَبِيع په هلاکت رَسَوَلِي وي بيا نُقصَان پکښي ووينې نو آيا نُقصَان اخستلائي سي که نه ؟ د امام ابوحنيفه په نبز ئي نه سي اخستلائي د صاحبينو په نبز ئي اخستلائي سي .

[٨٨٠](١٠) يو چا مَرَيئ خرڅ کړئ.بيا مُشتَرِي هغه غُلاَم پر بَل چا باندي خرڅ کړئ بيا د عَيب تَحت هغه غُلاَم بېرته پر مُشتَرِي باندي وَاپَس کړل سو. نو که چيري مُشتَرِي دغه غُلاَم د قاضي په فيصله سره قبول کړئ وُ نو بيا دئ حَق لري چي دغه غُلاَم و بَائِع اَوّل ته وَاپَس کړي. او که دغه (غُلاَم) ئي د قَاضِي د فيصلې بغيره قبول کړئ وُ نو د مُشتَرِي لپاره جواز نه لري چي دا و بَائِع اَوّل ته وَاپَس کړي .

تشريح : مَثَلاً زيد مُشتَرِي يو غُلاَم واخستئ. بيا ئې دا پر يو دُوَم (بَل چَا) باندي خرڅ کړئ.بيا دغه دُوَم مُشتَرِي مَثَلاً خالد دهغه عَيب تَحت کوم چي د بَائِع سره وُ و مُشتَرِي اَوّل زيد ته وَاپَس کړئ. نو زيد ئي و بَائِع اَوّل رَحِيم ته مَثَلاً وَاپَس کولائي سي که نه ؟ په دې کي تفصيل دادئ چي زيد د عَيب څخه اِنکَار کړئ دئ بيا قاضي د

عَیب تَحت د غُلاَم د وَاپَس کولو فیصله ورکړه چي ددې مجبورئ په وجه زید دغه غُلاَم قبول کړئ نو په دې صُورَت کي زید دا حَق لري چي ددې عَیب په وجه دا غُلاَم و بَائِع اَوّل رحیم ته وَاپَس کړي .

وجه : قاضي چي کوم وخت د غُلاَم د وَاپَس کولو فیصله ورکړه نو د زَید او خَالِد تر مینځ بَیع بِالکُل ختم سوه ګواکه یو رنګه بَیع سوې هم نه ده. او مُشتَرِي ګواکه داسي یو کاره کړئ نه دئ چي دهغه لکبله مَبِیع و بَائِعِ اَوّل رَحِیم ته وَاپَس کول مُتَعَذّر سي. قاعده داده چي مُشتَرِي یو داسي کار وکي چي دهغه په وجه مَبِیع و بَائِعِ اَوّل ته وَاپَس کول مُتَعَذّر سي نو بیا مُشتَرِي د عَیب په وجه مَبِیع نه سي وَاپَس کولائي. دلته خو د قاضي د فیصلې په وجه دُوَمَه بَیع نَسیًا مَنسِیًا سوه. نو ځکه مُشتَرِي ګواکه داسي یو کار کړئ نه دئ چي دهغه په وجه مَبِیع وَاپَس کول مُتَعَذّر سي. لِهٰذَا مُشتَرِي زَید و بَائِعِ اَوّل رَحِیم ته مَبِیع نه سي وَاپَس کولائي سي .

پام لرنه : که چیري د عَیب د لیدلو وروسته خرڅ کړئ وي نو بیا مَبِیع نه سي وَاپَس کولائي. ځکه چي د عَیب د لیدلو وروسته خرڅول ددې خبري دلیل دئ چي دئ پر دغه عَیب باندي راضي دئ. ددې دلیل دا اَثَر دئعَن عَامِرٍ فِي الرّجُلِ یَشتَرِي السّلعَةَ فَیُرِيْ بِهَا العَیبَ ثُمّ یَعرِضُهَا عَلَي البَیعِ لَیسَ لَهُ اَن یَرُدّهَا (الف) (مصنف ابن ابي شیبة ۵۷۴في الرجل یشتري السلعة فیجدبها عیبًا ج۵ص۱۱ نمبر۲۳۲۳۱) په دې

حاشیه : (الف) دحضرت عَامِر اَثَر دئ چي یو سړي سَامَان واخستئ، نو په هغه کې عَیب ولیدئ بیائې هغه و خَرڅَوَلُو ته وړاندي کړئ نو دئ د مَبِیع د وَاپَس کولو حق نه لري .

[۸۸۱](۱۱) وَ مَن اِشتَرَيْ عَبدًا وَ شَرَطَ البَائِعُ البَرَاءَةَ مِن کُلِّ عَیبٍ فَلَیسَ لَهُ اَن یَرُدّهُ بِعَیبٍ وَ اِن لَم یُسَمِّ جُملَةَ العُیُوبِ وَ لَم یُعِدهَا .

اَثَر کي دئ چي د عَیب د لیدلو وروسته سَامَان د خرڅولو لپاره پېش (وُړَانِدِي) کړئ نو ددې مطلب دادئ چي دئ په دغه عَیب باندي راضي دئ. لِهٰذَا اُوس دا و بَائِع ته نه سي وَاپَس کولائي .

اُصُول : که د مُشتَرِي د عَمَل څخه مَبِیع وَاپَس کول مُتَعَذّر سي نو مَبِیع و بَائِع ته نه سي وَاپَس کولائي .

[۸۸۱](۱۱) یو چا مریئ رَانِیوَئ او بَائِع د هر عَیب څخه د بَرائَت شرط ولګاوئ نو د مُشتَرِي لپاره دا جواز نه لري چي د عَیب تَحت دغه وَاپَس کړي. که څه هم د ټولو عَیبُونُو نوم ئې نه وي اخستئ او ټول ئې نه وي شمېرلي .

تشریح : بَائِع مَبِیع خرڅه کړه او وویل چي مَبِیع وَوِینَه بیا ئې واخله. زه د هر ډَوَل عَیبُو څخه بَرِي یَم. بیا ئې بېرته نه وَاپَس کوم. نو که څه هم هر هر عَیب نه وي شمېرلئ او د هر هر عَیب نوم ئې جلا جلا نه وي اخستئ خو بیا هم دئ دټولو عَیبو څخه بَرِي ګڼل کیږي. او مُشتَرِي ئې د هیڅ ډَوَل عَیب په وجه و بَائِع ته نه سي وَاپَس کولائي .

وجه : (۱) د عَیب څخه د بَرَائَت سره د اخستلو دلیل دا حدیث دئ قَالَ لِي اَلعَدَآ ءُ بِنِ خَالِدُبِنِ هَوذَةَ ألاَ أُقرِئُکَ کِتَابًا کَتَبَهُ لِي رَسُولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ ؟ قَالَ قُلتُ بَلْي ! فَاَخرَجَ لِي کِتَابًا، هٰذَا مَا اِشتَرَيْ العَدَ◌ّاءُ بِنِ خَالِدٍ بِنِ هَوذَةَ مَن مُحَمّدٍ رَسُولِ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اِشتَرِيْ مِنّي عَبدًا اَو اَمَةً لاَ دَاءَ وَلاَ غَائِلَةَ وَ لاَ خُبثَةَ بَيعُ المُسلِمِ المُسلِمَ(الف) (ترمذي شريف.باب ماجآء في کتابة الشروط ص۲۳۰نمبر۱۲۱۶) په دې حديث کي حضورصلي الله عليه وسلم په دغه لفظو ,, لاَ دَآءَ وَ لاَ غَائِلَةَ وَ لاَ خُبثَةَ ,, سره برائت .

وليکئ و صحابي ته ورکړئ چي دغه عَيبُونَه نه وي پکښې. ددې څخه دا معلوم سو چي د عَيب څخه د بَرَائَت د شرط سره بَيع کولائي سي.او که څه هم ټوله عَيبُونَه نه وي شمېرلي خو بيا هم د ټولو عَيبُوڅخه بَرِي دئ. په دې شرط چي عَيب ورته معلوم وي ده دُروَاغ ئې نه وي ويلي. ددې دليل دا اَثَر دئ (۲) اَنّ عَبدَاللهِ بِنِ عُمَرَ بَاعَ غُلاَمًا لَهُ بِثَمَانِيَ مِائَةَ دِرهَمٍ فَبَاعَهُ بِالبَرَاءَ ةِ فَقَالَ الّذِي اِبتَاعَهُ لِعَبدِاللهِ بِنِ عُمَرَ بِالغُلاَمِ دَاءٌ لَم تُسَمِّهِ لِي فَاِختَصَمَا اِلْي عُثمَانَ بِنِ عَفّانَ فَقَالَ الرّجُلُ بَاعَنِي عَبدًا وَبِهِ دَاءٌ لَم يُسَمِّهِ لِي وَ قَالَ عَبدُاللهِ بِعتُهُ بِالبَرَاءَةِ فَقَضْي عُثمَانُ عَلْي عَبدِاللهِ بِنِ عُمَرَ اَن يَحلِفَ لَهُ لَقَدبَاعَهُ العَبدَوَمَابِهِ دَاءٌيَ◌ّعلِمُهُ فَاَبْي عَبدُاللهِ اَن يَحلِفَ وَاِرتَجَعَ العَبدَ(الف) (مُؤطاامام مالک،باب العيب في الرقيق ص۵۷۱) په دې اَثَر کي دئ چي عبدالله بن عمر د ټولو عَيبُو څخه په شرط د برائت غُلاَم (مرئي) خرڅ کړئ او د هر هر عَيب نوم ئې نه وَاخِستَئ. نو ځکه حضرت عُثمان دغه تسليم کړئ. صرف ددې لپاره ئې قسم ورکړئ چي د خرڅولو په وخت کي ددې عَيب عِلم وتاته نه وُ پر دې باندي تَه قسم وَاخلَه. خو بيا حضرت عبدالله پر دې باندي هم قسم نه وَاخَستئ چي دهغه لکبله ئې غُلاَم (مريئ) بېرته وده ته وَاپَس کړئ. ددې څخه دا معلوم سو چي د ټولو عَيبو څخه د برائت نوم واخلي او د هَر هَر عَيب نوم جلا جلا نه واخلي بيا هم بَرَائَت صحيح کيږي (۳) دا اَثَر هم ددې دليل دئ عَن عَبدِاللهِ بِنِ عَامِرٍعَن زَيدِبِنِ ثَابِتٍ اَنّهُ کَانَ يَرَيْ البَرَائَةَ مِن کُلِّ عَيبٍ جَائِزاً(سنن للبيهقي، باب بيع البراءة ج۵ص۵۳۶نمبر۱۰۷۸۴) په دې اَثَر کي دئ چي حضرت عبدالله بن عمر د ټولو عَيبُو څخه بَرَائَت جائز ګڼئ .

حاشيه : (الف) خالدبن هَوذَه وماته وويل چي. آيا زَه دارنګه خَط وَلوَلَم چي حضور وماته راوليکئ رائې کړئ ؟ ما ورته وويل وُ ! نو زُومَا لپاره ئې يو خَط راښکاره کړئ. دا هغه دئ چي عَدَاء بن خالد بن هَوذَه د مُحمّد رسول الله څخه اخستئ دئ مريئ يا مِينځَه، نه به په هغه کي ناجوړي وي،نه به هلاکت وي،نه به خَبَاثَت وي، دمسلمان بَيع د مسلمان سره .

حاشيه : (الف) عبدالله بن عُمر غلام خرڅ کړئ په اَتَه سوه (۸۰۰) دِرهَمَه، نو خرڅ ئې کړئ د بَرَائَت سره،کوم چا چي اخستئ وُ هغه و عبدالله بن عُمر ته وويل چي په غُلاَم کي ناجوړي ده چي دهغه په حقله تا و ماته اِطلاع نه ده کړې. دواړو حضرت عُثمان ته دغه خپله جګړه وړاندي کړه. سړي وويل چي پر ماباندې غُلاَم خرڅ کړئ په هغه کي بِيمَارِي ده چي د هغه اِطلاَع ئې نه ده راکړې. حضرت عبدالله وفرمائل ما هغه د بَرَائَت د شرط سره خرڅ کړئ. حضرت عُثمان پر عبدالله بن عُمر باندي فيصله وکړه چي دئ دي قسم وَاخلِي چي غُلاَم ئې خرڅ کړئ دئ خو وده ته د بِيمَارَئ عِلم نه وُ. حضرت عبدالله بن عُمر د قَسَم اخستلو څخه اِنکار وکړئ نو وده ته غُلاَم وَاپَس ورکړئ

فائده:امـام شـافعي فرمـائي چـي دعَيب ښخـه بَـرِي کېـدل ګواکـه د ښـې مَبِيعـې مالـک جوړول دئ لهْذَا په دي کي جَهَالَت نـه چليږي. نـو ځکـه چـي د کـوم کـوم عَيـب نـوم وَاخلِي د هغه عَيبُو ښخه به بَرِي وي. د کومو عَيبُو نوم چي نه وَاخلِي دهغه عَيبُو ښخه بَائِع نه سي بَرِي کېدلائي. دهغه عَيبُو په وجه مُشتَرِي و بَائِع ته د مَبِيـع د وَاپَس کولـو حق لري .

وجه : دده دليل دا اَثَر دئ عَن اِبرَاهِيمِ النّخَعِيّ فِي الرّجُلِ يَبِيعُ السّلعَةَ وَ يَبـرَأ مِـن الـدّاءِ قَـالَ هُـوَ بَـرِئٌ مِمّـا سَـمّيْ (الـف) (سـنن للبيهقي،بـاب بيـع البـراءة ج ۵ ص۵۳۷ نمبر۱۰۷۸۸) په دې اَثَر کي دئ چي د کوم کوم عَيب نوم وَاخلِي دهغه عَيب ښخه پـه بَرِي کيږي، دټولو عَيبُوښخه نه .

حاشيه : (الف) حضرت ابراهيم وفرمائل ښوک چي سـامان خرڅـوي او د بِيمَـارَئ ښخـه بَرَائَـت کـړئ وي نـو د کومو کومو عَيبُو نوم چې اخستئ وي د هغه عَيبُو ښخه به بَرِي وي .

..... بَابُ بَيعِ الفَاسِدِ .....

..... بَابُ بَيعِ الفَاسِدِ .....

ضروري پام لرنه : په دې باب کې بَيـعِ فَاسِـد او بَيـعِ بَاطِـل دواړې بيـان کـړي دي. او د دواړو اَحکَام جلا جلا دي .

بَيعِ بَاطِل : په کومه بَيع کي چي مَبِيع ګرسَرَه مَال نه وي يا ثَمَن مَال نه وي هغـه بَيـعِ بَاطِـل ده. يعني دهغې بَيع دسره ښخه وُجُود هم نستـه. لکه يو ښوک چي آزاد سړئ خرڅ کـړي نـو آزاد خو مَال هم نه دئ نو ځکه دغه بَيع بالکليه نه صـحيح کيـږي. ددې حُکـم دادئ چـي نـه

خو بَائِع دهغه ثَمَن مالک ګرزي کوم چې د مُشتَرِي څخه اخستي دي. او نه مُشتَرِي د مَبِيع مالک ګرزي. ځکه چي دا خو بَيع ده هم نه .

بَيعِ فَاسِد : په کومه بَيع کي چي مَبِيع مال وي او ثَمَن هم مال وي لېکن د يوه غلط شرط لګولو په وجه هغه بَيع خراب سوې وي نو وهغه ته بَيعِ فَاسِد وائي. لکه دا چي يو څوک ګُور (مکان) خرڅ کړي خو دا شرط ولګوي چي زه به دوې مياشتي په دي کي وسېږم نو د شرطِ فَاسِدِ په وجه دا بَيع فاسد ده. ددې بَيعِ حُکم دادئ چي حَتّيْ الاِمکَان دغه بَيعَ ختم کول په کار ده. لېکن بَائِع پر ثَمَن باندي قبضه کړې ده او مُشتَرِي پر مَبِيع باندي قبضه کړې ده او بَيع بَحَال کړې ده او هيڅ يو ډَوَل جنګ او اختلاف نه دئ راغلئ نو سره د کَرَاهِيّت به دغه بَيع ته جواز ورکړو. او مُشتَرِي به د مَبِيع مالک سي. د بَيعِ فَاسِد او بَيعِ بَاطِلِ دليل دا حديث دئ عَن جَابِرِ بنِ عَبدِاللهِ اَنّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ يَقُولُ عَامَ الفَتحِ وَ هُوَ بِمَکّةَ اَنّ اللهَ وَ رَسُولَهُ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ حَرّمَ بَيعَ الخَمرِ وَ المَيتَةِ وَ الخِنزِيرِ وَ الاَصنَامِ(الف)(مُسلم شريف،باب تحريم بيع الخمروالميتة والخنزير و الاصنام ص۲۳نمبر۱۵۸۱\بخاري شريف،باب بيع الميتة والاصنام ص۲۹۸نمبر۲۲۳۶) د دې حديث څخه معلوم سوچي دشَرَابُ،د مَيتَې،د خِنزِير او د بُتَانُو بَيع حرام او بَاطِل ده .

حاشيه : (الف) دحضور څخه واؤرېدل په داسي حال کي چي دئ د فَتحِ مَکّې په کال په مَکّه مُکَرّمَه کي وُ چي حضور شَرَاب،مَيتَه،خِنزِير او بُت خرڅول حرام کړه .

[۸۸۲](۱) اِذَا کَانَ اَحَدُ العِوَضَينِ اَو کِلاَهُمَا مُحَرّمًا فَا لبَيعُ فَاسِدٌ کَالبَيعِ بِالمَيتَةِ اَو بِالدّمِ اَو بِالخَمرِ اَو بِالخِنزِيرِ [۸۸۳](۲) وَکَذَالِکَ اِذَا کَانَ المَبِيعُ غَيرُ مَملُوکٍ کَالحُرّ وَ بَيعُ اُمّ الوَلَدِ وَ المُدبّرِ وَ المُکَاتَبِ فَاسِدٌ .

[۸۸۲](۱) چي کله د دواړو عِوَضُو څخه يو يا دواړه حرام وي نو بَيع فَاسِد ده لکه د مړه (مَيتَې) بَيع يا د وِينِي بَيع يا د شَرَابُو بَيع يا د خِنزِير بَيع .

تشريح : مَيتَه او وِينَه او شَرَاب او خِنزِير په شريعت کي مَال نه دي نو ځکه ددې شِيَانُو بَيع بَاطِل ده. که چيري د دِرهَم دِينَار يا د روپۍ په مقابله کي خرڅ کړه نو هم مُشتَرِي ددې شيانو مَالِک نه ګرزي. ځکه چي کوم شيان مَال نه دي د هغه په خرڅولو څخه بَيع بَاطِل ګرزي. د دې دليل چي دا شِيَان مَال نه دي دا دليل په تېره صفحه کي د مُسلِم شريف حديث تېر سوئ دئ .

[۸۸۳](۲) دغه رنګه بَيع بَاطل ده که مَبِيع مَملُوک نه وه لکه د آزاد بَيع، د اُمّ وَلَد او مُدَبّر او مُکَاتَب بيع فاسِد ده .

تشريح : چي د آزاد سړي بَيع وکي نو آزاد خو مَملوک نه دئ لِهٰذَا ددې بَيع بَاطِل ده. دليل ئې دا حديث دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ عَنِ النّبِيّ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ قَالَ اللهُ ثَلاَثًا اَنَا خَصمُهُم يَومَ

الْقِيَامَةِ رَجُلٌ اَعطيْ بِي ثُمّ غَدَرَ وَ رَجُلٌ بَاعَ حُرّاً فَاَ كَلَ ثَمَنَهُ (الف) (بخاري شريف،باب اثم من باع حُرّاً ص۲۹۷نمبر۲۲۲۷) ددې حديث څخه معلوم سو چي د آزاد سړي خرڅول حرام دئ. او دهغه ثَمَن خُوَړَل هم حرام دي. بلکه آزاد سړئ خو مال هم نه دئ.په اُمِّ وَلَد اومُدَبّر اومُکَاتَب کي اختلاف دئ.د امام شافعي په نېز د دُوئي خرڅول جائزدئ ځکه چي دده په نېزدامَال دئ.لِهْذَا ددې بَيع نه فاسديږي بلکه جائزده.د احنافو په نېز دا مَال نه دئ لِهْذَا ددې بَيع بَاطِل ده.

وجه : (۱) په اُمِّ وَلَد کي په يو ډَوَل آزادي راغلې ده دا د مَولْي د مرگ سره سَم دستي آزاديږي. که چيري ددې وخرڅولو ته جواز ورکول سي نو د خرڅلاؤ وروسته به ددې آزادي ختم سي. حالانکه قاعده داده چي کوم مَريئ يا مِينځَه مِن وَجهٍ آزاد سي هغه بيا نه ختميږي. نو ځکه اُمِّ وَلَد يا مُدَبّر خرڅول جواز نه لري. دا گواکه مال هم نه دئ. د اُمِّ وَلَد لپاره دليل دا حديث دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ اَيّمَا رَجُلٍ وَلَدَت اَمَتُهُ مِنهُ فَهِيَ مُعتَقَةٌ عَن دُبُرٍ مِنهُ (الف) (ابن ماجه شريف،باب امهات الاولادص۳۶۱نمبر۲۵۱۵\ابوداؤدشريف،باب عتق امهات الاولادج۲ص۱۹۴نمبر۳۹۵۴) ددې حديث څخه معلوم سو چي اُمِّ وَلَد د مَولْي د مرگ وروسته آزاديږي. نو ځکه په دي کي مِن وَجهٍ آزادي راغلې ده. او آزاد بنځه مال هم نه ده لِهْذَا ددې بَيع باطل ده (۲) په يو بَل حديث کې ددې د خرڅولو څخه منع کړې ده عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّ النّبِيّ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ نَهْي عَن بَيعِ اُمّهَاتِ الاَولاَدِ وَ قَالَ لاَ يَبِعنَ وَ لاَ يُوهَبنَ وَ لاَ يُورِثنَ يَستَمتَعُ بِهَا سَيِّدُهَا مَادَامَ حَيًّا فَاِذَا مَاتَ فَهِيَ حُرّةٌ (ب) (دارقُطني،کتاب المکاتب ج۴ص۷۵نمبر۴۲۰۳) په دې حديث کې د اُمِّ وَلَد د خرڅولو څخه منع کړې ده ..... د مُدَبّر د خرڅولو د منعِ وجه : (۱) داده چي دئ هم د مَولْي د مرگ وروسته آزاد دئ. لِهْذَا په ده کي هم مِن وَجهٍ آزادي راغلې ده نو ځکه دده بَيع بَاطِل ده (۲) په حديث کي دئ عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّ النّبِيّ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ قَالَ اَلمُدَبّرُ لاَ يُبَاعُ وَلاَيُوهَبُ وَ هُوَ حُرٌ مِنَ الثّلُثِ (ج) (دارقطني،کتاب المکاتب ج۴ص۷۸نمبر۴۲۲۰\موطاامام مالک،باب بيع المدبرص۵۶۶)

ددې حديث څخه معلوم سو چي مُدَبّر غلام نه سي خرڅېدلائي. ځکه چي هغه د مرگ وروسته آزاد دئ .

پام لرنه : که چيري مُدَبّر مُقَيّد وي مثلاً مَولْي دارنگه ويلي وي چي که زَه په دې ناجوړي کي مَړ سوم نو تَه زوما د مرگ وروسته آزاد يې نو دا مُدَبّر مُقَيّد دئ. دارنگه مُدَبّر د احنافو په نېز خرڅېدلائي سي .

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل چي د قيامت په ورځ زَه د درو کسانو خَصَم يَم، يو هغه سړئ چي وماته عَهد راکړئ بيا ئې دُوکَه وکړه. دوم کوم چا چي آزاد سړئ خرڅ کړئ او دهغه قيمت ئې وخُوَاړَئ .

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل هر هغه سړئ چي د خپلي مينځي څخه بچئ وزيږېدئ نو هغه دده د مرگ وروسته آزاد ده (ب) حضور د اُمِّ وَلَد د خرڅولو څخه منع وکړه او وفرمائل نه دا خرڅېدلائي سي نه هِبَه کېدلائي سي او نه څوک دهغې وَارِث جوړېدلائي سي ددې مَولْي به ددې څخه نَفع اَخلِي تر څو چي دئ وژُوَندَئ وي. بيا چي مَولْي مړ سي نو اُمِّ وَلَد آزاديږي (ج) حضور وفرمائل مُدَبّر نه خرڅېدلائي سي نه هِبَه کېدلائي. هغه به د مَال د دريمي څخه آزاديږي .

فائده : د امام شافعي په نېز مُدَبّر غُلاَم خرڅېدلائي سي. دده دليل دا حديث دئ سَمِعتُ جَابِرَ بِنِ عَبدِاللهِ اَعتَقَ رَجُلٌ مِنّا عَبدًا لَهُ عَن دُبُرِهِ فَدَعَا اَلنّبِيّ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ فَبَاعَهُ (الف) (بخاري شريف،باب بيع المدبر ص۲۹۷نمبر۲۵۳۴\ ابوداؤدشريف،باب في بيع المدبرج۲ص۱۹۵نمبر۳۹۵۵) ددې حديث څخه معلوم سو چي د مُدَبّر غُلاَم خرڅول جائز دئ ځکه چي حضور صلي الله عليه وسلم خرڅ کړئ دئ .

مُکَاتَب هم په دې وجه نه سي خرڅولائي چي په هغه کي هم د آزادئ يو څه شائِبَه راغلې ده. دومه وجه داده چي هغه خو څه روپۍ دمَالِ کِتَابَت اداکړي دي د خپل مَولٰي څخه د آزادئ پَروَانَه او عَهد اخستئ دئ. نو اُوس که چيري دئ خرڅ کړل سي نو د عَهد او پَيمَان خلاف ورزي به راسي او هغه مِن وَجهٍ آزادي به ختم سي. نو ځکه د مُکَاتَب خرڅلاؤ هم ناجائز دئ . مګر ! که چيري دئ په خپله په دې راضي سي چي مَا خرڅ که او مُکَاتَبَت ختم ګه نو دا دارنګه سو لکه دئ چي په خپله و مُکَمّل عَبدِيّت او غُلاَمَئ ته را سُتُون کيږي او په خپله مرضي سره و خرڅېدلو ته آماده دئ. لکه څه رنګه چي حضرت بَرِيرَة رَضِيَ اللهُ تَعَالٰي عَنهَا مُکَاتَبَه وه. او په خپله مرضي سره پر خرڅېدلو راضي سوه. په حديث کي دئ دَخَلَت بَرِيرَةُ وَهِيَ مُکَاتَبَةٌ فَقَالَت اِشدتَرِينِي فَاَعتِقِينِي قَالَت (عَائِشَةُ) نَعَم (ب) (بخاري شريف،باب اذا قا ل المکاتب اشترني واعتقني فاشتراه لذالک ص۳۴۹نمبر۲۵۶۵\ابوداؤد شريف،باب في بيع المکاتب اذا فسخت المکاتبة ج۲ص۱۹۲نمبر۳۹۲۹) د دې حديث څخه ثابت سو چي که مُکَاتَب په خپله پر خرڅېدلو

حاشيه : (الف) يوه سړي مُدَبّر غُلاَم خرڅ کړئ نو حضور هغه راوبالئ او هغه ئې خرڅ کړئ (ب)حضرت بَرِيرَه حضرت عائشې ته راغله.او دا مُکَاتَبَه وه. وفرمائل مَا وَاخلَه او آزاد مِي ګه. حضرت عائشې وفرمائل صحيح ده .

[۸۸۴](۳) وَ لاَ يَجُوزُ بَيعُ السّمَکِ فِي المَآءِ قَبلَ اَن يَصطَادَ هُ وَ لاَ بَيعُ الطّائِرِ فِي الهَوَآءِ .

باندي راضي سي او مُکَاتَبَت ختم کړي نو بيائې خرڅلاؤ جائز دئ که نه نو نَه .

اُصُول : کوم شئ چي مال نه وي دهغه بَيع بَاطِل ده .

[۸۸۴](۳) نَه د جائز د مَاهِي بَيع په اُوبُو کي د هغه د ښکار کولو څخه مخکي او نه د مَرغَه بَيع په هَوَا کي .

تشريح : مَبِيع که څه هم مال وي خو په قبضه کي نه وي چي سَم دَستِي ئې و مُشتَرِي ته حواله کي نو دا بَيع هم جواز نه لري .

وجه : (۱) ځکه چي دا اُوس حواله کول مُشکل دئ. پر دغه قاعده باندي بِنَآء ده چي مَاهَئ په اُوبُو کی وي ښکار (نيولئ) ئې لا تر اُوس نه وي کړئ. دغه رنګه مَرغَه په هَوَا کي وي ښکار کړې لا نه وي يا ئې په قبضه کي نه وي نو ددې بَيع کول فاسد ده (۲) په دې حديث کې د قبضې کولو څخه مخکي مَبِيع خرڅول منع کړي دي سَمِعتُ اِبنَ عَبّاسٍ يَقُولُ

اَمّا اَلّذِي نَهْي عَنهُ النّبِيُ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ فَهُوَ اَلطّعَامُ اَن يُبَاعَ حَتّيْ يُقبَضُ، قَالَ اِبنُ عَبّـاسٍ وَ لاَ اَحسِبُ كُلّ شَيئٍ اِلاّ مِثلُهُ (الف) (بخاري شريف،باب بيع الطعـام قبـل ان يقـبض وبيـع ماليس عندک ص۲۸۶ نمبر۲۱۳۵\مُسلم شريف،باب بُطلان بيع المبيع قبل القبض ص۵نمبر ۱۵۲۵\ ۳۸۳۸) ددې حديث څخه معلوم سو چي هغـه مَبيـع چـي پـه قَبضَـه كـي نـه دهغـې خرڅول جواز نه لري. په حديث كي دئ عَن عَبدِالله بِنِ مَسعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَـلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ لاَتَشتَرُوا اَلسّمَکَ فِي المَآءِ فَاِنّهُ غَرَرٌ(ب) (سنن للبيهقي، باب ماجآء فـي النهـي عـن بيع السمک في المآء ج۵ص۵۵۵ نمبر ۱۰۸۵۹) پـه دې حـديث كـې پـه اُوبُـو كـي د مَـاهِي دخرڅولو څخه منع كړې ده .

حاشيه : (الف) دكوم شي څخه چي حضور منع كړې ده هغه غَلّه ده چي د قَبضې كولو څخه مخكـي خـرڅ سـي. حضرت عبدالله ابن عباس وفرمائل زُومَا گُمَان دئ چي د هر شي دغه حال دئ (ب) حضور وفرمائل مَـاهَئ پـه اُوبُو كي مَه اَخلَئ ځكه چي دا دُوكَه ده .

[۸۸۵](۴) وَ لاَ يَجُوزُ بَيعُ الحَملِ فِي البَطنِ وَ لاَ النِّتَاجِ .

پام لرنه : مَاهَئ او مَرغَه خو دواړه مَال دي نو ځكه ددې بَيع فاسد ده. لېكن كه چيري پر هغه باندي قبضه وكړه بيا ئې و مُشتَرِي ته په حَوَالَه كـړه او هـيڅ ډَوَل اخـتلاف نـه راغلئ او مُشتَرِي قبول كړل نو بَيع به بېرته جائز سي .

اُصول : كومه مَبِيع چي په قبضه كي نه وي دهغې بَيعَ فاسد ده .

لُغَت : اَلسّمَکُ : مَاهَئ. مَايَئ . يَصطَادُ : چي ښكار وكړي .

[۸۸۵](۴) او جائز نه دئ د حَمَل خرڅلاؤ په نَس كي او نه د حَمل د حَمل خرڅلاؤ .

تشريح : چـي حَمَـل لا تـر اُوسَـه پـه نَـس كـي وي او بَيـع وكـي دا بَيـع هـم نـه صـحيح كيږي.دغه رنګه په حَمل كي چي كوم بَچَـئ وي د هغـه بَچِـي د بَچِـي بَيـع وكـي دا هـم جواز نه لري .

وجه : (۱) دا مَبِيع بالكليه مجهول ده. معلوم هم نه دئ چي مَبِيع څه رنګه ده. پـه دغـه وجه بَيع نه صحيح كيږي. دا مسئله پر هغه اُصُول باندي مُتَفَرّع ده چـي مَبِيـع مَجهُـول وي نو بَيع نه صحيح كيږي (۲) په حديث كـي دئ چـي اَهلِ عـرب د حَمـل چـي كـوم بَچَئ وي د هغه د بَچِي بَيع كوله نو ځكه حضور صَلّي اللهُ عَلَيـهِ وَسَـلّم ددې څخـه منـع وكړه عَن عَبدِ اللهِ بِنِ عُمَرَ اَنّ رَسُولَ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ نَهْي عَن بَيعِ حَبلِ الحَبلَةِ، وَكَانَ بَيعًا يَتَبَايَعُهُ اَهلُ الجَاهِلِيّةِ كَانَ الرّجُلُ يَبتَاعُ الجُزُورَ اِلْي اَن تَنتِجَ النّاقَةُ ثُمّ تَنتِجُ اَلّتِي فِي بَطنِهَا (الف) (بخاري شريف،باب بيع الغرور وحبل الحبلة ص۲۸۷نمبر۲۱۴۳\مُسلم شـريف،باب تحريم بيع حبل الحبلة ج۲ ص۲ نمبر۱۵۱۴) په دې حديث كې حَمل او د حَمل د بَچِـي بيـع ناجائز كړې ده .

اُصُول : د مجهول مَبِيع خرڅول بَيعِ فَاسِد ده .

لُغَت : اَلنِّتَاجُ : د حَمل چي كوم بَچَئ وي وهغه ته اَلنِّتَاج وائي .

حاشيه : (الف) حضور د حَمل د بَچي دخرڅولو څخه منع وکړه، دجَاهِلِيّت خلګو داسي بَيع کوله چـي ددې وُښـي په نَس کي چي کوم بَچَئ دئ هغه چي کله بَچَئ وَزيږَوِي هغه دَر باندي خرڅوم .

[۸۸۶] (۵) وَ لاَ الصّوفُ عَلْي ظَهرِ الغَنَمِ [۸۸۷](۶) وَ لاَ بَيعُ اللّبَنِ فِي الضّرعِ .

[۸۸۶](۵) او جواز نه لري د وُجغُونُو خرڅول د وُزې (بُوزې) پر شَا باندي .
تشريح : د وُزې يا د مِيږي پر شَا (مَلاَ) بانـدي وَرَئ وُجغُـونِي ولاړ دي تـر اُوس لا كاټ كړي نه دي. په داسي حال كي ددې خرڅول جواز نه لري .
وجه : (۱) څُونَه پرېکوي او څُونَه نه پرېکوي ددې اندازه نـه ده معلوم. زيـات او كـم كېدلائي سي نو ځكه دا جواز نه لري. دا مسئله پر دې اُصُول بانـدي مُتفَرّع ده چـي د مَبِيع حُدُود مُتَعَيّن نه وي نو خرڅول ئې جواز نه لري (۲) په حديث كي ددې مُمَانَعَت راغلئ دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ نَهْي رَسُولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ اَن تُبَاعَ الثّمَرَةُ حَتّيْ يَبدُوَ صَلاَحُهَا اَو يُبَاعَ صُوفٌ عَلْي ظَهرٍ اَو سَمَنٌ فِي لَبَنٍ اَو لَبَنٌ فِي ضَرعٍ(الف) (سنن للبيهقي،باب ماجآء في النهي عن بيع الصوف علي ظهرالغنم واللبن في ضروع الغنم والسمن في اللبن ج۵ص۵۵۵نمبر۱۰۸۵۷\ دارقطني، كتاب البيوع ج۳ص۱۱نمبر۲۸۱۱) پـه دې حديث كي د وُزې (بُوزې) پر شَا باندي د وُجغُونُو د خرڅولو څخه منع كړې ده .
[۸۸۷](۶) او جواز نه لري د شِيدُو خرڅول په تَئ (غُوَلاَنځَه) كي .
وجه : (۱) پـه تَـئ (غُوَلاَنځَـه) كـي شِيدِي وي هغـې ئـې لا تـر اُوس رااېستلي نـه دي او خرڅوئې نو دا شِيدې مَجهُول دي او بَيع مَستُور ده نو ځكـه ددې خرڅـول جـواز نـه لـري. مګر كه چيري دا شِيدې را وېستې او په پَتَه خُولَه ئې دوم وار اِيجَاب او قَبُول وكـړئ يعنـي بَائِع ئې وركړي او مُشتَرِي ئې ځيني واخلي نو بَيع به بېرته جائز سي (۲) حديث پـه مسئله نمبـر ۵ كـي تېرسـوئ دئ اَو لَـبَنٌ فِـي الضّـرعِ (دارقطني،نمبـر ۲۸۱۱\سـنن للبيهقي،نمبر۱۰۸۵۷)

حاشيه : (الف) حضور ددې څخه منع وكړه چي مېوه د نَفعِ اخستلو څخـه مخكـي خرڅـه كـړي يـا وَرَئ پـر شَـا باندي خرڅي كړي يا غُوَړِي په شِيدُوكي خرڅ كړي يا شِېدې په غُوَلاَنځَه خرڅي كړي .

[۸۸۸](۷) وَ لاَ يَجُوزُ بَيعُ ذِرَاعٍ مِن ثَوبٍ وَ لاَ بَيعُ جَذعٍ مِن سَقفٍ.

اُصُول : د مَجهُول مَبِيع خرڅول جواز نه لري .
لُغَت : اَلضّرعُ : تَئ، غُوَلاَنځَه .
[۸۸۸](۷) او جواز نه لري د يوه ګزه بَيع د تَان څخه او د شَهتِير بَيع د چَت څخه .
تشريح : دا مسئله پر دې اُصُول باندي مُتَفَرّع ده چي مَبِيـع د بَـائِع د مـال سره يوځـائ وي او د مَبِيع په جلاكېدو كي د بَائِع د مال نُقصَان كيږي. نـو اُوس پـه دې مَبِيـع كـي د بَائِع د مال بِلاَوَجَه نُقصَان كيږي نو ځكه دا بَيع فَاسِد ده. مثلاً يو ګز چـي د تَـان څخـه پرېكوي نو د پاته تَان نُقصَان دئ هغه په نَاقِص (مانده) كيږي نو ځكه په تَـان كـي د

دې يوه ګزَه بَيع نه صحيح کيږي. لېکن که چيري د يوه ګزه په جلا کېدو کې دټوله تَان نُقصَان نه وي لکه په نَن سَبَا کي نو بيا د يوه او دوو ګزو بَيع هم صحيح ده. دغه رنګه شَهتِير په چَت کي لګېدلئ وي دهغه په کښلو او راختلو سره د ټوله چَت د رَايَلَه کېدو او يا کمزورېدو خطره وي نو بيا د دارنګه شَهتِير بَيع جواز نه لري .
وجه : په حديث کي ,, لاَ ضَرَرَ وَ لاَ ضَرَارَ ,, لفظ راغلئ دئ (دارقطني نمبر ٣٠٦٠) په دي کي دئ چي مَه وبل ته نُقصَان رسوه او نه د بَل نُقصَان پورته کوه. او په دې بَيع کي د بَائِع نُقصَان دئ نو ځکه دا بَيع فَاسِد ده .
لُغَت : جَذعٌ : شَهتِيرکوم چي په چَت کي لګېدلئ وي اوټوله چَت پرهغه پروت وي.
سَقفٌ : چَت .

[٨٨٩](٨) وَ ضَربَةُ الغَائِصِ [٨٩٠](٩) وَ لاَ بَيعُ المُزَابَنَةِ وَ هُوَ بَيعُ التّمَرِ عَلْي النّخلِ بِخَرصَةٍ تَمَرًا .

---

[٨٨٩](٨) او جواز نه لري د جَال يَو وار غُوَرزَوَل .
تشريح : مثلاً دارنګه ويل چي زه يَو وار جَال په اُوبُو کي غُوَرزَوَم په هغه کي چي هر څونه مَاهِيَان راغله دهغو قيمت مثلاً پنځه پونډ (پونډ دشارح د سکونت مُلک برطانيې سِکّه ده. لکه زموږ په مُلک کي رُوپَۍ. يا په افغانستان کي افغانۍ يا په ايران کي تُمَن) دئ نو دا رنګه بَيع کول جواز نه لري .
وجه : په دې کي مَبِيع مجهول ده معلومه نه ده چي څومره مَاهِيَان راځي او يا نه راځي. او دا هم کېدلائي سي چي لَږ څه مَاهِيَان پکښي راسي او پنځه پُونډ په مُفت کي ولاړ سي نو ځکه دا بَيع جواز نه لري عَن اِبِي هُرَيرَةَ قَالَ نَهْي رَسُولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ عَن بَيعِ الغَرَرِ وَ بَيعِ الحَصَاةِ (الف) (ترمذي شريف،باب ماجآء في کراهية بيع الغررص٢٣٢نمبر١٢٣٠) ددې حديث څخه معلوم سو چي د دُوکې بَيع جواز نه لري.
عَن اَبِي سَعِيدِ الخُدرِيّ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ ..... وَ عَن شِرَآءِ ضَربَةِ الغَائِصِ (دارقُطني،کتاب البيوع ج٣ص١٢نمبر٢٨١٥) په دې حديث کې د ,, ضَربَةُ الغَائِص ,, څخه باقاعده منع کړې ده .
اُصُول : په کومه بَيع کي چي دُوکَه وي هغه جواز نه لري .
لُغَت : اَلغَائِصُ : په اُوبُو کي غُوټَه وهونکئ .

[۸۹۰](۹) او نه د جائز بَيعِ مُزَابَنَه، او هغه داه چي د خُورمَا بَيع د خُورمَا پر درخته باندي د پرې کړو خُورمَاؤ سره په اندازه باندي .

تشريح : د خُورمَا پر درخته باندي خُورمَاوِي لګېدلي وي هغه د پرې کړو خُورمَاؤ په بَدلَه کي په اندازه سره خرڅي کړي دا بَيعَ فَاسِد ده .

حاشيه : (الف) حضور د دُوکې د بَيعِ څخه منع وکړه او د شِکِّي د وِشتَلُو د بَيعِ څخه منع وکړه .

وجه : (۱) دِلتَه پر مځکه هم خُورمَا پرته ده او لُوَړ پر درخته باندي هم خُورمَا لګېدلي ده لېکن په درخته کي څونه خُورمَا ده دهغې هيڅ اندازه معلوم نه ده نو اُوس به د خُورمَا په بدله کي د خُورمَا زياتوب او کمئ راځي چي هغه رِبوْي او سُود دئ لِهٰذَا دا جواز نه لري (۲) دبَيعِ مُزَابَنَه د عَدَمِ جواز دليل دا حديث هم دئ عَن اَبِي سَعِيدِ الخُدرِيِّ اَنّ رَسُولَ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ نَهي عَنِ المُزَابَنَةِ وَ المُحَاقَلَةِ، وَالمُزَابَنَةِ اِشتِرَآ ءُ التّمَرِ بِالتّمَرِ عَلْي رُؤُوس النّخلِ (الف) (بخارى شريف،بيع المزابنة وهي بيع التمربالتمرص۲۹۱نمبر۲۱۸۶\مُسلم شريف،باب النهي عن المحاقلة والمزابنة ج۲ص۱۰نمبر۱۵۳۹) په دې حديث کي حضور صلي الله عليه وسلم د مُزابنې څخه منع کړې ده .

فائده : د امام شافعي په نېز د پنځو وَسَقُ څخه په کَم (لږ) کي جائز ده .

وجه : ځکه چي حضور صلي الله عليه وسلم په عَرَايَا کي اجازت ورکړئ دئ. او د عَرَايَا شَکل دادئ چي د پرېکړو خُورمَاؤ په بدله کي پر درخته باندى لګېدلي خُورمَاوِي واخلي. په حديث کي دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنّ النّبِيّ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ رَخّصَ فِي بَيعِ العَرِيَا فِي خَمسَةِ اَوسُقٍ اَو دُونَ خَمسَةِ اَوسُقٍ قَالَ نَعَم (ب) (بخاري شريف،باب بيع التمرعلْي رؤوس النخل بالذهب والفضة ص۲۹۱نمبر ۲۱۹۰\مُسلم شريف،باب تحريم بيع الرطب بالتمرالا في العراياص۸نمبر۱۵۴) په دې حديث کي حضورصلي الله عليه وسلم د عَرَايَا د بَيعِ اجازت ورکړئ دئ که چيري د پنځه وَسَق څخه کم (لږ) وي. او په بعضُ حديثو کي راغلي دي چي که يَوَه يا دوې درختي وي نو جائز دئ .

د احنافو په نېزعَرَايَاپه اصل کي د درختي د مَالِک لخوا هَديَه ده بَيع نه ده. صرف صورت ئې د بَيعِ دي. او د دې وجه داده چي عَرَبُو و مسکينانو ته يوه دوې

حاشيه : (الف) حضور د مُزَابَنې او مُحَاقلې د بَيعِ څخه منع وکړه، د مُزَابَنې تفسير دادئ چي د خُورمَاؤو پر درخته باندي خُورمَاوِي وي د هغه په بَدلَه کي خُورمَاوِي واخلي (ب) حضور د عَرَايَا په بَيع کي رُخصَت ورکړئ دئ په پنځه وَسَق کي يا دهغه څخه په لږ کي و فرمائل هُو .

درختي د خُوَرَاک لپاره هَديَةً ورکولې. لېکن د غُربَت لکبله هغو مسکينانو د خُورمَاؤد پخېدو تر وخته پوري صَبر نه سو کولائي نو ددې درختي د خُورمَاؤ په بَدلَه کي به د درختي مَالِک پرېکړي خُورمَاؤِي ورکولې. چي صُورةً بَيع ده لېکن په حقيقت کي هغه مځکنئ هَديَه د پرېکړو خُورمَاؤ په صورت کي ورکوي. په خپله امامِ بُخَارِي د سُفيَان

بن حُسَین په تَوَسّط د عَرَایَا دغه تفسیر بیان کړئ دئ. عبارت ئې دادئ عَن سُفیَانَ بِنِ حُسَینِ اَلعَرَایَا نَخلٌ کَانَت تُوهَبُ لِلمَسَاکِینِ فَلاَ یَستَطِیعُونَ اَن یَنتَظِرُوا بِهَا فَرَخّصَ لَهُم اَن یَبِیعُوا هَا بِمَا شَآؤا مِنَ التّمَرِ (الف) (بخاري شریف،باب تفسیرالعرایا ص۲۹۲نمبر۲۱۹۲) ددې اَثَر څخه معلوم سو چې د هَدیې په بَدلَه کې د درختې مَالِک هَدیَه ورکوي دغه عَرَیَا ده. او ددې خو زموږ په نیز هم ګُنجائش سته .

پام لرنه : د امام ابوحنیفه نَظَر ودې ته تللئ دئ چې په اَټکَل سره د خُورمَاؤو په بَدلَه کې خُورمَاوِي خرڅول سُود دئ نو ځکه چې د پنځه وَسَق څخه لږ وي په هغه کې هم جواز نه لري. په حدیث کې دئ فَقَالَ لَهُ مَعمَرُ لِمَ فَعَلتَ ذَالِکَ اِنطَلِق فَرَدّهُ وَ لاَ تَاخُذَنّ اِلاّ مَثَلاً بِمَثَلٍ فَاِنّي کُنتُ اَسمَعُ رَسُولَ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَیهِ وَسَلّمَ یَقُولُ اَلطّعَامُ بِالطّعَامِ مَثَلاً بِمَثَلٍ (ب) مُسلم شریف،باب بیع الطعام مثلا بمثل ص۲۶ نمبر ۱۵۹۲\بخاري شریف،باب بیع الشعیر بالشعیرص۲۹۰نمبر۲۱۷۴) په دې حدیث کې د یَوَه جِنس شئ که ګَیلِي وي که وَزنِي وي زَیَات او کَم خرڅلاؤ ئې منع کړئ دئ. لِهٰذَا د پرې سوو خُورمَاؤو په بدله کې د هغه خُورمَاؤو اخستل چې نه وي پرې سوي جواز نه لري. که څه هم د پنځه وَسَق څخه لږ وي یا که څه هم د عَرَایَا دُوَم شکل وي .

اُصُول: ګَیلِي او وَزنِي شِیَان په کمي او زِیَاتُوب سره خرڅول جواز نه لري .

پام لرنه : که پر درخته باندي لګېدلي خُورمَاوي د خُورمَاؤ څخه علاوه په بَل شي

[۸۹۱](۱۰) وَ لاَ یَجُوزُ البَیعُ بِاِلقَآءِ الحَجَرِ وَ المُلاَمَسَةِ .

باندي وَاخلِي نوجائز دي. ځکه چې د جِنس د اختلاف په وجه دا سُود نه دئ.

لُغَت : خَرصٌ : په اندازه سره. په اَټکَل باندي .

[۸۹۱](۱۰) نه دئ چائز د ډبَرِي د تَسوَلُو بَیع او مَس کولو بَیع .

تشریح : دغه بُیُوعَات ټولي د جاهِلیّت د زمانې بُیُوعَاتِ دي. یو ځائ مَبِیعَاتِ پرتي دي. مُشتَرِي ډبَره ورتَسَه کړه پر یوه مَبِیع باندي ولګېده. چې پر کومه مَبِیع باندي ډبره ولېده هغه د مُشتَرِي سوه او ګواکه اِیجَاب او قَبُول وسو. دا د اِلقَ◌َاءِ حَجَر بَیع ده. او د بَیعِ مُلاَمَسې صورت دادئ چې ډېر ډَوَل مَبِیعَات پراته دي مُشتَرِي د هغو څخه یَوَه مَبِیع مَس کړه بَس هغه د مُشتَرِي سوه. یا څو مُشتَرِیَان وَلاړ دي بَائِع یو مُشتَرِي مَس کړئ نو پردغه مُشتَرِي باندي مَبِیع اخستل لازم سودا بَیعِ مُلاَمَسَه ده. دا دواړې بَیعِ ناجائز دي.

وجه : (۱) په دې دواړو بَیعُ کې دُوکَه ده او مخکي تیر سو چې د دُوکې بَیع نه صحیح کیږي (۲) په حدیث کې د دې دواړو بَیعُ څخه منع راغلې ده اَنّ اَ بَا سَعِیدٍ اَخبَرَهُ اَنّ رَسُولَ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَیهِ وَسَلّمَ نَهٰي عَنِ المُنَابَذَةِ وَ هِیَ طَرحُ الرّجُلِ ثَوبَهُ بِالبَیعِ اِلٰي رَجُلٍ قَبلَ اَن

حاشیه : (الف) سُفیان بن حُسین وفرمائل عَرَایَا د خورماؤو درخته ده، هغه و مسکینانو ته هِبَه کړي بیا دهغو څخه انتظار ونه سي نو ودې مسکینانو ته رُخصَت دئ چې دا په هر څونه خُورمَاؤو باندي خُوښَه سي خرڅه دې کړي (ب) مَعمَر وهغه ته وویل دا دې وَلِي وکړه ؟ ځَه وُلاړ سَه دا بېرته وَاپَس ورکړه او مَه اَخلَه مګر برابر برابر ځکه چې ما دحضور څخه اَورېدَل چې حضور فرمائل غَلّه د غَلّې په بَدلَه کې خرڅه کړئ برابر برابر .

يُقَلِّبَهُ اَو يَنظُرَ اِلَيهِ وَ نَهْي عَنِ المُلاَمَسَةِ، وَالمُلاَمَسَةُ لَمسُ الثّوبِ وَلاَ يَنظُرَ اِلَيهِ (الف) (بخاري شريف،باب بيع الملامسةص٢٨٧ نمبر٢١٤٤\مُسلم شريف، باب ابطال بيع الملامسة والمنابذة ج٢ص٢نمبر ١٥١٢) په دې حديث کې د مُنَابَذې او مُلاَمَسې تفسير کړئ دئ. او د دواړو بَيعُ څخه حضور صلي الله عليه وسلم منع کړې ده .

اُصُول : په کوم ځائ کي چي دُوګه وي چي مَبِيع کومه ده ؟ او څه رنګه ده ؟ نو هغه بَيع جواز نه لري .

پام لرنه : په جُوَا (خُمَار) کي هم دغه ټوله صورتونه وي نو ځکه خُمَار حرام دئ .

حاشيه : (الف) حضور منع وکړه د بَيعِ مُنَابَذې څخه او هغه داده چي سړئ کپړه د بَيع لپاره وسَړي ته ورتَسَه کړي ددې څخه مخکي چي هغه رَاوَاړَوِي يا هغه ويني ، او منع وکړه د بَيعِ مُلاَمسې څخه او مُلاَمَسَه داده چي کپړه مَس کړي او هغه ونه ويني او بَيعِ لازم سي .

[٨٩٢](١١) وَ لاَ يَجُوزُ بَيعُ ثَوبٍ مِن ثَوبَينِ [٨٩٣](١٢) وَ مَن بَاعَ عَبدًا عَلْي اَن يَعتَقَهُ المُشتَرِيُ اَو يُدَبِّرَهُ اَو يُكَاتَبَهُ اَو بَاعَ اَمَةً عَلْي اَن يَستَولَدَهَا فَالبَيعُ فَاسِدٌ .

[٨٩٢](١١) او جواز نه لري د دو کپړو څخه د يوې کپړې بَيع .

تشريح : دوې کپړې په جلا جلا انداز وي (يعني ساخت او جوړ ئې جلا جلا وي) د ايجاب او قبول په وخت کي دا نه وائي چي ددې دواړو څخه د کومي کپړې بَيع کيږي نو اُوس خو دلته مَبِيع مَجهُول ده وروسته به د کپړې په حواله کولو کي اختلاف راسي لِهٰذَا دا بَيعَ فاسد ده. حديث مخکي تېر سوئ دئ .

پام لرنه : د مجلس د ختم کېدو څخه مخکي چي د يوې کپړې تَعيِين وسي نو بَيعَ به بېرته جواز پيدا کي .

اُصُول : د مَجهُول مَبِيع بَيع کول فاسد ده .

[٨٩٣](١٢) يو چَا مريئ خرڅ کړئ په دې شرط چي مُشتَرِي به آزادوي يا به مُدَبّر کوي يا به مُكَاتَب جوړوي يا ئې مينځه خرڅه کړه په دې شرط چي دا به اُمِّ وَلَد جوړوي نو بَيع فاسد ده .

تشريح : دا مسئلې پر هغه اُصُول باندي مُتَفَرّع دي چي د بَيعِ سره داسي شرط ولګاوئ چي هغه د بَيعِ سره مُوَافَقَت نه لري نو بَيع فاسديږي. دشرط لګولو څلور صورتونه دي (١) داسي شرط چي په خپله د بَيعِ سره مُوَافِق دئ. مثلاً بيع په دې وجه کوم چي د مُشتَرِي قَبضَه راسي نو دا شرط په خپله د بَيعِ کولومُقتَضْي ده نو ځکه په دې شرط لګولو بَيع نه فاسديږي (٢) داسي شرط ئې ولګاوئ چي د بَيعِ سره مُوَافَقَت نه لري خو داسي دئ چي په هغه کي د بَائِع فائده ده. مثلاً په دې شرط سره مَكَان درباندي خرڅوم چي زَه به دوې مياشتي په دې مکان کي وسېږم. په دې صورت کي بَيع فاسديږي (٣) په داسي

شرط سره بَيع وکي چي په هغه کي د مُشتَرِي فائده وي مثلاً په دې شرط ئې د تاڅخه اَخلَم چي تَه به وماته نور قَرض (پور) راکوې. په دې صورت کي بَيع فاسد ده (۴) او د شرط څلورم صورت دادئ چي داسي شرط ولګوي چي په هغه کي په خپله د مَبِيع فائده وي او مَبِيع غُلاَم يا مينځه وي چي د قاضي و قضاًء ته رسېدلائي سي. په دې صورت کي د مَبِيع فائده ده او مَبِيع جَګړَه کولائي سي نو ځکه په دې صورت کي هم بيع فاسد ده. دغه لُوړه د مَتن مسئله پر دغه څلورم قسم شرط باندي مُتَفَرّع ده. ځکه چي غُلاَم آزاد وَل يا هغه مُدَبّر جوړول يا هغه مُکَاتَب جوړول په دي کي په خپله د مَبِيع فائده ده او مَبِيع انسان دئ نو ځکه جَګړه هم کولائي سي لِهٰذَا بَيع فاسد ده .

وجه : (۱) د شريعت خلاف يو شرط لګولو په حديث کي مُمَانَعَت راغلې دئ عَن عَائِشَةَ قَالَت ..... ثُمّ قَالَ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ اَمّا بَعدُ مَا بَالُ رِجَالٍ يَشتَرِطُونَ شُرُوطًا لَيسَت فِي كِتَابِ اللهِ ؟ مَا كَانَ مِن شَرطٍ لَيسَ فِي كِتَابِ اللهِ فَهُوَ بَاطِلٌ وَ اِن كَانَ مِائَةُ شَرطٍ قَضَآ ءُ اللهِ اَحَقّ وَ شَرطُ اللهِ اَوثَقُ (الف) (بخاري شريف، باب اذا اشترط في البيع شروطًا لاتحِل ص۲۹۰نمبر۲۱۶۸\مُسلم شريف، باب بيان ان الولاء لِمَن اعتق ج۱ص۴۹۳ نمبر۱۵۰۴\۳۷۷۷) په دې حديث کي ويل سوي دي چي د شريعت خلاف هر شرط ولګوي دهغه اعتبار نسته (۲) په يو بَل حديث کي راغلي دي عَبدُالله بِنِ عُمَرَقَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ لاَيَحِلّ سَلفٌ وَبَيعٌ وَلاَشَرطَانِ فِي بَيعٍ (ب) (ابوداؤدشريف، باب في الرجل يبيع ماليس عنده ج۲ص۱۳۹نمبر۳۵۰۴) په دې حديث کي دئ چي دُوَه شرطونه لګول منع دي. بيا په خاص توګه داسي شرط چي دهغه د لګولو څخه د جَګړې او اختلاف خطره وي په داسي شرط لګولو سره بَيع فاسديږي .

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل دا خلګ څه کوي چي شرط لګوي داسي شرط چي د خدائ پاک په کتاب کي نسته، کوم شرط چي د الله په کتاب کي نه وي هغه باطل دئ که څه هم سَل شرطونه وي، دالله فيصله ډېره حقداره ده او د الله شرط زِيَات مضبوط دئ (ب) حضور وفرمائل حلال نه دئ په پُور خرڅول او بَيع کول او نه دوه شرطونه په يوه بَيع کي .

[۸۹۴](۱۳) وَ كَذَالِكَ لَو بَاعَ عَبدًا عَلْي اَن يَستَخدِمَهُ البَائِعَ شَهرًا اَو دَارًا عَلْي اَن يَسكُنَهَا البَائِعُ مُدّةً مَعلُومَةً اَو عَلْي اَن يَقرِضَهُ المُشتَرِيُ دِرهَمًا اَو عَلْي اَن يُهدِى لَهُ .

اُصُول : داسي شرط چي د بَيعِ مخالف وي او په هغه کي د بَائِع يا مُشتَرِي يا د مَبِيع فائده وي او مَبِيع انسان وي نو دهغه څخه بَيع فاسديږي .

فائده : امام شافعي فرمائي چي په دې کي د انسان فِطرِي ګټه سته نو ځکه دارنګه شرط لګول او خرڅول جائز دئ. ځکه چي حضرت عائشې حضرت بَرِيرَه د آزداولو په شرط سره واخستله (رانيوله) لکه څه رنګه چي لوړ حديث تير سو (بخاري شريف، نمبر۲۱۶۸ ,مُسلم شريف، نمبر۱۵۰۴)

لُغَت : يُدَبِّرَهُ : مُدَبّر دې جوړکړي. چي مَولْي و مَرَئي ته ووائي چي تَه زوما د مرګ وروسته آزاد يې .يُکَاتَبَهُ : مُکاتب ئې جوړکړي. مولْي و غُلاَم ته ووائي چي تَه دومره روپۍ راکه نو تَه آزاد ئې ودې ته مُکاتَب جوړول وائي. لِيَستَولَدَهَا : اُمِّ وَلَد ئې جوړ کړي. د مينځي سره وَطِي وکړي بيا د هغه څخه د مولْي بَچَۍ پيدا سي نو دهغه مُور يعني مينځه اُمِّ وَلَد ګرزي. او د مَولْي د مرګ وروسته هغه آزاديږي. وداسي مينځه ته اُمِّ وَلَد وائي .

[۸۹۴](۱۳) دغه رنګه مريۍ ئې خرڅ کړۍ په دې شرط چي بَائِع به ددې څخه يوه مياشته خدمت اَخلِي يا ئې مَکَان خرڅ کړۍ په دې شرط چي تر يوه معلوم وخته پوري به بَائِع په دي کي وسيږي ياپه دې شرط چي مُشتَرِي به وده ته څو دِرهَمَ پور ورکوي يا په دې شرط چي مُشتَرِي به وده ته هَدِيَه ورکوي نو بَيع فاسد ده .

تشريح : په دې عبارت کې څلور مسئلې بيان کړي دي. او د څلورو سره بُيُوعَاتُ د فاسدېدو وجه داده چي بَائِع د بَيعِ خلاف شرطونه لګوي چي په هغه کي د بَائِع فائده ده او مخکي تېرسوي دي چي د بَيعِ خلاف شرط وي او په هغه کي د بَائِع يا مُشتَرِي فائده وي نو په هغه سره بَيع فاسديږي. مثلاً بَائِع غُلاَم خرڅ کړۍ په دې شرط چي غُلاَم به يوه مياشته د بَائِع خدمت کوي نو بَيع فاسد ده. ځکه چي غُلاَم چي څه رنګه خرڅ سو په هغه سَاعَت د مُشتَرِي مِلکِيّت ته راغلۍ نو د بَائِع خدمت بيا وَلِي کوي ؟ يا ئې په دې شرط مَکَان خرڅ کړۍ چي بَائِع به تر يو معلوم وخته مثلاً تر يوې مياشتي پوري په دي کي مُقِيم وي. يا ئې په دې شرط خرڅ کړۍ چي مُشتَرِي به و بَائِع ته يو څو پُونډ (يا روپۍ) په قرض ورکوي يا به هَدِيَه ورکوي نو دا شرطونه ټوله فاسد شرطونه دي لِهٰذَا په دې سره بَيع فاسديږي. ددې اَثَر څخه هم د خدمت کولو د شرط مُمَانَعَت معلوميږي اَنّ عُمَرَ اِبنِ الخَطّابِ اَعطْي اِمرَأَ ةَ عَبدِاللهِ بِنِ مَسعُودٍ جَارِيَةً مِنَ الخُمُسِ فَبَاعَتهَا مِن عَبدِاللهِ بِنِ مَسعُودٍ بِاَلفِ دِرهَمٍ وَ اِشتَرَطَت عَلَيهَا خِدمَتُهَا فَبَلَغَ عُمَرُ بِنِ خَطّابِ فَقَالَ يَا اَبَا عَبدِالرّحمٰنَ اِشتَرَيتَ جَارِيَةَ اِمرَأَتُکِ فَاشتَرَطّتَ عَلَيهَا خِدمَتَهَا فَقَالَ نَعَم فَقَالَ لاَ تَشتَرِط وَفِيهَا مَثنَوِيّةً (سنن للبيهقي،باب من باع حيوانًااو غيره و استثْني منافعه مدة ج۵ص۵۴۹ نمبر۱۰۸۳۵) دا حديث او اُصُول مخکي تېرسوي دي. په دې مسئله کي د بَائِع د فائدې شرط دۍ نو ځکه بَيع فاسد ده .

فائده : د بعضو حضرات رأيه داده چي که پر دا ډَوَل شرطو باندي بَائِع او مُشتَرِي دواړه راضي سي نو بيا جائز دي .

وجه : په حديث کي دۍ حضورصلي الله عليه وسلم د جَابِربن عبدالله څخه وُښ واخَستَۍ او حضرت شرط ولګاوۍ چي تر کور (مَکَان) پوري پر دې باندي زه سپرېږم بيا وُښ وتاته په حواله کوم. حَدّثَنِي جَابِرُبِنِ عَبدِاللهِ اَنّهُ کَانَ يَسِيرُ عَلْي جَمَلٍ لَهُ قَد اَعيَا ... ثُمّ قَالَ بِعنِيهِ فَبِعتُهُ بِوَقِيّةٍ وَ اِستَثنَيتُ عَلَيهِ حَملاَ نُهُ اِلْي اَهلِي فَلَمّا بَلَغتُ اَتَيتُهُ بِالجَمَلِ فَنَقَدَنِي ثَمَنُهُ

(الف)(مسلم شريف،باب البعيرواستثناَء ركوبه ج۲ نمبر۱۶۰۰\۴۰۹۸) په دې حديث کي دئ چي

حضرت جابر وُښ خرڅ کړئ او تر مدينې پورې د هغه دسُپَرِېدُو خِدمَت .

حاشيه : (الف) حضرت جابر بيان کوي چي دئ پر وُښ سپور وُ چي ستَړَئ سوئ و. .. بيا حضور وفرمائل دا وُښ پر مابَاندي خرڅ کَه. حضرت فرمائي چي په څلوېښت دِرهَم ما هغه پر خرڅ کړئ او زُومَا د اَهل يعني کُورَنِيَانُو تر مدينې پوري پر هغه باندي سپرېدل مي اِستِثنَآ ء کړل. نو چي مدينې ته را ورسېدو نو وُښ مي د حضور خدمت ته راوستئ نو حضور و ماته دهغه نَقد رَقَم راکړئ .

[۸۹۵](۱۴) وَ مَن بَاعَ عَينًا عَلْي اَن يُسَلِّمَهَا اِلْي رَأسِ الشّهرِ فَالبَيعُ فَاسِدٌ .

د ځان لپاره مخصوص کړئ. او حضور صلي الله عليه وسلم ودې ته جواز ورکړئ نو ځکه چي بَائِع او مُشتَرِي دواړه راضي سي نو د دادَوَل شرط لګولو څخه بَيع نه فاسديږي .

[۸۹۵](۱۴) يو چا يو عَينِي شئ خرڅ کړئ په دې شرط چي دا به په يوه مياشته کي حواله کوي نو بَيع فاسد ده .

تشريح : يوه خو ده بَيعِ سِلَم په هغه کي خو مَبِيع دڅومياشتووروسته حواله کيږي لېکن دا فَورِي بَيعَ ده. مَبِيع مخامخ موجود ده چي بَيعُ العَين هم ورته وائي. په دي کي چي څنګه بَيع وسي مُشتَرِي د مَبِيع مالک جوړسو. نو اُوس دا شرط لګول چي مَبِيع يوه مياشته وروسته درته حواله کوم دا شرطِ فاسد دئ او په دي کي د بَائِع فائده ده نو ځکه دا بَيع فاسد ده. په دې حديث کي ددې مُمَانَعَت راغلئ دئ عَن جَابِرِ بِنِ عَبدِاللهِ قَالَ نَهْي رَسُولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ عَنِ المُحَاقَلَ◌َةِ ..... وَقَالَ آخَرُ بَيعُ السِّنِينَ ثُمّ اِتّفَقُوا وَ عَنِ الثُنيَا (الف) (ابوداؤدشريف،باب فِي المخابرة ص۱۲۷نمبر۳۴۰۴)

لُغَت : عَينٌ : د بَيعِ سِلَم خلاف فَورِي بَيع. رَأسُ الشّهرِ : د مياشتي په شروع کي يادمياشتي پر سر باندي .

حاشيه : (الف) حضور د مُحَاقَلي دبيع څخه منع وکړه. او بَل راوي فرمائي د څو کَالُو پر مُدَه باندي د بيعِ کولو څخه منع وکړه. بيا رَاوِي مُتّفِق دئ چي د مَبِيع د استثناَء کولو څخه منع وکړه .

[۸۹۶](۱۵) وَ مَن بَاعَ جَارِيَةً اَو دَابّةً اِلاّ حَملَهَا فَسَدَ البَيعُ [۸۹۷](۱۶) وَ مَن اِشتَرْي ثَوبًا عَلْي اَن يَقطعَهُ البَائِعُ وَ يَخِيطَهُ قَمِيصًا اَو قُبَآءً اَو نَعلاً عَلْي اَن يَحذُوَهَا اَو يَشرِكَهَا فَالبَيعُ فَاسِدٌ .

[۸۹۶](۱۵) یو چا مینځه خرڅ کړه یا ئې حیوان خرڅ کړئ لېکن دهغه حَمل نو بَیعَ فاسد ده .

تشریح : مِینځَه خرڅ کړه او وویل چي مګر ددې حَمل نه خرڅوم. هغه ئې د بیع څخه اشتثنآء کړئ. دغه رنګه حیوان ئې خرڅ کړئ لېکن د هغه حَمل ئې د بیع څخه اِستِثنآء کړئ نو بَیع فاسد ده .

وجه : (۱) بَچَئ چي تر څو پوري پیدا سوئ نه وي د مُور د نورو اَندَامُوپه شَان دا هم یو جُز دئ. نو ځکه چي کله د مُور بَیع وسي نو د عُضوِ او جُز بَیع هم وسوه. نو ځکه دا شرط لګول چي د مُور بَیع کوم او د حَمل بَیع نه کوم دا شرطِ فَاسِد دئ. لِهْذَا بَیع هم فاسد ده (۲) په حدیث کي تیر سو عَن جَابِرِ بِنِ عَبدِاللهِ قَالَ نَهْي رَسُولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَیهِ وَسَلّمَ ..... وَ عَنِ الثُّنیَا وَ رَخّصَ فِي العَرَایَا (الف) (ابوداؤدشریف، باب في المخابرة ج۲ص۱۲۷نمبر۳۴۰۴\ترمذي شریف،باب ماجآء في النهي عن الثنیا ص۲۴۲نمبر۱۲۹۰) ددې حدیث څخه معلوم سو چي د شریعت خلاف استثنآء کول جواز نه لري د داسي شرط څخه بَیع فاسدیږي .

پام لرنه : په وِرَاثَت او وَصِیّت کي د مینځي حَمل جلا جُز شمېرل کیږي .

[۸۹۷](۱۶) یو چا کیړه رَانِیوَه په دې شرط چي بَائِع به ګَاټ وي او ددې څخه به قَمِیص جوړوي یا به جُبَه ځیني جوړوي،یا ئې چَپلَکِي رَانِیوې په دې شرط چي دا به سره برابروي یا به تَنَئ پر لګوي نو بَیع فَاسِد ده .

تشریح : کیړه ئې رَانِیوَه او دا شرط ئې هم ورسره ولګاوئ چي بَائِع به دا ګَاټوِي قَمِیص به ځیني جوړوي یا به جُبّه ځیني جوړوي نو د اخستلو (رَانِیوَلُو) څخه علاوه دا یو جَلاَ او مُستَقِل شرط دئ چي په هغه کي د مُشتَرِي فائده ده. او دا مخکي تېرسو چي که د بَیعِ خلاف یو داسي شرط ولګاوئ چي په هغه کي د بَائِع یا مُشتَرِي فائده وي دداسي شرط څخه بَیع فاسدیږي. دلته د مُشتَرِي فائده ده ځکه بَیع فَاسِد ده .

وجه : په دغه لوړ صورت کي یو خو بَیع سوه او ددې سره ئې د پرېکولو او جوړولو شرط ولګاوئ نو دا اِجَارَه سوه او په یوه عَقد کي دوې مُعَامَلې کول مَمنُوع دي. داخو داسي سو لکه په یوه بَیع کي چي دوې بَیعِ وکي. او په حدیث کي ددې مُمَانَعَت راغلئ دئ عَن اَبِي هُرَیرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَیهِ وَسَلّمَ مَن بَاعَ بَیعَتَینِ فِي بَیعَةٍ فَلَهُ اَوکَسُهُمَا اَوِ الرِّبَا (الف) (ابوداؤدشریف،باب فیمن باع بیعتین في بیعة ص۱۳۴ نمبر ۳۴۶۱\ ترمذي شریف،باب ماجآء في النهي عن بیعتین في بیعة ص۲۳۳نمبر۱۲۳۱) په دې حدیث کي یوه بیع په دُوُ بیوع کي د داخلولوڅخه منع کړې ده. نو ځکه د بیع سره د اِجَارې شرط لګول بَیع فاسدوي .

حاشیه : (الف) حضور صلي الله علیه وسلم په بَیع کي د استثنآء کولو څخه منع وکړه او په عَرَایَا کي رُخصَت ورکړئ .

پام لرنه : ددې مسئلې په شرط کي دمُشتَرِي فائده ده اوپه يوه عَقدکې دبَل عَقد يعني اِجَارې شرط ولګاوئ نو ځکه بَيع فاسد ده .

فائده : په بعضو ملکو کې دا رِوَاج دئ چي چَپَلِي سره برابري کړي او تَنَۍ ورسره ولګوي بيا ئې مُشتَرِي ته ورکوي. او دا عَام مُتَعَارَف دئ چي د دُوګَان ښخه چَوَتِي يا چَپلَکِي هغه وخت رَانِيسِي چي هغه ئې جوړي کړي او تَنَۍ پر ولګوي ورئې کړي نو ځکه په دې ملکو کي د عَام تَعَارُف په وجه بَيع نه فاسديږي .

لُغَت : نَعلٌ : چَوَتَه يا چَپلَکه . يَحذُوَ : د يوې چَوَتِي د بَلِي چوتِي په برابري کاټولو ته،، يَحذُو ،، وائي . يَشرِکُ : په چَوَټُوکي پَتَۍ لګول يا تَنَۍ لګول .

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل کوم چا چي په يوه بيع کی دوې بَيع وکې نو دهغه لپاره د اَدنٰي درجې والا ده يا ئې د سُود والا شَکل دئ .

[٨٩٨](١٧) وَ البَيعُ اِلٰي النِّيرُوزِ وَ المَهرجَانِ وَ صَومِ النّصَارْي وَ فِطرِ اليَهُودِ اِذَا لَم يَعرِفِ المُتَبَايِعَانِ ذَالِکَ فَاسِدٌ .

[٨٩٨](١٧) او خرڅول د نَورُوز تر ورځي پوري او د مَهرجَان تر ورځي پوري او د نَصَارِيْ د روژې تر ورځي پوري او د يهودي د اِفطَار تر ورځي پوري چي کله بَائِع او مُشتَرِي دواړو ته دا نه وي معلوم نو بَيع فَاسِد ده .

تشريح : داسې وويل چي زه د نِيرُوز په ورځ بَيع کوم. د شَمسِي کَال و اَوّلَه ورځ ته نِيرُوز وائي. او د اَهلِ پَارَس د اختر و ورځ ته مَهرجَان وائي. نو اُوس په دغه ورځو کې بَيع وکړه و بَائِع او مُشتَرِي يوه ته نه دئ معلوم چي نَوروز په کومه ورځ دئ او مَهرجَان په کومه ورځ دئ نو وقت (وخت) مجهول سوځکه بَيع فاسد ده .

وجه : په حديث کي تېرسوي دي چي په بَيع کي اَجَل يعني وخت بايد معلوم وي عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ قَدِمَ النّبِيُ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ اَلمَدِينَةَ وَهُم يَسلِفُونَ فِي الثِّمَارِ اَلسّنَتَينِ وَالثّلاَثَ فَقَالَ اَسلِفُوا فِي الثِّمَارِ فِي كَيلٍ مَعلُومٍ اِلٰي اَجَلٍ مَعلُومٍ (الف) (بخاري شريف،باب السلم الي اجل معلوم ص٣٠٠نمبر٢٢٥٣\مُسلم شريف،باب السلم ص٣١نمبر١٦٠٤) ددې حديث ښخه معلوم سو چي په بَيع کي اَجَل معلوم وي بيا بَيع جائز ده. که نه نو مُشتَرِي به ژَر مُطالبَه کوي او بَائِع به په ځنډ سره مَبِيع ورکوي. نو ځکه بَيع فَاسِد ده .

اُصُول : چي اَجَل مجهول وي نو بَيع فَاسِد ده .

پام لرنه : که و بَائِع يا مُشتَرِي ته د نِيرُوز او مَهرجَان يا صَومِ نَصَارْي يا صَومِ يَهُود وخت او تاريخ معلوم وي نو بيا د اَجَل د معلومېدو په وجه بَيع جائز ده .

حاشيه : (الف) حضور مديني ته تشريف راړئ نو هغو خلګو تر دُوُ دُرُو کالُ پوري د مېُوو بَيعِ کولې نو حضور وفرمائل په مېوو کي بَيع کوئ، ګَيل بايد معلوم وي او مُدّت بايد معلوم وي .

[٨٩٩](١٨) وَ لاَ يَجُوزُ البَيعُ اِلْي الحَصَادِ وَالدِّيَاسِ وَ القَطَافِ وَ قُدُومِ الحَاجِّ فَاِن تَرَاضَيَا بِاِسقَاطِ الاَجَلِ قَبلَ اَن يَأخُذَ النّاسُ فِي الحَصَادِ وَالدِّيَاسِ وَ قَبلَ قُدُومِ الحَاجِّ جَازَ البَيعُ .

[٨٩٩](١٨) نه ده جائز بَيع د ګَبنت تر پرېکېدو پوري او د غَنَمُو د غوبَل کولو پوري او د مېوې تر پرېکېدو پوري او د حَاجِي تر راتلو پوري،بيا که چيري ددې مُدّتُو پر ساقطېدو باندي بَائِع او مُشتَرِي راضي سي مخکي تر دې چي خلګ په پرېکېدو او ګاتېدو کي بُخت سي او د حَاجِي تر رَاتلو مخکي نوبيابَيع جائزګرزي .
تشريح : يوچا داسي وويل چي د ګَبنت د پرېکېدو په ورځ بَيع درسره کوم، يا د ګَبنت د پرېکېدو په ورځ مَبِيع درکوم يا چي د غَنَمُو لَو شروع کيږي په هغه ورځ مَبِيع درکوم يا چي په کومه ورځ مېوې پرکيږي په هغه ورځ مَبِيع درکوم يا د حَاجِي د راتلو په ورځ بَيع درسره کوم يا مَبِيع درکوم نو دا ورځي معلومي نه دي. مخته کېدائي هم سي او وروسته کېدائي هم سي. په کومه ورځ ګَبنت رېبي دا نه دئ معلوم. نو ځکه د اَجَل او مُدّت د مجهول والي لکبله دا بَيع فَاسِد ده. که چيري دغه ورځي معلوم سي بيا بَيع جواز پيدا کوي. مګر ! که چيري ددې ورځو د راتلو څخه مخکي دغه مُدّتُونَه ساقط کړي نو ګواکه فَسَاد د راتلو او شاملېدو څخه مخکي سَاقِط سو نو ځکه بَيع جائز ګرزي. اصل قاعده داده چي په مُدّت کي جهالت وي نو بَيع فاسد ده او د ا ختلاف د پيدا کېدو څخه مخکي يا د فَسَاد د راتلو څخه مخکي سَاقِط سي نو بيا بَيع جائز ګرزي. د مسئلې نمبر ١٧ حديث (بخاري شريف، نمبر٢٢٥٣\مُسلم شريف،نمبر١٦٠٤) د څخه علاوه دا اَثَر هم راغلئ دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ لاَ سَلَفَ اِلْي العَطَاءِ وَ لاَ اِلْي الحَصَادِ وَ لاَ اِلْي الاندَرِ (الف) (سننن للبيهقي،

حاشيه : (الف) ابن عَباس وفرمائل د عَطيې تر ملاؤېدو پوري دي بَيع نه کوي نه د ګَبنت تر پرېکېدو پوري او نه د لَو تر وخته پوري . اَلاَندَرُ : ګَبنت رِېبَل .

[٩٠٠](١٩) وَ اِذَا قَبَضَ المُشتَرِيُ المَبِيعَ فِي البَيعِ الفَاسِدِ بِاَمرِالبَائِعِ وَ فِي العَقدِ عِوَضَانِ كُلُ وَاحِدٍ مِنهُمَا مَالٌ مَلَكَ المَبِيعَ وَ لَزِمَتهُ قِيمَتُهُ وَ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنَ المُتَعَاقِدَينِ فَسخُهُ فَاِن بَاعَهُ المُشتَرِيُ نَفَذَ بَيعُهُ .

باب لايجوز السلف حتي يكون بثمن معلوم في كيل معلوم او وَزنٍ معلوم اِلْي اجل معلوم ج۶ص۴۱نمبر١١١١٥) په دې اَثَر کي دئ چي د لَو کولو تر وخته او د پرېکولو تر وخته پوري بَيع کول جواز نه لري. ځکه چي معلوم نه دئ چي په کومه ورځ ګَبنت رېبي او لَو کوي .

پام لرنه : په دې شرطو کي اَجَل مجهول دئ لېکن لَږ مجهول دئ نو ځکه که چيري د وختـه څخه مخکي دا جَهَالَت ساقط کړي نو بَيع جائز ګرزي .

لُغَت : اَلحَصَادُ : ګَبنت پرېکول. دِيَاسٌ : د ګَبنت لَو کول،رېبَل. قَطّافٌ : مېوه پرېکـول .

. . . . . حُكمُ البَيعِ الفَاسِدِ. . . . .

[۹۰۰](۱۹) که مُشتَرِي په بَيع فَاسِدِ کي د بَـائِع پـه حُکم سره پـر مَبِيـع بانـدي قبضـه وکړه او په عَقد کي دواړه عِوَضُونَه مال وي نو مُشتَرِي د مَبِيـع مَالِـک ګـرزي. او پـر ده باندي د مَبِيع قيمت لازم ګرزي. او د بَائِع او مُشتَرِي څخه د هر يـوه لپـاره دا جـائز دئ چي بَيع فَسخ کړي. بيا که چيري مُشتَرِي مَبِيع خرڅه کړه نودده بَيع به لازم سي .

تشريح : چي درې شرطونه موجود سـي نـو پـه بَيـع فَاسِـد کـي مُشـتَرِي د مَبِيـع مَالِـک ګرزي (۱) چي مُشتَرِي پر مَبِيع باندي قبضـه وکـړي (۲) د بَـائِع پـه رَضَـامَندئ سـره قبضـه پـر کـړې وي (۳) مَبِيـع او ثَمَـن دواړه مـال وي. چـي دا درې سـره شـرطونه موجود سي نو مُشتَرِي د مَبِيع مَالِک ګرزي. او پر ده باندي د مَبِيع بَازَارِي قِيمَت لازميږي .

وجه : (۱) په بَيعِ فَاسِدِ کي په صُلبِ عَقد او اَصلِ عَقـد کـي هـيڅ ډول خَـامِي نسـته . ځکه چي په ودواړو خوا ته مَال دئ، ځکه دُوئي ئې مالکان ګرزي. دلته خو پـه شـرط کي خَامِي راغلې ده يو ځائ مُدّت مجهول دئ. په بعضو بُيُوعَـاتُ کـي د بَـائِع فائده او په بَعضُو کي د مُشتَرِي فائده ده. او په بَعضوبُيُوعَاتُ کـي مَبِيـع د بَـائِع د مِلکِيّت څخـه جَلاَ نه ده چي دهغه په وجه بَيع فاسدګرزېدلې ده. ځکه چي په بَعضُـو کـي دُوکَـه ده او په بَعضُو کي د اختلاف او جګړې خطره ده. نـو ددې قبـاحتو د سَدِّبَاب لپـاره ئـې بَيـع فاسد کړې ده. لېکن که چيري جګړه او اختلاف نه راغلئ او آخرکار مُشتَرِي پر مَبِيـع باندي قبضه وکړه نو بَيع به بېرته جواز پيدا کوي (۲) ددې ثبوت پـه حديث کـي سـته چي حضورصلي الله عليه وسلم د جنازې څخـه وَاپَس راروان وُ. يـوې ښـځي دَعـوَت ورته وکړئ. هغې د وُزې(بُوزې) د رَانِيوَلُو لپاره سړئ واستاوئ خو وهغه ته بُـوزَه نه سوه ملاوٴ. خو بيا يوې ښځي د خپل خَاوَند(مېړه) بُوزَه د هغه د اجازې بغيره خـرڅ کړه. او دَعوَت ګَوُنکِي ښځي حلاله کړه او بيـا ئـې و حضورصـلي الله عليـه وسـلم تـه پېش کړه. وحضورصلي الله عليه وسلم ته د وَحِي په ذريعه معلوم سـو چـي ددې وُزې (بُوزې) په اخستلو کي څه خَامِي (نُقص) سته. چي د ښځي څخه پوښـتنه وکـړه نـو معلوم سو چي ښځي د خپـل مَالِـک د اجـازې بغيـره خـرڅ کـړې وه. او بَيـع فاسـد ده. لېکن حضورصلي الله عليه وسلم دا ونه فرمائل چي د ښځي مِلکِيّت تـه نـه دئ راغلـئ بلکه حضور وفرمائل دا ډُوډَئ و قَيدِيَانُو تـه ورکـئ. ددې مطلـب داسـو چـي د قبضـې کولو وروسته د ښځي مِلکِيّت خو ثابت سو په دغه وجه خو وفرمائل چـي وبَنـدِيَانُو تـه ورکړه. لېکن په دي کي کَرَاهَت ضرور سته ځکه خو حضورصلي الله عليه وسـلم پـه

خپله دهغه ښځه خُوَرَاک ونه کړئ عَن رَجُلٍ مِنَ الاَنصَارِ قَالَ خَرَجنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ فِي جَنَازَةٍ ... فَاَرسَلتُ اِلّي اِمرَأتِهِ فَارسَلَت اِلَيّ بِهَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّي اللهُ

[۹۰۱](۲۰) وَمَن جَمَعَ بَينَ حُرٍّ وَ عَبدٍ اَو شَاةٍ ذَكِيّةٍ وَ مَيتَةٍ بَطَلَ البَيعُ فِيهِمَا .

عَلَيهِ وَسَلّمَ اَطعِمِيهِ الأسَارْي (الف) (ابوداؤدشريف،باب في اجتناب الشبهات ص١١۶نمبر٣٣٣٢) په دې حديث کي ودې ته اشاره سوې ده چي په بَيعِ فَاسِد کي د قبضې کولو وروسته مُشتَرِي د مَبِيع مَالِک ګرزي .

(۱) چي په بَيع فَاسِدکي مُشتَرِي مَقبُوضَه مَبِيع پربَل چاباندي خرڅه کړي نو هغه دومه بَيع نَافِذ ده.ځکه چي داَوّلِ بَيع په اَصل عَقد او صُلب کي هيڅ ډول خَامِي نه وه. صرف دهغه په وَصف او شرط کي خَامِي وه او هغه هم د اختلاف او جګړې پيداکېدوبغيره ختم سوه نواَوّله بَيع هم نَافِذ سوه(۲)داَوّلَنئ بَيع په خَامِي کي د شريعت حق وُ او دومه بَيع د بَنده حق دئ. اودبنده حق مُقَدّم دئ نوځکه دبنده د حق لکبله دشريعت کِشنِي کِشنِي حقوق ساقطيږي. نو ځکه د مُشتَرِي بَيع به نَافِذ سي .

پام لرنه : چي په صُلبِ عَقد او اَصلِ عَقد کي خَامِي وي نو بَيع بَاطِل ده. په داسي صورت کي د بَائِع او مُشتَرِي د رَضَامَندَئ باوجود مُشتَرِي د مَبِيع مَالِک نه جوړيږي. بلکه بَيع ګواکه سوې نه ده .

[۹۰۱](۲۰) يو چا په يَيع کي آزاد او غُلاَم سره جمع کړل يا ئې حلاله کړې وُزَه او مُردَارَه سوې وُزَه سره جمع کړې نو په دواړو کي بَيع بَاطِل ده .

وجه : (۱) آزاد خو ګرسره مَبِيع نه دئ. دغه رنګه مُردَارَه سوې وُزَه مَبِيع نه ده نو ځکه ددې بَيع سوي هم نه ده. او عَقد يو دئنوځکه ددې اَثَر پر دُوَمَه مَبِيع يعني مَرَيِي او حلاله سوې وُزَه باندي هم پرېوزي او د هغه بَيع هم نه صحيح کيږي (۲) د

حاشيه : (الف) و فرمائل چي موږ د حضور صلي الله عليه وسلم سره يوې جنازې ته رَاوَوَاتُو ... ما د هغه وښَځَه ته حال وروااستاوئ چي وُزَه راکه نو هغې وُزَه ماته رَاوَاستَوَلَه. نو حضور وفرمائل چي ډُوډَئ په قَيدِيَانُو (بَندِيَانُو)وَخُورَئ .

[۹۰۲](۲۱) وَ مَن جَمَعَ بَينَ عَبدٍ وَ مُدَبّرٍ اَو بَينَ عَبدِهِ وَ عَبدِ غَيرِهِ صَحّ البَيعُ فِي العَبدِ بِحِصّتِهِ مِنَ الثّمَنِ .

آزاد او مُردَارِ سوي وُزې د بَيع د نه صحيح کېدلو په وجه د غُلاَم او حلالِ سوي وُزې په قِيمت کي هم جَهَالَت راغلئ نو ځکه د مَرَيِي او حلالِ سوي وُزې بَيع هم نه صحيح کيږي .

اُصُول : دلته دا اُصُول دئ چي د آزاد او مُردَارِي سوي وُزِې بَيع سوې هم نـه ده نـو ځکـه ددې د اَثَر لکبله د مَرَپِي او حلالِ سوي وُزِې بَيع هم فَاسِدِيږِي .

فائده : صاحبين فرمائي که چيري د غُلاَم قِيمَت جلا بيـان کـړئ وُ او د آزاد قِيمَـت ئـې جـلا بيان کړئ وُ نو د غُلاَم بَيع صحيح کيږي که څه هم دواړه په يوه عَقد کي خرڅ سوي وي .

وجه : ځکه چي د دواړو د قِيمَت د جـلا والـي لکبلـه د آزاد بَيـع سـوې نـه ده نـو بيـا د غُلاَم په قِيمت کی هيڅ ډول جَهَالَت نه راغلئ لِهٰذَا د غُلاَم بَيع نه فاسديږي. دغـه رنګـه که د حلالِ سوي وُزِې قِيمَت جلا بيان سوئ وُ نو د مُردَارِ سوي وُزِې بَيع نه ده سـوې خو بيا هم د حلالِ سوي وُزِې په قِيمَت کي کوم خاص جَهَالَت نه دئ راغلئ نو ځکـه د حلالِ سوي وُزِې بَيع به صحيح سي .

لُغَت : ذَکِيّةٌ : حلال سوې .

[۹۰۲](۲۱) يو چا غُلاَم او مُدَبّر سره جمع کړل يا ئې خپل غُلاَم او د بَل چـا غُـلاَم پـه بَيع کي سره جمع کړل نو په غُلاَم کي بَيع صحيح ده د خپل قِيمَت د حِصّې مُطَابِق .

تشريح : غُلاَم او مُدَبّر غُلام دواړه په يوه بَيع کي سره جمع کړل. يا ئې خپـل غُـلاَم او د بَل چا غُلاَم د هغه د اِجَازې بغيره په يوه بَيع کي سره جمع کړل نو د مُـدَبّر بيـع خـو نه صحيح کيږي لېکن د خَالِص غُلاَم بَيع صحيح کيږي. او دهغـه د حِصّـې چـي کـوم قِيمَت وي هغه لازميږي. مثلاً مُدَبّر او غُلاَم دواړه په دوه زَرَه باندي خرڅ کـړل نـو د خَالِص غُلاَم قِيمت زَر روپۍ سو نو زَر رُوپۍ لازمي دي. دغه رنګه د بَل چَا غُلاَم د

[۹۰۳](۲۲) وَ نَهْي رَسُولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ عَنِ النّجَشِ .

هغه د اجازې بغيره په بَيع کي نه داخليږي. لـېکن د خپـل غُـلاَم بَيـع صـحيح سـوه. او دهغه د حِصّې چي کوم قِيمَت دئ هغه پر مُشتَرِي باندي لازم دئ .

وجه : مُدَبّر د بعضو امامانو په نېز د غُلاَم پـه شَـان د خـرڅلاؤ قَابِل دئ لِهٰذَا دا مَـال دئ. په حـديث کـي دئ عَن جَـابِرٍ قَـالَ بَـاعَ النّبِـيُ صَـلّي اللهُ عَلَيـهِ وَسَلّمَ اَلمُـدَبّرَ(الف) (بخاري شريف،باب بيع المدبر ص۲۹۷نمبر۲۲۳۰) ددې حديث څخه معلوم سو چـي مُدَبّر غُلاَم د خرڅلاؤ قَابِل دئ. نو ځکه که چيـري دئ د خـالص غُـلاَم سـره يـو ځـائ کړئ نو بَيع صحيح سوه. وروسته بيا د مُدَبّر د بَيع د نه صحيح کېدو په وجه بـه دهغـه قِيمت جلا وي او کَم به وي. نو ځکه د غُلاَم بَيع وسـوه. دغـه رنګـه صـورت دئ چـي خپل غُلاَم او د بَل غُلاَم په بَيع کي سره يو ځائ کړي .

اُصُول : دا مسئله پر دې اُصُول باندي مُتَفَرّع ده چي د مَبِيع سـره دُوَمَـه مَبِيـع مـال دئ او د خرڅولو قَابِل دئ. نو ځکه دواړه مَبِيع خرڅ سو لېکن په يو بَلَـه وجـه هغـه دُوَمَـه مَبِيع نه سوه خرڅه نو اَوّله مَبِيع په بَيع کي داخله ده. او دهغې قِيمَـت د هغـې د حِصّـې مُطَابِق لازميږي .

پام لرنه : د مسئله نمبر ٢٠ أُصُول داوُچي دسَره څخـه د آزاد بَيـع سـوې هـم نـه ده نـو ځکه دهغه سره يو ځائ سوئ غُلاَم دهغه بَيع هم فَاسِد ده.او دلتـه خـو مُـدَبّر مِـن وَجـهٍ مال دئ نوددې په وجه بَيع صحيح سوې ده او وروسته به دقِيمَت تقسيم وسي .

[٩٠٣](٢٢) او حضور منع وکړه د نَجَش څخه .

تشريح : د نَجَش مطلب دادئ چي په خپله خو نه اَخلِي صرف بُولَئ ورکـوي او د شِـي قِيمَت زِيَاتَوِي چي بل خوک ئې ګران واخلي. و دې ته دَلاَلِي کول وائـي دارنګـه کـول مکروه دئ .

حاشيه : (الف) حضرت جابر فرمائي چي حضور مُدَبّر غُلاَم خرڅ کړئ .

[٩٠٤](٢٣) وَ عَنِ السّومِ عَلْي سَومِ غَيرِهِ .

وجه : (١) په دي کي و بَل چا ته نُقصَان ورکول دئ ځکه دا کـار مکـروه دئ (٢) پـه حديث کي د دارنګه کار څخه منع راغلي ده عَن اِبنِ عُمَرَ قَـالَ نَهْـي النّبِـيُ عَـنِ الـنّجَشِ (الف) (بخاري شريف،باب النجش ومن قال لايجوز ذالک البيـع ص٢٨٧نمبـر٢١٤٢\مُسـلم شريف،باب تحريم بيع الرجل علي بيـع اخيـه وسـومه علـي سـومه وتحـريم الـنجش وتحـريم التصرية ص٣نمبر١٥١٦\ترمذي شريف،باب ماجآء في کراهية النجش ص٢٤٤نمبـر١٣٠٤) ددې حديث څخه معلوم سو چي دَلاّلِي کول ممنوع ده خو بيا بَيع صحيح کيږي. ځکه چي په صُلبِ عَقد کې خَامِي نسته .

[٩٠٤](٢٣) او منع وکړه د بَل پر بَيَه باندي د بَيِي ورکولو څخه .

تشريح : يو سړئ بَيع کوي يَو نَرخ ئې ورکـړئ دئ. اُوس دُوئـي وبَيـع کولـو تـه سـره نژدي سو تَه يو بَل نَرخ ورکړې دارنګه کول مکروه دئ .

وجه : (١) هغه اَوّل نرخ ورکونکئ په دې سـره مُتَـوَحّش کيـږي او وهغـه تـه نُقصَـان دئ ځکه مکروه دئ (٢) په حـديث کـې د دارنګـه کولـو څخـه منـع کـړې ده عَـن اَبِـي هُرَيرَةَ قَالَ نَهْي رَسُولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ اَن يَبِيعَ حَاضِـرٌ لِبَـادٍ وَ لاَ تَنَاجَشُـوا وَ لاَ يَبِيـعُ الرّجُلُ عَلْي بَيعِ اَخِيهِ (ب) (بخاري شريف،باب لايبيع علْي بيع اخيـه ولايسـوم علْـي سـوم اخيه حتْي يؤذن له او يترک ص٢٨٧نمبر٢١٤٠\مُسلم شريف،باب تحـريم بيـع الرجل علْـي بيع اخيه وسومه علْي سـومه ص٣نمبـر١٥١٥) ددې حـديث څخـه معلـوم سـو چـي نَـرخ ورکوي او وهغه ته مَائِل سوئ وي نوپر هغه باندي بيا بَل نَرخ ورکول مکروه دئ .

پام لرنه : که چيري دغه مُشتَرِي تر اُوسه لا ودې بَيع ته نه وي مَائِل سوئ نو دغه

حاشيه : (الف) حضور د نَجَش يعني دَلاّلِي کولو څخه منع وکړه (ب) او حضـور ددې څخـه منـع وکـړه چـي د بنَار سړئ د صَحرَا والا لپاره خرڅ کړي يا دَلاّلِي وکړي. او نَه دي څوک د وُرُور پر نَرخ باندي بَل نَرخ ورکوي .

[٩٠٥](٢٤) وَ عَن تَلَقّيِ الجَلَبِ .

بَل بیا بَل نَرخ پر ورکولائي سي. ځکه چي داخو بیا,, بَیعُ مَن یَزِید ,, ده. او په حدیث کي ددې اجازت سته عَن اَنَسِ بِنِ مَالِکٍ اَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ بَاعَ حَلسًا وَ قِدَحًا وَقَالَ مَن یَشتَرِي هٰذَاالحَلسَ وَالقِدَحَ فَقَالَ رَجُلٌ اَخَذتُهُمَا بِدِرهَمٍ فَقَالَ النَّبِيُ صَلّي اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ مَن یَزِیدُ عَلْي دِرهَمٍ ؟ مَن یَزِیدُ عَلْي دِرهَمٍ ؟ فَاَعطَاهُ رَجُلٌ دِرهَمَینِ فَبَاعَهُمَا مِنهُ (الف) (ترمذي شریف،باب ماجآء في بیع من یزیدص۲۳۰نمبر۱۲۱۸) په دې حدیث کي حضورصلي الله علیه وسلم ,, بَیعُ مَن یَزِیدُ ,, کړې ده او ځو کسانانو پر یوه نَرخ باندي بَل نَرخ ورکړۍ دئ لېکن یو ځوک هم مُکَمّل و اخستلو ته مَائِل سوئ نه وُ نو ځکه و بَل چا ته پر هغه نَرخ باندي بَل نَرخ ورکول جائز وُ .

اُصُول : ویو چا ته نُقصَان رسول یا یو ځوک مُتَوَحِّش کول مکروه دئ. حدیث ,, لاَ ضَرَرَ وَ لاَ ضَرَارَ ,, مخکي تېر سوئ دئ .

لُغَت : اَلسّومُ : نَرخ ورکول. یو قِیمَت ورکول .

[۹۰۵](۲۴) او منع وکړه حضور د سوداګرانو سره د ملاؤېدو څخه .

تشریح : د ,, تَلَقِّيْ ,, معنْي ده مَخ ته تَلَل او د یو چا سره ملاؤېدل. او د ,, الجَلَبُ ,, معنْي ده رَاکَشَوَل یا مَنفَعَت کَشَوَل. دلته د,, تَلَقِّيْ الجَلَبُ ,, معنْي ده چي د ښَار د باندي څخه سوداګران سامان راوړي او یو ځوک د ښَار څخه دباندي د دُوئي سره ملاؤ سي او ټوله سَامَان په کم قِیمَت ځیني وَاخلِي. په دې نِیّت چي دا سَامَان بیا پر ښَار والو باندی په ګران قِیمَت خرڅ کړي. ودې ته,, تَلَقِّيُ الجَلَبُ ,, وائي. ددې د

حاشیه : (الف) حضور ځَل او پیَالَه خرڅه کړه او وفرمائل دا ځَل او پیَالَه ځوک اَخلِي ؟ یوه سړي وویل ما دغه دواړه په یَوَه دِرهَم واخستله. حضور بیاوفرمائل د یوه دِرهَم څخه زِیَات ځوک ورکوي ؟ د یوه دِرهَم څخه زِیَات ځوک ورکوي ؟ نو یوه سَړِي وحضور ته دُوَه دِرهَم ورکړه نوحضور هغه دواړه پر هغه سړي خرڅ کړل .

---

[۹۰۶](۲۵) وَ عَن بَیعِ الحَاضِرِ لِلبَادِي .

مکروه والي

وجه : (۱) چي دا کله نا کله و سوداګر ته دُوګه ورکوي چي د ښَار په صحیح قِیمت ئې نه خبروي او د سوداګر څخه په اَرزَان بَیَه سَامَان اَخلِي.په دي کي د سوداګر نُقصَان دئ.په دغه وجه مکروه دئ (۲) چي کله نا کله د ښَار وخلکو ته مثلاً د غَلّې سخت ضرورت وي. د باهر څخه راغلې غَلّه یو ځو مَخصُوصُ تاجرانو واخستله نو اُوس د ښَار وخلکو ته غَلّه نه ملاویږي یا به ډېره ګران ملاؤیږي. په دې صورت کي د ښَار د خلګو نُقصَان دئ. نو په دغه وجه هم ,, تَلَقِّيُ الجَلَب ,, مکروه دئ (۳) په حدیث کي د,, تَلَقِّيُ الجَلَب ,, څخه منع راغلې ده عَن اَبِي هُرَیرَةَ قَالَ نَهي رَسُولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ عَنِ التَّلَقِّي وَ اَن یَبِیعَ حَاضِرٌ لِبَادٍ (الف) (بخاري شریف، باب النهي عن تلقي الرکبان ص۲۸۹نمبر۲۱۶۲\مُسلم شریف،باب تحریم تلقي الجلب

ص۴نمبر ۱۵۱۹) ددې حديث څخه معلوم سو چې حضور صلي الله عليه وسلم د,, تَلَقِّيُ الجَلَب ,, څخه منع کړې ده .

اُصُول : چې د ښَار دخلګو نُقصَان پکښې وي نو بيا دا بَيع مکروه ده .

پام لرنه :که چيرې دښَار و خلګو ته ددې غَلّې ضرورته نه وي او وراتلونکو قَافِلُو ته هم ددې په قِيمَت ورښولو کې څه خاص دُوګه ورنه کړي نو بيا,, تَلَقِّيُ الجَلَب ,, مکروه نه دئ .

[۹۰۶](۲۵) او حضور منع وکړه چې د ښَارخلګ د صَحرَآء دخلګو لپاره بَيع وکړي.

تشريح : مثلاً د ښَار وخلګو ته د غَلّې سخت ضرورت وي او دهغه باوجود د ښَار يو بَاشِندَه د صَحرآء و بَاشِندَه ته وائي چې ته تَلوَار مَه کوه زه وتاته په ګران قِيمَت دا

حاشيه : (الف) حضور د ,, تَلَقِيُ الجَلَب ,, څخه منع وکړه او ددې څخه هم چې د ښَار سړئ ئې پر صَحرآئي باندي خرڅ کړي .

[۹۰۷](۲۶) وَ البَيعِ عِندَ اَذَانِ الجُمعَةِ .

سَامَان (غَلّه) درخرڅوم نو دا عَمَل مکروه دئ .

وجه : (۱) ځکه چې په دې کې دښَار د خلګو نُقصَان دئ.هغه مُحتاج دي دهغو زِيَات حَق دئ (۲) په حديث کې مُمَانَعَت راغلئ دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ نَهي النّبِئُ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ عَنِ التلقّي وَ اَن يَبِيعَ حَاضِرٌ لِبَادٍ (الف) (بخاري شريف،باب النهي عن تلقي الركبان ص۲۸۹نمبر ۲۱۶۲\مُسلم شريف،باب تحريم بيع الحاضر للبادي ص۴نمبر ۱۵۲۰) په دې حديث کې د ضرورت په وخت کې د ښَار د تاجرانو د صَحرَآء پر خلګو باندي د شي د خرڅولو څخه منع راغلې ده. او که چيرې د ښَار د خلګو ضرورت نه وي بيا ئې د صَحرَآء پر خلګو باندي خرڅولائي سي. ددې دليل دا اَثَر دئ سَألتُ اِبنَ عَبّاسٍ مَا مَعنْي قَولُهُ لاَ يَبِيعَنّ حَاضِرٌ لِبَادٍ ؟ قَالَ لاَ يَکُونُ لَهُ سِمسَارٌ (ب) (بخاري شريف،باب النهي عن تلقي الركبان ص۲۸۹ نمبر ۲۱۶۳\مُسلم شريف،باب تحريم بيع الحاضرللبادي ص۴نمبر ۱۵۲۱) په دې اَثَر کې عبدالله بن عباس وفرمائل چې يو خرڅونکئ تَاجِر دي دَلاّل نه جوړيږي چې په زِيَات قيمت ئې خرڅ کړي، او که چيرې دَلاّل نه جوړيږي نو بيا که د ښَار خلګ د صَحرآء پر خلګو باندي سَامَان خرڅ کړي نو جائز دئ مکروه نه دئ .

لُغَت : حَاضِرٌ : دښَار خلګ کوم چې حاضر وي. بَادٍ : د صَحرآء خلګ .

[۹۰۷](۲۶) او منع وکړه د جُمعې د اذان په وخت کې د بَيع کولو څخه .

تشريح : چې د جُمعې اذن وسي نو په دغه وخت کې بَيع کول مکروه ده .

وجه : په آيت کې ويل سوي دي چې د جُمعې د اذان پر وخت بَيع پرېښول په کار ده او د جُمعې د لمانځه لپاره تَګ کول په کار دئ. يَا اَيّهَا الّذِينَ آمَنُوا اِذَا نُودِيَ لِلصّلٰوةِ

حاشيه : (الف) حضور د ,, تَلَقِيُ الجَلَب ,, څخه منع وکړه او ددې څخه هم چي د ښَار سړئ ئې پر صَحرآئي باندي خرڅ کړي (ب) دحضرت عبدالله بن عباس څخه د ,, لاَيَبِيعَنّ حَاضِرٌ لِبَادٍ ,, مطلب وپوښتئ نو وفرمائل چي د دُوئي لپاره دي دَلاَل نه جوړيږي . ,, سِمسَار ,, و دَلاَل ته وائي .

[۹۰۸](۲۷) وَ کُلّ ذَالِکَ يُکرَهُ وَ لاَ يُفسِدُ بِهِ البَيعُ .

مِن يَومِ الجُمُعَةِ فَاسعَوا اِلٰي ذِکرِاللهِ وَ ذَرُوا اَلبَيعَ (الف) (آيت ۹سورة الجمعة۶۲) په دې آيت کي ويل سوي دي چي د جُمعې د اذان په وخت کي دي بَيع کول پرېښ دي. نو ځکه په دغه وخت کي بَيع کول مکروه ده .

[۹۰۸](۲۷) دا ټوله مکروه دي لېکن ددې څخه بَيع نه فاسديږي .

تشريح : لُوړ پنځه صورتونه بيان سوي دي چي دهغه څخه بَيع مکروه کيږي لېکن بَيع نه فاسديږي .

وجه : په لُوړو پنځو صورتو کي د بَيعِ په صُلب او اصل عقد کي هيڅ ډول خامي نسته بلکه هغه شرطونه يا دهغه په شان نور شيَان دي نو ځکه بَيع نه فاسديږي بلکه صرف مکروه کيږي. نتيجه ئې دا راوزي چي که چيري مُشتَرِي پر مَبِيع باندي قبضه وکړي نو مُشتَرِي د مَبِيع مَالِک ګرزي خو بياهم دارنګه کول مکروه کار دئ. داسي کول نه دئ په کار. دهري مسئلې وجه او تشريح مخکي تېره سوې ده .

حاشيه : (الف) ائ مؤمنانو چي د جُمعې په ورځ د لمانځه لپاره اذان وسي نو د الله د ذِکر پر لوري مَندَه وکړئ او بَيع کول پرېږ دئ .

[۹۰۹](۲۸) وَ مَن مَلَکَ مَملُوکَينِ صَغِيرَينِ اَحَدُهُمَا ذُورَحِمٍ مَحرَمٍ مِنَ الآخَرِ لَم يُفَرِّق بَينَهُمَا وَ کَذَالِکَ اِذَا کَانَ اَحَدُهُمَا کَبِيراً وَ الآخَرُ صَغِيرًا فَاِن فَرّقَ بَينَهُمَا کُرِهَ ذَالِکَ وَ جَازَ البَيعُ وَ اِن کَا نَا کَبِيرَينِ فَلاَ بَأسَ بِالتّفرِيقِ بَينَهُمَا .

[۹۰۹](۲۸) يو ځوک د دُوُ د کِشنِيَانُو مَملُوکَانُو مالک سو،ددې ځخه يو د هغه بَل ذِي رَحِمِ مَحرَم دئ نو د دواړو تر مينځ دي تفريق نه کوي.دغه رنګه که چيري د دُوئ ځخه يو لُوئ وي او بَل کِشنَئ وي. بيا که چيري دُوئ ځله جلا کړل نو دا مکروه دئ. او بَيع جائز ده. او که دواړه لُوئ وي نو بيا د دواړو په جلاوالي کي ځه حرج نسته .

تشريح : چي دواړه مَملُوک کِشنِيَان وي يا يو لُوئ او بَل کِشنَئ وي او دواړه ذِي رَحِمِ مَحرَم وي نو چي د دُوئ ځخه يو خرڅ يا هِبَه کړي ځله جلا ئې کړي دا مکروه دئ .

وجه : (۱) دا کِشنَئ د دَابَل ځخه اُنس حاصلوي مثلاً مُور او زُوئ وي نو مُور د خپل زُوئ ځخه اُنس اخلي او پَالَنَه رُوزَنَه ئې کوي،نو اُوس که چيري دُوئ ځله جلا کړل نو دواړه به پريشان سي او په پَالَنَه رُوزَنَه کي به هم کَمِي راسي. نو ځکه دواړه ځله جلاکول مکروه دئ. خو بيا هم دواړه د مَولْي مملوک دي نو ځکه که چيري خرڅ يا هِبَه کړل نو جائزدئ (۲) په دې جلاوالي کي و مَملُوک ته ضَرَر رسيږي ځکه مکروه دئ (۳) په حديث کي دئ عَن اَبِي اَيّوبَ الاَنصَارِيِّ قَالَ سَمِعتُ رَسُولَ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ يَقُولُ مَن فَرّقَ بَينَ الوَالِدَةِ وَوَلَدِهَا فَرّقَ اللهُ بَينَهُ وَبَينَ اَحَبّتِهِ يَومَ القِيَامَةِ (نمبر۱۲۸۳) په يو بَل حديث کي دئ عَن عَلِيٍّ قَالَ وَهَبَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ غُلاَمَينِ اَخَوَينِ فَبِعتُ اَحَدَهُمَا فَقَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ يَا عَلِيُ مَا فَعَلَ غُلاَمَکَ فَاَخبَرتُهُ فَقَالَ رَدّهُ رَدّهُ (الف) (ترمذي شريف،باب ماجاء في كراهية الفرق بين الاخوين او بين الوالدة وولدها في البيع ص۲۴۱نمبر۱۲۸۴) په دې حديث کي حضور صلي الله عليه وسلم د مُور او د وُرور د جلاکېدو ځخه منع کړې ده.لِهٰذَا د کِشنِي مَملُوک تر مينځ جدائي راوستل مکروه ده. او که چيري دواړه مَرَيَان غَتّان (لُويَان) وي نو بيا ئې ځله جلا کول ځه پرواه نه لري .

حاشیه : (الف) ما دحضور څخه دا وَینَا اوربدلي ده، کوم چا چي د مُور او دهغه د بَچي تر مینځ تَفرِیق راوستئ الله به دهغه او دهغه د مَحبُوب تر مینځ د قیامت په ورځ تَفرِیق راولي، حضرت عَلِي فرمائي چي حضور وماته دوه مَرَیَان راکړل چي هغه دواړه سره وُرُونَه وُ، نو ما دهغو څخه یو خرڅ کړئ، حضور وماته وویل ائ عَلِي ! خپل مَرَیَئ دي څه په وکړئ ؟ ما وهغه ته د خرڅولو خَبَر ورکړئ، حضور وفرمائل دا وَاپَس ګه دا وَاپَس ګه .

..... بَابُ الاِقَالَةَ .....

[۹۱۰](۱) اَلاِقَالَةُ جَائِزَةٌ فِي البَیعِ لِلبَائِعِ وَ المُشتَرِي بِمِثلِ الـثّمَنِ الاَوّلِ .

..... بَابُ الاِقَالَةَ .....

ضروري پام لرنه: داِقَالي مطلب دادئ چي بَائِع دمَبِیع دخرڅولوروسته پښېمان سي چي ما غلطه سودا وکړه. بیا و مُشتَرِي ته ووائي چي وماته وَاپَس مَبِیع راکه او خپل ثَمَن دي واخله او مُشتَرِي دغه رنګه وکي ودي ته اِقَالَه وائي. یا مُشتَرِي پر اخستلو باندي پښېمان سي او و بَائِع ته ووائي چي مَبِیع وَاپس واخله او ثَمَن راکه او بَائِع دغه رنګه وکي ودي ته اِقَالَه وائي. دا رنګه کول جائز بلکه افضل او ښَه کار دئ. په حدیث کي ددې ثبوت سته عَن اَبِي هُرَیرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَیهِ وَسَلّمَ مَن اَقَالَ مُسلِمًا اَقَالَهُ اللهُ عَثرَتُهُ (الف) (ابوداؤد شریف،باب في فضل الاقالة ج۲ص۱۳۴نمبر۳۴۶۰\ابن ماجه شریف،باب الاقالة ص۳۱۵نمبر ۲۱۹۹) ددې حدیث څخه معلوم سو چي اِقَالَه کول جائز ده بلکه که چیري دهغه بَل فریق ضرورت او مجبوري وي نو په اِقَالَه یعني د مَبِیع په وَاپَس کولو کي ثواب دئ .

[۹۱۰](۱) اِقَالَه جائز ده په بیع کي د بَائِع لپاره او د مُشتَرِي لپاره د ثَمَنِ اَوّل په مثل سره .

تشریح : د بَائِع او مُشتَرِي دواړو لپاره اِقَالَه جائز ده. لېکن په کوم قِیمَت چي بیع سوې وه بَائِع به هغونه قِیمَت وَاپَس کوي. کم هم نه او زیات هم نه. بَائِع چي څومره قِیمَت مخکي اخستئ دئ هغه قِیمَت دي وَاپَس کي. و دغه ته ,, بِمِثلِ الثَمَنِ الاَوّل,,وائي .

حاشیه : (الف) حضور وفرمائل کوم چاچي دمُسلمان سره اِقَالَه وکړه نوالله به دهغه ګناهونه معاف کړي .

[۹۱۱](۲) فَاِن شَرَطَ اَکثَرَ مِنهُ فَالشّرطُ بَاطِلٌ وَ یُرَدّ بِمِثلِ الـثّمَنِ الاَوّلِ .

وجه : (۱) د بَائِع او مُشتَرِي تر مینځ یوه نَوې بَیع نه ده سوې چي قِیمَت زیات واخلي یا کَم واخلي بلکه د اِقَالي مطلب دئ هغه اَوّله بَیع ماتول نو ځکه هغه اَوّل قِیمَت به وَاپَس کوي (۲) حدیث دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ اَنّهُ کَرِهَ اَن یَبتَاعَ البَیعَ ثُمّ یَرُدّهُ وَ یَرُدّ مَعَهُ

دَرَاهِمَ وَ فِي هٰذَا دَلاَلَـةٌ عَلْـي اَنّ الاِقَالَـةَ فَسـخٌ فَـلاَ تَجُـوزُ اِلاّ بِـرَأسِ المَـالِ(الف) (سـنن للبيهقي،باب من اقال المسلم اليه بعض المسلم وقبض بعضـا ج۶ص۴۵ نمبـر۱۱۱۳۳) (۳) عَـنِ الاَسْـوَدِ اَنّـهُ كَـرِهَ اَن يَرُدّهَـا وَ يَـرُدّ مَعَهَـا شَـيئًا (ب) (مصـنف عبدالرزاق،ج۸ص۱۹نمبر ۱۴۱۳۱) په دې اَثَر کي حضرت عبدالله بـن عَبّـاس د ثَمَـن سره څه نور زِيَات شئ ورکول مکروه ګڼلئ دئ .

اُصُول : ,, اِقَالَه ,, د مخکي سوي بَيعِ فَسخ کول ده .

[۹۱۱](۲) نو که چيري د مخکني قيمت څخه زِيَات شرط ولګاوئ يا ئې دهغه څخـه د کَم شرط ولګاوئ نو شرط ئې بَاطِل دئ.او ثَمَنِ اَوّل به وَاپَس کوي .

تشريح : مثلاً په څلور سوه ئې مَبِيع واخستله او مُشتَرِي د اِقَالې کولو لپاره پنځـه سوه دِرهَم غُوَارِي يا بَائِع وويل چـي د اِقَـالې لپـاره درې سوه درکومـه نـو دغـه د کَمَـئ او زِيَادَتِئ شرط بَاطِل دئ. خو په دي کي د شرط لګولو څخه اِقَالَه نـه بـاطليږي بلکـه پـر هغه ثَمَنِ اَوّل باندي به اِقَالَه کيږي .

وجه : لوړ د ابن عَبّاس اَثَر تېر سوئ دئ چي زِيَاتُوب ورکول ئې مکروه ګڼل .

حاشيه : (الف) حضرت ابن عباس دا نَاخَوښَه ګڼل چي څوک بَيع وکي بيا هغه وَاپَس کړي او دهغه سـره يـو څـو دِرهَمَ وَاپَس کړي. په دې قَول کي پر دې خبره باندي دلالت دئ چي اِقَالَه کول بَيع فَسخ کـول دئ. نـو ځکـه نـه ده جائز مګر د رَأسُ المَال يعني په اَوّل قِيمَت باندي (ب) حضرت اَسوَد نَاخُوَښَه ګڼل چي مَبِيع وَاپَس کړي او دهغـه سره يو څو نور شئ وَاپَس کړي .

[۹۱۲](۳) وَ هِيَ فَسخٌ فِي حَقِّ المُتَعَاقِدَينِ بَيعٌ جَدِيدٌ فِـي حَـقِّ غَيرِهِمَـا فِي قَولِ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي .

پام لرنه : پر ثَمَن باندي به هغه وخت اِقَالَه کيږي تر څو چي په مَبِيع کي کوم عَيب نـه وي پيدا سوئ .

[۹۱۲](۳) اِقَالَه د مُتَعَاقِدَينُ په حق کي فَسخ ده او ددې دُوُ څخه علاوه د نورو پـه حق کي نوې بَيع ده د امام ابوحنيفه پر قول باندي .

تشريح : چي اِقَالَه ئې وکړه نو د بَائِع او مُشتَرِي تر مينځ دهغه اَوّلِ بيـع فسـخ ده. هغـه بَيع ختم سوې ده لېکن د دې دو څخه علاوه د نورو خلکو په حق کي دا اِقَالَه بَيعِ جَدِيـد ده. ګواکه مُشتَرِي د بَائِع سره نوې بَيع کوي. ځکه چي هغه نوئ سړئ ئـې وينـي چـي مَبِيع د مُشتَرِي د لاس څخه وزي او د بَائِع لاس ته روانه ده او اِيجَاب و قَبُول هم سره کوي. نو ځکه د دريم سړي په حق کي دا بَيع جديد ده. په دغه وجه خو کـه څـوک پـر دغه موقع باندي حَقِّ شُفعَه طلب کړي نو حَقِّ شُفعَه طلب کولائي سي .

وجه : مخکي اَثَر تېر سوئ دئ چي د مُتَعَاقِدَينُ په حـق کـي دا اِقَالَـه فسـخ ده عَـن اِبـنِ عَبّاسٍ اَنّهُ كَرِهَ اَن يَبتَاعَ البَيعَ ثُمّ يَرُدّهُ وَ يَرُدّ مَعَهُ دَرَاهِمَ وَ فِي هٰذَا دَلاَلَـةٌ عَلْـي اَنّ الاِقَالَـةَ

فَسخٌ فَلاَ تَجُوزُ اِلاّ بِرَأسِ المَالِ(الف) (سنن للبيهقي،باب من اقال المسلم اليه بعض المسلم وقبض بعضا ج۶ص۴۵ نمبر۱۱۱۳۳) په دې اَثَر کي دئ چي اِقَالَه د مُتَعَاقِدَينُ په حق کي فسخ ده. البته د د بَل دریم سړي په حق کي به بَیعِ جَدِید وي .

حاشيه : (الف) حضرت ابن عباس دا نَاخَوښَه ګڼل چي ځوک بَیع وکي بیا هغه وَاپَس کړي او دهغه سره یو څو دِرهَمَ وَاپَس کړي. په دې قَول کي پر دې خبره باندي دلالت دئ چي اِقَالَه کول بَیع فَسخ کول دئ. نو ځکه نه ده جائز مګر د رَأسُ المَال یعني په اَوّل قِیمَت باندي .

[۹۱۳](۴) وَ هَلاَکُ الثّمَنِ لاَ یَمنَعُ صِحّةَ الاِقَالَةِ وَ هَلاَکُ المَبِیعِ یَمنَعُ صِحّتَهَا [۹۱۴](۵) وَ اِن هَلَکَ بَعضُ المَبِیعِ جَازَتِ الاِقَالَةُ فِي بَاقِیهِ .

[۹۱۳](۴) او د ثَمَن هلاکت د اِقَالې صحیح والئ نه منع کوي او د مَبِیع هلاکت ددې صحیح والئ منع کوي .

تشریح : چي ثَمَن هلاک سي، دبائع سره نه سي پاته نو بیا هم اِقَالَه کېدلائي سي. لېکن چي د مُشتَرِي سره مَبِیع هلاک سي نو بیا اِقَالَه نه سي کېدلائي .

وجه: اصل خو د مَبِیع واپسي ده. هغه د مُتَعَیّن کولو څخه مُتَعَیّنَه ګرزي. قِیمَت او روپۍ خو هسي هري روپۍ ورکولائي سي. لېکن که چیري مَبِیع هلاک سي نو کوم شئ به وَاپَس کوي ؟ لِهٰذَا چي مَبِیع هلاک سي نو بیا اِقَالَه نه سي کولائي. او چي ثَمَن هلاک سي نو دا پونډونَه ئې نه صحیح نور پونډونه به بَائِع وَاپَس کړي. نو ځکه د ثَمَن د هلاکت باوجود اِقَالَه کېدلائي سي .

اُصُول : په اِقَالَه کي د مَبِیع وَاپَسِي اصل شئ وي .

[۹۱۴](۵) که بعض مَبِیع هلاک سي نوپه دا پاته کي اِقَالَه جائز ده .

تشریح : مثلاً شُپَږ کېلو غَنَم ئې په لَس روپۍ اخستي وُ.بیا درې کېلو غَنَم هلاک سو نو باقي مانده درې کېلو غَنَم وَاپَس کولائي سي او پِنځَه روپۍ وَاپَس اخستلائي سي .

وجه : اِقَالَه په هغونه مقدار کي کیږي چي څونه مقدار مَبِیع موجود ده نو ځکه په دي کي څه خاص حرج نسته .

پام لرنه : که و دواړو خُوَاوُ ته سامان وُ مثلاً مَبِیع غَنَم او ثَمَن جُوَارِي وُ نو اُوس خو دواړه مَبِیع جوړېدلائي. او دواړه مُتَعَیّن کېدلائي سي نو ځکه که مَبِیع یعني غَنَم هلاک سو نو جُوَارِي هم مَبِیع جوړېدلائي سي لِهٰذَا په دې صورت کي هم اِقَالَه صحیح کېدلائي سي .

..... بَابُ المُرَابَحَةِ وَ التّولِیَةِ .....

..... بَابُ المُرَابَحَةِ وَ التّولِیَةِ .....

ضروري پام لرنه : مُرَابَحَه : د ,, مُرَابَحِې ,, مطلب دادئ چي په هر څونه چې اخستئ دئ بَائِع و مُشتَرِي ته صفا صفا ووائي چي ما مثلاً په لَس پونډ دا مَبِيع اخستې ده او دوه پونډ ګټه درڅخه اخلم په دُوُلَس پونډ درباندي خرڅوم.په دي کې دوه پونډ نفع اخستې ده ځکه ودې ته مُرَابَحَه وائي. که بَائِع نفع (ګټه) واخلي لېکن و مُشتَرِي ته دا ونه وائي چي دُونه ګټه مې در څخه واخسته داعَامَ بَيع ده ودې ته مُرَابَحَه نه وائي .په مُرَابَحَه کې هغه اَوّل قِيمَت وربښول ضروري دئ. دا ځکه وي چي د مُشتَرِي اِعتِمَاد راسي او دُوکَه نه وي. ددې ثبوت په دې اَثَر کي سته رَأيتُ عَلْي عَلِيٍّ اِزَارًا غَلِيظًا قَالَ اِشتَرَيتُ بِخَمسَةَ دَرَاهِمَ فَمَن اَربَحَنِي فِيهِ دِرهَمًا بِعتُهُ اِيّاهُ (سنن للبيهقي،باب المرابحة ج٥ص٥٣٨نمبر١٠٧٩٤) په دې اَثَر کې په پنځَه دِرهَمَ اِزَار اخستئ وُ او د يوه دِرهَم په مُرَابَحَه حضرت عَلِي خرڅاوئ. نو ددې څخه د بَيعِ مُرَابَحِې ثبوت وسو .

تَولِيَة : د تَولِيې مطلب دادئ چي بَائِع و مُشتَرِي ته ووائي چي ما مثلاً په لَس پونډ دا مَبِيع اخستې ده او په هغه لَس پونډ درباندي خرڅومه. چي په څونه ئې اخستئ وي په هغونه قيمت ئې د مَبِيع مَالِک جوړولو ته تَولِيَه وائي. که دا نه ورته وويل چي په دونه قيمت ما اخستئ دئ نو ودې ته توليه نه وائي. دا عام بَيع ده. ددې بَيع ثبوت په دې حديث کي دئ قَا لَت عَائِشَةُ فَبَينَمَا نَحنُ يَومًا جُلُوسٌ فِي بَيتِ اَبِي بَكرٍ ... قَالَ اَبُوبَكرٍ فَخُذ بِاَبِي اَنتَ يَارَسُولَ اللهِ اِحدْي رَاحِلَتَيّ هَاتَينِ قَالَ رَسُولُ اللهِ بِالثَّمَنِ (الف) (بخاري شريف،باب هجرة النبي واصحابه الْي المدينة ص٥٥٣نمبر٣٩٠٥\بخاري شريف،باب اذا اشتريْ متاعًا او دابةً فوضعه عندالبائعص٢٨٧نمبر٢١٣٨) په دې حديث کي حضور و ابوبکر ته وفرمائل چي وُښَه دي په څونه اخستې ده په هغونه ئې ورکه. ځکه حضور

حاشيه : (الف) حضرت ابوبکر وفرمائل زوما مُور او پلار دي ستا قُربان سي زوما ددې دو وُښَانُو څخه يوه ته واخله. حضور وفرمائل په اَوّل قيمت ئې اخلم .

[٩١٥](١) وَ المُرَابَحَةُ نَقلُ مَا مَلَكَهُ بِالعَقدِ الاَوّلِ بِالثّمَنِ الاَوّلِ مَعَ زِيَادَةِ رِبحٍ [٩١٦](٢) وَ التّولِيَةُ نَقلُ مَا مَلَكَهُ بِالعَقدِ الاَوّلِ بِالثّمَنِ الاَوّلِ مِن غَيرِ زِيَادَةِ رِبحٍ .

وفرمائل ,, بِالثّمَنِ ,, يعني ,, بِالثّمَنِ الاَوّلِ ,, نو ددې څخه د بَيعِ تَولِيې ثبوت وسو .

[٩١٥](١) بَيعِ مُرَابَحَه مُنتَقِل کول دئ د کوم شي چي مَالِک جوړ سوئ دئ په عَقدِ اَوّل کي په ثَمَنِ اَوّل سره د نفع دزياتوبَ سره .

تشريح : په اَوّله بَيع کي دکومِي مَبِيع چي په څونه قيمت مَالِک سوئ دئ چي پر هغه قِيمَت باندي يو څه ګټه واخلي او خرڅ ئې کړي ودې ته ,, مُرَابَحَه ,, وائي .

وجه : مُرَابَحَه د ,, رِبحٌ ,, څخه مُشتق ده ددې معنْي ده فائده اخستل. نو ځکه پر هغه اَوّل قيمت باندي دئ نَفع اخلي. په دغه وجه ودې ته مُرَابَحَه وائي .

[۹۱۶](۲) او بَيعِ تَولِيَه هغه خو مُنتقِل کول دئ د کوم شي چي دئ مَالِک جوړسوئ دئ په اَوّل عَقد کِي په هغه اَوّل ثَمَن سره بغيره د نَفعِ د زِيَاتوب څخه .

تشريح : په اَوّله بَيع کې په څونه اخستئ دئ په هغه قيمت سره و خرڅولو ته بَيعِ تَولِيَه وائي .

وجه : په هغه اَوّل قيمت سره مُشتَرِي دمَبِيع وَلِي يعني مالک جوړيږي پر هغه باندي هيڅ ډول نفع نه اخلي نو ځکه ودې بَيع ته تَولِيَه وائي (۲) د مُرَابحې او تَوليې دواړو بُيُوعُ دليل په ضروري پام لرنه کي تېرسوئ دئ (بخاري شريف.نمبر۳۹۰۵\سنن للبيهقي.نمبر۱۰۷۹۴)

[۹۱۷](۳) وَ لاَ تَصِحّ المُرَابَحَةُ وَ التّولِيَةُ حَتّيْ يَكُونَ العِوَضُ مِمّا لَهُ مِثلٌ [۹۱۸](۴) وَ يَجُوزُ اَن يُضِيفَ اِلْي رَأسِ المَالِ أُجرَةُ القَصّارِ وَ الصّبّاغِ وَ الطّرّازِ وَالفَتَلِ وَ أُجرَةُ حَملِ الطّعَامِ .

[۹۱۷](۳) نه صحيح کيږي مُرَابَحَه او تَولِيَه تر هغو چي عِوَض دهغه شِيَانُو څخه وي کوم چي مِثل لري .

تشريح :مُرَابَحَه او تَولِيَه خو هغه وخت کېدلائي سي چي ددې ثَمَن مِثلِي وي. که چيري ثَمَن مِثلِي نه وي نو مُرَابَحَه او تَولِيَه نه سي کېدلائي. مثلاً غَنَم.وُرِيجِي.دِرهَم او دِينَارُونَه وي چي په دُنيا کي دهغه په رنګه نور ملاؤېدلائي سي، غُوَا.ګامېښَه او دغه رنګه بَل شئ وي چي دهغه په رنګه يعني دهغه مِثل بَل نه سي ملاؤېدائي. کِشنَئ يا غَبَ به ضرور وي .

وجه : چي دهغه په شَان بَل ملاؤېدلائي سي نوهغه وخت به بيا هغه بَل مُشتَرِي ثَمَن ورکوي او مَبِيع به ځيني اخلي. او که چيري دهغه په شَان بَل نه سي ملاؤېدلائي نو دغه بَل مُشتَرِي به څِش ورکوي چي ځيني وايخلي ؟ او پر دې باندي به څه رنګه نَفع ورکوي يا به هغه قيمت ورکوي ؟ نو په دغه وجه د مُرَابَحې او تَولِيې لپاره ضروري دئ چي په مِثلِي ثَمَن به مَبِيع اخستې وي .

[۹۱۸](۴) او جائز دئ چي په رَأسُ المَال کي جمع کړي د دُوبِي مزدوري.د رَنګسَاز مزدوري.د ګُلګَارِي کونکي مزدوري.د پېچَلُو مُزدُورِي او د خُوَرَاکِي شِيَانُو د پورته کولو مزدوري .

تشريح : په هر څونه چې مَبِيع اخستې ده بيا دهغې مَبِيع لپاره د کومو کومو کارو په وجه چي په دې مَبِيع کي زِيَاتُوب راغلئ دئ يعني نوره خرچه پر راغلې ده دهغه اُجرَت به هم په ثَمَن او قيمت کي شامليږي. او چي مُرَابَحَه کوي هغه وخت دئ

ويلائي سي چي وماته دا مَبِيع په دونه پرته ده. مثلا په لَس روپۍ ئې کپړه واخستله. دوې روپۍ ئې دهغې پر پربمنځلو ورکړې نو اُوس ثَمَن دُوُلَس روپۍ سو. چي مُرَابَحَه يا تَولِيَه کوي په هغه وخت دئ ويلائي سي چي وماته دا کپړه په دُوُلَس روپۍ پرته ده. په تَولِيَه کې په دُوُلَس روپۍ درکوم او په مُرَابَحَه ئې مثلاً په پنځلس روپۍ درکوم .

پام لرنه : د دُوبِي په مينځلو سره کپړه نوره ځليږي او چَمَک ئې زياتيږي ګوا ددې مينځلو په وجه په کپړه کي زياتوب راغلئ،دغه رنګه د رَنګرېز د رَنګائي ښخه، دنَقش او نِګَار کونکي د رَنګ و نِګَار ښخه او رَسّئ د وُودَلُو ښخه ددې شيانو قيمت زياتيږي. دغه رنګه غَلّې چي د يوه ځائ ښخه و بَل ځائ ته نقل کړي نو دهغې قيمت زياتيږي مثلاً په دې ښار کي کېلو په پنځه روپۍ دئ نو په بَل ښَار کي لَس روپۍ قيمت لري. نو ځکه د غَلّه جَاتُ د يوه ځائ ښخه و بَل ځائ ته د مُنتَقِلولو اُجرَت به هم په اَصل قيمت کي ملاويږي. په اَثَر کي ددې ثبوت سته قُلتُ لِإبرَاهِيمَ اِنّا نَشتَرِي المَتَاعَ ثُمّ نَزِيدُ عَلَيهِ القَصّارَةُ وَ الكَرَ آ ءُ ثُمّ نَبِيعُهُ بِدِينَارٍ زِيَادَةٍ قَالَ لاَ بَأسَ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۴۷ في النفقة تضم الْي رأس المال ج۴ص۳۰۸ نمبر۲۰۴۰۴) په دې اَثَر کې فرمائلي دي چي د پربمنځلو خرچه او کِرَايَه په اصل کي شاملولائي سي .

اُصُول : د کومو کارو ښخه چي په قيمت کي زياتوب راځي د هغو اُجرَت به په ثَمَن کي شاملوي .

لُغَت : اَلقَصّارُ : دُوبِي. اَلصّبّاغُ : رنګرېز. اَلطّرّازُ : نقش او نګار کونکئ. اَلفَتَلُ : رَسّئ پيچل او وُودَل .

حاشيه : (الف) ما وحضرت ابراهيم ته وويل چي موږ سَامَان اَخلُو، بيا پر هغه باذدي د پرې مينځلو قيمت او کِرَايَه اَچوُ بيا هغه يو دِينَار زِيَات خرڅو نوحضرت ابراهيم وفرمائل هيڅ د حرج خبره نه ده .

[۹۱۹](۵) وَ يَقُولُ قَامَ عَلَيّ بِكَذَا وَ لاَ يَقُولُ اِشتَرَيتُهُ بِكَذَا [۹۲۰] (۶) فَاِن اِطّلَعَ المُشتَرِيُ عَلْي خِيَانَةٍ فِي المُرَابَحَةِ فَهُوَ بِالخِيَارِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي اِن شَآ ءَ اَخَذَهُ بِجَمِيعِ الثّمَنِ وَ اِن شَآ ءَ رَدّهُ .

[۹۱۹](۵) او وائي به چي وماته په دُونه پروت دئ او دا دي نه وائي چي دا ما په دُونه اخستئ دئ .

تشريح : اُجرَت او دهغه په رنګه نور کوم شئ چي په اَصل قيمت کي شامليږي د هغه د شاملېدو وروسته دي دا نه وائي چي دا شئ ما په دونه اخستئ دئ. ځکه چي داخو دُروَاغ دي په دونه خو ده نه دئ اخستئ. لِهْذَا داسي دي ووائي چي دا و ماته په دونه پروت دئ .

اُصُول : انسان دي په هر حال کي رِشتِيَا وائي. چي اِعتِمَاد پر ځَائ پاته وي .

لُغَت : قَامَ عَلَيّ بِکَذَا : وماته په دونه پروت دئ .

[۹۲۰](۶) بیا که مُشتَرِي په بَیعِ مُرَابَحَه کي په خِیَانَت باندي خبر سو نو دامام ابوحنيفه په نېز وده ته اختيار دئ که خُوَښَه سي په پوره قيمت دې واخلي او که خُوَښَه سي وَاپَس دې کي .

تشريح : مثلاً په لَس روپیٔ ئې ګېره اخستې وه او ده خِیَانَت وکئ وویل چي دا ما په دُوُلَس روپیٔ اخستې ده. او درې روپیٔ ګټه درڅخه اَخلَم په پنځلس روپیٔ ئې مثلاً درباندي خرڅوم. مُشتَرِي پر ده باندي اِعتِمَاد وکئ او ځیني وائې خستله وروسته مُشتَرِي ته معلوم سو چي بَائِع خو دُرَوَاغ ویلي دي. ده په لَس روپیٔ اخستې وه او زوما څخه درې روپیٔ نه بلکه پنځه روپیٔ ګټه اخستې ده. نو د امام ابوحنيفه په نېز و مُشتَرِي ته اختيار دئ که اَخلِي که رَد وي. لېکن که اَخلِي نو په پنځلس روپیٔ به اَخلِي. پر لَس باندي درې روپیٔ واچوي په دِیَارلَس روپیٔ ئې قَانُونًا نه سي اخستلائي .

وجه : که په دِیَارلَس روپیٔ واخلي بیا هم مُرَابَحَه ده او که په پنځلس روپیٔ واخلي بیاهم مُرَابَحَه ده. په دواړو صورتو کي مُرَابَحَه ده.اوبَائِع دمُرَابَحې لفظ استعمال کړئ دئ چي په هغه کي دئ رِشتِیَا ګوئي دئ لِهٰذَا که اَخلِي نو په پنځلس به اَخلِي. البته د دُوُ روپیٔ دُرَوَاغ ئې ویلي دي نو ځکه ومُشتَرِي ته اختيار سته که اَخلِي که نه اَخلِي. دا مسئله پر دې اُصُول باندي ده چي بَائِع چي کوم د مُرَابَحې لفظ ویلئ دئ په هغ کي دئ رِشتُونَئ دئ. د دُرُوغ ګُوئي په وجه و مُشترِي ته د رَدّوَلُو اختيار سته. په دې حدیث کي ودې ته اشاره سوې ده عَن اَبِي ذَرٍّ عَنِ النّبِيِّ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ قَالَ ثَلاَثَـةٌ لاَ يَنظُرُ اللهُ اِلَيهِم يَومَ القِيَامَةِ وَ لاَ يُزَكِّيهِم وَ لَهُم عَذَابٌ اَلِيمٌ. قُلنَا مَن هُم يَارَسُولَ اللهِ ؟ فَقَد خَابُوا وَ خَسِرُوا فَقَالَ اَلمَنّانُ وَ المُسبِلُ اِزَارَهُ وَ المُنفِقُ سَلعَتَهُ بِالحَلفِ الكَاذِبِ (الف) (ترمذي شريف،باب ماجآء فيمن حلف علْي سلعته کاذبًا ص۲۳۰نمبر ۱۲۱۱) په دې حدیث کي ودې ته اشاره ده چي څوک دُروغجَن قسم وخوري او د خپل سَامَان نرخ او قيمت زياتوي پرهغه باندي د الله عذاب دئ .

پام لرنه : که چیري دواړه دغه د دُرَوَاغُ درې روپیٔ کَمِي کړي او پر ورکولو رانیولو باندي راضي سي نو دُوئي داسی کولائي سي. خو قَانُونًا بَائِع پر دا باندي نه سي مجبورکولائي .

حاشیه : (الف) حضور وفرمائل و درو کسانو ته الله تعالْي دقیامت په ورځ د رَحمت په نظر نه ګوري او نه به دُوئي پاک کړي او د دُوئي لپاره دَردنَاکَ عذاب دئ. ما ورته وویل ائ د خدائ رسول ! خَائِب او خاسِر دي سي هغه څوک دي ؟ نو حضور وفرمائل اِحسَان اَچَوُنګئ،هغه چي پَرتُوګ ئې کَښَتَه ځړيږي، په دُرُوغجَن قسم سره خپل سَامَان خرڅونکئ .

[۹۲۱](۷) وَ اِن اِطّلَعَ عَلْي خِيَانَةٍ فِي التّولِيَةِ اَسقَطَهَا مِنَ الثّمَنِ [۹۲۲](۸) وَ قَالَ اَبُويُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي يَحُطّ فِيهِمَا وَ قَالَ مُحَمّدٌ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي لاَ يَحُطُ فِيهِمَا لْكِن يُخَيّرُ فِيهِمَا .

[۹۲۱](۷) او که پر خِيَانَت باندي مُطّلِع سو په بَيعِ تَولِيَه کي نو د ثَمَن څخه به هغونه کموي .

تشريح : مثلاً په لَس روپيځ ئې کپړه اخستې وه او دُروَاغ ئې وويل چي په دِيَارلَس روپيځ مِي اخستې ده او په هغه دِيَارلَس روپيځ بَيعِ تَولِيَه درسره کومه نو د امام ابوحنيفه په نېز به په دې صورت کي درې روپيځ کموي په لَس روپيځ به اَخلِي .

وجه : تَولِيَه ودې ته وائي چي مَبِيع ما په دونه اخستې ده او په هغونه قيمت ئې درباندي خرڅومه او په حقيقت کي ده په لَس روپيځ اخستې وه، دُروَاغ ئې وويل چي ما په دِيَارلَس روپيځ اخستې ده. نو ځکه چي په هر څونه ده اخستې وي په هغه قيمت به مُشتَرِي اَخلِي. دا مسئله پر دې اُصُول باندي ده چي کوم د تَولِيې لفظ ده ويلځ دئ دهغه لفظ پر حقيقت به فيصله کيږي او په هغه قيمت باندي مُشتَرِي د اخستلو حقداره دئ. او هغه قيمت ګم دئ يعني لَس روپيځ.حديث لُوړتېرسوئ دئ .

اُصُول : د بَيعِ مُرَابحې او تَولِيې دارومدار دهغې پر لفظو باندي دئ .

[۹۲۲](۸) امام ابويوسف وفرمائل چي په دواړو صورتو کي به ګمَوِي، او امام مُحمد وفرمائل چي په دواړو صورتو کي به نه ګمَوِي لېکن ودواړو ته به اِختِيَار ورکول کيږي .

تشريح : امام ابويوسف فرمائي چي په مُرَابَحَه اوتَولِيَه دواړوکي چي په دُروَاغُو هر څونه قيمت ويلځ دئ او اَخَستې دئ هغونه به ځيني ګمَوِي او و مُشتَرِي ته د اَخَستَلُو حق دئ. مثلاً په دغه ذِکر سوي مثال کې په لَس روپيځ ئې اَخَستې وه او دُروَاغ ئې وويل چي په دِيَارلَس روپيځ مِي اَخَستې ده نو درې روپيځ ئې دُروَاغ ويلي

[۹۲۳](۹) وَ مَن اِشتَرْي شَيئًا مِمّا يُنقَلُ وَ يَحُولُ لَم يَجزِ لَهُ بَيعُهُ حَتّيْ يَقبِضَهُ .

دي او اَخَستې دي نو ځکه په مُرَابَحَه او تَولِيَه دواړو صورتو کي به درې روپيځ ګمَوِي او اَخلِي به. نو د مُرَابَحې په صورت کي به د پنځلس پر ځائ دِيَالَس روپيځ ورکوي او د تَولِيې په صورت کي به لَس روپيځ ورکوي. امام محمد فرمائي چي د مُرَابَحې او تَولِيې په دواړو صورتو کي به نه ګمَوِي .

وجه : بَائِع د تَرغِيب اوتَشوِيق لپاره دمُرَابَحې او تَولِيې خبره کړې ده. اصل مقصد خو هغه قيمت دئ چي خبره پر سوې ده. بَائِع په مُرَابَحه کي مثلاً تر پنځلس څخه ګم

او په تَولِيَه کي مثلاً تر دِيَارلَس څخه کَم ورکولو باندي نه دئ راضي. او پر دغه باندي خبره هم سره طَئ سوې ده نو ځکه ددې څخه به نه کَمَوِي. خو صرف دادئ چي بَائِع دُروَاغ ويلي دي نو ځکه ومُشتَرِي ته د اَخَستَلُو او نه اَخستَلُو اختيار سته . دده اُصُول دادئ چي په هر څونه قيمت خبره سره سوې ده هغونه قيمت لازم دئ. د مُرَابَحې او تَولِيې لفظ صرف د تَرغِيب لپاره دئ .

لُغَت : يَحُطّ : کَمَوِي به. د ,, حَطٌ ,, څخه مُشتَق دئ معنْي کَمَوَل .

[۹۲۳](۹) يو چا داسي شئ رَانِيوَئ چي مُنتَقِل کېدائي سي نو دهغه بَيع جواز نه لري تر څو چي پر هغه باندې قبضه کړې نه وي .

وجه : (۱) پر مُنتَقِل کېدونکي شي دي اَوّل قبضه وکي بيا دې مخته خرڅ کړي. ځکه چي که د قبضې کولو څخه مخکي خرڅ کړي نو کېدلائي سي چي هغه شئ دي ضَائِع سي او تر ده پوري دي نه راورسيږي نو بيا به څه رنګه خرڅوي ؟ (۲) مخکي حديث تېرسوئ دئ چي کوم شئ چي ستاسو په لاس کي نه وي هغه مَه خرڅوئ ,, لاَ تَبِع مَا لَيسَ عِندَکَ ,, (ابوداؤدشريف،نمبر۳۵۰۳) (۳) په بَل حديث کي راغلي دي چي مَبِيع د قبضه کولو څخه مخکي مَه خرڅوئ عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّ النّبِيّ صَلّي اللّٰهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ قَالَ مَن اِبتَاعَ طَعَامًا فَلاَ يَبِيعُهُ حَتّي لِيَستَوفِيهِ زَادَ اِسمْعِيلُ فَلاَ يَبِعهُ حَتْي يَقبِضَهُ (الف) (بخاري شريف،باب بيع الطعام قبل ان يقبض وبيع ماليس عندک ص ۲۸۶نمبر۲۱۳۶\مُسلم شريف،باب بطلان بيع المبيع قبل القبض ص۵نمبر۱۵۲۵\ ابوداؤدشريف،نمبر۳۴۹۲) په دې حديث کي دئ چي پر مَبِيع مي قبضه نه وي کړې تر هغو ئې مَه خرڅوئ. نو ځکه مَنقُولِي شَئ دقبضه کولو څخه مخکي خرڅول جواز نه لري .

[۹۲۴](۱۰) وَ يَجُوزُ بَيعُ العِقَارِ قَبلَ القَبضِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ وَ اَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُمَا اللّٰهُ وَ قَالَ مُحَمّدٌ رَحِمَهُ اللّٰهُ تَعَالْي لاَ يَجُوزُ .

[۹۲۴](۱۰) او جائز دئ مځکه خرڅول د قبضې کولو څخه مخکي د امام ابوحنيفه او امام ابويوسف په نېز او امام مُحمد فرمائلي دي چي جواز نه لري .

وجه : (۱) مځکه مَنقُولِي شئ نه ده. نو ځکه په دې کي د هلاکت کومه خطره نسته لِهٰذَا که چيري مځکه د قبضې کولو مخکي خرڅه کړه نو جائز ده (۲) حضرت عبدالله ابن عَبّاس فرمائلي دي چي د قبضې کولو شرط د غَلّې او دغه په شان نورو شيانو لپاره دئ. چي په نتيجه کي داځيني معلوميږي چي مځکه او دهغې په شان نور شيان د قبضې کولو څخه مخکي خرڅول جائز دي سَمِعتُ اِبنَ عَبّاسٍ يَقُولُ اَمّا اَلّذِي نَهْي عَنهُ النّبِيُ فَهُوَ اَلطّعَامُ اَن يُبَاعَ حَتّيْ يُقبَضَ (ب) (بخاري شريف،باب بيع الطعام قبل ان يقبض ويبيع ماليس عندک ص۲۸۶نمبر۲۱۳۵) په دې اَثَر کي دئ چي د غَلّې په باب

کي دادئ چي د قبضې کولو څخه مخکي دې نه خرڅوي. ددې مطلب دا سو چي مځکه او د هغې په شان نور شیان د قبضې کولو څخه مخکي هم

حاشیه : (الف) حضور وفرمائل کوم چاچي غَلّه خرڅه کړه نو هغه دي نه خرڅوي تر دې چي هغه پورا پورا وَاخلِي،اِسمْعِیل رَاوِي دا هم فرمائلي دي چي هغه دي نه خرڅوي تر هغه وخته چي پرهغه باندي قبضه ونه کړي (ب) بَهَر حال د کوم شي څخه چي حضور منع کړې ده هغه غَلّه جَات دي چي د قبضې کولو څخه مخکي خرڅ سي .

[۹۲۵](۱۱) وَ مَن اِشتَرْي مَکِیلاً مُکَایَلَةً اَو مَوزُونًا مُوَازَنَةً فَاکتَا لَهُ اَو اِتّزَنَهُ ثُمّ بَاعَهُ مُکَایَلَةً اَو مُوَازَنَةً لَم یَجزِ لِلمُشتَرِي مِنهُ اَن یَبِیعَهُ وَ لاَ اَن یَأ کُلَهُ حَتّي یُعِیدَ الکَیلَ وَ الوَزنَ .

مخکي هم خرڅولائي سي (۳) په اَثَر کي راغلي دي عَن اِبنِ سِیرِینَ قَالَ لاَ بَأسَ اَن یَشتَرِيَ شَیئًا لاَ یَکَالُ وَ لاَ یُوزَنُ بِنَقدٍ ثُمّ یَبِیعُهُ قَبلَ اَن یَقبِضَهُ (الف) (مصنف عبدالرزاق،باب الرجل یشتري الشيء مِمّا لایکال ولا یوزن هل یبیعه قبل ان یقبضه ج۸ص۴۳نمبر۱۴۲۳۰) امام محمد فرمائي چي مځکه هم د قبضې کولو څخه مخکي خرڅول جواز نه لري .

وجه : دده دلیل هغه مخکي حدیث دئ چي په هغه کې مُطلقًا د قبضې کولو څخه مخکي خرڅول ناجائز فرمائلي دي .

[۹۲۵](۱۱) یو چا کَیلِي شئ کَیل کړئ رائېنیوئ یا وَزنِي شئ ئې په وَزن کړئ رائېنیوئ بیا ئې هغه کَیل کړئ یا ئې وَزَن کړئ بیائې هغه په کَیل یا په وَزَن سره خرڅ کړئ نو د مُشتَرِي لپاره دا جواز نه لري چي هغه خرڅ کړي او نه دا جواز لري چي هغه وَخُورِي تر هغه وخته پوري چي دُوَم وَار دا کَیل یا وَزَن کړي .

تشریح : کَیلِي شئ مثلاً غَنَم وُرِیجِي او وَزنِي شئ مثلاً دِرهَم او دَنَانِیر ئې په کَیل او وَزَن سره واخستل. او په کَیل یا وَزَن سره ئې د بَائِع څخه واخستل اُوس دغه په پېمَانَه کوي یا ئې وزن کوي خرڅوي ئې په اَټکَل ئې نه خرڅوي نو هغه اَوّل پېمانه او وزن کفایت نه کوي. بلکه د بَل مُشتَرِي په مخکي به دوباره بیا په پېمانه کوي. یا که وَزنِي شئ وُ نو وَزَن کوي به .

وجه : (۱) هغه اَوّلَه پېمانه یا وزن و اَوّل مُشتَرِي ته د حواله کولو لپاره وُ. نو دغه

حاشیه : (الف) حضرت ابن سیرین وفرمائل هیڅ دحرج خبره نه ده چي سړئ داسي شئ رَانِیسِي چي نه کَیل کیږي او نه وَزَن کیږي په نَغدُو باندي بیا هغه د قبضې څخه مخکي خرڅ کړي .

وَزَن د بَل مُشتَرِي لپاره کفایت نه کوي. که په پېمانه یا په وَزَن ده اخستئ وُ نو ددې ومخته به بیا دُوَم وار پېمانه یا وَزَن کوي. چي وده ته اطمینان سي. او هیڅ ډول کَمَئ یا زِیَاتُوب رامینځ ته نه سي (۲) په آیت کي ددې تاکید سوئ دئ اَلّذِینَ اِذَا اِکتَالُوا عَلْي النّاسِ یَستَوفُونَ وَ اِذَا کَا لُوهُم اَو وَزَ نُوهُم یُخسِرُونَ (الف) (آیت ۳\۲سورة المطففین ۸۳

) په دې آيت كي د كَيل يا د وَزَن وركولو تاكيد سوئ دئ (٣) پـه حـديث كـي دئ عَن عُثمَانَ اَنّ النّبِيّ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ قَالَ اِذَا بِعتَ فَكِل وَ اِذَا اِبتَعتَ فَاكتَل (ب) (بخـاري شريف،باب الكيل علي البائع والمعطي ص٢٨٥نمبر٢١٢٦\ مُسلم شـريف،باب بطـلان بيـع المبيع قبل القبض ص٥نمبر ١٥٢٨) (٤) په ابن ماجه شريف كـي حـديث دئ عَن جَـابِرٍ قَالَ نَهْي رَسُولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ عَن بَيعِ الطّعَـامِ حَتّـيْ يَجرِي فِيـهِ الصّـاعَانِ صَـاعُ البَائِعِ وَصَاعُ المُشتَرِي (ج) (ابن ماجه شريف،باب النهي عن بيع الطعام قبل مـالم يقبض ص٣١٩نمبر٢٢٢٨) په دې حديث كي دئ چي تر څو چي مُشتَرِي پيمانه كړي نـه وي تر هغه وخته پوري دې مخته پر بَل مُشتَرِي باندي نه خرڅوي .

پام لرنه : د دغه حديث په وجه د خُوَړَلُو پر محال دوباره بيا كَيل كـول اِستِحبَابِي اَمـر دئ. ځكه چي كېدلائي سي چي غَلّه زِيَاته راغلې وي نو بَائِع ته به بېرته وَاپَس كي. يا كَمَه راغلې وي چي هغه بيا ځيني وَاخلِي .

پام لرنه : كه په كَيل يا وَزَن سره نه كړه خرڅ بلكه په اَټكَل سره ئې خرڅ كړل نو بيا دوباره د كَيل يا وَزَن ضرورت نسته .

اُصُول : و چاته پوره مَال وركول په كار دئ او پـوره ځينـي اَخَسـتَل پـه كـار دئ. پـر دغه اُصُول باندي دا مسئله مُتَفَرّع ده .

حاشيه : (الف) او هغه خلګ چي دخلګو څخه په كَيل باندي اَخلِي نو پوره ئې اَخلِي. او چي كَيل وركوي يـا وَزَن وركوي نو كَم وركوي (ب) حضور وفرمائل چي خرڅوئ ئې نو په پيمانه كوئ ئې خرڅوئ ئې او چي رَانِيسئې نو پيمانه كوئ ئې (ج) حضور د غَلّه جَاتُ د خرڅولو څخه منع وكړه تر هغه وخته چي په هغـه كـي دُوې صَـاعِ جاري سي، د بَائِع صَاع او د مُشتَرِي صَاع .

[٩٢٦](١٢) وَ التّصَرّفُ فِي الثّمَنِ قَبلَ القَبضِ جَائِزٌ .

[٩٢٦](١٢) او تَصَرّف كول په ثَمَن كي د قبضې څخه مخكي جائز دئ .

تشريح : بَائِع د خرڅلاؤ خبره كړې ده او مَبِيع ئې وركړې ده لېكن مُشـتَرِي تـر اُوسَـه ثَمَن نه دي وركړي او نه بَائِع پر هغه باندي قبضه كړې ده. ددې څخه مخكي په دغـه ثَمَن سره يو شئ اَخَستَل وَغُوَارِي نو اخستلائي سي. يا ثَمَن هِبَه كول وَغُوَارِي نـو هِبَـه كولائي سي .

وجه : ثَمَن په مُتَعَيّن كولو سره نه مُتَعَيّن كيږي نو كه چيري دغـه ثَمَـن ورنـه كـړه نـو ددې په بَدَل كي به بَل ثَمَن يا روپئ وركړي. خاص دغـه ثَمَـن وركـول څـه ضـروري خو نه دي. دغه ثَمَن مُتَعَيّن كول خو صرف و بَـائِع تـه د اطمينـان وركولولپـاره وُ. پـه اَثَر كي دئ چي د ثَمَن په بَدلَه كي بَل شئ هم وركولائي سـي عَـن اِبـنِ سِـيرِينَ قَـالَ اِذَا بِعتَ شَيئًا بِدِينَارٍ فَحَلّ الاَجَلَ فَخُذ بِالـدّينَارِ مَاشِئتَ مِن ذَالِـکَ النّـوعِ وَغَيـرِهِ (الـف) (مُصـنف عبـدالرزاق،باب السـلعة يسـلفها فـي دينارهـل يأخذغيرالـدينارج٨ ص١٦ نمبر١٤١١٦) په دې اَثَر ي دئ چي كه ثَمَن دِينَار وي نو دهغه پـه بَدلَـه كـي بَـل شـئ

هم اَخَستَلائي سي. نو ددې مطلب داسو چې ثَمَن په مُتَعَيّن کولو سره نه مُتَعَيّن کيږي. نو ځکه د قبضې کولو څخه مخکې هم په ثَمَن کي تصرف کولائي سي .

پام لرنه : ثَمَن که چيري سَامَان وي نو هغه په مُتَعَيّن کولو سره مُتَعَيّن گرزي نو ځکه هغه د قبضې کولو څخه مخکي نه سي خرڅولائي.دلائل ئې مخکي تېر سوي دي .

حاشيه : (الف) اِبنِ سِيرِين وفرمائل که چيري تا يو شئ د دِينَار په بَدلَه کي خرڅ کړئ بيا ئې وخت راغلئ نو د دِينَار په بَدلَه کي چي څه دي خُوښَه سي وَايَخلَه دهغه قسم څخه وي يا دهغه څخه علاوه وي .

---

[۹۲۷](۱۳) وَيَجُوزُلِلمُشتَرِي اَن يَزِيدَلِلبَائِعَ فِي الثّمَنِ[۹۲۸] (۱۴) وَيَجُوزُلِلبَائِعِ اَن يَزِيدَفِي المَبِيعِ وَيَجُوزُاَن يَحُطّ مِنَ الثّمَنِ.

[۹۲۷](۱۳) او د مُشتَرِي لپاره جائز دئ چي و بَائِع ته ثَمَن زِيَات ورکړي .

تشريح : مثلاً په لَس روپئ ئې کپړه اخستې ده نو اُوس مُشتَرِي په خوشحاله خوشحالي سره دُوُ ُلَس روپئ ورکوي نو ورکولائي سي .

وجه : (۱) دا خو د مُشتَرِي مِلکِيّت دئ چي څه رنګه وَغُوَارِي خرچولائي سي (۲) په حديث کي راغلئ دي چي قيمت زيات ورکول سوئ دئ عَن اَبِي رَافِعٍ قَالَ اِستَسلَفَ رَسُولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ بِكرًا فَجَائتهُ اِبِلٌ مِنَ الصّدَقَةِ فَاَمَرَنِي اَن اَقضِيَ الرّجُلَ بِكرَهُ فَقُلتُ لَم اَجِد فِي الاِبِلِ اِلاّ جَمَلاً خِيَارًا رُبَاعِيًا فَقَالَ النّبِيُ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ اَعطِهِ اِيّاهُ فَاِنّ خِيَارَ النّاسِ اَحسَنُهُم قَضَآ ءً (الف) (ابوداؤدشريف، باب في حسن القضآء ص۱۱۹نمبر۳۳۴۶) په دې حديث کي خُوَان وُښ اخستئ وُ او دهغه په بَدلَه کې ښَه وُښ وَاپَس ورکړئ او وفرمائل چي حَسَن يعني ښَه ادائيګي کونکئ ښَه سړئ دئ. ددې څخه دا معلوم سو چي که مُشتَرِي زِيَات ورکول وَغُوَارِي نو ورکولائي سي .

[۹۲۸](۱۴) او د بَائِع لپاره جائز دئ چي په مَبِيع کي زِيَاتوب وکړي او جائز چي په ثَمَن کي کَمِي وکړي .

تشريح : د بائِع لپاره دا هم جائز دئ چي هر څونه مَبِيع سره طَئ سوې ده دهغه څخه زِيَات ورکړي او دا هم ورته جائز دئ چي هر څونه ثَمَن طئ سوي دي دهغه څخه کَم وَاخلِي .

وجه : (۱) دا دده مِلکِيّت دئ دئ دارنګه کولائي سي (۲) په حديث کي ددې تَرغِيب سته چي مَبِيع زِيَات ورکوئ حَدّثَنَا سُوَيدُ بِنِ قَيسٍ ... وَ ثَمّ رَجُلٌ يَزِنُ

حاشيه : (الف) حضور د خُوَان وُښ سودا وکړه بيا د ده په خدمت کي د صدقې وُښَان راغله نو حضوې وماته حُکم وکړه چي خُوَان وُښ اداَء کړم. نو ما په وُښَانُو کي ونه مُوندَئ مګر تر دغه ښَه د څلور غَابښُو ولا. حضور وفرمائل چي و ده ته ښَه وُښ ورلره ورکه. ښَه خلګ هغه دي چي په ښَه طرز ادائيګي وکړي .

[۹۲۹](۱۵) وَ يَتَعَلّقُ الاِستِحقَاقُ بِجَمِيعِ ذَالِکَ .

بِالأجرِ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيـهِ وَسَلّمَ زِن وَ اِرجِح (الـف) (ابوداؤدشـريف، باب في الرجحان في الوزن ص۱۱۸نمبر۳۳۳۶) په دې حديث کي دئ چي بَائِع ته په کار دئ چي د مَبِيع په وَزَن کي څه زِيَات کړي او ورئې کړي .

[۹۲۹](۱۵) او اِستِحقَاق به ددې ټولو سره مُتَعَلّق وي .

تشريح : مُشتَرِي لَس روپۍ قيمت مُتَعَيّن کړئ وُ. د لسو پر ځـائ ئـې دُوُلَس روپۍ ورکړې نو اُوس چي څوک مُرَابَحَه او تَولِيَه کوي هغه به پر دُوُلَس روپۍ باندي کوي. دغه رنګه بَائِع د يوې مَبِيع پر ځائ دوې مَبِيع په لَس روپۍ ورلـره ورکړې نـو اُوس به دارنګه وائي چي دوې مَبِيع مي په لَس روپۍ اخستي دي. داسي به نَه وائي چي يوه مَبِيع مي په لَس روپۍ اخستې ده. دغـه رنګـه بَـائِع د لسـو روپۍ پـر ځـائ اَتَـه روپۍ واخستې نو اخستونکئ به داسي وائي چي په اَتَه روپۍ مي مَبِيع اخستې ده. او پر دغـه اَتَه روپۍ به مُرَابَحَه او تَولِيَه کوي. پر لس روپۍ بـه مُرَابَحَـه او تَولِيَـه نـه کـوي. دغـه رنګه کم څوک چي دشُفعې دعوه کوي هغه به اُوس پر موجوده قيمـت او پـر موجـوده مَبِيع باندي دشُفعې دعوه کوي .

وجه : ځکه چي دغه قيمت اُوس اصل قيمت سو.زِيَات ورکول سـوئ قيمـت يـا د بَـائِع لخوا کَم سوئ قِيمت اصل قيمت وګرزېدئ. نو ځکه اُوس ټولـه حقـوق پـر دغـه بانـدي مُنحَصِر دئ .

اُصُول : (۱) زِيَات ورکول سوئ قيمت يا کَم کړل سوئ قيمت يا زِيَاتـه ورکـول سـوې مَبِيع د اصل سره مُلحَق سو دا اُوس په خپله اصل وګرزېدل (۲) اُوس بـه ټولـه حقـوق ددغه سره مُتَعَلّق وي .

حاشيه : (الف) هَلتَه يو سړئ وُ چي په اُجرَت باندې وَزَن کاوئ نو حضور وفرمائل چي وَزَن دَرَنَوَه .

[۹۳۰](۱۶) وَ مَن بَاعَ بِثَمَنٍ حَالٍ ثُمّ اَجّلَهُ اَجَلاً مَعلُومًا صَارَ مُؤجّلاً.

فائده : د امامِ شافعي دا رَأيه ده چي په شـروع کـي کـوم قيمـت يـا کومـه مَبِيـع معلومـه سوې وه هغه اصل ده.ټوله حقوق به دهغه سره مُتَعَلّق وي. وروسته چي کومه مَبِيع يـا ثَمَن زيات سوي دي هغه د ورسته هِبَه او هَدِيَه ده هغه د اصل مَبِيع يا ثَمَن سـره تَعَلّـق نه لري. لِهٰذَا ددې زِيَاتُوب سره حقوق تَعَلّق نه لري .

[۹۳۰](۱۶) يو چا په نَغد (نَقد) ثَمَن سره خرڅ کړئ بيا ئې هغـه مُـؤخّر کـړل و يـوه معلوم أجَل (وخت) ته نو هغه به مُؤخر (مُؤجّل) سي .

تشریح : یو چا دارنګه بَیع وکړه چي قِیمت اُوس درکوم لېکن وروسته بیا تر یو معلوم تاریخ پوري دا ثَمَن مُؤخر کړل نو هغه مُؤخر ګرزي. پر هغه مُتَعَیّن تاریخ به قیمت ورکول لازم وي .

وجه : (۱) په حدیث کي د قِیمَت د مُؤخّر کولو ترغیب راغلئ دئ اَنّ حُذَیفَةَ قَالَ قَالَ النّبِیّ صَلّي اللهُ عَلَیهِ وَسَلّمَ تَلَقّتِ المَلاَئِکَةُ رُوحَ رَجُلٍ مِمّن قَبلَکُم فَقَالُوا أعَمَلتَ مِنَ الخَیرِ شَیئًا ؟ قَالَ کُنتُ آمُرُ فَتَیَانِي اَن یَنظُرُ وَیَتَجَاوَزُوا عَنِ المُوسِرِ قَالَ فَتَجَاوَزُوا عَنهُ (الف) (بخاري شریف،باب من انظرموسرا ص۲۷۹نمبر۲۰۷۷) په دې حدیث کي دئ چي د تیري سوي زمانې یو سړئ الله په دې وجه معاف کړئ چي هغه به په قیمت اخستلو کي مُهلَت ورکاوئ. نو په دغه وجه په قیمت اخستلو کي مُهلَت ورکول جائز دئ. خو په دې شرط چي تاریخ معلوم وي که نه نو بیا جګړه او اختلاف راتلائي سي (۲) ځنډول او مُؤخر کول د بَائِع خپل اختیار دئ نو ځکه دئ دا استعمالولائي سي .

حاشیه : (الف) حضوروفرمائل دتاسو څخه مخکي په یو قوم کي د یوه سړي رُوح چي فرشتې قبض کاوئ نو وهغه ته وویل چي تَا د خَیر یو کار کړئ دئ ؟ هغه سړي وویل چي ما و ځوان ته حُکم کاوئ چي و تَنګدَستَانُو ته مُهلَت ورکوه او دَرګُزَر کوه. حضور وفرمائل چي الله هغه سړئ مُعَاف کړئ .

[۹۳۱](۱۷) وَ کُلُ دَینٍ حَالٍ اِذَا اَجّلَهُ صَاحِبُهُ صَارَ مُؤجّلاً اِلاّ القَرضُ فَاِنّ تَأجِیلَهُ لاَیَصِحُ .

لُغَت : حَالٍ : اُوس دَستِي.سَم دلاسَ.نَقد. اَجَلاً : په ځنډسره .

[۹۳۱](۱۷) هر هغه دَین چي نَغد وي که چیري هغه وځنډول سي نو ځنډېدلائي سي ماسوائ د قرض څخه چي دهغه ځنډول صحیح نه ده .

تشریح : مثلاً د مَبِیع قیمت پرمُشتَرِي باندي سَم دَستِي لازم وي هغه ئې وځنډاوئ نو دا ځنډېدلائي سي.اوس که بَائِع د تاریخ څخه مخکي اخستل وَغُوَارِي نو نه سي اخستلائي .

وجه : په ځنډولو سره د مَبِیع قیمت زیاتیږي نو د ځنډولو قیمت هم راغلئ نو ځکه د وخت څخه مخکې نه سي اخستلائي. لېکن قرض خو د اوّله سَر څخه تَبَرُع او اِحسَان وي نو ځکه قرض ورکونکئ چي کوم وخت ئې وَغُوَارِي وَاپَس ئې اخستلائي سي. تاریخ په مُتَعَیّن کولو سره نه مُتَعَیّن کیږي.په قَانُونِي توګه مخکي هم اخستلائي سي.خو که چیري پر هغه خپل تاریخ باندي واخلي نو ښَه خبره ده. په دې اَثَر کي ددې ثبوت سته عَن اِبرَاهِیمَ قَالَ وَالقَرضُ حَالٌ وَ اِن کَانَ اِلْي اَجَلٍ (الف) (مُصنف ابن ابي شیبة ۶۴ من قال القرض حال وان کان الْي اجل ج۴ص۳۲۴ نمبر۲۰۵۷۸)

حاشیه : (الف) قرض سَم دَستِي وي که څه هم په ځندسره د ورکولو وَعدَه کړې وي .

..... بَابُ الرِّبَوا .....

[۹۳۲](۱) اَلرِّبَـوَا مُحَـرّمٌ فِـي كُـلِّ مَكِيـلٍ اَو مَـوزُونٍ اِذَا بِيـعَ بِجِنسِـهِ مُتَفَاضِلاً .

..... بَابُ الرِّبَوا .....

ضروري پام لرنه : دارنګه زِيَاتوب چي د عِوَض څخه خَـالِي وي وهغـه تـه ,,رِبَـوَا,, وائي.دلته ويو مخصوص زِيَاتُوب ته,,رِبَـوَا,, او سـود ويـل سـوئ دئ چـي حـرام دئ. ددې د حُرمَت دليل دا آيت دئ وَ اَحَلّ اللهُ البَيعَ وَ حَرّمَ الرّبَوَا (آيـت ۲۷۵سـورة البقرة ۲) په دې آيت کي و سُود ته حرام ويل سوي دي. او ددې اُصُول پـه دې حـديث کـي ذکـر سوئ دئ عَن اَبِي سَعِيدِ الخُدرِيّ قَـالَ قَـالَ رَسُولُ اللهِ صَـلّي اللهُ عَلَيـهِ وَسَـلّمَ اَلـذّهَبَ بِالـذّهَبِ وَالفِضّةَ بِالفِضّةِ وَ البُرّ بِالبُرّ وَ الشَعِيرَ بِالشّعِيرِ وَ التّمَرَ بِالتّمَرِ وَ المِلحَ بِالمِلحِ مَثَلاً بِمَثَلٍ يَدًا بِيَدٍ فَمَـن زَادَ اَو اِسـتَزَادَ فَقَـد اَربَـي اَلآخِـذُ وَالمُعطِـي فِيـهِ سَـوَ آ ءٌ (الـف) (مُسلم شـريف،باب الصرف وبيـع الـذهب بـالورق ص۲۴نمبـر ۱۵۸۷\۴۰۶۴\بخـاري شـريف،باب بيـع الفضـة بالفضة ص۲۹۰نمبر ۲۱۷۶\ ۲۱۷۰\ابوداؤدشريف،باب في الصرف ۱۱۹نمبر۳۳۴۹\ترمذي شريف،باب ماجاء ان الحنطة بالحنطة مثلا بمثل وكراهيـة التفاضـل فيه ص۲۳۵نمبر۱۲۴۰) په دې حديث کې ديوه جِنس شئ چي ګَيلِي وي يا وَزنِي وي په زِيَاتُوب او کَمِي سره خرڅول حرام ګرزولئ دئ .

[۹۳۲](۱) رِبَوَا حرام ده په ګَيلِي يا وَزنِي شي کي چي کله خرڅ سـي دهغـه جنس پـه بَدلَه کي په کَمِي يا زِيَاتُوب سره .

تشريح : ګَيلِي شئ هغه دئ کوم چې په تېره زمانه کي په ګَيل او پيمَانَه کي اېښوئ

حاشیه : (الف) حضور وفرمائل (۱) سره زَر د سرو زَرو په بد له کي (۲) سپين زَر د سپينو زَرُو پـه بدلـه کـي (۳) غَنَم د غَنَمُو په بدله کي (۴) جُوَارِي د جُوَارَيُو په بدله کي (۵) خُورمَا د خُورمَا پـه بدلـه کـي (۶) او مَالګَـه د مَالګِي په بدله کي برابر برابر،لاس پـه لاس، بيـا کـوم چـا چـي زِيَـات ورکړه يـا ئـې زِيَـات طلـب کـړه نـو سُـود اخستونکئ او ورکونکئ په ګُناه کي سره برابر دي .

[۹۳۳](۲) فَالعِلّةُ فِيهِ اَلكَيلُ مَعَ الجِنسِ وَالوَزنُ مَعَ الجِنسِ .

بيائې خرڅاوئ.لکه غَنَم.وُرِيجِي او غَلّې يا دغـه رنګـه نـور شـيان. او وَزنِـي هغـه دي کوم چي په ترازو کي تَلَل کيږي لکه دِرهَم دِينَارُونَه او وَسپِينَه او ددغـه پـه شـان نـور شيان. نو چي ګَيلِي شئ وي او مَبِيع و ثَمَن د يوه جنس څخـه وي مـثلاً دواړو خـوا تـه غَنَم وي چي د غَنَمُو په بَدَل کي غَنَم اَخلِي يا د وُرُوجُو په بَدَل کـي وُرِيجِـي اَخلِـي يـا د

دِرهَم په بَدَل كي دِرهَم اَخلِي يا د دِينَارُ په بَدَل كي دِينَار اَخلِي نو په دغه ټولو بُيُوعَـاتُ كي دواړو خُوَاوُ ته د يوه جِنس شئ دئ نـو ځكـه بَرَابَـر بَرَابَـر بـه اَخلِـي. كـه كَمَـئ يـا زِيَاتُوب وكي نو سُود به سي چي حرام دئ. او سَم دَستِي يعني لاس پـه لاس بـه قبضـه پر كوي. كه د دواړو څخه هسي يو هم په پور سي نو سُود به لازم سي. دحـرام والـي وجه لُوَړ حديث دئ .

لُغَت : بِجِنسِهِ : په يوه رنګه شئ و دواړو خُوَاوُ ته وي. مثلاً مَبِيع هم غَـنَم وي او ثَمَـن هم غَنَم وي .

[٩٣٣](٢) بَس عِلّت په رِبوا كي كَيل دئدجنس سره او وزن دئ د جنس سره .

تشريح : د رِبَوَا لپاره دوه عِلّتونه دي (١) په دواړو خُوَا يو رنګه شئ وي نو بيـا كمـئ او زياتوب حرام دئ نو كه چيري يوه خوا ته غَنَم وي بله خوا تـه وُرِيجِـي وي نـو بيـا كمئ او زياتوب جائز دئ.چي يو كېلو غَنَم وركړي دوه كېلو وُرِيجِـي ځينـي اخسـتلائي سي (٢) دوم عِلّت دادئ چي هغه شئ به په كَيل سره تَلَل كيږي لكـه ټـولي غَلّـه جَـاتِ چي په تېره زمانه كي په كَيل سره تَلَل كېدل. په اُوس وخت كي هغه په وَزَن سره تَلَـل كيږي. يا وَزَن كېدل لكه دِرهَم او دَنَانِير. نـو كـه چيـري داسـي شـئ وي چـي نـه وَزَن كيږي او نه كَيل يعني په پيمانه معلوميږي مثلاً عَدَدِي شئ وي يا ذِرَاعِي شئ وي چـي په لاس سره نَاپيږي نو بياچي يوه هَتَه (يعنـي لاس) كپړه وركـړي دوې هَتِـي كپړه اخستلائي سي. يا يو جَوَز وركړي دوه جَوزَ اخستلائي سي. ځكه چي په حـديث كـي د عَدَدِي يا ذِرَاعِي د رِبَوَا په سلسله كي هيڅ شئ نه دئ وَارِد سوئ. په صفحه ١٢٦ كـي چي كوم د ابوسعيدخدري حديث تير سو په هغه كي د دِرهَم او دِينَـار ذكـر راغلـئ دئ چي وَزنِي دي او د غَنَمُو.جُوَارَيُو.خُورمَاوُ او مَالګِي د برابر برابر اخستلوذكر راغلـئ دئ هغه كَيلِي دي. نـو ځكـه د احنـافو پـه نېـز چي شـئ وَزنِـي يـا كَيلِـى وي بيـا سُـود لازميږي .

وجه : (١) د وزن د عِلّت جوړېدلو وجه ددې حديث اشاره هم ده عَن فُضَـالَةَ بِـنِ عَبِيـدٍ قَالَ كُنّا مَعَ رَسُولِ اللهِ يَومَ خَيبَرَ نُبَايِعُ اليَهُودَ الاَوقِيَةَ الذّهَبَ بِالدِّينَارَينِ وَالثّلْثَةِ فَقَـالَ رَسُـولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ لاَتَبِيعُوا الذّهَبَ بِالذّهَبِ اِلاّ وَزنًا بِوَزنٍ (الف) (مُسلم شريف،باب بيع القلادة فيها خرزٌ وذهبٌ ص٢٥نمبر ٤٠٧٨\١٥٩١) په دې حديث كي ,, وَزنًا بِوَزنٍ ,, لفظ راغلئ دئ.ددې څخه هم د عِلّت اِشَاره معلوميږي چي شئ وَزنِـي وي نـو بيـا سُـود دئ (٢) د دارقُطني په رِوَايت كي ددې صراحت دئ چي په كَيلِي او وَزنِـي شـيانو كـي سُـود دئ عَن سَعِيدِبنِ المُسَيِّبِ اَنّ رَسُولَ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ قَالَ لاَ رِبَوَا اِلاّ فِـي ذَهَـبٍ اَو فِضّـةٍ اَو مِمّا يُكَالُ اَو يُوزَنُ وَيُؤكَلُ وَ يُشرَبُ (ب) (دارقطني،كتاب البيوع ج٣ص١١نمبر ٢٨١٠) پـه دې مُرسَل حديث كي صـراحت سـوئ دئ چـي سـره زَر.سـپين زَر.يـا كَيلِـي او وَزنِـي شيانوكي سود دئ چي خُوَړَل كيږي اوڅښل كيږي .

فائده : د امام شافعي په نېز د سفود عِلّت کَيلِي او وَزنِي نه دئ بلکه چي يو جنس وي او ثَمَنِيّت وي يا د خُوَرَاک شئ وي په هغه کي رِبَوَا راځي .
وجه : (۱) دئ فرمائي چي په ضروري پام لرنه کي د ابوسعيدخدري رضي الله تعالْي عنه په حديث کي سره زَر او سپين زَر دي او په هغه کي ثَمَنِيّت دئ يعني د ثَمَن او قِيمَت جوړېدو

حاشيه : (الف) موږ دحضور سره په خَيبَر کي وُ،ديهود سره مو بَيعِ کولې سره زَر د دُوُ دِينَارُ او دُرُو دِينَارُپه بَدَل کي نو حضور وفرمائل مَې خرڅوئ سره زَر د سرو زَرُو په بَدَل کي مګر چي برابر برابر ئې وَزَن کئ (ب) حضور وفرمائل رِبَوَا نه ده مګر په سپينُو او سرو زَرُو کي يا کوم چي په پېمَانَه کيږي يا وَزَن کيږي يا خُوَړَل کيږي يا چِيښِل کيږي .

[۹۳۴](۳) فَاِذَا بِيعَ المَكِيلُ بِجِنسِهِ اَوِ المَوزُونُ بِجِنسِهِ مَثَلاً بِمَثَلٍ جَازَ البَيعُ وَ اِن تَفَاضَلاَ لَم يَجزِ .

صلاحِيّت پکښې دئ.او غَنَم.جُوَارِي.خُورمَا او مالګه خُوَرَاکِي شيان دي نو ځکه ثَمَنِيّت او خواراکي شئ کېدل ئې عِلّت دئ (۲) د دَارِقُطنِي کوم حديث چي مخکي تير سو په هغه کي د سرو زَرُو او سپينوزَرُو سره سره د ,, يُؤکَلُ و يُشرَبُ ,, صراحَت سوئ دئ چي دهغه واضح مطلب دادئ چي خُوَرَاکِي شئ کېدل د سُود عِلّت دئ. نو ځکه دده په نېز مَبِيع او ثَمَن يو شئ وي او هغه شئ د ثَمَن ځخه وي يا خُوَرَاکِي شئ وي نو بيا سُود دئ. په دغه وجه خو دده په نېز په چُونَه او وَسپِينَه کي سُود نه لازميږي. ځکه چي هغه نه خو ثَمَن دي او نه خُوَړَل کيږي .
اُصُول : دسُود عِلّت (۱) چي جنس ئې يو وي (۲) ثَمَن جوړېدونکئ يا خُوَرَاکِي شئ وي.
[۹۳۴](۳) بيا که کَيلِي شئ دهغه د جنس په بدله کي خرڅ سي.يا وزني شئ دهغه د جنس په بدله کي خرڅ سي برابر برابر نو جائز دئ او که کَمِي زياتوب وکي نو جواز نه لري .
تشريح : مَبِيع او ثَمَن دواړه يو رنګه شيان وي مثلاً دواړو خُوَاوُ ته غَنَم وي يا و دواړو خُوَاوُ ته وَزنِي شئ مثلاً سره زَر وي نو چي دواړه دي برابر برابر خرڅ کړي جائز دئ او که زِيَات او کَم ئې خرڅ کړي نو بيا جواز نه لري. حديث مخکي تېرسوئ دئ عَن اَبِي سَعِيدِ الخُدرِيّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ اَلذّهَبَ بِالذّهَبِ وَالفِضّةَ بِالفِضّةِ وَ البُرّ بِالبُرِّ وَ الشَعِيرَ بِالشّعِيرِ وَ التّمَرَ بِالتّمَرِ وَ المِلحَ بِالمِلحِ مَثَلاً بِمَثَلٍ يَدًا بِيَدٍ فَمَن زَادَ اَو اِستَزَادَ فَقَد اَربْي اَلآخِذُ وَالمُعطِي فِيهِ سَوَ آ ءٌ (الف) (مُسلم

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل سره زَر د سرو زَرو په بد له کي سپين زَر د سپينو زَرُو په بدله کي غَنَم د غَنَمُو په بدله کي جُوَارِي د جُوَارَيُو په بدله کي خُورمَا د خُورمَا په بدله کي او مَالګَه د مَالګِي په بدله کي برابر برابر،لاس په لاس، بيا کوم چا چي زِيَات ورکړه يا ئې زِيَات طلب کړه نو سُود اخستونکئ او ورکونکئ په ګُناه کي سره برابر دي .

[۹۳۵](۴) وَ لاَ يَجُوزُ بَيعُ الجَيِّدِ بِالرّدِيِّ مِمّا فِيهِ الرِّبَوَا اِلاّ مَثَلاً بِمَثَلٍ .

شريف،باب الصرف وبيع الذهب بالورق ص۲۴نمبر ۱۵۸۷\۴۰۶۴\ بخاري شريف، باب بيع الفضة بالفضة ص۲۹۰نمبر ۲۱۷۶\ ۲۱۷۰\ابوداؤدشريف،باب في الصرف ۱۱۹نمبر۳۳۴۹\ترمذي شريف،باب ماجاء ان الحنطة بالحنطة مثلا بمثل وكراهية التفاضل فيه ص۲۳۵نمبر۱۲۴۰\) په دې حديث کي دئ چي برابر برابر ئې خرڅ کړئ خو ټيک دئ او جائز دئ. او که مو چيري کمئ يا زياتوب وکئ نو بيا جواز نه لري.دغه رنګه چي په نَغدُو وي نوجائز دئ که په پور وُ نو بيا جواز نه لري .

[۹۳۵](۴) او نه ده د ښُو بَيعَ د رَدِّيُو سره چي په هغه کي رِبَوَا وي مګر برابر برابر .

تشريح : په کومو شيانو کي چي رِبَوَا جاري کيږي مثلاً غَنَم نو که عُمده او ښَه غَنَم خرڅ کړي د خرابُو غَنَمُو سره نو هم برابر برابر به خرڅوي که نه نو دا هم سُود دئ .

وجه : (۱) په دي کي خو عُمده او بېکاره خامخا وي.په دغه وجه خو دئ ئې بيع کوي.نو که چيري د کَمبُوت او زِيَاتُوب اجازت ورکول سي نو به د رِبَوَا دروازه خلاص سي. په دغه وجه په دي کي د اَعلْي او اَدنْي صِفَت اعتبار نسته.برابر برابر به خرڅوي. که چيري برابر برابر خرڅول نه غُوَارِي نو داسي دي وکي چي هغه بېکاره خُورمَاوِي دي مثلاً دوه کېلو په لَس روپۍ پر مُشتَرِي باندي خرڅي کړي او د دغه مُشتَرِي څخه دي په لَس روپۍ يو کېلو عُمدَه يعني ښې خُورمَاوِي وَاخلِي. په دې صورت کي خُومَا د خُورمَا په بَدلَه کي نه راغله بلکه د دُوُ کېلو بېکاره خُورمَاوُ به بَدلَه کي لَس روپۍ راغلې او يو کېلو عُمدَه يعني ښې خُورمَاوِې په لَس روپۍ رَانِيولې. نو اُوس خو په روپۍ باندي د خُورمَاوُ قيمت ولګېدئ ځکه دا جائز دئ (۲) په حديث کې د ښُو خُورمَاوُ د بېکاره خُورمَاوُ په بَدَل کي د کَمبُوت او زِيَاتُوب سره خرڅولو څخه منع کړې ده. او دا صورت ئې ورښولئ دئ چي خُورمَا د

[۹۳۶](۵) وَ اِذَا عَدَمَ الوَصفَانِ اَلجِنسُ وَ المَعنْي المَضمُومُ اِلَيهِ حَلّ التّفَاضُلُ وَ النّسَا ءُ .

دِرهَم په بدله کي خرڅوئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنّ رَسُولَ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ اِستَعمَلَ رَجُلاً عَلْي خَيبَرَ فَجَائَهُ بِتَمَرٍ جَنِيبٍ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ أكُلّ تَمَرِ خَيبَرَ هْكَذَا ؟ قَالَ لاَ وَاللهِ يَارَسُولَ اللهِ اِنّا لَنَأخُذُ الصّاعَ مِن هْذَا بِالصّاعَينِ وَ الصّاعَينِ بِالثّلْثِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ لاَ تَفعَل بِعِ الجَمعَ بِالدّرَاهِمَ ثُمّ اِبتَع بِالدّرَاهِمَ جَنِيبًا (الف) (بخاري شريف،باب اذا اراد بيع تمربتمر خير منه ص۲۹۳نمبر ۲۲۰۱\مُسلم شريف،باب بيع الطعام مثلاً بمثلٍ ص۲۴نمبر۱۵۹۳\۴۰۸۲) په دې حديث کې د خَيبَر جَنِيب

خُورمَاوِي د جَمَع خُورمَاوُ په بَدَل کي د ګَمبُوت او زِيَاتُوب سره رَانِيولِې او د حضور مخته راوړې حضور دهغه څخه منع وکړه او وفرمائل چي خُورمَا د دِرهَم په بَدَل کي خرڅي کړه بيا په هغه دِرهَم باندي عُمدَه يعني ښې خُورمَاوِي رانِيسَه. که څه هم د هغه مُشتَرِي څخه رانيسې نو هم څه حرج نه لري. ددې حديث څخه معلوم سو چي په رِبَوِي شيانو کي عُمدَه او بېکاره څه خاص اِعتِبَار نه لري. برابر برابر به خرڅوي که نه نو سُود لازميږي .

[۹۳۶](۵) که چيري دواړه صفتونه نه وي يعني جِنس او هغه مَعنْي چي ددې سره ضَمّ سوې ده نو ګَمبُوت او زِيَاتُوب حلال دئ او پُور هم حلال دئ .

تشريح : د سُود دوه عِلّتُونه وُ. چي دغه دواړه عِلّتُونَه نه وي نو بيا ګَمبُوت او زِيَاتُوب هم حلال دئ او په پور اخستل هم حلال دئ. په مجلس کي پر مَبِيع باندي قبضه کول ضروري نه ده. د سُود يو عِلّت دا وُ چي مَبِيع او ثَمَن دواړه يو شئ وي يا

[۹۳۷](۶) وَ اِذَا وُجِدَا حَرُمَ التّفَاضُلُ وَ النّسَا ءُ [۹۳۸](۷) وَ اِذَا وُجِدَ اَحَدُهُمَا وَ عَدَمَ الآخَرُ حَلّ التّفَاضُلُ وَ حَرُمَ النّسَا ءُ .

دواړه وَزنِي وي. نو که چيري غَنَم د جُوَارَيُو په بَدَل کي خرڅ کړي نو د ګَمبُوت او زِيَاتُوب سره ئې خرڅولائي سي. دغه رنګه سره زَر د سپينُو زَرُو په بَدَل کي خرڅ کړل نو د ګَمبُوت او زِيَاتُوب سره ئې هم خرڅولائي سي عَن اَبِي بَکرَةَ قَالَ نَهْي النّبِئُ صَلّي اللّٰهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ عَنِ الفِضّةِ بِالفِضّةِ وَالذّهَبَ بِالذّهَبِ اِلاّ سَوَ آ ءً بِسَوَ آ ءٍ وَ اَمَرنَا اَن نَبتَاعَ الذّهَبَ بِالفِضّةِ کَيفَ شِئنَا وَ الفِضّةَ فِي الذّهَبِ کَيفَ شِئنَا (الف) (بخاري شريف،باب بيع الذهب بالورق يداً بيدٍ ص۲۹۱نمبر۲۱۸۲) په مُسلم شريف دا جُمله زِيَاتَه راغلې ده فَاِذَا اِختَلَفَت هٰذِهِ الاَوصَافُ فَبِيعُوا کَيفَ شِئتُم اِذَا کَانَ يَدًا بِيَدٍ (ب) (مُسلم شريف،باب الصرف وبيع الذهب بالورق نقدًاص۲۴نمبر۱۵۸۷\ترمذي شريف،باب ماجآء ان الحنطة بالحنطة مثلاًبمثلٍ ص۲۳۵نمبر۱۲۴۰) په دې حديث کي دئ چي جِنس بَدَل سي يعني چي دواړه په يَوَه رنګ شيان نه وي اوکَيلِي و وَزنِي هم نه وي نو په پور هم جائز دي .

[۹۳۷](۶) او که دواړه عِلّتُونَه موجود سي نو ګَمبُوت او زِيَاتُوب هم حرام دي او پُور هم حرام دئ .

تشريح : دواړه د يوه جنس څخه وي او دواړه کَيلِي او وَزنِي وي نو ګَمبُوت او زِيَاتُوب هم حرام دئ او په پور اخستل او ورکول هم حرام دئ. دليل ئې مخته تېر سوئ دئ ,, مَثَلاً بِمَثَلٍ يَدًا بِيَدٍ,, .

حاشيه : (الف) حضور يو سړئ د خَيبَر عَامِل جوړ کئ نو هغه ښې خُورمَاوي راوړې،نو حضور ورته فرمائل آيا د خَيبَر ټُولِي خُورمَاوِي دغه رنګه دي ؟ هغه وويل نَه ! قسم په خدائ يَارَسُولَ اللّٰه ! لېکن موږ يوه صَاع د دُوُ صَاعُ په بَدَل کي رَانِيسُو،او دُوې صَاع د دُرُو صَاعُ په بَدَل کي،حضور وفرمائل دارنګه مَه کوئ، جَمَع خُورمَاوي د دِرهَم په بَدَل کي خرڅي کړئ بيا د دِرهَم په بَدَل کي جَنِيب خُورمَاوِي واخلئ .

[۹۳۸](۷) او که د دواړو عِلّتُو څخه یو موجود سي او بَل نـه سـي موجـود نـو کَمبُـوت او زِیَاتُوب حلال دئ او پُور حرام دئ .

حاشیه : (الف) حضور منع وکړه د خرڅولو څخه سپین زَر د سپینُو زَرُو سره،سره زَر د سرو زَرُو سره مګر برابر برابر او حُکم ئې وکړئ چي موږ ئې خرڅ کړو سره زَر د سپینُو زَرو سره چي څه رنګه وَغُوَاړُو،او سپین زَر د سرو زَرُو په بَدلَه کي چي څه رنګه وَغُوَاړُو (ب) بیا چي دا صِنف جلا جلا سي نو خرڅوئ ئې چي څه رنګه ستاسو خُوښَه سي په دې شرط چي لاس په لاس وي .

تشریح : مثلاً مَبِیع او ثَمَن دواړه د یوه جنس څخـه نـه وي لـېکن دواړه کَیلِـي یـا دواړه وَزنِي وي.مثلاً د غَنَمُو په بَدَل کي وُرِیجِي وي یا د سُروزَرُو په بَدَل کي سـپین زَر وي نو کَمبُوت او زِیَاتُوب حلال دئ لېکن پُور بیا هم حرام دئ.پر دواړو بانـدي پـه مجلـس کي قبضه کول ضروري ده .

وجه : په حدیث کي دئ عَن عِبَادَةَ بِنِ صَامِتٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَیـهِ وَسَلّمَ ... فَـاِذَا اِختَلَفَـت هٰذِهِ الاَوصَـاف فَبِیعُـوا کَیـفَ شِـئتُم اِذَا کَـانَ یَـدًا بِیَـدٍ (الـف) (مُسلم شـریف،باب الصـرف وبیـع الـذهب بـالورق نقـدًا ص۴۴نمبـر۱۵۸۷\ترمـذي شریف،نمبر۱۲۴۰) په بخاري شریف کـي دئ نَهـي رَسُـولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَیـهِ وَسَلّمَ عَن بَیعِ الذّهَبِ بِالوَرَقِ دِینَـارًا (ب) (بخـاري شـریف،باب بیـع الـورق بالـذهب نَسِیّةً ص۲۹۱نمبر۲۱۸۰) په دې حدیث کي سَرَه زَر او سـپین زَر دواړه وَزنِـي شیان دي نو ځکه پور حرام کړئ دئ. که څه هم کَمبُوت او زِیَاتُوب ئې جائز کړئ دئ .

او که چیري مَبِیع او ثَمَن کَیلِي او وَزنِی نه وي خو دواړه پـه یـوه رنـګ شِیَان وي بیا کَمبُوت او زِیَاتُوب جائز دئ.لېکن په دې صـورت کـي پـور حـرام دئ. مثلاً د جَوز په بَدَل کي جَوزَ واخلي نو جَوز خو عَدَدِي شئ دئ نو ځکه په یوه جَوز سره دُوَه جَوزَ اخستلائي سي.لېکن پور جائز نه دئ.بلکه په مجلس کي به قبض کوي.ځکه چي دواړه خواو ته جنس یو دئ. په حدیث کي دئ عَن جَابِرٍ قَالَ جَآ ءَ عَبدٌ فَبَـایَعَ النّبِـيُ صَلّي اللهُ عَلَیهِ وَسَلّمَ عَلْي الهِجرَةِ وَ لَم یُشعِر اَنّهُ عَبدٌ فَجَآ ءَ سَیّدُهُ یُرِیدُهُ فَقَالَ لَهُ النّبِیُ صَلّي اللهُ عَلَیـهِ وَسَلّمَ بِعنِیهِ فَاشتَرَاهُ بِعَبدَینِ اَسوَدَینِ (ج)(مُسلم شریف شریف،باب جواز بیع الحیوان بالحیوان من جنسه مُتفاضِلاً ص۳۰نمبر۱۶۰۲\ بخاري شریف،

حاشیه : (الف) حضور وفرمائل ... بیا چي دا صِنف جلا جلا سي نو خرڅوئ ئې چي څه رنګه مِي خُوښَـه سـي په دې شرط چي لاس په لاس وي (ب) حضور سره زَر د سپینُو زَرُو سره په پُور خرڅولو څخه منع وکړه (ج) یو غُلاَم راغلئ او حضور د هغه سره پر هِجرَت کولو بَیعَت وکـئ او معلوم نـه وُ چـي دا غُـلاَم دئ. بیـا دهغـه مَالِک راغلئ او طلب ئې کړئ نو حضور وفرمائل دا پر ما باندي خرڅ کَه.نو حضور هغه د دُوُ تُورُو غُلاَمَانُو پـه بَدَل کي رَانِیوَئ .

[۹۳۹](۸) وَ کُلّ شَـيءٍ نَـصّ رَسُـولُ اللهِ صَلّـي اللهُ عَلَیـهِ وَسَلّمَ عَلْـي تَحرِیمِ التّفَاضُلِ فِیهِ کَیلاً فَهُوَ مَکِیلٌ اَبَـدًا وَ اِن تَـرَکَ النَـاسُ فِیـهِ الکَیـلَ

مِثلُ الْحِنطَةِ وَ الشّعِيرِ وَ التّمَرِ وَالمِلحِ وُ كُلّ شَيءٍ نَصّ عَلْي تَحرِيمِ التّفَاضُلِ فِيهِ وَزنًا فَهُوَ مَوزُونٌ اَبَدًا وَ اِن تَرَکَ النّاسُ الوَزنَ فِيهِ مِثلُ الذّهَبِ وَ الفِضّةِ .

باب بيع العبد والحيوان نسيئةً ص۲۹۷نمبر۲۲۲۸) په دې حديث کې يو غُلاَم د دُوُ غُلامانو په بَدَل كي اخستئ دئ. او د پُور دحُرمَت دليل دا حديث دئ عَن سَمُرَةَ بِنِ جُندُبٍ عَنِ النّبِيّ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ اَنّهُ نَهْي عَن بَيعِ الحَيوَانِ بِالحَيوَانِ نَسِيئَةً (الف) (سنن للبيهقي،باب ماجآء في النهي عن بيع الحيوان بالحيوان نسيئة ج۵ص۴۷۲نمبر۱۰۵۳۲) په دې حديث کې د عَدَدِي شيانو بَيع چي جنس ئې يو وي په پُور خرڅول حرام کړي دي .

لُغَت : اَلنّسَا ءُ : پُور .

[۹۳۹](۸) هر هغه شئ چي حضور صَرَاحَت کړئ وي د زِيَاتُوب او کَمبُوت پر حرام والي باندي د کَيل به اِعتِبَار سره هغه شئ همېشه کَيلِي دئ که څه هم خلګ د هغه پيمَانَه کول پرېږ دي.مثلاً غَنَم.جُوَارِي.خُورمَا.مَالګَه. او هر هغه شئ چي دهغه صَرَاحَت ئې کړئ دئ په هغه کي د کَمبُوت او زِيَاتُوب پر حرام والي باندي د وَزَن په اِعتِبَار نو هغه همېشه وَزنِي دئ که څه هم خلګ دهغه وَزَن کول پريږدي. لکه سرَه زَر او سپين زَر .

تشريح : دحضور په زمانه کي چي کوم شِيَان کَيلِي وُ هغه به تر قيامت پوري کَيلِي پاته وي.او کَمبُوت و زِيَاتُوب به په کَيل سره مُعتَبَر وي.که څه هم وروسته خلګو دهغه شِيَانُو کَيل يعني پيمَانَه کول پرې ايښئ وي.مثلاً غَنَم.جُوَارِي.خُورمَا. مَالګَه او دغه رنګه نور شيان چي دحضور په زمانه کي دغه شيان په پيمَانَه سره خرڅېدل او حضور صَرَاحَت کړئ دئ چي دا شيان کَيلِي دي نو ځکه اُوس به تر قيامت پوري دا شيان کَيلِي پاته وي.که څه هم په نَن زَمَان کي خلګودغه شيان په وَزَن سره خرڅول شروع کړي وي. او کوم شيان چي د حضور په زَمَانَه کي وَزنِي وُ او حضور صَرَاحَت کړئ وي چي دا شيان وَزنِي دي نو په هغه شيانو کي به تر قيامت پوري په وَزَن سره د سُود اِعتِبَار وي،مثلاً سره زَر او سپين زَر د حضور په زَمَانَه کي په وَزَن سره خرڅېدل او حضور صَرَاحَت وکړئ چي دا شيان وَزنِي دي نو ځکه دا به تر قيامت پوري وَزنِي پاته وي .

وجه : (۱) دحضور حديث تر قيامت پوري دئ او دده راوړئ دِين تر قيامت پوري دئ نو ځکه دحضور صَرَاحَت به هم تر قيامت پوري مُعتَبَر وي (۲) په حديث کي ودې ته اِشَارَه سوې ده عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ اَلوَزنُ

حاشيه : (الف) حضور حَيوَان د حَيوَان په مُقَابَلَه کي په پُور خرڅولو څخه منع وکړه .

وَزنُ اَهلِ مَكّةَ وَ المِكيَالُ مِكيَـالُ اَهـلِ المَدِينَـةِ (الـف) (ابوداؤدشـريف، باب فـي قـول النبِيِّ المكيال مكيال المدينة ص١١٨نمبر٣٣٤٠) په دې حـديث كـي دا اِشَـاره ده چـي په وَزَن كي د مَكّې د خلګو اِعتِبَار دئ او پـه كَيل يعنـي پيمَانَـه كـې د مـدينې د خلګـو اِعتِبَار دئ. ددې قول يو مطلب خو دادئ چـي د كـوم مِعيَـار اوپـه څُونَـه انـدازه ګَيـل د مدينې خلګ استعمالوي هغه مُعتبر دي. او دُوَم مطلب ئـې دادئ چي كـوم شـئ چـي د مـدينې خلـګ كَيلِـي وګـرزوي هغـه كَيلِـي دئ.او كـوم شـئ چـي د مَكّـې خلـګ وَزنِـي وګرزوي هغه وَزنِي دئ.او په مَكّه كي هم د حضور حُكم چلېدئ نـو ګواكـه كـوم شـئ چي حضور كَيلِي كئ هغه كَيلِي دئ او كوم شئ چي حضور وَزنِي كئ هغه وَزنِـي دئ .

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل په وَزَن كي د مَكّې د خلګو د وَزَن اِعتِبَار دئ او په پيمَانَه كي د مَدينې د خلګو د وَزَن اِعتِبَار دئ .

[٩٤٠](٩) وَ مَا لَم يَنُصّ فَهُوَ مَحمُولٌ عَلْي عَادَاتِ النّاسِ [٩٤١](١٠) وَ عَقدُ الصّرفِ مَا وَقَعَ عَلْي جِنسِ الاَثمَانِ يُعتَبَرُ فِيهِ قَبضُ عِوَضَيهِ فِي المَجلِسِ وَ مَا سِوَاهُ مِمّا فِيهِ الرِّبَـوَا يُعتَبَـرُ فِيـهِ التّعيِـينُ وَ لاَ يُعتَبَـرُ فِيـهِ التّقَابُضُ .

فائده : امام ابويوسف فرمائي چي كه عَادَت بَدَل سـوئ وُ نـو اُوس بـه د عَـادَت مُطـابِق فيصله كيږي.مثلاً خلګ اُوس غَنَم د پيمانې پر ځائ په وَزَن سره خرڅوي نو اُوس بـه د سُود دارومدار پر وَزَن او كېلو باندي وي پرګَيل يعني پرپيمانه به نه وي .

وجه : د حضور په زمانه كي هم د خلګو د عَادَت مُطابِق فيصله سوې ده.نو ځكـه كـه چيري اُوس عَادَت بَدَل سوئ وي نو فيصله به هَم بدليږي .

[٩٤٠](٩) او پر كوم شي چي صَرَاحَت نه وي سوئ نو هغه د خلګو پر عَادَت بانـدي حَمَل دئ .

تشريح : د كومو شيانو په باب چي په شريعت كي صَرَاحَت نه وي سوئ چي دا كَيلِي دي كه وَزنِي دى نو هغه به د خلګو پر عَادَت باندي حَمل كيږي.كه خلګ هغه د كَيلِـي په توګه استعمالوي نو كَيلِي دي او كه د وَزنِي په توګه استعمالوي بيا وَزنِي دي .

[٩٤١](١٠) بَيعِ صَرَف چي د ثَمَنُو پر جِنس باندي واقع سوې وي نو پـه هغـه كـي پـه مجلس كي د دُوَاړُو عِوَضُو قبضه مُعتَبَرَه ده. او كوم چي ددې څخه علاوه دي په كـوم كي چي رِبَوَا ده په هغه كي د تَعَيِين اِعتِبَار دئ په هغه كي د قبضې اِعتِبَار نه كيږي .

تشريح : په كومو كومو صورتو كي چي سُود وي په هغـو كـي كـه و دواړو خُـوَاوُ تـه سرَه زَر وي يا سپين زَر وي يا يوه خُوَا ته سرَه زَر وي بَلَه خُوَا تـه سـپين زَر وي نـو دا مسئله خو تېر سوې ده چي په دي كـي پـور جـواز نـه لري.نَقدِي(نَغدِي) ضـروري

دي.او په نَغدُو کي هم دادئ چي په مَجلِسِ عَقد کي به پر دواړو باندي قبضه کوي.صرف مُتَعَیّن کول هم کِفَایَت نه کوي .

وجه : ځکه چي ثَمَن یعني سرَه زَر او سپین زَر په مُتَعَیّن کولو سره هم نه مُتَعَیّن کیږي تر څو چي قبضه ئې نه وي پر کړې. د سُود او پُور څخه د بَچَاؤ لپاره ضروري دئ چي پر دواړو باندي قبضه وکي .

ددې څخه علاوه چي کوم غَلّه جَات دي چي په هغه کي سُود راځي نو هلته د پُورڅخه د بَچَاؤ لپاره پر هغه قبضه کول ضروري نه ده.په مجلس کي صرف دا معلوم سي چي داغَنَم یادغه خُورمَا درکومه په دغه اندازه تَعَیّن هم کِفَایَت کوي .

وجه : غَلّه جَات د مُتَعَیّن کولو څخه مُتَعَیّن ګرزي.او د نَغدُو خرڅولو لپاره دومره کفایت کوي. مثلاً د غَنَمُو په بَدَل کي غَنَم خرڅ کړي نو برابر برابر سره دادي هم مُتَعَیّن کړي چي دا غَنَم درکوم او دا غَنَم درڅخه اَخلَم. بَس دغونه کفایت کوي باقاعده قبضه کول ضروري نه ده. په حدیث کي ددې اِشَارَه سته فَبَلَغَ عِبَادَةُ بِنِ صَامِتٍ فَقَامَ فَقَالَ اِنّي سَمَعتُ رَسُولَ اللهِ یَنهْي عَن بَیعِ الذّهَبِ بِالذّهَبِ وَ الفِضّةِ بِالفِضّةِ وَالبُرّ بِالبُرّ وَالشّعِیرِ بِالشّعِیرِ وَالتّمَرِ بِالتّمَرِ وَالمِلحِ بِالمِلحِ اِلاّ سَوَآ ءً بِسَوَآ ءٍ عَینًا بِعَینٍ (الف) (مُسلم شریف،باب الصرف وبیع الذهب بالورق نقدا ص۲۴نمبر۱۵۸۷) په دې حدیث د ,, یَدًا بِیَدٍ ,, پر ځائ ,, عَینًا بِعَینٍ ,, لفظ راغلئ دئ.ددې مطلب دادئ چي هغه شئ مُتَعَیّن سي او عَین شئ سي. نو ځکه اَحنَاف دغه حدیث پر غَلّه جَاتُ باندي حمل کوي او فرمائي چي په غَلّه جَاتُ کي صرف تَعِین راسي نو بیا په پُور خرڅولو څخه دغه قَدَر هم کِفَایَت کوي. او,, یَدًا بِیَدٍ ,, پر ثَمَن باندي حمل کوي .

فائده:امام شافعي په غَلّه جَاتُ کي هم دپُوردخرڅلاؤڅخه دبَ َچاؤلپاره قبضه ضروري ګڼي.دده دلیل د,,یَدًا بِیَدٍ,,والاحدیث دئ.چي دهغه مطلب دادئ چي قبضه کول ضروري ده .

[۹۴۲](۱۱) وَ لاَ یَجُوزُ بَیعُ الحِنطَةِ بِالدّقِیقِ وَ لاَ بِالسّوِیقِ وَ کَذَالِکَ الدّقِیقُ بِالسّوِیقِ .

اُصُول : (۱) اَثمَان یعني دِرهَم او دَنَانِیر په مُتَعَیّن کولو سره نه مُتَعَیّن کیږي تر څو چي قبضه کړې نه وي (۲) غَلّه جَات او سَامَان په مُتَعَیّن کولو سره مُتَعَیّن ګرزي .

[۹۴۲](۱۱) او جائز نه ده د غَنَمُو بَیعَ د وَړُو سره او نه د سَتّوَانُ سره او دغه رنګه د وَړُو بَیعَ د سَتّوَانُ سره .

تشریح : غَنَم د غَنَمُو د وَړُو په بَدَل کي خرڅ کړي یا د هغه د سَتّو په بَدَل کي خرڅ کړي نو دا جواز نه لري .

حاشیه: (الف) حضور منع وکړه سره زَر د سرو زَرُو په بَدَل کي، سپین زَر د سپینُو زَرُو په بَدَل کي، غَنَم د غَنَمُو په بَدَل کي، جُوَارِي د جُوَارَیُو په بَدَل کي، خُورمَا د خُورمَا په بَدَل کي، مَالګه د مَالګي په بَدَل کي مګر برابر برابر چي مُتَعَیّن ئې کړي .

وجه : (۱) ځکه چي که د تَلُلو لپاره په يوه پيمَانَه کي غَنَم واچوي نو مثلاً يو کېلو غَنَم په هغه کي راسي لېکن که چيري په هغه پيمَانَه کـي ددې غَنَمُـو وَړَه واچـوي نـو سَوَا کېلو به په هغه کي راسي.ځکه چي غَنَم سپک وي او غَتِي غَتِي دانـې ئـې وي. او وَړَه خو بَارِيک او مَيدَه دي نو هغه کښېني او زِيَـات پکښـي راځـي. نـو اُوس پـه دې لحـاظ خو سره برابر سو چي پيمَانَه په ډَکَه سوه لېکن په وَزَن کي به ډېر فـرق وي.نـو ځکـه مَسَاوَات نه راغلئ او دواړه يو جِنس او يو رنګه شِيَان دي نو مَسَاوَات او برابري خـو ضروري ده او هغه دَلتَه نه راغلئ نوځکه غَنَم د وَړُو په بَدَل کي يـا د سَتّوَانُ پـه بَـدَل کي خرڅول جواز نه لري.که بيا هم چيري خرڅوي نو د دِرهَم او روپۍ پـه بَـدَل کـي دې خرڅ کړي (۲) په حديث کې دداسي بَيع کولوڅخه منع کـړې ده قَـالَ سَـعدٌ سَـمِعتُ رَسُولَ اللهِ سُئِلَ عَمّن اِشتَرْي التّمَرَ بِالرّطَبِ فَقَالَ أينقُصُ الرّطَبُ اِذَا يَبِسَ فَقَـالُوا نَعَم فَنَهْـي عَن ذَالِکَ (الف) (دارقطني،کتاب البيـوع ج۳ص۴۴ نمبـر۲۹۷۶\سـنن للبيهقي،بـاب ماجـآء فـي النهی عن بيع الرطب بالتمرج۵ص۲۹۴) په دې حديث کي نَودې خُورمَاوِي او وَچِي خُورمَاوِي يو جنس دي لـېکن پـه صَـاع او پيمَانَـه کي نَودې خُورمَاوِي لَږ (کمي) راځي او پـه دغـه پيمَانَـه کـي وُچِـي خُورمَـاوِي زِيَـاتِ راځي.نوځکه د کېلو په حساب سره مُسَاوَات نه سي راتلائي په دغه وجه حضور منـع وکړه. بلکه پوښتنه ځيني وکړه چي آيا نَودې خُورمَاوِي بيا وروسته کميږي ؟ صـحابه کرامـو وفرمائـل هـو ! وروسـته دا بيـا کميـږي نـو حضـور نَـودې خُورمَـاوِي د وُچُوخُورمَاوُ په بَدَل کي د خرڅولو څخه منع وکړه.دغه حال د غَنَمُو او دهغه د وَړُو د غَنَمُو او دهغه د سَتّوَانُو هم دئ (۳) په اَثَر کـي راغلـي دي عَن سَعِيدِبنِ مُسَيّبٍ فِـي البُـرِّ بِالدّقِيقِ قَالَ هُوَ رِبًا (الف) (مصنف ابن ابي شـيبة ۳۲فـي السـويق بالحنطـة واشـباهه مـن اجـازه ج۵ص۳۴)

چي د غَنَمُو وَړَه وي او د غَنَمُو سَتّوَان وي بيا هم د دواړو بَيعَ جواز نه لري .

وجه : سَتّوَان چي وَالوَيَل (يعني نَنِې) سي هغه سَپکيږي هغه په پيمَانَه کي لَږ راځـي. او وَړَه نه اَلوَيَل کيږي هغه سره ځيخَلِي وي او وَزنِي وي. نو لدې وجهـي پـه دي کـي هم مَسَاوَات نه سي راتلائي.او جنس ئې يَو دئ.لِهْذَا دا بَيع جواز نه لري .

اُصُول : چي جنس ئې يَو وي او په وَزَن کې برابري نه سي راتلائي بيا هم جـواز نـه لري ځکه چي ,, مَثَلاً بِمَثَلٍ ,, نه سو .

پام لرنه : که جِنس بَدَل سـي.مثلاً د غَنَمـو وُړَه وي او د جُوَارَيُـو سَـتّو وي نـو بيـا بَيـع جائز ده ځکه چي جنس بَدَل سو .

حاشيه : (الف) حضور دهغه سړي څخه پوښتنه وکړه چي خُورمَا ئـې د نَـودې خُورمَـا پـه بَـدَل کـي اَخستې وه، وفرمائل آيا نَودَه خُورمَا کميږي چي کله وَچَه سي؟ خلګو ورته وويل هُو! نو حضور د دې بَيعِ څخه منع وکړه .

فائده : د صاحبينو په نېز سَتّو او وُړَه دوه جلا جلا جنسونه دي.ديوه څخه ډُوډَئ پخيږي او سَتّو په بَل يو شي ګډيږي بيا خُوړَل کيږي نو ځکه سَتّو د وَړُو په بَدَل کي خرڅول جائز دئ .
لُغَت : اَلدّقِيقُ : وُړَه. اَلسّوِيقُ : سَتّوَان. سَتّو.په کاکړئ پښتوکي اَلوَئ ورته وائي .

حاشيه : (الف) د حضرت سعيدبن مُسَيّب څخه د غَنَمُو د وَړُو په مُقَابِل کي د خرڅولو په باب پوښتنه وسوه نو وفرمائل چي دا رِبَوا ده .

[۹۴۳](۱۲) وَ يَجُوزُ بَيعُ اللّحمِ بِالحَيوَانِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ وَ اَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالْي وَ قَالَ مُحَمّدٌ لاَ يَجُوزُ اِلاّ عَلْي وَجهِ الاِعتِبَارِ حَتّْي يَكُونَ اللّحمُ اَكثَرَ مِمّا فِي الحَيوَانِ فَيَكُونُ اللّحمُ بِمِثلٍ وَالزِّيَادَةُ بِالسّقطِ .

[۹۴۳](۱۲) جائز ده د غُوَښِي بَيع د حَيوَان سره د امام ابوحنيفه او امام ابويوسف په نېز او امامِ محمدفرمائي چي جواز نه لري مګر په دې اِعتِبَار چي غُوَښَه زِيَاتَه وي تر هغه کوم چي په حيوان کي ده نو غُوَښَه به د غُوَښِي په بَدلَه کي سي او زِيَاتُوب به د سَقط په بَدلَه کي سي .
تشريح : مثلاً د غُوَايَه غُوَښَه وي د ژُوَندِي غُوَايَه په بَدلَه کې خرڅوي نو دا د شيخَين په نېز جائز دئ که څه هم په غُوَايَه کي شپيتَه کېلو غُوَښَه وي او هغه پرې کړې غُوَښَه دېرش کېلو وي.
وجه : غُوَښَه وَزنِي شئ ده په وَزَن تَلَل کيږي او غُوَيَئ عَدَدِي شئ دئ هغه نه تَلَل کيږي بلکه په عَدَد سره ئې خرڅيږي. نو دا دُوَه جنس سو يَو جنس نه سو. نو ځکه د کَمِي او زِيَاتُوب سره ئې خرڅول جائز دئ. امامِ محمد فرمائي چي کومه پرې سوې غُوَښَه ده هغه بايد دهغه غِوَښِي څخه زِيَاتَه وي کوم چي په غُوَايَه کي ده بيا ئې نو خرڅول جائز دئ. مثلاً په ژُوَندِي غُوَايَه کي شپېته کېلو غُوَښَه وي نو هغه پرې سوې جلا غُوَښَه بايد اَويَا کېلو وي.چي شپېتَه کېلو د شپېتو کېلو په بَدَل کي راسي او لَس کېلو پرې کړې غُوَښَه د غُوَايَه د پِنې.پُښتَوَرګُو او د سَقَط په بَدلَه کي راسي.
وجه : (۱) دئ فرمائي چي د غُوَايَه پرې کړې غُوَښَه او غُوَيَئ دواړه يَو جنس دي نو ځکه په دي کي مَسَاوَات او برابري ضروري ده (۲) دا حديث هم دده دليل دئ عَن

[۹۴۴](۱۳) وَ يَجُوزُ بَيعُ الرّطَبِ بِالتّمَرِ مَثَلاً بِمَثَلٍ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ وَ كَذَالِكَ العِنَبُ بِالزّبِيبِ .

سَهلِ بِنِ سَعِيدٍقَالَ نَهْي رَسُولُ اللهِ ﷺعَن بَيعِ اللّحمِ بِالحَيوَانِ (الف)(دارقطني، کتاب البيوع ج۳ص۵۹نمبر۳۰۳۷\سنن للبيهقي،باب بيع اللحم بالحيوان ج۵ص۴۸۳نمبر۱۰۵۶۹) په دې حديث کې حيوان د غُوَښِي په بَدَل کي د خرڅولو

ځخه منع کړئ دئ. ددې دغه وجه ده چي دا دواړه يَو جنس دئ.خو بيا هم چي غُوَښَه زِيَاتَه وي او د مَسَاوَات اِعتِبَار وکي نو بيا جواز پيدا کوي .

لُغَت : اَلسّقَطُ : بېکاره شئ لکه هَډوګئ او ښکَر او دهغه په شَان نور شيان .

[۹۴۴](۱۳) جائز ده د نَودې خُورمَا بَيعَ د وَچي خُورمَا په بَدلَه کي برابر برابر د امام ابوحنيفه په نېز او دغه رنګه د اَنګُورُو بَيعَ د کِشمَشُو سره .

تشريح : نَودې خُورمَاوِي د وُچُو خُورمَاوُ په بَدلَه کي خرڅول جائز دي په دې شرط چي دواړي د صَاع به اِعتِبَار برابر برابر خرڅي کړي .

وجه : دواړي خُورمَاوِي دي ځکه دا يَو جنس دئ.نو که چيري پيمَانَه په ډکه کړي دواړي برابر برابر سره خرڅي کړي په دي که څه خاص حرج نسته.حديث مخکي تېرسوئ دئ ,, مَثَلاً بِمَثَلٍ ,, . دغه رنګه اَنګُور او ددغه ځخه وَچ سوي کِشمَش هم يَو جنس دي. نو که پيمَانَه په ډَګه کړي او برابر برابر ئې کړي بيا ئې خرڅ کړي نو دا جائز دئ. او که چيري جلا جلا جنس فرض کړې نو بيا خو د کَمَئ او زِيَاتُوب سره خرڅول هم جائز دي .

فائده : صاحبين او امامِ شافعي فرمائي چي نَودې خُورمَاوِي د وُچُو خُورمَاوُ په بَدَل کي خرڅول جواز نه لري .

حاشيه : (الف) حضور غُوَښَه د حَيوَان په بَدَل کي د خرڅولو ځخه منع وکړه .

[۹۴۵](۱۴) وَ لاَ يَجُوزُ بَيعُ الزّيتُونِ بِالزّيتِ وَ السّمسَمِ بِالشّيرَجِ

وجه : (۱) دُوئي فرمائي چي د دواړو جِنس يَو دئ چي پيمَانَه په ډَکه کړې خرڅ ئې کړې نو اُوس فِي الحَال خو به دواړي پيمَانې سره برابري سي لېکن نَودې خُورمَاوِي بيا وروسته وُچيږي دهغو مِقدَار کميږي نو وروسته بيا مَسَاوَات پر خپل ځائ نه پاته کيږي. نو ځکه دا,, مَثَلاً بِمَثَلٍ ,, نه سو.نو په دغه جه نَودې خُورمَاوِي د وُچُو خُورمَاوُ په بَدَل کي خرڅول جواز نه لري (۲) په حديث کي هم منع راغلې ده وَ قَالَ سَعدٌ سَمِعتُ رَسُولَ اللهِ ﷺسَئَلَ عَمّن اِشتَرِيْ التّمَرَ بِالرّطَبِ فَقَالَ أَينقُصُ الرّطبُ اِذَا يَبِسَ ؟ فَقَالُوا نَعَم فَنَهي عَن ذَالِکَ (الف) (دارقطني،کتاب البيوع ج۳ص۴۴نمبر۲۹۷۶\سنن للبيهقي،باب ماجآء في النهي عن بيع الرطب بالتمرج۵ص۴۸۰نمبر۱۰۵۵۶) په دې حديث کي حضور پوښتنه کړې ده چي آيا نَودې خُورمَاوِي چي وُچي سي نو کَميږي که نه ؟ نو خلګو ورته ويل چي هُو! بيا حضورﷺنَودې خُورمَاوِي د وُچُو خُورمَاوُ په بَدلَه کي د خرڅولو ځخه منع وکړه. نو لدې وجهي امامِ شافعي او صاحبين نَودې خُورمَاوِي د وُچُو خُورمَاوُ په بَدَل کي خرڅول ناجائز ګڼي .

لُغَت : اَلرّطَبُ : نَودې خُورمَاوِي. اَلعِنَبُ : اَنګُور. اَلزّبِيبُ : کِشمَش. و وُچُو اَنګُورُو ته کِشمَش وائي .

[۹۴۵](۱۴) او جائز نه ده د زَيتُون بَيعَ د زَيتُونُ د تِيلُ سره او د كُنجَتُو بَيعَ د كُنجَتُو د تِيلُ سره تر هغه وخته پوري چي د زَيتُونِ تېل او د كُنجَتُو تېل زِيَات سي تر هغه كوم چي په زَيتُونَ او په كُنجَتُو كي دي. چي تېل دهغه د مِثل په بَدَل كي سي او هغه زِيَات تېل د كُوكلئ په بَدلَه كي سي .

تشريح : مثلاً دوه كېلو خَالِص د زَيتُونِ تِېل وي دغه د شپږ كېلو زَيتُونِ د مېوې په

حاشيه : (الف) حضور دهغه سړي څخه پوښتنه وكړه چي خُورمَا ئې د نَودې خُورمَا په بَدَل كي اَخستې وه، وفرمائل آيا نَودَه خُورمَا كميږي چي كله وَچَه سي؟ خلكو ورته وويل هُو! نو حضور د دې بَيعِ څخه منع وكړه .

حَتْي يَكُونَ الزّيتُ وَ الشّيرَجُ اَكثَرَ مِمّا فِي الزّيتُونِ وَالسّمسَمِ فَيَكُونُ الدّهنُ بِمِثلِهِ وَالزّيَادَةُ بِالشّجِيرِ .

بَدَل كي خرڅول غُوَارِي. او په شپږ كيلو زَيتُونَ كي يَونِيم كېلو تبل موجود وي نو دا بَيع جائز ده .

وجه : ځكه چي دا رَااِستَل سوي يَو نِيم كېلو تېل به د هغه تېلُ په بَدَل كي سي كوم چي د زَيتُونِ په مېوه كي يَو نِيم كېلو تېل موجود دي.او دا پَاتَه نِيم كېلو تبل به د زَيتُونِ د كُوكلَئ په مقابله كي سي. دغه رنګه ګواكه يَونِيم كېلو تېل د يَونِيم كېلو تيلو په بَدلَه كي سو او په دې وجه چي جِنس ئې يَو دئ نو مَسَاوَات او برابري ئې هم راغله نو ځكه دې بَيعِ جواز پيدا كئ. او كه چيري هغه تېل كوم چي د زَيتُونِ په مېوه كي موجود دي دا رَااِستَل سوي تېل تر هغه ګم (لَږ) وي نو بيا بَيعَ جواز نه لري .

وجه : (۱) دا تقريبًا يَو جنس دئ نو ځكه بې له ,, مَثَلاً بِمَثَلٍ ,, جواز نه لري (۲) په حديث كي ودې ته اِشَارَه سوې ده عَن سَهلِ بِنِ سَعِيدٍ قَالَ نَهْي رَسُولُ اللهِ ﷺ عَن بَيعِ اللّحمِ بِالحَيوَانِ (الف) (دارقطني،كتاب البيوع ص۵۹نمبر۳۰۳۷\سنن للبيهقي،باب بيع اللحم بالحيوان ج۵ص۴۸۳نمبر۱۰۵۶۹) په دې حديث كې غُوَښَه دحَيوَان په بَدلَه كي دخرڅولوڅخه منع كړې ده.ځكه چي دواړه يَو جنس دي. دغه رنګه د زَيتُونِ تېل او د زَيتُونِ مېوه دواړه يَو جنس دي نو ځكه هغه هم جواز نه لري تر څو چي خَالِص تېل تر هغه تيلُ زِيَات نه وي كوم چي په زَيتُونَ كي دي .

اُصُول : چي يَو جنس وي نو د مَبِيع او ثَمَن برابر والئ ضروري دئ كه نَه نو بيا رِبَوا لازميږي .

لُغَت:اَلزّيتُ :دزَيتُونِ تبل.اَلسِّمسَمُ :كُونجَتَه.اَلشّيرَجُ :دكُونجِتِي تبل.اَلدّهنُ : تبل . اَلشّجِيرُ : كُوكلئ .

حاشيه : (الف) حضور غُوَښَه د حَيوَان په بَدَل كي د خرڅولو څخه منع وكړه .

[۹۴۶](۱۵) وَيَجُوزُ بَيعُ اللّحمَانِ المُختَلِفَةِ بَعضُهَا بِبَعضٍ مُتَفَاضِلاً [۹۴۷](۱۶) وَ كَذَالِکَ اَلبَانُ الاِ بِلِ وَ البَقَرِ وَ الغَنَمِ بَعضُهَا بِبَعضٍ مُتَفَاضِلاً .

[۹۴۶](۱۵) او جائز ده د مُختلِفو غُوَښُو بَيعَ بَعض د بعضُ سره د کَمۍ او زِيَاتُوب سره .

تشريح : مثلاً د وُزيِ(بُوزيِ) غُوَښِي د غُوَا د غُوَښُو سره خرڅوي نو چي يَوَه خُوَا ته زِيَاتِ بله خُوَا ته کَمي وي دا جائز دئ .

وجه : (۱) وُزَه جلا جنس ده غُوَا جلا جنس ده.د وُزيِ غُوښَه د وُزيِ د جنس څخه ده دغه رنګه د غُوَا غُوَښَه د غُوَا د جنس څخه ده.نو ځکه د وُزيِ غُوَښَه د غُوَا د غُوَښِي سره په کَمبُوت او زِيَاتُوب سره خرڅولائي سي (۲)په اَثَر کي راغلي دي قَالَ مَالِکٌ وَلاَ بَأسَ بِلَحمِ الحِيتَانِ بِلَحمِ الاِبِلِ وَالبَقَرِ وَالغَنَمِ وَمَا اَشبَهَ ذَالِکَ مِنَ الوُحُوشِ کُلِّهَا اِثنَينِ بِوَاحِدٍ وَاَکثَرَ مِن ذَالِکَ يَدًا بِيَدٍ فَاِن دَخَلَ فِي ذَالِکَ اَلاَجَلُ فَلاَ خَيرَ فِيهِ (الف) (مؤطا امام مالک،باب بيع اللحم باللحم ص۵۳۹) په دې اَثَر کې د مَاپِي غُوَښَه د وُزيِ يا د غُوَايَه د غُوَښِي سره په کَمبُوت او زِيَاتُوب سره څرڅول جائز کړي دي خو په دې شرط چي نَغدِ(نقد) وي په پور نه وي ځکه چي دا دواړه وَزنِي شيان دي .

اُصُول : چي جلا جلا جنس وي نو دکَمۍ او زِيَاتُوب سره خرڅول جائز دئ .

لُغَت : اَللّحمَانِ : د ,, لَحمٌ ,, جمع ده معنْي غُوَښَه .

[۹۴۷](۱۶) دغه رنګه د وُښِي شيدې.دغُوَا شيدې او دوُزيِ شيدې بعض د بعضو په بَدلَه کي د کَمۍ او زِيَاتُوب سره خرڅول جائز دي .

حاشيه : (الف) حضرت امامِ مَالِک فرمائي هيڅ د حرج خبره نه ده چي د مَاهِي غُوَښَه د وُښ،غُوَا او وُزيِ (بُوزيِ) د غُوَښِي په بَدَلَه کي خرڅي کړي يا هغه چي ددې مُشَابِه وي د وَحشِي حَيوَانَانُو څخه دُوَه د يَوَه په بَدلَه کي يا ددې څخه زِيَات په دې شرط چي لاَس په لاَس وي،بيا که چيري په دي که مُدَه راسي نو په دي کي هيڅ خَير نسته .

[۹۴۸](۱۷) وَ خَلّ الدّقلِ بِخَلِّ العِنَبِ مُتَفَاضِلاً [۹۴۹](۱۸) وَ يَجُوزُ بَيعُ الخُبزِ بِالحِنطَةِ وَالدّقِيقِ مُتَفَاضِلاً .

تشريح : د وُښِي شيدې د وُښِي جنس دئ نو ځکه هغه د وُزيِ د شيدو په بَدَل کي دکَمۍ او زِيَاتُوب سره خرڅول جائز دي.ځکه چي د وُزيِ شيدې د وُزيِ دجنس څخه دي د وُښِي څخه جلا دي. نو ځکه دا بَيعَ جائز ده .

وجه : په تېره صفحه کي د مُؤطاامامِ مَالِک اَثَر تېر سوئ دئ.او دا حديث هم دئ وَبِيعُوا اَلشّعِيرَ بِالتّمَرِ کَيفَ شِئتُم يَدًا بِيَدٍ (الف) (ترمذي شريف،باب ماجآ ء ان الحنطة بالحنطة

مثلاً بمثلٍ وكراهية التفاضل فيه ص۲۳۵نمبر ۱۲۴۰) په دې حديث كي دئ چي جلا جلا جنس وي نو چي څه رنګه مِي خُوَښَه سي په كَمَئ او زِيَاتُوب سره خرڅوئ .

[۹۴۸](۱۷) او جائز ده د خُورمَاوُ سِركَه د اَنګُور د سِركې سره دكَمَـئ او زِيَـاتُوب سره .

وجه : د خُورمَاوُ سِركَه جلا جنس ده او د اَنګُور سِركَه جلا جنس ده. نـو چـي دواړې جلا جلا جنس دي نو بيا كه د كَمَئ او زِيَاتُوب سره خرڅ كړي نو څه حرج نـه لـري. كه څه هم په نَامَه باندي دواړې سِركَي دي .

[۹۴۹](۱۸) او جائز ده د ډُوډَئ بَيعَ د غَنَمُو او وَړُو سره د كَمبُوت او زِيَاتُوب سره .

وجه : ډُوډَئ كه څه هم دوَړُو د جنس څخه وي خو بيا هم دې ته جلا جـنس ويلـي دي. ځكه چي ډُوډئ په حِسَاب شمېرل كيږي بيا خرڅيږي او وَړَه و غَـنَم كَيلِـي شِيَان دي. دغه رنګه د ډُوډَئ مَصرَف جلا دئ د وَړُو مَصرَف جـلا دئ.لِهٰذَا دا دواړه دوه جـنسَ سو. نو ځكه د كَمَئ او زِيَاتُوب سره خرڅول جائز سو .

لُغَت : اَلخُبزُ : ډُوډَئ. اَلدّقِيقُ : وَړَه (وُړَه) .

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل چي وُربُشِي د خُورمَا په بَدَل كي خرڅوئ چي څه رنګه مِي خُوَښَـه سـي پـه دې شرط چي لاَس په لاَس وي .

[۹۵۰](۱۹) وَ لاَ رِبَـوَا بَـينَ المَـولْي وَ عَبـدِهِ [۹۵۱](۲۰) وَ لاَ بَـينَ المُسلِمِ وَالحَربِيِّ فِي دَارِالحَربِ .

[۹۵۰](۱۹) د مَولْي او دهغه د غُلاَم تر مينځ رِبَوَا نسته .

تشريح : مَولْي د خپل مَرَئـي څخـه سُودوَاخلِي يَو دِرهَـم وركـړي او دُوَه دِرهَـمَ ځينـي وَاخلِي دا سُود نه دئ.دا اَخَستَلاَئي سـي. لـېكن پـه دي كـي شـرط دادئ چـي پـر غُـلاَم باندي پور نه وي. ځكه چي كه پر غُلاَم باندي پور وي نو بيا د غُلاَم روپۍ صـرف د غُلاَم نه دي بلكه دهغه سړي دي چي و غُلاَم ته پور وركړئ دئ .

وجه : (۱) د غُلاَم سره چي هر څونه روپۍ دي هغه ټولي د مَولْي دي. چي يَـو دِرهَـم وركړي دُوَه دِرهَمَ ځيني وَاخلِي نو ګواكه مَولْي خپلي روپۍ واخستلي نو ځكـه دا سُـود نه سو (۲) په اَثَر كي دد ثبوت سته كَانَ اِبنُ عَبّـاسٍ يَبِيـعُ عَبـدًا لَـهُ اَلثَّمَـرَةَ قَبـلَ اَن يَبـدُوَ صَلاَحُهَا وَ كَانَ يَقُولُ لَيسَ بَينَ العَبدِ وَسَيِّدِهِ رِبًا (الف) (مصنف عبدالرزاق، باب ليس بين عبدوسيده والمكاتب وسيده رِبًا،ج۸ص۷۶نمبـر۱۴۳۷۸\مصـنف ابـن ابـي شـيبة ۸ من قال ليس بين العبدوسيده رِبًا،ج۴ص۲۷۸نمبر۲۰۰۳۴) ددې اَثَـر څخـه معلـوم سـو چي د مَولْي او دهغه د غُلاَم تر مينځ سُود نه وي .

[۹۵۱](۲۰) او نه دئ سُود د مسلمان او كافر تر مينځ په دارالحرب كي .

تشريح : په دارالحرب كي چي كوم حَربِي دئ مسلمان دهغه مال د سُودي كاروبار لپاره وَاخلِي نو دا سُود نه دئ .

حاشيه : (الف) حضرت عبدالله بن عباس د خپل مَرَئِي سره د مېوې د پخېدلو څخه مخكي بَيعَ كوله اوفرمائل ئې چي د مَرَئِي او دهغه د سَيِّد تر مينځ سُود نسته .

وجه : (١) د حَربِي مال د مَالِ غَنِيمَت په درجه كي دئ.او مَالِ غَنِيمَت اَخستَل جائز دئ.نو ځكه د حَربِي مال د هغه په رَضَامَندَئ سره خوپه درجه اَولٰي اَخستَل جائز دئ (٢) ددې لپاره يَو حديثِ مُرسَل هم دئ عَن مَكحُولٍ اَنّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ لاَ رِبَوَا بَينَ اَهلِ الحَربِ وَ اَظُنّهُ قَالَ وَ بَينَ اَهلِ الاِسلاَمِ (الف)(دِرَايَه ص٨٧\اعلآء السنن ،باب في الربافي دارالحرب بين المسلم والحربي ج١٤ص٣٨٦نمبر٤٧٤٤) په دې حديث كي ويل سوي دي چي د حَربِي او مسلمان تر مينځ سُود نسته. دامام ابوحنيفه دغه مَسلَک دئ .

پام لرنه : د ډېري پلټني وروسته ددې حديث په موندلو كي بَريَالَئ نه سوم .

فائده : امام ابويوسف او امامِ شافعي فرمائي چي د حَربِي او مسلمان تر مينځ هم سُود جواز نه لري .

وجه : (١) په قُرآن كې عَلٰي الاِطلاَق سود حرام كړئ دئ. آيت دئ يَاَيّهَا الّذِينَ آمَنُوا اِتّقُوا اللهَ وَ ذَرُوا مَابَقِيَ مِنَ الرِّبَوَا اِن كُنتُم مُؤمِنِينَ (ب) (آيت ٢٧٨سورة البقرة ٢) په دې آيت كې فرمائلي دي چي كوم سُود چي پَاتَه سوئ دئ هغه پريږدئ او دا عَلٰي الاِطلاَق دئ. نو ځكه د حَربِي څخه هم سُود اَخستَل حرام دئ (٢) د حَجّةُ الوِدَاع پر موقع باندي حضور د سُود د ختم كولو اعلان وكئ او د حضرت ابن عَبّاس چي كوم سُود پر خلګوباندي پاته وُ هغه ئې هم مُعَاف كئ. حالانكه هغه سُود پر كافرانو باندي هم پَاتَه وُ. ددې څخه دا معلوم سو چي د حَربِي څخه هم سُود اَخستَل حرام دئ قَالَ دَخَلنَا عَلٰي جَابِرِ بِنِ عَبدِاللهِ فَسَئَلَ عَنِ القَومِ ... وَ اَوّلُ رِبًا اَضَعُ رِبانَا

حاشيه : (الف) مَكحول چي تَابِعِي دئ دهغه څخه رِوَايَت دئ چي حضور وفرمائل د اَهلِ حَرب تر مينځ رِبَوا نسته او ګُمَان دئ چي دارنګه هم وفرمائل او د اَهلِ اِسلام تر مينځ، يعني د حَربِي او مسلمان تر مينځ سُود نه وَاقِع كيږي (ب) ائ مؤمنانو! دخدائ څخه وبېرېږئ اوكوم سُود چي پاته دئ هغه پريږدئ كه تاسو ايمان لرئ .

رِبَاعَبّاسٍ بِنِ عَبدَالمُطّلِبِ فَاِنّهُ مَوضُوعٌ كُلّهُ (الف) (مسلم شريف،باب حجة النبيِّ ص٣٩٤نمبر١٢١٨\ابوداؤدشريف،باب صفة حجة النبي ص٢٦٩نمبر ١٩٠٥) په دې

حديث كي حضور ﷺ عَلْي الاِطلاَق سُود منع كړئ دئ. بلكه په ابوداؤدكي دا جمله هم ده ,, وَرِبَا الجَاهِلِيّةِ مَوضُوعٌ ,, ددې مطلب دادئ چي د حَربِيَانُو سود هم ختم كيږي.نو ځكه د حَربِی څخه هم سُود اَخَستَل حرام دئ .
پام لرنه : فَتوٰي د امام ابويوسف پر مَسلَک ده. خصوصًا په دَارُالاَمن كي سُود اَخَستَل بالكليه جواز نه لري .

حاشيه : (الف) تر ټولو مخكنئ رِبَوَا چي ختم كوم ئې هغه د عَبّاس بن عبدالمطلب رِبَوَا ده، بس نو هغه ټولي ختم كيږي .

..... بَابُ السِّلَمِ .....

ضروري پام لرنه : د بَيعِ سِلَم مطلب دادئ چي قِيمَت اُوس وَاخلِي او مَبِيع بيا څو ورځي وروسته ورکړي.دې ته بَيعِ سِلَم وائي.د قياس تقاضا خو داده چي دا بَيعَ جائز نه سي.ځكه چي په حديث كي تېرسوي دي چي كومه مَبِيع ستاسو سره نه وي هغه مَه خرڅوئ وَ لاَ بَيعُ مَا لَيسَ عِندَکَ (الف) (ابواداؤدشريف،نمبر۳۵۰۴\ ترمذي شريف،نمبر۱۲۳۲) لېكن و مسكينانو ته دا آسانتيا وركړې ده چي دُوئي د مَالدَارَانُو څخه قِيمَت اُوس وَاخلِي او په هغه باندي خپل خريدوفروخت ورته كوي او ګټه ورته كوي. بيا چي كله د مَبِيع د وركولو وخت راسي مَبِيع دي رَانِيسِي و بَائِع ته دې حواله كړي. مَبِيع مخامخِ موجود نه ده نوځكه د مَبِيع د مُكَمّل تَعيِين لپاره چي اُوَه(۷) شرطونه موجود سي بيا بَيعِ سِلَم جائز ده. ددې شرطو څخه د مَبِيع يَو څَه خَاګَه مخته راځي او د جګړې كولو موقع نه پَاتَه كيږي. ددې شرطو تفصيل مخته راروان دئ. د بَيعِ سِلَم د جواز دليل دا آيت دئ يَا اَيّهَا الّذِينَ آمَنُوا اِذَا تَدَايَنتُم بِدَينٍ اِلٰي اَجَلٍ مُسَمّيً فَاكتُبُوهُ (ب) (آيت ۲۸۲سورة البقرة۲) په دې آيت كي ويل سوي دي چي كله تاسو د

يَو دَين(پور)معامله كوئ نو هغه لِيكَئ او بَيعِ سِلَم هم د دَين (پور) يوه معلاملـه ده نـو ځكـه ددې جواز هم په دې آيت كي شَامِل دئ (٢) به حديث دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ قَدِمَ النّبِـيُّﷺ اَلمَدِينَـةَ وَهُم يَسلِفُونَ بِالثّمَرِ اَلسّنَتَينِ وَالثّلْثَ فَقَالَ مَن اَسلَفَ فِي شَئٍ فَفِي كَيلٍ مَعلُومٍ وَ وَزنٍ مَعلُومٍ اِلْي اَجَلٍ مَعلُـومٍ (ج)(بخـاري شـريف،باب السـلم فـي وزن معلـوم ص٢٩٨نمبـر ٢٢۴٠\مسـلم شـريف،باب السـلم ص٣١نمبر١٦٠۴) ددې حديث څخه معلوم سو چي بَيعِ سِلَم جـائز ده او درې شـرطونه هـم ځيني معلوم سو چي د مَبِيع كَيل.وَزَن او اَجَل بايد معلوم وي .

پام لرنه : په بَابُ السِّلَم كي و بَائِع ته مُسلَم اِلَيهِ و مُشتَرِي ته رَبّ السِّلَم و مَبِيع مُسلَم فِيهِ او و ثَمَن ته رَأسُ المَال وائي .

حاشيه : (الف) او مَه خرڅَوَئ هغه شئ چي ستاسو سـره نـه وي (ب) ائ مؤمنـانو چـي تاسـو تـر مُتَعَيّن مُـدې پوري د دَين (پور) معامله وكئ نو هغه ليكئ (ج) حضور مديني ته تشريف راوړئ.او خلګو پـه مېوُو كـي تـر دُوُ دُرُو كالو پوري بَيعِ سِلَم كوله نو حضور وفرمائل څوک چي په يَو شِي كي بَيعِ سِلَم وكړي نـو كَيـل دي معلوم وي،وَزَن دي معلوم وي،او مُدَه دي معلومه وي .

..... بَابُ السِّلَمِ .....

[٩٥٢](١) اَلسِّلَمُ جَائِزٌ فِي المَكِيلاَتِ وَ المَوزُونَاتِ وَ المَعدُودَاتِ اَلّتِـي لاَ يَتَفَاوَتُ كَالجَوزِ وَالبِيضِ وَ المَذرُوعَاتِ .

..... بَابُ السِّلَمِ .....

[٩٥٢](١) سِلَم جائز ده په كَيلِي شيانو.وَزنِي شيانو او عَدَدِي شيانو كـي چـي پـه اَفـرَادُ كي تَفَاوُت نه وي. لكه جَوَز او اَګَئ او په لاَس سره نَاپَوُونكِي شيانو كي .

تشريح : كوم شئ چي كَيلِي وي يعني پـه پيمَانَـه سره معلومـوي بيـائې خرڅـوي لكـه غَنَم. وُرِيجِي به دي كي بَيعِ سِلَم جائز ده. دغه رنګه چي كوم شـيان وَزنِـي وي يـا پـه عَـدَد سـره حسابيږي لېكن دهغو په اَفرَادُ كي څه خاص تَفَاوُت او فرق نه وي لكه جَوَز او اَګَـئ چـي د دې په اَفرَادُ كي څه ډېرزيات فرق نسته په دې كي كه كِشنَئ يا غَټ وركړي نـو جګـړه او اختلاف نه رامينځ ته كيږي. دغه رنګه كوم شيان چي په لاَس او ګزه سره نَاپيږي بيـا خرڅيږي لكه كپړه يا دهغه په شان بَل شئ نو دا شِيَان پـه بَيـعِ سِلَم سـره خرڅـولائي سي .

وجه : په كَيلِي.وَزنِي.عَدَدِي او ذِرَاعِي شيانو كي بَيعِ سِلَم پـه دې وجـه جـائز ده چـي كلـه د دُوئي صِفَات او وَزَن مُتَعَيّن سي نو تر ډېره حَدّ پوري مُتَعَيّن ګرزي او دجګړې او اخـتلاف څه سَبَب نه رامينځ ته كيږي نو ځكه په دې شيانو كـي بَيعِ سِلَم جائز ده. او كوم شيان چي د صِفَاتُ په ذريعه معلومول نَامُمكِن وي په هغه شيانو كي بَيعِ سِلَم جواز نه لري. په حـديث كي ددې ثبوت سته عَن اِبنِ عَبّاسٍ ... فَقَالَ مَن اَسلَفَ فِي شَئٍ فَفِي كَيلٍ مَعلُومٍ وَ وَزنٍ مَعلُومٍ اِلْي اَجَلٍ مَعلُومٍ (الف) (بخاري شريف، باب السلم في وزن معلوم ص٢٩٨نمبر ٢٢۴٠) په دې حديث كي د ,,كَيلٍ مَعلُومٍ,, څخه معلوم سو چي

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل څوک چي په يَو شِي کي بَيعِ سِلَم وکړي نو کَيل دي معلوم وي،وَزَن دي معلوم وي،او مُدَه دي معلومه وي .

[۹۵۳](۲) وَ لاَ يَجُوزُ السِّلَمُ فِي الحَيوَانِ وَ لاَ فِي اَطرَافِهِ وَ لاَ فِي

شئ به کَيلِي وي. او د ,,وَزنٍ مَعلُومٍ,, څخه معلوم سو چي شئ به وَزنِي وي. او د کپړې د بَيعِ سِلَم لپاره دا اَثَر دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ فِي السّلَفِ فِي الکَرَابِيسِ قَالَ اِذَا کَانَ ذِرَاعٌ مَعلُومٌ اِلْي اَجَلٍ مَعلُومٍ فَلاَ بَأسَ (الف) (سنن للبيقي، باب السلف في الحنطة والشعيروالزبيب والزيت والثياب وجميع مايضبط بالصفة ج ۶ ص۴۲نمبر۱۱۱۲۳\ مصنف ابن ابي شيبة ۱۷۳في السلم بالثياب ج۴ ص۳۹۸ نمبر ۲۱۴۰۳) ددې اَثَر څخه معلوم سو چي کپړه چي په لاَس سره ناپيرِ.ي دهغې بَيعِ سِلَم کېدلائي سي.او پر دغه باندي عَدَدِي شيان قياس کَه. په عَدَدِي کي د بَيعِ سِلَم دجواز لپاره دا حديث دئ فَکَانَ يَأخُذُ البَعِيرَ بِالبَعِيرَينِ اِلْي اِبِلِ الصّدَقَةِ (ب) (ابوداؤدشريف،باب في الرخصة في ذالک يعني باب في الحيوان بالحيوان نَسِيئَةً ص۱۲۱نمبر۳۳۵۷) په ې حديث کي حضور يَو وُښ د دُوُ وُښَانُ په بَدَلَ کي اَخستَئ دئ. ددې څخه په عَدَدِي شيانو کي د بَيعِ سِلَم جواز معلوميږ.ي .

پام لرنه : په وَزنِي کي دِرهَم او دَنَانِير هم دي. دهغو بَيعِ سِلَم جواز نه لري.ځکه چي ددې صِفَات په مُتَعَيّن کولو سره نه مُتَعَيّن کيږ.ي.نو ځکه د وَزنِي څخه هغه شيان مراد دي چي وَزَن کيږ.ي لېکن دِرهَم او دَنَانِير نه وي.لکه وَسپينَه او دهغې په شَان نور شيان .

اُصُول : کوم شيان چي دصَفَاتُ په تَعِين باندي مُتَعَيّن کيږ.ي دهغه بَيعِ سِلَم جائز ده.

لُغَت : اَلجَوزُ : جَوَز. اَلبِيضُ : اَګئ. اَلمَذرُوعَاتُ : د ذِرَاعٌ څخه مُشتق دئ.کوم شئ چي په لاس باندي نَاپيرِ.ي يا په ګزَه سره ناپيرِ.ي لکه کپړه .

[۹۵۳](۲) او جواز نه لري سِلَم په حيوان کي او نه د هغه په اَطرَافُ کي او نه په پُوستُو کي په شمېر سره .

حاشيه (الف) د حضرت ابن عباس څخه منقول دئ چي د سُوتِي کپړې د سِلَم په باب ئې وفرمائل چي که ګَزمعلوم وي او مُدَه معلوم وي نو هيڅ د حرج خبره نه ده (ب) حضور يَو وُښ د دُوُ وُښَانُ په بَدلَه کي اَخَستئ د صَدَقِي د وُښَانُو تر راتلو پوري .

الجُلُودِ عَدَدًا .

تشريح : چي قِيمت ئې اُوس ورکړي او د حيوان ټوله صفات مُتَعَيّن کړي يوه مِيَاشتَه وروسته مثلاًهغه ځيني وَاخلِي او په هغه کي بَيعِ سِلَم وکړي.دغه رنګه مثلاً د حيوان په سَر يا په پښو يا په بَل اَندَام کي بَيعِ سِلَم وکړي.يعني دهغه صفات اُوس مُتَعَيّن کړي او د يوې مياشتي وروسته د ورکولو بَيعَ وکړي يا دحَيوَان په پُوست کي بَيعِ سِلَم وکي نو د اَحنافُو په نېز دا جواز نه لري .

وجه : (۱) د دُوُ حيوانانو تر مينځ ډېر زِيَات فرق وي.په بعضو وختو کي دُوې غُوَاوِي په ظَاهِرِي توګه يَو رنګه سره ښکاره کيږ.ي لېکن يَوَه غُوَا زياتي شيدې کوي

بله ګمي شيدې کوي.يَوَه غُوَا زيات لَنګِيرِي بَلَه ګمَه لنګيږي.په دغه اِعتِبَار سره په مَعنَوِي توګه په دُوُ غُوَاوُ کي ډېر زِيَات فرق راځي. نو ځکه په حَيوَان کي صِفَت مُتَعَيّن کول ډېر ګران کار دئ. دغه رنګه د دُوُ غُوَاوُ په سَر او ښنو کي هم ډېر فرق وي. په پوستو کې هم ډېر فرق وي چي يَو غَټ وي بَل کِشنَئ وي.او د نِزَاع خطره وي.نو په دغه وجه په حَيوَان او دهغه په اَندَامُو او دهغه په پوست (څَمړه) کي بَيعِ سِلَم جواز نه لري (۲) په حديث کي ددې ثبوت سته عَن سَمُرَةَ اَنّ النّبِيّﷺ نَهْي عَن بَيعِ الحَيوَانِ بِالحَيوَانِ نَسِيئَةً (الف) (ترمذي شريف،باب ماجآء في كراهية بيع الحيوان بالحيوان نسيئة ص۲۳۳نمبر۱۲۳۷\ابداؤدشريف،باب الحيوان بالحيوان نسيئة ص۱۲۱نمبر۳۳۵۶) په دې حديث کې حَيوَان په پور خرڅولو څخه منع کړې ده. او بَيعِ سِلَم ګرسره په پُور وي نو ځکه بَيعِ سِلَم په حيوان کي نه صحيح کيږي. ځکه چي ددې اَندَامُونَه او پُوست هم د حيوان اَندَامُونَه دي نو په دې وجه هم په دي کي بَيعِ سِلَم جواز نه لري .

اُصُول : کوم شيان چي د صِفَاتُ په ذريعه نه سي مُتَعَيّن کېدلائي د هغو بَيعَ سِلَم

حاشيه : (الف) حضور منع وکړه د حيوان بَيعَ د حيوان سره په پُور .

[۹۵۴](۳) وَ لاَ فِي الحَطَبِ حُزمًا وَ لاَ فِي الرّطبَةِ جُرزًا .

جواز نه لري .

فائده : د امامِ شافعي په نېز د حيوان بَيع سِلَم جائز ده .

وجه : (۱) دئ فرمائي چي د حيوان ټوله صِفَات او عُمَر وغيره مُتَعَيّن کړل سي نو تر ډېره حَدّپوري مُتَعَيّن ګرزي. نو ځکه په حيوان او دهغه په پوست او په نورو اَندَامُو کي بَيعِ سِلَم جائز ده (۲) په حديث کي ددې ثبوت سته عَن عَبدِاللهِ بِنِ عُمَرَ اَنّ رَسُولَ اللهِ ﷺ اَمَرَهُ اَن يُجَهِّزَ جَيشًا فَنَفَدَتِ الاِبِلُ فَاَمَرَهُ اَن يَأخُذَفِي قَلاَصِ الصّدَقَةِ فَكَانَ يَأخذُ البَعِيرَ بِالبَعِيرَينِ اِلْي اِبِلِ الصّدَقَةِ (الف) (ابوداؤدشريف،باب في الرخصة في ذالک (اي في بيع الحيوان بالحيوان نسيئة)ص۱۲۱نمبر۳۳۵۷\ ابوداؤدشريف،باب في حُسن القضآء ص۱۱۹نمبر۳۳۴۶) په دې حديث کي دئ چي حضور د يَوَه وُښ په بَدلَه کي دُوَه وُښَان ورکړي دي او هغه ئې په پُور اَخستَئ دئ چي د بَيعِ سِلَم يو شکل دئ نو ځکه د امامِ شافعي په نېز په حيوان کي بَيعِ سِلَم جائز ده .

لُغَت : اَطرَافٌ : د طَرَفٌ جمع ده معنْي اَندَامونه. جُلُودٌ : د جِلدٌ جمع ده معنْي پوست. عَدَدًا : په شمېر سره .

[۹۵۴](۳) او نه ده جائز د بُوټُو بَيعِ سِلَم د غُوَځِي په اِعتِبَار سره او نه د سَبزَيُو بَيعَ د دَستُو په اِعتِبَار سره .

تشريح : د وُور د لَرګَيُو (بُوټُو) غُوځَۍ جوړوي او بيائې خرڅوي. پـه بعضـو غُځَيُو كي بُوټِي ډير وي او په بَعضو كي لږ وي.بالكليه په يوه رنګه غُوځِي نه جوړيږي نـو ځكه ددې بَيعِ سِلَم جواز نه لري. دغه رنګه د سَبزَيُو او پَالَګُو دَستې جوړوي په هغه

حاشيه : (الف) حضور حُكم وكئ چي لَښكَر تيّار كئ. بَس أُوښَان ختم سو نو حضور حُكم وركړئ چي د صدقې خُوَانَان وُښَان وَاخلَئ نو يَو وُښ ئې د دُوُ وُښَانُو په بَدلَه كي وَاخَستَئ د صَدَقې د وُښَانُو تر راتلو پوري .

[۹۵۵](۴) وَ لاَ يَجُوزُ السِّلَمُ حَتْي يَكُونَ المُسلَمُ فِيهِ مَوجُـودًا مِـن حِـينَ العَقدِ اِلْـي حِينِ المَحَلِّ .

كي هم په بعضو كي سَبزِی زِيَات وي په بعضو كي تر هغه كَم وي نـو ځكـه ددې بَيـعِ سِلَم هم جواز نه لري .

پام لرنه : كه د مشين په ذريعه يَو رنګه لَرګِي پري كړي او دهغو بَيعِ سِلَم وكـي نـو دا جائز ده. ځكـه چـي د صِـفَاتُ تَعيِين راغلئ.اُصُـول او دلائـل مختـه تېرسـوي دي. پـه حديث كي راغلي وُ چي,,كَيلٍ مَعلُومٍ ، وَزنٍ مَعلُومٍ,,(بخـاري شـريف،نمبر ۲۲۴۰) او دَلتَه مِقدَار معلوم نه دئ چي ځونه دئ ځكه دا جواز نه لري .

لُغَت : اَلحَطَبُ : د وُور لګېدلُو بُوتِي. لَرګِي. حُزمًا : غُوځَۍ. اَلرّطبَةُ : سَبزِي. جُرزًا : د جُرزَةٌ جمع ده دَستَه.غُوټَه .

[۹۵۵](۴) او سِلَم نه ده جائز تر هغو چي مُسلَم فِيهِ موجود وي د عَقد د وختـه څخـه د وَركولو تر وخته پوري .

تشريح : ددې ځائ څخه د بَيعِ سِلَم د صحيح كېدو لپاره دهغـې دشـرائطو بيـان دئ. پـه دي كي يَو شرط دادئ چي د داسي شي بَيعِ سِلَم جائز ده چي دعَقد د وخته څخه بيا تـر هغـه وختـه پـوري چـي و مُشتَرِي تـه پـه حوالـه كـوي پـه بَـازَار كـي موجـود وي او ملاؤيږي.كه چيري هغه شئ په بَازَار كي هم نـه ملاؤيږي نـو بيـا بَيـعِ سِلَم جـواز نـه لري.يا اُوس په بَازَار كي نه وي لېكن د وركولو په ورځو كي په بَازَار كي ملاؤيږي. په دې مينځ كي د بَازَار څخه د وركېدو قَوِي اِمكَان دئ نو بيا هم بَيعِ سِلَم جائز ده .

وجه : (۱) كوم شئ چي په بَازَار كي نه ملاؤيږي كه دهغه شي بَيعِ سِلَم وكـي نـو چـي كله وخت راسي نو چِش به مُشتَرِي ته وركوي ؟ او دده روپۍ به څه رنګـه حلالـوي ؟ په دغه وجه مَنع راغلې ده (۲) په حديث كي د داسي شي د بَيعِ سِلَم كولـو څخـه منـع راغلې ده چي اُوس په بَازَار كي نه ملاؤيږي عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّ رَجُلاً اَسلَفَ رَجُلاً فِي

[۹۵۶](۵) وَ لاَ يَصِحّ السِّلَمُ اِلاّ مُؤجّلاً وَ لاَ يَجُوزُ اِلاّ بِاَجَلٍ مَعلُومٍ .

نَخلٍ فَلَم تُخرَج فِي تِلکَ السّنَةِ شَيئًا فَاختَصَمَا اِلْي النّبِيِّﷺفَقَالَ بِمَا تَستَحِلّ مَالَهُ اُردُد عَلَيهِ مَالَـهُ ثُمّ قَالَ لاَ تَسلِفُوا فِي النّخلِ حَتْي يَبدُوَ صَلاَحُهَا (الف) (ابـوداؤد شـريف،باب فـي السـلم فـي

ثمرة بعينها ص۱۳۵نمبر۳۴۶۷\بخاري شريف،باب السلم الْي من ليس عنده اصلٌ ص۲۹۹نمبر۲۲۴۶\ابن ماجه شريف،باب اذا اسلم في نخلٍ بعينه لم يطلع ص۳۲۷نمبر۲۲۸۴) په دې حديث کې هم دغه فرمائلي چي په بَازَار کې اصل موجود نه وي نو څه رنګه بَيع کوئ ؟ او څه رنګه به د مُشتَرِي مال حلالوئ ؟ نو ځکه د مَال وُجُود په بَازَار کي ضروري دئ .

اُصُول : چي کَم اَز کَم مال په بَازَار کي ملاؤيږي نو بيا بَيعِ سِلَم جائز ده .

فائده : امامِ شافعي فرمائي چي د ورکولو په وخت کي مَبِيع په بَازَار کي موجود وي نو بَيعِ سِلَم جائز ده .

وجه : چي ورکوي ئې هغه وخت مَبِيع په بَازَار کي موجود وي نو دا هم كِفَايَت کوي ځکه چي په دغه وخت کي د مَبِيع ضرورت دئ .

لُغَت : اَلمُسلَمُ فِيهِ : مَبِيع . اَلمَحَلّ : د مُدې د حُلُول وخت. د مَبِيع د ورکولو وخت .

[۹۵۶](۵) او سِلَم نه ده جائز مګر دا چي په ځنډ وي او نه ده جائز مګر دمعلوم مُدې سره .

تشريح : بَيعِ سِلَم وائي وهغه ته چي مَبِيع وروسته ورکړي. او که چيري د سَم دَستِي وررکولو خَبَرَه پکښي وي نو هغه ته بَيعِ سِلَم نه وائي. وهغه ته عَامَ بَيعَ او بَيعِ عَين ورته وائي .

حاشيه : (الف) حضرت عبدالله بن عُمر فرمائي چي يَوَه سړي د خُورمَا د درختي په اړه بَيعِ سِلَم وکړه.لېکن په هغه کال هيڅ ډَوَل مېوه نه راغله.نو دواړو حضور ته خپله جګړه راؤړه.حضور وفرمائل دده مال به څه رنګه حلالوې ؟ دده مال وَاپَس ګه. بيا حضور وفرمائل د خُورمَاؤپه اړه بَيعِ سِلَم مَه کوئ تر څو چي کآر آمد سوي نه وي .

[۹۵۷](۶) وَ لاَ يَجُوزُ السِّلَمُ بِمِكيَالِ رَجُلٍ بِعَينِهِ وَ لاَ بِذِرَاعِ رَجُلٍ بِعَينِهِ [۹۵۸](۷) وَ لاَ فِي طَعَامِ قَريَةٍ بِعَينِهَا وَ لاَ فِي ثَمَرَةِ نَخلَةٍ بِعَينِهَا .

فائده : امامِ شافعي فرمائي چي که چيري د سِلَم په اَلفَاظُو بَيع کړې وه وهغه ته هم بَيعِ سِلَم ويل کېدائي سي. په بَيعِ سِلَم کي دا هم ضروري دئ چي مُدَه معلوم وي .

وجه : (۱) که نه نو مُشتَرِي به مخکي طلب کوي او بَائِع به وروسته ورکوي.او جګړه به رامينځ ته سي نو ځکه د مَبِيع د ورکولو تاريخ مُتَعَيّن کول ضروري دئ (۲) په حديث تير سو ,, اِلْي اَجَلٍ مَعلُومٍ ,, (بخاري شريف،نمبر۲۲۴۰\مسلم شريف،نمبر۱۶۰۴) نو ځکه مُدَت يعني وخت معلومول ضروري دئ .

[۹۵۷](۶) د يو چا په مُتَعَيّن مِکيَال سره بَيعِ سِلَم جواز نه لري او نه د يَو معلوم سړي په لاَس سره .

تشريح : د يو چا مُتَعَيّن لوښَئ دئ او د هغه مِقدَار نه دئ معلوم چي څو کېلو په دي کي راځي؟. نو اُوس ددې لُوښِي په نَاپ سره بَيعِ سِلَم کول جواز نه لري .

وجه : مَبِيع خو څو مِيَاشتِي وروسته اداَء کوي نو که چيري دغه لوښَـئ ورک سي نو په کوم لُوښِي به بيا نَاپَوِي؟ دهغه لُوښِي مقدار خو معلوم نـه دئ نـو ځکـه د يَـو چـا پـه معلوم لُوښِي سره بَيعِ سِلَم کول جواز نه لري. دغه رنګه دمعلوم سـړي پـه لاَس(هَتِـي) سره بَيعِ سِلَم کول جواز نه لري. په دې لَړ کي مخته حديث راروان دئ .

[۹۵۸](۷) او نه ده جائز بَيعِ سِلَم د يَو معلوم کَلِي په ډُوډَئ کي او نه د معلومِ درختـي په مېوه کي .

تشريح : يَو څوک دارنګه ووائي چي د فُلاَنِي معلوم کَلِي د غَنَمُو بَيعِ سِلَم کـوم يـا د يَـو معلوم سړي مثلاً د زَيد د هغه فُلاَنَئ درختي د مېوې بَيعِ سِلَم کوم نو دا بَيعِ سِلَم جـواز نـه لري .

وجه : (۱) که په دې کَلِي کي د غَنَمُو فَصل ونه سي نوکوم غَنَم به ورکوي ؟ او دغه رنګـه غَنَم به د کوم ځاَئ څخه راوړي ؟ دغه رنګه په هغه معلوم درختـه کـي مېـوه نـه راغلـه نـو کومه مېوه به ورکوي ؟ نو ځکه د معلوم کَلِي يا معلومي درختي په مېوه کي بَيـعِ سِلَم کـول جواز نه لري. لېکن که چيري د هسي يَو ځاَئ غَنَم وي نو جائز ده (۲) په حـديث کـي ددې ثبوت سته عَن اِبنِ عُمَـرَ اَنّ رَجُـلاً اَسـلَفَ رَجُـلاً فِـي نَخلٍ فَلَم تُخـرَج فِـي تِلـکَ السّنَةِ شَيئًا فَاختَصَمَا اِلْي النّبِيِّ ﷺفَقَالَ بِمَا تَستَحِلّ مَالَهُ اُردُد عَلَيهِ مَالَهُ ثُمّ قَـالَ لاَ تَسلِفُوا فِـي النّخلِ حَتْـي يَبـدُوَ صَـلاَحُهَا (الـف) (ابـوداؤد شـريف،باب فـي السـلم فـي ثمـرة بعينهـا ص۱۳۵نمبـر۳۴۶۷\بخـاري شـريف،باب السـلم الْـي مـن لـيس عنـده اصـلٌ ص۲۹۹نمبـر۲۲۴۶\ابـن ماجـه شـريف،باب اذا اسـلم فـي نخـلٍ بعينـه لـم يطلـع ص۳۲۷نمبر۲۲۸۴) په دې حديث کي دئ چي په يوه خاص او معلوم درخته کې بَيـعِ سِلَم کړې وه او په هغه کال په درخته کي مېوه نه راغله نو حضور وفرمائل چي دده مال به څه رنګه ځان ته حلالوې ؟ مال وَاپَس ورګه. نو ځکه په معلوم کَلِي او په معلوم درخته کي بَيعِ سِلَم جواز نه لري (۳) په حديث کي دئ قَالَ عَبدُاللهِ بِنِ سَلاَمُ ... فَقَالَ زَيدُ بِنِ سَعنَةَ يَـا مُحَمّدُ هَل لَکَ اَن تُبِيعَنِي تَمَرًا مَعلُومًا اِلْي اَجَلِ مَعلُومِ مِن حَائِطِ بَنِي فُلاَنِ قَالَ لاَ يَا يَهُـودِيُ وَ لٰکِنّـي اَبِيعُکَ تَمَرًا مَعلُومًا اِلْي کَذَا وَ کَذَا مِنَ الاَجَلِ وَ لاَ اُسَمّي مِن حَائِطِ بَنِي فُلاَنٍ فَقُلتُ نَعَم (ب) (سـنن للبيهقي.بـاب لايجـوز السـلف حتـي يكـون بصـفةٍ معلومـة لاتتعلـق بعـين ج۶ص۴۰نمبر۱۱۱۱۴) په دې حديث کي زَيدبِن سَعنَه خاص د فُلاَنِي د بَاغ په خُورمَاؤ کي بَيعِ سِلَم کول غُوَښتَل لېکن حضور اِنکَار وکړئ. او وفرمائل

حاشيه : (الف) حضرت عبدالله بن عُمر فرمائي چي يَوَه سړي د خُورمَا د درختي په اړه بَيعِ سِلَم وکـړه.لېکن پـه هغه کال هيڅ ډَوَل مېوه نه راغله.نو دواړو حضور ته خپله جګړه راوړه.حضور وفرمائل دده مـال بـه څـه رنګـه حلالوې ؟ دده مال وَاپَس ګه. بيا حضور وفرمائل د خُورمَاؤپه اړه بَيعِ سِلَم مَه کوئ تر څو چي کـاَر آمـد سـوي نـه وي (ب) زَيدبن سَعنَه ووېل ائ مُحَمّد ! آيا تَه غُوَاړې چي د بَنِي فُلاَن د بَاغ خُورمَاوِي پر ما باندي خرڅي کړي؟ حضور وفرمائل نَه ائ يَهُودِي، لېکن زَه پر تَاباندي خرڅوم معلومي خُورمَاوي تر دومره دومره مُدې پوري.د بَنِي

فُلاَن باغ نه مُتَعَيّن کومه،مَا ورته وویل وُ،یعني زَه د بَنِي فُلاَن بَاغ نه معلوموم،البته هسي د یوې خُورمَا بَیعِ سِلَم کولائي سم .

[۹۵۹](۸) وَ لاَ یَصِحُ السِّلَمُ عِندَ اَبِي حَنِیفَةَ رَحِمَهُ اللهُ اِلاّ بِسَبعِ شَرَائِطَ تُذکَرُ فِي العَقدِ جِنسٌ مَعلُومٌ وَ نَوعٌ مَعلُومٌ وَ صِفَةٌ مَعلُومَةٌ وَ

چي هسي د یو بَاغ په خُورمَاؤ کي بَیعِ سِلَم درسره کوم. خاص د بَنِي فُلاَن د بَاغ په خُورمَاؤ کي بَیعِ سِلَم نه درسره کوم. ددې څخه معلوم سو چي د خاص بَاغ یا په خاص درخته کي بَیعِ سِلَم کول جواز نه لري .

اُصُول : د کومی مَبِیع په باب چي دا خطره وي چي نه سي ملاوېدلائي دهغې مَبِیع بَیعِ سِلَم جواز نه لري .

[۹۵۹](۸) او سِلَم نه صحیح کیږي د امام ابوحنیفه په نېز مګر د اُوُ شرطو سره چي په عَقد کي به ذکر کیږي (۱) جنس به معلوم وي (۲) نَوع به معلوم وي (۳) صِفَت به معلوم وي (۴) د مَبِیع مِقدَار به معلوم وي (۵) مُدَه به معلوم وي (۶) د ثَمَن مِقدَار به معلوم وي که چیري ثَمَن دهغه شي څخه وي چي دهغه د مِقدَار سره تَعَلّق لري لکه چي کَیلِي وي یا وَزنِي وي یا عَدَدِي وي (۷) او هغه ځائ مُتَعَیّن کول په کوم ځائ کي چي مَبِیع ور حواله کوي که چیري د مَبِیع د پورته کېدو زَحمَت وي او اُجرَت پرلګیږي .

تشریح : دامام ابوحنیفه په نېز چي دا اُوَه شرطونه موجود سي نو بَیعِ سِلَم جائز ده که نه نو بیا جواز نه لري .

وجه : په سِلَم کي مَبِیع وروسته ورکوي نو چي دا شیان د مخه څخه معلوم سي نو بیا نِزَاع نه رامینځ ته کیږي.او تر ډېره حَدّ پوري مَبِیع مُتَعَینَه ګرزي .

پام لرنه : دغه ټوله شرطونه څه خو ددې حدیث مَن اَسلَفَ فِي شَئ فَفِي کَیلٍ مَعلُومٍ وَ وَزنٍ مَعلُومٍ اِلْي اَجَلٍ مَعلُومٍ (الف) (بخاري شریف،نمبر ۲۲۴۰) څخه مُستَنبَط دي

حاشیه : (الف) یو چا په یو شي کي بَیعِ سِلَم وکړه نو کَیل دي معلوم وي،وَزَن دي معلوم وي،اَجَل دي معلوم وي .

مِقدَارٌ مَعلُومٌ وَ اَجَلٌ مَعلُومٌ وَ مَعرِفَةُ مِقدَارِ رَأسِ المَالِ اِذَا کَانَ مِمّا یَتَعَلّقُ العَقدُ عَلْي قَدرِهِ کَالمَکِیلِ وَ المَوزُونِ وَ المَعدُودِ وَ تَسمِیَةُ

او څه شرطونه په دې وجه لګولي دي چي په مَبِیع کي دُوکَه نه سي پاتۀ عَن اَبِي هُرَیرَةَ قَالَ نَهْي رَسُولُ اللهِ ﷺ عَن بَیعِ الغَرَرِ وَ بَیعِ الحَصَاةِ (الف) (ترمذي شریف، باب ماجآء في کراهیة بیع الغرر ص۲۳۲نمبر۱۲۳۰) او ددې حدیث فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لَیسَ مِنّامَن غَشّ (ب) (ابوداؤدشریف،باب النهي عن الغش ص۱۳۳نمبر ۳۴۵۲) خُلاَصَه ده. چي بَائِع او مُشتَري په هیڅ ډول دُوکَه کي نه سي پاته. په دغه وجه دا

اُوَه شرطونه ولګول. په دي کي يوه خبره دا هم ده چي دا بَيعَ خلافِ قياس ده نو په دې وجه هم په دي کي څه شرطونه لګېدلي دي .

دهر شرط تفصيل په دا ډول دئ .

شرط ـ ۱ـ جنس به معلوم وي: يعني دا به معلوم وي چي د کوم شي بَيعَ کوي.د غَنَمُو.د وريجو يا د خُورمَاوُ. ددې ثُخه به هغه شئ معلوم سي چي کوم شئ دئ ؟ په اَثَر کي ودې ته اِشَاره سوې ده فَقَالَ (اِبنُ اَبِي اَوفْي) اِنّا كُنّا نَسلِفُ عَلْي عَهدِ رَسُولِ اللهِﷺ وَ اَبِي بَكرٍ وَعُمَرَ فِي الحِنطَةِ وَالشّعِيرِ وَالزّبِيبِ وَالتّمرِ وَسَألتُ اِبنَ اَبِي ابزي فَقَالَ مِثلَ ذَالِکَ (ج) (بخاري شريف،باب السلم في وزن معلوم ص۲۹۸ نمبر۲۲۴۲) په دې اَثَر کې د غَنَمُو.کِشمَشُو.او خُورمَاؤ جلا جلا جنس نومونه اَخستِي دي چي موږ په دغه شيانو کي بَيعِ سِلَم کوله. نو ځکه جِسن ئې بايد معلوم وي .

شرط ـ ۲ ـ نَوع به معلوم وي : ځکه چي په غَنَموکي هم څو قسم وي. نومخکي به دا معلوموي چي کوم قسم غَنَم غُوَاړِي يا کوم قسم وُرِيجِي غُواړي.ودې ته نَوعِ مَعلُوم وائي. ددې ثبوت په دې اَثَر کي دئ عَن عَامِرٍ قَالَ اِذَا اَسلَمَ فِي ثَوبٍ يُعرَفُ ذَرعَهُ وَرُقعَتُهُ فَلاَ بَأسَ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۷۳ في السلم بالثياب ج۴ ص۳۹۸نمبر۲۱۴۰۱) په دې اَثَر کي وَرُقعَةً يعني هسي يو قسم کپړه وي.چي دا معلوم وي نو بَيعِ سِلَم جاز ده .

المَكَانِ الّذِي يُوفِيهِ اِذَا كَانَ لَهُ حَملٌ وَ مُؤنَةٌ .

شرط ـ ۳ ـ صِفَت به معلوم وي : يعني دا به هم سره معلوموي چي عُمدَه او ښَه غَنَم به وي که به بېکاره او رَدّي. که دا نه وي معلوم نو مُشتَري به عُمده غَنَم غُوَاړِي او بَائِع به غُوَاړِي چي رَدّي غَنَم ورکړي او جګړه به رامينځ ته سي. نو ځکه صِفَت ئې بايد معلوم وي .

شرط ـ ۴ ـ دمَبِيع مِقدَار به معلوم وي:يعني مَبِيع به څوکېلووي ياڅوصَاع يعني پيمانې وي. چي دا سي نه وي چي پر شَل کېلو باندي خبره سوې وه که پر دېرش کېلو باندي ؟ حديث تېر سوئ دئ ,, فَفِي كَيلٍ مَعلُومٍ وَ وَزنٍ مَعلُومٍ ,, .

شرط ـ ۵ ـ مُدّه به معلومه وي : يعني چي کله مَبِيع راکوې. چي بيا داسي نه وي چي بَائِع ئې وځنډوي او مُشتَرِي ئې ژَر ځيني غُوَاړِي او د جنګ نَوبَت راسي. حديث تېر سوئ دئ ,, اِلْي اَجَلٍ مَعلُومٍ ,, (بخاري شريف،نمبر۲۲۴۱)

حاشيه : (الف) حضور منع وکړه د دُوکې د بَيعِ ثُخه او د شَکِي د غُوَرزَوَلُو د بَيعِ ثُخه (ب) حضور وفرمائل هغه زموږ ثُخه نه دئ چي دُوګه ورکوي (ج) اَبن اَبِي اَوفْي وفرمائل چي موږ د حضور په زمانه کي بَيعِ سِلَم کوله او د اَبُوبَکر او عُمَر په زمانه کي په غَنَمُو کي،په وُربَشُو کي،په کِشمَشُو او خُورمَاؤ کي،او د اِبنِ اَبزِي ثُخه پُوبنتَنَه وسوه نو هغو هم دغه رنګه وفرمائل .

شرط ـ ۶ ـ د رَأسُ المَال یعني ثَمَن مِقدَار به معلوم وي : یعني چي هغه څو کېلو یا څو صَاع یعني پیمَانې یا څو عَدَد دئ .

وجه : دا ځکه چي که مثلاً دئ ثَمَن نه سي ورکولائي او د ثَمَن د وَاپَس ورکولو ضرورت راغلئ نو که چیري د ثَمَن مِقدَار معلوم نه وي نو څه رنګه به وَاپَس کوي. یا مثلاً ثَمَن کُوټه دي او دهغه د وَاپَس ورکولو ضرورت راغلئ نو په څه رنګه به وَاپَس کوي ؟ نو ځکه که ثَمَن کَیِلي وي یا وَزنِي وي یا عَدَدِي وي نو د ثَمَن مِقدَار معلومول ضروري دئ. که څه هم و ثَمَن ته اِشَارَه وکي او بَیع سِلَم وکي. لېکن که چیري ثَمَن ذِرَاعِي وي مثلاً کپړه وي نو په کپړو کي ذِرَاع صِفَت دئ او د صِفَت په مُقَابَلَه کي هیڅ ډول قِیمَت نه راځي نو که چیري په ذِرَاعِي شکل کي کپړه مخته پرته وي نو دا چي دا څو ګزَه ده ددې معلومول ضروري نه دئ. د امام ابوحنیفه دلیل دا اَثَر دئ وَ قَالَ اِبنُ عُمَرَ لاَ بَأسَ فِي الطّعَامِ المَوصُوفِ بِسِعرٍ مَعلُومٍ اِلْي اَجَلٍ مَعلُومٍ (الف) (بخاري شریف،باب السلم الْي اجل معلوم ص۳۰۰نمبر۲۲۵۳) په دې اَثَر کي دئ چي نَرخ به معلوم وي یعني د رَأسُ المَال ثَمَن مِقدَار باید معلوم وي .

شرط ـ ۷ ـ د سپُېرد کولوځائ به معلوم وي : د مُسلَم فِیه یعني د مَبِیع دپورته کېدو او د یوه ځائ څخه و بَل ځائ ته د وُړَلُو کِرَایَه لګېده نو مَبِیع به پر کوم ځائ و مُشتَرِي ته حَوَالَه کوي د هغه ځائ تَعیِین هم ضروري دئ.ځکه چي که ځائ معلوم نه وي نو بَائِع به غُوَاړِي چي خپل ځان ته نژدې مَبِیع حواله کړي او مُشتَرِي به غُوَاړِي چي خپل ځان ته نژدې مَبِیع وُصُول کړي. نو په دې وجه د مَبِیع د ورکولو ځائ معلومول ضروري دئ. لېکن که چیري د مَبِیع د حواله کولو کِرَایَه نه وي نو بیا چي هر ځائ مَبِیع ورکړي نو بَیعِ سِلَم صحیح ده. په دې صورت کي د ځائ معلومول ضروري نه دئ .

اُصُول : چي مَبِیع مخامخ نه وي نو ډُومره شرطونه دي ولګوي چي تر ډېره حَدّ پوري مَبِیع د موجود په درجه کي سي .

لُغَت : حَملٌ وَ مُؤنَةٌ : پورته کول او د هغه اُجرَت و مزدوري .

حاشیه : (الف) حضرت عَامِر وفرمائل که په کپړه کي بَیعِ سِلَم وکي که دهغې ګز او دهغې قِسم معلوم وي نو بیا هیڅ د حرج خبره نَه ده .

حاشیه : (الف) حضرت اِبنِ عُمَر وفرمائل هیڅ د حرج خبره نه ده د بَیعِ سِلَم په کولو کي،په داسي ډُوډَئ کي چي صِفَات ئې بیان سوي وي په دې شرط چي نَرخ ئې معلوم وي مُدَه ئې معلومه وي .

[۹۶۰](۹) وَ قَالَ اَبُويُوسُفَ وَ مُحَمّدٌ رَحِمَهُمَااللهُ لاَ يَحتَاجُ اِلْي تَسمِيَةِ رَأسِ المَالِ اِذَا كَانَ مُعَيّنًا وَ لاَ اِلْي مَكَانِ التّسلِيمِ وَ يُسَلِّمُهُ فِي مَوضِعِ العَقدِ [۹۶۱](۱۰) وَ لاَ يَصِحّ السِّلَمُ حَتْي يُقبَضَ رَأسُ المَالِ قَبلَ اَن يُفَارِقَهُ .

[۹۶۰](۹) او امام ابويوسف او امامِ مُحمّد وفرمائل چي د رَأسُ المَال د مُتَعَيّن كولو ضرورت نسته كه چيري هغه مُتعَيّن وي او نه د وركولو دځائ دمعلومولو ضرورت سته. او مَبِيع به وركوي د عَقد كولو په ځائ كي .

تشريح : صاحبين فرمائي چي رَأسُ المَال مخامخ پروت وي نو په عَامُ بُيُوعُ كي د هغه د معلومولو ضرورته نسته. صرف په اِشَارَه كولو سره ثَمَن مُتَعَيّن ګرزي.نو ځكه په بَيعِ سِلَم كي هم صرف په اِشَارَه كولو سره ثَمَن مُتَعَيّن ګرزي. ددې د تَعدَاد چي څونه كېلو دي يا څو پيمَاني دي ددې د معلومولو ضرورت نسته. دغه رنګه د مَبِيع د اداَء كولو ځائ معلومول هم ضروري نه دئ .

وجه : ځكه چي پر كوم ځائ د بَيعِ خبره سوې ده هغه ځائ په خپله مُتَعَيّن ګرزي.لِهْذَا جلا مُستَقِل دځائ دمعلومولو ضرورت نسته. لېكن كه چيري مُتَعَيّن كړي نو بنَه خبره ده .

لُغَت : مَوضِعُ العَقدِ : د بَيعِ كولو ځائ .

[۹۶۱](۱۰) او نه صحيح كيږي سِلَم تر هغو چي د جلا كېدو څخه مخكي پر رَأسُ المَال باندي قبضه وكړي .

تشريح : د بَيعِ سِلَم د كولو ورسته د بَائِع او مُشتَرِي د جلاكېدو څخه مخكي پر ثَمَن باندي قبضه كول ضروري ده. كه چيري پر ثَمَن باندي قبضه ونه كړه نو بَيعِ سِلَم نه صحيح كيږي .

وجه : چي مَبِيع او ثَمَن دواړه په پُور وي نو په حديث كي دداسي بَيعِ كولو څخه منع

[۹۶۲](۱۱) وَ لاَ يَجُوزُ التّصَرُفُ فِي رَأسِ المَالِ وَ لاَ فِي المُسلَم فِيهِ قَبلَ القَبضِ .

راغلي ده. په عَام بُيُوعَاتُ كي په مجلس كي پر مَبِيع باندي قبضه كيږي نو كه چيري پر ثَمَن باندي قبضه ونه سي نو دا هم چليږي. لېكن په بَيعِ سِلَم كي خو لازمًا مَبِيع وروسته وركوي نو ځكه كَم اَز كَم پر ثَمَن باندي خو قبضه كول ضروري ده. كه نَه نو بيا خو مَبِيع هم په پُور او ثَمَن هم په پُور سوه. حالانكه چي دواړه په حَتمِي او شَرطِيَه توګه په پُور سي نو په حديث كي دداسي بَيع كولو څخه منع راغلي ده عَن اِبنِ عُمَرَ عَنِ النّبِيّ ﷺ اَنّهُ نَهْي عَن بَيعِ الكَالِي بِالكَالِي قَالَ اَللُغوِيّونَ هُوَ اَلنّسِيئَةُ بِالنّسِيئَةِ (الف)

(دارقطني،کتاب البيوع ج۳ص۶۰نمبر۳۰۴۲\سنن للبيهقي ،باب ماجآء فِي النهي عن بيع الدين بالدين ج۵ص۴۷۴نمبر۱۰۵۳۶) په دې حديث کې د پُور بَيعَ په پُور سره منع کړې ده. نو ځکه د امام ابوحنيفه په نيز په بَيعِ سِلَم کي په مجلس کې پر رَأسُ المَال باندي قبضه کول ضروري ده .

[۹۶۲](۱۱) او تَصَرّف کول جائز نه دئ په رَأسُ المَال کي او نه په مُسلَم فِيه کي د قبضې کولو څخه مخکي .

تشريح : په بَيعِ سِلَم کي پر ثَمَن باندي دقبضې کولو څخه مخکي هيڅ ډَوَل تصرف کول جواز نه لَري. دغه رنګه ددې پر مَبِيع باندي د قبضې کولو څخه مخکي هم هيڅ ډول تصرف کول جواز نه لري. د رَأسُ المَال څخه مراد ثَمَن او د مُسدلَم فِيه څخه مُراد مَبِيع ده .

وجه : په حديث کي مخکي تېر سوي دي چي پر مَبِيع باندي د قبضې کولوڅخه مخکي تصرف کول جواز نه لري. مثلاً هغه خرڅول يا هِبَه کول جواز نه لري. او په

حاشيه : (الف) حضور د پُور بَيعَ دپُور سره کولو څخه منع وکړه،اَهلِ لُغَت ويلي دي چي د،، کَالِي بِالکَالِي،، ترجمه دپُور بَيعَ د پُور سره .

[۹۶۳](۱۲) وَ لاَ يَجُوزُ الشّرِكَةُ وَ لاَ اَلتّولِيَةُ فِي المُسلَم فِيهِ قَبلَ قَبضِهِ .

بَيعِ سِلَم کي رَأسُ المَال د مَبِيع په درجه کي دئ نو ځکه پر هغه باندي د قبضې کولو څخه مخکي په هغه کي تصرف کول جواز نه لري (۲) په حديث کي دئ سَمِعتُ اِبنَ عَبّاسٍ يَقُولُ اَمّا اَلّذِي نَهْي عَنهُ النّبِي ﷺفَهُوَ اَلطّعَامُ اَن يُبَاعَ حَتْي يُقبَضَ قَالَ اِبنُ عَبّاسٍ وَ لاَ اَحسِبُ کُلّ شَئٍ اِلاّ مِثلَهُ (الف) (بخاري شريف،باب بيع الطعام قبل ان يقبض وبيع ماليس عندک ص۲۸۶نمبر۲۱۳۵\مُسلم شريف،باب بُطلان بيع المبيع قبل القبض ص۵نمبر۱۵۲۵\۳۸۳۸\ابوداؤدشريف نمبر۳۴۹۲) په دې حديث کې پر مَبِيع باندي د قبضې کولو څخه مخکي خرڅولو څخه منع راغلې ده. اوپه بَيعِ سِلَم کي خو رَأس المَال د مَبِيع په درجه کي وي نو په دې وجه هم پر هغه باندي دقبضې کولو څخه مخکي په هغه کي هيڅ ډول تصرف کول جواز نه لري. او مُسلَم فِيه خو مَبِيع ده نو ځکه پر هغه باندي هم د قبضې کولو څخه مخکي په هغه کي هيڅ ډول تصرف کول جواز نه لري .

[۹۶۳](۱۲) او جواز نه لري شِرکَت او نَه تَولِيَه په مُسلَم فِيهِ کي پر هغه باندي د قبضې کولو څخه مخکي .

تشريح : پر مُسلَم فِيه يعني مَبِيع باندې تر اُوسه قبضه نه ده کړې او په هغه کي بَيعِ تَولِيَه کول غُوَارِي نو دا نه سي کولائي. دغه رنګه په هغه کي څوک شريک کول غُوَارِي نو څوک شريک کولائي هم نه سي .

وجه : بَيعِ تَولِيَه كول يا يو ځوک شريک كول په هغه كي تصرف كول دئ. او دا خو اُوس تير سو چي پر مَبِيع باندي د قبضې كولو څخه مخكي په هغه كي هيڅ ډول

حاشيه : (الف) د حضرت اِبنِ عَبّاس څخه اورېدلي دي هغه فرمائل بَهَرحَال د كوم شي څخه چي حضور منع كړې ده هغه غَلّه ده چي د قبضې كولو څخه مخكي خرڅه كړي. حضرت ابن عباس فرمائي چي زَه ګُمَان نَه كوم مګر دا چي هر شئ ددې په مِثل دئ. يعني ټُولِي غَلّې دي د قبضې څخه وروسته خرڅي كړي. دهغه څخه مخكي نَه .

[۹۶۴](۱۳) وَ يَصِحّ السِّلَمُ فِي الثِّيَابِ اِذَا سُمِّىَ طُولاً وَ عَرضًا وَ رُقعَةً .

تصرف كول جواز نه لري. نو په دغه وجه پر مُسلَم فِيه باندي د قبضې كولو څخه مخكي په هغه كي بَيعِ تَولِيَه كول يا يو ځوک په هغه كي شريک كول جواز نه لري .

[۹۶۴](۱۳) او صحيح ده بَيعِ سِلَم كول په كپړو كي چي كله مُتَعَيّن كړل سي وُږدوَل.پُسُور او اَصل جَوهَر .

تشريح : د ,, رُقعَةٌ ,, معنٔي ده پيوَند.د كپړې ټُكړه. په دې ځائ كي مطلب دادئ چي د كپړې حقيقت او جَوهَر څَه دئ؟.او څَه رنګه كپړه ده؟ نو مطلب ئې دا راوواتئ چي د كپړې وُږدوَل چي څو ګَزَه ده او پُسُور چي څو اِينچَه پُسُور لري او څَه رنګه كپړه ده چي دا ټوله معلوم سي نو په كپړه كي هم بَيعِ سِلَم جائز ده. په دې زمونږ په زَمَانَ كي مَشِينَان په يَوَه رنګه په زَرهَاوُ ګزه كپړې جوړوي.نو ځكه د بَيعِ سِلَم په جواز كي هيڅ حرج نسته .

وجه : په اَثَر كي ددې ثبوت سته عَن عَامِرٍ قَالَ اِذَا اَسلَمَ فِي ثَوبٍ يُعرَفُ ذَرعُهُ وَ رُقعُهُ فَلاَ بَأسَ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۷۳ في السلم بالثياب ج۴ص۳۹۸\سنن للبيهقي،باب السلف في الحنطة والشعيروالزبيب والزيت والثياب وجميع مايضبط بالصفة ج۶ص۴۲ نمبر۱۱۱۲۳) په دې اَثَر كي دئ چي د كپړې وُږدوَل پُسور او دا چي څَه رنګه كپړه ده چي دا شيان ئې معلوم سي نو بيا په كپړه كي هم بَيع سِلَم جائز ده .

پام لرنه : په تېره زَمَانَه كي كپړې په لاَس سره جوړېدلې او هر ګز په جلا جلا انداز سره وُ نو ځكه د كپړې صِفَات معلومول مُشكِل وُ نو په دغه وجه دبَيعِ سِلَم په جواز كي څه اَنديښَه وه. لېكن په دې مَشِينِي دَوَر كي دا خبره نسته .

حاشيه : (الف) د حضرت عَامِر څخه رِوَايَت دئ چي كه په كپړه كي بَيعِ سِلَم وكي او دهغه ګَز او قِسم معلوم وي نو څه دحرج خبره نَه ده .

[۹۶۵](۱۴) وَ لاَ يَجُوزُ السِّلَمُ فِي الجَوَاهِرِ وَ لاَ فِي الخَرزِ [۹۶۶](۱۵) وَ لاَ بَأسَ بِالسِّلَمِ فِي اللِّبَنِ وَ الآجُرِ اِذَا سُمِّيَ مُلَبَّنًا مَعلُومًا .

[۹۶۵](۱۴) او سِلَم جواز نه لري په جَوَاهِرُ کي او نَه په مَلغَلَرُو کي .

وجه : په جَوَاهِرَاتُ او مَلغَلَرُو کي غټي او کِشنِي دواړه راځي. او په هغو کي ډېر زيات تَفَاوُت وي. او په وَزَن سره نه خرڅيږي بلکه په شمېر سره خرڅيږي نو ځکه ددُوئي صِفَات نه سي مُنضَبِط کېدلائي.په دې وجه په دي کي بَيعِ سِلَم جوازنه لري.

اُصُول : دکومو شيان صِفَات چي نه سي مُنضَبِط کېدلائي په هغه کي بَيعِ سِلَم نه صحيح کيږي .

لُغَت : اَلجَوَاهِرُ : د جَوهَرُ جمع ده. جوهر غَمَـئ. اَلخَرزُ : د خَرزَةٌ جمع ده. سُورَاخ لرونکئ شئ. مَلغَلَرِي .

[۹۶۶](۱۵) او هيڅ د حرج خبره نه ده چي سِلَم وکي به کَچَه خَبنتُو کي او په پَخُو خَبنتُو کي چي کله مُتَعَيّنَه کړي دهغو غَالَب .

تشريح : چي د خَبنتُو دجوړولو غَالَب معلوم وي نو دهغه څخه اندازه کيږي چي په څونه اندازه غټَه خَبنتَه ده. ددې څخه د هغې مِقدَار معلوميږي. نو ځکه چي سَانچَه يعني غَالَب ئې معلوم کړل سي که کَچې خَبنتِي وي که پخې خَبنتِي وي نو په هغه کي بَيعِ سِلَم کول جائز دئ .

لُغَت : اَللِّبَنُ : کَچَه خَبنتَه. آلآجُرُ : پَخَه خَبنتَه. مُلَبّنًا : د خَبنتِي جوړولو سَانچَه. فَرمَه د ,,لِبَنٌ,, څخه د اِسمِ آلَه صيغه ده .

[۹۶۷](۱۶) وَ كُلّ مَا اَمكَنَ ضَبطُ صِفَتِهِ وَ مَعرِفَةُ مِقدَارِهِ جَازَ السّلَمُ فِيهِ وَ مَا لاَ يُمكِنُ ضَبطُ صِفَتِهِ وَ مَعرِفَةُ مِقدَارِهِ لاَيَجُوزُ السّلَمُ فِيهِ .

---

[۹۶۷](۱۶) هر هغه شئ چي دهغه صِفَت مُنضَبِط کول مُمكِن وي او دهغه مِقدَار معلومول مُمكِن وي په هغه کي سِلَم کول جائز دئ. او هر هغه شئ چي د هغه صِفَت ضَبط کول مُمكِن نه وي او دهغه مِقدَار معلومول مُمكِن نه وي په هغه کي بَيعِ سِلَم جواز نه لري .

تشريح : په دې مسئله کي مُصنف عليه الرحمة د بَيعِ سِلَم قاعده كُلِيَه بيان کړې ده چي کوم کوم شيان چي د صِفَاتُ د تَعيين په ذريعه او د مِقدَار د تَعيين په ذريعه مُنضَبِط کېدلائي سي په هغه شِيَانُو کي بَيعِ سِلَم جائز ده. او کوم کوم شيان چي د صِفَاتُ د تَعيين او د مِقدَار د تَعيين په ذريعه نه سي مُنضَبِط کېدلائي په هغه شِيَانُو کي بَيعِ سِلَم جواز نه لري .

وجه : (١) حديث دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ قَدِمَ النّبِيُ ﷺ اَلمَدِينَةَ وَ هُم يَسلِفُونَ بِالثّمَرِ اَلسَنَتَينَ وَثَلاَثٌ فَقَالَ مَن اَسلَفَ فِي شئٍ فَفِي كَيلٍ مَعلُومٍ وَ وَزنٍ مَعلُومٍ اِلْي اَجَلٍ مَعلُومٍ

(الف) (بخاري شريف،باب السلم في وزن معلوم ص۲۹۸نمبر ۲۲۴۰\مُسلم شريف،باب السلم ص۳۱نمبر۱۶۰۴) ددې حديث څخه معلوم سو چي که د مُسلَم فِيه کَيل.وَزَن او اَجَل

معلومېدائي سو او مُتَعَيّن کېدائي سونوبيابَيع سِلَم جائز ده (۲) سنن بَيهقي ددغه احاديثو لپاره دا باب قائم کړئ دئ بَـابُ السّلَفِ فِـي الحِنطَـةِ وَالشّعِيرِ وَالزّبِيـبِ وَالزّيـتِ وَالثّيَـابِ وَجَمِيـعُ مَايُضبَطُ بِالصِّفَةِ(ج سادس،ص۴۲نمبر۱۱۱۲۲) ددې

حاشيه : (الف) حضرت ابن عباس فرمائي چي حضور مديني ته تشريف راوړئ او خلکو د دُوُ او درو کَالُ لپاره د مېوُو بَيعَ کوله. نو حضور وفرمائل څوک چي د يَو شِي بَيعِ سِلَم وکي نو بايد کَيل معلوم وي،وَزَن معلـوم وي او مُدَه ئې معلومه وي .

[۹۶۸](۱۷) وَ يَجُوزُ بَيعُ الكَلبِ وَ الفَهدِ وَ السِّبَاعِ .

څخه معلوم سو چي دکوم شي چي صِفَات مُنضَبِط کېدلائي سي پـه هغـه کـي بَيـعِ سِلَم جائز ده .

[۹۶۸](۱۷) او جائز ده د سپِي بَيعَ او د پړانګ بَيعَ او د څِيرَوُنکِي حيوان بَيعَ .

تشريح : دا حيوانان څِيرَوُنکِي دي. د دُوئي غُوَښِي نه خُـوَړَل کيږِي. نـو ځکـه د امـامِ شافعي دا رأيَه ده چي د ددې شيانو بَيعَ جواز نه لري. لېکن امام ابوحنيفه فرمائي چـي ددې شيانو بَيعَ جائز ده .

وجه : (۱) دا حيوانان د خُوَرَاک لپاره نه دي لېکن هسي د يـو ګـار لپـاره خـو دي. او نَجَسُ العَين نه دي نو ځکه ددې بَيعَ جائز ده. مثلاً سپَئ د ښکار لپاره دئ او ښکار هـم يو کار دئ. د پړانګ پوست او چَمړَه په کـاريږِي. د څيرَوُنکِـي حيوانـو پوسـتونه چـي دَبَاغَت ورلره ورکړې بيا په کار او اِستِعمَال کي راتلائـي سـي نـو ځکـه ددې بَيـعَ هـم جائز ده (۲) په حديث کي و دې ته اِشَارَه سوې ده عَن جَابِرٍ اَنّ النّبِيّ ﷺ نَهْي عَن ثَمَـنِ السِّنَورِ وَ الكَلبِ اِلاّ كَلبُ صَيدٍ (الـف) (نسـائي شـريف،باب الرخصـة فـي ثمـن كلـب الصيدص۲۴۱نمبر۱۲۸۱) په دې حديث کي دئ چي حضـور د پښِـي او سـپِي د ثَمَـن څخه منع وکړه. لېکن د ښکاري سـپِي د ثَمَـن اجـازت ئـې ورکـړئ. ددې مطلـب دادئ چي ددې بَيعَ جائز ده. په دغه وجه خو ددې د ثَمَن اجازت ورکړې دئ .

فائده : امامِ شافعي فرمائي چي د سپِي بَيعَ جواز نه لري .

وجه : دئ فرمائي چي په حديث کي د سپِي د ثَمَن څخه منع راغلِي ده نـو ځکـه دسپِـي بيع جواز نه لري.په حديث کي دئ عَن اَبِي مَسـعُودِ الاَنصَـارِيِّ اَنّ رَسُـولَ اللهِ ﷺ نَهْـي عَن ثَمَنِ الكَلبِ وَ مَهرُ البَغيِ وَ حُلوَانِ الكَاهِنِ (ب) (بخاري شريف،

حاشيه : (الف) حضور د سُپِي او د پُښِي د بَيعِ څخه منع وکړه لېکن د ښکاري سُپِي د بَيعِ اجازت ئې ورکړئ

(ب) حضور منع وکړه د سُپِي د قِيمَت،د زِنَا د اُجرَت اَو و ګَاهِن ته د وَرتَګ څخه .

[۹۶۹](۱۸) وَ لاَ يَجُوزُ بَيعُ الخَمرِ وَالخِنزِيرِ .

باب ثمن الكلب ص۲۹۸نمبر۲۲۳۷\مُسلم شريف،باب تحريم ثمن الكلب وحلوان الكاهن ص۱۹نمبر۱۵۶۷\ترمذي شريف،نمبر ۱۲۸۱) په دې حديث كې د سپي د ثَمَن څخه منع كړې ده نو ځكه ددې بَيعَ هم جواز نه لري (۲) دده په نېز سپَئ نَجَسُ العَين دئ او د نَجَسُ العَين بَيعَ جواز نه لري نو ځكه د سپي بَيعَ هم جواز نه لري .

اُصُول : كوم شئ چي نَجَسُ العَين نه وي او فائده مَند وي دهغه بَيعَ جائز ده .

لُغَت : اَلفَهدُ : پړانګ. سِبَاعٌ : د ,, سَبُعٌ ,, جمع ده څِيرَوُنكَئ حيوان .

[۹۶۹](۱۸) او نه ده جائز د شرابُ بَيع او د خِنزِير بَيعَ .

وجه : (۱) شراب او خِنزِير نَجَسُ العَين دي نو ځكه دهغو بَيع جواز ه لري. د نَجَسُ العَين دليل ئې دا آيت دئ اِنّمَا الخَمرُ وَ المَيسِرُ وَ الاَنصَابُ وَ الاَزلاَمُ رِجسٌ مِن عَمَلِ الشّيطَانِ (الف) (آيت ۹۰سورة المآئدة ۵) په دې آيت كې و خَمَر ته رِجس او ناپاک ويل سوي دي (۲) په حديث كي د شرابو د خرڅولو ممانعت راغلئ دئ عَن عَائِشَةَ مِمّا نَزَلَت آ يَاتُ سُورَةِ البَقَرَةِ ۲آيت ۲۱۹ عَن آخِرِهَا خَرَجَ النّبِىُ ﷺ فَقَالَ حُرِمَتِ التِّجَارَةُ فِي الخَمرِ (ب) (بخاري شريف،باب تحريم التجارة فِي الخمر ص۲۹۷نمبر۲۲۲۶\مسلم شريف،باب تحريم الخمرص۲۲نمبر ۱۵۸۰) ددې حديث څخه معلوم سو چي د شرابُ تجارت حرام دئ (۳) په ابوداؤدشريف كي دا هم راغلي دي چي د كوم شي خُوړَل حرام دي دهغه ثَمَن هم حرام دي عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ رَاَيتُ رَسُولَ اللهِﷺجَالِسًا عِندَ الرّكنِ قَالَ فَرَفَعَ بَصَرَهُ اِلٰي السّمَآءِ فَضَحِکَ فَقَالَ لَعَنَ اللهُ اليَهُودَ ثَلاَثًا اِنّ اللهَ تَعَالٰي حَرّمَ عَلَيهِم الشّحُومَ فَبَاعُوهَا وَ اَكَلُوا اَثمَانَهَا وَ اَنّ اللهَ تَعَالٰي اِذَا حَرّمَ عَلٰي قَومٍ اَ كلَ شَئٍ حَرّمَ عَلَيهِم ثَمَنَهُ (الف) (ابوداؤدشريف،باب في ثمن الخمروالميتة ص۱۳۶نمبر۳۴۸۸) په دې حديث كي دئ چي د يو شي خُوړَل حرام وي نو دهغه قِيمَت هم حرام دئ. نو ځكه د شرابُ قيمت به هم حرام وي او دهغه خرڅول هم حرام سو. او د خِنزِير د حُرمَت دليل دا آيت دئ اِلاّ اَن يَكُونَ مَيتَةً اَو دَمًا مَسفُوحًا اَو لَحمَ خِنزِيرٍ فَاِنّهُ رِجسٌ اَو فِسقًا اُهِلّ لِغَيرِ اللهِ بِهِ (ب) (آيت ۱۴۵سورة الانعام۶) په دې آيت كې و لَحمِ خِنزِيرٍ ته رِجس او نَاپَاک ويلي دي نو ځكه ددې خرڅول هم حرام دي. په حديث كي دئ عَن جَابِرِ بِنِ عَبدِاللهِ اَنّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ يَقُولُ عَامَ الفَتحِ وَهُوَ بِمَكّةَ اَنّ اللهَ وَرَسُولَهُ حَرّمَ بَيعَ الخَمرِ وَالمَيتَةِ وَالخِنزِيرِ

[۹۷۰](۱۹) وَ لاَ يَجُوزُ بَيعُ دُودِ القَزِّ اِلاّ اَن يَكُونَ مَعَ القَزِّ وَ لاَ النّحلِ اِلاّ مَعَ الكُورَاتِ .

حاشيه : (الف) شراب،خُمار،بُت پرستي،او په غَشِي فَال را اِستَل ناپاک دي شَيطَانِي كارونه دي (ب) حضرت عائشه فرمائي چي كله د سورة البقرة آيت را نازل سو نو حضور دباندي تشريف راوړئ او وفرمائل د شرابُ تجارت حرام كړل سو .

وَالأَصـنَامِ (ج) (مسـلم شـريف،باب تحـريم بيـع الخمروالميتـة والخنزيـر والاصـنام ص۲۳نمبر۱۵۸۱) په دې حديث کې د شرابُ.د مُردَار سوي حيوان.د خِنزِير او بُتَـانُو خرڅول حرام کړي دي.نو ځکه د خِنزِير بَيعَ هم جواز نه لـري (۳) شـراب او خنزيـر د مسلمانانو لپاره مال هم نه دئ نو دا به څه رنګه خرڅوي ؟

[۹۷۰](۱۹) او جواز نه لري د رِيشَمُ د چِنجِي بَيعَ مګر د رِيشَمُ سره او نـه د مَچمُچَيُـو بَيعَ مګر د د ځَالَئ (ښَار) سره .

حاشيه : (الف) ما حضور درُکنِ کَعبې سره ناست وليدئ وفرمائل، چي حضـور نَظَرمُبَـارَک و آسمان تـه پورتـه کئ او وَمَسېدئ بيائې درې واره وفرمائل، پر يَهُودِيَـانُو دي د الله لَعنَـت وي،پـر دُوئـي ئـې چَربِـي (د لَـم وَازګـي) حرام کړي وې بيائې هم هغه خرڅې کړې او دهغه قِيمَت ئې وَخُوَاړَئ،حالانکه الله تعالٰي چي پر يو قوم باندي ديَـو شِي خُوَړَل حراموي نو دهغه شي قِيمَت هم حراموي (ب) مګر چي مُردَار وي يا بَېَدُونکي وِينَـه وي يـا د خِنزِيـر غُوَښَه وي،نو دخنزير غُوَښَه ناپاک ده يا فِسق دئ چي د الله څخه علاوه د بَل چا پر نوم باندي حلالَ سوې وي (ج) دحضور څخه د فَتحِ مَکّې په ورځ دا وَيِنَا اورېدل سوې ده په داسي حا کي چي دئ په مَکّه کي وُ،چـي الله تعـالٰي او دهغه رسول شَرَاب،مُردَارسوئ،خنزير او د بُتَانُو خرڅول حرام کړي دي .

[۹۷۱](۲۰) وَ اَهلُ الذِّمّةِ فِي البِيَاعَاتِ کَالمُسلِمِينَ اِلاّ فِي الخَمرِ

تشريح : د رِيشَمُ بَيعَ جائز ده لېکن يَوَاځِي د رِيشَمُ د چِنجِي بَيـعَ جـواز نـه لـري.او کـه چيري د رِيشَمُ سره د رِيشَمُ چِنجِي هـم وي نـو د رِيشَـمُ سـره د هغـه چِنجَيُـو بَيـعَ جـائز ګرزي .

وجه : د رِيشَمُ چِنجَئ مال نه دئ نو ځکه يواځي دهغه بَيـعَ جـواز نـه لري.البتـه چـي د رِيشَمُ تابع سي بيا د هغه بَيعَ جائز ګرزي. دغه رنګه د شَـهدُ مَـچ (مُچمُچَـئ) مـال نـه دئ نو ځکه يواځي دهغه بَيعَ هم جواز نه لري.البته چي د شَـهدُ (د ګبِـينُ) د ځَـالَئ يـا ښَار تَابِع سي بيا دهغه بيع جائز ګرزي .

اُصُول : کوم شئ چي مَال نه وي او نَجَسُ العَين نه وي نو چي د بَل شي تَـابِع سـي بيـا دهغه بَيعَ جائز ګرزي .

فائده : د امامِ شافعي او امامِ محمد په نېز يَوَاځِي د رِيشَمُ د چَنجَيُو بَيعَ هم جائز ده.دغـه رنګه د مَچمُچَيُو بَيعَ هم يواځي جائز ده .

وجه : پر دا چِنجَـانُو بانـدي هـم نفع او ګټـه اخسـتل کيږي. ددې څخـه رِېښَـم او شَـهد (ګبين) راوزي نو ځکه دا هم د مَال په درجـه کـي دي.نـو يـواځي هـم ددې شـيانو بيـع جائز ده .

لُغَـت : دُودُالقَـزِّ : د رِېښَـمُو چِنجِـي. اَلنّحـلُ : د شَـهدُ مُچمُچَـئ. اَلکَـورَاتُ : د شَـهدُ د مَچمُچَيُو ځَالَئ. يا دهغه ښَار .

[۹۷۱](۲۰) اَهلِ ذِمّه په بُيُوعَاتُ کي د مسلمانانو په شان دي مګر په شرابُ او خنزير کي په خاص توګه.ځکه چي د دُوئي عَقد پر شرابُ باندي دارنګه دئ لکه د مسـلمانانو

عَقد پر شَربَت باندي.او د ذُوئي عَقد پر خنزير باندي دارنګه دئ لکه د مسلمانانو عَقد پر وُزَه (بُوزَه) باندي .
تشريح: هغه کافرچي تېکس ورکوي په دَارُالاِسلاَم کي وسيږي وهغه ته ذِمّي وائي

وَالخِنزِيرِ خَاصّةً فَاِنّ عَقدَهُم عَلْي الخَمرِ کَعَقدِ المُسلِمِ عَلْي

د ذُوئي حقوق د مسلمانانو پـه شان دي. نو ځکه چي څه رنګه مسلمان خريد او فروخت کوي ذِمّي به هم دغه رنګه خريد او فروخت کوي .
وجه : په خپله حضورﷺ د کافرانو سره خريد او فروخت کړئ دئ عَن عَبدِالرّحمٰنَ بنِ اَبِي بَکرٍ قَالَ کُنّا مَعَ النّبِيّﷺ ثُمّ جَآءَ رَجُلٌ مُشرِکٌ مَشعَانٌ طَوِيلٌ بِغَنَمٍ يَسُوقُهَا فَقَالَ النّبِيّﷺ اَبَيعًا اَم عَطِيّةً ؟ اَو قَالَ اَم هِبَةً؟ قَالَ لاَ بَل بَيعٌ فَاشتَرْي مِنهُ شَاةً(الف) (بخاري شريف،باب الشرآء والبيع مع المشركين و اهل الحرب ص۲۹۵نمبر ۲۲۱۶) ددې حديث څخه معلوم سو چي حضورﷺ د مُشرِک سره بَيعَ کړې ده. لِهْذَا چي ومُشرِک ته د بيع کولو اجازت سته نو و ذِمّيَانُو ته په طريقه اَولْي سره دبَيعِ او شِرَآء کولو اجازت سته. ځکه چي ذُوئي و دَارُالاِسلام ته تېکس ورکړئ نو ټوله حقوق ئې ځان ته حاصل کړل .

لېکن په خپل آپس کي و ذِمّيَانُو تـه د شرابُ او خنزير خرڅولو اجازت سته ځکه چي د ذُوئي په اِعتِقَاد کي دا مال دئ. نو ځکه چي څه رنګه مسلمانان دشَربَت خريد او فروخت سره کوي دغه رنګه ذُوئي به په خپل مينځ کي د شرابُ او خنزير خريد او فروخت کوي. او چي څه رنګه موږ د وُزې(بُوزې)خريد او فروخت کوو دغه رنګه به ذُوئي په خپل مينځ کي د خنزير خريد او فروخت سره کوي .
وجه : په اَثَر کی ددې اجازه سته سُمِعَ اِبنُ عَبّاسٍ يَقُولُ دَخَلتُ عَلْي عُمَرَ ... قَالَ سُفيَانُ يَقُولُ لاَ تَأخُذُوا فِي جِزيَتِهِم اَلخَمرَ وَالخَنَازِيرَوَ لْکِن خَلّوا بَينَهُم وَبَينَ بَيعِهَا

حاشيه : (الف) موږ د حضور سره ورسره وُو چي يَو مُشرِک سړئ راغلئ چي ډېر مضبوط او جَګ وُو، وُزَه (بُوزَه) ئې رَاشړَل نو حضور پوښتنه ځيني وکړه، دخرڅولو ده که د عَطيَه ورکولو ده ؟ يا حضور وفرمائل چي د هِبَه کولو ده ؟ مُشرِک سړي وويل چي نَه ! بلکه د خرڅولو لپاره ده، نو مَا دهغه څخه يوه وُزَه (بُوزَه) رَانِيوَل .

العَصِيرِ وَ عَقدُهُم عَلْي الخِنزِيرِ کَعَقدِ المُسلِمِ عَلْي الشّاةِ .

فَاِذَا بَاعُواهَا فَخُذُوا اَثمَانَهَا فِي جِزيَتِهِم (الف) (سنن للبيهقي،باب لايأخذمنهم في الجزية خمرا ولاخنزيرا ج۹ص۳۴۶نمبر۱۸۷۳۸) په دې اَثَر کي دئ چي ذِمّيَان د شرابُ او خنزير و بيعَ ته پرېږ دئ او دهغه په ثَمَن کي جِزيَه ځيني اَخلَئ .
لُغَت : اَهلُ الذِّمّةِ : کوم کافر چي په دَارُالاِسلاَم کي تېکس ورکوي وَسِيږي وهغه ته اَهلُ الذِّمّه وائي .

حاشيه : (الف) حضرت ابن عَبّاس فرمائي چي زَه حضرت عُمَر ته رَاغلَم ... حضرت سُفيَان وفرمائل چي حضرت عُمَر فرمائل د ذِمّيَانُو په جِزيَه كي شرَاب او خِنزِير مَه اَخلَئ، لېكن دُوئي د شرَابُ او خِنزِير دتجارت لپاره پرېږدئ، او دهغه په قِيمَت كي جِزيَه وَاخلَئ .

..... بَابُ الصّرفِ .....

ضروري پام لرنه : دصرف معنْي ده زِيَاتُوب او پر يَوه خُوا بَلَه خُوَا اَړَ وَل. د دِرهَم او دِينَارُو په يوه بَلَه خُوَا اَړَوَلُو سره نفع او ګټه زياتيږي نو په دغه وجه چي سَرَه زَر د سُرُوزَرُو په بَدَل كي يا سُپين زَر دسُپِينُ زَرُو به بَدَل كي ياسَرَه زَر د سُپِينُ زَرُو په بَدَل كي خرڅولو ته بَيعِ صَرَف وائي. و سُرُو او سُپِينُ زَرُو ته اَثمَان هم وائي. اَثمَان هر وخت پر له اَوړِي را اَوړِي نو ځكه ددې وبَيعَ ته بَيعِ صَرَف وائي. د بَيعِ صَرَف دليل او دا چي سَرَه زَر دي د سُرُو او سُپِينُوزَرُو په بَدلَه د کَمبُوت او زِيَاتُوب سره نه خرڅوي او لاس په لاس دي اَخلِي. په پُور دې نه وركوي ددې دليل دا حديث دئ،عَن اَبِي سَعِيدِ الخُدرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ اَلذّهَبَ بِالذّهَبِ وَالفِضّةَ بِالفِضّةِ وَ البُرّ بِالبُرّ وَ الشّعِيرَ بِالشّعِيرِ وَ التّمَرَ بِالتّمَرِ وَ المِلحَ بِالمِلحِ مَثَلاً بِمَثَلٍ يَدًا بِيَدٍ فَمَن زَادَ اَو اِستَزَادَ فَقَد اَربْي اَلآخِذُ وَالمُعطِي فِيهِ سَوَ آ ءٌ (الف) (مُسلم شريف باب الصرف وبيع الذهب بالورق نقداً ص۲۴نمبر۱۵۸۷\بخاري شريف،باب بيع الفضة بالفضة ص۲۹۰نمبر۲۱۷۶\باب بيع الذهب بالورق يداً بيدٍص۲۹۱نمبر۲۱۸۲\ابوداؤدشريف،باب في الصرف،ص۱۱۹ نمبر۳۳۴۹) ددې حديث څخه معلوم سوچي سُپين زَر دي د سُپينُو زَرُو په بَدلَه كي برابر برابر خرڅوي.سَرَه زَر دي د سُرُوزَرُو په بَدَل كي برابر برابرخرڅوي.چي کَمبُوت او

زِيَاتُوب په کي وکي نو دا سُود دئ چي د خدائ پاک قَول ,, وَحَرّمَ الرِّبُوَا,, په وجه حرام دئ. او پر دوارو اَثمَانُو دي په مجلس کي قبضه وکيږ.ځکه چي په پُور کولو سره هم سُود لازميږي.په حديث کي يَدًا بِيَدٍ چي لاس په لاس ئې واَخلَئ.په پُور نَه.ددې حديث څخه د بَيعِ صَرف ثبوت هم وسو .

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل سره زَر د سرو زَرو په بد له کي سپين زَر د سپينو زَرُو په بدله کي غَنَم د غَنَمُو په بدله کي جُوَارِي د جُوَارَيُو په بدله کي خُورمَا د خُورمَا په بدله کي او مَالګه د مَالګِي په بدله کي برابر برابر،لاس په لاس، بيا کوم چا چي زِيَات ورکړه يا ئې زِيَات طلب کړه نود سُود کار ئې وکړئ ،اخستونکئ او ورکونکئ په ګُناه کي سره برابر دي .

[۹۷۲](۱) اَلصّرفُ هُوَ البَيعُ اِذَا کَانَ کُلّ وَاحِدٍ مِن عِوَضَيهِ مِن جِنسِ الاَثمَانِ [۹۷۳](۲) فَاِن بَاعَ فِضّةً بِفِضّةٍ اَو ذَهَبًا بِذَهَبٍ لَم يَجزِ اِلاّ مَثَلاً بِمَثَلٍ وَ اِن اِختَلَفَا فِي الجُودَةِ وَ الصِّيَاغَةِ .

[۹۷۲](۱) صَرف هغه بَيعَ ده چي کله دواړه عِوَضُونَه دثَمَنُو د جِنس څخه وي .

تشريح : و دواړو خواو ته سَرَه زَر.يا ودواړه خواوُ ته سُپِين زَر.يا يَو طرف ته سَرَه زَر بَلَه خوا ته سُپِين زَر وي نو ودې صورتو ته بَيعِ صَرف وائي .

پام لرنه : چي خالص سَرَه زَر يا خالص سُپِين زَر وي. يا مِلاَوَټ والا وي.د سرو او سُپِينُ زَرُو لُوښِي وي.يا د سرو او سُپِينُ زَرُو سِکّې وي دا ټوله د سُپِينُ زَرُو په حُکم کي دي. لېکن که چيري مِلاَوَټ زِيَات وي او سَرَه يا سُپِين زَر کَم وي نو مِلاَوَټ به جلا کوي چي کوم سَرَه يا سُپِين زَر رَاوَوزِي هغه به حسابل کيږي. او دهغه په حَقلَه به د بَيعِ صَرف اِطلاَق کيږي .

لُغَت : اَلاَثمَانُ : د ثَمَنٌ جمع ده. و سرُو او سُپِينُ زَرُو ته اَثمَان وائي .

[۹۷۳](۲) بيا که چيري خرڅ کړل سُپِين زَر د سُپِينُ زَرُو په بَدَل کي يا سَرَه زَر د سرُو زَرُو په بَدَل کي نو جواز نه لري مګر برابر برابر. که څه هم په ښَه وَالِي او جُوړَښت کي سره مختلف وي .

تشريح : سُپِين زَر د سُپِينُ زَرُو په بَدَل کي خرڅ کړي يا سره زَر د سرو زَرُو په بَدَل کي خرڅ کړي نو بايد چي برابر برابر وي کَمَئ او زِيَاتُوب حرام دئ. که څه هم يو زِيَات عُمدَه وي هغه بَل رَدِّي (کمزورئ) وي.يا په يوه کي جُوړَښت ښَه وي په بَلَه کي تر هغه څه خراب وي چي دهغه په وجه دهغه قيمت هم کم وي. خو بيا به هم د وَزَن په اِعتِبَار دواړه سره برابر وي بيا به خرڅوي.کَمبُوت او زِيَاتُو ب نه سي کولائي. او که چيري کَمبُوت او زِيَاتُوب پکښي کوي نو بيا دي د سرُو زَرُو قِيمَت د سُپِينُ زَرُو سره ولګوي بيا دي په هغه سُپِينُ زَرُو باندي زِيَات سَرَه زَر رَانِيسِي. دغه رنګه دي د سُپِينُ زَرُو قِيمَت د سرُوزَرُو سره ولګوي او په هغه سرُوزَرُو دي زِيَات

سُپِین زَر رَانِیسِي . دغه صورت دي اِختِیَار کي. خو سُپِین زَر دي د سُپِینُ زَرُو په بَدَل کي د کَمبُوت او زِیَاتُوب سره نه خرڅوي .

وجه : مخته په ضروري پام لرنه کي حديث تېر سوئ دئ ,, مَثَلاً بِمَثَلٍ ,, (مُسلم شريف،نمبر١٥٨٧) او په رِبَوِي يعني سُودِي شِیَانُو کي عُمدَه او رَدِّي اِعتِبَار نه لري. دهغه وجه دا حديث دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنّ رَسُولَ اللهِ اِستَعمَلَ رَجُلاً عَلٰي خَيبَرَ فَجَائَتَهُ بِتَمَرٍ جَنِيبٍ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ اَكُلّ تَمرِ خَيبَرَ هٰكَذَا ؟ قَالَ لاَ وَاللهِ يَا رَسُولَ اللهِ ! اِنّا لَنَأخُذُ الصّاعَ مِن هٰذَا بَالصّاعَينِ وَالصّاعَينِ بِالثّلٰثِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ لاَ تَفعَل. بِعِ الجَمعَ بِالدّرَاهِمَ ثُمّ اِبتَع بِالدّرَاهِمَ جَنِيّاً (الف) (بخاري شريف.باب اذا اراد بيع تمرِبتمرِخيرمنه ص٢٩٣نمبر١ ٢٢٠\مسلم شريف.باب بيع الطعام مثلا بمثل ص٢٤نمبر١٥٩٣) په دې حديث کي جَنِيب او جَمعٌ دوارِې خُورمَاوِي دي. جَنِيب عُمدَه او جَمعٌ رَدِّي دي. خو بيائې هم يوه صَاع د دُوُ صَاعُ په بدله کي د خرڅولو څخه منع کړې ده.او د مُسلم شريف په حديث کې فرمائلي دي چي برابر برابر ئې خرڅوئ که بيا هم چيري کَم او زِيَات خرڅوئ نو بيا د خُورمَاوُ قِيمَت د دِرهَم سره ولګوئ. او په دغه دِرهَم باندی بيا ښې خُورمَاوِي رَانِيسئ. په سرُو او سُپِينُ زَرُو کي به هم دغه حال وي. ځکه چي دا هم د رِبَوِي مالو څخه دي. لِهٰذَا که عُمدَه يعني ښَه وي که بَد خو برابر برابر به خرڅوي .

اُصُول : په رِبَوِي مالو کي چي مَبِيع او ثَمَن داړه د يوه جنس وي نو د عُمدَه او رَدِّي هيڅ اِعتِبَار نسته .

لُغَت : اَلجُودَةُ : عُمدَه. ښَه . اَلصِّيَاغَةُ : جُوړِښت. رنګ و رُوغَن .

حاشيه : (الف) حضور پر خَيبَر باندي يَو سړئ عَامِل (ګَوَرنَر) جوړ کړئ نو هغه عُمدَه خُورمَاوِي رَاوړې راغلئ،نو حضور وفرمائل آيا د خَيبَر ټُولِي خُورمَاوِي دغه رنګه دي ؟ هغه وويل نَه ! ائ دخدائ رَسُولَ، موږ ددې څخه يَوَه صَاع د دُو صَاعُ په بَدلَه کي اَخلُو يا دُوې صَاعِ د دُرُو صَاعُ په بَدلَه کي اَخلُو،حضور وفرمائل داسي مَه کوئ، رَدِّي خُورمَاوِي د دِرهَم په بَدلَه کي خرڅي کړئ بيا په هغه دِرهَم ښې خُورمَاوِي واخلئ .

[٩٧٤](٣) وَ لاَ بُدّ مِن قَبضِ العِوَضَينِ قَبلَ الاِفتِرَاقِ .

[٩٧٤](٣) اوضروي دئ پردواړوعِوَضُوباندي قبضه کول مخکي ترجلاکېدو .

تشريح : دا خو اَثمَان دي نودجلاکېدو مخکي دي پر مَبِيع او ثَمَن قبضه وکړي .

وجه : (١) د ضروري پام لرنه په حديث کي تير سو چي ,, يَدًا بِيَدٍ ,, به وي يعني لاَس په لاَس به وي (٢) حديث دئ سَأَلتُ بَرَ آ ءَ بِنِ عَازِبٍ وَ زَيدَ بِنِ اَرقَمَ عَنِ الصّرفِ فَكُلّ وَاحِدٍ مِنهُمَا يَقُولُ هٰذَا خَيرٌ مِّنّي فَكِلاَهُمَا يَقُولُ نَهٰي رَسُولُ اللهِ ﷺ عَنِ الذّهَبِ بِالوَرَقِ دَينًا (الف) (بخاري شريف،باب بيع الورق بالذهب نسيئةً ص٢٩١ نمبر٢١٨٠\مسلم شريف،باب النهي عن بيع الورق بالذهب ديناًص٢٤ نمبر ٤٠٧٢\١٥٨٩) په دې حديث کې فرمائلي دي چي سره زَر د سُپِينُ زَرُو په بَدَل کي

خرڅ کړئ نو دا دوه جنس سو. نو ځکه د کَمبُوت او زِیاتُوب سره ئې خرڅولائي سئ. لېکن خو دواړه وَزنِي شیان دي نو ځکه دَین او پُور جواز نه لري. پر دواړو به په مجلس کي قبضه کوي (۳) ثَمَن په مُتَعَیّن کولو سره نه مُتَعَیّن کيږي تر څو چي پر هغه باندي قبضه ونه کړي. نو که چیري د قبضې کولو بغیره سره جلا سو نو بیا دا,, بَیعُ الکَالِي بِالکَالِي ,, سوه (دارقطني نمبر۳۰۴۲) چي په حدیث کي دهغه څخه منع راغلې ده. او چي پر یوه باندي قبضه وکړي پر بَل باندي قبضه ونه کړي نو بِلاَ وَجه دیوه تَرجِیح راغله لِهٰذَا پر دواړو قبضه کول ضروري ده .

اُصُول : اَثمَان په مُتَعَیّن کولو سره نه مُتَعَیّن کيږي لِهٰذَا پر دواړو باندي قبضه کول ضروري ده .

لُغَت : اَلعِوَضَینِ : ددې څخه مُرَاد مَبِیع او ثَمَن دي .

حاشیه : (الف) د بَرَ آء بِنِ عَازِب او زَیدبِنِ اَرقَم څخه د بَیعِ صَرف په باب پوښتنه وسوه، هر یوه وَیَل چي دَئ زُومَا څخه ښَه دئ، بیا دواړو وفرمائل چي حضور سره زَر د سُپِینُ زَرُو په بَدلَه کي په پُور خرڅولو څخه منع کړې ده .

[۹۷۵](۴) وَ اِذَا بَاعَ الذّهَبَ بِالفِضّةِ جَازَ التّفَاضُلُ وَ وَجَبَ التّقَابُضُ

[۹۷۶](۵) وَ اِن اِفتَرَقَا فِي الصّرفِ قَبلَ قَبضِ العِوَضَینِ اَو اَحَدِهِمَا بَطَلَ العَقدُ .

[۹۷۵](۴) که سره زَر د سُپِینُ زَرُو په بَدَل کي خرڅ کړي نو کَمَئ او زِیَاتُوب جائز دئ. لېکن قبضه کول ضروري ده .

وجه : (۱) سره زَر او سُپِین زَر دواړه دُوَه جنسونه دي. نو ځکه د کَمَئ او زِیَاتُوب سره خرول جائز دي (۲) په حدیث کي دئ عَن اَبِي بَکرَةَ قَالَ نَهَي النّبِيُﷺ عَنِ الفِضّةِ بِالفِضّةِ وَالذّهَبِ بِالذّهَبِ اِلاّ سَوَآ ءً بِسَوَآ ءٍ وَ اَمَرنَا اَن نَبتَاعَ الذّهَبَ بِالفِضّةِ کَیفَ شِئنَا وَالفِضّةَ فِي الذّهَبِ کَیفَ شِئنَا (الف) (بخاري شریف،باب بیع الذهب بالورق یداً بِیَدٍص۲۹۱ نمبر ۲۱۸۲\مسلم شریف،باب الصرف وبیع الذهب بالورق نقداًص۲۴ نمبر۱۵۷۸\ ۴۰۶۳) ددې حدیث څخه معلوم سو چي سره زَر د سُپِینُوزَرُو په بَدلَه کي خرڅ کړي نو د کَمبُوت او زِیَاتُوب سره ئې خرڅولائي سي خو په دې شرط چي نَغد (نَقد) وي.دمُسلم شریف د دغه حدیث څخه مخته ,, اِذَا کَانَ یَدًا بِیَدٍ ,, لفظ موجود دئ.

اُصُول : چي جنس بدل سي بیا د کَمِي او زِیَاتُوب سره خرڅول جائز دئ .

لُغَت : اَلتّفَاضُلُ : کَمِي او زِیَاتُوب .

[۹۷۶](۵) که بَائِع او مُشتَرِي په بَیعِ صَرف کي پر دواړو عِوَضُو د قبضه کولو څخه مخکي یا د دواړو څخه پر یوه باندي د قبضه کولوڅخه مخکي ځله جلا سو نو عَقد به بَاطِل سي .

تشريح : بَائِع او مُشتَرِي بَيعَ صَرف وکړه پر مَبِيع او ثَمَن دواړو باندې قبضه ونه کړه يا

حاشيه : (الف) د حضرت اَبُوبَکرَه څخه روايت دئ چي حضور منع وکړه چي سُپِين زَر د سُپِينُوزَرُو او سره زَر د سرُو زَرُو په بَدَل کي خرڅ کړئ مګر دا چي برابر برابر ئې کړئ، او موږ ته حُکم وکړئ چي سره زَر د سُپِينُو زَرُو په بَدَل کي خرڅ کړو چي څه رنګه مو خُوښ سي (يعني دکمبوت او زياتوب سره ئې خرڅولائي سئ) ځکه چي جِنس ځله جلا جلا سو .

[۹۷۷](۶) وَ لاَ يَجُوزُ التّصَرُفُ فِي ثَمَنِ الصّرفِ قَبلَ قَبضِهِ .

ئې پر يوه باندې قبضه وکړه پر بَل ئې قبضه ونه کړه او ځله جلا سو نو بَيعِ صَرف به بَاطِل سي .

وجه : د لوړ تېرسوي حديث په وجه پر دواړو باندې قبضه کول ضروري وه او ده هغه قبضه وَنَه کړه. د حديث خلاف کار ئې وکړئ نو ځکه عَقد به بَاطِل سي .

پام لرنه : د دغه عَقد د بَرقرار ساتلو لپاره بيا وروسته بائع پر ثَمَن باندې او مُشتَرِي پر مَبِيع باندې قبضه وکړه نو ګواکه داسي سو چي لکه د بَيعِ تَعَاطِي په توګه دا يوه نوې بَيعَ وسوه. او دهغې پر بُنياد باندې پر مَبِيع او ثَمَن باندې قبضه وسوه او بَيعَ صَرف وسوه .

[۹۷۷](۶) او نه دئ جائز د بَيعِ صَرف په ثَمَن کي تصرف کول پر هغه باندې د قبضه کولو څخه مخکي .

تشريح : دبَيعِ صَرف پر ثَمَن ئې تر اُوس لا قبضه نه ده کړې او په هغه ثَمَن باندې يو شئ اَخَستَل غُوَاړِي او په هغه کي تصرف کول غُوَاړِي نو دا جواز نه لري .

وجه : (۱) په بَيعِ صَرف کي و دواړو خُوَاوُ ته ثَمَن دي. نو ځکه و هسي يوه ته د ترجيح ورکولو بغيره دواړه د مَبِيع په درجه کي دي. او دقبضه کولو څخه مخکي د مَبِيع خرڅول جواز نه لري نو ځکه په بَيعِ صَرف کي هر شئ چي ثَمَن وګرزوي چي تر څو ئې پر هغه باندې قبضه نه وي کړې په هغه کي تصرف کول جواز نه لري. پر مَبِيع چي قبضه نه وي کړې پر هغه کي تصرف کول جواز نه لري ددې ثبوت په دې حديث کي دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ مَن اِبتَاعَ طَعَامًا فَلاَ يَبِيعُهُ حَتّٰي يَقبِضَهُ (الف) (مسلم شريف،باب بطلان بيع المبيع قبل القبض ص۵نمبر ۱۵۲۵\۳۸۳۸\بخاري شريف،باب بيع الطعا م قبل ان يقبض وبيع ماليس عندک ص۲۸۶ نمبر۲۱۳۵\

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل کوم چا چي غَلّه رَانِيوَل نو هغه دي نه خرڅوي تر څو چي پر هغه باندې قبضه ونه کړي .

[۹۷۸](۷) وَ يَجُوزُ بَيعُ الذّهَبِ بِالفِضّةِ مُجَازَفَةً .

ابوداؤدشريف،نمبر ۳۴۹۲) ددې حديث څخه معلوم سو چي پر مَبِيع باندې د قبضه کولو څخه مخکي په هغه کي تصرف کول جواز نه لري. او دلته خو دُوَاړه شيان مَبِيع دي نو ځکه د قبضه څخه مخکي په هغه کي تصرف کول جواز نه لري .

فائده:دامامِ زُفَر دا رَايَه ده چي ثَمَن په مُتَعَيّن كولوسره نه مُتَعَيّن كيږي نوكـه چيـري د بَيعِ صَرف پر ثَمَن باندي قبضه ونه سي نو به د خپل ځان څخـه نـور دِرهَـم يـا دَنَـانِير وركوي لِهْذَا كه دبَيعِ صَرف په ثَمَن باندي بَل شئ واخستئ نو بَيع جائز ګرزي .

[۹۷۸](۷) د سُرُو زَرُو بَيعَ د سُپِينُوزَرُو سره په اَندَازَه سره كول جائز ده .

وجه : چي سره زَر د سُپِينُوزَرُو په بَدلَه كي په اَندَازَه سره خرڅ كړي نـو خـو ګمبُـوت او زِيَاتُوب به راسي. او سره زَر د سُپِينُوزَرُو پـه بدلـه كـي دګمبُـوت او زِيَـاتُوب سـره خرڅول جائز دي. ځكه چي دا دوه جنس سو نو ځكه سره زَر دسُپِينُوزَرُو په بَدلَه كـي په اندازه سره خرڅول جائز دي. حديث مخته تېر سوئ دئ فَاِذَا اِختَلَفَت هْذِهِ الاَصـنَافَ فَبِيعُوا كَيفَ شِئتُم اِذَا كَانَ يَدًا بِيَدٍ (الـف) (مسـلم شـريف،باب الصـرف وبيـع الـذهب بالورق نقدًا ص۲۴نمبر۱۵۸۷\۴۰۶۳\بخاري شريف،باب بيـع الـذهب بـالورق يـداً بيـدٍ ص۲۹۱نمبر۲۱۸۲) چي سره زَر د سُپِينُوزَرُو په بدله كي وي نو چي څـه رنګـه مـو خُوَښَه سي هغه رنګه ئې خرڅوئ. لِهْذَا په اَټكَل او اندازه سره خرڅول جائز سو .

اُصُول : چي دُوه جنس وي نو په اَټكل سره خرڅول جـائز دي ځكـه چـي پـه دي كـي رِبَوَا نسته .

لُغَت : مَجَازَفَةً : په اَټكل سره. په اندازه سره .

حاشيه : (الف) چي اَصنَاف مُختَلِف وي نو چي څَه رنګه مو خُوَښَه سي خرڅـوئ ئې.پـه دې شـرط چـي لاَس پـه لاَس وي (يعني دګمِي او زِيَاتُوب سره ئې خرڅولائي سئ)

[۹۷۹](۸) وَ مَن بَاعَ سَيفًا مُحَلًّي بِمِاَئَةِ دِرهَمٍ وَ حُلِّيَتُهُ خَمسُـونَ دِرهَمًـا فَدَفَعَ مِن ثَمَنِهِ خَمسِينَ دِرهَمًا جَازَ البَيـعُ وَ كَـانَ المَقبُـوضُ مِـن حِصّـةِ الفِضّةِ وَ اِن لَم يُبَـيّن ذَالِـکَ وَ كَـذَالِکَ اِن قَـالَ خُـذ هْـذِهِ الخَمسِـينَ مِـن ثَمَنِهَا .

[۹۷۹](۸) يو چا زِيوَر دَارَه تُرَه خرڅه كړه پـه سَل دِرهَمَ او دهغـه زِيـوَر د پِنځـوسُ دِرهَمُ دئ. او دهغه د قِيمَت څخه پِنځوس دِرهَمَ وركړه نو بَيعَ جائز ده. او قـبض كـړئ رَقَم د چَاندَيُو د حِصّېِ څخه دئ كه څَه هم ددې صَرَاحَت نه وي كـړئ. او دغـه رنګـه بَيعَ جائز ده كه وويل چي دا پِنځُوس د دوارِو د قِيمَت څخه واخله .

تشريح : د وَسپِينِي تُرَه ئې خرڅه كړه په هغـه كـي د پِنځـوسُ دِرهَمُ زِيـوَر لګېـدلئ وُ. پِنځوس ئې نقدِي وركړې او پِنځوس ئې په پُور كـړې. نـو د ټُولِي تُـرِي او زِيـوَر بَيـعَ جائز ګرزي .

وجه : د زِيوَر قيمت په مجلس كي وركول ضروري وُ ځكـه چـي هغـه چَانـدِي دي او ثَمَن دي او د چَاندَيُو بَيعَ د چَاندَيُو سره وسوه نو ځكه برابـر برابـر هـم ضـروري دئ.

اُوس چې کوم پِنځوس دِرهَمَ ورکړه هغه د پِنځوسُ دِرهَمُ زِېوَر پـه بَـدَل کـي سـو او دا پاته پِنځوس د وَسپِينِي د تُرِي په بَدلَه کي سو چې پُور دئ. لِهٰذَا په مجلس کې چې کـوم پِنځوس ورکړي دي هغه به د زِېوَر په بَدَل کي ګڼُو چې بَيعَ صحيح سي. او که چيـري د پِنځوسُ څخه نِيمَئ دتُرِي په بَدَل کي راولو نو د زِېوَر په بَدلَه کي چـي کـوم شـئ دئ پر هغه باندي په مجلس کي قبضـه نه راغله او د ټُولِي تُرِي بَيعَ به فاسد سي. نـو ځکـه دا پِنځوس کوم چې ورکړي دي هغه بايد د زِېوَر په بَدَل کـي سي .
پام لرنه:داهم ضروري دئ چي څونه زِېوَرپه تُرَه کي دئ تُرَه بايددهغه څخه په زيات قِيمَت خرڅه سي چي د زِېوَر د چَاندَيُو په بَدلَه کي برابر برابر چَاندِي راسي او کوم زِيَـات قيمـت چې ورکړئ دئ هغـه د تُرِی پـه بَدلَـه کـي راسـي. پـه دې ذکـر سـوي مثـال کـي پِنځـوس

[٩٨٠](٩) فَاِن لَم يَتَقَابَضَا حَتْي اِفتَرَقَا بَطَلَ العَقدُ فِي الحُلِيّةِ وَ اِن كَـانَ يَتَخَلّصُ بِغَيرِضَرَرٍجَازَالبَيعُ فِي السّيفِ وَبطَلَ فِي الحُلِيَةِ .

دِرهَمَ دپِنځوس دِرهَمُ مطابق زِېوَر په بَدلَه کي راغله او دا نور پاته پُنځـوس د تُـرِي پـه بَدلَه کی سو .

وجه : (١) په حديث کي ددې تشريح سته سَمِعتُ فُضَالَةَ بـنِ عَبِيـدِ الاَنصَـارِيّ يَقُـولُ اُتِـيَ رَسُولُ اللهِﷺ وَ هُوَ بِخَيبَرَ بِقَلاَدَةٍ فِيهَاخَرزٌ وَ ذَهَبٌ وَهِيَ مِـنَ المَغَـانِمِ تُبَـاعُ فَـاَمَرَ رَسُـولَ اللهِﷺ بِالذّهَبِ اَلّذِي فِي القَلاَدَةِ فَنَزَعَ وَحدَهُ ثُمّ قَالَ لَهُم رَسُولُ اللهِﷺ اَلذّهَبُ بِالذّهَبِ وَزنَـابِوَزنٍ (الـف) (مسلم شريف،باب بيع القلادة فيها خرزٌ وذهبٌ ص٢٥ نمبـر ١٥٩١\ ابوداؤدشـريف،باب في حلية السيف تباع بالدراهم ج٢ص١٢٠ نمبر ٣٣٥١\ترمذي شريف،باب ماجآء في شـرآء القلادة وفيها ذهب وخرزٌ ص٢٣٨ نمبر١٢٥٥) په دې حديث کي دئ چي په هَار (غَـاړِ ګَئ) کي د دُولَس دِينَـار څخـه زِيَـات سـرَه زَر وُ. او پـه دُولَـس دِينَـار اَخسـتې وه نـو حضور وفرمائل دا ځيني جلا که وګوره او د دُوَاړُ وزن سـره برابـر ګـه بيـائې خـرڅ ګه. په دغه وجه وويل چي ,, وَزنًا بِوَزنٍ ,, يعنـي چـي د دواړو وزن دي سـره برابـر وي .

اُصُول : سره زَرياسُپِين زَرچي دنورو وَسپِينُواود هغه په شان نوروشيانو سـره مِكـس سي نوبيابه هم حقيقي سره زَراوسُپِين زَر برابر برابرسره خرڅوي چي رِبَوَانه سي لازم .

[٩٨٠](٩) که چيري دواړو قبضه نه وه کړې چي ځله جلا سـو نـو پـه زِېـوَر کـي بـه عَقد باطل سي. او که چيري بېله څه ضرر او نُقصَان زِېوَر ځيني جلاکېدائي سو نو په تُرَه کي به بَيعَ جائز سي او په زِېوَر کي به بَاطِل سي .

حاشيه : (الف) حضور په خَيبَر کي وُ،دده مختـه يوه غَاړګَئ راؤړل سوه چي په هغه کي د دِبَري غَمَيَـان او سـره زَر وُ،هغه د مَالِ غَنِيمَت څخه وُ، هغه خرڅېدلو نو حضور د سروزَرُو په باب حُکم ورکړئ کـوم چـي پـه غَـاړَګَئ

کي وَه چي دا جلا ځيني وَبَاسَئ (يعني ددې قيمت دي جلا معلوم کړي) بيا حضور و ذُوئي ته وفرمائل سره زَر د سُرُو زَرُو په بَدلَه کي په وَزَن کي دي سره برابر وي .

[۹۸۱](۱۰) وَ مَن بَاعَ اِ نَآ ءَ فِضّةٍ ثُمّ اِفتَرَقَا وَ قَد قَبَضَ بَعضَ ثَمَنِـهِ بَطَلَ العَقدُ فِيمَا لَم يَقبَض وَ صَحّ فِيمَـا قَبَضَ وَ كَـانَ الاِنَـآ ءُ مُشـتَرَ كًـا بَينَهُمَا .

تشريح : بائع د زِيوَر پر قيمت پِنځوس دِرهَم باندي قبضه بايد کړې وائـي لـيکن ده پـر هغه باندي قبضه ونه کړه او ځله جلا سو. نـو کـه چيـري و ثُـرِي تـه بيلـه څـه ضَـرَر رسيدو زِيوَر ځيني جلاکيدائي سو نو د ثُرِي بَيعَ به صحيح سي. ځکـه چـي د ثُـرِي پـر قيمت باندي پـه مجلس کـي قبضـه کـول ضـروري نـه ده. او د زِيـوَر بيـع نـه صـحيح کيږي. ځکه چي د هغه پر قيمت باندي په مجلس کي قبضه کـول ضـروري وَه کـه نَـه نو بيا خوبه رِبَوَا سي. د رِبَوَا کيدو دليل لوړ حديث تير سو .

پام لرنه : که چيري و ثُرَه ته د نُقصَان رسيدو بغيره زِيوَر نه جلاکيدئ نو د زِيوَر بَيعَ نه صحيح کيږي او دهغه په وجه دثُرِي بَيعَ هم نه صحيح کيږي .

لُغَت : اَلحُلِيّةُ : زِيوَر. د خوبصورتئ او ښَائِست يَو شئ .

[۹۸۱](۱۰) يوچا د سُپِينُوزَرُو لُوښَئ خرڅ کړئ بيا دواړه ځلـه جـلا سـو حالانکـه پـر بعضُ ثَمَنُ باندې قبضه کړې وه نو عَقد به بَاطِل سي په هغه کي کوم چي قبضـه نـه ده کړې او صحيح به سي په څونه کي چې قبضه کړې ده او لُوښَئ به د دواړو تـر مينـځ مُشتَرَک سي .

تشريح : مثلاً په سَل دِرهَمَ لُوښئ وُ پِنځـوس دِرهَـمَ پـه مجلـس کـي ورکـړه او پِنځـوس دِرهَمَ نه کړه وَر. نو چي څومره ورکړي دي دهغونه بَيعَ صحيح کيږي او څونـه چـې نه دي ورکړي دهغه بَيعَ بَاطِل ده .

وجـه : و دواړو خـواو تـه سُـپِين زَر دي نـو پـر دواړو بانـدي پـه مجلـس کـي قبضـه کـول ضروري وه. او دلته خو پر نِيمِي باندي په مجلس کي قبضه راغله نو ځکه په نِيمِي کي بَيعَ صحيح کيږي او په نِيمِي کي بَيعَ نه صحيح کيږي. په دې صورت کي خولُوښئ مَبِيع

[۹۸۲](۱۱) وَ اِن اِستُحِقّ بَعضُ الاِنَآ ءِ كَانَ المُشتَرِي بِالخِيَـارِ اِن شَـآ ءَ اَخَذَ البَاقِي بِحِصّتِهِ مِنَ الثّمَنِ وَ اِن شَآ ءَ رَدّهُ .

دئ نو نِيم لُوښئ خو نه سي جلاکيدلائي نو د نِيم لُوښي د بَيعِ د نه صحيح کيدو په وجه بايد د ټُولَه لُوښِي بَيعَ بَاطِل سي. ليکن په دې وجه نه بَاطِل وُ چي مخکي د ټوله لُوښِـي بَيعَ سوې وه وروسته فَسَاد راغلئ. نو ځکه د نِيمِي فسـاد وټولـه تـه سِرَايَت نـه کـوي. نوپه دغه وجه د نِيم لُوښِي بَيعَ صحيح کيږي او د نِيم لُوښِي بَيـعَ نـه صـحيح کيـږي. او لُوښَئ به د بَائِع او مُشتَرِي تر مينځ مُشتَرَک سي .

اُصُول : دا مسئله پر دې اُصُول ده چي فساد د اَوّل څخه نه وي وروسته بيا طَارِي سوئ وي نو په پَاتَه مَبِيع کي سِرَايَت نه کوي .

[۹۸۲](۱۱) او که چيري د بَعض لُوښِي مُستَحِق را پَيدَا سو نو مُشتَرِي ته اِختِيَار دئ که خُوَښَه سي نو دا پَاتَه دي دهغه د ثَمَن د حِصّې مُطَابِق واخلي او که خُوَښَه سي رَدّ دې کړي .

تشريح : مثلاً د سُپِينُ زَرُو يو لُوښئ ئې په سَل دِرهَم خرڅ کړئ. د بَيعِ د طَې کېدو وروسته يو بَل چا وويل چي په دا لُوښِي کي نِيمَئ زوما حَق دئ. او په دلائلو سره خپل حَق ثَابِت کړئ نو ګواکه نِيم د هغه بَل دَرَيَم سړي دئ او نِيم به د مُشتَرِي وي. او په لُوښِي کي شِرکَت عَيب دئ نو ځکه و مُشتَرِي ته دا اِختِيَار دئ چي د لُوښِي څومره حِصّه دده په حَق کي راځي هغونه قِيمَت ورکړي ځيني وايخلي او که خُوَښَه سي ټُولَه بيع دي فَسخ کړي .

اُصُول : شِرکَت عَيب دئ نو ځکه د اَخَستَلُو او رَدّوَلُو اِختِيَار ورته حاصل دئ .

[۹۸۳](۱۲) وَ مَن بَاعَ قِطعَةَ نُقرَةٍ فَاستُحِقّ بَعضُهَا اَخَذَ مَابَقِيَ بِحِصّتِهِ وَلاَ خِيَارَ لَهُ [۹۸۴](۱۳) وَ مَن بَاعَ دِرهَمَينِ وَ دِينَارًا بِدِينَارَينِ وَ دِرهَمٍ جَازَ البَيعُ وَ جُعِلَ كُلّ وَاحِدٍ مِنَ الجِنسَينِ بَدَلاً مِن جِنسِ الآخَرِ .

[۹۸۳](۱۲) يوچا د سُپِينُوزَرُو يوه ټُوټَه خرڅه کړه. بيا دهغه د بَعضُ يو مُستَحِق رَاوَوَاتَئ نو چي کوم پَاتَه دئ هغه به دخپلي حِصّې د ثَمَن په بَدلَه کي اَخلِي او مُشتَرِي ته اِختِيَار نسته .

تشريح : مثلاً د سَلُو دِرهَمُ د سُپِينُوزَرُو يَوه ټُوټَه وه هغه ئې رَانِيوَل. وروسته په نِيمَ حِصّه کي يو بَل څوک مُستَحِق راغلئ نو نِيم قِيمَت يعني پِنځوس دِرهَم به ورکوي نِيمَ حِصّه به مُشتَرِي ځيني اَخلِي. او په دې صورت کي و مُشتَرِي ته د رَدّوَلُو اِختِيَار نسته .

وجه : د سُپِينُ زَرُو نُقرَه خو يو ټُوټَه ده په دې کي شِرکَت نه سي کېدلائي ځکه چي دا عَيب دئ. نو ځکه مُشتَرِي به خامخا اَخلِي او وده ته د بَيعِ د رَدّوَلُو اِختِيَار نه دئ حاصل. اَلبَتّه څومره حِصّه چي د مُشتَرِي په حِصّه کي رَاځِي هغونه قيمت به ورکوي زِيَات به نَه ورکوي. ځکه چي دغونه حَق وده ته ملاؤ سوئ دئ .

لُغَت : نُقرَةٌ : د سُپِينُ زَرُو ټُوټَه .

[۹۸۴](۱۳) يو چا دُوَه دِرهَمَ او يَو دِينَار. د دُوُدِينَارُ او يَوَه دِرهَم په بَدلَه کي خرڅ کړل نو بَيعَ جائز ده. او د دواړو جنسُ څخه به هر يَو د بَل جِنس په بَدلَه کي ګرَزَوِي .

تشريح : ويوه خوا ته دوه دِرهَم او يو دِينَار دئ او بَلَـه خواتـه دُوَه دِينَـارَ او يَـو دِرهَـم دئ. نوځکه که چيري دُوَه دِرهَمَ د يوه دِرهَم پـه بَدلَـه او يَودِينَـار د دُو دِينَـارُ پـه مقابـل کي وګرزو نو بَيعَ به فَاسِد سي او سُود به لازم سي. لېکن که دُوَه دِرهَمَ د يَوَه دِينَار پـه مقابل کي وګرزو دغـه رنګـه دُوَه دِينَـار د يَـوَه دِرهَـم پـه مقابـل کـي وګـرزو نـو د جِنس د اختلاف په وجه به کَمَئ او زِيَاتُوب جائز سي او بيع به جائز سي. حَتْي الاِمکَان د بيَعِ د

[٩٨٥](١۴) وَ مَن بَاعَ اَحَدَ عَشَرَ دِرهَمًا بِعَشـرَةِ دَرَاهِـمَ وَ دِينَـارٍ جَـازَ البَيعُ وَ كَانَتِ العَشرَةُ بِمِثلِهَا وَ الدِّينَارُ بِدِرهَمٍ [٩٨۶](١۵) وَ يَجُوزُ بَيعُ دِرهَمَينِ صَحِيحَينِ وَ دِرهَمٍ غَلّةٍ بِدِرهَمٍ صَحِيحٍ وَ دِرهَمَينِ غَلّةٍ .

جواز لپاره به دغه دُوَم صورت اختيار ؤ.

اُصُول : دَلتَه اُصُول دادئ چي که څَه هم صَفقَه يـوه وي لـېکن د اِختِلافِ جِنس پـه وجـه د رِبَوَا څخه د بچاؤېدو يو صـورت وي نو هغه به اِختِيَار ؤ او اِنسَانِي آسَانتِيَا بـه پـه نظـر کـي ساتل کيږي .

فائده : امامِ شافعي او امامِ زُفَر فرمائي چي دلته د مجموعي مقابلـه د مجمـوعي سـره ده نـو ځکه دوه دِرهَمَ د يوه دِرهَم په مقابل کي راځي او يو دِينَار د دُوُ دِينَارُ په مقابل کي راځي او په يوه جنس کي به کَمَئ او زِيَاتُوب راسي او رِبَوَا به سي نو ځکه دا بَيعَ جواز نه لري .

[٩٨٥](١۴) يو چا يَوُولَس دِرهَم د لَس دِرهَم او يوه دِينَار په بدلـه کـي خـرڅ کـړو نـو بَيعِ جائز ده. لَس دِرهَم به د لَس دِرهَم په بدله کي سي او يو دِرهَـم بـه د يـوه دِينَـار پـه بَدلَه کي سي .

تشريح : دلته هم هغه لُوَړ اُصُول چلېدلئ دئ چي يَوُولَس دِرهَم ئې د لَس دِرهَم او يوه دِينَـار په بدله کي خرڅ کړو نو لَس دِرهَم به د لَس دِرهَم په بدله کي وګرزو او کوم يو دِرهَم چـي پاته سو هغه به د يوه دِينَار په بدلـه کـي وګـرزو. او خـلافِ جـنس دئ نـو ځکـه کَمبُـوت او زِيَاتُوب به جائز سي او بيع به جائز سي .

[٩٨۶](١۵) او بيع جائز ده د دُوُ صحيح دِرهَـم او يـوه کُوتَـه دِرهَـم ده. د يـوه صـحيح دِرهَم او دُوُ کُوتَه دِرهَم په بَدَل کي .

تشريح : يو طرف ته دوه صحيح دِرهَم او يو کُوتَه دِرهَم دئ. بل طرف ته يو صحيح

[٩٨٧](١۶) وَ اِن كَـانَ الغَالِـبُ عَلْـي الـدّرَاهِمِ اَلفِضّـةُ فَهِـيَ فِـي حُكـمِ الفِضّـةِ وَ اِن كَـانَ الغَالِـبُ عَلْـي الـدّنَانِيرِ اَلـذّهَبُ فَهِـيَ فِـي حُكـمِ الذّهَبِ فَيُعتَبَرُ فِيهِمَا مِن تَحرِيمِ التّفَاضُلِ مَا يُعتَبَرُ فِي الجِيَادِ .

دِرهَم او دوه کُوتَه دِرهَم دي نو بَيع جائز ده .

وجه : و دواړو خواو تـه درې درې دِرهَـم دي نـو ځکـه پـه وَزَن کـي دواړي خـواوي سره برابري دي. البته و يوه خوا ته دوه کُوتَه دِرهَم دي او بـل طـرف تـه صـرف يـو

کُوټَه دِرهَم دئ نو ځکه په قیمت کي به کمبوت او زیاتوب وي. لېکن مخکي تېر سوي دي چي په اَموَالِ رِبَوَا کـي د دواړو پـه وَزَن کـي برابـر والـئ مُعتَبَـر دئ. د عُمـدَه او رَدِّي یاپه قیمت کي د کَمبُوت او زِیَاتُوب اعتبار نه لـري. نـو ځکـه و دواړو خواوتـه د وَزَن د برابر والي لکبله بیع جائز ده .

اُصُول :په اَموَالِ رِبَوِیّه کي په وَزَن اوکَیل کي دواړي خواوي بایدسره برابري وي .

لُغَت : غَلّةٌ : هغه دِرهَم چي کُوټ په ګډ وي او تَاجِر هغه قبلوي لېکن بَیتُ المَـال هغـه نه قبلوي .

[۹۸۷](۱۶) که سُپین زَر پر دِرهَم باندي غَالِب وي نو هغه د سُپینُ زَرُو په حُکم کـي دي او که پر دِینَار باندي غَالِب وي نو هغه د سُرُوزَرُو پـه حُکم کـي دي. نـو پـه دې دواړو کي به اِعتِبَار کیږي د کَمبُوت او زِیَاتُوب د حرام والـي دهغـه کـوم چـې اِعتِبَـار کیږي په عُمدَه کي .

تشریح : د خَالِص سروزرو سِکّه نه سي جوړېدائي. دغه رنګـه خـالص د سُـپِینُو زَرُو سِکّه هم نه سي جوړېدائي. په دي کي خَه نَه خَه نُور شِیَان(وَسـپِینَه.پِیتَل.یا دهغـه پـه شان بَل شئ)ګډیږي. نو ځکه لَږ مِلاوَټ اِعتِبَار نه لري. هغه د جَیِّد او عُمدَه په حُکم کي دي. په دي کي کَمبُوت او زِیَاتُوب دغه رنګه حرام دئ لکه په جَیِّد او عُمـدَه کـي. لېکن که چیري د نِیمِي څخه زِیَات ملاوټ وي نو اُوس بَل دَهَات غَالِب

[۹۸۸](۱۷) وَ اِن کَانَ الغَالِبُ عَلَیهِمَا اَلغَشّ فَلَیسَا فِي حُکمِ الـدّرَاهِمِ وَ الـدّنَانِیرِ فَهُمَـا فِـي حُکـمِ العُـرُوضِ [۹۸۹](۱۸) فَـاِذَا بِیعَـت بِجِنسِـهَا مُتَفَاضِلاً جَازَ البَیعُ .

سوئ دئ نو ځکه دا اُوس د خَالِص سروزَرُو او سُپِینُوزَرُو په حُکم کـي نـه سو پاتـه. بلکه د سَامَان په حُکم کي سو. دلته دا اُصُول دئ چي د غَالِب او اَکثَر اِعتِبَـار دئ. کـه اکثره سره زَر یا سپین زَر و نو هغه د سروزَرُو او سُپِینُوزَرُو په حُکم کي دي. او کـه اکثره بَل شَئ وي نو هغه د بَلِي وَسپِینِي او سَامَان په حُکم کـي دي. مشـهوره قاعـده ده لِلاَکثَرِ حُکمُ الکُلِّ .

اُصُول : د اکثر او غَالِب اِعتِبَار دئ .

[۹۸۸](۱۷) او که پر دواړو باندي غَالِب کُوټ وي نو هغه دواړه د دِرهَم او دَنَانِیر په حکم کي نه دي. نو هغه دواړه د سَامَان په حکم کي دي .

تشریح : چي په دِرهَم کي سُپین زَر غَالِب نه وي بلکـه کُـوټ غَالِـب وي نـو اُوس خـو اکثره کُوټ دي ځکه دا د سامان په حُکم کي دي. دغه رنګه چي پـه دِینَـار کـي کُـوټ غَالِب سي نو هغه هم بیا د سُرُوزَرُو په حکم کي نه دي بلکه د سامان په حکم کي دي. قاعده مخکي تېره سوې ده .

[۹۸۹](۱۸) نو كه چيري دهغه د جنس سره خرڅ كړي دكمبُوت او زِيَاتُوب سره نو جائز دئ .

تشريح : مثلاً شُپږ سِكّي خرڅوي.چي په هغه كي كُوټ غَالِب دي. په دې شپږو سِكّو كي د دُوعُمدَه سِكّو برابر سُپين زَر دي او د څلورو سِكّو برابر كُوټ په كښي دي. نو كه دا شُپَږ سِكّې د عُمدَه درو سِكّو په بدل كي خرڅي كړي نو جائز دئ. وجه:په شُپَږُو سِكّو كي ددُوُ سِكّو برابر سُپين زَر دي هغه د دُوُعُمدَه سِكّوبرابر سو.

[۹۹۰](۱۹) وَ اِن اِشتَرْي بِهَا سَلعَةً ثُمّ كُسِدَت فَتَرَكَ النّاسُ المُعَامَلَةَ بِهَا قِبلَ القَبضِ بَطَلَ البَيعُ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ وَ قَالَ اَبُويُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي عَلَيهِ قِيمَتُهَا يَومَ البَيعِ وَ قَالَ مُحَمّدٌ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي عَلَيهِ قِيمَتُهَا آخِرُ مَا يَتَعَامَلُ النّاسُ .

او دا نوري څلور كُوټې سِكّې ديوې عُمدَه سِكّې په بَدَل كي سوې. نو دغه رنګه خالص سُپين زَر د خالص سُپِينُوزَرُو په بَدلَه كي سو او نور پاته سُپين زَر د كُوټُو په بَدلَه كي سو او بيع جائز سوه. د ,, مَثلاً بِمَثَلٍ ,, حديث په وجه به دا كوشش كيږي چي سُپين زَر د سُپِينُ زَرُو سره برابر كَمبُوت او زِيَاتُوب نه سي را. او د كُوټ په بدله كي دا نور پاته سُپين زَر سي چي بَيعَ جائز سي. دغه رنګه مسئلې په مسئله نمبر۱۸ او مسئله نمبر۱۴ كي تيري سوي دي .

پام لرنه : دا مسئلې ددې درو اُصُول څخه مُستَنبَطِ دي (۱) سره زَر د سروزَرو سره برابر وي. سُپين زَر د سُپِينُ زَرُو سره برابر وي (۲) چي اَثمَان وي نو په مجلس كي به قبضه وي (۳) او چي سُپين زَر او سرَه زَر سره ګډوَډ وي نو كوشش بايد وسي چي خِلاَفِ جنس سره برابر كړي او بيع جائز سي .

[۹۹۰](۱۹) كه د كُوټَه دِرهَم په بَدَل كي سَامَان واخستئ بيا دهغه رِوَاج نه سو پَاتَه اوخلكو پر مَبِيع باندي دقبضې كولو څخه مخكي معامله پرېښوله نو بيع به باطِل سي د امام ابوحنيفه په نېز. اوامام ابويوسف وفرمائل چي پر مُشتَرِي باندي د سِكّې قيمت لازم دئ د بَيعِ دورځي. او امامِ محمد وفرمائل چي پر مُشتَرِي باندي د سِكّې قيمت لازم دئ د هغه آخري ورځي كله چي خلګو په دې سره معامله كوله .

تشريح : د كُوټې سِكّې قاعده داده چي تر كومه وخته پوري ددې رِوَاج وي تر هغه وخته پوري دا د سِكّې په درجه كي ده. او په كومه ورځ چي رِوَاج ختم سو دهغې ورځي څخه بيا دا د سامان په درجه كي دي. مثلاً اُوس ئې د لَسُو كُوټَه سِكّو په بَدلَه كي يو شئ رَانِيوَئ. ده پر مَبِيع لا قبضه نه وه كړې چي په خلګو كي دهغه رِوَاج ختم سو نو امام ابوحنيفه فرمائي چي بَيعَ بَاطِل سوه .

وجه : دئ فرمائي چي داسِكّي خو كُوټې وې د خلكو په تَعَامُل سره دا سِـكّې وې. او چي كله خلكو تَعَامُل پرېښوئ نو هغه سِكّې سَامَان سوې.او دهغو ثَمَنِيّت ختم سـو. نـو مَبِيع ببِله ثَمَن پاته سوه. او چي بَيعَ ببِله ثَمَن وي نو بَيعَ فَاسِد وي. نـو ځكـه دا بَيـعَ هـم فاسد ده. او پر مَبِيع خو د مُشتَرِي قبضه نه دسوې نو ځكـه مَبِيـع بـه د بَـائِع سـره پاتـه وي. او و مُشتَرِي ته به هيڅ شئ نه وركوي .

اُصُول : چي بَيع ببِله ثَمَن وي نو بَيعَ فاسد ګرزي .

امام ابويوسف فرمائي چي د بَيعِ كولو په وخت كـي دې سِـكّو ثَمَنِيّـت درلـودئ وروسـته بيـا ددې ثَمَنِيّت ختم سوئ دئ. نو ځكه ددې سِكّو قيمت به وركوي. دئ فرمائي چي د بَيعِ كولو پر وخت ددې سِكّو چي كوم قيمت په دِرهَمُ سره وُ هغه قيمت به وركوي. ځكـه چـي د بَـائِع او مُشتَرِي په ذِهن كي دهغه وخت قيمت مَلحُوظ وُ. بَائِع دهغه وخت دقيمت په مُلاَحَظَه كې پربَيعَ كولو باندي رَاضِي سوئ دئ. نو ځكه د خرڅېدلو پر مَحَال چي ددې سِكّو كوم قيمت وُ پر مُشتَرِي باندي هغه لازم دئ .

اُصُول : دبَيعِ د ورځي قيمت به مَعتَبَر وي .

د امامِ محمد په نېز هم بيع صحيح ده. دئ فرمائي چي هغه آخري ورځ چي كله خلګو ددې سِكّو اَخَستَل او وَركول پرې اِيښي دي په هغه ورځ ددې لَسُ سِـكّو كـوم قيمـت وُ هغه قيمت به و مُشتَرِي وركول كيږي .

وجه : تر كومه وخته چي سِكّې چلېدلې تر هغه وختـه پـوري دسِـكّې وركولومَجَـاز وُ. لېكن چي كوم وخت ئې د هغه اخستل او وركول پرېښول دهغـه ورځـې څخـه د سِـكّې څخه دسِكّې وقيمت ته مُنتَقِل سو. نو ځكه په هغه ورځ مثلاً ددې لَسُ سِـكّو چـي كـوم قيمت وي هغه قيمت پر مُشتَرِي باندي لازم دئ. هغه قيمـت بـه ادآء كـوي او مَبِيـع بـه اَخلِي .

[۹۹۱](۲۰) وَ يَجُوزُ البَيعُ بِالفُلُوسِ النّافِقَةِ وَ اِن لَم يُعَيِّن [۹۹۲](۲۱) وَ اِن كَانَت كَاسِدَةٌ لَم يَجزِ البَيعُ بِهَا حَتْي يُعَيِّنَهَا .

اُصُول : په كومه ورځ چي د سِكّې څخه و قيمت ته مُنتَقِل سو دهغې ورځـي قيمـت بـه مَلحُوظ وي .

لُغَت : مَايَتَعَامَلُ النّاسُ : چي خلګ په هغه مُعَامَلَه كوي. په خلكو كې رِوَاج وي .

[۹۹۱](۲۰) جائز ده بَيعَ په چلېدونكو پَيسُو سره كه څَه هم مُتَعَيّن نه كړي .

تشريح : فُلُوس دسُرُو او سُپِينُو زَرُو څخه علاوه د نورو وَسپِينُو څخه سِكّې جوړيږي. نوځكه تر كـوم وخـت پـوري چي دهغو رِوَاج وي تـر هغـه وختـه پـوري د دِرهَـم او دَنَانِيرُ په شَان دي. يعني په مُتَعَيّن كولو سره نه مُتَعَيّن كيږي. دهغه دقيمـت چـي هسـي يو رنګه فُلُوس وركړي نو كِفَايَت كوي. او د كومي ورځي څخـه چـي ددې رِوَاج خـتم سي دهغې ورځي څخه دا دسامان په شان دي. يعني هغـه د مُتَعَيّن كولـو څخـه مُتَعَيّن

ګرزي. ددغه اُصُول پر بُنيَاد باندي چي په رَائِجُ پيسو سره څوک يو شئ اَخلِي هغه جائز دئ. که څَه هم هغه پيسي ئې نه وي مُتَعَيّنِ کړي بَس دهغه د قِيمَت برابر هَسِي يو رنګه پيسي ورکړي نو کِفَايَت کوي .
لُغَت : اَلفُلُوسُ النّافِقَةِ : مُرَوّجَه پيسي. اَلنّافِقَةِ : کوم چي رِوَاج ئې وي .
[۹۹۲](۲۱) او که سِکّې چي نه وي رَائِج نو بيع جواز نه لري تر هغو چي دا مُتَعَيّن کړي .
وجه : په داسي سِکّو ئې مَبِيع رَانِيوَه چي هغه سِکّې مُرَوّجِ نه دي نو دا سِکّې خو د سَامَان په درجه کي دي ځکه تر څو چي دا سِکّې ئې معلومي کړي نه وي بَيع کول جواز نه لري. لکه څه رنګه چي سامان ئې معلوم کړئ نه وي بَيع جواز نه لري .
لُغَت : کَاسِدَةٌ : هغه سِکّې چي مُرَوّجِ نه وي .

[۹۹۳](۲۲) وَ اِذَا بَاعَ بِالفُلُوسِ النّافِقَةِ ثُمّ کُسِدَت قَبلَ القَبضِ بَطَلَ البَيعُ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي [۹۹۴](۲۳) وَ مَن اِشتَرْي شَيئًا بِنِصفِ دِرهَمٍ مِن فُلُوسٍ جَازَ البَيعُ وَ عَلَيهِ مَا يُبَاعُ بِنِصفِ دِرهَمٍ مِن فُلُوسٍ .

---

[۹۹۳](۲۲) که په مُرَوّجُ پيسو سره خرڅ کړئ بيا ئې رِوَاج ختم سو پر مَبِيع باندي د قبضې کولو څخه مخکي نو بَيع باطِل ده د امام ابوحنيفه په نبز .
تشريح : په مُرَوّجُ پيسو سره يو شئ رَانِيوَئ. پر مَبِيع ئې لا تر اُوس قبضه نه وه کړې چي دهغه سِکّو رِوَاج ختم سونو د امام ابوحنيفه په نبز بيع باطل ده .
وجه : مخکي دا مسئله تېره سوې ده چي د پيسو رِوَاج ختم سي نو هغه د عام سامان په شان ګرزي او مَبِيع ببِله ثَمَن پاته کيږي نو ځکه بَيعَ به فاسد سي .
فائده : د صاحبينو په نبز بَيع صحيح کيږي او د فُلُوسُ قيمت به ورکوي مُشتَرِي به مَبِيع ځيني اَخلِي. د امام ابويوسف په نبز د بيع د ورځي قيمت او د امامِ محمد په نبز د هغه آخري ورځي قيمت په کومه ورځ چي د فُلُوسِ نَافِقَه رِوَاج ختم سوئ وُ. تفصيل او قاعده ئې په مسئله نمبر ۱۹ کي تېر سوئ دئ .
[۹۹۴](۲۳) يو چا يو شئ رَانِيوَئ د نِيم دِرهَم فُلُوسُ د پيسو په بَدَل کي نو بَيعَ جائز ده او پر مُشتَرِي باندی دومره پيسي لازم دي چي په نِيم دِرهَم باندي خرڅيږي .
تشريح : يو چا داسي وويل چي په نِيم دِرهَم چي څومره پيسي کيږي مثلاً دا کپړه په هغونه پيسو اَخلَم نو دا بَيعَ جائز ده. او په نِيم دِرهَم چي څومره پيسې په هغه مُلک کي کيږي هغونه پيسي پر مُشتَرِي باندي لازم دي .

وجه : په نِیم دِرهَم څومره پیسې کیږي دا جهالت لَږ دئ لېکن په دې مُلک کې په نِیم دِرهَم باندې څومره پیسې ملاوېږي د تُجّارَان په مینځ کې دا مشهور اومعروف وي

[۹۹۵](۲۴) وَ مَن اَعطْي صَیرَفِیّاً دِرهَمًا فَقَالَ اَعطِنِي بِنِصفِهِ فُلُوسًا وَ بِنِصفِهِ نِصفًا اِلاّ حَبّةً فَسَدَ البَیعُ فِي الجَمِیع عِندَ اَبِي حَنِیفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ تَعَالْي [۹۹۶](۲۵) وَ قَالاَ جَازَ البَیعُ فِي الفُلُوسِ وَ بَطَلَ البَیعُ فِیمَا بَقِيَ .

نوداجِهَالَت خوبه دَفع اورَفع سي.اوثَمَن مجهول نه پاتیږي.نوځکه بیع جائزده.

فائده : د امامِ زُفَر په نېز دا جَهَالَت هم جَهَالَت دئ ځکه دده په نېز بَیع باطل ده .

لُغَت : فُلُوس : پیسې. دسرو او سُپِینُو څخه علاوه بَلَه سِکّه .

[۹۹۵](۲۴) یو چا و صَرّاف ته یَو دِرهَم ورکړي او وویل چې د نِیم دِرهَم پیسې رَاکَه او د نِیم دِرهَم دِرهَم رَاکَه مګر یوه رَتّئ کَمَه رَاګه نو په ټولو کې بیع فاسد ده د امام ابوحنیفه په نېز .

تشریح : یوه سړي د دِرهَم و صَرّاف ته یو دِرهَم ورکړئ اوداسې ورته وویل چې د نِیم دِرهَم چې څومره پیسې جوړیږي هغه رَاتَه رَاګه. او دا نور د دِرهَم رَاګه مګر په هغه کې یَوَه رَتّئ سُپِین زَر کَم رَاګه نو ټوله بیع فاسده ده .

وجه : دَلتَه د نِیم دِرهَم مقابله د نِیم دِرهَم سره ده او په هغه کې یَوَه رَتّئ کَمَه ده نو دا رِبَوَا سوه نو ځکه د نِیم دِرهَم بیع فاسد سوه. او دَلتَه خو فَسَاد قَوِي دئ او دشروع څخه دئ نو ځکه دا سِرَایَت کوي وهغه بیع ته کوم چې د دِرهَم بَیع د فُلُوسُ سره وه هغه بیع به هم فَاسِد کړي. ځکه چې بیع خو ټوله یَوَه ده. چې یَوَه صَفقَه ورته وائي .

[۹۹۶](۲۵) او صاحبین فرمائي چې په پَیسُو کې بیع جائز ده او په باقي کې بیع باطل ده .

تشریح : صاحبین فرمائي چې په دې صورت کې په حقیقت کې دَنَنَه دُوې بیعِ دي په یوه بیع کې د نِیم دِرهَم مقابله د پَیسُو سره ده او په دُوَمَه بیع کې د نِیم دِرهَم مُقَابَلَه د دِرهَم سره ده مګر په یَوَه رَتّئ کَم. نو ځکه هغه نِیم دِرهَم چې مقابله ئې د پَیسُو سره ده د هغه بَیع

[۹۹۷](۲۶) وَ لَو قَالَ اَعطِنِي نِصفَ دِرهَمٍ فُلُوسًا وَ نِصفًا اِلاّ حَبّةً جَازَ البَیعُ [۹۹۸](۲۷) وَ لَو قَالَ اَعطِنِي دِرهَمًا صَغِیرًا وَزنُهُ نِصفُ دِرهَمٍ اِلاّ حَبّةً وَ البَاقِي فُلُوسًا جَازَ البَیعُ وَ کَانَ النِّصفُ اِلاّ حَبّةً بِاَزَآءِ الدِّرهَمِ الصّغِیرِ وَ البَاقِي بِاَزَآءِ الفُلُوسِ .

جائز ده. ځکه چې په هغه کې هیڅ ډَوَل رِبَوَا نسته. او هغه نِیم دِرهَم چې مقابله ئې د دِرهَم سره ده لېکن په یَوَه رَتئ کَم هغه بَیع فاسد ده. ځکه چې په هغه کې و دواړو

خُوَاوُ ته سُپِین زَر دي او د نِیم دِرهَم په مقابله کي پوره نِیم دِرهَم نَه دئ بلکه يَوَه رَتّـئ گَم دئ نو ځکه دا سُود سو لِهٰذَا دا دُوَمَه بيـع فاسـد ده. او د يـوې بيـع فسـاد پـه بَلَـه بيـع کـي سِرَايَت نه کوي او حَتّٰي الاِمَان به د بيع د جواز د صورت اِختِيَاروَلُو کوشش کيږي .

پام لرنه : دا ټولي مسئلې پر مخته تېر سوي اُصُول باندي متفرع دي .

[۹۹۷](۲۶) او که وويل چي مَاتَه د نِيم دِرهَم فُلُوس رَاکَه او نِيمَئ مګر يَوَه رَتّـئ گَم دِرهَم رَاکَه نو د ټولو په نبز بيع جائز ده .

تشريح : دَلتَه په حقيقت کي دَنَنَه دوې بيع نه دي بلکه يوه بيع ده. او صورت ئې داسي دئ چي يوه خُوَاته يو دِرهَم دئ بَلَه خواته پَيسي دي او د نِيم دِرهَم څخه يَوَه رَتّـئ کَمَـه ده. نو رَتّئ کم نِيم دِرهَم به د رَتّئ کم نِيم دِرهَم پـه مقابلـه کـي سـي. او پاتـه يَـوَه رَتّـئ زِيَاته او نِيم دِرهَم په مقابله کي به پيسې راسي. نو دا سُود نـه سـو. ځکـه ټولـه بيـع بـه جواز پيدا کړي .

لُغَت : حَبّةٌ : دَانَه. رَتّئ. کِشنَئ پيسَه .

[۹۹۸](۲۷) او که وويل مَاتَه کِشنَئ دِرهَم رَاکَـه چـي وَزَن ئې د نِـيم دِرهَـم څخـه يَـوَه رَتّئ گَم وي او د دا نُور د پيسې رَاکَه نوبيع جائز ده او د نِيم دِرهَم څخه رَتّئ گَم بـه د کِشنِي دِرهَم په مقابله کي سي او دا نور به د پيسو په مقابله کي سي .

تشريح : کِشـنَئ دِرهَـم چـي وَزَن ئـې يَـوَه رَتّـئ گَـم نِـيم دِرهَـم دئ. نـو اُوس يـو چـا و صَرّاف ته يَو دِرهَم ورکړي او ورته وويل چي ددې دِرهَم څخه يَوَه رَتّئ کَم نِيم دِرهَم رَاکَه (يعني کِشنَئ دِرهَم رَاکَه) او يَوَه رَتّئ زِيَات نِيمَئ دِرهَم چي پاته سو دهغه په بَدلَه کي پيسې رَاکَه نو بيع جائز ده .

وجه : رَتّئ کم نِيم دِرهَم به د رَتّئ کم نِيم دِرهَم په مقابله کـي سـي. او رَتّـئ زِيَـاتَ نِـيم دِرهَم به د پيسو په مقابله کي سي. نو د خِلاَفِ جِنس په وجه دا سُـود نـه دئ. نـو ځکـه ټوله بيع جائز ده .

اُصُول : په يوه بيع کي دوه قسم شيان دي. يو قسم شـئ خـو د خپـل جِـنس سـره برابـر برابر دئ او دوم قسم شئ د خلافِ جنس پـه وجـه د کَمبُـوت او زِيَـاتُوب سـره سـو او هغه سود هم نه دئ. نو ځکه بيع جائز سوه. لوړي تيري سـوي درې سـره مسـئلې پـر دغه اُصُول باندي مُتَفَرّع دي. او د اُصُول لپاره هغه حديث دئ ,, مَثَلاً بِمَثَلٍ ,, .

لُغَت : بِاِزَآ ءٍ : په مقابله کي. په بَدلَه کي .

..... كِتَابُ الرّهنِ .....

[۹۹۹](۱) اَلرّهنُ يَنعَقِدُ بِالاِيجَابِ وَ القَبُولِ وَ يُتِمّ بِالقَبضِ فَاِذَا قَبِضَ المُرتَهِنُ اَلرّهنَ مُحَوّزًا مُفَرّغًا مُمَيّزًا تَمّ العَقدُ .

..... كِتَابُ الرّهنِ .....

ضروري پام لرنه : يو څوک ديو چا څخه څو پُونډَ (يا روپۍ) قرض واخلي د اِعتِمَاد او وَثِيقي لپاره د چاڅخه چې قرض اخستئ دئ دهغه سره يو شئ ګَرَوْ کښيږدي نو دې مُعَامَلَه ته رِهن وائي. په دي کي وهغه غَرِيب ته چاچي خپل مال پر ګَرَوْ يښئ هغه ته رَاهِن وائي. او دچاسره چې ګَرَوْ يښئ دئ هغه ته مُرتَهِن وائي. او کوم شئ چې په ګَرَوْ کي يښدئ دئ هغه ته شئِ مَرهُون وائي. د ګَرَوْ ايښولو اِثبات ددې آيت څخه دئ وَ اِن كُنتُم عَلْي سَفَرٍ وَ لَم تَجِدُوا كَاتِبًافَرِهَانٌ مَقبُوضَةٌ(الف) (آيت ۲۸۳سورة البقرة۲) په دې آيت کي د ګَرَوْ د اِيښولو ذکردئ. او په حديث کي دئ عَن عَائِشَةَ اَنّ النّبِيّ ﷺاِشتَرْي مِن يَهُودِيٍّ طَعَامًا اِلْي اَجَلٍ وَرَهَنَهُ دِرعَهُ (ب) (بخاري شريف.باب من رهن درعه ص ۳۴۱نمبر۲۵۰۹\مسلم شريف.باب الرهن وجوازه في الحضركالسفرص۳۱نمبر ۱۶۰۳) ددې حديث څخه ثابت سو چي ګَرَوْ اِيښول جائز دئ. او حضورﷺ ګَرَوْ ايښئ دئ.

[۹۹۹](۱) رِهن (ګَرَوْ) مُنعَقَد کيږي په اِيجَاب او قبول سره او پوره کيږي د قبضې څخه. نو چي مُرتَهِن پر رِهن باندي قبضه وکړه به داسي حال کي چي دئ مُحَوّز وی.مُفَرّغ وي او مُمَيّز وي نو په هغه کي عَقد پوره سو .

تشريح : رِهن په اِيجَاب او قبول سره مُنعَقَد کيږي. او پر هغه باندي د مُرتَهِن د قبضې راتلو څخه تاميږي .

وجه : (۱) رِهن (ګَرَوْ) يوه مُعَامَلَه ده او په بيوعات کي مختته تېرسوي دي چي مُعَامَلَه د يوه د اِيجَاب او د بَل د قبول څخه مُنعَقَد کيږي. لِهْذَا رِهن هم د يوه د ايجاب او د بل د قبول څخه مُنعَقَد کيږي. لېکن د قرض په بَدلَه کي رِهن (ګَرَوْ) اِيښول ضروري نه دئ. ډېر وختونه خلګ قرض ورکړي او د هغه په بَدلَه کي رِهن نَه

حاشيه : (الف) که تاسو په سفر کي وَاست او يَو ليکونکئ نَه وموندئ نو قبض کړئ رِهن وَاخلَئ (ب) حضرت عائشه فرمائي چي حضور د يوه يَهُودِي څخه تر يوې مُدې پوري خُوَرَاکِي شئ رَانِيوَئ او دهغه په وجه زَغرَه په رِهن (ګَرَوْ) کښېښوه .

ځيني اِړدِي. نو ځکه رِهن (ګَرَوْ) اِيښول تَبَرُع او اِحسَان دئ. نو ځکه تر څو چي مُرتَهِن پر هغه باندي قبضه نَه وي کړې رِهن نَه مُکَمّل کيږي. دايِجَاب او قبول وروسته هم که رَاهِن د رِهن اِيښولو څخه اِنکَار وکړي نو اِنکَار کولائي سي (۲) په آيت کي ودې ته اِشَاره سوې ده چي د قبضه کولو څخه رِهن مُکَمّل کيږي. په آيت کي دئ فَرِهَانٌ مَقبُوضَةٌ (آيت ۲۸۳سورة البقرة ۲) په دي کي د مَقبُوضَةٌ څخه دا اِشَارَه معلوميږي چي دقبضې کولو وروسته رِهن مُکَمّل کيږي .

پام لرنه : د مُرتَهِن د قبضې کولو لپاره رِهن بايد د درو شيانو څخه خَالِي وي .

(۱) مُحَوّز به وي يعني د رِهن شئ بايد د بَل چا په شِرکَت کي نَه وي. دبَل د شرکت څخه به تقسيم سوئ اوجلاسوئ وي. مثلاً د دو کسانو تر مينځ يو مَکَان مُشتَرَک وي نو دواړو شريکانو به دا مکان تقسيم کړئ وي ځله جلا کړئ به وي. اُوس چي د رَاهِن کومه حِصّه ده پر هغه به مُرتَهِن قبضه کوي (۲) مُفَرّغ به وي يعني د رَاهِن د مال او سامان څخه به شئ مَرهُون فارغ او خالي وي. مثلاً مکان په ګَرَوْ کي اِړدي نو په کور کي دي بايد د مَالِک سامان نَه وي چي د رَاهِن د تَګ رَاتَګ تعلق نَه سي پاته. چي پر داسي مکان باندي مُرتَهِن قبضه وکړي نو بيا قبضه او رِهن مُکَمّل ګڼل کيږي (۳) او دريم شرط دادئ چي شَئِ مَرهُون به مُمَيّز وي يعني په تَخلِقِي توګه د رَاهِن د سامان سره مُتّصِل نَه وي. لکه دا چي پر درخته باندي لګېدلې مېوه په رِهن (ګَرَوْ)کي کښيږدي نو پر دې باندي د مُرتَهِن قبضه نه سي مُکَمّل کېدائي. ځکه چي مېوه په قُدرَتِي او تَخلِقِي توګه د رَاهِن د درختي سره مُبنَتې ده او دهغه څخه مُتَمَيّز نه ده. نو ځکه مېوه دي د درختي څخه جلا کړي او مُتَمَيّز دې کړي د

[۱۰۰۰](۲) وَ مَا لَم يَقبَضهُ فَالرّاهِنُ بِالخِيَارِ اِن شَآ ءَ سَلّمَهُ اِلَيهِ وَ اِن شَآ ءَ رَجَعَ عَنِ الرّهنِ [۱۰۰۱](۳) فَاِذَا سَلّمَهُ اِلَيهِ فَقَبِضَهُ دَخَلَ فِي ضَمَانِهِ .

مُرتَهِن په حواله دې کي نو هغه وخت به د رِهن قبضه مُکَمّل ه ګڼل کيږي. د مُکَمّلي قبضې لپاره د مُحَوّز دليل دا اَثَر دئ کَتَبَ عُمَرُ بِنِ عَبدُالعَزِيزُ اَنّهُ لاَ يَجُوزُ مِنَ النّحلِ اِلاّ مَا عَزَلَ وَ اَخرَدَ وَ اَعلَمَ(مصنف عبدالرزاق.باب النحل ج۹ص۱۰۴نمبر۱۶۵۱۴) په هِبَه کي د مُکَمّلي قبضې لپاره د مُحَوّز او مُفَرّغ ضرورت دئ .

اُصُول : د مُکَمّلي قبضې لپاره شَئِ مَرهُون بايد د رَاهِن د مال څخه بالکل جلا وي .

[۱۰۰۰](۲) او تر څو چي مُرتَهِن پرمَرهُون باندي قبضه ونَه کړي نورَاهِن ته اِختِيَار دئ که څُوَښَه سي هغه دي حَوَالَه کړي اوکه څُوَښَه سي د رِهن څخه دي رُجُوع وکي .

تشريح : مخته تېر سو چي رِهن اِيښول تَبَرّع دئ ځکه خو د قبضې څخه مخکي رِهن نه مُکَمّل کېدئ. نو ځکه د قبضې څخه مخکي د رِهن اِيښونکئ يعني رَاهِن د رِهن اِيښولو څخه واوړي او رُجُوع وکړي نو رُجُوع کولائي سي .

لُغَت : رَاهِن : رِهن اِيښونکئ .

[۱۰۰۱](۳) بيا چې مُرتَهِن ته سُپُرد کړئ او هغه پر دې قبضه وکړه نو هغه دده په ضَمَان کي داخل سو .

تشريح : رِهن اِيښونکئ شَئِ مَرهُون د مُرتَهِن په حواله کئ او مُرتَهِن پر هغه باندي قبضه وکړه نو دا اُوس د مُرتَهِن په ضَمَان کي داخل سو. اُوس که چيري هلاک سو نو ددې پيسې به د مُرتَهِن د قرض څخه کاټيږي .

وجه : (۱) په حديث کي دئ چي که شئِ مَرهُون هلاک سي نو د مُرتَهِن د مال څخه به اَخستَل کيږي سَمِعتُ عَطَآ ءَ يُحَدّثُ اَنّ رَجُلاً رَهَنَ فَرَسًا فَنَفَقَ فِي يَدِهِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِﷺ لِلمُرتَهِنِ ذَهَبَ حَقّهُ (الف) (سنن للبيهقي.باب من قال الرهن مضمون ج۶ص۶۸نمبر۱۱۲۲۵) په دې مُرسَل حديث کي دئ چي شَئِ مَرهُون هلاک سي نو د مُرتَهِن مال ولاړئ (۲) په يو بَل حديث کي دئ عَن اَنَسٍ عَنِ النّبِيِّﷺ قَالَ اَلرّهنُ بِمَا فِيهِ (ب) (دارقطني،کتاب البيوع ج۳ص۲۸نمبر ۲۸۹۴\سنن للبيهقي،باب من قال الرهن مضمون ج۶ص۶۸نمبر۱۱۲۲۳) په دې حديث کي دئ چي د کوم شِي لپاره چي رِهن ايښئ وي دهغه شِي لپاره به رِهن ځِي. يعني که چيري شَئِ مَرهُون ضائِع سي نو په قرض کي به هغه کاټيږي. ددې حديث څخه دا هم معلوم سوچي پر شَئءِ مَرهُون باندي قبضه وسي نو بيا د مُرتَهِن په قبضه کي داخليږي .

فائده : دامامِ شافعي په نېز شَئِ مَرهُون د مُرتَهِن به لاس کي د اَمَانَت په توګه دئ. که د مُرتَهِن د زِيَاتَوب بغيره په هلاکت ورسېدئ نو د مُرتَهِن د قرض څخه به هيڅ شَئ نه کاټيږي. دا د رَاهِن مال هلاک سو .

وجه : دده دليل دا حديث دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺ لاَ يُغلَقُ الرّهنُ لَهُ غُنمُهُ وَ عَلَيهِ غُرمُهُ (ج) (دارقطني،کتاب البيوع ج۳ص۲۹نمبر۲۸۹۶\سنن للبيهقي،باب الرهن غيرمضمون ج۶ص۶۶نمبر۱۱۲۱۹) په دې حديث کي دئ چي د رِهن اِيښولو په وجه د رَاهِن حق نه ختميږي. و رَاهِن ته به دهغه فائده هم ملاؤيږي.او که په شَئءِ مَرهُون کي کوم نُقصَان راسي نو هغه نُقصَان هم د رَاهِن نُقصَان دئ. ددې څخه دا معلوم سو چي که هلاک سي نو پر مُرتَهِن باندې ضَمَان نَه راځي .

حاشيه : (الف) حضرت عَطَآء بيان کوي چي يوه سړي آس په رِهن کي کښېښوئ، نو د مُرتَهِن په لاَس کي هلاک سو نو حضور د مُرتَهِن لپاره وويل چي دده حَق ختم سُو (ب) حضور وفرمائل چي شَئِ مَرهُون د هغه

په بَدلَه کي دئ چي د چَا لپاره اِیښُوَل سوئ وي (ج) حضور وفرمائل د رِهن اِیښُوَلُو ښخه د رَاهِن حَق نه بَندِیږي، و رَاهِن ته به فائده هم رَسیږي او پر ده باندي د شَئِ مَرهُون خرچَه هم لازمیږي .

[۱۰۰۲](۴) وَ لاَ یَصِحّ الرّهنُ اِلاّ بِدَینٍ مَضمُونٍ [۱۰۰۳](۵) وَ هُوَ مَضمُونٌ بِالاَقَلِّ مِن قِیمَتِهِ وَ مِنَ الدّینِ فَاِذَا هَلَکَ الرّهنُ فِي یَدِ المُرتَهِنِ وَ قِیمَتُهُ وَالدّینُ سَوَ آ ءٌ صَارَ المُرتَهِنُ مُستَوفِیًا لِدَینِهِ حُکمًا .

[۱۰۰۲](۴) رِهن نه صحیح کیږي مګر د مَضمُون دَین په وجه .

تشریح : هغه دَین چي پر اِنسان باندي دهغه ادآئیګِي لازم وي چي دهغه په وجه رَهن کښیږدي نو صحیح دئ. او کوم دَین چي ادآئیګي ئې لازم نه وي بلکه د تَبَرُع په توګه پر خپل ځان باندي لازم کړئ وي د هغه دَین په بَدلَه کي رَهن (ګَرَوْ) اِیښوَل جواز نه لري. مثلاً مُکاتب پر خپل ځان باندي مَالِ کِتَابَت لازم کړي لېکن د هغه اداَء کول پر ده باندي لازم نَه دئ. چي هر وخت عاجزي ښکاره کي او مَالِ کِتَابَت سَاقِط کړي او دوباره ځان غُلاَم (مریئ) جوړول وغُوَاړِي نو کولائي سي. نو ځکه د مَالِ کِتَابَت په وجه مُکَاتَب یو شئ په رِهن کي کښیږي دي نو دا رِهن نه صحیح کیږي. نو ځکه مُصنف وفرمائل چي د دَینِ وَاجِب په وجه رِهن (ګَرَوْ) صحیح دئ .

وجه : رِهن خو د وَثِیقيِ او اِعتِمَاد شئ دئ. چي دهغه په وجه و قرض ورکونکي ته دا یقین وي چي زوما قرض وماته ضرور ملاؤیږي. او که قرض وَاپَس نه کړئ نو شَئِ مَرهُون به خرڅ کړم خپل قرض به وُصُول کړم. لېکن که قرض ورکړئ نَه وي بلکه رَاهِن د تَبَرُع په توګه پر خپل ځان باندي قرض لازم کړئ وي نو بیا وَثِیقَه د څَه لپاره ورکوي ؟ او رِهن اِیښُوَل به څَه رنګه صحیح کیږي ؟

[۱۰۰۳](۵) شَئِ مَرهُون به مَضمُون وي دهغه د قِیمَت او دَین ښخه په ګم باندي. نو چي شَئِ مَرهُون د مُرتَهِن په لاس کي هلاک سي او دهغه قیمت او قرض سره برابر وي نوحُکمًا مُرتَهِن خپل قرض وصول کونکئ سو .

تشریح: دشَئِ مَرهُون ضمان پرمُرتَهِن باندي لازم دئ لېکن چي څومره دده دَین دئ

[۱۰۰۴](۶) وَ اِن کَانَت قِیمَةُ الرّهنِ اَکثَرَ مِنَ الدّینِ فَالفَضلُ اَمَانَةٌ.

هغونه ضَمَان لازمیږي دهغه ښخه زیات به دده پ ه لاَس کي اَمَانَت وي. مثلاً پر مُرتَهِن باندي سَل پُونډ (یا رُوپِئ) قرض وې او د یَونِیم سَل روپِئ شئ ئې په رِهن (ګَرَوْ) کي کښېښوئ نو د شَئِ مَرهُون د هلاکت په صورت کي پر مُرتَهِن باندي سَل پُونډَه (یا روپِئ) ضمان لازمیږي او د ده به دغونه پُونډونه (یا روپِئ) ختم سی. او دا نور پِنځوس پُونډ (یا روپِئ) چي کوم قرض وې هغه د مُرتَهِن په لاَس کي د اَمَانَت په توګه دي. او د امانت قاعده داده چي بېله زِیاتُوبَ هلاک سي نو د مَال ومالک ته د بېرته ورکولو ضرورت نسته. دا د صَاحِبِ مَال مال دئ چي هلاک سو. ددې اُصُول مُطابق د مسئلې تشریح داده چي مثلاً د مُرتَهِن سَل پُونډَ (یا روپِئ) پر

رَاهِن باندي قرض وي. او رَاهِن د سلُو پُونډ شَئ په رِهن کي کښېښنوئ. وروسته هغه شئ د مُرتَهِن په لاَس کي هلاک سو نو د مُرتَهِن سَل پونډ (يا روپۍ) ولاړې او ګواکه مُرتَهِن خپل سَل پونډ (يا سَل) روپۍ وصول کړې .

وجه : مُرتَهِن د خپل قرض په اندازه د شَئِ مَرهُون ضامن وُ. او شَئِ مَرهُون هلاک سو چي دده د قرض مُطَابِق وُ نو ګواکه ده خپل قرض د رَاهِن څخه وصول کړئ. نو اُوس د رَاهِن څخه هيڅ شَئ نه سي وصولولائي .

[١٠٠۴](۶) او که د شَئِ مَرهُون قيمت د قرض څخه زِيَات وي نو زِيَات اَمَانَت دئ .

تشريح : مثلاً دَين سَل پُونډ (يا روپۍ) او شَئِ مَرهُون په يَونِيم سَل پُونډ(ياروپۍ) دئ نو مُرتَهِن د سلُو پُونډُ ذِمّه داره دئ. او دا نور پنځوس پُونډ د مُرتَهِن په لاَس کي د اَمَانَت په توګه دي. يعني که شَئِ مَرهُون هلاک سي نو د مُرتَهِن سَل پُونډبه سَاقِط سي. او دا نور پنځوس پُونډ هم و رَاهِن ته د ورکولو ضرورته نسته.ځکه چي هغه اَمَانَت وُ. او اَمَانَت چي ببله څَه زِيَاتُوب هلاک سي نو دهغه اداۤء کول لازم نَه دئ .

[١٠٠۵](٧) وَ اِن كَانَت قِيمَةُ الرّهنِ اَقَلّ مِن ذَالِكَ سَقَطَ مِنَ الدّينِ بِقَدرِهَا وَ رَجَعَ المُرتَهِنُ بِالفَضلِ .

وجه : په اَثَر کي ددې ثبوت سته اَنّ عُمَرَبنِ الخَطّابِ قَالَ فِي الرّجُلِ يَرتَهِنُ فَيُضِيعُ قَالَ اِن كَانَ اَقَلّ مِمّا فِيهِ رُدّ عَلَيهِ تَمَامُ حَقّهِ وَ اِن كَانَ اَكثَرَ فَهُوَ اَمِينٌ (الف) (دارقطني.كتاب البيوع ج٣ص٢٨نمبر٢٨٩٠\سنن للبيهقي.باب من قال الرهن مضمون ج۶ص٧١نمبر١١٢٢٨) په دې اَثَر کي دئ چي که د شَئِ مَرهُون قيمت د دَين څخه کَم وُ او هلاک سو نو چي کوم زِيَات پُونډونَه پاته سو هغه به مُرتَهِن د رَاهِن څخه وصولوي. او که د شَئِ مَرهُون قيمت د دَين څخه زيات وُ نو هغه زِيَات قيمت او فَضل د مُرتَهِن په لاَس کي د اَمَانَت په توګه دئ .

اُصُول : مُرتَهِن دهغونه ضَامِن دئ څونه چي دهغه دَين دئ. دا نور شَئِ مَرهُون دده په لاَس کي د اَمَانَت په توګه دئ .

[١٠٠۵](٧) او که د رِهن قيمت د دَين څخه کَم وُ نو د دَين څخه به دهغه په اندازه ساقط سي او زِيَاتُوب به مُرتَهِن وصول کړي .

تشريح : مثلاً سَل پونډ دَين وُ او رَاهِن د اَتيَا پُونډ رِهن کښېښنوئ او هغه هلاک سو نو ګواکه مُرتَهِن اَتيَا پُونډ وصول کړل. اُوس چي کوم شَل پُونډ پاته دي هغه به د رَاهِن څخه وصولوي .

وجه : (١) اَثَر مخته تير سو اَنّ عُمَرَبنِ الخَطّابِ قَالَ فِي الرّجُلِ يَرتَهِنُ فَيُضِيعُ قَالَ اِن كَانَ اَقَلّ مِمّا فِيهِ رُدّ عَلَيهِ تَمَامُ حَقّهِ وَ اِن كَانَ اَكثَرَ فَهُوَ اَمِينٌ (ب) (دارقطني.كتاب البيوع ج٣ص٢٨نمبر٢٨٩٠\سنن للبيهقي.باب من قال الرهن مضمون ج۶ص٧١نمبر١١٢٢٨)

حاشيه : (الف) حضرت عُمَر په دې باب کي وفرمائل چي رِهن کښېږ دي، بيا ضَائِع سي،که دهغه قرض څخه ګم وي نو د مُرتَهِن پوره حق به ورکول کيږي او که دقرض څخه زِيَات وي نو هغه د زِيَات په حَق کي دئ اَمَانَت دَارَه دئ (ب) حضرت عُمَر په دې باب کي وفرمائل چي رِهن کښېږ دي، بيا ضَائِع سي،که دهغه قرض څخه ګم وي نو د مُرتَهِن پوره حق به ورکول کيږي .

[۱۰۰۶](۸) وَ لاَ يَجُوزُ رِهنُ المَشَاعِ [۱۰۰۷](۹) وَ لاَ رِهنُ ثَمَرَةٍ عَلْي رُؤُسِ النّخلِ دُونَ النّخلِ وَ لاَ زَرعٌ فِي الاَرضِ دُونَ الاَرضِ .

په دې اَثَر کي دئ چي که د رِهن قيمت ګم وُ نو چي کوم زِيَات قرض دئ هغه به مُرتَهِن ته وَاپَس کيږي يعني د رَاهِن څخه به وصولوي (۲) د مُرتَهِن حَق پاته دئ نو ځکه هغه به د رَاهِن څخه وصولوي. ځکه چي دده هغونه حق ساقط سو څونه چي هلاک سو. او دا پاته قرض خو ده نه دئ وصول کړئ لِهٰذَا دا نور قرض به د رَاهِن څخه وصولوي .

لُغَت : اَلفَضلُ : چي کوم زِيَات وي. چي باقي پاته سي .

[۱۰۰۶](۸) جواز نه لري مُشتَرَک شَئ په ګَرَوْ کي اِيښوَل .

تشريح : کوم شَئ چي د رَاهِن او بَل چَا تر مينځ مُشتَرَک وي تقسيم سوئ لا نَه وي هغه په ګَرَوْ کي اِيښول جواز نَه لري .

وجه : د آيت ,, فَرِهْنٌ مَقبُوضَةٌ ,, څخه معلوم سو چي پر شَئِ مَرهُون باندي به د مُرتَهِن قبضه وي او دا هغه وخت کېدلائي سي چي هغه مُشتَرَک نَه وي بلکه تقسيم سوئ وي خَالِص د رَاهِن مِلکِيّت ګرزېدلئ وي .

لُغَت : اَلمَشَاعُ : مُشتَرَک. غَيرِتقسيم شُدَه .

[۱۰۰۷](۹) جواز نَه لري مېوه په ګَرَوْ کي اِيښول پر درخته باندي بېله درختي او نَه کښتَئ په ګَرَوْ کي اِيښول په مځکي کي بېله مځکي .

تشريح : مېوه په درخته کي لګېدلې وي په داسي صورت کي مېوه په ګَرَوْ کي اِړدِي او درخته په ګَرَوْ کي نَه اَړدي نو دا جواز نَه لري .

وجه : مېوه په درخته پوري پيدائشي مُبنَتِې وي نو ځکه شَئِ مَرهُون د درختي څخه مُتَمَيّز نَه سو او جلا نَه سو نو د مُرتَهِن پوره قبضه نَه سی راتلائي او د آيت په رُونَا کي مخکي تېر سوي دي چي پر رِهن باندي بايد د مُرتَهِن پوره قبضه وي. نو ځکه

[۱۰۰۸](۱۰) وَ لاَ يَجُوزُ رِهنُ النّخلِ وَ الاَرضِ دُونَهُمَا .

چي مېوه پر درخته باندي موجود وي په ګَرَوْ کي کښېږدي نو دا ګَرَوْ نَه صحيح کيږي. دغه رنګه په مځکه کي کَښت لګېدلئ وي او صرف کَښت په ګَرَوْ کي کښېږدي مځکه په ګَرَوْ کي نَه اِږدي نو دا هم جواز نَه لري .

وجه : کَښت هم دغه رنګه د مځکي سره پيدائشي مُتّصِل وي نو ځکه دا هم مُتَمَيِّز نَه سو چي دهغه لکبله پره شَئِ مَرهُون باندي د مُرتَهِن پوره قبضه نَه سي راتلائـي. کوم چي د آيت په رُونَا کي ضروري وه .

لُغَت : زَرعٌ : کښِتَئ. کَښت .

[۱۰۰۸](۱۰) او جواز نَه لري درخته او مځکه په ګَرَوْ کي اِيښُوَل بېله د مېوې او کَښته .

تشريح : مېوه پر درخته باندي لګېدلي ده. په داسي صورت کي درخته په ګَرَوْ کي اِږدِي او مېوه په ګَرَوْ کي نَه اِږدِي نو دا جواز نَه لري. دغه رنګه په مځکي کي کَښت لګېدلئ دئ اومځکه په ګَرَوْ کي اِږدِي او کَښت په ګَرَوْ کي نَه اِږدِي نو دا هم جواز نَه لري .

وجه : دَلتَه هم درخته او مځکه د مېوې او کَښت سره پيدائشي مُتّصِل دي. د مېوې او کَښت څخه مُتَمَيِّز نَه دي. نو ځکه دا هم په رِهن کي اِيښُوَل جواز نَه لري .

اُصُول : چي شَئِ مَرهُون د بَل د مِلکِيّت څخه بالکليه جلا وي نو بيا هغه په ګَرَوْ کي اِيښُوَل جائز دئ او د مُرتَهِن پوره قبضه به ګڼل کيږي. ځکه چي په آيت کي دئ ,, فَرِهْنٌ مَقبُوضَةٌ ,, (آيت ۲۸۳سورة البقرة ۲)

فائده : د امامِ شافعي او امام ابويوسف په نيز مُشتَرَک شَئ په ګَرَوْ کي اِيښُوَلائي سي .

وجه : (۱) دُوئي فرمائي چي لکه څَه رنګه چي مُشتَرَک او مَشَاع شَئ خرڅولائي

[۱۰۰۹](۱۱) وَ لاَ يَصِحّ الرّهنُ بِالاَمَانَاتِ کَالوَدَائِعِ وَالعَوَارِي وَ المُضَارَبَاتِ وَ مَالِ الشِّرکَةِ .

سي دغه رنګه دا په ګَرَوْ کي هم اَيښُوَلائي سي (۲) د دوئي دليل دا اَثَر دئ قَالَ فِي کِتَابِ مُعَاذِبِنِ جَبَلٍ مَن اِرتَهَنَ اَرضًا فَهُوَ يُحسَبُ ثَمَرُهَا لِصَاحِبِ الرّهنِ (الف) (مصنف عبدالرزاق،باب مايحل للمرتهن من الرهن ج۸ص۲۴۵نمبر۱۵۰۷۲) په دې اَثَر کي دئ چي څوک مځکه په ګَرَوْ کي کښيږدي نو دهغې مېوه د رَاهِن ده ددې مطلب دادئ چي غَيرِمُتَمَيِّزَه مځکه هم په ګَرَوْ کي اِيښُوَلائي سي .

لُغَت : دُونَهُمَا : ددې څخه مراد مېوه او کښِتَئ ده .

[۱۰۰۹](۱۱) او نَه صحيح کيږي اَمَانَتُونَه په ګَرَوْ کي اِيښُوَل لکه د اَمَانَت شِيَان او په عَارِيَت غُوَښتَل سوي شِيَان او د مُضَارَبَت مالونَه او د شِرکَت مالونه .

تشريح : هغه مال چي د يوچا سره د امانت په توګه پروت وي هغه په ګَرَوْ کي اِيښُوَل جواز نه لري. مثلاً په امانت کي پروت شوئ دئ يائې د يو چا څخه په عَارِيَت او غُوَاست شَئ رَاوړَئ دئ يا د مُضَارَبَت مال دئ نو دا شِيَان په رِهن کي نَه سي اِيښُوَلائي .

وجه : (١) په رِهن کي هغه مالونه اِيښُوَل کيږي که چيري هغه د مُرتَهِن سره هلاک سي نو دهغه يو ضَمَان لازم سي. او د امانت مالونه داسي دي چي که بېله څَه زياتوب هلاک سي نو دهغه څَه ضَمَان نَه راځي. نو ځکه د اَمَانَت او رِهن موضوع ګاني ځله جلا جلا دي نو ځکه د اَمَانَت مالونه په رِهن کي نَه سي اِيښُوَلائي (٢) په رِهن کي هغه مال اِيښُوَلائي سي چي په خپله د رَاهِن وي او دغه مالونه خو د نورو دي چي د رَاهِن سره اَمَانَت پراته دي نو دئ دا په رِهن کي څَه رنګه اِږدِي ؟

حاشيه : (الف) د مُعَاذ بن جبل په خط کي دئ چي يوچا مځکه په ګَرَوْ کي کښېښوَه نو دهغې مېوه به د ګَرَوْ اِيښُوُنکِي ګټل کيږي .

[١٠١٠](١٢) وَ يَصِحّ الرّهنُ بِرَأسِ مَالِ المُسلَم فِيهِ وَ ثَمَنِ الصّرفِ وَ المُسلَم فِيهِ .

اُصُول : د نورو مالونه بېله اِجَازې په ګَرَوْ کي نَه سي اِيښُوَلائي .

لُغَت : اَلوَدَائِعُ : د ,, وَدِيعَةٌ ,, جمع ده د اَمَانَت مال. اَلعَوَارِي : د ,, عَارِيَةٌ ,, جمع ده د بَل څخه عَارِضِي غُوَښتَل سوئ شَئ. اَلمُضَارَبَاتُ : هغه مالونه چي د عَقدِمُضَارَبَت لپاره ئې اَخستَئ وي. مَالُ الشّرِكَةِ : د شِرکَت مال.په دي کي نِيمَئ د بَل مال وي يا دَرَيمَه څَلُورَمَه مثلاً دبَل وي دا نور پاته خپل مال وي. دا هم په رِهن کي نَه سي اِيښُوَلائي .

[١٠١٠](١٢) او صحيح دئ ګَرَوْ اِيښُوَل د بَيعِ سِلَم د رَأسُ المَال په بَدلَه کي. دصَرف د ثَمَن په بَدلَه کي. او د مُسلَم فِيهِ په بَدلَه کي .

تشريح : بَيعِ سِلَم ئې وکړه او مُشتَرِي و بائع ته ثَمَن يعني رَأسُ المَال ورکړئ او د رَأسُ المَال په بَدلَه کي بَائِع يو شَئ په ګَرَوْ کي و مُشتَرِي ته کښېښوئ نو دا رِهن صحيح دئ .

وجه : دسِلَم رَأسُ المَال مضمون وي نو ځکه د هغه په بَدلَه کي ګَرَوْ اَيښُوَل جائز دئ. دغه رنګه په بَيعِ صَرف کي چي کوم ثَمَن دي هغه مَضمُون دي نو ځکه که دهغه لپاره په رِهن کي يو شَئ کښيږدي نو جائز دئ که څَه هم په بَيعِ صَرف کي پر ثَمَن باندي په مجلس کي قبضه کول ضروري ده خو بيا هم که دهغه په بَدلَه کي رِهن کښيږ دي نو جائز دئ ځکه چي دا خو هم مَالِ مَضمُون دئ. په بَيعِ سِلَم کي چي کُومَه مَبِيع ده چي مُسلَم فِيه ورته وائي دهغه په بَدلَه کي که رِهن اِيښُوَل وَغُوَارِي نو اِيښُوَلائي سي. ځکه چي دا هم مَالِ مَضمُون دئ .

اُصُول : کوم مال چي مَالِ مَضمُون وي دهغه لپاره رِهن اِيښُوَل جائز دئ .

[١٠١١](١٣) فَاِن هَلَکَ فِي مَجلِسِ العَقدِ تَمّ الصّرفُ وَ السّلَمُ وَصَارَ المُرتَهِنُ مُستَوفِيًا لِحَقِّهِ حُکمًا [١٠١٢](١۴) وَ اِذَا اِتّفَقَا عَلْي وَضعِ الرّهنِ عَلْي يَدَي عَدلٍ جَازَ وَ لَيسَ لِلمُرتَهِنِ وَ لاَ لِلرّاهِنِ اَخذُهُ مِن يَدِهِ .

[١٠١١](١٣) بيا که چيري په مَجلِسِ عَقد کي شَئِ مَرهُون هلاک سي نو بَيعِ صَرف او بَيعِ سِلَم پوره سوې. او مُرتَهِن حُکمًا خپل حق وصول کونکئ سو .

تشريح : بَيعِ صَرف ئې وکړه او بَائِع مَبِيع ورکړه د ثَمَن په بَدلَه کي مُشتَرِي يو شَئ د بَائِع سره ګَرَو کښېښوئ. په دغه مَجلَس د عَقد کي د بائع څخه دا د ګَرَو شَئ هلاک سو نو ګواکه بائع ثَمَن وصول کړل. نو ځکه بَيعِ صَرف به مُکَمّله سي دغه رنګه په بَيعِ سِلَم کي رَبّ السّلَم (مُشتَرِي) و بائع ته ثَمَن ورکړل او بائع د هغه په بدله کي يو شئ د رَبّ السّلَم (مُشتَرِي) سره ګَرَو کښېښوئ. وروسته شَئِ مَرهُون د مُشتَرِي په لاَس کي هلاک سو نو ګواکه مُشتَرِي مَبِيع وصول کړه ا وبَيعِ سِلَم پوره سوه. مُشتَرِي دغه وُصُولِي حقيقةً نه ده کړې حُکمًا ده ګواکه خپل حق وصول کړئ .

وجه : مخته تير سو چي د مُرتَهِن په لاَس کي د شَئِ مَرهُون هلاکت د خپل قرض د وُصُولَئ مُتَرَادِف دئ .

لُغَت : مُستَوفِيًالِحَقِّهِ : خپل حَق وصولونکئ سو .

[١٠١٢](١۴) که رَاهِن او مُرتَهِن سره مُتّفِق سي د ىَوَه عَادِل سړي په لاَس کي د رِهن پر اِيښوَلُو نو جائز دئ. نَه د مُرتَهِن او نَه رَاهِن لپاره دا جائز دئ چي د دغه عَادِل د لاَس څخه واخلي .

تشريح : رَاهِن او مُرتَهِن پر دې خبره سره مُتّفِق سو چي شَئِ مَرهُون د يَوَه بَل عَادِل سړي په لاَس کي کښېږدي نو دا جائز دئ .

وجه : (١) ځکه چي دا دواړو حَق دئ او دُوئي په خپل حَق کي تصرف کولائي سي. لِهٰذَا د يوه بَل عَادِل او بنَه سړي په لاَس کي شَئِ مَرهُون اِيښوَلائي سي. په دې صورت کي به هغه عَادِل سړئ د رَاهِن لخوا دهغه د عَينِ مَال مُحافظ وي او د مُرتَهِن لخوا به دهغه د مَالِيّت مُحَافِظ وي (٢) په اَثَر کي ددې ثبوت سته عَن اَشعَثَ قَالَ کَانَ الحَکَمُ وَالشّعَبِيُ يَختَلِفَانِ فِي الرّهنِ يُوضَعُ عَلْي يَدِيّ عَدلٍ. قَالَ الحَکَمُ لَيسَ بِرَهنٍ وَ قَالَ الشّعَبِيُ هُوَ رَهنٌ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب الرهن اذا وضع علْي عدلٍ يکون قبضًا وکيف اِن هلک ج٨ص٢۴١نمبر١٥٠۴٩) په دې اَثَر کي دئ چي شَئِ مَرهُون د يو عَادِل په لاَس کي کښېږدي نو حضرت شعبي فرمائي چي دا هم رِهن دئ. ددې څخه دا معلوم سو چي د يو بَل دريم سړي په لاَس کي شَئِ مَرهُون اِيښوَل جائز دئ. چي د يو بَل سړي په لاَس کي کښېږدي نو د مُرتَهِن د اجازې بغيره نَه سي اخستلائي. ځکه چي هغه د مُرتَهِن د حَق په وجه د عَادِل په لاَس کي دئ. او

مُرتَهِن ئې ځکه نَه سي اخستلائي چي رَاهِن پر مُرتَهِن باندي اِعتِمَاد نَه لـري. پـه دغـه وجه خو د بَل دريم په لاَس كي اِيښَئ دئ. نو ځكه مُرتَهِن ئې هم د عَادِل څخه نَـه سـي اخستلائي. لېكن كه چيري رَاهِن ددې اِجَازه وركړي نو بيـائې مُـرتَهِن د هغـه عَـادِل د لاَس څخه اخستلائي سي. ددې دليل دا حديث دئ عَن عَمرِبنِ يَثرَبِي قَالَ شَهِدتُ رَسُولَ اللهِﷺ فِي حَجّةِ الوَدَاعِ بِمِنْي فَسَمِعتُهُ يَقُولُ لاَ يَحِلُ لِامرِءٍ مِن مَالِ اَخِيـهِ شَـئُ اِلاّ مَاطَابَـت بِهِ نَفسُهُ (ب) (دارقطني،كتاب البيوع ج٣ص٢٢نمبر٢٨٦٠) په دې حـديث كـي دئ چي د يوچا مَال دي دهغه د پـوره رَضَـامَندَئ بغيـره نَـه اَخلِـي. نـو ځكـه د رَاهِـن يـا د مُرتَهِن د اِجَازې بغيره دي د عَادِل د لاَسَه شَئِ مَرهُون نَه اَخلِي .

حاشيه : (الف) حضرت حَكَم او شَعَبِی دهغه رِهن په اړَه اختلاف كاوئ كوم چي د يَوَه عَـادِل پـه لاَس كـې اېښَـئ وئ. حضرت حَكَم وفرمائل هغه رِهن نَه دئ.او حضرت شَعَبِي فرمائل هغه رِهن دئ (ب) د حضور دغه وَينَا مَا اورېدلې ده چي د وُرُور د مال څخه هيڅ شَئ هم حلال نَه دئ مګر د هغه په رَضَامَندِي او خُوشحَالِي سره .

[١٠١٣](١٥) فَـاِن هَلَـكَ فِـي يَـدِهِ هَلَـكَ مِـن ضَـمَانِ المُـرتَهِنِ

[١٠١٤](١٦) وَ يَجُوزُ رَهنُ الدّرَاهِمِ وَ الدّنَانِيرِ وَ المَكِيلِ وَ المَوزُونِ

.

[١٠١٣](١٥) كه چيري شَئِ مَرهُون د عَادِل په لاَس كي هلاک سـي نـو د مُـرتَهِن پـه ضَمَان كي به هلاک سي .

وجه : شَئِ مَرهُون د مُرتَهِن په وجه د عَادِل لاَس ته تللئ دئ. او ګواكه دهغه مَالِيّت د مُرتَهِن سره ګَرَو دئ. نو ځكه كه د عَادِل په لاَس كي هلاک سو پر مُرتَهِن ئې ضَـمَان راځي. او دشَئِ مَرهُون قيمت به د قرض څخه كـاټيږي. پـه اَثَـر كـي راغلـي دي عَـنِ الحَسَـنِ قَـالَ اِذَا وَضَـعَهُ عَلْـي يَـدِ غَيـرِهِ فَهَلَـكَ فَهُـوَ بِمَـا فِيـهِ (الـف) (مصـنف عبـدالرزاق.باب الـرهن اذا وضـع علْـي يَـدَيّ عـادلٍ يكـون قبضًـاوكيف ان هلـک ج٨ص٢٤١نمبر١٥٠٤٨) په دې اَثَر كـي حضـرت حَسَـن فرمـائلي دي چـي كـه شَـئِ مَرهُون د يو عَادِل سرِي په لاَس كي هلاک سي نو د كوم مقصد لپـاره چې اِيښـئ دئ دهغه يعني د رِهن څخه به شمېرل كيږي. ددې څخه معلـوم سـو چـي د مُـرتَهِن د مـال څخه به هلاک ګڼل كيږي .

[١٠١٤](١٦) جائز دئ دَرَاهَم په ګَرَوْ كي اِيښُوَل. دِينَارونَه.ګَيِلي او وَزنِي شِيَان .

وجه : ددې شيانو په ګَرَوْ كي د اِيښُوَلُو څخه ومُرتَهِن ته اِعتِمَاد پيدا كيږي. كه نور څَه نَه وي نو دغه خو خرڅولائي سي يائې دځـان سـره كښـيږ. دي خپـل دَيـن وصـولولائـي سي. نو ځكه دا شيان په ګَرَوْ كـي اِيښُوَلائـي سي .

حاشيه : (الف) حضره حَسَن فرمائي چي يو چا د بَل په لاَس کي ګَرَوْ کښېښُوئ او هغه هلاک سو نو هغه چي په کوم رِهن کي وُ په هغه کي به شمېرل کيږي .

[۱۰۱۵](۱۷) فَاِن رَهَنَت بِجِنسِهَا وَ هَلَكَت هَلَكَت بِمِثلِهَا مِنَ الدّينِ وَ اِن اِختَلَفَا فِي الجُودَةِ وَ الصِّيَاغَةِ [۱۰۱۶](۱۸) وَ مَن كَانَ لَهُ دَينٌ عَلْي غَيرِهِ فَاَخَذَ مِنهُ مِثلَ دَينِهِ فَاَنفَقَهُ ثُمّ عَلِمَ اَنّهُ كَانَ زُيُوفًا فَلاَ شَئَ لَهُ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي وَ قَالَ اَبُويُوسُفَ وَ مُحَمّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالْي يُرَدّ مِثلَ الزُيُوفِ وَ يَرجِعُ مِثلَ الجِيَادِ .

[۱۰۱۵](۱۷) که د دَين د جنس شَئ په ګَرَوْ کي کښېښُوَئ او هلاک سو نو به هلاک سي د دَين د مِثل څخه که څَه هم مُختَلِف وي په ښَه وَالِي او جُوړَښت کي .

تشريح : مثلاً هغه ښَه قسمَ سَل دِرهَم دَين وُ دهغه په بَدلَه کې مَعمُولِي قسم سَل دِرهَم په ګَرَوْ کي کښېښُوَل. وروسته د رِهن سَل دِرهَم هلاک سو نودواړه يَوجِنس دي نو ګُواکه داسي سو لکه مُرتَهِن چي د خپل دَين سَل دِرهَمَ وصول کړي وي. که څَه هم د دَين سَل دِرهَم عُمدَه (يعني ښَه) وُ او د رِهن سَل دِرهَم مَعمُولِي وُ .

وجه : چي جنس يَو وي نو عُمدَه او مَعمُولِي څَه خاص اِعتِبَار نَه لري. ځکه د دواړو و برابرئ ته به کَتَل کيږي. و عُمدَه او مَعمُولِي ته به نَه کتل کيږي .

اُصُول : چي جنس يَو وي نوپه رِهن کي هم و ښَه او بَد (کمزوري) ته نَه کتل کيږي .

لُغَت : اَلجُودَةُ : عُمدَه. اَلصِّيَاغَةُ : جُوړَښت او نَقش و نګار .

[۱۰۱۶](۱۸) د يو چَا پر بَل چَاباندي دَين وُ نو دهغه څخه د دَين مِثل واخستئ او خرچ ئې کئ وروسته ورته معلوم سو چي هغه خو کُوټَه وې نو د امام ابوحنيفه په نېز دهغه لپاره هيڅ شَئ نسته. او صاحبين فرمائي چي د کُوټَه مِثل دي وَاپَس کړي او او د عُمدَه مِثل دي ځيني وُصُول کړي .

تشريح : سَل دِرهَم ئې پر يوچا باندي قرض وُ. قرض ورکونکي د مَقرُوض څخه سَل دِرهَم واخستل او هغه ئې خرچَه کړل وروسته معلوم سو چي هغه زُومَا دَرَاهِم عُمدَه وُ او دغه دَرَاهِم چي ما وصول کړل او خرچ مِي کړل هغه مَعمُولِي او کُوټَه وُنو د امام ابوحنيفه په نېز ده ګوا خپل حق پوره وصول کړئ. اُوس د مَقرُوض څخه نور هيڅ شَئ نَه سي اخستلائي .

وجه : سَل دِرهَم ئې قرض ورکړي وُ او د مقروض څخه سَل دِرهَم واخستل. د عَدَد او وَزَن په لحاظ دواړه سره برابر سو. او چي جنس يَو وي نو د عُمدَه او کَمزُورُو يعني کوټه هيڅ فرق او اِعتِبَار نسته. نو ګواکه داسي به بولو چي قرض ورکونکي

خپل حق پوره وصول کړئ. او دِرهَم خو ده خرچ کړي دي نو اُوس خو هغه هم نَه سي وَاپَس کولائي .

اُصُول : دلته هم هغه اُصُول دئ چي جِنس يَو وي نو د عُمدَه او بېکاره اِعتِبَار نَه کيږي. ددې لپاره حديث مخکي تېرسوئ دئ وَاللهِ يَا رَسُولَ اللهِ اِنّا لَنَأخُذُ الصّاعَ مِن هٰذَا بِالصّاعَينِ وَ الصّاعَينِ بِالثّلاَثِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِﷺ لاَ تَفعَل بِعِ الجَمعَ بِالدّرَاهِمَ ثُمّ اِبتَع بِالدّرَاهِمَ جَنِيبًا (بخاري شريف.باب اذا اراد بيع تمرٍبتمرٍخيرمِنهُ ص ٢٩٣نمبر٢٢٠١)

فائده : صاحبين فرمائي چي دَائِن څَه رنګه کُوټَه دِرهَم د مقروض څخه اخستي وُ هغه رنګه کُوټَه دِرهَم دي و مقروض ته ورکړي بيا دي خپل عُمدَه دِرهَم د مقروض څخه وَاپَس واخلي .

وجه : (١) دکوم مَالِيّت دَرَاهِم چي دَائِن و مقروض ته ورکړي وُ دهغه مَالِيّت دَرَاهِم د مقروض لخوا وده ته نَه سو ملاؤ بلکه ګمزُور ورته ملاؤ سو نو ځکه د خپلو عُمدَه دَرَاهِم د وصولولو لپاره دغه کېدلائي سي چي و مقروض ته هغه رنګه بېکاره دَرَاهِم وَاپَس کړي او د خپلو عُمدَه دَرَاهِم په شان دَرَاهِم وصول کړي (٢) دصاحبينوپه نېز په قرض وغيره کي صرف په عَدَد او وَزَن کی سره برابروَل کِفَايَت نَه کوي. بلکه د مَالِيّت او قيمت په اعتبار سره برابروَل هم ضروري دئ. که نَه نو بياخود دَائِن نُقصَان دئ.او په حديث کي دئ لاَ ضَرَرَ وَ لاَ ضَرَارَ(دارقطني نمبر٣٠٦٠)

[١٠١٧](١٩) وَ مَن رَهَنَ عَبدَينِ بِاَلفٍ فَقَضْي حِصّةَ اَحَدِهِمَا لَم يَكُن لَهُ اَن يَقبِضَهُ حَتْي يُؤَدِّيَ بَاقِيَ الدّينِ .

نو ځکه ددې د وصولولو لپاره دغه صورت دئ چي د يَوبَل ځائ څخه دي بېکاره دَرَاهِم راوړي و مقروض ته دې ورکړي اوخپل عُمدَه او ښَه دَرَاهِم دي وصول کړي .

اُصُول : په قرض کي د وَزَن د برابرئ سره سره په مَالِيّت کي برابري هم ضروري ده .

لُغَت : اَلزّيُوفُ : کُوټَه دِرهَم. اَلجِيَادُ : ښَه او عُمدَه دِرهَم .

[١٠١٧](١٩) يو چا دزَر په بَدلَه کي دوه غُلاَمَان په ګَرَوْ کي کښېښُوَل بيا ئې دهغه څخه د يوه حِصّه اداٴ کړل نو دده لپاره جواز نَه لري چي هغه قبضه کړي تر هغو چي دا پَاتَه دَين ئې نَه وي اداٴ کړئ .

تشريح : دوه غُلاَمَان ئې د زَر پُونډ (يا روپَئ) په بَدلَه کي په ګَرَوْ کي کښېښُوَل. او پِنځَه سوه پونډَ مثلاً اداٴ کړي دي اُوس دئ غُوَاړي چي يو غُلاَم د رِهن څخه وَاپَس واخلِي نودئ دا غُلاَم د رِهن څخه وَاپَس نَه سي اخستلائي تر څو چي پوره زَر ئې اداٴ کړي نَه وي. چي کله پوره زَر اداٴ کړي نو بيابه دواړه غُلاَمَان وَاپَس اَخلِي .

وجه : دلته د دواړو غُلاَمَانُو مجموعـه د زَر پـه بَدلَـه كـي رِهـن او ګَـرَؤ ده چـي د دې ښخه به يوه وَثِيقَه او اِعتِمَاد پر خپل ځائ پاتـه وي. داسـي نَـه دئ چـي د پِنځوسـوو پـه بَدلَه كي يو غُلاَم ګَرَؤ دئ او د پِنځوسوو په بَدلَه كـي بَل غُـلاَم ګَـرَؤ دئ. نـو چـي كلـه پوره زَر اداَء كړې بيا به دواړه غُلاَمَان وَاپَس اَخلِي. چي پِنځَه سوه اداَء كړي يَو غُلاَم وَاپَس نَه سي اخستلائي .

اُصُول : پوره شَئِ مَرهُون د ټولِي قرضې په بَدلَه كي ګَرَؤ وي.اَجزآء او تقسيم ئـې نَـه كيږي .

پام لرنه :چي مُرتَهِن د يوه غُلاَم د وَاپَس اخستلو اجازت وركړي نـو رَاهِـن ئـې وَاپَـس اخستلائي سي دقانون په توګه نَه سي اخستلائي .

[١٠١٨](٢٠) فَاِذَا وَكّلَ الـرّاهِنُ اَلمُـرتَهِنَ اَوِ العَـدلَ اَو غَيرَهُمَـا فِـي بَيـعِ الـرّهنِ عِنـدَ حُلُـولِ الـدّينِ فَـالوَ كَـا لَـةُ جَـائِزَةٌ [١٠١٩](٢١) فَـاِن شَرَطَتِ الوَكَا لَةُ فِي عَقدِ الرّهنِ فَلَيسَ لِلرّاهِنِ عَزلُهُ عَنهَا فَاِن عَزَلَهُ لَـم يَنعَزِل وَ اِن مَا تَ الرّاهِنُ لَم يَنعَزِل اَيضًا .

[١٠١٨](٢٠) كه چيري رَاهِن مُرتَهِن يا عَادِل يا د دُوئي دوو ښخه علاوه بل يو وَكِيـل جوړ كئ د شَئ مَرهُون د خرڅولو لپـاره د دَيـن د مُـدې د تېرېـدو وروسـته نـو وَكَالَـت جائز دئ .

وجـه : د رَاهِـن مـال دئ نوځكـه رَاهِـن و مُـرتَهِن يـا عَـادِل يـا يـو بَـل چاتـه دا حـق وركولائي سي چي كلـه د قـرض وخـت پـوره سـي او زَه قـرض اداَء نَـه كـړم نـوشَـئِ مَرهُون خرڅ كـئ او دهغه ښخه دي د مُرتَهِن حَق اداَء كړي. دا وَكِيل جـوړول صـحيح دئ. او د مُرتَهِن لپاره دا هم د وَثِيقې يو شكل دئ .

لُغَت : حُلُولُ الدّينِ :د دَين د اداَء كولو وخت .

[١٠١٩](٢١) كه چيري په عَقدِرِهن كـي د وَكَالَـت شـرط لګېـدلئ وُ نـو ورَاهِـن تـه دا جواز نه لري چي وَكِيل د وَكَالَت ښخه مَعزول كړي. كه چيـري مَعـزُول كـړي هم نَـه معزول كيږي. اوكه رَاهِن مَړ سو بيا هم وَكِيل نَه معزول كيږي .

تشريح : چي ګَرَؤ ئې اِيښُوَئ هغه وخت رَاهِن دا شرط ولګـاوئ چـي د قـرض د مُـدې پر پوره كېدو يو وَكِيل جوړ كَه چي هغه شَئِ مَرهُون خـرڅ كـړي او زومـا قـرض پـه هغـه بانـدي اداَء كـړي. كـه د عَقدِرَهن پـر وخـت د شَـئِ مَرهُـون د خـرڅلاؤ د وَكِيـل جوړولو شرط لګولئ وُ نو رَاهِن هغه نَه سي معزولولائي .

وجه : ځكه چي د شرط لګولو په وجه د مُرتَهِن حق ددې سره مُتَعَلّق سو او مُرتَهِن ددې پر مَعزُولَوَلُورَاضِي نَه دئ نوځكه رَاهِن وَكِيل نَه سي معزولولائي. او كه معزول كړي نـو هـم نَه معزوليږي.اوكه چيري رَاهِن مَړسي بياهم وَكِيل نَه معزوليږي.بلكه چي مُدَه پوره

[۱۰۲۰](۲۲) وَ لِلمُرتَهِنِ اَن يُطَالِبَ الرّاهِنَ بِدَينِهِ وَ يَحبِسَهُ بِهِ [۱۰۲۱](۲۳) وَ اِن كَانَ الرّهنُ فِي يَدِهِ فَلَيسَ عَلَيهِ اَن يُمَكِّنَهُ مِن بَيعِهِ حَتْي يَقبِضَ الدّينَ مِن ثَمَنِهِ فَاِذَا قَضَاهُ الدّينَ قِيلَ لَهُ سَلِّمِ الرّهنَ اِلَيهِ .

سي نوشَئِ مَرهُون به خرخوي د مُرتَهِن قرض به ادآء كوي چي د مُرتَهِن قرض ضَائِع نَه سي .

اُصُول : د وَثِيقي لپاره چي كوم شرط لګېدلئ وي رَاهِن هغه نَه سي ختم كولائي تر څو چي مُرتَهِن رَاضِي نَه وي .

لُغَت : عَزلٌ : معزولول. برطرف كول .

[۱۰۲۰](۲۲) د مُرتَهِن لپاره جواز سته چي د رَاهِن څخه د خپل دَين مُطالبَه وكړي او شَئِ مَرهُون دهغه په وجه منع كړي .

تشريح : شَئِ مَرهُون د مُرتَهِن سره وُ. رَاهِن لا تر اُوسَه قرض نَه دئ ادآء كړئ او وَاپَس شَئِ مَرهُون غُوَاړِي نو مُرتَهِن دا حق لري چي د خپل دَين مُطالَبَه وكړي او تر څو چي رَاهِن دده قرض نَه وي وركړئ تر هغه وخته پوري دئ دغه شَئِ مَرهُون د ځان سره كښېږدي .

وجه : (۱) شَئِ مَرهُون د وَثِيقي لپاره دئ. نو ځكه د دَين تر ادآئيګئ پوري وَثِيقَه د خپل ځان سره اِيښوَلائي سي (۲) د شَئِ مَرهُون سره د مُرتَهِن حق مُتَعَلّق سو كه چيري دَين ادآء نَه كړي نو شَئِ مَرهُون به خرخوي خپل حق به ځيني وصولوي. نو ځكه د دَين تر ادآئيګئ پوري به شَئِ مَرهُون د ځانه سره سَاتِي .

[۱۰۲۱](۲۳) كه شَئِ مَرهُون د مُرتَهِن په لاَس كي وي نو پرمُرتَهِن باندي لازم نَه دئ چي و رَاهِن ته د هغه د خرڅولو قُدرَت وركړي. تر هغو چي دهغه د ثَمَن څخه پر دَين باندي قبضه وكړي.بيا چي مُرتَهِن ته دَين ورادآء كړي نو ومُرتَهِن ته به ويل كيږي چي شَئِ مَرهُون و رَاهِن ته په حواله كه .

[۱۰۲۲](۲۴) وَ اِذَا بَاعَ الرّاهِنُ الرّهنَ بِغَيرِ اِذنِ المُرتَهِنِ فَالبَيعُ مَوقُوفٌ فَاِن اَجَازَهُ المُرتَهِنُ جَازَ وَ اِن قَضَاهُ الرّاهِنُ دَينَهُ جَازَ اَيضًا .

تشريح : شَئِ مَرهُون د مُرتَهِن په قبضه كي دئ. اُوس رَاهِن دا غُوَاړِي چي دا خرڅ كړي دَين په ادآء كړي نو پر مُرتَهِن باندي لازم نَه دئ چي د خرڅولو لپاره و رَاهِن ته شَئِ مَرهُون حواله كړي. لېكن كه چيري دشَئِ مَرهُون د قيمت څخه د مُرتَهِن پوره دَين ادآء كړي نو بيابه مُرتَهِن ته ويل كيږي چي شَئِ مَرهُون و رَاهِن ته په حواله كه .

وجه : دشَئِ مَرهُون سره دمُرتَهِن حَق تَعَلّق پيدا كړئ او ده ته ترهغه وخته دشَئِ مَرهُون دمَنع كولوحق سته ترڅوچي دده لاَس ته ټوله دَين نَه وي راغلئ.ځكه چي كه

ده و رَاهِن ته شَئ مَرهُون ورکړئ او رَاهِن نَه شَئ مَرهُون خرڅ کړئ او نَه قرض اداء کړئ نومُرتَهِن به څَه کوي؟ دده به حَق ضائع سي.نوځکه ترڅوچي ټوله دَين دده لاَس ته نَه وي راغلئ نو ده ته به نَه ويل کيږي چي شَئ مَرهُون و رَاهِن ته حواله کَ◌َه.لېکن هو! که دَين اداء کړئ که دخپله جېب څخه اداء کړي که شَئ مَرهُون خرڅ کړي دهغه دقيمت څخه اداء کړي نوبيا به مُرتَهِن ته ويل کيږي چي شَئ مَرهُون و رَاهِن ته حَوَالَه کَه .

اُصُول : د ټوله دَين تر وُصُولَئ پوري مُرتَهِن شَئِ مَرهُون د خپل ځانه سره اِيښُوَلاَئي سي .

لُغَت : يُمكِنُهُ : قُدرَت دي ورکړي. موقع دي ورکړي .

[۱۰۲۲](۲۴) که رَاهِن د مُرتَهِن د اجازې بغيره شَئِ مَرهُون خرڅ کړئ نوبيع به موقوف وي. که مُرتَهِن د بيع اجازه ورکړه نو به جواز پيدا کړي.او که رَاهِن د مرتهن دَين اداء کړئ بيا هم بيع جواز پيدا کوي .

تشريح : که رَاهِن دمُرتَهِن د اِجَازَت بغيره شَئ مَرهُون خرڅ کړئ نوبيع به موقوف وي.که مُرتَهِن دبيع اِجَازَت ورکړ ئ نوبيع به جائز سي او که اجازَت نَه کړئ وَر نو بيع به فاسد سي .

[۱۰۲۳](۲۵) وَ اِن اَعتَقَ الرّاهِنُ عَبدَالرّهنِ بِغَيرِ اِذنِ المُرتَهِنِ نَفَذَ عِتقُهُ [۱۰۲۴](۲۶) فَاِن كَانَ الدّينُ حَالاً طُولِبَ بِاَدَ آءِ الدّينِ وَ اِن كَانَ مُؤجّلاً اُخِذَ مِنهُ قِيمَةُ العَبدِ فَجُعِلَت رِهنًا مَكَانَهُ حَتْي يَحِلّ الدّينُ .

وجه : د شَئِ مَرهُون سره د مُرتَهِن حق مُتَعَلّق دئ نو ځکه دده داجازې بغيره به بيع موقوف وي. لېکن که چيري رَاهِن د مُرتَهِن دَين اداَء کړي نو اُوس خو دمُرتَهِن حق په شَئ مَرهُون پوري مُتَعَلّق نَه سو پاته نو ځکه بيع به جواز پيدا کړي .

اُصُول:دټولهدَين ترادائيګئ پوري مُرتَهِن داحق لري چي شَئِ مَرهُون دځان سره وَسَاتِي .

[۱۰۲۳](۲۵) که رَاهِن د مُرتَهِن د اجازې بغيره مَرهُون غُلاَم آزاد کئ نو دده آزادي به نَافِذَه سي .

وجه : (۱) شريعت همېشه دا غُوَارِي چي غُلاَم آزاد سي نو ځکه د رَاهِن د آزادېدو سره سَم دَستِي به آزاد سي. او د مُرتَهِن پر اجازه باندي موقوف نَه دئ.د بيعِ معامله بېله ده. شريعت دبيع د کولو دومره تقاضا نَه کوي څومره چي د غُلاَم د آزادئ دنِفَاذ تقاضا کوي (۲) چي کله غُلاَم شريک وي نو د يوه شريک د حِصّې د آزادئ سره سَم دَستِي د دُوَم شريک حِصّه هم آزاديږي که چيري آزادُونکَئ څوک مَالدَارَه وُ. په حديث کي دئ عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺ مَن اَعتَقَ شرَكًا لَهُ فِي مَملُوكٍ فَعَلَيهِ عِتقُهُ كُلّهُ اِن كَانَ لَهُ مَالٌ يَبلُغُ ثَمَنُهُ(بخارى شريف.باب اذااعتق عبدًابين اِثنَينِ ص ۴۰۷نمبر۲۵۲۳)چي دبَل حِصّه آزادېدلائي سي نوخپل غُلاَم خوپه درجه اَولٰي آزاديږي.

اُصُول : آزادي د اِنسان فِطرِي حق دئ نو ځکه کـه چيـري د آزادئ شَـائِبَه هـم راسـي نـو آزادي به نَافذيږي .

[۱۰۲۴](۲۶) نو که چيري دَين فَورِي وي نو د دَين د اداَء کولـو مُطالَبَـه بـه کيـږي او که دَين دځنډ وي نو د رَاهِن څخه به د غُلاَم قيمت اخستل کيـږي او د دَيـن د مُـدې تـر رَاتُلُو پوري به دغُلاَم دغه قِيمَت په ګرَوْ کي اِيښُوَل کيږي .

[۱۰۲۵](۲۷) وَ اِن کَانَ مُعسِرًا اِستَسعْي فِي قِيمَتِهِ فَقَضْي بِهِ الدّينَ ثُـمّ يَرجِعُ العَبدُ عَلْي المولْي .

تشريح : غُلاَم آزاد سو نوکه چيري د دَين د ادائيګـئ يووخـت مُتَعَـيّن نَـه وُفَـورًا دهغـه اداَء کول وُ نو بيابه سَم دستِي د دَين د اداَء کولو مُطالَبَه ځيني کيږي .

وجه : چي رِهن د مُرتَهِن په لاَس کي نَه سو پاته نـو دهغـه اِعتِمَـاد ختم سـو نـو ځکـه فورًا به د دَين د اداَء کولو مطالبه ځيني کيږي. او که چيري د دَين دادآء کول يو وخت معلوم وُ نو د رَاهِـن څخـه بـه د غُـلاَم قيمـت اخسـتل کيـږي او دغـه قِيمَـت بـه د مُـدّتِ ادآئيګئ تر راتلو پوري په ګرَوْ کي اِږدِي. چي وَثِيقَه پر ځائ پاته وي .

اُصُول : په يوه حال کي بايد د مُرتَهِن نُقصَان وَنَه سي .

فائده :امامِ شافعي فرمائي چي که رَاهِن غَرِيب وي نودهغه آزادي به نَه نافذيږي .

وجه : ځکه چي د غُربَـت پـه وجـه دئ د غُـلاَم قيمـت نَـه سـي ورکـولائي. او دا بـه د مُرتَهِن نُقصَان وي. نو ځکه د رَاهِن آزادي به نَه نافذيږي. لکه څَه رنګه چـي رَاهِـن د مُرتَهِن د اجازې بغيره غُلاَم خرڅ کړي نو هغه هم نَه نافذيږي .

لُغَت : حَالاً : فورًا ادائيکِي. مُؤجّلاً : په ځنډ سره ادائيکِـي. يَحِـلّ الـدّينُ : چـي د دَيـن د اداَء کولو وخت راسي .

[۱۰۲۵](۲۷) او که رَاهِن تَنګدَسته وي نوغُلاَم به سَعِي کوي په خپل قيمت کـي او پـه دغه به د مُرتَهِن دَين اداَء کوي بيا به غُلاَم د مَولْي څخه وصولوي .

تشريح : د رَاهِن د آزادولو په وجه غُلاَم آزاد سو. لېکن رَاهِن مِسکِين دئ.نَه دَيـن اداَء کولائي سي نَه د غُلاَم قيمت راوړائي سي چي په ګرَوْ کي کښيږدي. او غُـلاَم خـو پـه ګرَوْ کي پروت وُ نو ځکه و غُلاَم ته به ويل کيږي چي د خپل قيمت مُطـابِق رُوپـئ يـا اَفغَانَئ مثلاً وګټِه او د مُرتَهِن دَين په اداَء کَه. او وروسته کـه د رَاهِـن سـره مـال وُ نـو دهغه څخه به خپل ګټلئ مال چي ده اداَء کړئ دئ هغه به وُصُول کړي .

[۱۰۲۶](۲۸) وَ کَذَالِکَ اِن اِستَهلَکَ الرّاهِنُ اَلرّهنَ [۱۰۲۷] (۲۹) وَ اِن اِستَهلَکَهُ اَجنَبِيٌ فَالمُرتَهِنُ هُوَ الخَصمُ فِي تَضمِينِهِ .

وجه : د رِهن اِيښُوَلُو په وجه د مُرتَهِن حق د غُلاَم د غَارِي (سَر) سره مُتَعَلّق سو.او غُلاَم آزاد سو او د غُربَت په وجه د رَاهِن څخه هم د دَين د ملاؤېدو اُمِيد نسته نو ځکه غُلاَم به مِحنَت او خُوَارِي کارِي سَعيِ به کوي ددغه څخه به دَين وصوليږي .

پام لرنه : دِلتَه خو غُلاَم د مولْي پيسې اداء کړي دي نو ځکه وروسته به غُلاَم خپل ورکړئ رَقَم د مولْي څخه وصولوي .

لُغَت : اِستَسعْي : غُلاَم دي خپل قيمت وګټي او اداء دې کړي. ودې ته سَعيِ او اِستَسعْي ويل کيږي .

[۱۰۲۶](۲۸) دغه رنګه که رَاهِن رِهن هلاک کړئ .

تشريح : که رَاهِن د مُرتَهِن سره پروت رِهن هلاک کئ نو رَاهِن به دهغه قيمت د مُرتَهِن سره په رِهن کي اِږدِي چي وَثِيقَه پر خپل ځائ پاته سي. او که چيري دَين فَورِي وُ نو مُرتَهِن به فورًا د دَين د وُصُولَئ مطالبه کوي .

وجه : رَاهِن د مُرتَهِن وَثِيقَه ضائع کړه نو د دُوُ کارو څخه به يو کار کوي. يا دي فَورًا دَين اداء کي يا که چيري تأخيري دَين وُ نو د دَين قيمت دي په رِهن کي کښيږ دي .

[۱۰۲۷](۲۹) او که رِهن يوه اَجنَبِی سړي هلاک کئ نو مُرتَهِن به دهغه د ضَمَان په اخستلو کي مُدّعِي وي .

تشريح : شَئِ مَرهُون د مُرتَهِن په قبضه کي وُ. په دغه حال کي يوه اَجنَبِي دغه هلاک کئ نو په ضَمَان اخستلو کي به مُرتَهِن د هغه مُدّعِي جوړيږي. او د ضمان اخستلو ټوله کاروائي به هغه کوي .

وجه : شَئِ مَرهُون دده په ضَمَان او قبضه کي وُ. نو ځکه دئ به دهغه د ضمان اخستلو او کاروائي ذِمّه داره وي .

[۱۰۲۸](۳۰) فَيَأخُذُ القِيمَةَ فَيَكُونُ القِيمَةُ رَهنًا فِی يَدِهِ .

اُصُول : څوک چي د يو شِي ذِمّه داره وي هغه د ټولي کاروائي هم ذِمّه داره وي .

[۱۰۲۸](۳۰) نو مُرتَهِن به قيمت وصولوي او دغه قيمت به دده په لاَس کي رِهن وي .

وجه : مخکي اَصل شَئ په ګَرَوْ کي پروت وُ اُوس به دهغه نَائِب او قيمت په ګَرَوْ کي پروت وي. ځکه چي اُصُول دادئ چي نَائِب هم هغه د اَصل حُکم لري. چي اَصل په ګَرَوْ کي پروت وُ نو دهغه نائب به هم په ګَرَوْ کي پروت وي تر څو چي دَين نَه وي اداء سوئ .

اُصُول : د نَائِب حُکم د اَصل حُکم وي .

پام لرنه : دا ټوله اُصُول او احکامات دهغه اَحَادِيثُو څخه مُستَنبَط دي چي په هغه کي راغلي دي چي داسي شرطونه لګول جائز دي چي په هغه باندي يو فَرِيق د نُقصَان څخه بچاويږي.

په حديث کي ددې ثبوت سته عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ کَانَ العَبّاسُ اِبنِ عَبدِالمُطّلِبِ اِذَا دَفَعَ مَالاً مُضَارَبَةً اِشتَرَطَ عَلْي صَاحِبِهِ اَن لاَيَسلُکَ بِهِ بَحرًا وَ لاَ يَنزِلَ بِهِ وَادِيًا وَ لاَ يَشتَرِي بِهِ ذَاکَبَدِرَطبَةٍ فَاِن فَعَلَهُ فَهُوَ ضَامِنٌ فَرَفَعَ شَرطَهُ اِلْي رَسُولِ اللهِ ﷺ فَاَجَازَهُ (الف) (

دارقطني.کتاب البیوع ج٣ص۶۴نمبر ٣٠۶٢) په دې حدی کي حضرت عَبّاس د مُضَارِب سره دا شرط ولګاوئ چي دا مال دي اخستئ وي په دَریَاب کي به سفر نَه کوې نَه به په یَوَه شَلَه کي قیام کوې او نَه به یَو ژُوَندَئ شَئ په اَخلې.او حضور ﷺ ودې ته جواز ورکئ. دا شرطونه لګول یا ددې رِعَایَت کول جائز دئ چي دهغه په وجه یَو فَرِیق د نُقصَان څخه بَچ سي .

د رِهن مسئلې پر دغه اُصُول باندي مُتَفَرّع دي. ددې څخه علاوه ددې دُوُ حدیثو څخه هم مُتَفَرّع دي عَن اَبِي سَعِیدِالخُدرِیِّ اَنّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ لاَ ضَرَرَ وَ لاَ ضَرَارَ

حاشیه : (الف) حضرت عَبّاس چي به یوچا ته د مُضَارَبَت مال ورکاوئ نو پر مُضَارِب به شرط لګاوئ چي دا مال درسره وي په سَمَندَرکي به سَفَر نَه کوې.نَه چي دا درسره وي په یوه شَلَه کي قِیَام کوې او نَه به په دې مَال یو حَیوَان اَخلې. او که دي داسي وکړه نو مُضَارِب به ددې ضَامِن وي.دغه شرطونه د حضور مختـه یُورَل. نو حضور ددې اِجَازَه ورکړه .

[١٠٢٩](٣١) وَجِنَایَةُ الرّاهِنِ عَلْي الرّهنِ مَضمُونَةٌ .

مَن ضَارَ ضَرّهُ اللهُ وَ مَن شَاقَ شَقّ اللهُ عَلَیهِ (الف) (دارقطني.کتاب البیوع ج٣ص۶۴نمبر ٣٠۶٠) چي و هیڅ چاته باید نُقصَان ونه رسیږي. او دوم حدیث دئ عَن عَمرِبنِ یَثرِبِيِّ قَالَ شَهِدتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ فِي حَجّةِ الوَدَاعِ بِمِنْي فَسَمِعتُهُ یَقُولُ لاَ یَحِلّ لِامرِءٍ مِن مَالِ اَخِیهِ شَئٌ اِلاّ معاطَابَت بِهِ نَفسُهُ (ب) (دارقطني. کتاب البیوع ج٣ص٢٢نمبر ٢٨۶٠) په دې حدیث کي دئ چي دبَل چا مَال دهغه د اجازې بغیره خُوَړَل حلال نَه دئ. په دغه وجه د رِهن په مسئلو کې ددې رِعَایَت ساتلئ دئ چي د رَاهِن او مُرتَهِن د اجازې بغیره په شَئِ مَرهُون کي تصرف کول یا دهغه په شرطو کي تصرف کول جواز نَه لري .

[١٠٢٩](٣١) د رَاهِن جِنَایَت پر شَئِ مَرهُون باندي سَبَب د ضمان دئ .

تشریح : مثلاً شَئِ مَرهُون د سَلُو روپئ یا افغانئ وُ.رَاهِن هغه خراب کئ اُوس هغه په اَتیَا روپئ یا افغانئ اَرزِي نو رَاهِن د شَلُو روپئ یا افغانئ نقصان وکئ نو دا شَل روپئ یا افغانئ دي و مُرتَهِن ته ورکړي چي هغه ئې د دَین د ادائیګئ تر وخته پوري په رِهن کي کښیږ دي .

وجه:که څَه هم شَئِ مَرهُون درَاهِن خپل دئ لېکن اُوس ددې سره دمُرتَهِن حق مُتَعَلّق سو نو ځکه د رِهن څخه چي څونه نقصان رَاهِن کړئ دئ هغه به و رِهن ته ورکوي .

لُغَت : مَضمُونَةٌ : د ضَمَان سبب دئ .

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل چي مَه نُقصَان ورکوئ او مَه نُقصَان پورته کوئ.څوک چي نُقصَان ورکوي الله هغه ته نُقصَان ورکوي. او په مَشَقّت کې اَچَوِي (ب) حضور به فرمائله چي د انسان لپاره د خپل وُرُور د مال څخه هيڅ شَئ هم حلال نَه دئ مگر دهغه په خُوَشِي خُوَشحَالِي .

[۱۰۳۰](۳۲) وَ جِنَايَةُ المُرتَهِنِ عَلَيهِ تَسقُطُ مِنَ الدّينِ بِقَدرِهَا
[۱۰۳۱](۳۳) وَ جِنَايَةُ الرّهنِ عَلْي الرّاهِنِ وَ عَلْي المُرتَهِن وَ عَلْي مَالِهِمَا هَدرٌ .

[۱۰۳۰](۳۲) او د مُرتَهِن جِنَايَت پر رِهن باندي د دَين څخه په خپله اندازه ساقطوي .
تشريح : مثلاً د مُرتَهِن دَين سَل روپۍ يا افغانۍ وې اود سَل روپۍ شَئ ئې په رِهن کي اِيښَئ وُ. مُرتَهِن دهغه څخه د شَلُو روپۍ نُقصَان وکئ اُوس شَئِ مَرهُن د اَتيَا روپۍ اَرزَښت لري نو دا شَل روپۍ به د دَين څخه ساقط سي او د مُرتَهِن به پر رَاهِن باندي اَتيَا روپۍ دَين پاته سي .
وجه : مُرتَهِن پر شَئِ مَرهُون باندي جِنَايَت وکئ نو د جِنَايَت د مِقدَار په اندازه به د دَين څخه ساقط سي. په حديث کي دئ قَالَ سَمِعتُ عَطَآ ءَ يُحَدِّثُ اَنّ رَجُلاً رَهَنَ فَرَسًا فَنَفَقَ فِي يَدِهِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ لِلمُرتَهِنِ ذَهَبَ حَقّهُ (الف) (سنن للبيهقي. باب من قال الرهن مضمون ج۶ص۶۴نمبر۱۱۲۲۵) په دې مُرسَل حديث کي دئ چي د مُرتَهِن څخه آس هلاک سو نو حضور وفرمائل چي دده حَق وُلاړَئ. نو ځکه که مُرتَهِن په شَئِ مَرهُون کي يو نُقص راولي نو د نُقصَان په اندازه به د مُرتَهِن حق ختم سي .
[۱۰۳۱](۳۳) او د رِهن جِنَايَت پر رَاهِن او مُرتَهِن باندي او د دُوئي د دُوُ پر مال باندي سَاقِطُ الاِعتِبَار دئ .
تشريح : شَئِ مَرهُون مثلاً غُلاَم دئ. هغه د رَاهِن نُقصَان وکئ نو دا نُقصَان هَدَر دئ. دغُلام څخه هيڅ شئ ودُوئي ته نَه ملاوېږي .
وجه : غُلاَم خو د رَاهِن دئ نو چي اُوس دا خرڅ کړي نُقصَان وصول کړي نو خپل

حاشيه : (الف) يوه سړي آس په گَرَوُ کي کښېښُوئ بيا دهغه په لاَس کي هلاک سو نو حضور د مُرتَهِن لپاره وويل دده حَق وُلاَړَئ (ختم سو) .

[۱۰۳۲](۳۴) وَ اُجرَةُ البَيتِ اَلّذِي يُحفَظُ فِيهِ الرّهنُ عَلْي المُرتَهِنِ
[۱۰۳۳](۳۵) وَ اُجرَة الرّاعِي عَلْي الرّاهِنِ .

مال ئې خرڅ کړئ. نو ځکه د غُلاَم ددې نُقصَان هيڅ اِعتِبَار نسته. او که د مُرتَهِن نُقصَان وکئ نود مُرتَهِن دا ذِمّه داري جوړېده چي د خپل غُلاَم حفاظت ئې کړئ وائي. ده حِفَاظَت نَه وکړي نو دا دده غلطي ده. او که مُرتَهِن غُلاَم خرڅ کړي خپل نُقصَان وصول کړي نو په غُلاَم يا دهغه په قيمت کي چي څونه گَمِي راسي هغونه به دده د دَين څخه کاټېږي. نو چي غُلاَم خرڅ کړي نُقصَان وصول کړي و مُرتَهِن ته ددې هيڅ

ګټه نَه رسيږي. نو ځکه چي غُلاَم د مُرتَهِن نُقصَان وکي نو هيڅ شَئ نَه سي وصولولائي .

پام لرنه : که غُلام را وَلاړ سو مُرتَهِن ئې قتل کړئ نو قصاص به ځيني اخلي .

لُغَت : هَدرٌ : سَاقِطُ الاِعتِبَار .

[۱۰۳۲](۳۴) دهغه کور اُجرَت چي د رِهن حفاظت پکښي کيږي پر مُرتَهِن دئ .

وجه : قاعده داده چي هر هغه صورت چي په هغه کي شَئِ مَرهُون د مُرتَهِن سره وي او مُرتَهِن ئې په خپله قبضه کي اِيښُوَلاَئي سي په هغه ټولو صورتو کي اُجرَت پر مُرتَهِن باندي لازميږي. ځکه چي شَئِ مَرهُون دځان سره اِيښُوَل او په خپله قبضه کي سَاتَل دا د مُرتَهِن ضرورت دئ نو اُجرَت به هم پر مُرتَهِن باندي لازم وي. ددغه قاعدې پر بُنياد باندي په کوم کور (مکان) کي چي د شَئِ مَرهُون حفاظت کيږي دهغه مکان اُجرت پر مُرتَهِن دئ. ځکه چي دا د مُرتَهِن ضرورت دئ .

اُصُول : چيري چي د مُرتَهِن ضرورت وي دهغه د پوره کولو اُجرَت پر مُرتَهِن دئ .

[۱۰۳۳](۳۵) او د شُپَانَه اُجرَت پر رَاهِن دئ .

وجه : (۱) قاعده داده چي هر هغه صورت چي په هغه کي شَئِ مَرهُون بچاؤسي ياپه هغه کي زِيَاتُوب راسي نو دهغه اُجرَت پر رَاهِن دئ. ځکه چي دا د رَاهِن مال دئ. نو

[۱۰۳۴](۳۶) وَ نَفَقَةُ الرّهنِ عَلٰي الرّاهِنِ [۱۰۳۵](۳۷) وَ نَمَا ئُهُ لِلرّاهِنِ فَيَكُونُ النّمَآ ءُ رَهنًا مَعَ الاَصلِ .

حيوان کَتَل او هغه ته خُورَاک چِينَاک ورکولو څخه حيوان غَتِيږِي او په دغه کي دحيوان بقآء ده ګواکه د رَاهِن مال غَټ سو او بَاقِي پاته سو نو ځکه ددې اُجرَت به پر رَاهِن وي (۲) په حديث کي ددې ثبوت سته عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ لاَ يَغلِقُ الرّهنُ لِصَاحِبِهِ غُنمُهُ وَ عَلَيهِ غُرمُهُ (الف) (دارقطني.کتاب البيوع ج۳ ص۲۹نمبر۲۸۹۸\سنن للبيهقي.باب الرهن غيرمضمون ج۶ص۶۶ نمبر ۱۱۲۱۹) په دې حديث کي دئ چي د رِهن په وجه به خپل مَالِک نَه ځيني منع کړل کيږي. وده ته به د رِهن فائدې هم رسيږي او د رِهن اِخرَاجَات به هم پر ده لازميږي . نو ځکه د شَئِ مَرهُون د کَتَلُو اُجرَت به پر رَاهِن لازم وي .

اُصُول : په کوم شِي کي چي د شَئِ مَرهُون بَقَآء وي يا په هغه سره زِيَاتِيږي دهغه اُجرَت به پر رَاهِن وي .

لُغَت : اَلرّاعِي : پُسُونَه کتونکئ. شُپَانَه.ګُوروَان .

[۱۰۳۴](۳۶) او د رِهن نَفَقَه پر رَاهِن ده .

تشريح : د شَئِ مَرهُون د خُوَړلُو او چِينَلُو خرچه پر رَاهِن ده .

وجه : ځکه چي شَئِ مَرهُون دده مال دئ.او د خپل مال د زِيَاتُوب او بَقَآء خرچه پر ده يعني رَاهِن ده. حديث مخته تير سوئ دئ .

[۱۰۳۵](۳۷) او د رِهن زِيَاتُوب به د رَاهِن وي. او زِيَاتُوب به هم د اَصل سره رِهن سي .
وجه : (۱) زِيَاتُوب ځکه د رَاهِن وي چي هغه دده د مال څخه راوتلئ دئ.او د رِهن

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل رِهن د رَاهِن حَق نَه بند وي شَئ مَرهُون دهغه دئ كوم چاچي رِهن اِيښَئ وي.
د رِهن د مالک لپاره فائدې هم دي.او پر ده باندي دهغه اِخرَاجَات هم دي .

[۱۰۳۶](۳۸) فَاِن هَلَکَ النّمَآ ءُ هَلَکَ بِغَيرِ شَئٍ .

د زِيَاتُوب خَرچَه پر رَاهِن باندي راغلې ده نو په دې وجه به هم دغه زِيَاتُوب د رَاهِن وي. مثلاً ددې څخه بَچَئ (مَرغُونَئ.سُخُوَندَر.وُرَئ.جُونګَئ) پيدا سو يا شِيدې ځيذي راووتې نودا ټوله به د رَاهِن وي (۲) مختـه حـدثى تير سو عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ لاَ يَغلِقُ الرّهنُ لِصَاحِبِهِ غُنمُهُ وَ عَلَيهِ غُرمُهُ (الف) (دارقطني.كتاب البيوع ج۳ ص۲۹نمبر۲۸۹۸\سنن للبيهقي.باب الرهن غيرمضمون ج۶ص۶۶ نمبر ۱۱۲۱۹) ددې حديث څخه معلوم سو چي د شَئِ مَرهُون زِيَاتُوب د رَاهِن دئ او دهغه اِخرَاجَات به هم پر رَاهِن وي. او دغه زِيَاتُوب به د اَصل سره ځكه رِهن وي چي دا تَابِع دئ. چي اصل ګرَوُ دئ نو زِيَاتُوب به هم داصل په تَابِعدَارِي كي ګرَوُ كيږي .
اُصُول : تَابِع د اصل سره وي. نو چي اَصل د رَاهِن دئ نو دغه زِيَاتُوب به هم د رَاهِن وي. او اَصل په ګرَوُ كي پروت دئ نو تَابِع به هم ګرَوُ وي .
لُغَت : نَمَآ ءٌ : زِيَاتُوب لكه بَچَئ.وُرَئ.مېوه او شِيدې او دغه رنګه بَل شَئ .
[۱۰۳۶](۳۸) نو كه زِيَاتُوب هلاک سو نو ببله څَه شَئ به هلاک سي .
تشريح : مثلاً نَه رُوپَئ پُور وُ.چي دهغه په بَدلَه كې يَوَه بُوزَه په ګرَوُ كي كښېښُوَه دهغې قيمت لَس روپئ دئ وروسته يو مَرغُونَئ پيدا سو دهغه مَرغُونِي قيمت پِنځَه روپَئ دئ. نو اُوس د نَه روپئ قرض په بدله كي دواړه په ګرَوُ كي سو. ددې څخه وروسته مَرغُونَئ مَړ سو نو د قرض څخه هيڅ شئ نَه كاټيږي. د مُرتَهِن نَه روپئ پور پر خپل ځائ پاته دئ. دهغه په بدله كي به وُزَه په ګرَوُ كي پرته وي .
وجه : په ګرَوُ كي خو اَصل وُزَه وه.مَرغُونَئ خو د هغې په تابعدارئ كي ګرَوُ سو او ګواكه په طور د اَمَانَت د مُرتَهِن سره وُ نو ځكه د هغه په هلاكت سره به قرض نَه كاټيږي .

حاشيه : حضور وفرمائل رِهن د رَاهِن حَق نَه بند وي شَئ مَرهُون دهغه دئ كوم چاچي رِهن اِيښَئ وي. د رِهن د مالک لپاره فائدې هم دي.او پر ده باندي دهغه اِخرَاجَات هم دي .

[۱۰۳۷](۳۹) وَ اِن هَلَکَ الاَصلُ وَ بَقِيَ النّمَآ ءُ اِفتَکَهُ الرّاهِنُ بِحِصّتِهِ وَ يُقَسّمُ الدّينُ عَلْي قِيمَةِ الرّهنِ يَومَ القَبضِ وَ عَلْي قِيمَةِ النّمَآ ءِ يَومَ

الفِكَاكِ فَمَا اَصَابَ الاَصلَ سَقَطَ مِنَ الدّينِ بِقَدرِهِ وَمَا اَصَابَ النّمَآ ء اِفتَكَهُ الرّاهِنُ بِهِ .

اُصُول : چي زِيَاتُوب هلاک سي نو قرض نَه کاټيږي ځکه چي هغه د اَمَانَت په توګه دئ .

[١٠٣٧](٣٩) او که اَصل هلاک سو او زِيَاتُوب پاته سو نو رَاهِن به هغه رَاخلاَصَوِي دهغه د حِصّې په ورکول سره.او دَين به تقسيم کيږي د رِهن پر قيمت باندي د قبضې د ورځي او د زِيَاتُوب پر قيمت باندي د رَاخَلاَصَوَلُو د ورځي.نو د اصل په مقابله کي به سَاقِط سي د دَين خپل مقدار او چي د زِيَاتُوب په مقابله کي راسي هغه به رَاهِن اداٰء کوي او رَاخَلاَصَوِي به .

تشريح : په اَصل مسئله کې اصل او زِيَاتُوب دواړه رِهن ګڼلي دي. لېکن د اَصل په هلاکت سره قرض کاټيږي او د زِيَاتُوب په هلاکت سره قرض نَه کاټيږي. پر دغه قاعده باندي د اصل حِصّه به د قرض څخه کاټيږي او د زِيَاتُوب حِصّه د قرض څخه نَه کاټيږي.نو ځکه د اَصل حِصّه و رَاهِن ته د ورکولو ضرورت نسته د قرض څخه به هغه د زِيَاتُوب حِصّه اداٰء کوي زِيَاتُوب به بېرته وَاپَس رَاوُړِي .

پام لرنه : د اَصل به دهغه ورځی قيمت لګول کيږي په کومه ورځ چي مُرتَهِن پر هغه باندي قبضه کړې وه او د زِيَاتُوب به دهغه ورځی قيمت لګول کيږي په کومه ورځ چې د زِيَاتُوب قيمت اداٰء کئ د مُرتَهِن د لاَس څخه رَاخَلاَصَوِي. ځکه چي زِيَاتُوب خو هره ورځ زِيَاتيږي نو ځکه د آخري ورځی قيمت به لګول کيږي. په دې مثال سره په دا مسئله ځَانُونَه پوه کړئ. د مُرتَهِن پر رَاهِن باندي نَه رُوپَۍ قرض وې.رَاهِن د لَسُورُوپَۍ وُزَه په رِهن کي کېښوَه.وروسته د وُزې يَو بَچَۍ پيدا سو

[١٠٣٨](٤٠) وَيَجُوزُ الزّيَادَةُ فِي الرّهنِ .

چي د رَاخَلاَصَوَلُو په ورځ دهغه قيمت پِنځَه روپۍ وُ.نو اُوس ګوا د نَه روپۍ قرض په بَدلَه کي پِنځَلَس روپۍ رِهن دئ.بيا وُزَه مُړَه سوه چي په لَس روپۍ وه.نو اُوس د پِنځَلَس روپۍ په مقابله کي لَس روپۍ دُوې دَرَيَمِي سوې.نو ګواکه د قرض دُوې دَرَيَمي په هلاکت ورسېدې ګواکه شُپَږ روپۍ په هلاکت ورسېدې او يوه دريمه د مُرتَهِن سره پاته ده. د قرض ټولي نَه روپۍ وې دهغه دُوې دَرَيَمِي په هلاکت ورسېدې نو ګواکه شُپَږ روپۍ په هلاکت ورسېدې او په قرض کي کاټ سوې او يوه دَرَيَمَه يعني درې روپۍ پاته سوې.دغه درې روپۍ به رَاهِن و مُرتَهِن ته ور اداٰء کوي او د وُزې بَچَۍ به بېرته وَاپَس ځيني اَخلِي. او دقرض شُپَږ روپۍ د وُزې د هلاکت په وجه ساقطي سوې.

پام لرنه : د تيري قاعدې مُطَابِق د لَسُو روپۍ وُزَه هلاک سوې ده او نَه روپۍ قرض وُ نو بايد چي نَه روپۍ ساقطي سوي وائي او يَوَه روپۍ د اَمَانَت دا هم ولاړه. او بېله څَه ورکولو دغه د وُزې بَچَۍ بايد وَاپَس د رَاهِن لاَس ته رَاغلۍ وائي .

لُغَت : اِفتَكَهُ : روپۍ به ورکوي ځيني رَا اَخلي بَه .

[۱۰۳۸](۴۰) په رِهن کي زِيَاتُوب كول جائز دئ .

تشريح : مثلاً مخکې نَه روپۍ قرض اخستئ وُ او دلَسُوروپۍ يوه وُزَه ئې په رِهن کي اِيښې وه.نو بيا رَاهِن د دغه نَه روپۍ په بَدَل کي د پِنځُوروپۍ يوه بَلَه وُزَه په رِهن کي کښېښوه نو دا جائز دئ.نو اُوس ګوا دارنګه سو لکه چي د نَه روپۍ په بدله کي د پِنځَلَس روپۍ وُزَه په رِهن کي پرته ده.د لسو روپۍ د اصل ده او د پِنځُوروپۍ د فرع ده.او چي کله هلاکه سي نود دواړو پر قيمت به دَين کاټيږي. اُوس به پر يَوَه وُزَه باندي دَين نَه کاټيږي .

[۱۰۳۹](۴۱) وَ لاَ يَجُوزُ الزِّيَادَةُ فِي الدّينِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ وَ مُحَمّدٌ رَحِمَهُمَااللّٰهُ تَعَالٰي وَ لاَ يَصِيرُ الرّهنُ رَهنًا بِهِمَا وَ قَالَ اَبُويُوسُفَ هُوَ جَائِزٌ .

[۱۰۳۹](۴۱) او جواز نَه لري دَين زِيَاتَوَل د امام ابوحنيفه او امامِ محمد په نېز اورِهن به نَه وي د دواړو قرضو په بدله کي.او امامِ ابويوسف فرمائي چي دا جائز دئ .

تشريح : مثلاً نَه روپۍ قرض ئې اخستئ وُ او دهغه په بدله کې د لَسُوروپۍ وُزَه په رِهن کي کښېښوه. اُوس ددې مَرهُونَه وُزې په بَدلَه کي نوري درې روپۍ قرض اَخلِي نو دامام ابوحنيفه او امامِ ابويوسف په نېز دا جوا نَه لري.که مُرتَهِن نوري درې روپۍ قرض ورکړي خو ټيک دئ لېکن دا به د وُزې په بَدلَه کي نَه وي.بلکه دا درې روپۍ به بېله رِهن وي .

وجه : (۱) وُزَه دهغه مخکي نَه روپۍ په بَدلَه کي رِهن پرته ده.او د آيت په رُوڼا کي مُکَمّله په قبضه کي ده.اُوس په دي کي بَل دَين نَه سي شريک کېدلائي.چي نتيجه ئې داسوه که چيري وُزَه هلاکه سوه نو صرف دهغه مخکي نَه روپۍ دَين څخه به کاټيږي.د دُوَم دَين يعني درې روپۍ څخه به هيڅ شئ نَه کاټيږي.ځکه چي هغه بېله رِهن وُ (۲) په آيت کي رِهَانٌ مَقبُوضَةٌ راغلئ دئ نو ځکه وُزَه په مخکني دَين کي مقبوض ده.نو ځکه دُوَم دَين به په دي کي نَه وي شَامِل .

امام ابويوسف فرمائي چي په دَين کي زِيَاتُوب كول جائز دئ.يعني دا دُوَم دَين درې روپۍ به هم د مَرهُونَه وُزې تحت راسي.ددې نتيجه دا سوه که چيري وُزَه هلاکه سوه

نو ددې قيمت به د دواړو دَينُو څخه کاټيږي. دمخکنـي دَين څخـه هـم او د دې دوم او وروسته دَين څخه هم .

[۱۰۴۰](۴۲) وَ اِذَا رَهَنَ عَينًـا وَاحِـدَةً عِنـدَ رَجُلَـينِ بِـدَينٍ لِكُـلِّ وَاحِـدٍ مِنهُمَا جَازَ وَ جَمِيعُهَا رَهنٌ عِندَ كُلِّ وَاحِدٍ مِنـهُمَا .

وجه : دئ فرمائي چي دَين د ثَمَن په شان دئ اورِهن د مَبِيع بـه شـان دئ نـو لکـه څَـه رنګه چي په ثَمَـن کـي وروسـته زِيَـاتُوب کـولائي سـي او هغـه زِيَـاتُوب د مَبِيـع تَحت داخليږي دغه رنګه په دَين کي هم وروسته زِيَاتُوب کولائي سي او هغـه زِيَـاتُوب بـه د رِهن تحت داخل سي .
[۱۰۴۰](۴۲) که چيري يَوشَئ د دو کسانو سره د دواړو د دَينُـو پـه بَدلَـه رِهـن کښـيږ دي نو جائز دئ.او ټوله رِهن به رِهن وي د دواړو دَينُو څخه د هر يَوَه په بَدلَه کي .
تشريح : مثلاً د دُو کسانو څخه پِنځَه پِنځَه روپئ قرض واخستلې او د دواړو د دَين پـه بَدلَه کې د دواړو سره يَوَه وُزَه په رِهن کي کښېښُوَه نو دا جائز دئ.لېکن ټوله بُوزَه بـه د دواړو د دَين په بَدلَه کي رِهن وي .
وجه : چي اَوّل ئې د يوه د دَين په بَدلَه کي بُوزَه په رِهن کي اِيښـې وائـي بيـا ئـې دغـه بُوزَه د بَل د دَين په بَدلَه کي رِهن اِيښې وائي نو دا جائز نَه وُ.ځکـه چـي ټولـه بُـوزَه د هغه اَوّل سره په رِهن کي اِيښُوَل سوې ده.لېکن دلته د دواړو د دَين په بَدلَه کي په يَـوَه وخت کي يَوَه بُوزَه په رِهن کي اِږدِي.نو صَـفقَه يـوه ده ځکـه پـه يَـوَه وخـت کـي بـه د دواړو د دَين په بَدلَه کي يَوَه بُـوزَه پـه رِهـن کـی سـي.او تـر کـوم وختـه پـوري چـي د دواړو دَين مُکَمّل نَه وي اداء سوئ ټوله بُوزَه به په رِهن کي پرتـه وي.مخکـي تيرسـو چي نِيم قرض اداء کړي نو نِيمَ بُوزَه نَه سي خلاصولائي بلکه چي يَـوَه پَيسَـه ئـې پاتـه وي تر هغه وخته پوري به ټوله بُوزَه رِهن پاته وي .

[۱۰۴۱](۴۳) وَ المَضـمُونُ عَلْـي كُـلِّ وَاحِـدٍ مِنهُمَـا حِصـّـةَ دَينِـهِ مِنهَـا
[۱۰۴۲](۴۴) فَاِن قَضْي اَحَدُهُمَا دَينَهُ كَانَ كُلّهَا رَهنًا فِي يَدِالآخَرِ حَتْي يَستَوفِيَ دَينَهُ .

[۱۰۴۱](۴۳) او ضَمَان د دُوئي څخه پـر هـر يـوه بانـدي د دُوئـي د دَيـن د حِصّـې پـه اندازه دئ .
تشريح : مثلاً دُوُ کسانو پِنځَه پِنځَه روپئ په قرض واخستلې او د دواړو لپاره يوه بُوزَه په ګَرَوُ کي کښېښُوَه.د بُوزې قيمت اَتَه روپئ وُ. هغـه هـلاک سـوه نـو د دواړو کسـانو

دحِصّــې ځخــه بــه څلورڅلــور روپــۍ کــاټيږي.او يَــوَه يَــوَه روپــي بــه رَاهِــن نــوره ورکوي.ځکه چي د دواړو قرضو په بَدلَه کي يَوَه بُوزَه په ګَرَوٌ کي پرته وه .

[١٠٤٢](۴۴) که د دواړو څخه د يَوَه دَين اداّء کۍ نو ټوله به ګَرَوٌپروت وي دهغه بَل په لاَس کي.تر هغه وخته چي دهغه دَين اداّء کي .

تشريح : يوه بُوزَه د دواړو د دَين په بَدلَه کي ګَرَوٌ وه بيائې د يوه دَين اداّء کـۍ نـو نِيمَ بُوزَه نَه سي خلاصېدائي بلکه ټوله بُوزَه به د هغه بَل د دَين په بَدلَه کي ګَرَوٌ وي .

وجه : مخته تير سو چي شَئِ مَرهُون د هر څو په بَدلَه کي رِهن پـروت وي چـي هغـه ټوله ئې اداّء کړۍ نَه وي شَئِ مَرهُون به هغه رنګه رِهن پـروت وي خلاصـېدائي نَـه سي.دلته خو بُوزَه د دواړو د دَين په بَدلَه کي ګَـرَوٌ پرتـه وه نـو ځکـه تـر کومـه وختـه پوري چې د دواړو دَينُو يَوَه يَوَه پَيسَه ئې نَه وي اداّء کړې د بُوزې يَـوَه حِصّـه هـم نَـه سي خلاصولائي .

لُغَت : يَستَوفِي : پُورَه پُورَه وصولول .

[١٠٤٣](۴۵) وَ مَن بَاَ عَبدًا عَلْي اَن يُرهِنَهُ المُشتَرِيُ بِالثّمَنِ شَيئًابِعَينِهِ فَامتَنَعَ المُشتَرِيُ مِن تَسلِيمِ الرّاهِنِ لَم يُجبَرعَلَيهِ وَ كَانَ البَائِعُ بِالخِيَارِ اِن شَآ ءَ رَضِیَ بِتَركِـهِ وَ اِن شَـآ ءَ فَسَـخَ البَيـعَ اِلاّ اَن يَـدفَ◌عَ المُشـتَرِيُ الثّمَنَ حَالاً اَو يَدفَعَ قِيمَةَ الرّهنِ فَيَكُونُ رَهنًا .

[١٠٤٣](۴۵) يو چا غُلاَم په دې شرط خرڅ کړۍ چي مُشتَرِي به د ثَمَن پـه بَدلَـه کـي يو معلوم شَئ دده سره په ګَرَوٌ کي اِږدِي. بيامُشتَرِي د ګَرَوٌ د حَوَالَګۍ څخه منع سو نو پر حَوَالَه کولو باندي به نَه مجبوره کوي.او بَـائِع تـه بـه اِختِيَـار وي کـه خُوښَـه سـي د رِهن پر پرېښُوَلُو دي راضي سي او که خُوَښَـه سـي بَيـعَ دي فَسـخ کـړي مګر دا چـي مُشتَرِي سَم دَستِي ثَمَن اداّء کړي يا د رِهن قيمت اداّء کړي چي هغه رِهن سي .

تشريح : يو چا په دې شرط سره غُلاَم خرڅ کړۍ چي مُشتَرِي به د ثَمَن په بَدلَه کي يو معلوم شئ مثلاً بُوزَه په ګَرَوٌ کي اِږدِي او ثَمَن به وروسته ورکوي. لېکن مُشتَرِي هغـه معلوم شئ په ګَرَوٌ کي نَـه کښېښـوئ نـودئ بـه د رِهـن پـر اِيښُـوَلُو بـاندي نَـه مجبـوره کوي.لېکن خو بائع بېله رِهن د مَبِيع پر ورکولو باندي نَه دئ راضـي او هغه اِعتِمَاد نَـه لري نو ځکه وده ته دُوَه اختيار دي. يا دي بَيع فسخ کړي يا دي بېله ګـَرَوٌ اِيښُـوَلُو بيـع قائم وساتئ. او که مُشتَرِي نَه غُوَاړِي چي بيع فسخ سـي نـو بيـا پـر ده بانـدي لازم دئ چي فورًا د مبيع قيمت اداّء کي.يا دي دِرهن قيمت ورکړي هغـه د رِهـن قيمـت دي پـه رِهن کي کښيږدي او د مبيع د ورکولو حُکم دي وکړي .

وجه : په دې مسئله کي څو خبري ملحوظ دي. د ثَمَن په بدله د رِهن اِيښُوَلُو شرط خلافِ قياس دئ.ځكه چي دا په بيع کي يَو نوئ شرط دئ چي دبائع فائده پکښې ده. او مخکي تېر سوي دي چي حضورﷺ په بيع کي د يو بِلِي معاملې د داخلېدو څخه منع کړې ده عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺ مَن بَاعَ بَيعَتَينِ فِي بَيعَةٍ فَلَهُ

[۱۰۴۴](۴۶) وَ لِلمُرتَهِنِ اَن يَحفَظَ الرِّهنَ بِنَفسِهِ وَ زَوجَتِهِ وَ وَلَدِهِ وَخَادِمِهِ اَ لّذِي فِي عَيَالِهِ .

اَوكَسُهَا اَوِ الرِّبَا (الف) ابوداؤدشريف.باب فيمن باع بيعتين في بيعةٍ ص۱۳۴نمبر ۳۴۶۱) په دې حديث کې په بيع کي د بَلِي بيع کولو څخه منع کړې ده. نو دقياس تقاضا خو داده چي دثَمَن په بَدلَه کي درِهن د اِيښُوَلُو په شرط سره بايدبَيع فاسد سوې وائي.لېکن اِستِحسَانًا ئې دا بيع جائز کړې ده.ځكه چي دا شرط د بيع موافق شرط دئ. د بائع د اِعتِمَاد او وَثِيقې لپاره د رِهن شرط لګولئ دئ. نوځکه په دې شرط سره بيع نَه فاسدېږي.خو بيا هم رِهن اِيښُوَل تَبَرُع دئ كه چيري مُشتَرِي رِهن نَه کښېږدي نو مجبوره کوي به نَه. البته دا شرط مَرغُوبٌ فِيه نَه دئ نو ځکه وبائع ته د بيعِ دفسخ کولو اختيار سته. مګر! كه چيري مُشتَرِي پُور پرېښُوَئ او پوره قيمت ئې اداَء کئ يائې د رِهن قيمت اداَء کئ او هغه قيمت د رِهن په بَدلَه کي په رِهن کي کښېږدي نو بيا دبيعِ د فسخ کولو اِختِيَار نَه لري .

[۱۰۴۴](۴۶) و مُرتَهِن ته دا جواز سته چي په خپله د رِهن حفاظت وکي.او دده بِي بِي او دده اَولاد او دده هغه خَادِم چي دده په عَيَال کي دئ هغه ئې حفاظت وکي .

تشريح : لكه څَه رنګه چي مُرتَهِن په خپله د خپل مال حفاظت کوي په خپله مَينَه.په خپل اَولاَد او په خپل خاص خادم ئې حفاظت کوي.دغه رنګه د رِهن د مال حفاظت هم په خپله کولائي سي او په خپله مَينَه په خپلو بَچَانُو او په خپلو خاصُ مَزدُورَانُو ئې هم حفاظت کولائي سي. دا تَعَدِّي نَه ګڼل کيږي که په غه رنګه حفاظت کولو باوجودمالِ رِهن هلاک سي نو دا نَه سي ويل کېدائي چي ده په حفاظت کولو کي کوتاهي کړې ده (۲) انسان د مختلفو ضرورتو لپاره د کور څخه دَبَاندِي وُزِي نوپه

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل كوم چاچي په يَوَه بيع کي دُوې بيعِ وکړې دهغه لپاره دهغه كمه درجه ده يا سُود دئ .

[۱۰۴۵](۴۷) وَ اِن حَفَظَهُ بِغَيرِ مَن هُوَ فِي عَيَالِهِ اَو اَودَعَهُ ضَمِنَ

[۱۰۴۶](۴۸) وَ اِذَا تَعَدّي المُرَتَهِنُ فِي الرّهنِ ضَمِنَهُ ضَمَانَ الغَصبِ بِجَمِيعِ قِيمَتِهِ .

خپله مَينَه او بچانو باندي د حفاظت كولو ضرورت پيښيږي نـو ځكـه د خپـل مـال پـه ركم په دې خلګو باندې هم حفاظت كولائي سي .

پام لرنه : بعض خادمان دارنګه وي لكه يَو نُـوكَر او مَـزدُور چـي خپـل كـار وكـي او وُلاَړ سي. هغه خَادِمِ خَاص نَه دئ. بلكه مُرتَهِن چي د چا د نَان او نَفَقې ذِمّـه داره وي هغه خَادِمِ خَاص دئ په هغه باندې حفاظت كولائي سي .

[١٠۴۵](۴٧) كه د رِهن حفاظت وكـئ په هغه چا چي دده د عَيَال څخـه عـلاوه دئ يـا ئې دهغه سره وَدِيعَت كښيښوئ نو ضَامِن به وي .

تشريح : مُرتَهِن دخپل عَيَال څخه علاوه په بَل چا باندي د شَـئِ مَرهُـون حفاظـت وكـئ او هغه هلاک سو نو دئ به ضَامِن وي .

وجه : ده لره په كار وُ چي په خپل عَيَال باندې د شَئِ مَرهُُون حفاظت كړئ وائـي او دعَيَال څخه علاوه په بَل چاباندي حفاظـت كـول تَعَدِّي ده.نـو ځكـه مُـرتَهِن بـه د شَـئِ مَرهُون ضَامِن وي.دغه رنګه كه د عَيَال څخه علاوه د بَل چا سره شَئِ مَرهُون اَمَانَـت كښيښُوَئ او هغه هلاک سو نو مَرتَهِن به ضَامِن وي .

اُصُول : د عَيَال څخه علاوه په بَل چاباندي حفاظت كول تَعَدِّي ده .

[١٠۴۶](۴٨) كه مُرتَهِن په رِهن كي تَعَدِّي وكـي نـو هغـه بـه ضَـامِن وي د غَصـب د ضَمَان دهغه د پوره قيمت .

تشريح : مُرتَهِن پر شَئِ مَرهُون باندي تَعَدِّي او زِيَاتُوب وكړئ چي دهغه په وجـه شَـئِ مَرهُون هلاک سو نو چي د هغه څونه قيمـت وُ د هغـه بـه دئ ضَـامِن وي. لكـه څَـه رنګه

[١٠۴٧](۴٩) وَ اِذَا اَعَارَ المُرتَهِنُ الـرّاهِنَ فَقَبَضَـهُ خَـرَجَ مِـن ضَـمَانِ المُرتَهِنِ [١٠۴٨](۵٠) فَاِن هَلَکَ فِي يَدِالرّاهِنِ هَلَکَ بِغَيرِ شَئٍ .

چي د غَصب وروسته شَئ مَغصُوب هلاک كړي نودپوره قيمت ضَامِن وي دغه رنګـه شَئِ مَرهُون په قصد سره تَعَدِّي ورسره وكـړي او هـلاک ئـې كـړي نـو هـم بـه دپـوره قيمت ضَامِن دئ. مثلاً نَه روپۍ قرض ئې اخستئ وُ او د لَسُوروپۍ بُـوزَه ئـې پـه ګـرَوُ كي كښيښُوَه. نو كه چيري ببِله تَعَدِّي هلاکَ سوه نو دقـرض نَـه روپـۍ كـاټ سـوې. او يَوَه روپي اَمَانَت وه هغه ورَاهِن ته دوَاپَس وركولو ضرورت نسته. ځكـه چـي اَمَانَـت ببِله تَعَدِّي هلاک سي نـو دهغـه د وَاپَس وركولـو ضـرورت نسـته .لـېكن دَلتَـه مُـرتَهِن تَعَدِّي كړې ده او بُوزَه ئـې هـلاک كـړې ده نـو ځكـه د پـوره قيمـت يعنـي لَـس روپـۍ ضَامِن به وي .

[١٠۴٧](۴٩) مُرتَهِن و رَاهِن ته عارِيَةً شَئِ مَرهُون وركړي او رَاهِن پـر هغـه بانـدي قبضه وكړه نو شَئِ مَرهُون د مُرتَهِن د ضَمان څخه ووائ .

تشريح : مُرتَهِن د عَارِيَت په توګه و رَاهِن ته شَئِ مَرهُون ورکړي او رَاهِن پر هغه باندي قبضه هم وکړه نو چي د چا شَئ وُ هغه ته بېرته وَاپَس راغلئ.او د مُرتَهِن د قبضې څخه وواتئ.نو ځکه هغه شَئ د مُرتَهِن په ضَمَان کي نَه سو پاته.اُوس که چيري هلاک سي نو د رَاهِن شَئ به هلاک سي .

وجه : ځکه چي شَئ مَرهُون دده قبضې ته راغلئ .

[۱۰۴۸](۵۰) بيا که چيري د رَاهِن په لاَس کي هلاک سو نو بېله څَه شِي به هلاک سي .

تشريح : شَئِ مَرهُون خو د رَاهِن شَئ وُ د قبضې وروسته رَاهِن ته راغلئ او دده سره هلاک سو نو ده ته به هيڅ شَئ نَه ورکول کيږي .

وجه :ځکه چي دده شَئ ُ دده سره هلاک سو.دهغه قيمت به وچاته ورکوي؟خواُوس

[۱۰۴۹](۵۱) وَ لِلمُرتَهِنِ اَن يَستَرجِعَهُ اِلْي يَدِهِ فَاِذَا اَخَذَهُ عَادَ الضّمَانُ عَلَيهِ [۱۰۵۰](۵۲) وَ اِذَا مَاتَ الرّاهِنُ بَاعَ وَصِيّهُ الرّهنَ وَ قَضْي الدّينَ .

دي فورًا و مُرتَهِن ته دَين ور اداَء کړي يا دي د شَئِ مَرهُون قيمت و مُرتَهِن ته ورکړي چي هغه ددې قيمت په رِهن کي کښيږ دي. خو د قيمت پر ورکول باندي به نَه مجبوره کوي. ځکه چي رِهن خو يَو تَبَرّع وي او پر تَبَرّع باندي څوک نَه سي مجبوره کېدلائي .

اُصُول : چي د کوم چا شَئ وي دهغه سره هلاک سي نو پر هغه باندي هيڅ شَئ نَه لازميږي. نه تَاوَان نه ضَمَان .

پام لرنه : په دې صورت کي د مُرتَهِن هيڅ ډَوَل دَين نَه ساقطيږي.ځکه چي دده سره خو شَئِ مَرهُون نه دئ هلاک سوئ .

[۱۰۴۹](۵۱) مُرتَهِن ته جواز لري چي شَئِ مَرهُون خپل لاَس ته وَاپَس کړي.بيا چې کله واخلي نو بېرته پر ده باندي ضَمَان راغلئ .

وجه : ځکه چي رَاهِن ئې عَارِيَةً واخلي نو په دې سره د رِهن معامله نَه ختميږي. هغه شئ اُوس په رِهن کي پروت دئ.په دغه وجه مُرتَهِن دا حق لري چي د رَاهِن څخه بېرته وَغُوَارِي.که رَاهِن بېرته ورکړئ نو هغه شَئ به دمخکي په شان رِهن وګرزي.او د هلاکت په صورت کي مُرتَهِنِ د مخکي په شان ضَامِن دئ .

اُصُول : دلته اُصُول دادئ چي رَاهِن عَارِيَةً شَئِ مَرهُون د مُرتَهِن څخه واخلي نو په دې سره د رِهن معامله نَه ختميږي بلکه هغه پر خپل ځائ پاته ده .

[۱۰۵۰](۵۲) که رِهن مَړ سي نو د رَاهِن وَصِي به شَئِ مَرهُون خرڅوي او دَين به اداَء کوي .

[١٠٥١](٥٣) فَاِن لَم يَكُن لَهُ وَصِيٌ نَصَبَ القَاضِيُ لَهُ وَصِيًا وَ اَمَرَهُ بِبَيعِهِ .

تشريح : رَاهِن مَړ سو نو د رَاهِن وَصِي دا حق لري چي شَئِ مَرهُون خرخ کړي د مُرتَهِن قرض په اداٴ کړي .

وجه : وَصِي د رَاهِن په ژُوَند کي د شَئِ مَرهُون د خرخولو او د دَين د اداٴ کولو حق درلودئ نو دهغه دمرگ وروسته خو په درجه اَولْي سره د شَئِ مَرهُون دخرخولو او د دَين د اداٴ کولو اِختِيَار لري .

[١٠٥١](٥٣) بيا که چيري د رَاهِن وَصِي نَه وي نو قاضي به دهغه لپاره يَو وَصِي مقرروي او هغه ته به د شَئِ مَرهُون د خرخولوحُکم ورکوي .

تشريح : رَاهِن مَړ سو او دَين ئي لاَ نَه وُ اداٴ کړئ او د شَئِ مَرهُون د خرخولولپاره ئي بَل څوک هم نَه وُ مقرر کړئ چي هغه دي شَئِ مَرهُون خرخ کړي او دَين دي په اداٴ کړي.په داسي صورت کي به قاضي دشئِ مَرهُون د خرخولو لپاره او د دَين د اداٴ کولو لپاره وَصِي مُتَعَيّن کوي.هغه به دا خرخوي د مُرتَهِن دَين به اداٴ کوي .

وجه : قاضي ددې لپاره دئ چي د چا حق ضائع نَه سي.دلته د مُرتَهِن د حق د ضائع کېدو خطره وه نو ځکه قاضي به دده لپاره وَصِي مقرر وي چي د مُرتَهِن حق وصول سي .

اُصُول : چي د حق د ضائع کېدو خطره وي نو قاضي به دهغه نِگرَانِي کوي.دا اُصُول د ,, لاَضَرَرَ وَ لاَ ضَرَارَ ,, حديث په رُونَا کي دئ .

..... كِتَابُ الحِجرِ .....

[١٠٥٢](١) اَلاَسبَابُ المُوجِبَةُ لِلحِجرِ ثَلْثَةٌ اَلصِّغرُ وَالرِّقّ وَالجُنُونُ .

..... كِتَابُ الحِجرِ .....

ضروري پام لرنه : د حِجر معنْي ده مَنعَ کول.دلته د حِجرمطلب دادئ چي اِنسَان د خرخولو رَانِيوَلُو څخه منع کړي ددې لپاره چي بَل چاته نُقصَان ونَه رسيږي مثلاً کِشنَئ بَچَئ د خريد او فروخت څخه منع کړي چي دده د بېوقوفئ څخه دده و وَلِي ته نُقصَان ونه رسيږي.د حِجرثبوت په دې آيت کي دئ (١) وَ اِبتَلُوا اَليَتْمي حَتْي اِذَا بَلَغُوا النِّكَاحَ فَاِن اْ نَستُم مِنهُم رُشدًا فَادفَعُوا اِلَيهِم اَموَالَهُم (الف) (آيت ۶سورة النساٴ ۴) په دې آيت کي ويل سوي دي چي نابالِغ يتيم و آزموئ.که چيري په هغه کي عقل او پُوهَنَه وويذئ

نووهغه ته مَال ورکئ او که چیري پُوهَنَه ونَه ویذئ نو وهغه ته خپل مَال مَه ورکوئ.د دغه مال نَه ورکولو نوم حِجر دئ. (٢) ددي ثخه مخکي آیت کي دارنګه دئ وَ لاَ تُؤتُوا اَلسُفَهَآ ءَ اَموَالَکُم (ب) (آیت ٥سورة النسآء ۴) په دي آیت کي دئ چي کوم ثوک چي بېوقوف وي وهغه ته خپل مالونه مَه ورکوئ (٣) او په حدیث کي دئ عَن کَعبِ بِنِ مَالِکٍ اَنّ رَسُولَ اللهِ ﷺحَجَرَ عَلْي مُعَاذٍ مَالِهِ وَ بَاعَهُ فِي دَینٍ کَانَ عَلَیهِ (دارقطني.کتاب في الاقضیة والاحکام ج۴ ص١۴٨١نمبر۴٥٠٥\سنن للبیهقي.باب الحجرعلي المفلس وبیع ماله في دیونه ج۶ص٨٠نمبر١١٢۶٠) په دي حدیث کي دئ چي پر حضرت مُعاذبن جبل باندي دَین وُ دهغه په وجه پر ده باندي حِجر کړئ وُ .

[١٠٥٢](١) حِجر واجبونکي اَسبَاب درې دي کِشنِیوَالَئ.مَرِیثُوب او لېوَنثُوب .

حاشیه : (الف) یتیمان وآزموئ،ترهغوچي دُوئي بَالِغ سي او د نکاح قابل سي،بیاکه په دُوئي کي صَلاَحِیّت وَوِینَئ نو ودُوئي ته مَال ورکَئ (ب) وبې وقوفانو ته د دُوئي مَال مَه ورکئ .

تشریح : دا درې اَسبَاب داسي دي چي ددې په وجه حِجر کیږي او انسان د خرید او فروخت ثخه منع کول کیږي.په کِشنِیوَالِي کي خو د عَقل کَمِي وي وکِشنِي ته دا نَه معلومیږي چي زه بنَه شَئ اَخلَم که خراب شَئ اَخلَم.نو ځکه دئ د خرید او فروخت ثخه منع کول کیږي.خو په مُستَقبِل کي دا اُمید دئ چي دئ بَالِغ سي نو عقل به پکښي راسي او مُعَامَلاَت به دُرُست کړي.نوځکه د وَلِي په اجازت سره خرید او فروخت کولائي سي. په غُلاَم کي خوعَقل وي لېکن دده په خرید او فروخت سره و مولْي ته د نُقصَان رسېدلوخطره سته نو ځکه دئ به هم د معاملې کولو ثخه منع کول کیږي. او په مجنون یعني لېونِي کي هم عقل نَه وي نو ځکه هغه به هم د خرید او فروخت ثخه منع کول کیږي.دمنع کولودلیل مختته تېرسوئ آیت دئ (١) وَ اِبتَلُوا اَلیَتْمي حَتْي اِذَا بَلَغُوا النِّکَاحَ فَاِن اٰ نَستُم مِنهُم رُشدًا فَادفَعُوا اِلَیهِم اَموَالَهُم (الف) (آیت ۶سورة النسآء ۴) په آیت کي دئ که چیري په دُوئي کي د مُعاملې کولو صلاحِیّت وویذئ نو بیا ویتیمانو ته خپل مالونه ورکئ که نَه نو مَې ورکوئ.نوځکه په آیت کي ددې خلکو د حِجر ثبوت سته (٢) په حدیث کي دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ مَرّ عَلَيّ عَلِيُ بِنِ اَبِي طَالِبٍ بِمَعنًي عُثمَانُ قَالَ اَوَمَا تَذکُرُ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺ قَالَ رُفِعَ القَلَمُ عَن ثَلْثَةٍ عَنِ المَجنُونِ المَغلُوبِ عَلْي عَقلِهِ حَتْي یُفِیقَ وَ عَنِ النّائِمِ حَتْي یَستَیقِظَ وَعَنِ الصّبِيِّ حَتْي یَحتَلِمَ قَالَ صَدَقتَ (ب) (ابواداؤدشریف . باب في المجنون یسرق اویصیب حدًا ص٢٥۶نمبر۴۴٠١\بخاري شریف.باب لایرجم المجنون والمجنونة ص١٠٠۶نمبر۶٨١٥) په دې حدیث کي دئ چي تر ثو پوري کِشنَئ بَالِغ سوئ نَه وي او لېوَنَئ په سَدکي رَاغلَئ نَه وي ترهغه وخته پوري ددُوئي

حاشيه : (الف) يتيمان وآزموئ،ترهغوچي دُوئي بَالِغ سي او د نكاح قابل سي،بياكه په دُوئي كي صَلاَحِيّت وَوِينَئ نو ودُوئي ته مَال ورگَئ (ب) آيا و تاته ياد نَه دئ چي حضور وفرمائل چي د دُرُو كسانو څخه قلم پورته سوئ دئ (يعني د هغو دخَبَرِي هيڅ اعتبار نسته) د لېونِي څخه چي عَقل ئې مَغلُوب سوئ وي تر هغه وخته چي په هُوښ كي نَه وي راغلئ. او د بِيدَه څخه تر هغه وخته چي رَاوِښ سوئ نه وي او د كِشنِي بَچِي څخه تر هغه وخته چي بَالِغ سوئ نه وي. حضرت عَلِي وفرمائل تَا رِشتِيَا وويل .

[۱۰۵۳](۲) وَ لاَ يَجُوزُ تَصَرّفُ الصّغِيرِ اِلاّ بِاِذنِ وَلِيّهِ [۱۰۵۴](۳) وَ لاَيَجُوزُ تَصَرُفُ العَبدِ اِلاّ بِاِذنِ سَيِّدِهِ .

څخه قَلَم پورته دئ يعني چي دُوئي هر كار وكي پر دُوئي باندي هيڅ ډَوَل اِلزَام نَه راځي او په بَيعَ و شِرَ آء كي خو اِلزَام او ذِمّه دَارِي وي.نوپه دې وجه دُوئي د بيع او شِرَ آء اَهل نَه دي. پاته سو غُلاَم نو په هغه كي عقل خو سته لېكن د مَولْي د نُقصَان په وجه به و دُوئي ته د خريد او فروخت اجازه نَه وركول كيږي. لېكن ! كه چيري مَولْي اجازت وركړي نو بيا خريد او فروخت كولائي سي. د غُلاَم د حِجر وجه دا حديث دئ عَن عَمرِبنِ شُعَيبٍ اَنّ النّبِیّﷺ قَالَ لاَ طَلاَقَ اِلاّ فِيمَا تَملِكُ وَ لاَ عِتقَ اِلاّ فِيمَا تَملِكُ وَ لاَ بَيعَ اِلاّ فِيمَا تَملِكُ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في الطلاق قبل النكاح ص۳۰۵نمبر۲۱۹۰) په دې حديث كي دئ چي دكوم شِي چي دئ مَالِک نَه وي دهغه بيع نَه سي كولائي او غُلاَم د يَوَه شِي مَالِک نه دئ هرڅَه مال چي دده سره دئ هغه د مَولْي دئ نو ځكه دئ په رَانِيوَلو او پُلُورَنَه (خريداوفروخت) كي مَحجُور دئ.

لُغَت : اَلصِّغرُ : كِشنِيوَالَئ. اَلرِّقُ : غُلاَم وَالَئ .

[۱۰۵۳](۲) او جائز نَه دئ دكِشنِي تصرف مګر دهغه د وَلِي په اِجَازَه سره .

وجه : په كِشنِي بَچِي كي عَقل كَم وي.لېكن د بُلُوغ څخه مخكي څَه نَه څَه سَمَجدَارِي په اِنسان كي راځي او كله هغه ډېره ښَه مُعَامَلَه وكي نوځكه كه وَلِي مناسب وګڼي نو نَافِذ دې كړي.خو د وَلِي پر اجازت به موقوف وي .

[۱۰۵۴](۳) او جائز نَه دئ د غُلاَم تصرف مګر دهغه د مولْي په اجازه سره .

وجه : په بَالِغ غُلاَم كي عَقل خو وي لېكن كه چيري ډېر زيات تِجَارَت وكي نو دا

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل طلاق نه واقع كيږي مګر دكوم شِي چي مَالِک وي.يعني نِكاح وي.او آزادي نَه واقع كيږي مګر دكوم شِي چي مالک وي او بَيع نَه ده مګر دهغه شِي چي مَالِک ئې وي (يعني دكوم شِي چي مالک وي دهغه بيع كولائي سي) .

[۱۰۵۵](۴) وَ لاَ يَجُوزُ تَصَرُفُ المَجنُونِ اَلمَغلُوبِ عَلْي عَقلِهِ بِحَالٍ [۱۰۵۶](۵) وَ مَن بَاعَ مِن هْؤلاَءِ شَيئًا اَو اِشتَرَاهُ وَ هُوَ يَعقِلُ البَيعَ وَ يَقصُدُهُ فَالوَلِيُ بِالخِيَارِ اِن شَآ ءَ اَجَازَهُ اِذَا كَانَ فِيهِ مَصلَحَةٌ وَ اِن شَآ ءَ فَسَخَهُ .

اِمکان سته چي دتجارت قرض دده پر غَاړَه (سَر) باندي راسي.او بيا بـه مَـولْي دده قرض ادآء کوي او دا به د مولْي نُقصَـان وي.نـو ځکـه د مَولْي پـه اجازه سره غُـلاَم تجارت کولائي سي .

[۱۰۵۵](۴) او داسي لېوَنَئ چي عَقل ئې مَغلُوب وي دهغه تصرف په يوه حـال جـواز نَه لري .

تشريح : لېونئ پر دوه قسم دئ. يو هغه لېونئ چي کله نا کله ښَه وي په سَد کي وي. د داسي لېوني مُعَامَلَه د ښَه وَالِي په زمانـه کـي صـحيح ده. يـو بيـا هغـه لېـوَنَئ دئ چـي دهغه عَقل مَغلُوب سوئ وي او هـيڅ وخـت هـم پـه هُوښ او سَد کـي نَـه وي دارنګـه لېوَنَئ بالکليه عقل نَه لري.نو ځکه دداسـي لېـوَنِي مُعَامَلَـه او خريـد و فروخـت پـه يـوه حال کي هم نَه صحيح کيږي .

اُصُول : د مُعَامَلَې کولو دارومدار پر عقل باندي دئ.نو ځکه څوک چي عقل نَـه لـري وهغو ته د مُعَامَلې کولو اجازه نسته. يا به د هغه مُعَامَلَه موقوف وي .

[۱۰۵۶](۵) د دې خلګو څخه يو چا يو شَئ رَانِيوَئ يا ئې خرڅ کړئ پـه داسـي حـال کي چي دُوئي په بيع پوهيږي او دهغه اراده کوي نو و وَلِي تـه اختيـار دئ کـه خُوَښَـه سي نو اجازت دي ورکړي که چيري په هغه کي مَصلَحَت ووينـي او کـه خُوَښَـه سـي هغه دي فسخ کړي .

تشريح : کِشنَئ.غُلاَم او لېوَنَئ د دُوئي څخه کـه چيـري يوخريـد او فروخـت وکـي پـه داسي حال کي چي په بَيعَ پوهيږي او دبيع د کولو اراده وکړي.په مَذَاق او ګپَه کي

[۱۰۵۷](۶) فَهٰـذِهِ المَعَـانِيُ الثّلٰثَـةُ تُوجِـبُ الحِجـرَ فِـي الاَقـوَالِ دُونَ الاَفعَالِ .

نَه وي نو که چيري دهغـه پـه اجـازت ورکولـو کـي مَصلَحَت وي نـو وَلِـي دي دهغـه اجازت ورکي او خريدوفروخت دې نَافِذ کړي.او کـه مَصلَحَت نَـه وي پکښـې نوهغـه خريدوفروخت دي فَسخ کـړي. د سَمَجدَارَه بچـي د وَکِيـل جوړولـو دليـل هغـه حـديث دئ.چي په هغه کي عُمربن ابي سلمة چي کِشنَئ بچـئ وُ خپلـي مُـور دخپـل وَادَه وکيـل جوړ کئ. عَن اُمِّ سَلَمَةَ لَمّا اِنقَضَت عِدّتُهَا ... فَقَالَت لِاِبنِهَا يَا عُمَـرُ قُـم فَـزَوِّج رَسُـولَ اللهِ فَزَوّجَهُ (مختصرنسائي شريف.باب انکاح الابن اُمّهُ ص۴۵۰نمبر ۳۲۵۶) .

پام لرنه : په عبارت کې ,, وَيَقصُدُ ,, لفظ ويلئ دئ.چي لېونئ او کِشنَئ کلـه نـا کلـه د مَذَاقَ هم خريدوفروخت کوي.نوځکه هغه اِعتِبَار نَه لري.چي د بيعِ کولو اَرَادَه ئـې وي نو بيا بيع ده چي حقيقةً ايجاب و قبول موجود سي .

[۱۰۵۷](۶) دغه درې وُجُوهَات حِجر واجبوي په اَقوَالُو کي نَه په افعالو کي .

تشريح : د لېونتوب.کِشنِي وَالِي او مَرِيڅُوب په وجـه حَجـر لازميږي.لېکن صـرف پـه قول او خبرو کي به حجر وي چي دده د خبرو اعتبار سته که نَه. لېکن کـه چيـري دئ

يو كار وكي مثلاً يوڅوک قتل كينو دهغه اَثَر خو سته دهغه دِيَت به لازم سي.يا غَلاَ وكي نو دهغه تَاوَان به لازم وي يا يو څوک وَوَهِي نو دهغه ضَمَان لازميږي.دا ټوله ځكه چي دا افعال ئې وكړل.او كه په خَارِج كي د يوچا نُقصَان وكي نو نُقصَان به اداء كوي.البته دارنګه افعال چي دهغه څخه حُدُود او قصاص لازميږي هغه پر لېوَنِي او كِشنِي باندي نَه لازميږي.ځكه چي دا په شُبهَاتُ سره ساقطيږي.او كېدلائي سي چي لېوَنِي او كِشنِي دا كارونه د شُبهې په وجه كړي وي.او په دي كي د دُوئي د پخې ارادې دَخل نَه وي. نوځكه ددُوئي د افعالوڅخه حُدود اوقصاص نَه لازميږي.كه دنوروافعالوڅخه نُقصَان رسېدلئ وي نووَلِي به دهغه ضَمَان وركوي.

[۱۰۵۸](۷) وَ اَمّا اَلصّبِىُ وَ المَجنُونُ لاَ تَصِحُ عُقُودُهُمَا وَ لاَ اِقرَارُهُمَا وَ لاَ يَقَعُ طَلاَقُهُمَا وَ لاَ اِعتَاقُهُمَا .

اقوال هم پر درې قسم دي. داسي قول چي په هغه كي د لېوَنِي او كِشنِي خالص ګټه وي لكه هِبَه او هَدِيَه قبلول. دا خو كولائي سي.ځكه چي په دي كي د دُوئي خالص ګټه ده هيڅ ډول تَاوَان ئې نَه دئ پكښې. دوم هغه اقوال دي چي په هغه كي د دُوئي خالص تَاوَان وي لكه طلاق وركول غُلام آزادوَل. دا خو بالكل نَه سي كولائي. ځكه چي په دي كي د دُوئي نُقصَان دئ. دريم هغه اقوال وي چي هغه فَائِدَه مَند هم كېدلائي سي او نُقصَان دِه هم كېدلائي سي.هغه به موقوف كيږي. كه چيري وَلِي په هغه كي مَصلَحَت ويني نو نَافِذ دې كړي او كه مُناسِب وګڼي نو رَد دې كړي. لكه خريد او فروخت .

[۱۰۵۸](۷) بهرحال بَچَئ او لېوَنَئ نو دهغو نَه عقد صحيح كيږي او نَه اِقرَار كول. او نَه د دُوئي طلاق واقع كيږي او آزادَوَل .

تشريح : بَچَئ او لېوَنَئ عقل نَه لري نو ځكه د دُوئي د اقوالو اعتبار نسته. او عَقدكول.اِقرَاركول.طلاق وركول او آزادَوَل دا ټوله اَقوَال دي نو ځكه ددې اِعتِبَار نسته. البته په عقد يعني خريد او فروخت كولو كي فائده او نُقصان دواړه كېدلائي سي نو ځكه د وَلِي پر اجازت به موقوف پاته وي. په اِقرَار كولو كي سراسر نُقصَان دئ نو ځكه هغه هم اِعتِبَار نَه لري. او كه هغه طلاق وركړي يا آزادي وركړي نو طلاق نَه واقع كيږي او نَه غُلاَم آزاديږي .

وجه : (۱) په دي كي هم نُقصَان دئ.په طلاق كي مَينَه (بِي بِي) د لاَسَ څخه وُزِي او په آزادولو كي غُلاَم د لاَسَ وُزِي نو ځكه ددې هم هيڅ اِعتِبَار نسته. په حديث كي ددې ثبوت سته عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺ كُلّ طَلاَقٍ جَائِزٌ اِلاّ طَلاَقُ المَعتُوهِ المَغلُوبِ عَلْي عَقلِهِ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجآء في طلاق المعتوه ص ۲۲۳

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل هرطلاق جائز دئ مګر د مَعتُوه مَغلُوبُ العَقل طلاق .

[۱۰۵۹](۸) فَاِن اَتلَفَا شَيئًا لَزِمَهُمَا ضَمَانَهُ [۱۰۶۰](۹) وَ اَمّا العَبدُ فَاَقوَا لُهُ نَافِذَةٌ فِي حَقِّ نَفسِهِ غَيرُ نَافِذَةٍ فِي حَقِّ مَولاَهُ .

نمبر۱۱۹۱\بخاري شريف.باب الطلاق في الإِغلاَق والكره ص۷۹۳ نمبر۵۲۶۹) په دې حديث كي دئ چي مَعتُوه يعني دچاچي عَقل مَغلُوب سوئ وي دهغه طلاق نَه واقع كيږي.او كِشنَئ هم مَغلُوبُ العَقل دئ نو ځكه دهغه طلاق هم نَه واقع كيږي. عَن عَلِيٍّ لاَ يَجُوزُ عَلْي الغُلاَمِ طَلاَقٌ حَتْي يَحتَلِمَ (الف) (مصنف عبدالرزاق .باب طلاق الصبيِّ ج۷ص۸۵نمبر۱۲۳۱۶) (۲) ددې څخه علاوه مخته حديث تېرسوئ دئ چي د دُرُو كسانو څخه قَلَم پورته سوئ دئ. د كِشنِي بَچِي.لېوَنِي او بِيدَه څخه. نو ځكه ددې خلګو طلاق نَه واقع كيږي .

[۱۰۵۹](۸) كه چيري د دې دُوُ يو شَئ ضَائِع كئ نو ضَمَان به لازم سي .

تشريح : لېوَنِي او كِشنِي په خپل حركت او فعل يوشَئ ضائع كړئ نو ددې ضمان به پر دې دُوُ باندي راځي.او د دُوئي وَلِي به د دُوئي ضَمَان اداّء كوي .

وجه : (۱) ددې خلګو د قَول هيڅ اِعتِبَار نسته لېكن د اَفعَالُ اِعتِبَار ئې سته (۲) د نورو د حقوق لپاره به ضَمَان اداّء كوي. كه نَه نو دخلګو حقوق به ضَائِع سي .

اُصُول : د بَل چا نُقصَان چي هر څوک وكي ضَمَان به اداّء كوي .

[۱۰۶۰](۹) پاته سو غُلاَم نو دهغه اَقوَال نَافِذدي دده د خپل ذَات په حَقلَه او نَه دي نَافِذ دده د مَولْي په حَقلَه .

تشريح : بَالِغ غُلاَم عقلمنددئ لېكن د مَولْي د نُقصَان او دهغه د حَق په وجه دده اَقوَال نَه نافذيږي او نَه دده خريدوفروخت نَافِذيږي. لېكن دده دخپل ذَات په حقله دده اقرار او دغه رنګه بَل شَئ نَافِذ دئ. مثلاً دئ وخپله بِي بِي ته طلاق وركول غُوَارِي نو دا دده دخپل ذَات نُقصَان دئ نو ځكه طلاق وركولائي سي .

[۱۰۶۱](۱۰) فَاِن اَقَرّ بِمَالٍ لَزِمَهُ بَعدَ الحُرِّيّةِ وَ لَم يَلزِمهُ فِي الحَالِ

وجه : (۱) په حديث كي ددې ثبوت سته چي ددغُلاَم قول د ده دخپل ذَات په حقله نَافِذ دئ. عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ اَتْي النّبِیَﷺ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ اِنّ سَيِّدِي زَوّجَنِي اَمَتَهُ وَهُوَ يُرِيدُ اَن يُفَرِّقَ بَينِي وَبَينَهَا قَالَ فَصَعِدَ رَسُولُ اللهِﷺ اَلمِنبَرَ فَقَالَ يَا اَيّهَا النّاسُ مَا بَالُ اَحَدِكُم يُزَوِّجُ عَبدَهُ اَمَتَهُ ثُمّ يُرِيدُ اَن يُفَرِّقَ بَينَهُمَا اِنّمَا اَلطّلاَقُ لِمَن اَخَذَ بِالسّاقِ (الف) (ابن ماجه شريف.باب طلاق العبدص۲۹۹نمبر۲۰۸۱\ دارقطني.كتاب الطلاق ج۴ص۲۵نمبر۳۹۴۸) په دې حديث كي مَولْي غُوَښتَل چي د خپل غُلاَم و بِي بِي ته طلاق وركي لېكن حضور منع وكړه او وفرمائل چي د طلاق وركولو حق وهغه ته حاصل دئ چاچي پُندَئ نِيوَلې ده يعني نكاح ئې كړې ده. او نكاح غُلاَم كوي نو ځكه د طلاق وركولو حق هم و غُلام ته

حاشيه : (الف) د حضرت علي څخه روايت دئ وفرمائل چي جواز نَه لري د هَلَک طلاق تر هغه وخته چي اِحتِلاَم سوئ نَه وي .

حاصل دئ (۲) په يو بَل حديث کي دئ اَنّهُ اُستُفتِيَ اِبنُ عَبّاسٍ فِي مَملُوکٍ کَانَت تَحتَهُ مَملُوکَةٌ فَطَلّقَهَا تَطلِيقَتَينِ ثُمّ عُتِقَا بَعَد ذَالِکَ هَل يَصلِحُ لَهُ اَن يَخطِبَهَا ؟ قَالَ نَعَم قَضْـي بِـذَالِکَ رَسُولُ اللهِ ﷺ (ب) (سـنن ابوداؤد.بـاب فـي سـنة طـلاق العبـد ص۳۰۴ نمبـر ۲۱۸۷) پـه دې حديث کي دئ چي غُلاَم وخپله بِي بِي تـه طـلاق ورکـړئ. ددې څخـه معلـوم سـو چـي غُلاَم وخپله مَينَه ته طلاق ورکولائي سي .

[۱۰۶۱](۱۰) که چيري د يَو مَال اِقرَار وکئ نو دده د آزادئ وروسته به لازم سـي او هغه فِي الحَال نَه لازميږي .

حاشيه : (الف) يو سړئ حضور ته راغلئ او وويل ائ دخدائ رسولَ زوما مَولْي د خپلي مِينځِي سره زُومَـا وَادَه کړې دئ.اُوس دئ غُوَاړِي چي زُومَا او د هغې تر مينځ جُدَائي راولي نوحضور مَنبَر ته تشريف يُوړَئ او وفرمائل ائ خلګو ! تاسو ته څَه دَرپيښنَه ده چي د خپل غُلاَم نکاح د مينځي سره کوئ بيا د دُوَاړُو تر مينځ جُدَائي غُوَاړَئ. د طلاق حق صرف وهغه ته حاصل دئ چاچي پُنډَئ نِيوَلِي وي يعني نکاح ئې کړې وي (ب) دحضرت ابن عَبّـاس څخه د يوه غُلاَم په حقله چي د هغه په نکاح کي مينځه وي فَتوْي وپوښتل سوه.هغه دوه طـلاق ورکـړي وي.دهغـه وروسته دُوَاړَه آزاد سي. آيا وده ته حق سته چي و مَينَه ته د نکاح پيغام ورکي ؟وويـل هُو !حضـور ددغـه فيصـله وکړه .

[۱۰۶۲](۱۱) وَ اِن اَقَـرّ بِحَـدٍّ اَو قِصَـاصٍ لَزِمَـهُ فِـي الحـالِ [۱۰۶۳](۱۲) وَ يَنفُذُ طَلاَقُهُ .

تشريح : يَوَه غُلاَم مثلاً اِقرَار وکئ چي د فُلاَنِي پر مابانديسَل رُوپئ قرض دي نـو دا سَل روپئ اُوس پر ده باندي نَه لازميږي. ځکه چي که لازم سي نو بيا خو بـه د مَـولْي د مال څخه ورکوي او دا د مَولْي نُقصَان دئ.لِهْذَا اُوس نَه لازميږي. لېکن دئ خـو يـو عاقل بالغ انسان دئ نو ځکه د آزادئ وروسته به دا مُعتَبَروي او د آزادېدو وروسته به سَل روپئ پر ده لازم وي. چي د مَولْي هم نُقصَـان ونـه سـي او دده د عقل او بُلُـوغ اِعتِبَار هم وسي .

پام لرنه : دا هغه وخت دئ چـي مَـولْي وده تـه د تِجَـارَت اجـازه نَـه وي ورکـړې. کـه چيري اجازت ورکړئ وي نو بيا د تِجَارَت په سَلسَلَه کي د غُلاَم اِقرَار جائز دئ .

[۱۰۶۲](۱۱) او که غُلاَم د حَد يا قِصَاص اِقرَار وکي نو پر ده لازم دئ فِي الحال .

تشريح : غُلاَم د داسي جُرم اِقرَار کوي چي دهغه په وجه پر ده باندي حَـد يـا قِصَـاص لازميږي.مثلاً د شَرَابُ چيښلو اِقرَار وکي يا په قصده سـره د يوچـا دقتـل کولـو اِقـرَار وکي چي دهغه په وجه پر ده باندي قِصَاص لازم سي نو فِي الحَال به دغـه سـزاګانِ و ده ته ورکول کيږي. دده د آزادئ اِنتِظار به نَه کوي. که څَه هم پـه دې وجـه د مَـولْي نُقصَان وي .

وجه : په دغه جَرَائِمُ کي د غُلاَم و ځان تـه خطـره ده او دده خپل نُقصَـان دئ. د خپـل ځـان او ذَات پـه سلسـله کـي دئ خودمختـاره دئ نـو ځکـه دئ د داسـي شِـيَانُو اِقـرَار کولائي سي. او دغه حُدُود او قِصَاص به فِي الحَال جاري کيږي .

[۱۰۶۳](۱۲) د غُلاَم طلاق نَافِذ دئ .

وجه : (۱) مخته حديث تير سو چي غُلاَم وخپله مَينَه ته طـلاق ورکـولائي سـي (۲) دا د ده ذَاتِي نُقصَان دئ نو ځکه دئ د دې نُقصَان په پورته کېدو کي مُختَار دئ .

[۱۰۶۴](۱۳) وَ لاَ يَقَعُ طَلاَقُ مَولاَهُ عَلْي اِمرَأتِهِ [۱۰۶۵](۱۴) وَ قَالَ اَبُوحَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي لاَ يُحجَرُ عَلْي السّفِيهِ اِذَا كَانَ عَاقِلاً بَالِغًا حُرّاً .

[۱۰۶۴](۱۳) او د غُلاَم د مَولْي طلاق د غُلاَم پر مَينَه باندي نَه واقع کيږي .

تشريح : چي مَولْي د غُلاَم و مَينَه ته طلاق ورکول وَغُوَاړِي نو طـلاق نَـه سـي ورکـولائي. دده طلاق د غُلاَم پر مَينَه باندي نَه واقع کيږي. بلکه د غُلاَم طلاق پر واقع کيږي .

وجه : (۱) طلاق خو د مېړه د واقع کيږي مَولْي ئې مِېړه نَه دئ (۲) په حديث کـې مَـولْي د طلاق ورکولو څخه منع کړئ دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ اَتْي النّبِیﷺ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ اِنّ سَيّدِي زَوّجَنِي اَمَتَهُ وَهُوَ يُرِيدُ اَن يُفَرّقَ بَينِي وَبَينَهَا قَالَ فَصَعِدَ رَسُولُ اللهِﷺ اَلمِنبَرَ فَقَالَ يَا اَيّهَا النّاسُ مَا بَالُ اَحَدِكُم يُزَوّجُ عَبدَهُ اَمَتَهُ ثُمّ يُرِيدُ اَن يُفَرّق بَينَهُمَـا اِنّمَـا اَلطّـلاَقُ لِمَـن اَخَـذَ بِالسّـاقِ (الف) (ابـن ماجـه شـريف.باب طـلاق العبـدص۲۹۹ نمبـر ۲۰۸۱\ دارقطني.کتـاب الطـلاق ج۴ص۲۵نمبـر۳۹۴۸) پـه دې حـديث کـي مَـولْي غُوَبـښتَل چـي د غُـلاَم ومَينَـه تـه طـلاق ورکړي لېکن حضور هغه منع کړئ او وفرمائل چي طلاق هغه څوک ورکولائي سـي چاچي پُندَئ نِيوَلې وي يعني وَادَه ئې ورسره کړئ وي. نـو ځکـه مَـولْي د غُـلام و بِـي بِي ته طلاق نَه سي ورکولائي .

[۱۰۶۵](۱۴) امام ابوحنيفه وفرمائل چي حِجر به نَه کول کيږي پر بېوقوف بانـدي پـه دې شرط چي دئ عَاقِل وي.بَالِغ وي او آزاد وي .

تشريح : چي سړئ عاقل وي بالغ وي او آزاد وي لېکن بېوقـوف وي او ډېـره خَرچَـه کـوي نو پر هغه به حِجر نَه کول کيږي.نو ځکه که دئ خريدوفروخت وکي هغه نَافِذيږي .

[۱۰۶۶](۱۵) وَ تَصَرُفُهُ فِي مَالِهِ جَائِزٌ وَ اِن كَانَ مُبـذِرًا مُفسِـدًا يُتلِـفُ مَالَهُ فِي مَا لاَغَرَضَ لَهُ فِيهِ وَ لاَ مَصلَحَةَ مِثـلَ اَن يُتلِفَـهُ فِـي البَحـرِ اَو بِحَرقَةٍ فِي النّارِ .

وجه : (۱) د مُعَامَلاَتُ دارومدار پر عقل بلوغ او آزادئ باندي دئ او دغه شيان پـه ده کي موجود دي نو ځکه پر ده بايد حِجر وَنَه سي. لېکن که دسَرَه عقل نَه درلودئ نـو د

حاشيه : (الف) يو سړئ حضور ته راغلئ او وويل ائ دخدائ رسولَ زوما مَولْي د خپلي مِينځي سره زُومَـا وَادَه کړې دئ.اُوس دئ غُوَاړِي چي زُومَا او د هغې تر مينځ جُدَائي راولي نوحضور مَنبَر ته تشريف يُوړَئ او وفرمائل ائ خلګو ! تاسو ته څَه دَرپېښَه ده چي د خپل غُلاَم نکاح د مينځي سره کوئ بيا د دُوَاړُو تر مينځ جُدَائي غُوَاړَئ. د طلاق حق صرف وهغه ته حاصل دئ چاچي پُندَئ نِيوَلې وي يعني نکاح ئې کړې وي .

جُنُونِيّت په وجه به حِجر پر كيږي. ددې دليل دا حديث دئ عَن اَنَس بِنِ مَالِكٍ اَنّ رَجُلاً عَلْي عَهدِ رَسُولِ اللهِ كَانَ يَبتَاعُ وَفِي عَقدَتِهِ ضِعفٌ فَاَتْي اَهلُهُ نَبِيّ اللهِ فَقَالُوا يَا نَبِيّ اللهِ اُحجُر عَلْي فُلاَنٍ فَاِنّهُ يَبتَاعُ وَفِي عَقدَتِهِ ضِعفٌ فَدَعَاهُ النّبِىﷺ فَنَهَاهُ عَنِ البَيعِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ اِنّي لاَ اَصبُرُ عَنِ البَيعِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ اِن كُنتَ غَيرُ تَارِكٍ لِلبَيعِ فَقُل هَآءَ وَ هَآءَ وَلاَخَلاَبَةَ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في الرجل يقول عند البيع لاخلابة ص١٣٨نمبر٣٥٠١) په دې حديث حضور د فُضُول خَرچَئ باوجود حِجر نَه دئ كړئ ددې څخه معلوم سو چي پر سَفِيه باندي حِجر كول جواز نَه لري (٢) په اَثَر كي راغلي دي عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ لاَيُحجَرُ عَلْي حُرٍّ (مصنف ابن ابي شيبة ١٢٨ من كره الحجرعلي الحرومن رخص فيه ج٤ص٣٦٧نمبر٢١٠٦٢) .

[١٠٦٦](١٥) د بېوقوف تَصَرُف په خپل مال كي جائز دئ كه څَه هم فُضُول خَرچَ او مُفسِدوي. خپل مال په داسي شِيَانُوكي ضائِع كوي چي په هغه كي نَه څَه مقصدوي نَه مَصلَحَت وي. مثلاً هغه په دَريَاب كي ضَائِع كوي يا ئې په اُور سوځي .

تشريح : امام ابوحنيفه فرمائي چي بېوقوف كه څَه هم فُضُول خرچَ وي.مُفسِدوي

حاشيه : (الف) يَوه سړي دحضور په زَمَانَه كي خريدوفروخت كاوئ او دهغه په عَقدكي كمزوري وه.نو دهغه كُورَنِيَان حضور ته راغله.نو خلكوويل اې دخداى نَبِي ! پر ده باندي حِجر وگَه دئ خريدوفروخت كوي.او دده په عَقد كي كمزوري ده.نو حضور دئ رَاوبَالَئ او دئ ئې د بَيعِ كولو څخه منع كړئ.ده وويل اې د خداى رسولَ ! زَه صبر نَه سم كولائي.حضور وفرمائل كه بَيعَ نَه سې پرېښولائي نو,,هَآء هَآء لاَخَلاَبَةَ,, وايه .

[١٠٦٧](١٦) اِلاّ اَنّهُ قَالَ اِذَا بَلَغَ الغُلاَمُ غَيرَ رَشِيدٍ لَم يُسَلّمُ اِلَيهِ مَالُهُ حَتْي يَبلُغَ خَمسًاوَعِشرِينَ سَنَةً وَ اِن تَصَرّفَ فِيهِ قَبلَ ذَالِكَ نَفَذَ تَصَرُفُهُ فَاِذَا بَلَغَ خَمسًا وَعِشرِينَ سَنَةً سُلِّمَ اِلَيهِ مَالُهُ وَ اِن لَم يُؤنَسُ مِنهُ الرُشدُ .

او په داسي ځائ كي مال ضَائِع كوي چي هلته نَه څَه مقصدوي نَه څَه مَصلَحَت وي مثلاً په سَمَندَر كي غُورزَوِي يائې په اُور سوځي خو بيا به هم پر هغه باندي حِجر نَه كيږي. دده خريدوفروخت نَافِذ دئ .

وجه : ځكه چي هغه عَاقِل بَالِغ او آزاد دئ .

[١٠٦٧](١٦) مگر دايه وفرمائل چي يَو هَلَک د بېوقوفئ په حالت كي بَالِغ سي نو دده مال به ده ته نَه په حواله كيږي.تر دې چي پِنځوِيشتُ كالو ته ورسيږي.او كه دهغه څخه مخكي ده تَصَرّف وكئ نو دده تصرف به نافِذ سي. نو چي پِنځَوِيشت كاله پوره سي نو ده ته به دده مال په حواله كيږي كه څَه هم دده څخه سَمَجدَارِي محسوس نَه سي .

تشريح : امام صاحب فرمائي چي په پِنځوِيشت كاله كي سړئ نِيگَه جوړېدلائي سي ځكه چي پر دُوُلَس كاله بَالِغ سي مثلاً فرض ئې گه چي بَچَئ پيدا سو او دغه بَچَئ پر دُولَس كال باندي بالغ سو وَادَه ئې وكئ ددغه دُوُلَس كَلَن بَچِي په يوه كال كي دَنَنَه بچئ پيدا سو نو

سړئ په پنځَوِیشت کال کي نِیگه جوړېدلائي سي.لِهٰذَا که څوک د بېوقوفئ په حالت کي بـالغ سو نو پر هغه خودي حِجر نَه کوي البته تر پنځَوِیشت کـالو پـوري دي دده مـال وده تـه نَـه حواله کوي. چي غلط ځائ ئي خرچ نَه کړي.او د پنځَوِیشت کـالو وروسـته کـه څَـه هم د سَمَجدَارَ ِئ آثَار نَه ځيني ښکاره کيږي خو بيا هم به وده ته دده مال په حواله کوي .
لُغَت : لَم یُونَسُ : چي نَه وي محسوس کړئ .

[۱۰۶۸](۱۷) وَ قَـالَ اَبُویُوسُـفَ وَ مُحَمّـدٌ رَحِمَهُمَـا اللهُ یُحجَـرُ عَلْـي السّفِیهِ وَ یُمنَعُ مِنَ التّصَرُفِ فِي مَالِهِ فَاِن بَاعَ لَم یَنفُذُ بَیعُـهُ فِـي مَالِـهِ وَ اِن كَانَ فِیه مَصلَحَةٌ اَجَازَهُ الحَاكِمُ .

[۱۰۶۸](۱۷) او امام ابویوسف او امامِ محمدوفرمائل چي حِجر به کيږي پـر بېوقـوف باندي او په خپل مال کي د تَصَرف څخه به منع کول کيږي. بيا که چيري خـرڅ کـړئ نو دده بَیعَ دده په مال کي نَافِذ ده او که په هغه کـي مصـلحت وي نـو حَـاکِم دي دهغـه اجازت ورکړي .

تشریح : دصاحبینو په نېر پر بېوقوف به حِجر کيږي.او که چيري ده خپـل مـال خـرڅ کړئ نو دده بَیعَ نَه نافذيږي. لېکن که چيـري پـه هغـه بيـع کـي مَصـلَحَت وي او حَـاکِم دهغه بَیعِ د نِفَاذ اجازت ورکړي نو بيا نَافِذيږي .

وجه : (۱) دُوئي فرمائي چي په آيت کي وبېوقوف ته د مال ورکولو څخه منع راغلـې ده وَلاَ تُؤتُوا اَلسُفَهَآ ءَ اَموَالَکُم اَلّتِـي جَعَلَ اللهُ لَکُم قِیَامًـا وَ اَرزُقُـوهُم فِیهَـا وَ اَکسُـوهُم وَ قُولُوا لَهُم قَولاً مَعرُوفًا (الف) (آیت۵سورة النسآء۴) په دې آيت کـې وبېوقـوف تـه د مال ورکولو څخه منـع کـړې ده او حُکم سـوئ دئ چـي و ده تـه خُـوَرَاک او چيښَـاک لپاره ورکـوئ. او لاَس پر تېروئ لېکن مَال مَـه ورکـوئ. چـي ضَـائِع ئـې نَـه کړي.نـو ځکه پر بېوقوف به حِجر کيږي (۲) په حديث کي دئ چي حضورﷺ پر حضرت مَعَاذ باندي د ډېر خرچ لکبله حِجر کړئ وُ عَن کَعبِ بِنِ مَالِکٍ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺ حَجَـرَ مَعَـاذَ مَالَـــهُ وَبَاعَـــهُ فِـــي دَیـــنٍ كَـــانَ عَلَیـــهِ(ب) (دارقطني.کتـــاب فـــي الاقضـــية والاحکـــام ج۴ص۱۴۸نمبـر۴۵۰۵\سنن للبيهقي.بـاب الحجرعلـي المفلس وبيـع مالـه فـي ديونـه ج۶ ص۸۰ نمبر۱۱۲۶۰) .

حاشيه : (الف) وبېوقوفانُ ته تاسو خپل مالونه مَه ورکوئ پر چاچي الله تاسو نِګرَان جوړکړئ ياست.او ودُوئـي ته ددې مال څخه رُوزِي ورگئ او په دُوئي باندې وَغُوَندَئ او ودُوئي ته ښَه خبره کوئ (ب) حضور پـر معـاذبن جبل باندي حِجر وکئ او دده مال چي پر ده باندي کوم دَین وُ دهغه په بَدلَه کې خرڅ کړئ .

[۱۰۶۹](۱۸) وَ اِن اَعتَقَ عَبدًا نَفَذَ عِتقُهُ وَ كَانَ عَلْـي العَبـدِ اَن یَسـعْي فِي قِیمَتِهِ .

په دې حديث کي د زِيَات خرچ په وجه پر حضرت مَعاذ باندي حضورحِجرکړئ دئ (٣) په اَثَر کي راغلي دي چي حضرت عُثمَان او حضرت عَلِي پر حضرت عبدالله بن جَعفَر باندي حِجر کاوئ لېکن د حضرت زُبَيربِنِ عَوَام د شرکت په وجه حِجر نَه وکئ اَنّ عَبدَاللهِ بِنِ جَعفَرَ اَتْي زُبَيرَبِنِ العَوَامَ فَقَالَ اِشتَرَيتُ کَذَا کَذَا وَاَنّ عَلِيًا يُرِيدُ اَن يَأتِيَ اَمِيرَ المُوْمِنِينَ عُثمَانَ يَعنِي فَيَسأَلَهُ اَن يَحجُرَ عَلَيّ فِيهِ فَقَالَ زُبَيرُ اَنَا شَرِيکُکُ فِي البَيعِ وَ اَتْي عَلِيّ وَ عُثمَانَ فَذَکَرَذَالِکَ لَهُ فَقَالَ عُثمَانُ کَيفَ اَحجُ‌ُرُعَلْي رَجُلٍ فِي بَيعٍ شَرِيکُهُ فِيهِ اَلزّبَيرُ(الف) (سنن للبيهقي.باب الحجرعلي البالغين بالسفه ج ۶ ص١٠٢ نمبر١١٣٣۶\\دارقطني.کتاب في الاقضية والاحکام ج۴ص ١۴٨نمبر۴۵٠۶) په دې اَثَر کي حضرت عُثمَان او حضرت عَلِي پر حضرت عبدالله بن جَعفَرباندي دده د سَفَاهَت په وجه حِجر کاوئ لېکن د حضرت زُبَير په بيع کي د شرکت په وجه منع سول. ددې ښخه دا معلوم سو چي عاقل بالغ او آزاد وي. لېکن فُضُول خرچي کوي نو پر هغه باندي قاضي حِجر کولائي سي. په داسي صورت کي که هغه بيع وکي نو نَه نافذيږي. مګر که قاضي په هغه کي مَصلَحَت ويني نو د سَفِيه وبيع ته اجازت ورکولائي سي .

پام لرنه : په دې اُوس عَصر کي صحيح قاضي نسته نو که چيري و سَفِيه ته دهغه مال ورنَه کړي او بَل چاته ورکړي نو هغه به وَخُورِي او سَفِيه ته به هيڅ شئ نه ورسيږي. نو ځکه په نَن زمانه کي وبېوقوف ته دهغه خپل مال وکول بِهتَر دئ .

[١٠۶٩](١٨) او که بېوقوف خپل غُلام آزاد کئ نو دده آزادي نافذَ ده او پر غُلاَم دا دئ چي دخپل قيمت سَعِي وکړي .

حاشيه : (الف) عبدالله بن جعفر زُبيربن عوام ته راغلئ او وويل ما داسي داسي خريدکړئ دئ او حضرت عَلِي غُوَارِي چي دئ اميرالمؤمنين عُثمان بن عَفّان ته وُلاَړسي او وهغه ته وائي چي په دې لَړ کي پر مابانـدي حِجر وکي.نوحضرت زُبَيروفرمائل زه په بيع کي ستا شريک يَم.بياهغه حضرت عَلِي او حضرت عُثمَان ته راغلئ او ددې تذکره ئې وکړه نو حضرت عُثمَان وفرمائل زه پر داسي سړي څَه رنګه حِجر وَکَم چي دهغه د بَيعِ شريک زُبَير وي .

[١٠٧٠](١٩) وَ اِن تَزَوّجَ اِمَرَأ ةً جَازَ نِکَاحُهُ فَاِن سَمّي لَهَا مَهرًا جَازَمِنهُ مِقدَارُ مَهرِ مِثلِهَا وَبَطَلَ الفَضلُ .

تشريح : پر بېوقوف باندې حِجر وکئ خو دهغه باوجود ده غُلاَم آزاد کئ نو دصاحبينو په نيز هم غُلاَم آزاديږي. دامام ابوحنيفه په نيز خو حِجر نَه صحيح کيږي نو ځکه دده په نيز به هم غُلاَم آزاد سي.لېکن پر غُلاَم باندي لازم دئ چي دده ځونه قيمت دئ هغه وَګَټِي او وخپل بېوقوف مَولْي ته ورکړي .

وجه : غُلاَم خو به په دې وجه آزاد سي چي آزادي دده ذَاتِي حق وُ چي ورته ملاؤسو.مخکي دا تيرسو چي د آزادئ شَائِبَه هم راسي نو شريعت هغه نافذوي.نو ځکه د بېوقوف د آزادېدوسره سم به غُلاَم آزاد سي.لېکن ددې ښخه د بېوقوف نُقصان دئ نو ځکه دهغه نُقصَان تَدَارُک به دارنګه کيږي چي غُلاَم به خپل قيمت ګَټِي او و مولْي ته به ورکوي چي بېوقوف د نُقصَان ښخه بَچ سي .

[۱۰۷۰](۱۹) كه بېوقوف د ښَځِي سره نكاح وكړه نو نكاح ئې جائز ده.نو كه دهغې لپاره مَهر مُتَعَيّن كړئ نو د مَهرِ ِمَثل مقدار جائز دئ او دهغه څخه زِيَات باطل دئ .

تشريح : بېوقوف د حِجر وروسته د يوښَځِي سره نكاح وكړه نو نكاح ئې جائز ده او دهغې لپاره مَهر مُتَعَيّن كړئ نو د مَهرِمِثل تر مِقدَار پوري جواز لري.لېكن كه دښځي د مَهرِمِثل څخه زِيَات مُتَعَيّن كړئ نو دا باطل دئ .

وجه : وَادَه كول په حَاجَتِ اَصلِيّه كي داخل دئ نو ځكه وَادَه كولائي سي.او چي وَادَه كولائي سي نو دهغه لپاره د مَهرِمِثل څخه زِيَات هم مُقَرّرولائي سي.لېكن د مَهرِمثل څخه زِيَات ضرورت نَه لري نوځكه د مَهرِمثل څخه زِيَات په فُضُول خرچي كي داخل دئ او هغه جواز نَه لري .

اُصُول : بېوقوف د حِجر وروسته هم د حَاجتِ اَصلِيّه كارونه كولائي سي .

[۱۰۷۱](۲۰) وَقَالاَ رَحِمَهُمَا اللهُ فِيمَن بَلَغَ غَيرُرَشِيدٍ لاَيُدفَعُ اِلَيهِ مَالُهُ اَبَدًا حَتّٰي يُؤنَسُ مِنهُ الرُشدُ وَلاَ يَجُوزُ تَصَرّفُهُ فِيهِ .

[۱۰۷۱](۲۰) صاحبين فرمائي دهغه سړي په حقله چي دبېوقوفئ په حالت كي بَالِغ سو چي وهغه ته به هيڅ كله مَال نَه حواله كيږي. ترهغه وخته چي په ده كي د عقلمندئ آثار محسوس نَه كړي.او په هغه كي دده تصرف جواز نه لري .

تشريح : صاحبين فرمائي چي كوم څوك دبېوقوفئ په حالت كي بالغ سو وهغه ته تر هغه وخته پوري خپل مال بايد حواله نَه سي ترڅو چي په ده كي دعقلمندئ آثار ښكاره نَه سي.كه څَه هم دپِنځوِيشت كالو سي. يا ددې څخه زَيات عُمر سي .

وجه : (۱) د بېوقوفئ په وجه حِجر پركړئ دئ نو بېوقوفي خو اُوس هم موجود ده لِهٰذَا حِجر به اُوس هم پر خپل ځائ بحال پاته وي (۲) په آيت كي مُطلَقًاحُكم دئ چي وبېوقوف ته مال مَه وركوئ.په دي كي دا قَيدنسته چي تر پِنځَوِيشت كالو پوري مَه وركوئ بيا ئې وركئ. لِهٰذَا كه د پِنځَوِيشت كالو وروسته هم بېوقوفي برقراره وي نو بيا به هم خپل مَال نَه وركوي. آيت دئ ,, وَلاَتُؤتُوا اَلسّفَهَآءَ اَموَالَكُم (آيت ۵سورة النسآء۴) ,, په دې آيت كي مُطلقًا حكم دئ چي وبېوقوفانو ته مال مَه وركوئ.ددې مطلب دادئ چي ترهغه وخته چي د بېوقوفئ عِلّت برقراره وي مال به نَه وركول كيږي. په بَل آيت كي دئ چي عقلمندي محسوس كړئ بيا ويتيمانو ته مال وركئ. ددې هم مطلب دادئ چي په بېوقوفانو كي دعقلمندئ اِحسَاس راسي نو مال ورحواله كئ. او كه دعقلمندئ آثار ښكاره نه سي نو چي د پِنځَوِيشت كالو سي هم مَال مَه وركوئ. آيت دئ وَابتَلُوا اَليَتْمٰي حَتّٰي اِذَا بَلَغُوا اَلنِّكَاحَ فَاِن آنَستُم مِنهُم رُشدًا فَادفَعُوا اِلَيهِم اَموَالَهُم (الف) (آيت ۶سورة النسآء ۴) لِهٰذَا چي په بېوقوفانو كي دعقلمندئ آثار ښكاره نَه سي نو هيڅ كله به وهغو ته مَال نَه وركول كيږي او نَه دهغو تصرف جواز لري .

حاشيه : (الف) يتيمان وآزموئ،ترهغوچي دُوئي بَالِغ سي او د نكاح قابل سي،بياكه په دُوئي كي صَلاَحِيّت وَوِينَـئ نو ودُوئي ته مَالُونَه ورکَئ

[۱۰۷۲](۲۱) وَ ◌َ تُخـرَجُ الزّكـوْ ةُ مِـن مَـالِ السّـفِيهِ [۱۰۷۳](۲۲) وَ يُنفَقُ عَلْي اَولاَدِهِ وَ زَوجَتِهِ وَمَـن يَجِـبُ نَفَقَتُـهُ عَلَيـهِ مِـن ذَوِي الاَرحَـامِ [۱۰۷۴](۲۳) فَاِن اَرَادَ حَجّةَ الاِسلاَمِ لَم يُمنَع مِنهَا وَ لاَ يُسَلّمُ القَاضِـيُ اَلنّفَقَةَ اِلَيهِ وَلْكِن يُسَلّمُهَا اِلْي ثِقَةٍ مِنَ الحَاجِّ يُنفِقُهَا عَلَيهِ فِي طَرِيقِ الحَـجِّ .

[۱۰۷۲](۲۱) زكوْة به اِستَل كيږي دبېوقوف دمال څخه .

وجه : بېوقوف بالغ دئ.آزاد دئ او څَه نه څَه عقل هم لري نو ځكه پر ده باندي زكـوة واجب دئ.او دئ په خپله د مجنون په درجه كي دئ نو ځكه دده د مال څخه بـه زكـوة اِستَل كيږي او اداَء كيږي به. البته د زكوة د اداَء كولو لپاره خو نِيّت ضروري دئ نـو ځكه وببوقوف ته به وركول كيږي چي دئ ئې په خپل مَصرَف كي خرچ كړي .

[۱۰۷۳](۲۲) اوخرچ كيږي به د ببوقوف پر اولاَد باندي او دده پر مَينَـه بانـدي او پـر هغه خلګو باندي چي نَفَقَه ئې پر ده واجب ده د قَرِيبَانُو څخه .

تشريح : دببوقوف مال به دده پر مَينَه بَچَانُواو هغه خلګو باندي خرچ وي چي نَفَقَه ئـې پر دې ببوقوف باندي واجب ده .

وجه : دببوقوف په حاجتِ اَصلِيّه كي به مال خرچيږي او پر دغـه خلګـو بانـدي خـرچ كول په حَاجَتِ اَصلِيّه كي داخل دئ. لِهْذَا پر دغه خلګوبه خرچيږي. ښَه خبره خو داده چي دببوقوف مال دده و اَمِين ته وركړي اوهغه ئـې پـر دې خلګـو بانـدي خـرچ كـړي چي ببوقوف فُضُول خرچي وَنَه كړي .

[۱۰۷۴](۲۳) كه چيري وَغُوَښتَل چي فرض حَج اداَء كړي نو نَـه بـه منـع كـوي.لېكن قاضي به د حج خرچه وده ته نَه وركوي.لېكن دحَاجِيَانُو څخـه ويـوه ثِقَـه سړي تـه بـه سُپُرد كوي چي دحج په لاَره كي به پر ده باندي خرچ كوي .

[۱۰۷۵](۲۴) فَاِن مَرِضَ فَاَوصْي بِوَصَايَا فِي القُرَبِ وَ اَبـوَابِ الخَيـرِ جَـازَ ذَالِـکَ مِـن ثُلُـثِ مَالِـهِ [۱۰۷۶](۲۵) وَ بُلُـوغُ الغُـلاَمِ بِـالاِحتِلاَمِ وَالاِنزَالِ وَالاِحبَالِ اِذَا وَطِئَ فَاِن لَم يُوجَـد ذَالِـکَ فَحَتْـي يَـتِمّ لَـهُ ثَمَـانِيَ عَشَرَةَ سَنَةً عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي .

تشريح : فرضي حج په حَاجَتِ اَصلِيّه كي داخل دئ نو ځكه كـه ببوقـوف فرضـي حـج اداَر كول وَغُوَارِي نو قاضي به نَه منع كـوي. البتـه چـي كـوم خلـګ حـج تـه روان دي پـه هغـه كسانو كي يو د اِعتِمَاد وَړ سړي ته به دغه دحج خرچه وركوي. چي هغـه ئې پـر ببوقـوف

باندي په لاَره کي خرچ کړي. وبېوقوف ته دي دحج خرچه نَه ورکوي چي هغه فُضُول خرچي په وَنَه کړي .

لُغَت : ثِقَةٌ : قَابِلِ اِعتِمَاد سړئ .

[۱۰۷۵](۲۴) که چيري ناجوړه سي او د ښُو کارو په باب څَه وَصِيّتُونَه وکړي نو دا جائز دي دده دمال د دَرَيَمِي څخه .

تشريح : د اِنتِقَال وخت ئې نژدې دئ او بېوقوف غُوَاړِي چي د ښُوکارو په باب دخپل څَه مال وَصِيّت وکي نو د ده دا وَصِيّت کول جائز دئ. لېکن هغه وَصِيّتُونَه به د مال د دَرَيَمِي برخي څخه پوره کيږي .

وجه : د مرګ په وخت د انسان تَمَنّا وي چي څَه ښَه کارونه وکړي. نو ځکه د آخرت لپاره دا په حَاجَتِ اَصلِيّه کي داخل سو. نو ځکه دا وَصِيّت کول جائز دئ. البته د نورو اِنسَانانو په شان به دغه وَصِيّت هم د مال په دريمه برخه کي جاري کيږي. او پاته دُوې دَرَيَمِي مال به د وَارِثَانُو تر مينځ تقسيم کيږي .

[۱۰۷۶](۲۵) د هَلَک بَالِغېدَل د اِحتِلاَم په ذريعه او اِنزَال په ذريعه او په حَامِلَه کولو سره دئ که هغه وَطِي وکړي. که چيري دغه علامات نَه سي ښکاره نو بيا چي اَتَلس کاله پوره سي د امام ابوحنيفه په نيز .

[۱۰۷۷](۲۶) وَ بُلُوغُ الجَارِيَةِ بِالحَيضِ وَ الاِحتِلاَمِ وَ الحَبلِ فَاِن لَم يُوجَد ذَالِکَ فَحَتْي يَتِمّ لَهَا سَبعَةَ عَشَرَةَ سَنَةً .

تشريح : د هَلَک د بُلُوغ درې نِښانَي دي اِحتِلاَم کېدل.اِنزَال کېدل او چي وَطِي وکړي نو ښځه حَامِلَه (بُرَالبَه.مېندُوَارَه) کړي. که چيري دغه علامات موجود نَه سي نوچي هَلَک د اَتَلس کاله سي نو بيا به بَالِغ ګڼل کيږي .

وجه : چي اِحتِلاَم ئې وسي هَلَک بالغيږي ددې دليل دا حديث دئ قَالَ عَلِيٌّ بِنِ اَبِي طَالِبٍ حَفِظتُ عَن رَسُولِ اللهِﷺ لاَ يَتِمّ بَعدَالاِحتِلاَمِ وَلاَ صَمَاتُ يَومٍ اِلْي اللّيلِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب ماجاء متْي ينقطع اليتيم ج۲ص۴۱نمبر۲۸۷۳) په دې حديث کي دئ چي اِحتِلاَم ئې وسي نو بيا يَتِيم نَه وي. ددې مطلب دادئ چي د اِحتِلاَم وروسته انسان بالغيږي. انزال او حَامِلَه کول هم معنًي اِحتِلاَم دئ. ځکه چي ښځه هغه وخت حَامِلَه کيږي چي اِنزَال راسي. او که دا هم نَه وي نو بيا چي کله هَلَک د اَتَلَس کالو سي نو بَالِغ ګڼل کيږي.ددې دليل دا اَثَر دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ مَرفُوعًارُفِعَ القَلَمُ عَن ثَلْثَةٍ عَنِ الغُلاَمِ حَتْي يَحتَلِمَ فَاِن لَم يَحتَلِم حَتْي يَکُونَ اِبنَ ثَمَانِ عَشَرَةَ (ب) (سنن للبيهقي.باب البلوغ بالسن ج۶ص۹۴نمبر۱۱۳۰۷) په دې اَثَر کي دئ چي که اِحتِلاَم نَه سي نو بياچي د اَتَلس کالو سي نو بِالِغ به ګڼل کيږي .

[۱۰۷۷](۲۶) او د اِنجِلَئ بالغېدل د حيض او د اِحتِلاَم او د حَامِلَه کېدو په وجه وي. که چيري دغه علامتونه موجود نَه سي نو تر هغه وخته پوري چي د اُوَلَس کالو سي .

تشريح : د اِحتِلاَم په وجه اِنجِلَئ بَالِغَه ګڼل ګيږي ددې دليل مختته حديث تېرسوئ دئ. او د حيض په وجه اِنجِلَئ بالغ ګڼل کيږي ددې دليل دا حديث دئ عَن عَائِشَةَ عَنِ النّبِيّﷺ اَنّهُ قَالَ لاَيَقبَلُ اللهُ

صَلوةَ حَائِضٍ اِلاّ بِخِمَارٍ (ج) (ابوداؤدشريف.باب المراة تصلي بغيرخِمَارٍ ص۱۰۱نمبر ۶۴۱) ـ په دې حديث كي حضور دحائضٌ لفظ ويلئ دئ مرادځيني ـ

حاشيه : (الف) حضرت علي فرمائي چي ما دحضور څخه په ياد کړي دي چي د اِحتِلاَم وروسته يَتِيمِي نَه ده او نَه وُرَځ تر شپې پوري پټيږي (ب) دحضرت ابوهريرة څخه مَرفُوعًا روايت دئ چي د درو كسانو څخه قلم پورته سوئ دئ.د هَلَک څخه تردې چي اِحتِلاَم سي.بيا كه چيري اِحتِلاَم نَه سي نوترهغو چي داَتَلس كالو سي (ج) حضورﷺ وفرمائل الله نَه قبلوي د يوحائضې (بَالِغې ښځي) لمونځ بغير د پړُونې .

[۱۰۷۸](۲۷) وَ قَالَ اَبُويُوسُفَ وَمُحَمّدٌ رَحِمَهُمَا اللّٰهُ اِذَا اَتَمّ لِلغُلاَمِ وَالجَارِيَةِ خَمسَةَ عَشَرَةَ سَنَةً فَقَد بَلَغَا .

بَالِغَةٌ ده. ددې مطلب دادئ چي د حَيض د موجودګئ څخه اِنجِلَئ بالغيږي.او كوم چاته چي حَيض راځي هغه به حَامِلَه كيږي. نو ځكه حَامِلَه كېدل دحَيض علامت دئ.او كه چيري دغه علامات نَه وي نو چي د اُوَلّس (۱۷) كالو سي نو بالغ به ګڼل كيږي. ددې دليل دادئ چي ښځه ژَر بالغيږي نو چي نَر په اَتَلَس كاله كي بالغيږي نو ښځه به تر هغه ژَر يعني يو كال كم په اُوَلّس كاله كي به بالغ ګڼل ګيږي .

[۱۰۷۸](۲۷) او امام ابويوسف او امامِ محمدفرمائي چي د هَلَک او اِنجِلَئ پِنځلس كاله پوره سي نو پوه سَه چي دواړه بالغ سو .

وجه : په دې حديث كي دئ چي د پِنځلس كالو هَلَک ئې بالغ او غټ وګڼئ حَدّثَنِي اِبنُ عُمَرَ اَنّ رَسُولَ اللّٰهِﷺ عَرَضَهُ يَومَ اُحُدَ وَهُوَ اِبنُ اَربَعَ عَشَرَةَ سَنَةً فَلَم يَجزِنِي ثُمّ عَرَضَنِي يَومَ الخَندَقِ وَاَنَا اِبنُ خَمسَ عَشَرَةَ فَاَجَازَنِي قَالَ نَافِعٌ فَقَدِمتُ عَلْي عُمَرَ بِنِ العَزِيزِ وَ هُوَ خَلِيفَةٌ فَحَدّثتُهُ هٰذَا الحَدِيثَ فَقَالَ اِنّ هٰذَا لَحَدّ بَينَ الصَغِيرِ وَالكَبِيرِ وَكَتَبَ اِلْي عُمّالِهِ اَن يَفرِضُوا لِمَن بَلَغَ خَمسَ عَشَرَةَ (الف) (بخاري شريف.باب بلوغ الصبيان وشهادتهم ص۳۶۶نمبر۲۶۶۴\مسلم شريف.باب بيان سِنّ البلوغ ص۱۳۱نمبر ۱۸۶۸\ ابوداؤدشريف . نمبر۴۴۰۶) ددې حديث څخه معلوم سو چي سړئ د پِنځلس كالو سي نو هغه لُوئ او بالغ ګڼل كيږي.او په دې حديث كي د نَر او ښځې هيڅ فرق نسته. نو ځكه د ښځې هم كه د بُلُوغ يو علامت ښكاره نَه سي چي دپِنځلس كالو سي هغه به بَالِغ ګڼل كيږي .

حاشيه : (الف) حضرت ابن عمرفرمائي چي دئ ئې د جَنګِ اُحَدپه ورځ دحضور مخته حاضر كړئ.او دئ د څُوَرلَس كالو وُ.فرمائي چي وماته په جَنګ كي دشركت اِجَازَت نَه سو ملاؤ.بيائې زَه دجَنګِ خَندَق په ورځ پېش كړم او زَه دپِنځلس كالو وَم نو مَاتَه په جَنګ كي دشركت اِجَازَت ملاؤ سُو.حضرت نَافِع فرمائي چي ما دا حديث دعُمَربِنِ عبدالعزيزپه مخكي بيان كئ هغه وخت چي دئ خَلِيفَه وُ. وفرمائل چي دا عُمَر د كِشنِي او لُوئ تر مينځ حَد دئ.او وخپلو عُمّالُو ته خَط وليكئ چي څوک دپِنځلس كالوسي دهغه لپاره عَطِيّه مُتَعَيّنه كړئ .

[۱۰۷۹](۲۸) اِذَا رَاهَقَ الغُلاَمُ وَ الجَارِيَةُ فَاَشكَلَ اَمرَهُمَا فِي البُلُوغِ فَقَالاَ قَدبَلَغنَا فَالقَولُ قَولُهُمَا وَ اَحكَامُهُمَا اَحكَامُ البَالِغِينَ [۱۰۸۰](۲۹) وَ قَالَ اَبُوحَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ لاَ اَحجُرُ فِي الدَينِ عَلْي المُفلِسِ .

[١٠٧٩](٢٨) که هَلَک او اِنجِلَئ وبلوغ ته نژدي سول او د بُلُوغ په لړ کي د دُوئي دُوَاړُو معامله مُشکِله سي. نودُوئي دواړه ووائي چي موږ بَالِغ سوي يُو نو د دواړو د قول اِعتِبَار به کيږي.او د دواړو اَحکَام به د بَالِغِينُ اَحکَام وي .

تشريح : هَلَک يا اِنجلَئ وبلوغ ته نژدي سي دائي نَه معلوميږي چي دا بالغان سوي دي که نَابَالِغ دي او دُوئي دا وائي چي موږ بَالِغَان سوي يُونو د دُوئي د خبري اِعتِبَار به کيږي دُوئي به بَالِغَان شمېرل کيږي.او دبَالِغَانُو اَحکامات پر جاري کيږي .

وجه : په کوم ځائ کي چي د تَکذِيب عَلاَمَت نَه وي نودده دذات په حقله به دسړي شَهَادَت قابلِ قبول وي. لکه د عِدّت دتېرېدو او دحيض دختم کېدو په باب کي دښځي دخبري اِعتِبَار کيږي او پر هغه باندي فيصله کيږي. دغه رنګه دلته به هم د دُوئي خبره منل کيږي او دُوئي به بَالِغَان شمېرل کيږي .

[١٠٨٠](٢٩) امام ابوحنيفه فرمائلي دي چي پر مُفلِس به د دَين په لَړ کي حِجر نَه کيږي .

تشريح:چي پريوسړي باندي بنَه ډېردَين وي اوقرض ورکونکي پردې مَقروض باندي دحِجرمُطالبه وکړي نوامام ابوحنيفه فرمائي چي زَه پرده بانديحِجرنَه کوم.

وجه : (١) چي حِجر پر وسي نو بيا هغه هيڅ ډول خريدوفروخت نه سي کولائي.چي دهغه په وجه دئ د يوه ګُوَډ او شَل په شان سو.چي عقل وحواس لري خو بيا هم هيڅ ډول بيع وشرآء نه سي کولائي دا به پر ده باندي ډېر ظُلم وي او اِنساني اَهلِيّت به ختم سي. نو ځکه زه پر هغه باندي حِجر نَه کوم (٢) مخته حديث تير سو چي په هغه

[١٠٨١](٣٠) وَ اِذَا وَجَبَتِ الدُيُونُ عَلْي رَجُلٍ مُفلِسٍ وَطَلَبَ غُرَمَائُهُ حَبسَهُ وَ الحِجرَ عَلَيهِ لَم اَحجُرُ عَلَيهِ [١٠٨٢](٣١) وَ اِن کَانَ لَهُ مَالٌ لَم يَتَصَرّفَ فِيهِ الحَاکِمُ وَ لْکِن يَحبِسَهُ اَبَدًا حَتْي يَبِيعَهُ فِي دَينِهِ .

کي پر صحابي باندې دحِجرمُطالبه وکړه لېکن حضور پر هغه باندي حِجر وَنَه کړئ بلکه داسې وفرمائل اِن کُنتَ غَيرُ تَارِکٍ لِلبَيعِ فَقُل هَآ ءَ وَ هَآ ءَ وَلاَخَلاَبَةَ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في الرجل يقول عند البيع لاخلابة ص١٣٨نمبر٣٥٠١) په دې حديث کي د صحابي دخاندان خلګود حِجرمطالبه وکړه بيا هم حضور پر هغه باندي حِجر وَنَه کړئ بلکه دبيع وروسته د خِيَارِشرط اخستلو حُکم وکړئ. نو ځکه د اِفلاَس په وجه به هم پر عاقل بالغ سړي باندي حِجر نَه کيږي .

[١٠٨١](٣٠) که پر مُفلِس نَارِينَه باندي دَين واجب سوئ وي او دهغه قرض خُوَاه دهغه د قَيد کولو مُطالبه وکي او پر هغه باندي دحِجرکولو مُطالبه وکي نوزه پر هغه باندي حِجر نَه کوم .

تشريح : پر مُفلِس سړي باندي بنَه ډېر قرض راغلئ وي او قرض ورکونکي پر ده باندي د حِجرمُطالبَه کوي او دده د قيد کولو مُطالَبَه کوي نو امام ابوحنيفه فرمائي چي زَه پر ده باندي حِجر نَه کوم .

وجه : حديث او دليلِ عَقلي مخته تېر سوي دي .

[١٠٨٢](٣١) که د مُفلِس سره څَه مال وي نو حَاکِم به په هغه کي تَصَرّف نَه کوي لېکن دئ به ترهغه وخته قَيدکوي ترهغوچي دغه مال د دَين لپاره خرڅ کړي .

تشريح : چي دمُفلِس سره مال وي نو حَاکِم به هغه نَه خرڅوي بلکه په خپله مُفلِس به به هغه خرڅوي.مګر مُفلِس به تر هغه وخته پوري په قَيدکي سَاتِي تر څو چي ده مال نَه وي خرڅ کړئ او دَين ئې نَه وي ادآء کړئ .

[١٠٨٣](٣٢) وَاِن كَانَ لَهُ دَرَاهِمُ وَ دَينُهُ دَرَاهِمُ قَضَاهُ القَاضِيُ بِغَيرِ اَمرِهِ .

وجه : (١) حَاکِم به ځکه نَه خرڅوي چي پر مُفلِس باندي يو قسم حِجر رانَه سي.دحَاکِم په خرڅولو سره خو پر مُفلِس باندي يوه ګُونَه حِجر راځي نو ځکه حَاکِم به نَه خرڅوي بلکه مُفلِس به په خپله خرڅوي (٢) بيع خو د دُوَاړُو په رضامندي سره کيږي او چي حَاکِم ئې خرڅ کړي نو د مُفلِس رَضَامَندِي نَه راغله حالانکه د مُفلِس مال دئ دحَاکِم مال نَه دئ نو ځکه حَاکِم به نَه خرڅوي. لېکن چي د قرض ورکونکي قرض هم ادآء سي نو ځکه دا اِنتِظَام به کوي چي مُفلِس به قَيدکوي چي دئ مجبوره سي او خپل مال خرڅ کړي. ددې دليل دا حديث دئ عَن عَمرِبنِ شُرَيد عَن اَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺ لِي اَلوَاجِدُ يَحِلّ عِرضُهُ وَعُقُوبَتُهُ قَالَ سُفيَانُ يَعنِي عِرضُهُ اَن يَقُولَ ظَلَمَنِي فِي حَقِّي وَعُقُوبَتُهُ يُسجَنُ (الف) (سنن للبيهقي.باب حبس من عليه الدين اذا لم يظهرماله وماعلي الغني فِي المَطَلِ ج٦ص٨٥نمبر١١٢٧٩\بخاري شريف.باب لصاحب الحق مقالٌ ص٣٢٣نمبر٢٤٠١ کتاب الاستقراض) په دې حديث کي دئ چي کوم څوک تَاَل مَتُول وکي دهغه سَزَ آء داده چي دهغه عِزّت حلال دئ. يعني دا ويلائي سي چي فُلانِي پر ماباندي ظُلم کړئ دئ دئ د سَزَ آء مُستَحِق دئ. يعني هغه په قَيد کي اَچَولاَئي سي. ددې څخه دا ثابت سو چي تَاَل مَتول کونکئ په قَيدکي اَچَولاَئي سي .

[١٠٨٣](٣٢) که د مُفلِس سره دَرَاهِم وي او د دَين هم دَرَاهِم وي نو د مُفلِس د حُکم بغيره به هغه ادآء کوي .

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل که بَيع نَه پربېږدې نو داسي وَايَه وَاوْرَه دُوکَه به نَه وي .

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل چي مال لري دهغه سړي دتال متول په وجه دده عِزّت حلال دئ او وهغه ته سزآء ورکول. حضرت سُفيَان وفرمائل چي د عِزّت دحلالېدو مطلب دادئ چي ووائي پرماباندې زوما دحَق په باب کي ظُلم کړئ دئ او دسزآء مطلب دادئ چي هغه قَيد کړي .

[۱۰۸۴](۳۳) وَ اِن كَانَ دَينُهُ دَرَاهِمَ وَ لَهُ دَنَانِيرٌ اَو عَلْي ضِدِّ ذَالِكَ بَاعَهَا القَاضِيُ فِي دَينِهِ .

تشريح : پر مُفلِس د يوچا قرض دَرَاهِم دي او دده سره هم دَرَاهِم دي نو قاضي به د مُفلِس داجازت بغيره د صَاحِبِ قرض دَين اداّء كوي .

وجه : د دَائِن چي كوم حق دئ هغه د مُفلِس سره موجود دئ نو ځكه دَائِن ئې د مُفلِس درضامندئ بغيره هم اخستلائي سي نو قاضي ته خو تر هغه هم زِيَات اختيارات حاصل وي نو ځكه هغه په درجه اَولْي سره دده دحُكم بغيره دغه قرض اداّء كولائي سي (۲) په حديث كي ودې ته اِشَارَه سوې ده اَنّهُ سَمِعَ اَبَاهُرَيرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ اَو قَالَ سَمِعتُ رَسُولَ اللهِ مَن اَدرَكَ مَالَهُ بِعَينِهِ عِندَ رَجُلٍ اَو اِنسَانٍ قَد اَفلَسَ فَهُوَ اَحَقّ بِهِ مِن غَيرِهِ (الف) (بخاري شريف.باب اذا وجد ماله عند مُفلِسٍ فِي المبيع والقرض والوديعة فهو احق بِهِ ص۳۲۳نمبر۲۴۰۲ كتاب الاستقراض) په دې حديث كي دئ چي دمُفلِس سره خپل مال وَمُوندِي نو دمال والا زِيَات حق داره دئ او چي دِرهَم ئې په قرض وركړي دي هغه دِرهَم موجود دي نو ځكه هغه به خپل دِرهَم اَخلِي. ځكه چي دِرهَم او دَنَانِير نَه مُتَعَيّن كيږي. لِهْذَا قاضي به هم د مُفلِس درضامندئ بغيره و دَائِن ته وركوي .

[۱۰۸۴](۳۳) او كه چيري دهغه دَين دَرَاهِم وي او دمُفلِس سره دِينَار وي يا ددې بَرعَكس وي نو قاضي به دده په دَين كي خرڅوي .

تشريح : د مُفلِس سره دِينَار دي او پر ده باندي دَين دَرَاهِم دي يا ددې عَكس وي يعني د مُفلِس سره دَرَاهِم دي او پر ده باندي دَين دِينَارُونَه دي نو قاضي به هغه خرڅوي او دده دَين به اداّء كوي .

حاشيه : (الف)حضورﷺ وفرمائل يوچا د يوچا سره بِعَينِهِ هغه مال وموندئ او مُفلِس سو نودئ تر نورو زِيَات حقداره دئ .

[۱۰۸۵](۳۴) وَقَالَ اَبُويُوسُفَ وَمُحَمّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ اِذَا طَلَبَ غُرَمَاءُ المُفلِسِ اَلحِجرَ عَلَيهِ حَجَرَ القَاضِيُ عَلَيهِ وَمَنَعَهُ مِنَ البَيعِ وَالتّصَرّفِ وَالاِقرَارِ حَتْي لاَ يَضُرّ بِالغُرَمَآءِ .

وجه : كه دِينَار وي كه دَرَاهِم دُوَاړَه ثَمَن دي نو ګواكه دواړه يو جِنس دي نو د دَائِن چي په كوم جِنس كي حَق دئ هغه جِنس ګواكه دمَقرُوض سره موجود دئ نوځكه هغه اخستلائي سي.او قاضي خو زِيَات اِختِيَار لري نو ځكه دِينَار د دِرهَم په قرض كي او دِرهَم د دِينَار په قرض كي په دَرَجَه اَولْي سره خرڅولائي سي. د مَديُون د مال د خرڅولو دليل دا حديث دئ عَن كَعبِ بِنِ مَالِكٍ ... فَدَعَاهُ النّبِيُﷺ فَلَم يَبرَح مِن اَن بَاعَ مَالَهُ

وَقَسّمَهُ بَينَ غُرَمَائِهِ قَالَ فَقَامَ مُعَاذُ وَ لاَ مَالَ لَهُ (الف) (سنن للبيهقي.باب الحجرعلي المفلس وبيع ماله في ديونه ج۶ص۸۰نمبر۱۱۲۶۲) په دې حديث کي دئ چي حضورﷺ دحضرت مُعاذ مال خرڅ کړئ او دقرض خُوَاهَانُو تر مينځ ئې تقسيم کړئ .

[۱۰۸۵](۳۴) او امام ابويوسف او امام محمدوفرمائل چي که د مُفلِس قرض خُوَاه پر مُفلِس باندي د حِجرکولو مُطالبَه وکړي چي دئ حِجر کړه نو قاضي به پر هغه حِجرکوي. او د بيع کولو د تصرف کولو او اقرار کولو څخه به منع کوي. چي د قرض خُوَاهَانُو نُقصَان وَنَه سي .

وجه : په حديث کي دئ چي حضور دقرض خُوَاهَانُو په وجه پر حضرت مُعَاذبن جبل باندي حِجر کړئ وُ عَن كَعبِ بِنِ مَالِكٍ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺ حَجَرَ مَعَاذَ مَالَهُ وَبَاعَهُ فِي دَينٍ كَانَ عَلَيهِ(ب) (دارقطني.كتاب في الاقضية والاحكام ج۴ص۱۴۸نمبر ۴۵۰۵\۱

حاشيه : (الف) حضور نَه پرېښُوَئ تردې چي دحضرت مَعَاذ مال ئې خرڅ کړئ اوهغه ئې دقرض خُوَاهَانُو ترمينځ تقسيم کړئ نو حضرت مَعَاذ بېله ماله پاته سو (ب) حضور پر حضرت مَعاذ باندي دده د مال په حقله حِجر وکړئ او هغه ئې دده د دَين په بَدلَه کي خرڅ کړئ .

[۱۰۸۶](۳۵) وَبَاعَ مَا لَهُ اِن اِمتَنَعَ المُفلِسُ مِن بَيعِهِ وَقَسّمَهُ بَينَ غُرَمَآءِهِ بِالحِصَصِ .

سنن للبيهقي .باب الحجرعلي المفلس وبيع ماله في ديونه ج۶ص۸۰نمبر۱۱۲۶۰) په دې حديث کي دخلکو د دَين او دهغو دمُطالبې په وجه پرحضرت معاذبن جبل باندي حِجر کړئ وُ. نو ځکه دصاحبينو دا رَأيه ده چي که دَائِن مُطالَبَه وکړي نو پر مَديُون به حِجر کيږي.چي د دَائِن نُقصَان وَنَه سي .

[۱۰۸۶](۳۵) او دده مال به خرڅوي که مُفلِس دخرڅولو څخه منع سو او د قرض خُوَاهَانُوتر مينځ به د حِصّې مُطابق تقسيم کوي .

تشريح : که چيري مُفلِس خپل مال نَه خرڅوي نوقاضي به دده مال خرڅوي او دقرض خُوَاهَانُوقرضې به په اداٴ کوي.او هريوه ته به دخپلي خپلي حصّې مُطابق ورکوي.مثلاً دوه زَرَه روپۍ قرض وُ.د زَيد دزَرروپۍ.اودعمردپنځَه سوه روپۍ.او د بَکر ددُوَه نِيم سوه او دخالِد د دُوَه نِيم سوه روپۍ دي.او دمُفلِس سره ټوټل زَر روپۍ دي نو وهر يوه ته به دخپل قرض نِيمَئ ملاوېږي.مثلاً د زَيدقرض زَر روپۍ وُ نو هغه ته به پِنځَه سوه ملاوېږي.او د عمر قرض پِنځَه سوه وُ نو هغه ته به دُوَه نِيم سوه روپۍ ملاوېږي. د بَکر قرض ددُوَه نِيم سوه روپۍ وې نو هغه ته به سَوَاسَل روپۍ ملاوېږي.او دخَالِد قرض دُوه نِيم سوه روپۍ وې نو هغه ته به هم سَوَاسَل يعني يَوسَل پِنځوِيشت روپۍ قرض وَاپَس ملاوېږي.دا به وهر يوه ته دخپلي خپلي حِصّې په اندازه رسيږي چي وهر يوه ته خپل مُناسب حق ملاوُسي او چاته د اِشکال کولو موقع نَه سي پاته.قاضي به د مَديُون مال خرڅوي ددې دليل مخته ته تير سو فَدَعَاهُ النّبِيُﷺ فَلَم يَبرَح مِن اَن بَاعَ مَالَهُ وَقَسّمَهُ بَينَ غُرَمَائِهِ قَالَ فَقَامَ مُعَاذُ وَ لاَ مَالَ لَهُ

(الف) (سنن للبيهقي.باب الحجرعلي المفلس وبيع ماله في ديونه ج۶ص۸۰نمبر۱۱۲۶۲) په بُخَارِي شريف کي هم د دَين په وجه دمُدَبّرغُلام

حاشيه : (الف) حضور نَه پرېښوَئ تردې چي دحضرت مَعَاذ مال ئې خرڅ کړئ اوهغه ئې دقرض خُوَاهَانُو ترمينځ تقسيم کړئ رَاوِي وائي چي حضرت مَعَاذ ببله ماله پاته سو .

[۱۰۸۷](۳۶) فَاِن اَقَرّ فِي حَالِ الحِجرِ بِاِقرَارِ مَالٍ لَزِمَهُ ذَالِکَ بَعدَ قَضَآءِ الدُيُونِ [۱۰۸۸](۳۷) وَ يُنفِقُ عَلْي المُفلِسِ مِن مَالِهِ وَ عَلْي زَوجَتِهِ وَ اَولاَدِهِ الصِغَارِ وَ ذَوِي الاَرحَامِ .

دخرڅولو او دهغه د دَين د ادآء کولو تَذکِرَه موجود ده عَن جَابِرٍ بِنِ عَبدِاللهِ قَالَ اَعتَقَ رَجُلٌ غُلاَما لَهُ عَن دُبُرٍ فَقَالَ النّبِيُﷺ مَن يَشتَرِيهِ مِنّي فَاشتَرَاهُ نُعَيمُ بِنِ عَبدِاللهِ فَاَخَذَ ثَمَنَهُ فَدَفَعَهُ اِلَيهِ (الف) (بخاري شريف.باب من باع مال المفلس او المعدوم فقسّمَهُ بين الغُرَمَآء او اَعطَاهُ حتْي يُنفِقَ علْي نفسه ص۳۲۳نمبر ۲۴۰۳) په دې حديث کي هم د دَائِن په وجه د مَديُون د مُدَبّرغُلاَم د خرڅولو او دهغه د دَين د ادآء کولو تَذکِرَه ده.نو ځکه دده مال به خرڅوي او د دَائِن قرض به ادآء کوي .

[۱۰۸۷](۳۶) که چيري مُفلِس د حِجر په حالت کي ديوچا دمال اِقرَار وکئ نو پر ده باندي دا لازم دئ د دَين د ادآئيګئ وروسته .

تشريح : پر مُفلِس باندي قاضي حِجر کړئ وُ په دغه دَورَان کي ده پر ځان باندي ديوچا د قرض اِقرَار وکئ نو دا اِقرَار منل کيږي. لېکن ددې ادآئيګي به د ټولو دُيُونُ د ادآئيګئ وروسته کوي .

وجه : د مخکني خلګو حقوق مُقَدّم دي او ثَابِت دي نوځکه هغه به مخکي ادآء کوي. که څَه رَقَم پاته سو نو وروسته به د وروستنئ خلګو حقوق ادآء کوي .

[۱۰۸۸](۳۷) او د ده دمال څخه به خرچيږي پر مُفلِس باندي او دده پر مَينَه باندي او دده پر کِشنِي اَولاَدُو باندي او د ده پر ذِي رَحمِ مَحرَم قِرِيبَانُو باندي .

وجه : مختله تير سو چي د مُفلِس حَاجَتِ اَصلِيّه به تر ټولو شيانو مُقَدّم وي.اودمُفلِس

حاشيه : (الف) فرمائي چي يوه سړي خپل غُلاَم مُدَبّر جوړ کړئ نوحضور وفرمائل زوما څخه دا غُلاَم څوک اَخلي ؟ نو هغه نعَيم بن عبدالله رَانِيوَئ. دهغه قيمت ئې وَاخَستئ او هغه ئې ورکئ .

[۱۰۸۹](۳۸) وَ اِن لَم يُعرَف لِلمُفلِسِ مَالٌ وَطَلَبَ غُرَمَآ ءُهُ حَبسَهُ وَهُوَ يَقُولُ لاَ مَالَ لِي حَبَسَهُ الحَاکِمُ فِي کُلِّ دَينٍ لَزِمَهُ بَدَلاً عَن مَالٍ حَصَلَ فِي يَدِهِ کَثَمَنِ المَبِيعِ وَبَدَلِ القَرضِ .

پر ذَات باندي خرچ کول په حَاجَتِ اَصلِیّه کي دئ. دغه رنګه د ده بِي بِي.کِښنِي بَچَان او ذِی رَحمِ مَحرَم رِشتَه داران کوم چي نَفَقَه ئې پر مُفلِس باندي واجب ده پر دغه ټولو به د مُفلِس د مال څخه خرچیږي. چي ددې څخه پاته سي نو بیا به دَین په ادآء کیږي .

اُصُول : د مُفلِس حَاجَتِ اَصلِیّه به مُقَدّم وي .

[١٠٨٩](٣٨) او که نَه معلومېدئ چي دمُفلِس سره مال سته او دده قرض خُوَاه دده د قَیدکولو مُطالَبَه وکي او مُفلِس وائي چي زوما سره مال نسته نو حَاکِم به دئ قَیدکوي په هر هغه دَین کي چي دمال په بَدلَه کې لازم کړئ وي چي حاصل سوئ وي دده په لاَس کي لکه د مَبِیع ثَمَن او دقرض بَدلَه .

تشریح : چي پر انسان یو قرض راځي دهغه دُوَه صورتونه وي.یو خودا وي چي دهغه قرض په بدله کي دده لاس ته یو مال راغلئ وي لکه دثَمَن قرض چي پر راسي نو دهغه په بَدلَه کي مَبِیع لاَس ته راځي چي هغه مال دئ. یا دمَهر قرض پر راسي نو دهغه په بَدلَه کي بُضع لاس ته راځي چي مِن وَجهٍ مال ګڼل کیږي. او دُوَم صورت دادئ چي قرض پر راسي لېکن لاَس هیڅ ډَوَل مال نَه وي راغلئ لکه د جِنَایَت بَدلَه چي دیوچا نُقصَان ئې وکئ او دهغه په بَدلَه کي مال ورکوي او قرض پر راغلئ نو ددې قرض په بَدلَه کي هیڅ ډَول مال دده لاَس ته نَه راغلئ. د نُقصَان کولو په وجه قرض لازم سو. دکوم قرض په لازمېدلو کي چي مال لاَس ته راځي لکه د مَبِیع ثَمَن په داسي صورت کي مُفلِس ووائي چي زوما سره مَال نسته او دَائِن غُوَاړِي چي دئ قَید کړي نو حَاکِم به دئ قَید وي .

[١٠٩٠](٣٩) وَ فِي كُلِّ دَينٍ اِلتَزَمَهُ بِعَقدٍ كَالمَهرِ وَالكَفَالَةِ .

وجه : د مُفلِس لاَس ته مَبِیع راتلل ددې خبري دلیل دئ چي دده سره مال سته. که بَل هیڅ ډَوَل مال نَه وي نو کَم اَز کَم مَبِیع خو سته دغه دي خرڅه کړي دَین دي په ادآء کړي یا دي قَید ته وُلاَړ سی. دغه رنګه د وَادَه اِقدَام کول هم ددې خبري دلیل دئ چي دده سره مال سته که نَه وي نودمَهراِقرَارئې څَه رنګه وکئ؟نوځکه قَیدکوي به.

اُصُول : مَبِیع لاَس ته راتلل علامت دئ چي دده سره مال سته نوځکه قَیدکوي به. دقَیدکولو دلیل دا حدیث دئ عَن اَبِي مِجلَزٍ اَنّ غُلاَمَینِ مِن جُهَینَةَ کَانَ بَینَهُمَا غُلاَمٌ فَاَعتَقَ اَحَدُهُمَا نَصِیبَهُ فَحَبَسَهُ رَسُولُ اللهِﷺ حَتّي بَاعَ فِیهِ غَنِیمَةٌ لَهُ (الف) (سنن للبیهقي.باب الحجرعلي المفلس وبیع ماله في دیونه ج۶ص۸۱نمبر ١١٢٦٣) په د حدیث کي دئ چي د غُلاَم پر آزېدو باندي حضورهغه هَلَک قَیدکړئ حَتّي چي دهغه وُزې(بُوزې) ئې خرڅي کړې .

او په کوم قرض کي چي مَال لاَس ته نَه راځي لکه دجِنَایَت تَاوَان. او مُفلِس دا وائي چي زوما سره مال نَستَه او هسي مال هم نَه ښکاره کیږي نو په هغه کي به مُفلِس نَه قَیدوي .

وجه : د قرض په بَدلَه کي هيڅ شَئ لاَس ته نَه راځي نو ځکه د مُفلِس سره دمال دموجودګئ دليل نسته لِهْذَا حَاکِم به دئ نَه قَيد کوي .

[۱۰۹۰](۳۹) اوهرهغه دَين چي دعَقدپه ذريعه ئي لازم کړئ وي لکه مَهراوکِفَالَة.

تشريح : د وَادَه دمَهر قرض پر راغلئ نو دا ديو عَقد په وجه پر راغلئ. دغه رنګه ديوچا کَفِيل سوچي که هغه ستا قرض نَه کئ اداء نو زه درکوم نو اُوس ددې عَقدِکَفَالَة په وجه دغه قرض پر لازم سوئ دئ اومُفلِس وائي چي زوما سره مال نسته بيا هم حَاکِم به دئ قَيدکوي .

حاشيه : (الف) دقبيله جُهَينَه دُوَه هَلګَان د هغو تر مينځ يو غُلاَم وُ.نو د دُوئي څخه يوه خپله حِصّه آزاد کړه نوحضور هغه قَيدکړئتر دې چي په هغه کې دده مَالِ غَنِيمَت خرڅ کړئ .

[۱۰۹۱](۴۰) وَ لَم يَحبَسهُ الحَاکِمُ فِيمَا سِوْي ذَالِکَ کَعِوَضِ المَغصُوبِ وَ اَرشِ الجِنَايَاتِ اِلاّ اَن تَقُومَ البَيِّنَةُ بِاَنّ لَهُ مَالاً [۱۰۹۲](۴۱) وَيَحبِسُهُ الحَاکِمُ شَهرَينِ اَو ثَلْثَةَ اَشهُرٍ سَأَلَ عَن حَالِهِ فَاِن لَم يَنکَشِف لَهُ مَالٌ خَلّيْ سَبِيلَهُ .

وجه : ځکه چي پر داسي عَقد باندي اِقدَام کول چي دهغه په وجه قرض پر لازم سي ددې خبري دليل دئ چي دده سره مال سته .

[۱۰۹۱](۴۰) ددې څخه په علاوه کي به حَاکِم نَه قيد کوي لکه د غَصَب بدله او د جِنَايَت تَاوَان مګر دا که چيري بَيِّنَه قائمه کړه چي دده سره مال سته .

تشريح : د کومو قرضو په بَدَل کي چي مال لاَس ته نَه راځي او د عَقدپه ذريعه مال لازم سوئ وي په هغه کي مُفلِس دا ووائي چي زوما سره مال نسته نو حَاکِم به دئ نَه قيدکوي. ليکن که چيري قرض خُوَاهَانُو شَهَادَت وُړَانِدي کئ چي دده سره مال سته نو بيا به حَاکِم دئ قَيدکوي .

وجه : ځکه چي عَقد په ذريعه يا دقرض په بدله کي دده لاَس ته هيڅ ډَوَل مال نَه دئ راغلئ نو ځکه دده په لاَس کي دمال د موجودګئ ښکاره کوم خاص دليل نسته. نو ځکه حَاکِم به دئ نَه قيدکوي. تر څوچي بَيِّنَه نَه وي پيش سوې چي دده سره مال سته .

لُغَت : اَرشٌ : تَاوَان . دنُقصَان بَدلَه .

[۱۰۹۲](۴۱) حَاکِم به دئ قَيدکوي دُوې يا درې مياشتي او دده دحالت په اَړه به پوښتنه. نو که مال نَه سي ښکاره نو دئ به رِهَا کوي (آزادوي) .

تشريح : حاکم به دا مُفلِس دُوې يا درې مياشتي قَيدکوي.په دغه دَوَرَان کي به دده اَحوَال معلوموي.که معلوم سوچي دده سره وَاقِعَةً مال نسته نودئ به يَلَه کوي.

[۱۰۹۳](۴۲) وَ كَذَالِکَ اِذَا قَامَ البَیِّنَةُ عَلْي اَنّهُ لاَ مَالَ لَهُ .

وجه : (۱) قَیدکول ددې لپاره وُ چي دده د مال په اَړَه تحقیق وکړي د سزآء ورکولو لپاره نَه وُ. اُوس معلوم سوچي دده سره مال نسته نو اُوس دې یَلَه کړي چي دده بُوج پر اُمّت باندي رَا نَه سي (۲) په حدیث کي دئ چي دمال د نېستئ پـه وجـه مَدیُون یَلَه کړئ عَن اَبِی سَعِیدِالخُدرِیّ قَالَ اُصِیبَ رَجُلٌ فِي عَهدِرَسُولِ اللهِﷺ فِي ثِمَارٍ اِبتَاعَهَا فَکَثَرَ دَینُهُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ تَصَدّقُوا عَلَیهِ فَتَصَدّقَ النّاسُ عَلَیهِ فَلَم یَبلُغ ذَالِکَ وَفَاءُ دَینِهِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ لِغُرَمَآئِهِ خُذُوا مَاوَجَدتُم وَلَیسَ لَکُم اِلاّ ذَالِکَ (الف) (مُسلم شریف.باب استحباب الوضع من الدَین ص۱۶نمبر۱۵۵۶\کتاب المساقات والمزارعة) په دې حدیث کي دئ چي د دَین د ادآء کولو وروسته مال ختم سو نو حضور وفرمائل چي ستالپاره ددې څخه علاوه هیڅ شئ نسته. ددې مطلب دادئ چي اُوس نو دئ رِهَا یعني یَلَه که .

پام لرنه : د دُو یا دُرُو میاشتو قید د تَحقیقِ حال لپاره دئ. که چیري ددې څخه پـه کَم وخت کي تحقیق وسو چي دده سره وَاقِعَةً مال نسته نو فوراً به یَلَه کوي .

لُغَت : خَلّيْ سَبِیلَهُ : دده لاَره به پرېږدي. یَلَه کوي به .

[۱۰۹۳](۴۲) دغه رنګه که پر دې باندي بَیّنَه قائم کړه چي دده سره مال نسته .

تشریح : د دُوُ میاشتودپوره کېدوڅخه مخکي مُفلِس بَیّنَه او شَهَادَت قائم کړئ چي دده سره مال نسته نو دئ به یَلَه کوي .

وجه:دقیدکولومقصد دمال تحقیق کول وُ د بَیّنې په وُړَاندِي کولو سره ده دا ثابته کړه چي دده سره مال نسته نو ځکه د دُو میاشتو څخه مخکي به هم دئ یَلَه کوي .

حاشیه : (الف) دحضور په زمانه کي د یوه سړي په مېوه کي چي ده اَخستې وه مَرَض ولګېدئ. نو پر ده باندي دَین ډېر زِیَات سو نو حضور خلګو ته وفرمائل چي وده ته صَدَقَه ورکئ نوخلګو صَدَقَه ورکړه.لېکن هغه صَدَقې دده ټوله دَین ادآء نَه کړئ نو حضور و قرض خُوَاهَانُو ته وفرمائل تاسو چي څَه وموندئ هغه واخلئ ددې څخه علاوه ستاسو لپاره هیڅ شئ نسته .

[۱۰۹۴](۴۳) وَلاَ یَحُولُ بَینَهُ وَ بَینَ غُرَمَآئِهِ بَعدَ خُرُوجِهِ مِنَ الحَبسِ بَل یُلاَزِمُونَهُ .

[۱۰۹۴](۴۳) او د مُفلِس او د قرض خُوَاهَانُو تر مینځ دي نَه حَائِلیږي دقَید څخه د رَاوَتلُو وروسته بلکه هغه دي په ده پسیسي .

تشریح : د مُفلِس سره مال نَه سوښکاره نو قاضي دئ د جِیل څخه یَلَه کئ. اُوس دي نو حَاکِم دمُفلِس او قرض خُوَاهَانُو تر مینځ رُکاوَټ نَه جوړیږي بلکه دُوئي دي پرېږدي چي په ده پسي لګېدلي وي.چي هر وخت د مُفلِس لاس ته مال راغلئ دُوئي دي خپل قرض ځیني وُصُول کړي .

وجه : (۱) قَیدکول دمال د تَحقیق لپاره وُ دسزآء په توګه نَه وُ اود قرض خُوَاه قرض پر مُفلِس باندي پاته دئ.نوځکه وروسته به هم په مُفلِس پسې کیږي چي خپل قرض وُصُول کړي (۲) په حدیث کي دئ عَن اَبِي هُرَیرَةَ اَنّ رَسُولَﷺ اللهِ قَالَ مَطلُ الغَنِيِّ ظُلمٌ وَ اِذَا اُتّبِعَ اَحَدُكُم عَلْي مَلِيٍّ فَليَتّبِع (الف) (مسلم شریف.باب تحریم مطل الغني وصحّةِ الحوالَةِ ص۱۸نمبر۱۵۶۴) ددې حدیث څخه معلوم سو چي په تمال متول کونکي سړي پسې کېدلائي سي (۳) پر حضرت مَعَاذ باندي ډېرقرض راغلئ وُ نو قرض خُوَاهَان په ده پسې سوي وُ عَن جَابِرِ بن عَبدِاللهِ قَالَ کَانَ مَعَاذُ بِنِ جَبَلٍ مِن اَحسَنِ النّاسِ وَجهًا وَ اَحسَنُهُم خُلُقًا اَسمَحُهُم کِفَافًا دَانَ دَینًا کَثِیراً فَلَزِمَهُ غُرَمَائُهُ حَتْي تَغِیبَ عَنهُم اَیّامًا فِي بَیتِهِ (ب) (سنن للبیهقي.باب لایواجرالحرفِي دَینٍ علیه ولایلازم اذا لم یوجدله شئٌ ج۶ص۸۳نمبر۱۱۲۷۱) په دې حدیث کي دئ چي د دَین په وجه قرض خُوَاهَان په حضرت مَعاذ پسې سوي وُ او دئ تر څو ورځو پوري پَټ وُ.

حاشیه : (الف) حضور وفرمائل چي دمالدار سړي تمال متول کول ظُلم دئ.اوچي کله تَه ومالدار سړي ته حَوَالَه سې نو په هغه پسي لګېدل په کار دئ (ب) حضرت مَعاذ ښَه ُوُ دمَخ (یعني چهرې) په لِحاظ او ښَه وُ دآَخلاقُ په اِعتِبَار اوسخِي وُ د لآَس په اِعتِبَارسره. نو ځکه پر ده باندي ډېره قرضه راغله. قرض خُوَاهَان په ده پسې سول چي دهغه په وجه څُو ورځي دئ په خپل کور کي پَټ وُ .

[۱۰۹۵](۴۴) وَ لاَ یَمنَعُونَهُ مِنَ التّصَرُفِ وَ السّفَرِ [۱۰۹۶](۴۵) وَ یَأخُذُونَ فَضلَ کَسبِهِ فَیُقَسّمُ بَینَهُم بِالحِصَصِ [۱۰۹۷](۴۶) وَ قَالَ اَبُویُوسُفَ وَ مُحَمّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ اِذَا فَلّسَهُ الحَاکِمُ حَالَ بَینَهُ وَ بَینَ غُرَمَائِهِ اِلاّ اَن یُقِیمُوا اَلبَیّنَةَ اَنّهُ قَد حَصَلَ لَهُ مَالٌ .

نو ځکه د دَین دوصولولو لپاره قرض خُوَاهَان په سړي پسې کېدلائي سي .

[۱۰۹۵](۴۴) مُفلِس به د تَصَرّف کولو او د سفر کولو څخه نَه منع کوي .

وجه : چي بَیع و شِرَآء نَه کوي.سَفَر نَه کوي نو د قرض خُوَاه قرض به د کومي خُوَا اداَء کوي ؟ نو ځکه مُفلِس به د بیع وشرآء کولو ا و سَفَر کولو څخه نَه منع کوي .

[۱۰۹۶](۴۵) او دده د ګسب بَچَت به ځیني اَخلِي او په خپل مینځ کي به د خپلي حِصّې مُطابق تقسیم کوي .

تشریح : د مُفلِس حاجتِ اَصلِیّه به تر ټولو شیانو مُقَدّم وي.په دي کي دخرچولو وروسته چي هرڅَه بَچَاؤ سو هغه به قرض خُوَاهَان په خپل مینځ کي دحِصّې مُطابِق تقسیم کوي. دتقسیم طریقه مخکي تېره سوې ده .

[۱۰۹۷](۴۶) امام ابویوسف او امامِ مُحمد فرمائي چي که حَاکِم دئ مُفلِس وګرزاوئ نو حَاکِم به دده او قرض خُوَاهَانُو ترمینځ حائل جوړیږي مګر دا که چیري بَیّنَه قائم کړي چي دده لآَس ته مال رسېدلئ دئ .

وجه : اصل قاعده داده چي د امام ابوحنيفه په نيز ځوک مُفلِس وګرزي هغه همېشه مُفلِس نَه پاتيږي ځکه چي مال خو داسي شئ دئ چي ځِي رَاځِي.که نَن ديوچاسره مال نسته نو سَبَا به مال راسي نوځکه که حَاکِم يوځوک مُفلِس وګرزوي نو هغه همېشه مُفلِس نَه پاتيږي.نوځکه وقرض خُوَاهَانُو ته به ددې اِجَازَت وي چي په ده پسي سي.

او دصاحبينو په نيز که ځوک مُفلِس وګرزېدئ نو هغه به همېشه مُفلِس شمېرل کيږي.

او چي دئ مُفلِس سو او مَال نَه لري نو وقرض خُوَاهَانُو ته ددې شي

[۱۰۹۸](۴۷) وَ لاَ يُحجَرُ عَلْي الفَاسِقِ اِذَا كَانَ مُصلِحًا لِمَا لِهِ وَ الفِسقُ الاَصلِيّ وَالطّارِئُ سَوَآ ءٌ [۱۰۹۹](۴۸) وَ مَن اُفلِسَ وَعِندَهُ مَتَاعٌ لِرَجُلٍ بِعَينِهِ اِبتَاعَهُ مِنهُ فَصَاحِبُ المَتَاعِ اُسوَةٌ لِلغُرَمَآءِ فِيهِ .

اِجَازَت نسته چي په ده پسي سي او دئ تَنګ کړي.لِهٰذَا حَاکِم به دمُفلِس او قرض خُوَاهَانُو ترمينځ حائل ګرزي. البته که چيري دشَهَادَت په ذريعه دا ثابته کړه چي د مُفلِس سره مال سته نو بيا وقرض خُوَاهَانُو ته دا‌َخستَلُو حق سته .

[۱۰۹۸](۴۷) او پر فَاسِق به حِجر نَه کيږي که چيري دئ دمال اِصلاَح کونکئ وُ او فَاسِقِ اَصلِي او فَاسِقِ طَارِي سره برابر دي .

تشريح : فَاسِق په دِينِي کارو کي فِسق کوي لېکن مال په صحيح توګه سره خرڅ کوي او په صحيح توګه ګټِي نو پر هغه به حِجر نَه کيږي .

وجه : (۱) ځکه چي حِجر خو د مال د اِصلاَح لپاره کيږي او دئ دمال اِصلاَح کوي نو دحِجر کولو څَه فائده نسته (۲) حَجّاج بن يوسف فَاسِق وُ لېکن دفِسق په وجه پر ده باندي حِجر نَه وسوئ. نوځکه پر فاسق به د فِسق په وجه حِجر نَه کيږي که چيري مال په صحيح توګه خرڅ کاوئ .

لُغَت : اَلطّارِئُ : وروسته طَاري سي.اَوّل نَه وي وروسته بياراسی .

[۱۰۹۹](۴۸) يوځوک ئې مُفلِس وګرزاوئ او دده سره بِعَينِهِ ديو چا مال موجود وي کوم چي ده دهغه څخه اَخَستَئ وُ نو سامان والا په دغه کي د نورو قرض خُوَاهَانُو سر برابر دئ .

تشريح : يوسړئ ئې مُفلِس وګرزاوئ. ده مثلاً ددې څخه مخکي ديوچا څخه وُزَه(بوزه) اخستې وه. او د بُوزې والا ته قِيمَت نَه وُ ورکړئ او دغه بُوزَه بعينه دمُفلِس سره موجود ده. نو لکه څَه رنګه چي ونورو قرض خُوَاهَانُو ته د مال دموجودګئ په صورت کي دخپلي حِصّې مُطابِق قرض ملاؤيږي دغه رنګه دبُوزې والا ته به د مال دموجودګئ په صورت دخپلي حِصّې مُطَابِق دبُوزې قيمت ملاؤيږي. دبُوزې والا خپله ټوله بُوزَه نَه سي بېولائي. بلکه بوزه به خرڅوي اودټولوقرض به په اداَء کوي .

وجه : (۱) دبُوزې دبيعِ کولو ورسته دا بُوزَه د مُفلِس سوه.اُوس دبوزې والا نَه ده . البته پر مُفلِس باندي ددې قيمت واجب دئ چي دمُفلِس پر ذِمّه به قرض وي. نوځکه د

مال په راتلو سره لکه څَه رنګه چي نورو قرض خُوَاهَان ئې دخپلي حِصّې مُطابِق اَخلي دغه رنګه به دغه دبُوزي مَالِک هم خپله حِصّه اَخلِي. مثلاً دبُوزي قیمت دُوَه نِیم سوه روپیٔ وُ اوپر مُفلِس باندي دُوَه زره قرض وُ. دزَید د زَر روپیٔ. د عُمر د پِنځَه سوه او د خَالِد د دُوَه نِیم سوه قرض وُ او د بُوزي قیمت دُوَه نِیم سوه روپیٔ وُ. او دمُفلِس لاس ته زَر روپیٔ راغلي نو وهر قرض خُوَاه ته به نِیم نِیم قرض ملاؤیږي. یعني زَید ته پِنځَه سوه.عُمَر ته دُوَه نِیم سوه.خَالِد ته سَوَا سَل (یعني یو سَل پِنځوِیشت) او دبوزي والا ته به هم د دُوَه نَیم سَوَه نِیمَیٔ یعني سَ◌َوا سَل روپیٔ ملاؤیږي. او دقرض خُوَاهَانُو سره به شریک وي (۲) په حدیث کي ددي ثبوت سته عَن اَبِي هُرَیرَةَ عَنِ النّبِيّ ﷺ ... فِي رِوَایَتِهِ وَ اَیّمَآ اِمرَأٍ هَلَکَ وَعِندَهُ مَتَاعُ اِمرَأٍ بِعَینِهِ اِقتَضْي مِنهُ شَیئًا اَو لَم یَقتَضِ فَهُوَ اُسوَةُ الغُرَمَآءِ (الف) (سنن للبیهقي.باب المشتري یموت مُفلِسًابالثمن ج۶ص۷۹نمبر۱۱۲۵۶) په دي رِوَایَت کي دیٔ چي بَائِع به د نورو قرض خُوَاهَانُو سره په قرض کي شریک وي .

اُصُول : د مُفلِس دقبضي وروسته هغه شیٔ بیا دمُفلِس دیٔ. دمال والا نَه دیٔ.او دقرض خُوَاهَانُو په شَان دیٔ صرف دقیمت حقداره دیٔ .

فائده : امام شافعي فرمائي چي د بُوزي والا بُوزَه بعینه موجود ده نو ځکه دیٔ د بُوزي زِیَات حقداره دیٔ نو ځکه دیٔ به خپله پوره بُوزه د مُفلِس څخه بِیَائي. دده دلیل داحدیث دیٔ سَمِعَ اَبَاهُرَیرَةَ یَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺ اَوقَالَ سَمِعتُ رَسُولَ اللهِﷺ یَقُولُ مَن اَدرَکَ مَالَهُ بِعَینِهِ عِندَ رَجُلٍ اَو اِنسَانٍ قَد اَفلَسَ فَهُوَ اَحَقّ بِهِ مِن غَیرِهِ (الف) (بخاري شریف.باب اذا وجدماله عندمُفلس في البیع والقرض والودیعة فهواحق به ص۳۲۳نمبر۲۴۰۲\مسلم شریف.باب من ادرک ماباعه عندالمشتري وقد افلس فله الرجوع فیه ص۱۷نمبر۱۵۵۹) په دي حدیث کي دیٔ چي که بِعَینِه خپل مال دمُفلِس سره ومومندي نو دیٔ دهغه زِیَات حقداره دیٔ. نو ځکه دیٔ به اَخلي .

لُغَت : اُسوَةٌ : برابرحِصّه داره . اَلغُرَمَآ ءُ : د غِرِیمٌ جمع ده قرض ورکونکي. قرض خُوَاهَان .

حاشیه : (الف) دهغه په یوه رِوَایَت کي دیٔ چي یو څوک هلاک سي او دده سره دیوچا سامان بِعَینِهِ موجود وي دهغه څخه څَه قیمت وصول کړیٔ وي یائې نَه وي وُصُول کړیٔ نو هغه د قرض خُوَاهَانُو سره برابر دیٔ .

حاشیه : (الف) حضور وفرمائل یوچا د بَل چا سره بِعَینِهِ خپل مال وموندئ چي مُفلِس سوئ ؤ نو دئ تر نورو زِیَات حقداره دئ .

..... کِتَابُ الإِقرَار .....

[۱۱۰۰](۱) اِذَا اَقَرّ الحُرّالبَالِغُ العَاقِلُ بِحَقٍ لَزِمَهُ اِقرَارُهُ مَجهُولاً كَانَ مَا اَقَرّ بِهِ اَو مَعلُومًا .

..... کِتَابُ الإِقرَار .....

ضروري پام لرنه : پر خپل ځان باندي د یوحَد.قِصَاص یا مال اِقرَار کولو ته اِقرَار وائي. ددې ثبوت په دې حدیث کي دئ عَن اَبِي هُرَیرَةَ قَالَ اَتْي رَجُلٌ رَسُولَ اللهِ وَهُوَ فِي المَسجِدِ فَنَادَاهُ فَقَالَ یَا رَسُولَ اللهِ اِنّي زَنَیتُ فَاَعرَضَ عَنهُ حَتّي رَدّدَ عَلَیهِ اَربَعَ مَرّاتٍ فَلَمّا شَهِدَ عَلْي نَفسِهِ اَربَعَ شَهَادَاتٍ دَعَاهُ النّبِیُ فَقَالَ اَبِکَ جُنُونٌ ؟ قَالَ لاَ قَالَ فَهَل اَحصَنتَ ؟ قَالَ نَعَم فَقَالَ النّبِيُ اِذهَبُوا بِهِ فَارجُمُوهُ (الف) (بخاري شریف.باب لایرجم المجنون والمجنونة ص۱۰۰۶نمبر۶۸۱۵\مُسلم شریف. باب من اعترف علْي نفسه بالزنْي ج۲ص۶۶نمبر۱۶۹۵) په دې حدیث کي حضرت مَاعِز په پر خپل ځان باندي د زِنا اِقرَار کړئ دئ بیا پر ده باندي حَدّزِنَا جاري سوئ دئ. ددې ښخه د اِقرَار ثبوت وُسُو (۲) په دې آیت کي د اِقرَار ثبوت سته قَالَ اَ اَقرَرتُم وَ اَخَذتُم عَلْي ذَالِکُم اِصرِي قَالُوا اَقرَرنَا (آیت ۸۱سورة آلِ عمران)

[۱۱۰۰](۱) که آزاد بالغ او عَاقِل انسان د یَو حق اِقرَار وکي نوهغه پر ده باندي لازم سو.که د هر شي اِقرَار کړئ وي مجهول وي هغه شئ که معلوم وي .

تشریح : یو عَاقِل بَالِغ او آزاد اِنسان دیو چا دحق اِقرَار کوي نو هغه حق پر ده باندي لازمیږي.که اِقرَار معلوم وي مثلاً دا سی ووائي چي پر مابانديِ د فُلاَنِي

حاشیه : (الف) فرمائي چي یو سړئ دحضور خدمت ته راغلئ په داسي حال کي چي دئ په مسجدکي وُنو په آواز سره وویل یَارَسُولَ اللهِ ! مَا زِنَا کړې ده.نو حضور دهغه ښخه اِعرَاض وکئ تر دې چي څلور واره دا خبره تَکرَار کړه.نوچي پر خپل ذَات باندې څلور واره ګواهي ورکړه نو حضور دئ رَاوَبَالَئ او پوښتنه ځیني وکړه چي تَه لېوَنَئ ئې ؟ هغه وویل نَه. حضور پوښتنه ځیني وکړه چي تَه مُحصِن ئې ؟ ده وویل هُو ! حضور وفرمائل دئ بوزئ او رَجم ئې کئ .

[۱۱۰۱](۲) وَ يُقَالُ لَهُ بَيِّنِ المَجهُولَ فَاِن لَم يُبَيِّن اَجبَرَهُ الحَاكِمُ عَلْي البَيَانِ .

سړي شَل روپۍ دي يا اِقرَار مجهول وي مثلاً داسي ووائي چي پر مابـاندي د فُلاَنِي څَه روپۍ دي.په دواړو صورتو كي اِقرَار لازميږي او صحيح كيږي .
وجه : (۱) د آزاد قيد ئې په دې وجه ولګاوئ چي كه غُلاَم اِقرَار وكي نو هغه پر مَولْي باندي لازميږي او د مَولْي نُقصَان دئ.نوځكه كه د تجارت اِجَازَت نَه وُ وركړئ نو بياغُلاَم اِقرَار نَه سي كولائي. مګر ! پر خپل ځان باندي د حَد او قِصَاص اِقرَار كولائي سي. ځكه چي په دي كي دده دخپل ځان نُقصَان دئ.او دا دده ذَاتِي حق دئ. دبَالِغ او عَاقِل قيد ئې په دې وجه ولګاوئ چي د كِشنِي او لېونِي د خبرو او دهغه د اِقرَار هيڅ اِعتِبَار نسته. مخكي تېرسوئ دئ عَن عَائِشَةَ اَنّ رَسُولَ اللهِ قَالَ رُفِعَ القَلَمُ عَن ثَلْثَةٍ عَنِ النّائِمِ حَتّي يَستَيقِظَ وَ عَنِ المُبتَلْي حَتّي يَبرَأ وَعَنِ الصّبِيِّ حَتّي يَكبُرَ (الف) (بوداؤدشريف.باب في المجنون يسرق او يصيب حدًا ص۲۵۶نمبر۴۳۹۸) چي د بيده لېوني او كِشنِي څخه قلم پورته سوئ دئ (۲) د بَاب په شروع كي د ضروري پام لرني په حديث كي حضور د حضرت مَاعِز څخه پوښتنه وكړه أبِكَ جُنُونٌ ؟ آيا تَه خو به لېوَنَئ نَه ئې ؟ ددې مطلب دادئ چي كه د جُنُونِيّت په حالت كي اِقرَار وكئ نو هغه اِقرَار هيڅ اِعتِبَار نَه لري. په هغه باندي حَد نَه لازميږي. مَجهُول اِقرَار په دې وجه مُعتَبَردئ چي كله دئ دبَل چا نُقصَان وكي او دا نَه وي معلوم چي څُونَه نُقصَان سوئ دئ لېكن اِقرَار كوي چي څُونَه نُقصَان سوئ دئ هغه زَه اداَء كوم. نوځكه دمجهول نُقصَان اِقرَاركول جائزدئ .

[۱۱۰۱](۲) او واِقرَار كونكي ته به ويل كيږي چي مجهول شئ بيان كَه. نو كه چيري نَه بيان وي نو حَاكِم به دئ مَجبُوركوي .

[۱۱۰۲](۳) فَاِن قَالَ لِفُلاَنٍ عَلَيّ شَيئٌ لَزِمَهُ اَن يُبَيِّنَ مَالَهُ قِيمَةٌ .

وجه : (۱) چي اِقرَار ئې وكئ نو د بَل حَق پر ده باندي لازم سو نو ځكه حَاكِم به دئ پر بيان كولومجبور كوي او دصَاحِبِ حَق خپل حَق به ورروصولوي (۲) په حديث كي حضرت مَاعِز او غَامِدِيّي ګُول مُول خبره كړې وه او د زَنَا اِقرَار ئې كړئ وُ نو حضور دهغه وَضَاحَت ځيني طلب كئ او دبيان كولو لپاره سوال ځيني وكئ قَالَ جَآءَ مَاعِزُ بِنِ مَالِكٍ اِلْي النّبِيِّ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ طَهِّرنِي ... حَتّي اِذَا كَانَتِ الرّابِعَةُ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ فِيمَ اُطَهِّرُكَ فَقَالَ مِنَ الزِّنْي. ددې حديث په مخته جُمله كي دئ قَالَ ثُمّ جَائَتهُ اِمرَأ ةٌ مِن غَامِدٍ مِنَ الاَزدِ فَقَالَت يَا رَسُولَ اللهِ طَهِّرنِي ... قَالَ وَمَا ذَاكَ ؟ قَالَت اِنّهَا حُبلْي مِنَ الزِّنَا فَقَالَ اَنتِ ؟ قَالَت نَعَم (الف) (مسلم شريف.باب من اعترف علْي نفسه بالزنْي نمبر۱۶۹۵) په دې حديث كي حضرت مَاعِز او حضرت غَامِدِيّي وفرمائل ما پاك كه اىٔ دخداىٔ

حاشيه : (الف) حضور ورمائل د دُرُو كسانوڅخه قلم پروته سوئ دئ.دبِيدَه څخه ترهغو چي بَيدَارَ سي. د لېوَنِي څخه ترهغوچي جوړسي او دكِشنِي څخه ترهغوچي لُوئ سي .

پيغمبره لېکن دائې نَه دي ورته ويلي چي دکوم شي څخه مِي پاک کَه. دا مجهول خبره وه نو حضور اِستِفسَار ځيني وکئ چي د کوم شـي څخـه دي پـاک کَم ؟ ددې څخـه دا معلوم سو چي که په اِقرَار کي جَهَالَت وُ نو حَاکِم به بيان ځيني طلب کوي. او کـه ديـو اِنسان حق ددې سره مُتَعَلّق وي نو پر بيان کولو به مجبور کوي هم .

[۱۱۰۲](۳) که وويل چي دفُلان پر ماباندي څَه سته نو پر ده لازم دئ چي داسي شـئ بيان کي چي څَه قيمت لري .

تشريح : يوچا وويل چي دفُلانِي پر ماباندي څَه سته.نو دا,, څَه ,,لفظ مجهول دئ

حاشيه : (الف) وفرمائل چي حضرت مَاعِز دحضور خدمت ته راغلئ او وفرمائل چي يَارَسُولَ اللهِ مَا پاک کَـه... تر دې چي ځلورم واره سونو حضور دده څخه پوښتنه وکړه چي دکوم شي څخه دي پاک کَم؟ نو ده وفرمائل د زِنَا څخه. دمخته جُملې ترجمه : دحضور خدمت ته دقبيله غَامِدِيّې يوه ښَځَه راغلـه او وفرمائـل ائ دخداځ رسـول مـا پاک کَه. حضور وفرمائل څَه سوي دي؟ دې وويل چي د زِنَا څخه حَامِلَه سوې ده. حضور پوښتنه وکړه چي تَـه ؟ دې وويل هُو ! .

[۱۱۰۳](۴)وَالقَولُ فِيهِ قَولُهُ مَعَ يَمِينِهِ اِن اِدّعْي المُقَرّلَهُ اَكثَرَمِنهُ .

لِهٰذَا دئ به پر بيـان کولـو بـه مجبـوره کـوي.لېکن د ,, څَـه ,, لفظ مطلـب دئ قيمتـي شئ.نو ځکه د داسي شي اِقرَار به کوي چي هغه څَه نَه څَه قيمت لـري. او کـه داسـي شئ بيان کئ چي هغه هيڅ قيمت نَه لري نو دا ګواکه د خپل بيـان څخـه رُجُـوع کـوي. او که د اِقرَار څخه وروسته رُجُوع کول وَغُوَارِي نو رُجُوع کولو تـه بـه نَـه پرېږدي. په اَثَر کي راغلي دي عَن اِبرَاهِيمَ النّخَعِيّ اَنّ رَجُلاً اَقَرّ عِندَ شُرَيحٍ ثُمّ ذَهَبَ يُنكِرُ فَقَالَ لَـهُ شُـرَيحٌ شَـهِدَ عَلَيـکَ اِبـنُ اُخـتِ خَالَتِـکِ (سـنن للبيهقي.بـابُ مـن يجـوز اقـراره ج۶ص۱۳۹نمبر۱۱۴۵۲) په دې اَثَر کي اِقرَارکونکئ سړئ اِنکَارِي سو نـو قاضـي شُرَيح پر هغه باندي غُصّه سواو هغه ئې رُجُـوع کولـو تـه پـرې نَـه ښُـوَئ. نوځکـه د اِقرَارکولو وروسته به رُجُوع ته نَه پرې اِږدِي چي د بَل چا حق ضَائِع نَه سي .

[۱۱۰۳](۴) په قَول کي د اِقرَارکونکي قَول مُعتَبَر دئ دده دقَسَم سره که چيري مُقَرلِـهُ ددې څخه د زِيَات دَعوْي کوي .

تشريح : د مُدّعِي سـره بَيّنَـه نسته او اِقرَارکـونکئ مـثلاً د لَـس رُوپـئ اِقـرَار کـوي او مُدعِي يعني مُقَرلَهُ وائي چي پِنځلَس روپئ دي نو د مُقِرخبره به دقسم سره منـل کيږي .

وجه : (۱) چي دمُدّعِي سره ګواه نَه وي نو دمُـدّعْي عَلَيـهِ او د مُنکِرخبـره دقسـم سـره منل کيږي.او دِلتَه خو مُقِر مُنکِر دئ نو ځکه دده خبره بـه سـره قسـم منـل کيـږي او د لَس روپئ فيصله به کيږي (۲) په حديث کي ددې ثبوت سته عَن اِبـنِ عَبّـاسٍ اَنّ رَسُـولَ اللهِ قَضْـي بِـاليَمِينِ عَلْـي المُـدّعْي عَلَيـهِ (الـف) (مسـلم شـريف.باب اليمـين علـي المـدعْي عليـه

ج۸ص۷۴نمبر ۱۷۱۱کتاب الاقضية\ بخاري شريف.باب اليمين علي المدعْي عليه فِي الاموال والحدودص۳۶۶نمبر۲۶۶۸کتاب الشهادة) (۳) په دارقُطني دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ

حاشيه : (الف) حضور پر مُدّعْي عَلَيه باندي د قَسَم فَيصَلَه وکړه .

[۱۱۰۴](۵) وَاِذَا قَالَ لَهُ عَلَيّ مَالٌ فَالمَرجَعُ فِي بَيَانِهِ اِلَيهِ وَيُقبَلُ قَولُهُ فِي القَلِيلِ وَالكَثِيرِ [۱۱۰۵](۶) فَاِن قَالَ لَهُ عَلَيّ مَالٌ عَظِيمٌ لَم يُصَدّق فِي اَقَلِّ مِن ما ئَتَئ دِرهَمٍ .

اَنّ رَسُولَ اللهِ قَالَ اَلبَيِّنَةُ عَلْي مَن اِدّعْي وَاليمِينُ عَلْي مَن اَنكَرَ اِلاّ فِي القَسَامَةِ (الف) (دارقطني.كتاب الاقضية والاحكام ج۴ص۱۳۹نمبر ۴۴۶۱) ددې احاديثو څخه ثابت سو چي پر مُدّعِي باندي بَيّنَه ده او پر مُدّعْي عَلَيهِ او مُنكِر باندي قَسَم دئ او د قَسَم سره به دده خبره منل کيږي .

[۱۱۰۴](۵) که وويل چي دده پر ما باندي مَال دئ نو ددې خبري په بيان کي به وده ته رُجُوع کيږي او دده قول به قبليږي په لږ او زِيَات کي .

تشريح:مُقِروائي چي دفُلاَنِي سړي پرماباندي مَال دئ.نوپه دې باب کي به دده څخه اِستِفسَار کيږي د لږ او ډېر په باب کي به دده خبره منل کيږي. لېکن د يوه دِرهَم څخه کَم به دده خبره نَه منل کيږي ځکه چي ديوه دِرهَم څخه کَم ته مال نَه وائي.

وجه : ځکه چي د مُقَرلَهُ يعني دکوم چالپاره چي اِقرَار کړئ دئ دهغه سره ددې خلاف هيڅ ډَوَل بَيّنَه نسته نو ځکه مُقِرچي دقَسَم سره هرڅُونَه وائي دهغه خبره به منل کيږي .

[۱۱۰۵](۶) که چيري وويل پر ماباندي د فُلاَنِي مَالِ عَظِيم دئ نو د دُوسوو څخه په کَم کي به تَصدِيق نَه کيږي .

وجه : په شريعت کي و دُوسو دِرهَمُ ته يا و شَل دِينَار ته مَالِ عَظِيم وائي. په دغه وجه خو پر دُوَه سوه دِرهَم يا پر شَل دِينَار باندي زکوٰة واجب دئ. نو ځکه چي د مَالٌ لفظ سره د عَظِيمٌ صِفَت زِيَات کئ نو د دُوَه سوه دِرهَم څخه په کَم کي به دده اِقرَار نَه

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل ګواه پر هغه باندي دئ چاچي دَعوْي کړې ده او قَسَم پر هغه باندي دئ چاچي اِنکَار وکئ مګر په قَسَامَت کي .

[۱۱۰۶](۷) وَ اِن قَالَ لَهُ عَلَيّ دَرَاهِمٌ كَثِيرَةٌ لَم يُصَدّق فِي اَقَلِّ مِن عَشرَةِ دَرَاهِمَ [۱۱۰۷](۸) فَاِن قَالَ لَهُ عَلَيّ دَرَاهِمٌ فَهِيَ ثَلْثَةٌ اِلاّ اَن يُبَيِّنَ اَكثَرَ مِنهَا .

قبليږي. دغونه يا ددې څخه زِيَات اِقرَار به کوي .

پام لرنه : مخته راروانِ مسئلې پر لفظو او پر مُحَاوَرَاتُ باندي مُتَفَرّع دي. نو ځکه دهغو لپاره دحديثُو دلائل ضروري نَه دي .

[۱۱۰۶](۷) او که وويل چي دفُلاَنِي پر ماباندي ډېر دَرَاهِم دي نو د لَس دَرَاهِم څخه په کَم کي به تَصدِيق نَه کوي .

وجه : يو خو د دَرَاهِم لفظ دجمع استعمال کړئ دئ. بيا د دَرَاهِمٌ سره د کَثِيرَةٌ صِفَت رَاوَړَئ دئ او دعربي په حِسَاب کي دَرَاهِمٌ د جمع صيغه ده تر لَس پوري اِستِعماليږي. عَشرَةُ دَرَاهِمَ ويل کيږي. وروسته بيا د يَوُلَس څخه د وَاحِد صيغه اِستِعماليږي. ويل کيږي اَحَدَعَشَرَ دِرهَمًا. نو په اَحَدَ عَشَرَ کي دِرهَمًا د وَاحِد صيغه ده. نو ځکه دَرَاهِمَ د جمع صيغه آخري تر لَس پوري ده نو چي دَرَاهِمٌ کَثِيرَةٌ ئې وويل نو د لَس دِرهَم اِقرَار به کوي .

فائده : صاحبين فرمائي چي د دَرَاهِمٌ کَثِيرَةٌ څخه کَثرَتِ اموال مُراد دي او هغه دشريعت په نظر کي مَالِ نِصَاب دئ نو ځکه د دُوُ سوو اِقرَار ضروري دئ .

[۱۱۰۷](۸) که وويل چي د فُلاَنِي پر مَاباندي دَرَاهِم دي نو دا به درې دِرهَم وي. مګر دا چي ددې څخه زِيَات بيان کي .

تشريح : يوڅوک داسي اِقرَار کوي چي پر ماباندي دفُلاَنِي دَرَاهِم دي.دجمعِ صيغه ئې وويل لېکن دهغه وروسته د کَثِيرَةٌ لفظ اِضَافَه ونه کړه نو پر ده باندي درې دَرَاهِم لازم دي .

وجه : دَرَاهِم دجمعِ صيغه ده اوپه عربي ژَبَه کي دجمعِ اِطلاَق کم اَزکم پردرې باندي

[۱۱۰۸](۹) وَ اِن قَالَ لَهُ عَلَيّ کَذَا کَذَا دِرهَمًا لَم يُصَدّق فِي اَقَلّ مِن اَحَدَعَشَرَ دِرهَمًا [۱۱۰۹](۱۰) وَاِن قَالَ کَذَا وَ کَذَا دِرهَمًا لَم يُصَدّق فِي اَقَلّ مِن اَحَدٍوّعِشرِينَ دِرهَمًا [۱۱۱۰](۱۱) وَ اِن قَالَ لَهُ عَلَيّ اَو قِبَلِي فَقَد اَقَرّ بِدَينٍ .

کيږي نو ځکه د دُرُو اِقرَار به کوي.او که چيري ددې څخه د زِيَات اِقرَار وکي نو هغه بيا دده مَرضِي ده. ځکه چي دجمعِ صيغه ددې څخه زِيَات ته هم شامله ده .

[۱۱۰۸](۹) که وويل چي د فُلاَنِي پرماباندي دُونَه دُونَه دِرهَم دي نو د يَوُولَس څخه پر کَم به دده تَصدِيق نَه کيږي .

وجه : لَفظِ دُونَه دُونَه ئې دُوَه واره ويلئ دئ نو په عَدَد کي دُوَه واره عَدَد په يَوُولَس کي راځي. او په مينځ کې حرفِ عطف واؤ هم نسته نو دا شکل په يَوُولَس کي وي. وائي اَحَدَعَشَرَ دِرهَمًا. په دي کي دُوَه عَدَد دي يو اَحَدَ دُوَم عَشَرَ او په مينځ کې حرفِ عطف هم نسته. نوځکه د يَوُلَس څخه په کَم کي به تَصدِيق نَه کيږي .

[۱۱۰۹](۱۰) او كه وويل چي دُونَه او دُونَه دِرهَم دي نو د يَوِيشت دِرهَم ښځه پـه كَم كي به تَصدِيق نَه كيږي .

وجه : د عربي عَدَد په ويلو كي د يَوِيشت په عَدَد كي دُوَه عَدَد ويـل كيـږي او د دُوَاړُو په مينځ كي حرفِ عطف وَاؤهم ويل كيږي. وائي اَحَدٌوَعِشرُونَ دِرهَمًا. لِهٰذَا كـه چيـري كَذَا وَكَذَا ووائي نو د يَوِيشت ښځه په كَم كي به تَصدِيق نَه كيږي. لېكن كه ددې ښځـه زِيَـات اِقرَار كوي نو دا جائز دئ.ځكه چي هغه هم په كَذَا وَ كَذَا كي شامل دي .

[۱۱۱۰](۱۱) او كه وويل چي دفُلاَنِي پر ماباندي يا زُومَـا وَخُـوَا تـه دئ نـو دا د دَيـن اِقرَار دئ .

وجه : په عربِي كي دعَلْي لفظ پرځان باندي ديوشِي د لازمولولپاره راځي.كه داسي

[۱۱۱۱](۱۲) وَ اِن قَالَ لَهُ عِندِي اَو مَعِي فَهُوَ اِقـرَارٌ بِاَمَانَتِـهِ فِـي يَـدِهِ

[۱۱۱۲](۱۳) وَ اِن قَالَ لَهُ رَجُلٌ لِي عَلَيکَ اَلفُ دِرهَمٍ فَقَالَ اِتّزِنـهَا اَو اِنتَقِدهَا اَو اَجّلَنِي بِهَا اَو قَد قَضَيتُكَهَا فَهُوَ اِقرَارٌ .

وويل چي پر ماباندي سته نو داسي به ګڼو چي پر ده باندي د فُلاَنِي قرض دئ. په اَثَـر كي ودې ته اِشَارَه سوې ده عَن سَرَقٍ قَالَ كَانَ لِرَجُلٍ مَالٌ عَلَيّ اَو قَـالَ عَلَـيّ دَيـنٌ (الـف) (دارقطني.كتاب البيوع ج۳ص۵۱نمبر۳۰۰۶) په دې اَثَر كي د مَالٌ عَلَيّ ښځه پر خپل ځـان باندي د دَين دلازمولو اِقرَار دئ نو ځكه كه يو چا عَلَيّ ووايئ نـو دا بـه د دَيـن اِقـرَار ګڼـل كيږي.او قِبَلِي يعني زوما د طرف ښځه دا هم د دَين اِقرَار دئ. ځكه چي دا هم پر خپل ځان باندي دلازمولو لپاره راځي .

پام لرنه : قِبَلِي د اَمَانَت په توګه دمَال اِيښُوَلُو لپاره هم رَاځِي. مګر هغه مَعنْي اَوّلِي معنْي نَه ده نو ځكه اَوّلَه معنْي يعني د دَين والامعنْي به ځيني اَخستل كيږي .

[۱۱۱۱](۱۲) او كه وويل چي دفُلاَنِي زوما سره سته يـا دِي نـو دا دده پـه لاَس كـي د اَمَانَت اِقرَار دئ .

وجه : د عِندِي او د مَعِي لفظ دالِزَام لپاره نَه دي.بلكه دا اَمَانَت خبر وركوي نوځكه كه يوچا وويل چي زوما سره سته يا زُومَاسره دئ نو دا بـه د اَمَانَـت پـه توګـه د اِيښُـوَلُو اِقـرَار وي. دقرض اِقرَار به نَه وي. نو ددې نَتِيجَه به داوي چي كه چيري هغـه شَـئ ببلـه كـومي تَعَدّي هلاک سو نو پر مُقِر باندي دهغه تَاوَان نَه راځي .

[۱۱۱۲](۱۳) كه يوه سړي وده ته وويل چي زُومَا پر تاباندي زَر دِرهَم دي. ده ورتـه وويل چي هغه وَزَن كَه يائې وَګُورَه يا مَا ته مُهلَت راكه يا هغه ما اداَء كړي دي نـو دا د دَين اِقرَار دئ .

تشريح : مثلاً زَيد و عُمَر ته وويل چي زُوما پر تاباندي زَر دِرهَم دي. عُمَر د هغه.

حاشيه : (الف) حضرت سَرَق وفرمائل چي پر ماباندي ديوه سړي قرض وُ يائې داسي وويل چي پرماباندي دَيـن وُ .

[۱۱۱۳](۱۴) وَ مَن اَقَرّ بِدَينٍ مُؤجّلٍ فَصَدّقَهُ المُقَرلَهُ فِي الدّينِ وَ كَذّبَـهُ فِي التّاجِيلِ لَزِمَهُ الدّينُ حَالاًوَيَستَحلِفَ المُقَرلَهُ فِي الاَجَلِ.

اِنكَار نَه كوي بلكه په جواب كي داسـي جُملـېِ اِستِعمَالَوِي چـي دهغـه څخـه دا اِشَـارَه ملاؤيږي چي ستا پر ماباندي دَين سته. خو صرف يو څَه مَعذِرَت غُوَاړِي نو ددې څخـه بـه دغه فَهمېدَل كيږي چي عُمَر د دَين اِقرَار كوي. او ددې په وجه به پر عُمَربانـدي زَر دَرَاهِم لازم سي. مثلاً زَيدوعُمَر ته ووائي زوما پر تاباندي زَر دِرهَم دي عُمَر په جواب كي وويـل چي وَزَن ئې گه. ددې مطلب داسو چي زَر دَرَاهِم دَين دئ. البته دغه دَرَاهِم په وَزَن گـه نـو دا د زَردِرهَم دَين اِقرَارسو. كه چيري ده اِقرَار نَه كولائي نـو بيـا بـه صَـرَاحَةً داسـي ويلـي وائي چي دده پر ماباندي هيڅ ډَوَل دَرَاهِم نسته. يائې په جواب كي داسي وويل چي هغه زَر وګوره. نو دا لفظ هم ددې خبري دليل دئ چي پر ماباندي زَر دَرَاهِم دَين ستـه. هغـه واخلـه او وګوره چي چلېدونكي دي كه کُوټَـه دي ؟ نـو ددې لفظ څخـه هم دزَردَرَاهِـم دَيـن اِقـرَار وسو. يائې وويل چي دهغه زَر په باب ماته څَه مُهلَت راكه نو ددې مطلب هم دغـه دئ چـي د زَردَرَاهِم دَين اِقرَار ئې وكړ. البته دهغو د ادآءكولـو لپـاره مـا تـه څَـه مُهلَـت راكـه. يـائې وويل ما زَر اداَء كړي دي نو په دي كي هم دا معلوم سو چي زَر دَين خـو وُ البتـه هغـه ئـې اداَء كړي دي. نو ځكه دا هم د دَين اِقرَار سو او پر اداَء كولو باندې كومه بَيِّنَه نسته نو ځكه اداَء كول به نَه مَنَل كيږي.د دَين اِقرَار به مَنَل كيږي .

وجه : په دې ځلورو سره جوابو كي ,, هَا ,, لفظ اِستعمال سوئ دئ چي دهغه مَرجَع هغـه زَر دي. نو ځكه د زَرُو اِقرَار به وي .

اُصُول : يوڅوک پر يوچاباندي د دَين اِلزَام كښيږدي او مُقِر په جواب كي داسـي الفـاظ استعمال كړي چي دهغوڅخه ددَين داِقرَاراشاره ملاؤيږي نودَين به پرلازم سي .

[۱۱۱۳](۱۴) يوچا د دَينِ مُؤَجّل اِقرَار وكړ اومُقَرلَهُ په دَين كې دهغه تصديق وكړ او په تأخِير كي دده تَكذِيب وكړ نوفِي الحَال پرمُقِرباندي دَين لازم دئ او د تأخير په بـاب به دمُقَرلَهُ څخه قَسَم اخستل كيږي .

[۱۱۱۴](۱۵) وَ مَن اَقَرّ بِـدَينٍ وَ اِسـتَثني شَـيئًا مُتّصِـلاً بِـاِقرَارِهِ صَـحّ الاِستِثنَآ ءُ وَ لَزِمَهُ البَاقِيُ وَ سَوَآ ءٌ اِستَثنَىٰي الاَقَلّ وَالاَكثَرَ .

تشريح : مثلاًزَيددعُمَرلپاره اِقرَاروكړ چي پرماباندي ستازَردِرهَم قـرض دي.فـورًا ئـې داهم ورسره وويل چي دا ديوې مياشتي پـه ځنډسره دي.عُمَـرددې تصـديق وكـړ چـي زَردِهَم قرض دي لېكن دځنډېدلو په حقله د ده تَكذِيب وكړ او وويل چـي پـه هغـه دَيـن كي خو سَم دَستِي د ادآيګئ شرط لګېدلئ دئ په ځنډسره نَـه دي. نـو پـر زَيدبانـدي سَـم دَستِي قرض اداَء كول لازم دئ. ځنډوَل قابلِ قبـول نَـه دئ. البتـه عُمـر يعنـي مُقَرلَـهُ دځنډېدلوڅخه اِنكاركوي نو ځكه پر ده باندي ددې اِنكَار په سلسله كي قَسَم لازميږي .

وجه:زَيددُوُخبرواِقرَارکوي.يودَين او بَل د ځنډېدلو.عُمرددَين تصديق وکئ نوځکه هغه خو لازم سو او د ځنډېدلو څخه اِنکَار وکئ نو په هغه کي دئ مُنکِر دئ او د مُدّعِي يعني زَيد سره د ځنډېدلو د ثبوت لپاره بَيِّنَه نسته نو ځکه پر مُنکِريعني عُمَر باندي دعَدَمِ تَـأخِير لپاره قَسَم لازميږي.مخته حديث تېرسوئ دئ چي پر مُنکِرباندي قَسَم دئ .

لُغَت : اَلتّاجِيلُ : تَأخِير.په ځنډسره وخت ورکړي. يَستَحلِفُ : قَسم به ځيني اَخلِي .

- د اِستِثنَآء حُکمُونَه -

[۱۱۱۴](۱۵) يوچا د دَين اِقرَاروکئ او د اِقرَارَسره سَم دَستِي ديَوشِي اِستِثنَآء وکړه نو اِستِثنَآء صحيح ده. او دا نور پاته پرده لازم دئ که د لَږ اِستِثنَآء وکړي که د ډېر .

تشريح : يَوچا ديوچا لپاره مثلاً دسَلُو روپېٔ اِقرَار وکئ لېکن د اِقرَارَسره مُتّصِل د لَس روپېٔ اِستِثنَآء وکړه مثلاً داسې وويل چي دعُمَر پر ماباندي سَل روپېٔ دي مګرلَس روپېٔ نو د اِستِثنَآء وروسته چي کوم نِيوِي روپېٔ پاته سوې هغه لازم دي .

وجه : په مُحَاوَرَاتُ او عُرف کي په خبرو کي د اِستِثنَآء کولو رِوَاج دئ.نو ځکه په خبرو کي اِستِثنَآء کول صحيح دئ.اوداِستِثنَآء وروسته چي کوم باقي پاته سي هغه مُعتَبَر دئ.

[۱۱۱۵](۱۶)فَاِن اِستَثنْي الجَمِيعَ لَزِمَهُ الاِقرَارُوَبَطَلَ الاِستِثنَآ ءُ.

مثلاً په تېرمثال کي په سَل روپېٔ کي دلَس روپېٔ اِستِثنَآء کړې وه نِيوِي روپېٔ پاته سوي وې نو ځکه هغه دنِيوِي روپېٔ اِقرَار وُ.لېکن شرط دادئ چي د اِقرَار سره سَم دَستِي اِستِثنَآء وکړي نو بيا دا اِستِثنَآء مُعتَبَرَه ده. او که چيري د جُملې دپوره کېدو وروسته اِستِثنَآء وکړي نو دا ګواکه داسي سو لکه دئ چي دپوره سلُوروپېٔ اِقرَار وکي اُوس بېرته دلَسُو روپېٔ څخه مثلاً رُجُوع کوي.نوځکه مُنفَصِل اِستِثنَآء کول اِعتِبَار نَه لري. په حديث کي اِستِثنَآء سوې ده لېکن مُتّصِل سوې ده. عَن اَبِي هُرَيرَةَ رِوَايَةً قَالَ لِلهِ تِسعَةٌ وَتِسعُونَ اِسمًا مِائَةً اِلاّ وَاحِداً مَن حَفظَهَا دَخَلَ الجَنّةَ وَهُوَ وِترٌ يُحِبّ الوِترَ (الف) (بخاري شريف.باب لله مائة اسمٍ غيرواحدةٍص۹۴۹نمبر۶۴۱۰.کتاب الدعوات\مُسلم شريف.باب في اسمآء الله تعالْي وفَضلُ مَن اَحصَاهَاص۳۴۲نمبر۶۸۱۰\۲۶۷۷ کتاب الذکروالدعآء) په دې حديث کي حضور دسَلُو څخه مُتّصِلاً د يَوَه اِستِثنَآء کړې ده. او دخدائ پاک ئې نَه نِيوِي نُومُونَه شمېرلي دي.ددې څخه دا معلوم سو چي مُتّصِلاً اِستِثنَآء کول صحيح ده. او د اِستِثنَآء وروسته پاته عَدَد مُعتَبَر دئ .

[۱۱۱۵](۱۶) اوکه دټوله اِستِثنَآء وکړه نوټوله اِقرَر پرلازم دئ او اِستِثنَآء باطل ده.

تشريح : مثلاً دا اِقرَار ئې وکئ چي د عُمَر پر مابانـدي سَل روپېٔ دي مګر ماسوائ دسَل روپېٔ څخه.نو پوره سَل روپېٔ پر لازم دي او هر څَه چي اِستِثنَآء کړې ده هغه باطل ده .

وجه : د اِستِثنَآء مطلب دادئ چي دټوله تَعدَاد څخه څَه کم کړي دا نور پاته لازم کړي او دَلته خو ده دټولي اِستِثنَآء وکړه نو د اِستِثنَآء وروسته هيڅ پاته هم نَه سو نو

حاشیه : (الف) د ابوهریرة رِوَایَت دئ چي د الله نَه نِیوِي نُومُونَه دي سَل مګر یَوکَم کوم چاچي هغه یاد کړل جَنّت ته به داخل سي.الله طَاق دئ طَاق خُوَښَه وي .

[۱۱۱۶](۱۷) وَ اِن قَالَ لَـهُ عَلَـيّ مِائَـةُ دِرهَـمٍ اِلاّ دِینَـارًا اَو اِلاّ قَفِیزُ حِنطَةٍ لَزِمَهُ مِائَةٌ دِرهَمٍ اِلاّ قِیمَةُ الدِّینَارِ اَوِ القَفِیزِ .

ګواکه د خپل اِقرَار څخه رُجُوع کوي نو ځکه دئ به رُجُوع کولو ته نَه پرېږدِي. او د اِستِثنَآء څخه مخکي تَعدَاد به لازم سي .

اُصُول : د ټوله اِستِثنَآء کولو څخه ټوله لازمیږي .

[۱۱۱۶](۱۷) که وویل چي دفُلاَنِي پرمابَاندي سَل دِرهَم دي مګر یَو دِینَار یا مګر یَوقَفِیز غَنَم نوپر ده لازم دي سَل دِرهَم مګر د دِینَار قیمت ګم یا دقَفِیز قیمت ګم .

تشریح : دا مسئله پر دې اُصُول باندي مُتَفَرّع ده چي د خِلاَفِ جِنس څخه اِستِثنَآء وکړی نو دکوم کوم جِنس څخه خِلاَفِ جِنس اِستِثنَآء صحیح ده ؟ نو په دې باب کي قاعده داده چي دقریب قریب جِنس څخه وي نو دهغه څخه اِستِثنَآء صحیح ده. لکه د دِینَار او دِرهَم جنس سره قریب دئ.ځکه چي دُوَاړَه ثَمَن دي. دغه رنګه یَوقَفِیز غَنَم د دِرهَم دجِنس سره قریب دي ځکه چي کَیلِي.وَزنِي او عَدَدِي مُتَقَارِب شیان د ثَمَن جوړېدلو صَلاحِیّت لري. چي په یوه بَیع کي غَنَم.وُرِیجِي او وُرَه ثَمَن جوړکي نو دا ثَمَن جوړېدلائي سي .نو ځکه دا هم څَه نَه څَه د دِرهَم دجنس څخه سو.او چي دقریب قریب جنس څخه سو نو ددِرهَم څخه ددې اِستِثنَآء کول صحیح ده او د سَل دِرهَم څخه به ددې قیمت ګَم کړي لازم به سي. او په کپړه کي ګَز صِفَت دئ نوځکه هغه د ثَمَن جوړېدلو صَلاَحِیّت نَه لري. نوځکه چي د سَل دِرهَم څخه د کپړې اِستِثنَآء وکړي نو دا اِستِثنَآء نَه صحیح کیږي. نو ځکه پوره سَل دِرهَم به لازم سي. ددې قاعدې په رُوڼا کي که چیري داسي وویل چي دفُلاَنِي پر مابَاندي سَل دِرهَم دي مګر یَودِینَار. نو د سَل دِرهَم څخه به دیوه دِینَارقیمت کم لازم سي. دغه رنګه مُقِر وویل چي پر مابَاندي دفُلاَنِي سَل دِرهَم دي مګریوقَفِیز غَنَم نو د سَل دِرهَم څخه دیوه قَفِیز غَنَمُو اِستِثنَآء صحیح ده. ځکه چي دثَمَنِیّت په اِعتِبَاردواړه یوجنس دي.

[۱۱۱۷](۱۸) وَ اِن قَالَ لَـهُ عَلَـيّ مِائَـةٌ وَ دِرهَـمٌ فَالمِائَـةُ کُلّهَا دَرَاهِمُ

[۱۱۱۸](۱۹) وَ اِن قَالَ لَـهُ عَلَـيّ مِائَـةٌ وَ ثَـوبٌ لَزِمَـهُ ثَـوبٌ وَاحِـدٌ وَالمَرجَعُ فِي تَفسِیرِ المِائَةِ اِلَیهِ .

نوځکه د سَل دِرهَم څخه به دیوه قَفِیز غَنَمُو قیمت کم لازم سي .

اُصُول : چي مُستَثنْي او مُستَثنْي مِنهُ قریب قریب جنس وي نو اِستِثنَآء صحیح ده که نَه نو نَه صحیح کیږي .

[۱۱۱۷](۱۸) كه وويل چي دفُلاَنِي پرماباندي سَل او دِرهَم دئ نو سَل به توله دِرهَم وي .

تشريح : يوچا وويل چي دفُلاَنِي پرماباندي سَل او دِرهَم دئ نو پوره سَل دِرهَم به لازم سي .بَل شَئ نَه پر لازميږي .

وجه : په اَصل كي د حرفِ عطف سره چي كوم دِرهَمٌ دئ هغه د مِائَةٌ يعني سَلُو تفسيردئ. يعني مخكي كي چې كوم مِائَةٌ لفظ ويلئ دئ هغه دِرهَم دي بل شئ نَه دئ. نوځكه ددې تفسير په وجه به توله سَل دِرهَم لازم سي. ځكه چي دِرهَمٌ د مِائَةٌ صِفَت جوړېدلو صَلاَحِيّت لري. هسي هم خلک په عمومي توګه عَدَد وواي رَقَم ځيني مُرادوي. نوچي په عام اِستِعمال كي سَل وويل سي دِرهَم ځيني مُراديږي نو دِرهَمٌ د مِائَةٌ تفسير سو او سَل دِرهم به لازم سي .

[۱۱۱۸](۱۹) او كه وويل چي د فُلاَنِي پرماباندي سَل او كپړه ده نو پرده باندي يَوَه كپړه لازم ده او د سَلُو په تفسير كي به ومُقِر ته رُجُوع كيږي .

وجه : په دې صورت كي هم د ثَوبٌ يعني كپړې عَطف پر مِائَةٌ يعني سَلُو باندي دئ او مَعطوفٌ د مَعطوفٌ عَلَيه څخه جلاوي نو ځكه كپړه بايد دمِائَةٌ څخه جلا وي. او په عام اِستِعمَال كي چي سَل وويل سي نو دِرهَم او دِينَار خو ځيني مُراديږي لېكن كپړه نَه ځيني مُراديږي نوځكه كپړه دمِائَةٌ تفسير نَه سي جوړېدلائي. نوځكه يوه كپړه به

[۱۱۱۹](۲۰) وَ مَن اَقَرّ بِحَقٍّ فَقَالَ اِن شَآ ءَ اللهُ تَعَالْي مُتّصِلاً بِاِقرَارِهِ لَم يَلزِمهُ الاِقرَارُ .

لازم سي او دمِائَةٌ په اَړَه به دده څخه پوښتَنَه كيږي چي دمُقِر ددې څخه څَه مُراد دئ؟ هغه چي هر څَه ووائي هغه شَئ به لازميږي .

پام لرنه : په كوم ځائ كي چي دكپړې قَرِينَه موجود وي هلته به دمِائَةٌ څخه كپړه مُراد وي .

[۱۱۱۹](۲۰) يَوچَا ديوحق اِقرَار وكړئ او دخپل اِقرَارسره مُتّصِل اِنشَآءاللهُ وويل نو اِقرَارئې نَه لازميږي .

تشريح : يَوچَا دبَل ديَوحق اِقرَار وكړئ او داِقرَارسره مُتّصِل اِنشَآءَاللهُ وويل نو اِقرَار به باطل سي.پرمُقِرباندي هيڅ شئ نَه لازميږي .

وجه : (۱) خپل اِقرَارئې دالله پر چَاهَت يعني مرضْي باندي مُعَلّق كړئ او دالله مَرضْي معلومه نَه ده او نَه معلومېدلائي سي چي الله څَه غُوَاړِي. نوځكه اِقرَاربه باطل سي (۲) په حديث كي دئ چي د اِنشَآء اللهُ سره يَو نَذَر.طَلاَق.قَسَم يادغه رنګه بَل شَئ مُعَلّق كړي نو هغه نَه واقع كيږي او نَه قَسَم واقع كيږي عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ مَن حَلَفَ عَلْي يَمِينٍ فَقَالَ اِنشَآءَ اللهُ فَلاَ حِنثَ عَلَيهِ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجآءفي الاستثنآء في اليمين ص۲۸۰نمبر ۱۵۳۱) په دې حديث كي دئ چي دقَسَم سره

اِنشَآءَ اللهُ ووائي نونَه حَانِث کيږي يعني قَسَم ئې نَه مُنعَقَدکيږي.دغه رنګه چې د اِقرَارسره اِنشَآءَاللهُ ووائي نو اِقرَار به باطل سي.او د اِقرَار به صِرف وعده پاته سي.چې هغه څه اِعتِبَار نَه لري. لېکن شرط دادئ چې د اِقرَارسره مُتّصِل ووائي.که مُنفَصِلاً ووائي نودابه د اِقرَارڅخه رُجُوع شمېرل کيږي کيږي او اِقرَار به واجب سي

حاشيه : (الف) حضوروفرمائل کوم چاچي پر يَوَه يَمِين باندي قسم وَاخستئ.نو اِنشَآء الله ئې وويل نو نَه حَانِثيږي يعني قَسَم ئې نَه مُنعَقَد کيږي .

[١١٢٠](٢١) وَ مَن اَقَرّ وَشَرَطَ الخِيَارَ لِنَفسِهِ لَزِمَهُ الاِقرَارُ وَبَطَلَ الخِيَارُ [١١٢١](٢٢) وَ مَن اَقَرّ بِدَارٍ وَ اِستَثنٰي بِنَا ئَهَا لِنَفسِهِ فَلِلمُقَرلَهُ اَلدّارُ وَالبِنَآ ءُ جَمِيعًا .

[١١٢٠](٢١) يَوچَا اِقرَار وکئ او دځان لپاره خِيَارِشرط کښېښُوَئ نو اِقرَار پرلازم دئ او خِيَارئې باطل دئ .

تشريح : مثلاً يوچا اِقرَار وکئ چي دعُمَر پرماباندي سَل روپۍ دي لېکن وماته تر دُرُو ورځو پوري دسوچ موقع راکئ چي زَه اِقرَار وکړم که نَه وکړم؟ نو د اِقرَار مُطابق به و عُمَر ته سَل روپۍ ورکول لازم وي. او دا چي اِقرَار وکړي يا ئې نَه وکړي ددې لپاره به ده ته موقع نَه ورکول کيږي .

وجه : د اِقرَار کولو مطلب دادئ چي وَاقِعَةً د عُمَر پر ده باندي سَل روپۍ دَين سته. چي اداء کول ئې واجب دئ. او دسوچ کولومطلب دادئ چي دَين نَه دئ صرف داِحسَان په توګه به زَه سوچ وکړم دا اِقرَار کوم. نو دا د مخکني اِقرَار نَفِي سوه. او دا خو مخته تيرسو چي د اِقرَارکولو وروسته هغه اداء کول واجب ګرزي دهغه څخه رُجُوع نَه سي کولائي. نو ځکه خِيَارِشَرط اَخستَل باطل دئ. او د اِقرَار مُطابِق دَين اداء کول واجب دئ .

[١١٢١](٢٢) يَوچَا د مَکَان اِقرَار وکئ او دهغه عِمَارَت ئې دځان لپاره اِستِثنَآء کړئ نو د مُقَرلَهُ لپاره مکان او عِمَارَت دُوَاړه دي .

تشريح : داسي اِقرَار وکي چي مکان دعُمَر لپاره دئ اود هغه عِمَارَت زوما دئ نو مکان او عِمَارَت ټوله د مُقَرلَهُ يعني دچالپاره چي اِقرَار کړئ دئ دهغه دي .

وجه : و عِمَارَت ته مَکَان وائي.چي عِمَارَت نَه وي نو مَکَان به څه رنګه جوړيږي.نو دځان لپاره د عِمَارَت اِستِثنَآء کول ګواکه دمکان څخه اِنکَار کول دئ. نو ځکه اِستِثنَآء باطل ده. مکان او عِمَارَت دُوَاړَه به دمُقَرلَهُ لپاره وي. دا مسئله پر دې

[۱۱۲۲](۲۳) وَ اِن قَالَ بِنَآ ءُ هٰذِهِ الدّارَ لِي وَ العَرصَةُ لِفُلاَنٍ فَهُوَ كَمَا قَالَ [۱۱۲۳](۲۴) وَ مَن اَقَرّ بِتَمَرٍ فِي قَوصَرَةٍ لَزِمَهُ التّمَرُ وَ القَوصَرَةُ.

اُصُول باندي مُتَفَرّع ده چي په اِقرَار كي كوم كوم شِيَان دبُنيَاد حَيثِيّت لري دهغه شِيَانُو اِستِثنَآء نَه صحيح كيږي. كه نَه نو بيا خو دا د اِقرَار څخه رُجُوع سوه. لكه ديَوچَا لپاره چي دګُتمَئ اِقرَار وكي او د هغه د غَمِي اِستِثنَآء وكړي نو دا اِستِثنَآء نَه صحيح كيږي.ځكه چي غَمَئ د ګُتمَئ بُنيَادِي جُز دئ.نو ځكه ددې اِستِثنَآء ګواكه د اِقرَار څخه رُجُوع ده چي جواز نَه لري .

اُصُول : د يَوشِي په اِقرَار كي دهغه د بُنيَادِي شِيَانُو اِستِثنَآء كول جواز نَه لري كه نَه نو دا به رُجُوعٌ عَنِ الإقرَارِ سي .

[۱۱۲۲](۲۳) كه وويل چي ددې مكان عِمَارَت زوما لپاره دئ او صِحن ئې دفُلاَنِي لپاره دئنو دا به دده دقول مُطابق وي .

تشريح : داسې وويل چي دمَكَان عِمَارَت زُومَا دئ او صِحن يعني اَويَلي ئې دفُلاَنِي ده نو دمكان عِمَارَت دمُقِر او صِحن دمُقَرلَهُ لپاره دئ .

وجه : دمَكَان عِمَارَت جلا شَئ دئ او صِحن جلا شَئ دئ. صِحن د عِمَارَت بُنيَادِي شَئ نَه دئ بلكه د مَزِيد فائدې اخستلو لپاره دئ. نو ځكه چي عِمَارَت دځان لپاره وګرزوي دصِحن څخه اِنكَار نَه لازميږي. نو دا نَه سي ويل كيدلائي چي مُقِر د صِحن د اِقرَار څخه رُجُوع وكړه. نو ځكه د صِحن اِقرَار صحيح دئ. نو عِمَارَت دمُقِر لپاره او صِحن د مُقَرلَهُ لپاره دئ .

اُصُول : د بُنيَادِي شِي څخه علاوه د بَل شِي اِستِثنَآء وكړي هغه اِستِثنَآء صحيح ده .

[۱۱۲۳](۲۴) يَوچَا په ټُوكرَئ كي دخُورمَاوُاِقرَار وكړ نو پر ده باندي ټُوكرَئ او خُورمَا دُوَاړه لازم دي .

[۱۱۲۴](۲۵) وَ مَن اَقَرّ بِدَابّةٍ فِي اِصطَبَلٍ لَزِمَهُ الدّابّةُ خَاصّةً [۱۱۲۵](۲۶) وَ اِن قَالَ غَصَبتُ ثَوبًا فِي مِندِيلٍ لَزِمَاهُ جَمِيعًا .

تشريح : يَوچَا داسي اِقرَار وكړ چي ما په ټُوكرَئ كي خُورمَا غَصَب كړې ده نوپر ده باندي ټُوكرَئ او خُورمَا دواړه وَاپَس كول لازم سول .

وجه : دا مسئله پر دې اُصُول باندي مُتَفَرّع ده چي دِلتَه ظرف يعني ټوكرئ اومظروف يعني خُورمَا سره يَوځائ دي. چي په ټُوكرَئ كي خُورمَا غَصَب كړې ده نو ټُوكرَئ به هم د غَصب وي. ځكه چي ظرف او مظروف يَوځائ وي ا ومُنتَقِل كيدائي سي نو دُوَاړه لازميږي .

لُغَت : قَوصَرَةٌ : ټُوکرَئ .

[۱۱۲۴](۲۵) يَوچَاپه شُپَالَه کي د آس اِقرَاروکئ نوپرده باندي صرف آس لازم دئ.

تشريح : دا اِقرَار ئې وکئ چي مثلاً مَا په شُپَالَه کي آس غَصَب کړئ دئ نوپر ده باندي صرف آس واپس کول لازم دئ .

وجه : د آس سره شُپُول نَه مُنتَقِل کيږي. بلکه صرف آس مُنتَقِل کيږي.نوځکه چي دائې وويل چي آس مِي په شُپَالَه کي غَصب کړئ دئ نو مطلب ئې دادئ چي صرف آس مِي غَصب کړئ دئ او خپل کُور ته مِي رَاوَستَلَئ دئ او شُپُول پر خپل ځائ هَلَتَه پاته دئ. هغه مِي نَه دئ غَصَب کړئ. نو صرف آس به وَاپَس کول لازم وي .

اُصُول : دا مسئله پر دې اُصُول باندي مُتَفَرّع ده چي چي ظَرف او مَظرُوف يو ځائ نَه وي نوبيا صرف مَظرُوف لازميږي ظَرف نَه لازميږي .

لُغَت : اِصطَبَلٌ : د آس د تړَلُو ځائ. شُپُول .

[۱۱۲۵](۲۶) که وويل چي مَا په پَټُو کي کپړه غَصب کړې ده نو دُوَاړَه به لازم سي .

وجه : دَلتَه ظَرف او مَظرُوف سره يَوځائ دي.کپړه په پَټُوکي پېچَلې وي.ددې عبارت مطلب داسو چي کپړه په پَټُوکي پېچلې وه په دغه حال کي مِي دُوَاړَه غَصَب

[۱۱۲۶](۲۷) وَ اِن قَالَ لَهُ عَلَيّ ثَوبٌ فِي ثَوبٍ لَزِمَاهُ جَمِيعًا

[۱۱۲۷](۲۸) وَ اِن قَالَ لَهُ عَلَيّ ثَوبٌ فِي عَشرَةِ اَثوَابٍ لَم يَلزِمهُ عِندَ اَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي اِلاّ ثَوبٌ وَاحِدٌ وَقَالَ مُحَمّدٌ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي يَلزِمُهُ اَحَدَعَشَرَ ثَوبًا .

کړل نو ځکه دُوَاړَه به لازم وي .

اُصُول : دَلتَه هم هغه اُصُول دئ چي ظَرف او مَظرُوف يوځائ وي نو په اِقرَار کي دُوَاړَه لازم دي .

لُغَت : مِندِيلٌ : پَټُو. رُومَال .

[۱۱۲۶](۲۷) که وويل چي دفُلاَنِي پر ماباندي کپړه ده په کپړه کي.نو دُوَاړې کپړې به لازم سي .

وجه : چي دائې وويل چي پر ماباندي په کپړه کي کپړه ده نو يَوَه کپړه ظَرف سوه او بَلَه کپړه مَظرُوف سوه او مطلب ئې داسو چي يَوَه کپړه په بَلَه کپړه کي پېچلې وه په دغه حال کي ما دُوَاړې واخستې نو ځکه دُوَاړې کپړې به لازم سي .

اُصُول : دَلتَه هم هغه اُصُول دئ چي ظَرف او مظروف يوځائ وي نو په اِقرَار کي دُوَاړَه لازميږي .

[۱۱۲۷](۲۸) که وویل چي دفُلاَنِي پرماباندي يَوَه کپړه ده پـه لَسُو کَپړُوکـي نـو دامـام ابويوسف په نبزيَوَه کپړه لازميږي.او امام محمدفرمائي پر ده باندي يَوُلَس کپـړې لازم دي .

وجه : د امام ابويوسف دليل دادئ چي عُمُومًا خلګ يـوه کپـړه پـه لَسُوکپړوکي پـر لـه پيچلې نَه اِرږدِي نو ځکه لَس کپړې به ديوې کپړې لپاره ظَرف نَه جوړيږي.نوځکه يوه کپړه جلا سوه لَس کپړې جلاسوې لِهٰذَا يوه کپړه به لازم سي .

[۱۱۲۸](۲۹) وَ مَن اَقَرّ بِغَصبِ ثَوبٍ وَجَآ ءَ بِثَوبٍ مَعِيبٍ فَالقَولُ قَولُهُ فِيهِ مَعَ يَمِينِهِ [۱۱۲۹](۳۰) وَ كَذَالِکَ لَو اَقَرّ بِدَرَاهِمَ وَقَالَ هِيَ زُيُوفٌ .

فائده : امام محمدفرمائي چي ,,فِي,, کلمه دظَرف لپاره راځي. او چـي د رِبښَـم قيمتـي کپړه وي نو هغه خلګ په لَس کپړو کي پيچلي اِرږدِئ نو ځکه ديـوې کپـړې لپـاره لَـس کپړې ظَرف جوړيدلائي سي.نو دِلتَـه هم ظَـرف او مَظـرُوف سـره يوځـائ سـو. او دا قاعده مخکي تېرسوې ده چـي ظَـرف او مَظـرُوف سـر يوځـائ وي نـو پـه اِقـرَار کـي دُوَاړَه لازميږي.لِهٰذَا يوولَس کپړې به لازم سي .

[۱۱۲۸](۲۹) يوچا دکپړې دغَصَب کولو اِقرَاروکئ بيائې يوه عَيب دَارَه کپـړه راوړه نو په دي کي به د مُقِرخبره سره دقَسَم منل کيږي .

تشريح : يوه سړي اِقرَار وکـئ چي مـاکپړه غَصَـب کـړې ده. وروسـته يـوه عَيـب دَارَه کپړه راوړه چي دا کپړه مِي غَصَب کړې ده او دمُقَرلَـهُ سـره ددې بَـرخِلاَف هـيڅ ډول بَيِّنَه نسته نو دمُقِرخبره به سره دقَسَم منل کيږي او هغه عَيب دَارَه کپړه به قبلوي .

وجه : د ,,کپړې,, لفظ عام دئ. ومَعيُوب او صـحيح دواړو تـه شـامل دئ. نـو ځکـه د مَعيُوبِ کپړې داِقرَار ښخـه دا دخپـل اِقـرَار ښخـه اِنکَـار نَـه سـو او دمُقَرلَـهُ سـره ددې بَرخِلاَف هيڅ ډَوَل بَيِّنَه هم نسته نو ځکه دده خبره منل کيږي.البته دئ خو مُنكِردئ نـو ځکه دقَسَم سـره بـه دده خبـره منـل کيږي.مخکـي پـه حـديث کـي دا تېرسـوي دي چـي دمُنكِرخبره به سره دقَسَم منل کيږي .

[۱۱۲۹](۳۰) دغه رنګه د دِرهَم اِقرَرئې وکئ او وويل چي هغه کُوټَه دي .

تشريح : اِقرَارئې وکـئ چي دفُلاَنِي پرماباندي شَل دِرهَم دي وروسـته وويـل چـي هغـه خو کُوټَه دِرهَم دي نو د قَسَم سره به دده خبره منل کيږي .

[۱۱۳۰](۳۱) وَ اِن قَالَ لَهُ عَلَيّ خَمسَةٌ فِـي خَمسَـةٍ يُرِيـدُ بِـهِ الضّـربَ وَالحِسَابَ لَزِمَـهُ خَمسَـةٌ وَاحِـدَةٌ [۱۱۳۱](۳۲) وَ اِن قَـالَ اَرَدّتُ خَمسَـةً مَعَ خَمسَةٍ لَزِمَهُ عَشرَةٌ .

وجه : دِرهَم خو دواړه رنګه راځي.اَصلِي او کُوټَه.نوځکه کُوټَه دِرهَم رَاوړَل د تېر اِقرَار څخه رُجُوع نَه ده.نو ځکه د قَسَم سره به دده خبره منل کيږي .

لُغَت : زُيُوفٌ : کُوټَه. چي عام تِجَارَان ئې نَه اَخلِي مګرچليږي .

[۱۱۳۰](۳۱) او که وويل چي دفُلاَنِي پرماباندي پِنځَه دي په پِنځَه کي او ددې څخه د ضَرَب او حِسَاب اراده کړې وي نو صرف پِنځَه لازميږي .

تشريح : پِنځَه په پِنځَه کي دي ددې عِبَارَت درې مطلب دي او درې حُکم دي. اَوّل مطلب خو دادئ چي پِنځَه ته په پِنځَه کي ضرب ورکول سي او چي دا مطلب ځيني مُرَاد وي نو به پِنځَوِيشت لازم سي. ځکه چي پِنځَه په پِنځَه کي ضرب کړې نو پِنځَوِيشت جوړيږي.د حَسَن بِن زِيَاد دغه قول دئ. دوم مطلب دادئ چي پِنځَه دپِنځُوسره او ,,فِي,, د ,,مَعَ,, په معنٰي واخستل سي نو لَس به لازم سي. دريم مطلب دادئ چي وپِنځَه ته په پِنځُوکي ضرب ورکړي دهغو اَجزآء او ټُکړې زيات کړل سي. په دې صورت کي عَدَدخو به هغه پِنځَه پاته وي البته اَجزآء به پِنځَوِيشت سي. چي دا مطلب ځيني واخستل سي نو صرف پِنځَه به لازم سي.ځکه چي دضَرَب ورکولو څخه که څَه هم اجزآء ئې زيات سو لېکن عَدَدهغه پِنځَه پاته دئ. مصنف دغه مطلب ځيني اخستئ دئ او پِنځَه ئې لازم کړي دي .

[۱۱۳۱](۳۲)اوکه وويل چي پِنځَه دپِنځُوسره اِرَادَه مِي کړې ده نوپرمُقِرلَس لازم دي .

تشريح : مُقِرووېل چي دفُلاَنِي پرماباندي پِنځَه په پَنځَه کي اوددې څخه دجمعِ نِيّت کړئ وي او ,,فِي,, ئې دمَعَ په معنٰي اخستې وي اومعنٰي ئې وکړه پِنځَه دپِنځُو سره نودا به سره دُوَاړَه سي او لَس به لازم سي .

[۱۱۳۲](۳۳) وَ اِذَا قَالَ لَهُ عَلَيّ مِن دِرهَمٍ اِلٰي عَشرَةٍ لَزِمَهُ تِسعَةٌ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللہُ تَعَالٰي يَلزِمُهُ الاِبتِدَ آ ءُ وَمَابَعدَهُ وَيَسقُطُ الغَايَةُ وَ قَالاَ رَحِمَهُمَا اللہُ تَعَالٰي يَلزِمُهُ العَشرَةُ کُلّهَا [۱۱۳۳](۳۴) وَ اِن قَالَ لَهُ عَلَيّ اَلفُ دِرهَمٍ مِن ثَمَنِ عَبدٍ اِشتَرَيتُهُ مِنهُ وَ لَم اَقبِضهُ

[۱۱۳۲](۳۳) او که وويل چي دفُلاَنِي پرماباندي ديَوَه دِرهَم څخه ترلَسُوپوري دي نو دامام ابوحنيفه په نبز پر مُقِرباندي نَه دِرهَم لازميږ دي.پر ده لازم دي دابِتِدآء او کوم چي دهغه څخه وروسته دي او غَايَه به ساقط سي.او صاحِبَين فرمائي چي لَس پر لازم دي .

تشريح : که يوچا داسي وويل چي دفُلاَنِي پرماباندي ديَوَه څخه ونيسې بيا تر لَسُوپوري دِرهَم دي نو دامام ابوحنيفه په نبز نَه دِرهَم لازميږي لَس نَه لازميږي .

وجه : دئ فرمائي چي په تَعدَاد کي اِبتِدآء شامله وي.دمينځ عَدَدُونَه شامل وي لېکن آخري کوم چي غَايَه وي هغه شامل نَه وي. نو په موجوده عِبَارَت کي لَس آخري غَايَه ده لِهٰذَا هغه نَه ده شامل.نو نَه پاته سو.ځکه نَه به لازم سي.لکه څَه رنګه چي خلګ وائي زُومَا عُمر

دپِنځُوس څخه تر شپېتُو پوري دئ نو شپېتَه په هغه کي نَه وي شامل.او زِيَات څخه زِيَات دده عُمَر نَه پِنځُوس ګڼل کيږي. دغه رنګه دلته به هم غَايَه يعني لَس شامل نَه وي او نَه به لازم وي. صاحبين فرمائي چي دلته به اِبتِدآء او غَايَه دواړه شامل وي.نوځکه پوره لَس به لازم وي .

اُصُول : دصاحبينو په نبز په عَدَدکي اِبتِدآء او غَايَه دواړه شامل وي.دامام ابوحنيفه په نبز غَايَه نَه وي شامل .

[۱۱۳۳](۳۴)که وويل چي دفُلاَنِي پرماباندي د غُلاَم د ثَمَن په بَدلَه کي زَردِرهَم دي کوم چي ما دده څخه اَخَستئ دئ او هغه مِي قبضَه کړئ نَه دئ.نو که چيري مُتَعَيّن غُلاَم ذکر کړئ وُ نومُقَرلَهُ ته به ويل کيږي چي که دي خُوَښَه سي غُلاَم حواله که او زَر واخله که نَه نو بيا ستا پر ده باندي هيڅ شئ نسته .

فَاِن ذَکَرَ عَبدًا بِعَينِهِ قِيلَ لِلمُقَرلَهُ اِن شِئتَ فَسَلِّمِ العَبدَ وَخُذِ الاَلفَ وَ اِلاّ فَلاَ شَئَ لَکَ عَلَيهِ [۱۱۳۴](۳۵)وَ اِن قَالَ لَهُ عَلَيّ اَلفٌ مِن ثَمَنِ عَبدٍ وَلَم يُعَيّنهُ لَزِمَهُ الاَلفُ فِي قَولَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي .

تشريح : مثلاً زَيدوائي چي دعُمَر پرماباندي زَر دِرهَم دي لېکن هغه دمُتَعَيّن غُلاَم په وجه دي کوم چي ما دعُمَرڅخه اَخَستئ وُ او تر اُوسَ ماپرهغه غُلاَم باندي قبضه نَه ده کړې. په دې صورت کي به عُمَر چي مُقَرلَهُ دئ هغه ته به ويل کيږي چي که و زَيد ته غُلاَم ورکوې نو زَر دِرهَم به درته ملاؤسي او که غُلاَم نَه ورکوې نو زَر نَه درته رسيږي .

وجه : د زَر دِرهَم اِقرَار دئ لېکن دغُلاَم دقيمت په وجه دئ او پر غُلاَم ئې تر اُوسَ قبضه نَه ده کړې نو ځکه چي غُلاَم ورکړي نو بيا به زَر ورته ملاؤيږي. دا مسئله پر دې اُصُول باندي مُتَفَرّع ده چي د يَوشرط سره ئې اِقرَار کړئ دئ نو دشرط د پوره کېدو سره به د اِقرَر اِجرآء کيږي. دلته دغُلاَم په بَدلَه کي زَر دي نو ځکه چي غُلاَم ورکړي نو بيا به زَرو حَقدَارَه جوړيږي که نَه نو حَقدَرَاه نَه دئ .

پام لرنه : غُلاَم مُتَعَيّن دئ نوځکه د مُتَعَيّن غُلاَم بيع سوې ده. نوځکه دا نَه سي ويل کېدلائي دمخکني اِقرَار څخه اُوس رُجُوع کوي .

اُصُول : چي مشروط اِقرَار ئې کړئ وي نو د هغه شرط پر پوره کېدوبه د اِقرَار اِجرآء کيږي .

[۱۱۳۴](۳۵) او که وويل چي دفًلاَنِي پرماباندي زَر دي دغُلاَم دقِيمَت او هغه ئې مُتَعَيّن نَه کړئ نو دامام ابوحنيفه په نبز به پر ده باندي زَر لازم سي .

تشريح : زَيد اِقرَار وکئ چي دعُمَر پرماباندي زَر دِرهَم دي اوهغه د غُلاَم قِيمَت دئ. لېکن غُلاَم مُتَعَيّن نَه دئ نو بېله دغُلاَم دسپُرد کولو پرزَيدباندي زَردِرهَم لازميږي .

[۱۱۳۵](۳۶) وَ لَو قَالَ لَهُ عَلَيّ اَلفُ دِرهَمٍ مِن ثَمَنِ خَمرٍ اَو خِنزِيرٍ لَزِمَهُ الاَلفُ وَ لَم يُقبَل تَفسِيرُهُ [۱۱۳۶](۳۷) وَ اِن قَالَ لَهُ عَلَيّ اَلفٌ مِن ثَمَنِ مَتَاعٍ وَهِيَ زُيُوفٌ فَقَالَ المُقَرلَهُ جِيَادٌ لَزِمَهُ الجِيَادُ فِي قَولِ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي وَ قَالَ اَبُويُوسُفَ وَ مُحَمّدٌ اِن قَالَ ذَالِکَ مَوصُولاً صُدِّقَ وَ اِن قَالَهُ مَفصُولاً لاَ يُصَدّقُ .

وجه : چي غُلاَم مُتَعَيّن نَه دئ نو بيع نَه ده سوې. نوځکه غُلاَم سُپړد کول لازم دئ. او زَيد دا اِقرَار کړئ دئ چي پرماباندي زَر دِرهَم دي نو ځکه بېله ددې چي غُلاَم سُپُرد کړي هم پر زيدباندي زَر دِرهَم لازم سوي دي. او دا چي د غُلاَم په بَدلَه کي دي دا خبره د زَر دِرهَم د اِقرَار څخه رُجُوع شمېرل کيږي .

فائده : صاحبين فرمائي چي په دې صورت کي هم د غُلاَم د سُپُرد کولوپه شرط سره پر زَيدباندي زَر دِرهَم لازميږي .

[۱۱۳۵](۳۶) او که ويل چي دفُلاَنِي پرماباندي زَر دِرهَم دي دشَرَابُ دقيمت يا دخِنزِير دقيمت نو پر ده باندي زَر لازم دي او د مُقِر تفسير به نَه قبليږي .

وجه : يو مُسلمان نَه شراب خرڅوي او نَه رَانِيسِي.نوځکه دشَرَابُ او خِنزِير بيع ګرسره کيږي هم نَه. نو ځکه دا ويل چي هغه دشرابُ يا د خنزير قيمت دئ دا دخپل اِقرَار څخه رجُوع ده.او دا مخکي تېرسوي دي چي اِقرَار د وُجُوب لپاره وي.څوک به رُجُوع کولو ته نَه پرېږدي. نو ځکه پر مُقِرباندي زَر لازم دي. دا مسئله پر دې اُصُول باندي مُتَفَرّع ده چي په کوم ځائ کي چي بَيع نَه سي کېدلائي هلته دا وَيَل چي د مَبِيع قيمت دئ دا دخپل اِقرَار څخه رُجُوع ده. نو ځکه اَوّل اِقرَار به لازم وي .

[۱۱۳۶](۳۷) که ويل چي دفُلاَنِي پرماباندي زَردي دسَامَان دقِيمَت ده او هغه کُوټَه دي. او مُقَرلَهُ ويل چي هغه جِيَادِ يعني اَصلِي دي. نو دامام ابوحنيفه پر قول باندي پر مُقِرباندي صحيح لازم دي. او امام ابويوسف او امام محمدوفرمائل که

[۱۱۳۷](۳۸) وَ مَن اَقَرّ لِغَيرِهِ بِخَاتَمٍ فَلَهُ الحَلقَةُ وَ الفَصّ .

چيري دا مُتّصِلاً وويل خو تَصدِيق به کيږي او که چيري مُنفَصِلاً وويل نو تَصدِيق به نَه کيږي .

تشريح : مثلاً زَيد وويل چي د عُمَر پر ماباندي دسَامَان دقِيمت زَر دِرهَم دي لېکن هغه زَر دِرهَم کُوټَه دي عام چلېدونکي نَه دي. او عُمَر مُقَرلَهُ وائي چي هغه کُوټَه نَه دي. او دعُمَر سره پر دې باندي يوه بَيّنَه هم نسته. نو دامام ابوحنيفه په نېز زَر صحيح او چلېدونکي دِرهَم لازم دي .

وجه : په عُمُومِي توګه د سامان په قيمت کي صحيح او چلېدونکي دِرهَم لازميږي. نو ځکه د زَيد دا وَينَا چي هغه کُوټَه دي دخپل اِقرَار څخه رُجُوع ده. نو ځکه چي د عُمَرسره بَيِّنَه نسته خو ددې باوجود صحيح او چلېدونکي دِرهَم لازميږي .

فائده : صاحبين فرمائي چي دسامان قيمت دُوَاړَه رنګه وي صحيح يعني جِيَاد او کُوټَه. عـام چلېدونکي دِرهَم هم او کُوټَه دِرهَم هم. نو ځکه اَوّل اِقرَار عام دئ وصحيح اوکُوټَه دواړو ته شامل دئ. نوځکه مُقِر چي يَو رُخ يعني کُوټَه مُتَعَيّن کوي نو دا دخپل اِقرَار څخه رُجُوع نَـه ده. نوځکه دمُقِر خبره به منل کيږي.او کُوټَه دِرهَم به لازم وي.لېکن په دي کي شـرط دادئ چي د کُوټَه لفظ ئې دکلام سره مُتّصِل ويلئ وي. ځکه چي که مُنفَصِلاً ووائي نو دا دمخکني کلام څخه رُجُوع شمېرل کيږي.او کُوټَه نَه لازميږي بلکه عُمدَه او جِيَاد به لازم وي .

پام لرنه : دا مسئله پر دې اُصُول باندي مُتَفَرّع ده چي د دِرهَم لفظ و عُمـدَه او کُوټَـه دواړو ته شامل دئ که نَه ؟ دصاحبينو په نېز و دواړو ته شامل دئ او د امام ابوحنيفه په نېز عُمدَه او جِيَاد مُتَعَيّن دي .

[١١٣٧](٣٨) يوچا دبَل لپاره د ګُوتمَئ اِقرَار وکئ نو دده لپاره به حَلقَه او غَمَئ دُوَاړَه وي .

وجه : د حَلقې او غَمِي دمجموعې نوم ګُوتمَئ ده.او دواړه د ګُوتمَئ بُنيَادِي شِيَان دي. نوځکه دګوتمَئ په اِقرَار کي به په خپلـه دواړه شِيَان شـامل وي.او دُوَاړَه دمُقَرلَـهُ لپاره دي .

[١١٣٨](٣٩) وَ اِن اَقَرّ لَهُ بِسَيفٍ فَلَهُ النّصلُ وَ الجَفنُ وَ الحَمَائِلُ .

اُصُول : دا مسئله پر دې اُصُول باندي مُتَفَرّع ده چـي ديوشِـي هرڅونـه بُنيَـادِي اَجـزآء وي دهغه شِي په اِقرَار کي دغه ټوله اَجزآء په خپله شامل وي.که څَه هم دهغو نُومونه جلا جلا نَه وي اخستي .

لُغَت : اَلفَصّ : غَمَئ. نګِينَه .

[١١٣٨](٣٩) که ديوچالپاره د تُـرِي اِقـرَار وکـئ نـو دده لپـاره بـه چَاړَه.مِيَـان او پَتَـئ درې سره وي .

وجه : د تُرِي لپاره د وُسپِنِي مخکنئ حِصّـه يعنـي هغـه تېـرَه چَـاړَه بُنيَـادِي جُـزء دئ. مِيَانِي کوم چي تُرَه په کي اِږدِي دا د تُرِي بُنيَادِي جُز نَه دئ. لېکن تُـرَه ببلـه مِيَـانِي نَـه اِيښُوَل کيږي نو ځکه د تُرِي د اِيښُوَلُو لپاره مِيَانِي هم ضروري ده.نوځکه مِيَـانِي هـم د تُرِي لپاره د بُنيَادِي جُز په شان سوه. او پَرتَلَه د چَمړې هغه پَتَئ کوم چي تُرَه په کښـي ځړيږي. ببله هغه تُرَه ځَړَوَل مُشکِل کاردئ نو ځکه هغه هـم د تُـرِي لپـاره د جُـزء پـه شان سوه. نو ځکه چي ديوچا لپاره د تُرِي اِقرَار وکي نو دا اِقرَار به و چَاړَه چي مُتَـئ هم ورته ويل کيږي هغه ته.مِيَانِي ته او پَرتَلَه يعنـي دچمـړې پُـوښ تـه پـه خپلـه شـامل دئ. او دغه درې سره به د مُقَرلَهُ لپاره وي .

اُصُول : دا مسئله پر دې اُصُول باندي مُتَفَرّع ده چـي يَوشَـئ بُنيَـادِي جُـزء خـو نَـه وي لېکن دجُزء په شان وي نو هغه هم په اِقـرَار کـي شـامليږي.ځکه چـي ددې بغيـره څَـه چَارَه نسته.په حديث کي ددې اِشَارَه سته چي بُنيَادِي جُزء يا چي د بُنيَادِي جُزء په شان

وي هغه هم د اَصلِي شِي حُكم لري. او په اَصل كي شامل وي اَنّ عَلِيّاً اَخبَرَهُ اَنّ النّبِيّ ﷺ اَمَرَهُ اَن يَقُومَ عَلٰي بُدَنِهِ وَ اَن يُقَسِّمَ بُدَنَهُ كُلّهَا لُحُومَهَا وَ جُلُودَهَا وَ جُلاَلَهَا وَ

[١١٣٩](٤٠) وَ اِن اَقَرّ لَهُ بِحَجَلَةٍ فَلَهُ العِيدَانُ وَ الكِسوَةُ [١١٤٠] (٤١) وَ اِن قَالَ لِحَملِ فُلاَنَةٍ عَلَيّ اَلفُ دِرهَمٍ فَاِن قَالَ اَوصٰي لَهُ فُلاَنٌ اَو مَاتَ اَبُوهُ فَوَرِثَهُ فَالاِقرَارُ صَحِيحٌ .

لاَيُعطْي فِي جَزَارَتِهَا شَيئًا (الف) (بخاري شريف.باب يتصدق بجلودالهدي ص٢٣٢نمبر١٧١٧) په دي حديث كي د بُدني او وُښ بُنيَادِي اَجزآء غُوَښَه او دهغه پُوست دئ نوځكه دغه ئې و قَصَاب ته د وركولو څخه منع كړي دي ځكه چي ټوله وُښ د غُوَښِي د كاټوَلُو په بدله كي نَه سي وركولائي. او ځَل د بُدنې بُنيَادِي جُزء خو نَه دئ لېكن هَمَه وقت دهغه سره وي نو ځكه دا ځَل هم د وُښ په حُكم كي سو. او هغه ئې هم د غُوَښِي د كاټوُلُو په بَدلَه كي د وركولو څخه منع كړئ. ددې حديث څخه معلوم سوچي بُنيَادِي اَجزآء او هغه چي د بُنيَادِي اَجزآء په رنګ وي هغه د اَصل په حُكم كي دي .

لُغَت : اَلنّصلُ : دتُرِي چَاړَه. تېره څُوا. اَلجَفنُ : مِيَانَئ. اَلحَمَائِلُ : پَرتَلَه.دچمړې هغه پَټَئ چي تُرَه پكښي ځَړَوِي .

[١١٣٩](٤٠) كه اِقرَار وكړئ د چَپَركَټ نو دهغه لپاره به لَرګِي او كپړه ډُوَاړَه وي .

وجه : نَاوَكَئ چي پكښي وُړِي هغه ځَانګُو د لَرګَيُو او كپړې مجموعه وي.خالص په لَرګَيُو هم دغه ځَانګُو نَه جوړيږي او خالص په كپړه هم نَه جوړيږي. نوځكه لَرګِي او كپړه ډُوَاړَه د ځَانګُو بُنيَادِي اَجزآء سول. لِهٰذَا په اِقرَار كي به ډُوَاړَه شامل وي .

اُصُول : بُنيَادِي اَجزآء په اِقرَار كي په خپله شامل وي .

لُغَت : حَجَلَةٌ : ډُولَه. كَجَاوَه. دنَاوَكَئ د وُړُلُو ځانګو. عِيدَانِ : وَاحِد عِيدٌ لَرګئ .

[١١٤٠](٤١) كه وويل چي دفُلاَنِي دحَمل پر مابانديِ زَر دِرهَم دي. نو كه وويل چي فُلاَنِي دده لپاره وَصِيّت كړئ دئ يا دده پلاَر مَړ سو اوحَمل دهغه وَارِث سو نو اِقرَار صحيح دئ .

حاشيه : (الف) حضور وحضرت عَلِي ته حُكم وركړئ چي د وُښ نِګرَانِي وكړي او داچي ټوله وُښ دي تقسيم كړي . دهغه غُوَښَه. پُوست. او دهغه ځَل.او ددې وُښ په كټَائي كي ددې څخه هيڅ شَئ مَه وركوه .

تشريح : مثلاً زَيد وائي چي د خَالِد د حَمل پر مابانديِ زَر دِرهَم دي نوددې خبري څلور مطلبون دي اَوّل : مطلب دا چي حَمل زوما سره تِجَارَت كړئ دئ نوځكه دهغه زَر دِرهَم دي.دا مطلب خو نَه سي كېدلائي ځكه چي د حَمل بَچَئ چي په نَس كي دَنَنَه وي نو تِجَارَت به څَه رنګه كوي ؟ لِهٰذَا كه چيري دا مطلب واخستل سي نو دا اِقرَار باطل دئ او د حَمل پر مُقِر باندي هيڅ شَئ نَه لازميږي. دُوم : مطلب دا چي حَمل ماته قرض يعني پور راكړئ دئ دا مطلب هم هيڅ اِمكان نَه لري. دَرَيَم : مطلب دا چي فُلاَنِي سړي ددې حَمل لپاره وَصِيّت كړئ دئ او دهغه وَصِيّت زَر دِرهَم زوما پر ذِمّه دي نو دا بالكل صحيح دئ. لېكن چي اِقرَار كونكئ سړئ دا وَضَاحَت او صَرَاحَت وكي چي فُلاَني ددې حَمل لپاره وَصِيّت

کړئ دئ او هغه زَر زوما سره اَمَانَت دي نو بيا اِقرَار صحيح دئ. که چيري دا وَضَاحَت وَنَه کړي نو په ښکاره به هغه اَوّل مطلب ځيني اَخستَل کيږي چي د تِجَارَت په وجه ددې حَمل زَر دِرهَم زوما پر ذِمّه دي. او نَتِيجَةً به دا اِقرَار باطل وګرزي. څلورم : مطلب دا چي د حَمل پُلاَر يا دهغه يو نژدې قَرِيب مَړ سو او په هغه وَرَاثَت کي چي کوم رَقَم ملاؤسوئ وُهغه زَر دِرهَم زوما سره دي. دا مطلب هم دُرُست دئ او اِقرَار هم دُرَست دئ. لېکن ددې چي هم وَضَاحَت وکي نو بيا اِقرَار دُرُست دئ. که نَه نو بيا هغه اَوّل مُتَبَادِل مطلب به ځيني اخستل کيږي او اِقرَار به باطل وي. د اِبهَام په وخت کي وَضَاحَت کول په کار دئ ددې دليل ددې حديث څخه مُتَرَشّح دئ اَنّ صَفِيّةَ زَوجِ النّبِيّﷺ اَخبَرَتهُ اَنّهَا جَائَت اِلٰي رَسُولِ اللهِﷺ تَزُورُهُ فِي اِعتِكَافِهِ فِي المَسجِدِ فِي العَشرِ الاَوَاخِرِ مِن رَمَضَانَ فَتَحَدّثَت عِندَهُ ثُمّ قَامَت تَنقَلِبُ فَقَامَ النّبِيُﷺ مَعَهَايُقَلّبُهَا حَتّي اِذَا بَلَغَت بَابَ المَسجِدِ عِندَ بَابِ اُمّ سَلمَةَ مَرّ رَجُلاَنِ مِنَ الاَنصَار فَسلّمَا عَلٰي رَسُولِ اللهِ فَقَالَ لَهُمَا اَلنّبِيُﷺ عَلٰي رِسلِكُمَا اِنّمَا هِيَ صَفِيّةُ بُنتِ حُيَي (الف) (بخاري شريف.باب هل يخرج المعتكف لحوائجه الٰي باب المسجد ص ۲۷۲نمبر۲۰۳۵) په دې حديث کي دئ چي

[۱۱۴۱](۴۲) وَ اِن اَبهَمَ الاِقرَارَ لَم يَصِحّ عِندَ اَبِي يُوسُفَ وَ قَالَ مُحَمّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالٰي يَصِحّ .

دهغه تېرېدُونکي صحابِي په مخکي اِبهَام وُ چي دا دحضورښځه ده که يوبَل څوک ده ؟ نو حضور فورًا دهغه وَضَاحَت وکئ چي دا زوما بِي بِي صَفِيّه ده .

اُصُول : دا مسئله پر دې اُصُول باندي مُتَفَرّع ده چي اِقرَار کونکي داسي اِقرَار وکئ چي دهغه څو مطلب کېدلائي سي. دبعضُو په اِعتِبَار اِقرَارصحيح کيږي او دبَعضُوپه اِعتِبَار اِقرَار نَه صحيح کيږي. نو که د صحيح مطلب وَضَاحَت وکړي خو اِقرَار صحيح دئ او که دهغه صحيح مطلب وَضَاحَت وَنَه کړي نو بيا هغه غَلَط مطلب چي مُتَبَادِر هم دئ اوژر هم ذِهن ته راځي هغه به ځيني مُرَادِيږي او اِقرَار به باطل وي .

اُصُول : په مُبهَم اِقرَار کي به مُتَبَادِرَه معنٰي اَخستَل کيږي .

[۱۱۴۱](۴۲) او که اِقرَار مُبهَم پرېښُوئ نو دامام ابويوسف په نېز اِقرَار نَه صحيح کيږي او امام مُحَمّد وفرمائل صحيح دئ .

تشريح : مثلاً زَيد داد اِقرَار وکئ چي د خَالِد دحَمل پر ماباندي زَر دِرهَم دي لېکن ددې اِبهَام تفصيل ئې وَنَه کړئ چي په څَه رنګه ددې حَمل زَر دِرهَم زوما پر ذِمّه راغلي دي ؟ حَمل خو تر اُوس پيدا سوئ هم نَه دئ نو بيا په څَه رنګه زَر دِرهَم دزَيد پر ذِمّه راغلي دي ؟ نو که چيري ددې وَضَاحَت وکئ چي د وِرَاثَت په وجه يا د

حاشيه : (الف) حضرت صَفِيّه د روژې په آخري عَشَره کي د اِعتِکَاف پر محال د حضور مُلاَقَات ته راغله.تر يَوڅَه وخته پورې دحضور سره خبري وکړې بيا رَوَان سوه نو ددې دېږوَلُو لپاره حضور وُلاَړئ.چي بَابِ اُمّ سَلَمَة د مسجد دروازې ته وَرسېدئ نو د اَنصَارُ دُوَه کسان هَلتَه تېرېدل.او حضور ته سلام وکئ حضور و دُوئي ته وويل وَدَرِېږئ. دا صَفِيّه بِنتِ حُيَی زوما بِي بِي ده .

وَصِيّت په وجه زوما پر ذِمّه زَر دِرهَم راغلي دي.نو داامام ابويوسف په نېز دا اِقرَار صحيح دئ او که وَضَاحَت وَنَه کي نو د حَمل زَر دِرهَم ديوچا پر ذِمّه راتلل هيڅ اِمکان نَه لري.نو ځکه اِقرَار باطل دئ. او امام محمد فرمائي چي عَاقِل بَالِغ انسان اِقرَار کړئ دئ نو ځکه دده ددې خبري به صحيح مطلب اخستل کيږي.که څَه هم ده ددې وَضَاحَت نَه وي کړئ خو بيا هم به داسي ګڼل کيږي چي يوچا دده لپاره وَصِيّت کړئ دئ يا ديوقريبي عزيزدانتِقَال په وجه په وِرَاثَت کي دا رَقَم ده ته ملاؤسوئ دئ

[١١٤٢](٤٣)وَ اِن اَقَرّ بِحَملِ جَارِيَةٍ اَو حَملِ شَاةٍ لِرَجُلٍ صَحّ الاِقرَارُ وَ لَزِمَهُ .

او د مُقِر سره موجود دئ او اِقرَار به صحيح ګڼل کيږي .

اُصُول : چي اِقرَار مُبهَم وي نو حَتْي الاِمکَان به دهغه دصحيح کولو کوشش کيږي.او د يو صحيح مطلب اَخستَلُو کوشش به کيږي .

[١١٤٢](٤٣) که د يوې مِينځِي د حَمل اِقرَار وکړئ يا ديوې بُوزې دحَمل اِقرَار وکړئ ديوچا لپاره نو اِقرَار صحيح دئ او پر مُقِر لازم دئ .

تشريح:مثلاًزَيد اِقرَار کوي چي دفُلاَنَئ مِينځِي په نَس کي چي کوم حَمل دئ هغه د عُمَر لپاره دئ يادفُلاَنَئ بُوزې په نَس کي چي کوم حَمل دئ هغه دعُمَرلپاره دئ نودااِقرَار جائزدئ.اوچي بَچَئ پيداسي نودمِينځِي بَچَئ اودبُوزې بَچَئ به وعُمَرته ورکول کيږي .

وجه : ځکه چي دا کېدلائي سي چي د مِينځِي اَصل مالک مري او د مرګ په وخت کې دا وَصِيّت کړئ وي چي مِينځَه خو د وَرَثَاءُ ده او ددغه حَمل وَصِيّت دعُمَر لپاره کوم.او زَيد هم په وَارِثَانُ کي وُ نو ځکه زَيد د مُورِث د مرګ وروسته اِقرَار وکړئ چي ددې مِينځِي بَچَئ يا ددې بُوزې بَچَئ دعُمَر لپاره دئ.نو دا اِقرَار صحيح دئ باطل نَه دئ .

اُصُول : دا مسئله پر دې اُصُول مُتَفَرّع ده چي که چيري حَمل د عَقدِحَمل په وخت کي موجودوي او د عَقد اِجرآء هم دحَمل په وخت کي سوې وي نو نَه عَقدصحيح کيږي او نَه اِجرآء صحيح کيږي. لکه دحَمل بَيع چي دحَمل په وخت کي وکي نو دهغه د اَحکَامو اِجرآء هم دحَمل په وخت کي کيږي نو ځکه دحَمل بيع جواز نَه لري. ځکه چي حَمل د بُوزې اومِينځِي جُزء دئ. او د کُل بغيره د جُزء بيع نَه صحيح کيږي . بَل دا هم چي حَمل په نَس کي پَټ وي نو دا بيعِ مَجهُول ده نو په دې وجه هم بيع نَه صحيح کيږي.لېکن په وَصِيّت او وِرَاثَت کي خو عَقددحَمل په وخت کي کيږي البته دهغه د اَحکَامُو اِجرآء د نَس څخه دباندي راوتلو وروسته کيږي. مثلاً دحَمل لپاره وِرَاثَت دحمل په وخت کي اِيښُوَل کيږي البته ملاؤيږي هغه وخت چي حَمل دنَس څخه دباندي راووزي. نَه خو په دغه وخت کي

[١١٤٣](٤٤) وَ اِذَا اَقَرّ الرّجُلُ فِي مَرَضِ مَوتِهِ بِدُيُونٍ وَ عَلَيهِ دُيُونٌ فِي صِحّتِهِ وَ دُيُونٌ لَزِمَتهُ فِي مَرَضِهِ بِاَسبَابٍ مَعلُومَةٍ فَدَينُ الصِّحّةِ وَالدّينُ

المَعرُوفُ بِالاَسبَابِ مُقَدّمٌ فَاِذَا قُضِيَت وَ فَضُلَ شَيئٌ مِنَها كَانَ فِيمَا اَقَرّ بِهِ فِي حَالِ المَرَضِ وَ اِن لَم يَكُن عَلَيهِ دُيُونٌ لَزِمَتهُ فِي صِحّتِهِ جَازَ اِقرَارُهُ .

جَهَالَت راځي او نَه حَمل د مُور جُزء دئ. په حديث کي دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ عَنِ النّبِيّﷺ قَالَ اِذَا اِستَهَلّ المَولُودُ وَرِثَ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في المولوديستهِل ثم يموت ص ۴۹نمبر ۲۹۲۰\ابن ماجه شريف.باب ماجآء في الصلوة علْي الطِفلِ ص۲۱۵ نمبر ۱۵۰۸) په دې حديث کي دئ چي که حَمل ژُوَندَئ دباندي راغلئ نو وَارِث جوړيږي. ددې څخه دا معلوم سو چي د وِرَاثَت اَحکَام هغه وخت جاري کيږي چي حَمل دنَس څخه دباندي راسي. دغه رنګه وَصِيّت دحَمل په حَالَت کي مُنعَقِدکيږي لېکن اَحکَام ئې دنَس څخه دباندي د راتلو وروسته جاري کيږي. او په دغه وخت کي حَمل نَه خو د مور جُزء دئ اونَه څَه جَهَالَت په کښې دئ. نوځکه ديو بَل چالپاره به دحَمل اِقرَار کول جائز سي .

اُصُول : دحَمل هغه اَحکَام کوم چي دحَمل دنَس څخه دباندي دراوتلو ورسته جاري کيږي دهغو دحَمل په وخت کي مُنعَقِدکول جائز دي.او هغه اَحکَام کوم چي خاص دحَمل په وخت کي جاري کيږي هغه دحَمل په وخت کي مُنعَقِد کول جواز نَه لري .

[۱۱۴۳](۴۴) که چيري يوه سړي په خپل مَرَضُ المَوت کي د قَرضُو اِقرَار وکړئ حالانکه پر ده باندي قرضې سته د صِحّت دزمانې او يو څَه قرضې پر ده لازم سوي دي دده په مَرَضُ المَوت کي په اِسبَابِ معلومه سره.نو دصِحّت قرضې او هغه قرضې چي اَسبَاب ئې معلوم وي هغه به مُقَدّم وي.بيا چي کله قرضې اداٴء کړل سي او څَه مال پاته سي نو هغه به په هغه دَين کي صرف کوي چي د مَرَض په زمانه کې اِقرَار کړئ دئ.او که چيري پر ده داسي

قرض نَه وي چي دده دصِحّت په زمانه کي لازم سوئ وي نو دده اِقرَار جائز دئ .

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل چي بَچَئ وَژَاړِي نو وَارِث جوړيږي .

تشريح : يوڅوک په مَرَضُ المَوت کي مُبتَلاء دئ. په هغه ناجوړي کي دده مرګ راغلئ وي. دصِحّت په زمانه کي څَه قرضې دده پر ذِمّه لازم سوي وې.بيا دمَرَضُ المَوت په زمانه کي دداسي اَسبَابُ په ذريعه څَه قرضې راغلې چي هغه اَسبَاب وخلګو ته معلوم دي. مثلاً خريدوفروخت ئې وکړئ دهغه په وجه پر ده باندي قرض راغلئ يائې په مَهرِمِثل سره وَادَه وکړئ دهغه په وجه پرده باندي قرض راغلئ. او د دَين يعني قرض دغه اَسباب وټولو ته معلوم دي. د دغه دواړه رنګه قرضو په موجودګي کي دئ مثلاً د عُمَر لپاره پر خپل ځان باندي اِقرَار کوي چي دهغه سَبَب هم نَه دئ معلوم نو دا اِقرَار صحيح دئ. لېکن ددې دَين ادائيګي به هغه وخت کيږي که چيري د دانورو قرضو څخه مال پاته سو. اوّل به هغه قرضې اداٴء کيږي چي دصِحّت په زمانه کې اخستي دي.يا دمَرَضُ المَوت په زمانه کي اخستي دي او دهغه اَسبَاب وټولو ته معلوم دي. چي ددې څخه پاته سو نو بيا به د اِقرَار دَينُونَه او قرضې اداٴء کيږي .

وجه : (۱) د مَرَضُ المَوت په زمانه کي ببله اَسبَاب بِنُوَلُو ديوچالپاره د دَين اِقرَار کوي نو ددې خبري قَوِي امکان سته چي وبَل دَائِن ته نُقصَان رسول غُوَاړِي چي و مُقَرلَهُ ته ډېر ملاؤسي. او دصِحّت د زمانې ودَائِن او دمَرَضُ المَوت په اَسبَابِ معلومه سره دَائِن ته لَړ

ملاؤسي. نو ځکه ومُقَرلَهُ ته به وروسته دَين ملاؤيږي (۲) په آيت کي ودې ته اِشَارَه سوې ده فَاِن كَانُوا اَكثَرَ مِن ذَالِکَ فَهُم شُرَكَآ ءُ فِي الثُّلُثِ مِن بَعدِ وَصِيَّةٍ يُوصْي بِهَا اَو دَينٍ غَيرَ مُضَارٍّ وَصِيّةً مِنَ اللهِ وَاللهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ (آيت ۱۲سورة النسآء۴) په دې آيت کي دئ چي په وَصِيّت او يا بَل شِي کي بايد بَل چاته نُقصَان وَنَه رسيږي (۳) په حديث کي هم راغلي دي اَنّ اَبَاهُرَيرَةَ حَدّثَهُ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺ قَالَ اِنّ الرّجُلَ لَيَعمَلُ اَوِ المَرأ ةُ بِطَاعَةِ اللهِ سِتِّينَ سَنَةً ثُمّ يَحضُرُهُمَا اَلمَوتُ فَيُضَارّانِ فِي الوَصِيّةِ فَتَجِبُ لَهُمَا اَلنّارُ (الف) (ابوداؤدشريف.باب ماجآء في كراهة الاضرارفي الوصيّةِ ج۲ص۳۲نمبر۲۸۶۷) په دې حديث کي دئ چي په وَصِيّت کي وچا ته نُقصَان رسول نَه دئ په کار که نَه نوبياعَذَاب دئ.

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل چي نَر يا ښَځَه تر شپېتوکالو پوري دخدائ په بَندَګِي کي عَمَل وکي.بيادهغه مرګ نژدې راسي. بيا دُوئي دواړه د وَصِيّت په لَړکي چاته نُقصَان ورکوي نو د دُوئي دواړو لپاره وُور واجبيږي .

[۱۱۴۴](۴۵) وَ كَانَ المُقَرلَهُ اَولْي مِنَ الوَرَثَةِ .

لِهْذَا دغه رنګه اِقرَار کول نَه دي په کار چي په هغه کي ومُقَدّم او مخکني قرض خُوَاهَانُو ته نُقصَان ورسيږي (۴) د صِحّت دزمانې دقرض خُوَاهَانُو په باب دانَه سي ويل کېدائي چي ويوچاته دنُقصَان رسولو لپاره دا اِقرَار کړئ دئ. دغه رنګه دهغه قرض خُوَاهَانُو په حق کي هم دا شُبهَه نسته چي دقرض اَسبَاب ئې معلوم وي ځکه چي دهغو حق اَهَم اومَضبُوط دئ.لِهْذَا اَوّل به و دُوئي ته قرضه ملاؤيږي.او که چيري د صِحّت دزمانې قرض پر دغه سړي نَه وي نو اُوس خو وبل چاته د نُقصَان رسولو شُبهَه نسته نو ځکه په مَرَضُ المَوت کي دبَل چالپاره د دَين اِقرَار کولائي سي. هيڅ دحرج خبره نَه ده .

اُصُول : چي په اِقرَار کي ويو چاته د نُقصَان رسولو شُبهَه وي نو اِقرَار باطل دئ .

[۱۱۴۴](۴۵) او مُقَرلَهُ زِيَات ښَه دئ تر وَارِثَانُو .

تشريح : دکوم چالپاره چې په مَرَضُ المَوت کي اِقرَارکړئ دئ هغه ته به مخکي ملاؤيږي.که دهغه څخه پاته سي نو بيا به و وَارِثانو ته ملاؤيږي .

وجه : (۱) دکوم چالپاره چې اِقرَار کړئ دئ هغه دَين دئ او دَين د وِرَاثَت څخه مخکي اداٰء کيږي (۲) په آيت کي دئ فَاِن كَانُوا اَكثَرَ مِن ذَالِکَ فَهُم شُرَكَآ ءُ فِي الثُّلُثِ مِن بَعدِ وَصِيّةٍ يُوصْي بِهَا اَو دَينٍ (آيت ۱۲سورة النسآء۴) په دې آيت کي دئ چي د دَين او وَصِيّت د اداٰء کولو وروسته به د وَارِثانوتر مينځ وِرَاثَت تقسيم کيږي (۳) اوپه حديث کي دئ چي اَوّل به دَين اداٰء کيږي بيا به دمال د دَرَيَمِي څخه وَصِيّت اداٰء کيږي دهغه وروسته چي څَه پاته سي ەغه به د وَارِثانو تر مينځ تقسيم کيږي.په حديث کي دئ عَن عَلِيٍّ اَنّ النّبِيّ قَضْي بِالدّينِ قَبلَ الوَصِيّةِ وَ اَنتُم تَقرَئُونَ الوَصِيّةَ قَبلَ الدّينِ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجآء يُبدأبالدين قبل الوصيّةِ ص۳۳نمبر۲۱۲۲) په دې حديث کي دئ چي حضورﷺ دَين د وَصِيّت څخه مخکي اداٰء کړئ .

حاشیه : (الف) دحضرت عَلِي ځخه روایت دئ چي حضور د دَین د اداَء کولو فیصله د وَصِیّت ځخه مخکي وکړه او تاسو په قُرآن کي د وَصِیّت تَذکِرَه د دَین ځخه مخکي لُوَلَئ .

[۱۱۴۵](۴۶) وَ اِقرَارُ المَرِیضِ لِوَارِثِهِ بَاطِلٌ اِلاّ اَن یُصَدِّقَهُ فِیهِ بَقِیّةُ الوَرَثَةِ .

[۱۱۴۵](۴۶) د مَرِیض اِقرَار دخپل وَارِث لپاره باطل دئ لېکن که چیري دا نورو وَارِثانو دده تَصدِیق وکړئ .

تشریح : قَرِیبُ المَرګ سړئ په دغه مرض کي دخپل وَارِث لپاره وَصِیّت کوي نو دا باطل دئ. البته چي دا نور وارِثان دده تَصدِیق وکي نو بیا صحیح دئ .

وجه : (۱) د نورو پاته وَارِثانو د نُقصَان په وجه د یَوَه وَارِث لپاره وَصِیّت کول باطل دئ. لېکن که دا نور وارِثان دا نُقصَان برداشتوي او تَصدِیق ئې کوي چي د مُورِث دا وَصِیّت صحیح دئ نو بیا اِقرَار جائز دئ او ومُقَرلَهُ ته به مال ورکول کیږي (۲) په حدیث کي دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺ لاَ یَجُوزُ لِوَارِثٍ وَصِیّةٌ اِلاّ اَن یَشَآ ءَ الوَرَثَةُ (الف) (دارقطني.کتاب الوصایا ج۴ص۸۷نمبر۴۴۵۳\ترمذي شریف.باب ماجآء لاوصِیّةَ لِوَارِثٍ ص۳۲نمبر۲۱۲۰\ابوداؤدشریف.باب ماجآء في الوصِیةِ للوارثِ ص۴۰نمبر۲۸۷۰) په دې حدیث کي دئ چي د وَارِثَانُو لپاره وَصِیّت نَه سي کولائي. لېکن ! که نور وَارِثَان تصدیق وکړي نو بیا وَصِیّت کولائي سي.او د دَین اِقرَار نَه سي کولائي ددې دلیل دا حدیث دئ عَن جَعفَرِ بِنِ مُحَمّدٍ عَن اَبِیهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺ لاَ وَصِیّةَ لِوَارِثٍ وَ لاَ اِقرَارٌ بِدَینٍ (ب) (دارقطني.کتاب الوصایا ج۴ص۸۷نمبر۴۲۵) په دې حدیث کي دئ چي د وَارِث لپاره دي وَصِیّت هم نَه کوي او د دَین اِقرَار دي هم نَه کوي. ځکه چي ددې ځخه و دا نورو وَارِثَانُو ته نُقصَان رسیږي .

پام لرنه : که د معلوم او مَعرُوف اَسبَابُ په ذریعه وخلګو ته معلوم سي چي د

حاشیه : (الف) حضور وفرمائل د وَارِث لپاره وَصِیّت جواز نَه لري لېکن که چیري وَارِثَان وَغُوَاړِي (ب) حضور وفرمائل د وَارِث لپاره نَه وَصِیّت سته او نَه د دَین اِقرَار جواز لري .

[۱۱۴۶](۴۷) وَ مَن اَقَرّ لاَجنَبِیٍّ فِي مَرَضِ مَوتِهِ ثُمّ قَالَ هُوَ اِبنِي ثَبَتَ نَسَبُهُ وَ بَطَلَ اِقرَارُهُ [۱۱۴۷](۴۸) وَ لَو اَقَرّ لاَجنَبِیّةٍ ثُمّ تَزَوّجَهَا لَم یَبطُل اِقرَارُهُ لَهَا .

وَارِث قرض سته نو دغه دَین به و وَارِث ته ځیني ور اَخستَل کیږي .مثلاً غُوَیَئ ئې اَخَستَئ وُ چي دهغه قیمت پر مُورِث باندي پاته وُ نو دغه به د مُورِث د مال ځخه و وَارِث ته ورکول کیږي .

اُصُول : چي د اِقرَار ځخه وچاته نُقصَان رسیږي نو دا اِقرَار بَاطِل دئ .

[۱۱۴۶](۴۷) یوچا په خپل مَرَضُ المَوت کي د اَجنَبِي لپاره اِقرَار وکئ بیائي وویل چي هغه زوما زُوئي دئ نو دهغه نَسَب به ثَابِت سي او اِقرَار به باطل سي .

وجه : په شریعت کي د نَسَب د ثابتېدو پوره کوشش کیږي.چي یو اِنسَان ببِله نَسَب پاته نَه سي. بیا چي کله نَسَب ثابت سو نو دا بَچَئ د کِشنِیوَالِي څخه وَارِث جوړسو. او مخته دا تیر سو چي د وَارِث لپاره اِقرَار نَه سي کولائي. نو ځکه کوم اِقرَار چي د اَجنَبِي لپاره کړئ وُ دزُوئي دثابتېدو په وجه هغه اِقرَار باطل سو. اُوس به د زُوئي وَالِي په وجه د مُقِر وِرَاثَت ورته ملاؤیږي .

پام لرنه : د نَسَب دثابتېدو لپاره دُوَه شرطونه دي.یوخو دا چي هغه اَجنَبِي ثَابِتُ النّسَب نَه وي او دُوَم دا چي دا اِمکَان ولري چي دارنګه څوک دي د مُقِرزُوئي سي.

[۱۱۴۷](۴۸) او که داَجنَبِي ښځي لپاره اِقرَار وکئ بیائي دهغه سره وَادَه وکئ نو دښځي لپاره اِقرَار نَه دئ باطل .

تشریح : مخکي ښځه اَجنَبِي وَه په دغه حَالَت کي ددې لپاره مثلاً د سَل روپۍ وَصِیّت وکئ بیائي وروسته دهغه ښځي سره وَادَه وکئ او هغه ئې مَینَه سوه وَارِث جوړه سوه خوبیا هم ددې ښځي لپاره چي کوم اِقرَار کړئ دئ هغه نَه باطلیږي .

وجه : کوم وخت چي دښځي لپاره اِقرَار وکړئ هغه وخت دا ښځه اَجنَبِیَه وه.په دغه وخت کي دا بِی بِی نَه وه ګرزېدلې چي وَارِث جوړه سوه نو ځکه ددې لپاره وَصِیّت کول جائز وُ. دا خو د وَادَه وروسته وَارِثَه جوړ سوه. نوځکه ددې لپاره چي کوم اِقرَار کړئ وُ هغه نَه باطلیږي.او په دا مخته تېره مسئله کې د هَلَک لپاره اِقرَار ځکه باطل کړئ وُ چي هَلَک خو د کِشنِیوَالِي څخه وَارِث شمېرلئ وُ که څَه هم د زُوئي وَالِي اِقرَار ئې وروسته کړئ وي. نو د دَین اِقرَار خو دزُوئي وَالِي په حَالَت کي سو نو په دې وجه دا اِقرَار باطل دئ .

[۱۱۴۸](۴۹) وَ مَن طَلَّقَ اِمرَأ تَهُ فِي مَرَضِ مَوتِهِ ثَلْثاً ثُمّ اَقَرّ لَهَا بِدَینٍ وَمَاتَ فَلَهَا الاَقَلّ مِنَ الدّینِ وَ مِن مِیرَاثِهَا مِنهُ .

اُصُول:په کوم ځائ کي چي وبَل ته دنُقصَان ورکولوشُبهَه نَه وي هلته اِقرَارصحیح دئ .

[۱۱۴۸](۴۹) یوچا په خپل مَرَضُ المَوت کي وخپله بِي بِي ته درې طلاق ورکړه.تر اُوسَ لا دا په عِدّت کي وه چي ددې لپاره اِقرَار وکئ بیا مَړ سو نو وښځه ته به د دَین او هغه چي دخَاوَند څخه په میراث کي ورته ملاؤیږي په هغه کي چي کوم کَم وي هغه به ملاؤیږي .

تشریح : مثلاً زَید په خپل مَرَضُ المَوت کي وخپله بِي بِي ته درې طلاقونه ورکړه تر اُوسَ دا لا په عِدّت کي وه چي ددې لپاره اِقرَار وکئ چي ددې پر مابانـدي پِنځَه سوه دِرهَم قرض دئ. بیا زَید مَړ سو نو دا به ګورو چي وښځه ته په وِرَاثَت کي لَږ رسیږي که په اِقرَار کي لَږ رسیږي ؟ کوم چي لَږ وي هغه به وښځه ته ملاؤیږي.

مثلاً په وِرَاثَت كي څلور سوه دِرهَم ملاؤېدو نو وَرَاثَت به ورته ملاؤيږي ځكه چي پـه اِقرَار كي پِنځَه سوه دِرهَم ملاوېدلو چي زِيَات وُ .

وجه : په دي كي دا شُبهَه سته چي خَاوَند د بِي بِي لپاره د ډېر دَين اِقرَار كول غُوَښـتَل لېكن د وَارِث وَالِي په وجه هغه اِقرَار نَه سو كولائي. نوځكه اَوّل ئې وخپله بِي بِي تـه طلاق وركړئ دائي اَجنَبِيّه وركړزوله بيائي ددې لپاره دډېررَقَم اِقرَاروكئ

[۱۱۴۹](۵۰) وَ مَـن اَقَـرّ بِغُـلاَمٍ يُولَـدُ مِثلُـهُ لِمِثلِـهِ وَ لَـيسَ لَـهُ نَسَـبٌ مَعرُوفٌ اَنّهُ اِبنُهُ وَ صَدّقَهُ الغُلاَمُ ثَبَتَ نَسَبُهُ مِنـهُ وَ اِن كَـانَ مَرِيضًـا وَ يُشَارِكُ الوَرَثَةَ فِي المِيرَاثِ .

نود دغه شُبهې په وجه په وِرَاثَت او اِقرَار كي چي كوم رَقَم لَږ وي هغه به وبِي بِي تـه ملاؤيږي. په حديث كي دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ عَنِ النّبِـيّﷺ قَـالَ اَلاِضـرَارُ فِـي الوَصِـيّةِ مِـنَ الكَبَائِرِ (الف) (دارقطني.كتاب الوصايا ج۴ص۸۶نمبر۴۲۴۹) پـه دې حـديث كـي دئ چي وَصِيّت وكي او چاته دهغه په وجه نُقصَـان رسـول غُـوَاړِي دا ګُنـاهِ ګبيـره ده. نـو ځكه په مِيرَاث او اِقرَار دواړو كي چي كوم لَږ وي هغه به دې تـه وركـوي چـي حَتْـي الاِمكان نور وَارِثَان د نُقصَان څخه بَچ كړي .

[۱۱۴۹](۵۰) يو سړي د داسي هَلَک په باب وويل چي دا زومـا زُوئـي دئ چـي دغـه رنګه هَلَک دده څخه پيدا كېدلائي سي او د هَلَک نَسَب معلوم نَـه وي او هَلَـک هم دده تَصدِيق وكړئ نو دهَلَک نَسَب به دده څخه ثابت سـي كـه څَـه هم هغـه سـړئ نـاجوړه وي.او هَلَک به په ميراث كي د وَارِثَانو سره شريک وي .

تشريح : يو داسي هَلَک دئ چي نَسَب ئې نَه دئ معلوم او يو لُوئ سړئ چي دهغـه څخـه دا رنګه بَچَئ پيدا كېدلائي سي هغه دا اِقرَار وكئ چي دا هَلَک زوما زُوئي دئ. اوهَلَک خبري كولائي سي نو ځكه هَلَک هم دده تَصدِيق وكئ چي زه دده زُوئي يَم نو ددغه هَلَک نَسَب بـه ددې سړي څخه ثابت سي. كه څَه هم دغه سړئ په مَرَضُ المَوت كي مُبتلاَء وي. او د پُلاَر د مرګه سره سَم لكه څَه رنګه چي نور وَارِثَان چي دميراث حَقدَارَه دي دغه رنګه دا هَلَـک هم حقداره دئ .

د هري جُملې تشريح : چي دهَلَک نَسَـب نَـه وي معلـوم: دائـې ځكـه وويـل چـي كـه د هَلَک نَسَب معلوم وي بيا خو دده څخه نَسَب نَه ثابتيږي. ځكه چي يو د دُو كسانو

حاشيه : (الف) په وَصِيّت سره چاته نُقصَان رَسَوَل د ګُنَاهِ كبيره وُ څخه ده .

زُوئي نَه سي كېدلائي... او هَلَک د دُونَه عُمر وي چي د داسړي زُوئي كېدلائي سـي: دائـې ځكه وويل چي كه د هَلَک عُمر پِنځلَس كاله وي او د پُلاَر عُمر ئې شَل كاله وي نو دا هَلَک دده بَچَئ څَه رنګه كيږي ؟ دا خو ښكاره دُرَوَاغ دي. نو ځكه دُونَه عُمر ئې بايد وي چـي دا اِمكان ولري چي دده زُوئي سي... او دا چي هَلَک ئې تَصدِيق وكړي : دائې ځكه وويل چي هَلَک خبري كولائي سي نو ديوچا څخه نَسَـب ثَـابِتَوَل دا دده ذَاتِـي حق دئ. نـو ځكـه دده د

تصديق كولو هم ضرورت سته. نو كه چيري هَلَک د زُوئي وَالِي تَصدِيق وَنَه كړي نو ددې سړي څخه نَسَب نَه ثابتيږي .

وجه : (١) د خپل زُوئي نَسَب دخپل ځان څخه ثابتول په حَاجَتِ اَصلِيّه كي داخل دئ.نوځكه د مَرَضُ المَوت په حالت كي هم دنَ◌َسَب اِقرَار كولائي سي.نو اُوس ددې اِقرَار په وجه كـه د نورو وَارِثَانُو نُقصَان كيږي نو ددې څَه اِعتِبَار نسته.او چي زُوئي جوړ سو نو پـه وِرَاثَـت كي به هم شريک وي (٢) په اَثَر كي ددې ثبوت سته چي د دَعوې په وجه نَسَب ثابت كړئ دئ قَالَ اَتْي عَلِيٌ بِثَلْثَةٍ وَ هُوَ بِاليَمَنِ وَقَعُوا عَلْي اِمرأةٍ فِي طُهُور وَاحِدٍ فَسَألَ اِثنَينِ اَتُقِرّانِ لِهٰذَا بِالوَلَدِ ؟ قَالاَ لاَ حَتْي سَألَهُم جَمِيعًا فَجَعَلَ كُلّمَا سَألَ اِثنَينِ قَالاَ لاَ فَاَقرَعَ بَينَهُم فَاَلحَقَ الوَلَدَ بِالّـذِي صَارَت عَلَيهِ القُرعَةُ وَجَعَلَ عَلَيهِ ثُلُثَيّ الدِّيَةَ قَالَ فَذَكَرَ ذَالِکَ لِلنّبِيِّ فَضَحِکَ حَتْي بَدَت نَوَاجِذُهُ (الف) (ابوداؤدشريف.باب من قال بالقرعة اذا تنازعوا فِي الولدص٣١۶نمبر١٢٢٧٠\ نسائي شريف.باب القرعة فِي الولداذا تنازعوا فِيهِ ج٢ص٩۴نمبر٣٥١٨) په دې اَثَر كي درې كسانو د زُوئي وَالِي دعويْ كړې ده نوحضرت عَلِي د قُرعي اَندازئ په ذريعه د دُوئي تر مينځ فيصله وكړه ددې څخه دا ثابت سو چي څوک دنَسَب اِقرَار وكي نو نَسَب ثابتيږي .

اُصُول : په مَرَضُ المَوت كي د حاجَتِ اَصلِيّه اِقرَار كولائي سي .

حاشيه : (الف) په يَمَن كي حضرت عَلِي تـه درې كسان راغلـه.هغو ټولو پـه يَوَه طُهركي د يوې ښځي سره نژدېګت كړئ وُ.نو حضرت عَلِي د دُوُڅخه پوښتنه وكړه چي تاسو دُوَاړَه ددې بَچِي اِقرَار كوئ ؟ دُوَاړُو وويل نَـه. ترديې چي د دُرُو سره څخه پوښتنه وكړه.نو چي هر وخت به د دُوُو دُوُو څخه پوښتنه كوله دُوَاړُو به اِنكار كـاوئ. نوئې د دُرُو سره وُ تر مينځ قُرعَه اَندَازِي وكړه اوهَلَـک ئـې دهغـه پـه نـوم مَنسُوب كړئ دچاپر نـوم چي قُرعَـه راووتل. او پر هغه ئې دُوې حِصّې دِيَت لازم كړئ. فرمائي چي دحضور پـه مخ كـي ددې واقعې تَذكرَه راغلـه نوحضور وَخنَدَل تر دې چي د زَامِي مُبَارَک غاښُونَه ښكاره سول .

[١١٥٠](٥١) وَ يَجُوزُ اِقـرَارُ الرّجُلِ بِالوَالِـدَينِ وَ الزّوجَـةِ وَ الوَلَـدِ وَ المَولْي [١١٥١](٥٢) وَ يُقبَلُ اِقرَارُ المَرأةِ بِالوَالِدَينِ وَ الزّوجِ وَالمَولْي [١١٥٢](٥٣) وَ لاَ يُقبَـلُ اِقرَارُهَـا بِالوَلَـدِ اِلاّ اَن يُصَـدِّقَهَا الـزّوجُ فِـي ذَالِکَ اَو تَشهَدُبِوِلاَدَتِهَا قَابِلَةٌ .

[١١٥٠](٥١) جائز دئ چي يوڅوک اِقرَاروكي دوَالِدَينُ.دمَيني.دزُوئي اودمَولْي.

تشريح : مثلاً زَيد اِقرَار كوي چي عُمَر او دهغه مَينَه زوما مُور او پُلاَر دي يا خَالِدَه زومـا مَينَه ده.ياخَالِدزوما زُوئي دئ يا زوما مَولْي دئ.او دا خلګ ئې هم تصديق كوي چي لكه څه رنګه چي زَيد وائي دغه رنګه دئ نو ددې نَسبُو اِقرَار جائز دئ .

وجه : ددې نَسَبُو د اِقرَار په وجه پر نورو باندي دنَسَب اِلزَام نَـه راځـي اونَـه دنـورو نَسَـب ثابتول مطلب دئ بلكه صرف خپل نَسَب وبل چاته منسوب كول دئ. نوچي د بَل چا نُقصَان نَه سته خپل اِختِيَارِي فِعل دئ لِهٰذَا دا جائز دئ .

اُصُول : دا مسئله پر دې اُصُول باندي مُتَفَرّع ده چي د يوچا نُقصَـان نَـه وي د داسـي نَسَـب اِقرَار كولائي سي.او ددې په وجه كه چيري ديو وَارِث نُقصَان وي نو څَه حرج نَه لري .

[١١٥١](٥٢) دښځي اِقرَار به قبليږي د وَالِدَينُ.او دخَاوَند او د مَولْي .

تشريح : ښځه ديوچا په باب اِقرَار وکي چي دا زوما پلار دئيا زوما مور ده يا زوما خَاوَند يا مَولٰي دئ نو دا جائز دئ.اوهغه خلګ ئې هم تصديق وکي چي دغه رنګه ده نو دا ټوله به ثابت سي .

وجه : په دي کي پربَل چَاباندي نَسَب ثابتول نَه دئ بلکه پر خپل ځان باندي نَسَب راځي.نوځکه جائز دئ او په دې اِقرَار کي وبل چاته دنُقصَان رسولوشُبهَه هم نسته نو په دې وجه هم جائز دئ .

[۱۱۵۲](۵۳) اونَه به قبليږي دښځي اِقرَار د زُوئي په باب مګر دا چي خَاوَند په دې باب کي ددې تصديق وکي يا دَائِي دپَيدَائِش تصديق وکي .

تشريح : ښځه اِقرَار کوي چي مثلاً زَيد زوما زُوئي دئ نو دښځي دا اِقرَار تر هغه وخته پوري ناقابل قبول دئ تر څوچي خَاوَند ددې تصديق نَه وي کړئ چي دا ددې زُوئي دئ. يا دَائِي تصديق وکړي چي ددې ښځي بَچَئ پيدا سوئ دئ .

وجه : دبَچِي نَسَب دپُلاَر څخه ثابتيږي نو چي ښځه دا وائي چي زَيد زوما زُوئي دئ نو دا ددې زُوئي نَسَب دخپل خَاوَند څخه ثابتول غُوَاړِي.پر خپل ځان باندي دنَسَب لګولو سره سره پر بل باندي هم نَسَب لګېدل راغلو.چي صرف پر خپل ځان باندي نَسَب لګېدل وائي نو څَه خبره نَه وه. دلته خو پر مېړه يعني خاوند باندي هم دنَسَب اِلزَام راځي. نوځکه د خاوند تصديق ضروري دئ.که هغه دزُوئي َالِي تصديق وکړي خو ټيک دئ که نَه نو بيا دښځي دا دنَسَب اِقرَار باطل دئ .

اُصُول : پر چاباندي د نَسَب اِلزَام رَاوَستَل دهغه دتصديق بغيره جواز نَه لري.په حديث کي پر نورو باندي د نَسَب د اِلزَام لګولوڅخه منع راغلې ده عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِﷺ يَقُولُ حِينَ نَزَلَت آ يَةُ المُتَلاَعِنَينِ اَيّمَا اِمرَأةٍ دَخَلَت عَلْي قَومٍ مَن لَيسَ مِنهُم فَلَيسَت مِنَ اللهِ فِي شَيئٍ وَ لَن يُدخِلَهَا اللهُ جَنّتَهُ وَ اَيّمَا رَجُلٍ جَحَدَ وَلَدَهُ وَ هُوَ يَنظُرُ اِلَيهِ اِحتَجَبَ اللهُ تَعَالْي مِنهُ وَ فَضِحَهُ عَلْي رُؤسِ الاَوّلِينَ وَ الآخِرِينَ (الف) (ابوداؤدشريف.باب التغليظ ُفي الانتفاد ص۳۱۵نمبر۲۲۶۳\نسائي شريف.باب التغليظ في الانتفادمن الولدج۲ص۹۴نمبر۳۵۱۱) په دې حديث کې بلاوجه پر بل چا دخپل نَسب اَچَوُلُو څخه منع کړې ده. نو چي خاوند ئې تصديق وَنَه کړي تر هغه وخته پوري دهَلَک په باب دښځي قول قابل قبول نَه دئ. البته چي دَائِي ګواهي ورکړي چي ددې ښځي بَچَئ وسو. او ددغه بَچِي په باب اِقرَار کوي چي دا زُومَا بَچَئ دئ نوچي خَاوَندئې تصديق وَنَه کړي هم دبَچَي نَسَب دښځي څخه ثابتيږي او

حاشيه : (الف) کوم وخت چي دلِعَان آيت نَازِل سونودحضور څخه اَوربَدَل سوي دي چي يوه ښَځَه په يو قوم کي داسي څوک دَاخِل کړي چي دهغه قوم څخه نَه وي نو هغه د الله تعالْي سره هيڅ تَعَلّق نَه لري.او الله به هيڅ کله هغه جَنّت ته نَه کړي داخل.او څوک چي دخپل اَولاَد څخه اِنکار وکړي حالانکه دئ هغه ويني نو الله تعالْي به دهغه څخه پَردَه وکړي.او هغه به د اَوّلِينُ او آخرين په مينځ کي شَرمِندَه کړي .

[۱۱۵۳](۵۴) وَ مَن اَقَرّ بِنَسَبٍ مِن غَيرِ الوَالِدَينِ وَ الوَلَدِ مِثلُ الاَخِ وَ العَمِّ لَم يُقبَل اِقرَارُهُ بِالنّسَبِ .

بيا خو ښځه د خَاوَند فِرَاش ده نوځکه دخاوند څخه به هم دبَچِي نَسَب ثابت سي .
وجه : ځکه چي په کوم ځائ کي چي د نَر کَتَنَه حرام ده هلته د دَائِي ګواهِي قبوله ده. او په دغه ګواهي به دبَچِي نَسَب ثابت سي. په حديث کي دئ عَن حُذَيفَةَ اَنّ النّبِيّﷺ اَجَازَ شَهَادَةُ القَابِلَةِ (الف) (دارقطني.كتاب في الاقضية والاحكام ج۴ ص۱۴۹ نمبر۴۵۱۰\سنن للبيهقي.باب ماجآءفي عددهنّ ج۱۰ص۲۵۴نمبر ۲۰۵۴۲ كتاب الشهادات) ددې حديث څخه معلوم سوچي د بَچِي دپيدائش په باب کي د دَائِي ګواهِي قابل قبول ده .
[۱۱۵۳](۵۴) يوچا د نَسَب اِقرَار وکئ د وَالِدَين او اَولاَد څخه علاوه مثلاً د وُرُور يا د اَګَا.نو دده د نَسَب اِقرَار به نَه قبلوي .
تشريح : مثلاً زَيد اِقرَار وکئ چي عُمَر زُومَا ورور دئ يا زوما اَګَا دئ نو دا اِقرَار به نَه قبلوي .
وجه : د وُرُور ويلو مطلب دادئ چي دا زوما دپُلاَر زُوئي دئ نو مُقِر دخپل پلار څخه نَسَب ثابت کړئ.او دا مخته تېرسوئ دئ چي پر بَل چاباندي د نَسَب اِلزَام نَه سي کولائي او دبَل څخه نَسَب نَه سي ثابتولائي. پر خپل ځان باندې کول صحيح دئ. نوځکه د وُرُور وَالِي اِقرَار کول باطل دئ.دغه رنګه چي دا ووائي چي دا زوما اَګَا دئ نو ددې مطلب دادئ چي دا زوما د نِيکَه زوئي دئ نود نِيکَه څخه نَسَب ثابت کړئ او دا هم د بَل څخه نَسَب ثابتېدل سو چي جواز نَه لري. نوځکه د اَګَاوَالِي اِقرَار هم نَه سي کولائي .
اُصُول : د نَسَب داسي اِقرَار نَه سي کولائي چي دهغه په وجه دبَل څخه نَسَب ثابتېدل لازم سي .

حاشيه:(الف) حضورﷺ د دَايِي د شَهَادَت اجازت ورکړئ.يعني د دَايِي ګواهي دوِلاَدَت په اَړَه قابلِ قبول ده.

[۱۱۵۴](۵۵) فَاِن كَانَ لَهُ وَارِثٌ مَعرُوفٌ قَرِيبٌ اَو بَعِيدٌ فَهُوَ اَولْي بِالمِيرَاثِ مِنَ المُقَرلَهُ فَاِن لَم يَكُن لَهُ وَارِثٌ اِستَحَقّ المُقَرلَهُ مِيرَاثَهُ.

[۱۱۵۴](۵۵) که چيري د مُقِر لپاره معلوم وَارِث وي نژدي وي يا ليري نوهغه د مُقَرلَهُ څخه زِيَات دمِيرَاث حقداره دئ.که چيري دده وَارِث نَه وي نو مُقَرلَهُ به د مُقِر دميراث حقداره وي .
تشريح : مثلاً زَيد د عُمَرلپاره اِقرَار وکئ چي دئ زوما وُرُور دئ يا زوما اَګَا دئ.نو د تَحمِيلُ النّسَب عَلْي الغَيرِ په وجه دده نَسَب د زَيدڅخه ثابت نَه سو. نو اُوس دمُقِر يعني

زَیدچي کوم وَارِث دئ که نژدې وَارِث وي که لیري وَارِث وي هغه دزَید دمیراث زِیَات حقداره دئ .

وجه : ځکه چي دئ ثابت شُدَه وَارِث دئ. او د وُرُور او اَکَاوَالِي چې کوم اِقرَار وکړئ دهغو نَسَب ګرسره د زَید څخه نَه سو ثابت نوځکه دئ د زَیدوَارِث نَه سي کېدلائي. لېکن که چیري بَل وَارِث نَه وي نَه نژدې او نَه لیري نو بیا چې دکوم چا لپاره د وُرور وَالِي یا اَکَاوَالِي اِقرَار کړئ دئ هغه به وَارِثَان وي. ځکه چي د زَیدخپل مال دئ چي وَارِث ئې نَه وي نو چي کوم چاته خُوَښَه سي ورکولائي سي. نو ځکه اُوس به دا مال و بَیتُ المَال ته د تلو به جائي ومُقَرلَهُ ته ورکوي .

پام لرنه : (۱) په دې صورت کې و وُرُور یا اَکَا ته د نَسَب دثابتولو په وجه نَه بلکه صرف د اِقرَار په وجه وِرَاثَت ورکړئ. ځکه چي اُوس دبَیتُ المَال څخه علاوه بَل د وِرَاثَت اخستونکئ نسته (۲) په دې حدیث کې اِشَارَه ده چې یَو وَارِث نَه وي نو ومُقَرلَهُ ته به وَرَاثَت ورکوي عَن عَائِشَةَ اَنّ رَجُلاً وَقَعَ مِن نَخلَةٍ فَمَاتَ وَتَرَکَ شَیئًا وَلَم یَدَع وَلَدًا وَلاَ حَمِیمًا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ اَعطُوا مِیرَاثَهُ رَجُلاً مِن اَهلِ قَریَتِهِ (الف) (سنن للبیهقي. باب

حاشیه : (الف) یَو سړئ د خُورمَا د درختي څخه رَایَلَه سو او مَړ سو.او څَه مال ئې پرېښوئ. نَه اَولاَد پرېښوئ نَه دُوست پرېښوئ. نوحضور وفرمائل دده میراث دده د کلِي و یوسړي ته ورکئ .

[۱۱۵۵](۵۶) وَ مَن مَاتَ اَبُوهُ فَاَقَرّ بِاَخٍ لَم یَثبُت نَسَبُ اَخِیهِ مِنهُ وَیُشَارِکُهُ فِي المِیرَاثِ .

من جعل میراث من لم یدع وارثًاولاموليْ فِي بیت المال ج۶ص۳۹۸نمبر۱۲۴۰۰\ترمذي شریف.باب ماجآءفي الذي یموت ولیس له وارثٌ ص۲۳نمبر۲۱۰۵) په دې حدیث کې دئ چي هیڅ وَارِث ئې نَه وُ نو دکَلِي وخَلکو ته وِرَاثَت ورکړئ. نوځکه چي هیڅ وَارِث ئې نَه وي نو ومُقَرلَهُ ته به وِرَاثَت ورکوي .

اُصُول : چي هیڅ وَارِث ئې نَه وي نو ومُقَرلَهُ ته به وِرَاثَت ورکوي .

[۱۱۵۵](۵۶) دیوچا پُلاَر مَړسو نو دوُرُور وَالِي اِقرَار ئې وکئ نو د ده دوُرُور نَسَب به د مُقِر څخه نَه ثابتوي. لېکن په میراث کې به دده شریک وي .

تشریح : دیوچا پُلاَر مَړسودهغه وروسته مثلاً زَید د عُمَر د ورور وَالِي اِقرَار وکئ چي دا زوما ورو دئ نو په دي کي خو تَحمِیلُ النّسَب عَلْي الغَیرِ دئ. یعني پر بَل باندي د نَسَب اِلزَام راځي نوځکه د ورور وَالِي نَسَب ئې نَه ثابتیږي. لېکن کوم چې د ورور وَالِي اِقرَار کړئ دئ وهغه ته چي د پُلاَر دمیراث څخه څومره حِصّه ملاویږي دهغه څخه به نِیمَئ ومُقَرلَهُ یعني عُمَر ته هم ورکوي .

وجه : (۱) د ورور وَالِي اِقرَار کولو دوه مقصددي. یوخو د پُلاَر څخه نَسَب ثابتول. داخو د تَحمِیلُ النّسَبِ عَلْي الغَیرِ په وجه نَه سي کېدلائي. او دوم مقصد دادئ چي دئ د پُلاَر په میراث کې شریک کړي دا کېدلائي سي. لېکن د نورو وُرُونُو دحِصّې څخه

به نَه ورکول کیږي صرف د اِقرَار کونکي د میراث ښخه به نِیمَئ حِصّه ورکول کیږي. چي دهیڅ چا نُقصَان هم وَنَه سي او د اِقرَار کولو دُوَم مقصد هم پوره سي (٢) دا د ده مَال دئ نو دئ اِقرَار کولائي سي او بَل چاته ورکولائي سي .

اُصُول : چي اِقرَار وکي او بل ته نُقصَان ورسوي دا جواز نَه لري. البته په ذَاتِي حق کي به ددې اِقرَار اجرآء کیږي .

..... كِتَابُ الاجَارَةِ .....

[١١٥٦](١) اَلاِجَارَةُ عَقدٌ عَلٰي المَنَافِعِ بِعِوَضٍ .

..... كِتَابُ الاجَارَةِ .....

ضروري پام لرنه : یوه خُوَا ته مُنفَعَت وي بَلَه خواته یو عَینِي شئ وي مثلاً رُوپِي. دِرهَم یا کَیلِي.وَزنِي شئ وي نو دې ته اِجَارَه وائي.په اِجَارَه کي مَنفَعَت مَعدُوم وي لېکن دضرورت په وجه او د احادیثو په وجه دځَه شَرطوسره ئې موجود ګڼلئ دئ او اِجَارَه ئې جائز کړې ده. (١) ددې ثبوت په دې آیت کي دئ قَالَ اِنِّي اُرِیدُ اَن اُنکِحَکَ اِحدي اِبنَتَئ هَاتَینِ عَلٰي اَن تَأجُرَنِي ثَمَانِيَ حِجَجٍ فَاِن اَتمَمتَ عَشرًا فَمِن عِندِکَ (الف) (آیت ٢٧سورة القصص٢٨) په دې آیت کې دموسٰي علیه السلام وَادَه اَتَه کاله د وُزُو (بُوزُو) کَتلُو په أجرَت او مزدوري سره کړئ دئ (٢) او په حدیث کي ددې ثبوت سته عَن اَبِي هُرَیرَةَ عَنِ النّبِيّﷺ قَالَ قَالَ اللهُ ثَلاَثَةٌ اَنَا خَصمُهُم یَومَ القِیَامَةِ رَجُلٌ اَعطٰي بِي ثُمّ غَدَرَ وَرَجُلٌ بَاعَ حُرّاً فَاَکَلَ ثَمَنَهُ وَرَجُلٌ اِستَأجَرَ اَجِیراً فَاستَوفٰي مِنهُ وَلَم یُعطِهِ اَجرَهُ (ب) (بخاري شریف.باب اثم من منع اجرالاجیرص٣٠٢نمبر ٢٢٧٠) په دې حدیث کي دئ چي په أجِیریعني مَزدُور باندې کار وکئ او دهغه مَزدوري ئې ورنَه کړه نو الله تعالٰي فرمائي چي دقیامت په ورځ زه دهغه سرِي خَصَم یم.ددې ښخه ثابت سو چي اِجَارَه جائز ده .

[١١٥٦](١) اِجَارَه عَقد دئ پرمنافع باندي د عِوَض په بَدلَه کي .

تشریح : د اِجَارِې مطلب دادئ چي یوه خُوَاتَه مَنفَعَت وي او بَلَه خُوَاتَه یو عَینِي شَئ مثلاً دِینَار.دِرهَم.غَنَم یا یو بل وَزنِي یا کَیلِي شئ وي.دې ته عَقدِاجاره وائي .

وجه : ددې د جواز وجه دغه لوړ آیت او حدیث دئ .

[١١٥٧](٢) وَلاَ تَصِحّ حَتّٰي تَکُونَ المَنَافِعُ مَعلُومَةً وَ الأجرَةُ مَعلُومَةً .

[١١٥٧](٢) اِجَارَه نَه صحیح کیږي ترهغوچي مَنَافِع معلوم وي اوأجرَت معلوم وی.

تشریح : منافع یعني ګټه به ښونه وي.مِقدَار به ښونه وي هغه به هم معلوم وي او دهغه په بدله کي به أجرَت ښونه وي هغه به هم معلوم نو بیا اِجَارَه صحیح ده .

حاشیه : (الف) حضرت شُعَیب وفرمائل زَه غُوَاړَم چي زوما د دُوُ لُونُو ښخه یوه ستا په نکاح کړه په بَدَل کي ددې چي اَتَه کاله په مَزدُورِي کار وکې. نو که لَس پوره کې نو دا به ستا لخوا وي (ب) حضورﷺ فرمائي چي الله تعالٰي وفرمائل چي دقیامت په ورځ به زه د دُرُو کسانو لخوا مُدّعِي یَم. یو هغه ښوک چي زوما په وجه وَعدَه وکړه بیائې دُوکَه وکړه. دُوَم هغه ښوک چي آزاد ئې خرڅ کړئ او دهغه قیمت ئې وَخُوَاړَئ دریم هغه ښوک چي مَزدُور ئې په مَزدُورِي ولګاوئ او دهغه ښخه کار پوره واخستئ بیائې هغه ته أجرَت وَرنَه کړئ .

وجه : (١) که منافع يعني ګټه نَه وي معلومه او أجرَت نَه وي معلوم نو جګړه به رامينځ ته سي نوپه دي وجه د دُوَاړُو معلومېدل ضروري دئ (٢) په تېرسوئ آيت کي ,,ثَمَانِيَ حِجَجٍ,, لفظ راغلئ دئ چي دهغه څخه مَنَافِع معلوم سو او,, أُنكِحَکَ,, لفظ راغلئ دئ چي دهغه څخه عِوَض يعني بدله هم معلومه سوه.ددې څخه دا اشاره وسوه چي بايد دُوَاړَه معلوم وي (٣) په حديث کي دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ عَنِ النّبِيِّ ... وَ مَن اِستَأجَرَ اَجِيراً فَليَعلَمهُ اَجرَهُ (الف) (سنن للبيهقي.باب لاتجوز الاجارة حتّي تكون معلومة وتكون الاجرة معلومة ج٦ص١٩٨نمبر ١١٦٥١\ مصنف عبدالرزاق.باب الرجل يقول بِع هْذا بِکَذَا فمازاد فلک وکيف ان باعه بِدَينٍ ج٨ص٢٣٥نمبر١٥٠٢٤) ددې حديث څخه معلوم سو چي هرڅوک چي په أُجرَت او مزدوري باندي ولګوئ دهغه أُجرَت بايد معلوم وي. ددې څخه معلوم سوچي أُجرَت به معلوم وي. او دا چي عَمَل او منافع به معلوم وي دهغه دليل دا حديث دئ عَن اَنَسِ بِن مَالِکٍ قَالَ دَعْي النّبِيّﷺ غُلاَمًا حَجّامًا فَحَجَمَهُ وَاَمَرَ لَهُ بِصَاع اَو صَاعَينِ اَو مُدّ اً اَو مُدّينِ وَکَلّمّ فِيهِ فَخَفّفَ مِن ضَرِيبَتِهِ (ب) (بخاري شريف.باب من کَلّمَ موالي العبد ان يُخَفِّفوا عنه من خِرَاجِهِ ص٣٠٤نمبر٢٢٨١) په دې حديث کي دحَجّام چي اَبُوطِيبَه نومېدئ دهغه عَمَل او منافع معلوم دي چي دئ به دحضورﷺ

حاشيه : (الف) دحضور څخه رِوَايَت دئ چي ... يوچا مَزدُور په أُجرَت باندي واخستئ نودهغه مَزدُورِي څونه ده ددې بايد اِطلاَع ورکړي (ب) حضوربښګرلګونکئ غُلاَم رَاوَبَالَئ. نوهغه ښکرورولګاوئ. او حضور وهغه ته ديوې صَاع يا د دُو صاع ورکولو حُکم ورکړئ.يا ديوه مُد يا د دُوُ مُدُو حُکم ورکړئ.او دهغه په ټېکس کې دتَخفِيف خبره وکړه .

[١١٥٨](٣) وَ مَاجَازَ اَن يَکُونَ ثَمَناً فِي البَيعِ جَازَ اَن يَکُونَ أُجرَةً فِي الاِجَارَةِ .

حَجَامَت کوي او دهغه په بَدلَه کې يوه صَاع يا دُوې صَاع يعني پيمانې غَنَم ورکړه. ددې څخه دا معلوم سو چي مَنفَعَت معلوم وي نو اِجَارَ صحيح کيږي .

أُصُول : اصل قاعده داده چي کوم شئ أُوس موجود نَه وي وروسته ورکوي يا آهسته آهسته په وُجُود کي راځي دهغه شي چي کَيل.وَزَن او صِفَت معلوم وي نو عَقدصحيح کيږي. په اِجَارَه کي منافع وروسته په آهسته آهسته وُجود ته رَاځِي نوځکه چي هغه معلوم وي نو اِجَارَه صحيح کيږي. ثبوت ئې په دې حديث کي دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ ... فَقَالَ مَن اَسلَفَ فِي شَئٍ فَفِي کَيلٍ مَعلُومٍ وَوَزنٍ مَعلُومٍ اِلْي اَجَلٍ مَعلُومٍ (الف) (بخاري شريف.باب السلم في وزنٍ معلوم ص٢٩٨نمبر ١٢٢٤٠\ مُسلم شريف.باب السلم ص٣١نمبر١٦٠٤) دا حديث د بَيعِ سِلَم په اَړَه دئ خو ددې څخه دأُجرَت معلومېدل هم ښکاره کيږي .

[١١٥٨](٣) کوم شئ چي په بَيعِ کي ثَمَن جوړېدل جائز دئ دهغه په اِجَارَه کي أُجرَت جوړېدل جائز دئ .

تشریح : کوم شِیَان چي په بیع کي ثَمَن او قیمت جوړېدلائي سـي هغـه شِیَان پـه اِجَـارَه کـي اُجرَت جوړېدلائي سي .

وجه : په اِجَارَه کي اُجرَت داسـي وي لکـه پـه بیـع کـي ثَمَـن. نوځکـه کـوم شـیان چـي ثَمَـن جوړېدلائي سي هغه شـیان اُجـرَت جوړېـدلائي سـي. مـثلاً عَـدَدِي غیرمُتَقَـارِب چـي مَخَـامَخ موجود نَه وي هغه ثَمَن نَه سي جوړېدلائي لِهٰذَا هغه اُجرَت هم نَه سي جوړېدلائي. او دِرهَـم و دَنَانِیر یا کَیلِي وزني شیان ثَمَن جوړېدلائي سي نو دا شیان اُجرَت هم جوړېدلائي سي .

حاشیه : (الف) حضور وفرمائل څوک چـي بَیـع وکـي نـو کَیـل دي معلـوم وي.وَزَن دي معلـوم وي او مُـدّت دي معلوم وي .

[۱۱۵۹](۴) وَ المَنَـافِعُ تَـارَةً تَصِـیرُ مَعلُومَـةً بِالمُـدّةِ کَاِسـتِیجَارِ الـدّوَرِ لِلسُکنْي وَ الاَرضِینَ لِلزّرَاعَةِ فَیَصِحّ العَقدُ عَلْـي مُـدّةٍ مَعلُومَـةٍ اَيِّ مُـدّةٍ کَانَت .

اُصُول : اصول دادئ چي اُجرَت معلوم وي اوعَدَدِي غیرمُتَقَارِب چي قریب قریب نه وي او مَخَامَخ نَه وي نو هغه معلوم نَه دي.مقدار ئې مجهول دئ نوځکه هغه اُجرَت نَه سي جوړېدلائي .

[۱۱۵۹](۴) مَنفَعَت کله د مُدې په ذریعـه معلـومیږي لکـه مَکَـان د وُسـېدَلُو لپـاره پـه اُجرَت اخستل او مځکه د کَښت لپاره اخستل.نو عَقدصحیح کیږي دمعلومي مُـدې سـره چي هر څونه مُدّت وي .

تشریح : د مَنفَعَت معلومولو څوطریقې دي.دهغو څخه یوه داده چي مُدَه بـه معلـوم وي چي دڅونه وخت لپاره دا شئ اَخلَم.ددې مُدې څخه به مَنفَعَت معلـوم سـي.که هرڅونـه مُـدَه معلـوي هغـه ددوئـي خُوَښَـه ده. مـثلاً مکـان د وُسـېدلو لپـاره اَخلِـي نـوچي دهرڅومیاشتولپاره ئې اَخلِي ددې څخه به دهغه منفعت معلـوم سـي. یـا مځکـه دکَښـت کولو لپاره اَخلِي نو چي دهرڅومیاشتو لپاره اَخلِـي ددې څخـه بـه دهغـه مَنفَعَت معلـوم سي .

وجه : (۱) مځکه دکَښت لپاره ورکړي چي مَنفَعَت ئي معلوم سـي ددې دلیـل دا حـدیث دئ اَنّهُ سُئِلَ رَافِعُ بِنِ خُدَیجٍ عَن کَرَ آءِ الاَرضِ فَقَالَ نَهْي رَسُولُ اللهِ عَـن کَـرَ آءِ الاَرضِ قَالَ فَقُلتُ أبِالذّهَبِ وَالـوَرَقِ ؟ فَقَـالَ اَمّـا بِالـذّهَبِ وَالـوَرَقِ فَـلاَ بَـأسَ بِـهِ (الـف) (مسلم شریف.باب کرآء الارض بالذهب والورق ص۱۱نمبر۱۵۴۷) (۲) عَن اِبنِ

حاشیه : (الف) د رَافِع بن خدیج څخه د مځکي په کِرَایَه ورکولو په اَړَه پوښتنه وسوه نـو وفرمائـل چـي حضـور مځکه په کِرَایَه ورکولو څخـه منـع وکـړه. مـا پوښـتنه ځینـي وکـړه چـي د سُپِینُوزَرُو او سُرُوزَرُو پـه بَدلَـه کـي ؟ وفرمائل بهرحال دسُرُو او سُپِینُوزَرُو په بَدلَه کي هیڅ دحرج خبره نَه ده .

[۱۱۶۰](۵) وَ تَارَةً تَصِيرُ مَعلُومَـةً بِالعَمَـلِ وَ التّسـمِيَةِ كَمَـن اِسـتَاجَرَ رَجُلاً عَلٰي صَبغِ ثَوبٍ اَو خِيَاطَةِ ثَـوبٍ اَو اِسـتَاجَرَ دَابّـةً لِيَحمِـلَ عَلَيهَـا مِقدَارًا مَعلُومًا اِلٰي مَوضِعٍ مَعلُومٍ اَو يَركَبَهَا مَسَافَةً مَعلُومَةً .

عُمَرَ اَنّ رَسُولَ اللهِ عَامَلَ اَهلَ خَيبَرَ بِشَطرِ مَا يَخرُجُ مِنهَا مِن ثَمَرٍ اَو زَرعٍ (مسلم شريف.باب المساقات والمعاملة بجزء من الثمروالزرع ص۱۴نمبر۱۵۴۸\ بخاري شريف. باب اذا لم يشترط السنين في المزارعة ص۳۱۳نمبر۲۳۲۹) په دې حديث کې دئ چې د خَيبَر وخلګو ته مځکه په بُزګَرِي يعني کَښت کولو لپاره ورکړئ وه. ددې څخه معلوم سو چې أجَل او وخت معلوم وي نوددې څخه کِرَايَه اومَنفَعَت ښکاره کيږي .

[۱۱۶۰](۵) منافع کله معلوميږي د عَمَل په ذريعه او کله د مُتَعَيّن کولو په ذريعه لکه يو سړئ چې دکپړې رَنګَوَلُو لپاره په اُجرَت واخلي يا دکپړې د ګَندلُو لپاره. يائې يو حيوان په اُجرَت واخستئ چې پرهغه باندي يو مَعلُوم مِقدَار تر مَعلُوم ځائ پوري راوړي يا پرهغه سُپور سي تر معلوم ځايه پوري .

تشريح : دمنافع دمعلومېدو مختلف طريقي دي. مصنف دلته ځوطريقې بيان کړي دي.مثلاً يوه طريقه دا چې کار مُتَعَيّن کړي دمَنفَعَت تَعيِين وکړي.مثلاً د کپړې درَنګَوَلُو لپاره يو سړئ په اُجرَت واخلي چې دُونَه روپۍ درکوم او دهغه په بَدلَه کي به دُونَه کپړې رنګوې يا به دُونَه کپړې ګندې يعني جوړوې. يا يوحيوان په اُجرَت واخلي چې دُونَه روپۍ درکوم او پر هغه باندي دُوَه سوه کېلوغَنَم تر پنځَه ميل پوري وُړَم. يا تر پنځه ميل پوري سُپور سَفَر پر کوم نو ددې تَعيِين په ذريعه مَنفَعَت معلوم سو او دمَنفَعَت تَعيِين راغلئ .

وجه : د مَنفَعَت د تَعيين او د اُجرَت د تَعيين مثال په دې حديث کي دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ اَصَابَ نَبِيّ اللهِ خَصَاصَةٌ فَبَلَغَ ذَالِکَ عَلِيّاً فَخَرَجَ يَلتَمِسُ عَمَلاً يُصِيبُ فِيهِ شَيئًا لِيَقِيتَ بِهِ رَسُولَ اللهِ فَاَتَا بُستَانًا لِرَجُلٍ مِنَ اليَهُودِ فَاستَقٰي لَهُ سَبعَةَ عَشَرَ دَلوًا

[۱۱۶۱](۶) وَ تَارَةً تَصِيرُ مَعلُومَةً بِـالتّعيِينِ وَ الاِشَـارَةِ كَمَـن اِسـتَأجَرَ رَجُلاً لِيَنقُلَ هٰذَا الطّعَامَ اِلٰي مَوضِعٍ مَعلُومٍ .

كُلّ دَلوٍ بِتَمرَةٍ فَخَيّرَهُ اليَهُودِيّ مِن تَمرَةٍ سَبعَ عَشَرَةَ عَجوَةً فَجَآءَ بِهَا اِلٰي النّبِيِّ (الف) (ابن ماجه شريف.باب الرجل يستقي كل دَلوٍ بتمرة ويشترط جلدة ص۳۵۰نمبر ۲۴۴۶) په دې حديث کي عمل هم معلوم دئ او اُجرَت هم معلوم دئ چې د هري سَولاَغې په بدله کي يَوَه خُورمَا مُقَرّر سوه او اُوَلّس سَولاَغې ئې رَاوَکښې او اُوَلّس خُورمَاوې ځيني واخستې.

لُغَت : خِيَاطَةٌ : ګَندَل.يعني کپړې وغيره جوړول .

[۱۱۶۱](۶) او کله منافع معلومي وي دتَعيِين په ذريعه او د اِشَارَه کولو په ذريعه لکه دا چي يَوځوک په اُجرَت واخلي چي دا خُوَرَاکِي مَوَاد تر معلوم ځائ پوري مُنتَقِل کړي .

تشريح : کله منافع دارنګه معلومي وي چي د ګَار تَعيين وکي او وهغه ته اِشَارَه وکي. مثلاً يوځوک ئې په اُجرَت وَنِيوَئ چي دا ډُوډَئ تر فُلاَنِي ځَائ پوري پورته کول او وُړَل دئ او دُونَه مزدوري به درته ملاؤيږي. په دغه رنګه اِشَارَه او تَعيين سره منافع معلوميږي .

وجه : ددې ثبوت په دې اَثَر کي دئ اِکتَرْي الحَسَنُ مِن عَبدِاللهِ بِنِ مَردَاسٍ حِمَاراً فَقَالَ بِکَم ؟ قَالَ بِدَانِقَينِ فَرَ کِبَهُ (ب) (بخاري شريف.باب من اجرْي اَمرالاَمصَارِ علْي مايتعارفون بينهم في البيوع والاجارة ص۲۹۴نمبر۲۲۱۰) په دې اَثَر کې پر خَرَه باندي دسُپربډُو دوه دَانِق کِرَايَه ورکړې ده .

حاشيه : (الف) حضور ته فَاقَه کَشِي راغله.نودا خبره وحضرت عَلِي ته معلومه سوه نو د کار کولو لپاره رَاوَوَاتَئ چي څَه وَګټِي او حضور په بَچَاؤ کړي.نوحضرت عَلِي ديَهُودِي يوه باغ ته راغلئ او دهغه لپاره اُوَلّس سَولاَغي راوکښې. هره سَولاَغَه ديوې خُورمَا په بَدلَه کي. نو يَهُودِي اُوَلّس عَجوَه خُورمَاوِي ورکړې بيائې هغه حضور ته راوړې (ب) حضرت حَسَن دعبدالله بن مَردَاس څخه خَر په کِرَايَه باندي وَاخستَئ نو پوښتنه وکړه چي په څونه ؟ نو مَردَاس ورته وويل د دُوُ دَانِق په بَدلَه کي.نو پر هغه باندي سُپُور سو .

[۱۱۶۲](۷) وَ يَجُوزُ اِستِيجَارُ الدّوَرِ وَ الحَوَانِيتِ لِلسّکنْي وَ اِن لَم يُبَيّن مَا يَعمَلُ فِيهَا وَ لَهُ اَن يَعمَلَ کُلّ شَيٍ اِلاّ الحَدّادَ وَ القَصّارَ وَ الطّحّانَ .

[۱۱۶۲](۷) او جائز دئ مکانونه په کِرَايَه اَخستَل او دُوکَانُونَه په کرايه اخستل د وُسېدَلُو لپاره که څَه هم دا نَه کړي بيان چي په دي کي به کوم کارکوي. او د اَجِيرلپاره جائز دئ چي هرکار په کي وکړي ماسوائ د وُسپِيِنِي دکار.د دُوبِي دکار او د مَيدَه کېدو دکار څخه .

تشريح : مکانونه او دُوکَانُونَه په کِرَايَه اَخستَل جائز دي او په هغه کي هر ډَوَل کار کولائي سي لېکن د وُسپِيِنِي دټکولو کار.دکپړو دمينځلوکار او د وَړُو دميدَه کېدو کار نَه سي کولائي .

وجه : که چيري د اَوّل څخه معلوم سوئ نَه وي چي کوم کار به په کښي کوي نو هرهغه کارپکښي کولائي سي چي دهغه څخه دمکان وديوال ته نُقصَان نَه رسيږي. يا د مکان وفَرش ته نُقصَان نَه رسيږي. لېکن په کوموکاروکي چي دمکان وديوالو يا فَرش ته نُقصَان رسيږي هغه کارونه نَه سي پکښي کولائي. مثلاً دوُسپِيني کار يعني د وُستَاکَارَئ کار دئ هغه دېوالونه کمزوري کوي. دکپړې مينځلو دکار څخه فَرش خرابيږي.او د وَړُو دميده کېدو دکار څخه فَرش ګَندَه کيږي او دېوال هم ځينې کمزورئ کيږي. نوځکه دا کارونه دصَاحِبِ مکان داِجَازې بغيره نَه سي کولائي .

اُصُول : بېله اِجَازې داسي کار نَه سي کولائي چي دهغه څخه ودېوال يا فَرش ته نُقصَان رسيږي. دليل ئې د ,,لاَ ضَرَرَ وَ لاَ ضَرَارَ,, حديث دئ .

لُغَت : اَلحَدّادُ : د وُسپِنِي کار.اَلقَصّارُ : دکپړې دمينځلوپيشه.اَلطّحّانُ : وُړَه ميده کول .

[۱۱۶۳](۸) وَ يَجُوزُ اِستِيجَارُ الاَرَاضِي لِلزِّرَاعَةِ وَ لِلمُستَأجِرِ اَلشّربُ وَ الطّرِيقُ وَ اِن لَم يَشتَرِط .

[۱۱۶۳](۸) او جائز دئ مځکي په اُجرَت اَخستَل د کَښت لپاره.او دمُستَأجِرلپاره به د اُوبُووَارَئ او لاَرَه وي.که څَه هم ددې شرط نَه وي لګولئ .

تشريح : مځکه دکَښت لپاره په اُجرَت اخستل جائز ده.او د اُوبُو چي کوم وَارَئ وي يا تر کَښت پوري د رَاتَګ چي کومه لاَرَه وي هغه به هم په خپله بېله يَادَوَنِي شامل وي که څَه هم چي کَښت په کِرَايَه او اُجرَت اَخلِي ددې شيانو ذکر ئې نَه وي کړئ .

وجه : (۱) دکَښت په اُجرَت او کرايه نيولو په باب هغه حديث دئ چي دهغه څخه دا معلوميږي چي کَښت په کِرَايَه نِيوَل جواز نَه لري لېکن په خپله رَاوِي بيان وکئ چي دا د اِستِحبَاب په توګه وُ چي کَښت ګَر وخپلو وُرُونُو ته مُفت موقع ورکړي چي هغه کَښت په کي وکي. لېکن که چيري په کِرَايَه ورکول وَغُوَارِي نو ورکولائي سي جائز دئ (۲) په حديث کي دئ اَخبَرَنِي يَعنِي اِبنُ عَبّاسٍ اَنّ النّبِيّﷺ لَم يَنهَ عَنهُ وَ لٰكِن قَالَ اَن يَمنَعَ اَحَدُکُم اَخَاهُ خَيرٌ لَهُ مِن اَن يَأخُذَ عَلَيهِ خَرجاً مَعلُومًا (الف) (بخاري شريف.باب ص۳۱۳نمبر۲۳۳۰\مسلم شريف.باب الارض تمسخ ج۲ص۱۴ نمبر۱۵۵۰) ددې حديث څخه معلوم سو چي کَښت مُفت ورکړي خو ډېره ښَه خبره ده لېکن که په کِرَايَه ورکړي نو هم جائز دئ (۳) په حديث کي دئ عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ عَامَلَ النّبِيّﷺ خَيبَرَ بِشَطرِ مَا يَخرُجُ مِنهَا مِن ثَمَرٍ اَو زَرعٍ (ب) (بخاري شريف. باب اذا لم يشترط السنين في المزارعة ص۳۱۳نمبر۲۳۲۹\مسلم شريف.باب المساقات والمعاملة بجزء من الثمروالزرع ص۱۴نمبر۱۵۵۱)په دې حديث کي دئ چي حضورﷺ دخَيبَر وخلګو

[۱۱۶۴](۹) وَ لاَ يَصِحّ العَقدُ حَتّي يُسَمِّيَ مَا يَزرَعُ فِيهَا اَو يَقُولَ عَلْي اَن يَزرَعُ فِيهَا مَاشَآ ءَ [۱۱۶۵](۱۰) وَ يَجُوزُ اَن يَستأجِرَ السّاحَةَ لِيَبنْي فِيهَا اَو يَغرِسَ فِيهَا نَخلاً اَو شَجَراً .

ته مځکه دکَښت کرلولپاره ورکړه او چي څَه غَلّه راووزي دهغه څخه څَه و اَجِير ته ورکړي.ددې څخه دامعلوم سوچي کَښت په اُجرَت ورکول جائزدئ...چي کښت کوي نوکَښت ته دتللو لپاره د لاَرِي ضرورت وي.دغه رنګه وکَښت ته د اُوبُو ورکولوهم ضرورت وي.دابُنيَادي شِيَان دي نوبېله شرط لګولوبه داشِيَان په اِجَارَه کي داخل وي .

حاشيه : (الف) اِبنِ عَبّاس وفرمائل چي حضورﷺ دمځکي په کِرَايَه ورکولو څخه منع نَه ده کړې.لېکن وفرمائل چي ستاسو څخه څوک وخپل وُرُور ته مځکه په هَديَه ورکړي نو دا ډېر ښَه کار دئ تر دې چي دده څخه معلومه کِرَايَه واخلي (ب) حضورﷺ د خَيبَروخلګو ته د کار کول لپاره ورکړه په نِيمَئ حِصّه هغه چي دمځکي څخه راوزي مېوَه او کېتَئ .

اُصُول : د کَښت بُنيَادِي شِيَان په اُجرَت کي داخل وي .

لُغَت : اَلشّربُ : اُوبَه ورکول. د اُوبُو ورکولو وَارَئ او نَوبَت .

[۱۱۶۴](۹) او عَقد نَه صحيح کيږي ترهغوچي مُتَعَيّن کړي چي کوم شَئ به په دي کي کَرِي يا دا ورته ووائي چي څَه غُوَاړِې هغه پکښي وَکَرَه .

تشريح : چي مځکه په کِرَايَه يعني اِجَارَه نيسي هغه وخت هم دا معلومول ضروري دئ چي کوم شَئ به په مځکه کَرِي چي وروسته بيا جَګړَه رَا نَه سي.يا دګَښت مَالِک يعني دمځکي مالک ورته ووائي چي څَه دي خُوَښَه سي هغه شَئ په وَکَرَه نو بيا هر شئ په کَرَلاَئي سي .

وجه : دبعضو غَلّه جَاثُ په کَرَلُوسره مځکه خرابيږي اودبعضوغَلّه جَاثُ په کَرَلُو سره مځکه سميږي.نوځکه چي په اُجرَت ئې ورکوي هغه وخت بايددا معلوم کړي چي کومه نَوعَه غَلّه به په دې مځکه کي کَرِي.يا که دګَښت يعني مځکي مالک دا ووائي چي هررنګه غَلّه دي خُوَ◌َښَه وي هغه پکښي وَګرَه. بيا عَقدِاِجَارَه صحيح ده .

[۱۱۶۵](۱۰) خَالِي مځکه په کِرَايَه نِيوَل جائز ده چي په هغه کي عِمَارَت جوړ کړي يا په هغه کي دخُورمَا درخته يا بَلَه درخته وَکَرِي .

وجه : (۱) چي دګَښت کولو لپاره د دُرُو څلورو مياشتو لپاره مځکه په کِرَايَه نيولائي سي نو دډيرو کلو لپاره هم په کِرَايَه نيولائي سي چي په هغه کي يو عِمَارَت جوړ کړي يا دځو کالو لپاره مېوې او درختي رَاشنې کړي (۲) دځوکالو لپاره مځکه په کِرَايَه اخستلو ثبوت په حديث او اَثَر کي سته وَقَالَ اِبنُ عَبّاسٍ اِنّ اَمثَلَ مَا اَنتُم صَائِعُونَ اَن تَستَأجِرُوا اَلاَرضَ البَيضَآءَ مِنَ السّنَةِ اِلْي السّنَةِ (الف) (بخاري شريف.باب کرآء الارض بالذهب والفضة ص۳۱۵نمبر۲۳۴۶) ددې اَثَر څخه معلوم سوچي د ډېر شمېر کَلُو لپاره هم مځکه په کِرَايَه يعني اِجَارَه نيولائي سي (۳) و يَهُودُ ته د څوکالو لپاره د خَيبَر مځکه ورکړل سوې وه.وروسته دحضرت عُمرَ په زمانه کې دُوئي بېدخل کړل عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّ عُمَرَبِنِ الخَطّابِ اَجلْي اليَهُودَ وَالنّصَارْي مِنَ الاَرضِ الحِجَازِ ... وَ اَرَادَ اِخرَاجَ اليَهُودِ مِنهَا فَسَأَلَتِ اليَهُودُ رَسُولَ اللهِﷺ لِيُقِرّهُم بِهَا اَن يَکُفّوا عَمَلَهَا وَلَهُم نِصفُ الثّمَرِ فَقَالَ لَهُم رَسُولُ اللهِﷺ نُقِرّکُم بِهَاعَلْي ذَالِکَ مَا شِئنَا فَقَرّوا بِهَا حَتْي اَجلاَهُم عُمَرُ اِلْي تِيمَآ ءَ وَ اِرِيحَاءَ (ب) (بخاري شريف.باب اذا قال رَبّ الارضِ اُقِرکَ مَا اَقَرّک اللهُ ولم يذکراَجَلاً معلومًا فهما علْي تراضيهما ص۳۱۴ نمبر۲۳۳۸\مسلم شريف.باب المساقات والمعاملة بجزء من الثمر والزرع ص۱۴ نمبر ۱۵۵۱\ ۳۹۶۷) ددې حديث څخه معلوم سو چي د خَيبَر ويهود ته کښتَئ او د خُورمَاؤ باغونه تر څُو کالو پوري د نِيمَئ کښتَئ په بَدلَه کي په کِرَايَه او اِجَارَه ورکړي وُ.ددې څخه دا معلوم سو چي خَالِي مځکه هم د يَو عِمَارَت جوړولو لپاره او د درختو لګولو لپاره تر څو کالو پوري په کِرَايَه ورکولائي سي .

لُغَت : اَلسّاحَةُ : خالي مځکه. يَغرِسُ : درخته لګول .

حاشیه : (الف) ابن عَبّاس فرمائي چي ددېِ مِثل کوم چي تاسو ئې کوئ دا چي خَـالِي مځکـه پـه اُجرَت واخلـي د یَوَه کالَ څخه تر بَل کالَ پوري (ب) عُمَربِنِ خَطّاب یَهُود او نَصَـارٰي د اَرضِ حِجَـاز څخـه جَـلاَ وَطَـن کـړل ... حضور د خَیبَرڅخه دیَهُودُ د اِیستَلُو اراده وکړه نو یهود دحضور څخه دَرخُوَاست وکړئ چي دُوئي دي په خَیبَرکـي پریږدي. چي د دُوئي لپاره کَښت گَرِي وکړي. او نِیمَئ مېوه به د مدینې دخلکووي نـو حضـور و دُوئـي تـه وویـل چي موږ تاسو پرېږدو پر دَغَه باندي څونه چي زموږ خُوَښَه وي. نودغه خلگ په هغه ځائ کي وُسېدَل. ترديِ چي حضرت عُمَردُوئي و مقامِ تَیمآء او اَرِیحآء ته جلاوطن کړل .

[۱۱۶۶](۱۱) فَاِذَا اِنقَضَت مُدّةُ الاِجَارَةِ لَزِمَهُ اَن یَقلَعَ البِنَآ ءَ وَ الغَرَسَ وَ یُسَلِّمَهَا فَارِغَةً .

[۱۱۶۶](۱۱) بیاچي د اِجَارېِ وخت ختم سي نو پرده لازم دئ چي عِمَارَت او دُرَختَـه وَکَارِي او دمځکي ومالک ته خَالِي مځکه حَوَالَه کړي.

تشریح : مثلاً دشَلُو کالو لپاره خَالِي مځکه په اُجرَت او کِرَایَه نِیوَلِې وه او په هغـه کـې عِمَارَت جوړکړئ وُ یائې درختي پکښي لګولي وې نو چي شَل کاله پوره سي عِمَارَت دي وَنړَوِي او درختي دي وَکَارِي او چي د کِرَایې په وخت کې څَه رنګه خَالِي مځکـه اخستې وه هغه رنګه دې بالکل خَالِي کړي او دمځکي ومالک ته دې حَوَالَه کړي .

وجه : (۱) که چیري دا شرط ولګوي چي پر مځکه به دا عِمَـارَت یـا درختـي لګېـدلي پاته وي نـو پـه دي کـي د اَجِیر نُقصَـان دئ چـي ببلـه څَـه قیمـت دئ خپـل جـوړکړئ عِمَارَت او په خپل لاَس لګولي درختي پرېږدي. نو لِهٰذَا دا هم صحیح نَه دئ. او داسـي هم کېدلائي سي چي ددېِ درختو او عِمَارَت څَـه خـاص ضـرورت نَـه وي نـو ددې پـه نړَوَلُو او کښلو کي به دګَښت دمالـک خَرچَـه کیږي چـي دهغـه څخـه د ګَښـت دمالـک نُقصَان وي. لِهٰذَا قانون به دا وي لکه څَه رنګه چې دکرایې پر وخت مځکه اخستې وه هغه رنګه به مځکه خَالِي کوي بیابه حواله کوي (۲) په حدیث کي ددېِ ثبوت سته عَن اَبِي هُرَیرَةَ اَنَ رَسُولَ اللهِﷺ قَالَ اَلمُسلِمُونَ عَلْي شُرُوطِهِم وَالصّلحُ جَائِزٌ بَینَ المُسلِمِینَ (الف) (دارقطني.کتاب البیـوع ج۳ص۲۳نمبـر۲۸۶۷) ددې حـدیث څخـه معلـوم سـو چي په کوم شرط چې مځکه په کرایه ورکړې وه په هغه شرط دي بېرته مځکه وَاپَس کړي (۳) به یو بل حدیث کي دئ چي څوک د زړَه په

حاشیه : (الف) حضور وفرمائل مسلمان د خپل شرط مطـابق وي یعنـي د شـرط مطـابق وسیږي او صُلح د مسلمانانو تر مینځ جائز ده .

[۱۱۶۷](۱۲) اِلاّ اَن یَختَارَ صَاحِبُ الاَرضِ اَن یَغرِمَ لَـهُ قِیمَـةُ ذَالِـکَ مَقلُوعًا وَ یَملِکُهُ .

کومي سره خوشحاله نَه وي دهغه مـال اخسـتل جـواز نَـه لـري عَن اَنَسٍ بِنِ مَالِـکٍ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺ قَالَ لاَ یَحِلّ مَالُ اِمـرَأٍ مُسلِمٍ اِلاّ بِطِیـبِ نَفسِـهِ (الـف) (دارقطني.کتـاب البیـوع ج۳ص۲۲نمبر۲۸۶۲) ددې حدیث څخـه معلـوم سـوچي ببلـه رضـامندئ دچـا مـال اخسـتل

جواز نَه لري. نوځکه د اَجِیر د رضامندئ بغیره وده ته دا ویل چي درختي یا دا مکان پر مځکه پرېږده دا هم جواز نَه لري .

[١١٦٧](١٢) مګر که چیري دمځکي والا خُوښَه سي چي ددغه کښلو قیمت ورکړي او د مکان یا درختو مالک سي .

تشریح : دمځکي والا په دې خبره راضي سي چي د نَړېِ دَلِي مکان او دکښلي درختي چي کوم قیمت دئ هغه و اَجِیر ته ورکړي او د مکان او درختي مالک سي نو داسي کولائي سي .

وجه : چاچي مځکه په کرایه نیولې وه پر هغه لازم وُ چي مکان وَنَړَوِي او مځکه خَالِي کړي دغه رنګه درختي وَګَارِي اومځکه خَالِي کړي. نوګواکه مکان نَړېدلئ او درختي ګَاټ سوي دي. نوځکه دنَړېدلِي مکان او دپرې سوي درختوچي کوم قیمت وي هغه قیمت به دمځکي والا ورکوي او دصحیح مکان او سَالِم درختي مالک به جوړیږي. دا یوه جلا بَیعَ و شِرآ ء ده چي په هغه کي د ګښت دمالک او په کِرَایَه نِیوُنکِي دواړو رضامندي ضروري ده. د دارنګه صُلحِ په حدیث کي ګُنجَائِش سته عَن اَبِي هُرَیرَةَ اَنَ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ اَلمُسلِمُونَ عَلْي شُرُوطِهِم وَالصّلحُ جَائِزٌ بَینَ المُسلِمِینَ (ب) (دارقطني.کتاب البیوع ج٣ص٢٣نمبر ٢٨٦٧) په دې حدیث کي

حاشیه : (الف) حضور وفرمائل دیوه مسلمان سړي مال حلال نَه دئ مګر دا چي دئ په زړه سره خوشحال وي
(ب) حضور وفرمائل مسلمان دخپل شرط مطابق وي یعني دشرط مطابق وسیږي او صُلح دمسلمانانو تر مینځ جائز ده .

[١١٦٨](١٣) اَو یَرضْي بِتَرکِهِ عَلْي حَالِهِ فَیَکُونُ البِنَآ ءُ لِهْذَا وَ الاَرضُ لِهْذَا .

دئ چي دمُسلمانانو تر مینځ صُلح جائز ده لِهْذَا که د نَړېدَلِي مکان او ګَاټ سوي درختو پر قیمت باندي صُلح وسي نو جائز ده .

پام لرنه : دا په هغه مخکنئ کِرَایَه کي بله بیع نَه ده چي په یوه بیع کي بله بیع لازم سي او ناجائز وګرزي.ځکه چي دکِرَایې خبره خو څو کاله مخکي سوې وه او دنَړېِ دَلِي مکان بَیعَ اُوس کیږي نو ځکه دا بَیع سره د شرط نَه سوه چي ناجائز سي .

لُغَت :یَغرَمَ:تَاوَان دي ورکړي.مَقلُوعًا:دقَلعٌ څخه مشتق دئ معنْي کښل اخېژَوَل .

[١١٦٨](١٣) یا په دې راضي سي چي پرخپل حالت ئې پرېږدي. نو عِمَارَت به دکِرَایَه دَار لپاره سي او مځکه به د مځکي والا لپاره سي .

تشریح : د کِرایې اَخستَلُو مِیعَاد ختم سو.نوځکه کَرَایَه دَار لره په کار دئ چي مکان وَنَړَوِي او درخته باید وکاږي لېکن که دواړه پر دې باندي راضي سي چي دڅَه نور مُدّت لپاره دا مکان او درختي پر دغه مځکه باندي بَاقِي پاته سي نو دُوئي دارنګه کولائي سي. په دې صورت کي به مځکه دمځکي والا وي او درختي یا مکان به د درختي یا دمکان والا وي .

وجه : د مځکي والا خپل شئ دئ که هغه په خوشحالي سره داسي کول وَغُوَارِي نو کولائي سي. بلکه دحديث په رُونَاکي دا يو قِسم تَعَاوُن دئ او دمسلمان ورور د مرستي کولو ثواب به ورته ملاؤسي عَن اِبنِ عَبّاسٍ اَنّ رَسُولَ اللهِ قَالَ لاَن يَمنَعَ الرّجُلُ اَخَاهُ اَرضَهُ خَيرٌ لَهُ مِن اَن يَأخُذَ عَلَيهَا خَرجًا مَعلُومًا (الف) (مسلم شريف. باب الارض تمسخ ص۱۴نمبر۱۵۵۰\بخاري شريف.باب ماکان من اصحاب النبي يواسي بعضهم في الزراعة والثمرص۳۱۵نمبر۲۳۴۲) په دې حديث کي دئ چي ببله کرايې

حاشيه : (الف) حضوروفرمائل يوڅوک وخپل ورور ته مځکه ورکړي دا ښَه خبره ده دده لپاره تر دې چي پر هغه باندي يو معلوم اُجرَت واخلي .

[۱۱۶۹](۱۴) وَ يَجُوزُ اِستِيجَارُ الدّوَابِ لِلرّکُوبِ وَ الحَملِ فَاِن اَطلَقَ الرّکُوبَ جَازَ لَهُ اَن يَرکَبَهَا مَن شَآ ءَ وَ کَذَالِکَ اِن اِستَأجَرَ ثَوبًا لِلّبسِ وَ اَطلَقَ .

ومسلمان وُرُو ته مځکه ورکړي خو ډېره ښَه خبره ده. نوځکه خپله مځکه ببله کرايې و يو کور والا ته ورکولائي سي. ثواب ورته ملاؤيږي .

[۱۱۶۹](۱۴) جائز دئ حيوانان په کرايه اخستل د سُپَارلَئ لپاره اود سامان راوړلو لپاره. که چيري مُطلقاًد سُپَرتِيَاذِکر وکړئ نو جائز دئ که هرڅوک پر سپريږي. او دغه رنګه دئ چي کپړه د اَغُوَستَلُو لپاره په اُجرَت واخلي او مُطلقاً ئې ذکر کړي .

تشريح : حيوانان دسُپَارلَئ اوپيټِي يعني دسامان وُړَلُولپاره په اُجرَت اخستل جائز دي.که سَوَارمعلوم نَه کړئ نوهرڅوک پرسُپرېدائي سي.دغه رنګه دسامان راوړلو لپاره حيوان په اُجرَت واخستئ او دائې معلوم نَه کړئ چي کوم شئ به پر راوړي نو هر شئ پر حيوان باندي راوړائي سي. البته داسي شئ نَه سي پر راوړلائي چي دهغه څخه دحيوان دهلاکت ياوهغه ته دنُقصَان رسېدلوظَنّ غَالِب وي .

وجه : حيوان دسُپَارلَئ لپاره په کرايه واخلي ددې دثبوت په دې اَثَر کي دئ اِکتَرْي الحَسَنُ مِن عَبدِاللهِ بِنِ مَردَاسٍ حِمَاراً فَقَالَ بِکَم ؟ قَالَ بِدَانِقَينِ فَرَ کِبَهُ ثُمّ جَآ ءَ مَرّةً اُخرْي فَقَالَ اَلحِمَارُ اَلحِمَارُفَرَکِبَهُ وَ لَم يُشَارِطهُ فَبَعَثَ اِلَيهِ بِنِصفِ دِرهَمٍ (الف)(بخاري شريف.باب من اجرْي اَمرالاَمصَارِعلْي مايتعارفون بينهم في البيوع والاجارة ص۲۹۴نمبر۲۲۱۰)په دې اثر کې خَردسُپَارلَئ لپاره په دُوَه دَانِق اخستئ دئ.اوهسي هرڅوک په دې وجه پر سپرېدائي سي چي يومخصوص سړئ ئې نَه دئ مُتَعَيّن کړئ دغه رنګه چي کپړه د اَغُوَستَلُو

حاشيه : (الف) حضرت حَسَن دعبدالله بن مَردَاس څخه خَر په کِرَايَه باندي وَاخَستَئ نو پوښتنه وکړه چي په څونه ؟ نو مَردَاس ورته وويل د دُوُ دَانِق په بَدلَه کي.نو پر هغه باندي سُپُور سو بيا دُوَم وار راغلئ او وويل چي خَر مِي په کار دئ.نو پر هغه باندي سُپُور سو او د کِرَايې شرط ئې نَه ولګاوئ. بيائې وده ته نِيمَئ دِرهَم راواستاوئ .

[۱۱۷۰](۱۵) فَاِن قَالَ لَهُ عَلْي اَن يَركَبَهَا فُلاَنٌ اَو يَلبِسَ الثّوبَ فُلاَنٌ فَاَركَبَهَا غَيرَهُ اَو اَلبَسَهُ غَيرَهُ كَانَ ضَامِنًا اِن عَطَبَتِ الدّابّةُ اَو تَلَفَ الثّوبُ .

لپاره په اُجرَت واخلي نو اخستلائي سي.او چي د اَغُوَستُونکِي تعيين وَنَه کړي نو هسي هر يو څوک ئې اَغُوَستلائي سي .

اُصُول : چي د مُستَعمِل په اختلاف سره په هغه شي کي فرق نَه راځي او ديو خاص سړي شرط ئې هم نَه وي لګولئ نو هر څوک ئې اِستِعمَالولائي سي .

لُغَت : اَطلَقَ : مُطلقاً ئې پرې ايښئ وي. څوک ئې معلوم کړئ نَه وي .

[۱۱۷۰](۱۵) که چيري دحيوان ومالک ته وويل چي پر دې به فُلاَنَئ سپريږي يا به فُلاَنَئ دا کپړه اَغُوَندِي. بيائې دهغه څخه علاوه بَل څوک پر سُپُور کړئ يائې په بَل چا وَاغُوستَل نو ضَامِن به وي که حيوان هَلاک سو يا کپړه بَربَاد سوه .

تشريح : حيوان ئې په کِرَايَه ونيوئ او دکرايې اخستلو پر وخت ئې دسُپَارلَئ لپاره يوخاص څوک متعين کړئ. وروسته دهغه څخه خلاف کار وکئ او يو بَل څوک ئې پر سُپُور کئ. نوکه چيري حيوان هلاک سو يا کپړه بَربَاد سوه نو اَجِير به دحيوان او کپړې ضَامِن وي .

وجه : دا قاعده ده چي جلاجلاخلګ ئې اِستِعمَالَوِي نوپه استعمال کي فرق راځي لکه څَه رنګه چي په سَوَار سَوَار کي فرق وي.څوک دُرُوند وي څوک سُپَک وي.خَر دُرُوند سَوَارِي په مُشکِل سره وُړِي او سُپَک سَوَارِي په آساني سره تر منزِلِ مقصود پوري وُړَائي سي.دغه رنګه يو مَاهِر سړئ حيوان په آرام سره بيائي او بې ډَنګه بې تجربې سړي څخه حيوان تنګيږي. دغه حال دکپړې اَغُوستُونکِي دئ.نوځکه چي يَو خاص څوک دسُپَارلَئ لپاره متعين سو او وروسته دهغه خلاف وکړل نو ده خو د شرط خلاف کار وکئ نو ځکه دغه شئ اُوس دده په لاَس کي د اَمَانَت نَه سو بلکه د

[۱۱۷۱](۱۶) وَ كَذَالِكَ كُلّ مَا يَختَلِفُ بِاِختِلاَفِ المُستَعمِلِ

[۱۱۷۲](۱۷) فَاَمّا اَلعِقَارُ وَ مَا لاَيَختَلِفُ بِاِختِلاَفِ المُستَعمِلِ فَلاَ يُعتَبَرُ تَقيِيدُهُ فَاِن شَرَطَ سُكنْي وَاحِدٍ بِعَينِهِ فَلَهُ اَن يَسكُنَ غَيرَهُ .

دضَمَانَت سو. لِهٰذَا دهلاکت په صورت کي به دحيوان تَاوَان ورکوي.يا چي هرڅونه نُقصَان سوئ دئ هغه به ورکوي .

اُصُول:چي دشرط څخه خلاف وکي او شئ هلاک سي نوتَاوَان به ورکوي .

لُغَت : عَطَبَ : هلاک سو.ستړئ سو. تَلَفَ : برباد سو.ضَائِع سو .

[۱۱۷۱](۱۶) دغه حال دئ دهر هغه شي چي د اِستِعمَالونکِي په اختِلاَف سره مُختَلِف ګرزي .

تشريح : هرهغه شئ چي اِستِعمَالونکئ جلاجلا سي نو په شِي کي فرق راځي دهغه ټولو شِيَانُو معامله دغه ده چي که يو څوک مُتَعَيّن کړئ او بيائې وبل يوه ته د استعمالولو موقع ورکړه او دهغه څخه شئ هلاک سي نو تَاوَان به ورکوي.اُصُول او دلائل مخته تېرسوئ دي .

[۱۱۷۲](۱۷) پاته سوه مځکه او هر هغه شئ چي د مُستَعمِل په بدلېدو سره نَه مختلف کيږي.نو که د يوه خاص چا د وُسېدُو شرط ولګاوئ.بيا هم وده ته دا جواز سته چي بَل څوک په کښي وَوُسَوِي .

تشريح : مځکه ده يا مکان دئ چي د اِستعمال کونکي په بدلېدو سره کوم خاص فرق نَه په کښي راځي يا کوم خاص نُقصَان نَه کيږي.لکه په مځکه کي چي هر څوک ګَښت وَګَرِي نو په مځکه کي څَه فرق نَه راځي.نوځکه که چيري مځکه په کِرَايَه ونيول او يو خاص څوک ئې د ګَښت لپاره مُتَعَيّن کړئ وروسته بيا بَل څوک په هغه کي ګَښت وَګَرِي او مځکه ته نُقصَان ورسيږي نو پر کِرَايَه دَار باندي ضمان نَه راځي ... ځکه چي مځکه د استعمالونکي په بدلېدو سره څَه فرق نَه کوي .

[۱۱۷۳](۱۸) وَ اِن سَمّي نَوعًا وَ قَدراً يَحمِلُهُ عَلْي الدّابّةِ مِثلُ اَن يَقُولَ خَمسَةَ اَقفِزَةِ حِنطَةٍ فَلَهُ اَن يَحمِلَ مَا هُوَ مِثلُ الحِنطَةِ فِي الضّرَرِ اَو اَقَلّ كَالشّعِيرِ وَ السّمسَمِ وَ لَيسَ لَهُ اَن اَن يَحمِلَ مَا هُوَ اَضَرّ مِنَ الحِنطَةِ كَالمِلحِ وَالحَدِيدِ وَالرّصَاصِ .

اُصُول : (۱) چي د استعمالونکي په بدلېدو سره فرق نَه راځي نو بيا که چيري استعمالونکئ بدل سي او نُقصَان راسي نو تَاوَان ئې نَه لازميږي (۲) په داسي صورت کې هسي يو څوک استعمالولائي سي .

لُغَت : اَلعِقَارُ : مځکه .

[۱۱۷۳](۱۸) که مُتَعَيّن کړئ يوه نَوع يا مِقدَار چي پر حَيوَان به رَاوړِي مثلاً دا ووائي چي پِنځَه قَفِيز غَنَم نو دده لپاره جائز دئ چي پر رَاوړِي هغه شئ چي دغَنَمُو په شان وي په ضَرَر کي يا دهغه څخه ګَم وي.لکه وُربُشِي يا کُنجَتِي.او دده لپاره جواز نَه لري چي پر رَاوړِي هغه شئ چي دغَنَمُو څخه زِيَات نُقصَان دِه وي.لکه مالګه.وَسپينَه او سَرَپ .

تشريح : حيوان ئې په کِرَايَه ونيوئ او شرط دا وُ چي يو خاص شئ به پر رَاوړِي نو قاعده داده چي دغه رنګه شئ يا چي ددې څخه په ضَرَر کي ګَم وي هغه شئ پر رَاوړَلاَئي سي. ددې څخه په ضَرَر کي زِيَات شئ نَه سي پر رَاوړَلاَئي.که چيري پر

رَاوْړِي نو دا به خِلاَفِ شَرط کار وي او دهلاکت په صورت کي به تَـاوَان اداٰء کـوي. مثلاً شـرط دا وُ چـي پِنځَـه قَفِيـز غَنَم پـر رَاوْړَم نـو پِنځَـه قَفِيـز وُربُشِـي او کُجَتِـي پـر رَاوْړَلاَئي سي.ځکه چي دا په نُقصَان رسولو کي د غَنَمُو سره برابـر دي. لـېکن پِنځَـه قَفِيز مَالگَه.وَسپِينَه او سَرَپ نَه سي پر رَاوْړَلاَئي.ځکه چي مَالگَه او وَسپِينَه وحيوان ته ډېر نُقصَان رسوي .

[۱۱۷۴](۱۹) فَـاِن اِسـتَأجَرَهَا لِيَحمِـلَ عَلَيهَـا قُطنًـا سَـمّاهُ فَلَـيسَ لَـهُ اَن يَحمِلَ مِثلَ وَزنِهِ حَدِيدًا .

اُصُول : چي کوم رنګه شئ مُقَرّر سوئ وي هغه رنګـه يـا دهغـه څخـه کَم نُقصَـان رسونکئ شئ پر رَاوْړَلاَئي سي. دهغه څخه زِيَـات ضَـرَر رسـونکئ شـئ نَـه سـي پـر رَاوْړَلاَئي.دليل ئې دا اَثَر دئ عَبدُالرّزّاق قَالَ قَالَ مَعمَـرُ اِذَا دَفَعَهَـا اِلْـي رَجُـلٍ فَحَمَـلَ عَلَيهَـا مِثلَ شَرطِهِ قَالَ لاَ شَئَ عَلَيهِ وَ لاَ ضَمَانَ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب الکري يتعدّي بِهِ ج۸ص۲۱۲نمبر۱۴۹۳۰)

لُغَت : اَقفِزَةٌ : د ,,قَفِيزٌ,, جمع ده يـو خَـاص وَزَن دئ. اَلسِّمسِمُ : کُنجَتِـي. اَلرّصَـاصُ : سَرَپ .

[۱۱۷۴](۱۹) که چيري حيوان په اُجرَت ونيوي چي پر هغه بانـدي يـو مُعلُـوم مِقدَار پَمبَه رَاوْړِي نو دده لپاره جواز نَه لري چي پـر هغـه بانـدي ددې مقدار برابـر وَسـپِينَه رَاوْړِي .

تشريح : حيوان ئې په کِرَايَه ونيوئ چـي پـر هغـه بانـدي مـثلاً سَـل کېلـو پَمبَـه رَاوْړِي نوپر دې باندی سَل کېلو وَسپِينَه نَه سي رَاوْړَلاَئي .

وجـه : (۱) پَمبَـه نَـرم وي دهغـه څخـه دحيـوان شَـا نَـه زَخمِـي کيـږي او ډېـر سُـپَک محسوسـيږي نوځکـه د پَمبَـه پـه بَدلَـه کـي دهغـه د وَزَن برابـر وَسـپِينَه نَـه سـي پـر رَاوْړَلاَئي.که چيري پر رَاوْړَئ او حيوان هـلاک سـو نـو ضَـمَان ئـې لازم دئ (۲) پـه اَثَر کي ددې ثبوت سته عَن شُرَيحِ اَنّهُ قَالَ لَيسَ عَلْي مُستَکرِيٍ ضَمَانٌ فَاِن تَعَدّيْ فَجَـاوَزَ عَلَيهَا الوَقتُ فَعَطَبَت قَالَ شُرَيحٌ يَجتَمِعُ عَلَيهِ الکَرَ آ ءُ وَ الضّمَانُ (ب)

حاشيه : (الف) حضرت مَعمَروفرمائل چي و يَوچَا ته دکَرَايې حيوان ورکړي او دهغه دشرط مِثل دئ پـر سُپُور سي نو وفرمائل چي پر هغه نَه څَه اِلزَام سته نَه ضمان (ب) حضرت شُرَيح وفرمائـل پـر کِرَايَـه دَار بانـدي هـيڅ ضَمَان نسته.که چيري تَعَدِّي وکړي او دشرط څخه تَجَاوُز وکړي او حيوان هلاک سي نو حضرت شُرَيح وفرمائـل پر ده باندي به جمع سي کِرَايَه هم او ضَمَان هم .

[۱۱۷۵](۲۰) وَ اِن اِستَأجَرَهَا لِيَرکَبَهَا فَاَردَفَ مَعَهُ رَجُلاً آخَرَ فَعَطَبَت ضَمِنَ قِيمَتَهَا اِن کَانَتِ الدّابّةُ يُطِيقُهُمَا وَلاَ يُعتَبَرُبِالثّقلِ.

(سنن للبيهقي.باب لاضمان علي المكتري فيما اِكترِيْ اِلاّ ان يتعديْ ج۶ص ۲۰۳نمبر ۱۱۶۷۱\مصنف عبدالرزاق.باب الكريْ يتعديْ به ج۸ص۲۱۱نمبر ۱۴۹۲۵) دحضرت شُرَيح په دي فيصله كي دئ چي دشرط څخه تَجَاوُز وكړي او حيوان هلاک سي نو پر اَجِيرباندي ضَمَان اوكِرَايَه دُوَاړَه لازميږي .

اُصُول : چي دشرط څخه تَجَاوُز وكړي هلاک سي نو ضَمَان لازميږي .

[۱۱۷۵](۲۰) كه حيوان په اُجرَت ونيوئ چي پر هغه باندي سُپُور سي.نوخپل تر شَائي بَل څوک هم سُپُور كړئ او هغه هلاک سو نو دهغه د نِيم قيمت ضَامِن به وي كه چيري حيوان د دُوَاړُو د پورته كېدو طاقت درلودئ او د بُوج اِعتِبَار نسته .

تشريح : حيوان ئې په اُجرَت ونيوئ چي پر هغه به يَوسړئ سُپَرِيږي.وروسته وشَا ته يوسړئ بَل سُپُور كړئ چي دهغه لكبله حيوان هلاک سو.نو كه چيري حيوان داسي وُ چي د دُوُ كَسَانو د وُړُولُوطاقت ئې درلودئ خو بيا هم هلاک سو نو اَجِير به د حيوان د نِيم قيمت ضَامِن وي.او كه چيري حيوان داسي وُ چي د دُوُ كَسَانُو د پورته كېدو طاقت ئې نَه درلودئ نو بيا به د پوره قيمت ضَامِن وي .

وجه : (۱) د عُرفِ عام په اِعتِبَار بايد يَو سړئ پر سُپُور سوئ وائي لېكن دُوَه كَسَان پر سُپَارَه سول چي دهغه په وجه حيوان هلاک سو.و اَجِير ته ديوه سړي اجازت وُ د دُوُكسانو اجازت نَه وُ لِهْذَا د نيم قيمت ضَامِن به وي (۲) عَن اِبنِ سِيرِينَ اِستَأجَرَ اَجِيراً لِيَحمِلَ عَلْي ظَهرِهِ شَيئًا اِلْي مَكَانٍ مَعلُومٍ فَزَادَ عَلَيهِ فَغَرَمَهُ شُرَيحٌ بِقَدرِ مَا زَادَ عَلَيهِ بِحِسَابِ ذَالِكَ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب الكرْي يتعدّي به ج۸ص۲۱۲نمبر۱۴۹۲۶) په دې اَثَر كي

[۱۱۷۶](۲۱) وَ اِن اِستَأجَرَهَا لِيَحمِلَ عَلَيهَا مِقدَاراً مِنَ الحِنطَةِ فَحَمِلَ عَلَيهَا اَكثَرَ مِنهُ فَعَطَبَت ضَمِنَ مَا زَادَ مِنَ الثِّقلِ .

دئ چي څونه مُقَرّر سوئ وي چي هغونه پر رَاوُړِي دهغه څخه ضَمَان نَه لازميږي. لېكن چي كوم زِيَات بُوج ئې پر حيوان باندي رَاوُړَئ دهغه به فِيصَد رَابَاسِي په خپل حساب به ضَمَان لازميږي .

پام لرنه : كه چيري حيوان داسي وُ چي د دُوُ كسانو بُوج ئې نَه سو پورته كولائي خو بياهم دُوَه كسان پر سُپَارَه سول نو دپوره حيوان د قيمت ضَمَان به وركوي .

وجه : ځكه چي ده د عُرف خلاف كار وكئ او داسي سو لكه ده چي په قصد سره د حيوان د هلاكت په نِيّت سره دُوَه كسان پر سُپَارَه كړي وي نو ځكه پوره قيمت به اداٴ كوي. په اَثَر كي راغلي دي عَن حَمّادٍ قَالَ مَن اِكتَرْي فَتَعَدّْي فَهَلَكَ فَلَهُ الكَرْي الاَوّلُ وَالضّمَانُ عَلَيهِ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب الكري يتعدي به ج۸ص

حاشيه : (الف) دحضرت ابن سيرين څخه نقل سوئ دئ چي يوه سړي بَل سړئ په اُجرَت ونيوئ چي دده پر شَا باندي تر يو معلوم ځائ پوري څَه شئ يُوسِي.بيائې پر هغه باندي زِيَات رَاوُړَئ نو حضرت شُرَيح به وهغه ته تاوَان ځيني وَر اَخستئ دهغونه مِقدَار كوم چي دخپل حِسَاب څخه زِيَات وُ .

۲۱۱نمبر۱۴۹۲۵\سنن للبيهقي.باب لاضمان علْي المكتري فيما اكترْي الا ان يتعدْي ج۶ص۲۰۳نمبر۱۱۶۷۱) ددې اَثَرڅخه معلوم سو چي د تَعَدِّي ضمان پر لازم دئ .

پام لرنه : د انسان په سپَرِېدُو کي د انسان د تعداد اَعتِبَار سته په خپله د انسان د وَزَن اِعتِبَار نسته .

اُصُول : د تَعَدَ◌ِي ضمان پر لازم دئ .

لُغَت : عَطَبَ : ستَړَئ سو. هلاک سو .

[۱۱۷۶](۲۱) كه حيوان په كِرَايَه ونيوئ چي پرهغه باندي د غَنَمُو يوخاص مقدار رَاوْړِي.بيائې دهغه څخه زِيَات پر رَاوْړَئ.او حيوان هلاک سو نو ضَامِن به وي چي هر څونه بُوج زِيَات وي .

تشريح : مثلاً د سَل كېلو غَنَمو رَاوْړَلُو لپاره حيوان په كِرَايَه ونيوئ بيا ده د شرط

حاشيه : (الف) دحضرت حَمّاد څخه نقل سوئ دئ چي كوم چاچي به كِرَايَه وَنِيوَئ او زِيَادَتِي ئې وكړه چي دهغه په وجه هغه هلاک سو نو دده لپاره كِرَايَه اَوّلَه ده او ضَمَان دئ .

[۱۱۷۷](۲۲)وَ اِن كَبَحَ الدّابّةَ بِلَجَامِهَا اَو ضَرَبَهَا فَعَطَبَت ضَمِنَ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي وَ قَالَ اَ بُويُوسُفَ وَ مُحَمّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ لاَ يَضمَنُ .

خلاف وَرزِى وكړه او يَوسَل پِنځَوِيشت كېلو غَ◌َم ئې پر رَاوْړَل نو پِنځَوِيشت كېلو غَنَم چي زِيَات پر رَاوْړِي دي دهغه حِسَاب به كوي او د قيمت ذِمّه دَارَه به وي. مثلاً دحيوان قيمت يَو سَل پِنځَوِيشت روپئ وُ نو په كِرَايَه نيونكئ سړئ به د پِنځَوِيشت روپئ ذِمّه دَارَه وي او پاته سَل روپئ دحيوان والا ده وُلاَړې .

وجه : (۱) ځكه چي د سَل كېلو رَاوْړَلُو خو اِجَازَت وُ نو ځكه دهغه ذِمّه دَارَه نَه دئ چي كوم زِيَات ئې رَاوْړِي دي دهغه به ذِمّه دَارَه وي (۲) په مسئله نمبر ۲۰ كي دقاضي شُرَيح فتوْي تېر سوې ده او اُصُول هم تېرسوئ دئ .

[۱۱۷۷](۲۲) كه حيوان تر مَهَار رَاكَش كړئ يائې هغه وَوَاهَئ.او حيوان هلاک سو نو د امام ابوحنيفه په نېزبه ضَامِن وي اوامام محمداو امام ابويوسف وفرمائل ضامن نَه دئ.

تشريح : حيوان ئې په كِرَايَه ونيوئ تر مَهَار يا مُلُونې ونيوئ وَلاَړَاوَئ ئې.چي رَاكَش ئې كړئ دهغه څخه حيوان هلاک سو نو د امام ابوحنيفه په نېز ضَامِن دئ .

وجه : (۱) دئ فرمائي چي ترمَهَاررَاكَشَوَل دده حق دئ لېكن په شرط دسلامتيا دده حق دئ. دارنګه تر مَهَار راكشولوحق نه لري چي دهغه څخه حيوان هلاک سي. ده بايد اِحتِيَاط كړئ وائي.لېكن ده دِاحتِيَاط څخه كارنه واخستئ نوځكه دئ به ضَامِن وي(۲)په اَثَركي ددې ثبوت سته وَقَالَ مُطرِفٌ عَنِ الشّعَبِيِّ يَضمَنُ مَا اَعَنَت بِيَدِهِ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب ضمان الاجيرالذي يعمل بيده نمبر۱۴۹۴۶) په دې اَثَر كي دئ چي په لاَس كوم نُقصَان ورسيږي هغه به اَجِير اداّء كوي. دلته په لاس سره

حاشيه : (الف) حضرت شعبي فرمائي چي ضَامِن دئ چي په خپل لاَس ئې كوم كار كړئ وي.يعني دلاَس په كار كه چيري هلاک سي نو پر ده باندي ضَمَان سته.لكه رَنګرېز او دُوبِي .

[١١٧٨](٢٣) وَ الأُجَرَآ ءُ عَلْي ضَربَينِ اَجِيرٌ مُشتَرَکٌ وَ اَجِيرٌ خَـاصٌ فَالمُشتَرَکُ مَن لاَ يَستَحِقّ الأُجرَةَ حَتْي يَعمَلَ كَالصّبّاغِ وَ القَصّارِ.

مَهَـار رَاكَـش كـړئ دئ او حيـوان هـلاک سـوئ دئ نوځكـه تَـاوَان بـه اداّء كـوي. او صاحبين فرمائي چي مَهَار رَاكَشَوَل دده ذَاتِي حق دئ ددې بغيره خو حيوان نَه سي پـر پُښُو جَګ دَرَوَلاَئِي نو ځكه كه ددې وجهي څخه هلاک سي نو دا تَعَدِّي نَـه ده لِهْذَا پـر كِرَايَه دَار باندي تَاوَان نَه لازميږي .

وجه : په اَثَر كي راغلي دي عَن اِبنِ سِيرِينَ قَالَ جَعَلَ شُرَيحٌ عَلْي رَجُلٍ تَعَدّْي بِقَدرِ مَـا تَعَدّْي (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب الكرْي يتعدي به ج٨ص٢١٢نمبـر ١۴٩٢٧) په دې اَثَر كي دئ چي د تَعَدِّي او زِيَاتُوب مطابق به پر كِرَايَـه دَار بانـدي ضَـمَان لازم وي او كِرَايَه دَار چي مَهَار كَش كړئ نو دا ده څَه تَعَدِّي نَه ده كړې لِهْذَا پـر ده بانـدي هيڅ ډَوَل ضمان نَه راځي .

اُصُول : دامسئله پردې قاعده مُتَفَرّع ده چي كوم حقوق په معروفَ طريقـه سـره وي دهغـود اِستِعمَال لپاره د سلامتيا شرط سته كه نسته.د امام ابوحنيفه په نبز قاعده داده چي د حيوان د كَشَوَلُو او بېوَلُو لپاره دا شرط دئ چي حيوان به سَـالِم پاتـه وي هلاكيږى بـه نَه.كـه چيـري حيوان هـلاک سـونودحق استعمالولوباوجودبه دئ ضَـامِن وي.اوصـاحبين فرمـائي چـي پـه مَعرُوفَ طريقه سره خپل حقوق استعمال كړي نو كه څَه هم حيوان هلاک سـي خـو ضَـمَان ئې نَه راځي.ځكه چي په معروف طريقه سره د بېولو اودَرَوَلُوحق وده ته حاصل وُ .

لُغَت : كَبَحَ : حيوان تر مَهَار رَاكَشَوَل او دَرَوَل .

[١١٧٨](٢٣) د اَجِيرَانُـو دُوَه قسـمونه دي اَجِيرُمُشـتَرَک او اَجِيرِخَاص.اَجِيرِمُشـتَرَک هغه دئ چي د اُجرَت مُستَحِق نَه ګرزي تر هغو چي كار وكړئ.لكه رنګرېز او دُوبِـي .

حاشيه : :(الف) حضرت ابن سيرين فرمائي چي حضـرت شُرَيح بـه هغـه څـوک چـي زِيَـاتُوب بـه كـړئوُ نـو د زِيَاتُوب په اندازه به ضَمَان بر لازم وَئ .

[١١٧٩](٢۴) وَ المَتَاعُ اَمَانَةٌ فِي يَدِهِ اِن هَلَکَ لَم يَضمَن شَيئًا عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ وَ قَالاَ رَحِمَهُمَااللهُ تَعَالْي يَضمَنُهُ .

تشريح : د اَجِير دوه قسمونه دي.يوخو داسي دئ چي ستا كار ئې هم اخستئ دئ او پـه دغه وخت كې د نورو خلكو كار هم اخستئ دئ.او اَصـل اُجـرَت د وخـت پـه تېرېـدو سره نَه وي بلكه چي كار وكي نـو د اُجـرَت مُسـتَحِق ګـرزي چـي د تېكـې كـار ورتـه

وائي.مثلاً د لَسُو کسانو کپړې ئې اخستي دي چي دا بـه رنګـوم نـو چـي کلـه کپړو تـه رنګ ورکړي بيا د اُجرَت مُستَحِق ګرزي که څَه هم په هغه کي هـر څونـه وخـت تيـر سي.ده خو په يوه وخت کـي د ډيـرو کسـانو څخـه کپـړې اخسـتي دي نـو ځکـه دې تـه اَجِيرِمُشتَرَک وائي. او اَجِيرِخَاص ودې ته وائي چي د سَهَار څخه تر مَاښَـام پـوري بـه صرف ستا کار کوي د بَل چا کار به نَه کوي. او د ماښـام وروسـته د اُجـرَت مُستَحِق ګرزي که هر څونه کار کړئ وي. نـو دا خـو پـه مخصـوص وخـت کـي صـرف سـتا اَجِير دئ د بَل چَا اَجِير نه دئ نوځکه وده ته اَجِيرِخَاص وائي .

[۱۱۷۹](۲۴) سـامان دده پـه لاَس کـي امانـت دئ کـه چيـري هـلاک سـي نـو دامـام ابوحنيفه په نېزهيڅ ضمان نَه راځِي.او صاحبين فرمائي چي ددې به ضَامِن وي .

تشريح : امام ابوحنيفه فرمائي چي د اَجِيرِمُشتَرَک په لاَس کي شئ دامانت په توګه وي.لکـه کپړه چي و رنګرېز ته ورکړي نو دا کپړه دده په لاَس کي امانت ده.کـه چيـري ببلـه تَعَدِّي هلاک سي نو هيڅ ډَوَل ضمان ئې نَه رَاځِي .

وجه : په اَثَر کي دئ چي حضرت عَلِي به اَجِيرِمُشتَرَک ضَامِن نَه ګرزاوئ عَن صَالِحِ بِنِ دِينَارٍ اَنّ عَلِيّاً كَانَ لاَ يَضمَنُ الاَجِيرَ المُشتَرَکَ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۵۴في الاَجير يضــمن اَم لاَ ؟ ج۷ص۳۱۶نمبـر۲۰۴۸۹) د مُحَمّــدبن سـيرين هـم دغـه فتـوْي وه چـي اَجِيرِمُشتَرَک ئې دهلاکت په وجه ضَامِن نَه ګرزاوئ.دئ فرمائي چي کوم شئ چې دده

حاشيه : (الف) حضرت علي پر اَجِيرِمُشتَرَک ضمان نَـه لازموئ. پـام لرنـه : پـه يَوَه بَل روايت کـي دئ چـي حضرت علي ضمان لازموئ .

[۱۱۸۰](۲۵) وَ مَا تَلَفَ بِعَمَلِهِ كَتَخرِيقِ الثّوبِ مِن دَقِّهِ وَ زَلقِ الحَمّـالِ وَ اِنقِطَاعِ الحَبلِ اَلّذِي يَشُدّ بِهِ المَكَارِيُ الحَملَ وَ غَرقِ السّفِينَةَ مِن مَدِّهَا مَضمُونٌ .

په لاَس کي اِيښئ دئ هغه ئې د امانت په توګه اِيښئ دئ.ځکه چي دمال مالک په خپله رضامندي سره وده ته ورکړئ دئ.لِهٰذَا که چيري ببله دده دتَعَدِّي هلاک سي نو پر ده باندي ضَمَان نَه لازميږي.مثلاً کپړه د پربمينځلو په وجه څيرى سي نو پـر ده بانـدي د کپړې ضَمَان نَه لازميږي .

اُصُول : د اَجِيرِمُشتَرَک په لاَس کي شئ د امانت په توګه دئ .

صاحبين فرمائي چي ضامن به وي .

وجه : (۱) کوم شئ چې دده پـه لاَس کـي ورکـړئ دئ هغـه ئـې پـه شـرط د سَـلاَمَتَئ ورکړئ دئ او ده هغه شئ برباد کړئ نو ځکه دئ به ددې ضَامِن وي (۲) په اَثَر کـي راغلي دي چي ډيرو اَصحَابَانُو او تَابِعِينُو اَجِيرِمُشتَرَک ضَـامِن ګـانَئ عَن عَلِـيٍّ اَنّـهُ كَانَ يَضمَنُ الصّبّاغَ وَ الصّائِغَ وَ قَـالَ لاَ يَصلِحُ لِلنّـاسِ اِلاّ ذَاکَ (الـف)(سنن للبيهقي.بـاب ماجـآء فـي تضـمين الاجـرآء ج۶ص۲۰۲نمبـر۱۱۶۶۶\مصـنف عبـدالرزاق.باب ضـمان الاجيرالّـذي يعمـل بيـده ج۸ص۲۱۷نمبـر

۱۴۹۴۸\مصنف ابن ابي شيبة ۵۴في الاجيريضمن اَم لا؟ ج۴ص۳۱۵نمبر۲۰۴۷۸) ددې اَثَرڅخه ثابت سوچي که داجيرمُشترک په لاس کي شئ هلاک سي نوضَامِن دئ .

اُصُول : د اَجِيرِمُشتَرَک په لاَس کي شئ دامانت په حَيث پروت وي .

لُغَت : اَلصبّاغُ : رنګريز. چي کپړې رنګوي. اَلقَصّارُ : کپړه مينځونکئ. ډُوبِي .

[۱۱۸۰](۲۵) او کوم چي تَلَف سي د اَجِير په عَمَل سره لکه د ټکَوَلُو په وجه کپړې څيرېدل او د مَزدُور ښَکېدَل او دهغه درَسّئ پرېکېدل کوم چي په کِرَايَه ورکونکئ بُوج په تَړِي او د رَسّئ د کَشوَلُو په وجه د کَښتئ ډُوبېدَل ددې ټولو ضَماَن سته .

حاشيه : (الف) حضرت علي ضَمَان لازموئ پر رنګرېز باندي او پر وُستاګار باندي او فرمائل به چي د خلګولپاره ښه نَه دئ مګر دغه رنګه کول .

تشريح : کوم کار چي په لاَس کيږي په هغه کي چي نُقصَان راسي نو پر اَجِيرباندي دهغه ضَمَان لازم دئ. مثلاً کپړه ئې د پرېمينځلو لپاره ورکړه.ډُوبِي هغه دارنګه وَکُوټَل چي ځله څيري سوه نو پر ډُوبِي باندي دهغې ضَمَان لازم دئ. يا مزدور وَښَکېدَئ کومه غُوټَه او سامان چي دده پر سَر وُ هغه يَلَه سو او مَات سو نو پر مزدور دهغه ضَمَان لازم دئ. يا په کومه رَسّئ چي بُوج او سامان تَړِي هغه رَسّئ پرې سوه چي دهغه لکبله سامان لاندي رَايَلَه سو او مَات سو نو دهغه ضَمَان به پر ده لازم وي. يائې کَښتَئ اچانک کَش کړه چي دهغه لکبله کَښتَئ په اُوبُو کي ډُوبَه سوه او سامان سره خراب سو نو پر کَښتَئ والا به ددې سامان ضَمَان لازم وي.

وجه : (۱) و اَجِير ته ددې ټولو کارو اختيار وُ لېکن په دې شرط چي سامان به سَلاَمَت پاته وي. لېکن ده په داسي انداز سره کار وکئ چي سامان ته نُقصَان ورسېدئ نو ځکه ضَمَان به ورکوي.دا مسئله د صَاحِبَينُو پر مسلک ده (۲) مخته اَثَر تير سو چي حضرت عَلِي پر اَجِيرِمُشتَرَک باندي ضَمَان لازموئ (۳) اَنّ عُمَرَ بِنِ الخَطّابِ ضَمِنَ الصبّاغَ اَلّذِي يَعمَلُ بِيَدِهِ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب ضمان الاجيرالّذِي يعمل بيده ج۸ص۲۱۷نمبر۱۴۹۴۹) په دې اَثَر کي دئ چي حضرت عُمَر پر رنګرېز چي په لاَس باندي کار کوي د نُقصَان په وجه ضَمَان لازموئ. نو ځکه پر دې خلګو به ضَمَان لازم وي .

اُصُول : پر اَجِيرِمُشتَرَک باندي دنُقصَان په وجه ضَمَان لازم دئ .

لُغَت : تَخرِيقٌ : دکپړې څرېدل. دَقّ : ټکَوَل. زَلقٌ : ښَکېدَل.ښُويَدَل. اَلحَمّالُ : بُوج پورته کونکئ. اَلمَکَارِيُ : کِرَايَه دَار. مَدّ : کَشوَل .

حاشيه : (الف) حضرت عُمَر به ضَامِن جوړاوئ رنګرېز کوم چي په لاَس کار کوي .

[۱۱۸۱](۲۶) اِلاّ اَنّهُ لاَ يَضمَنُ بِهِ بَنِي آدَمَ فَمَن غَـرَقَ فِـي السّـفِينَةِ اَو سَقَطَ مِنَ الدّابّةِ لَم يَضمَنهُ .

[۱۱۸۱](۲۶) مګر دئ ضَامِن نَه دئ د بَنِي آدَم کوم چي غرق سـي د ګَبنـتَئ د ډُوبېـدُو په وجه يا دحيوان څخه رَايَلَه سو نو ددې ضَامِن نَه دئ .
تشريح : البته چي د اُجرَت پر وخت انسان هلاک سي نو دهغه ضَمَان پر اَجِير نَـه دئ. نـو که دګَبنتَئ دګَشبېدُوپه وجه ګَبنتَئ ډُوبَ سي اودهغه په وجه انسان مَړسـي نـوپر اَجِير بانـدي ددې مړه انسان ضَمَان نَه راځي.دغه رنګه د مَهَار دکشـولو پـه وجـه انسـان دحيـوان څخـه رَايَلَه سو اومَړسونو پر اَجِيرباندي ددې مَړي ضَمَان نَه رَاځِي .
وجه : (۱) د اَجِير دغلطي په وجه دا انسان ضائع او مَړ سو نـو دا قَتلِ خَطـآء دئ او دقَتـلِ خَطَآء تَـاوَان بـه د اَجِير دخانـدان خلـګ ورکـوي چـي دأجِير عَاقِلَـه دي او قاعده داده چي دجِنَايَت په وجه چي کوم قَتلِ خَطَآء سوئ وي دهغه تَاوَان به دأجِير عَاقِلَه ورکوي.او دا قَتلِ خَطَآء دجِنَايَت په وجه نَه دئ سوئ بلکه د عَقدِاُجرَت په وجه سوئ دئ نوځکـه دأجِير عَاقِلَـه يعني د خاندان خلګ به ددې تَـاوَان نَـه ورکـوي. نوځکـه پـه خپلـه پـر اَجِير بانـدي هـم د انساني هلاکتو ضَمَان نَه راځي (۲) د انسـان ضـمان خـوډېر زِيَـات وي.کـه چيـري دا ضمان لازم کړل سي نو اَجِيرخو به تباه سي نوځکه دانسان ضَمَان نَـه لازميـږي (۳) په اَثَر کي ددې ثبوت سته سُئِلَ عَامِرٌ عَن صَـاحِبِ بَعِيـرٍ حَمَلَ قَومًـا فَغَرَقُـوا قَـالَ لَـيسَ عَلَيــهِ شَــئٌ (الــف) (مصــنف عبــدالرزاق. بــاب ضــمان الاجيــر الــذي يعمــل بيــده ج۸ص۲۲۱نمبر۱۴۹۶۷) په دې اَثَر کي دئ چي د وُښ مالک څوکسان پـر سـپاره کـړل بيا هغه ټوله غَرق سول نو پر هغه ئې هيڅ شئ نَه کړئ لازم (۴) عَن اِبنِ سِيرِينَ عَـن شُرَيحٍ اَنّهُ کَانَ لاَيَضمَنُ المَلاَحُ غَرَقاً وَ لاَ حَرَقاً (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ۵۴

حاشيه : (الف) دحضرت عَامِرڅخه پوښتنه وکړه چي د وُښ مَالِک څو ګَسَان پر وُښ سُپَارَه کړل.اوهغه خلـګ ډُوب سول.وفرمائل پر وُښ والا باندي هيڅ شئ نَه دئ لازم (ب) دحضرت شُرَيح څخه نَقل سوئ دئ چي مَـلاّح د ډوبېدو او د سُوَځلُو ضَامِن نَه دئ .

[۱۱۸۲](۲۷) وَ اِذَا فَصدَ الفَصّادُ اَو بَزَغَ البَزّاغُ وَ لَم يَتَجَاوَزِ المَوضِعَ المُعتَادَ فَلاَ ضَمَانَ عَلَيـهِمَا فِيمَا عَطَبَ مِن ذَالِکَ وَ اِن تَجَاوَزَهُ ضَمِنَ .

في الاجيريضمن اَم لا ؟ ج۴ص۳۱۵نمبر۲۰۴۸۸) په دې اَثَر کي حضرت شُـرَيح پـر مَلاّح باندي د ډُوبېدَلُو او سُوَځلُو په وجه هيڅ شئ نَه دئ لازم کړئ .
اُصُول : د اُجرَت په وجه د اِنسَانِي هلاکت ضَمَان نَه رَاځِي .
لُغَت : غَرَقَ : ډُوب سو. اَلدّابّةُ : حيوان .

[۱۱۸۲](۲۷) که فَصَد خلاصونکي فَصَدخلاص کړئ یا دَاغ لګونکي داغ ولګاوئ او د مُعتَاد ځائ څخه تَجَاوُز وَنَه کړئ نو پر دې دواړو باندي ضمان نسته دهغه چي ددې څخه هلاک سي. او که ددې څخه تَجَاوُز وکړي نو ضَمَان ئې سته .

تشريح : فَصَد يعني ښګر لګونکئ به حَتمًا بَدَن ځله څيري.نوکه چيري هغونه بدن څيري کړئ څونه چې ضرورت وي خو بیا هم سړئ هلاک سي نو پر ښګر لګونکي باندې هيڅ ضمان نَه راځي. دغه رنګه دَاغ لګونکي په هغونه اندازه دَاغ ولګاوئ څونه چې ضرورت وي خو بیا هم سړئ هلاک سو نو ددې ضمان نَه راځي. او که چيري زِیَات ولګاوئ چي دهغه په وجه سړئ هلاک سو نو ضَمَان ئې لازم دئ .

وجه : (۱)ترمناسب ځائ پوري دفَصَد لګولواودڅيرلووده ته اِجَازَه سته نوځکه که چيري په دغونه اندازه څيرلویا دَاغ لګولوڅخه هلاک سوخوضَمَان ئې نَستَه. ځکه چي ده هغه کار کړئ کوم چي دده حق وُ. لېکن ! د زِیَات څيرلوڅخه پر ده باندي ضمان راځي.ځکه چي هغه دده حق نَه وُ (۲) په اَثَر کي دئ عَن شُرَيحِ اَنّهُ قَالَ لَيسَ عَلْي مُستَكرِي ضَمَانٌ فَاِن تَعَدّي فَجَاوَزَ عَلَيهَا الوَقتُ فَعَطَبَت قَالَ شُرَيحٌ يَجتَمِعُ عَلَيهِ الكَرَ آ ءُ

[۱۱۸۳](۲۸) وَ الاَجِيرُ الخَاصُ هُوَ الّذِي يَستَحِقّ الاُجرَةَ بِتَسلِيمِ نَفسِهِ فِي المُدّةِ وَ اِن لَم يَعمَل كَمَن اِستَأجَرَ رَجُلاً شَهرًا لِلخِدمَةِ اَو لِرَعيِ الغَنَمِ

وَالضّمَانُ (الف) (سنن للبيهقي.باب لاضمان علْي المكتري فيماالكتري الا ان يتعدّي ج۶ ص۲۰۳نمبر۱۱۶۷۱\مصنف عبدالرزاق.باب الكري يتعدّي به ج۸ص۲۱۲نمبر۱۴۹۲۷) د دې اَثَرڅخه معلوم سوچي که دمناسب مقام څخه تَجَاوُزوکړي نوضمان نَه لازميږي.

اُصُول : د بدن په څيرلو کي که دحُدُود څخه تجاوز وسي او نُقصَان وکړي نو پر اَجِيرباندي ضمان سته.اوکه په حُدُود کي دَنَنَه ځله څيري کړئ نوضَمَان ئې نسته .

لُغَت : فَصَدٌ : فَصَدخلاصول.بَدَن ځله څيرل او وِينَه رَايستَل. بَزَغٌ :نَشتَرلګول.بدن ځله څيرل. اَلمَوضِعَ المُعتَاد: ترکوم کوم ځائ پوري چي بدن ځله څيرل مناسب وي.

[۱۱۸۳](۲۸) او اَجِيرِخَاص هغه دئ چي په مُدَه کي دننه دځپل ځان په سُپَرد کولو د اُجرَت مُستَحِق ګرزي.که څَه هم کار نَه وي کړئ لکه یو څوک چي تر یوې مياشتي پوري د خدمت لپاره یا د بُوزُو د کَتَلُو لپاره په اُجرَت ونيسي .

تشريح : اَجِيرِخَاص وهغه ته وائي چي په خَاص وخت کي صرف دده مَزدُور وي د بَل چا مَزدُور نَه وي.او په دغه وخت کي صرف دده کار کولائي سي دبَل چا کار نَه سي کولائي. لکه څَه رنګه چي دسَهَار څخه تر مَاښَام پوري مزدور په اُجرَت نيسي چي دده کار به کوي د بَل چا کار به نَه کوي یا مثلاً تر یوې مياشتي پوري به دمَالِک خدمت کوي یا به تر یوې مياشتي پوري د مَالِک بُوزې ګوري. نو دا اَجِيرِمُشتَرَک نَه دئ اَجِيرِخَاص دئ.ددې حُکم دادئ چي که ګَارډېروکي که لَږ یائې

حاشيه : (الف) حضرت شُرَيح وفرمائل پر كِرَايَه دَار باندي هيڅ ضَمَان نسته.كه چيري تَعَدِّي وكړي او دشرط څخه تَجَاوُز وكړي او حيوان هلاک سي نو حضرت شُرَيح وفرمائل پر ده باندي به جمع سي كِرَايَه هم او ضَمَان هم .

[۱۱۸۴](۲۹) وَ لاَ ضَمَانَ عَلْي الاَجِيرِالخَاصِ فِيمَا تَلَفَ فِي يَدِهِ وَ لاَ فِي مَاتَلَفَ مِن عَمَلِهِ اِلاّ اَن يَتَعَدّْي فَيَضمَنُ .

بالكل وَنَه كړي. صرف دسَهَار څخه تر مَابنَام پوري په مُتَعَيّن وخت كي خپل ځان و مُستَأجِر ته سپُرد كړي ددغه څخه دئ د اُجرَت مُستَحِق ګرزي .

[۱۱۸۴](۲۹) او پر اَجِيرِخَاص ضمان نسته دهغه كوم چي دده په لاَس كي ضَائِع سي او نَه دهغه كوم چي دده د عَمَل څخه ضَائِع سي لېكن كه چيري زِيَاتُوب وكړي .

تشريح : چي د اَجِيرِخَاص لاَس ته يوشئ وُلاَړ سي او ضائع سي يا چي ځَه مَنَافِع وُجُود ته راغلي وې دهغو څخه ځَه مَنَافِع ضائع سوې نو ددې دواړو په ضائع كېدو سره پر اَجِيرِخَاص باندي هيڅ ډول ضمان نَه راځي.مثلاً د كَتَلُولپاره بُوَزه وركړه او هغه بېله دده دتَعَدِّي هلاكه سوه نوپراجيرددې تَاوَان نسته.يا ددې بُوزې مَرغُونَئ پيدا سو او د اَجِير په لاَس كي مَړ سو نو ددې مَرغُونِي تَاوَان پر اَجِير نَه دئ .

وجه : (۱) د اَجِيرِخَاص په لاَس كي چي كوم شئ دئ كه عَينِي شئ دئ كه مَنَافِع دي هغه دمَالِک په اِجَازَه سره دئ او په دې وخت كي ديو بَل چا مَال د اَجِير په لاَس كي نسته.نوځكه دا مال دده په لاَس كي دامَانَت مال دئ او چي بېله تَعَدِّي امانت هلاک سي نو دهغه ضَمان نَه راځي. لِهْذَا پر اَجِيرِخَاص باندي ضَمَان نَه لازميږي (۲) په اَثَر كي راغلي دي عَنِ الشّعَبِيِّ قَالَ لَيسَ عَلْي اَجِيرِ المُشَاهَرَةِ ضَمَانٌ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۵۴في الاجيريضمن اَم لاَ ؟ ج۴ص۳۱۵نمبر۲۰۴۸۷\۱ مصنف عبدالرزاق.باب ضمان الاجيرالذي يعمل بيده ج۸ص۲۱۷نمبر۱۴۹۴۶) ددې اَثَر څخه معلوم سوچي كه بېله تَعَدِّي هلاک سي نو پر اَجِيرِخَاص باندي ضَمَان نَه راځي .

اُصُول : د اَجِيرِخَاص په لاَس كي د مَالِک مال امانت وي .

حاشيه : (الف) حضرت شعبي فرمائي چي پر مِيَاشتِي اِجِير باندي ضمان نسته .

[۱۱۸۵](۳۰) وَ الاِجَارَةُ تُفسِدُهَا الشّرُوطُ كَمَا تُفسِدُ البَيعَ .

[۱۱۸۵](۳۰) اِجَارَه فاسد وي شرطونه لكه ځَه رنګه چي بيعَ فاسد وي .

تشريح : كوم شرطونه چي بيع فاسدوي هغه شرطونه اِجَارَه هم فاسدوي.مثلاً داسي شرطونه چي په هغه كي د اَجِيرفائده وي يا د مُستَأجِرفائده وي نو ددې رنګه شرطوڅخه اِجَارَه فاسد ګرزي .

وجه : (١) ځکه چي اِجَارَه هم دبَيعِ په شان يوعَقد دئ.فرق ئې صرف دونه دئ چي په بَيع کي د َعينِي شي بَيعَ کيږي او په اِجَارَه کي د مَنَافِعُ بَيعَ کيږي.نو دا خو دواړه عَقدُونَه دي ځکه په دُوَاړُو کي چي شرطِ فَاسِد راسي نو عَقد فاسديږي (٢) په حديث کي ددې اِشَارَه سته عَن اَبِي مَسعُودِ الاَنصَارِيِّ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺ نَهْي عَن ثَمَنِ الکَلبِ وَ مَهرِ البَغيِ وَ حُلوَانِ الکَاهِنِ (الف) (بخاري شريف.باب کسب البغي والامآءص٣٠٤نمبر٢٢٨٢\مسلم شريف.باب تحريم ثمن الکلب وحلوان الکاهن ومهرالبغي ص١٩نمبر١٥٦٧) په دې حديث کې د زِنَا اُجرَت او کَاهِن ته د ورتللو او اُجرَت ورکولو څخه منع کړې ده. ددې څخه دا معلوميږي چي دارنګه اِجَارَه فاسد ده (٣) په يو بَل حديث کي راغلي دي عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ نَهْي النّبِيّﷺ عَن عَسَبِ الفَحلِ (ب) (بخاري شريف.باب عسب الفحل ص٣٠٥نمبر ٢٢٨٤\ مسلم شريف.باب تحريم بيع فضل المآء ... وتحريم بيع ضراب الفحل ص١٨ نمبر١٥٦٥\4005) په دې حديث کي د مِندَه د شَړُلُو د اُجرَت څخه منع کړې ده.ددې څخه دا معلوم سو چي دا اِجَارَه فاسد ده .

حاشيه : (الف) حضورمنع وکړه د سُپِي دقيمت څخه.د زِنا د اُجرَت څخه او و کاهِن ته د تُلُو څخه (ب) حضور منع وکړه د مِندَه د شَړَلُو د اُجرَت څخه .

[١١٨٦](٣١) وَ مَن اِستَأجَرَ عَبدًا لِلخِدمَةِ فَلَيسَ لَهُ اَن يُسَافِرَ بِهِ اِلاّ اَن يَشتَرِطَ عَلَيهِ ذَالِکَ فِي العَقدِ [١١٨٧](٣٢) وَ مَن اِستَأجَرَ جَمَلاً لِيَحمِلَ عَلَيهِ مَحمَلاً وَ رَاکِبَينِ اِلْي مَکّةَ جَازَ وَ لَهُ المَحمَلُ المُعتَادُ .

[١١٨٦](٣١) يوچا غُلاَم د خدمت لپاره په اُجرَت ونيوئ.نو دده لپاره دا جواز نَه لري چي دئ پر سَفَر ورسره بوزي لېکن که چيري دده سره په عَقد کي پر دې شرط ولګوي .

تشريح : يو چا په حَضَر کي دخدمت لپاره غُلاَم ونيوئنو د غُلاَم د مرضئ بغيره پر سفر نَه سي ببولائي. تر څو چي د عَقد په وخت کي دا شرط نَه ولګوي چي زه د خدمت لپاره دئ پر سفر هم بِيَايَم. او که دعَقدِاِجَارَه پر وخت دا شرط ولګاوئ چي غُلاَم پر سفر هم بيايم نو ببولائي سي که نَه نو نَه سي ببولائي .

وجه : (١) په سفر کي مُشَقّت وي په دې کي خدمت کول مُشکِل کاردئ نو ځکه که په حَضَر کي اِجَارَه سوې وي نو دغُلاَم د مرضئ بغيره دئ پر سفر نَه سي ورسره ببولائي (٢) په حديث کي دئ وَقَالَ النّبِيّﷺ اَلمُسلِمُونَ عِندَ شُرُوطِهِم (الف) (بخاري شريف.باب اجرالسمسرة ص٣٠٣نمبر٢٢٧٤) په دې حديث کي دئ چي مسلمانان بايد دشرطو مَرَاعَت

وساتئ.او دلته خو په ظاهر د حَضَر شرط دئ نو ځکه بېله رضامندئ ئې سفر ته نَه سي بېولائي .

اُصُول : په حَضَر کي خدمت جلا دئ او په سفر کي خدمت جلا دئ دواړه هم مثل نَه دي .

[۱۱۸۷](۳۲) يو چا وُښ په اُجرَت ونيوئ چي پر هغه کَجَاوَه کښېږدي او دُوَه کَسَان تر مَکې پوري سپَارَه کړي نو دا جائزدئ.او دده لپاره مُعتَاد کَجَاوَه جائز ده .

حاشيه : (الف) حضورﷺ وفرمائل مسلمان د شرطو پَاسِبَان دئ .

تشريح : يو چا وُښ په اُجرَت ونيوئ چي پر هغه ځِين (زِين) اِږدي او دُوَه کسان به پرسپَريږي او تر مَکّې پوري به سفر کوي نو دا رنګه کول جائز دئ.او پر اَجِير باندي لازم دئ چي په عام توګه چي کومه کَجَاوَه او زِين پر وُښ اِيښوَل کيږي هغه به پر اِږدِي. نَه به ډېر غټ زين وي نَه ډېر کِشنَئ .

وجه : (۱) چي يوه مخصوص زِين د دُوئي تر مينځ مُتَعَيّن سوئ نَه وي نو په داسي صورت کي به مَعرُوف او مُتَدَاوَل حيني مُرَادوي. او په مُعَاشَرَه کي چي کوم مشهور او معروف وي هغه به لازم سي. نوځکه دلته هم مُعتَاد او معروف زِين پر اِيښوَلاَئي سي (۲) په حديث کي ودې ته اِشَارَه سوې ده عَن عَائِشَةَ قَالَت هِندٌ اُمّ مُعَاوِيَةَ لِرَسُولِ اللهِﷺ اَنّ اَبَاسُفيَانَ رَجُلٌ شَحِيحٌ فَهَل عَلَيّ جُنَاحٌ اَن آخُذَ مِن مَالِهِ سِرّ اً ؟ قَالَ خُذِي اَنتِ وَ بَنُوکِ مَا يَکفِيکِ بِالمَعرُوفِ (الف) (بخاري شريف.باب من اجري اَمرَالاَمصَارعلْي مايتعارفون بينهم في البيوع والاجارة ص۲۹۴ نمبر ۲۲۱۱) په دې حديث کي دئ چي دحضرت ابوسفيان د مال څخه چي کوم مَعرُوف وي هغونه تَه اخستائي سې. په آيت کي هم دئ وَ مَن کَانَ فَقِيراً فَليَأ کُل بِالمَعرُوفِ (آيت ۶سورة النسآء۴) په دې آيت کي هم دئ چي يو غَرِيب سړئ د يَتِيم په مال کي تِجَارَت وکي نو چي په مُعَاشَرَه کي څونه مَعرُوف اُجرَت وي هغونه اُجرَت اخستائي سي. نو ځکه دلته هم زِين متعين سوئ نَه دئ لِهٰذَا معروف زِين پر اِيښوَلاَئي سي .

اُصُول : چي يو شئ معلوم سوئ نَه وي نوچي په معاشره کي کوم مُعتَاد وي دهغه فيصله به کيږي .

لُغَت : مَحمَلٌ : د پورته کېدو شئ.د ,,حَملٌ,, څخه مُشتَق دئ مُرَاد زِين دئ. اَلمُعتَادُ : د ,,عَادَةٌ,, څخه مُشتَق دئ چي کوم عام عَادَت وي .

حاشيه : (الف) حضرت اُمِّ مُعَاوِيَه هِندې دحضورﷺ څخه پوښتنه وکړه چي ابوسُفيان بخيل سړئ دئ.آيا پر ما ګَه ګُنَاه سته چي په پَټَه دده دمَال څخه ګَه واخلَم ؟ حضورﷺ وفرمائل چي ستا او ستا وبچانو ته کِفَايَت کوي په مَعرُوف توګه هغونه وَاخلَه .

[۱۱۸۸](۳۳) وَ اِن شَاهَدَ الجَمّالُ المَحمَلَ فَهُوَ اَجوَدُ [۱۱۸۹] (۳۴) فاِن اِستَأجَرَ بَعِیراً لِیَحمِلَ عَلَیهِ مِقدَاراً مِنَ الزّادِ فَاَکَلَ مِنهُ فِي الطّرِیقِ جَازَ لَهُ اَن یَرُدّ عِوَضَ مَا اَ◌َكَلَ .

[۱۱۸۸](۳۳) او که وُښ والا ګَجَاوَه وګوري خو ډېره ښَه خبره ده .

وجه : چي د وُښ والا ګَجَاوَه وګوري نو دسفر څخه مخکي به رَضَامَندِي راسي او خبره به سره پائیڼَل سي نو ځکه مخکي کتل ښَه کار دئ .

[۱۱۸۹](۳۴) که وُښ په کِرَایَه ونیوئ چي پر هغه باندي دئ د توشې یو مقدار رَاوُړِي.بیائې هغه په لاَرَه کي وَخُوَاړَئ نو دده لپاره جائز دئ چي دهغه په بَدلَه کي دغونه نور رَاوُړِي کوم چي ده خُوَړَلِي دي .

تشریح : مثلاً یوچا وُښ په اُجرَت ونیوئ چي پر دې به سَل کېلو تُوشَه یعني خوراکي شیان رَاوُړِي.بیائې په لاَرَه کي لَس کېلو وَخُوَړَل نو وده ته دا حق سته چي ددې څخه جلا نور لَس کېلو پر دې وُښ رَابَار کړِي .

وجه : (۱) خبره خو داسوې وه چي سَل کېلو به پر رَاوُړَم تر منزل به رسوم اُوس په لاَره کي لَس کېلو کَم سول نو ځکه ددې په بَدلَه کي به د مزید لَس کېلو رَاوُړَلُو حق ده ته حاصل وي (۲) حدیث مختته تېر سوئ دئ وَ قَالَ النّبِيّﷺ اَلمُسلِمُونَ عِندَ شُرُوطِهِم (الف) (بخاري شریف.باب اجرة السمسرة نمبر۲۲۷۴) ددې حدیث څخه معلوم سو چي اِنسَان باید دخپل شرط مطابق ووسیږي.او دلته خو تر منزل پوري د سَل کېلو شرط لګېدلئ وُ نو ځکه سَل کېلو پوره کولائي سي .

حاشیه : (الف) حضورﷺ وفرمائل مسلمانان باید د شرطو پَاسدَارِی وکړي .

[۱۱۹۰](۳۵) وَ الاُجرَةُ لاَ تَجِبُ بِالعَقدِ وَ تَستَحِقّ بِاَحَدِ ثَلْثَةِ مَعَانٍ اِمّا بِشَرطِ التّعجِیلِ اَو بِالتّعجِیلِ مِن غَیرِ شَرطٍ اَو بِاِستِیفَآءِ المَعقُودِ عَلَیهِ .

[۱۱۹۰](۳۵) اُجرَت په عَقد کولو سره نَه واجبیږي او مُستَحِق جوړیږي د درو خبرو څخه هسي په یوه باندي یا د ژَر شرط په لګولو سره یا بېله شرطه په ژَر ورکولو سره یا د مَعقُودٌ عَلَیه په حاصلولو سره .

تشریح : په صرف عَقدِاِجَارَه کولو سره اُجرَت ورکول نَه واجبیږي بلکه چي د درو خبروڅخه یوه خبره وي نوبیااُجرَت ورکول واجبیږي.یوه خبره خوداچي دعَقدکولو پر محال دا شرط ولګوي چي اُجرَت مخکي اَخلَم .دُوم صورت دادئ چي د اَوّل ورکولوشرط خونَه

وُلګولئ لېکن مُستَأجِرپه خپله اُجرَت مخکي ورکړئ.اودریم صورت دادئ چيأجِیرمنافع ادآء کړې نوپرمُستَأجِرباندي اُجرَت ورکول واجب دئ.

وجه : (۱) اُجرَت عَینِي شئ وي چي په خَارِج کي موجود وي.او مَنَافِع لَږلَږ وجود ته رَاځِي.د اَوّل څخه په خَارِج کي موجود نَه وي.نوځکه چي کوم وخت هغه وُجُود ته راسي په هغه وخت به اُجرَت واجبېږي چي دُوَاړَه سره برابر برابر سي. نوځکه د منافع د وصولېدو وروسته او و وُجُود ته د رَاتْلُو وروسته اُجرَت واجب دئ. لېکن ! که مخکي د ورکولو شرط ولګاوئ نو ګواکه منافع موجود سوې.او مُستَأجِر پرهغه باندي راضي هم سو نوځکه اُوس اُجرَت مخکي ورکول واجب سو (۲) دحدیث د اِشَارې څخه معلومېږي چي د منافع د وصولېدو وروسته اُجرَت واجب دئ. په حدیث کي دئ عَن عَبدِاللهِ بِنِ عُمَرَقَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ اَعطُوا اَلاَجِیرَ اَجرَهُ قَبلَ اَن یَجُفّ عَرَقُهُ (الف) (ابن ماجه شریف.باب اجرالاجیرص۳۵۰نمبر۲۴۴۳) په دې حدیث کي دئ چي د کار کولو وروسته د خُوَلې د وُچېدَلُو مخکي مخکي اُجرَت ورکوئ. ددې څخه دا معلوم سو چي د ګار کولو وروسته اُجرَت ورکول واجب دئ (۳) عَن اَبِی هُرَیرَةَ عَنِ النّبِیِّ قَالَ اللهُ تَعَالْي ثَلاَثَةٌ اَنَا خَصمُهُم یَومَ القِیَامَةِ ... وَ رَجُلٌ اِستَأجَرَ اَجِیراً فَاستَوفْي مِنهُ وَلَم یُعطِهِ اَجرَهُ (الف) (بخاري شریف.باب اثم من باع حُرّاً ص۲۹۷نمبر۲۲۲۷\ابن ماجه شریف.باب اجر الاجرآء ص۳۵۰نمبر۲۴۴۲)په دې حدیث کي دئ چي منافع ئې پوره وصول کړې اواُجرَت ئې ورنَه کړئ. ددې څخه دا معلومېږي چي د منافع دوصولېدو وروسته اُجرَت ورکول واجب دئ.لېکن!که چیري په خپله اُجرَت پېشګي ورکړي نودمُستَأجِر مرضي ده .

[۱۱۹۱](۳۶) وَ مَن اِستَأجَرَ دَاراً فَلِلمُوجِرِ اَن یُطَالَبَهُ بِاُجرَةِ کُلِّ یَومٍ اِلاّ اَن یُبَیِّنَ وَقتَ الاِستِحقَاقِ بِالعَقدِ .

فائده : امامِ شافعي فرمائي چي څَه رنګه عَقد وسو سَم دستي اُجرَت واجب دئ .

وجه : ځکه چي عَقد وسو نو اَجِیر د اُجرَت مُستَحِق وګرزېدئ .

لُغَت : اَلمَعقُودٌ عَلَیهِ : پر کوم شي چي عَقدسوئ وي. مَعانٍ : د ,,مَعنْي,, جمع ده .

[۱۱۹۱](۳۶) یو چا مکان په اُجرَت ونیوئ نوپه اُجرَت ورکونکي سړي ته حق سته چي دده څخه د هري ورځي اُجرَت طلب کړي مګر دا چي په عَقد کي د اِستِحقَاق وخت بیان کړي .

تشریح : یوچا د بَل چا څخه مکان په اُجرَت ونیوئ اود میاشتي یا د ګال اُجرَت ئې معلوم نَه کړئ نود مکان والا ته دا حق حاصل دئ چي د هري ورځي اُجرَت ځیني طلب کړي.البته کی دمیاشتي اُجرَت مُقَرّرسي نو په میاشته کي به طلب کوي.او چي سالانه اُجرَت مُقَرّر سي نو په هرکال کي به مُطالَبَه ځیني کوي .

حاشیه : (الف) و مَزدُور ته دده مَزدُورِي دده د خُوَلُو وچېدلو څخه مخکي ورکئ .

وجه:(۱) په هره ګَنتَه کې مُطالَبَه نَه سي کولائي که نَه نو ډېره پرېشاني به رامینځ تـه سي. البته یوه ورځ یوه شُپَه یومُعتَدبِه وخت دئ اوددې نفع قَابِلِ شمارده کومه

حاشیه:(الف)حضوروفرمائل چي الله تعالٰي فرمائي د دُرُوکسانوسره زَه دقیامت په ورځ جَنګ کوم .. . یوهغه دریم سړئ چي اَجِیرئې په اُجرَت ونیوئ او دهغه څخه پوره نَفع وصول کړه او هغه ته اُجرَت ورنَه کړئ .

[۱۱۹۲](۳۷) وَ مَن اِستَأجَرَ بَعِیراً اِلٰي مَکّةَ فَلِلجَمّالِ اَن یُطَالِبَهُ بِـاُجرَةِ کُلِّ مَرحَلَةٍ .

نَفعَ چي اَجِیرپراخستې ده. نوځکه که چیري مِیاشتَنَئ یاګَلَنَئ وخت په عَقدکي مُقَرّرسوئ نَـه وي نوهره ورځ جلاجلااُجرَت طلب کولائي سي(۲)په حدیث کـي ودې تـه اِشَـارَه سوې ده عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ اَصَابَ نَبِيّ اللهِ خَصَاصَةٌ ... فَاَتَا بُستَا نًا لِرَجُلٍ مِنَ الیَهُودِ فَاستَقْي لَهُ سَبعَةَ عَشَرَ دَلواً کُلّ دَلوٍ بِتَمرَةٍ فَخَیّرَهُ الیَهُودِيّ مِن تَمَرَةِ سَبعَ عَشَرَةَ عَجوَةً فَجَآ ءَ بِهَا اِلٰي النّبِيّ(الف) (ابن ماجه شریف.باب الرجل لیستقي کل دلوبتمرة ویشترط جلدۍص۳۵۰ نمبر۲۴۴۶) پـه دې حدیث کي هره سَولَاغَه دیوې خُورمَا په بَدلَه کي ده. نوځکه دهري ورځـي اُجرَت جلاجلا کیدلائي سي (۳) هسي خو هم مزدور دهري ورځي اُجرَت جلاجلا اخلـي لِهٰذَا د مکـان پـه کِرَایَه کي هم دهري ورځي کِرَایَه جلاجلا اخستلائي سي .

اُصُول : هره ورځ و شُپَه مُعتَدبِهِ وخت دئ .

[۱۱۹۲](۳۷) یوچا وُښ په کِرَایَه ونیوئ چي تر مَکّې پورې بیـائي نـو د وُښ والا تـه جواز سته چي دهر مَنزِل اُجرَت ځیني طلب کړي .

تشریح : یوچا وُښ په اُجرَت ونیوئ چي تر مَکّې مُکَرّمې پورې بیائي او دائې نَه کړئ سره معلوم چي دسَفَر پر اِختِتَام به د اُجرَت طلب ځیني کوي که به پر هر هر مَنـزِل طلـب کـوي نود وُښ والا دا حق لري چي پر هرهر مَنزِل د مزدورئ مطالبه وکړي .

وجه : هرمنزل مُعتَدبِهِ فاصله ده اودهغه اُجـرَت جلاجـلا کېدلائي سـي.نوځکه پرهـر منـزل جلاجلا هم د اُجرَت طلب ځیني کولائي سي .

پام لرنه : که چیري عُرف داوې چي دسَفَرپراِختِتَام باندې اُجرَت ورکوي یـا دا سـره ووائـي چي سفر مکمل سي نو بیا به اُجرَت درکوم نو په داسي صورت کي چي سفر پوره

حاشیه : (الف) حضرت ابن عَباس فرمائي حضور ته فَاقَه کَښِـي راغلـه. نـوحضـرت عَلِـي دیَـوَه یَهُـودِي بـاغ تـه راغلئ او دهغه لپاره اُوَلّس سَولَاغِي راوکښې. هره سَولَاغَه دیوې خُورمَا پـه بَدلَـه کـي. نـو یَهُـودِي اُوَلّـس عَجـوَه خُورمَاوِي ورکړې.او حضرت عَلِي هغه حضور ته راوړې .

[۱۱۹۳](۳۸) وَ لَیسَ لِلقَصّارِ وَ الخَیّاطِ اَن یُطَالِبَ بِالاُجرَةِ حَتّيْ یَفرُغَ مِنَ العَمَلِ اِلاّ اَن یَشتَرِطَ التّعجِیلَ [۱۱۹۴](۳۹) وَ مَن اِستَأجَرَ خَبّـازًا لِیُخبِزَ لَهُ فِي بَیتِهِ قَفِیزَ دَقِیقٍ بِدِرهَمٍ لَم یَستَحِقّ الاُجرَةَ حَتّيْ یُخرِجَ الخُبزَمِنَ التّنّورِ .

سي هغه وخت د اُجرَت طلب کولائي سي دهغه څخه مخکې نَه سي کولائي .

اُصُول : هر منزل مُعتَدبِهِ فاصله ده .

لُغَت : اَلجَمّالُ : د وُښ مالک. مَرحَلَةٌ : منزل .

[۱۱۹۳](۳۸) و دُوبِي او دَرزِي ته دا حق نسته چي د اُجرَت طلب وکړي تر هغه وخته چي د کار څخه فارغ سي لېکن که چيري پېشکي شرط ولګاوئ .

تشريح : دُوبِي او دَرزِي چي ترڅو کار مُکَمّل کړئ نَه وي ترهغه وخته د اُجرَت غُوَښتَلُو حق نَه لري. لېکن ! که چيري پېشکِي د اُجرَت اخستلو شرط لګولئ وُ نو بيا پېشکي اُجرَت اخستلائي سي .

وجه : د دُوبِي کار دارنګه دئ چي ترڅو چي کپړه مُکَمّله پربمينځل سوې نَه وي کار نَه مکمل کيږي.په مينځ کي کپړه نوره ګنده کيږي.نوځکه دکار دمکمل کېدو وروسته به د اُجرَت مُستَحِق ګرزي.البته که چيري د اَوّله څخه د پېشګئ اخستلو شرط ولګوي نو د مُستَأجِر په رضامندئ سره دارنګه کولائي سي .

اُصُول : دا مسئله پر دې اُصُول ده چي د مُعتَدبِه کار څخه مخکي اُجرَت اخستل وَغُوَارِي نو د اُجرَت مُستَحِق نَه دئ .

[۱۱۹۴](۳۹) يوچا ډُوډَئ پَخَوُنګئ په اُجرَت ونيوئ چي دده لپاره دده په کور کي د يَوه قَفِيز وَړُو ډُوډَئ پَخَه کړي په يوه دِرهَم نو د اُجرَت مُستَحِق نَه ګرزي. ترهغو چي ډُوډَئ د تنور څخه رَاوَبَاسِي .

[۱۱۹۵](۴۰) وَ مَن اِستَأجَرَ طَبّاخًا لِيَطبَخَ لَهُ طَعَامًا لِلوَلِيمَةِ فَالغَرفُ عَلَيهِ .

تشريح : ډُوډَئ پَخَوُنکې کورته د ډُوډَئ پخولو لپاره په اُجرَت ونيوئ او اُجرَت دا سره مقرر سو چي په يوه دِرهَم به د يوه قَفِيز ډُوډَئ ورپخوي ورکوي به. نوچي کوم وخت ډوډئ د تَنّورڅخه رَاوَبَاسِي ورئې کړي هغه وخت د اُجرَت مُستَحِق ګرزي .

وجه : چي دتَنّورڅخه نَه وي راختلې نو دا اَخښَلسَوِي وُړَه دي ډُوډَئ نَه ده.چي کله پخه سي د تَنّور څخه راووزي بيا ډُوډَئ ورته ويل کيږي نو ځکه چي د تَنّورڅخه نَه وي راختلې تر هغه وخته پوري د اُجرَت مُستَحِق نَه ګرزي .

اُصُول : ډُوډَئ چي د تَنّورڅخه نَه وي راختلې په هغه کي څَه خاصمُعتَدبِهِ ګټه نسته نو ځکه د اُجرَت مُ ِستَحِق نَه ګرزي .

لُغَت : خُبزٌ : ډُوډَئ. دَقِيقٌ : وُړَه. تَنّورٌ : چُولَه.تَبخَئ.تَنُور.تَوَه .

[۱۱۹۵](۴۰) يوچا اَشپَز په اُجرَت ونيوئ چي دده لپاره د وَليمې ډُوډَئ پَخَه کړي نو په تَالَئ کي اَچَوَل هم پر ده دئ .

تشريح : بَاوَرچِي او اَشپَز ئې د وَلِيمې د ډُوډَئ د پخولو لپاره په اُجرَت ونيوئ نو د ډُوډَئ د پَخَوُلُو وروسته ډُوډَئ يعني سَالَن په پَلِېټُو کي اَچَوَل هم دده ذِمّه دَارِي ګڼل

کيږي. نوځکه سَالَن په پلېټوکي اچول به هم دده کاروي. په تَالَئ يعني پلېټو کي اَچَوَل د مُصَنّف رحمة الله تعالٰي عليه په عُرف او زمانه کي رواج وُ نو مصنف دخپلي زمانيِ د عُرف په لحاظ دا فرمائلي دي .

پام لرنه : په کوم ځائ کي چي دارنګه هيڅ عُرف نَه وي نو هلته صرف د ډُوډَئ په پخولو سره د اَشپَز ذِمّه دَارِي پوره کيږي .

اُصُول : دا مسئله پر دېِ اُصُول ده چي د کار په پوره کېدو کي به عُرف مَعتَبَر وي .

لُغَت : اَلغَرفُ : په ګَاچَغَه (کاچوغه) ډُوډَئ يعني سَالَن رَاکښَل .

[۱۱۹۶](۴۱) وَ مَن اِستَأجَرَ رَجُلاً لِيَضرِبَ لَهُ لِبَنًا اِستَحَقّ الأُجرَةَ اِذَا اَقَامَهُ عِندَاَبِي حَنِيفَةَ وَ قَالَ اَبُويُوسُفَ وَ مُحَمّدٌرَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالٰي لاَ يَستَحِقّهَا حَتّي يُشَرِّجَهُ [۱۱۹۷](۴۲) وَ اِذَا قَالَ لِلخَيّاطِ اِن خِطتَ هٰذَا الثّوبَ فَارسِيًا فَبِدِرهَمٍ وَ اِن خِطتَهُ رُومِيًا فَبِدِرهَمَينِ جَازَ وَ اَيّ العَمَلَينِ عَمِلَ اِستَحَ◌قّ الأُجرَةَ .

[۱۱۹۶](۴۱) يوچا يوسړئ په اُجرَت ونيوئ چي دده لپاره خَښتِي جوړي کړي نو د اُجرَت مُستَحِق ګرزي چي خَښتِي وَدَرَوِي د امام ابوحنيفه په نېز.او صاحبين فرمائي چي مُستَحِق نَه کرزي تر هغو چي ګُوړَئ ځيني جوړه کړي .

تشريح:دخَښتُوجوړولو لپاره سړئ په اُجرَت ونيوئ نودامام ابوحنيفه په نېزچي خَښتِي وُچِي کي اوجَګِي وَدَرَوِي نودده کارپوره سو اُوس دئ د اُجرَت حقداره دئ .

وجه : ځکه چي خَښتيِ جَګِي وَدَرَوَلِي نو دا اُوس قَابِل د اِنتِفَاع سوېِ نو ځکه دئ اُوس د اُجرَت مُستَحِق دئ. ددېِ څخه زيات کار مثلاً خَښتِي يَوپر بَلَه اِيښُوَل او د دِېوَال په شَان دَرَوَل دايَوزياتوب کاردئ.چي خَښتِي جوړوي دهغه ذِمّه دَارِي نَه ده. صاحبين فرمائي چي په عام عُرف کي خَښتِي يَوپربَلَه ايښول او د دېوال په شان جګي پرله درول يعني پُوړَئ جوړول هم شامل دئ.بېله ددېِ د خَښتُو والا ذِمّه دَارِي نَه پوره کيږي. نو ځکه چي يَوپربَلَه پر له کښېښولېِ بيا د اُجرَت مُستَحِق ګرزي .

لُغَت :يُشَرّجَ:خَښتِي يَوپربَلَه ايښول اوددېوال په شان جګي دَرَوَل.لِبَنٌ:ګَچَه خَښتَه .

[۱۱۹۷](۴۲) که و دَرزِي ته وويل چي که دغه کپړه پر فَارسِي طرز جوړه کړېِ نو يَو دِرهَم او که دغه پر رُومِي طرز باندي جوړه کړېِ نو دُوَه دِرهَم دي نو دا جائز دئ چي هر رنګه عَمَل وکړي دهغه اُجرَت مُستَحِق به سي .

تشريح : دا مسئله پر دېِ اُصُول باندي مُتَفَرّع ده چي د اُجرَت لپاره دُوَه جلاجلا انداز اختيار کړي جلاجلااُجرَت اومزدوري مُتَعَيّن کړي نوچي په کوم اندازعمل وکړي دهغه اندازاُجرَت به

[۱۱۹۸](۴۳) وَ اِن قَالَ اِن خِطتَهُ اليَومَ فَبِدِرهَمٍ وَ اِن خِطتَهُ غَدًا فَبِنِصفِ دِرهَمٍ فَاِن خَاطَهُ اليَومَ فَلَهُ دِرهَمٌ وَ اِن خَاطَهُ غَدًا فَلَهُ اُجرَةُ

مِثلِهِ عِندَ اَبِـي حَنِيفَـةَ رَحِمَـهُ اللهُ وَ لاَ يَتَجَـاوَزُ بِـهِ نِصـفَ دِرهَـمٍ وَ قَـالَ اَبُويُوسُفَ وَ مُحَمّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ اَلشّرطَانِ جَائِزَانِ وَ اَيّهُمَا عَمِلَ اِسـتَحَقّ الأُجرَةَ .

ورته ورسيږي اوداجائز دئ.مثلاًوويل چي کـه ددې کپړې څخـه دفَارسـي طـرز جُبّـه جوړه کړې نويَودِرهَم اُجرَت ئې دئ اوکه رُومِي طـرزجُبّـه جوړه کـړې نـودُوَه دِرهَـم اُجرَت ئې دئ نو دا رنګه اُجرَت اوعَمَل مُتَعَيّن کول جائز دئ.کـه دفَارسِـي طـرز جُبّـه جوړه کړه يَودِرهَم اوکه درُومِي طرز دا جوړه کړه دُوَه دِرهَـم اُجـرَت بـه ورتـه مـلاؤ سي .

وجـه : (۱) دُوَاړَه کارونه جلاجلا دي او د دُوَاړُولپاره جلاجلا اُجرَت مُتَعَيّن سـوئ دئ او هيڅ رنګه جهالت نسته نو ځکه دا اِجَارَه صحيح ده (۲) حديث مخکي تېر سوئ دئ اَلمُسلِمُونَ عِندَ شرُوطِهِم .

[۱۱۹۸](۴۳) او که وويل چي که دا نَن په ورځ کي وَګَنډې نو يَودِرهَم او کـه سَبَا پـه ورځ کي وَګَنډې نو نِيم دِرهَم دئ. نو که چيري نَن وَګَنډَل نو دده لپاره بـه يَـو دِرهَـم او که سَبَا وَګَنډَل نو دده لپاره به اُجرَتِ مثل وي د امـام ابوحنيفـه پـه نبـز او د نِـيم دِرهَـم څخه به تَجَاوُز نَه کوي. او صاحبين وفرمائل چـي دُوَاړَه شـرطونه جـائز دي چـي هـر عَمَل وکړي دهغه اُجرَت مُستَحِق دئ .

تشريح :يَوچَاواَجِيرته وويل چي که نَن کپړه جوړه کـړې نويَـودِرهَم ئـې اُجـرَت دئ او که سَبَاجوړي کړې نونِيم دِرهَم اُجرَت ئې دئ. نـو امـام ابوحنيفـه فرمـائي چـي کـه نَـن کپړې جوړي کړي خو يَو دِرهَم اُجرَت به ورته ملاؤيږي او که سَبَا جـوړي کـړي نـو نِيم دِرهَم به نَه وي بلکه چي په بَـازَار کـي ددې کپـړې دجوړېـدوکوم اُجـرَت وي هغـه اُجرَت به ورته ملاؤيږي. خو هغه به هم د نِيم دِرهَم څخه زِيَات نَه وي .

[۱۱۹۹](۴۴) وَ اِن قَالَ اِن سَكَنتَ فِي هٰذِهِ الدّكَانَ عَطّارًا فَبِـدِرهَمٍ فِـي الشّهرِ وَ اِن سَكَنتَهُ حَدّادًا فَبِدِرهَمَينِ جَـازَ وَ اَيّ الاَمـرَينِ فَعَـلَ اِسـتَحَقّ المُسَمّيْ فِيهِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَ قَالاَ رَحِمَهُمَا اللهُ اَلاِجَارَةُ فَاسِدَةٌ .

وجه : دئ فرمائي چـي کـه نَـن جـوړوې دا يَـودِرهَم د ژَر جوړولـو لپـاره دئ نوځکـه اِجَارَه صحيح ده که نَن جوړي کړې نو يَو دِرهَم به ورته ملاؤسي.لېکن که وويـل چـي که سَبَا ته جوړي کړې نو نِيم دِرهَم به اُجرَت وي دا د تَعلِيـق لپـاره دئ او چـي اِجَـارَه مُعَلّق سي نو خبره پوره تَام سوې نَه وي نوځکه اَجَـارَه بـه فاسدسـي.اوچي کلـه اِجَـارَه فاسد سي نو دا قاعده ده چي په بَـازَار کـي کـوم اُجـرَت کېدلائـي سـي هغـه اُجـرَت بـه

ملاؤیږي نوځکه د بازار اُجرَت به ورته ملاؤیږي.لېکن د سَبَاورځي پر جوړولو باندي نِیم دِرهَم مُقَرّرسوئ دئ نوځکه د بَازَار اُجرَت به هم تر نِیم دِرهَم زِیَات نَه وي .

صاحبین فرمائي چي که د نَن ورځي شرط ولګوي که دسَبَا ورځي شرط. دواړه شرطونه صحیح دي نو ځکه دُوَاړِ اِجَارِ هم صحیح دي.لِهٰذَا چي کوم عَمَل وکړي دشرط مُطَابِق به دهغه اُجرَت مُستَحِق سي.یعني که نَن کپړې جوړي کړې نو یَودِرهَم او که سَبَا په ورځ کي جوړي کړې نو نِیم دِرهَم به ورته ملاؤیږي .

اُصُول : دا مسئله پر دې اُصُول باندي ده چي د نَن یا سَبَا ورځ ددې دُوُ څخه که پر هر شرط باندي خبره سره وسي هغه شرط جائز دئ او اِجَارَه صحیح ده.او دهغه مطابق عمل کولو څخه به ده ته اُجرَت ملاؤیږي .

[۱۱۹۹](۴۴) او که وویل چي که په دې دُوکَان کي وعَطّار ته ځائ ورکوې نو په میاشته کي یو دِرهَم دئ او که په دي کي د وَسپِینِي کارکونکي ته ځائ ورکوې نو دُوَه دِرهَم دا جائز دئ.د دُوَاړُومعاملوڅخه چي هره یَوَه وکړي دهغه د اُجرَت به مُستَحِق سي د امام ابوخنیفه په نېز.او صاحبین فرمائي چي دا اِجَارَه فاسد ده .

تشریح : مثلاً زَید وعُمَر ته دُوکَان په کِرَایَه ورکړئ او داسې ورته وویل چي که په دې دُوکَان کي عَطرفَرُوشَ اَچَوې نو دمیاشتي یَو دِرهَم اُجرَت دئ.او که اُستَاکَار په کښي اَچَوې چي لَرَلَئ کار ئې دئنو بیا د میاشتي دُوَه دِرهَم کِرَایَه ده.امام ابوحنیفه فرمائي چي دا دُوَاړِ اِجَارِ صحیح دي.لِهٰذَا که د عَطرُوکار په کښي وکړئ نو دمیاشتي یَودِرهَم او که د وَسپِینِي کار په کښي وکړئ نو به دمیاشتي دُوَه دِرهَم اُجرَت ورته ملاؤیږي .

وجه : په دې صورت کي اِجَارَه مُعَلّقه ګرزول نَه سوه بلکه په دُوُ کارو کي د یوه کار اِختِیَار ورکول سو.او د دُوَاړُو جلاجلا اُجرَت واضح دئ لِهٰذَا اِجَارَه هم صحیح ده. او چي هر کار وکړي هغه اُجرَت به ورته ملاؤ سي.پاته سو دا چي کوم کار به کوي نو دا چي کار شروع کوي هغه وخت به ددې تَعیِین په خپله وسي .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول ده چي دُوَه جلاجلا کارونه وي او دهر یوه اُجرَت معلوم وي نو اِجَارَه صحیح ده .

صاحبین فرمائي چي کوم وخت اِجَارَه کوي هغه وخت دا معلوم نَه دئ چي اَجِیر به کوم کار کوي؟ نو کوم اُجرَت به لازمیږي؟ یَو دِرهَم یا دُوَه دِرهَم دعَقدِاِجَارِ پر وخت دا معلوم نَه دئ نو ځکه د اِجَارِ د اُجرَت د جهالت په وجه اِجَارَه فاسد سوه. نوځکه اِجَارَه صحیح نَه سوه که څَه هم د ګَار شروع کولو پر محال دا معلوم سي چي کوم اُجرَت به ورکوي .

اُصُول : دا مسئله پر دې اُصُول ده چي د عَقدِ اِجَارِ کولوپر محال اُجرَت معلوم نَه وي نو اِجَارَه فاسدیږي .

لُغَت : عَطّارٌ : عَطرخرڅونکئ. حَدّادٌ : د وُسپِينِي کار کونکئ.اُستَاګَار .

[۱۲۰۰](۴۵) وَ مَن اِستَأجَرَ دَارًا کُلّ شَهرٍ بِدِرهَمٍ فَالعَقدُ صَحِيحٌ فِي شَهرٍ وَاحِدٍ وَفَاسِدٌ فِي بَقِيّةِ الشّهُورِ اِلاّ اَن يُسَمّيْ جُملَةَ الشّهُورِ مَعلُومَةً .

[۱۲۰۰](۴۵) يَوچَا مکان په کِرَايَه واخستئ هره مياشته ديَوَه دِرهَم په بَدلَه کي نو په يَوَه ماشته کي عَقدصحيح دئ او په دا نورو مياشتو کي فاسددئ.مګر دا چي ټولي معلومِ مياشتي مُتَعَيّن کړي .

تشريح : يوچا مکان په کِرَايَه ونيوئ او داسې وويل چي هره مياشته د يوه دِرهَم په بَدلَه کې په کِرَايَه نيسم.نو ديوې مياشتي اِجَارَه صحيح ده.د رَارَوَانِي مياشتي اِجَارَه نَه صحيح کيږي.که د مکان مالک د رَارَوَانِي مياشتي په کِرَايَه ورکولو څخه اِنګار وکړي نو کولائي سي.دغه رنګه کِرَايَه دَار په رَارَوَانَه مياشته کي په کِرَايَه نيولو څخه انکار وکړي نو کولائي سي.البته که رَارَوَانَه مياشته دئ په هغه مکان کي وسېدل شروع کړي اود مکان مَالِک هم هيڅ ورته وَنَه وائي نو دا بيا دسره څخه نوې او جلا اِجَارَه سوه چي پ‍ه معروف طريقه سره ګواکه په اِشَارَه اِشَارَه سره د بَيعِ تَعَاطِي په رکم وسوه. اودغه رنګه چي هرڅو مياشتي بېله اِنګَار په دې مکان کي وسيږي هره مياشته به دَلاَلَةً او اِشَارَةً نوې نوې اِجَارَه مُنعَقَدکيږي.او په کومه ورځ چي د مکان مالک يا کِرَايَه دَار د اُجرَت ورکولو يا اَخستَلُو څخه انکار وکړي په هغه ورځ به نوې اِجَارَه ختم سي. لېکن ! چي ټولي مياشتي معلومي کړي نوچي هرڅونه مياشتي معلوم کړي دهغونه مياشتو اُجرَت به ورکوي.مثلاً چي دوه کالَه معلوم کړي نو د دُوُ کالو اُجرَت به ورکوي .

وجه : (۱) چي ټولي مياشتي معلومي نَه کړي نو دڅو مياشتو اِجَارَه به وي ؟ دا مجهول ده. لېکن ديوې مياشتي خبره خو ده کړې ده نوځکه اَقَلِّ دَرَجَه يوه مياشته به اِجَارَه صحيح وي (۲) په اَثَر کي و دې ته اِشَارَه سوې ده عَنِ الثّورِيّ فِي رَجُلٍ يَکتَرِي مِن رَجُلٍ اِلَي مَکّةَ وَ يَضمَنُ لَهُ الکَرِيُ نَفقَتُهُ اِلْي اَن يَبلُغَ قَالَ لاَ اِلاّ اَن يُوَقّتَ اَيّامًا مَعلُومَةً وَ کَيلاً مَعلُومًا مِنَ الطّعَامِ يُعطِيهِ اِيّاهُ کُلّ يَومٍ

[۱۲۰۱](۴۶) فَاِن سَکَنَ سَاعَةً مِنَ الشّهرِ الثّانِي صَحّ العَقدُ فِيهِ فَلَزِمَهُ وَ لَم يَکُن لِلمُؤجِرِ اَن يُخرِجَهُ اِلْي اَن يَنقَضِيَ الشّهرُ المُستَأجَرُ .

(الف) (مصنف عبدالرزاق. باب الرجل يکتري علْي الشئ المجهول وهل يجوز الکرآء ويأخذمثله منه؟ ج۸ص۲۱۴نمبر۱۴۹۳۸) په دې اَثَرکي دئ چي ټولي ورځي معلومي کړی او دهغو ټولي کِرَايې نَه کړي معلومي تر هغه وخته پوري اِجَارَه نَه صحيح کيږي(۳)په

حديث کي دئ چي دخَرَيِ مُکَمّل مقدارمعلوم نَه وي دهغه خرڅول منع دئ دغـه رنګـه چـي تړولي مِيَاشتِي معلومي نَه وي نو دهغو اِجَارَه نَه صحيح کيږي سَمِعتُ جَابِرَ بِنِ عَبدِاللّٰهِ نَهْي رَسُولُ اللهِ عَن بَيعِ الصّبُرَةِ مِنَ التّمرِ لاَيَعلَمُ مَکِيلُهَا بِالکَيلِ المُسَمّيْ مِنَ التّمرِ (ب) (مسلم شريف.باب تحريم بيع صبرة التمر المجهولة القدر بتمر ج۲ص۶ نمبر۱۵۳۰) په دې حديث کي دئ چي دګُوَړِي اوخَرَيِ تړوله مقدارمعلوم نَه وي نوخرڅول ئې جواز نَه لري.ځکه چي دهغه قيمت به هم مجهول وي.دغه رنګه چي تړولي مياشتي معلومي نَه وي نودهغه اِجَارَه نَه صحيح کيږي .

[۱۲۰۱](۴۶)کـه چيـري ددُوَمِـي مياشـتي يَـوګړَئ پـه هغـه کـي پاتـه سـونوپه هغـه کـي بـه عَقدصـحيح سـي اواُجـرَت بـه لازم سـي.اود اُجـرَت ورکـونکي لپـاره جوازنَـه لـري چـي اَجِيرځيني وَبَاسِي ترهغوچي په اُجرَت اخستل سوې مياشته ختم سي .

تشريح : د يوې مياشتي د پوره کېدو وروسته دُوَمَه مياشته په هغه مکان کي يَوسَاعَت نـور تېر کړئ او دمکان مَالِک هيڅ نَه ورته وويل نو داسي به ګڼو لکه د بَيعِ تَعَاطِي په توګه چي د بَلِي رَارَوَانِ مياشتي اِجَارَه په اِشَارُو اِشَارُو کي سوې وي. ګواکـه ورکـونکئ هم پـه دغـه اُجرَت سره راضي دئ او اخستونکئ هم په دغه اُجرَت سره راضي دئ.

[۱۲۰۲](۴۷) وَ کَذَالِکَ حُکمُ کُلِّ شَهرٍ يَسکُنُ فِي اَوّلِهِ يَومًا اَو سَاعَةً .

په دغه وجه خو دا اخستونکئرَارَوَانَ مياشته پـه هغـه مکـان کـي وسيږي. نـو ځکـه اِجَـارَه صحيح سوه. او په دغه ټوله مياشته کي دمکان مَالِک کِرَايَه دَار نَه سي ځيني اِستَلاَئي.

وجه : په اَثَر کي راغلي دي وَ اِکتَرْي الحَسَنُ مِن عَبدِاللّٰهِ بِنِ مَردَاسٍ حِمَارًا فَقَالَ بِکَم ؟ قَالَ بِدَانِقَينِ فَرَکِبَهُ ثُمّ جَآ ءَ مَرّةً اُخرْي فَقَالَ اَلحِمَارُ اَلحِمَارُ فَرَکِبَهُ وَلَم يُشَارِطهُ فَبَعَثَ اِلَيهِ بِنِصفِ دِرهَمٍ (الف)(بخاري شريف.باب ما اجرْي امرالامصار علي مايتعارفون بينهم في البيوع والاجارة ص۲۹۴نمبر۲۲۱۰) په دې اَثَر کي د خَرَه اُجرَت اَوّل وار دُوَه دَانِق مقررسو لېکن دُوَم وار نيمئ دِرهَم اُجرَت مقررنَه سو بلکه حضرت حَسَن اُجرَت ورکړئ او عبدالله بن مرداس واخستئ او ګواکه په اِشَارُو اِشَارُو کي اُجرَت مقررسو. دغه رنګه چي دُوَمَه مياشته کِرَايَه دَار په مکان کي پاته سو او دمکان مَالِک هيڅ نَه ورتـه وويـل نـو پـه اِشَـارُو اِشَارُو کي اُجرَت سره معلوم سو.نوځکه په دغه ټوله مياشته کي کِرَايَه دَار دمکان څخه نَه سي اِستَلاَئي .

اُصُول : د بَيعِ تَعَاطِي په رکم په اِشَارُو اِشَارُو کي اُجرَت هم معلومېدلائي سي .

لُغَت : اَلمُوجِرُ : په کِرَايَه ورکونکئ. اَلمُستَأجَرُ : په کِرَايَه ورکړل سوئ مکان .

حاشيه :(الف) حضرت ثورِي وفرمائل چي يَوڅوک دبَله څخه تر مَکّې پوري په کِرَايَه ونيسي او تر مَکّې پوري د اَجِير د نَفقې ضَامِن سي نو وفرمائل دا صحيح نَه دئ تر هغو چي ورځې معلومي کړي او د خُوَرَاک پيمانه معلومه وي چي هره ورځ به ورکوي (ب) حضور د خُورماؤ دهغه خَرې د خرڅولو څخه منع وکړه چي دهغه مُتَعَيّنَه پيمانه معلومه نَه وي .

[۱۲۰۲](۴۷) او دغه رنګه حُکم دئ دهري میاشتي چي دهغه په شروع کي یَوَه ورځ یا یَو ګړئ ووسیږي .

تشریح : په رَارَوَانَ هره میاشته کي چي دمیاشتي په شروع کي یَوَه ورځ یا یَو ګړئ ووسیږي نو دا به د مکان د مالک رضامندي ګڼل کیږي او په اِشَارُو اِشَارُو کي به د رَارَوَانِ میاشتي اُجرَت مُتَعَیّن سي.حدیث او وجه مخته تېرسوي دي .

حاشیه : (الف) حضرت حَسَن دعبدالله بن مرداس څخه خَر په کِرَایَه واخستئ او پوښتنه وکړه چي څومره کِرَایَه ئې ده ؟ وویل چي دُوَه دَانِق نو پر هغه باندي سُپُورسو بیا دُوَم وار راغلئ او وویل چي خَر مِي په کار دئ.نو پر هغه باندي سُپُور سواو دکِرَایِي شرط ئې ونه کړئ بیائې هغه ته نِیم دِرهَم ورواستاوئ .

[۱۲۰۳](۴۸) وَ اِذَا اِستَأجَرَ دَارًا شَهرًا بِدِرهَمٍ فَسَكَنَ شَهرَینِ فَعَلَیهِ اُجرَةُ الشّهرِ الاَوّلِ وَ لاَ شَئَ عَلَیهِ مِنَ الشّهرِ الثَّانِي .

[۱۲۰۳](۴۸) که یو مکان دیوې میاشتي لپاره په یَوَه دِرهَم په کِرَایَه ونیوئ.بیا په هغه کي دوې میاشتي ووسېدئ نو پر اَجِیر داَوّلِي میاشتي اُجرَت سته او پر ده باندي د دُوَمِي میاشتي هیڅ شئ نه دئ لازم .

تشریح : یو مکان ئې صرف د یوې میاشتي لپاره د یوه دِرهَم په بدله کي په اُجرَت ونیوئ او دوې میاشتي په هغه کي پاته سو نو دیوې میاشتي اُجرَت به لازم وي د دُوَمِي میاشتي اُجرَت نَه لازمیږي .

وجه : چي صرف دیوې میاشتي اُجرَت سره معلوم سو نو دیوې میاشتي وروسته اِجَارَه ختم سوه.اُوس چي کوم کِرَایَه دَار په هغه مکان کي پاته دئ دا د اُجرَت په توګه نَه بلکه په طور د رِعایَت پاته دئ او د مَالِک لخوا د اِجَازَت په وجه مُفت وسیږي نوځکه د دُوَمِي میاشتي اُجرَت پر ده نَه دئ لازم .

اُصُول : دا مسئله پر دې اُصُول ده چي د اُجرَت مُدَه ختم سي کِرَایَه دَار چي هرڅَه اِستِعمَالَوِي هغه د رِعَایَت په توګه دئ د اُجرَت په توګه نَه دئ.ځکه چي اِجَارَه خوپه مُستَقِل توګه کولو وروسته مُنعَقَدکیږي که نَه نو اِجَارَه نَه مُنعَقَدکیږي .

پام لرنه : دا په هغه صورت کي دئ چي د اُجرَت مُدَه معلومه سوې وي.لېکن که د اُجرَت مُدَه نَه وي معلومه سوې نو د مسئله نمبر۴۶ په شان به د هري میاشتي په شروع کي په اِشَارُو اِشَارُو سره اِجَارَه منعقدکیږي. او دهري میاشتي اُجرَت به پر لازمیږي .

پام لرنه : ددې رِعَایَت په صورت کي هم و اَجِیر ته د دُوَمِي میاشتي اُجرَت په خپله خوشحالي سره وُرَاندِي کول په کار دئ .هَل جَزَ آ ءُ الاِحسَانِ اِلاّ اَلاِحسَانُ .

[۱۲۰۴](۴۹) وَ اِذَا اِستَأجَرَ دَارًا سَنَةً بِعَشَرَةِ دَرَاهِمَ جَازَ وَ اِن لَم يُسَمِّ قِسطَ كُلِّ شَهرٍ مِنَ الأجرَةِ [۱۲۰۵](۵۰) وَ يَجُوزُ اَخذُ اُجرَةُ الحَمَامِ وَ الحَجّامِ .

[۱۲۰۴](۴۹) كه د يوه كال لپاره يو مكان په لَس دِرهَم كِرَايَه ونيوئ نو دا جائز دئ كه څَه هم په اُجرَت كي د هري مياشتي اُجرَت نَه وي مُتَعَيّن كړئ .

تشريح : يوه سړي د پوره يَوَه كال لپاره يَو مكان په لَس دِرهَم كِرَايَه ونيوئ او هره مياشته به څونه پيسې وي دائې معلوم نَه كړئ نو دا جائز دئ .

وجه : ځكه چي پوره او ټوله مُدَه خو معلومه سوې ده او هيڅ ډَوَل جهالت نَه دئ پاته نوځكه دا جائز دئ.كه څَه هم دهري ورځي يا دهري مياشتي قِسط ئې معلوم كړئ نَه وي.ځكه چي ټوله مُدَه معلومه سوه نو ددې بيا ضرورت نَه سوپاته.او كه څوك معلومول وغُوَاړِي نو حساب دي وكړي دهري مياشتي قِسط دي معلوم كړي چي هره مياشته دُرُواَتيَا(درې اَتيَا.۸۳) پيسې جوړيږي.

اُصُول : دا مسئله پر دې اُصُول مُتَفَرّع ده چي سَالاَنَه اُجرَت معلوم سي نو دهري مياشتي د قِسط دمعلومولو ضرورت نسته.اِجَارَه جائز ده.په دې اَثَركي ددې ثبوت سته اَنّ اُسَيدَبِنِ حُضَيرٍ مَاتَ وَ عَلَيهِ دَينٌ فَبَاعَ عُمَرُ ثَمَرَةَ اَرضِهِ سَنَتَينِ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة۵۸۱فِي الرجل يبيع الثمرة بالسنتين والثلاث ج۵ص۱۳ نمبر۲۳۲۵۰) په دې اَثَركې د دُوُ كالو لپاره مېوه خرڅه كړې ده او دهري مياشتي قِسط ئې نَه دئ مُتَعَيّن كړئ .

لُغَت : قِسطٌ : دهري مياشتي د اُجرَت تَخمِينَه او حِصّه .

[۱۲۰۵](۵۰) او جائز دئ د حَمّام او د ښكَر لګولو اُجرَت .

تشريح : په غَربِي نَړَئ كي حَمّامُونَه يعني يَوخاص رنګه غُسل خانې اوكوم چي سپونګ پُول ورته وائي دا وي. چي په هغه كي څَه خلګ لَمبيږي يعني غُسل په كښي كوي لېكن دهغه اُجرَت معلوم وي او هلته سره د پردې غُسل كول هم امكان لري نو ځكه د هغه اُجرَت اخستل جائز دئ .

وجه : (۱) په پَټ بَدَن سره لمبېدل اوغُسل كول مُمكِن دئ نوځكه ددې اُجرَت وركول هم جائزدئ (۲) په حديث كي دئ عَن عَبدِاللهِ بِنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ تُفتَحُ لَكُم اَرضُ الاَعَاجِمِ وَسَتَجِدُونَ فِيهَا بُيُوتًا يُقَالُ لَهَا اَلحَمّامَاتُ فَلاَ يَدخُلَنّهَا اَلرِّجَالُ اِلاّ بِالاِزَارِ وَ اِمنَعُوهَا اَلنِّسَآ ءَ يَدخُلَهَا مَرِيضَةٌ اَو نُفَسَآ ءُ(الف)(ابوداؤدشريف .باب الدخول في الحمام ص۲۰۰نمبر۴۰۱۱\ترمذي شريف.باب ماجاء في دخول الحمام ج۲ص۱۰۷نمبر۲۸۰۱\ابن ماجه شريف.باب دخول الحمام ص۵۳۶نمبر ۳۷۴۸) ددې حديث څخه معلوم سوچي نَر لَنګ

حاشيه : (الف) حضرت اُسَيدبِنِ حُضَير وفات سو او پر ده څَه قرض وُ.نوحضرت عُمَردده د مځكي مېوه د دُوُ كالو لپاره خرڅه كړه .

وَتَرِي نو حَمّام ته داخلېدائي سي. نو بيابه د اُجرَت ورکول او اخستلو اجازت هم وي . او د ښکَر لګولو اُجرَت اخستلائي سي دهغه لپاره دا حديث دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ اِحتَجَمَ النّبِيُ وَ اَعطْي الحَجّامَ اَجرَهُ (ب) (بخاري شريف.باب خراج الحجام ص۳۰۴نمبر۲۲۷۸\ مسلم شريف.باب حَل اُجرةِ الحَجّام ص۲۲نمبر۱۲۰۲) په دې حديث کي دئ چي حضور په خپله ښکَرولګاوئ او دهغه اُجرَت ئې هم ورکړئ نوځکه د ښکَر لګولو اُجرَت ورکول او اخستل جائز دئ.

پام لرنه : البته په دي کي د انسان خُولې ته وِينَه ځِي نوځکه دا کار ښَه نَه دئ. په دغه وجه په بعضو احاديثو کي حضور ددې څخه منع کړې ده.حديث دارنګه دئ عَن رَافِعِ بِنِ خُدَيجٍ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺ قَالَ کَسبُ الحَجّامِ خَبِيثٌ (ابوداؤدشريف.باب کسب الحجام ص نمبر۳۴۲۱) .

حاشيه : (الف) حضوروفرمائل تاسو ته به د عَجَمِيَانو مځکه فتح سي او تاسو به هلته مَکَانُونَه وَوِينَئ چي حَمّام ورته وائي.نَرَان دي په هغه کي نَه داخليږي مګر سره د اِزَارَ.او ښځي هغه ته د داخلېدو څخه منع کړئ مګر که يوه مَرِيضَه او د نِفَاس والا ښځه وي نو د عِلاَج لپاره داخلېدلائي سي (ب) حضور ښکَر ولګاوئ او وښکَر لګونکي ته دهغه اُجرَت ورکړئ .

[۱۲۰۶](۵۱) وَ لاَ يَجُوزُ اَخذُ اُجرَةُ عَسبِ التَيسِ .

[۱۲۰۶](۵۱) او نَه دئ جائز د نَر پر مَادَه باندي د خېژَوَلُو اُجرَت .

تشريح : چي په مِندَه سره مَادَئ وَشَرِي ددې اُجرَت اخستل جواز نَه لري .

وجه : (۱) په حديث کې ددې اُجرَت اخستلو څخه منع کړې ده عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ نَهْي النّبِيّ ﷺ عَن عَسبِ الفَحلِ(الف) (بخاري شريف.باب عسب الفحل ص۳۰۵ نمبر۲۲۸۴\مسلم شريف.باب تحريم بيع فضل المآء...وتحريم بيع ضراب الفحل ص۸۱نمبر۱۵۶۵\ابوداؤدشريف.باب في عسب الفحل ص۱۳۰نمبر ۳۴۲۹) په دې حديث کې د شَرَلُو د اُجرَت څخه منع کړې ده (۲) په دې شَرَلُو به حيوان بَرَالبِيږي که نَه حمل به پيدا کيږي که نَه دا يقيني نَه ده.نوځکه نفع او ګټه يقيني نَه سوه نفع مجهوله ده.نو په دې وجه هم اُجرَت اخستل جواز نَه لري (۳) د دې شَرَلُو اُجرَت په معاشره کي هم يو نَاوړَه کار دئ .

پام لرنه : چي د وُښ والا ته د عِزّت او اِحتِرَام په خاطر څَه ورلره ورکړي ددې ګُنجَائِش سته.په حديث کي دئ عَن اَنَسِ بِنِ مَالِکٍ اَنّ رَجُلاً مِنَ کِلاَبٍ سَأَلَ رَسُولَ اللهِﷺ عَن عَسبِ الفَحلِ فَنَهَاهُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ اِنّا نطرقُ الفَحلَ فَنُکرِمُ فَرَخّصَ لَهُ فِي الکَرَامَةِ (ب) (ترمذي شريف.باب ماجآء في کراهية عسب الفحل ص ۲۳۶ نمبر۱۲۷۴) په دې حديث کې د وُښ والا د عِزّت په خاطر د څَه نَه څَه ورکولو ګنجائش ورکړئ دئ. خو د اُجرَت په توګه څَه ورکول منع دي .

لُغَت : عَسبُ التَيسِ : نَر پر مَادَه خېژَوَل. يعني شَرَل .

حاشيه : (الف) حضورﷺ د مِندَه د شَرِلُو د اُجرَت ځخه منع وکړه (ب) د حضورﷺ ځخه د مِندَه د شَرِلُو د اُجرَت په باب پوښتنه وسوه نو حضورﷺ وفرمائل...هغه وويل ائ د خدائ پيغمبره ! مورِ ئي په مِندَه باندي شَرِوبيا د مِندَه د مَالِک د عِزّت په توګه هغه ته څَه ورکو نو حضورﷺ د عِزّت په توګه د څَه ورکولو پ ه باب کي اِجَازَه ورکړه .

[۱۲۰۷](۵۲) وَ لاَ يَجُوزُ الاِستِيجَارُ عَلْي الاَذَانِ وَ الاِقَامَةِ وَ تَعلِيمِ القُرآنِ وَ الحَجِّ .

[۱۲۰۷](۵۲) اُجرَت اخستل جواز نَه لري پر اَذَان او اِقَامَت باندي او د قُرآن پر تعليم وركولو او پر حج كولو باندي .

تشريح : اَذَان وكي او اُجرَت واخلي.د لمانځه لپاره اِقَامَت ووائي او اُجرَت واخلي.د قُرآن تعليم وركړي او اُجرَت واخلي.او دچا لپاره حج وكي پر هغه باندي اُجرَت واخلي دا جواز نَه لري مكروه دئ .

وجه : په حديث كي دئ عَن عِبَادَةَ بِنِ صَامِتٍ قَالَ عَلّمتُ نَاسًا مِن اَهلِ الصُفّةِ اَلقُرآنَ وَ الكِتَابَ فَاَهدْي اِلَيّ رَجُلٌ مِنهُم قَوسًا فَقُلتُ لَيسَت بِمَالٍ وَ اَرمِي عَلَيهَا فِي سَبِيلِ اللهِ لاَتِيَنّ رَسُولَ اللهِ فَلاَسئَلَنّهُ فَاَتَيتُهُ فَقُلتُ يَارَسُولَ اللهِ رَجُلٌ اَهدْي اِلَيّ قَوسًا مِمّن كُنتُ اُعَلّمُهُ الكِتَابَ وَالقُرآنَ وَ لَيسَت بِمَالٍ وَ اَرمِي عَنهَا فِي سَبِيلِ اللهِ تَعَالْي قَالَ اِن كُنتَ تُحِبّ اَن تُطَوّقَ طَوقًا مِنَ النّارِ فَاَقبِلهَا (الف) (ابوداؤدشريف.باب في كسب المعلم ج۲ص۱۲۸نمبر۳۴۱۶\ابن ماجه شريف.باب الاجرعلي تعليم القرآن ص۳۱۰نمبر۲۱۵۷) په دې حديث كي رَاوِي و بَل ته د قُرآن وَرازدَه كولو په بَدلَه كي لِندَه اخستې وه وهغه ته حضورﷺوفرمائل پرقُرآن باندي اُجرَت اخستل د وُور طوق په غَاړَه كول دئ. ددې ځخه معلوم سو چي پر قُرآن باندي اُجرَت اخستل جواز نَه لري.اوپراَذَان باندي داُجرَت نَه اخستلوحديث دادئ اَنّ عُثمَانَ بِنِ اَبِي العَاصِ قلتُ يَا رَسُولَ اللهِ اِجعَلنِي اِمَامَ قَومِي قَالَ اَنتَ اِمَامُهُم وَ اِقتَدِ بِاَضعَفِهِم وَ اِتّخِذ مُؤَذّنًا لاَ يَأخُذُعلْي اَذَانِهِ اَجرًا(الف)(ابوداؤدشريف.باب اخذالاجرعلْي التأذين ص۸۶ نمبر ۱۵۳۱\ ترمذي شريف.باب ماجآء في كراهية ان يأخذالمؤذن علْي الاذان اَجرًا ص۵۱نمبر۲۰۹) ددې حديث ځخه معلوم سو چي پر اذان باندي اُجرَت اخستل جواز نَه لري. پر دغه باندي تَكبِير يعني اِقَامَت او حج هم قياس كه چي پر هغه باندي هم اُجرَت اخستل جواز نَه لري .

حاشيه:(الف)عِبَادَه بِنِ صَامِت فرمائي چي مَا د اَهلِ صُفّه ځخه و ځُو كسانو ته قُرآن او كتاب الله ور اِزدَه كړئ نو دهغو كسانو ځخه يَوَه وماته لِندَه په هَديَه كي راكړه. ما وويل چي دا مال نَه دئ په دې بـه د الله پـه لاَرَه كي غَشِي غُورزَوَم.خودحضورځخه به پوښتنه وكړم. زَه راغلم او رته وَمِي ويل. ائ د خدائ رسول ! يَوَه سړي ماته لِندَه په هَديَه كي راكړه چي وهغه ته ما قُرآن او كتاب الله وَر اِزدَه كاوئ او دا مَال نَه دئ. د الله په لاَرَه كي بـه غَشِي پـه غُورزَوَمَه. حضوروفرمائل كه دا خُوښَه وې چي د اُور طَوق دي په غَاړَه كي وَلوِيږِي نو بيائې قبول كه .

اُصُول : کوم عبادت چي په خپله پر انسان باندي ضروري دئ دهغه پر کولو باندي اُجرَت اخستل جواز نَه لري ؟

فائده : بعض علمآءُپرتَعلِيمُ القُرآن باندي داُجرَت اخستلوګُنجَائِش ورکړئ دئ.

وجه : (۱) په تېر وخت کي د بَيتُ المَال څخه وعُلمآء ته وَظِيفَه ملاوېده چي دهغه لکبله دُوئي مُفت تعليم ورکاوئ.لېکن په دې نَن زمان کي دارنګه نَه ده.اُوس که چيري اُجرَت نَه واخلي نو مُعَلِّم به د خپلو بَچَانُو کَفَالَت څَه رنګه کوي ؟ او چي تَعليم ورکولو پرېږدي نو به تعليم القرآن پاته سي.او د دِين ترقي به وَدَرِيږِي نو ځکه اُوس پر تعليم القرآن باندي د اُجرَت اخستلو ګنجائش سته (۲) په حديث کي دئ چي پر تَعوِيذ ورکول باندې بُوزَه په اُجرَت کي واخستله او په تعويذ کې سورة فاتحه وويل ددې څخه دا معلوم سو چي د اُجرَت اخستلو ګنجائش سته.د وُړد حديث يوه ټکړه داده عَن اَبِي سَعِيدٍ قَالَ اِنطَلَقَ نَفَرٌ مِن اَصحَابِ النّبِيِّﷺ فِي سَفَرَةٍ سَافَرُوهَا ... فَمَا اَنَا بِرَاقٍ لَکُم حَتّٰي تَجعَلُوا لَنَا جَعلاً فَصَالَحُوهُم عَلٰي قَطِيعٍ مِنَ الغَنَمِ فَانطَلَقَ يَتفُلُ عَلَيهِ وَيَقرَأ اَلحَمدُ لِلّٰهِ رَبِّ العٰلَمِينَ ... قَالَ (رَسُولُ اللهِ) قَد اَصَبتُم اَقسِمُوا وَ اَضرِبُوا لِي مَعَکُم سَهمًا فَضَحِکَ النّبِيُّﷺ (ب) (بخاري شريف شريف.باب مايعطٰي في الرقية علٰي احيآء العرب بفاتحة الکتاب ص۳۰۴نمبر۲۲۷۶\مسلم شريف.باب جواز اخذ اخذالأجرة علٰي الرقية بالقرآن والاذکار ج۲ص۲۲۴نمبر۲۲۰۱ کتاب السلام) په دې حديث کې دالَحَمدُ لِلّٰهِ په بدله کي بُوزې په اُجرَت کي اخستي دي.ددې څخه معلوم سو چي

حاشيه : (الف) ما وويل ائ دالله رسول ! ما د قوم اِمَام جوړ کَه.حضور وفرمائل ته د دُوئي امام ئې.او دکمزورانو رِعَايَت کوه.او داسي مؤذن پيدا کَه چي پر اَذَان اُجرَت نَه اخلي (ب) ابو سعيدفرمائي چي دحضور څَه اَصحَابَان پر سَفَرؤُلاَړَه ... صحابِي وفرمائل چي زَه ستاسو لپاره هيڅ دَم چُو نَه کوم ترهغو چي زموږ لپاره څَه اُجرَت معلوم کړئ. نو دګلِي خلګو صُلح ورسره وکړه د بُوزُو پر يَوَه رَمَه باندي. نو صحابي پر مريض باندي چُو کول او اَلحَمدُلِله ئې ويل ... حضور وفرمائل تاسو صحيح کار کړئ دئ او دځان سره زوما لپاره هم څَه بَرخَه وکئ او حضور وخَندَل .

[۱۲۰۸](۵۳) وَ لاَ يَجُوزُ الاِستِيجَارُ عَلٰي الغِنَآءِ وَ النَّوحِ .

پر تعليم القرآن باندي اُجرَت اخستل جائز دئ (۳) په بخاري شريف کي په دغه باب کي دا اَثَر نقل کړئ دئ وَ قَالَ اِبنُ عَبّاسٍ عَنِ النّبِيِّﷺ اَحَقّ مَا اَخَذتُم عَلَيهِ اَجرًا کِتَابُ اللهِ. وَقَالَ الحَکَمُ لَم اَسمَعُ اَحَدًا کَرِهَ اَجرَ المُعَلِّمِ. وَ اَعطٰي الحَسَنُ دَرَاهِمَ عَشرَةَ (الف) (بخاري شريف.باب مايعطٰي في الرقية علٰي احيآءالعرب بفاتحة الکتاب ص۳۰۴ نمبر ۲۲۷۶\دارقطني.کتاب البيوع ج۳ص۵۵نمبر۳۰۱۹\ سنن للبيهقي.باب اخذالأجرة علٰي تعليم القرآن والرقية به ج۶ص۲۰۵نمبر ۱۱۶۷۶\مصنف ابن ابي شديبة ۱۰۰ في اجرالمعلم ج۴ص۳۴۶نمبر۲۰۸۳۱) ددې اَثَرڅخه معلوميږي چي پر تعليم القرآن باندي اُجرَت اخستل جائز دئ. او نَن سَبَا پردغه باندي فتوْي ده. ځکه چي په دې اَثَرکي دئ چي د اُجرَت لپاره زِيَات حقداره کِتَابُ الله دئ. او د حضرت حَکَم څخه روايت دئ چي ما داسي نَه دي اَورېدَلِي چي څوک دي د مُعَلِّم اُجرَت مکروه ګڼي .

[۱۲۰۸](۵۳) او جواز نَه لري اُجرَت اخستل دغَزَلُو پر وَيَلُو او نَوحَه کولو باندي .

وجه : (۱) نَوحَه کول او غَزَلِي ويل حرام دي نو ځکه ددې اُجرَت هم حرام دئ (۲) په حديث کي دئ عَن عَبدِاللهِ عَنِ النّبِيّﷺ قَالَ لَيسَ مِنّا مَن ضَرَبَ الخُدُودَ وَ شَقّ الجُيُوبَ وَ دَعَا بِدَعوَي الجَاهِلِيّةِ (بخاري شريف.باب ماينهْي من الويل ودعوْي الجاهلية عندالمصيبة ص۱۷۳نمبر۱۲۹۸) ددې حديث څخه معلوم سوچي نَوحَه کول منع ده نو دهغه اُجرَت اخستل هم منع دئ (۳) په اَثَر کي دئ عَن اَبِي قَاسِمٍ عَن اِبرَاهِيمَ اَنّهُ کَرِهَ اَجرَ النّوّاحَةِ وَ المُغنِيَةِ (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب الأجرعلْي تعليم الغلمان

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل تر ټولو زِيَات حقداره چي تاسو اُجرَت پر اخلئ هغه دخدائ کِتَاب دئ. حضرت حَکِيم وفرمائل چي د مُعَلّم اُجرَت مکروه ګڼي داسي مِي د هيڅ چاڅخه نَه دي اَورېدلي.اوحضرت حَسَن لَس دِرهَم اُجرَت و مُعَلّم ته ورکړل (ب) حضرت ابراهيم د نَوحَه کونکي او غَزَلچِي ښځو اُجرَت مکروه ګاڼئ .

[۱۲۰۹](۵۴) وَ لاَ يَجُوزُ اِستِيجَارُ المَشَاعِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي وَ قَالاَ رَحِمَهُمَا اللهُ اِجَارَةُ المَشَاعِ جَائِزَةٌ .

وقسمة الأحوال ج۸ص۱۱۶نمبر۱۴۵۴۰)په دې اَثَرکي دئ چي حضرت ابراهيم دنَوحې اوغَزَلُو اُجرَت مکروه ګاڼئ(۴) وَمِنَ النّاسِ مَن يَشتَرِي لَهوَ الحَدِيثِ (آيت۶ سورة لقمان ۳۱) ددې آيت تفسيردئ غَزَلِي اخستل.ددې څخه دامعلوم سوچي دغَزَلُواُجرَت ناجائز دئ .

اُصُول : د بَازَيُو او حرامو کارو اُجرَت اخستل جواز نَه لري .

لُغَت : اَلغِنَآ ءُ : بَدَلِي اوغَزَلِي ويل. اَلنّوحُ : ببله وجهي په زوره زوره ژَړَل .

[۱۲۰۹](۵۴) جواز نَه لري يو مُشتَرَک شئ په اُجرَت کي اِيښُوَل د امام ابوحنيفه په نېز او صاحبين فرمائي د مُشتَرَک شِي اِجَارَه جائز ده .

تشريح : مثلاً د زَيد او عُمَر تر مينځ يو مکان مُشتَرَک دئ بېشل سوئ نَه دئ.اُوس صرف زَيد خپله حِصّه په اُجرَت کي اِږدِي او عُمَرئې نَه اِږدِي نو د امام ابوحنيفه په نېز دا جواز نَه لري .

وجه : چي د عُمَرحِصّه ورسره يَوځائ ده نو زَيدپه مکمله توګه سره خپله حِصّه و اَجِير ته نَه سي حواله کولائي.چي دهغه لکبله اَجِيرخپله فائده نَه سي ځيني اخستلائي.نوځکه مُشتَرَک شئ په اُجرَت کي اِيښُوَل جواز نَه لري. او که يَو يَو حواله کړي نو په دي کي هم په مکمله توګه حواله نَه سو .

اُصُول : د امام ابوحنيفه نظريه داده چي مُشتَرَک شئ په مکمله توګه حواله کول اِمکان نَه لري نوځکه ددې اِجَارَه نَه صحيح کيږي .

صاحبين فرمائي چي مُشتَرَک شئ په اُجرَت کي اِيښُوَل جائز دئ .

وجه:(۱)دعُمَرحِصّه هم دنفع شئ دئ نوځکه دنفع شئ په اُجرَت کي اِيښُوَلاَئي سي (۲) چي کوم کوم وخت دزَيد نَوبَت راځي هغه وخت به داَجِيرپه حواله کوي اود اِجَارې لپاره په دغونه اَندَازَه هم کفايت کوي.نوځکه مُشتَرَک شئ په اُجرَت کي اِيښُوَل جائز دئ .

[۱۲۱۰](۵۵) وَ يَجُوزُ اِستِيجَارُ الظِّرءِ بِأُجرَةٍ مَعلُومَةٍ [۱۲۱۱] (۵۶) وَ يَجُوزُ بِطَعَامِهَا وَ كِسوَتِهَا عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ .

پام لرنه : كه دُوَاړُو شريكانُ په اِتِّفَاق سره پـه اُجـرَت كـي كښېښُـوَئ نـو دا جـائز دئ. ځكه چي اُوس ئې په مكمله توګه حواله كول ممكن دئ .
اُصُول : د صاحبينو نظريه داده چي مُشتَرَک شئ په يـوه طريقـه د طريقـو و اَجِيـر تـه حواله كولائي سي نوځكه ددې اِجَارَه صحيح ده .
[۱۲۱۰](۵۵) جائز دئ شِيدې وركونكې ښځه په معلوم اُجرَت سره نيول .
تشريح : د شيدې ورركولو لپاره ښځه په اُجرَت ونيسي او يو معلوم اُجرَت وركړي نو دا جائزدئ. په اصل كي اِشكال دادئ چي هره ورځ بـه دا بَچَـئ پـه څـو انـدازه شـيدې رَودِي او چيښي دا نَه دئ معلوم نوځكه منافع مجهول سوې. نوځكه اُجرَت به صـحيح وى كه نَه ؟ نو مَاتِن وفرمائل چي اُجرَت ئې صحيح دئ .
وجه : (۱) په آيت كـي ددې ثبـوت سـته فَـاِن اَرضَـعنَ لَكُم فَـأتُوهُنّ اُجُـورَهُنّ (آيـت ۶ سورة الطلاق ۶۵) په دې آيت كي دئ چي كه چيري ښځي و بَچِي ته تَئ يعني شـيدې وركړې نو وهغه ته اُجرَت وركئ. ددې څخه دا معلوم سو چي و تِي وركـونكې ښـځه ته اُجرَت وركول جائز دئ (۲) و حضورﷺ ته حضرت سعديې د اُجرَت پـه بَدلَـه كـي شيدې وركړي وې .
لُغَت : اَلظِّرءُ : د شيدې وركولو اُجرَت .
[۱۲۱۱](۵۶)اوجائزدئ ددې دخُوَرَاک اوچِيښَاک په بَدلَه كي دامام ابوحنيفه په نېز .
تشريح : شيدې وركونكې ښځه صرف د ډُوډَئ او كپړو په بَدلَه كي پـه اُجـرَت ايښـول جائزدئ.په دې صورت كي اِشكَال دادئ چي ډُوډَئ او كپړه مُتَعَيّن شـئ نَـه دئ.ډُوډَئ به كله کَم او كله زِيَات وي نو اُجرَت مجهول سو نو ځكه د ډُوډَئ او كپړو په بَدلَه كـي په اُجرَت نيول بايد جائز نَه سي .
وجه : (۱) دلته په طَې كولو كي كَمبُوت او زِيَـاتُوب دئ نوځكـه پـه مُعَاشَـرَه كـي چـي كومه مَعرُوف طريقه ده هغه به مُعتَبَرَه وي هغه ډُوډَئ او كپړه بـه وركـوي.او مخكـي دا خبره تېره سوې ده چي لَږ څَه جهالت وي نـو بيـا مَعـرُوف طريقـه مُعتَبَـره وي.او د تَعامُلُ النّاس په وجه جائز ګرزوي (۲) په صَحراَء كي دِرهَم او دِينَـار ګَـم وي نوځكـه هلته د ډُوډَئ او كپړو رِوَاج وي لِهٰذَا پر دغه به فيصـله كيـږي (۳) پـه حـديث كـي دئ چي حضرت ابوهريرة د كپړو او ډُوډَئ په بدله كي بُوزې كَتَلي يعنـي شـپني ئـې كولـه سَمِعتُ اَبَاهُرَيرَةَ يَقُولُ نَشَأتُ يَتِيمًا وَ هَاجَرتُ مِسكِينًا وَ كُنتُ اَجِيرًا لِابنَةِ غَـزوَانَ بِطعَـامِ بَطنِي وَ عَقبَةَ رِجلِي (الف) (ابـن ماجـه شـريف.باب اجـارة الاجيرعلْـي طعـام بطنـه ص۳۵۰نمبر۲۴۴۵) په يوه بَل حديث كي دئ اِنّ مُوسْي عَلَيهِ السّلاَمُ اَجَرَ نَفسَـهُ ثَمَـانِيَ سِنِينَ اَو عَشرًا عَلْي عِفَـةِ فَرجِـهِ وَ طَعَـامِ بَطنِـهِ (ب) (ابـن ماجـه شـريف.باب اجـارة

الاجیرعلْي طعام بطنه ص۳۵۰نمبر۲۴۴۴) په دې حدیث کي دئ چي خپل ځان ئې د ډُوډَئ په بَدلَه کي په اُجرَت ورکړئ وُ.ددې څخه معلوم سو چي شیدې ورکونکې ښځه د ډُوډَئ او کپړو په بَدلَه کي په اُجرَت اِیښوَلائي سي .

فائده : صاحبین فرمائي چي اُجرَت مجهول دئ ځکه دا جواز نَه لري. لېکن ! که چیري په اُجرَت کي دِرهَم مقرر کړي او د دِرهَم په بَدلَه کي ډُوډَئ او کپړه ورکړي نو بیا دا جواز پیدا کوي.یا د کپړې او ډُوډَئ جِنس.نَوع او مِقدَار معلوم کړي نو د اُجرَت د معلومېدو په وجه دا جائز دئ .

لُغَت : کِسوَةٌ : کپړه .

حاشیه : (الف) حضرت ابوهریره فرمائي چي ما رُوزَنَه د یَتِیم وَالِي په حالت کي وکړه او مِسکِین وَم هجرت مي وکړئ او صرف په نَس باندي د اِبنِ غَزوَان اَجِیر وَم (ب) حضرت موسٰي علیه السلام اَتَه کاله یا لَس کاله خپل ځان په اُجرَت ورکړئ وُ د شرمګاه د پاکدامنئ او د نَس په بَدلَه کي .

[۱۲۱۲](۵۷) وَ لَیسَ لِلمُستَأجِرِ اَن یَمنَعَ زَوجَهَا مِن وَطئِهَا

[۱۲۱۳](۵۸) فَاِن حَبلَت کَانَ لَهُم اَن یَفسِخُوا الاِجَارَةَ اِذَا خَافُوا عَلْي الصّبِيِّ مِن لَبَنِهَا .

[۱۲۱۲](۵۷) اودمُستَأجِرلپاره جوازنَه لري چي ددې خَاوَنددوَطِي څخه منع کړي.

وجه : وَطِي کول د مېړه حق دئ او فِطرِي حق ئې دئ نو ځکه صرف په دې وجه چي ښځَه به حَمَل دَارَه سي او ددې شیدې به خرابِ سي په دغه وجه مېړه د هغه ښځې د وَطِي څخه منع کړي کوم چي دده وبَچِي ته شیدې ورکوي ددې څَه ګنجائش نسته .

[۱۲۱۳](۵۸) بیا که چیري دغه ښَځه حامله سوه نودمُستَأجِر لپاره جائزدئ چي اِجَارَه فسخ کړي که چیري پر کِشنِي باندي ددې د شیدو څخه څَه ببره وي .

تشریح : که شیدې ورکونکې ښځه حامله سوه اواَجِیرته دا خطره پیدا سي چي که چیري کِشنَئ دا شیدې خُورِي نو د کِشنِي صِحّت به خراب سي نو په داسي صورت کي دئ دا حق لري چي اِجَارَه فسخ کړي او د یَو بَلِي ښَځِي بندوبَست وکړي.

وجه : چي د نفع په وصولولو کي څَه خَامِي وي نو اِجَارَه ختم کولائي سي.په اَثَرکي دئ چي په نفع اخستلو کي څَه پرېشاني وي نو مځکه په اُجرَت کي داِیښوَلو څخه منع کړې ده سَألتُ رَافِعَ بِنِ خَدِیجٍ عَن کَرَ آءِ الاَرضِ بِالذّهَبِ وَ الوَرَقِ ؟ فَقَالَ لاَ بَأسَ بِهِ اِنّمَا کَانَ النّاسُ یُؤَاجِرُونَ عَلْي عَهدِ رَسُولِ اللهِ عَلْي المَاذِیَانَاتِ وَ اِقبَالِ الجَدَاوِلِ وَ اَشیَآ ءُ مِنَ الزّرعِ فَیَهلِکُ

هْذَا وَ يُسلِمُ هْذَا وَ يُسلِمُ هْذَا وَ يَهلِکُ هْذَا فَلَم يَکُن لِلنّاسِ کَرَ آ ءُ اِلاّ هْذَا فَلِذَالِکَ زَجَرَ عَنهُ فَاَمّـا شَئٌ مَعلُومٌ مَضمُونٌ فَلاَ بَأسَ بِهِ (الف) (مسلم شريف.باب کرآء الارض

حاشيه : (الف) د رَافِع بن خديج څخه د سرُواو سپِينُو زَرُو په بدله كي مځكه په كِرَايَه وركولو په لَړ كـي پوښـتنه وسوه. وفرمائل هيڅ دحرج خبره نَه ده.خلګو دحضور په زمانه كي په اُجرَت اخستل لُوَړځائ او د نَالَئ كِنَارَه او د ګَښت څخه دخاص حِصّي په شرط سره. نو هلاک کېدئ به دا او محفوظ کېدئ بـه هغـه.او محفوظ کېدئ بـه دا او هلاک کېدئ به هغه. نَه به وه دخلګولپاره كِرَايَه مګر دغه. ځکه حضور ددې څخـه منـع وکـړه. پاتـه سـو د معلوم شي په بَدلَه كي نو دا هيڅ دحرج خبره نَه ده .

[١٢١۴](٥٩) وَعَلَيهَا اَن تَصلِحَ طَعَامَ الصّبِيِّ .

بالذهب والورق ج٢ص١١نمبر١٥۴٨\٣٩٥٢) په دې اَثَر كي دئ چي خلګو د نَـالَئ د كِنَارِ والا حِصّه دځان لپـاره د ګَښت حِصّـه مُتَعَيّن كولـه. نوځکـه حضـور د داسـي اُجرَت څخه منع وکړه. البته که د دِرهَم او دَنَانِيرُ په بَدلَه كي ګَښـت پـه اُجـرَت واخلـي نو دا جائز دئ. ددې څخه دا معلوم سو چي که د منافع په وصولولو كي مُشـکلات وي نو اِجَارَه ختم کولائي سي .

[١٢١۴](٥٩) پر دغه ښَځَه لازم دئ د كِشنِي ډُوډَئ بَرَابَرَوَل .

تشريح : شيدې وركونكې ښَځَه د اُجرَت په وجه شيدې خو به حَتمًاوركوي.که و كِشنِي ته د ډُوډَئ ضرورت سو نو ډُوډَئ برابرول او وکشني ته وركول هم ددې پر ذِمّـه ده. په عُرف كي د شيدو سره سره دا دوه كارونه هم په اُجرَت كي شامل وي .

پام لرنه : دا هغه وخت دئ چي دكـار صـراحت او وضـاحت ئـې نَـه وي كـړئ او پـه عُرف كي ډُوډَئ تَيّارَوَل او وركول په اُجرَت كـي شـامل وي. لېکن کـه چيـري د كـار صراحت وسي چي صرف شيدې وركول په اُجرَت کـی شـامل دي. يـا پـه عُـرف كـي ډُوډَئ تَيّارَوَل او وركول پـه اُجـرَت كـي شـامل نَـه وي نـو بيـا دغـه دواړه كارونـه پـه اُجرَت كي نَه دي شامل .

اُصُول : چي د كار صراحت نَه وي سوئ نو عُرف مُعتَبَردئ. وَمَتِّعُوهُنّ عَلْـي المُوسِعِ قَدَرُهُ وَعَلْي المُقتِرِقَدَرُهُ مَتَاعًابِالمَعرُوفِ حَقّاًعَلْي المُحسِنِين(الف) (آيت ٢٣٦ سـورة البقـرة ٢) په دې آيت كې د عُرفِ عام اِعتِبَار كړئ دئ. دغه رنګه چي كله صراحت نَـه وي سوئ نودشيدې وركونكي ښَځِي په باب كي به هم عُرفِ عام مُعتَبَر وي .

لُغَت : تَصلِحُ : اِصلاَح كول.دلته ډُوډَئ تَيّارَوَل ځيني مُرَاد دئ.

حاشيه : (الف) فائده وركړئ وښځو ته پر مالـدار بانـدي دهغـه مناسـب او پـر غريـب بانـدي دهغـه مناسـب فائـده اخستل وركول دئ په معروفَ طريقه سره. داحق دئ پر ښَه كار كونكو باندي .

[۱۲۱۵](۶۰) وَ اِن اَرضَعتَهُ فِي المُدّةِ بِلَبَنِ شَاةٍ فَلاَ اُجرَةَ لَهَا

[۱۲۱۶](۶۱) وَ كُلّ صَانِعٍ لِعَمَلِهِ اَثَرٌ فِي العَينِ كَالقَصّارِ وَ الصّبّاغِ فَلَهُ اَن يَحبِسَ العَينَ بَعدَ الفَ◌َرَاغِ مِن عَمَلِهِ حَتّٰي يَستَوفِيَ الأجرةَ .

[۱۲۱۵](۶۰) او كه وكِشنِي ته په دغه مُدَه كي د بُوزِيِ شيدې وركړې نو د شيدې وركونكي ښَځِي لپاره اُجرَت نسته .

تشريح : مثلاً دټوله كال لپاره ښَځَه دشيدې وركولو لپاره په اُجرَت ونيول او دې ښَځِي د خپلو شيدو وركول پر ځـائ د بُوزې شيدې وركولې نو ودې ته د شيدو وركولو اُجرَت نَه ملاؤيږي .

وجه : اُجرَت خو د خپلو شيدو وركولو وُ د بُوزې دشيدووركولو نَه د وُ. دا خو د كِشنِي مور او پلار هم وركولائي سوې نوځكه دې ته به دشيدو وركولو اُجرَت نَه ملاؤيږي. البته كوم خدمت چې كړئ دئ دهغه اُجرَت به ورته ملاؤسي .

اُصُول : چي د شرط مخالفت وكي نو اُجرَت نَه ورته ملاؤيږي په حديث كي دئ اَلمُسلِمُونَ عِندَ شُرُوطِهِم (الف) (بخاري شريف.نمبر۲۲۷۴)

[۱۲۱۶](۶۱) هر هغه كاريګر چي دهغه د عَمَل اَثَر په عَين كي وي لكه دُوبِي او رنګرېز نو دئ حق لري چي دعَمَل څخه فارغ سي داعَينِي شَئ دځان سره وساتي تر هغه وخت چي اُجرَت وصول كړي .

تشريح : د كوم كوم كاريګر عَمَل چي په عَينِ شِي كي اَثَراَنداز وي لكه د رنګرېز عَمَل چي كپړه په خپله رنګ سره و رنګوي او كپړه رَنګِين سي. يا د دُوبِي عَمَل چي په خپله سُوډَا او صَابُن باندي كپړه صفا كوي او دده د عَمَل اَثَر په كپړو كي ښكاره كيږي.ودارنګه كاريګرانوته حق سته چي كله كار پوره كړي نو داُجرَت داخستلو لپاره هغه شَئ دځان سره وساتي او تر كوم وخت چي اُجرَت وصول نَه كړي تر هغه

[۱۲۱۷](۶۲) وَ مَن لَيسَ لِعَمَلِهِ اَثَرٌ فِي العَينِ فَلَيسَ لَهُ اَن يَحبِسَ العَينَ لِلأجرَةِ كَالحَمّالِ وَ المَلاّحِ .

وخته پوري دي كپړه نَه وركوي .

وجه : مثلاً درنګرېز رنګ خپل دئ او د دُوبِى صَابُن او سُوډَاخپله ده نو ځكه د خپل شِي د منع كولو او دځان سره ساتلو حق لري.او دلته خودا دده شيان دكپړې سره مُبنَتِي دي نو ځكه كپړه هم د ځان سره ساتلائي سي. چي پوره اُجرَت وصول سي .

اُصُول : دا مسئله پر دې اُصُول ده چي خپل شَئ روكاؤوَولائي سي نو ځكه د كوم شِي سره چي هغه مُبنَتَئ وي هغه هم دځان سره اِيښوَلاَئي سي .

حاشيه : (الف) مسلمان دخپلو شرطو پاسبان وي .

[۱۲۱۷](۶۲) او دكوم چا چي په عَينِ شِي كي د عَمَل اَثَر نَه وي نو هغه حق نَه لـري چي عَين شَئ د اُجرَت د وصولئ لپاره رُوګاؤكړي لكه پيټَئ پورته كونكئ اومَلاّح .

تشريح : د كوم چاچي عَمَل او نفع داسي وي چي دده د عَمَل اَثَر په عَينِ شِـي كـي نَـه كيږي. لكه د پيټِي پورته كونكي سړي د عَمَل اَثَر په سـامان كـي نَـه كيـږي. هغـه خـو صرف سامان پورته كئ ددې ځائ څخه هغه بل ځائ ته يوړئ. دده د پورته كېدو اَثَـر په سامان كي نَه ښكاره كيږي. نو ځكه دئ د خپل اُجرَت د وصولولو لپاره پـه قـانوني توګه سامان دځان سره نَه سي اِيښوَلاَئي .

وجه : د پيټِي پورته كونكي خپل يو شَئ د سامان سره نَه دئ مَحبُوس نوځكـه ده تـه د بَل چا دسامان د روكاوولو حق نسته .

پام لرنه : كه اُجرَت ور نَه كړي نو دقاضي په عدالت كي مقدّمـه دائـر كـولائي سـي. البته په دې نن زمان كي په آساني سره قاضي نَـه ملاؤيږي لِهٰذَا كـه چيـري د سـامان دتُلُو وروسـته د اُجـرَت د ملاؤيـدو اُمِيد نَـه وي نـو سـامان دي رَاوَګـرزَوِي چـي خپـل اُجرَت په آسانِي سره وصول كړي .

[۱۲۱۸](۶۳) وَ اِذَا اِشتَرَطَ عَلْي الصّانِعِ اَن يَعمَلَ بِنَفسِـهِ فَلَـيسَ لَـهُ اَن يَستَعمِلَ غَيرَهُ [۱۲۱۹](۶۴) وَ اِن اَطلَقَ لَهُ العَمَلُ فَلَهُ اَن يَسـتَأجِرَ مَـن يَعمَلُهُ .

[۱۲۱۸](۶۳) كه پر كاربګر باندي دا شرط ولګاوئ چي دئ به كار په خپله كـوي نـو دده لپاره جواز نَه لري چي په بَل چائې وكړي .

تشريح : كوم چي كار په كوي هغه دا شرط پر ولګاوئ چي مثلاً دا كار بـه زَيـد كـوي نو اُوس زَيد دا حق نَه لري چي په عُمَر باندي دا كار وكي .

وجه : (۱) د كار كونكي مَهارَت او تجربه په كار كـي ډېـر فـرق راولـي.بعض وخـت خو بَل كاريګر دغه كار نـور خرابـوي نوځكـه كـه چيـري دا شـرط پـر ولګـاوئ چـي فُلانئ سړئ به مثلاً دا كار كـوي نـو دئ بيـا بَـل څـوک نَـه سـي اسـتعمالولائي (۲) پـه اَثَركي ددې ثبوت سته عَنِ الشّيبَانِيِّ عَنِ الشّعَبِيِّ قَالَ هُوَ ضَامِنٌ فِيمَا خَالَفَ وَ لَيسَ عَلَيـهِ كَرَ آ ءٌ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب الكري يتعديْ بـه ج۸ص۲۱۳نمبـر ۱۴۹۳۱) په دې اَثَر كي دئ چي د شرط په مخالفت كولو سره اَجِير ضَامِن ګـرزي. او حـديث مخكي تېر سوئ دئ اَلمُسلِمُونَ عِنـدَ شُرُوطِهِم (ب) (بخـاري شـريف. نمبـر۲۲۷۴) نوځكه په بَل باندي كار نَه سي كولائي .

اُصُول : په يوه كاريګر اوبَل كاريګركي دمَهارَت ډېرفرق وي نوځكه دامُعتَبَر دئ.

[۱۲۱۹](۶۴) او که د اَجِیر لپاره عَمَل مُطلق پرېښوئ نو دده لپاره جائز دئ چي نوکَر کښيږدي هغه چي دغه کار وکي .

تشریح : که دا رنګه شرط نَه ولګاوئ چي مثلاً زَید به دا کار کوي نو د اَجِیرلپاره جائزدئ چي په بَل چا باندي کار وکي و مُستَأجِر ته نفع سپُرد کړي .

حاشيه : (الف) حضرت شَعَبِي وفرمائل چي اَجِيرضَامِن دئ که مُخَالَفَت وکئ اوپرمُستَأجِرباندي کِرَايَه نسته (ب) مُسلمان د خپلو شرطو پاسبان وي .

[۱۲۲۰](۶۵) وَ اِذَا اِختَلَفَ الخَيّاطُ وَ الصّبّاغُ وَ صَاحِبُ الثّوبِ فَقَالَ صَاحِبُ الثّوبِ لِلخَيّاطِ اَمَرتُکَ اَن تعمَلَهُ قُبَآ ءً وَ قَالَ الخَيّاطُ قَمِيصًا اَو قَالَ صَاحِبُ الثّوبِ لِلصّبّاغِ اَمَرتُکَ اَن تَصبَغَهُ اَحمَرَ فَصَبَغتَهُ اَصفَرَ فَالقَولُ قَولُ صَاحِبِ الثّوبِ مَعَ يَمِينِهِ فَاِن حَلَفَ فَالخَيّاطُ ضَامِنٌ .

وجه : چي يو کار کونکي خاص نَه کړئ نو ددې مطلب دادئ چي مُستَأجِر ښَه کار کول غُوَاړِي که هر څوک چي هغه کار وکړي.نوځکه که چيري اَجِير په خپله هغه کار وکي نو هم صحيح دئ او که په بَل چا باندي وکي نو هم صحيح دئ.هغه چې څَه وخت حواله کړي نو بيا د اُجرَت مُستَحِق ګرزي .

اُصُول : چي مقصدئې صرف کار کول وي نوپه هرچا باندي هغه کار کولائي سي .

لُغَت : اَطلَقَ : مُطلق ئې پرېښوئ.قيدئې وَنَه لګاوئ .

[۱۲۲۰](۶۵) که اختلاف راغلئ د دَرزِي اورَنګرېز اود کپړې والا تر مينځ.د کپړې والا و دَرزِي ته وويل چي ما تاته حُکم درکړئ وُ چي ددې څخه جُبّه جوړه کړه او دَرزِي وويل چي تا دقميص د ويلي وُ.يا د کپړې والا و رَنګرېز ته وويل چي ما تاته حُکم کړئ وُ چي دې ته سُر رنګ ورکه.او تا دې ته ژَړ رنګ ورکړئ دئ نو د قَسَم سره د کپړې والا قول مُعتَبَر دئ. که چيري قَسَم وَخُوَاړَئ نو دَرزِي به ضَامِن وي .

تشريح : چي د دَرزِي او کپړې والا ترمينځ اختلاف راسي مثلاً د کپړې والا وائي چي ما تاته د جُبّې د جوړولو ويلي وُ او تا قَمِيص جوړ کړئ.او دَرزِي وائي چي تا ماته د قميص جوړولو د ويلي وُ.او د دَرزِي سره ګواه نسته او نَه د يوه دخبري د تصديق لپاره يو علامت اوقرينه سته چي د کوم يوه خبره ومنو ؟ په دې لَړ کي فرمائي چي دکپړې والا خبره به سره د قَسَم منل کيږي.دغه رنګه د کپړې والا او رنګرېز تر مينځ اِختِلاَف راغلئ.دکپړې والاوائي چي د سُرخ رنګ د ماتاته ويلي وُ لېکن تا ژَړ رنګ ورکړئ دئ او رنګرېز وائي چي تا ماته د ژَړ رنګ د ويلي وُ.او د رنګرېز سره ګواه نسته او هسي د يوه دخبري د تصديق لپاره هيڅ رنګه علامت هم نسته نو دکپړې والا خبره به سره د قَسَم منل کيږي .

وجه : (۱) د کپړې د جوړولو او رنګولو اِجَازَت د کپړې د مَالِک لخوا ورته کيږي نوځکه هغه ته بنَه معلوم وي چي د کوم کار اِجَازَت ئې ورکړئ دئ نوځکه دده خبره به منل کيږي.په اَثَر کي دئ عَنِ الثّورِيّ فِي رَجُلٍ دَفَعَ اِلْي آخَرَ مَالاً مُضَارَبَةً فَقَالَ صَاحِبُ المَالِ بِالثّلُثِ وَ قَالَ الآخَرُ بِالنّصفِ قَالَ اَلقَولُ قَولُ صَاحِبِ المَالِ اِلاّ اَن يَأتِيَ الآخَرُ بَيّنَةً (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب اختلاف المضاربين اذا ضرب مضاربة به مرة ج ۸ ص۲۵۲نمبر۱۵۱۰۴) په دې اَثَر کې د صَاحِبِ مَال خبره منلې ده نو ځکه په اِجَارَه کي به هم د صَاحِبِ مَال خبره منل کيږي (۲) دَرزِي او رنګرېز مُدّعِيَان دي.هغه دَعوْي کوي چي زوما کار صحيح دئ بايد ماته اُجرَت ملاؤسي او دکپړې والا د اُجرَت ورکولو څخه انکار کوي نو ځکه دئ مُنکِردئ نوځکه پر ده باندي کواه پېشول په کار دئ او دئ هغه نَه لري.او دکپړې والا مُدّعْي عَلَيه دئ نوځکه دده خبره به سره دقَسَم منل کيږي.نوکه چيري هغه قَسَم وَخُورِي نو دَرزِي او رنګرېز به د نُقصَان ضَامِن وي.په حديث کي دئ کَتَبَ اِبنُ عَبّاسٍ اِلَيّ اَنّ النّبِيّ قَضْي بِاليَمِينِ عَلْي المُدّعْي عَلَيهِ (ب) (بخاري شريف.باب اليمين علْي المدعْي عليه فِي الأمور والحدودص۳۶۶نمبر۲۶۶۸) په دې حديث کي دئ چي پر مُدّعْي عَلَيه او مُنکِرباندي قَسَم دئ.دهغه په وجه به د دُوئي خبره منل کيږي .

حاشيه : (الف) حضرت ثورِي وفرمائل چي يَوچا بل چا ته د مُضَارَبَت په توګه مال ورکړئ.نو دمال والا وويل چي په دَرَيَمَه مِي درکړئ دئ او مُضَارِب وويل چي په نِيمَايَه دي راکړئ دئ نو د مَال والا قول مُعتَبَر دئ لېکن که چيري هغه بَل ګواه پېش کړل (ب) حضرت اِبنِ عَبّاس مَاتَه خَط وليکئ چي حضور پر مُدّعْي عَلَيه باندي د قَسَم خُوَړَلُو فيصله وکړه .

[۱۲۲۱](۶۶) وَ اِن قَالَ صَاحِبُ الثّوبِ عَمَلتَهُ لِي بِغَيرِ اُجرَةٍ وَ قَالَ الصّانِعُ بِاُجرَةٍ فَالقَولُ قَولُ صَاحِبِ الثّوبِ مَعَ يَمِينِهِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ .

[۱۲۲۱](۶۶) که دکپړې والا وويل چي تا زوما لپاره دا کار بېله اُجرَت کړئ دئ او کاربګروويل چي د اُجرَت سره مِي کړئ دئ نو سره د قَسَم به د کپړې والا قول مُعتَبَر وي .

تشريح : د کپړې والا وائي تا زوما لپاره دا کار بېله اُجرَت کړئ دئ او کار کونکئ وائي چي په اُجرَت مِي دا کار کړئ دئ مُفت مِي نَه دئ کړئ.اوداَجِيرسره نَه يو ګواه سته نَه يوه قَرِينَه نو دامام ابوحنيفه په نېز به د کپړې والا خبره منل کيږي د قَسَم سره او اَجِير ته به اُجرَت نَه ملاؤيږي .

وجه : (۱) اَجِير کار کړئ دئ د اُجرَت دعوْي کوي نوځکه دئ مُدّعِي دئ او دکپړې والا ددې څخه انکار کوي نو ځکه دکپړې والا مُنکِردئ او قاعده مخکي تېره سوې ده

چي د مُدّعِي سره ګواه نَه وي نودمُنکِرخبره به سره دقَسَم منل کيږي.نوځکه دکېږي والا خبره به سره دقَسَم منل کيږي (٢) مخته د بخاري د تېرسوي حديث سره سره دا حديث هم ددې ثبوت دئ عَنَ عمربِن شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ اَن رَسُولَ اللهِ قَالَ اَلبَيِّنَةُ عَلْي مَن اِدّعْي وَ اليَمِينُ عَلْي مَن اَنکَرَ اِلاّ فِي القَسَامَةِ (الف) (دارقطني کتاب الحدودوالديات ج٣ص٨٨نمبر٣١٦٦)

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل چي بَيِّنَه پر هغه چا باندي ده کوم چاچي دَعوْي کړې ده او قَسَم پر هغه باندي دئ کوم چاچي اِنکَار وکئ مګر په قَسَامَت کي .

[١٢٢٢](٦٧) وَ قَالَ اَبُويُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي اِن کَانَ حَرِيفًا فَلَهُ الأجرَةُ وَ اِن لَم يَکُن حَرِيفًا لَهُ فَلاَ اُجرَةَ لَهُ [١٢٢٣](٦٨) وَ قَالَ مُحَمّدٌ رَحِمَهُ الله تَعَالْي اِن کَانَ الصّانِعُ مُبتَذِلاً لِهْذِهِ الصّنعَةِ بِالأجرَةِ فَالقَولُ قَولُهُ مَعَ يَمِينِهِ اَنّهُ عَمِلَهُ بِالأجرَةِ .

[١٢٢٢](٦٧) او امام ابويوسف فرمائي که چيري پېشه دغه وي نو بيا دده لپاره اُجرَت سته او که پېشه دغه نَه وي نو بيا دده لپاره اُجرَت نسته .

تشريح : دده پېشه دغه وي ددې مطلب دادئ چي دئ دغه کار کوي.او يو مطلب ئې دا هم دئ چي د کېږې والا ته يَو وار مخکي هم دغه کار په اُجرَت باندي ورکړئ ؤ نو ځکه د اُجرَت والا دغه خيال ؤ چي د تېر وار په شَان به ددې واري هم اُجرَت ملاؤيږي .

وجه : چي پېشه ئې دغه وي نو ددې مطلب دادئ چي دئ ګرسره په اُجرَت باندي کار کوي.يا مخکې يَو وار په اُجرَت کار ورکړئ دئ نو دا هم دد بِدليل دئ چي دا به هم په اُجرَت وي.نوځکه د دې ظاهري او ښکاره دليل په وجه به ده ته اُجرَت ملاؤيږي .

اُصُول : دغه ئې پېشه وي دا د اُجرَت ظاهري علامت دئ .

لُغَت : حَرِيفًا : پېشَه وَر .

[١٢٢٣](٦٨) امام محمدوفرمائل که چيري کاريګر په کار کولو کي په اُجرَت سره مشهور ؤ نو بيا به د کاريګرخبره سره د قَسَم منل کيږي چي ده په اُجرَت باندي کار کړئ دئ .

تشريح:دامام محمدپه نېزکه کاريګرپه اُجرَت سره په کارکولوکي شُهرَت دَرلُودئ نوبه دده خبره سره دقَسَم منل کيږي چي دغه کارئې په اُجرَت باندي کړئ دئ .

وجه : شُهرَت ددې خبري علامت دئ چي دغه کار به هم په اُجرَت کړئ دئ.مُفت ئې

[۱۲۲۴](۶۹) وَ الوَاجِبُ فِي الاِجَارَةِ الفَاسِدَةِ أُجرَةُ المِثلِ لاَ يَتَجَاوَزُ بِهِ المُسَمّْي .

نَه دئ کړئ نوځکه دده خبره به سره د قَسَم منل کيږي .
اُصُول : په پيشه کي شُهرَت د کار په اُجرَت کولو علامَه ده .
[۱۲۲۴](۶۹) په اِجَارَه فَاسِدَه کي اُجرَتِ مثل واجب دئ ليکن د معلوم سوي اُجرَت څخه به زِيَات نَه وي .
تشريح : په يو وجه اِجَارَه فاسد سوه نو اُوس چي په بَازَار کي ددې کار کوم اُجرَت وي هغه اُجرَت به و اَجِير ته ملاوئيږي.ودغه اُجرَت ته اُجرَتِ مِثل وائي .
وجه : چي اِجَارَه فاسد سوه نو ګواکه د دُوئي تر ميان عَقدِاِجَارَه سوئ نَه دئ. نو ځکه اُوس به دبَازَار په عُرف سره اُجرَت طې کوي.او اُجرَتِ مِثل به لازم سي.ليکن دلته خو اَجِير مخکي په يَوَه مُتَعَيّن اُجرَت سره راضي سوئ دئ نوځکه که چيري اُجرَتِ مِثل د مُتَعَيّن سوي اُجرَت څخه زِيَات وي نو به اُجرَتِ مِثل نَه ورکوي بلکه مُتَعَيّن کړئ اُجرَت به ورکوي. ځکه چي اَجِير په دې کَم اُجرَت سره راضي سوئ دئ.د اِجَارَه فاسدې په وخت کي د اُجرَتِ مِثل دليل هغه حديث دئ چي څو واره تېرسوئ دئ وَ اِکتَرْي الحَسَنُ مِن عَبدِاللهِ بِنِ مَردَاسٍ حِمَارًا فَقَالَ بِکَم ؟ قَالَ بِدَانِقَينِ فَرَکِبَهُ ثُمّ جَآءَ مَرّةً اُخرْي فَقَالَ اَلحِمَارُ اَلحِمَارُ فَرَکِبَهُ وَلَم يُشَارِطهُ فَبَعَثَ اِلَيهِ بِنِصفِ دِرهَمٍ (الف)(بخاري شريف.باب ما اجرْي امرالامصار علي مايتعارفون بينهم في البيوع والاجارة ص۲۹۴نمبر۲۲۱۰) او په آيت کي راغلي دي وَمَن کَانَ فَقِيرًا فَليَأکُل بِالمَعرُوفِ (آيت ۶ سورة النسآء ۴)ددې څخه معلوم سو

[۱۲۲۵](۷۰) وَ اِذَا قَبِضَ المُستَأجِرُ الدّارَ فَعَلَيهِ الأجرَةُ وَ اِن لَم يَسكُنهَا فَاِن غَصَبَهَا غَاصِبٌ مِن يَدِهِ سَقَطَتِ الأجرَةُ .

چي په کوم کوم ځائ کي اُجرَت نَه وي طې سوئ نو بيا چي کومه معلومه طريقه ده هغه اُجرَت به ورته ملاوئيږي چي اُجرَتِ مِثل ورته وائي .
فائده : امام شافعي فرمائي چي اِجَارَه فاسد سي نو به اُجرَتِ مِثل لازم وي که څَه هم د مُتَعَيّن سوي اُجرَت څخه زِيَات وي .
وجه : ځکه چي اُجرَتِ مِثل اصل وګرزېدئ نوچي څونه وي هغه به ملاوئيږي .

حاشيه : (الف) حضرت حَسَن دعبدالله بن مرداس څخه خَر په کِرَايَه واخستئ او پوښتنه وکړه چي څومره کِرَايَه ئې ده؟وويل چي دُوَه دَانِق نوپرهغه باندي سپُورسوبيا دُوَم وار راغلئ او وويل چي خَر مِي په کار دئ.نو پرهغه باندي سپُور سواو دکِرَايې شرط ئې ونه کړئ بيائېعبدالله بن مِردَاس ته نِيم دِرهَم ورواستاوئ .

[۱۲۲۵](۷۰) که مُستَأجِر پر مکان باندي قبضه وکړه نو پر ده باندي اُجرَت لازم دئ که ځَه هم په هغه کي نَه وسيږي. بيا که چيري هغه مکان يَوَه غَاصِب دده د لاَس څخه غَصب کړئ نو اُجرَت به ساقط سي .

وجه : (۱) په مکان کي مُستَأجِر يعني کِرَايَه دَار وسيږي که نَه وسيږي خو که د کِرَايې پر مکان ئې قبضه وکړه نو پر ده باندي اُجرَت لازم سو.ځکه چي د مکان مَالِک اُوس ددې څخه هيڅ ډَوَل فائده نَه اَخلِي نو ځکه پر مُستَأجِر باندي اُجرَت لازم دئ (۲) په اَثَر کي ددې ثبوت سته عَن اِبنِ طَاؤُسٍ قَالَ کَانَ اَبِي يُوجِبُ الکَرَ آ ءَ اِذَا خَرَجَ الرّجُلُ اِلْي مَکّةَ وَ اِن مَاتَ قَبلَ اَن يَبلُغَ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب الرجل يکري الدّابّ ّة فيموت في بعض الطريق ج۸ص۲۱۳نمبر۱۴۹۳۳) په دې اَثَرکي دئ چي تر مَکّې مُکَرّمَې پورې حَيوَان په کِرَايَه ونيوئ او هغه په لاَرَه کي مَړ سو خو بيائې هم کِرَايَه پر لازمول. نوځکه چي پر مکان باندي قبضه وکړي بَس د هغه وخت څخه د کِرايې لُزُوم شروع سو .

اوکه په دې مينځ کي يَوچَاغَصَب کړئ نو اُوس خودمُستَأجِر په قبضه کي نَه سوپاته

[۱۲۲۶](۷۱) وَ اِن وَجَدَ بِهَا عَيبٌ يَضُرّ بِالسّکنْي فَلَهُ الفَسخُ .

نو ځکه په هغونه اَندَازَه اُجرَت به ساقط سي. په اَثَرکي دئ عَنِ الثّورِيّ فِي رَجُلٍ اِکتَرْي فَمَاتَ المُکتَرِيُ فِي بَعضِ الطّرِيقِ قَالَ هُوَ بِالحِسَابِ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب الرجل يکري الدابّةَ فيموت في بعض الطريق ج۸ص۲۱۳ نمبر ۱۴۹۳۵) په دې اَثَرکي دئ چي په مينځ کي سړئ مَړ سي نو په هغه خپل حساب سره به کِرَايَه لازم وي.دغه رنګه که يَوچَا د کِرَايَه دَار څخه مکان غَصب کړئ نو چي تر څو پورې غَصَب کړئ وي هغونه کِرَايَه به ساقط سي .

اُصُول : صرف په قبضه سره د کِرَايې لُزُوم شروع کيږي .

[۱۲۲۶](۷۱) او که په مکان کي داسي عَيب وموندئ چي د وُسېدَلُو لپاره نُقصَان دِه دئ نو اَجِير د فسخ حق لري .

تشريح : مثلاً مکان ئې په کِرَايَه ونيوئ لېکن په مکان کي داسي عَيب راغلئ چي په هغه کي وُسېدَل مُشکِل سو مثلاً د مکان دېوَال وَنَړېدَئ نواَجِير دا حق لري چي اِجَارَه فسخ کړي .

وجه : (۱) چي فائده نَه سي ځيني اَخستَلاَئي نو اَجِير بيا دا اِجَارَه څَه کوي ؟ لِهْذَا فَسخ کولائي سي (۲) په حديث کي دئ چي په مَبِيع کي عَيب وي نو بَيعَ وَاپَس ختم کولائي سی نو دغه رنګه چي د کِرَايې په مکان کي عَيب وي نو اِجَارَه هم فسخ کولائي

حاشيه : (الف) حضرت اِبنِ طَاؤس فرمائي چي زُومَا پُلاَر کِرَايَه واجبول چي يَوڅوک به د مَکّې په اِرَادَه رَاوَوَاتَئ او هلته د رسېدو څخه مخکي به وَفَات سو .

سي.حديث دئ عَن عَائِشَةَ اَنّ رَجُلاً اِبتَاعَ غُلاَمًا فَاَقَامَ عِندَهُ مَاشَـآ ءَ اللّٰهُ اَن يُقِيمَ ثُمّ وَجَدَ بِهِ عَيبًا فَخَاصَمَهُ اِلْي النّبِيّ فَرَدّهُ عَلَيهِ فَقَالَ الرّجُلُ يَارَسُولَ الله ! قَد اِشتَغَلَ غُلاَمِي فَقَالَ رَسُولُ اللهِ اَلخِرَاجُ بِالضّمَانِ (ب) (ابوداؤدشريف.باب فيمن

حاشيه : (الف) حضرت ثورِي وفرمائل چي سړئ ئې په كِرَايَه ونيسي. او په كِرَايَه نيونكئ په لاَرَه كي وَفَات سي نو په حساب سره كِرَايَه واجب ده (ب) يوه سړي غُلاَم خرڅ كړئ.نو څَه ورځي غُلاَم دده سره پاته سو بيا مُشتَرِي په هغه كي عَيب وموندئ.نوحضور ته فيصله رَاوړه.حضور غُلاَم وبَائِع ته وَاپَس كړئ.بائع وويل يَارَسُولَ اللهِ ! زوما غُلاَم ئې په قَرض كي مُبتَلآء كړئ دئ نو حضور وفرمائل خِرَاج د ضَمان په بَدلَه كي راځي .

[١٢٢٧](٧٢) وَ اِذَا خَرَبَتِ الدّارُ اَو اِنقَطَعَ شُربُ الضّيعَةِ اَو اِنقَطَعَ المَآ ءُ عَنِ الرّحْي اِنفَسَخَتِ الاِجَارَةُ .

اشترْي عبدا فاستعمله ثم وجدبه عيبًا ص١٣٩نمبر٣٥١٠) په دې حديث كي دئ چي په غُلاَم كې عيب وموندئ نوحضور وبَائِع ته بېرته وَاپَس وركړئ.دغه رنګه چي په شَيِ مُستَأجَركي عَيب وي چي دهغه په وجه فائده اخستل مُشكل وي نو اِجَارَه فسخ كولائي سي.دحديث څخه دا هم معلوم سو چي څونه فائده ئې ځيني اخستې ده دهغونه وخت كِرَايَه به وركوي.ځكه چي د غُلاَم مَالِک وويل چي زوما غُلاَم ئې په كار كي استعمال كړئ دئ نو حضور دهغه په جواب كي وفرمائل اَلخِرَاجُ بِالضّمَانِ يعني چي څونه كار ئې ځيني اخستئ دئ هغونه كِرَايَه او ضَمَان بايد ورته ملاؤ سي .

اُصُول : د ډېر عَيب په وجه اِجَارَه فاسدولائي سي .

پام لرنه : دا هغه وخت دئ چي مُستَأجِر په دغه عَيب باندي راضي نَه وي.كه عَيب وليدئ اوبيائې هم په كِرَايَه ونيوئ يا چي كله عَيب پكښي پيدا سو او ده د رضامندئ اِظهَار وكئ او بيا اِجَارَه فاسدول وَغُوُارِي نو نَه سي فاسدولائي .

[١٢٢٧](٧٢) چي مكان وَنَړِيږِي يا دمځكي اُوبَه ختم سي يا د جِيرَندِي اُوبَه ختم سي نو اِجَارَه به فَسخ سي .

تشريح : په تېره مسئله كي دا وُ چي شَيِ مُستَأجَر موجود دئ لېكن په هغه كي داسي عيب پيداسو چي دهغه څخه اِستِفَادَه كول مُشكل سو.او په دې مسئله كي دادئ چي شَيِ مُستَأجَر دومره وَنَړېدَئ او خراب سو چي ګواكه ختم سو.مثلاً مكان وَنَړِېدَئ.په مځكه كي د اُوبُو د رَاتَګ لاَرَه بند سوه يا د جِيرَندِي څخه اُوبَه راتلې هغه بالكليه ختم سوې چي دهغه په وجه اُوس ګَټنت نَه سي كېدلائي.نوځكه اِجَارَه به په خپله فَسخ سي .

[١٢٢٨](٧٣) وَ اِذَا مَاتَ اَحَدُ المُتَعَاقِدَينِ وَ قَد عَقَدَ الاِجَارَةَ لِنَفسِهِ اِنفَسَخَتِ الاِجَارَةُ وَ اِن كَانَ عَقَدَهَا لِغَيرِهِ لَم يَنفَسِخ .

وجه : (١) چي منافع نَه سي حاصلېدلائي نو اُوس كه اِجَارَه برقراره پاتـه وي نـو څَـه فائده ؟ لِهٰذَا اِجَارَه به فَسخ سي (٢) مختـه د ابوداؤدشـريف پـه حـديث نمبـر ٣٥١٠ كـي راغلي وُ چي د عَيب په وجه اِجَارَه فسخ كولائي سي او دلته خو شَـئِ مُستَأجَر بالكليـه ختم سو نوځكه اِجَارَه به په خپله فسخ سي .

فائده : د بعض امامانو رأيـه داده چـي اِجَـارَه پـه خپلـه نَـه فسـخ كيږي.البتـه پـه داسـي صورت كي به د اِجَارې د فسخ كولو حقداره وي .

لُغَت : خَرَبَت : نَړېدَل.خرابېدَل. شُربٌ : د اُوبُو حَق. ضَيعَةٌ : د كَښت مځكه.رَحْي :پَن چَكَئ.جِيرَندَه .

[١٢٢٨](٧٣) كه د مُتَعَاقِدَينُ څخه هسي يَو مَړ سي او حال دا وُ چي اِجَـارَه ئـې دځـان لپاره اخستې وه نو اِجَارَه به فسخ سي او كه عَقد دبَل چالپاره كړئ وُ نو نَه فسخ كيږي .

تشريح : مُستَأجِر دځان لپاره عَقدِاِجَارَه كړې وه.دبَل چالپاره په حَيث د وَكِيل يـا وَصِـي عَقدِاِجَارَه نَه وه كړې او اَجِير وفات سو نوعَقدِ اِجَارَه به فسخ سي .

وجه : (١) مُستَأجِر دځان لپاره مَنفَعَت اخستئ وُ اُوس مُستَأجِر په دُنيا كي نَـه سـو پاتـه نو مَنفَعَت به څوک اخلي ؟ نوځكه اِجَارَه به فسخ سـي.دغه رنګه اَجِير مـزدور وويـل چي دا مزدوري زَه په خپله كوم او دئ په دُنيا كي نَـه سـو پاتـه نـو اُوس بـه مـزدوري څوک كوي ؟ بَل څوک دمزدوري حقداره نَه دئ. نوځكه اِجَـارَه بـه فسـخ سـي (٢) پـه حديث كي و دې ته اِشَارَه سوې ده عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنّ رَسُولَ اللهِ قَالَ اِذَا مَـاتَ الاِنسَـانُ اِنقَطَعَ عَنهُ عَمَلُهُ اِلاّ مِن ثَلْثَةٍ اِلاّ مِن صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ اَو عِلمٍ يُنتَفَعُ بِهِ اَو

[١٢٢٩](٧٤) و يَصِحّ شَرطُ الخِيَارِ فِي الاِجَارَةِ كَمَا فِي البَيعِ .

وَلَدٍ صَالِحٍ يَدعُو لَهُ (الف) (مسلم شريف.باب مايلحق الانسـان مـن الثـوب بعـد وفاتـه ص٤١نمبر١٦٣١ كتاب الوصية) ددې حديث څخه معلوم سوچي انسان مَړسي نو دده ذَاتِي معاملات ختم سي.نوځكه اِجَاره فسخ كيږي .

او كه د وكِيل يا وَصِي يـا اَمِيرُالمـؤمِنِين پـه حيـث د بَـل چالپـاره اِجَـارَه وكـړه او هغـه خلګ ژُوَندِي دي البته په خپله وَكِيل.وَصِـي يـا اَمِيرُالمُـؤمِنِين وفـات سـو نـو اِجَـارَه بـه برقراره پاته وي .

وجه : (١) ځكه چي دكوم چالپاره چي اِجَارَه كـړې وه هغـه موجـود دئ نوهغـه پـه خپلـه د اِجَارې معاملات طې كولائي سي.لِهٰذَا اِجَارَه به بـاقي پاتـه وي (٢) پـه حـديث كـي دئ چـي حضـور د اَهلِ خَيبَر سره د اَمِير په حَيث اِجَارَه كړې وه نوځكه دحضور د وِصَـال وروسـته دحضرت عُمَر تر ژُوَندَه پوري هغه اِجَارَه بر قراره پاته وه.حضرت عُمَـر اَهلِ خَيبَـر مقـامِ اَرِيحَآء ته جلا وَطَن كړل هغه د دُوئي سره كړې مُعَاهَده ئې ختم كـړل. پـه اَثَركـي دئ قَـالَ

اِبنُ عُمَرَ اَعطٰي النّبِيّﷺ خَيبَرَ بِالشّطرِ فَكَانَ ذَالِکَ عَلٰي عَهدِ النّبِيِّ وَ اَبِي بَكرٍ وَ صَدرًا مِن خِلاَفَةِ عُمَرَ وَ لَم يَذكُر اَنّ اَبَابَكرٍ جَدّدَ الاِجَارَةَ بَعدَ مَا قُبِضَ النّبِیّ (ب) (بخاري شريف.باب اذا استأجر ارضًا فمات احدهماص٣٠٥ نمبر٢٢٨٥) په دې اَثَر كي دئ چي دحضور د وفات وروسته هم د اَهلِ خَيبَر اِجَارَه برقراره پاته وه.ځکه چي حضورﷺ د اميرالمؤمنين په حيث دا اِجَارَه کړې وه .

[١٢٢٩](٧۴) او صحيح دئ په اِجَارَه كي خِيَارِشَرط لکه څَه رنګه چي صحيح دئ په بيع کي .

حاشيه : (الف) چي كله انسان مَړسي نو دده اَعمَال مُنقَطِع سي مګر درې اَعمَالَ نَه مُنقَطِع كيږي.مګرصدقه جَارِيَه يا علم چي خلګ فائده ځيني واخلي يا نيک اَولاَد چي دده لپاره دُعَآء كوي (ب) حضور خَيبَر په نِيمَئ اِجَارَه ورکړئ ؤ نو دا دحضور.ابوبكر او د عُمَرد خِلاَفَت په شروع كي پاته ؤ.او چا داسي تَذكِرَه نَه ده کړې چي ابوبكر دحضور د وَفَات وروسته د اِجَارې تَجدِيد کړئ وي .

[١٢٣٠](٧٥) وَ تَنفَسِخُ الاِجَارَةُ بِالأَعذَارِ .

تشريح : عَقدِاِجَارَه ئې وکړه بيائې وويل چي ماته درې ورځې اِختِيَار راكه.زه سوچ كوم چي زه دا اِجَارَه قائم وساتم يا نَه.نوداسي خِيَارِشَرط اخستلائي سي .

وجه : (١) دبيع كولو وروسته خِيَارِشَرط اخستلائي سي نو اِجَارَه هم يَو عَقددئ نوځکه په دې كي هم خِيَارِشَرط اخستلائي سي (٢) د بيع لپاره د خِيَارِشَرط دليل دا حديث دئ عَن اِبنِ عُمَرَعَنِ النّبِيِّﷺ قَالَ اِنّ المُتَبَايِعَينِ بِالخِيَارِ فِي بَيعِهِمَا مَا لَم يَتَفَرّقَا (الف) (بخاري شريف.باب كم يجوزالخيارص٢٨٣نمبر٢١٠٧\مسلم شريف.باب ثبوت خيارالمجلس للمتبايعين ج٢ص۶نمبر ١۵٣١) او په دارقطني كي دئ عَن اِبنِ عُمَرَعَنِ النّبِيِّﷺ قَالَ اَلخِيَارُ ثَلْثَةَ اَيّامٍ (ب) (دارقطني. كتاب البيوع ج٣ص۴٨نمبر٢٩٩٣) ددې حديث څخه معلوم سو چي وبائع او مُشتَرِي ته د درو ورځو اِختِيَار اخستلو حق سته.نوځکه په اِجَارَه كي به هم تر درو ورځو پوري د خِيَارِشَرط اخستلو اِختِيَار وي .

[١٢٣٠](٧٥) او اِجَارَه به فسخ سي د عُذرُونُو په وجه .

تشريح : مثلاً مُستَأجِر په كِرَايَه باندي دوكان ونيوئ اُوس د دُوكان برقراره ساتلو لپاره رَقَم يعني پيسې ختم سوې كه چيري دُوكان دغه رنګه په كرايه باندي برقراره ساتي نو دمُشَقّتِ شَدِيدَه خطره ده.د داسي مُشَقّتِ شَدِيدَې په وخت كي اِجَارَه ختميږي چي انسان د داسي سخت تكليف څخه بَچ کړي .

وجه : (١) په حديث كي دئ عَن اَبِي سَعِيدِالخُدرِيِّ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺ قَالَ لاَضَرَرَ وَ لاَضِرَارَ مَن ضَارَ ضَرّهُ اللهُ وَ مَن شَاقَ شَقّ اللهُ عَلَيهِ (ج) (دارقطني.كتاب البيوع

حاشيه : (الف) حضوروفرمائل وبائع او مُشتَرِي ته په بيع كي خِيَارِشَرط سته ترڅوچي دُوَاړَه ځله جلا سوي نَه وي (ب) حضوروفرمائل خِيَارِشَرط درې ورځې وي (ج) حضور وفرمائل مَه نُقصَان وركوه مَه نُقصَان پورته

کوه.کوم چاچي نُقصَان ورکړئ الله به هغه ته نُقصَان ورکړي.کوم چاچي څوک په تکليف کي واچاوئ نو الله تَعَالٰي به هغه په تکليف کي واچوي .

[۱۲۳۱](۷۶) کَمَن اِستَأجَرَ دُکَّا نًا فِي السّوقِ لِيَتّجِرَ فِيهِ فَذَهَبَ مَا لُهُ .

ج۳ص۶۴نمبر۳۰۶۰) ددې حديث څخه معلوم سوچي بلاوجه بَل چا ته نُقصَان نَه دئ رسول په کار او نَه په مُشَقّت کي مُبتلآء کول په کار دئ.اومُستَأجِرخو دکرايې په وجه په ناګهاني مُشَقّت کي مُبتَلآء سو نوځکه اِجَارَه به فسخ سي (۲) په يَوبَل حديث کي دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ مَن اَقَالَ مُسلِمًا اَقَالَهُ اللهُ عَثرَتَهُ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في فضل الاقالة ص۱۳۴نمبر۳۴۶۰) په دې حديث کي دئ چي د بيع کولو وروسته هغه بېرته وَاپَس واخلي او اِقَالَه وکړي نو الله تعالٰي به دهغه ګناهونه ورمعاف کړي.دغه رنګه چي دمجبورئ په وخت کي د اِجَارې د فسخ کولو ګنجائش ورکړي نو الله تعالٰي به دده ګناهونه ورمعاف کړي .

[۱۲۳۱](۷۶) لکه دا چي په بَازَار کي د تِجَارَت لپاره دُوکان په کِرَايَه ونيسي بيا دده مال ضائع سو .

تشريح : په بَازَار کې دوکان په کِرَايَه ونيوئ چي تِجَارَت به پکښي کوي لېکن وروسته د تِجَارَت لپاره چي کوم مال پروت وُ هغه مال ضائع سو.اُوس مجبوره دئ تِجَارَت نَه سي کولائي.نوکه چيري اُوس هم په کِرَايَه باندي دوکان وساتي نو خامخا بلاوجه به پر مُستأجِرباندي کِرَايَه چَړَاوُوي. لِهٰذَا په داسي صورت کي اِجَارَه فسخ کولائي سي .

پام لرنه : که چيري عُذر پَټ وي وخلګو ته نَه وي معلوم.نو دقاضي په ذريعه دي اِجَارَه ختم کړي په خپله اِجَارَه نَه سي ختم کولائي. اوکه چيري عُذربښکاره وي او ټوله ويني چي مُستَأجِرمجبوره سو نو بيا په خپله هم اِجَارَه ختم کولائي سي . (وجه لوړه تېره سوې ده)

حاشيه : (الف) کوم چاچي د مسلمان سره اِقَالَه وکړه اَللہ تَعَالٰي به دهغه ګناهونه معاف کړي .

[۱۲۳۲](۷۷) وَ کَمَن آجَرَ دَارًا اَو دُکَّا نًا ثُمّ اَفلَسَ فَلَزِمَتهُ دُيُونٌ لاَ يَقدِرُ عَلٰي قَضَائِهَا اِلاّ مِن ثَمَنِ مَا آجَرَ فَسَخَ القَاضِيُ العَقدَ وَ بَاعَهَا فِي الدّينِ [۱۲۳۳](۷۸) وَ مَن اِستَأجَرَ دَابّةً لِيُسَافِرَ عَلَيهَا ثُمّ بَدَا مِنَ السّفَرِ فَهُوَ عُذرٌ .

[۱۲۳۲](۷۷) يا يَوچَا مکان يا دُوکان په کِرَايَه ورکړئ بيا مُفلِس سو او پر ده باندي دومره دَين لازم سو چي دهغه پر ادآء کولو باندي قُدرَت نَه لري مګر چي کوم شَئ ئې په اُجرَت اِيښَئ دئ دهغه شِي په قيمت سره نو قاضي به عَقدفسخ کوي او دغه به د دَين په بَدلَه کي خرڅوي .

تشريح : مثلاً زَيد ويوچا ته دُوكان په كِرَايَه وركړئ.وروسته زَيدمُفلِس سو او پر ده باندي دخلګو قرضه راغله.اُوس ددې څخه علاوه بله هيڅ ډَوَل لاَرَه نسته بېله دې چي په اُجرَت وركړئ دُوكان خرڅ كړي او دهغه په قيمت باندي دا قرض اداٴ كړي نو په داسي صورت كي به قاضي اِجَارَه فسخ كوي او د زَيد دوكان به خرڅ وي او دهغه په قيمت به د خلګو قرض اداٴ كوي .

اُصُول : د شَدِيدعُذر په وجه اِجَارَه فسخ كولائي سي .

[١٢٣٣](٧٨) يَوچَا حيوان په كِرَايَه ونيوئ چي پر هغه سفر وكړي بيائې اِرَادَه ملتوي سوه نو دا عُذر دئ .

تشريح : د سفركولو لپاره حيوان په كِرَايَه ونيوئ وروسته بيا خيال سوچي د تللو ضرورت نسته.او دسفر اراده ئې مُلتَوِي كړه نو دا هم يَو عُذر دئ ددې په وجه اِجَارَه فسخ كولائي سي .

وجه : مثلاً حَج ته تلئ او د حَج وخت ځيني تيرسو يا دقرض د وصولئ لپاره تلئ لېكن هغه مقروض دده قرض كورته رَاوُړَئ.نو كه ددې باوجود سفروكړي دا به يَو

[١٢٣٤](٧٩) وَ اِن بَدَا لِلمَكَارِيُ مِنَ السّفَرِ فَلَيسَ ذَالِکَ عُذرٌ .

شديدمُشَقّت وي نوځكه دا عُذر دئ ددې په وجه اِجَارَه فسخ كولائي سي .

لُغَت : بَدَأ : سَرګَندَ سو.اراده ئې مُلتَوِي سوه .

[١٢٣٤](٧٩) اوكه دكِرَايَه وركونكي اراده بدله سوه دسَفَرڅخه نو دا عُذر نَه دئ .

تشريح : مثلاً زَيد ويلي وُ چي زَه به عُمَر پر خپل حيوان باندي سُپُور پر سَفَربِيَايَم او دومره اُجرَت به ځيني اَخلَم.وروسته د زَيد اراده ملتوي سوه يا يَو عُذر پيښ سو نو دا نَه دئ عُذر.ددې په وجه اِجَارَه نَه سي فسخ كولائي .

وجه : چي په خپله نَه سي تلائي نو خپل يَوشَاګَرد يا يَومَزدُور ته دي دغه حيوان په لاَس وركړي د عُمَر سره دې واستوي.نوځكه د زَيد د ارادې ملتوي كېدل عُذر نَه دئ .

پام لرنه : دا په هغه صورت كي دئ چي زَيد ډېر مجبوره نَه وي.او بَل مزدور ملاؤيږي او د بَل په لاَس وركولو څخه حيوان نَه خرابيږي. نوكه چيري زَيد دتلو څخه مجبوره وي مثلاً ناجوړه سو او مزدور هم د تلو لپاره نَه ملاؤېدئ يا د مزدور په لاَس وركولو څخه د ګاډَئ يا د حيوان د خرابېدو خطره وي نو دغه عُذر دئ ددې په وجه زَيدمُكرِى دغه اِجَارَه فسخ كولائي سي .

لُغَت : اَلمَكَارِيُ : په كِرَايَه وركونكئ سړئ .

..... كِتَابُ الشّفعَةِ .....

[١٢٣٥](١) اَلشّفعَةُ وَاجِبَةٌ لِلخَلِيطِ فِي نَفسِ المَبِيعِ ثُمّ لِلخَلِيطِ فِي حَقِّ المَبِيعِ كَالشّربِ وَالطّرِيقِ ثُمّ لِلجَارِ .

..... كِتَابُ الشّفعَةِ .....

ضروري پام لرنه : د شُفعَةٌ معنْي ده ملاؤوَل.دخپلي مځکي سره د بَل مځکه ملاؤوي نوځکه ودې ته حَقِّ شُفعَه وائي. ديَوچا مځکه يا غيرِمَنقُولَه جائداد خرڅيږي او بَل چاته د خرڅولو موقع ورنه کړي شريک يا هَمسَايَه ئې په خپله رَانِيسي دې ته حَقِّ شُفعَه وائي.ددې حق ثبوت په دې حديث کي دئ سَمِعَ اَبَارَافِعٍ سَمِعَ النّبِيّ يَقُولُ اَلجَارُ اَحَقّ بِسَبَقِهِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في الشفعة ص ١٤٠نمبر٣٥١٦\بخاري شريف.باب عرض الشفعة علْي صاحبها قبل البيع ص ٣٠٠نمبر٢٢٥٨\ترمذي شريف.باب ماجآء في الشفعة للغائب ص٢٥٣ نمبر ١٣٦٩) ددې حديث څخه معلوم سو چي پړوسي يعني هَمسَايَه د شُفعې حق لري .

[١٢٣٥](١) شُفعَه واجب ده په نَفسِ مبيع کي د شريک لپاره.بيا د حَقّ مبيع مثلاً چي په اُوبُو او لاَرَه کي شريک وي دهغه لپاره.بيا د هَمسَايَه لپاره .

تشريح : دمځکي او جائدار سره درې قسم خلګ وي.يَوخو هغه چي په خپله په مځکه کي شريک وي مثلاً نِيمَئ مځکه ديوه وي نِيمَئ مځکه دبَل وي.ودې ته په ,,شَرِيک فِي المَبِيعِ,, وائي. چي مځکه خرڅه سي نو دا سړئ تر ټولو زيات حقداره دئ که نَه نوچي يَو بَل خراب شريک راسي دا دده نُقصَان دئ.دوم هغه قسم خلګ دي چي په خپله په مځکه کي خو نَه دي شريکان لېکن دمځکي چي کوم حق دئ مثلاً مځکي ته د راتلو لاَرَه.مځکي ته د اُوبُو بېولو نَالَئ او وَالَه (وِيَالَه) په دي کي څوک شريک وي.دې ته ,,شَرِيک فِي حَقِّ المَبِيعِ,, وائي.ودې ته په دُوَم نمبر کي حَقّ شُفعَه ملاوېږي چي ,,شريک في المبيع,, ئې نَه واخلي نو ,,شريک في حَقِّ المَبِيعِ,, ته د شُفعې حق حاصل دئ.دريم هغه قِسم خلګ دي چي نَه خو په مبيع کي شريکان دي او نَه د مَبِيع په لاَره يا اُوبُو کي شريکان دي.البته د مبيع سره مُتّصِل او نَږ‌دې ددوئي مځکه ده چي هَمسَايَه ورته وائي ودې ته په دريم نمبرکي حَقِّ شُفعَه حاصل دئ.چي په مبيع کي شريک او حقِّ مبيع کي شريک ئې نَه واخلي نو اُوس دمبيع و همسايه ګانو ته حَقِّ شُفعَه حاصل ده چي دُوئي دغه خرڅه سوې مځکه دحَقِّ شُفعَه

حاشيه : (الف) حضورﷺ وفرمائل هَمسَايَه د شُفعې زيات حقدار دئ .

تحت واخلي.او که دغه درې قِسم خلګ نَه واخلي نو بيا د بَاهَروخلکو ته د اَخَستُلُو حق سته .

وجه : (١) که دې خلکو ته حَقِ شُفعَه نَه سي ملاؤ او نور خلګ مينځ ته راسي نو به دې خلکو ته تکليف سي نوځکه شريعت په مناسب قيمت باندي ودې خلکو ته اَوّل د اَخَستُلُوحق ورکړئ دئ.د ترتيب دليل ئې دا مُرسَل حديث دئ سَمِعتُ الشّعَبِيّ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ اَلشّفِيعُ اَولْي مِنَ الجَارِ وَ الجَارُ اَولْى مِنَ الجُنُبِ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب الشفعة بالجوار والخليط اَحَقّ ج٨ص٧٩نمبر١٤٣٩٠\ مصنف ابن ابي شيبة ٤٠٢من کان يقضي بالشفعة للجارج٤ص٥٢١نمبر ٢٢٧١٧) په دې حديث کي د شَفِيع څخه مُرَاد شريک دئ ځکه چي په بَل اَثَرکي بيا اَلخَلِيطُ اَحَقّ مِنَ الشّفِيعِ وَ الشّفِيعُ اَحَقّ مِمّن سِوَاهُ (ب) (مصنف عبدالرزاق ج٨ص٧٨نمبر١٤٣٨٦) عبارت راغلَئ دئ. ددې څخه معلوم سوچي اَوّل حق د شَرِيک فِي نَفسِ المَبِيع دئ.دُوَم حق د شَرِيک في حَقِّ المَبِيع دئ.او دريم حق د هَمسَايَه دئ. او وهر يوه ته حق سته دهغه دليل دغه احاديث دي عَن جَابِرٍ قَالَ قَضيْ رَسُولُ اللهِ بِالشّفعَةِ فِي كُلِّ شِركَةٍ لَم تُقسَم رِبعَةٌ اَو حَائِطٌ لاَ يَحِلّ لَهُ اَن يَبِيعَ حَتّي يُؤذَنَ شَرِيكُهُ فَالِن شَآ ءَ اَخَذَ وَ اِن شَآ ءَ تَرَکَ فَاِذَا بَاعَ وَ لَم يُؤذَنهُ فَهُوَ اَحَقّ -

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل شَفِيع يعني شريک زيات حقداره دئ‌تر هَمسَايَه او هَمسَايَه زيات حقداره دئ هغه قريب او نژدې (ب) شريک زيات حقداره دئ تر شَفِيع او شَفِيع زيات حقداره دئ ددې څخه تر عَلاَوَه نورو .

په (الف) (مسلم شريف.باب الشفعة ص٢٠نمبر١٦٠٨\٤١٢٨\ابوداؤدشريف.باب في الشفعة ص١٤٠نمبر٣٥١٣) ددې حديث څخه معلوم سوچي شَرِيک ته حَقِ شُفعَه حاصل دئ.دا هم ځيني معلوم سوچي مځکه او جائداد چي غَيرِمَنقُولَه جائداد دئ په هغه کي حَقِّ شُفعَه سته.او هَمسَايَه حَقِّ شُفعَه لري دهغه دليل دا حديث دئ عَن سَمُرَةَ عَنِ النّبِيِّ جَارُ الدّارِ اَحَقّ بِدَارِ الجَارِ اَوِ الاَرضِ (ب) (ابوداؤدشريف.باب في الشفعة ص١٤٠ نمبر ٣٥١٧\ترمذي شريف.باب ماجآء في الشفعة ص٢٥٣نمبر١٣٦٨) ددې حديث څخه معلوم سوچي هَمسَايَه هم حَقِّ شُفعَه لري .

فائده : د امام شافعي په نيز صرف وشريک فِي المبيع او شريک في حَقِّ المبيع يعني د مبيع په لاَرَه او اُوبُو راوستلو کي چي شريک وي هغه ته حَق د شُفعې حاصل دئ.چي صرف هَمسَايَه وي هغه ته د شُفعې حَق نَه رسيږي .

وجه : دده دليل دا حديث دئ عَن جَابِرِ بِنِ عَبدِاللهِ قَالَ قَضْي النّبِيّ بِالشّفعَةِ فِي كُلِّ مَالَم يُقسَم فَاِذَا وَقَعَتِ الحُدُودُ وَ صَرَفَتِ الطّرُقُ فَلاَ شُفعَةَ (ج) (بخاري شريف.باب الشفعة فيمالم يقسم فاذا وقعت الحدودفلاشفعة ص٣٠٠نمبر ٢٢٥٧\ابوداؤدشريف.باب في الشفعة ص١٤٠نمبر٣٥١٤\ترمذي شريف.باب ماجآء اذا حدت الحدود ووقعت السهام فلاشفعة ص٢٥٤نمبر١٣٧٠) ددې حديث څخه معلوم سوچي شَرَاکَت ختم سي اود دُوَاړُو لاَرِي ځله جلاجلاسي يعني د مَبِيع په لاَرَه کي هم شريک نَه وي نو اُوس شُفعَه نَه سي کولائي.زموږ دليل دا لوړ حديث دئ .

لُغَت : اَلخَلِيطُ : شريک .

……

حاشيه : (الف) حضور فيصله وکړه د هرشِرکَت په شِي کي چي تقسيم سوئ نَه وي.مځکه وي يا بَاغ وي.حلال نَه دئ چي خرڅ ئې کړي ترهغوچي شريک اِجَازَت ورکړي.نوکه خُوښَه سي شريک دې واخلي او که خُوښَه سي پري دې اِږدِي.که چيري خَرڅَه کړه او شريک ته اِطّلاَع ور نَه کړه نو هغه ددې مَبِيع زيات حقداره دئ (ب) دحضور څخه رِوَايَت دئ چي د کُور هَمسَايَه د کُور او مځکي زيات حقداره دئ (ج) حضور د شُفعې فيصله وکړه په هر هغه شِي کي چي نَه تقسيم کيږي.نوچي حُدُود واقع سي او لاَرِي جلا جلا سي بيا هيڅ ډَول شُفعَه نسته .

[١٢٣٦](٢) وَ لَيسَ لِلشّرِيکِ فِي الطّرِيقِ وَ الشّربِ وَ الجَارِ شُفعَةٌ مَعَ الخَلِيطِ فَاِ سَلّمَ الخَلِيطُ فَالشّفعَةُ لِلشّرِيکِ فِي الطّرِيقِ فَاِذَا سَلّمَ اَخَذَهَا الجَارُ .

[١٢٣٦](٢) د لاَرِي شريک او د اُوبُو اُوبَوُلُو شريک او هَمسَايَه د شُفعې حَق نَه لري چي کله شَرِيک فِي المَبِيع موجودوي.که چيري شريک پريږدي نو چي په لاَرَه کي شريک وي دهغه حَق دئ.که چيري هغه هم پرېښوه نو هَمسَايَه به اَخلِي .

تشريح : مخته تيرسوچي تر ټولو اَوّل چي په مبيع کي شريک وي هغه حَقِّ شُفعَه لري.چي دئ موجود وي شريک في حق المبيع يا هَمسَايَه حق نَه لري.که چيري هغه نَه واخلي نو بيا شريک في حَقِّ المَبِيع دشُفعې حَق لري.په حَقِّ مَبِيع کي د شريک مطلب دادئ چي دمَبِيع په لاَرَه کي شريک وي يا چي پر کومه لاَرَه مبيع ته اُوبَه راځي په هغه نَالَئ او وِيَالَه کي شريک وي.که چيري هغه هم نَه وي يائې نَه اخلي بيائې نور خلګ اخستلائي سي .

وجه : (١) مخته په حديثِ مُرسَل کي ددې تذکره راغلې ده سَمِعتُ الشّعَبِيّ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ اَلشّفِيعُ اَولٰي مِنَ الجَارِ وَالجَارُ اَولٰي مِنَ الجُنُبِ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب الشفعة بالجواروالخليط احق ج٨ص٧٩نمبر١٤٣٩٠\مصنف ابن ابي شيبة ٤٠٢ من كان يقضي بالشفعة للجار ج٤ص ٢٢٧١٧) ددې حديث څخه دا ترتيب معلوم سو (٢) هسي هم شريک في المبيع زيات قَوِي دئ او شريک في حَقِّ المَبِيع تر هغه کَم دئ او هَمسَايَه تر هغه هم کَم دئ نو بايد په دغه ترتيب سره حَقِّ شُفعَه ملاؤ سي. يَو بَل اَثَر دئ عَن شُرَيحٍ قَالَ اَلخَلِيطُ اَحَقّ مِنَ الشّفِيعِ وَ الشّفِيعُ اَحَقّ مِنَ الجَارِ وَ الجَارُ اَحَقّ مِمّن سِوَاهُ (ب) (مصنف ابن ابي

حاشيه : (الف) حضوروفرمائل شَفِيع يعني شريک زيات حقداره دئ تر هَمسَايَه او هَمسَايَه زيات حقداره دئ تر نژدې (ب) حضرت شُرَيح وفرمائل شَرِيک فِي المَبِيع زيات حقداره دئ تر شَفِيع او شَفِيع زيات حقداره دئ تر هَمسَايَه او هَمسَايَه زيات حقداره دئ تر نورو. پام لرنه : دلته د شَفِيع څخه مراد هغه دئ چي په لاَرَه کي شريک وي .

[١٢٣٧](٣) وَ الشّفعَةُ تَجِبُ بِعَقدِ البَيعِ وَ تَستَقِرّ بِالاِشهَادِ وَ تَمِلکُ بِالاَخذِ اِذَا سَلّمَهَا المُشتَرِيُ اَو حَکَمَ بِهَا حَاکِمٌ .

شيبة ۴۰۲ من كان يقضي بالشفعة للجار ج۵ص۳۲۶) ددې اَثَر څخه هم ترتيب معلوم سو .

لُغَت : سَلِّمَ : ورحَوالَه ئې کړئ.پرې ايښوئ. شُربٌ : په مځکي کي د اُوبُو چيښلوحَق.نَالَئ .

[۱۲۳۷](۳) شُفعَه تابتيږي دعَقدِبَيعِ وروسته او پخيږي په ګواه جوړولو سره او مَالِک جوړيږي په اخستلو سره چي کله مُشتَرِي ده ته ورکړي يا حَاکِم د ورکولو حُکم وکړي .

تشريح : په دې عِبَارَت کې درې خبري بيان کړي دي.اَوّلَه خبره دا چي شُفعَه هغه وخت کيږي چي بَائِع دا مځکه خرڅوي او دخپل مِلکِيّت څخه باسي نو بيا شَفِيع د حَقِّ شُفعې په ذريعه ددې د اخستلو حَق لري .

وجه : (۱) چي مَالِک مځکه نَه خرڅوي نوبيا حَقِّ شُفعَه په څَه رنګه وي ؟ (۲) په حديث کي دئ عَن جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ ... فَاِن بَاعَ فَهُوَ اَحَقّ بِهِ حَتّي يُؤذِنَهُ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في الشفعة ص۱۴۰نمبر۳۵۱۳) ددې حديث څخه معلوم سوچي څَه وخت ئې خرڅوي هغه وخت به شفيع ته حَقّ د شُفعې وي (۳) په اَثَر کي راغلي دي قَالَ اِبنُ اَبِي لَيلْي لاَ يَقَعُ لَهُ شُفعَةٌ حَتّي يَقَعُ البَيعُ فَاِن شَآ ءَ اَخَذَ وَاِن شَآ ءَ تَرَکَ (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب الشفيع يأذن قبل البيع وكم وقتها ج۸ص۸۳نمبر۱۴۴۰۴) په دې اَثَرکي دئ چي کله بيع واقع سي نو بيا حَقِّ شُفعَه ستّه که نَه دهغه څخه مخکې حَقِّ نستّه.دُومَه خبره ئې دا بيان کړئ ده چي دشُفعې په ذريعه د مځکي پر اخستلو بايد شفيع فَورًا ګواهان ونيسي نو بيا حَقِّ شُفعَه مضبوط کيږي.ځکه چي مخته په مُستَقبِلِ قريب کي په قاضي باندي دخپل ځان په حَق کي د شُفعې فيصله هم کوي.که چيري پر دې خبره باندي ګواهان نَه درلودل چي زَه کوم وخت خبرسوم په هغه وخت په حَقِّ شُفعَه سره ما ددې مځکي د اخستلو اِعلاَن کړئ وُ نوبيائې حَقِّ شُفعَه ساقط دئ .

وجه : (۱) د بَل مځکه په ځان کوي.لِهٰذَا که دمعلومېدلو وروسته لَږ څَه اِعرَاض وکي نو حَقِّ شُفعَه ئې ساقطيږي (۲) په حديث کي ددې ثبوت ستّه عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ اَلشّفعَةُ کَحَلِّ العِقَالِ (الف) (ابن ماجه شريف.باب طلب الشفعة ص۳۵۸نمبر۲۵۰۰\سنن للبيهقي.باب رواية الفاظ منكرة يذكرهابعض الفقهآء في مسائل الشفعة ج۶ص۱۷۸نمبر۱۱۵۸۹) په دې حديث کي دئ چي حَقِّ شُفعَه داسي دئ لکه د وُښ رَسّئ خلاصول يعني بايد ژَر ئې طلب کړي که نَه نو ساقط به سي (۳) په اَثَر

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل ... که مځکه خرڅه کړه نو شَفِيع زيات حقداره دئ.تر هغه وخت چي وده ته اِطّلاَع ورکړي (ب) حضرت ابن اَبِي لَيلْي وفرمائل شَفِيع حَقِّ شُفعَه نه لري تر هغه وخت چي بَيعَ واقع سي.نو که خُوَښَه سي وادېخلي او که خُوَښَي پري دې اِږدِي .

كي دئ عَنِ الشّعَبِيِّ قَالَ مَن بِيعَت شُفعَتُهُ وَ هُوَ شَاهِدٌ لاَ يُنكِرُهَا فَقَد ذَهَبَت شُفعَتُهُ (ب)(بخاري شريف.باب عرض الشفعة علْي صاحبها قبل البيع ص٣٠٠نمبر٢٢٥٨ \مصنف عبدالرزاق.باب الشفيع يأذن قبل البيع وكم وقتهاج٨ ص٨٣نمبر١٤٤٠٥) په دې اَثَركى دئ چي ويني بَيع كيږي او شفيع پر هغه باندي هيڅ ډَوَل اِنكَار ونه كړي نو حَقِّ شُفعَه ئې ختم دئ.لِهٰذَا چي څَه وخت دخرخښدو عِلم ورته وسي په هغه وخت دي ګواه جوړكړي چي زَه اَخلَم.كه چيري اِعرَاض وكئ نوحَق به ساقط سي ددې دليل دا اَثَر دئ عَن شُرَيحٍ قَالَ اِنّمَا الشّفعَةُ لِمَن وَاثَبَهَا (ج) (مصنف عبدالرزاق.باب الشفيع يأذن قبل البيع وكم وقتها ؟ ج٨ص٨٣نمبر١٤٤٠٦) په دې اَثَركي دئ چي فَورًا جَڬ وَغُورَزِي او د حَقِّ شُفعې دَعوْي وكړي وهغه چاته

حاشيه : (الف) حضوروفرمائل شُفعَه د رَسّئ د خَلاَسَوَلُو په شان ده (ب) حضرت شَعَبِي وفرمائل دكوم چا په مخكي چي د شُفعې شَئ خرڅيږي او ده ئې ويني او دهغه اِنكَار نَه كوي نو دده شُفعَه ختم سوه
(ج) حضرت شُرَيح فرمائي چي دشُفعې حَق دهغه دئ چي په ټُوپ سره دا وَاخلِي .

[١٢٣٨](۴) وَ اِذَا عَلِمَ الشّفِيعُ بِالبَيعِ اَشهَدَ فِي مَجلَسِهِ ذَالِکَ عَلْي المُطَالَبَةِ ثُمّ يَنهَضُ مِنهُ فَيُشهِدُ عَلْي البَائِعِ اِن كَانَ المَبِيعُ فِي يَدِهِ اَو عَلْي المُبتَاعِ اَو عِندَ العِقَارِ فَاِذَا فَعَلَ ذَالِکَ اِستَقَرّت شُفعَتُهُ .

به حَقِّ شُفعَه رسيږي او كه اِعرَاض وكئ نو دا حَق به ساقط سي. نوځكه پر دې باندي ګواه جوړول ضروري دئ چي ما ژَر او فَورًا د شُفعې دعوْي كړې ده چي بيا وروسته د قاضي په مخكي دا ثابت كړي چي څَه وخت زه په دې خرڅېدو خَبَرسوم په هغه وخت مي د شُفعې د حق دعوْي كړې ده. او دريمه خبره په دې عبارت كي دا بيان سوې ده چي مُشتَرِي وشَفِيع ته مَبِيع حواله كړي يا قاضي دا فيصله وكړي چي دا مَبِيع د شَفِيع ده نو هغه وخت شَفِيع د مَبِيع مَالِک جوړيږي .

وجه : د خرڅېدو او دبَيعِ دخبرو دخلاسېدوپه وجه دا مَبِيع د مُشتَرِي سوې ده نوځكه چي څَه وخت مُشتَرِي ددې مَبِيع څخه دَست بَردَارَه سي يا قاضي دده په حَق كي فيصله وكړي نو دا مَبِيع د شَفِيع مِلكِيّت ګرزي .

لُغَت : تَستَقِرّ : پخېدَل. مَضبُوطَ كېدَل .

[١٢٣٨](۴) چي څَه وخت شَفِيع ته د بيع عِلم وسو نو پر مُطَالَبَه دي په هغه مجلس كي ګواه جوړكړي.بيا دي دهغه ځائ څخه وَلاړ سي پر بائع دي ګواه ونيسي كه چيري مَبِيع دهغه په لاَس كي وه يا دي پر مُشتَرِي باندي يا دي پر مځكه باندي.چي كله دا وكړي نو دده حَقِّ شُفعَه مضبوط سو .

تشريح : د حَقِّ شُفعَې د ثابتولو لپاره به څلور كارونه كوي.اَوّل دا چي څَه وخت دخرڅېدلو خَبَرسي په هغه وخت دي ووائي چي زَه دا مځكه اَخلَم.دُوَم كار دا كول ضروري دئ چي پر دغه دَعوْي دي ګواه جوړ كړي.دريم كار دا كول ضروري دئ

[١٢٣٩](٥) وَ لَم تَسقُط بِالتّأخِيرِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَ قَالَ مُحَمّدٌ اِن تَرَكَهَا مِن غَيرِ عُذرٍ شَهرًا بَعدَ الاِشهَادِ بَطَلَت شُفعَتُهُ .

چي دبَائِع په لاَس كي مَبِيع ده پر هغه او كه دمُشتَرِي په لاَس كي مَبِيع ده پر هغه يا دي جائداد ته راسي هلته دي ګواه جوړ كړي چي تاسو تولـه ئـې واؤرئ چي زَه دغه مځكه په حَقِّ شُفعَه سره اَخلَم.او ګواهي دي وُړَاندِي كړي خپل حَق دي ثابت كړي چي قاضي دده لپاره دمځكي د اخستلو فيصله وكړي .

وجه : (١) د بَل چا مځكه صرف ديوه حق په وجه اَخلِي نوځكه دلَږ څَه اِعرَاض په وجه دغه حَق ساقطيږي (٢) مختـه حديث تيرسو اَلشّفعَةُ كَحَلِّ العِقَالِ (الف) (ابن ماجه شريف.باب طلب الشفعة ص٣٥٦نمبر٢٥٠٠) چي شُفعَه د رَسّئ دخلاسولو په شان ده چي څَه رنګه اِعرَاض وكړي فورًا به حَقِّ شُفعَه ساقط سي (٣) د قاضي شُرَيح قول تېرسوئ دئ اِنّمَا اَلشّفعَةُ لِمَن وَاثَبَهَا (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب الشفيع يأذن قبل البيع وكم وقتها؟ ج٨ص٨٣نمبر١٤٤٠٦) چي حَقِّ شُفعَه هغه چاته رسيږي چي په مَنډَه مَنډَه واخلي.نوځكه پر مَنډَه او مُطالبه پر دغه دُوُ ځايو باندي به ګواهان جوړوي.يَو چي خَبَرسي په هغه مجلس كي دُوَم دبائع سره كه دهغه سره وي يا دمُشتَرِي سره كه دهغه سره وي يا دي پر جائداد باندي .

[١٢٣٩](٥) د امام ابوحنيفه په نېزپه ځنډولو سره حَقِّ شُفعَه نَه ساقطيږي.او امام محمدوفرمائل چي د ګواه جوړولو وروسته كه چيري يَوَه مياشته پرې بښُوَئ نو شُفعَه ئې باطل ده .

تشريح : په مَجلِسِ عِلم كې هم ګواه جوړ كړئ او د حَقِّ شُفعي تَحت پر اخستلوئې د بائع سره هم ګواه ونيوئ لېكن ببله څَه عُذره د مُطالبې لپاره قاضى ته نَه وُلاَړَئ نو

حاشيه : (الف) حضوروفرمائل شُفعَه د رَسّئ د خَلاَسَوَلُو په شان ده(ب) حضرت شُرَيح فرمائي چي دشُفعي حَق دهغه دئ چي په ټُوپ سره دا وَاخلِي .

[١٢٤٠](٦) وَ الشّفعَةُ وَاجِبَةٌ فِي العِقَارِ وَ اِن كَانَ مِمّا لاَ يُقسَمُ كَالحَمّامِ وَ الرّحْيِ وَالبِئرِ وَالدّوَرِالصّغَارِ .

د امام ابوحنيفه په نېز دده حَقِّ شُفعَه نَه ساقطيږي .

وجه : دُوَه ځايَه د ګواه جوړېدو وروسته حَقِّ شُفعَه مضبوط سو.نو دمضبوط كېدو وروسته وقاضي ته په ټُلو كي دځنډيدو په وجه دغه مضبوط سوئ حَق نَه ساقطيږي.ترڅو چي په ژَبَه د حَق اخستلو څخه انكار ونه كړي .

اُصُول : حَقِّ شُفعَه د مضبوط کېدو وروسته نَه ساقطيږي .

امام محمدفرمائي چي که بېله عُذر قاضي ته ژَر وُلاَړ نَه سي نو په دې ځنډېدو کي د مُشتَرِي نُقصَان دئ.هغه به بېله کومي وجهي په اِنتِظَار وي.نوځکه د ځنډېدو يَو حَد دي معلوم کړي چي که بېله کوم عُذره تر يَوَه مِيَاشتَه زيات وځنډوي نوحَقِّ شُفعَه ئې ساقط دئ .

وجه : يَوَه مِيَاشتَه ته قريب مُدَه وائي او تر يَوَه مِيَاشتَه زيات ته ليري او ډېره مُدَه وائي.نوځکه که تر يوه مياشته زيات ځنډپکښې باسي نوحَقِّ شُفعَه به ساقط سي .

[۱۲۴۰](۶) شُفعَه ثابتيږي په جائداد کي که څَه هم هغه داسي وي چي نَه تقسيم کيږي لکه حَمّام.جِيرَندَه.څَاه او کِشنَئ مکان .

تشريح : چي مځکه وي يا دمځکي دجنس څخه وي په هغه کي حَقِّ شُفعَه ثابتيږي. که هغه تقسيم کېدائي سي که نَه خو په هرحال کي حَقِّ شُفعَه ثابتيږي.لکه حَمّام.د تيري زمانې يَوخَاص ډَوَل غُسَلخَانې وې چي د تقسيم وروسته هغه په هيڅ ډَوَل کارآمَد نَه پاتکېدلې.خو بيا هم که هغه خرڅېدې نو پَړُوس ته دشُفعې حَق حاصل دئ.يا جِيرَندَه او دهغې مځکه چي دتقسيم وروسته هغه په هيڅ ډَوَل کار نَه راځي.يا څَاه او کِشنَئ مکان دُوَه ځائ نَه سي کېدلائي.لېکن چي دا شيان خرڅيږي نو په دي کي هم حَق د شُفعې سته .

وجه : (۱) حَقِّ شُفعَه د هَمسَايَه د نُقصَان دليري کېدو لپاره وي.او دمځکي څخه علاوه نورمنقوله جائداد داسي دئ چي هغه پر يَوَه ځائ نَه پاتيږي چي دهمسايَه تُوب نُقصَان رامينځ ته سي.البته مځکه او پر هغه باندي جوړسوئ عِمَارَت داسي دئ چي همېشه پر يَوَه ځائ باندي پاته وي.چي دهغه لکبله د هَمسَايَه ګانو نُقصَان کېدلائي سي نوځکه په مځکه او پر مځکه باندي جوړ سوي مکان کي د شُفعې حق سته (۲) په حديث کي دئ عَن جَابِرٍ قَالَ قَضْي رَسُولُ اللهِ ﷺ بِالشّفعَةِ فِي كُلِّ شِركَةٍ لَم تُقسَم رِبعَةٌ اَو حَائِطٌ (الف) (مسلم شريف.باب الشفعة ج۲ص۳۲نمبر۱۶۰۸\ ابوداؤدشريف.باب في الشفعة ص۱۴۰نمبر۳۵۱۳) په دې حديث کي صَرَاحَت دئ چي په مځکه يا بَاغ کي شُفعَه سته نوځکه په مځکه او دهغې په جِنس کي به حَقِّ شُفعَه وي (۳)عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ لاَ شُفعَةَ اِلاّ فِي دَارٍ اَو عِقَارٍ (ب) (سنن للبيهقي.باب لاشفعة فيماينقل ويحوي ج۶ص۱۸۰نمبر۱۱۵۹۷)په دې حديث کي خوصَرَاحَت سوئ دئ چي دمځکي اومکان څخه علاوه په بَل شِي کي شُفعَه نسته .

اوپه دُوَاړُو حديثو کي د ,,كُلُّ,, لفظ راغلئ دئ ددې څخه دا معلوم سو چي که هغه شَئ تقسيم کيږي که نَه تقسيم کيږي خو په هر صورت کي په هغه کي شُفعَه سته. په بخاري شريف کي دئ عَن جَابِرِ بِنِ عَبدِاللهِ قَالَ قَضْي النّبِيّ بِالشّفعَةِ فِي كُلِّ مَا لَم يُقسَم (ج) (بخاري شريف.باب الشفعة فيما لم يقسم فاذا وقعت الحدود فلاشفعة

ص۳۰۰نمبر۲۲۵۷\ابوداؤدشريف.باب في الشفعة ص۱۴۰نمبر ۳۵۱۴) په دې حديث کي دئ چي که هغه شَئ نَه سي تقسيم کېدلائي خو بياهم په هغه کي حَقِّ شُفعَه ستـه .

فائده : د امام شافعي دا رأيه ده چي کوم شئ د تقسيم کېدو څخه نَاقَابِلِ استعمال وي پـه هغه کي حَقِّ شُفعَه نستـه .

لُغَت : اَلحَمّامُ : خاص ډَوَ غُسَلخَانَه. اَلرّحْي : جِيرَنده. اَلبِئرُ: څاه.څَا .

حاشيه : (الف) حضور دشُفعې فيصله وکړه دهر شِرکَت په شِي کي چي نَه وي تقسيم سوئ مځکه وي يا بَاغ (ب) حضور وفرمائل شُفعَه نسته مګر په مکان کي يا مځکه کي (ج) حضور د شُفعې فيصله وکړه په هغه شِـي کـي چي نَه وي تقسيم سوئ .

[۱۲۴۱](۷) وَ لاَ شُـفعَةَ فِـي البِنَـآءِ وَ النّخـلِ اِذَا بِيـعَ بِـدُونِ العَرصَـةِ [۱۱۴۲](۸) وَ لاَ شُفعَةَ فِي العُرُوضِ وَ السّفُنِ .

[۱۲۴۱](۷) او حَقِّ شُفعَه نسته په عِمَارَت او بَاغ کي چي ببله مځکي خرڅ سي .

تشريح : د عِمَارَت دِېوَال خرڅيږي لېکن دهغـه مځکـه نَـه خرڅيږي.دغـه رنګـه بَـاغ خرڅيږي لېکن دهغه مځکه نَه خرڅوي نو په دي کي حَقِّ شُفعَه نَه سي کېدلائي .

وجه : حَقِّ شُفعَه دمځکي د خرڅلاؤ څخـه راځـي او دلتـه خـو مځکـه نَـه خرڅـوي نـو عِمَارَت او بَاغ د مَنقُولِي جائداد په شان سول نو ځکـه پـه دي کـي حَقِّ شُـفعَه نَـه سـي رسېدائي. حديث مخته تيرسوئ دئ .

لُغَت : اَلعَرصَةُ : مَيدَان .مځکه .

[۱۲۴۲](۸) په سامان او ګَبنتَيو کي شُفعَه نسته .

تشريح : سامان او اَسبَاب خرڅيږي يا ګَبنتَئ خرڅيږي نو په دي کي شُفعَه نسته .

وجه : (۱) مخته تيرسوچي دا شيان مُنتقِل کيږي نوځکـه پـه دي کـي د هَمسَـايَه ثُـوب نُقصَان نَسته (۲) دا حديث هم تېرسـوئ دئ عَـن اَبِـي هُرَيـرَةَ قَـالَ قَـالَ رَسُـولُ اللهِﷺ لاَ شُـفعَةَ اِلاّ فِـي دَارٍ اَو عِقَـارٍ (الـف) (سـنن للبيهقي.بـاب لاشـفعة فيماينقـل ويحـول ج۶ص۱۸۰نمبر۱۱۵۹۷) ددې حـديث څخـه معلوم سـوچي د مکـان او مځکـي څخـه علاوه په بَل شِي کي شُفعَه نسته نوځکه په اَسبَاب او ګَبنتَيُوکي شُفعَه نسته .

فائده : د امام مَالِک په نېز که شِرکَت وي نو په سامان کي هم حَقِّ شُفعَه ستـه .

وجه : (۱) دده دليل دا مخته د بخاري حديث قَضْي النّبِيّﷺ بِالشّفعَةِ فِي کُـلِّ مَـالَم يُقسَـم چي هغه ټوله شيان کوم چي نَه وي تقسيم سوي په هغه کي حَقِّ شُـفعَه سته.نوځکه کـه په سامان کي شراکت وي نوبيا په هغه کي هم حَق د شُفعې سته (۲) پـه حـديثِ مُرسَـل کي دي قَالَ اِبنُ اَبِي مُلَيکَةَ قَضْي رَسُولُ اللهِﷺ بِالشّفعَةِ فِي کُلِّ

حاشيه : (الف) حضورﷺ وفرمائل شُفعَه نسته مګر په مکان يامځکه کي .

[۱۲۴۳](۹) وَ المُسلِمُ وَ الذِّمِّيّ فِي الشّفعَةِ سَوَ آ ءٌ [۱۲۴۴](۱۰) وَ اِذَا مَلَکَ العِقَارَ بِعِوَضٍ هُوَ مَالٌ وَ جَبَت فِيهِ الشّفعَةُ .

شَئٍ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب هل في الحيوان او البئر او النخل او الدين شفعة ج۸ص۸۷نمبر۱۴۴۲۵\سنن للبيهقي.باب لاشُفعَةَ فيماينقل ويحول ج۶ص۱۸۱نمبر۱۱۶۰۰) ددې حديث څخه معلوم سوچي امام مَالِک په سَامَان او ګَبنتَیُوکي هم د شُفعې حَق ورکوي .

لُغَت : اَلسّفُنُ : د ,,سَفِينَةٌ,, جمع ده ګَبنتَئ ته وائي .

[۱۲۴۳](۹) مسلمان او ذِمّي په شُفعَه کي سره برابر دي .

تشريح : يعني لکه څَه رنګه چي مسلمان حَقِّ شُفعَه لري که چيري د ذِمّي په هَمسَايَه تُوب کي وي نو هغه هم دشُفعې حَق لري .

وجه : (۱) په دَارالاِسلاَم کي د ټېکس او جِزيې ورکولو وروسته په دې شيانو کي ذِمّي هم دغه رنګه حق لري لکه مسلمان چې لري.نوځکه و ذِمّي ته به هم حَقِّ شُفعَه حاصل وي (۲) په اَثَر کي راغلي دي کَتَبَ عُمَرُ بِنِ عَبدَالعزِيزِ اَنّ لِليَهُودِيِّ شُفعَةٌ (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب هل للكافرشفعة وللاعرابِيِّ ج۸ص۸۴ نمبر ۱۴۴۱۲) په دې اَثَر کي حضرت عُمَربِنِ عبدالعزيز ويهودي ته د شُفعې حق ورکړئ دئ.چي د کافر په درجه کي دئ نوځکه کافر هم حَقِّ شُفعَه لري .

[۱۲۴۴](۱۰) چي د جائداد مالک سي د داسي عِوَض په بَدلَه کي چي مال وي نو په هغه کي د شُفعې حَق سته .

تشريح : اصل قاعده داده چي مُشتَرِي د داسي شِي په بَدلَه کي مځکه واخلي چي په خپله شَفِيع ئې هم ورکولائي سي مثلاًدرِهَم.دِينَار.وُرُجُواوغَنَمُو په بَدلَه مځکه

[۱۲۴۵](۱۱) وَ لاَ شُفعَةَ فِي الدّارِ الّتِي يَتَزَوّجُ الرّجُلُ عَلَيهَا [۱۲۴۶](۱۲) اَو تُخَالِعُ المَرأ ةُ بِهَا اَو يَستَأجِرُ بِهَا دَارًا اَو يُصَا لِحُ مِن دَمِ عَمَدٍ اَو يَعتِقُ عَلَيهَا عَبدًا .

واخلي چي شَفِيع هم دغه شِيَان ورکولائي سي.لېکن که مُشتَرِي د داسي شيانو په بَدلَه کي واخلي چي شَفِيع هغه شِيَان نَه سي ورکولائي نو بيا به حَق د شُفعې څَه رنګه وي ؟ مثلاً وښځه ته په مَهرکي مځکه ورکړي نو ددې مطلب داسو چي بِی بِي د بُضعې په بَدلَه کي مځکه اخلي او شَفِيع بُضعَه نَه سي ورکولائي نوځکه په داسي صورت کي وشَفِيع ته حَقِّ شُفعَه نَه رسيږي .

حاشيه : (الف) حضورﷺ د شُفعې فيصله وکړه په هرشِي کي (ب) حضرت عُمَربن عبدالعزيز وليکل چي د يهودي لپاره هم حَق د شُفعې سته .

[۱۲۴۵](۱۱) او په هغه مکان کي شُفعَه نسته په کوم مکان چي سړئ وَادَه وکي .

تشريح : يوڅوک دمکان په بَدلَه کي وَادَه وکړي يعني مکان په مَهرکي ورکړي نو په دې مکان کي وشَفِيع ته حَقِّ دشُفعې نسته .

وجه : (۱) مَهر د بُضعِ په بَدلَه کي دئ او شَفِيع بُضعَ نَه سي ورکولائي نو ځکه په داسي صورت کي حَق د شُفعې نسته (۲) مَهر خو مال نَه دئ.او حَقِّ شُفعَه هغه وخت وي چي کله د مَال په بَدلَه کي مځکه خرڅه سي .

[۱۲۴۶](۱۲) يا ښځه خُلع وکي د مکان په بَدلَه کي يا دمکان په بَدلَه کي څوک په اُجرَت ونيسي يا د دَمِ عَمَد په بَدلَه کي صُلح په وکړي يا د مکان په بَدلَه کي غُلاَم آزاد کړي .

تشريح : ښځه په خُلع کي وخپل مېړه ته مکان ورکړي نو په دې مکان هيڅ څوک شُفعَه نَه سي کولائي.ځکه چي خُلع مال نَه دئ.بل دا چي په خُلع کي بُضعَه خلاسول مقصودوي چي هغه شفيع نَه سي کولائي.په دې عبارت کي دومه مسئله داده چي دمکان په بَدلَه کي بَل څوک په اُجرَت ونيسي نو په اُجرَت نيول هم مَال نَه دئ ترڅو چي عَقدئې نَه وي کړئ دې ته د مَال حَيّثِيّت نَه وي ورکړئ.نوځکه په دې مکان کي هم شُفعَه نَه سي کولائي.دريَمَه مسئله داده چي يو چا په قَصدسره بَل څوک قتل کړئ او دهغه قتل په بَدلَه کې مکان ورکړئ او صُلح ورسره وکړه نو په دې مکان هم شُفعَه نَه سي کولائي.ځکه چي دَمِ عَمَد مَال نَه دئ.شفيع د دَمِ عَمَد په بَدلَه کي مکان نَه سي ورکولائي.څلورمه مسئله داده چي د غُلاَم څخه مکان واخستئ او دهغه په بَدلَه کې غُلاَم آزاد کئ نو په دې مکان هم شُفعَه نَه سي کولائي.ځکه چي غُلاَم آزادوَل مال نَه دئ او شفيع د مکان په بَدلَه کي آزادول نَه سي ورکولائي نوځکه په دي کي هم شُفعَه نه سي کولائي .

[۱۲۴۷](۱۳) اَو يُصَالِحُ بِإنكَارٍ اَو سُكُوتٍ [۱۲۴۸](۱۴) فَإن صَالَحَ عَنهَا بِإقرَارٍ وَجَبَت فِيهِ الشّفعَةُ .

[۱۲۴۷](۱۳) يا صُلح ورسره وکړي د مکان په بَدلَه کي په اِنکَار يا سُکُوت سره .

تشريح : مثلاًزيدپرعُمَردزَرُودِرهَمُ دعوْي وکړه چي زوما زَردِرهَم پرتاباندي دي. عُمَر انکار وکئ يا خاموش پاته سو.وروسته عُمَر د مجبورئ په وجه دمکان په بَدلَه کي دزَيد سره صُلح وکړه نو په دې صورت کي هيڅ څوک د شُفعَې حق نَه لري .

وجه : د انکار کولو وروسته يا دخاموش پاته کېدو وروسته چي کومه صُلح کيږي هغه دمال په بَدلَه کي نَه کيږي بلکه د زَيد د دَبَاؤ او مجبورئ په وجه صُلح کوي.نو دلته خو د مال په بَدلَه کي صُلح نَه ده سوې لِهْذَا حَقِّ شُفعَه هم نسته .

[۱۲۴۸](۱۴) که دمکان په بَدلَه کي صُلح وکړه په اِقرَار سره نوپه دي کي شُفعَه ثابته ده .

تشريح : مثلاً زَيد پر عُمَر باندي د زَر دِرهَمُ دعوْي وکړه.عُمَر اِقرَار وکئ چي هُو! پر ماباندي ستا زَر دِرهَم سته.خو دهغه په بَدلَه کي د صُلحِ په توګه زوما مکان واخله نو په دې صورت کي شُفعَه ثابته ده .

وجه : ده د زَر دِرهَمُو قرض اِقرَار کړئ دئ. نوځکه په دې مکان کي شُفعَه سته .

[۱۲۴۹](۱۵) وَ اِذَا تَقَدّمَ الشّفِيعُ اِلْي القَاضِي فَادّعْي الشِّرَ آ ءَ وَ طَلَبَ الشّفعَةَ سئَلَ القَاضِئُ المُدّعْي عَلَيهِ عَنهَا فَاِن اِعتَرَفَ بِمِلكِهِ اَلّذِي يَشفَعُ بِهِ وَ اِلاّ کَلّفَهُ بِاِقَامَةِ البَيّنَةِ فَاِن عَجَزَ عَنِ البَيّنَةِ اِستَحلَفَ المُشتَرِي بِاللهِ مَا يَعلَمُ اَنّهُ مَالِکٌ لِلّذِي ذَکَرَهُ مِمّا يَشفَعُ

اُصُول : په کوم ځائ کي چي مُبَادَلَةُ المَال بِالمَال راسي او د بيع صورت جوړ سي هلته شُفعَه سته.ددې اُصُول لپاره په دې حديث کي اِشَارَه سته عَن اِبنِ عَبّاسٍ عَنِ النّبِيِّ ﷺ قَالَ مَن کَانَت لَهُ اَرضٌ فَاَرَادَ بَيعَهَا فَليَعرِضهَا عَلْي جَارِهِ (الف) (ابن ماجه شريف.باب من باع رباعًا فليؤذن شريکه ص۳۵ ۷نمبر۲۴۹۳) په دې حديث کي دئ چي هر څوک د خرڅولو اِرَادَه وکړي هغه بايد وهَمسَايَه ته ووائي.ددې څخه معلوم سوچي په کوم کوم ځائ کي چي د خرڅېدو صورت نَه وي په هغه ځائ کي حَق د شُفعې نسته.ددې څخه علاوه نور هم څوحديثونه او اَثَر مخته تېرسوي دي .

[۱۲۴۹](۱۵) چي شفيع قاضي ته وُلاړسي او د اخستلو دعوْي وکړي او شُفعَه طلب کړي نوقاضي به د مُدّعْي عَلَيه يعني مُشتَرِي څخه ددې په اَړَه پوښتنه کوي.نوکه هغه ددې مکان دمِلکِيّت اِقرَار وکي کوم چې دشُفعې دعوْي کوي خو ښَه خبره ده. که نَه نومُدّعِي به په بَيِّنَه قائمولومُکَلّف کوي. بياکه مُدّعِي دبَيّنې څخه عاجزسي نودمُشتَرِي څخه به قَسَم اَخلِي چي قَسَم په خدائ ماته نَه دئ معلوم چي زه ددې مکان مَالِک يم کوم چې دئ دشُفعې دعوْي کي.اوکه دئ دقَسَم څخه اِنکَارسي يادشَفِيع بَيِّنَه قائم سي نوقاضي به دمُدّعْي عَلَيه(مُشتَرِي)څخه پوښتنه کوي چي تا دا اخستئ دئ که نَه ؟ که مُشتَرِي داخستلو څخه انکار وکي نوشفيع ته به ويل کيږي چي پر دې اَخستَلُو دَلِيل وُړَاندِي که.که چيري شفيع دبَيّنې وُړَاندِي کولو

بِهِ فَاِن نَکَلَ عَنِ اليَمِينِ اَو قَامَت لِلشّفِيعِ بَيّنَةٌ سَئَلَهُ القَاضِيُ هَل اِبتَاعَ اَم لاَ فَاِن اَنکَرَ الاِبتِيَاعَ قِيلَ لِلشّفِيعِ اَقِمِ البَيّنَةَ فَاِن عَجَزَ عَنهَا اِستَحلَفَ المُشتَرِي بِاللهِ مَا اِبتَاعَ اَو بِاللهِ مَا يَستَحِقّ عَلْي هٰذِهِ الدّارَ شُفعَةً مِنَ الوَجهِ الّذِي ذَکَرَهُ .

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل څوک چي مځکه لري او دهغې دخرڅېدو اراده وکي بايد پرخپل هَمسَايَه باندې وُړَاندِي کي .

ځخه عاجزسي نو دمُشتَرِي ځخه دي قسم واخلي چي بَخُدَا ما نَه دئ اخستئ.يا بَخُدَا دئ پر دې مکان باندي په دغه ډَوَل د شُفعې مُستَحِق نَه دئ په څَه رنګه چي ده ذکر کړئ دئ .

تشريح : په دې وُړد او دراز عبارت کي دا ذکرسوئ دئ چي شفيع قاضي ته وُلاَړ سي او دشُفعې مطالبه وکي نو قاضي به د مُقَدّمې کاروائي په څَه رنګه کوي ؟ اَوّل دي دچاځخه پوښتنه وکي؟. په دې کاروائي او عَمَل کي دوې خبري قابل ذکر دي. يَوَه خبره دا چي دمُدّعْي عَلَيه ځخه به پوښتنه کيږي چي مُدّعِي دکوم شِي دعوْي کوي آيا واقعةً دا خبره صحيح ده ؟ که چيري هغه اِعتِرَاف وکي نوپرهغه به فيصله کوي. او که چيري هغه اِعتِرَاف وَنَه کړي نو د مُدّعِي ځخه به ګواه طلب کيږي.که چيري هغه ګواه پيش نَه کړي نو دمُدّعْي عَلَيه يعني مُشتَرِي ځخه به قَسَم اخستل کيږي چي مُدّعِي کومه دعوْي کوي هغه صحيح نَه ده.که چيري هغه د قَسَم اَخَستَلُوځخه انکار وکړي نو ددې مطلب دادئ چي د مُدّعِي دَعوْي صحيح ده نوځکه بيابه دهغه د دَعوې مُطابِق فيصله کوي.ددې ټوله عِبَارَت حاصل دغه دئ .

وجه : دا حديث مخته تېرسوئ دئ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺ قَالَ اَلبَيّنَةُ عَلْي مَن اِدّعْي وَ اليَمِينُ عَلْي اَنکَرَ اِلاّ فِي القَسَامَةِ (الف) (دارقطني نمبر٣١۶۶)

حاشيه : (الف) حضورﷺ وفرمائل ګواه پر هغه دئ کوم چاچي دعوْي کړې ده او قَسَم پر هغه دئ کوم چاچي اِنګار کړئ دئ مګر په قَسَامَت کي نَه .

[١٢٥٠](١۶) وَ تَجُوزُ المُنَازَعَةُ فِي الشّفعَةِوَاِن لَم يَحضُرِ الشّفِيعُ الثّمَنَ اِلْي مَجلِسِ القَاضِي وَ اِذَا قَضْي القَاضِيُ لَهُ بِالشّفعَةِ لَزِمَهُ اِحضَارُ الثّمَنِ [١٢٥١](١٧) وَ لِلشّفِيعِ اَن يَرُدّ الدّارَ بِخِيَارِ العَيبِ وَ الرّؤيَةِ.

[١٢٥٠](١۶) د شُفعې جګړه راپوته کول جائزده که څَه هم شفيع دقاضي مَجلِس ته قيمت نَه وي راحاضرکړئ.اوچي کوم وخت قاضي دده لپاره دشُفعې فيصله وکي نوپر ده باندي ثَمَن حاضرول لازم دي .

تشريح : قاضي لا تَر اُوسَ دشُفعې فيصله نَه ده کړې صرف دشُفعې کولو دمطالبې جَګړه ئې رامخته کړې ده نوکه څَه هم دجائدادقيمت ئې دځان سره نَه وي وَړَئ خو بيا هم دا جَګړَه راپورته کول جائز ده.البته چي قاضي دشُفعې فيصله وکي نو هغه وخت دجائدادقيمت حاضرول ضروري دئ .

وجه : دشُفعې دفيصلې وروسته به جائداد اخلي نوځکه دهغه قيمت حاضرول ضروري دئ.که نَه نو جائداد به څَه رنګه اخلي ؟ .

فائده : امام محمدفرمائي چي اَوّل دي قيمت راحاضر كي بيابه قاضي دشُفعې فيصله كوي.ځكه چي كېدلائي سي چي شفيع مُفلِس وي دده سره دجائداد قيمت نَه وي نودده لپاره به د جائدادفيصله كول غلطي وي.نوځكه اَوّل دي مجلسِ قَضَآء ته قيمت حاضركړي بيا دي قاضي دشُفعې فيصله وكي .

[۱۲۵۱](۱۷) دشفيع لپاره جائزدئ چي مكان دخِيَارِعَيب او خِيَارِرُأيَت تحت وَاپَس كړي .

تشريح : د حَقِّ شُفعې تحت ئې مكان واخستئ بيائې په هغه كي عَيب وليدئ نو د خِيَارِعَيب تحت مكان بېرته و مَالِک ته وَاپَس كولائي سي.دغه رنګه مكان ئې ليدلئ نَه وُ دحَقِّ شُفعې تحت ئې واخستئ وروسته خُوَښ نَه سو خو دخِيَارِرُأيَت تحت ئې وَاپَس كولائي سي .

[۱۲۵۲](۱۸) وَ اِن اَحضَرَ الشّفِيعُ البَائِعَ وَ المَبِيعُ فِي يَدِهِ فَلَهُ اَن يُخَاصِمَهُ فِي الشّفعَةِ وَ لاَ يَسمَعُ القَاضِي البَيّنَةَ حَتْي يَحضُرَ المُشتَرِيُ فَيَفسُخُ البَيعَ بِمَشهَدٍ مِّنهُ وَ يَقضِي بِالشّفعَةِ عَلْي البَائِعِ وَ يَجعَلُ العُهدَةَ عَلَيهِ .

وجه : دحَقِّ شُفعې تخت اخستل هم حقيقةً شِرَ آء ده او رانيول دئ نوځكه كوم خِيَار چي په عام بُيُوعَاتُ كي ملاوېږي هغه خِيَار په حَقِّ شُفعَه سره اخستلو كي هم ملاوېږي.او په عام بيوعات كي خِيَارِعَيب او خِيَارِرُأيَت ملاوېږي نوځكه په حَقِّ شُفعَه كي به هم دغه خِيَارونه ملاوېږي .

[۱۲۵۲](۱۸) كه شفيع بائع راحاضركئ او مبيع دده په لاَس كي وي نودشفيع لپاره دا جواز سته چي دشُفعې په باب دبائع سره جَګړَه وكي.او قاضي به بَيّنَه نَه اَورِي ترهغوچي مُشتَرِي حاضرسي.نوبيع دي فسخ كي دمُشتَرِي په موجودګئ كي.او پر بائع دي دشُفعې فيصله وكي او خَرچَه دي هم پر هغه واچوي .

تشريح : د بيعِ وروسته مَبِيع دمُشتَرِي مِلكِيّت ګرزي.او چي ځَه وخت پرهغه دمُشتَرِي قبضه راسي نوبَائِع په يوه لحاظ اَجنَبِي ګرزي نوځكه دشُفعې مُقَدّمَه به پر مُشتَرِي چلېږي.او فيصله هم ګواكه دمُشتَرِي په خلاف كېږي.او شفيع دمُشتَرِي څخه جائداد اخلي.په دې صورت كي مُقَدّمَه او د راكړي وركړي ټولي معاملې دشَفِيع او مُشتَرِي تر مينځ طې كېږي.او دشُفعې فيصله دي هم پر بائع باندي وكړي. د ,,وَيَجعَلُ العُهدَةَ عَلَيه,, دغه مطلب دئ .

وجه:چي مَبِيع دبائع په قبضه كي ده نودشُفعې ذِمّه دَارَه به هم بائع وي.لېكن بل طرف ته بيع سوې ده او مبيع دمُشتَرِي مِلكِيّت ګرزېدلې ده نو دئ به هم حاضرېږي .

[۱۲۵۳](۱۹) وَ اِذَا تَرَکَ الشّفِيعُ اَلاِشهَادَ حِينَ عَلِمَ بِالبَيعِ وَ هُوَ يَقدِرُ عَلْي ذَالِکَ بَطَلَت شُفعَتُهُ .

او هغه اَوّله بيع به قاضي فَسخ کوي .

اُصُول : چي شَئ دکوم چاپه قبضه کي وي دمُقَدّمي رُخ به هم وهغه طرف ته وي .

لُغَت : اَلعُهدَةُ : په بَيعَ او شِرآء کي کېدونکي اُمور او کارونَه .

[۱۲۵۳](۱۹) که شفيع ګواه ګرزول پريږ دي چي څَه وخت دئ په بَيعَ خَبَرسو حالانکه ده پر ګواه جوړولوقُدرَت درلودئ نو دده شُفعَه به باطل سي .

تشريح : شفيع ته معلوم سوچي فُلاَنَئ جائداد خرڅيږي او ده په دغه وخت کي دا قُدرَت درلودئ چي دحَقِّ شُفعې په توګه دا ګواه ونيسي چي زه دا جائداد اَخلَم.خو دهغه باوجود ده پر دې باندي څوک ګواه نَه کړئ نو دده حَقِّ شُفعَه باطليږي .

وجه : (۱) ګواه نَه جوړول د اَخستَلُوڅخه د اِعرَاض دليل دئ.نوځکه د اِعرَاض څخه به حَقِّ شُفعَه باطل سي (۲) ده د اخستلو لپاره د مُوَاثَبَت او جَګ درېدلواندازاختيار نَه کړئ کوم چي د اَثَر او حديث په رُونَا کي ضروري وُ.نوځکه دده حَقِّ شُفعَه به باطل سي (۳) حديث مخته تېرسوئ دئ.او يَو بَل اَثَر دا هم دئ قَالَ الشّعَبِيُ مَن بِيعَت شُفعَتُهُ وَ هُوَ شَاهِدٌ لاَ يُغَيِّرُهَا فَلاَ شُفعَةَ لَهُ (الف) (بخاري شريف.باب عرض الشفعة عَلْي صاحبهاقبل البيع ص۳۰۰نمبر۲۲۵۸) په دې اَثَر کي دئ چي شفيع ئې وينې چي خرڅيږي او هيڅ ډَوَل حرکت نَه کوي يعني نَه طَلَب د مُوَاثَبَت کوي او نَه پر دې باندي ګواه جوړوي نو دده حَقِّ شُفعَه به باطل سي .

پام لرنه : که دمجبورئ په وجه ګواه نَه کړئ جوړ حَقِّ شُفعَه ئې نَه ساقطيږي .

حاشيه : (الف) حضرت شَعَبِي وفرمائل چي دچاشُفعَه خرڅيږي او دئ ئې وِينِي او هغه نَه بَدلَوِي نو دده لپاره دشُفعې حَق نسته .

[۱۲۵۴](۲۰) وَ کَذَالِکَ اِن اَشهَدَ فِي المَجلِسِ وَ لَم يُشهِد عَلْي اَحَدِ المُتَعَاقِدَينِ وَ لاَ عِندَ العِقَارِ [۱۲۵۵](۲۱) وَ اِن صَالَحَ مِن شُفعَتِهِ عَلْي عِوَضٍ اَخَذَهُ بَطَلَتِ الشّفعَةُ وَ يَرُدّ العِوَضَ .

[۱۲۵۴](۲۰) دغه رنګه که په مجلس کي ګواه ونيوئ او دبائع او مُشتَرِي څخه پر يَوَه باندي ګواه نَه ونيوئ او نَه د مځکي سره .

تشريح : شفيع بايد پر دُوَه ځائ ګواه نيولئ وائ (۱) په کوم مجلس کي چي دئ خبرسوچي مځکه خرڅَه سوې ده په هغه کي.دُوَم وار ددې ټولوځايوڅخه پر يوه ځائ.يا بائع ته يا مُشتَرِي يا کم از کم مځکي ته وُلاَړ سي هلته ګواه ونيسي.لېکن که

صرف په مَجلِسِ عِلم كي ګواه ونيوئ خو دبائع يا مُشتَرِي يا دمځكي سره ګواه نَه ونيوئ نو دده حَقِّ شُفعَه به باطل سي .

وجه : دګواه نَه جوړولو څخه اِعرَاض ښكاره كيږي.او دطَلَبِ مُوَاثَبَت ګمِي راغله نوځكه حَقِّ شُفعَه به باطل سي .

[۱۲۵۵](۲۱) كه دخپلي شُفعې څخه ديَوه عِوَض په بَدلَه كي صُلح وكړه نودده شُفعَه به باطل سي او عِوَض به وَاپَس كوي .

تشريح : مثلاً زَيدحَقِّ شُفعَه درلودئ لېكن دمځكي د اخستلو به جائ دحَقِّ شُفعَه په بَدلَه كي دمُشتَرِي څخه څَه مال واخستئ چي حَقِّ شُفعَه پريږدي نو ددې عِوَض د اخستلوپه وجه دده حَقِّ شُفعَه باطل سو.او پر كوم عِوَض چي صُلح سره سوې وه هغه عِوَض به هم وشَفِيع ته نَه رسيږي .

وجه : (۱) وشفيع ته دمځكي د اخستلوپه وجه حَقِّ شُفعَه ملاؤ سوئ وُ لېكن ده عِوَض واخستئ اومځكه ئې پرېښوه نومعلوم سوچي دئ دمځكي د اخستلوڅخه اِعرَاض كوي.اوچي څَه رنګه اِعرَاض ښكاره سونوحَقِّ شُفعَه به باطل سي.اوچي حَقِّ شُفعَه نَه سوپاته نو دهغه په بَدلَه كي به عِوَض څَه رنګه اخلي ؟(۲) حَقِّ شُفعَه خو مَال نَه دئ چي دهغه په بَدلَه كي عِوَض واخلي.دا خوصرف يو مَعنَوِي حق دئ.چي هغه معنوي حق ئې باطل سونوچي كوم عِوَض ده اخستئ دئ هغه به هم وَاپَس كوي .

[۱۲۵۶](۲۲) وَ اِذَا مَا تَ الشّفِيعُ بَطَلَت شُفعَتُهُ .

[۱۲۵۶](۲۲) چي شفيع مَړسي نو دده شُفعَه باطل سوه .

تشريح : په مجلس عِلم كې ګواه ونيوئ.بيائې پرمُشتَرِي باندي ګواه ونيوئ. بيائې دقاضي په دَربَار كي دحَقِّ شُفعې دعوْي وكړه.لېكن دشُفعې دفيصلې څخه مخكي مخكي شَفِيع وَفَات سو نودده حَقِّ شُفعَه به باطل سي.اُوس پر دغه بُنيَاد باندي دشفيع و وَارِثَانُو ته دحَقِّ شُفعې د دعوې كولو حَق نسته .

وجه : (۱) دا يو ډَوَل معنوي حق دئ.اومعنوي حقوق و وَارِثَانُوته نَه مُنتَقِل كيږي. نوځكه حَقِّ شُفعَه و وَارِثَانُو ته نَه مُنتَقِل كيږي (۲) د قاضي دفيصلې په وخت كي حَقِّ شُفعَه بايد پرخپل ځائبحال پاته وي نوبيا قاضي دشُفعې فيصله كولائي سي. اودشَفِيع دمرګ په وجه حَقِّ شُفعَه پرخپل ځائ بحال نَه سوپاته نوځكه دئ به اُوس د شُفعې فيصله نَه كوي. البته كه چيري قاضي دشُفعې فيصله كړې وه اودجائداد قيمت رَاوړَلُوڅخه مخكي شفيع وُفَات سو نو اُوس خوفيصله سوې ده صرف قيمت رَاوړَل پاته دئ نوځكه دشفيع وَارِثَان به ددغه شِي قيمت وركوي او ځيني اَخلِي به (۳) په اَثَركي راغلي دي قَالَ الثّورِيّ سَمِعنَا اَنّ الشّفعَةَ لاَ تُبَاعُ وَ لاَ تُوهَبُ وَ لاَ تُورَثُ وَ لاَ تُعَارُ وَهِيَ لِصَاحِبِهَا اَلّذِي وَقَعَت لَهُ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب الشفيع يأذن قبل البيع

وكم وقتها؟ ج٨ص٨٣نمبر١۴۴٠٧) په دې اَثَركي دئ چي حَقِّ شُفعَه دوِرَاثَت په توګـه نَـه مُنتَقِل كيږي.بلكه دكوم چاڵپاره چي حَقِّ شُفعَه واقع سوئ -

حاشيه : (الف) حضرت ثورِي وفرمائل چي مَا اَوربِدَلِي دي چي شُفعَه نَه خرڅبِدلائي سي.نَه هِبَه كبِدلائي سـي.نَه څوک وَارِث كبِدلائي سي.او نَه په عَارِيَت باندي اخستل كبِدلائي سي.دا دهغه شُفِيع لپـاره دئ دچالپـاره چـي شُـفعَه واقع سوې ده .

[١٢۵٧](٢٣) وَ اِذَا مَا تَ المُشتَرِي لَم تَسقُطِ الشّفعَةُ [١٢۵٨] (٢۴) وَ اِن بَاعَ الشّفِيعُ مَا يَشـفَعُ بِـهِ قَبـلَ اَن يُقضْـي لَـهُ بِالشّـفعَةِ بَطَلَـت شُـفعَتُهُ [١٢۵٩](٢۵) وَ وَكِيلُ البَائِعِ اِذَا بَاعَ وَ هُوَ الشّفِيعُ فَلاَ شُفعَةَ لَهُ .

وي دهغه په حَق كي به پاته وي. او دهغه د اِنتِقَال وروسته به حَقِّ شُفعَه ختم سي .

فائده : امام شافعي فرمائي چي وَارِث ته حَقِّ شُفعَه ملاوېږي .

[١٢۵٧](٢٣) كه مُشتَرِي مَړسي نو حَقِّ شُفعَه نَه باطلېږي .

وجـه : بيـع سـوې ده.دهغـه وروسـته مُشـتَرِي مَـړدئ نـو دا جائـداد دمُشـتَرِي مِلكِيّـت ګرزېدلئ دئ.نوځكه دده دمرګ څخه حَقِّ شُـفعَه نَـه باطلېږي.ځكـه چـي د حَـقِّ شُـفعې والا يعني شفيع موجود دئ.او بيعَ سوې ده لِهٰذَا حَقِّ شُفعَه به ورته ملاوېږي .

[١٢۵٨](٢۴) كه شفيع هغه مځكه خرڅه كړي دكومي مځكـي پـه وجـه چـي ده حَـقِّ شُفعَه درلودئ دده لپاره دشُفعې دفيصلې څخه مخكي نو دده شُفعَه به باطل سي .

تشريح : دكومي مځكي پـه وجـه چـي وشـفيع تـه حَـقِّ شُـفعَه ملاؤسـوئ وُ ده پـه خپلـه دشُفعې دفيصلې څخه مخكي هغه مځكه خرڅه كړه نو دده حَقِّ شُفعَه به باطل سي .

وجه : دكومي مځكي په وجه چي وشفيع ته حَق دشُفعې ملاؤسوئ وُ هغه مځكه دشفيع سره باقي نَه سوه پاته نو اُوس به دحَقِّ شُفعې فيصله څَه رنګه وي ؟ ځكه چي دفيصلـې تـر وختـه پوري مځكه بايد دشفيع سره پاته وي نوبيابه قاضي دشُفعې فيصله كوي .

اُصُول : دفيصلې تر وخته پوري دحَقِّ شُفعې سبب بايد موجود وي .

[١٢۵٩](٢۵) كه دبائع وكيل خرڅ كړي او هغه شفيع وي نودده لپاره شُفعَه نسته .

تشريح : مثلاً زيد دمكان دخرڅېدولپاره عُمَر خپل وكيل جوړكئ او عُمَر د هَمسَـايَه ثُوب په وجه ددغه مكان شفيع هم وُ.اُوس عُمَر په خپله دغه مكان خرڅ كـئ نـو عُمَـر حَقِّ شُفعَه نَه لري .

[١٢٦٠](٢٦) وَكَـذَالِکَ اِن ضَـمِنَ الشّـفِيعُ الـدّرَکَ عَـنِ البَـائِعِ [١٢٦١](٢٧) وَ وَكِيلُ المُشتَرِي اِذَا اِبتَاعَ وَ هُوَ الشّفِيعُ فَلَهُ الشّفعَةُ .

وجـه : (١) وَكِيـل دخرڅېـدو پـه خپلـه ذِمّـه داره وي.چـي ده پـه خپلـه خـرڅ كـړئ او دخرڅېدو پر محال ئـې پـه خپلـه د اَخَسـتَلُوهيڅ ډَوَل اِظهَـار ونـه كـړئ نـو ګواكـه ده د اَخَستَلُو څخه اعراض وكئ او طَلَبِ مُوَاثَبَت ئې ونه كړئ.نوځكـه ده تـه حَـقِّ شُـفعَه نَـه

ملاؤيږي (٢) دا اَثَر تېرسوئ دئ وَقَالَ الشّعَبِيّ مَن بِيعَت شُفعَتُهُ وَهُوَ شَاهِدٌ لاَ يُغَيِّرُهَا فَلاَ شُفعَةَ لَهُ (الف) (بخاري شريف.نمبر٢٢٥٨) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي کله وويني چي خرڅيږي اوهيڅ ډَوَل حَرَکَت ونَه کړي نوهغه ته حَقِّ شُفعَه نَه رسيږي.

[١٢٦٠](٢٦) او دغه رنګه چي شَفِيع دبائع لخوا دعَوَارِضُ ضَامِن سي .

تشريح : بائع مځکه خرڅه کړه او کوم څوک چي شفيع جوړېدئ هغه ومُشتَرِي ته وويل چي که په دغه مځکه کي د بَل چا يو حق ثابت سو نو دهغه ذِمّه داره زه يم.په دې مځکه کي دهيڅ چاحق نسته تَه بې فکر سَه.دا مځکه رانيسه نو اُوس وشفيع ته حَقِّ شُفعَه نَه رسيږي .

وجه : چي په خپله دا وويل چي په دې مځکه کي دهيڅ چاحق نسته نوبيا په خپله دشُفعې دعوه څَه رنګه کوي ؟ دا ګواکه دحَقِّ شُفعې څخه اِعرَاض کوي.نوځکه دده حَقِّ شُفعَه به باطل سي.اُصُول او دلائل لُوَړ څو واره تېرسوي دي .

لُغَت : اَلدّرکُ :موندل.په مځکه او جائداد کي د چاحق ثابتېدل .

[١٢٦١](٢٧) چي دمُشتَرِي وکيل ئې رانيسي او دئ شفيع هم وي نودئ حَقِّ شُفعَه لري .

حاشيه : (الف) حضرت شَعَبِي وفرمائل د چا په مځکي چي د شُفعې شَئ خرڅيږي او دئ هغه وِينِي او نَه بَدلَوِي نوهغه حَقِّ شُفعَه نَه لري .

[١٢٦٢](٢٨) وَ مَن بَاعَ بِشَرطِ الخِيَارِ فَلاَ شُفعَةَ لِلشّفِيعِ [١٢٦٣](٢٩) فَاِن اَسقَطَ البَائِعُ الخِيَارَ وَجَبَتِ الشّفعَةُ .

وجه : د مُشتَرِي وکيل دمُشتَرِي لپاره په دغه وجه رانيولئ دئ چي که دغه بيع وسي نوماته به دحَقِّ شُفعې دعوې کولو موقع ملاؤ سي.نوځکه دده د رانيولوڅخه اِعرَاض نَه ښکاره کيږي.بلکه دا يَوقسم طَلَبِ مُوَاثَبَت دئ.نوځکه د مُشتَرِي وکيل ته حَق دشُفعې سته .

[١٢٦٢](٢٨) که په خِيَارِشَرط سره خرڅ کړئ نوشفيع حَقِّ شُفعَه نَه لري .

تشريح : بائع مځکه خرڅه کړه خو خِيَارِشَرط ئې دځان سره کښېښوئ چي درې ورځي ماته دسوچ کولوموقع راکه چي دا مځکه زَه خرڅ وم که نَه. نواُوس شفيع ته دحَقِّ شُفعې دعوې کولو حَق نسته .

وجه : بيع خوسوې ده لېکن دبائع دخِيَارِشرط په وجه نَه بيع مکمل سوې ده اونَه مبيع دده دمِلکِيّت څخه وتلې ده.نوځکه اُوس وشفيع ته دشُفعې د دعوې کولو حَق نسته. لېکن! چي خِيَارِشَرط ختم کي بيع مکمل کړي او مبيع دمُشتَرِي مِلکِيّت ته وُلاَړَه سي نوبيا د شُفعې د دعوې کولو حَق لري .

[١٢٦٣](٢٩) که چيري بائع خِيَارِشَرط ساقط کړي نوشُفعَه به ثابت سي .

وجه : (۱) دخِیَارِشَرط دساقطولو په وجه بیع مکمل سوه اومبیع دمُشتَرِي مِلکِیّت ته وُلاَړه.نوځکه اُوس شفیع ته حَق دشُفعې حاصل دئ (۲) په اَثَرکي راغلي دي قَالَ اِبنُ اَبِي لَیلْي لاَیَقَعُ لَهُ شُفعَةٌ حَتْي یَقَعَ البَیعُ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب الشفیع یأذن قبل البیع وکم وقتها؟ج۸ص۸۳نمبر۱۴۴۰۴) په دې اَثَرکي دئ چي دبیعِ دمکمل کېدو وروسته شفیع ته حَق دشُفعې حاصلیږي .

حاشیه (الف) حضرت ابن اَبِي لَیلْي وفرمائل دشَفِیع لپاره شُفعَه نَه واقع کیږي ترځوچي بیع نَه وي واقع سوې .

[۱۲۶۴](۳۰) وَ اِن اِشتَرْي بِشَرطِ الخِیَارِ وَجَبَتِ الشّفعَةُ [۱۲۶۵](۳۱) وَ مَن اِبتَاعَ دَارًا شِرَ آ ءً فَاسِدًا فَلاَ شُفعَةَ فِیهَا [۱۲۶۶](۳۲) وَ لِکُلِّ وَاحِدٍ مِنَ المُتَعَاقِدَینِ الفَسخُ [۱۲۶۷](۳۳) فَاِن سَقَطَ الفَسخَ وَجَبَتِ الشّفعَةُ .

[۱۲۶۴](۳۰) او که په خِیَارِشَرط سره رانیوئ نو شُفعَه ثابت ده .
تشریح : مُشتَرِي مځکه رانیوه او درې ورځې دسوچ لپاره خِیَارِشَرط واخستئ او بائع خِیَارِشَرط نَه واخستئ بلکه ده دخپل جانب څخه بیع مکمل کړه نوشفیع ته حَق د شُفعه سته .
وجه : که څَه هم دمُشتَرِي ملکِیّت ته مبیع نَه وي داخله سوې لېکن دبائع لخوا دبیع دمکمل کېدو په وجه دده دمِلکِیّت څخه مبیع وتلې ده.اودده لخوا بیع مکمله سوې ده نوځکه په دي کي د اُوسَ څخه شُفعَه ثابت سوه .
[۱۲۶۵](۳۱) یوچا مکان په بَیعِ فَاسِد سره رانیوئ نوپه هغه کي شُفعَه نسته .
وجه : بیع فاسد حَتْي الامکان ختم کول په کار ده.نوځکه دمُشتَرِي دمِلکِیّت څخه مځکي مبیع دبائع دمِلکِیّت څخه وتلې نَه ده لِهْذَا حَقِّ شُفعَه نَه لري.او چي کله د مُشتَرِي قبضه راسي نوبیا هم دبیعِ دختم کېدو امکان سته نوځکه اُوس هم دشُفعې حَق نَه لري. لېکن! که بیع بالکل مکمله کړي او دختم کېدو اِمکان ئې نَه سي پاته نوبیا حَقِّ شُفعَه ثابتیږي .
[۱۲۶۶](۳۲) او دبائع او مُشتَرِي څخه هر یَو دا حق لري چي بیع فسخ کړي .
وجه:بیعِ فَاسِد بنَه بیع نَه ده نو بائع او مُشتَرِي دواړه دا حق لري چي دا ختم کړي .
[۱۲۶۷](۳۳) که فَسخ ساقط کړي نوشُفعَه واجب ده .
تشریح : بیع فاسدئې باقي پاته کړه اودختم کېدو امکان ئې ختم سونواُوس شُفعَه سته .

[۱۲۶۸](۳۴) وَ اِذَا اِشتَرْي الذِّمِّيّ دَارًا بِخَمرٍ اَو خِنزِیرٍ وَشَفِیعُهَا ذِمِّيٌ اَخَذَهَا بِمِثلِ الخَمرِ وَقِیمَةِ الخِنزِیرِ [۱۲۶۹](۳۵) وَ اِذَا کَانَ شَفِیعُهَا مُسلِمًا اَخَذَهَا بِقِیمَةِ الخَمرِ وَالخِنزِیرِ .

وجه : ځکه چي اُوس په مکمله توګه مبيع دبائع دمِلکِيّت څخه ووتل.لِهٰذَا اُوس حَقِّ شُفعَه ثابت دئ .

[۱۲۶۸](۳۴) که ذِمّي دشرابُ يا خِنزِير په بَدلَه کي مکان رانيوئ او دهغه شفيع ذِمّي دئ نو هغه به مکان اَخلِي دشَرَابُ په مِثل او دخِنزِيردقيمت په عِوَض سره .

تشريح : ذِمّي پر يوبَل ذِمّي باندي دشراب يا دخنزير په بَدلَه کي مکان خرڅ کړئ.او ددغه مکان شفيع هم ذِمّي دئ نوچي دهرڅونه شرابُ په بَدَل کي مکان خرڅ سوئ دئ شفيع دي هغونه شراب ورکړي مکان دي ځيني واخلي .

وجه : شراب مِثلِي شئ دئ نوځکه چي په هرڅونه شرابُ دهغه مکان خرڅ سوئ دئ هغونه شراب دي ورکړي اومکان دي ځيني واخلي.او دذِمّي لپاره شراب جائزدي نوځکه ددې په ورکولو کي هيڅ حرج نسته.او چي دخِنزِيرپه بَدلَه کي مکان خرڅ سوئ دئ نوخِنزِير د ذَوَاتُ القِيَم څخه دئ.نوځکه چي ددې مکان هرڅونه قيمت کېدلائي سي هغونه قيمت دي ورکړي اومکان دي ځيني واخلي .

[۱۲۶۹](۳۵) اوکه چيري ددې مکان شفيع مسلمان وي نومکان به دشرابُ او خِنزِير دقيمت په بَدلَه کي اَخلِي .

وجه : شفيع مسلمان دئ نوځکه هغه نَه شراب ورکولائي سي اونَه خنزيرورکولائي سي.نوچي د دواړو هرڅونه قيمت کېدلائي سي هغونه پيسي دي ورکړي او مکان دي ځيني واخلي .

[۱۲۷۰](۳۶) وَ لاَ شُفعَةَ فِي الهِبَةِ اِلاّ اَن تَکُونَ بِعِوَضٍ مَشرُوطٍ
[۱۲۷۱](۳۷) وَ اِذَا اِختَلَفَ الشّفِيعُ وَ المُشتَرِي فِي الثَمَنِ فَالقَولِ قَولُ المُشتَرِي .

[۱۲۷۰](۳۶) او په هِبَه کي شُفعَه نسته مګر دا چي د عِوَض شرط ئې لکولئ وي .

تشريح : مثلاً زَيد وعُمَر ته مکان هِبَه کړئ نو ددې مکان په مځکه کي هيڅ چاته حَق دشُفعې نَه دئ حاصل .

وجه : په هِبَه کي شئ مُفت ورکول کيږي.نوځکه په دي کي نَه خو دبَيع يوصورت راغلئ دئ او نَه دا مُبَادَلَةُ المَالِ بِالمَال ده چي دشُفعې دثبوت لپاره ضروري او لازم اَمردئ.نوځکه په هِبَه کي شُفعَه نسته.البته کي دهِبې کولو پرمحال دمځکي مَالِک يوشرط ولګاوئ چي دومره قيمت راکه نوبيا تاته دا مکان په هِبَه درکوم نوپه دې صورت کي حَقِّ شُفعَه سته .

وجه : په دې صورت کي په ظاهره خو هِبَه ده لېکن په حقيقت کي دا بيع ده.ځکه چي ديوې خوا څخه مځکه او دبَلِي خوا څخه رَقَم اخستل دئ چي دمُبَادَلَـةُ المَـالِ بِالمَـال يو شکل دئ.نوځکه په دې صورت کي حَق دشُفعې سته .

[۱۲۷۱](۳۷) که شفيع او مُشتِري په ثَمَن کي اختلاف سره وکړئ نود مُشتَرِي قول مُعتَبَر دئ .

تشريح : مثلاً مُشتَرِي وائي چي دا مځکه ما دبائع څخه په زَر دِرهَم اخستې ده.اوشفيع وائي چي تا دامځکه په اَتَه سوه دِرهَم اخستې ده.او زه دا حق لرم چي ستا څخه دا مځکه په اَتَه سوه واخلم.او دشفيع سره پر اَتَه سوه باندي هيڅ ډَوَل بَيِّنَه نسته نو سره د قَسَم به دشفيع خبره منل کيږي .

وجه:شفيع پـه اَتَـه سـوه دِرهَـم دمځکـي اخسـتلومُـدّعِي دئ اومُشـتَرِي دهغـه مُنکِـردئ. اودمُدّعِي سره بَيِّنَه نسته نوځکه دمُدّعِي مُنکِرخبره به سره دقَسَم منل کيږي .

[۱۲۷۲](۳۸) فَاِن اَقَامَا اَلبَيِّنَـةَ فَالبَيِّنَـةُ بَيِّنَـةُ الشّـفِيعِ عِنـدَ اَبِـي حَنِيفَـةَ وَ مُحَمّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ [۱۲۷۳](۳۹) وَ قَالَ اَبُويُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ اَلبَيِّنَةُ بَيِّنَةُ المُشـتَرِي [۱۲۷۴](۴۰) وَ اِذَا اِدّعْـي المُشـتَرِي ثَمَنًـا اَكثَـرَ وَ اِدّعْـي البَائِعُ اَقَلّ مِنهُ وَ لَم يَقبِضِ الـثّمَنَ اَخَـذَهَا الشّـفِيعُ بِمَـا قَـالَ البَـائِعُ وَكَـانَ ذَالِکَ حَطًّا عَنِ المُشتَرِي .

[۱۲۷۲](۳۸) که چيري شفيع او مُشتَرِي دواړو بَيِّنَه قائم کړه نودامـام ابوحنيفـه او امـا محمدپه نېز دشفيع بَيِّنَه مُعتَبَر ده .

تشريح : شفيع پردې خبره بَيِّنَه قـائم کـړه چـي مُشـتَرِي دا مځکـه پـه اَتَـه سـوه اخسـتې ده.اومُشتَرِي پر دې خبره بَيِّنَـه قـائم کـړه چـي مَـا پـه زَر روپۍ اخسـتې ده.نـوطـرفين فرمائي چي دشفيع بَيِّنَه قابِلِ قبول ده د مُشتَرِي بَيِّنَه نَه .

وجه : شفيع په کَم قيمت د اخستلو مُدّعِي دئ او مُشتَرِي مُنکِـردئ او دحـديث پـه رُونَـا کي دمُدّعِي ګواهي قابِلِ قبول ده.نوځکه دشفيع ګواهي به قبليږي .

[۱۲۷۳](۳۹) او امام ابويوسف وفرمائل چي دمُشتَرِي بَيِّنَه مُعتَبَرَه ده .

وجه : دئ فرمائي چي مُشتَرِي په زِيَات قيمت داخستلو دعوې داره دئ.نوځکـه پـه دې مسئله کي دئ مُدّعِي سو نودده ګواهي به قابل قبول وي .

اُصُول : په دې مسئله کي اصل خبره داده چي مُدّعِي څـوک دي او مُنکِرڅـوک دي؟ دکوم امام په نېزچي څوک مُدّعِي دئ دهغه ګـواهي مُعتَبَـره ده اوچـي څـوک مُنکِـردئ دهغه خبره سره دقَسَم منل کيږي .

[۱۲۷۴](۴۰) که مُشتَرِي دزِيَات ثَمَن دعوه وکړي او بائع دهغه څخه د کَم دعوه وکړي او بائع پر ثَمَن باندي قبضه نَه ده کړې نوشفيع به دا په هغه قيمت اَخلِي کوم چي بائِع ويلئ دئ.او دا به دمُشتَرِي څخه د قيمت کمېدل وي .

[۱۲۷۵](۴۱) وَ اِن کَانَ قَبِضَ الثَّمَنَ اَخَذَهَا بِمَا قَالَ المُشتَرِي وَ لَم يُلتَفَت اِلْي قَولِ البَائِعِ .

تشريح : مثلاً عُمَر مُشتَرِي وويل چي دا مځکه مي د زَيد څخه په زَر دِرهَم اخستې ده.ددې مطلب داسو چي وخَالِدشفيع ته هم دا مځکه په زَر دِرهَم ورکوم.او زَيد بائع وويل چي ما پر عُمَرباندي دامځکه په اَتَه سوه خرڅه کړې ده.او زيدبائع تر اُوسَ د عُمَرمُشتَرِي څخه دمځکي قيمت نَه دئ اخستئ نوخَالِدشفيع به دغه مځکه دعُمَرمُشتَرِي څخه په اَتَه سوه دِرهَم اخلي.او دا به داسي ګڼل کيږي لکه زَيدبائع چي دمُشتَرِي لپاره دوه سوه دِرهَم وروسته کَم کړي وي.او اُوس به زَيدبائع هم د عُمَر مُشتَرِي څخه په اَتَه سوه دِرهَم اخلي.ځکه چي ده په خپله اِقرَار وکړئ چي ما په اَتَه سوه خرڅه کړې ده .

لُغَت : حَطٌّ : کَمَوَل .

[۱۲۷۵](۴۱) او که بائع پرثَمَن قبضه وکړه نوشفيع به په هغه قيمت اَخلِي کوم چي مُشتَرِي ويلئ دئ او دبائع وقول ته به توجه نَه ورکول کيږي .

وجه : چي بائع پرقيمت باندي قبضه وکړه نو اُوس دئ ددې معاملي څخه اَجنَبِي وګرزېدئ.اُوس دده وخبره ته هيڅ توجه نَه سي کېدلائي.اُوس دشفيع او مُشتَرِي ترمينځ معامله راغله.مخته تيرسوچي په دې صورت کي شفيع مُدّعِي دئ او مُشتَرِي مُنکِردئ.لهذا سره دقَسَم به دمُشتَرِي خبره منل کيږي.او بَيِّنَه به دشفيع دقبليږي .

اُصُول : د اَجنَبِي وخبره ته به هيڅ توجه نَه ورکول کيږي .

لُغَت : لَم يُلتَفَت : توجه به نَه ورکول کيږي .

[۱۲۷۶](۴۲) وَ اِذَا حَطّ البَائِعُ عَنِ المُشتَرِي بَعضَ الثّمَنِ يَسقُطُ ذَالِکَ عَنِ الشّفِيعِ [۱۲۷۷](۴۳) وَ اِن حَطّ جَمِيعَ الثّمَنِ لَم يَسقُط عَنِ الشّفِيعِ [۱۲۷۸](۴۴) وَ اِذَا زَادَ المُشتَرِي لِلبَائِعِ فِي الثّمَنِ لَم تَلزِمِ الزّيَادَةُ لِلشّفِيعِ .

[۱۲۷۶](۴۲) که بائع دمُشتَرِي څخه يوځَه قيمت کَم کړئ نوپه هغونه اندازه به دشفيع څخه کم سي .

تشريح : مثلاً بائع مځکي په زَر روپۍ مځکه خرڅه کړې وه.وروسته دمُشتَرِي څخه دوه سوه روپۍ کمي کړې او په اَتَه سوه روپۍ ئې ورکړه نو دشفيع څخه به هم دوه سوه روپۍ کمي سي.دئ به أُوس په اَتَه سوه روپۍ مځکه اَخلِي .

وجه : په کوم قيمت چي مُشتَرِي اخستې ده قاعده داده چي شفيع هم په هغه قيمت د اخستلو حقداره دئ .

أُصُول : په کوم قيمت چي خرڅه سوې ده په هغه قيمت به شفيع اَخلِي .

[۱۲۷۷](۴۳) او که ټوله قيمت کَم کړي نو دشفيع څخه هيڅ شئ نَه ساقطيږي .

تشريح : مثلاً په زَر روپۍ ئې مځکه خرڅه کړه.وروسته بائع ټوله قيمت ورمعاف کړئ نودشفيع څخه هيڅ شئ نَه کميږي .

وجه : که يو څَه قيمت ورمعاف کړئ وائي نو دا معافي به د اَصل عَقدسره مُلحَق سوې وائي او دشفيع څخه به هم کم سوئ وائي.لېکن ده ټوله ورمعاف کړئ نو دا د اَصل عَقدسره نَه سي مُلحَق کېدلائي.بلکه دا وروسته يوه جلا معافي سوه.نوځکه شفيع به أُوس پوره قيمت ورکوي .

[۱۲۷۸](۴۴) که مُشتَرِي دبائع لپاره په ثَمَن کي زياتوب وکي نووشفيع ته دغه زياتوب نَه لازميږي .

[۱۲۷۹](۴۵) وَ اِذَا اِجتَمَعَ الشّفَعَآ ءُ فَالشّفعَةُ بَينَهُم عَلْي عَدَدِ رُؤسِهِم وَلاَيُعتَبَرُ بِاِختِلاَفِ الاَملاَکِ .

تشريح : مثلاً په زَر روپۍ ئې مځکه خرڅه کړه. وروسته مُشتَرِي په خپله رضاء او خوشحالي سره دُوُلَس سوه ورکړې نودغه دوه سوه پر شفيع نَه لازميږي.شفيع به په هغه اَوّل قيمت يعني زَر روپۍ باندي د زَيد څخه اَخلِي .

وجه : (۱) ددې خبري قَوِي اِمکَان سته چي مُشتَرِي دي دغه دُوَه سوه زياتي ورکړي وي او وشفيع ته د دو سو نُقصَان رسولو اراده کړې وي.نوشريعت ددې نُقصَان تلافي کوي او په بَيع کي چي کوم اَوّل قيمت مُقَرّر سوئ دئ پر شفيع باندي هغه قيمت لازم دئ (۲) حديث ,, لاَ ضَرَرَ وَ لاَ ضَرَارَ ,, هم راغلئ دئ .

[۱۲۷۹](۴۵) که ډېر شُفعَه کونکي سره جمع سي نودشُفعې حق د دُوئي ترمينځ د دُوئي دتعداد په اندازه دئ او دمِلکِيّتُو د اِختلاف اِعتِبَار به نَه کيږي .

تشريح : مثلاً يوه مځکه خرڅه سوه دهغه مځکي پر څلور طرفَ څلورهَمسَايَه ګان دي يا څلور حِصّه داره خلګ دي.ديوه حِصّه زياته ده د يوه دا کمه ده.نووڅلورو سروه و ته برابر برابر حَقِّ شُفعَه رسيږي.دحِصّې د کموالي يا زيات والي په وجه په حَقِّ شُفعَه کي زياتوب او کمبوت نَه سي راتلائي .

وجه : (۱) حَقِّ شُفعَه د اِتّصَال په وجه ملاؤيږي يا د شِرکَت په وجه ملاؤيږي.او په اِتّصَال او شِرکَت کي ټول شُفعَه کونکي سره برابر دي.په حِصّه کي کمبوت او زياتوب جلا خبره

ده.نوځکه دحَقِّ شُفعې په وجه چي کومه مځکه ملاؤيږي هغه به وتولو ته برابره ملاؤيږي (۲) په اَثَر کي ددې ثبوت سته عَنِ الشّعَبِيِّ قَالَ اَلشّفعَةُ عَلْي رُؤسِ الرِّجَالِ وَ كَذَالِکَ قَالَ اِبـرَاهِيمُ (الـف)(مصـنف عبـدالرزاق.باب الشـفعة بالحصـص اَو علْـي الـرؤس ج۸ص۸۵نمبر۱۴۴۱۵\۱۴۴۱۶\مصنف ابن ابي شيبة ۳۶۹في الشفعة علْي رؤس

حاشيه : (الف) حضرت شعبي وفرمائل شُفعَه د انسانانو دتعدادپه اِعتِبَار سره ده.حضرت ابراهيم نَخَعِي هم دغه رنګه وفرمائل .

[۱۲۸۰](۴۶) وَ مَـن اِشـتَرْي دَارًا بَعَـرَضٍ اَخَـذَهَا الشّـفِيعُ بِقِيمَتِـهِ [۱۲۸۱](۴۷) وَ اِنِ اِشتَرَاهَا بِمَكِيلٍ اَو مَوزُونٍ اَخَذَهَا بِمِثْلِهِ .

الرجال ج۴ص۵۰۳نمبر۲۲۵۳۰) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي دشُفعَه کونکو د تعدادپه لحاظ به شُفعَه ملاؤيږي .

فائده : دامام شافعي په نيز دکوم شفيع چي هرڅونه حِصّه ده دهغه حِصّې دکمبوت او زياتوب په وجه به مځکه هم زياته او کمه ملاؤيږي .

وجه : په اَثَر کي راغلي دي عَن عَطَآءٍ قَالَ اَلشّفعَةُ بِالحِصَصِ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب الشفعة بالحصص اوعلْي الرؤس ج۸ص۸۵نمبر۱۴۴۱۸\مصنف ابن ابي شيبة ۳۶۹في الشفعة علْي رؤس الرجال ج۴ص۵۰۳نمبر۲۲۵۲۸) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي دشُفعې مځکه به دحِصّوپه اندازه تقسيم کيږي.دکوم چاچي حِصّه زياته وي هغه ته به زياته مځکه ملاؤيږي او دکوم چاچي حِصّه کمه وي هغه ته به مځکه کمه ملاؤيږي او قيمت به هم کَم ورکوي .

[۱۲۸۰](۴۶) يوچادسامان په بَدلَه کي مکان رَانِيوَئ نوشفيع به هغه مکان دهغه په قيمت باندي اَخلِي .

تشريح : مُشتَرِي دسامان په بدله کي مځکه رانيول نوشفيع به دهغه سامان قيمت ورکوي او مځکه به اَخلِي.ددغه سامان چي هرڅوقيمت وي هغه به ورکوي او دمُشتَرِي څخه به مځکه اَخلِي .

وجه : سامان ذَوَاةُ القِيَم دئ.ددې خو قيمت لګيږي.ددې مِثل نَه وي نوځکه دسامان به قيمت ورکوي او مځکه به ځيني اَخلِي .

[۱۲۸۱](۴۷) او که مکان د يو کَيلِي يا وَزنِي شِي په بَدلَه کي رانيوئ نو هغه دي دهغه په مِثل سره واخلي .

حاشيه : (الف) حضرت عطآء وفرمائل شُفعَه دحِصّوپه اِعتِبَار سره ده .

[۱۲۸۲](۴۸) وَ اِن بَاعَ عِقَارًا بِعِقَارٍ اَخَذَ الشّفِيعُ كُلّ وَاحِدٍ مِنهُمَا بِقِيمَةِ الآخَرِ [۱۲۸۳](۴۹) وَ اِذَا بَلَغَ الشّفِيعَ اَنّهَا بِيعَت بِاَلفٍ فَسَلّمَ الشّفعَةَ ثُمّ

عَلِمَ اَنّهَا بِيعَت بِاَقَلّ مِن ذَالِکَ اَو بِحِنطَةٍ اَو شَعِيرٍقِيمَتُهَا اَلفٌ اَو اَكثَرَ فَتَسلِيمُهُ بَاطِلٌ وَ لَهُ الشّفعَةُ .

تشريح : مثلاً د دوسو کېلو غَنَمُوپه بدله کې مکان رانيوئ نوشفيع بـه دغَنَمُومِثل دوه سوه کېلوغَنَم ورکوي او دمُشتَرِي څخه به مکان اَخلِي .

وجه : غَنَم کَيلِي شئ دي او مِثلِي هم دي.لهْذَا ددې مِثل به ورکوي شفيع به اَخلِي .

[١٢٨٢](۴٨) که مځکه دمځکي په بدله کي خرڅه کړه نوشفيع به د دواړو څخـه هـره يوه اَخلِي دهغه بلي دقيمت په بدله کي .

تشريح : مثلاً زيددخپلي مځکـي پـه بـدل کـي دعُمَرمځکـه رانيوه ددې پـه وجـه دزيد دمځکي شُفعَه کونکوحق دشُفعې طلـب کـړئ اودعُمَـردمځکـي شُفعَه کونکـو هـم حـق دشُفعې طلب کړئ.اوس دزيـد دمځکـي قيمـت زَر روپـئ وُ او دعُمَـردمځکـي بـازاري قيمت اَتَه سوه روپئ وُ.نود زَيددمځکي شفعه کونکي به د عُمَردمځکـي قيمـت چـي اَتَـه سوه روپئ دئ دهغه په بدله کي اَخلِي.او د عُمَـردمځکـي چـي کـوم شُفعَه کـونکي دي هغه به د زَيددمځکي قيمت چي زَر روپئ دئ دهغه په بَدلَه کي اَخلِي .

وجه : د زَيد دمځکي قيمت د عُمَرمځکه ده.نوځکـه دزَيـد دشـفيع لپـاره بـه دعُمَـر د مځکـي قيمـت لګول کيږي.او دعُمَردمځکي دشفيع لپاره به دزَيددمځکي قيمت لګول کيږي .

لُغَت : عِقَارٌ : مځکه .

[١٢٨٣](۴٩) که شفيع ته معلوم سوچي مکان په زَر روپئ خرڅ سوئ دئ نوده شُفعَه پرېښوه.بيا معلوم سوچي ددې څخه په کَم مکان خرڅ سوئ دئ.يا دغَنَمُوپه بدله کي يـا دجُوَارَيُوپه بَدلَه کي خرڅ سوئ دئ چي دهغه قيمت زَر روپئ يا دهغه څخه زيـات دئ نودده پرېښول باطل دئ او ده ته به حَق دشُفعې ملاوېږي .

[١٢٨۴](٥٠) وَ اِن بَانَت اَنّهَا بِيعَت بِدَنَانِيرَ قِيمَتُهَا اَلفٌ فَلاَ شُفعَةَ لَهُ .

تشريح : شفيع خبرسوچي مکان په زَر روپئ خرڅ سوئ دئ نـو هغـه وخـت ده شُفعَه پرېښوه.وروسته معلـوم سـوچي ددې څخـه پـه کَم قيمـت خـرڅ سـوئ دئ نوهغـه اَوّل پرېښول باطل دئ اُوس وده ته دوباره حَقِّ شُفعَه حاصل دئ .

وجه : (١) شفيع دګَرَانَئ يعني کَثرَتِ ثَمَن په وجه حَقِّ شُفعَه پرې اېښئ وُ.لِهْذَا ودې تـه اِعرَاض نَه سي ويل کېدائي.وروسـته دقيمـت دګمـوَالِي پـه وجـه دشُفعې دعوْي کـړې ده.دغـه رنګـه وروسـته معلـوم سـوچي پـه زَر روپـئ خـرڅ سـوئ دئ ځکـه ده شُفعَه پرېښول.بيا معلوم سوچي دغَنَمُوپه بدله کي خرڅ سوئ دئ چي دهغه قيمت زَر روپئ دئ نو وده تـه بـه دوبـاره حَـق دشُفعې ملاوېږي (٢) بعـض وختونـه داسـي وي چـي دصَحرَاء وسېدونکي سړي ته زَر دِرهَم اداٴ کـول مُشـکِل وي لـېکن دغَنَمُـو اداٴ کـول وهغه ته آسان وي نوځکه چي دغَنَمُو په بدله کي دخرڅېدو خبرسـو نـو دده رَغبَـت او

شوق زيات سو لِهٰذَا هغه اَوّل اِنكَار د اِعرَاض كولو دليل نَه دئ.نوځكه دوباره به ده ته حق شُفعَه رسيږي.دغه حال په هر هغه صورت كي دئ چي اَوّل وار دئ خبر سي چي په بَل جِنس سره خرڅ سوئ دئ او پر هغه باندي شفيع اِنگَار وكئ وروسته بيا خَبَر سو چي هغه خو په بَل جلا جنس سره خرڅ سوئ دئ نو وده ته دوباره بيا حَقِّ شُفعَه حاصل دئ.ځكه چي اَوّلَنَئ اِنكَار د اِعرَاض دليل نَه دئ .

اُصُول : چي دخِلافِ جِنس خبر ورورسيږي نو حَقِّ شُفعَه ئې نَه ساقطيږي .

[۱۲۸۴](۵۰) او كه ښكاره سوچي ددِينَار په بدله كي خرڅ سوئ دئ چي دهغه قيمت زَر دِرهَم وُ نو وشفيع ته شُفعَه نَه ملاوٸږي .

تشريح : شفيع خبرسوچي مكان د دِينَار په بدله كي خرڅ سوئ دئ چي دهغه قيمت زَر دِرهَم دئ.پردې باندي ده دشُفعې څخه انكار وكئ.وروسته خبرسوچي د زَر دَرَاهِمُ په بدله كي خرڅ سوئ اُوس دئ دوباره دشُفعې دعويْ كوي نو اُوس ده ته

[۱۲۸۵](۵۱) وَ اِذَا قِيلَ لَهُ اَنّ المُشتَرِي فُلاَنٌ فَسَلّمَ الشّفعَةَ ثُمّ عَلِمَ اَنّهُ غَيرُهُ فَلَهُ الشّفعَةُ .

حَقِّ شُفعَه نَه سي ملاوېدائي .

وجه : ځكه چي دِرهَم او دِينَار دواړه ثَمَن دي او دواړه ګواكه يوجنس دي نوچي اَوّل د زَرُو خبر ورورسېدئ پر هغه باندي ده اِنكَار وكئ نو بيا چي دوباره د زَرُو خبر ورورسيږي پر هغه به دشُفعې دعوْي څه رنګه كوي ؟ لِهٰذَا دوباره دشُفعې دعوْي نَه سي كولائي .

لُغَت : بَان : ښكاره سو.يعني معلوم سو .

[۱۲۸۵](۵۱) او كه وشفيع ته وويل سو چي خريدار ئې فُلاَنَئ دئ نو ده شُفعَه پرېښوه وروسته معلوم سوچي دهغه څخه علاوه دئ نوده ته به شُفعَه رسيږي .

تشريح : شفيع خبرسوچي دفُلانئ محٔكي خريدارمثلاًزَيد دئنوده شُفعَه پرېښوه. وروسته معلوم سوچي خريدارخوعُمَر دئ نوده ته دوباره حَق دشُفعې سته .

وجه : حَقِّ شُفعه په دې وجه وي چي دهَمسَايَه د ضَرَر څخه ځان وَژغُوَرِي.نوځكه شفيع ته چي معلوم سوچي خريدار زَيد دئ چي شريف اِنسَان دئ.دده په هَمسَايَه تُوب كي څَه نُقصَان نسته.نوځكه ده حَقِّ شُفعَه پرېښوئ.وروسته معلوم سوچي عُمَر دئ اَخلِي او هغه خطرناك سړئ دئ.دهغه په هَمسَايَه تُوب كي نُقصَان دئ لهٰذَا چي دحَقِّ شُفعې دعوه وكي نو كولائي سي.ځكه چي اَوّل انكار پر اعراض باندي دلالت نَه كوى .

اُصُول : په دې مسائلوكي دغه اُصُول چليږي چي كوم حَرَكَت پر اعراض باندي دلالت كوي دهغه حركت څخه حَقِّ شُفعَه باطليږي.اوكوم حركت چي پر اعراض باندي دلالت نَه كوي په هغه حركت كولوسره حَقِّ شُفعَه پرځپل ځائ پاته دئ .

[١٢٨٦](٥٢) وَ مَن اِشتَرْي دَارًا لِغَيرِهِ فَهُوَ الخَصمُ فِي الشّفعَةِ اِلاّ اَن يُسَلِّمَهَا اِلْي المُؤكِّلِ [١٢٨٧](٥٣) وَ اِذَا بَاعَ دَارًا اِلاّ مِقدَارَ ذِرَاعٍ فِي طُولِ الحَدِّ الذِّي يَلِيَ الشّفِيعَ فَلاَ شُفعَةَ لَهُ .

[١٢٨٦](٥٢) يَوچَا دبَل چَا لپاره مكان رانيوئ نو په شُفعَه كي به هغه مُدّعْي عَلَيهِ وي.لېكن كه مكان دمُؤكِّل په حواله كئ نوبيا نَه .

تشريح : مثلاً زَيد د عُمَر لپاره وكيل سو او دهغه لپاره ئې مكان رانيوئ نوشفيع به دحَقِّ شُفعې لپاره زَيد مُدّعْي عَلَيه جوړوي اوپر هغه به مُقَدّمَه دَائِرَوِي.تر اُوس پوري به پرعُمَرباندي مقدمه نَه كوي.لېكن! كه چيري زَيد وعُمَر مُؤكِّل ته مكان حواله كړئ نو اُوس به شفيع عُمَر مُؤكِّل مُدّعْي عَلَيهِ ګرزوي .

وجه : څوک چي مكان اَخلِي هغه سړئ مُشتَرِي ګڼل كيږي.كه څَه هم دبَل لپاره اَخلِي. دعوه او دغه رنګه نور تړوله حقوق ئې داَخَستُونكِي سړي په حواله كيږي. نوپه دې صورت كي په ظاهره توګه سره زَيدوَكِيل دغه خريد كړئ دئ نوځكه هغه به مُدّعْي عَلَيه جوړيږي.اوچي څَه وخت دمُؤكّل لاس ته ورسيږي نوپه دغه وخت ګواكه دئ اَصل خريدارجوړسونوځكه دئ به اُوس مُدّعْي عَلَيه جوړيږي .

اُصُول : تړوله حقوق پر وَكِيل باندي لازميږي .

لُغَت : اَلخَصَمُ : مَدِّ مُقَابِل. مُدّعْي عَلَيهِ .

[١٢٨٧](٥٣) كه مكان خرڅ كړئ مګر په وُږدوَل كي يوه هَتَه دهغه طرف څخه كوم چي وشفيع ته وَرځرمَه دئ نو دده لپاره شُفعَه نسته .

تشريح : دا وشفيع ته د نَه وركولو يوه حِيلَه ده نوځكه تړوله مكان ئې خرڅ كړئ او وكوم طرف ته چي شفيع او دهغه هَمسَايَه توب ورځرمه دئ په وُږدوَل كې تر پَايَه پوري يوه يوه هَتَه پرېښوه هغه ئې نَه كړه خرڅه.نواُوس وهَمسَايَه شفيع ته دشُفعې كولو موقع نَه رسيږي .

[١٢٨٨](٥٤) وَ اِن اِبتَاعَ مِنهَا سَهمًا بِثَمَنٍ ثُمّ اِبتَاعَ بَقِيّتَهَا فَالشّفعَةُ لِلجَارِ فِي السّهمِ الاَوّلِ دُونَ الثّانِي .

وجه : دهَمسَايَه توب په وجه دشُفعې حَق هغه وخت ورته ملاؤيږي چي كله دده په هَمسَايَه تُوب كي مُتّصِل او ورځرمَه محُكه خرڅه سي.او دلته خو داسي سوي دي چي دهَمسَايَه تُوب محُكه په وُږدوَل كي تر پَايَه پوري يَوَه يَوَه هَتَه ګرسره خرڅه سوې هم نَه ده نوځكه دشُفعې حَق نَه لري.په دغه نقشه كې د مَابَين حِصّه نَه ده خرڅه كړې نوځكه



وشفیع ته حَق دشُفعې نَه رسیږي .

لُغَت : یَلِيَ : مُتّصِل ده.وَرخَرمَه ده .

[١٢٨٨](٥۴) که دمکان یوه حِصّه په یوه څَه قیمت رانیوه.بیائې دهغه پاته حِصّه رانیوه نودهَمسَایَه لپاره په هغه اَوّله حِصّه کې شُفعَه سته په دومه کې نسته .

تشریح : مثلاً یومکان دئ چې دهغه قیمت اَتَه زَرَه روپۍ دئ.بائع دهغه اَتَه حِصّې جوړې کړې او یوه حِصّه ئې خرڅه کړه مُشتَرِي ئې په هغه مکان کې شریک کړئ.وروسته پر هغه مُشتَرِي باندې دا نورې اُوَه حِصّې خرڅې کړې.نو اُوس چې کوم هَمسَایَه شفیع وُ پرهغه چې اَوّل وار کومه حِصّه خرڅه سوې وه په هغه کې وده ته دشُفعې حَق سته.په دوم وار چې کومې اُوَه حِصّې خرڅې سوې وې په هغه کې وده ته دشُفعې حَق نَه سته.هغه اُوَه حِصّې خالص دشریک دي .

وجه : اَوّل خو وشریک فِي المَبِیع ته حَقِّ شُفعَه رسیږي.بیا وشَرِیک فِي الطّرِیق ته.په دریم وار کې وهَمسَایَه ته شُفعَه ملاؤیږي.ددې قاعدې په رونا کې چې اَوّل واره کومه یوه حِصّه خرڅېدله په هغه وخت کې په دې مکان کې بَل هیڅ څوک شریک نَه وُ.نوځکه وهَمسَایَه ته حَق دشُفعې ملاؤسو.لېکن دوم وار چې اُوَه حِصّې خرڅېدلې په دې وخت کې مُشتَرِي اَوّل په مکان کې شریک سوئ وُ نوځکه

[١٢٨٩](٥٥) وَ اِذَا اِبتَاعَهَا بِثَمَنٍ ثُمّ دَفَعَ اِلَیهِ ثَوبًا عِوَضًا عَنهُ فَالشّفعَةُ بِالثّمَنِ دُونَ الثّوبِ [١٢٩٠](٥۶) وَلاَ تُکرَهُ الحِیلَةُ فِي اِسقَاطِ الشّفعَةِ عِندَ اَبِي یُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ وَ قَالَ مُحَمّدٌ رَحِمَهُ اللهُ تُکرَهُ .

وشریک ته حَقِّ شُفعَه حاصل دئ.وهَمسَایَه ته حَقِّ شُفعَه نَه رسیږي .

پام لرنه : دا هم هَمسَایَه شفیع د شُفعې څخه دمحروم کولو یوه حِیلَه ده .

[١٢٨٩](٥٥) که مکان په یوه قیمت رانیوئ بیائې وبائع ته دهغه په بدله کې کپړې ورکړې نوشُفعَه په قیمت کې سته په کپړو کې نسته .

تشریح : مثلاً زَید د عُمرڅخه د زَر دِرهَم په بدله کې مځکه رانیوه.وروسته د زَر دِرهَم په بدله کې کپړې ورکړې نو شفیع به دمُشتَرِي څخه د زَر دِرهَم په بدله کې مځکه رانیسي.دکپړې په بدله کې به مځکه نَه رانیسي .

وجه : په شروع کې دمځکې اصل قیمت زَر دِرهَم دې کپړه نَه ده.نوځکه دزَر دِرهَم په بدله کې به مځکه اَخلِي.او په دې کې دشفیع څخه دځان خلاصولوحیله داده چې دلږمځکې قیمت دې دُوَه چَندَ درې چَندَ یاڅلورچَند دِرهَم مُقَرّرکړي او وروسته دې دهغه دَرَاهِمُ په بدله کې لږڅَه کپړې ورکړي.نو اُوس که شفیع اَخلِي نو په دُوَه چَند درې چَند قیمت به اَخلِي.په دارنګه به بائع او مُشتَرِي دواړه خلاص سي .

[١٢٩٠](٥۶) دشُفعې په ساقطولوکې حِیلَه نَه ده مکروه دامام ابویوسف په نېز امام محمد وفرمائل چې مکروه ده .

وجه : امام ابویوسف فرمائي چي تر اُوسَ دشفیع حَق ساقط سوئ نَه دئ نوځکه دده ضَرَر د دفع کولو لپاره حِیلَه کولائي سي.حضرت دبائع او مُشتَرِي ونُقصَان ته نَظَرکړئ دئ.او امامِ محمدفرمائي چي دغه رنګه به دحِیلُو یوه دروازه خلاص سي چي په نتیجه کي به دحَقِّ شُفعې حُکم ختم سي.نوځکه دارنګه حِیلَه کول مکروه ده .

[۱۲۹۱](۵۷) وَ اِذَا بَنْي المُشتَرِي اَو غَرَسَ ثُمّ قُضِيَ لِلشّفِیعِ بِالشّفعَةِ فَهُوَ بِالخِیَارِ اِن شَآ ءَ اَخَذَهَا بِالثّمَنِ وَقِیمَةِ البِنَآءِ وَالغَرَسِ مَقلُوعَینِ وَ اِن شَآ ءَ کُلِّفَ المُشتَرِي بِقَلعِهِ .

ده دشفیع و ضَرَر ته نَظَر کړئ دئ .

[۱۲۹۱](۵۷) که مُشتَرِي مکان جوړکئ یائې بَاغ وَکَارَئ بیا د شفیع لپاره د شُفعې فیصله وسوه نو و ده ته اِختِیَار دئ که خُوَښَه سي په قیمت دې رانیسي او د نَړېدَلِي مکان او خَتَلِي باغ قیمت دي ورکړي او که خُوَښَه سي مُشتَرِي دي پر کښلو مجبور کړي .

تشریح : مُشتَرِي مځکه رانیوه دهغه وروسته پرهغه مځکه باغ وَکَارَئ یائې مکان او سرائ جوړ کئ.ددې وروسته ددغه مځکي فیصله دشفیع لپاره وسوه نوشفیع به دمځکي قیمت ورکوي.او دنَړېدَلِي مکان او خَتَلُو درختو قیمت به ورکوي.مځکه مکان او باغ به دئ اَخلِي.یا بَل صورت دادئ چي مُشتَرِي به مجبوره کوي چي مکان دي وَنَړَوَه او باغ دي وَکَاږَه.مځکه په مُکَمّله توګه خالي وشفیع ته حواله کَه .

وجه : مُشتَرِي خومځکه دبائع څخه اَخستې ده.د حَقِّ شُفعې دفیصلې وروسته معلوم سوچي دا خو په حقیقت کي دشفِیع مځکه وه چي مُشتَرِي اَخَستې وه.او دشفیع د اجازت بغیره مُشتَرِي پر دې باندي مکان جوړکړئ وُ او باغ ئې پر لګولئ وُ نوځکه پر مُشتَرِي باندي مکان نَړَوَل او درختي ګاتوَل لازم دي. عَن عَبدِاللهِ بنِ عُمَرَ قَالَ مَن بَنْي فِي اَرضِ قَومٍ بِغَیرِ اِذنِهِم فَلَهُ نَقضُهُ وَ اِن بَنْي بِاِذنِهِم فَلَهُ قِیمَتُهُ (سنن للبیهقي.باب من بنْي او غرس في ارض غیره ج۶ص۹۱) په دې اَثَر کي دئ چي ببله اجازې ئې مکان جوړکئ دهغه نَړَوَل ضروري دئ.نوځکه یا خو دي دنَړېدَلِي مکان او دخَتَلِي باغ قیمت واخلي او وشفیع ته دې حواله کي.یا دي مُشتَرِي باضابطه مکان ونړوي او باغ یعني درختي دي وَکَاږِي .

[۱۲۹۲](۵۸) وَ اِن اَخَذَهَا الشّفِیعُ فَبَنْي اَو غَرَسَ ثُمّ اِستَحَقّت رَجَعَ بِالثّمَنِ وَ لاَ یَرجِعُ بِقِیمَةِ البِنَآءِ وَ الغَرَسِ .

فائده : امام ابویوسف او امام شافعي فرمائي چي مُشتَرِي ته به دمكان دنَړَوَلُواو دباغ دكښلو حكم نَه وركول كيږي.بلكه كه شفيع وغواړي نودمځكي قيمت او په موجوده حالت كي دمكان او باغ قيمت وركړي ځيني وادېخلي .

وجه : ځكه چي دا مځكه مخكي دبائع وه او دهغه څخه اَخَستې ده.او ګواكه مُشتَرِي په خپله مځكه كي مكان جوړكړئ دئ او باغ ئې لګولئ دئ.دشفيع حق خو ډېر وروسته ښكاره سو.نوځكه په مكان جوړولو او باغ لګولو كي مُشتَرِي حَق بَجَانِب دئ.لِهٰذَا ده ته به دمكان نَړَوَلُو او باغ كښلو حُكم نَه وركول كيږي .

لُغَت : غَرَسَ : باغ ئې ولګاوئ.درخته كښېښول.اَلمَقلُوعُ : كښلئ د قَلعٌ څخه مُشتَق دئ .

[۱۲۹۲](۵۸) كه شفيع مځكه رانيوه بيائې مكان پر جوړكئ يائې باغ پر ولګاوئ بيا په مځكه كي دبَل چا اِستِحقَاق ثابت سونو قيمت به وَاپَس اَخلِي.او دمكان او باغ قيمت وَاپَس نَه سي اَخستلائي .

تشريح : شفيع دمُشتَرِي څخه خَالِي مځكه رانيوه بيائې په هغه مځكه كي مكان جوړكئ يائې باغ پر ولګاوئ.وروسته يوچا دعويْ وكړه په هغه كې خپل حَق ثابت كئ او وائې خَستئ نو شفيع خو ومُشتَرِي ته دمځكي قيمت وركړئ ؤ نوځكه شفيع به دمُشتَرِي څخه صرف دمځكي قيمت اَخلِي.وروسته چې كوم مكان جوړكړئ دئ يائې باغ پكښي كرلئ دئ دهغه قيمت دمُشتَرِي يا اَصل بائع څخه نَه سي اَخستَلاَئي .

وجه : مُشتَرِي خو شفيع دمځكي پر رانيولو باندي نَه دئ مجبوره كړئ او نَه هغه ورته ويلي دي چي په دې مځكه كي مكان جوړ كه يا باغ ولګوه.بلكه شفيع خوپه خپله مُشتَرِي مجبوره كړئ دئ مځكه ځيني اَخستي ده او په خپله مرضي سره مكان پر

[۱۲۹۳](۵۹) وَ اِذَا اِنهَدَمَتِ الدّارُ اَو اِحتَرَقَت بِنَآ ءُهَا اَو جَفّ شَجَرُ البُستَانِ بِغَيرِ عَمَلِ اَحَدٍ فَالشّفِيعُ بِالخِيَارِ اِن شَآ ءَ اَخَذَهَا بِجَمِيعِ الثّمَنِ وَاِن شَآ ءَ تَرَکَ .

جوړكړئ دئ يائې باغ پرلګولئ دئ.نوځكه دمكان يا دباغ قيمت دمُشتَرِي څخه نَه سي وُصُولَوَلاَئي.البته دمځكي قيمت مُشتَرِي اَخَستَئ ؤ او اُوس دې نوي مُستَحِق دشفيع څخه په مُفتَه كي مځكه واخسته لِهٰذَا صرف دمځكي قيمت شفيع دمُشتَرِي څخه وُصُولَوَلاَئي سي .

اُصُول : چي په خپله مَرضْي سره دُوګه خُوَړَلې وي نودهغه قيمت د نورو څخه نَه سي وصولولائي .

[۱۲۹۳](۵۹) كه مكان وَنَړېدَئ يا دهغه دِېوَال وَسوَځَل سو يا دباغ درخته وَچَه سوه دبَل چا دعَمَل دَخلَ بغيره نو وشفيع ته اِختِيَار دئ كه خُوَښَه سي هغه دي په پوره قيمت باندي وَاخلِي او كه خُوَښَه سي پري دې اِږدِي .

تشريح : مُشتَرِي مثلاً دبائع څخه په زَرروپۍ باندي محُکه رانيوه چي پرهغه باندي مکان او باغ ګَرَلَئ وُ.په دې دَورَان کي په آسماني آفَت سره مکان وَسوَځَل سو يا باغ خَتم سو چي په نتيجه کې قيمت څلور سوه روپۍ ګَم سو.اُوس که شفيع دمُشتَرِي څخه محُکه اَخَستَل غُوَارِي نو په زَر روپۍ به اَخلِي.څلور سوه دِرهَم نَه سي ځَيني ګَمېدلائي .

وجه : محُکه اصل ده.مکان او باغ دهغه تابع دي.او په آسماني آفت سره مکان سوځَل سوئ دئ يا باغ خراب سوئ دئ.بَل چا په دي کي څَه حرکت نَه دئ کړئ.نوځکه محُکه به اَصل ګڼل کيږي پرهغه به پوره قيمت لګول کيږي.او شفيع به په زَر دِرهَم د اَخَستَلُو حقداره وي.او که نَه اَخلِي نو پري دې اِرِدي .

اُصُول : دامسئله پردې ده چي دتابع قيمت نَه لګول کيږي.توله داروَمدارپراَصل دئ .

[۱۲۹۴](۶۰) وَ اِن نَقَضَ المُشتَرِي البِنَآ ءَ قِيلَ لِلشّفِيعِ اِن شِئتَ فَخُذِ العَرصَةَ بِحِصّتِهَا وَ اِن شِئتَ فَدَع [۱۲۹۵](۶۱) وَلَيسَ لَهُ اَن يَأخُذَ النِّقضَ .

لُغَت : اِنهَدَمَ : رَايَلَه سو.وَنړېدَئ.جَفّ : خُشک سو.وَچ سو .

[۱۲۹۴](۶۰) که مُشتَرِي عِمَارَت وَنړَاوَئ نوشفيع ته به وَيَل کيږي چي خالي محُکه دهغه دحِصّي واخله او که خُوَښَه سي پري دې اِرِدي .

تشريح : مُشتَرِي مثلاً محُکه دمکان سره په زَر روپۍ اخستې وه.وروسته مُشتَرِي په خپله مکان وَنړَاوَئ چي دهغه لکبله قيمت څلور سوه روپۍ ګَم سو.نو اُوس که شفيع اَخلِي نوصرف دمحُکي چي کوم قيمت دئ شپږسوه دِرهَم صرف هغه دي ورکړي محُکه دي ځَيني واخلي او که نَه اَخلِي نوپري دې اِرِدِي .

وجه : مُشتَرِي مکان په خپله نړَوَلَئ دئ نوځکه دهغه دنړَوُلُو په وجه مکان اَصل سو.اُوس مکان دمحُکي تابع نَه سوپاته نوځکه دمکان دنړېدلو په وجه چي هرڅونه قيمت کم سوئ وي هغه به ګَم سي او دمحُکي چي کوم قيمت اُوس دئ هغه به شفيع ورکوي بيابه ځَيني اَخلِي .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول ده چي مُشتَرِي په قَصدسره د تابع نُقصَان کړئ دئ نو اُوس به هغه داَصل ځَائ ونيسي او دهغه قيمت به دشفيع څخه ګَم سي .

[۱۲۹۵](۶۱) او دشفيع لپاره جواز نَه لري چي مَات سوي شيان واخلي .

تشريح : چي مُشتَرِي کله مکان وَنړَاوَئ کومي لَکَړِي يعني تِرَان خَښتِي او دغه رنګه نورشيان چي دمحُکه څخه جلاسو په دغه شيانوکي شفيع دشُفعې حَق نَه لري.د حَقِّ شُفعې تَحت دغه شيان نَه سي اَخَستَلاَئي .

وجه : په مځکه او کوم شيان چي په مځکه پوري مُتّصِل او مُبنِتِي دي په هغه کي شُفعَه ستِه. پاته سو خَبِنتِي.لَرګِي. تِرَان او دغه رنګه بَل شئ کوم چي دمځکي ځخه

[١٢٩٦](٦٢) وَ مَن اِبتَاعَ اَرضًا وَ عَلْي نَخلِهَا ثَمَرٌ اَخَذَهَا الشّفِيعُ بِثَمَرٍ

[١٢٩٧](٦٣) فَاِن جَدّهُ المُشتَرِي سَقَطَ عَنِ الشّفِيعِ حِصّتُهُ

جلاسوي دي.هغه اُوس دمځکي تابع نَه دي.نوځکه هغه اُوس دحَقِّ شُفعي تَحت نَه سي اَخَستَلاَئي.دمُشتَرِي په رضامندي سره ددې شيانو جلا قيمت ورکړي اوځيني وائېخلي نو اَخَستَلاَئي سي .

اُصُول : چي دمځکي ځخه جلاسوهغه شئ اُوس دمځکي تابع نَه سي کېدلائي. نو ځکه په هغه کي حَقِّ شُفعَه نسته .

لُغَت : اَلنِّقَضُ : مات سوئ شئ .

[١٢٩٦](٦٢) که مُشتَرِي مځکه رانيوه او دهغې پر درخته مېوه پرته وه نوشفيع به هغه دمېوې سره اَخلِي .

تشريح : مُشتَرِي دارنګه مځکه رانيوه چي په هغه کي باغ کَرَلَئ دئ او په باغ کي مېوه هم ستِه نوشفيع دا حَق لري چي دمېوې سره دمُشتَرِي ځخه باغ رانيسي .

وجه : د درختي په بيع کي مېوه نَه وي شامله.لېکن دَلتَه مُشتَرِي دبائع ځخه مېوه هم اَخَستې ده نوځکه مېوه دمځکي تابع سوه.لِهٰذَا دمځکي دحَقِّ شُفعې سره به په مېوه کي هم حَقِّ شُفعَه ثابت وي.اودا حَق لري چي مېوه هم په هغه قيمت رانيسي .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول ده چي دمځکي سره يوشئ مُتّصِل وي او دهغې تابع وي نو دمځکي سره به په هغه شِي کي هم دشُفعې حَق وي .

لُغَت : اِبتَاعَ :رائېنيوئ د,,بَاعَ,,ځخه مُشتَق دئ. اَرضًا : ځخه دباغ مځکه مُرَاد ده .

[١٢٩٧](٦٣) او که مُشتَرِي مېوه پرې کړه نو دهغه دحِصّې مطابق به ساقط سي .

تشريح : مُشتَرِي دمېوې سره باغ اَخَستَئ وُ چي دهغه په وجه شفيع سره دمېوې په هغونه قيمت د اَخَستَلُوحقداره وُ.لېکن مُشتَرِي مېوه ځيني پرې کړه نوچي دمېوې ځونه قيمت دئ هغونه قيمت به ځيني کَم وِي شفيع به دمُشتَرِي ځخه باغ اَخلِي .

[١٢٩٨](٦٤) وَ اِذَا قُضْ◌ِيَ لِلشّفِيعِ بِالدّارِ وَ لَم يَكُن رَ آهَا فَلَهُ خِيَارُ الرّؤيَةِ فَاِن وَجَدَ بِهَا عَيبًا فَلَهُ اَن يَرُدّهَا بِهِ وَ اِن كَانَ المُشتَرِي شَرَطَ البَرَ آ ءَةَ مِنهُ .

وجه : (١) پوره قيمت خو د مېوې سره وُنوچي مېوه ئې پرې کړه نودمېوې برابر قيمت به ځيني کَم سي (٢) مُشتَرِي په خپله پرې کړې ده.دآسماني آفت په وجه دا مېوه

نَه ده پرِيِ سوِيِ نوځکه مېوه نَه سي تابع کېدلائي بلکه دباغ په شـان اَصـل حَيثِيّـت ئـې پيدا کړئ.نوځکه دهغه قيمت به هم کَم سي .

(۱۲۹۸](۶۴) که دشفيع لپاره دمکان فيصله وکړه او ده هغه نَه وي ليدلئ نو دده لپاره خِيَارِ رُؤيَت سته.بيا که چيري په هغه کي عَيب پيدا کـړي نـو شـفيع دا حـق لـري چـي دعَيب په وجه دا وَاپَس کړي که څَه هم مُشتَرِي دعَيب څخه دبَرَائَت شرط لګولئ وي.

تشريح : شفيع مکان نَه وُ ليدلئ او دحَقِّ شُفعې په وجه دده لپاره دمکـان فيصـله وسـوه نو دهغه مکان د ليدلو وروسته ده ته اِختِيَـار سـته.دغه رنګـه کـه چيـري پـه مَبِيـع کـي عَيب راپيدا سي نودخِيَارِعَيب پـه وجـه شـفيع دغـه مکـان ومُشـتَرِي تـه وَاپَـس کـولائـي سي.که هم څَه مُشتَرِي د اَخَستَلُو پر محال بائع ددې عَيب څخه بَـرِي کـړئ وي. لـېکن وشفيع ته ددې عَيب په وجه د وَاپَس کولو اِختِيَار سته .

وجه : (۱) که څَه هم دحَقِّ شُفعې په وجه اَخَستئ وي.لېکن دمُشتَرِي او شفيع تـر مېـنځ دا يوه بَيعِ جَدِيد ده نو ځکه دبيع ټوله خِيَارُونَه به وشفيع ته حاصل وي.لِهٰذَا که مبيع نَـه وي ليدلې نود خِيَارِرُؤيَت په وجه مبيع وَاپَس کولائي سـي.او کـه عَيـب پکښـي وي نـو دخِيَارِعَيب په وجه وَاپَس کولائي سي (۲) د دوارِو خيارو پـه لَړکـي دا حـديث راغلـئ دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ مَن

[۱۲۹۹](۶۵) وَ اِذَا اِبتَاعَ بِثَمَنٍ مُؤجّلٍ فَالشّفِيعُ بِالخِيَارِ اِن شَآ ءَ اَخَـذَهَا بِثَمَنٍ حَالٍ وَ اِن شَآ ءَ صَبَرَ حَتّي يَنقَضِيَ الاَجَلُ ثُمّ يَأخُذَهَا .

اِشتَرْي شَيئًا لَم يَرَهُ فَهُوَ بِالخِيَـارِ اِذَا رَ آ هُ (الـف) (دارقطني.کتـاب البيـوع ج۳ ص۵ نمبر۲۷۷۹\سنن للبيهقي.باب من قال يجوز بيع العين الغائبة ج۵ص۴۴۰ نمبر۱۰۴۲۶) په دې حديث کې دخِيَارِرُؤيَت اِختِيَار ورکړئ دئ. او دخِيَارِعَيب لپـاره دا حـديث دئ عَن عائِشَةَ اَنّ رَجُلاً اِبتَاعَ غُلاَمًا فَاَقَامَ عِندَهُ مَاشَآ ءَ اللهُ اَن يُقِيمَ ثُمّ وَجَدَ بِهِ عَيبًـا فَخَاصَـمَهُ اِلْـي النَبِـيِّ صَـلّي اللهُ عَلَيـهِ وَسَـلّمَ فَـرَدّهُ عَلَيـهِ (ب) (ابـوداؤد شـريف. بـاب فـيمن اشـترْي عبداًفاستعمله ثم وجدبه عيبًا ص۱۳۹نمبر۳۵۱۰\ سنن للبيهقي. باب المشتري يجدبما اشتراه عيبًاوقداستعمله زمانًـا ج۵ص۵۲۶ نمبـر۱۰۷۴۲) پـه دې حـديث کـي ثبـوت دئ چـي پـه غُلاَم کې عيب وموندئ نوهغه ئې وبائع ته بېرته وَاپَس ورکړئ .

پام لرنه : مُشتَرِي بائع دعَيب څخـه بَـرِي کـړئ وُنـو دا دده خپـل اِختِيَـار وُ.لـېکن شـفيع ئـې دمُشتَرِي څخه دنَوِي سره رانيسي نوځکه وده تـه بـه اِختِيَـار وي چـي مُشـتَرِي دعَيـب څخـه بَرِي کړي يا مَبِيع وَاپَس کړي .

اُصُول : دا مسئله پر دې اُصُول ده چي دشفيع اَخَستَل بيعِ جَدِيد ده نو ځکه ده ته به هـم ټولـه اِختِيَارَات ملاؤيږي .

[١٢٩٩](٦٥) که مُشتَرِي په پُور قيمت رانيوئ نوشفيع ته اِختِيَار دئ که خُوَښَه سي نوپه نَغدقيمت دېِ رانيسي او که خُوَښَه سي صَبردي وکي ترهغه وخته چي مُدَه پوره سي بيادي مکان رانيسي .

تشريح : مثلاً مُشتَرِي دبائع ځخه مکان رانيوئ اوشرط ئې ولګاوئ چي قيمت به

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل يوچابېله کتلويوشَئ رانيوئ نوچي ووينـي وده تـه اِختِيَار دئ (ب) يوچا غُلاَم رانيوئ هغه غُلاَم چي څونه وخت مُمکِن وُ دده سره ورسره وُ.بيئې په هغه غُلاَم کي عَيب ومونـدئ نودحضور دَربَار ته شکايت وېوړئ نوحضور هغه غُلاَم بائع ته وَاپَس کړئ .

[١٣٠٠](٦٦) وَ اِذَا اِقتَسَمَ الشّرَ کَآ ءُ اَلعِقَارَ فَلاَ شُفعَةَ لِجَارِهِم بِالقِسمَةِ .

وروسته درکوم.اُوس شفيع غُوَاړِي چي دغه مکان رانيسي نوددېِ مکان به دئ نَغدقيمت ورکوي.ومُشتَرِي ته په پُور ورکولو کوم سهولت او آسانتيا چي حاصله وه هغه د پُور آسانتياوشفيع ته نَه سي حاصلې دائ.يا دي اُوس دشُفعېِ دعوه وکي او چي د پُور کومه مُدَه ده چي هغه پوره سي هغه وخت دي نَغدقيمت ورکي او دمُشتَرِي ځخه دېِ واخلي .

وجه : دمُشتَرِي دغُوَښتَلُوپه وجه بائع پرمُشتَرِي باندي اِعتِمَاد وکئ د پُور ورکولو آسانتيا ئې ورلره ورکړه.نوځکه دبيع سره ددېِ هيڅ تَعَلّق نسته بلکه ددېِ تعلق دبائع دا‌ِعتِمَادسره دئ.دبيع عام قاعده داده چي نَغدِ به ادآءکوي.او دايوه نوېِ بيع دشفيع او مُشتَرِي ترمينځ کيږي نوځکه دلته هم دبيع دعام قاعدېِ په رُونَا کي به قيمت نَغدورکوي.دا خوضروري نَه دئ چي مُشتَرِي دي پر شفيع باندي هم اِعتِمَاد وکي او په پُور دېِ ورکړي.نوځکه پرشفيع باندي نَغدقيمت ادآء کول واجب دئ .

پام لرنه : که مُشتَرِي په خپله مَرضْي سره وشفيع ته په پُور ورکوي نوورکولائي سي .

اُصُول : دا مسئله پردېِ اُصُول ده چي په پُور ورکولو يا اَخَستَلُو معامله دبائع او مُشتَرِي پر اِعتِمَاد او رَضَامَندِي باندي ده.په اَصل بيع کي نَه ده شامله.اَصل بيع خوپر نَغدقيمت باندي کيږي.په يوه لاَس ئې ورکه په بَل لاَس ئې ځيني واخله .پر دېِ باندي دلائل مخته تېرسوي دي .

لُغَت : يَنقَضِي : مُدَه ئې ختم سي . اَلأَجَلُ : مُدَه.وخت .

[١٣٠٠](٦٦) که شريکانومځکه تقسيم کړه نودتقسيم په وجه د دُوئي وهَمسَايَه ته حَق دشُفعېِ نَه رسيږي .

[۱۳۰۱](۶۷) وَ اِذَا اِشــتَرْي دَارًا فَسَــلَّمَ الشّــفِيعُ الشّــفعَةَ ثُــمّ رَدّهَــا المُشتَرِي بِخِيَارِ رُؤيَةٍ اَوبِشَرطٍ اَو بِعَيبٍ بِقَضَآءِ قَاضٍ فَلاَ شُفعَةَ لِلشّفِيعِ

[۱۳۰۲](۶۸) وَ اِن رَدّهَا بِغَيرِقَضَآءِ قَاضٍ اَو تَقَايَلاَ فَلِلشّفِيعِ الشّفعَةُ .

وجه : (۱) حَقِّ شُفعَه دمځکي دخرڅېدو په وجه وي او بَل په هغه صورت کي حَق دشُفعَې وي چي مُبَادَلَةُ المَالِ بِالمَال موجود سي.او دلته خوبيع نَه ده موجود سوې بلکه هر يوه خپله حِصّه جلا جلا کړه.نوځکه وهَمسَايَه ته دشُفعې حَق نَه رسيږي (۲) حديث او آثار مخته تېرسوي دي .

[۱۳۰۱](۶۷) که مکان رانيوئ.نوشفيع شُفعَه پرېښوَه.بيا مُشتَرِي دخِيَارِرُؤيَت.يا خِيَارِشَرط يا خِيَارِعَيب تحت په قضآء قاضي سره مکان وَاپَس کئ نوشفيع دُوبَارَه شُفعَه نَه سي کولائي .

تشريح : مُشتَرِي مکان رانيوئ.هغه وخت شفيع شُفعَه پرېښوه.مُشتَرِي دقاضي دقضآء په ذريعه خِيَارِرُؤيَت.يا خِيَارِشَرط يا خِيَارِعَيب تحت مکان وَاپَس کئ نو ددې وَاپَس کولو په وجه وشفيع ته دُوَم وار حَق دشُفعې نَه رسيږي .

وجه : چي قاضي دمبيع دوَاپَس کولو فيصله وکړه نو اَوّله بيع منسوخ کړه.هيڅ ډَوَل نوې بيع نَه ده سوې.نوځکه وشفيع ته دوباره حَق دشُفعې نَه رسيږي.که نوې بيع وائ نوشفيع ته به دوباره حَق دشُفعې ملاؤسوئ وائ .

[۱۳۰۲](۶۸) که مکان دقاضي دفيصلې بغيره وَاپَس کئ يا بائع او مُشتَرِي اِقَالَه سره وکړه نوشفيع دوباره حَق دشُفعې لري .

وجه : دقاضي دفيصلې بغيره مُشتَرِي وبائع ته مکان وَاپَس کئ نو که څَه هم د دُوئي دُوُ په حَق کي دا د بَيعِ خَتم کېدل دئ.لېکن دريم سړئ ئې ويني چي دمُشتَرِي لخوا مبيع وبائع ته مُنتَقِل کيږي.اودامُبَادَلَةُ المَالِ بِالمَال هم ده نوځکه دشفيع په حَق کي دا بَيعِ جَدِيد ده.نوځکه وشفيع ته به دُوبَارَه حَقِّ شُفعَه ملاؤيږي .

اُصُول : دا مسئله پر دې اُصُول ده چي هر کله نوې بيع وي نوشفيع ته به حَق دشُفعې ملاؤيږي.او چي هرکله اَوّلَه بيع فسخ کيږي نوشفيع ته حَق دشُفعې نَه ملاؤيږي .

لُغَت:تَقَايَلاَ:داِقَالَةُ څخه مُشتَق دئ.په رضامندي سره بيع وَاپَس کول.اِقَالَه کول .

* * *

اَبُوالحُسَين قُطب عفي عنه وعن والديه

* * *

..... كِتَابُ الشِّركَةِ .....

[١٣٠٣](١) اَلشِّركَةُ عَلْي ضَربَينِ شِركَةُ اَملاَکٍ وَ شِركَةُعُقُودٍ فَشِركَةُ الاَملاَکِ اَلعَينُ يَرِثُهَا رَجُلاَنِ اَو يَشتَرِيَانِهَا .

..... كِتَابُ الشِّركَةِ .....

ضروي پام لرنـه : پـه يـوه شِـي کـي دخوکسـانو وګډُون او شـريک والـي تـه شِـركَت وائي.دشِركَت ثبوت په آيت كي دئ فَاِن كَانُوا اَكثَرَ مِن ذَالِکَ فَهُم شُـرَكَآ ءُ فِـي الثُّلُـثِ (الف) (آيت١٢سورة النسآء) په دې آيت کـې زِيَـات وَارِثَـان دميـراث پـه دَرَيَمـه کـي شريک کړي دي.ددې څخه شِركَت معلوميږي (٢) په حديث کـي دئ عَـن اَبِـي هُرَيـرَةَ رَفَعَهُ قَالَ اِنّ اللهَ تَعَالْي يَقُولُ اَنَا ثَالِثُ الشّرِيكَينِ مَـا لَـم يَخُـن اَحَـدُهُمَا صَـاحِبَهُ فَـاِذَا خَانَـهُ خَرَجتُ مِن بَينِهِم (ب) (ابوداؤدشريف.باب في الشّـركة ص١٢۴نمبـر ٣٣٨٣) ددې څخه هم شركت معلوميږي نوځکه شِركَت جائزدئ .

[١٣٠٣](١) شِركَت پردوه قسم دئ (١) شِـركَت اَمـلاَک (٢) شِـركَت عُقُود.نوشِـركَت اَملاَک دادئ چي ديوه شِي دُوَه کسان وَارِثَان سي يا دواړه په ګډَه يوشَئ رانيسي .

تشريح : شِركَت پر دوه قسم دئ.يوه ته شِـركَت اَمـلاَک وائـي او بَـل تـه شِـركَت عُقُـود وائي.شِركَتِ اَملاَک دادئ چي باقاعده په اِيجَاب او قبول سره دواړه په يوه شِي كي نَـه وي سره شريكان سوي.بلكه ناګهانه او اِتِّفَـاقِي دواړه پـه يـوه شِـي کـي سـره شـريكان

سي.مثلاً پَلاَر وُفَات سو او يَو شَئ و دُوُ زَامُنَانُو تـه پـه مِيـرَاث كـي ملاؤسـو.او دواړه زامنان د ميراث په توګه په هغه شِي كي شريكان سو نودلتـه خـو دواړه پـه اِيجَـاب او قبول سره نَه دي سره شريكان سوي بلكه په حَيثِيّت دميراث

حاشيه : (الف) كه ددې څخه زِيَات وُرُونَه وي نو هغه به په دَرَيَمَه كي سره شريكان وي (ب) زَه په دو شريكان كي دريم يَم.تر هغه وخته پوري چي د دُوئي څخه يَو دبَل مَلګرِي سره خِيَانَت نَه وي كړئ.چي خِيَانَت وكي نو زَه د دُوئي دمينځ څخه وَزَم .

[۱۳۰۴](۲) فَلاَ يَجُوزُ لاَحَدِهِمَا اَن يَتَصَرّفَ فِي نَصِيبِ الآخَرِ اِلاّ بِاِذنِهِ وَ كُلّ وَاحِدٍ مِنهُمَا فِي نَصِيبِ صَاحِبِهِ كَالاَجنَبِيِّ .

دواړه سره شريكان سول.دُوَاړَه د مِلكِيّت په توګه سره شريكان سـوي دي نوځكـه دې ته شِركَت اَملاَک وائي.يـا دو كسـانو يَوشَـئ سـره رَانِيـوَئ او دواړه ديـوه شـي مالكـان سول نو دلته خو د مِلكِيّت په اِعتِبَار سره شريكان سول نوځكه دې ته شِـركَتِ اَمـلاَک وائـي .

وجه : د شِركَتِ وِرَاثَت ثبوت په تېر آيت كي سوئ دئ. فَاِن كَانُوا اَكثَرَ مِن ذَالِـکَ فَهُـم شُرَكَآ ءُ فِي الثّلُثِ (آيت۱۲سورة النسآء۴) او په رانيولو كي دشـركت ثبـوت دا حـديث دئ عَن زُهرَةَ بِنِ مَعبَدٍ اَنّهُ كَانَ يُخـرِجُ بِـهِ جَدّهُ عَبـدُاللهِ بِـنِ هِشَـامِ اِلْـي السّـوقِ فَيَشـتَرِي الطّعَامَ فَيَلقَاهُ اِبنُ عُمَرَ وَاِبنُ زُبَيرٍ فَيَقُولاَنِ لَهُ اَشرَكنَا فَاِنّ النّبِيّ صَـلّي اللهُ عَلَيـهِ وَسَـلّمَ قَـد دَعَــا بِالبَرَكَــةِ فَيُشــرِكَهُم (الــف) (بخــاري شــريف.باب الشــركة فــي الطعــام وغيــره ص۳۴۰نمبر۲۵۰۲\سنن للبيهقي.باب الشركة في البيع ج۶ص۳۰نمبر۱۱۴۲۶) په دې اَثَر كـي په رَانِيوَل سوي شِي كي صَحَابِي شـريک سـوئ دئ.ددې څخـه دا معلـومېږي چـي پـه رَانِيوَل سوي شِي څوک شريک كول جائز دئ .

[۱۳۰۴](۲) بَس جواز نَه لري د دواړوڅخه ديوه لپاره چي تَصَرّف وكي دهغه بَل پـه حِصّه كي لېكن دهغه په اِجَازَت سره.او د دواړوڅخه هريَودهغـه بَل پـه حِصّـه كـي د اَجنَبِي په رَكَم دئ .

وجه : (۱) كه څَه هم په يوه شِي كـي دواړه سـره شـريكان دي لـېكن د دواړو حِصّـې جلاجلا دي نوځكه دهغه بَل په حِصّه كي دهغه د اِجَازې بغيره تَصَرّف كول جواز نَـه لري.ددې لپاره دي وَارَئ سره مُقَرّركړي.اوپه خپل خپل واري دې اِستِعمَالوي ——

حاشيه : (الف) عبدالله بن هَشّام به بَازَار ته تلئ اوغَلّه به رانيول نو وده ته به اِبنِ عُمَراو اِبنِ زُبَير فرمائل ما هـم په بَيع كي شريک کَه.ځكه چي حضور ستا لپاره دبَرَكَت دُعَآء كړې ده نو هغه به دئ په بَيع كي شريک كاوئ .

[۱۳۰۵](۳) وَ الضّربُ الثّانِي شِركَةُ العُقُودِ وَ هِيَ عَلْـي اَربَعَـةِ اَوجُـهٍ مُفَاوَضَةٌ وَعِنَانٌ وَشِـركَةُ الصّـنائِعِ وَشِركَةُ الوُجُوهِ [۱۳۰۶](۴) فَاَمّـا

شِركَةُ المُفَاوَضَةُ فَهِيَ اَن يُشرِکَ الرّجُلاَنِ فَيَتَسَاوَيَانِ فِي مَا لِهِمَا وَ تَصَرّفِهِمَا وَ دَينِهِمَا .

(٢) په حديث کي ددې تاکيدراغلئ دئ عَن عُمَربِنِ يَثرِبِي قَالَ شَهِدتّ رَسُولَ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ فِي حَجّةِ الوَدَاعِ بِمِنْي فَسَمِعتُهُ يَقُولُ لاَيَحِلّ لِأمرِءٍ مِن مَالِ اَخِيهِ اِلاّ مَاطَابَت بِهِ نَفسُهُ (الف) (دارقُطني.کتاب البيوع ج٣ص٢٢ نمبر ٢٨٦٠) ددې حديث څخه معلوم سوچي دبَل چَا شَئ دهغه داِجَازَت بغيره استعمالول جواز نَه لري.که څَه هم هغه شريک وي .

[١٣٠٥](٣) او دوم قسم شِرکَتِ عُقُود دئ.او هغه پرڅلورقسم دئ (١) شِرکَتِ مُفَاوَضَه (٢) شِرکَتِ عَنَان (٣) شِرکَتِ صَنَائِع (۴) او شِرکَتِ وُجُوه.

تشريح : شِرکَتِ عُقُود ته عُقُودځکه وائي چي په دې شِرکَت کي باضابطه عَقدکوي او داِيجَاب و قبول د لاَرِي شِرکَت او مَنفَعَت مُقَرّر کيږي.نوځکه دې ته شِرکَتِ عُقُود وائي.ددې شِرکَت دڅلورو قسموتفصيل مخته راروان دئ .

[١٣٠٦](۴) بهرحال شِرکَتِ مُفَاوَضَه هغه دادئ چي دوه کسان شريکان سي.او دواړه سره برابر وي په مَال کي.په تَ◌َصَرّف کي او په قرض کي .

تشريح : د مُفَاوَضې معنْي ده برابري.نوځکه دواړه شريکان دي برابر برابر مال سره جمع کي.دواړشريکان دي په رانيولو اوخرڅولوکي برابر اِختِيَار ولري او دتِجَارَت د لاَرِي څخه چي کوم قرض پر دُوئي لازم سي هغه دي پر دواړو لازم سي او دهغه په اداٴ کول کي دي دواړه برابر برابر ذِمّه دار سي نودې ته شِرکَتِ مُفَاوَضَه وائي .

حاشيه : (الف) په مِنْي کي دحضور څخه دا اَوربېدَل سوي دي چي ديوه اِنسَان لپاره دخپل وُرُور مال حلال نَه دئ مګر دهغه په رضامندي سره .

وجه : (١) د شِرکَتِ مُفَاوضې دجواز دليل دا حديث دئ عَن صَالِحِ بِنِ صُهَيبٍ عَن اَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ ثَلْثٌ فِيهِنّ البَرَکَةَ اَلبَيعُ اِلْي اَجَلٍ وَ المُفَاوَضَةُ وَاِختِلاَطُ البُرّبِالشّعِيرِلاَ لِلبَيعِ (الف) (ابن ماجه.باب الشرکة والمفاوضة ص٣٢٦نمبر ٢٢٨٩)ددې حديث په اَکثَرُروايتوکي اَلمُقَارَضَةُ دقَرضٌ څخه دئ.اوپه بَل روايت کي اَلمُفَاوَضَةُ د وِفَاضَةٌ څخه دئ.په عام روايتوکيمُقَارَضَةٌ لفظ راغلئ دئ.خوددې روايت څخه زموږ مقصد نَه حاصليږي.البته د مُفَاوَضَةٌ روايت څخه شِرکَتِ مُفَاوَضَه ښکاره کيږي (٢) په اَثَرکي راغلي دي عَن اِبنِ سِيرِينَ قَالَ اَلمُفَاوَضَةُ فِي المَالِ اَجمَعُ (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب المفاوضين...احدهماويرث مالاً هَل يکون بينهما ج ٨ ص٢٥٩نمبر١٥١٣٨) ددې اَثَرڅخه دشِرکَتِ مُفَاوَضې جواز معلوميږي.او چي د دواړو شريکانو مال به سره برابر وي دهغه لپاره دا اَثَر دئ اَخبَرَنَا سُفيَانُ قَالَ لاَتَکُونُ المُفَاوَضَةُ حَتْي تَکُونَ سَوَآءٌ فِي المَالِ وَ حَتْي يُخَلّطَا اَموَالَهُمَا وَ لاَتَکُونُ المُفَاوَضَةُ وَالشّرکَةُ بِالعُرُوضِ. ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي په شِرکَتِ مُفَاوَضَه کي به د دواړوشريکانو مال سره برابر وي. ددغه اَثَر مخته بَلَه ټُکړه ده

دهغه څخه معلومیږي چي په دَین کي به هم دواړه شریکان سره برابر وي.وَمَا اَدّانِ وَاحِدٌ مِنَ المُتَفَاوِضَینِ فَقَالَ قَد اَدّنتُ کَذَا وَکَذَا فَهُوَ مُصَدّقٌ عَلْي صَاحِبِهِ وَ اِن مَاتَ اَحَدُهُمَا اُخِذَ الآخَرُ وَاِن شَآ ءَ الغَرِیمُ یَأخُذُ اَیّهُمَا بَاعَ سَلعَتَهُ اَخَذَ المُبتَاعُ اَیّهُمَا شَآ ءَ (ج) (مصنف عبدالرزاق.باب المفاوضین ج۸ص۲۵۹ نمبر۱۵۱۴۰) په دې اَثَرکي دئ چي دیوه خرڅول.رانیول او اِقَالَه کول به دهغه بَل لپاره هم وي.نوځکه دتَصَرّف برابر والي ځیني معلوم سو .

حاشیه : (الف) حضور وفرمائل په درې شیانوکي برکت دئ.په پُوربیع.شِرکَتِ مُفَاوَضَه او په کُورکي غَنَم د وُربُوشُوسره ګډ اِستِعمَالَوَل.دخرڅلاؤ لپاره ګډوَل نَه (ب) ابن سیرین وفرمائل شِرکَتِ مُفَاوَضَه په ټولو مالوکي کېدلائي سي (ج) هرڅَه چي یوه په شِرکَتِ مُفَاوَضَه کي قرض واخستئ او ویل چي ما دارنګه قرض اخستئ دئ نودده پرمَلګرَئ به هم دغه شَئ لازمیږي.او که د دواړوڅخه یَومَړسونو دهغه بَل څخه به اَخلِي.او دقرض خُوَاه چي دکوم چاڅخه خُوَښَه سي وادې اِخلِي که څَه هم پرکوم چاچې سامان خرڅ کړئ وي.اود مُشتَرِي چي خُوَښَه سي دهغه څخه دي قیمت واخلي .

[۱۳۰۷](۵)فَیَجُوزُ بَینَ الحُرّینِ المُسلِمَینِ البَالِغَینِ العَاقِلَینِ وَ لاَ یَجُوزُ بَینَ الحُرِّ وَ المَملُوکِ .

[۱۳۰۷](۵) جائزدئ شِرکَتِ مُفَاوَضَه د دو آزاد.مسلمان.بالغ.عاقل ترمینځ او جواز نَه لري د آزاد او مَملُوک ترمینځ .

تشریح : دواړه کسان به آزاد وي.دواړه به مسلمانان وي.دواړه به عاقلان بالغان وي نو د دُوئي ترمینځ شِرکَتِ مُفَاوَضَه جائزدئ.لېکن که یو آزاد بَل غُلاَم وي نو ددُوئي ترمینځ شِرکَتِ مُفَاوَضَه جواز نَه لري .

وجه : (۱) اصل دادئ چي په شِرکَتِ مُفَاوَضَه کي دواړه شریکان یَودبَل وَکِیلاَن هم وي او کَفِیلاَن هم وي.یعني که څَه شئ رانیسي نو نِیمَئ دځان لپاره رانیسي او نِیمَئ د وَکَالَت په حَیث د خپل شریک لپاره رانیسي.که چیري پریوه باندي څَه قرض او دَین راسي نو نِیمَئ پر ده باندي راځي او نِیمَئ دکَفِیل او ذِمّه داره په حَیث پرهغه بَل شریک باندي راځي.او دواړه یَو دبَل وَکِیل او کَفِیل هغه وخت جوړېدائي سي چي دواړه آزاد وي.که چیري یَو مَملُوک او غُلاَم وي نو هغه خو نَه وَکِیل جوړېدائي سي او نَه کَفِیل.لِهْذَا هغه شِرکَتِ مُفَاوَضَه کولائي هم نَه سي.نوځکه دآزاد او مملوک ترمینځ شرکت مفاوضه نَه سي کېدلائي (۲)په تېرسوي اَثَرکي دا جمله هم راغلې ده فَاِذَا کَانَت شِرکَةُ مُفَاوَضَةٍ فَامرُ کُلِّ وَاحِدٍ جَائِزٌ عَلْي صَاحِبِهِ فِي البَیعِ وَالشّرَآءِ وَالاِقَالَةِ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب المفاوضین الخ ص۳۵۹نمبر۱۵۱۳۷) یعني په شِرکَتِ مُفَاوَضَه کي په بیع.شِرَآء او اِقَالَه کي هریَو دهغه بَل سره شریک وي .

حاشيه : (الف) د ابن سيرين څخه نقل سوئ دئ چي که شِرکَتِ مُفَاوَضَه وي نو د هر يوه معامله به دهغه پر شريک باندي هم وي په بَيع.شِرآء او اِقَاله کي .

[۱۳۰۸](۶) وَ لاَ بَينَ الصّبِيِّ وَ البَالِغِ وَ لاَ بَينَ المُسلِمِ وَالكَافِرِ .

[۱۳۰۸](۶) او جواز نَه لري شِركَتِ مُفَاوَضَه دبَچِي او بالغ ترمينځ او نه دمسلمان او كافر ترمينځ .

وجه : (۱) مختـه تيرسو چي په شِركَتِ مُفَاوَضَه کي هر يو شريک دهغه بَل وَكِيل هم وي كَفِيل ئې هم وي.او كِشنَئ بَچَئ نَه وكيل جوړېدلائي سي نَه كَفِيل.نوځکه دبَچِي او بالغ ترمينځ شِركَتِ مفاوضه نَه سي کېدلائي .

او دمسلمان او كافر ترمينځ په دې وجه نَه سي کېدلائي چي مثلاً كافرشراب يا خنزير رانيسي نو دا دمسلمان په وَكَالَت کي نَه سي رانيولائي او نَه داسي کېدلائي سي چي نِيمَئ شراب او نيمئ خنزيرئې دځان لپاره وي او نيمئ ئې دمسلمان لپاره وي.يا هغه كافر د سُود كاروبار وکي نوپه دې وجه چي دئكفيل دئ نيم سُود دې دځان لپاره وي او نيمئ دې دمسلمان لپاره وي.دارنګه هم نَه سي كولائي.ځکه چي شراب خنزير او سُود دمسلمان لپاره حرام دي.خو په ډيروځايوکي كافر د مسلمان كفالت او وكالت نَه سي كولائي كوم چي په شِركَتِ مُفَاوَضَه کي ضروري دئ.نوځکه دمسلمان او كافر ترمينځ شِركَتِ مُفَاوَضَه نَه سي کېدلائي.شِركَتِ عَنَان.شِركَتِ صَنَائِع اوشِركَتِ وُجُوه کېدلائي سي (۲) په اَثَرکي ددې ممانعت راغلئ دئ قُلتُ لِابنِ عَبّاسٍ اِنّ اَبِي جَلاّبُ الغَنَمِ وَ اَنّهُ مُشَارِكُ اليَهُودِيّ وَالنّصرَانِيّ قَالَ لاَ تُشَارِک يَهُودِيًّا وَلاَ نَصرَانِيًّا وَلاَ مَجُوسِيًّا قُلتُ لِمَ قَالَ لاَنّهُم يَربُونَ وَالرِّبَوَا لاَيَحِلّ (الف) (سنن للبيهقي.باب كراهية مبايعة من اكثرماله من الربوا او ثمن المحرم ج۵ص ۵۴۷نمبر۱۰۸۲۲\مصنف ابن ابي شيبة ۳في مشاركة اليهوديّ و النصرانيّ ج۴ص ۲۷۴نمبر۱۹۹۷۳)په دې اَثَركې ديهودي.نصراني اومجوسي د شركت څخه منع

حاشيه : (الف) مَا وحضرت ابن عَبّاس ته وويل چي زُومَا پلار بُوزې رَاوَلِي او هغه يهودي او نَصرَاني شريكان كوي.نو اِبنِ عَبّاس وفرمائل چي يهودي او نصراني مَه شريكان كوې او نَه مَجُوسِي.مَا ورته وويل په كومه وجه ؟ وفرمائل دُوئي د سُود كاروبار كوي چي حلال نَه دئ .

[۱۳۰۹](۷) فَتَنعَقِدُ عَلْي الوَكَالَةِ وَ الكَفَالَـةِ [۱۳۱۰](۸) وَ مَا يَشتَرِيهِ كُلّ وَاحِدٍ مِنهُمَا يَكُونُ عَلْي الشّرِكَةِ اِلاّ طَعَامَ اَهلِهِ وَكِسوَتُهِم .

کړې ده.ځکه چي هغه دسُود كاروبار كوي.ددې څخه معلوم سوچي په شِركَتِ مُفَاوَضَه کي دُوئي نَه سي شريک کېدلائي .

فائده : د امام ابويوسف په نېز دكافر سره مُفَاوَضَه جائزده.البته مكروه ده .

وجــه : دئ فرمــائي چــي كافرعاقــل بــالغ دئ نوځکــه دئ اِصَــالَةً د كَفِيــل او وَكِيــل جوړېدلوصَلاَحِيّت لري.نوځکه د کافرسره شِرکَتِ مُفَاوَضَه کېدلائي سي .

[۱۳۰۹](۷) شِرکَتِ مُفَاوَضَه مُنعَقَدکيږي پر كَفَالَت او وَكَالَت باندي .

تشريح : يعني هَر يوشريک دهغه بَل لپاره وَكِيل دئ چي هرڅَه رانيسي هغه بـه نِيمَـئ دده خپل وي او نِيمَئ به د وَكَالَت په حَيث دهغه بَل شريک وي.او چي کـوم قَـرض پـر ده باندي لازم سي هغه به نِيمَئ پر ده باندي وي او نِيمَئ به دكَفِيـل پـه حَيـث دهغـه بَـل شريک پر ذِمّه لازم وي .

وجه : اَثَر مختته تېرسوئ دئ (مصنف عبدالرزاق.نمبر۱۵۱۳۷\۱۵۱۴۰)

[۱۳۱۰](۸) د دواړوشـريكانوځخه چـي هريـو څَـه رانيســي هغـه بـه پرشـراكت وي ماسوائ د بِي بِي او بَچَانُو دخوراکي شيانو او کپړو .

تشريح : د دواړو شريكانوځخه هر يَو دتِجَارَت سره مُتَعَلّق شيان رانيسي پـه هغـه كـي بـه نِيمَـئ دځـان لپـاره وي او نِيمَـئ بـه د وَكَالَـت پـه حَيـث دشـريک لپـاره وي.البتـه دبَچَانُولپاره خوراكي شيان او کپړې او د ذُوئي دژُوَنددضرورت سامان دتِجَارَت سـره تعلق نَه لري نوځکه داشيان چي هرکله رانيسي نو دا به صرف دده وي. د شريک بـه نَه وي .

[۱۳۱۱](۹) وَ مَـا يَلـزِمُ كُـلّ وَاحِـدٍ مِـنَ الـدّيُونِ بَـدَلاً عَمّـا يَصِـحّ فِيـهِ الاِشتِرَاکُ فَالآخَرُ ضَامِنٌ لَهُ .

وجه : (۱) ځکه چي په دي کي نَـه شـرکت سته او نَـه كَفَالَـت (۲) پـه اَثَـر کـي مختـه تېرسوي دي چي په مُتَعَلّقَاتِ تِجَارَت کـي كَفَالَـت ستـه عَن اِبـنِ سِيرِينَ ... فَـاِذَا كَانَـت شِرکَةُ مُفَاوَضَةٍ فَامرُ كُلِّ وَاحِدٍ جَائِزٌ عَلْي صَاحِبِهِ فِي البَيعِ وَالشّـرَآءِ وَالاِقَالَـةِ (الـف) (مصنف عبدالرزاق.باب المفاوضين الخ ص۳۵۹نمبر۱۵۱۳۷)پـه دې اَثَرکـي دئ چـي رانيول اوخرڅـول او اِقَالَـه بـه پـر هغـه بَـل شـريک بانـدي وي.ددې مطلـب داسـوچي مُتَعَلّقَاتِ تِجَارَت به پر هغه بَل شـريک بانـدي هـم وي او د اَهلُ وَعَيَـال دضـرورت شيان د تِجَارَت مُتَعَلّقَات نَه دي نوځکه هغه په كَفَالَت کي نَه شامليږي .

اُصُول : په شِرکَتِ مُفَاوَضَه کي مُتَعَلّقَاتِ تِجَـارَت پـه وکالـت او کفالـت کـي شـامل دي دشرکت په نورو اقساموكي دا شيان نَه شامليږي .

لُغَت : كِسوَةٌ : کپړه وغيره .

[۱۳۱۱](۹) او د دواړو څخه پرهَر يَوَه چي کوم قرض لازم سـي دهغـه شِـي پـه بَدلَـه کي په کوم شي کي چي شِرکَت صحيح کيږي نوهغه بَل شريک به ددې ضَامِن وي .

تشريح : د تِجَارَت او دهغـه دمُتَعَلّقَـاتُ پـه وجـه د دواړو شـريكانوځخه پـر يَـوَه بانـدي قرض لازم سو نوهغه بَل شريک به هم ددې ضَامِن وي او هغه به اداء کوي .

وجه : (١) پر شريک چي هرڅَه قرض راسي هغه بَل شريک دده کَفِيل دئ.نوځکه دکَفَالَت په وجه به دئ هم د اداء کولو ذِمّه داره وي (٢) په اَثَر کي تېرسوي دي اَخبَرَنَا سُفيَانُ ... وَمَا اَدّانِ وَاحِدٌ مِنَ المُتَفَاوِضَينِ فَقَالَ قَد اَدّنتُ كَذَا وَكَذَا فَهُوَ مُصَدِّقٌ عَلْي صَاحِبِهِ وَ اِن مَاتَ اَحَدُهُمَا اُخِذَ الآخَرُ وَاِن شَآ ءَ الغَرِيمُ يَأخُذُ اَيّهُمَا بَاعَ

حاشيه : (الف) حضرت ابن سيرين وفرمائل كه چيري شِركَتِ مُفَاوَضَه وي نو دهر يوه معامله جائز ده دهغه پر شريک باندي په بَيع.شِرآء او اِقَالَه كي .

[١٣١٢](١٠) فَاِن وُرِثَ اَحَدُهُمَا مَالاً مِمّا تَصِحّ فِيهِ الشِّركَةُ اَو وُهِبَ لَهُ وَوَصَلَ اِلْي يَدِهِ بَطَلَتِ المُفَاوَةُ وَصَارَتِ الشّركَةُ عَنَانًا .

سَلعَتَهُ اَخَذَ المُبتَاعُ اَيّهُمَا شَآ ءَ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب المفاوضين ج ٨ ص ٢٥٩نمبر ١٥١٤٠) په دې اَثَركي دئ چي قرض وركونكئ د مُفَاوَضې د شريكانوڅخه دهر يوه څخه خپل قرض وُصُولَوَلاَئي سي .

[١٣١٢](١٠) كه د دواړو شريكانوڅخه يَو د داسي مال وَارِث سوچي شِركَت پكښي صحيح كيږي يا وده ته هِبَه كړل سو او دده لاَس ته راورسېدئ نوشِركَتِ مُفَاوَضَه به بَاطِل سي اوپه شِركَتِ عَنَان به بَدَل سي .

تشريح : مخته راروان دئ چي شِركَتِ مُفَاوَضَه صرف په دِرهَم.دَنَانِير او چَلېدُونكُو سِكّوكي كېدلائي سي.ددې څخه علاوه په نورو كي نَه صحيح كيږي.نوكه چيري د دواړوشريكانو څخه يَو د دِرهَمُ.دِينَارُونَه يا د رَائِجُ سِكّو وارث سو يا يَوچا ده ته هِبَه وركړه او شريک پر هغه باندي قبضه هم وكړه نو شِركَتِ مُفَاوَضَه به باطل سي او شِركَتِ عَنَان به ځيني جوړ سي .

وجه : (١) په شِركَتِ مُفَاوَضَه كي دتِجَارَت په ټولو مُتَعَلّق شيانوكي شِركَت وي.او اُوس مخته تيرسوچي د دواړو شريكانومال بايد سره برابر وي.او دلته د وِرَاثَت او هِبَې د مِلكِيّت په وجه د دواړو مَال سره برابر نَه سوپاته بلكه ديوه مال زيات سو نوځكه شِركَتِ مُفَاوَضَه به باطل سي.البته په شِركَتِ عَنَان كي د دواړو شريكانو د مال برابر والئ ضروري نَه دئ بلكه چي مال زيات او كَم وي نو هم شِركَتِ عَنَان جائزدئ.نوځكه دا به په شِركَت عَنَان بَدَل سي (٢) په اَثَركي راغلي

حاشيه : (الف) حضرت سُفيَان وفرمائل ... هرڅَه چي يوه په شِركَتِ مُفَاوَضَه كي قرض واخستئ او ويل چي ما دارنګه قرض اخستئ دئ نودده پرمَلګَرَئ به هم دغه شَئ لازميږي.او كه د دواړوڅخه يَومړسونو دهغه بَل څخه به اَخلِي.او دقرض خُوَاه چي دكوم چاڅخه خُوَښَه سي وادې اِخلِي كه څَه هم پركوم چاچې سامان خرڅ كړئ وي.اود مُشتَرِي چي خُوَښَه سي دهغه څخه دي قيمت واخلي .

[١٣١٣](١١) وَ لاَ تَنعَقِدُ الشِّركَةُ اِلاّ بِالدّرَاهِمِ وَالدّنَانِيرِ وَالفُلُوسِ النّافِقَةِ .

دي اَخبَرَنَـا سُـفيَانُ قَـالَ لاَتَكُـونُ المُفَاوَضَـةُ حَتْـي تَكُـونَ سَـوَآ ءًفِـي المَـالِ وَحَتْـي يَختَلِطَااَموَالَهُمَا(الف) (مصنف عبدالرزاق.باب المفاوضين ج٨ص٢٥٩نمبر ١٥١٤٠) په دې اَثَرکي دئ چي د دواړو مال باید برابر برابر وي او دواړه بایدسره ګډکړي.او دلته دیوه مال زیات سونوځکه شِرکَتِ مُفَاوَضَه به باطل سي. عَنِ الشّعَبِيِّ قَالَ کُلّ شَرِیکٍ بَیعُهُ جَائِزٌ فِي شِرکَةٍ اِلاّ شَرِیکُ المِیرَاثِ (مصنف عبدالرزاق.باب المفاوضین ج٨ص٢٥٩ نمبر١٥١٣٩) ددې څخه معلوم سوچي په میراث کي شِرکَت نَستَه .

پام لرنه : د داسي مال وَارِث سوچي په هغه کي شِرکَتِ مُفَاوَضَه نَه صحیح کیږي لکه سَامَان او دهغه په شان بَل شَئ نو ددې څخه شِرکَتِ مُفَاوَضَه نَه باطلیږي.ځکه چي دلته د دواړو شریکانوپه مَال کي د زیاتوب او کَمبُوت معامله نَه ده راغلې .

لُغَت : وَوَصَلَ اِلْي يَدِهِ : د هِبې پرشِي باندي دشریک قبضه راسي.دا شرط ئې ځکه ولګاوئ چي په هِبَه کي دقبضې څخه مخکي سرئ دهغه شِي بالکلیه مَالِک نَه جوړیږي.نوځکه دا شرط ئې ولګاوئ چي هِبَه به سوې وي او پرهغه به قبضه هم راغلې وي نوبیا شِرکَتِ مُفَاوَضَه باطله ګرزي .

[١٣١٣](١١) اوشِرکَتِ مُفَاوَضَه نَه مُنعَقِدکیږي مګرپه دِرهَم دِینَاراورَائِج سِکّوکي.

تشریح : چي کوم ثَمَن دي په هغه کي شِرکَتِ مُفَاوَضَه صحیح کیږي.په سامان کي شِرکَتِ مُفَاوَضَه نَه صحیح کیږي.لېکن که سامان خرڅ کي بیا برابر برابر دِرهَم یا دِینَار سره ملاؤ کړي او شِرکَت سره وکي نو بیا صحیح کیږي .

وجه : (١) په اَثَرکي راغلي دي اَخبَرَنَا سُفیَانُ قَالَ لاَتَکُونُ المُفَاوَضَةُ حَتْي تَکُونَ سَوَآء فِي المَالِ وَحَتْي يَختَلِطَا اَموَالَهُمَا وَلاَتَكُونُ المُفَاوَضَةُ وَالشِّرکَةُ بِالعُرُوضِ اَن یّجِيئَ هٰذَا

[١٣١٤](١٢) وَ لاَ يَجُوزُ فِيمَاسِوْي ذَالِکَ اِلاّ اَن يَتَعَامَلَ النّاسُ بِهِ کَالتِّبرِ وَالنُقرَةِ فَتَصِحّ الشّرکَةُ بِهِمَا .

بِعَرَضٍ وَهٰذَا بِعَرَضٍ (الـف) (مصنف عبدالرزاق.باب المفاوضين ج ٨ ص ٢٥٩نمبر ١٥١٤٠) په دې اَثَرکي دئ چي په سامان کي شِرکَتِ مُفَاوَضَه نَه صحیح کیږي(٢) لوړ په اَثَرکي راغلي دي چي د دواړو مال بایدسره برابر وي.لېکن که سامان خرڅ کړئ دیوه قیمت زیات راغلئ د بَل قیمت کَم راغلئ نو په مال کي برابري نَه راغله نوځکه په سامان کي شِرکَتِ مُفَاوَضَه نَه صحیح کیږي .

فائده : اِمَامِ مَالِک فرمائي چي که کَیلِي او وَزنِي شَئ وي او د دواړو شریکانو دا یَوجنس وي مثلاً دواړه غَنَم سره ګډ کړي بیا شِرکَت پکښي وکړي نو دا جائزدئ .

حاشیه : (الف) حضرت سُفیَان وفرمائل چي شِرکَتِ مُفَاوَضَه نَه صحیح کیږي ترهغوچي مال سره برابر نَه وي او ترهغوچي دواړه ئې سره ګډکړي نَه وي .

وجه : دده دليل دا اَثَردئ عَن اِبنِ سِيرِينَ قَالَ اَلمُفَاوَضَةُ فِي المَالِ اَجمَعُ (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب المفاوضين ج٨ص٢٥٩نمبر١٥١٣٨) په دې اَثَركي دئ چي په هر ډَوَل مالو كي شِركَتِ مُفَاوَضَه كولائي سي .

[١٣١۴](١٢) او جواز نَه لري شِركَتِ مُفَاوَضَه ددې څخه علاوه په نوروشيانو كي لېكن كه چيري خلګوپه هغه سره معامله كوله.لكه دسرو او سُپِينُوزَرُو ټوټې.نوپه دې دواړو سره شِركَت صحيح دئ .

تشريح : د دِرهَم.دِينَار او رَائِج سِکّوڅخه علاوه په نوروشيانوكي شِركَتِ مُفَاوَضَه نَه صحيح كيږي.البته كه چيري خلګ په يَوخَاص شِي مثلاً دسُپِينُوزرو او سُرُوزَرُو په ټُكړُو سره شِركَتِ مُفَاوَضَه كول شروع كړي نو بياجواز پيدا كوي .

وجه : دسُپِينُو او سُرُوزَرُوټوټې هم د دِرهَم او دِينَار په حُكم كي دي.چي دا هم په مُتَعَيّن كولو سره نَه مُتَعَيّن كيږي .

[١٣١۵](١٣) وَ اِن اَرَادَ الشِّركَةَ بِالعُرُوضِ بَاعَ كُلّ وَاحِدٍ مِّنهُمَا نِصفَ مَالَهُ بِنِصفِ مَالِ الآخَرِ ثُمّ عَقَدَ الشِّركَةَ [١٣١۶](١۴) وَ اَمّا شِركَةُ العَنَانِ فَتَنعَقِدُ عَلْي الوَكَا لَةِ دُونَ الكَفَا لَةِ .

لُغَت : اَلتِّبرُ : د سُرُوزَرُو ټُوټَه. اَلنّقرَةُ : دسُپِينُوزَرُو وِيلِي سوې ټُوټَه .

[١٣١۵](١٣) او كه دسامان په ذريعه دشِركَت كولو اراده وكړي نو د دواړو څخه هريَودي خپل نِيمَئ مال دهغه بَل د نِيمِي مَال په بَدلَه كي خرڅ كړي بيادي دشِركَت عَقد وكړي .

تشريح : دلته خو د دواړو دمال برابر والئ ضروري دئ نوكه چيري په سامان كي شِركَت كول غُوَاړِي نودهغه صورت دادئ چي خپل نِيمَئ سامان دي دهغه بَل دنِيمِي مال په بَدلَه كي خرڅ كړي نوشِركَت دمِلک به راسي بيا دي شِركَتِ مُفَاوَضَه سره وكړي .

وجه : چي براهِ رَاست سامان سره ګډكړي شِركَتِ مُفَاوَضَه كوي نو دا جواز نَه لري.ددې دليل دا اَثَردئ عَن مُحَمّدابِنِ سِيرِينَ قَالَ لاَيَكُونُ الشِّركَةُ وَالمُضَارَبَةُ بِالدّينِ وَالوَدِيعَةِ وَالعُرُوضِ وَالمَالِ الغَائِبِ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ٣٢٨في الشركة في العروض ج۴ص۴٨۴نمبر٢٢٣٢۴) په دې اَثَركي فرمائلي دي چي د سامان په ذريعه شِركَت كول صحيح نَه دئ .

[١٣١۶](١۴) پاته سوشِركَتِ عَنَان نو هغه پر وَكَالَت مُنعَقَدكيږي نَه پركَفَالَت .

حاشيه :(الف) حضرت سفيان وفرمائل شِركَتِ مُفَاوَضَه نَه كيږي ترهغوچي په مال كي سره برابر وي او ترهغه وخته چي دواړه مالونه ئې سره ګډوَډ كړي نَه وي او مُفَاوَضَه او شِركَت نَه صحيح كيږي دسامان په ذريعه چي دا سامان راوړي او دا سامان راوړي (ب) حضرت ابن سيرين وفرمائل شِركَتِ مُفَاوَضَه په ټولو مالو كي كېدلائي سي .

تشریح : د عَنَان معنْي ده اِعرَاض کول.په دې شِرکَت کي د کَفَالَت څخه اِعرَاض کول کیږي نوځکه دې ته شِرکَتِ عَنَان وائي.په دې شِرکَت کي هرشریک دسامان په رانیولوکي دهغه بَل وَکِیل وي چي د اَموَالِ تِجَارَت څخه هرڅَه رانیسي دهغه څخه

حاشیه : (الف) محمدابن سیرین وفرمائل چي شِرکَت او مُضَارَبَت نَه صحیح کیږي په پُور.د امانت په مال او په سامان او په غَائِب مال باندي .

[۱۳۱۷](۱۵) وَیَصِحّ التّفَاضُلُ فِي المَالِ وَیَصِحّ اَن یّتَسَاوَیَا فِي المَالِ وَیَتَفَاضَلاَ فِي الرِّبحِ .

به نِیمَئ دځان لپاره وي او نِیمَئ به دخپل شریک لپاره وي.البته کَفِیل نَه وي یعني پرشریک چې کومه قرضه راځي دهغې نِیمَئ به پرهغه بَل شریک نَه اَچوَل کیږي.بلکه ټوله قرض به دهغه پرذِمّه وي کوم چاچي قرض اَخستَئ دئ .

[۱۳۱۷](۱۵) او په مال کي کَمبُوت او زِیَاتُوب صحیح دئ.او صحیح دئ چي په مال کي سره برابر وي په ګټَه کې کَمبُوت او زِیَاتُوب وي .

تشریح : په شِرکَتِ عَنَان کي د شِرکَتِ مُفَاوَضې په شان په مال او ګټَه کي برابر والئ ضروري نَه دئ.بلکه دا اِمکَان سته چي دیوه شریک مال کَم وي دبَل شریک مال زیات وي.او ګټَه هم زیات او کمه وي.او دا اِمکَان هم سته چي د دواړو مال سره برابر وي خو په ګټَه کي و یوه ته د کَم او بَل ته د زیات ملاوېدو شرط وي .

وجه : (۱) یَوسړئ زیات عقلمندوي بَل سړئ کَم عقلمندوي نوځکه د لَږ مال ورکړولو باوجود دخپل عقل او مَهَارَت په وجه دزِیَاتِ ګَټِي مُستَحِق جوړېدلائي سي.نوځکه که شرط ولګوي چي زَه زیاته ګټَه اَخلَم او هغه بَل شریک پردې باندي راضي سي نو دا په شِرکَتِ عَنَان کي جواز لري (۲) په اَثَرکي راغلي دي عَن جَابِرِ بِنِ زَیدٍ قَالُوا اَلرِّبحُ عَلْي مَا اَصلَحُوا عَلَیهِ وَالوَضِیعَةُ عَلْي المَالِ هٰذَا فِي الشّرِیکَینِ فَاِنّ هٰذَا بِمَائَةٍ وَهٰذَا بِمَائَتَینِ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب نفقة المضارب وضیعته ص ۲۴۸نمبر۱۵۰۸۹) دحضرت عَلِي څخه نقل سوئ دئ وَالرِّبحُ عَلْي مَا اَصلَحُوا عَلَیهِ (ب) (مصنف عبدالرزاق.ص۲۴۸نمبر۱۵۰۸۷) ددې دواړو اَثَرُو څخه معلوم سوچي ګټَه په خپل مینځ کي هرڅومره سره مُقَرّرسي برابره وي یازیات اوکَمَه وي دا جائز دئ او دا هم

حاشیه :(الف) جابر بن زید وفرمائل چي ګټَه به دهغه مُطابِق وي پر کوم چي صُلح سوې ده.او اخراجات به پر مَال باندي وي.دا دواړه به شریکان وي.دا دي سَل روپۍ جمع کړي او دا دي دُوَه سوه روپۍ جمع کړي(ب) ګټَه به دهغه مُطَابِق وي پرکوم چي صُلح وسي یعني چي کوم مُقَرّر سي .

[۱۳۱۸](۱۶) وَیَجُوزُ اَن یَعقِدَهَا کُلّ وَاحِدٍ مِنهُمَا بِبَعضِ مَالِهِ دُونَ بَعضٍ [۱۳۱۹](۱۷) وَ لاَ تَصِحّ اِلاّ بِمَا بَیّنّا اَنّ المُفَاوَضَةَ تَصِحّ بِهِ .

دئ.او دا هم ځيني معلوم سوچي که يَوشريک سَل روپۍ جمع کړي بَل شريک دُوَه سوه روپۍ جمع کړي يعني په مال کي کَمبُوت او زياتوب وي نو دا جائزدئ .

[۱۳۱۸](۱۶) دا جائز دئ چي د دواړو شريکانوڅخه هريَو دخپل بَعض مال څخه شِرکَت وکي په ټوله مال کي وَنَه کړي .

تشريح : مثلاً دزَيد سره شُپَږسوه دِرهَم دي ددې څخه په درې سوه دِرهَمَ کي شرکت وکي او په درې سوه دِرهَمَ کي شِرکَتِ عَنَان نَه کوي نو دا جائزدئ .

وجه : مختـه دا بيان وسو چي د دواړو شريکانو د مال برابر والئ ضروري نَه دئ.نوځکه چي هرڅونه مال په شِرکَت کي لګول غُوَاړِي هغونه مال لګولائي سي اوڅونه مال چي نَه لګوي هغه دي نه لګوي .

[۱۳۱۹](۱۷) او شِرکَتِ عَنَان نَه صحيح کيږي مګرپه هغه نَقدُوباندي کوم چي موږ بيان کړه چي شِرکَتِ مُفَاوَضَه په هغه کي صحيح کيږي .

تشريح :مختـه بيان سوچي ددِرهَم دِينَاراوچلېدونکي سِکّوپه ذريعه شِرکَتِ مُفَاوَضَه صحيح کيږي.اوکه چيري خلک دسُپينُو او سُرُوزَرُو په ټُوټُوباندي شِرکَتِ مُفَاوَضَه شروع کړي نوپه هغه هم صحيح کيږي.دغه رنګه شِرکَتِ عَنَان هم د دِرهَم دِينَار او چلېدونکوسِکّوباندي صحيح کيږي.په سامان کي شِرکَتِ عَنَان نَه صحيح کيږي .

وجه : دا اَثَرمخته تېرسوئ دئ عَن مُحَمّدٍقَالَ لاَيَکُونُ الشّركَةُ وَالمُضَارَبَةُ بِالدّينِ وَالوَدِيعَةِ وَالعُرُوضِ وَالمَالِ الغَائِبِ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۳۲۸في الشركة في العروض ج۴ص۴۸۴نمبر۲۲۳۲۴\مصنف عبدالرزاق.باب المفاوضين ج ۸ ص ۲۵۹نمبر۱۵۱۴۰)ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي دسامان په ذريعه شِرکَتِ عَنَان جوازنَه لري .

[۱۳۲۰](۱۸) وَ يَجُوزُ اَن يَشتَرِکَا وَمِن جِهَةِ اَحَدِهِمَا دَنَانِيرُ وَمِن جِهَةِ الآخَرِ دَرَاهِمُ [۱۳۲۱](۱۹) وَمَا اِشتَرَاهُ کُلّ وَاحِدٍ مِنهُمَا لِلشّرکَةِ طُولِبَ بِثَمَنِهِ دُونَ الآخَرِ وَيَرجِعُ عَلْي شَرِيکِهِ بِحِصّتِهِ مِنهُ.

[۱۳۲۰](۱۸) او جائزدئ چي دواړه سره شريکان سي او ديوه طرفه دِينَاروي بَل طرف ته دِرهَم وي .

وجه : دواړه ثَمَن دي او تقريبًا يَو جنس ګڼل کيږي نوځکه که ديوه طرفه څخه دِينَار وي او دبَل طرفه دِرهَم وي او شِرکَت وکي نو جائز دئ .

حاشيه : (الف) محمدابن سيرين وفرمائل چي شِرکَت او مُضَارَبَت نَه صحيح کيږي په پُور.د امانت په مال او په سامان او په غَائِب مال باندي .

فائده : د امامِ شافعي په نېزپه دې شِرگَت کې هم مال سره ګَډوَل ضروري دئ.او دِرهَم و دِينَار جلا جلا جِنسُونَه دي نو دا نَه سي سره ګډېدلائي ځکه دده په نېز دا جواز نَه لري .

[۱۳۲۱](۱۹) د دواړو څخه هر يَوَه چي هَرڅَه واخستل دهغه قيمت به دهغه څخه طلب کيږي.نَه دهغه دبَل څخه.او دخپلي حِصّې رجوع به کوي دخپل شريک څخه .

تشريح : يوه شريک دشِرگَت لپاره مَال رانيوئ نودهغه قيمت به پر هغه رانيونکي شريک باندي وي.البته چي څومره قيمت پرشَرِيک باندي راځي هغه به دشريک څخه وصولوي .

وجه : په دې شِرگَت کي يَوشريک دهغه بَل شريک خالص وَکِيل وي نوځکه چي هَرڅَه رانيسي دهغه نِيمَئ به دهغه بَل شريک وي.لېکن کَفِيل نَه وي نوځکه بَائِع به نِيمَئ قرض دهغه بَل شريک څخه نَه وصولوي.البته نِيمَئ مال دشريک دئ نوځکه دهغه حِصّه به دده څخه وُصُولَوِي .

[۱۳۲۲](۲۰) وَ اِذَا هَلَکَ مَالُ الشِّرکَةِ اَو اَحَدُ المَالَينِ قَبلَ اَن يَشتَرِيَا شَيئًا بَطَلَتِ الشِّركَةُ [۱۳۲۳](۲۱) وَ اِن اِشتَرْي اَحَدُهُمَا بِمَالِهِ شَيئًا وَهَلَکَ مَالُ الآخَرِ قَبلَ الشِّرَ آءِ فَالمُشتَرْي بَينَهُمَا عَلْي مَاشَرَطَا وَيَرجِعُ عَلْي شَرِيکِهِ بِحِصّتِهِ مِن ثَمَنِهِ .

[۱۳۲۲](۲۰) که دشِرگَت ټوله مال هلاک سي يا ديَو شِي د رانيولوڅخه مخکي د يَوَه مال هلاک سي نو شِرگَت به باطل سي .

تشريح : چي دشِرگَت ټوله مال هلاک سي نوښکاره خبره ده چي مال نَه سوپاته نوشِرگَت به په کوم شِي کي سره کوي؟نوځکه شِرگَت به ختم سي.دوم صورت دادئ چي دواړو شريکانو لا تر اُوسَه مال نَه وُ سره ګډ کړئ او يَو شَئ ئې لا هم نَه وُ په رانيولې چي ديوه شريک مال هلاک سو نو بيا هم شِرگَت ختميږي .

وجه:چي دکوم چا مال وُ دهغه په لاَس هلاک سوئ دئ نوتراُوسَه خوشِرگَت لا هم نَه دئ سوئ اومَال ختم سونواُوس به شِرگَت په کوم شِي کي وي؟ اوکه دهغه بَل شريک دلاَس مال هلاک سو نو هغه مَال دده په لاَس کي اَمَانَت وُ اوچي اَمَانَت هلاک سي نوضَمَان ئې نَه راځي.اوکه مَال دګَډوُلُويادیَوشِي درانيولوڅخه مخکي هلاک سونواُوس به شِرگَت دکوم شِي په ذريعه سره کوي؟نوځکه شِرگَت به باطل سي .

[۱۳۲۳](۲۱) او که د دواړوڅخه يوه په خپل مَال باندي يَوشَئ رانيوئ او دهغه بَل مال دڅَه شِي د اَخَستَلُوڅخه مخکي هلاک سو نو رَانِيوَل سوئ شَئ به دشرط مُطابق د دواړو ترمينځ مُشتَرَک وي .او رانيونکئ شريک به دهغه دحِصّې مُطابق ثَمَن وصولوي .

تشريح : د دو شريکانوڅخه يَوَه په خپل مال باندي څَه شَئ رانيوئ.هغه بَل شريک تر اُوسَه څَه شئ نَه وُ اَخستئ چي مال ئې هلاک سونواَخَستَل سوئ شَئ به دشرط مُطابق د دُوئي ترمينځ مُشتَرَک وي.او دهغه بَل شريک چي څومره حِصّه جوړيږي

[۱۳۲۴](۲۲) وَ يَجُوزُالشِّركَةُ وَ اِن لَم يَختَلِطَا المَالَ[۱۳۲۵](۲۳) وَ لاَيَصِحّ الشِّركَةُ اِذَا اِشتَرَطَ لاَحَدِهِمَا دَرَاهِمَ مُسَمّاةً مِنَ الرِّبحِ .

دهغونه حِصّي قيمت به دهغه څخه وُصُولَوِي .

وجه : دا مال خو په شِركَت کي رانيول سوئ دئ نوځکه دا مال به سره شريک وي.او رانيونکئ به دهغه بَل شريک وَکِيل وي.او رانيونکي سړي خو خپل مَال ورکړئ وُ نوځکه دخپل شريک څخه به دهغه دحِصّي قيمت وُصُولَوِي .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول ده چي شريک د وَکَالَت په حَيث رانيولئ دئ نو دهغه بَل شريک به هم دشرط مُطابِق خپل حِصّه وي .

[۱۳۲۴](۲۲) او شِركَتِ عَنَان جائزدئ که څَه هم دواړو مال نَه وي سره ګډکړئ .

تشريح : دواړو شريکانو ته په کار دئ چي خپل مالونه سره ګډ وَډ کړي لېکن په شِركَتِ عَنَان کي دا ګُنجَائِش سته چي مَال ئې نَه وي سره ګډ کړئ بيا هم شِركَت صحيح کيږي .

وجه : دَلتَه دشِركَت دارومدار پر تَصَرّف باندي دئ.او چي هرڅَه رانيسي هغه به نِيمَئ دځان لپاره وي او نِيمَئ به د وَكَالَت په حَيث دشريک لپاره وي.او چي کوم وخت دا خرڅوي نو دشرط مُطَابِق به په هغه مُنَاسَبَت سره ګټَه هم د دواړو لپاره وي.نوځکه د ګډَوُلُو ئې څه خاص ضرورت نسته .

فائده:دامام شافعي اوامام زُفَر په نېز په دې شرکت کي هم مَال سره ګډَوَل ضروري دئ .

وجه : د دُوئي دليل هغه مختته اثَردئ کوم چي په شِركَتِ مُفَاوَضَه کي تيرسو .

[۱۳۲۵](۲۳) او شِركَت نَه صحيح کيږي که شرط ولګاوئ د يَوَه لپاره دنَفعِ څخه دڅَه معلومو دَرَاهِمُ .

تشريح : مثلاً داسي شرط ئې ولګاوئ چي دګټې څخه به اَوّل ماته پِنځوس دِرهَمَ راکوې دا نور چي پاته سو په هغه کي به سره نِيمَئ نِيمَئ يُو.نو د داسي شرطو سره

[۱۳۲۶](۲۴) وَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِنَ المُفَاوَضَينِ وَشَرِيكَيِ العَنَانِ اَن يَبضَعَ المَالَ وَيَدفَعَهُ مُضَارَبَةً وَيُوكَلُ مَن يَتَصَرّفُ فِيهِ وَيَرهَنُ وَيَستَرهَنُ وَيَستَأجِرُ الأجنَبِيّ عَلَيهِ وَيَبِيعُ بِالنّقدِ وَالنّسِيئَةِ .

شِركَت کول جواز نَه لري .

وجه : (۱) مثلاً فرض ئې کَه چي يَوځائ صرف پِځُوس دِرهَمَ ګټه وسوه نو هغه به صرف ويوه ته ملاؤ سي هغه بَل به صرف دده و خُولَه ته ګُورِي او دا دده لپاره يَولوئ ضَرَر

دئ.نوځکه په دې شرط سره شِرکَت نَه صحیح کیږي چي دیوه لپاره څَه مُتَعَیّن دَرَاهِم مُقَرّر سي (۲) په حدیث کې د دارنګه تَعیین څخه منع کړې ده عَن رَافِعِ بِنِ خَدِیجٍ قَالَ حَدّثَنِي عَمِّي اَنّهُم کَانُوا یَکرُونَ الاَرضَ عَلْي عَهدِالنّبِيِّ ﷺ بِمَایُنبِتُ عَلْي الاَربَاعِ اَو بِشَيءٍ یَستَثنِیهِ صَاحِبُ الاَرضِ فَنَهْي النّبِيّ ﷺ عَن ذَالِکَ (الف) (بخاري شریف.باب کرآء الارض بالذهب والفضة ص۳۱۶نمبر۲۳۴۶) په دې حدیث کي دئ چي دمځکي په بَزګَرِي کي دځان لپاره د زَرَاعَت څَه مخصوص حِصّه مُستَثنْي کولو څخه حضور منع کړې ده.نوځکه په شِرکَت کي یَوڅَه خاص حِصّه مُستَثنْي کول هم جواز نَه لري (۳) عَن اِبنِ المُسَیّبِ قَالَ یُکرِهُ اَن یَبِیعَ النّخلَ وَ یَستَثنْي مِنهُ کَیلاً مَعلُومًا (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب یبیع الثمرة ویشترط منها کیلاًج۸ص۲۶۲نمبر۱۵۱۵۰)

[۱۳۲۶](۲۴) دمُفَاوَضي او عَنَان دهرشریک لپاره جائزدئ چي هغه وچاته مال ورکړي دبَضَاعَت په توګه او دمُضَارَبَت په توګه او داسي سړئ وَکِیل جوړکړي چي دشِرکَت په مال کي تَصَرّف وکي او په ګرَوْ ئې ورکړي یا ګرَوْ کښیږدي او یَو اَجنَبِي څوک نُوکَر کړي او په نَغدُ او په پُورئې خرڅ کړي .

حاشیه : (الف) زوما اَکَا ماته بیان کړئ دئ چي خلګودحضور په زمانه کي مځکه په کِرَایه ورکوله چي رَاشَنَه کېدله پر لُوَړځائ یا یَوخَاص شَئ دمځکي والا ځیني مُستَثنْي کاوئ.نوحضور دهغه څخه منع وکړه ... (ب) اِبنِ مُسَیّب دا مکروه ګڼئ چي درخته خرڅه کړي او معلوم کَیل ځیني مُستَثنْي کړي .

[۱۳۲۷](۲۵) وَیَدُهُ فِي المَالِ یَدُ اَمَانَةٍ .

تشریح : دا مسئلې پردې قاعده مُتَفَرّع دي چي په تِجَارَت کولو کي دکومو کومو کاروضرورت پېښیږي یا په کوم کوم کار باندي ګټه حاصلېدلائي سي هغه کار په شِرکَتِ مُفَاوَضَه او شِرکَتِ عَنَان کي دواړه شریکان کولائي سي.مثلاً ویَوچَا ته په بَضَاعَت سره مال ورکړي یعني ویَوچَا ته مال ورکړي چي تَه په دغه کي کار وکه او ددې نَفع زیات که.څَه اُجرَت به درکړم ودې ته وائي پربَضَاعَت باندي مال ورکول.یا ویَوچَا ته مال ورکړي چي تَه په دې ګَارُوبَار کوه په ګټه سره شریکان یُو ودې ته وائي پر مُضَارَبَت باندي مال ورکول.یا یَوڅوک دمال رانیولو لپاره وَکِیل جوړکړي چي دئ په هغه کي تَصَرّف وکي یعني خریدوفروخت په وکي.یا دیَوچَا قرض پر راغلئ نو دهغه په وجه ده دشِرکَت مال په ګرَوْ کي کښېښوئ ودې ته رِهن یعني ګرَوْ اِیښُوَل وائي.یائې ویَوچَا ته دشِرکَت مال ورکړئ دهغه لکبله دهغه سړي یَوشَئ دځان سره په ګرَوْ کي کښېښوئ ودې ته په رِهن یعني ګرَوْ کي اَخستَل وائي.یائې دکار کولو لپاره یَو اَجنَبِي څوک نوکر یعني مزدورکړئ.دغه رنګه دشِرکَت مال په نَغدُو هم خرڅولائي سي او په پُور ئې هم خرڅولائي سي.په تِجَارَت کي ددې کارو ضرورت پېښیږي.دا عام رِوَاج دئ نوځکه شریک دغه لُوَړ ټوله کارونه کولائي سي .

اُصُول : شریک هغه ټوله کارونه کولائي سي کوم چي تِجَارَت ته ګټي رسوي .

[۱۳۲۷](۲۵) او په مَال کي دشریک قبضه د اَمَانَت قبضه ده .

تشریح : یعني دشریک په لاَس کي چي کوم دشریک مال دئ هغه د اَمَانَت په توګه دئ. او چي ببېله زِیَاتُوبَ هلاک سي نو پر ده باندي ضمان نَه راځي .

وجه : (۱) دشریک په اِجَازَه سره دده قبضه ده. او د هر ډَوَل بدلي بغیره قبضه ده نو ځکه دا به د اَمَانَت قبضه وي (۲) ددې اَثَر ځخه هم اِستِدلاَل کوي عَن صَالِحِ بِنِ دِینَارٍ اَنّ عَلِیًا کَانَ لاَیَضمَنُ الأجِیرَ المُشتَرَکَ (الف) (مصنف ابن ابي شیبة ۵۴ في الأجیریضمن أم لا؟ ج۴ص ۳۱۶نمبر۲۰۴۸۹) په دې اَثَرکي اَجِیرِمُشتَرَک د مالک په اِجَازَه سره قبضه کړې وه نوځکه حضرت عَلِي پر هغه باندي ضمان نَه کړئ لازم. دغه رنګه چي شریک دمالک په اِجَازَه سره قبضه کړې وي نو هغه قبضه به هم د اَمَانَت قبضه وي (۲) په اَثَرکي راغلي دي عَنِ الحَسَنِ قَالَ اَلمُضَارِبُ مُؤتَمَنٌ وَاِن تَعَدّْي اَمرَکَ (مصنف عبدالرزاق. باب ضمان المقارض اذا تعدّْي ولمن الربح ج۸ص۲۵۵نمبر۱۵۱۲۱) په دې اَثَرکي دئ چي مُضَارِب اَمِین دئ نو شریک به هم اَمِین وي او کوم مال چي دده په لاَس کي دئ هغه به د اَمَانَت مال وي .

[۱۳۲۸](۲۶) وَ اَمّا شِرکَةُ الصّنَائِعِ فَالخَیّاطَانِ وَالصّبّاغَانِ یَشتَرِکَانِ عَلْي اَنّ یَتَقَبّلاَ اَلاَعمَالَ وَیَکُونَ الکَسبُ بَینَهُمَا فَیَجُوزُ ذَالِکَ وَمَا یَتَقَبّلُهُ کُلّ وَاحِدٍ مِنهُمَامِنَ العَمَلِ یَلزِمُ شَرِیکَهُ .

[۱۳۲۸](۲۶) او شِرکَتِ صَنَائِع دادئ چي دوه دَرزِیَان یا دوه رَنګ ورکونکي سره شریکان سي پر دې خبره چي دواړه به کارونه اَخلِي او ګسب به د دواړو ترمینځ تقسیم وي. نو دا جائزدئ. او دواړه چي کوم کار قبول کړي هغه به پرده باندي هم لازم وي او دده پر شریک به هم لازم وي .

تشریح : دوه کاریګر سره شریکان سي چي موږ به دواړه کارونه نیسو او کارونه به کوو او چي کومه ګټه وي هغه به دواړه نِیمَئ نِیمَئ کوویا به دشرط مطابق اَخلُو. په کاریګري کي شِرکَت سره سوئ دئ نوځکه دې ته شِرکَتِ صَنَائِع وائي. په دې صورت کي چي یَو شریک کوم کار ونیسي هغه کار پرهغه بَل شریک باندي هم لازمیږي. او هغه بَل شریک هم ددې کار دکولوذِمّه داره دئ .

وجه :(۱) دشِرکَتِ صَنَائِع ثبوت په دې حدیث کي دئ عَن عَبدِاللهِ قَالَ اِشتَرَکتُ اَنَا وَعَمّارُ وَسَعدُ فِیمَا نُصِیبَ یَومَ بَدرٍ قَالَ فَجَآ ءَ سَعدٌ بِاَسِیرَینِ وَلَم اَجِئ اَنَا وَعَمّارُ بِشَئٍ (الف) (ابوداؤدشریف.باب الشرکة والمضاربة ص۳۲۷نمبر۲۲۸۸) په دې حدیث کي درو کسانو په کار کولو او د قَیدِیَانُوپه رَاوْړَلُو کي شرکت سره کړئ دئ ددې ځخه معلوم سوچي شِرکَتِ صَنَائِع

[۱۳۲۹](۲۷)فَاِن عَمِلَ اَحَدُهُمَا دُونَ الآخَرِ فَالکَسبُ بَینَهُمَا نِصفَانِ .

حاشیه : (الف) صَالِح بِنِ دِینَار فرمائي چي حَضرَت عَلِي اَجِیرِمُشتَرَک ضَامِن نَه جوړاوئ.

جائزدئ.او دګټي په باب اَثَرمخته تېرسوئ دئ عَن عَلِيٍّ فِي المُضَارَبَةِ وَالرِّبحِ عَلْي مَا اِصطلَحُوا عَلَيهِ (ب) (مصنف عبدالرزاق.نمبر۱۵۰۸۷) يعني چي پركوم شي باندي سره مُتّفِق سي هغه نَفع به وي (۲) دا نَفع په دې وجه ده چي يَوسړئ دبَل سړي دكار ذِمّه داره دئ اوکارهم کوي.نوځکه شِرکَت هم صحيح کيږي اوګټه اَخستَل ئې هم صحيح ده .

فائده : د امامِ زُفَر او امامِ شافعي په نېز شِركَتِ صَنَائِع نَه صحيح کيږي .

وجه : دُوئي فرمائي چي د نَفعِ او شِرکَت دارومدار پر رَأسُ المَال دئ او دلته رَأسُ المَال نسته.نوځکه شِرکَت نَه صحيح کيږي .

پام لرنه : چي ديَوَه کار زيات وي او ګټه لَږ واخلي نو دا هم جائزدئ .

وجه : (۱) مخته اَثَرتيرسوچي کوم شرط ولګوي دهغه مُطابِق نَفع اخستلائي سي (۲) کله داسي هم وي چي دنَفعِ دارومدار پر ګټه نَه وي بلکه پرمَهَارَت او چالاکي باندي وي چي دئ کار کوي نو دچالاکئ په وجه زياته ګټه کوي.نوځکه چي کارئې لَږ وي او ګټه زياته اَخلِي نو دا هم جائز دئ .

[۱۳۲۹](۲۷) که د دواړوځخه يَوَه کار وکئ هغه بَل نَه وکړئ بيا به هم ګټه نِيمَئ نِيمَئ وي .

وجه : (۱) يَوَه کار ونيوئ نو د وَکَالَت په وجه نِيمَئ کار دهغه بَل پرذِمّه هم راغلئ نو ګواکه هغه بَل هم کار وکئ (۲) چي کار وَنَه کړي نو دکار کولو مطالبه ځيني کېدلائي سي.لېکن شرط دنِيمَئ نِيمَئ ګټي دلګېدلئ دئ نوځکه دشرط مُطَابِق به نَفع نِيمَئ نِيمَئ وي .

[۱۳۳۰](۲۸) وَ اَمّا شِركَةُ الوُجُوهِ فَالرّجُلاَنِ يَشتَرِكَانِ وَلاَ مَالَ لَهُمَا عَلْي اَن يَشتَرِيَا بِوُجُوهِهِمَا وَيَبِيعَا فَتَصِحّ الشِّركَةُ عَلْي هٰذَا .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول ده چي دنَفعِ دتقسيم دارومدار دشرط مُطَابِق دئ .

[۱۳۳۰](۲۸) شِرکَتِ وُجُوه دادئ چي دوه کسان سره شريکان سي او د دواړو سره مال نَه وي پردې خبره چي دواړه به په خپل خپل تعلقاتُ باندي رانيسو او خرڅوو به . نو دا رنګه شِرکَت صحيح دئ .

تشريح : د شِرکَتِ وُجُوه صورت دادئ چي د دواړو شريکانوسره مال نَه وي بلکه په خپل خپل تَعَلّقَاتُ باندي د نورو مالونه په پُور رانيسي او خرڅوي ئې او ګټه په کوي.چي دوه کسان دا رنګه شِرکَت سره وکي نو دا جائزدئ.او ودې شِرکَت ته شِرکَتِ وُجُوه په دې وجه وائي چي په وَجه٘ يعني مَخ او خپل رُعب باندي شَئ رانيسي او خرڅوي ئې.نوځکه دې ته شِرکَتِ وُجُوه وائي .

وجه : ددې شِرکَت دجواز ثبوت په دې وُرِدَه اَثَر کي دئ قَالَ اَخبَرَنِي اَبِي قَالَ کُنتُ اَبِيعُ البَزّ في زَمَانِ عُمَرَبِنِ الخَطّابِ وَ اَنّ عُمَرَ قَالَ لاَيَبِيعُهُ فِي سُوقِنَا اَعجَمِيٌ فَاِنّهُم لَم يَفقَهُوا فِي

حاشيه : (الف) عبدالله فرمائي چي زَه او عَمّار اوسَعد سره شريکان سوپه دې کي چي د جَنګِ بَدر په ورځ چي هرڅه حاصل سي په هغه کي.نوحضرت سَعد دُوَه قيديَان او مَا او عَمّارهيڅ شَئ نَه راوړئ (ب) دمُضَارَبَت په باب حضرت علي فرمائي چي نَفع به دهغه شرط مُطابِق وي کوم چي صُلح پرسوې ده .

الدِّينِ وَ لَم يُقِيمُوا فِي المِيزَانِ وَالمِكيَالِ قَالَ يَعقُوبُ فَذَهَبتُ اِلَي عُثمَانَ بِنِ عَفّانَ فَقُلتُ لَهُ هَل لَکَ غَنِيمَةٌ بَارِدَةٌ ؟ قَالَ مَاهِيَ ؟ قُلتُ بَزٌ. قَدعَلِمتُ مَکَانَهُ يَبِيعُهُ صَاحِبُهُ بِرَخَصٍ لاَيَستَطِيعُ بَيعُهُ اَشتَرِيهِ لَکَ ثُمّ اَبِيعُهُ لَکَ قَالَ نَعَم الخ (الف) (مؤطاامام محمد

حاشيه : (الف) زُومَا پلار زَه خبر کړم. دئ فرمائي چي ما دکپړې تجارت کاوئ دحضرت عُمَر په زمانه کي.حضرت عُمَر وفرمائل زُومَا په بَازَار کي دي يَوعَجَمِي هم تجارت نَه کوي.ځکه چي دُوئي په دِين نَه پوهيږي او صحيح وَزَن نَه کوي.حضرت يَعقُوب فرمائي چي زه حضرت عُثمَان ته وَرغلَم او پُوښتَنَه مي ځيني وکړه چي ستا سره غَنِيمَتِ بَارِدَه سته ؟ هغوپُوښتَنَه وکړه چي دا څِش دئ ؟ ما ورته وويل کپړه.ماته د رُخصَت سره دهغه دخرڅولوځائ معلوم دئ چي هغه ئې نَه سي خرڅولائي؟ ستاليپاره به خرڅوم بيا به ستا لپاره رانيسم.حضرت عُثمَان وفرمائل هُو .

[١٣٣١](٢٩) وَ کُلّ وَاحِدٍ مِنهُمَا وَکِيلُ الآخَرِ فِيمَا يَشتَرِيهِ

[١٣٣٢](٣٠) فَاِن شَرَطَا اَن يَکُونَ المُشتَرْي بَينَهُمَا اَثلاَثًا فَالرِّبحُ کَذَالِکَ .

محمد.باب الشرکة في البيع ص٣٤٧) په دې اَثَرکي دحضرت يعقوب سره مال نَه وُ.دحضرت عُثمَان څخه کپړه واخسته او شِرکَت ئې وکي.ددې څخه معلوم سوچي شِرکَتِ وُجُوه جائز دئ .

[١٣٣١](٢٩) د دواړوڅخه هر يَو دهغه بَل وکيل دئ په هغه کي چي رانيولئ دئ .

تشريح : هر شريک چي څَه رانيسي دهغه څخه به نِيمَئ دده وي او نِيمَئ به دشريک وي .

وجه : په دې شرکت کي هم يَوشريک دهغه بَل شريک وکيل وي.نوځکه چي هر څَه رانيسي دهغه بَل شريک د وکالت په وجه به نِيمَئ دهغه بَل شريک وي .

[١٣٣٢](٣٠) که دُوئي دواړو شرط ولګاوئ چي رانيول سوئ شئ د دواړو نِيمَئ نِيمَئ دئ نو نَفع به هم دغه رنګه وي يعني نِيمَئ نِيمَئ به وي.او ددې څخه کمبوت او زياتوب جواز نَه لري.او که دُوئي شرط ولګاوئ چي رانيول سوئ شئ به په دَرَيَمَه وي نو نَفع به هم دغه رنګه وي .

تشريح : که د دواړو رانيولئ مال سره نِيمَئ نِيمَئ وُ نو نَفع به هم د دواړو سره نِيمَئ نِيمَئ وي.ددې څخه کَم او زِيَاتَه نَفعَ اَخستَل جواز نَه لري.که دا شرط سره ولګاوئ چي د يَوَه رانيولئ شئ به په يَوَه دَرَيَمَه سره شريک وي او دبَل رانيولئ شئ به په دُوې دَرَيَمِي سره شريک وي نو نَفع به هم په دغه مُنَاسَبَت سره شريکه وي.يعني دکوم چاچي يَوَه دريمه ده هغه به نَفعَ هم يَوَه دريمه وُرِي.او دکوم چاچي دُوې دريمي مال دئ هغه ته به نَفعَ هم دُوې دريمي رسيږي.ددې څخه د زيات او کَم نَفعِ شرط بيا جواز نَه لري .

[۱۳۳۳](۳۱) وَلاَيَجُوزُ الشِّرکَةُ فِي الاِحتِطَابِ وَالاِحتِشَاشِ وَ الاِصطِيَادِ وَمَا اِصطَادَهُ کُلّ وَاحِدٍ مِنهُمَا فَهُوَ لَهُ دُونَ صَاحِبِهِ .

وجه : (۱) د نَفعِ اَخَستَلُو دارومدار د درو خبرو څخه پريوه باندي وي.ياخو به دمال په وجه نَفعَ اَخلِي لکه په مُضَارَبَت کي دمال والا مَال وي نوځکه هغه نَفعَ اَخلِي. يا به د کار کولو په وجه نَفعَ اَخلِي لکه مُضَارِب دکارکولو په وجه نَفعَ اَخلِي.او دريم صورت دادئ چي د ذِمّه داري او ضَمَان په وجه نَفعَ اَخلِي.په شِرکَتِ وُجُوه کي د نَفعِ اخستلو دغه دريمه وجه ده.ځکه چي ديوه سره هم مال نسته او نَه د يَوَه کار کولو په وجه نَفعَ اخلي.نوځکه په خپله ذِمّه داري باندي چي هرڅونه مال راوړي په هغه حِسَاب به د نَفعِ اخستلو مُستَحِق جوړيږي.که ددې څخه زياته نَفعَ واخلي نو دا به بغيره يوې ذِمّه داري نَفعَ اخستل سي.نو دا بيا د نَفعُ مَالَم يَضمَنُ قاعدې په رُونَا کي ناجائز ده (۲) او د رِبحُ مَالَم يَضمَنُ حديث مختته تېرسوئ دئ عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لاَيَحِلّ سَلَفٌ وَبَيعٌ وَلاَ شَرطَانِ فِي بَيعٍ وَ لاَ رِبحُ مَا لَم يَضمَن وَلاَ بَيعُ مَالَيسَ عِندَکَ (الف) (ابوداؤدشريف. باب في الرجل يبيع ماليس عنده ص۱۳۹نمبر۳۵۰۴\ترمذي شريف.باب ماجاء في کراهية بيع ماليس عنده ص۲۳۳نمبر۱۲۳۴) نوځکه ددې حديث پر بُنيادچي هرڅومره ذِمّه داري واخلي دهغونه نَفعِ به مُستَحِق ګرزي .

اُصُول : دا مسئله پر دې اُصُول مُتَفَرّع ده چي که مَال يا عَمَل نَه وي بلکه صرف د ذِمّه دارئ په وجه دنَفعِ حقدار وي نو چي هرڅونه ذِمّه داري وي دهغونه نَفعِ به حقداره وي .

[۱۳۳۳](۳۱) شِرکَت جواز نَه لري په بُوټُو راوړلوکي.د وَښُو په جمع کولوکي او په ښکار کولوکي.او په دُوئي کي چي هر يَوښکار وکي يا بُوټِي راوړي هغه به دهغه وي دهغه بَل نَه دي .

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل چي پُور هم وي او بيع هم وي دا جواز نَه لري.او چي په يَوَه بيع کي دوه شرطونه وي دا هم جواز نَه لري.او دکوم شِي چي ذِمّه داره نَه وي دهغه نَفعَ اَخَستَل هم جواز نَه لري.او کوم شَئ چي ستا سره نَه وي دهغه بيع هم جواز نَه لري .

[۱۳۳۴](۳۲) وَ اِذَا اِشتَرَکَا وَ لاَحَدِهِمَا بَغلٌ وَللآخَرِ رَاوِيَةٌ يَستَقِي عَلَيهَا المَآ ءَ وَ الکَسبُ بَينَهُمَا لَم تَصِحّ الشِّرکَةُ وَالکَسبُ کُلّهُ لِلّذِي

تشريح : دا مسئله پردې قاعده باندي مُتَفَرّع ده چي کوم شيان مُبَاح دي پرهغه چي هرڅوک قبضه وکي مُفت دهغه مِلکِيّت ګرزي.په دي کي دشِرکَت ضرورت نسته او نَه په دي کي وَکَالَت صحيح کيږي .

وجه : (۱) ځکه چي کوم وخت پردې باندي قبضه وکي هغه شَئ دهغه ګرزي نو دبَل د وَکَالَت بيا څَه ضرورت دئ؟ مثلاً د سُوَځَلُو بُوټِي په ځنګل(زنګل) کي مُفت ملاؤيږي چي هرچا وَکښَل دهغه سو.وَابنَه په ځنګل کي مُفت ملاؤيږي چي هرڅوک ئې پري کړي دهغه مِلکِيّت ګرزي. دښکار حيوانان هم دغه رنګه دي (۲) په حديث کي ددې ثبوت سته چي

هرڅوک پر دې مَبَاح شِيَانُوباندي قبضه وکي دهغه مِلکِيّت ګرزي. عَن اَبيَضَ بِنِ جَمَالٍ ... فَقَالَ رَسُولُ اللهِﷺهُوَ مِنکَ صَدَقَةٌ وَهُوَ (اَلمِلحُ) مِثلُ المَآءِ العَدِّ مَن وَرَدَهُ اَخَذَهُ (الف) (ابن ماجه شريف.باب اِقطاع الانهاروالعيون ص٣٥٥نمبر٢٤٧٥) په دې حديث کي دئ چي پر مَالګَه او دهغه په شَان بَل شِي باندي چي هرڅوک قبضه وکي دهغه مِلکِيّت ګرزي .

پام لرنه : که دواړو په ګډَه لَرګِي او بُوټِي سره جمع کړل نو ودواړو ته به نِيمَئ نِيمَئ لَرګِي ورسيږي. او که يَوَه لَرګِي جمع کړل او هغه بَل دده مرسته وکړه نو ومُرَستِيَال ته به دهغه أُجرَت يعني مزدوري ملاؤيږي او لَرګِي به ټوله د جمع کونکي وي .

اُصُول : په مُبَاح شِيَانُوکي شِرکَت نَه صحيح کيږي .

لُغَت: اَلاِحتِطَابُ:دحَطَبٌ څخه مُشتَق دئ معنٰي جمع کول.اَلاِحتِشَاشُ:دحَشِيشٌ څخه مُشتَق دئ معنٰي وَابښَه پرېکول. اَلاِصطِيَادُ : د صَيدٌ څخه مُشتَق دئ معنٰي ښکار کول .

[١٣٣٤](٣٢) که دوه کسان سره شريکان سول په دې کي ديَوَه ګچَر وي او هغه بَل د مَشک وي چي په هغه به أُوبَه راکاږي او ګټه به د دواړو وي نو دا شِرکَت صحيح نَه دئ.ګټه به دهغه وي کوم چاچي أُوبَه راکښلي دي.البته پرده به د مَشک أُجرَتِ مِثل واجب وي که چيري کار کونکئ د ګچَرمالک وي.او که کارکونکئ دمَشک مالک وي نوپرده باندي د ګچَر أُجرَتِ مِثل واجب دئ .

اِستَقْي المآ ءَ وَ عَلَيهِ اَجرُ مِثلُ الرّاوِيَةِ وَ اِن كَانَ العَامِلُ صَاحِبُ البَغلِ وَ اِن كَانَ صَاحِبُ الرّاوِيَةِ فَعَلَيهِ اَجرُ مِثلُ البَغلِ [١٣٣٥](٣٣) وَكُلّ شِركَةٍ فَاسِدَةٍ فَالرِّبحُ فِيهَا عَلٰي قَدرِ رَأسِ المَالِ وَيَبطُلُ شَرطُ التّفَاضُلِ .

تشريح : دوه کسان سره يَوځائ سو.د يوه دا ګچَردئ او دهغه بَل دا مَشک دئ چي په دې به أُوبَه راکاږو او ګټه به کوو.نو په دې صورت کي چي کوم چا کار وکئ ټوله أُجرَت به دهغه وي.او هغه بَل ته به دخپل شِي أُجرَت او مزدوري ملاؤيږي.نوکه چيري دګچَرمالک أُوبَه راوکاږي ګټه به هم ټوله دهغه وي او دمَشک والا ته به دمَشک أُجرَت ورکوي.او که چيري دمَشک والا کار وکئ نوبيا به ګټه ټوله دمَشک والا وي او دګچَر و مالک ته به د ګچَر أُجرَت او مزدوري ملاؤيږي .

وجه : أُوبَه مُبَاح دي ددې په راکښلوکي شِرکَت کول شِرکَتِ فَاسِد دئ.نوځکه کوم چاچي پر أُوبُوقبضه وکړه أُوبَه دهغه سوې او ګټه هم دهغه سوه.او هغه بَل ته به دخپل شِي أُجرَت ملاؤيږي .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول ده چي په شِرکَتِ فَاسَدَه کي ومرستيال ته يا چي دکوم چا سامان اِستِعمَال سوئ دئ وهغه ته به ددې أُجرَتِ مِثل ملاؤيږي .

لُغَت : اِستَقْي : أُوبَه ورکول.أُوبَوَل. اَلرّاوِيَةُ : مَشک .

حاشيه : (الف) حضورﷺ وفرمائل دا ستا لخوا صدَقَه ده او مَالګَه د تيّارسوو أُوبُو په مثال ده هرڅوک چي پردې راسې هغه به اَخلِي .

[۱۳۳۵](۳۳) په هرفاسدشِرکَت کي گټه په هغه کي د اَصل مال په حساب تقسيمږي.او که دحِصّې څخه زيات دنَفعِ اخستلوشرط وي نو هغه شرط باطل دئ .

تشريح :په کوم کوم ځائ کي چي شِرکَت فَاسِدسي نو د هَر شريک چي هرڅونه مال وي په هغه حِسَاب سره به نَفعَ تقسيميږي.او که دحِصّې څخه د زياتِ نَفعِ اخستلو شرط وي نو هغه شرط باطل دئ .

[۱۳۳۶](۳۴) وَاِذَا مَاتَ اَحَدُ الشّرِيکَينِ اَو اِرتَدّ وَلَحِقَ بِدَارِ الحَربِ بَطَلَتِ الشّرِکَةُ .

وجه : (۱) په شِرکَتِ فَاسِدَه کي نَفعَ د اَصل مال تابع وي.لکه څَه رنګه چي په مَزَارَعَتِ فَاسِدَه کي غَلّه د تُخم تابع وي او ټوله غَلّه د تُخم والا ته ملاؤيږي.نوچي هرکله نَفعَ د اَصل مال تابع سوه نوبيا چي دهر يَوَه څونه مال وي په هغه حِسَاب سره به نَفعَ تقسيمږي (۲) دا چي نَفعَ د اَصل مال تابع ده ددې دليل دا اَثَر دئ عَن مُجَاهِدٍ قَالَ اِشتَرَکَ اَربَعَةُ رَهطٍ عَلْي عَهدِ رَسُولِ اللهِﷺ فِي زَرعٍ فَقَالَ اَحَدُهُم قِبَلِي اَلاَرضَ وَقَالَ الآخَرُ قِبَلِي اَلْفُدَانَ وَقَالَ اَلآخَرُ قِبَلِي اَلبَذرَ وَقَالَ اَلآخَرُ عَلَيّ اَلعَمَلُ فَلَمّا اُستُحصِدَ الزّرعُ تَفَاتُوا فِيهِ اِلْي النّبِيّﷺ فَجَعَلَ الزّرعَ لِصَاحِبِ البَذرِ وَاَلغْي صَاحِبَ الاَرضِ وَجَعَلَ لِصَاحِبِ الفُدَانِ شَيئًا مَعلُومًا وَجَعَلَ لِصَاحِبِ العَمَلِ دِرهَمًا كُلّ يَومٍ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۳۷۷ القوم يشتركون في الزرع.ج۴ ص۵۰۶نمبر۲۲۵۵۶) په دې اَثَر کې ټوله زَرَاعَت يعني کَښت و تُخم والا ته ورکړئ دئ.ځکه چي د زِرَاعَت اصل بُنياد تُخم دئ.پر دغه باندي دا قِيَاس هم دئ چي نَفع خو د اَصل مال پيداوار ده نوځکه نَفعَ به د اصل مال پر بُنياد باندي تقسيمږي.او دکمبوت او زياتوب شرط ئې باطل دئ. په مصنف عبدالرزاق نمبر ۱۵۱۱۰ کي دحضرت ابوقلابة دا جمله هم ده عَن اَبِي قَلاَبَةَ اَلضّمَانُ عَلْي مَن تَعَدّْي وَالرِّبحُ لِصَاحِبِ المَالِ (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب ضمان المقارض اذا تعدْي ولمن الربح ج ۸ ص۲۵۳ نمبر ۱۵۱۱۰)

[۱۳۳۶](۳۴) که دشريکانوڅخه يَو مَړسي يا مُرتَدسي او دارالحرب ته وُلاړسي نو شرکت به باطل سي.

حاشيه : (الف) مجاهدفرمائي چي دحضورپه زمانه کي څلور کسان په يَوَه کَښت کولوکي سره شريکان سول.په هغوکي يوه وويل زُومَالخوامځکه ده.دوم وويل زُومَالخوا غُوَيَئ دئ.دريم وويل زُومَالخواتُخم دئ.اوڅلورم وويل کار کول زُومَاذِمّه ده.چي کله کَښت ګاټ سونو دحضور دربار ته اِختِلاَف راؤړئ.نوحضور کَښت د تُخم والا ته ورکړئ.اودمځکي والا ئې خُوَشِي پرېښوئ.او غُوَايَه والا ته څَه معلوم شَئ ورکړئ.او کار کونکي ته د هري ورځي يَوَيَو دِرهَم ورکړئ (ب) اَبُوقَلاَبَه فرمائي چي ضَمَان پر هغه دئ چاچي زياتوب کړئ دئ او نَفعَ به دمال والا وي .

[۱۳۳۷](۳۵) وَلَيسَ لِوَاحِدٍ مِنهُمَا اَن يُؤَدّيَ زَکَوةَ مَالِ الآخَرِ اِلاّ بِاِذنِهِ

[۱۳۳۸](۳۶) فَاِن اَذِنَ كُلّ وَاحِدٍ مِنهُمَا لِصَاحِبِهِ اَن يُؤَدّيَ زَکْوتَه فَاَدّيْ كُلّ وَاحِدٍ مِنهُمَا فَالثّانِي ضَامِنٌ سَوَآ ءٌ عَلِمَ بِاَدَآ ءِ الاَوّلِ اَو لَم يَعلَم عِندَ

اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ تَعَالْي وَقَالاَ رَحِمَهُمَااللّٰهُ تَعَالْي اِن لَم يَعلَم لَم يَضمَن .

وجه : دشِرکَت لپاره دشريک وَکَالَت شرط دئ.او چي مړسي نووَکَالَت ئې ختم سو نوځکه شِرکَ َت به ختم سي.چي مُرتَدسي او دَارُالحَرب ته ولاړسي نوهم شِرکَت ختم کيږي.ځکه چي د اِرتِدَاد په وجه دئ بيا دوباره نَه راځي نو ګواکه د مړي په حُکم کي سو نوځکه وَکَالَت به ختم سي .

[۱۳۳۷](۳۵) ديَوَه شريک لپاره هم دا جواز نَه لري چي دهغه بَل د مَال زکوْة اداٰء کړي مګر دهغه په اِجَازَه سره .

تشريح : دهغه بَل شريک په حِصّه کي چي کوم مال راځي که چيري هغه مال دزکوْة ونصاب ته رسيږي نودهغه اَوّل شريک لپاره داجواز نَه لري چي دهغه دحُکم او اِجَازې بغيره دده زکوْة اداٰء کړي.لېکن که چيري هغه دزکوْة د اداٰء کولو اِجَازَت ورکړي نوبيائې اداٰء کولائي سي .

وجه : زکوْة اداٰء کول دتِجَارَت د اَعمَالُو څخه نَه دئ نوځکه ددې اِختِيَار نَه لري .

[۱۳۳۸](۳۶) نوکه چيري د دُوئي څخه هريوه وهغه بَل ته دخپل زکوْة د اداٰء کولو اِجَازَت ورکړئ.بيا د دُوئي څخه هر يَوَه زکوْة اداٰء کړئ نو هغه وروسته اداٰء کونکئ به ضَامِن وي که څَه هم وده ته دهغه مخکي اداٰء کولو خَبَر وي که نَه وي د امام صاحب په نيز.او صاحبين فرمائي چي که وده ته معلوم نَه وي نوبياضَامِن نَه دئ .

تشريح : هر شريک وهغه بَل ته دزکوْة د اداٰء کولو اِجَازَت ورکړئ وُ.بيا هريَوَه خپل خپل زکوْة هم اداٰء کئ او دشريک دې هم اداٰء کئ.نو کوم شريک چي وروسته دهغه بَل شريک زکوْة اداٰء کئ هغه خو وَاجِب زکوْة نَه سو اداٰء بلکه هغه خو نَفلِي صَدَقَه اداٰء سوه.ځکه چي هغه اَوّل شريک خو خپل زکوْة مخکي لا اداٰء کړئ وُ.نوځکه د وروستني شريک ادائګي نَفلِي صَدَقَه سوه.نو اُوس وروسته اداٰء کونکئ به دهغه اَوّلَنِي اداٰء کونکي لپاره ضَامِن وي که نَه ؟ امام صاحب فرمائي چي وروستني ته که د مخکني د اداٰء کولو عِلم وي که نَه وي خو هغه به ضَامِن وي.

وجه : اَوّل شريک چي څَه وخت زکوْة اداٰء کئ نوهغه بَل شريک سَم دَستِي په هغه وخت د زکوْة د اداٰء کولو څخه مَعزُول سو.او چي دئ مَعزُول سو نو دده اداٰء کول بې معنْي دي نوځکه د شِرکَت دمال څخه چې هر څَه اداٰء کړي دي دهغه به دئ دهغه بَل حِصّه دَارَه لپاره ضَامِن وي.که څَه هم ده ته د مَعزُولېدو خبر نَه وي .

صاحبين فرمائي چي که وروستني شريک ته دهغه مخکني شريک د اداٰء کولو خبر وي نو بياخو به ضَامِن وي او که نَه وي خبر نو بيا ضَامِن نَه دئ .

وجه : (۱) وروسته اداٰء کونکي شريک ته دزکوْة د اداٰء کولو اِجَازَت وُ.ددې مطلب دادئ چي دا اِجَازَت ورته حاصل وُ چي يَو فَقِير ددې مَالِک جوړکړي.هغه مَالِک

جُورِوَل كه د وَاجِب په حَيث وي كه د نَفل په حَيث وي.او دې بَل شريک دده دحُكم مُطَابِق كار وكړئ.او ده ته دمخكني شريک د اداَء كولو په باب هيڅ ډَوَل خبر نَه وُنوځكه دئ ضَامِن نَه دئ (٢) د زكوْة د ادائيګئ د خَبَر بغيره ده دهغه بَل شريک د اِجَازَت مُطَابِق عَمَل كړئ دئ نوځكه دئ ضَامِن نَه دئ.نوځكه د خبرَوُلُو بغيره دئ د زكوْة د اداَء كولو څخه نَه معزوليږي .

..... كِتَابُ المُضَارَبَةِ .....

[١٣٣٩](١) اَلمُضَارَبَةُ عَقدٌ عَلْي الشِّرکَةِ فِي الرِّبحِ بِمَالٍ مِن اَحَدِالشّرِيكَينِ وَعَمَلٍ مِنَ الآخَرِ .

..... كِتَابُ المُضَارَبَةِ .....

ضروري پام لرنه : مُضَارَبَت د ,,ضَربٌ فِي الأرضِ,, څخه مُشتَق دئ.مُضَارِب په مځكي كي سَفَركوي تِجَارَت كوي په هغه كي ګټَه كوي نوځكه ودې تِجَارَت ته مُضَارَبَت وائي.په دې تِجَارَت كي د يَوَه لخوا مال وي چي رَأسُ المَال ورته وائي او دهغه بَل لخوا كار او عَمَل وي چي په هغه باندي دئ ګټَه كوي او په ګټه كي دواړه سره شريكان وي.ددې تِجَارَت ثبوت په دې حديث كي دئ عَن عُروَةَ يَعنِي اَبِي الجَعدِ البَارِقِيِّ قَالَ اَعطَاهُ النَّبِيّﷺ دِينَارًا يَشتَرِي بِهِ اُضحِيَةً اَو شَاةً فَاشتَرْي شَاتَينِ فَبَاعَ اِحدَاهُمَا بِدِينَارٍ فَأَتَاهُ بِشَاةٍ وَدِينَارٍ فَدَعَا لَهُ بِالبَرَكَةِ فِي بَيعِهِ فَكَانَ لَو اِشتَرْي تُرَابًا لَرَبِحَ فِيهِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في المضارب يخالف ص١٢٤نمبر ٣٣٨٤) ددې حديث څخه معلوم سوچي دغه د مُضَارَبَت تجارت كولائي سي .

[١٣٣٩](١) مُضَارَبَت په نَفعَ كي دشِركَت يَوعَقددئ د شريكانو څخه ديَوَه په مَال او دبَل په عَمَل سره .

تشريح : د مُضَارَبَت صورت داسي وي چي ديوې خوا څخه مال وي او دبَلِي خوا څخه كَار او عَمَل وي او په ګټه كي دواړه سره شريكان وي .

وجه : (١) دا مخته حديث ددې ثبوت دئ (٢) په اَثَركي دئ قَالَ خَرَجَ عَبدُاللهِ وَعُبَيدُاللهِ اِبنَا عُمَرُبِنِ الخَطّابِ فِي جَيشٍ اِلْي العِرَاقِ فَلَمّا قَفَلاَ مَرّا عَلْي اَبِي مُوسْي الاَشعَرِيِّ وَهُوَ اَمِيرُ البَصرَةِ فَرَحّبَ بِهَا وَسَهّلَ ثُمّ قَالَ لَو اَقدِرُ لَكُمَا عَلْي اَمرٍ اَنفَعُكُمَا بِهِ لَفَعَلتُ ——

حاشيه : (الف) ابن جَعدِبَارِقِي فرمائي چي وده ته حضور دقُربَانَئ د بُوزې د رانيولو لپاره يَو دِينَار وركړئ يائي د بُوزې د رانيولو لپاره وركړئ نو هغه دُوې بُوزې په رانيولې.بيائې دهغه څخه يَوَه په يَوَه دِينَارخرڅه كړه.نودحضورﷺ دَربَار ته يَوَه بُوزَه او يَو دِينَار راوړئ.نوحضورﷺ وده ته په بَيعَ كولو كي دبَرَكَت دُعَاء وكړه.نو بيا داسي سُو چي كه به ده خَاوُرِي رانيولې هم په هغه كي به ده ته نَفعَ حاصلېده .

[١٣٤٠](٢) وَلاَ تَصِحّ المُضَارَبَةُ اِلاّ بِالمَالَ الّذِي بَيّنَا اَنّ الشِّرکَةَ تَصِحّ بِهِ .

ثُمّ قَالَ بَلْي هٰهُنَا مَالٌ مِن مَالِ اللهِ اُرِيدُ اَن اَبعَثَ بِهِ اِلْي اَمِيرِالمُ◌ؤمِنِينَ فَاَسلَفَکُمَاهُ فَتَبتَاعَانِ بِهِ مَتَاعًا مِن مَتَاعِ العِرَاقِ ثُمّ تَبِيعَانِهِ بِالمَدِينَةِ فَتُؤَدِّيَانِ رَأسَ المَالِ اِلْي اَمِيرِالمُؤمِنِينَ فَيَکُونُ لَکُمَا اَلرِّبحُ فَقَالَ وَدَدنَا فَفَعَلَ (الف) (مؤطاامام مالک. کتاب القراض باب ماجآء في القراض ص٦١٧\دارقطني.کتاب البيوع ج٣ص٥٣ نمبر ٣٠١٣) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي مُضَارَبَت جائزدئ.او دا هم ځيني معلوم سوچي دیَوې خوا څخه مال او د بَلِي خوا څخه عَمَل وي .

[١٣٤٠](٢) او مُضَارَبَت نَه صحيح کيږي مګرپه هغه مال باندي کوم چي موږ په شِرکَت کي بيان کئ چي په هغه صحيح کيږي .

تشريح : په شِرکَت کي دا بيان سوئ دئ چي په دِرهَم.دِينَار او دچلېدونکوسِکّو په ذريعه شِرکَت صحيح کيږي.په سامان کي شِرکَت نَه صحيح کيږي.دغه رنګه مُضَارَبَت هم د دِرهَم.دِينَار او چلېدونکوسِکّو په ذريعه صحيح کيږي.دسامان په ذريعه مُضَارَبَت نَه صحيح کيږي .

پام لرنه : چي سامان ورکړي او دا ورته ووائي چي دا سامان خرڅ کَه چي کوم دِرهَم يا دِينَار راغلو په هغه کي به مُضَارَبَت کو نو دا مُضَارَبَت صحيح کيږي.ځکه چي اَوّل به د وَکَالَت په حَيث سامان خرڅوي بيا چي کوم قيمت راغلئ دهغه ځائ

حاشيه : (الف) د حضرت عُمَر دواړه زَامُونَان عبدالله او عبيدالله د عِرَاق په لښکرکي وُلاَړَه.نوچي کوم وخت بېرته اَبُومُوسٰي اَشعَرِي ته راغلو چي کله دئ د بَصرِې حَاکِم وُ نو دواړو ته مَرحَبَا وويل او سَهُولَت ئې ورکړئ.بيائې ورته وفرمائل چي که مَا وتاسو دواړو ته نَفعَ رسولائي سوې نو ضرور به مو در رسولې وائي.بيائې وفرمائل ! دلته د الله مال پروت دئ زَه غُوَاړَم چي دا و اَمِيرُالمُؤمِنِين ته وَاستَوَم.نو تاسو دواړو ته درکوم.تاسو دواړه په دې مال باندي دعِرَاق سامان رانيسئ بيا دغه سامان په مَدِينَه مُنَوّرَه کي خرڅ کئ او اَصل مال و اَمِيرُالمُؤمِنِين ته اداء کئ نو په دا ډَوَل به تاسو دواړو ته نَفعَ حاصله سی.دواړو وويل موږ دغه رنګه غُوَاړُو. نو دغه رنګه وکړل .

[١٣٤١](٣) وَ مِن شَرطِهَا اَنّ يَکُونَ الرِّبحُ بَينَهُمَا مَشَاعًا لاَ يَستَحِقّ اَحَدُهُمَا مِنهُ دَرَاهِمَ مُسَمّاةً .

څخه به مُضَارَبَت شروع کيږي نو ګوا که د دِرهَم يا دِينَار څخه مُضَارَبَت شروع سو .

وجه : په اَثَر کي راغلي دي عَن اِبرَاهِيمَ اَنّهُ کَرِهَ البَزّ مُضَارَبَةً يَقُولُ لاَ .اِلاّ الذّهَبُ وَالفِضّةُ.قَالَ سُفيَانُ وَنَحنُ نَقُولُ لَهُ اَجرُ مِثلِهِ اِذَا اَعطَاهُ العُرُوضَ مُضَارَبَةً (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب المضاربة بالعروض ج٨ص٢٥٠نمبر١٥٠٩٥) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي د سامان په ذريعه مُضَارَبَت نَه صحيح کيږي.البته د سامان

دخرڅولو وروسته به دهغه په قیمت کي مُضَارَبَت شروع کیږي ددې دلیل دا اَثَـر دئ عَن حَمّادٍ فِي رَجُلٍ دَفَعَ اِلْي رَجُلٍ مَالاً مُضَارَبَةً فَقَوّمَ المَتَاعَ اَلفَ دِرهَمٍ ثُمّ بَاعَهُ بِتِسعِ مِائَةٍ قَـالَ رَأسُ المَالِ تِسعُ مِائَةٍ (ب) (مصنف ابن ابي شیبة ۱۹۹ في الرجل یدفع الْـي الرجـل الشئ مضاربةً ج۴ص۴۱۳نمبر۲۱۵۷۱\مؤطا امام مالک.باب القراض فـي العـروض ص۶۲۱) په دې اَثَرکي سامان په نَه سَوَه خرڅ سوئ دئ نو نَه سَوَه دِرهَمَ د مُضَارَبَت رَأسُ المَال سـو او دهغه څخه مُضَارَبَت شروع سو .

[۱۳۴۱](۳) او د مُضَارَبَت دشرط څخه یَو دادئ چي ګټَه به د دواړو ترمینځ مُشـتَرَک وي.د دُوئي دواړو څخه به یَو د مُتَعَیّنُ دِرهَمُ مُستَحِق نَه وي .

تشریح : چي هرڅَه نَفعَ وي هغه به د شرط مُطابق د دواړو وي.داسي بـه نَـه وي چـي مثلاً ویَوَه ته د نَفعِ څخه پِنځُوس دِرهَمَ اَوّل ورکړي دا نـور چـي پاتـه سـو هغـه دواړه سره تقسیم کړي.دا رنګه شرط به نَه وي پکښې .

وجه : (۱) دا اِمکَان سته چي نَفعَ صرف پِنځُوس دِرهَم وي او هغه ویوه ته ملاؤ سي

[۱۳۴۲](۴) وَ لاَ بُدّ اَن یَکُونَ المَالُ مُسَلّمًا اِلْي المُضَارِبِ وَلاَ یَدٌ لِرَبِّ المَالِ فِیهِ .

او هغه بَل شریک ته هیڅ شئ نَه ورسیږي.نوځکه داسي شرط فَاسِد دئ (۲) څـو واره حدیث تېرسوئ دئ چي مُتَعَیّن دِرهَم مُستَثنْي کول جواز نَه لري. عَن رَافِعِ بِنِ خَدِیجٍ قَالَ حَدّثَنِي عَمّي اَنّهُم کَـانُوا یَکرُونَ الاَرضَ عَلْـي عَهدِالنّبِيّﷺ بِمَایُنبِتُ عَلْـي الاَرَبَـاعِ اَو بِشَـئٍ یَستَثنِیهِ صَاحِبُ الاَرضِ فَنَهْي النّبِيّﷺ عَن ذَالِکَ (الف) (بخاري شـریف.باب کـرآء الارض بالذهب والفضة ص۳۱۶نمبر۲۳۴۶) په دې حدیث کې د اِستِثنآء کولـو څخـه منـع کـړې ده.په اَثَر کي دئ عَن قَتَادَةَ فِي رَجُلٍ قَالَ لَهُ اَبِیعُکَ ثَمَرُحَائِطِي بِمِائَةِ دِینَـارٍ اِلاّ خَمسِـینَ فِرَقًـا فَکَرِهَـــهُ (ب) (مصـــــنف عبـــدالرزاق.باب یبیـــع الثمرویشـــترط منهـــا کـــیلاً ج۸ص۲۶۱نمبر۱۵۱۴۸) په دې اَثَر کې هم یو مُتَعَیّن شَئ مُستَثنْي کـول مکروه ګڼلـ ئ دئ.نوځکه په نَفعَ کي دمُتَعَیّن دَرَاهِمُ د اِستِثنَآء کولو څخه مُضَارَبَت نَه صحیح کیږي .

[۱۳۴۲](۴) او ضروري دئ چي مَال و مُضَارِب تـه حَوَالَـه سـوئ وي او د مـال والا پر هغه باندي قبضه نَه وي .

تشریح : د مُضَارَبَت دشرطوڅخه یو دادئ چي مال په مُکَمّله توګه سره و مُضَارِب تـه سُپُرد کړي چي دئ په هغه باندي تِجَارَت وکي او د مال د مَالِک پر هغه بانـدي قبضـه نَه وي .

حاشیه : (الف) حضرت ابراهیم نخعي کېږه په مُضَـارَبَت ورکـول مکـروه ګڼـل.ده فرمائـل چـي داسـي مَـه کـوئ ماسوائ د سُرُو زَرُو او سُپِینُوزَرُو.حضرت سُفیَان وفرمائل مُوږ وَایُو چي ومُضَارِب ته به اُجرَتِ مِثل ملاؤیږي که سامان په مُضَارَبَت باندي ورکړئ (ب) حضرت حَمّاد فرمائي چي یَوَه سړ ي په مُضَارَبَت باندي مَال ورکړئ او دسَامَان قیمت ئې زَر روپئ ولګاوئ.بیائې هغه په نَه سَوَه خرڅ کئ نو دمُضَارَبَت رَأسُ المَال نَه سَوَه دئ .

وجه:(١)که دمَال دمَالِک قبضه وي نو مُضَارِب په خپله مرضي سره تجارت نَه سي کولائی اوکَمَا حَقّهُ نَفعَ نَه سي حاصلولائي.نوځکه ومُضَارِب ته په مُکَمّله توګه

حاشيه : (الف) رَافِع بِن خَدِيج فرمائي چي زوما اَګا ماته بيان کړئ دئ چي خلګودحضور په زمانه کي مځکه په کِرَايَه ورکوله چي رَاشَنَه کېدله پر لُوَرځائ يا يَوخَاص شَئ دمځکي والا ځيني مُستَثنْي کاوئ.نوحضور دهغه څخه منع وکړه (ب) دحضرت قَتَادَه څخه نَقل سوئ دئ چي يَوَه سړي وويل چي زَه پر تا باندي په سَل دِينَارَ د باغ مېوه خرڅوم مګر پِنځُوس فِرَقَ نو حضرت قَتَادَه هغه نَاخُوښَه کړئ .

[١٣٤٣](٥) فَاِذَا صَحّتِ المُضَارَبَةُ مُطلَقَةً جَازَ لِلمُضَارِبِ اَن يَشتَرِيَ وَيَبِيعَ وَيُسَافِرَ وَيُبضِعَ وَيُوکَلَ .

مال سُپُرد کول ضروري دئ.او دا به هم وي چي د صَاحِبِ مَال به پر هغه باندي قبضه نَه وي (٢) د ضروري پام لرني په حديث کي حضور وحضرت عُروَه ته په مکمله توګه سره دِينَار حواله کړئ‌ؤ چي دهغه په وجه دَه دُوې بُوزې په واخستې.او يَوَه بُوزَه ئې خرڅه کړه يَو دِينَار ګټَه ئې راوړه.ددې څخه معلوميږي چي مال په مُکَمّله توګه سُپُرد کول ضروري دئ .

[١٣٤٣](٥) چي مُضَارَبَت مُطلَقًا صحيح سي نو دمُضَارِب لپاره جائزدئ چي رائېنيسي او خرڅ ئې کړي او سَفَر وکي اوپه بَضَاعَت ئې ورکي اووَکِيل جوړکړي .

تشريح : چي مُضَارَبَت صحيح سي او هغه هم مُطلَق وي.په هغه کي هيڅ ډَوَل قَيد نَه وي نو دئ هغه ټوله کارونه کولائي سي کوم چي دتِجَارَت لپاره مُفِيد او ګټَه وَر وي.مثلاً دهغه په رَأسُ المَال باندي شَئ اخستلائي سي بياهغه خرڅولائي سي. چي دغه مال ورسره وي سَفَرکولائي سي.ځکه چي دضَربٌ معنْي ده سَفَرکول. او دغه مال په بَضَاعَت ورکولائي سي.د بَضَاعَت معنْي ده و يَوچَا ته د کار لپاره مَال ورکول چي پر دا باندي به څَه مزدوري درکوم .

فائده : امام ابويوسف فرمائي چي دمُضَارَبَت مال ورسره وي نو دارنګه سَفَر نَه سي کولائي چي په هغه سَفَرکي د مَال دهَلاَکَت خطره وي .

وجه : دده دليل دا اَثَر دئ اَنّ حَکِيمَ بِنِ حِزَامٍ صَاحِبَ رَسُولِ اللهِﷺ کَانَ يَشتَرِطُ عَلْي الرّجُلِ اِذَا اَعطَاهُ مَالاً مُضَارَبَةً يَضرِبُ لَهُ بِهِ اَن لاَتَجعَل مَالِي فِي کَبَدٍ رَطبَةٍ وَلاَتَحمِلُهُ فِي بَحرٍوَلاَتَنزِل بِهِ بَطنَ مَسِيلٍ فَاِن فَعَلتَ شَيئًامِن ذَالِکَ فَقَدضَمَنتَ مَالِي(الف)(دارقطني

حاشيه : (الف) دحضور صحابي حَکِيم بِنِ حِزَام به پر چا شرط لګاوئ چي کله به مال په مُضَارَبَت ورکاوئ چي کله دا درسره وي په سَفَرکي نو زُومَا مَال به د يَو ژُوندِي شِي په رانيولو کي نَه لګوې او چي دا درسره وي نَه به دسَمَندَر سَفَرکوې.اوچي دا درسره وي په يَوَه شلَه کي به قِيَام نَه کوې.که چيري تا دارنګه وکړه نو زُومَا د مال به ضَامِن ئې .

[١٣٤٤](٦) وَلَيسَ لَهُ اَن اَن يَدفَعَ المَالَ مُضَارَبَةً اِلاّ اَن يَأذَنَ لَهُ رَبّ المَالِ فِي ذَالِکَ اَو يَقُولَ لَهُ اِعمَل عَلْي رَأيِکَ .

كتاب البيوع ج۳ص۵۳نمبر۳۰۱۴) او په سنن بيهقي كي په دغه حديث كي دا جمله زِيَاته ده فَرَفَعَ شَرطَهُ اِلٰي رَسُولِ اللهِﷺ فَاَجَازَهُ (ب) (سنن للبيهقي.كتاب القراض ج۶ص۱۸۴نمبر۱۱۶۱۱) ددې حديث څخه معلوم سو چي كه دمال دهلاكت خطره وي نو بيا داسي شرط لګول جائزدئ .

[۱۳۴۴](۶) او دمُضَارِب لپاره دا جواز نَه لري چي مال په مُضَارَبَت وركړي مګر دا چي د مال والا دهغه اِجَازَت وركړي.يا دا ورته ووائي چي دخپلي رأيي مُطَابِق كار كوه .

تشريح : دا مسئله پر دې قاعده ده چي كومه عُهدَه ئې وده ته سُپُردكړې ده هغه رنګه عُهدَه په خپل اِختِيَار وبَل چاته نَه سي وركولائي.مثلاً دمال والا دئ مُضَارِب جوړكړئ نو دئ په خپل اِختِيَار سره بَل څوكه مُضَارِب نَه سي جوړولائي او دغه مال په مُضَارَبَت باندي نَه سي وركولائي. لېكن ! كه چيري ده ته د مُضَارِب جوړولو اِختِيَار وركړئ وي يائې وده ته ويلي وي چي په خپله مَرضِي سره كار كوه نو اُوس دئ دغه مَال وبل ته په مُضَارَبَت باندي وركولائي سي .

وجه : (۱) د مَال مَالِک د مُضَارَبَت په باب كي پر مُضَارِب باندي اِعتِمَاد كړئ دئ.پر بَل چاباندې نَه دئ كړئ نوځكه ببِله اِختِيَار وركولو بَل چاته په مُضَارَبَت باندي مال نَه سي وركولائي (۲) په مُضَارَبَت مال وركول دتِجَارَت دحقوق څخه نَه دئ.نوځكه ددې اِجَازَت نسته .

[۱۳۴۵](۷) وَاِن خَصّ لَهُ رَبّ المَالِ اَلتّصَرّفَ فِي بَلَدٍ بِعَينِهِ اَو فِي سَلعَةٍ بِعَينِهَا لَم يَجزِ لَهُ اَن يَتَجَاوَزَ عَن ذَالِکَ [۱۳۴۶](۸) وَكَذَالِکَ اِن وَقّتَ المُضَارَبَةَ بِعَينِهَا جَازَ وَبَطَلَ العَقدُ بِمُضِيّهَا .

[۱۳۴۵](۷) كه د مَال والا تَصَرّف كول په يَوَه معلوم ښَار پوري خاص كړئ يائې په مُتَعَيّن سامان پوري خاص كړئ نودمُضَارِب لپاره دا جواز نَه لري چي دهغه څخه تَجَاوُز وكړي .

تشريح : د مال والا شرط ولګاوئ چي صرف په فُلاَنِي ښار كي به تِجَارَت كوې يا صرف د فُلاَنِي شِي تجارت به كوې.مثلاً دكيړې تجارت به كوې نو دا رنګه شرط لګول جائزدئ.او دمُضَارِب لپاره جواز نَسته چي د داسي شرط مخالفت وكړي .

وجه : (۱) دا شرطونه ددې لپاره لګول كيږي چي مال هلاک نَه سي يا نَفعَ زياته سي.نوځكه داسي شرط لګوا جائز دئ.او شرط خو ولګېدئ نوځكه پر مُضَارِب باندي ددې

حاشيه : (الف) د حضورﷺ په مخكې دا شرطونه كښېښول نو حضورﷺ دهغه اِجَازَت وركړئ .

شرط مَرَاعَت ساتل ضروري دئ (٢) حديث مخته تېرسوئ دئ وَقَالَ النّبِيّﷺ اَلمُسلِمُونَ عِندَ شُرُوطِهِم (الف) (بخاري شريف.نمبر٢٢٧۴) (٣) لوړ د دارقطني اوسنن بيهقي حديث تېرسوئ دئ چي حَکِيم بِنِ حِزَام اوحضرت عباس به ومُضَارِب ته مال ورکاوئ نو دا شرط به لګاوئ چي زُومَا په مال به ژُوَندَئ شَئ نَه رانيسې.د دَريَاب سَفَر به نَه په کوې.چي دا درسره وي نو په يَوَه شَلَه کي به قِيَام نَه کوې.او تا دارنګه وکړل او مال هلاک سو نو تَه به ددې ذِمّه داره ئې(دارقطني. نمبر٣٠١۴\سنن للبيهقي.کتاب القراض ج۶ص١١١) ددې څخه معلوم سوچي دارنګه شرط لګول جائز دئ .

اُصُول : په مُضَارَبَت کي د ښَار تعيين او د سامان تعيين جائز دئ .

لُغَت : سَلعَةٌ : سامان .

[١٣۴۶](٨) دغه رنګه که مَالِک دمُضَارَبَت مُدَه متعينه کړه نو دا جائزدئ او دهغه وخت په تېرېدو سره به عَقد بَاطِل سي .

حاشيه : (الف) حضورﷺ وفرمائل مسلمان دخپلو شرطو پاسبان وي .

[١٣۴٧](٩) وَلَيسَ لِلمُضَارِبِ اَن يَشتَرِيَ اَبَ رَبِّ المَالِ وَلاَ اِبنَهُ وَلاَمَن يَعتِقُ عَلَيهِ فَاِن اِشتَرْهُم كَانَ مُشتَرِيًالِنَفسِهِ دُونَ المُضَارَبَةِ.

تشريح : مثلاً مَالِک ورته ويل چي تر درو مياشتو پورې په مُضَارَبَت اخستلائي سې دهغه وروسته مُضَارَبَت ختم.نو دارنګه دمُضَارَبَت لپاره وخت مُتَعَيّن کول جائزدئ.او چي مُتَعَيّن وخت تير سي نو مُضَارَبَت به په خپله ختم سي .

وجه : (١) د شرط د تعيين لپاره مخته د دارقطني اوبيهقي حديث تيرسو (٢) د مَالِک مال دئ لِهٰذَا دئ دخپل سهولت اوآسانتيالپاره وخت مُتَعَيّن کولائي سي .

[١٣۴٧](٩) او دمُضَارِب لپاره دا جواز نَه لري چي دئ د صَاحِبِ مَال پُلاَر رانيسي او نَه دهغه زُوئ او نَه داسي څوک چي پر ده باندي آزاد سي. نوکه چيري دغه خلګ رانيول نو دا به دخپل ځان لپاره رانيول وي نَه دمُضَارَبَت لپاره .

تشريح : دا مسئله پر دې اُصُول مُتَفَرّع ده چي مُضَارِب دي داسي کار نَه کوي چي دهغه په وجه و صَاحِبِ مال ته نُقصَان ورسيږي.مثلاً که د صَاحِبِ مال پُلاَر رانيسي نوهغه پرصَاحِبِ مَال باندي آزاديږي نوددې څخه و رَبّ المَال ته دفائدې پرځائ نُقصَان رسيږي.دغه رنګه چي دده زُوئي رانيسي.يا داسي څوک رانيسي چي پر صَاحِبِ مَال باندي آزاديږي مثلاً دهغه يَو نِژدې قريب رانيسي نو په داسي صورت کي دا به د مُضَارَبَت لپاره نَه وي بلکه دا به په خپله دمُضَارِب لپاره وي .

وجه : (١) يَو خو مخته د دارقُطنِي او سُنَنِ بَيهَقِي حديث تيرسو چي دفائدې شرط لګولائي سي (٢) په اَثَرکي راغلي دي عَن اِبنِ سِيرِينَ قَالَ اِذَا خَالَفَ المُضَارِبُ ضَمِنَ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب ضمان المقارض اذا تعدْي ولمن الربح؟

ج۸ص۲۵۲نمبر۱۵۱۰۷) ددې څخه معلوم سوچي کـه مُضَـارِب مخالفت وکـئ نـو ضَامِن دئ .

حاشيه : (الف) حضرت محمدابن سيرين وفرمائل چي که مُضَارِب دشرط مُخَالَفَت وکئ نو ضَامِن به وي .

[۱۳۴۸](۱۰) وَاِن كَانَ فِي المَالِ رِبحٌ فَلَيسَ لَهُ اَن يَشـتَرِيَ مَـن يَعتِـقُ عَلَيهِ وَاِن اِشتَرْهُم ضَمِنَ مَالَ المُضَارَبَةِ وَاِن لَـم يَكُـن فِـي المَـالِ رِبـحٌ جَازَ لَهُ اَن يَشتَرِيَهُم .

[۱۳۴۸](۱۰) که په مال کي نَفعَ وَه نو دمضارب لپاره دا جواز نَه لري چي داسي ځوک رانيسي چي پرمُضَارِب باندي آزادسي او که هغه رانيوئ نو به دمُضَارَبَت دمال ضَامِن وي.او که په مَال کي نَفعَ نَه وه نو ده ته جواز سته چي دغه رانيسي .
تشريح : که په مَال کي ګټَه وي نو دمُضَارِب لپاره دا جواز نَه لري چي مُضَارِب خپل يَو داسي عزيز او قريب رانيسي چي پر ده باندي آزاديږي.مثلاً خپل پُلاَر يا زُوئ يا دغه رنګه بَل ځوک.البته که مال نَفعَ او ګټَه نَه وي کړې نو بيا دارنګه عزيز او قريب رانيولائي سي .
وجه : که په مال کي نَفعَ وي نو به څَه نَه څَه نَفعَ دمُضَارِب هم وي نوځکه چي څومره حِصّه دمُضَارِب وي هغه به آزاد سي.اُوس د رَبّ المَال نُقصَان راغلئ چي دئ به هم خپله حِصّه آزادوي يا به په دغه غُلاَم سَعيِ کوي.او دا نُقصَان په دې وجه راغلئ چي مُضَارِب خپل رِشتَه دار او قريب رانيوئ لِهٰذَا مُضَارِب خپل آزادېدونکئ عزيز او قريب نَه سي رانيولائي.البته که په مال کي نَفعَ نَه وه نوبيا خو په هغه مال کي دمُضَارِب هيڅ حِصّه نسته نوځکه دمُضَارِب رِشتَه دار نَه سي آزادېدلائي.نوځکه په داسي صورت کي مُضَارِب خپل آزادېدونکئ رِشتَه دَار رانيولائي سي .
اُصُول : دا مسئله هم پر دغه مختـه تېرسوي اُصُول باندي مُتَفَرّع ده چي مُضَارِب داسي يَوکار هم نَه سي کولائي چي په هغه کي د رَبّ المَال نُقصَان وي .

[۱۳۴۹](۱۱) فَاِن زَادَت قِيمَتُهُم عَتَقَ نَصِيبَهُ مِنهُم وَلَـم يَضـمَن لِـرَبِّ المَالِ شَيئًا وَيَسعْي المُعتَقُ لِرَبِّ المَالِ فِي قِيمَةِ نَ◌َصِيبِهِ مِنهُ .

[۱۳۴۹](۱۱) که چيري د غُلاَم قيمت زِيَات سونو دمُضَارِب حِصّه به د غُلاَم څخه آزاده سي او مُضَارِب به د رَبّ المَال لپاره هيڅ ډَوَل ضَامِن نَه وي.او آزادېدونکئ غُلاَم به د رَبّ المَال لپاره دهغه دحِصّې په قيمت کي سَعِي کوي .

تشريح : په مَال کي نَفعَ نَه وه په داسي صورت کي ده خپل آزادېدونکئ رِشتَه دَار رانيوئ چي هغه دده لپاره جائز کار ؤ.وروسته دهغه غُلاَم قيمت زيات سو.مثلاً په زَر روپئ ئې غُلاَم رانيولئ ؤ اُوس دهغه غُلاَم قيمت دُوُلَس سوه روپئ سو نو د دُوُ سَوُ دِرهَمُ څخه سَل دِرهَمَ نَفعَ درَبّ المَال ده او سَل دِرهَمَ نَفعَ د مُضَارِب ده نو د مُضَارِب سَل دِرهَم نَفعَ چي کومه ده دهغه څخه به دغه غُلاَم آزادسي.لېکن خو په آزادېدو کي دمُضَارِب هيڅ ډَوَل حَرَکَت نسته په خپله آزاد سوئ دئ نوځکه مُضَارِب به د رَبّ المَال لپاره هيڅ ډَوَل ضَامِن نَه وي.اُوس د غُلاَم د دُوُلَس سوه څخه صرف دسَل روپئ حِصّه آزادسوې ده دا نوره ديَوُلَس سَوَه روپئ حِصّه درَبّ المَال ده.نوغُلاَم به يَوُلَس سَوَه روپئ سَعيِ کوي اورَبّ المَال ته به ورکوي کوم چي د رَبّ المَال حِصّه ده اوبيا به غُلاَم په مکمله توګه سره آزادېږي .

اُصُول : دا مسئله پر دې اُصُول مُتَفَرّع ده چي په حَادِثَاتِي توګه د مُضَارِب دحرکت بغيره رَبّ المَال ته نُقصَان ورسيږي نو مُضَارِب دهغه ذِمّه دَارَه نَه دئ.او دُوَم اُصُول دادئ چي مُضَارِب نَه دئ آزاد کړئ بلکه په خپله آزاد سوئ دئ نوځکه دمُضَارِب څخه به دغُلاَم بَقِيّه قيمت نَه وصوليږي.بلکه غُلاَم به سَعِي کوي د رَبّ المَال حِصّه به اداَء کوي .

لُغَت : يَسعْي : سَعِي به کوي.غُلاَم به مَال ګَتِي او خپل مَولْي ته به اداَء کوي چي په مُکَمّله توګه سره آزاد سي .

[١٣٥٠](١٢) وَ اِذَا دَفعَ المُضَارِبُ اَلمَالَ مُضَارَبَةً عَلْي غَيرِهِ وَلَم يَأذَن لَهُ رَبّ المَالِ فِي ذَالِکَ لَم يَضمَن بِالدّفعِ وَلاَ بِتَصَرّفِ المُضَارِبِ الثّانِي حَتْي يَربِحَ .

[١٣٥٠](١٢) که مُضَارِب و بَل ته په مُضَارَبَت باندي مَال ورکړئ حالانکه رَبّ المَال و ده ته په مُضَارَبَت باندي دمال ورکول اِجَازَت نَه ؤ ورکړئ نو صرف به ورکول باندې ضَامِن نَه ګرزي .

تشريح : رَبّ المَال ومُضَارِب ته په مُضَارَبَت باندي دمال ورکولواِجَازَت نَه ؤ ورکړئ ددې باوجود ده وَبَل ته مال په مُضَارَبَت باندي ورکړئ نومُضَارِب به د رَبّ المَال د مَال ضَامِن وي.لېکن څَه وخت به ضَامِن وي؟ په دې باب کي اِختِلاَف دئ،امام ابوحنيفه فرمائي چي صرف مال حواله کړي نو په دې باندي ضَامِن نَه جوړيږي.دغه رنګه مُضَارِبِ ثَانِي صرف د کار په شروع کولو سره ضَامِن نَه جوړيږي بلکه چي څَه وخت مُضَارِبِ ثَانِي کار وکړي په هغه مال څَه نَفعَ وَګَتِي نو بيا به مُضَارِبِ اَوّل د رَبّ المَال لپاره ضَامِن وي .

وجه : دئ فرمائي چي صرف مال حواله کړي نوپه دې سره مُضَارَبَت نَه شروع کيږي بلکه دا ويل کېدلائي سي چي مَال دامَانَت په حَيث دمُضَارِبِ ثَانِي سره پروت دئ.اوچي څَه وخت کارشروع کړي نو دا وَيَل کېدلائي سي چي دبَضَاعَت په توګه کارکوي يعني په

مزدوري باندي کار کوي.لېکن چي کوم وخت ګټَه او نَفعَ راغله نو اُوس په نَفعَ کي دشِرکَت په وجه مُضَارِبِ ثَانِي په حقيقت کي مُضَارِب جوړ سو.چي ددې نو د رَبّ المَال لخوا څخه اِجَازَت نَه وُ ورکړل سوئ.نوځکه اُوس به مُضَارِبِ اَوّل د رَبّ المَال ضَامِن وي .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چي په مُضَارَبَت کي د ضَمَان معامله دحقيقي مُضَارَبَت دشروع کېدو وروسته راځي .

فائده : صاحبين فرمائي چي څَه وخت مُضَارِبِ ثَانِي کار شروع کړئ نو مُضَارَبَت شروع سو.نوځکه د کار دشروع کېدو سره سَم دَستِي مُضَارِبِ اَوّل درَبّ المَال ضَامِن جوړيږي.که څَه هم تر اُوس نَفعَ حاصله کړې وي يائې نَه وي حاصله کړې .

[١٣٥١](١٣) فَاِذَا رَبِحَ ضَمِنَ المُضَارِبُ الاَوّلُ اَلمَالَ لِرَبِّ المَالِ [١٣٥٢](١۴) وَ اِذَا دَفَعَ اِلَيهِ مُضَارَبَةً بِالنِّصفِ فَاَذِنَ لَهُ اَن يَدفَعَهَا مُضَارَبَةً فَدَفَعَهَا بِالثُّلُثِ جَازَ [١٣٥٣](١۵) فَاِن کَانَ رَبّ المَالِ قَالَ لَهُ عَلْي اَنّ مَارَزَقَ اللهُ تَعَالْي بَينَنَا نِصفَينِ فَلِرَبِّ المَالِ نِصفُ الرِّبحِ وَلِلمُضَارِبِ الثّانِي ثُلُثُ الرِّبحِ وَلِلاَوّلِ اَلسّدُسُ .

[١٣٥١](١٣) بياچي نَفعَ وسي نو مُضَارِبِ اَوّل به د مَالِک لپاره دمال ضَامِن وي .

تشريح : مَال ئې سپُرد کړئ بيا مُضَارِبِ ثَانِي کار شروع کړئ نو بيا چي نَفعَ حاصله سي هغه وخت به مُضَارِبِ اَوّل د رَبّ المَال د مَال ضَامِن ګرزي .

وجه : ځکه چي مُضَارِبِ ثَانِي اُوس په حقيقت کي مُضَارِب جوړ سو او په نَفعَ کي هم شريک سو .

[١٣٥٢](١۴) که مَالِک و مُضَارِب ته په نِيمَئ ګټَه په مُضَارَبَت ورکړئ بيائې وهغه ته اِجَازَت ورکړئ چي وَبَل چاته په مُضَارَبَت ورکولائي سې.نو ده په يَوَه دَرَيَمَه ګټَه ورکړئ دا جائز دئ .

تشريح : مَالِک ومُضَارِب ته مَال ورکړئ او دائې هم ورته وويل چي ګټَه زُومَا او ستا ترمينځ نِيمَئ نِيمَئ ده.البته تَه دغه مَال ونورو ته هم په مُضَارَبَت باندي ورکولائي سې.اُوس دې مُضَارِب وَبَل چَا ته په يَوَه دَرَيَمَ◌َه ګټَه دغه مال ورکړئ نو دا هم جائز دئ. مخته بيا مَالِک دنَفعِ دتقسيم حساب په کوم طرز باندي مُقَرّر کوي ددې درې صورتونه دي چي مخته راروان دي .

[١٣٥٣](١۵) که چيري مَالِک ومُضَارِب ته وويل چي هَرڅَه چي الله ئې راکړي هغه به زموږ ترمينځ نِيمَئ نِيمَئ وي.نو دمَالِک به نِيمَئ ګټَه وي او دمُضَارِبِ ثَانِي به يَوَه دَرَيَمَه وي او دمُضَارِبِ اَوّل لپاره به شپَږَمَه حِصّه وي .

[١٣٥۴](١۶) وَ اِن كَـانَ قَـالَ عَلْـي اَنّ مَارَزَقَـکَ اللهُ بَينَنَـا نِصـفَينِ فَلِلمُضَارِبِ الثّانِي اَلثّلُـثُ وَمَـا بَقِـيَ بَـينَ رَبّ المَـالِ وَالمُضَـارِبِ الاَوّلِ نِصفَانِ .

تشريح : ځکه چي مَالِک ورته وويل چي هرڅو نَفعَ وي په هغه کي به نِيمَئ ژُومَا وي نو دا نوره خو نِيمَئ نَفعَ پاته سوه.ددې ځخه يَوَه دَرَيَمَه ومُضَارِبِ ثَانِي تـه ورکـړه.مثلاً شُپَږ دِرهَمَ نَفعَ راغله.نِيمَئ يعني درې دِرهَمَ خـو دمَالِـک سُـو او يَـوَه دَرَيَمَـه يعنـي دُوَه دِرهَـمَ دمُضَـارِبِ ثَـانِي سـوه.دا نـور يَـو دِرهَـم يعنـي شُـپَږمَه حِصـّه پاتـه سـوه دا بـه ومُضَارِبِ اَوّل ته ملاؤيږي.د موجوده زمـانې کلکيـولېټر حسـاب بـه پـه دارنګـه وي د مَالِک د دسَلُو ځخه ٪۵۰ د مُضَـارِبِ ثَـانِي د 33.33٪ دمُضَـارِبِ اَوّل حِصـّه بـه 66.16٪ وي .

[١٣٥۴](١۶) او که مَالِک وويل هَرڅَه چي الله درکړي دهغـه ځخـه بـه ژُومَـا او سـتا ترمينځ نِيمَئ نِيمَئ وي نو دمُضَارِبِ ثَانِي لپاره بـه يَـوَه دَرَيَمَـه او چـي کومـه ګټَـه پاتـه سوه هغه به دمَالِک او مُضَارِبِ اَوّل ترمينځ نِيمَئ نِيمَئ وي .

تشريح : په مخکي قَول او دې قَول کي فـرق دئ.نوځکـه خـو دنَفـعِ پـه تقسيمېدو کـي فـرق راغلئ. مخکي مَالِک ومُضَارِب ته ويلي وُ چي هرڅونه نَفعَ وي دهغه ټولي ځخه نِيمَئ مَاتَه په کار ده.په دا نوره پاته بيا تَه پُوهيږې.او په دې مسئله کي دادئ چي مَالِک ومُضَارِبِ اَوّل ته وويل چي هَرڅَه نَفعَ چي تاته حاصله سـي هغـه سـتا دنَفـعِ ځخـه نِيمَـئ ماتـه رَاکَه.پـه دې صورت کي يَوَه دَرَيَمَه مُضَارِبِ ثَانِي ته ولاړه.دُوې حِصّې پاته سوې.دغه دُوې حِصّـې بـه نِيمَئ نِيمَئ يعني يَوَه يَوَه حِصّه به مَالِک او مُضَارِبِ اَوّل تقسيموي.د کَلکُيُولِېټَرحساب به پـه دې ډَوَل وي.مُضَارِبِ ثَانِي ته به 33.33٪باقي نَفعَ 66.66٪ پاته سوه.ددې ځخه به نِيمَئ ومَالِک ته ملاؤيږي او33.33٪ مُضَارِبِ اَوّل ته به 33.33٪ ګواکه دُرُو سره وُ ته به يَوَه يَوَه حِصّه رسيږي .

[١٣٥٥](١٧) فَاِن قَالَ عَلْي اَنّ مَارَزَقَ اللهُ فَلِيَ نِصفُهُ فَدَفَعَ المَـالَ اِلْـي آخَرَ مُضَارَبَةً بِالنّصفِ فَلِلثّانِي نِصفُ الرِّبحِ وَلِرَبّ المَـالِ اَلنِّصـفُ وَلاَ شَيئَ لِلمُضَارِبِ الاَوّلِ [١٣٥۶](١٨) فَاِن شَرَطَ لِلمُضَارِبِ الثّانِي ثُلُثَي الـرِّبحِ فَلِـرَبِّ المَـالِ نِصـفُ الـرِّبحِ وَلِلمُضَـارِبِ الثّـانِي نِصـفُ الـرِّبحِ وَيَضمَنُ المُضَارِبُ الاَوّلُ لِلمُضَـارِبِ الثّـانِي مِقدَارَ سُدُسِ الـرِّبحِ مِـن مَالِهِ .

[۱۳۵۵](۱۷) او که مَالِک ویلي وي چي هَرڅَه چي الله راکړي دهغه څخه به نِیمَئ زُومَا وي بیائې هم وَبَل ته په مُضَارَبَت باندي مَال په نِیمَئ ګټَه ورکړئ وي نو دمُضَارِبِ ثَانِي لپاره به نِیمَئ ګټَه وي او دمُضَارِبِ اَوّل لپاره به هیڅ شَئ نَه وي .

تشریح : مَالِک ورته ویلي وُ چي هَرڅَه نَفعَ وي دټولي څخه به نِیمَئ زُومَا وي.ددې باوجود مُضَارِب وَبَل چَاته دنِیمَئ ګټِي په شرط دغه مَال په مُضَارَبَت ورکړئ نو په دې صورت کي به نِیمَئ ګټَه ومَالِک ته ملاوېږي ٪۵۰ او نِیمَئ نَفعَ به ومُضَارِبِ ثَانِي ته ملاوېږي ٪۵۰ نو اُوس هیڅ شَئ نَه سوپاته نوځکه ومُضَارِبِ اَوّل ته به هیڅ شَئ نَه ملاوېږي .

[۱۳۵۶](۱۸) او که شرط ولګاوئ دمُضَارِبِ ثَانِي لپاره دُوې حِصّې نَفعَ نو د مَالِک لپاره به نِیمَئ نَفعَ وي او دمُضَارِبِ ثَانِي لپاره به نِیمَئ نَفعَ وي او مُضَارِبِ اَوّل به دمُضَارِبِ ثَانِي لپاره دنَفعِ دشُپَږَمِي حِصّې ضَامِن وي دخپل مال څخه .

تشریح : مَالِک ویلي وُ چي زَه دټولي نَفعِ نِیمَئ حِصّه اَخلَم.اومُضَارِبِ اَوّل ومُضَارِبِ ثَانِي ته دټولي نَفعِ په دُوې حِصّې مُضَارَبَت ورکړئ نو دنِیمَئ نَفعِ څخه هم یَوَه شُپَږَمَه حِصّه زیاته نَفعَ ورکړه نو ددې شُپَږَمِي حِصّې به مُضَارِبِ اَوّل ذِمّه داره وي .

[۱۳۵۷](۱۹) وَ اِذَا مَاتَ رَبّ المَالِ اَوِ المُضَارِبُ بَطَلَتِ المُضَارَبَةُ
[۱۳۵۸](۲۰) وَ اِذَا اِرتَدّ رَبّ المَالِ عَنِ الاِسلاَمِ وَلَحِقَ بِدَارِ الحَربِ بَطَلَتِ المُضَارَبَةُ .

وجه : ځکه چي هغه خو د دُوُ حِصّونَفعِ ورکولو وَعدَه کړې وه.دکلکیولېټرحساب به په دا رنګه وي.دمالک به نِیمَئ وي ٪۵۰ دمُضَارِبِ ثَانِي د۶۶.۶۶٪ دوې حِصّې او مُضَارِبِ اَوّل به دخپله مال څخه اداٴ کوي۶۶ .۱۶ ٪ یَوَه شُپَږَمَه حِصّه .

اُصُول : (۱) دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چي کوم کوم شرطونه په خپل مینځ کي مُقَرّرسي نَفعَ به دهغه مُطَابِق تقسیمېږي (۲) اَلمُسلِمُونَ عِندَشُرُوطِهِم (بخاري شریف.نمبر۲۲۷۴)

[۱۳۵۷](۱۹) که مَالِک یا مُضَارِب وُفَات سو نومُضَارَبَت به بَاطِل سي .

وجه : (۱) په مُضَارَبَت کي مُضَارِب دمَالِک وَکِیل وي او دانتِقَال په وجه وَکَالَت باطلېږي نوځکه د دواړو څخه دهَریَوَه په مَرګ سره مُضَارَبَت باطلېږي (۲) په حدیث کي دئ عَن اَبِي هُرَیرَةَ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺ قَالَ اِذَا مَاتَ الاِنسَانُ اِنقَطَعَ عَنهُ عَمَلُهُ اِلاّ مِن ثَلاَثَةِ اَشیَآءٍ (ابوداؤدشریف.باب ماجآء في الصدقة عن المیّت ج۲ص۴۲ نمبر ۲۸۸۰) ددې حدیث څخه معلوم سوچي د اِنتِقَال په وجه مُضَارَبَت باطلېږي .

[۱۳۵۸](۲۰) کـه مَالِـک د اِسـلاَم څخـه مُرتَـد سـي او دَارُالحَـرب تـه وُلاَړ سـي نـو مُضَارَبَت باطليږي .

تشريح : د اِسلاَم څخه د مُرتَد والي او دَارُالحَرب ته د تُلُو په وجه دا اندازه وسوه چـي دئ هيڅ کله بيا دُوبَارَه نَه راځي نو ګواکه دئ د مَړکيـږدو پـه درجـه کـي سـو. نـو لـدې وجه په دې باندي مُضَارَبَت باطل ګرزي .

وجه : حديث مخته تيرسو اِذَا مَاتَ الاِنسَانُ اِنقَطَعَ عَنهُ عَمَلُهُ .

[۱۳۵۹](۲۱) وَ اِن عَزَلَ رَبّ المَالِ اَلمُضَارِبَ وَلَم يَعلَـم بِعَزلِـهِ حَتْـي اِشتَرْي اَو بَاعَ فَتَصَرّفُهُ جَائِزٌ [۱۳۶۰](۲۲) وَ اِن عَلِمَ بِعَزلِـهِ وَالمَـالُ عُرُوضٌ فِي يَدِهِ فَلَهُ اَن يّبِيعَهَا وَلاَ يَمنَعُهُ العَزلُ مِن ذَالِـکَ ثُـمّ لاَيَجُـوزُ اَن يَشتَرِيَ بِثَمَنِهَا شَيئًا آخَرَ .

[۱۳۵۹](۲۱) که مَالِک مُضَارِب مَعزُول کړئ او ده ته دخپلي معزولي عِلم نَـه وُ تـر دې چي ده يَوشَئ رانيوئ يائې خرڅ کړئ نو دده تَصَرّف جائز دئ .

تشريح : دامسئله پردې قاعده مُتَفَرّع ده چي مَالِـک ئـې پـه خپـل اِختِيَـار سره مَعزُول کړي نو دئ هغه وخت معزوليږي چي وده تـه دخپلـي معزولـئ عِلـم وُسِـي.ددې څخـه مخکـي مخکـي بـه دئ پرخپـل مُضَـارَبَت بانـدي برقـراره پاتـه وي نوځکـه دمَعزُولَـئ وروسته دخَبرېدو څخه مخکي مخکي چي دئ هَرڅَه تصرف وکي.چي رائېنيسي يـائې خرڅ کړي نو دا جائز دي .

اُصُول : په اِختِيَارِي معزولئ کي وَکِيل د خبرېدو څخه مخکي نَه معزوليږي .

[۱۳۶۰](۲۲) او که د معزولېدو اِطّلاَع ورته وسوه او مَال دده پـه لاَس کـي سَـامَان وُ نو دده لپاره دا جواز سته چي دغه خرڅ کړي او مَعزُولېدَل مُضَـارِب د خرڅولوڅخـه نَه منع کوي.بيا ددې په قيمت باندي بَل شَئ رانيول جواز نَه لري .

تشريح : مَالِک مُضَارِب معزول کړئ او ده ته دمعزولئ اِطّلاَع هم ورسېده لـېکن پـه دغه وخت کي دده پـه لاَس کـي دمُضَـارَبَت سـامان وُ نـو دئ دغـه سـامان خرڅـولائي سي.البته چي کوم وخت دسامان قيمت راسي نوبيا دي په هغه قيمت باندي بَل شَـئ نَـه رانيسي .

وجه : د مُضَارِب دنَفعِ حسـاب پـه نَغدُو يعنـي دِرهَم او دِينَـار بانـدي کېـدلائي سـي.په سامان نَه سي کېدلائي او مُضَارِب خو په نَفعَ کـي خپـل حَق لـري نوځکـه دئ سـامان خرڅولائي سي نَغدِي په جوړولائي سي چي دنَغدېدو وروسته دنَفعِ حساب وکړي.

[۱۳۶۱](۲۳) وَ اِن عَزَلَهُ وَرَأسُ المَالِ دَرَاهِمٌ اَو دَنَانِيرٌ قَدنَضَت فَلَيسَ لَهُ اَن يَتَصَرّفَ فِيهَا [۱۳۶۲](۲۴) وَ اِذَا اِفتَرَقَا وَفِي المَـالِ دُيُـونٌ وَقَـد

رَبِحَ المُضَارِبُ فِيهِ اَجبَرَهُ الحَاكِمُ عَلْي اِقتِضَآءِ الدّيُونِ وَاِن لَم يَكُن فِـي المَالِ رِبحٌ لَم يَلزِمهُ اَلاِقتِضَآ ءُ وَيُقَالُ لَهُ وَكِّل رَبّ المَالَ فِي الاِقتِضَآءِ .

البته په دغه قيمت دي نو اُوس بَل شَئ نَه رانيسي چي دمُضَـارَبَت معاملـه نـوره مختـه وُلاَړ نَه سي او دمَالِک نُقصَان وَنَه سي .
اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چي که څَـه هم مُضَـارِب معـزول کـړئ وي لېکن که چيري دده نُقصَان کيږي نو دنُقصَان تر تَلاَفِي کولو پوري دئ نَـه معزوليږي . لاَ ضَرَرَ وَلاَ ضِرَارَ .
[۱۳۶۱](۲۳) او که مُضَارِب په داسي حـال کـي معـزول کـړئ چـي رَأسُ المَـال نَغـد دِرهَم يا دِينَار وُ نو دده لپاره جواز نسته چي په دي کي تصرف وکي .
وجه : سامان وُ نوځکه دهغه دخرڅېدو اِجَازَت وُ چي دا نَغد دِرهَم يا دِينَار يا يَـوَه بَلَـه سِـكّه سي او دنَفعِ حساب په آساني سره وسي.لېکن که هغه د مخکي څخه نَغد دِرهَم يـا دِينَـار وي يا يَوَه بَلَه سِكّه وي نو اُوس به په دي کي تَصَرّف وَلِي کـوي ؟ ځکـه چـي اُوس پـه دي کـي دتصرف کولو څخه دمَالِک نُقصَان دئ چي دده د مَرضْي بغيره بـه د مُضَـارَبَت ميعـاد وُږد سي.لِهٰذَا په دي کي تصرف کول جواز نَه لري .
لُغَت : نَضَت : د سامان وروسته نَغد سوي وي .
[۱۳۶۲](۲۴) که مَالِک او مُضَارِب ځله جلا سو او په مال کـي پُورُنَـه وُ او مُضَـارِب په هغه کي ګټـه کـړې وه نـو حِـاکِم بـه دپُـور پـر وُصُـولَوُلو بانـدي مُضَـارِب مجبـوره کوي.او که په مَال کي ګټه نَه وَه سوې نو پرمُضَارِب باندي پُـور وُصُـولَوَل ضـروري نَه دئ.ده ته به وَيَل کيږي چي مَالِک د وُصُولَوُلو وکيل جوړ کَه .
[۱۳۶۳](۲۵) وَمَاهَلَکَ مِن مَالِ المُضَارَبَةِ فَهُوَ مِـنَ الـرِّبحِ دُونَ رَأسِ المَالِ .

تشريح : مَالِک او مُضَارِب دمُضَارَبَت څخه جلا کيږي.او صـورت حـال دادئ چـي د مُضَارَبَت څَه مَال په پُور تللئ دئ.نو اُوس به ددې قيمت څوک وُصُـولَوِي؟ مَالِـک کـه مُضَـارِب؟ نـو فرمـائي چـي کـه مُضَـارِب پـه دې مَـال کـي ګَټَـه کـړې وه نـو بيـا پُـور وُصُولَوَل د مُضَارِب کار دئ .
وجـه : چـي مُضَـارِب ګَټَـه کـړئ ده نـو ګواکـه دئ د اَجِيـر پـه شـان دئ.ده د خرڅولو.رانيولو او پُور وُصُولَوُلو اُجرَت اخستئ دئ.نوځکـه پُـور وُصُـولَوَل دده ذِمّـه دَارِي ده.او که ګَټَه نَه وي کـړې نـو مُضَـارِب پـه حَيث د اِحسَـان او تَبَرُع دخرڅولـو رانيولو وکيل جوړسوئ دئ.او تَبَرُع او احسان کونکئ پر نور کار کولو بانـدي څـوک نَـه سـي مجبـوره کولائي.نوځکـه حَـاکِم د پُـور پـر وُصُـولَوُلو بانـدي دئ نَـه سـي

مَجبُورَوَلاَئي.البته مُضَارِب دي مَالِک ددې پور دوصولولو وکيل جوړ کړي چې دده په وَکَالَت کي دئ دغه پور وصول کړي او دده مَال ضَائِع نه سي .

پام لرنه : مُضَارِب خو عَقد کړئ ؤ نوځکه دپُور وُصُلِي دده پـه حقوق کـي شـامل دئ.نوځکه دئ دي مَالِک بَاضَابِطَه وکيل جوړکړي چې هغـه دده پـه وَکَالَـت کـي پُور وُصُول کړي .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چې په تَبَرّع او اِحسَان کې پر کـار کولـو نَـه سي مجبورولائي .

لُغَت : دُيُونٌ : قرض.پُور. اِقتِضَآءٌ : وُصُولَوَل .

[۱۳۶۳](۲۵) چې هَرڅَه هلاک سي دمُضَارَبَت دمال څخـه هغـه بـه دنَفعِ څخـه وي د اَصلِي سرمايې څخه به نَه وي .

تشريح : دا مسئله پر دې اُصُول مُتَفَرّع ده چې دمال هلاکت به اَوّل دنَفعِ څخه وَضعَ

[۱۳۶۴](۲۶) فَاِن زَادَ الهَالِکُ عَلْي الرِّبحِ فَلاَ ضَمَانَ عَلْي المُضَـارِبِ فِيـهِ .

کيږي.که هلاکت تر دې هم زِيَات سي نو بيابه دأصل سرمايې څخه ځي.په شروع کـي به هلاکت دأصل سرمايې څخه نَه مِنهَا کيږي.نوځکه چې مال هلاک سي اَوّل به دنَفعِ څخه مِنهَا کوي د اصل سرمايې څخه نَه .

وجه : (۱) نَفعَ تابع ده او سَرمَايَه اصل ده.نوځکه هلاکت بـه اَوّل د تَـابِع څخـه وَضـعَ کيږي (۲) په اَثَرکي راغلي دي عَن اِبنِ سِيرِينَ وَاَبِي قَلاَبَةَ قَالاَ فِـي رَجُـلٍ دَفَـعَ اِلْـي رَجُـلٍ مَالاً مُضَارَبَةً فَضَاعَ بَعضُهُ اَو وَضَعَ قَالاَ اِن کَانَ صَاحِبُ المَـالِ لَم يُحَاسِبهُ حَتّـي ضَـرَبَ بِـهِ اُخرْي فَرَبِحَ فَلاَ رِبحَ لِلمُقَارِضِ حَتّي يَستَوفِيَ صَاحِبُ المَالِ رَأسَ مَالِـهِ وَاِن کَـانَ قَدحَاسَبَهُ اَو آجَرَهُ ثُمّ ضَرَبَ بِهِ مَرّةً اُخرْي اِقتَسَمَاالرِّبحَ بَينَهُمَا.وَکَانَ الوَضِيعُ الاَوّلُ عَلْي المَـالِ (الـف) (مصنف عبدالرزاق.باب اختلاف المضاربين اذا ضرب به مَرّةً اُخرْي ج ۸ ص۲۵۱ نمبر ۱۵۰۹۹) په دې اَثَر کي دئ چې څَه مال هلاک سي او مخکې د نَفعِ حساب نَه وي کړئ نـو دا هلاکت به دنَفعِ څخه وَضع کيږي.او تر هغه وختـه پـوري ومُضَـارِب تـه نَفعَ نَـه سـي ملاوېدلائي ترڅو چې اَصل سرمايه پوره سوې نَـه وي.او کـه اَوّل حسـاب سوئ وي يعني اَوّل عَقدختم سوئ وي بيـا پـه دُوَم عَقدکي نَفعَ سوې وي نـو دا نَفـعَ بـه د اَوّلِـي سرمايې څخه نَه مِنهَا کيږي .

[۱۳۶۴](۲۶) کـه چيـري هلاکېـدونکئ مـال دنَفـعِ څخـه زيـات سـي نـو پـه دي کـي پرمُضَارِب هيڅ ضَمَان نسته .

تشريح : مثلاً اَصل سرمايه زَردِرهَمَ وه اوسَل دِرهَمَ نَفعَ ګټلې وه.وروسته درې سوه

حاشيه : (الف) اِبنِ سِيرِين او اَبُوقَلاَبَه وفرمائل چې يَوڅوک وچاته مال پـه مُضَـارَبَت ورکړي.نوڅَـه مـال هـلاک سوياضائع سو نووفرمائل چې که صَاحِبِ مَال حساب نَه ؤ کـړئ تـردې چې دُوَم وار ئـې سفروکئ او ګټـه وکـړه

نودمُضَارِب لپاره ګټه نسته تردې چې مَالِک سَرمَايَه پوره کړي.او که حِسَاب کړئ ؤ يائې په اُجرَت ورکړئ ؤ بيا ده دُوَم وار سفروکئ نو نَفعَ به په خپل مينځ کي تقسيموي او هغه اَوّل هلاکت به په مَال کي شُمَار وي .

[۱۳۶۵](۲۷) وَ اِن کَانَا يُقَسِّمَانِ الرِّبحَ وَالمُضَارَبَةُ عَلْي حَالِهَا ثُمّ هَلَکَ المَالُ کُلّهُ اَو بَعضُهُ تَرَادّ الرِّبحُ حَتْي يَستَوفِيَ رَبّ المَالِ رَأسَ المَالَ .

دِرهَمَ هلاک سويعني تَاوَان راغلئ نو دُوَه سوه دِرهَمَ به دنَفعِ څخه وَضعَ کيږي او وروسته به سَل دِرهَمَ داَصل سرمايې څخه وَضعَ کيږي.او مُضَارِب ددې ضِامِن نَه دئ .

وجه : (۱) مُضَارِب خو اَمِين دئ او چي بغيره دتَعَدّي داَمِين په لاَس کي يَوشَئ هلاک سي نوپر هغه باندې ضَمَان نَه لازميږي.نوځکه پرمُضَارِب باندې ضَمَان نَه لازميږي (۲) مخکي په اَثَرکي تېرسوي دي وَکَانَ الوَضِيعُ الاَوّلُ عَلْي المَالِ (الف) (مصنف عبدالرزاق.نمبر۱۵۰۹۹) (۳) دحضرت عَلِي اَثَر دئ عَن عَلِيٍّ فِي المُضَارَبَةِ. اَلوَضِيعَةُ عَلْي المَالِ وَالرِّبحُ عَلْي مَا اِصطَلَحُوا عَلَيهِ (ب) (مصنف عبدالرزاق. باب نفقة المضارب ووضيعته ج۸ص۲۴۸نمبر۱۵۰۸۷\مصنف ابن ابي شيبة من قال الربح علْي ما اصطلحوا عليه والوضيعة علْي رأس المال ج۴ص۲۷۲نمبر ۱۹۹۵۴) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي هلاکت به د اَصل سرمايې څخه شمېرل کيږي.نوځکه مُضَارِب ددې ذِمّه داره نَه دئ .

[۱۳۶۵](۲۷) او که ګټه دواړو سره تقسيم کړې وه او مُضَارَبَت پرخپل حالت پاته ؤ.بياټوله سرمايه هلاک سوه يا بَعضَ هلاک سوه نو دواړه به نَفعَ بېرته وَاپَس کوي تر دې چي مَالِک اَصل سَرمَايَه پوره کړي .

تشريح : مَالِک او مُضَارِب ګټه سره تقسيم کړې وه لېکن دمُضَارَبَت عَقدپرخپل حالت باندې باقي پاته ؤ هغه ئې نَه ؤ ختم کړئ چي په دغه دَورَان کي ټوله سرمايه

حاشيه : (الف) او اَوّل هلاکت به په مَال کي شُمېرل کيږي (ب) حضرت عَلِي وفرمائل چي دمُضَارَبَت په لَړ کي به هلاکت پر مَال باندې وي او نَفعَ به دصُلحِ مُطَابِق وي .

[۱۳۶۶](۲۸) فَاِن فَضُلَ شَيئٌ کَانَ بَينَهُمَا وَاِن نَقَصَ مِن رَأسِ المَالِ لَم يَضمَن المُضَارِبُ .

يا بَعض سرمايه هلاک سوه نوقاعده داده چي دواړو چي کومه نَفعَ سره تقسيم کړې وه هغه دي وَاپَس کړي او په اَصل سرمايه کي دې شامله کړي چي دمَالِک اَصل رَقَم پوره سي .

وجه : (۱) چي اصل سرمايه هلاک سوه نومعلوم سوچي نَفعَ تقسيم کول صحيح نَه وه.ځکه چي نَفعَ خو داَصل سرمايې دپوره کولو وروسته وي.او دلته په اَصل سرمايه

كي كمي راغله.نوځكه نَفعَ به وَاپَس كوي او اَصل سرمايه بـه پـه پـوره كـوي (٢) كـه اَصل سرمايه په نَفعَ پوره نَه كړي نو دا خو ښِله كومي وجهي دمَالِک نُقصَـان دئ چـي دهغه څخه دده ژُغوَرَل او ساتل ضروري دئ (٣) په تېره صفحه كي تيرسـو عَـن اِبـنِ سِيرِينَ وَاَبِي قَلاَبَةَ قَالاَ فِي رَجُلٍ دَفَعَ اِلْي رَجُلٍ مَالاً مُضَارَبَةً فَضَاعَ بَعضُـهُ اَو وَضَـعَ قَـالاَ اِن كَانَ صَاحِبُ المَالِ لَم يُحَاسِبهُ حَتْي ضَرَبَ بِهِ اُخرْي فَرَبِحَ فَـلاَ رِبـحَ لِلمُقَـارِضِ حَتْـي يَسـتَوفِيَ صَاحِبُ المَالِ رَأسَ مَالِهِ وَاِن كَانَ قَدحَاسَبَهُ اَو آجَرَهُ ثُـمّ ضَـرَبَ بِـهِ مَـرّةً اُخـرْي اِقتَسَـمَاالرِّبحَ بَينَهُمَا.وَكَانَ الوَضِيعُ الاَوّلُ عَلْي المَالِ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب اختلاف المضاربين اذا ضرب به مَرّةً اُخرْي ج٨ص٢٥١نمبر١٥٠٩٩) په دې اَثَركي راغلي دي چي ومُضَارِب ته به ترهغه وخته پـوري نَفـعَ نَـه وركـول كيږي ترڅـوچي اَصـل سـرمايه نَـه وي پـوره سوې.لِهْذَا ښِرته به وَاپَس كوي اَصل سرمايه به په پوره كوي .

[١٣٦٦](٢٨) كه چيري څَـه نَفـعَ پاتـه سـي نـو د دواړو تـرمينځ بـه تقسـيمېږي.او كـه سَرمَايَه څَه كَمَه سي نومُضَارِب به ضَامِن نَه وي .

حاشيه : (الف) اِبنِ سِيرِين او اَبُوقَلاَبَه وفرمائل چي يَوڅوک وچاته مال پـه مُضَـارَبَت وركړي.نوڅَـه مـال هـلاک سوياضائع سو نووفرمائل چي كه صَاحِبِ مَال حساب نَه وُ كـړئ تـردې چي دُوَم وار ئـې سفروكړئ او ګټـه وكـړه نودمُضَارِب لپاره ګټه نسته تردې چي مَالِک سَرمَايَه پوره كړي.او كه حِسَاب كړئ وُ يائې په اُجرَت وركړئ وُ بيـا ده دُوَم وار سفروكړئ نو نَفعَ به په خپل مينځ كي تقسيموي او هغه اَوّل هلاكت به په مَال كي شُمَار وي .

[١٣٦٧](٢٩) وَ اِن كَانَا اِقتَسَـمَا الـرِّبحَ وَفَسَـخَا المُضَـارَبَةَ ثُـمّ عَقَـدَاهَا فَهَلَكَ المَالُ اَو بَعضُهُ لَم يَتَرَادّا اَلرِّبحَ اَلاَوّلَ .

تشريح : دواړو نَفعَ وَاپَس كړه خو بيا هم هلاكت په دومره اندازه وُ چي اَصل سَـرمَايَه پوره نَه سوه نـو اُوس مُضَـارِب ددې نُقص ذِمّـه دَارَه نَـه دئ.مـثلاً اَصـل سَـرمَايَه زَر دِرهَمَ وه.بيائې دوه سوه نَفعَ ګټَلې وه.لېكن هلاكت درې سوه دِرهَمَ وُ نوځكـه دنَفـعِ دوه سوه دِرهَم ئې وَاپَس كړل.بيا هم سَل دِرهَمَ د اَصل سَرمَايې څخه پاته سو نـو ددې سَلُو دِرهَمُ ضَمَان به مُضَارِب نَه وركوي .

وجه : (١) مخته تيرسوچي مُضَارِب اَمِين دئ (٢) په اَثَركي راغلـي وُ اَلوَضِـيعَةُ عَلْـي المَالِ (مصنف عبدالرزاق.نمبر١٥٠٨٧) نوځكه مُضَارِب دنُقص ذِمّه دَارَه نَه دئ .

[١٣٦٧](٢٩) او كه دواړو نَفعَ تقسيم كـړې وي او مُضَـارَبَت ئـې ختم كـړئ وي بيـا دواړو عَقدِمُضَارَبَت كړئ وي بيا ټوله مال هلاک سو نو اَوّله نَفعَ به نَه وَاپَس كوي .

وجـه : (١) اَوّل عَقـد بالكليـه خـتم سـوئ دئ.او دا دُوَم عَقدِجَدِيـد دئ.نوځكـه ددې دسَرمَايې هلاكت به په مخكني عَقدكي نَه شامليږي.او د سَرمَايې دپوره كولو لپـاره بـه هغه مخكي تقسيم كړې نَفعَ نَه وَاپَس كيږي (٢) په اَثَر كـي راغلـي وُ عَـن اِبـنِ سِـيرِينَ وَاَبِـي قَلاَبَـةَ ... وَاِن كَـانَ قَدحَاسَبَهُ اَو آجَرَهُ ثُمّ ضَـرَبَ بِـهِ مَـرّةً اُخرْي اِقتَسَـمَا اَلـرِّبحَ بَينَهُمَا.وَكَـانَ الوَضِـيعُ الاَوّلُ عَلْـي المَـالِ (الـف) (مصـنف عبـدالرزاق.باب اخـتلاف

المضاربين اذا ضرب به مَـرّةً أُخـرْي ج٨ص٢٥١نمبـر١٥٠٩٩) پـه دې اَثَـر کـي دئ چي که دمخکني عَقدحساب سوئ وي نو د دُوَم عَقد اَثَر پر اَوّل عَقدباندي نَه لُوِيږِي .

حاشيه : (الف) او که حِسَاب کړئ ؤ يائي په اُجرَت ورکړئ ؤ بيا ده دُوَم وار سفروکئ نو نَفعَ بـه پـه خپـل مينځ کي تقسيموي او هغه اَوّل هلاکت به په مَال کي شُمَار وي .

[١٣٦٨](٣٠) وَيَجُـــوزُ لِلمُضَـــارِبِ اَن يَبِيـــعَ بِالنّقـــدِ وَالنّسِـــيئَةِ

[١٣٦٩](٣١) وَ لاَ يُزَوِّجَ عَبدًا وَلاَ اَمَةً مِن مَالِ المُضَارَبَةِ .

[١٣٦٨](٣٠) دمُضَارِب لپاره جائزدئ چي په نَغدُ خرڅ کړي يا په پُور خرڅ کړي .

وجه : پـه تِجَـارَت کـي پـه نَغدُ او پـه پُور دواړه رنګـه دخرڅېدو رِوَاج سته نوځکـه ومُضَارِب ته د دواړه رنګه خرڅولو حَق سته .

[١٣٦٩](٣١) او مُضَارِب دي دمُضَارَبَت په مال دغُلاَم يا دمِنځِي وَادَه نَه کوي .

تشريح : دمُضَارَبَت په مال ئې مِنځَه يا مَرَيَـئ رانيـولئ وي او وهغـه تـه وَادَه ورکـول غُوَارِي نو دمَالِک د اِجَازَت بغيره نَه سي ورکولائي .

وجه : چي ومِنځَه ته وَادَه ورکوي نو دهغه ښځه به ده ته مَهر ملاؤسي.نَفَقَه بـه ورتـه ملاؤسي.او چي بَچَئ ئې پيدا سي هغه به هم مَرَيَئ وي دا ټولي فائدې او ګټِي خو پـه کښـي دي لـېکن دا کـار دتِجَـارَت دمُتَعَلّقَـاتُ څخـه نَـه دئ نوځکـه مُضَـارِب د مَالِـک داِجَازَت بغيره غُلاَم يا مِنځِي ته وَادَه نَه سي ورکولائي .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چي مُضَارِب هغه کارونه کـولائي سـي کـوم چي دتِجَارَت سره تَړَاؤ لري او کوم کار چي دتِجَارَت سره تَعَلّق نَه لري هغـه نَـه سـي کولائي .

اَبُوالحُسَين
عبدالمتين قُطب
عفي عنه وعن والديه

..... كِتَابُ الوَكَالَةِ .....

[١٣٧٠](١) كُلّ عَقدٍ جَازَ اَن يَعقِدَهُ الاِنسَـانُ بِنَفسِـهِ جَـازَ اَن يُوَكّـلَ بِـهِ غَيرَهُ .

..... كِتَابُ الوَكَالَةِ .....

ضروي پام لرنه : د وَکَالَت معنٰي ده سپُرد کول. په خپله کار نَه کوي بل څوک د کار کولو لپاره وَکِیل جوړ کړي دې ته وَکَالَت وائي.ددې ثبوت په دې آيت کي دئ (۱) فَابعَثُوا اَحَدَكُم بِوَرِقِكُم هٰذِهِ اِلٰي المَدِينَةِ فَليَنظُر اَيّهَا اَزكٰي طَعَامًا فَليَأتِكُم بِرِزقٍ مِنهُ (الف) (آيت ۱۹سورة الکهف۱۸) په دې آيت کي د اَصحَابِ کَهف ملګرو د ډوډئ رانيولو لپاره وکيل جوړکړئ (۲) په حديث کي دئ عَن عَلِيٍّ قَالَ اَمَرَنِي رَسُولُ اللهِﷺ اَن اَتَصَدّقَ بِجُلاَلِ البُدَنِ اَلّتِي نَحَرتُ وَبِجُلُودِهَا (ب) (بخاري شريف.باب وکالة الشريک الشريک فِي القسمة وغيرهاص۳۰۸نمبر۲۲۹۹) په دې حديث کي حضورﷺ حضرت عَلِي د وُښ دحلالېدو او دهغه د څَرمَنِي دخيراتېدو وکيل جوړکړئ دئ .

[۱۳۷۰](۱) هر هغه عَقدچي انسان ئې په خپله کولائي سي.جائزدئ چي بَل دهغه وکيل جوړکړي .

تشريح : کوم کار چي په خپله کولائي سي دهغه کار دکولو لپاره بَل څوک هم وکيل جوړولائي سي .

وجه:(۱)په لوړحديث کي حضورﷺحضرت عَلِي دوُښ دحلالېدواودڅَرمَنِي دصَدَقَه کېدو وکيل جوړکړئ.او دا کار حضورﷺ په خپله هم کولائي سو (۲) په بَعضُ حالاتُ کي انسان په خپله يَوګار نَه سي کولائي مجبور وي په بَل چَا هغه کار کوي (۳) په لُوَړ آيت کي هم د کَهف ملګرو بَل څُوک د ډُوډَئ د رانيولو وکيل جوړکړئ .

حاشيه : (الف) د تاسو څخه يَو دي دغه سِکّې واخلي ښَار ته دې واستوي نو هغه دي وګوري چي کومه ډُوډَئ پاک ده نودهغه څخه دي څَه د خُوَرَک لپاره راوړي (ب) حضورﷺ ماته حُکم وکړئ چي د وُښ څَل صَدَقَه کړم کوم چي مَا حلال کړئ دئ او دهغه څَرمَن خيرات کړم .

[۱۳۷۱](۲) وَيَجُوزُ التّوكِيلُ بِالخُصُومَةِ فِي سَائِرِ الحُقُوقِ وَ بِاِثبَاتِهَا وَيَجُوزُ بِالاِستِيفَآءِ .

[۱۳۷۱](۲) او جائز دئ په ټولو حقوقُ کي وکيل جوړول د جګړې لپاره او دهغه دثابتولو لپاره او جائز دئ دحقوقُ دحاصلولو لپاره .

تشريح : په ټولوحقوقُ کي د خُصُومَت لپاره وکيل جوړولائي سي.دخصومت مطلب دادئ چي دقاضي په مخکي په ښَه انداز سره خپله مُقَدّمَه وُړَاندِي کي.بيا هغه ثابته کړي.ګواهان پېش ګړي او په خپل حَق کي دفيصلې کولو لپاره ښَه زُور ولګوي.ودې ټولو کارو ته وَکِيل بِالخُصُومَة وائي.دغه رنګه دحق دثابتولو او دحق دوصولولو لپاره هم وکيل جوړولائي سي .

وجه : (۱) هَرڅوک دقاضي په مخکي په ښَه انداز دمُقَدّمې د پېشولو اَهلِيّت نَه لري.نوځکه وکيل بِالخُصُومَة جوړول جائزدئ (۲) حضوردمُسَيلِمَه کَذّاب دجواب ورکولو په لړ کي حضرت ثَابِت بِنِ قَيس وکيل جوړ کړئ.دهغه وُړد حديث يَوَه ټوټه

ستاسو مخته وُړَاندِي کيږي عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ قَدِمَ مُسَيلِمَةُ الکَذّابُ عَلْي عَهدِالنّبِيّﷺ ... وَهٰذَا ثَابِتُ بِنِ قَيسٍ يُجِيبُکَ عَنّي ثُمّ اِنصَرَفَ عَنهُ (الف) (بخاري شريف.باب وَفدِبني حنيفة وحديث ثُمَامَةَ بن اَثَال.کتاب المغازي ص٦٢٧ نمبر٤٣٧٣) (٣) دمُقَدّمي د وُړَاندِي کولو لپاره حضرت عبدالرحمن بن سَهل مخته راغلئ چي په دغه خلګو کي کِشنَئ دئ وُ. نوحضورﷺ دخبرو لپاره مَشَر وکيل بالخصومة جوړکړئ.دحديث ټکړه داده قَالَ اِنطَلَقَ عَبدُاللهِ بِنِ سَهلٍ وَمَحِيصَةَ بِنِ مَسعُودِبِنِ زَيدٍ اِلْي خَيبَرَ ... فَذَهَبَ عَبدُالرّحمٰنُ يَتَکَلّمُ فَقَالَﷺ کَبِّر کَبِّر وَهُوَ اَحدَثُ القَومِ فَسَکَتَ فَتَکَلّمَا

حاشيه : (الف) مُسَيلِمَه کَذّاب دحضورﷺ په زمانه کي راغلئ ... دا ثَابِت بِنِ قَيس دئ.دئ به زوما لخوا تاته جواب درکوي.بيا حضورﷺ وَاپَس تشريف راوړئ .

[١٣٧٢](٣) اِلاّ فِي الحُدُودِ وَالقِصَاصِ فَاِنّ الوَکَالَةَ لاَتَصِحّ بِاِستِيفَائِهِمَا مَعَ غَيبَةِ المُوَکّلِ عَنِ المَجلِسِ .

(الف) (بخاري شريف.باب الموادعة والمصالحة مع المشرکين بالمال وغيره ص٤٥٠نمبر ٣١٧٣) په دې حديث کې دمُقَدّمي د وُړَانِدِی کولو لپاره مَشَر وکيل جوړ کړئ ددې څخه معلوم سوچي دخُصُومَت لپاره وکيل جوړولائي سي (٤) په اَثَرکي راغلي دي عَن عَبدِاللهِ بِنِ جَعفَرَ قَالَ کَانَ عَلِيّ بِنِ اَبِي طَالِبٍ يَکرَهُ الخُصُومَةَ فَکَانَ اِذَا کَانَت لَهُ خُصُومَةٌ وَکّلَ فِيهَاعَقِيلُ بِنِ اَبِي طَالِبٍ فَلَمّا کَبُرَ عَقِيلُ وَکّلَنِي (ب) (سنن للبيهقي.باب التوکيل في الخصومات مع الحضور والغيبة ج٦ص١٣٤نمبر١١٤٣٧) په دې اَثَرکي دئ چي حضرت علي په خپله خصومت نَه کاو بلکه حضرت عقيل به دخصومت لپاره وکيل جوړاوئ .

[١٣٧٢](٣) مګرپه حُدُود او قِصَاص کي چي ددې دحاصلولو وکالت نَه صحيح کيږي په هغه مجلس کي دمُؤکِّل د نَه موجودګئ په حالت کي .

تشريح : چي په مجلس کي مُؤکِّل موجود نَه وي نودحدود او قصاص دحاصلولو وکالت نَه صحيح کيږي. مګر! که په مجلس کي مُؤکِّل موجود وي نوبيا دحدود اوقصاص دحاصلولو وکيل جوړولائي سي .

وجه : (١) حدود اوقصاص په شُبهَه باندي هم ساقطيږي.او چي مؤکل موجود نَه ي نو دا شُبهَه سته چي مؤکِّل دي په آخري وخت کي د حَد يا قِصَاص اخستلوڅخه معاف کړئ وي.نوځکه دده دموجودګئ بغيره هسي وکيل جوړول جواز نَه لري (٢) په حديث کي دئ چي هرڅونه امکان ئې وي حدود او قصاص ساقطوئ او د وکيل په جوړولو کي خو دا نور مضبوط کيږي.په حديث کي دئ عَن عَائِشَةَ قَالَت.

حاشيه : (الف) حضرت عبدالرحمٰن خبره شروع کړه نوحضورﷺ وفرمائل مَشَر دي خبره وکي.مَشَردي خبره وکي.ځکه چي عبدالرحمٰن په قوم کي کَشَر وُ نودئ پَتَه خُولَه سو او دواړو مَشَرَانو دحضورﷺ سره خبره وکړه (ب) حضرت عَلِي مُقَدَمَه نَه خُوَښَوَلَه.که به دده يَوَه مُقَدّمَه راغله نو ده به عَقِيل بِنِ اَبِي طَالِب وکيل جوړاوئ.بيا چي حضرت عَقِيل سُپِين ږِيرَئ سو نو زه به وکيل جُوړَوَلَم .

[۱۳۷۳](۴) وَقَالَ اَبُوحَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي لاَيَجُوزُ التّوكِيلُ بِالخُصُومَةِ اِلاّ بِرِضَا الخَصمِ اِلاّ اَن يَكُونَ المُوَكِّلُ مَرِيضًا اَو غَائِبًا مَسِيرَةَ ثَلْثَةِ اَيّامٍ فَصَاعِدًا .

قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ اِدرَءُوا اَلحُدُودَ عَنِ المُسلِمِينَ مَا اِستَطَعتُم. فَاِن كَانَ لَهُ مَخرَجٌ فَخَلّوا سَبِيلَهُ فَاِنّ الاِمَامَ اَن يَخطِئَ فِي العَفوِ خَيرٌ مِن اَن يَخطِئَ فِي العُقُوبَةِ (الف) (ترمذي شريف. باب ماجآء في درءالحدود ص۲۶۳نمبر۱۴۲۴\ابن ماجه شريف. باب السترعلْي المؤمن ودفع الحدود بالشبهات ص۳۶۵نمبر۲۵۴۵) ددې حديث څخه معلوم سوچي دحدود او قصاص دساقطولو كوشش بايد وسي .

[۱۳۷۳](۴) امام ابوحنيفه وفرمائل چي دخُصُومَت وكالت جواز نَه لري مګر دمُقَابِل په رضامندي سره. مګر دا چي مُؤكِّل ناجوړه وي يا غَائِب وي په دارنګه چي درې ورځي يا دهغه څخه پر زيات سَفَر وي .

تشريح : امام ابوحنيفه فرمائي چي مَدِّمُقَابِل راضي وي يا مؤكِّل مجبوره وي مثلاً ناجوړه وي چي د قَضآء مجلس ته نَه سي راحاضرېدلائي يا د درو ورځو پرسَفَر وي نو بيا د مَدِّمُقَابِل دمرضئ بغيره هم وكيل جوړولائي سي .

وجه : دئ فرمائي چي د اِنسان په چَالاَكِي كي فرق وي. نوځكه دا اِمكان سته چي وكيل دي په خپله چَالاَ كِي باندي خامخا ومَدِّمُقَابِل ته نُقصَان وروړسوي او په حَق فيصله كولو كي دي يَو مُشكِل رامينځ ته كي. نوځكه دمجبورئ يا رضامندئ بغيره دخُصُومَت وكيل جوړول جواز نَه لري .

پام لرنه : چي وكيل جوړ كړي او فيصله وكړي نو صِحّت پيدا كوي .

...

حاشيه : (الف) حضور ﷺ وفرمائل ترڅو چي اِمكان وي د مُسلمانانوڅخه حدود دَفعَ كوئ. كه چيري د دُوئي لپاره د وَتلُو يَوه لاَرَه وي نو لاَرَه پرېږدئ. ځكه چي اِمَام په معافي كي غلطي وكړي دا ډېر ښَه دئ تر دې چي په سَزَ آء كي غلطي وكړي .

[۱۳۷۴](۵) وَقَالَ اَبُويُوسُفَ وَمُحَمّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ يَجُوزُ التّوكِيلُ بِغَيرِ رِضَا الخَصمِ [۱۳۷۵](۶) وَمِن شَرطِ الوَكَالَةِ اَن يَكُونَ المُوَكِّلُ مِمّن يَمِلكُ التّصَرّفَ وَيَلزِمُهُ الاَحكَامُ .

[۱۳۷۴](۵) او امام ابويوسف او امام محمد وفرمائل چي دمُقَابِل د رضامندئ بغيره وكيل جوړول جائز دئ .

وجه : (۱) مخته تيرسو چي حضرت عَلِي ببله څَه مجبورئ حضرت عَقِيل دخُصُومَت وكيل جوړاوئ. عَن عَبدِاللهِ بِنِ جَعفَرَ قَالَ كَانَ عَلِيّ بِنِ اَبِي طَالِبٍ يَكرَهُ الخُصُومَةَ فَكَانَ اِذَا كَانَت لَهُ خُصُومَةٌ وَكّلَ فِيهَا عَقِيلَ بِنِ اَبِي طَالِبٍ فَلَمّا كَبُرَ عَقِيلُ وَكّلَنِي (الف) (سنن

للبيهقي.باب التوكيل في الخصومات مع الحضور والغيبة ج۶ص۱۳۴ نمبر۱۱۴۳۷) ددې څخه معلوم سوچي مجبوري نَه وي او خَصَم هم راضي نَه وي خوبيا هم دخُصُومَت وكيل جوړولائي سي (۲) ڎُوئي فرمائي چي وكيل جوړول دمُؤكِّل خپل ذَاتِي حَق دئ.نوځكه د مَدِّمُقَابِل پر رضامندئ باندي به دا مَوقُوفَ نَه وي بلكه دهغه د رضامندئ بغيره هم په خُصُومَت كي وكيل جوړېدلائي سي .

اُصُول : مخكي يَو اُصُول تېرسوئ دئ چي دامام ابوحنيفه نَظَر دمَدِّمُقَابِل پرنُقصَان باندي وي.او دصاحبينُ نَظَر په خپله دمُؤكِّل پر نُقصَان وي .

[۱۳۷۵](۶) او دوَكَالَت دشرط څخه دا دئ چي مُؤكِّل دهغو څخه وي كوم چي دتَصَرّف كولو مَالِک وي او پرهغه اَحكام لازميږي .

تشريح : د وَكَالَت دشرطونو څخه يَوشرط دا هم دئ چي وكيل جوړونكئ يعني مُؤكِّل چي دكوم كار لپاره وكيل جوړوي په خپله به هم هغه كار كولائي سي .

وجه : (۱) كه چيري دئ په خپله نَه سي كولائي نو بيا وبَل ته دهغه حُكم څَه رنګه

حاشيه : (الف) حضرت عَلِي مُقَدَمَه نَه خُوَښَوَلَه.كه به دده يَوَه مُقَدّمَه راغله نو ده به عَقِيل بِنِ اَبِي طَالِب وكيل جوړاوئ.بيا چي حضرت عَقِيل سُپين ږيرَئ سو نو زه به وكيل جُوړَوَلَم .

[۱۳۷۶](۷) وَالوَكِيلُ مِمّن يَعقِلُ البَيعَ وَيَقصُدُهُ .

وركوي؟ او دُوَم شرط دادئ چي دشريعت اَحكام به پر لازميږي.يعني دئ په خپله عَاقِل.بَالِغ او آزاد وي.كه چيري دئ عَاقِل.بَالِغ او آزاد نَه وي نو پرده باندي دشريعت حكمونه نَه لازميږي.چي پرده باندي نَه لازميږي نو ونورو ته د احكامو دلُزُوم حكم څَه رنګه وركوي؟ يعني ددې كار حُكم به څَه رنګه وركوي ؟ (۲) په حديث كي دئ چي دنَابَالِغ او لېونِي څخه احكامات پورته سوي دي. عَن عَلِيٍّ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺ قَالَ رُفِعَ القَلَمُ عَن ثَلاَثَةٍ عَنِ النّائِمِ حَتّي يَستَيقِظَ وَعَنِ الصّبِيِّ حَتّي يَشُبّ وَعَنِ المَعتُوهِ حَتّي يَعقِلَ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجاءفيمن لايجب عليه الحدص۲۶۳نمبر۱۴۲۳\ابوداؤدشريف.باب في المجنون يسرق اويصيب حدًا ص۲۵۶نمبر۴۳۹۹) نوځكه كه مُؤكِّل بَچَئ يا لِېوَنَئ وي نوهغه وكيل نَه سي جوړولائي.يا چي كوم كار مُؤكِّل نَه سي كولائي نوپه هغه كي وكيل نَه سي جوړولائي.مثلاً مُؤكِّل و اَجنَبِي ښَځِي ته طلاق نَه سي وركولائي نو و اَجنَبِي ښَځَه ته دطلاق وركولو لپاره بَل څوک وكيل هم نَه سي جوړولائي .

[۱۳۷۶](۷) او وكيل به د هغو څخه وي چي په بَيعَ پوهيږي اودهغې قَصدكولائي سي .

تشريح : ددې عِبَارَت مطلب دادئ چي وكيل به عَاقِل بَالِغ وي.اوپه دې به پوهيږي چي بَيعَ و شِرَ آء چِش دئ؟ او په قَصد و اِرَادَه سره دغه كار كوي.هسي بَازَئ او ګَپِي ئې نَه ګَڼِي.نوبيا وكيل جوړېدلائي سي .

وجه : مخته حديث تيرسو چي د بَچِي او مَعتُوه دمعاملاتُ اِعتِبَار نسته نو دُوئي بـه څَـه رنګه وکيل جوړوي؟ لِهْذَا وکيل به هم بَالِغ او عَاقِل وي يا به کَم اَز کَم پـه بَيـعَ او شِـرَ آء باندي پوهيږي .

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل د دُرُو خلګوڅخه قَلَم پورته سوئ دئ د بِيدَه څخه ترهغه چي رَاوِښ سوئ نَه وي او دکِشنِي څخه ترڅو چي بَالِغ سوئ نَه وي او د مَعتُوه څخه ترڅوچي دعَقل خَاوِندسوئ نَه وي .

[۱۳۷۷](۸) وَ اِذَا وَکّـــلَ الحُرّالبَـــالِغُ اَوِ المَـــأذُونُ مِثلَهُمَـــا جَـــازَ
[۱۳۷۸](۹) وَاِن وَکّلاَ صَبِيًّا مَحجُورًا يَعقِلُ البَيـعَ وَالشِّـرَآ ء اَو عَبـداً مَحجُورًا جَازَ وَلاَ يَتَعَلّقُ بِهِمَا الحُقُوقُ وَيَتَعَلّقُ بِمُؤکِّلَيهِمَا .

[۱۳۷۷](۸) که آزادبَالِغ ياعَبدِمَأذون دځان په ډَوَل څوک وکيل جوړکړي نوجائز دئ .
تشريح : مَأذُون غُلاَم يا مَـأذُون بَچَـئ وهغـه تـه ويـل کيـږي چـي مَـولْي يـا وَلِـي د خَرڅَوُلُـو رَانِيوَلُو اجازت ورکړئ وي.نوځکه که آزاد او بَالِغ سړئ بَل څوک وکيل جوړکړي يـا هغـه غُلاَم کوم چي د تِجَارَت اجازت ورته ملاؤسوئ وي يا هغه بَچَئ کوم چي دتِجَـارَت اجـازت ورته ملاؤسوئ وي بَل څوک د خرڅولو رانيولو وکيل جوړ کړي نو دا جائز دئ .
وجه : (۱) چي غُلاَم عاقل بالغ وي نو صرف پـه دې وجـه دخريـدوفروخت څخـه منـع دئ چي ومَولْي ته نُقصَان وَنَه رسيږي.لېکن که وده ته اِجَازَت ورکـړ ي نـو غُـلاَم پـه خپلـه هم خريدوفروخت کولائي سي او دخريـدوفروخت لپـاره وکيـل هـم جـوړولائي سـي.دغه رنګـه عَقَلمَندبَچَئ هم دئ چي لَږ او ډېر دده وَلِي وده تـه دتجـارت اِجَـازَت ورکـړي نـو بيـا دئ پـه خپله هم خريدوفروخت کولائي سي او دخريدوفروخت لپاره وکيل هم جـوړولائي سـي (۲) کِشنَئ کِشنَئ کار هم پېښيږي چي يَو پـه خبـره پُوه بَچَـئ واسـتوي او د دُوګـان څخـه سَـودَا راوړي يا ويَوچَا ته هَديَه وَروُړي.نوځکه دئ وکيل جوړولائي سي (۳) د عَبدِمَأذُون دوکيـل جوړولو اِشَارَه په دې حديث کي سته عَن اِبنِ مَالِکٍ قَالَ حَجّمَ اَبُوطِيبَةَ رَسُولَ اللهِﷺ فَـاَمَرَ لَـهُ بِصَاعٍ مِن تَمَرٍ وَ اَمَرَ اَهلَهُ اَن يُخَفِّفُوا مِن خِرَاجِـهِ (الـف) (بخـاري شـريف.باب ذکرالحجـام ص۲۸۳نمبر۲۱۰۲) په دې حديث کي اَبُوطِيبَه غلام دئ او وهغه ته دتجارت کولـو اجـازت سوئ دئ .
[۱۳۷۸](۹) او که مَحجُور بَچَئ وکيل جوړکړئ چي په بَيعَ او شِرَ آء پوهيږي يائې مَحجُور غُلاَم وکيل جوړکړئ نودا جائزدئ او حقوق د دُوئي دواړو سره تَعَلّق نَه لري بلکـه د دُوئـي دمُؤَکِّلاَنُوسره به مُتَعَلّق وي .
حاشيه : (الف) اَبُوطِيبَه وحضورﷺ ته ښکَر ورولګاوئ نوحضـور وده تـه ديَـوې پېمَـانې خُورمَـاؤ ورکولـو حُکم صَادِرکړئ او دده وأهل ته حُکم وکړئ چي د دُوئي ټېکس دي کم کړي .

تشريح : يَوچَا دارنګه بَچَئ وکيل جوړکړئ چي په رانيولو خرڅولوپـوهيږي لـېکن دئ بَچَئ او دده وَلِي وده ته دخرڅولو رانيولو اِجَازَت هم نَه دئ ورکړئ نـو دارنګـه بَچَـئ وکيل جوړول جـائزدئ.لېکن دبَيـعِ او شِـرآء چـي څـومره حقـوق دي هغـه بـه د وکيـل

جوړونکي يعني مُؤكِّل سره مُتَعَلّق وي دبَچِي سره تعلق نَه لـري.او نَـه بَچَـئ ددې ذِمّـه دَارَه دئ .

وجه : ځکه چي دحديث پـه وجـه دده څخـه قَلَم پورتـه سـوئ دئ او دئ مَرفُوعُ القَلَم دئ.دغه رنګه که دمَحجُور غُلاَم سره حقوق مُتَعَلّـق سـي نـودا بـه دده دمَولْي نُقصَـان وي.نوغُلاَم خو به د وَكَالَت په وجه كار كوي ځكه چي عَاقِل بَالِغ دئ لېكن دخرڅولـو رانيولو حقوق به د وكيل جوړونكي يعني مُؤكِّل سره مُتَعَلّق وي.هغه به دغـه لَين دَيـن اداّء كوي.د غُلاَم په باب كي فرمان دئ چي دئ كَفِيل نَه سي جوړېدلائي نو لِهٰذَا وكيـل هم نَه سي جوړېدلائي ځكه چي په كَفَالَت كي خو وَكَالَت هم وي. عَن جَابِرٍ وَعَن عَامِرٍ قَـالاَ لاَكَفَالَـةَ لِلعَبـدِ (الـف) (مصـنف ابـن ابـي شـيبة ۴۲۹ فـي العبـديكفل ج۴ص۵۳۴نمبر۲۲۸۷۷) په دې اَثَركي دئ چي دغُلاَم لپاره كَفَالَت نسته .

اُصُول : دا مسئله پر دې اُصُول مُتَفَرّع ده چـي دمَحجـور سـره حقـوق تعلـق نَـه لـري. مختـه حديث تيرسو رُفِعَ القَلَمُ عَن ثَلاَثَةٍ (ترمـذي شـريف.نمبر۱۴۲۳) د عَقَلمَنـدبَچِي د وكيل جوړولو دليل دا حديث دئ. و حضرت اُمِّ سَلَمَة ته حضور دنكاح پېغام واستاوئ نوهغې ګڼ شمېره مَعذِرتُونَـه پـېش كړل.حضـور هغـه ټولـه حَل كـړل بيـا حضـرت اُمِّ سَلَمَې خپل زُوئي عُمَربِنِ اَبِي سَلَمَه چي نابالغ وُ لېكن سَمَجدَارَه وُ هغه ئې دنكاح وكيل جوړ كړئ عَن اُمِّ سَلَمَةَ لَمّا اِنقَضَت عِدّتُهَا ... فَقَالَت لِابنِهَا يَـاعُمَرُ قُم فَـزَوِّج رَسُـولَ الله فَزَوّجَهُ (نسائي شريف.باب نكاح الابن اُمّهُ ج ۲ ص ۶۳ نمبر ۳۲۵۶)

حاشيه : (الف) دحضرت جَابِر او حضرت عَامِر دواړو څخه روايت دئ چي دغُلاَم لپاره كَفَالَت نسته .

[۱۳۷۹](۱۰) وَالعُقُودُ اَلّتِي يَعقِدُهَا اَلوُ كَـلاَ ءُ عَلْـي ضَـربَينِ كُـلّ عَقـدٍ يُضِيفُهُ الوَكِيلُ اِلْي نَفسِهِ مِثلَ البَيعِ وَالشّرَ آ ءِ وَالاِجَـارَةِ فَحُقُوقُ ذَالِـكَ العَقدِ يَتَعَلّقُ بِالوَكِيلِ دُونَ المُوَكِّلِ فَيُسَلِّمُ المَبِيعَ وَيَقبِضُ الـثّمَنَ وَيُطَالَـبُ بِالثّمَنِ اِذَا اِشتَرْي وَيَقبِضُ المَبِيعَ وَيُخَاصَمُ فِي العَيبِ .

[۱۳۷۹](۱۰) هغه عَقدچي وَكِيلاَن ئـې كـوي پـر دُوَه قسـم دئ.هرهغـه عَقـدچي وكيـل ئـې وخپل ځان ته منسوب كوي مثلاً خرڅول او رانيول او اِجَـارَه نـو ددې عَقـدُونُو حقـوق بـه د وكيل سره مُتَعَلّق وي نَه دمُؤكِّل سره.نوهغه به مَبِيع سُپَرد كـوي او هغـه بـه پرقيمـت بانـدي قبضـه كوي.دهغه څخه به دقيمت مُطالبـه كيـږي چـي كلـه دئ څَـه شـئ رانيسـي او هغـه بـه پرمَبِيع باندي قبضه كوي او دهغه سره به په عَيب كي جګړه وي .

تشريح : په وَكَالَت كي چي څوک عَقدوخپل ځان ته منسوب كوي او ومُؤكِّل تـه نَـه منسـوب كوي مثلاً دارنګه وائي چي زَه بَيعَ كوم يائې زَه رانيسم يا زَه اِجَارَه كـوم نـو پـه ددې عُقُودُ ټوله حقوق په خپله دوكيل سره تَعَلّق لري دمُؤكِّل سره تَعَلّق نَه لري. ددې څومثالونه ئـې پـه متن كي بيان كړئ دي.مثلاً وكيل به مَبِيع ومُشتَرِي ته حواله كوي.وكيـل بـه دمَبِيـع پرقيمـت

باندي قبضه کوي.که وکيل څَه شئ رانيولئ وي نو دوکيل ښخه به دهغه دقيمت مُطَالَبَه کيږي.او که په مَبِيع کي يوعَيب ښکاره سي نو وکيل به په مُقَدّمَه کي خَصَم جوړيږي .

وجه : (١) دئ په خپله عَاقِد دئ او ده وخپل ځان ته دعَقد نِسبَت کړئ دئ نوځکه دئ به دحقوقُ ذِمّه دَارَه وي (٢) په يَوَه وُړد حديث کي راغلي دي چي حضرت بلال دحضورﷺ لپاره ديَوَه يَهُودِي ښخه قرض واخستئ نوهغه يَهُودِي دحضرت بلال ښخه دقرض مُطَالَبَه وکړه او وروسته حضرت بلال دهغه يَهُودِي قرضه اداّء کړه د وُړده حديث ټُکړَه داده حَدّثَنِي عَبدُاللهِ اَلهَوزَنِي يَعنِي اَبَا عَامِرَ اَلهَوزَنِي قَالَ لَقِيتُ بِلاَلاً مُؤَذِّنَ النّبِيِّﷺ بِحَلبٍ ... فَاِذَا اَلمُشرِکُ فِي عَصَابَةٍ مِنَ التّجّارِ فَلَمّا رَ آنِي قَالَ يَاحَبَشِيّ قُلتُ يَالَبِّيهِ فَتَهَجّمَنِي

[١٣٨٠](١١) وَكُلّ عَقدٍ يُضِيفُهُ الوَكِيلُ اِلْي مُوَ كِّلِهِ كَالنّكَاحِ وَالخُلعِ وَالصّلحِ عَن دَمِ العَمَدِ فَاِنّ حُقُوقَهُ يَتَعَلّقُ بِالمُوَكّلِ دُونَ الوَكِيلِ فُلاَ يُطَالَبُ وَكِيلَ الزّوجِ بِالمَهرِ وَلاَيَلزِمُ وَكِيلُ المَرأةِ تَسلِيمُهَا .

وَقَالَ قَولاً غَلِيظًا ... قُلتُ مَن كَانَ يَطلُبُ رَسُولَ اللهِﷺ دَينًا فَليَحضُر فَمَا زِلتُ اَبِيعُ وَاَقضِي وَاَعرِضُ وَاَقضِي حَتّي لَم يَبقَ عَلْي رَسُولِ اللهِﷺ دَينٌ فِي الاَرضِ (الف) (سنن للبيهقي.باب التوکيل في المال وطلب الحقوق وقضائها الخ ج٦ص١٣٣نمبر١١٤٣٥) په دې حديث کي يَهُودِي دحضرت بلال چي وکيل وُ دهغه ښخه قرض طلب کړئ او هغو دهغه هَديې ښخه قرضه اداّء کړه کوم چي حضورﷺ ته راغلې وه.ددې ښخه معلوم سوچي وکيل ددې حقوق ذِمّه دَارَه دئ .

[١٣٨٠](١١) او هرهغه عَقدکوم چي وکيل وخپل مُؤکِّل ته منسوب کوي لکه نِکاح.خُلع.دقَتلِ عَمَدښخه صُلح.نو ددې حقوق دمُؤکِّل سره تعلق لري نَه دوکيل سره.نوځکه د خَاوَند دوکيل ښخه به دمَهر مُطَالَبَه نَه کيږي او نَه دښځي پر وکيل باندي دښځي سُپُرد کول لازم دئ .

تشريح : په کوم کوم عَقدکي چي وکيل وخپل ځان ته دَعقدنِسبَت نَه کوي چي دا عَقد زَه کوم بلکه ومُؤکِّل ته نِسبَت کوي.مثلاً په وَادَه کي وکيل داسي وائي چي دفُلاَنِي سړي وَادَه د تاسره کوم.داسي نَه وائي چي زَه په خپله وَادَه کوم يا په خُلعَ کي وکيل داسي نَه وائي چي زَه په خپله خُلعَ کوم بلکه داسي وائي چي زَه دفُلاَنِي

حاشيه : (الف) وفرمائل ما په حَلب کي دحضورﷺ دمُؤذِّن بِلاَل سره مُلاَقَات وکړئ ... هغه وخت يَومُشرِک دتُجّارَانُ په جماعت کي وُ.چي څَه وخت ئې زَه وليدم نو وويل اىٔ حَبَشِي ! ماورته وويل چِش دئ ؟ بيائې ماته بَده وَينَا وکړه او سختي خبري ئې راته وکړې ... ماورته وويل څوک چي دحضورﷺ ښخه دَين غُوَارِي هغه دي راسي.نو مَا خرڅول او اداّء کول مِي او وُړاندِي کول مِي او اداّء کول مِي تر هغه وخته چي پر مځکه باندي پرحضورﷺباندي هيڅ ډَوَل قرض نَه سوپاته .

لخوا خُلعَ کوم نو په داسي عَقدُو کي ټوله حقوق دمُؤکِّل سره تَعَلّق لري دوکيل سره نَه لري.بلکه وکيل چي عَقدوکړي فارغ دئ.نو په نکاح کي به ښځه د وکيل ښخه دمَهر مُطَالَبَه نَه سي کولائي بلکه دخَاوَنديعني ميړه ښخه به کوي .

وجه : (۱) په دې عَقدُو کي وکيل صرف سَفِيرِمَحض وي چي دمُؤکِّل خبره دمَدِّمُقَابِل ومخته وُړَاندِي کوي.په دغه وجه خوعَقدوخپل ځان ته نَه بلکه ومُؤکِّل ته منسوب کوي.ګنَه نو عَقدکونکئ په اَصل کي په خپله مُؤکِّل وي.نوځکه ټوله حقوق به دمُؤکِّل سره مُتَعلّق وي (۲) په حديث کي ودې ته اِشَارَه سوې ده.په بخاري شريف کي يَوُړ.دحديث دئ چي يَوې ښځي خپل ځان وحضورﷺ ته وُړَاندِي کړئ.حضورﷺ سُکُوت اِختِيَار کړئ په دغه دَورَان کي يَوَه صحابي وويل چي ددې سره زُومَا وَادَه را وکړه نوحضورﷺ پوښتنه وکړه چي ستا سره د مَهرلپاره څَه سته ؟ هغو وفرمائل چي نَه.نوحضورﷺ وفرمائل ستا سره دقُرآنِ پاک څَه آيتونه سته ؟ هغو وفرمائل هُو! نوحضورﷺ دده سره وَادَه وروکړئ او دمَهر ذِمّه دَارِي ئې پر ده کړه.حضورﷺ دده وکيل وُ خو بيا هم د مَهر ذِمّه دَارِي پرحضورﷺ باندي نَه وه.دهغه وُړ.دَه حديث ټکړه داده سَمِعتُ سَهلَ بِنِ سَعدٍ اَلسّاعِدِيّ يَقُولُ اِنّي لَفِي القَومِ عِندَ رَسُولِ اللهِﷺ اِذ قَامَت اِمرَأةٌ فَقَالَت ... قَالَ هَل مَعَکَ مِنَ القُرآنِ شَئٌ ؟ قَالَ مَعِي سُورَةُ کَذَا وَسُورَةُ کَذَا قَالَ اِذهَب فَقَد اَنکَحتُکَ بِمَا مَعَکَ مِنَ القُرآنِ (الف) (بخاري شريف.باب التزوج علْي القرآن وبغيرصُداق ص ۷۷۳ نمبر۵۱۴۹) ددې حديث په آخري ټُکړه کي دئ چي ما دقرآن په وجه وَادَه در وکړئ ددې مطلب داسو چي د مَهر او دغه رنګه نوري ذِمّه دَارِي په خپله ستا دئ زُومَا نَه دي .

لُغَت : صُلحُ عَن دَمِ عَمَدٍ : په قصد سره قتل کړئ وُ چي دهغه لکبله پرقَاتِل باندي قصاص لازم وُ.لېکن دهغه په بَدلَه کې پر يَوځَه رقم باندي صُلح وکړه نو ودې ته صُلح عَن دَمِ عَمَد وائي .

حاشيه : (الف) حضرت سَعدِساعدي فرمائي چي دقَوم سره زَه دحضور په خدمت کي وَم چي يَوَه ښځه وَلاړَه سوه وويل ... حضور وفرمائل چي ستا سره دقرآنِ پاک څَه سورتونه سته ؟ وفرمائل مَاتَه فُلانَئ فُلاَنئ سورت ياد دئ.حضور وفرمائل وُلاړسَه چي څَه قُرأن دئ دهغه په وجه مَا ستَا نِکاح در وکړه .

[۱۳۸۱](۱۲) وَ اِذَا طَالَبَ المُؤکِّلُ اَلمُشتَرِي بِالثّمَنِ فَلَهُ اَن يَمنَعَهُ اِيّاهُ [۱۳۸۲](۱۳) فَاِن دَفَعَهُ اِلَيهِ جَازَ وَلَم يَکُن لِلوَکِيلِ اَن يُطَالِبَهُ ثَانِيًا [۱۳۸۳](۱۴) وَمَن وَکّلَ رَجُلاً بِشِرَ آءِ شَيئٍ فَلاَ بُدّ مِن تَسمِيَةِ جِنسِهِ وَصِفَتِهِ وَمَبلَغِ ثَمَنِهِ اِلاّ اَن يُوَکِّلَهُ وَکالَةًعَامّةً فَيَقُولُ اِبتَع لِي مَا رَأيتَ .

[۱۳۸۱](۱۲) که مُؤکِّل دمُشتَرِي څخه دقيمت مطالبه وکړه نو دمُشتَرِي لپاره جواز سته چي مُؤکِّل ددې څخه منع کړي .

تشريح : دقيمت غُوښتَلُو حق خو دوکيل وُ دمُؤکِّل نَه وُ او نَه مُشتَرِي مُؤکِّل پېژنِي.نوځکه که مُؤکِّل دمُشتَرِي څخه دهغه شِي قيمت وَغُوَارِي نو مُشتَرِي دا حق لري چي ومُؤکِّل ته ور نَه کړي.او داسي ووائي چي زَه ئې ستا و وَکِيل ته ورکوم .

وجه : عَقد وکيل کړئ دئ.او هغه دقيمت دغُوښتَلُو حق لري مُؤکِّل ئې نَه لري .

[۱۳۸۲](۱۳) او که مُشتَرِي ومُؤکِّل ته قيمت ورکړئ نو جائز دئ.اُوس دوَکِيل لپاره دا جواز نسته چي دُوبَاره مُطَالَبَه ځيني وکړي .

تشريح : مُشتَرِي ته په کار وُ چي وکيل ته قيمت ورکړئ وائ لېکن ده ومُؤکِّل ته دمَبِيع قيمت ورکړئ نو دا هم جائزدئ.اُوس وکيل دا حق نَه لري چي دمُشتَرِي ځخه دوباره بيا قيمت وُصُول کړي .

وجه : په حقيقت کي قيمت دمُؤکِّل وُ او هغه ته ورسېدئ نو شَئ وخپل ځائ ته ورسېدئ لِهٰذَا جائز سو.او کوم کار چي کول په کار وُهغه وسو نوځکه وکيل دُوبَارَه بيا دمُشتَرِي ځخه دقيمت غُوَښتَلُو حَق نَه لري .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چي حَق وحقدار ته ورسيږي نو هيڅ خبره نَه ده .

[۱۳۸۳](۱۴) يَوچَا يَوځوک ديَوشِي د رَانِيوَلُو وکيل جوړ کړئ نو دهغه دجِنس. د صِفَت او دقيمت وَربَنُوَل ضروري دئ.مګر دا که عام وکيل جوړ کړي او ورته ووائي چي څَه مناسب وَګَنې هغه زُومَا لپاره وَاخلَه .

تشريح : د وکيل جوړولو لپاره ضروري دئ چي دکوم شِي د رانيولولپاره وکيل جوړوي يائې دکوم کار دکولولپاره وکيل جوړوي دهغه جِنس مُتَعَيّن کړي مثلاً دا چي بُوزَه رانيسه رَانِيوَلَه.دهغه صِفَت به مُتَعَيّن کوي مثلاً داچي ښَه بُوزَه رَاوُلَه.او دهغه دقيمت مِقدَار بايدمُتَعَيّن کړي مثلاً په يَوه دِينَار بُوزَه رانيسه.نوبيا وکالت صحيح کيږي. لېکن ! که چيري و وکيل ته عَام وکالت ورکړي او دا ورته ووائي چي ستا کوم شَئ خُوَښ سي هغه رَاوُړَه نوبيا هم وکالت صحيح دئ .

وجه : (۱) په حديث کي د وکيل جوړولوپرمحال جِنس او قيمت مُتَعَيّن کړئ دئ عَن عُروَةَ يَعنِي اِبنَ الجَعدِ اَلبَارِقِيّ قَالَ اَعطَاهُ النَّبِيّﷺ دِينَارًا يَشتَرِي بِهِ اُضحِيَةً اَو شَاةً فَاشتَرْي شَاتَينِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب فِي المضارب يخالف ص۱۲۴ نمبر۳۳۸۴\ترمذي شريف.باب الشرآء والبيع الموقوفين ص نمبر۱۲۵۸) په دې حديث کې بُوزَه چي جِنس دئ او قيمت ئې يَو دِينَار دوکيل لپاره متعين کړئ دئ.او دقيمت ځخه دبُوزې صِفَت هم معلوم سو چي څَه رنګه بُوزَه په کار ده ؟ نوځکه جِنس.صِفَت او قيمت معلومول ضروري دئ.او دوکالتِ عَامّه دليل د يَوَه وُړدَه حديث ټُکړه ده عَن جَابِرِ بنِ عَبدِاللهِ قَالَ کُنتُ مَعَ النَّبِيّﷺ فِي سَفَرٍ ... فَلَمّا قَدِمنَا اَلمَدِينَةَ قَالَ يَابِلاَلُ اِقضِهِ وَزِدهُ فَاَعطَاهُ اَربَعَةَ دَنَانِيرَ وَزَادَهُ قِيرَاطًا (ب) (بخاري شريف.باب اذا وکل رجلٌ رجلاً ان يعطي شيئا ولم يبين کَم يعطي فاعطْي علْي مايتعارفه النّاسُ ص۳۰۹نمبر۲۳۰۹) په دې حديث کې وحضرت بلال ته دا نَه دي فرمائلي چي په دُونَه اندازه ورکړه بلکه ورته وفرمائل چي دقرض د ادآء کولو ځخه علاوه چي تَه څَه مناسب ګَنې هغه زيات ورکړه.نوحضرت بلال دعُرفِ عَام په اِعتِبَار سره يَوقِيرَاط مناسب وَګَانئ اويَوقيراط ئې زيات ورکړئ.ددې حديث ځخه معلوم سو

حاشيه : (الف) اِبنِ جَعدِبَارِقِي ته حضور يَودِينَار ورکړئ چي په دې باندي دقربانئ حيوان يا بُوزَه رانيسه نو هغو دوې بُوزې رانيولې (ب) حضرت جَابِربن عبدالله فرمائي چي زَه دحضور سره په يَوَه سفرکي وَم ... چي کله

مورِ مدينې ته راغلو نوحضور وفرمائل ائ بِلاَل ! دې ته قرض ورکړه او څَه زيات هم ورکړه بِلاَل وحضرت جابر ته څلور دِينَارَ ورکړه او يَوقِيرَاط ئې زيات ورکړئ .

[۱۳۸۴](۱۵) وَ اِذَا اِشتَرْي الوَكِيلُ وَقَبَضَ المَبِيعَ ثُمّ اِطّلَعَ عَلْي عَيبٍ فَلَهُ اَن يَرُدّهُ بِالعَيبِ مَادَامَ المَبِيعُ فِي يَدِهِ فَاِن سَلّمَهُ اِلْي مُؤكِّلٍ لَم يَرُدّهُ اِلاّ بِاِذنِهِ .

چي که عام وکيل جوړ کړي نوبيا چې وکيل مناسب وګڼي دهغه مطابق به وي.او دارنګه وکيل جوړول صحيح دئ (۲) که دارنګه جِنس بيان کئ چي په هغه کي بنَه ډېرجَهَالَت وُ نو وکالت نَه صحيح کيږي ځکه چي وکيل به دکوم جِنس مطابق کار کوي؟ او دا به اَنجَام ته څَه رنګه رسوي؟ لېکن که چيري لَږ ډېر جهالت وُ نو هغه قَابِل د برداشت دئ.ځکه چي ددې په تَعيين کي بيا ډېر زيات حرج دئ او حَرَج مَدفوع دئ.نوځکه دجهالتِ يَسِيرَه سره هم وکالت صحيح کيږي .

[۱۳۸۴](۱۵) که وکيل رانيوئ او پر مَبِيع ئې قبضه وکړه بيا په عَيب خبرسو نو دده لپاره دا جواز سته چي دعَيب په وجه بېرته وَاپَس کړي تر څوچي مَبِيع دده په قبضه کي وي.که چيري مَبِيع ومُؤكِّل ته سُپرد کړه نو هغه نَه سي وَاپَس کولائي مګر دمُؤكِّل په اِجَازَت سره .

تشريح : وکيل مَبِيع رانيوه بيائې پرهغه باندي قبضه وکړه.وروسته معلوم سوچي په دې مَبِيع کي عَيب دئ نو ترڅوچي مَبِيع دده په لاَس کي ده ترهغه وخته پوري د خِيَارِعَيب تحت وبائع ته وَاپَس کولائي سي.او که مبيع ومُؤكِّل ته حواله کړه نو اُوس دمُؤكّل د اِجَازَت بغيره دعَيب په وجه مَبِيع نَه سي وَاپَس کولائي .

وجه : ځکه چي څَه وخت ئې ومُؤكِّل ته حواله کړه دده وَكَالَت ختم سو.نو د وکالت دختم کېدو څخه مخکي ده وَاپَس کولائي سوه.دوکالت دختم کېدو وروسته دمُؤكِّل داِجَازَت بغيره نَه سي وَاپَس کولائي .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چي د وکالت دختم کېدوڅخه مخکي اِختِيَاراستعمالولائي سي.چي وکالت ختم سي بيا اِختِيَارنَه سي استعمالولائي .

[۱۳۸۵](۱۶) وَيَجُوزُ اَلتّوكِيلُ بِعَقدِالصّرفِ وَالسّلَمِ [۱۳۸۶](۱۷) فَاِن فَارَقَ الوَكِيلُ صَاحِبَهُ قَبلَ القَبضِ بَطَلَ العَقدُ وَلاَيُعتَبَرُ مُفَارَقَةُ المُؤكِّلِ .

لُغَت : سَلّمَهُ : سُپرد ئې کړئ.حواله ئې کړئ .

[۱۳۸۵](۱۶) د عَقدِصَرف يا د عَقدِسِلَم وکيل جوړول هم جائز دئ .

تشريح : لکه څَه رنګه چي په عام تِجَارَت کي وکيل جوړول جائزدئ دغه رنګه په بَيعِ صَرف او بَيعِ سِلَم کي هم وکيل جوړول جائز دئ .

وجه : (١) په اَثَر کي راغلي دي چي حضرت عُمَر اِبنِ عُمَر په بَيعِ صَرف کي وکيل جوړکړئ وُ. وَقَد وَکّلَ عُمَرُ اِبنَ عُمَرَ فِي الصّرفِ (الف) (بخاري شريف.باب الوکالة في الصرف والميزان ص٣٠٨نمبر٢٣٠٢) (٢) و انسان ته دعام تِ َجارَت په شان دبَيعِ صَرف او بَيعِ سِلَم ضرورت هم پيښيږي . نوځکه په دي کي به هم وکالت جائز وي .

[١٣٨٦](١٧) که وکيل دمُعَامَلې کونکي څخه جلا سو دقبضې څخه مخکي نوعَقدبه بَاطِل سي.او دمُؤکِّل دجلاوالي اِعتِبَار نسته .

تشريح : مخته تېرسوئ دئ چي په بَيعِ صَرف کي پر ثَمَن او مَبِيع باندي دقبضې څخه مخکي بَائع يا مُشتَرِي جلا سي نوبَيعَ بَاطل ده لېکن دَلتَه حقوق د وکيل سره مُتَعلّق دي او عَقد هم هغه کړئ دئ نوځکه د وکيل دجلاکېدل مُعتَبَردئ.د مُؤکِّل دجلاکېدو اِعتِبَار نسته. لِهٰذَا که وکيل د قبضې کولوڅخه مخکي جلاسو نو بَيعِ صَرف يا بَيعِ سِلَم باطليږي.دمُؤکِّل جلاکېدل هيڅ فرق نَه راؤلي.ځکه چي هغه عَاقِد نَه دئ .

حاشيه : (الف) حضرت عُمَر اِبنِ عُمَر يعني خپل زُوئي د بَيعِ صَرف وکيل جوړ کړئ .

[١٣٨٧](١٨) وَ اِذَا دَفَعَ الوَکِيلُ بِالشِّرَ آءِ الثّمَنَ مِن مَالِهِ وَقَبَضَ المَبِيعَ فَلَهُ اَن يَرجِعَ بِهِ عَلٰي المُؤکِّلِ [١٣٨٨](١٩) فَاِن هَلَکَ المَبِيعُ فِي يَدِهِ قَبلَ حَبسِهِ هَلَکَ مِن مَالِ المُؤکِّلِ وَلَم يَسقُطِ الثّمَنُ وَلَهُ اَن يَحبِسَهُ حَتّٰي يَستَوفِيَ الثّمَنَ .

[١٣٨٧](١٨) که د رَانِيوُلُو وکيل دخپل مال څخه قيمت ورکړئ او پرمَبِيع ئې قبضه وکړه نو د ده لپاره جواز سته چي دمُؤکِّل څخه هغه قيمت وُصُول کړي .

تشريح : د يَوشِي د رانيولو وکيل وُ نو ده هغه شَئ رانيوئ او قيمت ئې دخپل ځانه څخه ورکړئ او پر مبيع ئې قبضه وکړه نو دئ دا حق لري چي دمُؤکِّل څخه اَوّل د شِي قيمت وُصُول کړي بيا هغه شَئ حواله کړي .

وجه : (١) چي مُؤکِّل وکيل جوړکړئ نودئ ګواکه پر دې خبره راضي سوئ دئ چي وکيل دخپل ځان څخه قيمت ورکړي نو زَه به هغه ادآء کوم (٢) اُوس وکيل او مُؤکِّل ګواکه بائع او مُشتَرِي دي.وکيل بائع دئ او مُؤکِّل مُشتَرِي دئ.نوځکه بائع به دمُشتَرِي څخه قيمت وصولوي.لِهٰذَا وده ته دقيمت د وصولولو حق دئ .

اُصُول : دا مسئله پر دې اُصُول مُتَفَرّع ده چي وکيل خپلي پيسې دمُؤکِّل لپاره پَسَاؤ کړي دي نودئ دهغه د وصولولو حق لري .

[١٣٨٨](١٩) که چيري مَبِيع د وکيل په لاَس کي دده د مَنعَ کولو څخه مخکي هلاک سي نو دمُؤکِّل دمال څخه هلاک سوه او ثَمَن نَه ساقطيږي .

تشريح : په دې عِبَارَت کي دوې خبري دي.يَوَه خبره خو داده چي وکيل دا حق لري چي دخپل ځان څخه چي کوم قيمت ورکړئ دئ دهغه د وُصُولَوُلو لپاره مَبِيع دځان سره وَسَاتِي او منع کړي او ترڅه وخته پوري چي مُؤَکِّل وده ته قيمت نَه وي ورکړئ ترهغه وخته دي وکيل وده ته مَبِيع نَه حواله کوي.ددې وجه تېره سوې ده چي وکيل او مُؤَکِّل اُوس د بائع او مُشتَرِي په درجه کي سول.او دُوَمَه خبره داده چي وکيل دخپل ځان څخه ورکړي قيمت دوُصُولَئ لپاره مَبِيع لاَ تر اُوسَ مَنعَ کړې نَه وه چي مَبِيع د وکيل په لاَس کي هلاک سوه نو دا دمُؤَکِّل شئ دي چي هلاک سو دوکيل نَه دئ.اووکيل اُوس هم دخپل ځان څخه ورکړئ قيمت د مُؤکّل څخه وصولولائي سي.

وجه : (١) تر څَه وخته پوري چي وکيل مُؤكِّل منع کړئ نَه وي ترهغه وخته پوري مَبِيع دوکيل په لاَس کي د اَمَانَت په حَيث ده.او د اَمَانَت قاعده داده چي ببله تَعَدّ◌◌ِي هلاک سي نوپر هغه ضَمَان نَه راځي.نوځکه دمُؤكِّل مال دوکيل په لاَس کي د اَمَانَت په حَيث وُ لِهٰذَا چي هرڅَه هلاک سو هغه دمُؤكِّل د هلاک سو.نوځکه وکيل خپل ورکړئ قيمت دمُؤكِّل څخه وصولولائي سي (٢) په بخاري شريف کي يَو وُړد حديث دئ چي ابوهريرة ئې د زکوٰة دمال دحفاظت وکيل جوړ کړئ.لېکن شيطان تر درو ورځو پوري دده څخه مال غَلاَ کاوئ. او حضور ﷺپر ابوهريرة باندي ددې درو ورځو ضمان نَه دئ لازم کړئ. ددې څخه معلوم سوچي د وکالت مال د وکيل په لاَس کي د اَمَانَت په حَيث دئ.حديث دادئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ وَکّلَنِي رَسُولُ اللهِﷺ بِحِفظِ زَکوٰةِ رَمَضَانَ فَاَتَانِي آتٍ فَجَعَلَ يَحثُوا مِنَ الطّعَامِ فَاَخَذتُهُ وَقُلتُ لاَرفَعَنّکَ اِلٰي رَسُولِ اللهِﷺ قَالَ اِنّي مُحتَاجٌ وَعَلَيّ عَيَالٌ وَلِي حَاجَةٌ شَدِيدَةٌ قَالَ فَخَلّيتُ عَنهُ (الف) (بخاري شريف.باب اذا وکل رجلاً فترک الوکيل شيئا فاجازه المؤکِّل فهوجائزٌوان اقرضه اِلٰي اجلٍ مسمّي جازص٣١٠نمبر٢٣١١) په دې حديث کي دشيطان دغَلاَ کولو ضَمَان پر حضرت ابوهريرة باندي نَه دئ لازم سوئ (٣) عَنِ الحَسَنِ قَالَ اَلمُضَارِبُ مُؤتَمَنٌ وَاِن تَعَدّٰي اَمرَکَ (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب ضمان المقارض اذا تعدٰي ولمن الربح ج٨ص٢٥٥نمبر١٥١٢١) چي مُضَارِب اَمِين دئ نو وکيل به هم اَمِين وي.

حاشيه : (الف) حضرت ابوهريره فرمائي چي حضورﷺ زَه د روژې د زکوٰة د حفاظت وکيل جوړ کړم.نو يَوسړئ راغلئ او په خُوَرَاکِي شيانو ئې لَپِي ډکَوَلي نو مَا هغه ونيوئ.او مَا ورته وويل چي زَه به تا حضورﷺلره بيايم.ده وويل چي زَه محتاج يَم او پر مَا باندي د عَيَال بوج دئ او مَا ته سخت ضررت دئ.حضرت ابوهريره فرمائي چي مَا دئ پرېښوئ (ب) حضرت حَسَن فرمائي چي مُضَارِب اَمَانَت دَارَه دئ که څَه هم ستا په معامله کي تَعَدِّي کړې وي .

[١٣٨٩](٢٠) فَاِن حَبَسَهُ فَهَلَکَ فِي يَدِهِ کَانَ مَضمُونًا ضَمَانَ الرِّهنِ عِندَ اِبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ وَضَمَانَ المَبِيعِ عِندَ مُحَمّدٍ رَحِمَهُ اللهُ .

[١٣٨٩](٢٠) كه مَبِيع مَنعَ كړه بيا د وكيل په لاَس كي هلاک سوه نو د رِهن دضَمَان په شان به ددې ضَمَان وي د امام ابويوسف په نېز او دمَبِيع دضمان په شان به ضَمَان وي د امام محمد په نېز .

تشريح : كه وكيل دقيمت د اَخَستَلُو لپاره دمُؤكِّل څخه مَبِيع منع كړه نو اُوس دا مبيع اَمَانَت نَه سوه پاته بلكه مَضمُونَ سوه نوځكه كه چيري دا اُوس هلاک سي نو د وكيل دمال څخه به هلاكيږي. اُوس په دي كي اختلاف دئ چي څَه رنګه ضَمَان به پر وكيل راځي؟ د مَبِيع ضَمَان كه د رِهن ضَمَان؟ د امام محمد په نېز دمَبِيع ضمان لازميږي .

وجه : چي وكيل مَال مَنعَ كړئ نودئ د بَائِع په شان سو چي بَائِع ئې دقيمت د وُصُولَوُلو لپاره د مُشتَرِي څخه منع كړي او بيا مبيع هلاک سي نو دمبيع چي هرڅونه قيمت وي هغونه به ساقط سي اودمُشتَرِي څخه يَوشَئ نَه سي اخستلائي. ځكه چي ومُشتَرِي ته هيڅ شَئ وركړي نَه دئ چي دهغه څخه قيمت وَاخلِي. او د امام ابويوسف په نېز به د رِهن ضَمَان وي.ددې مطلب دادئ چي د مُرتَهِن سره شَئِ مَرهُون هلاک سي نو دا به كَتَل كيږي چي دشَئِ مَرهُون قيمت څونه وُ او قرض څونه وُ؟ چي هرڅونه قرض وي هغونه به ساقط سي او كه د شَئِ مَرهُون قيمت زيات وي نو هغه به و رَاهِن ته وَاپَس كوي.مثلاً قرض زَر روپۍ وُ او دشَئِ مَرهُون قيمت دُوُلَس سوه روپۍ وُ او شَئِ مَرهُون هلاک سي نو زَرروپۍ قيمت به د زَر روپۍ قرض په بَدلَه كي ساقط سي.او دُوَه سوه روپۍ كوم چي زياتي وې هغه وَاپَس كول لازم دي.دغه صورت دلته هم دئ چي كه دمَبِيع بَازَارِي قيمت د وركړي ثَمَن څخه كَم وي نو چي

[١٣٩٠](٢١)وَ اِذَا وَكَّلَ رَجُلٌ رَجُلَينِ فَلَيسَ لاَحَدِهِمَا اَن يَتَصَرَّفَ فِيمَا وُكِّلاَ فِيهِ دُونَ الآخَرِ .

هرڅونه بَازَارِي قيمت كم وي هغونه به ساقط سي.او ددې څخه زيات چي كوم ثَمَن وي هغه به وكيل دمُؤكِّل څخه وصولوي.مثلاً دشِي بَازَارِي قيمت زَر روپۍ دئ او هغه ثَمَن كوم چي وكيل ادآء كړي دي هغه دُوُلَس سوه روپۍ دي نو وكيل به دمُؤكِّل څخه دُوَه سوه روپۍ وصولوي .

وجه : دئ فرمائي چي مبيع د مَنعَ كولو څخه مخكي مَضمُون نَه وه.د منع كولو وروسته ددې ضَمَان لازم سو نو په رِهن كي هم دغه حال دئ چي شَئِ مَرهُون دمنع كولو څخه مخكي اَمَانَت دئ او دمنع كولو وروسته د قَرض په اندازه مَضمُون دئ .

اُصُول : دوكالت شَئ دمنع كولوڅخه مَضمُون ګرزي دهغه څخه مخكي اَمَانَت وي.

[١٣٩٠](٢١) كه يَوچَا دُوَه كسان وكيلان جوړ كړل نو په دي كي ديَوَه لپاره جواز نسته چي ببله هغه بَل تَصَرّف وكړي په كوم شِي كي چې وكيلان جوړكړي دي .

تشریح ؛ دُوَه کسان ئې دیو کار وکیلان جوړ کړل نوپه دي کي دیَوَه لپاره دا جواز نسته چي هغه بَل پریږدي یَوَاځِي دغه کار وکړي.بلکه په دغه کار کي د دواړو وکیلانو شرکت ضروري دئ .

وجه : مُؤکِّل د دواړو پر رَایَه باندي اِعتِمَاد کړئ دئ د یوه پر رَایَه اِعتِمَاد نَه دئ کړئ نوځکه د دواړو رَاېِي شاملېدل ضروري دي.البته په کومو کارو کي چي د رَاېِي ضرورت نسته بلکه صرف د مُؤکِّل خبر وُړَاندِي کول وي هلته که د دواړو وکیلانو څخه یَوَه وکیل کار وکړي نو هم جواز پیدا کوي .

اُصُول : په کوم ځائ کي چي د رَاېِي ضرورت وي هلته دوه کسان وکیلان جوړ کړل نو په هغه کار کي د دواړو رَاېِي شاملېدل ضروري دي .

[۱۳۹۱](۲۲) اِلاّ اَن یُوَکِّلَهُمَا بِالخُصُومَةِ اَو بِطَلاَقِ زَوجَتِهِ بِغَیرِ عِوَضٍ اَو بِعِتقِ عَبدِهِ بِغَیرِعِوَضٍ اَو بِرَدِّ وَدِیعَةٍ عِندَهُ اَو بِقَضَآءِ دَینٍ عَلَیهِ .

[۱۳۹۱](۲۲) مګر دا چي دواړه وکیل جوړکړي دمُقَدّمې لپاره یا بېله عِوَضَ وخپله ښځه ته دطلاق ورکولو لپاره یا بغیره عِوَضَ دخپل غُلاَم د آزادولو لپاره یا دده سره چي کوم اَمَانَت وُ دهغه د وَاپَس کولو لپاره یا پر ده چي کوم قرض وُ دهغه د ادآء کولو لپاره .

تشریح : دلته پِنځَه مثالون ورکړي دي ددې ټولو حاصل دادئ چي په کومو کارو کي چي د رَاېِي ضرورت نَه وي صرف دمُؤکِّل خبره وُړَاندِي کول وي په دي کي که چیري دُوَه کسان وکیلان جوړ کړل او یوه وکیل کار وکړئ نو هم صِحّت پیدا کوي.مثلاً که د خُصُومَت لپاره دُوَه کسان وکیلان جوړ کړه او دواړه دقاضي په مجلس کي خَبَرِي شروع کړي نو شور شرابه به پیدا سي او دا دقاضي دمجلس خلاف او بې ادبي ده.نوځکه دیوه وکیل وَینَا کول کفایت کوي.دغه رنګه بېلَه څَه عِوَضَ و مَینَه ته طلاق ورکول دئ نو عِوَض خو نَه اَخلِي صرف دخَاوَند یعني مېړه خبره نَقل کول یعني دې ته رسول دئ چي دهغه څخه طلاق وَاقِع سي.نوځکه په دي کي د هغه بَل وکیل دمَشوَرې څَه خاص ضرورت نسته لِهٰذَا که یَو وکیل کار وکي نو هم صحیح دئ. بېله عِوَضَ دغُلاَم په آزادېدو کي هم دغه حال دئ. دیوچا اَمَانَت دسړي سره وي نو هغه امانت خو به په هرحال کي ببېرته وَاپَس کوي نوځکه په دي کي هم دهغه بَل وکیل د رَاېِي څَه خاص ضرورت نسته.یا قرض ادآء کول دئ نو دا خو هم په هرحال کي ادآء کول ضروري دئ نوځکه دهغه بَل وکیل دمَشوَرې څَه خاص ضرورت نسته.لِهٰذَا که یَو وکیل وکړي نو صِحّت پیدا کوي .

پام لرنه : که دارنګه وويل چي که ستاسوخُوَښَه سي نو تاسو دواړه طلاق ورکئ نو دلته خو اُوس د رَاېِي ضرورت سته ځکه د دواړو وکيلانو هم ضرورت سته .

[١٣٩٢](٢٣) وَلَيسَ لِلوَكِيلِ اَن يُوَكِّلَ فِيمَا وُكِّلَ بِهِ اِلاّ اَن يَأذَنَ لَهُ المُؤكِّلُ اَو يَقُولَ لَهُ اِعمَل بِرَأيِکَ [١٣٩٣](٢٤) فَاِن وَكّلَ بِغَيرِ اِذنِ مُؤكِّلِهِ فَعَقَدَ وَكِيلُهُ بِحَضرَتِهِ جَازَ .

[١٣٩٢](٢٣) دوکيل لپاره جواز نسته چي په هغه کار کي بَل څوک وکيل وګرزوي په کوم کار کي چې دئ وکيل ګرزولئ دئ مګر دا چي مُؤکِّل اِجَازَت ورکړي يا وده ته مُؤكِّل ووائي چي پر خپل صَوَاب دِيد باندي کار وکه .

تشريح : مُؤكِّل چي دکوم کار وکيل جوړکړئ دئ وکيل وَغُوَاړِي چي بَل څوک ددې کار وکيل جوړ کړي داسي نَه سي کولائي.لېکن ! چي مُؤكِّل د بَل چا دوکيل جوړولو اِجَازَت ورکړي يا دارنګه ورته ووائي چي دخپل صَوَاب دِيد مطابق کار کولائي سې.نو دئ بيا بَل څوک هم ددې کار لپاره وکيل جوړولائي سي .

وجه : (١) مُؤكِّل دوکيل پر رَايَه باندي اِعتِمَاد کړئ دئ.د وکيل د وکيل پر رَايَه باندې اِعتِمَاد نَه دئ کړئ.نوځکه دئ وکيل نَه سي جوړولائي (٢) قاعده داده چي کومه عُهدَه تاته سپُرد سوې ده بېله اِجَازَتَ هغه عُهدَه وبَل چَاتَه نه سې سپُرد کولائي. لېکن ! که اِجَازَت ورکړي بيا وکيل جوړولائي سي. لېکن وروسته هغه وکيل په خپله دأَصل مُؤكِّل وکيل ګرزي د وکيل وکيل نَه ګرزي .

[١٣٩٣](٢٤) که د مُؤكِّل داِجَازَت بغيره وکيل جوړ کړئ.بيادهغه وکيل دده په مخکي عَقد وکئ نو دا جائز دئ .

تشريح : وکيل د مؤکل د اجازت بغيره وکيل جوړ کړئ.بيا دې دوم وکيل دهغه اَوّل وکيل په مخکي هغه کار وکئ نو صحيح دئ .

وجه : د وکيل په جوړولو کي اَصل مقصد رَايَه ده.نو چي دې دوم وکيل دهغه اَوّل وکيل په حُضُور کي کار وکئ نو د اَوّل وکيل رَايَه په دې کار کي شامل سوه.نو د دوم وکيل کار کول صحيح دئ.ګواکه هغه مَخکَنِي وکيل کار کړئ دئ .

[١٣٩٤](٢٥) وَاِن عَقَدَ بِغَيرِ حَضرَتِهِ فَاَجَازَهُ الوَكِيلُ الاَوّلُ جَازَ [١٣٩٥](٢٦) وَلِلمُوَكِّلِ اَن يَعزِلَ الوَكِيلَ عَنِ الوَكَالَةِ فَاِن لَم يَبلُغهُ العَزلُ فَهُوَ عَلْي وَكَالَتِهِ وَتَصَرّفُهُ جَائِزٌ حَتْي يَعلَمَ .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چي د وَکِيلِ اَوّل رَايَه شاملېدل کفايت کوي .

[١٣٩٤](٢٥) او که د وکيل په غَيرِموجودګي کي کار وکئ بيا وکيل اِجَازَت ورکړئ نو جواز پيدا کوي .

تشريح : وکيل د مُؤکِّل داجازت بغيره وکيل جوړکړئ ؤ بيا هغه د وَکِيلِ اَوّل په غيرموجودګي کي کار وکئ بيا وَکِيلِ اَوّل هغه کار خُوَښ کړئ او اجازت ئې ورکړئ نو هم جواز پيدا کوي .

وجه : د وَکِيلِ اَوّل رَايَه شاملېدل اَصل ؤ هغه وُسُو نوځکه ددې کار کول جائزسو .

[۱۳۹۵](۲۶) او دمُؤکِّل لپاره جائز دئ چي وکيل د وَکَالَت څخه مَعزُول کړي.بيا که چيري وکيل ته دمَعزُولېدو خبر نَه وَرَسېدَئ نو دئ پرخپل وَکَالَت باندي برقراره پاته دئ او دده تَصَرّف جائزدئ ترهغه وخته چي دئ خَبرِيږي .

تشريح : دا وکيل خو مُوَکِّل وکيل جوړکړئ دئ او دا دده حَق هم دئ نو دئ دا حَق هم لري چي وکيل دوَکَالَت څخه مَعزُول کړي.البته دمَعزُولَئ لپاره د وکيل خبرېدل ضروري دئ.نوځکه ترڅوچي وکيل ته دخپلي مَعزُولَئ خَبَر نَه وي ترهغه وخته پوري دئ وکيل پاته دئ.او په دغه مَحَال کي دده رَانِيوَل خرڅول جائز دئ .

وجه : په دې وجه مَعزُولَوَلاَئي سي چي دا دمُوَکِّل حَق دئ.او دوکيل خبرېدل په دې وجه ضروري دئ چي که دئ خَبَر نَه وي نو دتَصَرّف څخه به څَه رنګه ځان منع کوي؟ دئ خو به دخپل عِلم او خَبَرتِيَا مطابق خپل کارونه اَنجَامَوِي او خريدوفروخت به کوي.بيا په دغه مَحَال کي که چيري ده خپلي پيسې ورکړي وي نو دغه رَقَم خو به دمُوَکِّل څخه ببرته وَاپَس اَخلِي. لِهٰذَا که چيري ببله خَبرِېدُو دئ مَعزُول سي نو ببله

[۱۳۹۶](۲۷) وَتَبطُلُ الوَکَالَةُ بِمَوتِ المُوَکِّلِ وَجُنُونِهِ جُنُونًا مُطبِقًا وَلِحَاقِهِ بِدَارِالحَربِ .

څَه وَجهِ به وَکِيل ته ضَرَر او نقصَان ورسيږي .

پام لرنه : د معزولېدو درې قِسم حالات وي او د دُرُو سره حُکم جلاجلا دئ.اَوّل صورت دا چي مُوَکِّل وکيل معزول کړي نو تر څو چي وکيل ته خَبَر نَه وي رسېدلئ ترهغه وخته نَه معزوليږي. دُوَم صورت دا چي دقُدرَتِي حالاتُ په وجه وکيل معزول سي مثلاً مُوَکِّل وفات سي يائې د يوې خاص ښځي سره دنکاح لپاره وکيل جوړکړئ ؤ او هغه ښځه مړه سوه نو ددې قُدرَتِي حالاتُ په وجه هم وکيل په خپله مَعزُولِيږي.که څَه هم وکيل ته اِطّلاَع وي يا نَه وي. او دريم صورت دادئ چي دکوم کار لپاره وکيل جوړکړئ ؤ هغه کار مُوَکِّل په خپله وکړئ نو که څَه هم وکيل ته ددې عِلم نَه وي خو بيا هم مَعزُولِيږي.ځکه چي هغه کار پاته نَه سو نو څَه رنګه به وکيل وي؟ مثلاً مُوَکِّل دغُلاَم دخرڅولولپاره وکيل جوړ کړئ بيا ده په خپله هغه خرڅ کړئ يائې آزاد کئ نو که څَه هم وکيل ته ددې عِلم نَه وي خو وَکَالَت به باطل سي.راروانه مسئله کي ددې تفصيل سته .

اُصُول : چي په خپل اِختِيَار ئې معزول کړي نو د وکيل خبرېدل ضروري دئ .

[۱۳۹۶](۲۷) وَكَالَت باطل گرزي دمُوَكِّل پـه مَـړ كېـدو سـره.دهغه د بالكـل لِېوَنـتُـوب ښځه يا چي مُرتَدسي دَارالحَرب ته وُلاَړ سي .

تشريح : دمُؤكِّل حالت دارنګه سوچي دوكيل جوړېدوقابل نَـه سـوپاته ددې ښځـه هـم وكالـت باطليږي.او په داسي حالت كـي و وكيـل تـه دمَعزُولَـئ خَبَـر رسـېدل ضـروري نَـه دئ.بېلـه اِطِّلاَع به وكيل مَعزُول سي.مثلاً وكيل مَړسـو يـا بالكليـه پَاګَـل سـو.دمُكَمّل پـاګلتوب مطلـب دادئ چي دئ پوره مياشته پاګل وُ يا مُرتَد سو او دَارُالحَرب تـه وَتَښـتېدَئ اوقاضـي هـم دده دتَښتېدَلُو فيصله وكړه نو بېله خبرېدو هم د وكيل وكالت باطليږي .

[۱۳۹۷](۲۸) وَاِذَا وَكّلَ المُكَاتَبُ رَجُلاً ثُمّ عَجَزَ اَوِ المَأذُونُ لَهُ فَحَجَـرَ عَلَيهِ اَوِالشّرِيكَانِ فَافتَرَقَا فَهْذِهِ الوُجُوهُ كُلّهَا تَبطُلُ الوَكَالَةَ عَلِمَ الوَكِيلُ اَو لَم يَعلَم .

وجه : (۱) چي په اَوّل كي دغه صورت رامينځ ته سي هم وكيل نَه سي جوړولائي نو اُوس به وكالت پرخپل ځائ ځَه رنګه پاته وي ؟ (۲) مُؤكِّل په دې دُنيا كي نَه سوپاته نو دده وكيل بـه څَـه رنګـه وي ؟ (۳) وكيـل فَـرع دئ مُؤكِّل اَصـل دئ.چـي پـه اَصـل كـي د كـار كولـو صَلاَحِيّت نَه سوپاته نو وكيل چي فَرع دئ په هغه كي بـه د كـار كولـو صَـلاَحِيّت او اَهلِيّـت څَه رنګه پاته وي ؟

پام لرنه : مخكي تيرسو چي د لېونتوب ښځه او و دَارُالحَرب تـه دتُلُـو ښځـه پـه انسـان كـي دتَصَرّف كولو صَلاَحِيّت نَه پاتيږي .

اُصُول : چي دقُدرَتِي حادثې په وجه وكيل نَه سي خَبَربياهم وكالت ختميږي .

پام لرنه : دحَاكِم او اميرچي هرڅونه وكيلان دي نو ددُوئي په مرګ سره دوكيلانـو وكالـت نَه ختميږي دُوئي به پرخپل وكالت باقي پاته وي .

وجه : (۱) دُوئي په حقيقت كي دحَاكِم او امير وكيلان نَـه دي بلكـه دعَوَامُـو وكـيلان دي او هغه ژُوَندِي دي.نوځكه د دُوئي وكالت نَه باطليږي (۲) حضورﷺ ددُنيا ښځه تشريف يُوړَئ لېكن دده مُتَعَيّن كړي ټولُووكيلانو پرخپلوخپلوځايو كار كاوئ. يَو هم دده دوفات ښځه نَه دئ معزول سوئ .

پام لرنه:مُرتَد كه دَارُالحَرب ته نَه وي تَلَلَئ نودده تَصَرّف ترهغه وختـه موقـوف دئ نوځكـه دده وكيل نَه مَعزُولِيږي.دمُؤكِّل په شان صِرف دده تَصَرّف به موقوف وي.

لُغَت : مُطبِقٌ : عَقل پَټَوُنګَئ لېونتوب.مكمل پاګل .

[۱۳۹۷](۲۸) كه مُكَاتَب يوڅوک وكيل كړئ بيـا هغـه عَاجِزسـو يـا مَـأذُون غُـلاَم يوڅـوک وكيل كړئ بيا هغه مَحجُور سو يا دو شرويكانو څوک وكيل كـړئ بيـا دُوئـي دُوَه ځلـه جـلا سو نودغه ټولي وُجُوهَاتِي وكالت باطلوي.كه وكيل خَبَروي كه نَه .

[۱۳۹۸](۲۹) وَاِذَا مَاتَ الوَكِيلُ اَو جَنّ جُنُونًا مُطبِقًا بَطَلَت وَكَالَتُهُ .

تشريح : مکاتب يوڅوک وکيل جوړ کړئ بيا هغه مکاتب د بَدَلِ کِتَابَت د ادآء کول څخه عاجزسو او بيا غُلاَم وګرزېدئ نو دده چي کوم وکيل ؤ هغه به په خپله مَعزُول سي.که څَه هم ده ته دخپل مُؤکِّل دعَاجِزي خَبَر وي که نَه وي.دغه رنګه وغُلاَم ته دتِجَارَت اجازت ورکړئ ؤ چي دهغه په وجه ده وکيل جوړکړئ ؤ.اُوس دده مَولْي دئ د تِجَارَت څخه منع کړئ او مَحجُور ئې کړئ نوچي کوم وخت دئ دغه رنګه وکړي سَم دَستِي به دغُلاَم دوکيل وکالت ختم سي.دغه رنګه دُوَه شريکان ؤ چي وکيل ئې جوړکړئ ؤ اُوس دواړه ځله جلاسو نو ددې جلاوالي څخه هم دوکيل وکالت ختميږي.ځکه چي شِرکَت نَه سوپاته نو دشِرکَت تحت عَقدبه څَه رنګه وي ؟

وجه : (١) داتولي قُدرَتِي حادثي دي چي ددې په وجه په مُؤکِّل کي دعَقدکولو صَلاَحِيّت نَه سوپاته او ددغه پربُنيَاد به په وکيل کي دتَصَرّف کولو اَهلِيّت ختم سي او وکالت به ختم سي. او چي کله غَيرِاختِيَارِي په قُدرَتِي حادثاتوباندي د وکيل وکالت ختميږي نو دمَعزُولَئ لپاره و وکيل ته اِطِّلاَع رسېدل ضروري نَه ده (٢) ددې يَو دليل مخته راروان دئ چي دحضرت عُمَر فيصله ده .

اُصُول : د وکيل پرخپل وکالت باندي د پاته کېدو لپاره په خپله په مُؤکِّل کي د اَهلِيّت پاته کېدل ضروري دئ.که نَه نو وکالت به ختم سي .

[١٣٩٨](٢٩) او که وکيل مړسو يا مکمل پاګل سو نو دده وکالت باطل سو .

وجه : دوکالت پرخپل ځائ دپاته کېدولپاره په وکيل کي دتَصَرّف اَهلِيّت ضروري دئ چي دئ به عَاقِل بالغ او آزاد وي.لېکن چي کله مکمل پاګل سونو په ده کي د تَصَرّف اَهلِيّت ختم سو يا مَړسو نو ختم سو نوځکه دغه وکالت به په خپله ختم سي .

اُصُول:دامسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چي د وکالت پرخپل ځائ باندي دپاته کېدو لپاره ضروري دئ چي په وکيل کي به دتَصَرّف اَهلِيّت برقراره وي که نَه نو وکالت باطل دئ .

پام لرنه : يَوَه يا دُوې ګَنتې دلېونتوب څخه وکالت نَه باطليږي،مخته حديث تېر

[١٣٩٩](٣٠) وَاِن لَحِقَ بِدَارِ الحَربِ مُرتَدّ اً لَم يَجزِ لَهُ التّصَرّفُ اِلاّ اَن يَعُودَ مُسلِمًا .

سوئ دئ اِذَا مَاتَ الاِنسَانُ اِنقَطَعَ عَنهُ عَمَلُهُ (الف) (ابوداؤدشريف. نمبر ٢٨٨٠)

لُغَت : مُطبِقٌ : اِحَاطَه کړئ.مُکَمّل پاګلتوب.چي تر ډېره په هُوښ کي نَه سي را .

[١٣٩٩](٣٠) که وکيل مُرتَدسي دارالحَرب ته وُلاړسي نو دده لپاره دوکالت تَصَرّف جواز نَه لري مګر دا چي دئ مسلمان سی بېرته وَاپَس راسي .

تشريح : وکيل مسلمان ؤ بيا مُرتَدسو او دَارُالحَرب ته وُلاَړَئ نو دده دتَصَرّف اَهلِيّت ختم سو نوځکه دئ پرخپل وکالت باندي نَه سي پاته کېدلائي.لېکن که مسلمان سي او وَاپَس دَارُالاِسلاَم ته راسي نو آيا دوباره پرهغه وکالت باندي بَحَال کېدلائي سي ؟ نو امامِ محمد فرمائي چي هُو! دوباره بَحَال کېدلائي سي .

وجه : دئ فرمائي چي دئ عَاقِل.بَالِغ او آزاد سړئ دئ.نوځکه دده د تَصَرّف اَهلِيّت په مکمله توګه نَه ُوُ ختم سوئ وئ و دَارُالحَرب تـه دتلـو لکبلـه دعَقدکولو څخـه عـاجزوُ لېکن چي کله بېرته و دَارُالاِسلاَم ته د اسلام په حالت کي راستون سـو نـو اُوس د عَقد کولو څخه عَاجز نَه دئ لِهْذَا عَقد کولائي سي او وکالت به بَحَال سي .

اُصُول : دا مسئله پردېِ اُصُول مُتَفَرّع ده چي دمُرتَد وکالت موقوف دئ چي څَه وخـت راستون سي بېرته بحالېږي .

فائده : امام ابويوسف فرمائي چي دَارُالحَرب ته دتُلُو په وجه دئ ګواکه مَړ سو نوځکـه د بېرته راتلو په وجه نَه بَحَالېږي.البته که مُؤکِّل د نـوي سَـر څخـه بېرتـه وکيـل جـوړ کړي نو جوړولائي سي .

اُصُول : دده اُصُول دادئ چي دَارُالحَرب ته تُلُو په وجـه اَهلِيّت پـه مکملـه توګـه سـره ختمېږي .

حاشيه : (الف) چي څَه وخت اِنسَان مَړ سي نو دده عَمَل مُنقَطِع سي .

[۱۴۰۰](۳۱) وَمَن وَكّلَ رَجُلاً بِشَيءٍ ثُمّ تَصَرّفَ المُـوَ كِّـلُ بِنَفسِـهِ فِيمَـا وُكِّلَ بِهِ بَطَلَتِ الوَكَالَةُ .

[۱۴۰۰](۳۱) يَوچَا يَوڅوک ديَوکار وکيل جوړکړئ بيا مؤکِّل په خپله هغـه کـار وکـړئ دکوم کار چي وکيل جوړکړئ وُ نو وکالت به باطل سي .

تشريح : د کوم کار لپاره چې وکيـل جـوړکړئ وُ مُؤکِّل پـه خپلـه هغـه کـار وکـړئ نـو دوکيل وکالت به ختم سي .

وجه : (۱) دکوم مخصوص کـار لپـاره چې وکيـل جـوړکړئ وُ هغـه کـار نَـه سـوپاته نودئ به دچِش وکيل وي؟ نوځکه وکالت به ختم سي کـه څَـه هـم وکيـل پـه دې نَـه وي خَبَر (۲) په اَثَرکي ددې ثبوت سته قَالَ قَضْي عُمَرُ فِي اَمَةٍ غَزَا مَولاَهَا وَاَمَرَ رَجُـلاً بِبَيعِهَـا ثُمّ بَدَا لِمَولاَهَا فَاَعتَقَهَا وَاَشهَدَ عَلْي ذَالِـکَ وَقَد بِيعَـتِ الجَارِيَـةُ فَحَسَبُوا فَـاِذَا عِتقُهَـا قَبلَ بَيعِهَـا فَقَضْي عُمَرُ اَن يَقضِيَ بِعِتقِهَا وَيَرُدّ ثَمَنَهَا وَ يُؤخَذَ صُدَاقَهَا لِمَـا كَـانَ قَد وَطِيَهَـا (الـف) (سنن للبيهقي.باب ماجآء في الوكيل ينعزل اذا عزل وان لم يعلم بـه ج۶ص۱۳۶نمبر ۱۱۴۴۵) پـه دې اَثَر کي دئ چي مَولْي دمينځي دخرڅولو وکيل جوړکړئ بيا مَولْي په خپله هغـه مينځـه آزاد کړه.او دحِسَاب څخـه معلـوم سـوچي آزادېدل دخرڅولـو څخـه مخکـي وُ نـوحضـرت عُمَر دمينځي د آزادېدو فيصله وکړه او ګواکه دمُوَکِّل دتَصَرّف په وجه وکالت باطـل سـو کـه څَـه هم و وکيل ته ددې تَصَرّف کولوخَبَر نَه وي رسېدلئ .

اُصُول : دا مسئله پردېِ اُصُول مُتَفَرّع ده چي د کـوم کـار لپـاره چې وکيـل جـوړکړئ وي هغه کار وُسُو اَنجَام ته ورسېدئ نو اُوس د چِش وکالت پاته دئ ؟

حاشيه : (الف) حضرت عُمَر ديوې مينځي په حق کي فيصله وکړه.د مينځي مَولٰي د غَزوې لپاره تللئ ؤ او ويوه سړي ته دهغه دخرڅولو حکم ورکړئ بيا مَولٰي ته خَيَال ورغلئ او هغه ئې آزاد کړه او پر هغه ئې ګواه ونِيوَئ.او مينځه وکيل خرڅه کړې وه.بيا خلکو حساب وکئ نو معلوم سوچي د خرڅولو څخه مخکې آزاده کړې ده.نو حضرت عُمَر ددې د آزادئ او دقيمت د وَاپَس کولوفيصله وکړه.او ددې مَهر دي واخستل سي ځکه چي ددې سره وَطِي يعني نژديکت کړئ ؤ .

[١٤٠١](٣٢) وَالوَکِيلُ بِالبَيعِ وَالشِّرَ آءِ لاَيَجُوزُ لَهُ اَن يَعقِدَ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي مَعَ اَبِيهِ وَجَدِّهِ وَوَلَدِهِ وَوَلَدِوَلَدِهِ و َزَوجَتِهِ وَ عَبدِهِ وَ مُکَاتَبِهِ [١٤٠٢](٣٣) وَقَالَ اَبُويُوسُفَ وَمُحَمّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالْييَجُوزُ بَيعُهُ مِنهُم بِمِثلِ القِيمَةِ اِلاّ فِي عَبدِهِ وَمُکَاتَبِهِ .

[١٤٠١](٣٢) د خرڅول او رَانِيوُلُو دوکيل لپاره جواز نسته چي عَقد وکي د امام ابوحنيفه په نيز دخپل پُلاَر.دخپل نِيکَه.دخپلو هَلکُوَانُو.دخپلو لُمَسِيَانُو.دخپلي مَينې.دخپل مَرَيِي او دخپل مُکَاتَب غُلاَم سره .

تشريح : امام ابوحنيفه فرمائي چي دوکيل لپاره جواز نسته چي دخپل پُلاَر. نِيکَه. زَامُونَان.لُمَسِيَان.مَينَه.مَرَيِي او خپل مکاتب سره خريد او فروخت وکي .

وجه : ددې خلکو قرابت ډېر نَژدې قرابت دئ.نومؤکل ته دا شَک او شُبهَه پيدا کېدلائي سي چي وکيل به ددې خلکوڅخه په ګران قيمت اَخَستَئ وي يائې په اَرزَانَ قيمت رَانِيوَلَئ دئ.ددې تُهمَت په وجه ددې خلکوڅخه رَانِيوَل او خرڅول جواز نَه لري. اِتّقُوا مَوَاضِعَ التّهَمِ .

اُصُول : دا مسئله پر دې اُصُول مُتَفَرّع ده چي دتُهمَت دځائ څخه به ځان ژُغوَرِي .

[١٤٠٢](٣٣) او امام ابويوسف او امام محمدوفرمائل پر دُوئي باندي پهقِيمَت مِثل خرڅول جائزدئ،مګر په خپل غُلاَم او مُکَاتَب کي .

تشريح : امامِ صاحبين فرمائي چي پر دې عَزِيزَانُو باندې په دُونَه قيمت خرڅولائي سي څونه چي په بازار کي خرڅيږي.چي قِيمَتِ مِثل وارته وائي .

وجه : (١) مُؤكِّل مُطلقًا دبَيعِ دکولو ورته وويلي دي ددې مطلب دادئ چي دهر چاسره په قِيمَتِ مِثل باندي خَرڅول رَانِيوَل کولائي سي.نوځکه ددغه مختته تېر سَوُو رِشتَه دَارَانُو سره خرڅول رانيول کولائي سي.البته دخپل غُلاَم يا مُکَاتَب سره خرڅول رَانِيوَل نَه سي کولائي (٢) ځکه چي دغُلاَم مَال او دمُکَاتَب مَال په خپله د

[١٤٠٣](٣٤) وَالوَکِيلُ بِالبَيعِ يَجُوزُ بَيعُهُ بِالقَلِيلِ وَالکَثِيرِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَاَلْي وَقَالاَ لاَ يَجُوزُ بَيعُهُ بِنُقصَانٍ لاَيَتَغَابَنُ النّاسُ فِي مِثلِهِ .

وكيل مَال دئ نوګواكه دخپل مال سره خرڅ كړل او دا جواز نَه لري.ځكه چي دخپل مَال په بَدلَه كي خرڅولو كي تُهمَت دئ.نوځكه دخپل غُلاَم او مُكَاتَب سره نَه سي خرڅولائي .

اُصُول:دا مسئله پر دې اُصُول مُتَفَرّع ده چي پـه مِثلِـي قِيمَـت بانـدي خرڅولـوكي هـيڅ تُهمَت نسته .

[۱۴۰۳](۳۴) د خرڅولو دوكيل لپاره جائز دئ چي خـرڅ ئـې كـړي پـه لَـږ او ډېـر د امام ابوحنيفه په نېز او صاحبين فرمائي چي د دُوئي خرڅول جواز نَه لري په دُونَه لَږ قيمت چي په خلګوكې رِوَاج نَه وي .

تشريح : يَو څوک ئې ديَوشِي دخرڅولو وكيل جوړكړئ نو امـام ابوحنيفـه فرمـائي وده تـه اِختِيَـار دئ كـه پـه كَـم قيمـت خرڅـوي كـه پـه زِيَـات.دُوَاړَه رنګـه خرڅـول ئـې جائزدئ.دا په هغه صورت كي دئ چي مُؤكِّل هيڅ ډَوَل قَيد نَه وي لګولئ بلكـه مُطلَـق ئې پرېيښئ وي .

وجه : امـام صـاحب و مطلقًـا لفظ تـه نَظَـر كـړئ دئ چـي و دُوَاړَه ډَوَل خرڅولـو تـه خرڅول ويل كيږي.او مُؤكِّل دمُطلَق بيعِ وكيل جـوړكړئ دئ هـيڅ ډَوَل قَيـدئـې نـه دئ لګولئ نوځكـه پـه زِيَـات او كَـم دواړه ډَوَل خرڅولـو تـه بـه خرڅـول وايـو او بيـعَ بـه صحيح سي .

اُصُول : چي مُطلَق ئې ويلي وي نو واِطلاَق ته به ځي.صاحبين فرمائي چـي پـه دُونَـه كَم قيمت خرڅول جواز نَه لري چي په هغونَه كم قيمت سره ددغه رنګه مَبِيع خرڅـول عام رِوَاج نَه وي .

وجه:د دُوئي نَظَردې خواته تللئ دئ چي دمُطلق څخه عام عُرف مُرَاد دئ چي مُؤكِّل كه ځَه هم ويلي دي چي دا خرڅ كه.لېكن ددې مطلب دادئ چي په عام عُرف كي ددې شِي څونه قيمت دئ په هغونه عِوَض ئې خرڅ كَه.په دُونَه كَم قيمـت ئـې مَـه خـرڅ وه چي عام رِوَاج ئې نَه وي .

[۱۴۰۴](۳۵) وَالوَكِيـلُ بِالشِّـرَ اءِ يَجُـوزُ عَقـدُهُ بِمِثـلِ القِيمَـةِ وَزِيَـادَةٍ يَتَغَابَنُ النّاسُ فِي مِثلِهَا وَلاَ يَجُوزُ بِمَا لاَيَتَغَابَنُ النّاسُ فِي مِثلِهِ .

اُصُول : دا مسئله پر دې اُصُول مُتَفَـرّع ده چـي يَوځـائ ئـې مُطلَـق لفظ ويلـئ وي نـو دهغه مَدَار پر عام عُرف دئ. مَتَاعًا بِالمَعرُوفِ حَقًّا عَلْي المُتّقِينَ (الف)

لُغَت : لاَيَتَغَابَنُ النّاسُ : په څونه چي خلګ عمومًا نَه دُوګَه كيږي.پـه څونـه چـې رِوَاج نَه وي .

[۱۴۰۴](۳۵) د رَانِيوَلُو د وكيل عَقـدكول جـائز دئ پـه مِثلِـي قيمـت سـره او پـه دُونَـه زياتوب سره چي په خلګوكي دهغه رِوَاج وي او په دُونَه زياتوب سره جـواز نَـه لـري چي په خلګوكې رِوَاج نَه وي .

تشريح : د رَانِيوَلُو لپاره وكيل جوړكړئ وُ نو په دُونَه زِيَات قيمت بـه د هغـه رَانِيـوَل جائز وي په څونه چې رِوَاج وي چې په دغه رنګه شِي کي خلک دُوکَه خوري.لېکن ددې څخه زيات قيمت ورکول او هغه رَانِيوَل جواز نَه لري .

وجه : دلته دا شُبهَه سته چې وكيل دا شَئ دخپل ځان لپاره پـه زيـات قيمـت رَانِيـوَلَئ وُ بيا دده نَه سو خُوَښ نو اُوس ئې ومُؤكِّل ته حوال ه كوي.ددې شُبهې او تُهمَت پـه وجـه د مَايَتَغَابَنُ النّاسُ څخه په زيات قيمت باندي د رانيولو اِجَازَت نسته .

پام لرنه : مؤكل د يوخاص شِي د رَانِيوَلُو لپاره ورته ويلي وي نو هغه په زيات قيمت باندي هم رانيولائي سي.ځكه چي وكيل دغه دځان لپاره نَه سي رانيولائي. ذو دځان لپاره د رَانِيوَلُو تُهمَت نسته .

حاشيه : (الف) فائده اَخَستَل ده د دَستُور مُطَابِق دا حق دئ پر مُتّقِينُ باندي .

[١۴٠۵](٣۶) وَالّذِي لاَيَتَغَابَنُ النّاسُ فِيهِ مَالاَيَدخُلُ تَحتَ تَقوِيمِ المُقَوِّمِينَ [١۴٠۶](٣٧) وَاِذَا ضَمِنَ الوَكِيلُ بِالبَيعِ الثّمَنَ عَنِ المُبتَاعِ فَضَمَانُهُ بَاطِلٌ [١۴٠٧](٣٨) فَاِذَا وَكّلَهُ بِبَيعِ عَبدِهِ فَبَاعَ نِصفَهُ جَازَ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي .

[١۴٠۵](٣۶) كوم چي په خلګوكې عام رِوَاج نَه وي هغه قيمت دئ چي دقيمت لګونكوخلګو په قيمت لګولو كي داخل نَه وي .

تشريح : په دې عِبَارَت كي د مَايَتَغَابَنُ النّاسُ تشريح او وضاحت كوي.چي كوم دقيمت لګولو مَاهِرَان دي دهغو قيمت لګول چي تر كوم ځايه پوري ورسيږي هغه مَايَتَغَابَنُ النّاس دئ.او دهغه څخه لُوَړ قيمت مَايَتَغَابَنُ النَاس نه دئ.ځكه چي خلګ عمومًا دونه دُوكَه نَه خوري .

[١۴٠۶](٣٧) كه دخرڅولو وكيل د مُشتَرِي لخوا دقيمت ضَامِن سي نو دده ضَمَان باطل دئ .

تشريح : د يَوشِي دخرڅولو وكيل وُ هغه ئې خرڅ كړئ او دمُشتَرِي لخوا څخه په خپله دقيمت ضَامِن سوچي زَه په خپله قيمت وركوم نودا ضَامِن جوړېدل باطل دئ .

وجه : (١) وكيل د وصولولو ذِمّه داره وُ اُوس دئ په خپلـه دقيمـت وركولـو ذِمّـه داره سو نو يَوسړئ دقيمت وركولو او اَخَستَلُو ذِمّه داره سو نوحكـه دا ذِمّـه داري باطلـه ده (٢) د وكيل سره مَبِيع په حَيث دامانت وه.او چي ددې دقيمت ذِمّـه دَارَه سـي نـو دا بـه دضَمَانَت په حَيث وي او اَمَانَت و ضَمَانَت سره تَضَاد شيان دي نوځكه دا ضمان باطل دئ .

[١۴٠٧](٣٨) كه دخپل غُلاَم دخرڅولو وكيل جوړكړئ او دهغه نِيمَئ ئې خرڅ كړئ نو د امام ابوحنيفه په نېز دا جائز دئ .

وجه : د خرڅولو په حکم کي پوره او نيمۍ خرڅول دواړه شامل دي. نوځکه چې د خرڅولو حکم ئې ورکړئ نو نِيمَۍ هم خرڅولائي سي او پوره هم خرڅولائي سي .

اُصُول : د اِمَامِ اَعظَم په نېز مُطلق لفظ ودواړو ته شامل دئ .

فائده : صاحبين فرمائي چې اَوّل ئې نِيمَۍ خرڅه کړه د اختلاف او جګړې څخه مخکې هغه نوره نيمۍ هم خرڅه کړه نو دا هم صحيح دئ.او که چيري هغه پاته نيمۍ نَه کړه خرڅه نوهغه اَوّلَنۍ نيمۍ حِصّه خرڅول هم جواز نَه پيدا کوي .

وجه : چي اَوّل نيمۍ ئې خرڅه کړه نو دا ويل کېدلائي سي چي دا نِيمَۍ د پاته نِيمِي دخرڅولو ذريعه او وسيله ده.ځکه هغه اَوّل نيمۍ خرڅول صحيح ده.لېکن چي کوم وخت ئې دا پاته نيمۍ نَه کړه خرڅه نو دا معلوم سوچي هغه اَوّل نيمۍ د پاته نيمي دخرڅولو ذريعه او وسيله نَه ده.نوځکه هغه اَوّل نيمۍ خرڅول جواز نَه لري.ځکه چي په دې صورت کي دمُؤکِّل او مُشتَرِي ترمينځ شرکت راغلئ.او دصاحبينو قاعده تېره سوې ده چي دمُؤکِّل حکم که څَه هم مُطلق وي خو دهغه مَدَار پر مَعرُوف وي.او معروف دادئ چي دارنګه خرڅه ګَه چي دهغه شِرکَت ضَرَر ماته ونَه رسيږي.او وکيل چي نِيمَۍ خرڅه کړه نو د شِرکَت ضَرَر ئې ور ورساوئ نوځکه نِيمَۍ خرڅول جواز نَه لري .

اُصُول : (١) دصاحبينو اُصُول تېرسوئ دئ چي کله حُکم مُطلَق وي نو په مَعرُوفَ طريقه چي کوم حکم وي هغه ځيني مراد وي (٢) د دُوئي استدلال ددې اَثَرڅخه دئ عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ يَأ كُلُ وَيَلبَسُ بِالمَعرُوفِ وَقَالَ الرّبِيعُ عَنِ الحَسَنِ يَأكُلُ بِالمَعرُوفِ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب نفقة المضارب ووضيعته ج٨ص٢٤٧نمبر ١٥٠٨٣\بخاري شريف.باب الشروط في الوقف ص٣٨٢نمبر٢٧٣٧) په دې اَثَر کي که څَه هم دمُضَارِب په باب کي دئ چي په معروفَ اندازه سره خوراک ځيني کولائي سي او اَغُوستَلاَئې سي.لېکن دا قاعده به هرځائ جارى کيږي چي په کوم ځائ کي چي مُطلق وي هلته به ګورو چي په معاشره کي ددې څَه مطلب دئ او فيصله به پرهغه کيږي کوم ته چي مَعرُوف ويل کيږي .

[١٤٠٨](٣٩) وَ اِن وَكّلَهُ بِشِرَآءِ عَبدٍ وَ اِشتَرْي نِصفَهُ فَالشِّرَآءُ مَوقُوفٌ فَاِن اِشتَرْي بَاقِيَهُ لَزِمَ المُؤكِّلَ [١٤٠٩](٤٠) وَاِذَا وَكّلَهُ بِشِرَآءِ عَشرَةِ اَرطَالِ لَحمٍ بِدِرهَمٍ فَاشتَرْي عِشرِينَ رِطلاًبِدِرهَمٍ مِن لَحمٍ يُبَاعُ مِثلُهُ عَشرَةَ اَرطَالٍ بِدرهَمٍ لَزِمَ المُؤكِّلَ مِنهُ عَشرَةِ اَرطَالٍ بِنِصفِ دِرهَمٍ عِندَاَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰي وَقَالاَ رَحِمَهُمَا اللهُ يَلزِمُهُ العِشرِينَ .

حاشيه : (الف) حضرت ابراهيم وفرمائل مُضَارِب خوراک کولائي سي او اَغُوستلائي سي د قاعدې مُطَابِق . او حضرت حَسَن وفرمائل خُوَړلاَئي سي د قَاعِدې مُطَابِق .

[١۴٠٨](٣٩) که د غُلاَم د رَانِيوُلُو وکيل جوړ کړئ او ده دهغـه نِيمَـئ حِصّـه رانيـوه نـو دا رانيول به موقوف وي.که چيري هغه پاته حِصّه رانيوه نوپر مُؤکِّل لازم ده .

تشريح : د غُلاَم د رانيولو وکيل ئې جوړکړئ لېکن وکيل پوره غُلاَم نَه رانيوئ بلکـه نِيمَـئ غُلاَم ئې رانيوئ.نوکه چيري دا پاته نيمئ حِصّه هم رانيوه نـو پـر مُؤکِّـل بانـدي غُـلاَم لازم دئ.او که هغه پاته نيمئ نَه رانيوئ نو بيا پر مُؤکِّل باندي دا نِيمَئ نَه لازميږي.بلکه دا نيمئ به په خپله د وکيل سي .

وجه : دلته دا قَوِئ شُبهَه سته چي وکيل نِيمَئ حِصّه دځان لپاره اخستې وه لېکن وروسته دده نَه سوه خُوَښَه اُوس ئې پر مُؤکِّل باندي اَړَوِي. او مُؤکِّـل ئـې دشِـرکت پـه ضَـرَر کـي پَسَـاؤ کئ.نوځکه دا نِيمَئ حِصّه پرمُؤکِّل باندي نَه لازميږي .

اُصُول : دا مسئله پر دې اُصُول مُتَفَرّع ده چي مُطلق به پر خپل اِطـلاَق پاتـه وي خوپـه دې شرط چي دتُهمَت شُبهَه نَه وي.په کوم ځائ کي چي دتُهمَت شُبهَه وي هلته به مُطلَـق نَـه وي بلکه مُقَيّد به سي .

[١۴٠٩](۴٠) که وکيل جوړ کړئ د لَس رِطل غُوَښُو د رَانِيوُلُو د يوه دِرهَم په بدلـه کي.نـو رائې نيول شَل رِطلَ د يَوَه دِرهَم په بدله کي دارنګه غُوَښَه چي لَس رِطلَ ديوه دِرهَم په بدله کي خرڅيږي نو پر مُؤکِّل باندي ددې ځخه لَس رِطلَ لازم دي دنِيمَئ دِرهَم په بدله کي دامام ابوحنيفه په نېز او صاحبينو وفرمائل چي پر مُؤکِّل باندي شَل رِطلَ لازم دي .

تشريح : يو سړئ ئې د يَوَه دِرهَم په بدله کي د لَس رِطلَ غُوَښُـو رانيولـو وکيـل جـوړ کړئ.دې سړي دغه رنګه ښَه غُوَښَه چي په يَوَه دِرهَم لَس رِطلَ خرڅيـږي خـو ده بيـا هم په يَوَه دِرهَم شَل رِطلَ غُوَښَه رَاوُړَه نو اُوس به شَل رِطلَ پر مُؤکِّـل لازم وي کـه د نِيمَئ دِرهَم پـه بدلـه کـي لَـس رِطـلَ لازم وي ؟ پـه دې بـاب کـي اختـلاف دئ. د امـام ابوحنيفه نظر دې خوا ته تللـئ دئ چـي و مؤکِّـل تـه خـو صـرف د لَـس رِطـلَ غُوَښُـو ضرورت وُ که څَه هم دده دا خيال وُ چي لَس رِطلَ به په يَوَه دِرهَم ملاؤيږي ځکه خو ده يَو دِرهَم ورکړئ. اُوس لَس رِطلَ په نِيمَئ دِرهَم ملاؤسو نـو پـر ده بـه نِيمَـئ دِرهَـم لازم وي او لَس رِطلَ اَخَستَل به پر لازم وي.ددې ځخه زيات نَه. البته که دئ په خپلـه خوشحالي سره واخلي نو دا بيا جلاخبره ده.که نَه نو نِيمَئ غُوَښَه يعنـي لَـس رِطـلَ پـر وکيل باندي لازم دي او نِيمَئ دِرهَم به دخپل جېب ځخه ورکوي .

اُصُول : اِمَامِ اَعظَم و لَـس رِطـلَ غُوَښَـه تـه نظرکـړئ دئ.دده دليـل دا حـديث دئ عَـن عُروَةَ يَعنِي اِبنَ الجَعدِ البَارِقِيِّ قَالَ اَعطَاهُ النّبِيّﷺ دِينَارًا يَشتَرِي بِـهِ اُضـحِيَةً اَو شَـاةً فَاشـتَرْي شَـاتَينَ فَبَـاعَ اِحـدَاهُمَا بِـدِينَارٍ فَاَتَـاهُ بِشَـاةٍ وَ دِينَـارٍ فَـدَعَا لَـهُ بِالبَرَكَـةِ فِـي بَيعِـهِ (الـف) (ابوداؤدشريف.باب في المضارب يخالف ج٢ص١٢۴نمبر٣٣٨۴\ ترمذي شريف.نمبر١٢٥٧) په دې حديث کې په يَوَه دِينَار بانـدي د يـوې بُـوزې رَانِيوَلُـو ورتـه ويلـي وُ او رَاوِي دوې بُوزې رانيولې.لېکن د رَاوِي نظر دې خواته تللـئ دئ چـي ضـرورت خـو ديـوې بـوزې دئ نوځکـه يـوه بـوزه دي خرڅـه کـي يَـو دِينَـار او يَـوَه بُـوزَه دي وَاپَـس راوُړي.ددې ځخه دا معلوم سوچي وضرورت ته بايد نظر وسي .

او صاحبینو د رَقَم یعني پیسو وخرڅولو ته نظر کړئ دئ چي یَو دِرهَم ئې دخرڅولو لپاره ورکړئ دئ په هغه یَوَه دِرهَم کـه لَس رِطلَ غُوَښَه کیږي که شَل رِطلَ په کیږي.د مؤکِّل دا خیال وُ چي په یَوَه دِرهَم به لَس رِطلَ غُوَښَـه کیږي زیاتـه بـه نَـه پـه کیږي نو .

حاشیه : (الف) جَعدِبَارِقِي فرمائي چي وده ته حضورﷺ یو دِینَار ورکړئ چي قُربَانِي یا بُوزَه رانیسـي.نو ده دُوې بُوزې په رَانیولې.نودهغه څخه یَوَه د یَوَه دِینَار پـه بَدلَـه کـي خرڅـه کړه بیـائې یَوَه بُـوزَه او یَـو دِینَـار راؤړئ نـو حضورﷺ دده په بَیعَ کي د برکت دُعَآء وکړه .

[۱۴۱۰](۴۱) وَ اِن وَکّلَهُ بِشِرَ آءِ شَيئٍ بِعَینِهِ فَلَیسَ لَهُ اَن یَشتَرِیَهُ لِنَفسِهِ [۱۴۱۱](۴۲) وَ اِن وَکّلَهُ بِشِرَ آءِ عَبدٍ بِغَیرِ عَینِـهِ فَاشـتَرْي عَبـدًا فَهُوَ لِلوَکِیلِ اِلاّ اَن یَقُولَ نَوَیتُ الشِّرَآ ءَ لِلمُؤکِّلِ اَو یَشتَرِیهِ بِمَالِ المُؤکِّلِ .

څکه ده د لَس رِطلَ راؤړلو خبره ورته وکړه.اُوس که چیري په دې یَـوَه دِرهَـم بانـدي شَل رِطلَ غُوَښَه راسي نو دا خو دده لپاره دخَیر کار دئ.نوڅکـه پـه یَـوَه دِرهَـم بانـدي شَل رِطلَ غُوَښَه پر مُؤکِّل باندي لازم ده .

اُصُول : د دُوئي اُصُول دادئ چي پیسې باید ټولي خرڅي کړي کـه هرڅـو غُوَښَـه پـه کیږي .

لُغَت : رِطلٌ : یو خاص وزن دئ چي نِیم کېلودئ ۴۴۲۰۲۵ ګرام دئ .

[۱۴۱۰](۴۱) که دیوه مُتَعَیّن شي د رانیولو لپاره وکیل جـوړکړئ نـو دده لپـاره جـواز نَه لري چي هغه دڅان لپاره رانیسي .

وجه : مُؤکِّل پرده باندي اِعتِمَاد کړئ دئ چي زوما لپاره رانیسي او وکیل دڅـان لپـاره رانیوئ نو په دې طرزِعَمَل کي یوقسم دُوکَه ده.نوڅکه وکیل مُتَعَیّن شئ دڅان لپاره نَـه سي رانیولئ .

[۱۴۱۱](۴۲) او که دیوه غَیرِمُتَعَیّن غُلاَم د رانیولو وکیل جـوړکړئ.ده غُـلاَم رانیـوئ نو دا به دوکیل لپاره وي.مګر که دا وویل چي ما دمُؤکِّل لپاره د رانیولو نِیّت کـړئ وُ یائې دمُؤکِّل په مال باندي رانیسي .

تشریح : د یَوغَیرِمُتَعَیّن غُلاَم د رانیولو وکیل ئې جوړ کړئ.په داسي صـورت کـې یَـو غُلاَم رانیوئ نو ترڅو چي یَو داسي علامت نَه وي چي دائې دمُؤکِّل لپـاره رانیلـئ دئ تر هغه وخته پورې به دا غُلاَم د وکیل ګڼَل کیږي.څکه چي په عامَ توګه څـوک دڅـان لپاره شئ رانیسي. دمُؤکِّل لپاره د رانیولوعلامت دادئ چي درانیولوپروخت

[۱۴۱۲](۴۳) وَالوَکِیلُ بِالخُصُومَةِ وَکِیلٌ بِالقَبضِ عِندَاَبِي حَنِیفَـةَ وَاَبِـي یُوسُفَ وَمُحَمّدٍ رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالْي [۱۴۱۳](۴۴) وَالوَکِیلُ بِقَبضِ الـدّینِ وَکِیلٌ بِالخُصُومَةِ فِیهِ عِندَ اَبِي حَنِیفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي .

دمُؤكِّل نِيّت وكي يا كَم اَز كَم دمُؤكِّل په مال ئې رانيسي نوبه هغه غُلاَم دمُؤكِّل وي .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چي دمُؤكِّل لپاره د رانيولو عَلاَمَت وي نو دمُؤكِّل به ګڼَل كيږي كه نَه نو به دا غُلاَم دخپل ځان لپاره وي .

[۱۴۱۲](۴۳) د مُقَدّمې وكيل دقبضې هم وكيل دئ د امام ابوحنيفه.امام ابويوسف او امام محمد په نيز .

تشريح : يَو څوک ئې دمُقَدّمې او خصومت لپاره وكيل جوړكړئ نو دفيصلې وروسته پر دَين او پر هغه شِي باندي هم قبضه كولائي سي .

وجه : چي ديَوشِي وكيل ئې جوړكړئ نو ګواكه دهغه دټولو لَوَازِمَاتُ وكيل ئې جوړكړئ.او دخُصُومَت دلَوَازِمَاتُ څخه قبضه كول هم ده.نوځكه دقبضې كولو وكيل به هم وي .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چي ديَوشِي وكيل ئې جوړكړي نو وكيل به دهغه شِي دټولو لَوَازِمَاتُ سره سره وكيل وي .

فائده : امام زُفَر فرمائي چي دخُصُومَت وكيل اَمَانَت دَار نَه وي نو كه چيري وهغه ته پر دَين باندي دقبضې كولو ګُنجَائِش وركول سي نو دئ خو دَين ومُؤكِّل ته نَه وَاپَس كوي.نوځكه دخُصُومَت وكيل دقبضې وكيل نَه سي كېدلائي.او دخِيَانَتِ عَامّه په وجه نَن زمان پر دغه فتوٰي ده .

[۱۴۱۳](۴۴) پر قَرض باندي دقبضې وكيل به دمُقَدّمې هم وكيل وي دامام ابوحنيفه په نيز .

[۱۴۱۴](۴۵) وَاِذَا اَقَرّ الوَكِيلُ بِالخُصُومَةِ عَلْي مُؤكِّلِهِ عِندَ القَاضِي جَازَ اِقرَارُهُ وَلاَيَجُوزُ اِقرَارُهُ عَلَيهِ عِندَ غيرِ القَاضِي عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمّدٍ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالْي اِلاّ اَنّهُ يَخرُجُ مِنَ الخُصُومَةِ .

تشريح : دا په دې وجه چي بعض وختو كي پر قرض باندي دقبضې لپاره مُقَدّمه كول هم ضروري وي.او مخته دا قاعده تېره سوه چي ديوشي وكيل ئې جوړ كړي نو دهغه دټولو لَوَازِمَاتُ سره به وكيل جوړوي.نوځكه دقرض وكيل به دمُقَدّمې اوخُصُومَت وكيل هم وي .

فائده : صاحبين فرمائي چي پر قرض باندي دقبضې وكيل دمُقَدّمې وكيل نَه دئ .

وجه : پر دَين باندي قبضه كول جلا كار دئ چي د اَمَانَت دَارَه سړي كار دئ او مُقَدّمَه كول جلاكار دئ چي دچَالاَک اِنسَانَانُ او دقانون پوهَانُو كار دئ.نو دا دواړه جلاجلا كارونه دي.او دا ضروري نَه ده چي كوم څوک اَمَانَت دَاره وي هغه دي په قانون كي مَاهِر هم وي.او پر ده باندي قانوني اِعتِبَار هم وسي.نوځكه دقبضې وكيل دخُصُومَت او مُقَدّمې وكيل نَه دئ .

اُصُول : دُوئي دې اُصُول ته تللي دي چي قبضه او خُصُومَت دوه جلا جلا کارونه دي.پر يَوَه کار باندي د اِعتِمَاد کولو څخه پر هغه بَل کار باندي اِعتِمَاد کول نَه لازميږي .

[۱۴۱۴](۴۵) که دمُقَدّمې وکيل پر خپل مُؤکِّل باندي د قاضي په مخکي اِقرَار وکي نو دده اِقرَار جائز دئ او دقاضي څخه علاوه دبَل په مَخکِي دوکيل اِقرَار نَه صحيح کيږي د امام ابوحنيفه او امام محمد په نېز مګر دا که دئ دمُقَدّمې څخه وَوزِي .

تشريح : يَوسړئ ئې وکيل جوړکړئ چي زوما لخوا دقاضي په مخکي دخُصُومَت او مُقَدّمې وکيل جوړ سَه نو ددې دُوَه مطلب دي.يو خو دا چي تَه صرف ددې وکيل ئې چي تَه دمُؤکِّل دجُرم اِقرَار مَه کوه بلکه همېشه اِنکار ورته کوه يا که چيري دا نَه وي نو بيا پَتَه خوله سَه.نوځکه مُو تَه دخُصُومَت وکيل جوړکړئ ئې.که مُو چيري اِقرَار کولائي نو مَا به په خپله کړئ وائي ستا د خُصُومَت لپاره د وکيل جوړولو بيا څَه ضرورت وُ؟ امامِ زُفَر او اَئمّه ثَلْثَه دغه مطلب ځيني اَخلِي.دُوئي فرمائي چي دخُصُومَت معنْي جګړه کول او اِنکار کول دئ.او اِقرَار کول ددې سره ضِد دئ.نوځکه وکيل به په څَه ډَوَل دضِد مَالِک جوړيږي؟ نوځکه وکيل خو به يا اِنکار کوي يا چي ويني چي زوما مُؤکِّل وَاقِعَةً مُجرِم دئ نو پَتَه خُولَه دي سي.البته اِقرَار دي نَه کوي .

دوم مطلب ئې دادئ چي دئ دمُطلَقًا جواب ورکولو وکيل دئ چي په هغه کي اِقرَار هم شامِل دئ او اِنکار هم شامِل دئ او خاموش کېدلائي هم سي.دئ د درو سره طريقو مَالِک دئ.ځکه چي په مُطلَق خُصُومَت کي درې سره طريقې شَامِلِ دي. البته دئ دخُصومَت وکيل دئ او خُصُومَت دقاضي په مجلس کي کيږي نو ځکه دقاضي په مجلس کي به اِقرَار مُعتَبَر وي چي خُصُومَت هلته وسي.دمجلس څخه دباندي اِقرَار کول هيڅ اِعتِبَار نَه لري. د امام ابوحنيفه او امام محمد په نېزدغه مطلب مُعتَبَردئ .

وجه : (۱) د امام اَعظَم نظر دمخته په شان ومُطلق لفظ ته تللئ دئ (۲) ديوه حديث څخه هم دغه رنګه سرګنديږي چي وکيل پر مُؤکِّل باندي اِقرَار کولائي سي او د امام په مخکي اِقرَار مُعتَبَردئ.د يَوَه وُړدَه حديث حاصل دادئ چي دبَنُوهَوَازِن قبيلې څَه خلګ دحضور او اَصحَابَانُو په لاَس قَيدِيَانُ سول.بيا دهَوَازِن قبيلې خلګ توبه ګار سول او راغله او دخپلو قَيدِيَانُو غُوَښتَنَه وکړه.نوحضورﷺ ومسلمانانو ته دقَيدِيَانُو د خُوشِي کولو تَرغِيب ورکړئ او مسلمانان پر دې باندي راضي سول.حضورﷺ ورته وفرمائل په دونه رضامندي سره د زړه رضامندي نَه ښکاره کيږي. تاسو دخپلو خپلو قبيلو دسَردَارَانُو په مخکي ددې اِقرَار وکئ او سَردَارَان دي ستاسو په وکالت کي راسي زُومَا په مخکي دي اِقرَار وکي چي تاسو د قَيدِيَانُو پر خُوشِي کولو باندي راضي ياست نو بياصحيح ده.وروسته ټوله سَردَارَان راغله او دحضورﷺ په مخکې دخپل قوم په وکالت کي اِقرَار وکئ چي دا خلګ دقَيدِيَانُ پر خُوشِي کولو باندي په

زَړَه سره راضي دي.ددې څخه معلوم سوچي وکیل پر خپل مُؤکِّل باندي اِقرَار کولائي سي. او دا چي د قاضي او اَمِیر په مخکي به اِقرَار کي نو بیا اِقرَار مُعتَبَر دئ.دحدیث ټوټَه دا رنګه ده زَعَمَ عُروَةَ اَنّ مَروَانَ بِنِ الحَکَمَ وَالمُسوّرَ بِنِ مَخرَمَةَ اَخبَرَاهُ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺ قَامَ حِینَ جَآءَهُ وَفدُ هَوَازِنَ مُسلِمِینَ ... فَقَالَ رَسُولُ اللهِﷺ اِنّا لاَنَدرِي مَن اَذِنَ مِنکُم فِي ذَالِکَ مِمّن لَم یَأذَن فَارجِعُوا حَتّي یَرفَعُوا اِلَینَا عُرَفَا ئُکُم اَمرَکُم فَرَجَعَ النّاسُ فَکَلّمَهُم عُرَفَا ئُهُم ثُمّ رَجَعُوا اِلْي رَسُولِ اللهِ فَاَخبَرُوهُ اَنّهُم قَد طِیبُوا وَ اَذِنُوا (الف) (بخاري شریف.باب اذا وهب شیئالوکیلِ اوشفیعِ قومٍ جازص۳۰۹نمبر۲۳۰۷) په دې حدیث کي سردارانو دقوم په وکالت کي دحضورﷺ په مخکي اِقرَار کړئ دئ چي ډُوئي قَیدِیَان خُوشِي کول غُوَاړِي او حضورﷺ قاضي هم وُ.نوځکه دقاضي په مخکي اِقرَار کېدلائي سي (۳) که ورته معلوم وي چي زُومَا مؤکِّل مُجرِم دئ بیا هم دجُرم یا د رَقَم اِقرَار وَنَه کړي نو دا به پر ظُلم باندي اِعَانَت وي چي په حدیث کې منع راغلې ده عَن اِبنِ عُمَرَ عَنِ النّبِيّ بِمَعنَاهُ قَالَ وَمَن اَعَانَ عَلْي خُصُومَةٍ بِظُلمٍ فَقَدبَآ ءَ بِغَضَبٍ مِنَ اللهِ عَزّ وَ جَلّ (ب) (ابوداؤدشریف.باب في الرجل یعین علْي خصومة من غیر ان یعلم امرها ج۲ ص۱۵۰نمبر۳۵۹۸) ددې حدیث په رونړا کي پر مُؤکِّل باندي اِقرَار کول هم جائزدئ .
البته که دِقَاضِي بغیره د بَل چا په مخکي اقرار وکئ او دګواهانوڅخه دهغه ثبوت هم پیدا سي چي وکیل دغه رنګه کړي دي نو دئ دوکالت څخه وُزِي.ځکه چي ده دقاعدې خلاف کار وکئ. اُوس به دمُؤکِّل پردَین باندي ده ته قبضه نَه ورکول کیږي.د,, اِلاّ اَنّهُ یَخرُجُ مِنَ الخُصُومَةِ ,, دغه مطلب دئ .

[۱۴۱۵](۴۶) وَقَالَ اَبُویُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي یَجُوزُ اِقرَارُهُ عَلَیهِ عِندَ غَیرِ القَاضِي [۱۴۱۶](۴۷) وَمَن اِدّعْي اَنّهُ وَکِیلُ الغَائِبِ فِي قَبضِ دَینِهِ فَصَدّقَهُ الغَرِیمُ اُمِرَ بِتَسلِیمِ الدّینِ اِلَیهِ فَاِن حَضَرَ الغَائِبُ فَصَدّقَهُ جَازَ وَ اِلاّ دَفَعَ اِلَیهِ الغَرِیمُ اَلدّینَ ثَانِیًا وَیَرجِعُ بِهِ عَلْي الوَکِیلِ اِن کَانَ بَاقِیًا فِي یَدِهِ .

اُصُول : مُطلق لفظ و دواړو ته شامل دئ. و اِقرَار ته هم و اِنکار ته هم.ددې مسئلې جرِیَان پر دغه قاعده دئ .

حاشیه : (الف) چي دهَوَازِن وَفدمسلمان سو راغلئ نوحضورﷺ ورته وَلاَړ سو ... حضورﷺ وفرمائل ماته نَه دئ معلوم چي دتاسو څخه کوم چا اِجَازَت ورکړئ دئ او کوم چا اِجَازَت نَه دئ ورکړئ.وَاپَس وُلاَړ سئ ترهغو چي ستاسو معامله ستاسو سَردَارَان راوړي.نوخلک بېرته وُلاَړُو او دهغو سَردَارَانُو د ډُوئي سره خبره وکړه.بیا حضورﷺ ته راغله او خَبَر ئې ورکړئ چي ډُوئي په خوشحالي سره اِجَازَت ورکوي (ب) حضورﷺ وفرمائل کوم چاچي دظالِم په جګړه کي مرسته وکړه نو دالله دغَضَب مُستَحِق وګرزېدئ .

[۱۴۱۵](۴۶) امام ابویوسف وفرمائل د وکیل اِقرَار کول جائزدئ پر مُؤکِّل باندي د قاضي څخه علاوه دبَل چا په مخکي هم .

تشریح : وکیل دقاضي دمجلس څخه علاوه پرخپل مُؤکِّل باندي اِقرَار وکړئ نو د امام ابویوسف به نېز دا اِقرَار هم صحیح دئ .

وجه : دئ فرمائي چي وکیل دمُؤکِّل په درجه کي دئ اومُؤکِّل چي دقاضي دمجلس څخه علاوه په بَل مجلس کي اِقرَاروکي هغه اِقرَارصحیح دئ لِهْذَاوکیل هم که د قاضي دمجلس څخه علاوه په بَل مجلس کي اِقرَاروکي نوهغه اِقرَارهم صِحّت پیدا کوي .

[۱۴۱۶](۴۷) یو چا دعوْي وکړه چي دئ دغَائِب وکیل دئ دهغه دقرض په قبضه کولو کي.او مقروض دده تَصدِیق وکئ نو مَقرُوض ته به دقرض د سُپَرد کولو حکم ورکول کیږي.بیا که غَائِب حاضرسو او هغه د وکیل تَصدِیق وکئ نو جواز به پیدا کي که نَه نوبه مَقرُوض ومُؤکِّل ته دُوبَارَه دَین اداٴ کوي اودَین به اَخلِي دوکیل څخه که هغه په لاَس کي باقي پاته وُ .

[۱۴۱۷](۴۸) وَاِن قَالَ اِنّي وَکِیلٌ بِقَبضِ الوَدِیعَةِ فَصَدَّقَهُ المُودِعُ لَم یُؤمَرُ بِالتّسلِیمِ اِلَیهِ .

تشریح : مثلاً زَید دعوْي وکړه چي دئ دعُمَر وکیل دئ ددې خبري چي ده ویلي دي چي د خَالِدڅخه قرض وصول کَه.او خَالِد مَقرُوض هم دده تَصدِیق وکئ چي وَاقِعَةً تَه دعُمَر وکیل يې نو اُوس خو خَالِد تصدیق کړئ دئ چي زَید دعُمَر وکیل دئ او مَال دخَالِد ذاتي مال دئ.دئ په خپل مال کي تصرف کولائي سي نوځکه خَالِد ته به حُکم ورکول کیږي چي دعُمَر قرض و زَید ته حواله کَه.بیا عُمَر دبَاهَر څخه بېرته راغلئ او تصدیق ئې وکئ چي زَید زُومَا وکیل دئ نو خَبَره صحیح سوه او د خَالِد اداٴ کړئ قرض وعُمَر ته اداٴ سو. او که چیري عُمَر مُؤکِّل وویل چي زَید زُومَا وکیل نَه دئ نو خَالِد ته به ویل کیږي چي تَه دوباره د عُمَر قرض وعُمَر ته اداٴ کَه .

وجه : ځکه چي عُمَرباقاعده وخَالِد ته نَه وُ ویلي چي زَید زُومَاپردَین باندي د قبضې کولووکیل دئ.بلکه زَید اوخَالِد په خپل مینځ کي سره ملاوُوُچي خَالِددده تصدیق وکئ چي تَه دعُمَر وکیل يې.نوځکه خَالِد به دُوبَارَه وعُمَر ته قرض اداٴ کوي.اوکه چیري د زَید په لاَس ورکړئ رَقَم موجودوي نوخَالِدبه هغه وَاپَس ځیني اَخلِي اوکه چیري رَقَم هلاک سوئ وي نوقَانُونًاهغه نَه سي ځیني اَخستَلاَئي.

وجه : هغه مال دزَید په لاَس کي د اَمَانَت مَال دئ لِهْذَا که چیري هلاک سي نو بېرته نَه سي اَخستَلاَئي .

اُصُول : دا مسئله پر دې اُصُول مُتَفَرّع ده چي په خپل مال کي بَل څوک وکیل تَسلِیمَوَلاَئي سي او هغه ته خپل مال حَوَالَه کولائي سي .

[۱۴۱۷](۴۸) او که وویل چي زَه د اَمَانَت دقبضې کولو وکيل يَم او اَمَانَـت اِيښُوُنکِي دده تَصدِيق وکـئ نو دهغه دحواله کولو حُکم به نَه ورکول کيږي .

تشريح : مثلاً زَيد وخَالِد ته وائـي چي دعُمَـر چـي کـوم اَمَانَـت دئ زَه پر هغـه بانـدي دقبضې کولو د عُمَر لخوا وکيل يَم او عُمَر موجود نَه وُ او خَالِد ئې تَصـدِيق وکـئ چـي تَه دعُمَر وکيل ئې نو خَالِد ته به حُکم نَه ورکول کيږي چي دغه د اَمَانَـت شـيئ وده تـه ورگه .

وجه : د امانت په شِي کي هغه شيئ ورکول کيږي کوم چي د اَمَانَـت پـه حَيـث اِيښـُوَل سوئ دئ.اَمَانَت اِيښُوُنکَئ دخپل جَانِب څخـه هـيڅ شـيئ نَـه سـي ورکولائي.نوکـه خَالِـد تصديق وکي چي زَيد وکيل دئ نو دعُمَر د اَمَانَت اِيښُوَل سوي شي په اَړَه بـه د حوالـه کولو حُکم نَه ورکول کيږي.ځکه چي عُمَر نَه دي ويلي چي زَيـد زُومَـا وکيـل دئ. دئ خو تر اُوسَ غَائِب دئ نوځکه د اَمَانَت دشي به ووکيل ته دحواله کولو حُکـم نَـه کيـږي .

پام لرنه : په تېره مسئله کي خو د قـرض رَقَـم پـه خپلـه دخَالِـد رَقَـم وُ نوځکـه دهغـه د ورکولو حُکم وسو.په دې مسئله کي خو د اَمَانَت رَقَم دعُمَر دئ دخَالِد نَه دئ .

اُصُول : دا مسئله پر دې اُصُول مُتَفَرّع ده چي د بَل دشـي د حوالـه کـول حُکـم بـه نَـه ورکول کيږي که څَه هم د وکالت تصديق وسـي .

لُغَت : مُودِعٌ : د اَمَانَت په حَيث اِيښُوُنکَئ سړئ.د ,,وَدَعَ,, څخه مُشتَق دئ .

* * *

اَبُوالحُسَين قُطب عفي عنه وعن والديه

..... كِتَابُ الكَفَالَةِ.....

..... كِتَابُ الكَفَالَةِ.....

ضروری پام لرنه : دکَفَالَې مطلب دادئ چـي مـثلاً پـر زَيـد بانـدي قـرض دئ نودهغـه قرض زَه ذِمّه دَرَه يم.که دئ در نَه کړي نو زَه درکوم.د کَفَالَت په صـورت کـي دواړه کسان دقرض د ادآء کولو ذِمّه دَارَه وي.او قـرض ورکـونکئ پـه دواړو کـي دهـر يَـوَه

ثخه قرض وصولولائي سي.دحَوَالَې مفهوم هم ودې ته نژدې دئ.په حَوَالَه کي دا وي چي اَصل مَديُون اُوس قرض نَه اداَء کوی.دهغه په بدله کي صرف زَه قرض اداَء کوم.په دې صورت کي قرض ورکونکئ صرف د ذِمّه دَارَه ثخه قرض وصولولائي سي.د کَفَالَت دصحيح کېدو دليل دا آيت دئ قَالُوا نَفقِدُ صُوَاعَ المَلِکِ وَلِمَن جَآء بِهِ حِملُ بَعِيرٍ وَ اَنَا بِهِ زَعِيمٌ (الف) (آيت ٧٢سورة يوسف١٢) په دې آيت کي د زَعِيمٌ لفظ راغلئ دئ چي د ذِمّه دَار او کَفِيل په معنٰي دئ.د آيت مطلب دادئ چي کوم څوک دبَاچَا پِيَالَه يعني گَاسَه راوړي وهغه ته ديوه وُښ بَار ملاؤيږي او زه دهغه کَفِيل يَم.ددې ثخه د کَفَالَت ثبوت وسو.د حضرت مَريَم عَلَيهَا السّلاَمُ په باب راغلي دي وَكَفَّلَهَا زَكَرِيَّا (ب) (آيت ٣٧سورة آلِ عِمرَانَ ٣) زکرياعليه السلام د حضرت مَريَم کَفَالَت واخستئ.ددې ثخه کفالت ثابت سو .

په کَفَالَت کي څلور لفظونه دي (١) کَفِيل : کوم چي په خپله ذِمّه دَارَه جوړ سو.ضَامِن.ودې ته زَعِيم اوحَمِيل هم ويل کيږي (٢) مَکفُولٌ عَنهُ : مقروض.کفيل چي دکوم چالخوا دقرض د اداَء کولو ذِمّه دَارِي اَخلِي (٣) مَکفُولٌ لَهُ : قرض ورکونکئ.دکوم چالپاره چي کَفِيل جوړيږي (۴) مَکفُولٌ بِهِ : هغه مال کوم چې دئ د اداَء کولو کفيل جوړيږي.يا هغه سړئ کوم چې په مَجلِس قَضَآء کي د حاضرولو ذِمّه دَارِي اَخلِي چي دئ اُوس پر ضَمَانَت باندي پرېږده.زَه پر مُقَرّر وخت باندي و مجلسِ قضاَء ته دحاضرولو ذِمّه دَارَه يَم خو په دې شرط چي دئ ژُوَندَئ وي .

[١۴١٨](١) اَلكَفَالَةُ ضَربَانِ كَفَالَةٌ بِالنّفسِ وَكَفَالَةٌ بِالمَالِ [١۴١٩](٢) فَالكَفَالَةُ بِالنّفسِ جَائِزَةٌ وَالمَضمُونُ بِهَا اِحضَارُ المَكفُولُ بِهِ .

[١۴١٨](١) کفالة پر دوه قسم دئ. کفالة بالنفس او کفالة بالمال .

تشريح : د کفالة قسمونه : کفالة پر دوه قسم دئ کفالة بالنفس او کفالة بالمال. دکفالة بالنفس مطلب دادئ چي فُلاَنَئ سړئ مَجلِسِ قَضَاَء ته دمُقَدّمي لپاره مطلوب دئ.دئ اُوس پرېږده.پر مُقَرّر وخت باندې زَه دحاضرولو ذِمّه دَارَه يَم.دې ته کفالة بالنفس وائي.ځکه چي د ذَات او نَفس دحاضرولو کفيل جوړسو .

دوم دئکفالة بالمال : ددې مطلب دادئ چي پر فُلاَنِي سړي باندي دومره قرض دئ زه دهغه د اداَء کولوکفيل اوذِمّه دَارَ يم.که ده نَه کړې اداَء نو زَه هغه قرض اداَء کوم. دې ته کفالة بالمال ويل کيږي.ځکه چي د مَال د اداَء کولو ذِمّه دَارِي اَخلِي .

[١۴١٩](٢) نو کفالة بالنفس جائزدئ او دده ذِمّه دَارِي مَکفُول بِهِ حاضرول دئ .

حاشيه : (الف) موږ دباچا پِيَالَه ورکه موندو.او څوک چي دا راوړي هغه ته به يَو وُښ مَال ملاؤيږي او زَه دهغه کَفِيل يم (ب) حضرت زکريا دحضرت مريم کفيل سو .

تشریح : دکفالة بالنفس مطلب دادئ چي مَکفُولٌ بِهِ یعني دکوم چې ذِمّه دَارِي اخستې ده هغه پر مُقَرّر وخت باندي مجلسِ قضآء ته حاضرول دئ.ددې مطلب دا نَه دئ چي که دئ سزآء نَه پرېکوي نو زه دهغه په بَدلَه کي سزآء پرېکوم .

وجه : (١) کفالة بالنفس جائز دئ ددې دلیل دا حدیث دئ سَمِعتُ اَبَا اُمَامَةَ قَالَ سَمِعتُ رَسُولَ اللهِ یَقُولُ...ثُمّ قَالَ اَلعَارِیَةُ مُؤدّاةٌ وَالمَنحَةُ مَردُودَةٌ وَالدّینُ مَقضِيٌ وَالزّعِیمُ غَارِمٌ (الف) (ابوداؤدشریف.باب فی تضمین العاریة ص۱۴۵نمبر۳۵۶۵\ ترمذي شریف.باب ماجآء في ان العاریة موداةٌ ص۲۳۹نمبر۱۲۶۵) په دې حدیث کي

حاشیه : (الف) حضورﷺ به فرمائل په عَارِیَت اخستل سوئ شئ به ادآء کیږي.عَطِیَه به وَاپَس کیږي.او دَین ادآء کول په کار دئ.او کَفِیل ضَامِن دئ .

[۱۴۲۰](٣) وَتَنعَقِدُ اِذَا قَالَ تَکَفّلتُ بِنَفسِ فُلاَنٍ اَو بِرَقَبَتِهِ اَو بِرُوحِهِ اَو بِجَسَدِهِ اَو بِرَأسِهِ اَو بِنِصفِهِ اَو بِثُلُثِهِ .

,,اَلزّعِیمُ غَارِمٌ,, لفظ راغلئ دئ‌ددې مطلب دادئ چي کفیل ذِمّه دَارَه دئ.او په دې کي دواړه قسم کَفِیلاَن شاملېدلائي سي.کفیل بالنفس هم اوکفیل بالمال هم .ددې څخه دکفالة بالنفس ثبوت وسو (٢) په اَثَر کي ددې ثبوت سته چي حضرت حَمزَه دمجرم لپاره کفالة بالنفس اخستې وه حَمزَةَ بِنِ عُمَر الاَسلَمِيّ عَن اَبِیهِ اَنّ عُمَرَ بَعَثَهُ مُصَدِّقًا فَوَقَعَ رَجُلٌ عَلْي جَارِیَةِ اِمرَأتِهِ فَاَخَذَ حَمزَةُ مِنَ الرّجُلِ کَفلاَءَ حَتّي قَدِمَ عَلْي عَمَرَ وَکَانَ عُمَرُ قَدجَلّدَهُ مِأةَ جَلدَةٍ فَصَدّقَهُم وَعَذّرَهُم بِالجَهَالَةِ. ددغه اَثَر په یوه بَلَه جُملَه کي راغلي دي وَقَالَ جَرِیرُ وَالاَشعَثُ لِعَبدِاللهِ بِنِ مَسعُودٍ فِي المُرتَدِینَ اِستَتَبهُم وَکَفّلَهُم فَتَابُوا وَکَفّلَهُم عَشَائِرُهُم وَقَالَ حَمّادُ اِذَا تَکَفّلَ بِنَفسٍ فَمَاتَ فَلاَ شَيئَ عَلَیهِ (الف) بخاري شریف.باب الکفالة في القرض والدیون بالابدان وغیرها ص۳۰۵نمبر۲۲۹۰) ددې دواړو اَثَرُو څخه معلوم سوچي کَفَالَة بِالنّفس اخستل جائز ده .

فائده : امام شافعي فرمائي چي د بَل پر ذَات باندي د چَا وَس او طاقت نَه چلیږي نوځکه کفالة بالنفس اخستل جواز نَه لري.موږ دا وایو چي د بَل دحاضرولو طاقت خو لري لِهٰذَا کفالة بالنفس اخستل جائز دئ .

[۱۴۲۰](٣) کفالة بالنفس مُنعَقِدکیږي که دا ووائي چي زَه دفُلاَنِي دنفس کفیل یَم یا دهغه دغَاړِي کفیل یَم یا دهغه د رُوح یا دهغه دبَدَن یا دهغه دسَر یا دهغه دنِیمِي یا دهغه ددَرَیَمِي .

حاشیه : (الف) حضرت عُمَر حضرت حَمزَه بن عُمَر اَسلَمِي دصدقې دوصولولو لپاره واستاوئ.نو یَوَه سړي دحضرت عُمَر دبِي بِي د مِینځِي سره بَدکَارِي وکړه.نوحضرت حمزه دهغه سړي څخه کفیل بِالنّفس واخستئ ترهغه وخت چي حضره عُمَر راسي.او حضرت عُمَر هغه ته سَل کوړې ورلګولي وې.نو دهغه تَصدِیق ئې وکئ.او د نَه خبرېدو لکبله دئ مَعذُور وګانئ.عبدالله بن مسعود په مُرتَدِینُ باندي توبه وکړه او دهغو څخه کفیل واخستئ.نو هغوخلګو توبه وکړه او دهغو قریبانوکفیل بِالنّفس ورکړئ.او حَمّاد وفرمائل چي یو څوک کفیل بِالنّفس جوړ سو بیا مَکفُولٌ لَهُ مَړ سو نو پر ده باندي هیڅ شئ نسته .

[۱۴۲۱](۴) وَكَذَالِکَ اِن قَالَ ضَمَنتُهُ اَو هُوَ عَلَيّ اَو اِلَيّ اَو اَنَا بِهِ زَعِيمٌ اَو قَبِيلٌ بِهِ .

تشريح : د دي ځائ ښخه ددې بيان دئ چي په څَه رنګه وَينَا ياپه کومو کومو الفاظو سره کفالة بالنفس ثابتيږي.نو قاعده داده چي هر هغه لفظ چي دهغه ښخه پوره اِنسَان مُرَادِيږِي دهغه الفاظوښخه کفالة بالنفس ثابتيږي.مثلاً دنَفس ښخه پوره انسان مراد وي.دغه رنګه د غَارِي دلفظ ښخه هم پوره انسان مراد وي.دغه رنګه رُوح.بَدَن او سَر ښخه هم پوره انسان مراد وي.او د نِيم لفظ او يوه دَرَيَمَه لفظ هم په پوره انسان کي شَائِع دئ نو ځکه ددې لفظو ښخه هم پوره انسان مراد وي او کفالة بالنفس به ځيني ثابت سي .

[۱۴۲۱](۴) او دغه رنګه وويل چي زَه دده ضَامِن يَم يا دئ پر مَا دئ يا زُومَا وخوا ته دئ يا زَه دده ذِمّه داره يَم يا زَه دده کفيل يَم .

تشريح : ددې الفاظو په ويلوسره هم کفيل ګرزي .

وجه : ځکه چي دا لفظونه پر کفالت دلالت کوي.د ,,عَلَيّ,, لفظ هم د ذِمّه دارئ دقبلولو لپاره راځي.په حديث کي دئ عَن جَابِرٍ قَالَ کَانَ النّبِيّﷺ لاَ يُصَلّي عَلْي رَجُلٍ عَلَيهِ دَينٌ ... قَالَ اَنَا اَولْي بِکُلّ مُؤمِنٍ مِن نَفسِهِ مَن تَرَکَ دَينًا فَعَلَيّ وَمَن تَرَکَ مَالاً فَلِوَرَثَتِهِ (الف) (نسائي شريف.باب الصلوة من عليه دَينٌ ص۲۰۷نمبر ۱۹۶۴) په دې حديث کي ,,فَعَلَيّ,, لفظ راغلئ دئ چي دکفالت په معنْي دئ يعني کوم چاچي دَين پرېښوئ دهغه کفيل زَه ىَ◌م.نوځکه د,,عَلَيّ,, لفظ ښخه هم کفالت صحيح کيږي.او د,,اِلَيّ,,لفظ هم د ذِمّه دَارَئ اوکفالت لپاره استعماليږي. په حديث کي راغلي دي عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنّهُ قَالَ مَن تَرَکَ مَالاً فَلِلوَرَثَةِ وَمَن تَرَکَ کَلاّ فَاِلَينَا (ب)

[۱۴۲۲](۵) فَاِن شَرَطَ فِي الکَفَالَةِ تَسلِيمَ المَکفُولُ بِهِ فِي وَقتٍ بِعَينِهِ لَزِمَهُ اِحضَارُهُ اِذَا طَالَبَهُ بِهِ فِي ذَالِکَ الوَقتِ فَاِن اَحضَرَهُ وَ اِلاّ حَبَسَهُ الحَاکِمُ .

(مسلم شريف.باب من ترک مالاً فلورثته ص۳۵نمبر ۱۶۱۹\۴۱۶۱) په دې حديث کي ,, فَاِلَينَا ,, لفظ د کفيل جوړېدو په معنْي راغلئ دئ. د ,,اَلزّعِيمُ,, لفظ هم دکفيل په معنْي استعماليږي.ددې لپاره دقرآنِ پاک آيت او حديث ,,اَلزّعِيمُ غَارِمٌ,, تېرسوئ دئ. او د,,قَبِيلٌ,, دلفظ ښخه کفالت ثابتيږي ددې دليل دا دئ چي ددغه لفظ ښخه ,,قَبَالَةٌ,, لفظ د چِيک په معنْي دئ.او ,,قَبَالَةٌ,, هم دکفالت په معنْي دئ .

حاشيه : (الف)حضور ﷺوفرمائل زَه دهر مؤمن دنَفس ښخه هم زيات نژدې يَم.کوم چاچي قَرض پرېښوئ هغه پر مَا دئ.او کوم چاچي مَال پرېښوئ هغه دده د وَارِثَانُو دئ (ب) حضورر ﷺوفر وفرمائل کوم چاچي مال پرېښوئ هغه دده د وَارِثَانُو لپاره دئ. او چي قرض ئي پرې ايښئ وي هغه زموږ پر ذِمّه دئ .

[۱۴۲۲](۵) بیا که چیري په کفالة کي شرط کړئ ؤ دمَکفُولٌ بِهِ د حَوَالَه کولو په وختِ مُقَرّر کي نو پر کفیل دهغه حاضرول لازم دئ چي کله په وخت کي دهغه مُطَالَبَه وکړي.نوکه چیري هغه حاضرکړئ خو صحیح دئ که نَه نو حَاکِم به کفیل قَیدکوي .

تشریح : په کفالة بِالنّفس کي دا شرط لګولئ ؤ چي مَکفُولٌ بِهِ به پر مُقَرّروخت حاضروي.نو پر کفیل لازم دئ چي دمَکفُولٌ بِهِ مطالبه وکي هغه وخت دي دا حاضرکړي.نوکه چیري پر مُقَرّر وخت باندي حاضرکړئ خو ښَه خَبَرَه ده.او که نَه کړئ حاضر او څو واره دمُطالبې باوجود ئې هم حاضر نَه کړئ او مَکفُولٌ بِهِ ژُوَندَئ دئ او په دَارُالاِسلاَم کي موجود دئ نو اُوس به حَاکِم کفیل قَید کوي .

وجه : (۱) ده د وعدې خلاف وَرزِي کړې ده او دبَل حَق ئې وَهَلَئ دئ نوځکه دئ به قَید کوي (۲) په اَثَر کي ددې ثبوت سته چي د وعدې پر خِلاَف وَرزِي باندي حضرت شُرَیح په خپله خپل زُوئ قَید کړئ سَمِعتُ حَبِیبًا اَلّذِي کَانَ یَقدِمُ الخُصُومَ اِلٰي شُرَیحِ قَالَ خَاصَمَ رَجُلٌ اِبنًا لِشُرَیحِ اِلٰي شُرَیحِ کَفَلَ لَهُ بِرَجُلٍ عَلَیهِ دَینٌ فَحَبَسَهُ شُرَیحٌ فَلَمّا کَانَ اللّیلُ قَالَ اِذهَب اِلٰي عَبدِاللهِ بِفِرَاشٍ وَطَعَامٍ وَکَانَ اِبنُهُ یُسَمّي

[۱۴۲۳](۶) وَاِذَا اَحضَرَهُ وَسَلّمَهُ فِي مَکَانٍ یَقدِرُ المَکفُولٌ لَهُ عَلٰي مَحاکَمَتِهِ بَرِئَ الکَفِیلُ مِنَ الکَفَالَةِ [۱۴۲۴](۷) وَاِذَا تَکَفّلَ بِهِ عَلٰي اَن یُسَلِّمَهُ فِي مَجلِسِ القَاضِي فَسَلّمَهُ فِي السّوقِ بَرِئَ وَاِن سَلّمَهُ فِي بَرِیّةٍ لَم یَبرَأ .

عَبدَالله (الف) (سنن للبیهقي.باب ماجآء في الکفالة ببدن من علیه حق ج۶ ص۱۲۸نمبر۱۱۴۱۸\مصنف عبدالرزاق.باب الکفلآء ج۸ص۱۷۳نمبر ۱۴۷۶۶) ددې څخه معلوم سوچي کفیل دوعده خلافئ په صورت کي قَید کولائي سي .

[۱۴۲۳](۶) که مَکفُولٌ بِهِ حاضرکړئ او حواله ئې کئ داسي ځائ ته چي مَکفُولٌ لَهُ دهغه سره مُخَاصَمَت کولائي سي نو کفیل به دکفالت څخه بَرِي سي .

تشریح : د کفالت مقصددادئ چيمَکفُول بِهِ داسي ځائ ته حاضرکړي چي هلته مَکفُولٌ لَهُ دهغه سره مُخَاصَمَت وکړي.اوکفیل دغه رنګه وکړه چي داسي ځائ ته حاضرکړئ چي هلته مَکفُولٌ لَهُ دهغه سره مُخَاصَمَت کولائي سي نوځکه کفیل بَرِئ دئ .

[۱۴۲۴](۷) که ددې خبري کفیل سوچي مَکفُول بِهِ په دقاضي په مجلس کي حواله کوي او هغه ئې په بَازَار کي سُپُرد کئ نو کفیل به بَرِي سي.اوچي په جنګل کې سُپُرد کړي نو نَه بَرِي کیږي .

تشریح:که دقاضي په مجلس کي دسُپُردکولوشرط لګولئ ؤلېکن ده ددې بجاۍ په بَازَار کي هغه ومَکفُول بِهِ ته حواله کړئ نوبَرِي دئ.اوکه په ځنګل کي حواله کړئ نَه بَرِیکیږي.

وجه :په هغه زمانه کي به قاضي په بَازَارکي هم دمُجرِمَانُوم◌ُح◌َاس◌َب◌َه کوله نوپه بَازَار کي هم مَکفُول بِه دمُحَاسبې قَابِل سو.ځکه کفيل به بَرِي سي.اوپه ځنګل کي قاضي

حاشيه : (الف) حضرت حبيب فرمائي چي يوه سړي حضرت شُرَيح ته دهغه زُوئ دمُخَاصَمَت لپاره بُوتَئ چي ديوه سړي دقرض کفيل جوړسوئ وُ.نوقاضي شُرَيح دئ قَيد کړئ.چي شُپَه سوه نو وويل چي د دُودَئ او بَسترې لپاره عبدالله ته وَرسَه.عبدالله دقاضي شُرَيح د دوم زوئ نوم دئ .

[۱۴۲۵](۸) وَ اِذَا مَاتَ المَکفُولُ بِهِ بَرِيَ الکَفِيلُ بِالنّفسِ مِنَ الکَفَالَةِ .

مُحَاسَبَه نَه سي کولائي بلکه دا خو د تِيښتِي يوه مَنصُوبَه ده.نوځکه په ځنګله کي دحواله کولو څخه کفيل نَه بَرِي کيږي .

اُصُول : په داسي ځائ کي حواله کول ضروري دئ چي هلته دمَکفُول بِهِ څخه محاسبه وکړل سي .

پام لرنه : په دې نَن زمان کي په بَازَار کي مُحَاسَبَه کول هيڅ اِمکان نَه لري نوځکه په نَه زمان کي په بَازَار کي دحواله کولو څخه کفيل د کَفَالَې څخه نَه بَرِي کيږي .

لُغَت : بَرِيَّةٌ : ځنګل. صَحرآء .

[۱۴۲۵](۸) که مکفول به مړ سي نوکَفِيل بِالنّفس به دکفالې څخه بَرِي سي .

تشريح : کفيل خو دمُجرِم دحاضرولو کفالت اخستئ وُ لېکن مُجرِم په خپله مړ سونو دکفيل څخه به کَفَالَت ساقط سي .

وجه : (۱) چي مړ سو نو اُوس به څوک حاضروي؟ او دمَکفُول بِه مال خو ددې کار لپاره نَه دئ نوځکه کَفَالَت به ساقط سي (۲) دمرګ په جه د اَصِيل يعني مَکفُول بِهِ څخه حاضري ساقط سوه نوځکه اُوس دتَابِع يعني کفيل څخه هم حاضري ساقط ده (۳) په اَثَر کي ددې ثبوت سته عَنِ الحَکَمِ وَحَمّادٍ اَنّهُمَا قَالاَ فِي رَجُلٍ تَکَفّلَ بِنفسِ رَجُلٍ فَمَاتَ الرّجُلُ قَالَ اَحَدُهُمَا يَضمَنُ الدّرَاهِمَ وَقَالَ الآخَرُ لَيسَ عَلَيهِ شَيئٌ (الف) (سنن للبيهقي.باب ماجآء في الکفالة ببدن من عليه حَقٌ ج۶ص ۱۲۸نمبر۱۱۴۱۹) په دې اَثَر کي دئ چي په کفالة بالنفس کي مَکفُول بِه مَړسي نوپرکفيل باندي هيڅ شيئ نَه لازميږي بلکه دئ به بَرِي سي .

اُصُول : دامسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چي داَصل څخه ساقط سي نوکفيل چي فرع

حاشيه : (الف) حضرت حَکَم او حَمّاد وفرمائل چي يوڅوک د بَل چا کفيل بِالنّفس جوړ سوبيا هغه سړئ مَړ سو.د دُوئي څخه يوه وويل چي د دِرهَم ضَامِن به سي او هغه بَل وفرمائل چي پر کفيل هيڅ شيئ نَه لازميږي .

[۱۴۲۶](۹) وَ اِن تَکَفّلَ بِنَفسِهِ عَلْي اَنّهُ اِن لَم يُوَافِ بِهِ فِي وَقتِ کَذَا فَهُوَ ضَامِنٌ لِمَا عَلَيهِ وَهُوَ اَلفٌ فَلَم يَحضُرهُ فِي ذَالِکَ الوَقتِ لَزِمَهُ ضَمَانُ المَالِ وَلَم يَبرَأ مِنَ الکَفَالَةِ بِالنّفسِ .

دئ دهغه ځخه هم ساقطيږي .

[۱۴۲۶](۹) که کفيل بِالنّفس جوړ سو په دا ډَوَل چي که مَا پر فُلاَنِي وخت دئ حاضر نَه کړئ نو زَه ضَامِن يَم دهغه مَال کوم چي پر ده دئ او هغه زَر وُ.بيا ئې پر هغه وخت حاضر نَه کئ نو پر کفيل به د مَال ضَمَان لازم سي او دکَفَالَت بِالنّفس ځخه نَه بَرِي کيږي .

تشريح : په دې عِبَارَت کي پر يوه ځائ دوه قِسم کَفَالَه ده.کفاله بِالمَال هم ده او کفاله بِالنّفس هم ده.او هغه هم دشرط سره ده چي که پر فُلاَنِي وخت مَا فُلاَنَئ حاضر نَه کئ نوچي هرڅومره قرض پر ده دئ دهغه قرض ذِمّه دَارَه زَه يَم.,,که مو حاضر نَه کئ,,ددې لفظ ځخه کَفَالَت بِالنّفس راغلئ. او ,,چي هرڅُونَه قرض دئ زه دهغه ذِمّه دَارَه يَم,, ددې جملې ځخه کَفَالَت بِالمَال راغلئ. اُوس چې پر وخت حاضر نَه کئ نوپرکفيل به قرض لازم سي. او کَفَالَت بِالنّفس چي حاضرول وُ هغه هم نَه ساقطيږي.ځکه چي اَصل خو به دئ خامخا حاضروي.دشرط سره دکفالې دليل دا حديث دئ عَن جَابِرٍ قَالَ کَانَ النّبِيّﷺ لاَيُصَلِّي عَلْي رَجُلٍ عَلَيهِ دَينٌ ... قَالَ اَنَا اَولٰي بِکُلِّ مُؤمِنٍ مِن نَفسِهِ مَن تَرَکَ دَينًا فَعَلَيّ وَمَن تَرَکَ مَالاً فَلِوَرَثَتِهِ (الف) (نسائي شريف. باب الصلوة علْي من عليه دَينٌ ص۲۰۷نمبر۱۹۶۴\بخاري شريف.باب الدين.کتاب الکفالة ص۳۰۵نمبر۲۲۹۸) په دې حديث کي په دې شرط حضورﷺ ذِمّه داري اخستې ده چي که قرض پرې ايښئ وي نو زه دهغه ذِمّه دَارَه يَم ددې ځخه معلومسوچي شَرطِيَه کفيل جوړېدل جائز دئ .

حاشيه : (الف) حضور به پر هغه سړي دجنازې لمونځ نَه کاوئ پر چاچي دَين وُ ... حضور وفرمائل زَه دهر مؤمن دنفس ځخه زيات نژدې يَم.کوم چاچي قرض پرې ايښئ وي هغه پر مَا دئ او کوم چاچي مَال پرې ايښئ وي هغه دده د وَارِثَانُو دئ .

[۱۴۲۷](۱۰) وَ لاَتَجُوزُ الکَفَالَةُ بِالنّفسِ فِي الحُدُودِ وَالقِصَاصِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰي [۱۴۲۸](۱۱) وَ اَمّا الکَفَالَةُ بِالمَالِ فَجَائِزَةٌ مَعلُومًا کَانَ المَکفُول بِهِ اَو مَجهُولاً اِذَا کَانَ دَينًا صَحِيحًا مِثلَ اَن يَقُولَ تَکَفّلتُ عَنهُ بِاَلفِ دِرهَمٍ اَو بِمَا لَکَ عَلَيهِ اَو بِمَا يُدرِکُکَ فِي هٰذَا البَيعِ .

لُغَت : لَم يُوَافَ : پوره ئې نَه کئ.پر وخت ئې نَه کئ حاضر .

[۱۴۲۷](۱۰)کَفَالَة بِالنّفس جواز نَه لري په حُدُود او قِصَاص کي د امام ابوحنيفه په نېز .

تشريح : په حُدُود او قِصَاص کي به پر کفالة بِالنّفس باندي نَه مجبور کوي.البته که هغه په خپله خوشحالي سره ورکړي نو بيا ځَه دحرج خبره نَه ده .

وجه : (۱) ځکه چي په حدود او قصاص کي دا کوشش کيږي چي دا پر مُجرم باندي نَه سي جاري.او دکفالې ورکولو مطلب دادئ چي که چيري خوشي کيږي هم نو لا نور مضبوط سي.نوځکه په حدود او قصاص کې بايدپر کفاله باندي مجبوره نَه کړي (۲) په حديث کي دئ حَدّثَنِي عُمَرُبنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدّهِ اَنّ النّبِيّﷺ قَالَ لاَ کَفَالَةَ فِي حَدٍّ (الف

) (سنن للبيهقي.باب ماجآء في الكفالة ببدن من عليه حق ج۶ص۱۲۷ نمبر۱۱۴۱۷) په دې حديث كي دئ چي په حَد كي كَفَالَه بِالنّفس جواز نَه لري .

فائده : صاحبين فرمائي چي په حَدِّقَذَف كي خو دبندګانو حقوق وي نوځكه په هغه كي به پر كَفَالَه بِالنّفس وركولومجبوره كوي .

[۱۴۲۸](۱۱) بَهرحال كَفَالَه بِالمَال خوجائزدئ.مَكفُول بِهِ معلوم وي كه مَجهُول چي كله دَين صحيح وي مثلاً دا وايي چي زَه دده لخوا ضَامِن يَم د زَر دِرهَمَ يا چي څَه ستا د دده پر ذِمّه دي يا چي هرڅَه تاته په دې بَيعَ كي رسيږي .

تشريح : ددې ځايه څخه دكفاله بِالمَال مسئلې شروع دي.نوفرمائي چي په كفاله بِالمَال كي مَال مجهول وي يعني چي مِقدَارئې معلوم نَه وي هم بيا هم دهغه كَفَالَه جائزده.چي مَال معلوم وي دهغه صورت دادئ چي زَه د زَر دِرهَمَ ضَامِن يَم.او دمجهول صورت دادئ چي دا ورته ووائي ستا پر ذِمّه چي هرڅَه راځي زَه دهغه ذِمّه دَارَه يَم.اُوس دده پر ذِمّه څونه راځي؟ دا نَه دئ معلوم بيا هم ددې كَفَالَه جائزده.يا داسي ووائي چي په دې بَيعَ كي ستا پر ذِمّه چي هرڅونه راځی زَه دهغه كَفِيل يَم.اُوس څونه راځي؟ ددې مِقدَار هم نَه دئ معلوم خو ددې باوجود كَفَالَه جائز ده .

وجه : (۱) په مَال كي دكفيل جوړېدو بَاربَار ضرورت پېښيږي نوځكه دضرورت په وجه مَجهُول كَفَالَت هم جائزګڼل سوئ دئ (۲) په آيت كي دحضرت يوسف عليه السلام خَادِم د يَوَه وُښ د بَار كفيل جوړسوئ وُ او د وُښ د بَار مِقدَار معلوم نَه دئ دهغه باوجود كَفِيل جوړېدل صحيح وُ.په آيت كي دئ وَلِمَن جَآ ءَ بِهِ حِملُ بَعِيرٍ وَ اَنَا بِهِ زَعِيمٌ (آيت۷۲سورة يوسف۱۲) (۳) په حديث كي دمجهول دَين كفيل جوړېدلو ته جواز وركړئ دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺ كَانَ يُؤتي بِالرّجُلِ المُتَوَفّي عَلَيهِ الدّينُ ... فَمَن تَوَفّي مِنَ المُؤمِنِينَ فَتَرَکَ دَينًا فَعَلَيّ قَضَآ ءُهُ وَمَن تَرَکَ مَالاً فَلِوَرَثَتِهِ (الف) (بخاري شريف.باب الدين.كتاب الكفالة ص۳۰۵ نمبر ۲۲۹۸\مسلم شريف.باب من تركن مالاًفلورثته ص۳۵نمبر۱۶۱۹) په دې حديث كي دئ چي زَه دمُؤمنانو د دَين كفيل يَم.اُوس هغه دَين څُونَه دئ؟ دا مجهول دئ.خو ددې باوجود دحضور ﷺكفيل جوړېدل صحيح سو.لِهٰذَا دمجهول مال كفيل جوړېدل صحيح دئ .

پام لرنه : په كَفَالَه او بَيعَ كي دا فرق دئ چي بَيعَ خو دمعلوم شِي دا كيږي او كَفَالَه دمجهول شِي دا هم كېدلائي سي .

لُغَت : مَايُدرِکُکَ : دا د ,,دَرَکٌ,, څخه مُشتق دئ.چي كوم پر تاباندي راسي.كوم چي تَا ومِوندي .

حاشيه : (الف) حضورﷺ وفرمائل په حَد كي كَفَالَه نسته .

حاشيه : (الف) دحضور مخته فَوت سوي داسي خلګ راوړل كېدل چي پرهغه به دَين وُ ... حضور وفرمائل دمؤمنانوڅخه چي كوم فَوت سي او قَرض پريږدي نو دهغه ادآئيګي پرما ده او چي كوم مَال پريږدي هغه د وَارِثَانُودئ .

[۱۴۲۹](۱۲) وَالمَکفُولُ لَهُ بِالخِیَارِ اِن شَآءَ طَالَبَ اَلّذِي عَلَیـهِ الاَصـلُ وَاِن شَآ ءَ طَالَبَ الـکَفِیلَ .

[۱۴۲۹](۱۲) او ومَکفُولٌ لَهُ ته اِختِیَار دئ که خُوَښَه سي دهغـه څخـه دي طَلَـب کـړي پر چاچي اَصل دئ او که خُوَښَه سي دکَفِیل څخه دي طَلَب کړي .

وجه : (۱) دکفالة مطلب دغه دئ چي پر اَصل مَقرُوض اوکفیل دواړو بانـدي د قَـرض ذِمّـه دَارِي راسي.نوځکه قَرض خُوَاه د په دواړو کي دهر یَوَه څخه دقرض مُطَالَبَـه کـولائي سـي (۲) په حدیث کي ددې ثبوت سته چي حضرت ابوقتـاده د مَـړي لجانـب څخـه د دُوُ دِینَـارُ د اداَء کولو ذِمّه دَارِي واخسته او پوره یَوَه ورځ ئې هغه اداَء نَه کړه نوحضورﷺتـه ددې ډېـر اَفسُوس وُ او چي کله په دا بَلَه ورځ هغه اداَء کړل نوحضورﷺ وفرمائل اُوس دمَـړِي چَمـړَه یعني بَدَن خُنَک سو.ددې مطلب دادئ چي د اداَءکولوڅخه مخکي لکه څَه رنګه چي پر کَفِیل ذِمّه دَارِي سته دغه رنګه پراَصِیل باندي هم ذِمّه دَارِي سته چي هغه پـه عَـذَاب کـي مُبـتَلآء وي.حدیث دادئ قَالَ جَابِرٌتُوُفِّيَ رَجُلٌ فغَسَلنَاهُ وَحَنطنَاهُ وَکَفَنّاهُ ثُمّ اَتینَا النّبِيّﷺ فَقُلنَـا لَـهُ تُصَـلّي عَلَیهِ فَقَامَ فَخُطَا خُطَيّ ثُمّ قَالَ عَلَیهِ دَینٌ؟ قَالَ فَقِیلَ دِینَارَانِ قَالَ فَانصَرَفَ قَالَ فَتَحَمّلَهُمَا اَبُوقَتَادَةَ قَالَ فَاَتَینَاهُ قَالَ فَقَالَ اَبُوقَتَادَةَ اَلدِینَارَانِ عَلَيّ فَقَالَ النّبِيّﷺ حَقّ الغَرِیمُ وَبَـرِئَ مِنهُمَـا المَیّتُ قَـالَ نَعَم فَصَلّي عَلَیهِ رَسُولُ اللهِﷺ قَالَ فَقَالَ لَهُ بَعدَ ذَالِکَ بِیَومٍ مَافَعَلَ الدِّینَارَانِ؟ قَالَ اِنّمَا مَاتَ اَمـسِ قَـالَ فَعَـادَ اِلَیـهِ کَالغَـدِّ قَـالَ قَدقَضَـیتُهُمَا فَقَـالَ النّبِـيّ اَلآنَ بَـرَدَت عَلَیـهِ جِلـدَهُ (الـف) (سـنن للبیهقي.باب الضمان عن الميت ج۶ص۱۲۴نمبر۱۱۴۰۵) په دې حدیث کي ترهغه وخته پوري دمَړِي چَمـړَه یَخَـه نَه سوه ترڅو چي ابوقتـاده دواړه دِینَـارَه اداَء نَـه کړه.ددې څخـه دا معلـوم سـوچي د دواړو دِینَارُو ذِمّه دَارِي پر اَصل مَړِي باندي هم پاته وَه.نوځکه کَفِیل او مَکفُول عَنهُ به دواړه ذِمّـه دَارَه وي .

اُصُول : په کَفَالَة کي کَفِیل او اَصِیل دواړه ذِمّه دَارَه وي .

[۱۴۳۰](۱۳) وَیَجُوزُ تَعلِیقُ الـکَفَالَةِ بِالشّرُوطِ مِثـلَ اَن یَقُـولَ مَابَایَعـتَ فُلانًا فَعَلَیّ اَو مَا ذَابَ لَکَ عَلَیهِ فَعَلَيّ اَو مَا غَصَبَکَ فُلاَنٌ فَعَلَیّ .

حاشیه : (الف) حضرت جَابِرفرمائي چي یَوسړئ مَړسو نوموږ هغه ته غُسل ورکئ.هغـه تـه مُـو حَنُـوط خوشبو ورولګول او هغـه تـه مُـوکَفَـن ورکئ.بیـائې حضـور تـه راوړئ.مـوږ وحضـور تـه وویل.تَـه ودې تـه لمـونځ وَرکَه.حضور ولاړ سو یَو دُوَه قَدَمَه روان سو بیا ئې پوښتنه وکړه پرده باندي قَرض سته؟ وویـل سـو چـي هُـو!دُوَه دِینَارَه.راوي وویل چي حضور وَاپَس راغلئ.بیا حضرت اَبُوقَتَادَه هغه پر خپله ذِمّه واخستل.راوي وائـي چـي مـوږ هغه مَړَئ راوړئ.او اَبُوقَتَادَه وویل هغه دواړه دِینَارَه زُومَا پرذِمّه دي.حضور پوښتنه وکړه آیـا دقـرض خُـوَاه حَـق وسو او مَړَئ دهغه دِینَارُونُو څخه بَرِي سو؟ اَبُوقَتَادَه وفرمائل هو! حضور دهغه لمونځ اداَء کئ.یَـوَه ورځ وُرُوسـتَه پوښتنـه وکـړه دُوَاړه دِینَارُونَه څَه رنګه سو؟یعني اداَء مُوکړل؟ اَبُوقَتَـادَه وفرمائـل مَـا اداَء کـړل. حضـور وفرمائـل اُوس دمَړِي پُوست یعني بَدَن یَخ سو .

[۱۴۳۰](۱۳) او کفاله دشرط سره مُعَلّق کول جائز ده مثلاً دا ووائي چي په څونه پر فُلاَنِي خرڅ کړِي هغه پرمَا دي يا چي څَه ستا دده پر ذِمّه واجب سي هغه پر مَا دي.يا ستا چي هرشيئ فَلاَنَئ غَصَب کړي هغه پر ما دئ .

تشريح : کَفَالَه لکه څَه رنګه چي بغيره دشرط جائز ده دغه رنګه ديوشرط سره مُعَلّق کَفِيل جوړېدل هم جائزدئ.په مَتن کي ددې څو مثالونه ورکړي دي.مثلاً پر فُلاَنِي سړي چي هرڅَه خرڅ کړِي دهغه قيمت پرمادئ نو دا پر شرط باندي مُعَلّق کفيل سو.او دمَجهُول مِقدَار کفيل سو.يا ستا چي پر فُلاَنِي څَه واجب سي هغه زُومَا پرذِمّه دي.يا فُلاَنَئ چي هرڅَه غَصَب کړي هغه زُومَا پرذِمّه دي نو په دې صورتو کي کَفَالَة صحيح کيږي او پر کَفِيل به دهغه ذِمّه دَارِي راسي .

وجه : (۱) په کَفَالَه کي داسي وُسعَت او آسانتيا سته.نوځکه دا قَابِلِ بَردَاشت ده.ځکه چي رُوزَانَه ددې ضرورت پېښيږي (۲)په حديث کي دئ چي حضور په دې شرط د دَين د اداَء کولو کَفِيل جوړسو چي که مُؤمِنَانُو قرض پرېښوئ نودهغه ادائيګي پرمَا ده عَن جَابِرٍ قَالَ کَانَ النّبِيّ لاَيُصَلِّي عَلْي رَجُلٍ عَلَيهِ دَينٌ ... مَن تَرَکَ دَينًا فَعَلَيّ وَمَن تَرَکَ مَالاً فَلِوَرَثَتِهِ (الف) (نسائي شريف.اَلصّلوة علْي من عليه دَينٌ ص۲۰۷نمبر۱۹۶۴\بخاري شريف.

[۱۴۳۱](۱۴) وَاِذَا قَالَ تَکَفّلتُ بِمَالَکَ عَلَيهِ فَقَامَتِ البَيّنَةَ بِاَلفٍ عَلَيهِ ضَمِنَهُ الکَفِيلُ [۱۴۳۲](۱۵)فَاِن لَم تَقُمِ البَيّنَةَ فَالقَولُ قَولُ الکَفِيلِ مَعَ يَمِينِهِ فِي مِقدَارِ مَايَعتَرِفُ بِهِ .

باب الدين ص۳۰۵نمبر۲۲۹۸) په دې حديث کي شرط دئ چي څوک دَين پرېږدي نو زَه دهغه ذِمّه دَارَه يَم (۳) په آيت کي هم دحضرت يوسف عليه السلام خَادِم پر شرط مُعَلّق کفيل جوړسوئ وُ وَلِمَن جَآءَ بِهِ حِملُ بَعِيرٍ وَاَنَا بِهِ زَعِيمٌ (آيت ۷۲سورة يوسف۱۲) نوځکه د شرط سره مُعَلّق کفيل جوړېدل صحيح دئ .

پام لرنه : چي پرمَجهُول شرط کفالة مُعَلّق کړي نو دا جواز نَه لري.مثلاً دا ووائي چي که هَوَا وچلېده نو زَه کفيل يَم نو په داسي صورت کي کَفَالَة نَه صحيح کيږي .

لُغَت : ذَابَ لَکَ عَلَيهِ : چي هرڅَه ستا پر ذِمّه وي .

[۱۴۳۱](۱۴) او که وويل چي زَه کفيل يَم دهغه شِي کوم چي ستا دده پرذِمّه دئ بيائې پر هغه د زَرُو ګواه پېش کړئ نو کفيل به دهغه ضَامِن سي .

تشريح : مخکې داويلي دي چي څونه ستا دده پر ذِمّه دي زَه دهغه ضَامِن يَم.اُوس ئې بَيّنَه پېش کړه دائې ثابته کړه چي پر مَکفُولٌ لَهُ باندي زُومَا زَردي.نوځکه د ذِمّه دَارَئ مطابق به پر کفيل باندي زَر اداَء کول لازم سي .

حاشيه : (الف) حضور پر داسي خلګو دجنازې لمونځ نَه کاوئ چي دَين به پر وُ... چاچي قرض پرېښوئ هغه پر مَا دئ او چاچي مَال پرېښوئ هغه دده د وَارِثَانُو دئ .

وجه : چي بَيِّنَه پيش کړي ثابتول دارنګه دئ لکه دمخکي څخه چي ثَابِت شُدَه وي.نوځکه ځونه چي په بَيِّنَه ثابت کړي دي هغونه به ثابت سي .

[۱۴۳۲](۱۵) که چيري بَيِّنَه ثابته نَه کړه نو دکفيل قول مُعتَبَردئ سره دقَسَم په هغه مِقدَار کي کوم چي دئ ئې اِقرَار کوي .

تشريح:پرمَکفُولٌ لَهُ يعني قرض ورکونکي باندي بَيِّنَه قائمول واجب وُلېکن هغه بَيِّنَه قائم نَه کړه.نوبياچي کَفِيل ځونه وائي دهغه خَبَرَه به منل کيږي د قَسَم سره .

[۱۴۳۳](۱۶) فَاِن اِعتَرَفَ المَکفُولُ عَنهُ بِاَکثَرَ مِن ذَالِکَ لَم يُصَدّق عَلْي کَفِيلِهِ .

وجه : (۱) په دې صورت کي مَکفُولٌ لَهُ مُدّعِي دئ نوځکه بَيِّنَه پرهغه ده او چي کله ده هغه ثابته نَه کړه نو کَفِيل مُدّعْي عَلَيه دئ او مُنکِردئ نوځکه دده خَبَرَه به سره دقَسَم منل کيږي (۲) په حديث کي دئ عَن عَمرِوبنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ اَنّ النّبِيّﷺ قَالَ فِي خُطبَتِهِ اَلبَيِّنَةُ عَلْي المُدّعِي وَاليَمِينُ عَلْي المُدّعْي عَلَيهِ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجآءفي ان البينة علْي المدعي واليمين علْي المدعْي عَلَيهِ ص۲۴۷نمبر۱۳۴۱\بخاري شريف.باب اليمين علْي المدعْي عَلَيه فِي الاموال والحدودص۳۶۶نمبر۲۶۶۸) ددې حديث په رونا کي کَفِيل مُدّعْي عَلَيه دئ نوځکه پرده باندي قَسَم واجب دئ او دده خَبَرَه به سره دقَسَم منل کيږي .

[۱۴۳۳](۱۶) که مَکفُولٌ عَنهُ ددې څخه دزِيَات اِعتِرَاف وکي نوپرکفيل به دهغه تَصدِيق نَه کول کيږي .

تشريح : د قرض ورکونکي مَکفُولٌ لَهُ سره بَيِّنَه نَه وه نو کفِيل قَسَم وَخُوَاړَئ او د زَرُو روپئ اِقرَار ئې وکئ لېکن قرض اَخستُونکِي مَکفُولٌ عَنهُ اِقرَار وکئ چي دُوُولَس سوه روپئ وې نو دمَکفُولٌ عَنهُ خَبَرَه پر کفيل باندي قَابِلِ قَبُول نَه ده.لېکن په خپله پرخپل ځان باندي دا اِقرَار صحيح دئ او دُوَه سوه روپئ دي مَقرُوض يعني مَکفُولٌ عَنهُ دخپل جانب څخه اداّء کړي .

وجه : (۱) مَکفُولٌ عَنهُ ګواکه په خپله ددې معاملې څخه اَجنَبِي سو.نوځکه دده اِعتِرَاف د نورو خلاف قَابِلِ قَبُول نَه دئ که څَه هم د قَسَم سره اِعتِرَاف کړئ وي (۲) هسي خو هم کَفِيل مُدّعْي عَلَيهِ وُ نوځکه سره دقَسَم به دده خَبَرَه منل کيږي دمَکفُولٌ عَنهُ خبره به نَه منل کيږي .

پام لرنه : دمَکفُولٌ عَنهُ اِعتِرَاف دده د ذَات په اړه صحيح دئ .

حاشيه (الف) حضور په خپله خُطبَه کي وفرمائل ګواه پر مُدّعِي دئ او قَسَم پر مُدّعْي عَلَيه دئ .

[۱۴۳۴](۱۷) وَتَجُوزُ الکَفَالَةُ بِاَمرِ المَکفُولُ عَنهُ وَبِغَيرِ اَمرِهِ

[۱۴۳۵](۱۸) فَاِن کَفّلَ بِاَمرِهِ رَجَعَ بِمَا يُؤدّيْ عَلَيهِ .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چي د مُدّعْي عَلَيـهِ خـلاف د بَيِّنـې پرځـاۍ څوک قَسَم وَخُورِي اِعتِرَاف وکي نو دا هيڅ اِعتِبَار نَه لري .

[۱۴۳۴](۱۷) کَفَالَه جائزده دمَکفُولٌ عَنهُ په حُکم او بېله دهغه دحُکمَ .

تشريح : کفيل دواړه رنګه جوړيږي.که دمَکفُولٌ عَنهُ په حُکم سـره جوړسـي او کـه پـه خپله مرضي سره دهغه دحُکم بغيره جوړ سي په هرصورت کي کَفِيل دئ .

وجه : (۱) مختله حديث تيرسو اَلزّعِيمُ غَارِمٌ (ابوداؤدشريف.نمبر۳۵۶۵) په دې حديث کي د دواړه قِسمَ کفيـل جوړېـدو اِمکَـان سته.نوځکه دحُکـم او بېلـه حُکـمَ دواړه رنګـه کَفِيـل جوړېدائي سي (۲) دا دکفيل خپل مَال دئ نوځکه دمَکفُولٌ عَنهُ دحُکم بغيره هم خرڅ کولائي سي (۳) حضرت اَبُوقَتَادَه دمَړِي دحُکم بغيره دقِرض کَفِيل جوړسوئ وُ عَن سَلمَةَ بِنِ اَکوَعٍ اَنّ النّبِيّﷺ اُتِيَ بِجَنَازَةٍ لِيُصَلِّي عَلَيهَا ... قَالَ اَبُوقَتَادَةَ عَلَيّ دَينُهُ يَارَسُولَ اللهِ فَصَلّي عَلَيهِ (الف) (بخاري شريف.باب من تکفّل عن مَيّتٍ دَينًافليس لـه اَن يرجِعَ ص۳۰۶نمبـر۲۲۹۵) پـه دې حديث کي حضرت ابوقتاده بېله حُکم کَفِيل جوړسوئ دئ .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول ده چي په خپل مال کي جائزتَصَرّف کولائي سي .

[۱۴۳۵](۱۸) که چيري دمَکفُولٌ عَنهُ په حُکم سره کفيل جوړسو نو دئ به اَخلِي کـوم څَه چي اداَء کړي .

تشريح : دمَکفُولٌ عَنهُ په حُکم سره کفيل جوړسـوئ وُ نوکفيـل چـي څـومره رَقَـم يعنـي پيسې ومَکفُولٌ لَهُ ته ورکړئ دئ هغونه رَقَم به دمَکفُولٌ عَنهُ څخه وُصُولَوِي .

وجه : (۱) کفيل خو دمَکفُولٌ عَنهُ په حُکم سره خپلي روپۍ ومَکفُولٌ لَهُ ته ورکړي دي نوځکه دئ دمَکفُولٌ عَنهُ څخه دوصولولو حَق لري (۲) په حديث کـي دئ عَـن اِبـنِ عَبّاسٍ اَنّ رَجُلاً لَزِمَ غَرِيمًا لَهُ بِعَشرَةِ دَنَـانِيرَ فَقَـالَ وَاللهِ مَـا اُفَارِقُـکَ حَتّـي تَقضِـينِي اَو تَـأتِيـنِي بِحَمِيلٍ قَالَ فَتَحَمّلَ بِهَا النّبِيُﷺ فَاَتَاهُ بِقَدرِ مَاوَعَدَهُ فَقَالَ لَهُ النّبِيّﷺ مِن اَينَ اَصَبتَ هٰذِهِ الـذّهَبَ ؟ قَالَ مِـن مَعدَنٍ قَـالَ لاَحَاجَـةَ لَنَـا فِيهَـا لَـيسَ فِيهَـا خَيرٌ فَقَضَـاهَا عَنـهُ رَسُـولُ اللهِﷺ (الـف) (ابوداؤدشريف.باب في استخراج المعادن ص۱۱۶نمبر۳۳۲۸\ ابن ماجه شـريف.باب الکفالـة ص۳۴۴نمبر۲۴۰۶) په دې حديث کي دئ چي مَقرُوض وحضورﷺ ته لَـس دِينَـار اداَء کړل.ځکه چي حضورﷺ دهغه کَفَالَة اخستئ وُ.دا بيا جلا خبره ده چـي حضـورﷺ هغـه قبول نَه کړل.ددې څخه معلوم سوچي که کَفِيل ئې اداَء کـړي نـودئ ئـې دمَکفُـولٌ عَنـهُ څخه وصولولائي سي (۳) عَن فَضلِ بِنِ عَبّاسٍ قَـالَ ... مَـن قَد کُنـتُ اَخَـذتُ لَـهُ مَـالاً فَهٰـذَا مَالِي فَليَأخُذ مِنهُ فَقَامَ رَجُلٌ فَقَالَ يَارَسُولَ اللهِ اِنّ لِي عِندَکَ ثَلْثَةَ دَرَاهِمَ فَقَـالَ اَمّـا اَنَـا فَـلاَ اُکَذِّبُ قَائِلاً وَاَنَا لاَ اَستَحلِفُ عَلْي يَمِينٍ فِيمَ کَانَت لَکَ عِندِي قَالَ اَمَا تَذکُرُ اَنّهُ مَرّ بِکَ سَائِلٌ فَـاَمَرتَنِي فَاَعطَيتُهُ ثَلاَثَـةَ دَرَاهِمَ قَـالَ اَعطِـهِ يَـا فَضـلُ (ب) (سـنن للبيهقي.بـاب رجـوع الضـامن علْـي المضـمون عنـه بمـاغرم وضـمن بـامره ج۶ ص۱۲۳نمبـر۱۱۴۰۳) پـه دې حـديث کـي

حاشيه : (الف) حضورﷺ جنازې ته راغلئ چي هغه ته لمونځ ورکي ... حضرت ابوقتاده وفرمائل دهغه دَين پر مَا دئ اۍ د الله رَسُولَ! نوحضور پرهغه لمونځ وکئ .

دحضورﷺ په حُکم سره یوه سړي درې دِرهَم ورکړي وُ او کَفِیل جوړسوئ وُ نوځکه هغه دحضورﷺ څخه بېرته وَاپَس واخستل.ددې څخه دا معلوم سوچي که دمَکفُولٌ عَنهُ په حُکم سره کَفِیل جوړسوئ وي نودمَکفُولٌ عَنهُ څخه بېرته وَاپَس اخستلائي سي .

حاشیه : (الف) دیوه سړي قَرض خُوَاه د لَس دِینَارَه په وجه په هغه پسي سو.وویل چي قَسَم په خدائ تَا نَه پرېږدم ترهغه وخته چي تَا قَرض نَه وي اداّء کړئ یا یَو کَفِیل رَاوُړَه.نوحضورﷺ دهغه کَفِیل جوړسو.نوهغه سړي دوعدې په اَندَازَه حضورﷺ ته پَیسې رَاوُړې.نوحضورﷺپوښتنه وکړه دا سَرَه زَر دي دکوم ځایَه څخه رَاوُړَه؟ وویل چي دخَزَانې څخه.حضورﷺ وفرمائل دهغه شِي ضرورت نسته په کوم شِي کي چي خَیر نَه وي.بیا حضورﷺ دخپل جانب څخه قرض اداّء کړئ (ب) ابن عَبّاس وفرمائل ... چي حضورﷺوفرمائل دکوم چاچي مَا مال اخستئ دئ نو دا مال حاضردئ.ددې څخه دې واخلي.نو یَوسړئ وَلاَړسو او وویل ائ دخدائ رَسُولَ ! زُومَا ستا پر ذِمّه درې دَرَاهِم دي.حضور وفرمائل زُومَا طریقه داده چي زَه قَائِل نَه دُرُوغ جَنګوَم.او قَسَم نَه خُورَم.دکوم شِي رَقَم زُومَا پر ذِمّه دئ ؟ هغه سړي وویل وتاته یَاد نَه دئ یَو سَائِل ستا ومخته تېرېدئ نو تَا وماته حُکم وکړئ چي زَه ورده ته درې دِرهَم ورکړم.حضورﷺوفرمائل ائ فَضل ! ورده ته درې دِرهَم ورکه .

[۱۴۳۶](۱۹) وَاِن کفّلَ بِغَیرِ اَمرِهِ لَم یَرجِع بِمَا یُؤدّيْ .

[۱۴۳۶](۱۹) او که دمَکفُولٌ عَنهُ دحُکم بغیره کفیل جوړسوئ وي نو څَه چې اداّء کړي وي هغه نَه سي وُصُولَوَلائي .

تشریح : چي دمَکفُولٌ عَنهُ دحُکم بغیره کفیل جوړسوئ وي نوکَفِیل چي څَه اداّء کړي وي هغه دمَکفُولٌ عَنهُ څخه نَه سي وصولولائي .

وجه : (۱) دمَکفُولٌ عَنهُ دحکم بغیره کَفِیل جوړسوئ دئ نوکفیل په دې اداّء کولو کي تَبَرُع او اِحسَان کونکئ سو نوځکه دئ ئې دمَکفُولٌ عَنهُ څخه نَه سي وصولولائي (۲) په حدیث کي دئ چي حضرت ابوقتاده د مَړي دحکم بغیره کفیل جوړسوئ وُ نو وروسته دمَړِي څخه وصولي وَنَه کړه عَن سَلَمَةَ بِنِ الاَکوَعِ اَنّ النّبِيّﷺ اُتِيَ بِجَنَازَةٍ لِیُصَلْي عَلَیهَا فَقَالَ هَل عَلَیهِ مِن دَینٍ ؟ فَقَالُوا لاَ فَصَلْي عَلَیهِ. ثُمّ اُتِيَ بِجَنَازَةٍ اُخرْي فَقَالَ هَل عَلَیهِ مِن دَینٍ ؟ قَالُوا نَعَم قَالَ فَصَلّوا عَلْي صَاحِبِکُم قَالَ اَبُوقَتَادَةَ عَلَيّ دَینُهُ یَارَسُولَ اللّٰهِ فَصَلْي عَلَیهِ (الف) (بخاري شریف.باب من تکفّل عن مَیّتٍ دَینًافلیس له اَن یرجِعَ ص۳۰۶نمبر۲۲۹۵) په دې حدیث کي حضرت ابوقتاده دمَړِي لخوا اداّء کړئ دَین وصول کړئ نَه دئ. ځکه چي دهغه دحُکم بغیره کَفِیل جوړسوئ وُ .

اُصُول : د آمِردحکم بغیره یو کار کول تَبَرّع او اِحسان دئ نوځکه دهیچ چاڅخه دهغه بَدلَه نَه سي اخستلائي.پردغه اُصُول باندي دا مسئله مُتَفَرّع ده .

حاشیه : (الف) دحضورﷺ مخته یَوَه جنازه راوُړل سوه چي حضورﷺ پر هغه لمونځ وکزاري.حضورﷺ پوښتنه وکړه آیا پر دې باندي څَه قَرض سته ؟ خلګو وویل نَه .نوحضورﷺ پر هغه باندي لمونځ اداّء کړئ. بیا دُوَمه جنازه راوُړل سوه نوحضورﷺ پوښتنه وکړه پر دې باندي څَه قَرض سته ؟ خلګو وویل هُو! حضورﷺ وفرمائل تاسو پر دې باندي لمونځ وکړئ.حضرت ابوقتاده وفرمائل دده قَرض زُومَا پر ذِمّه دئ ائ دخدائ رَسُولَ ! بیا حضورﷺ پر هغه باندي لمونځ وکړئ .

[۱۴۳۷](۲۰) وَلَيسَ لِلكَفِيلِ اَن يُطَالِبَ المَكفُولَ عَنهُ بِالمَالِ قَبلَ اَن يُؤدِّيَ عَنهُ فَاِن لُوزِمَ بِالمَالِ لِلكَفِيلِ كَانَ لَهُ اَن يُلاَزِمَ اَلمَكفُولَ عَنهُ حَتّٰي يُخَلِّصَهُ .

[۱۴۳۷](۲۰) دكَفِيل لپاره جواز نسته چي دمَكفُولٌ عَنهُ څخه دمَال مطالبه وكي مخكي تر دې چي دخپل جانب څخه اداء كي.كه چيري دمَال په وجه په كَفِيل پسي ولګېدئ نو دئ حَق لري چي په مَكفُولٌ عَنهُ پسي ولګيږي ترهغه وختـه چـي كَفِيـل ځينـي خـلاص كړي .

تشريح : په دې عِبَارَت كي دُوې مسئلي دي يوه خو داده چي كَفِيل ترڅـه وختـه پـوري دخپل جَانِبَه دمَكفُول عَنـهُ قـرض اداء نَـه كـړي ترهغـه وختـه پـوري پـه قَـانُونِي توګـه دمَكفُول عَنهُ څخـه د رَقَـم دوصـولولو حَـق نَـه لـري.لېكن ! كـه مَكفُـولٌ عَنـهُ پـه خپلـه مَرضْي سره كَفِيل ته رَقَم وركړي نو دا جائز دئ .

وجه : (۱) مَكفُولٌ عَنهُ اَصل مَقرُوض دئ نوځكه زِيَات اِمكَان دا لري چي دئ بـه پـه خپله قرض اداء كړي او چي كله دئ پـه خپلـه اداء كـړي نـو كَفِيـل تـه بـه دده څخـه د اَخَستَلُوحَق څَه رنګه وي؟ مګر ! كه كَفِيل اداء كړئ وي نـو اُوس قـرض وصـولونكئ كَفِيل سو نوځكه اُوس ئې كَفِيل د مَكفُولٌ عَنهُ څخه اَخَستَلاَئي سي (۲) مختـه دبَيهَقِي پـه حديث كي يوه سړي دحضور په حُكم سره درې دِرهَم وركړي ؤ نوځكه بيـا دحضـور څخه هغه ؤصُول كړي ؤ .

اُصُول : دا مسئله پر دې اُصُول مُتَفَرّع ده چي اَوّل ئې اداء كړي نوبيـائې وصـولولائي سي .

دُوَمه مسئله داده چي دمَكفُولٌ عَنهُ دقرض په وجه كَفِيل ته يو مصـيبت ورسـيږي مـثلاً مَكفُولٌ لَهُ په كَفِيل پسي ولګېدئ نو كَفِيل هم دمَكفُولٌ عَنهُ سره دغه رنګـه كـولائي سـي يعني په مَكفُولٌ عَنهُ پسي لګېدلائي سي.ترهغه وختـه چي مَكفُولٌ عَنهُ

[۱۴۳۸](۲۱) وَ اِذَا اَبرَأ الطّالِبُ المَكفُولَ عَنـهُ اَو اِسـتَوفْي مِنـهُ بَـرِئَ الكَفِيلُ [۱۴۳۹](۲۲) وَ اِن اَبرَأ الكَفِيلَ لَم يَبرَاِ المَكفُولُ عَنهُ .

دكَفِيل څخه دئ خلاص او آزاد كړي .

وجه : كَفِيل دمَكفُولٌ عَنهُ په وجه پرېشانه سوئ دئ نوځكه دئ دا پرېشـاني پـرمَكفُـولٌ عَنهُ باندي اَچَوَلاَئي سي .

لُغَت : يُلاَزِمُ : په پسې كېدل.هروخت ورسره يَوځائ كېدل.يَخلَصُ : خلاسول .

[۱۴۳۸](۲۱) كه طَالِب مَكفُولٌ عَنهُ بَرِي كړئ يا ئې دهغه څخه وصول كړئ نو كَفِيل به بَرِي سي .

وجه : قَرض خو په اَصل کې پر مَکفُولٌ عَنهُ دئ.کَفِيل خو دهغه فَرع دئ او دهغه څخه مُستَفَاد دئ.لِهٰذَا مَکفُولٌ لَهُ دَائِن مَکفُولٌ عَنهُ مَقرُوض د دَين څخه بَرِي کړئ يا ئې مُعَاف کړئ يا دُوَم صورت دادئ چي په خپله مَکفُولٌ عَنهُ خپل دَين اداَء کړئ نو اُوس خو پر اَصل باندي دَين نَه سوپاته نوځکه کَفِيل چي فَرع دئ پرهغه هم دَين نَه پاته کيږي او ختم به سي .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چي پر اَصل دَين نَه سي پاته نو دفَرعِ څخه هم دَين ختم کيږي .

لُغَت : اِستَوفْي : د ,,وَفْي,, څخه مُشتَق دئ.وصول ئې کړئ .

[۱۴۳۹](۲۲) که کَفِيل بَرِي کړئ نو مَکفُولٌ عَنهُ نَه بَرِي کيږي .

تشريح : د بَرِي کولو دُوَه صورتونه دي.يَو خو دا چي دکَفِيل څخه اَصل معاف کړئ نوپه دې صورت کي به دمَکفُولٌ عَنهُ څخه هم معاف سي.ځکه چي اَصل دَين د اَصِيل څخه معاف سو.او دُوَم صورت دادئ چي کَفِيل ئې صرف دکَفَالَت څخه بَرِي کړئ چي اُوس زَه ستا څخه د دَين مُطَالَبَه نَه کوم.په دې صورت کي خواَصل دَين پر اَصِيل يعني مَکفُولٌ عَنهُ باندي پاته دئ نو ځکه اَصِيل يعني مَکفُولٌ عَنهُ د مطالبې څخه نَه بَرِي کيږي.مَکفُولٌ لَهُ دده څخه د دَين مُطَالَبَه کولائي سي .

[۱۴۴۰](۲۳) وَلاَ يَجُوزُ تَعلِيقُ البَرآءَةِ مِنَ الكَفَالَةِ بِشَرطٍ

[۱۴۴۱](۲۴) وَكُلّ حَقٍ لاَيُمكِنُ اِستِيفَآءُهُ مِنَ الكَفِيلِ لاَتَصِحّ الكَفَالَةُ بِهِ كَالحُدُودِ وَالقِصَاصِ .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول ده چي د کَفِيل دکَفَالَت څخه په بَرِي کولو سره د اَصِيل څخه دَين نَه ساقطيږي او نَه دمُطَالَبې څخه بَرِي کيږي .

[۱۴۴۰](۲۳)دکَفَالَت څخه بَرَائَت په شَرط سره مُعَلّق کول جواز نَه لري .

تشريح : مَکفُولٌ لَهُ په يَوَه مُعَلّق شرط سره کَفِيل بَرِي کول وَغُوَاړِي نو دا جواز نَه لري.مثلاً داسي ووائي چي دسبَا ورځ راسي نو تَه دکَفَالَت څخه بَرِي ئې.دا نَه صحيح کيږي .

وجه : د کَفَالَت څخه بَرِي کول ګواکه مَالِک جوړول دئ او مَالِک جوړول پرشرط باندي مُعَلّق کول صحيح نَه دئ.نوځکه دکَفَالَت څخه بَرِي کول پر يَوشَرط باندي مُعَلّق کول جواز نَه لري .

فائده : لېکن په يَوبَل روايت کي دئ چي بَراءت پرشرط مُعَلّق کول صحيح دئ .

وجه : پرکَفِيل خو اَصل دَين نَستَه پرهغه خو صرف مُطَالَبَه ده نو ددې څخه بَرِي کول مَالِک جوړول نَه سوبلکه دا خو صرف مُطَالَبَه سَاقِطَوَل ده.نوځکه دکَفَالَت څخه بَرِي کول پر يو مُنَاسِب شرط باندي مُعَلّق کول جائز دئ اوفَتوْي هم پردغه ده .

[۱۴۴۱](۲۴) هرهغه حَق چي دهغه وصولول دکفيل څخه مُمکِن نَه وي دهغه کَفَالَت نَه صحيح کيږي.لکه حُدُود او قِصَاص .

تشريح : کوم شيئ چي دکفيل څخه اَخستَل يا وصولول اِمکان نَه لري دهغه کفيل جوړېدل هم نَه صحيح کيږي.لکه چي يوڅوک دارنګه ووائي که چيري پرمُجرِم باندي حُدُودجاري نَه کړل نو زَه دهغه کَفِيل جوړيږم چي هغه حَد بيا پر مَاجاري کړه.

[۱۴۴۲](۲۵) وَاِن تَکَفَّلَ عَنِ المُشتَرِي بِالثَّمَنِ جَازَ .

يا که دي دمُجرِم څخه قِصَاص نَه وَاخستَئ نو زَه دهغه کَفِيل جوړيږم چي هغه قِصَاص بيا زُومَا څخه واخله او زُومَا لاَس په قِصَاص کي پرېږ ګه نو دا کَفِيل جوړېدل صحيح نَه دئ .

وجه : (۱) حدود او قصاص د اَصل مُجرِم څخه اَخستَل کيږي دنورو څخه نَه اخستل کيږي.نوځکه ددې کَفَالَت هم نَه صحيح کيږي (۲) حديث مخکي تېرسوئ دئ حَدَّثَنِي عُمَرِبنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ اَنّ النّبِيّﷺ قَالَ لاَکَفَالَةَ فِي حَدٍّ (الف) (سنن للبيهقي.باب ماجآء في الکفالة ببدن من عليه حَقٌ ج۶ص۱۲۷نمبر ۱۱۴۱۷) په دې حديث کي دئ چي په حَدکي کَفَالَت نَستَه.ددې يَو مطلب دادئ چي يَوڅوک دحَدکفيل جوړسي يعني که چيري وَنَه تُوَانېدې چي پر مُجرِم باندي حَدجاري کړې نو هغه حَدپر مَاباندي جاري ګه نو دا کَفَالَت نَه صحيح کيږي.

پام لرنه : مختته په يَوه مسئله کي راغلي وُچي په حُدُود او قِصَاص کي دکَفَالَت بِالنَّفس داَخستَلُو لپاره څوک مجبوره کول جواز نَه لري.اودلته دادئ چي په خپله د حدوداوقصاص کفيل جوړېدل صحيح نَه دئ. لِهٰذَا په دواړومسئلوکي فرق سته .

[۱۴۴۲](۲۵) که دمُشتَرِي لجانب دثَمَن کفيل جوړسو نو دا جائز دئ .

تشريح : کفيل وبائع ته داسي وويل چي ومُشتَرِي ته مَبِيع ورکه که چيري ده دهغه قِيمَت در نَه کړئ نو زَه درکوم.دا جائز دئ .

وجه : (۱) قيمت اداّء کول يَوقِسم قرض دئ او دقرض کفيل جوړېدلائي سي نودقِيمَت کفيل هم جوړېدلائي سي (۲) په قيمت کي دا ضروري نَه دئ چي بِعَينِهِ هغه رَقَم ورکړي کوم چي دمُشتَرِي سره دئ بلکه دخپل جانب څخه دهغه رَقَم مِثل هم ورکولائي سي.نوځکه کفيل جوړېدل صحيح دئ (۳) په اَثَرکي راغلي دي چي

حاشيه : (الف) حضورﷺ وفرمائل په حَد کي کَفَالَه نسته .

[۱۴۴۳](۲۶) وَاِن تَکَفَّلَ عَنِ البَائعِ بِالمَبِيعِ لَم تَصِحّ .

دثَمَن په کفيل جوړېدو کي هيڅ حرج نسته عَن عَبدِاللهِ بِنِ عُمَرَ اَنّهُ کَانَ لاَيُرْي بِالرّهنِ وَالحَمِيلِ مَعَ السّلَفِ بَأسًا (الف) (سنن للبيهقي.باب جواز الرهن والحميل في السلف ج۶ص۱۹) په دې اَثَرکي دئ چي په بَيعَ کي کفيل جوړېدلو کي حضرت عبدالله بن

عمر هيڅ حرج نَه ليدئ (۴) پـه بخـاري شـريف كـي دبَنِـي اِسـرَائِيلُ ديَـوَه بُـزَرگ وُړد حديث راغلئ دئ په هغه كي دئ چي دي بُزَرگ ديَوچَا څخـه د زَر سَـامان وَغُوَښـتَئ نوبَائِع دثَمَن لپاره كفيل ځينـي وَغُوَښـتَئ هغـه بُزَرگ ورتـه وويـل چـي الله ددي كَفِيـل دئ.دحديث ټُكره داده عَن اَبِي هُرَيرَةَ عَن رَسُولِ اللهِ ﷺ اَنّـهُ ذَكَرَ رَجُـلاً مِـن بَنِـي اِسـرَائِيلَ سَألَ بَعضُ بَنِي اِسرَائِيلَ اَنْ يَسلِفَهُ اَلفَ دِينَـارٍ فَقَـالَ اِئتِنِـي بِالشّـهَدَ آءِ اُشـهِدُهُم فَقَـالَ كَفْـي بِـاللهِ شَهِيدًا قَالَ فَأتِنِي بِالكَفِيلِ قَالَ كَفْي بِاللهِ كَفِيلاً قَالَ صَدَقتَ (ب) (بخاري شـريف.باب الكفالـة في القرض والديون بالابدان وغيرها ص۳۰۵نمبر۲۲۹۱) ددي حديث څخـه معلـوم سـوچي دثَمَن لپاره كفيل جوړول جائزدئ ځكه خو د هغـه بُـزَرگ څخـه كفيـل طَلَـب كـړئ او هغـه وويل چي الله دده د كفالت لپاره كَافِي دئ .

اُصُول : دا مسئله پردي اُصُول مُتَفَرّع ده چي په كوم ځائ كي دخپل جانـب څخـه مِثـل وركولائی سي هلته كَفِيل جوړېدلائي سي.او په كوم ځائ كـي چـي دخپـل جانـب څخـه مِثل نَـه سي وركولائي بلكه بِعَينِهِ هغه شـيئ وركـول لازم وي كـوم چـي دمَكفُـولٌ عَنـهُ سره دئ نوهلته كَفِيل نَـه سي جوړېدلائـي .

[۱۴۴۳](۲۶) كه دبَائِع لجانب دمَبِيع كفيل جوړسي نو دا صحيح نَـه دئ .

تشريح : كه داسي كَفِيل جوړسو چي زَه پر بَائِع باندي تَاكِيدكوم چي هغه ضرور

[۱۴۴۴](۲۷) وَمَن اِستَأجَرَ دَابّـةً لِلحَمـلِ فَـاِن كَانَـت بِعَينِهَـا لَـم تَصِـحِّ الـكَفَالَةُ بِالحَملِ .

تاته مَبِيع حَوَالَه كړي نوبيا خو كفيل جوړېدل صحيح دئ.لېكن كه داسي كفيل جوړسـي چي كه ده مَبِيع در نَـه كـړه نـو زَه دخپـل جانـب څخـه مَبِيـع دركـوم نـو دارنګـه كَفِيـل جوړېدل صحيح نَه دئ .

وجه : په مَبِيع كي ضروري دئ چي كوم شيئ مُعلـوم سوئ دئ هغـه شيئ وركـړي. دخپل جانب څخه دهغه شِـي مِثل دركـوم دا صـحيح نَـه دئ.نوځكـه كَفِيـل هـم نَـه سـي جوړېدلائي.دونَه به سي چي بَائِع مَبِيع حواله نَه كړي نو بَيعَ به ختم سي او بـائع تـه پـه قيمت كي هيڅ شيئ هم نَه ملاؤيږي .

اُصُول : دا مسئله پردي اُصُول ده چي دكوم شِي چي دخپـل جانـب څخـه مِثـل نَـه سـي وركولائي دهغه كَفِيل جوړېدل هم نَه صحيح كيږي .

[۱۴۴۴](۲۷) يَوچَا سَوَارلَئ په اُجرَت ونيوه دپيتِ دپورته كولـو لپاره.كـه چيـري هغـه مَعلُومَ وي نو دپُورتَه كولو كَفَالَه نَه صحيح كيږي .

حاشيه : (الف) حضرت عبدالله بن عُمَر د بَيعِ سره په رِهنِ او كَفَالَت كي هيڅ حرج نَه ګانَئ (ب) حضور دبَنِـي اِسرَائِيلُو ديوه سړي تَذكِرَه وكړه چي هغه دبَعضُ بَنِي اِسرَائِيلُو ويَوَه سړي ته وويل چي دزَر دِينَـارَه سـودا ده.هغـه ورته وويل چي ګواه راؤړه چي زَه هغه ګواه جوړ كَم.وويل چي الله دګواه لپـاره كـافِي دئ.بيـائي وويـل چـي كَفِيـل راؤړه.وويل چي الله دكَفِيل لپاره كافِي دئ.هغه وويل تَا رِشتِيَا وويل .

تشريح : يَوچا دبَل چاڅخه دسامان دپورته كولو لپاره سُوَارلَئ پـه كِرَايَـه ونيوه. اُوس كه چيري هغه حيوان مُتَعَيّن وي چي پردغه حيوان ئې رَاوړَم.نو ددې كَفِيل جوړيدل نَه صحيح كيږي .

وجه : دكَفَالَت خومطلب دادئ چي كه چيري ده سَوَارلَئ دَر نَه كړه نو زَه خپله سُوَارلَئ دسَامَان د رَاوړَلُولپاره دَركوم.او په دې صورت كي سُوَارلَئ مُتَعَيّنَه ده نوځكه خپله سُوَارلَئ نَه سي وركولائي نوځكه كفيل جوړيدل نَه صحيح كيږي .

اُصُول : دا مسئله پردغه اُصُول ده چي دخپل جانب څخه مِثل نَه سي وركولائي نو كفيل جوړيدل ئې نَه صحيح كيږي .

لُغَت : دَابّةٌ : حيوان.سُوَارلَئ. اَلحَملُ : پورته كول .رَاوړَل .

[١٤٤٥](٢٨) وَاِن كَانَت بِغَيرِ عَينِهَا جَازَتِ الكَفَالَةُ [١٤٤٦](٢٩) وَلاَتَصِحّ الكَفَالَةُ اِلاّ بِقَولِ المَكفُولِ لَهُ فِي مَجلِسِ العَقدِ .

[١٤٤٥](٢٨) او كه سُوَارلَئ مَعلُومَه نَه وي نوكَفَالَه جائزده .

وجه : په دې صورت كي كه مَكفُولٌ عَنهُ دسامان راوړلولپاره سُوَارلَئ وَرنَه كړه نودخپل جانب څخه سُوَارلَئ وركولائي سي.ځكه چي په دې صورت كي سُوَارلَئ مَعلُومَه نَه ده نوځكه كَفِيل جوړيدل صحيح دئ .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول ده چي دخپل جانب څخه مِثل وركولائي سي نوهغه كَفِيل جوړيدل صحيح دئ.ځكه چي كَفِيل به دهغه مِثل وركړي .

[١٤٤٦](٢٩) كَفَالَه نَه صحيح كيږي مګردمَكفُولٌ لَهُ په قَبلېدو سره په مَجلِسِ عَقد كي .

تشريح : په كوم مجلس كي چي كَفِيل جوړيږي په هغه مجلس كي مَكفُولٌ لَهُ قبول كړئ وي چي هو زَه دفُلاَنِي په كَفِيل جوړيدو راضي يَم نوبيا كَفَالَت صحيح كيږي.نوګواكه دوه شرطونه سو.يَو دمَكفُولٌ لَهُ قبليدل او دُوَم شرط دادئ چي په مَجلِسِ كَفَالَت كي قبول كړي كه دڅخه دباندي قبول كړي نو كَفَالَت نَه صحيح كيږي .

وجه : په سړي سړي كي فرق وي.يوشَرِيف وي يو شَرِير وي.تر اُوسَ خو دمَكفُولٌ لَهُ واسطه بَرَاهِ رَاست دمَقرُوض سره وه.دكَفَالَت وروسته به دده واسطه دكَفِيل سره هم راسي او اِمكَان سته چي هغه دي شَرِيروي او دشَرَارَت لكبله دي دئ دكَفِيل سره رابطه كول نَه غُوَارِي.نوځكه دكَفَالَت په وجه دكَفِيل سره د واسطې دقائمولو لپاره دده رَضَامَندِي اوقَبلَوَل ضروري دئ.نوځكه دمَكفُولٌ لَهُ قبلول ضروري دئ. اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول ده چي دمَكفُولٌ لَهُ واسطه او رابطه دنَوِي سړي سره سوه نوځكه دهغه رَضَامَندِي ضروري ده . او په مَجلِس كي دقبلولو ضرورت ځكه سته چي كَفِيل اِيجَاب وكي نوپه مَجلِس كي دې قبول كړي كه نَه نو دهغه اِيجَاب به ساقط سي. ځكه

[١۴۴٧](٣٠) اِلاّ فِي مَسدئلَةٍ وَاحِدَةٍ وَهِيَ اَن يَقُولَ المَرِيضُ لِوَارِثِهِ تَكَفّل عَنّي بِمَا عَلَيّ مِنَ الدّينِ فَتَكَفّلَ بِهِ مَعَ غَيبَةِ الغُرَمَآءِ جَازَ .

چي عَقدِكَفَالَت خو دكَفِيل دايِجَاب او دمَكفُولٌ لَهُ دقبلولو ښخه مُنعَقَدكيږي .

فائده : د امام ابوحنيفه بَل رِوَايَت دادئ چي دكَفِيل جوړېدو لپاره دمَكفُولٌ لَهُ قبلول ضروري نَه دئ.دهغه دقبلولو بغيره هم كَفِيل جوړېدلائي سي .

وجه : (١) كَفِيل دخپل جَانِب ښخه رَقَم وَركوي او ومَكفُولٌ لَهُ ته فائده هم ده چي مخكې ديَوَه ښخه مُطَالَبَه كولائي سوه او اُوس د دُوُ ښخه مُطَالَبَه كولائي سي.او په دواړو كې ديَوَه ښخه وصولولائي سي.نوځكه دمَكفُولٌ لَهُ دقبلولو ضرورت نسته (٢) دا د تَوَثق او اِعتِمَاد لپاره وي چي دكَفَالَت په وجه به دده مَال نَه ضائع كيږي.نوپه دې وجه هم دمَكفُولٌ لَهُ دقبلولو ضرورت نسته.فتوْي پردغه ده .

فائده : د امام ابويوسف په نېز دمَكفُولٌ لَهُ په مَجلِسِ كَفَالَت كي قبلول ضروري نَه دئ بلكه دمَجلِس ښخه دباندې په كوم ځائ كي چي دئ خَبَر سي او قبول ئې كړي بيا هم كَفِيل جوړېدلائي سي.لكه دفُضُولِي نِكاح د مَجلِس ښخ ه علاوه په كوم ځائ كي خَبَر سي او قبول ئې كړي بيا هم نِكاح صحيح كيږي.دغه رنګه دمَجلِسِ كَفَالَت ښخه علاوه ئې مَكفُولٌ لَهُ قبول كړي نوهَم كفالت صحيح كيږي .

[١۴۴٧](٣٠) مګر په يَوَه مسئله كي هغه دا چي نَاجوړه وخپل وَارِث ته ووائي چي زُومَا لخوا كَفِيل سَه دهغه كوم چي پر مَا باندي دَين دئ. دئ دقَرض خُوَاهَانُ په عَدَمِ موجودګئ كي كَفِيل سو نو دا جائز دئ .

تشريح : دا يَوَه دارنګه مسئله ده چي مَكفُولٌ لَهُ كَفَالَت قبول نَه كړي بلكه مَكفُولٌ لَهُ غَائِب وي بيا هم كَفَ◌َالَت صحيح دئ هغه مسئله داده چي يَوسړئ په مَرَضُ المَوت كي مُبتلآء وي او خپل وَارِث ته ووائي چي پر مَاباندي ځُونَه دَين دئ تَه دهغه كَفِيل سَه او دمَكفُولٌ لَهُ په عَدَمِ موجودګي كي كَفِيل سِي نو په دې صورت كي دوَارِث كَفِيل جوړېدل

[١۴۴٨](٣١) وَاِذَا كَانَ الدّينُ عَلْي اِثنَينِ وَكُلّ وَاحِدٍ مِنهُمَا كَفِيلٌ ضَامِنٌ عَنِ الآخَرِ فَمَا اَدّيْ اَحَدُهُمَا لَم يَرجِع بِهِ عَلْي شَرِيكِهِ حَتْي يَزِيدَ مَايُؤدِّيهِ عَلْي النِّصفِ فَيَرجِعُ بِالزِّيَادَةِ .

صحيح دئ.

وجه : (١) دا په اَصل كي كَفِيل جوړېدل نَه دئ بلكه قَرض خُوَاهَانُ ته دقَرض د ادآء كولو وَصِيّت دئ.او كَفِيل په حقيقت كي وَصِي دئ نوځكه په دې صورت كي دمَكفُولٌ لَهُ دقبلولو بغيره هم كَفِيل جوړېدل صحيح دئ (٢) دلته مجبوري هم ده ځكه چي دمَرګ په وخت كي ټوله قرض خواهان حاضر نَه وي.نو كه چيري كَفِيل يا وَصِي

جوړ نَه کړي نو دقَرض خُوَاهَانُ قَرض به ضَائِع سي.نوځکه دمَکفُولٌ لَهُ دقبلولو بغيره هم کَفِيل جوړېدل صحيح دئ .

لُغَت : اَلغُرَمَآءُ ؛ قَرض ورکونکي.قَرض خُوَاه .

[۱۴۴۸](۳۱) که قَرض پر دُو کسانو وي او د دُوَاړُو څخه هريَو دهغه بَل کَفِيل او ضَامِن وي نوچي هر څَه د دُوئي څخه يَوَه اداٴ کړي وي هغه دشَرِيک څخه نَه سي وُصُولَوَلاَئي تر هغه وخته چي څَه ئې اداٴ کړي دي هغه تر نِيمِي زِيَات وي.نو زِيَات وُصُولَوَلاَئي سي .

تشريح : پر دُوُ کسانو باندي قَرض وُ.مثلاً دُوُ کسانو په زَر دِرهَم يو غُلاَم اَخستَئ وُ او پر دُوَاړُو باندي نِيمَئ نِيمَئ قيمت قَرض وُ يعني پِنځَه پِنځَه سوه دِرهَم وُ.او دواړه يَو دبَل کَفِيلاَن هم وُ.نو که يَوَه نِيمَئ قَرض يعني پِنځَه سَوَه دِرهَمَ اداٴ کړه دا نِيمَئ به دده دحِصّې څخه شُمېرَل کيږي. دشريک دحِصّې څخه به نَه شُمېرل کيږي.لِهٰذَا ترڅو چې نِيمَئ قَرض اداٴ کړئ نو په دي کي به دشريک څخه هيڅ شيئ نَه وصولوي.لېکن که دنِيمِي څخه زِيَات اداٴ کړه نو هغه به دخپل شريک څخه وُصُولَوِي .

[۱۴۴۹](۳۲) وَاِذَا تَکَفّلَ اِثنَانِ عَن رَجُلٍ بِاَلفٍ عَلْي اَنّ کُلّ وَاحِدٍ مِنهُمَا کَفِيلٌ عَن صَاحِبِهِ فَمَا اَدّاهُ اَحَدُهُمَا يَرجِعُ بِنِصفِهِ عَلْي شَرِيکِهِ قَلِيلاً کَانَ اَو کَثِيراً .

وجه : نِيم قرض اَصلِي دئ او دا دخپل ځان ذِمّه دَارِي ده.او کَفَالَت خو فَرع دئ او مُطَالَبَه ده.او دا قاعده ده چي د اَصل درجه مخکي وي او دفَرع درجه وروسته وي.نوځکه نِيمَئ چي اداٴ کړئ دئ هغه د اَصل قرض په وجه د اداٴ کونکي لجانب څخه اداٴ سو.دکَفَالَت په حَيث دکَفِيل لجانب څخه نَه اداٴ کيږي.نوځکه په دي کي دشريک څخه هيڅ شيئ نَه سي وصولولائي.البته دنِيمِي څخه زِيَات چې کوم اداٴ کړئ دئ هغه پر اداٴ کونکي باندي قَرض نَه دئ نوځکه دَلته دا مَعلُوم دئ چي دا ئې دکَفَالَت په حَيث دشريک لجانب څخه اداٴ کړي دي لِهٰذَا دا وصولولائي سي .

اُصُول : (۱) دا مسئله پر دې اُصُول ده چي اَصل به مخکي اداٴ کيږي فَرع او مُطَالَبَه به وروسته اداٴ کيږي.خپل قَرض به مخکي اداٴ کوي دهغه وجه داده چي دقَرض پر نَه اداٴ کولو باندي ډېر وَعِيد راغلئ دئ.په حديث کي دئ عَن مُحَمّدبِنِ جَحشٍ ... فَقَالَ وَالّذِي نَفسِي بِيَدِهِ لَو اَنّ رَجُلاً قُتِلَ فِي سَبِيلِ اللهِ ثُمّ اُحيِيَ ثُمّ قُتِلَ ثُمّ اُحيِيَ ثُمّ قُتِلَ وَعَلَيهِ دَينٌ مَا دَخَلَ الجَنّةَ حَتْي يُقضْي عَنهُ دَينُهُ (الف) (نسائي شريف. باب التغليظ في الدين ص۲۰۲نمبر۴۶۸۸) ددې حديث پر بُنيَاد باندي به خپل دَين مخکي اداٴ کوي (۲) دحضرت اَبُوقَتَادَه دکَفَالَت په حديث کي تير سو چي حضورﷺ د دَين په وجه دجنازې لمونځ وَرنَه کړئ تر څو چي هغه اداٴ نَه سو .

[۱۴۴۹](۳۲) که دُوَه کسان دیَوَه لَجَانِب کَفِیلاَن سُوَل د زَرُو په دې ډَوَل چي پـه دُوئـي کي به هَرِیَو دهغه بَل کَفِیل وي نو هرڅَه چي د دُوئي څخه یَواداَء کوي دهغـه نِیمَـئ بـه دشریک څخه وصولوي که لَږ وي که ډېر وي .

حاشیه : حضور وفرمائل یَوڅوک د الله په لاَرَه کي شَهِیدسي بیا ژُوَندَئ کړل سي بیا شَهِیدسي بیا ژُوَندَئ کړل سـي او پر هغه قَرض وي نو ترهغه وخته پوري به جَنّت ته داخل نَه سي ترڅو چي قَرض اداَء سوئ نَه وي .

[۱۴۵۰](۳۳) وَلاَ تَجُوزُ الكَفَالَةُ بِمَالِ الكِتَابَةِ سَوَآ ءٌ حُرّ تَكَفّلَ بِـهِ اَو عَبدٌ .

تشریح : دُوَه کسان دیَوَه سړي د زَرُو دِرهَمُ کَفِیلاَن جوړسول.بیا دغه کَفِیلاَن پـه خپـل مینځ کي هم یَو دبَل کَفِیلاَن سول نو مسئله داده چـي یَوکَفِیـل هرڅونـه اداَء کـړي دهغـه نِیمَـئ بـه دخپل شریک کَفِیل څخه وصولوي مثلاً پِنځَه سوه دِرهَم ئـې اداَءکـړل نـو دُوَه نِـیم سَـوَه بـه دخپل شریک کَفِیل څخه اَخلِي.بیا به په دُوَاړُو داَصِیل څخه وصولوي .

وجه : دَلتَه پر دُوَاړُو کَفِیلاَنُ باندي ذَاتِي قَرض نسته بلکه پر دُوَاړُو باندي کَفَالَت دئ او فَرع دئ نوځکه دواړه په فَرع کېدلو کـي سره برابـر دي.او دُوئـي خـو دواړه یَـو د بَـل کَفِیـل او ضَامِن دي نو چي هرڅَه ئې اداَء کړي دي دهغه نِیمَئ به دخپـل جانـب څخـه او نِیمَـئ بـه د کَفِیل په حَیث دشریک لجانب څخه اداَء وي.نوځکه نِیمَئ دهغه څخه وصـولولائي سـي.او دا هم کېدلائي سي چي دشریک پرځائ ئې د اَصل مَقرُوض څخه وصـول کړي.ځکـه چـي پـه حَقِیقَت کي خو دده قَرض اداَء کړئ دئ .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول ده چي دواړه په فَرع کېدو کي د برابري درجي وي نو نِیمَئ دشریک څخه وصولولائي سي.ځکه چي هرڅَه ئې اداَء کـړي دي دهغـه څخـه نِیمَـئ دخپـل شریک لجانب دکَفَالَت په حَیث اداَء کړي دي .

[۱۴۵۰](۳۳) د مَالِ کِتَابَت کفالَت جواز نَه لري که آزاد ددې کفیل جوړسي که غُلاَم .

تشریح : مُکَاتَب دکِتَابَت لپاره دمَولْي قرض پـر خپلـه غـاړَه واخستئ.یَوڅوک ددې قـرض کَفِیل جوړېدل غُوَاړِي نوکَفِیل نَه سي جوړېدلائی .

وجه : (۱) پر مُکَاتَب دمَولْي قرض واجب نَه دئ ځکـه چـي کـه مکاتـب د اداَء کولـو څخـه عَاجِزسي نو دمکاتب څخه به دمَولْي قرض ساقط سي او مکاتب به دُوبَارَه غُلاَم سـي.نوچي پراَصِیل باندي قرض لازم نَه سوپرکَفِیل به څَـه رنګـه لازمیږي؟دکَفِیـل کفالـت خـو د تَوَثّـق اولُزُوم لپاره وي.اودلته خو پرمُکاتب باندي لُزُوم نَه دئ راغلئ نوځکه دده کفالت نَه صحیح کیږي که آزاد کفیل جوړ سي که غُلاَم کفیل جوړسي

[۱۴۵۱](۳۴) وَ اِذَا مَاتَ الرّجُلُ وَعَلَیهِ دُیُونٌ وَلَـم یَتـرُک شَـیئًا فَتَكَفّـلَ رَجُلٌ عَنهُ لِلغُرَمَآءِ لَم تَصِحّ الكَفَالَةُ عِندَ اَبِي حَنِیفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ وَعِنـدَهُمَا تَصِحّ .

(۲) په اَثَر کي راغلي دي عَن اِبنِ جُرَیح قَالَ قُلتُ لِعَطَـآءَ کَاتَبتُ عَبدَینِ لِـي وَکَتَبتُ ذَالِـکَ عَلَیهِمَا قَالَ لاَیَجُوزُ فِي عَبدَیکَ وَقَالَهَا سُلَیمَانُ بِنِ مُوسْـي قَـالَ اِبنُ جُـرَیحِ فَقُلتُ لِعَطَـآ ءَ لِـمَ لاَیَجُوزُ ؟ قَالَ مِن اَجلِ اَنّ اَحَدَهُمَا اِن اَفلَسَ رَجَعَ عَبدًا لَـم یَملِـک مِنـکَ شَیًئًا (الـف) (سـنن للبیهقي.باب حمالة العبد ج۸ص ۵۴۴ نمبر۲۱۶۳۴\مصـنف عبـدالرزاق.باب الحمالـة عـن المکاتـب ج۸ص۴۱۵ نمبـر ۱۵۷۵۲) پـه دې اَثَرکـي دئ چـي دمکاتـب کفیـل جوړېـدل نَـه صـحیح کیږي.ځکه چي که دئ عَاجِزسي دُوبَارَه غُلاَم وګرزي نوکَفِیل جوړېدل به څَه رنګه صحیح سي؟ او د دُوبَارَه غُلاَم جوړېدلو لپاره دحضرت عَلِي اَثَـر دئ عَـن عَلِـيٍ قَـالَ اِذَا تَتَـابَعَ عَلْـي المُکَاتَبِ نَجمَانِ فَدَخَلَ فِي السَّنَةِ فَلَم یُؤدِّ نُجُومَهُ رُدّ فِي الرَ◌ِقّ (ب) (مصـنف ابـن ابـي شـیبة ۱۷۴من رَدّالمکاتب اذا عجـزج۴ص۳۹۹نمبـر ۲۱۴۰۶) ددې اَثَرڅخـه معلـوم سـوچي مُکَاتَـب قِسط ادآءنَه کړي نودُوبَارَه غُلاَم ګرزي اوقِسط به ساقط سي .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول ده چي پرمَکفُولٌ عَنهُ بانـدي دَیـن لازم نَـه وي نـو دده کفیـل جوړېدل نَه صحیح کیږي .

[۱۴۵۱](۳۴) که یَوڅوک مړسـي او پـرده بانـدي دَیـن وي او هـیڅ شـیئ ئـې نَـه وي پـرې ایښئ.نو دده لجانب یوڅوک دقَرض خُوَاهَانُ لپاره کَفِیل جوړسي نو د امام ابوحنیفـه پـه نېـز کَفَالَه نَه صحیح کیږي او دصَاحِبَینُ په نېز صحیح دئ .

وجه : د امام ابوحنیفه په نېز دکفالت لپاره دوې خبـري ضـروري دي.یـوه خـو دا چـي پرمَکفُولٌ عَنهُ به دَین لازم وي. دومه خبره دا چي کَفِیل د دَین د ادآء کولـو وروسـته د مَکفُولٌ عَنهُ دمال څخه وصولولائي هم سي.که چیري د دواړو څخه یَوه خبـره هم نَـه وي نو دا کَفِیل جوړېدل نَه سو بلکه د تَبَرّع او اِحسَان پـه توګـه پرځـان بانـدي دقَـرض حَوَالَه اَخستَل ده.ودې ته کَفَالَه نَه وائي.په دې مسئله کي مَکفُولٌ عَنـهُ مَړ دئ نـو ځکـه پر ده باندي دَین ادآء کول لازم نَه سوپاته.ځکه چي پر مَړي بـه څَـه شَیئ لازم سـي ؟ او هیڅ شیئ ئې نَه دئ پرې ایښئ چي کفیل دهغه څخـه خپـل ورکـړئ قَرض وصـول کړي لِهْذَا دا کَفَالَت نَه سو .

پام لرنه : په حدیث کي چي کوم حضرت ابوقتاده کفیل جوړسوئ دئ هغه په حَیثِیّت دتَبَـرّع حَوَالَه ده کَفَالَه نَه ده.ځکه خو امامِ بخاري دغه حدیث په ,,بَابٌ اِذَا اَحَالَ دَینُ المَیّتِ عَلْي رَجُـلٍ جَازَ,, کي نقل کړئ دئ. ددې مطلب دادئ چي هغه حَوَالَه وه کَفَالَه نَه وه .

فائده : صاحبین فرمائي چـي پـر مَکفُـولٌ عَنـهُ مَړِي بانـدي خـو دَیـن لازم وُ.او داسـي یَوشیئ نَه دئ موجود سوئ چي هغه ساقط کړي یا ئې مُعَاف کـړي.او چـي دَیـن ثابـت دئ نو دهغه کَفِیل جوړېدل هم صحیح دئ .

حاشیه : (الف) ما دحضرت عَطآء څخه پوښتنه وکړه چي مَا دُوَه غُلاَمَان مُکَاتَب کړي دي او پر دُوَاړُوباندي مِي لیکلي هم دي یعني کَفِیلاَن مِي جوړکړي دي.حضرت عَطآء وفرمائل ستاپه غُلاَم کي جواز نَه لري.حضرت جُرَیح فرمائي چي مَا دعطآء څخه پوښتنه وکړه چي وَلِي جواز نَه لري؟ وویل چي په دې وجه کـه چیـري د دُواړو څخـه یَو مُفلِس سي نو هغه به بیا غُلاَم وګرزي او تَاتَه هیڅ شَیئ نَه ملاؤیږي (ب) دحضرت عَلِي څخـه نَقل سـوي دي چي پرمُکَاتَب باندي دُوَه قِسطُونَه جمع سي او په رَارَوَان کال کـي داخـل سـي او قِسط ادآء نَـه کـړي نـو بېرتـه بـه غُلاَمِیّت ته راسي .

وجه : دُوئي د ابوقتاده دحديث څخه اِستِدلاَل كوي چي هغه دمَرِي لجانب څخه كَفِيل جوړسوئ دئ. عَن سَلَمَةَ بِنِ اَكوَعِ قَالَ كُنّا جُلُوسًا عِندَالنّبِيِّ اِذ اُتِيَ بِجَنَازَةٍ ... قَالَ هَل تَرَکَ شَيئًا ؟ قَالُوا لاَ قَالَ فَهَل عَلَيهِ دَينٌ ؟ قَالُوا ثَلْثَةَ دَنَانِيرَ قَالَ صَلّوا عَلْي صَاحِبِكُم فَقَالَ اَبُوقَتَادَةَ صَلِّ عَلَيهِ يَارَسُولَ اللهِ وَعَلَيّ دَينُهُ فَصَلّٰي عَلَيهِ (الف) (بخاري شريف.باب اذا احال دين الميت علْي رجلٍ جازَص٣٠٥نمبر٢٢٨٩\ ترمذي شريف.باب ماجآءفي الصلوة علْي المديون ص٢٠٥نمبر١٠٦٩) په دې حديث کي حضرت ابوقتاده دمَديُون لجانب څخه كّفَالَت اخستئ دئ او هغه هيڅ دَوَل مال هم نَه وُ پرې اِيښئ نوځکه كَفِيل جوړېدل صحيح دئ.موږ دا وايو چي دا د تَبَرّع او اِحسَان په حَيث وُ او هغه زموږ په نېز هم جائز دئ.په دغه وجه خو وروسته حضرت ابوقتاده هغه اداّء کړئ رَقَم نَه دئ وصول کړئ .

* * *

ابُوالحُسَين قُطب عفي عنه وعن والديه

* * *

حاشيه : (الف) موږ دحضورﷺ سره ناست وُهغه وخت يَوَه جنازه رَاوُړَل سوه ... حضورﷺپوښتنه وکړه چي څَه ئې پرې ايښي دي؟ خلکو وويل چي نَه. وويل چي آيا پر ده څَه قَرض سته ؟ خلکو وويل چي درې دِينَارَ.حضورﷺ وفرمائل پردې باندي تاسو لمونځ وکئ.نو اَبُوقَتَادَه وفرمائل ائ دخدائ رسولَ! پر ده لمونځ وګزارَه دده دقَرض ذِمّه دَارِي پر مَا ده.بيا حضورﷺپر هغه باندي دجنازې لمونځ وکئ .

..... كِتَابُ الحَوَالَةِ.....

[١۴٥٢](١) اَلحَوَالَةُ جَائِزَةٌ بِالدّيُونِ .

..... كِتَابُ الحَوَالَةِ.....

ضروري پام لرنه : د حَوَالي مطلب دادئ چي دَين د اَصل مَقرُوض څخه وکَفِيل ته وُلاَړسي.او اُوس ئې صرف كفيل ذِمّه دَارَه سي.په دي كي قَرض وبَل ته حَوَالَه سوئ دئ نوځكه دي ته حَوَالَه وائي.دحَوَالي ثبوت په دې حديث كي دئ عَن اِبنِ عُمَرَ عَنِ النّبِيّﷺ قَالَ مَطلُ الغَنِيِّ ظُلمٌ وَاِذَا اُحِلّت عَلْي مَلِيٍّ فَاتبِعهُ وَلاَتَبِع بَيعَتَينِ فِي بَيعَةٍ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجآء في مطل الغنيّ ظُلمٌ ص٢۴۴نمبر١٣٠٩\ ابن ماجه شريف.باب الحوالة ص٣۴۴نمبر٢۴٠۴\بخاري شريف.باب الحوالة وهل يرجع في الحوالة ص٣٠٥نمبر٢٢٨٧) په دې حديث كي دحَوَالَه كولو ذِكردئ.او دا هم دئ چي كه يَوه مالدار سړي ته حواله سو نو بايد په هغه پسي سي .

په دې باب كي څلور لفظونه استعماليږي دهغه تفصيل دادئ (١) كوم څوک چي دقرض ذِمّه دَارَه يعني كَفِيل جوړسي چي اُوس زَه قرض ادآء كوم وهغه ته مَحتَالٌ عَلَيهِ وائي (٢) او پركوم چاچي قَرض وُ مَديُون يعني مَكفُولٌ عَنهُ وهغه ته مَحِيل وائي (٣) او دكوم چاچي قَرض وُ يعني مَكفُولٌ لَهُ وهغه ته مَحتَالٌ لَهُ يا مُحتَال وائي (۴) او دكوم مال چي ضَامِن جوړسوئ دئ يعني مَكفُولٌ بِهِ وهغه ته مُحتَالٌ بِهِ وائي .

[١۴٥٢](١) د دَين حواله جائز ده .

تشريح : چي كوم قَرضِ صحيح پريوچا وي هغه پر يَو بَل چاباندي حَوَالَه كړي دا جائز دئ .

حاشيه : (الف) حضورﷺ وفرمائل دمَالدَارَه سړي ټَال مَټول كول ظُلم دئ.او چي دمَالدَارَئ باوجود حَوَالَه سي نوپه هغه پسې سئ او په يَوَه بَيعَ كي دُوې بَيعِ مَه كوئ .

[١۴٥٣](٢) وَتَصِحّ بِرِضَا المَحِيلِ وَالمُحتَالِ لَهُ وَالمُحتَالِ عَلَيهِ .

وجه : (١) دم◌ُحتَالٌ عَلَيهِ يعني دكفيل خپل مال دئ نوځكه هغه ئې هرچاته وركولائي سي (٢) مخته حديث تيرسو چي ويَومالدار ته حواله كړي په هغه مالدار بايدسړئ پسې سي (٣) په خپله حضرت ابوقتاده پرخپل ځان باندي دمړي قرض حَوَالَه كړئ او

وويل فَقَالَ اَبُوقَتَادَةَ صَلِّ عَلَيهِ يَارَسُولَ اللهِ وَعَلَيّ دَينُهُ فَصَلّي عَلَيهِ (الف) (بخاري شريف.باب اذا احال دين الميت علٰي رجل جازص٣٠٥ نمبر ٢٢٨٩) نوځكه ددې اَحَادِيثُ په رُوڼا كي حَوَالَه جائز ده .

[١٤٥٣](٢) حَوَالَه صحيح كيږي دمَحِيل او مُحتَالٌ لَهُ او مُحتَالٌ عَلَيهِ په رضامندي سره .

تشريح : په حَوَالَه كي چي درې كسان راضي وي نو بيا حَوَالَه صحيح كيږي.مَحِيل يعني مَقرُوض.مُحتَالٌ لَهُ يعني قرض وركونكۍ او مُحتَالٌ عَلَيهِ يعني كوم چي دقرض د اداَء كولو ذِمّه دَارِي اَخلِي .

وجه : دمَحِيل رضامندي ځكه ضروري ده چي دا اِمكان سته چي دۍ دبَل چا اِحسَان پر ځان نَه قبلوي نوځكه دده رضامندي ضروري ده .

فائده : په بعضُ رِوَايَاتُ كي راغلي دي چي دمَحِيل رضامندي ضروري نَه ده .

وجه : (١) ځكه چي دده خو ګټه ده چي دده قرض دبَل پرغَاړه وَاوَښتَۍ او بَل څوک دهغه ضَامِن سو (٢) حضرت ابوقتاده دمَړِي قرض پرخپله ذِمّه واخستۍ او په هغه كي دمَړِي رضامندي نَه وه.نوځكه دمَحِيل درضامندۍ بغيره هم حَوَالَه صحيح ده .

دمَحتَالٌ لَهُ رضامندي ځكه ضروري ده چي قرض دده دۍ.اوپه اِنسانانوكي فرق سته.نو دا كېدلائي سي چي مُحتَالٌ لَهُ دبَل چا يعني مُحتَالٌ عَلَيهِ څخه قرض اَخَستَل نَه غُوَاړِي.نوځكه دمُحتَالٌ لَهُ رضامندي ضروري ده.او دمُحتَالٌ عَلَيهِ رضامندي ځكه ضروري ده چي دهغه درضامندۍ بغيره به دۍ قرض څَه رنګه اداَء كوي؟ حضرت ابوقتاده دقرض پر اداَء كولو راضي سو نو بيا دمَړِي قرض و ده ته حَوَالَه سو .

[١٤٥٤](٣) وَ اِذَا تَمّتِ الحَوَالَةُ بَرِئَ المَحِيلُ مِنَ الدّيُونِ وَلَم يَرجِعِ المُحتَالُ لَهُ عَلٰي المَحِيلِ اِلاّ اَن يَتوِيَ حَقّهُ .

[١٤٥٤](٣) او چي حَوَالَه پوره سي نومَحِيل به دقرض څخه بَري سي او مُحتَالٌ لَهُ به دمَحِيل څخه نَه وصولوي مګركه چيري دده حَق تَلَف كېدۍ .

تشريح : چي د دُرُو سره په رضامندۍ سره حَوَالَه مكمله سوه نومَحِيل يعني اَصل مقروض به دقرض څخه بَرِي سي.پرده اُوس قرض نَه پاته كيږي.ځكه چي دده څخه قرض مُنتَقِل سو.او مُحتَالٌ لَهُ يعني قرض وركونكۍ اُوس دمَحِيل يعني اَصل مَقرُوض څخه به قرض نَه وصولوي.مګر ! كه چيري دمُحتَالٌ عَلَيهِ يعني دكَفِيل او ضَامِن څخه دقرض دوصولۍ هيڅ اُمِيد نَه وُ نوبيا به دمَحِيل يعني اَصل مَقرُوض څخه قرض وصولوي .

حاشيه : (الف) حضرت ابوقتاده وفرمائل اۍ حضور تَه پردې سړي لمونځ وګزاره د دده د دَين ذِمّه دَارِي پرمَا ده.بيا حضور پرهغه باندي دجنازې لمونځ اداَء كړۍ .

وجه : (۱) حَوَالَه ئې په دا اُمَیدکړئ وه چي وقرض خُوَاه ته به قرض ورسيږي (۲) په اَثَرکي ددې ثبوت سته عَن عُثمَانَ بِنِ عَفّانَ قَالَ لَیسَ عَلْي مَالِ اِمرِئٍ مُسلِمٍ تَوًي یَعنِي حَوَالَةٌ (الف) (سنن للبيهقي.باب من قال يرجع علْي المحيل لاتوْي علْي مال مسلمٍ ج۶ص۱۱۷نمبر۱۱۳۹۱\مصنف ابن ابي شيبة ۸۴في الحوالة ان يرجع فيها ج۴ ص۳۳۶ نمبر۲۰۷۱۶) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي دمسلمان په مال کي ضِیَاع نسته یعني په حَوَالَه کي نَه ضائع کيږي بلکه داصل مقروض څخه به وصولوي .

فائده : د امام شافعي په نېز دادئ چي که څَه هم دمُحتَالٌ عَلَیه څخه نَه سي وصولولائي خوبيا به هم دمَحِیل یعني اصل مقروض څخه نَه وصولوي .

وجه : (۱) دئ دحوالې په وجه په هَرلِحَاظ بَري سوئ دئ (۲) په اَثر کي دئ عَن شُرَیحٍ

حاشيه : (الف) حضرت عُثمَان بِنِ عَفّان وفرمائل دمسلمان پر مال هلاکت نسته یعني په حَوَالَه کي هلاکت نسته (دئ ئې دمَحِیل څخه هم وصولولائي سي) .

[۱۴۵۵](۴) وَالتّوْي عِندَاَبِي حَنِیفَةَ رَحِمَهُ اللهُ بِاِحدْي الاَمرَینِ اِمّا اَن یَجحَدَ الحَوَالَةَ وَیَحلِفَ وَلاَ بَیّنَةَ عَلَیهِ اَو یَمُوتَ مُفلِسًا .

فِي الرّجُلِ یَحِیلُ الرّجُلَ فَیَتوِي قَالَ لاَیَرجِعُ عَلْي الاَوّلِ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۸۴في الحوالة أَلَهُ ان يرجع فيها؟ج۴ص۳۳۶نمبر۲۰۷۲۰) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي که څَه هم دمال دضائع کېدو خطره وي خوبيا به هم د اَوّل یعني داَصل مقروض څخه نَه وصولوي .

لُغَت : اَلتّوْي : دحَق تَلَف کېدل .

[۱۴۵۵](۴) او حَق تَلَف کېدل د امام ابوحنيفه په نېز د دُوُ معاملوڅخه په یَوَه باندي کيږي.یا دحَوَالې څخه اِنکَار وکي او قَسَم وخوري او پرهغه باندي یَوَه بَیّنَه نَه وي یا دمُفلِسَئ په حالت کي مَړسي .

تشريح:دامام ابوحنيفه په نېزددُوُخبرو څخه یوه وي نو به دا ګڼل کيږي چي حَق تَلَف سوئ دئ.اَوّله خبره داده چي مُحتَالٌ عَلَیهِ یعني ضَامِن دحوالې څخه اِنکَار وکي چي مَا دقرض د اداَء کولو ذِمّه دَارِي نَه ده اخستې.پردغه خبره دئ قَسَم هم وَخُورِي.اود قرض خُوَاه مُحتَالٌ لَهُ سره پردې باندي یَوګواه هم نَه وي چي ده ددې قرض ذِمّه دَارِي اخستې وه.نو اُوس خو دقرض دوصولولو هيڅ ډَوَل صورت نسته نوځکه اُوس به د اَصل مَقرُوض څخه وصولوي. او دُوَم صورت دادئ چي مُحتَالٌ عَلَیهِ مُفلِس سوئ وي او مَړ وي.نو اُوس دده سره هيڅ شيئ نسته او نَه دئ په خپله ژُوَندَئ دئ چي دده څخه وصول کړي.نوځکه اُوس به د اَصل مقروض یعني مَحِیل څخه وصولوي .

وجه : په اَثَر کي ددې ثبوت سته چي دمُفلِسئ په حالت کي مړسي نو قرض واَصل مقروض ته عَودکوي عَنِ الحَکَمِ بِنِ عُتَبَةَ قَالَ لاَیَرجِعُ فِي الحَوَالَةِ اِلْي صَاحِبِهِ حَتْي

حاشیه : (الف) حضرت شُرَیح وفرمائل چي سړئ ئې حَوَالَه کړي بیاپر مُحتَالٌ عَلَیه باندي هلاکت راسي نو وفرمائل چي د اَوّل ښخه نَه سي وصولولائي (یعني دمَحِیل ښخه) .

[۱۴۵۶](۵) وَقَالَ اَبُویُوسُفَ وَمُحَمّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ هٰذَانِ الوَجهَانِ وَوَجهٌ ثَالِثٌ وَهُوَ اَن یَحکُمَ الحَاکِمُ بِاِفلاَسِهِ فِي حَالِ حَیَاتِهِ .

یُفلِسَ اَو یَمُوتَ وَلاَیَدَعُ فَاِنّ الرّجُلَ یُوسِرُ مَرّةً وَیُعسِرُ مَرّةً (الف) (مصنف ابن ابي شیبة ۸۴في الحوالة أَلَهُ اَن یرجِعَ فِیهَا؟ ج۴ص۳۳۶نمبر۲۰۷۱۶) په دې اَثَرکي دئ چي مُفلِس سي او مَړ سي نوقرض به داَصل مقروض ښخه وصولوي .

لُغَت : یَجحَدَ : اِنکَار وکي .

[۱۴۵۶](۵) امام ابویوسف او امام محمدوفرمائل دغه دُوې وجهي او دریمه وجه هم سته.هغه دا چي حَاکِم دده په ژُوَند کي دده دمُفلِسئ حُکم وکړي .

تشریح : د دُوُ وجهوښخه علاوه دریمه وجه دا هم ده چي دهغه لکبله مُحتَالٌ لَهُ د اَصل مقروض یعني مَحِیل ښخه قرض وصولولائي سي او هغه داده چي حَاکِم دده په ژُوَند کي دده دمُفلِسئ فیصله وکي .

وجه : (۱) د دُوئي دلیل دا مخته تېرسوئ اَثَردئ په هغه کي دئ قَالَ لاَیَرجِعُ فِي الحَوَالَةِ اِلْي صَاحِبِهِ حَتْي یُفلِسَ ددې مطلب دادئ چي مُحتَالٌ عَلَیهِ په ژُوَندکي مُفلِس سي نو هم قرض داصل مقروض ښخه وصولولائي سي (۲) عَنِ الحَسَنِ قَالَ اِذَا اِحتَالَ عَلْي مَلِيٍّ ثُمّ اَفلَسَ بَعدُ فَهُوَ جَائِزٌ عَلَیهِ (ب) (مصنف ابن ابي شیبة ۸۴في الحوالة أله ان یرجع فیها؟ ج۴ص۳۳۶نمبر۲۰۷۱۸) په دې اَثَرکي دئ چي که په ژُوَندکي مُحتَالٌ عَلَیهِ مُفلِس سي نومُحتَالٌ لَهُ د مَحِیل یعني اَصل مقروض ښخه قرض وصولولائي سي .

اُصُول : د امامِ صاحبین په نېز دا قاعده ده چي حَاکِم د یَوچَا په ژُوَندکي دهغه اِفلاَس فیصله وکي نوهغه سړئ پرخپله مُفلِسي باندي پاتېږي.اوچي کله هغه

حاشیه : (الف) حَکَم بِنِ عُتبَه وفرمائل په حَوَالَه کي به دصَاحِبِ حَوَالَه ښخه نَه وصولوي ترهغو چي مُحتَالٌ عَلَیهِ مُفلِس سي او هیڅ شيئ نَه پرېږدي.ځکه چي انسان کله مَالدَارَه وي کله تَنګدَست وي (ب) حَسَن وفرمائل که پرمَالدَارَه حَوَالَه وکړه بیا هغه مُفلِس سونوهغه پر مَحِیل باندي جائز سو .

[۱۴۵۷](۶) وَاِذَا طَالَبَ المُحتَالُ عَلَیهِ المَحِیلَ بِمِثلِ مَالِ الحَوَالَةِ فَقَالَ المَحِیلُ اَحَلتُ بِدَینٍ لِي عَلَیکَ لَم یُقبَل قَولُهُ وَکَانَ عَلَیهِ مِثلُ الدّینِ .

مُفلِس سو نو د اَصل مقروض ښخه به قرض وصولوي.او د امامِ اَعظَم رأیَه داده چي مَال کله ځي کله راځي نوځکه دیَوچَا د اِفلاَس دفیصلې ښخه هغه سړئ همېشه پرمُفلِسي برقراره نَه پاتېږي.بلکه دا اُمَید سته چي ده ته دي مَال راسي نوځکه مُحتَالٌ لَهُ یعني دَائِن به دمُحتَالٌ عَلَیهِ یعني کفیل ښخه قر ض وصولوي .

[١٤٥٧](۶) مُحتَالٌ عَلَیه دمَحِیل څخه مُطالَبَه وکړه دحَوَالي دمال دمِثل.نومَحِیل وویل چي مَا دهغه دَین په بدله کي حَوَالَه کړئ دئ کوم چي زُومَا پرتا باندي دئ نو دمَحِیل خبره به مَنَل کیږي او پرده باندي د دَین برابر رَقَم لازم دئ .

تشریح : مُحتَالٌ عَلَیهِ ومَحِیل ته وویل چي مَا کوم قرض ومُحتَالٌ لَهُ ته اداء کړئ دئ هغه رَقَم ومَا ته راکړه.ددې خبري په جواب کي مَحِیل وویل زُومَا پرتا باندي زُوړ قرض پاته وُ دهغه دوُصُولَئ لپاره پر تَاباندي د دَین حَوَالَه کړې وه او پردې خبره دمَحِیل سره یَوَه بَیِّنَه هم نسته نودمَحِیل خبره به نَه منل کیږي.بلکه دمُحتَالٌ عَلَیهِ خبره به منل کیږي او څونه قرض چي مُحتَالٌ عَلَیهِ اداء کړئ دئ هغونه قرض به دمَحِیل څخه بیرته اَخلِي .

وجه : (١) مُحتَالٌ عَلَیهِ قرض اداء کړئ دئ چي دا یَوښکاره ثبوت دئ چي دئ دي دقرض مطابق رَقَم دمَحِیل څخه وصول کړي.او دمَحِیل سره پردې خبره هیڅ ډَوَل دلیل نسته چي دده پر مُحتَالٌ عَلَیهِ باندي قرض باندي دئ نوځکه دمُحتَالٌ عَلَیهِ خبره به منل کیږي (٢) مَحِیل پرمُحتَالٌ عَلَیهِ باندي دقرض دعوْي کوي او مُحتَالٌ عَلَیهِ مُنکِردئ لِهٰذَا که دمَحِیل سره بَیِّنَه نَه وه نو دمُنکِرخبره به منل کیږي.نوپه دغه وجه به هم دمُحتَالٌ عَلَیهِ خبره منل کیږي.اوهرڅونه قرض چي مُحتَالٌ عَلَیهِ اداء

[١٤٥٨](٧) وَاِن طَالَبَ المَحِیلُ اَلمُحتَالَ لَهُ بِمَا اَحَالَهُ بِهِ فَقَالَ اِنّمَا اَحَلتُکَ لِتَقبِضَهُ لِي وَقَالَ المُحتَالُ لَهُ بَل اَحَلتَنِي بِدَینٍ لِي عَلَیکَ فَالقَولُ قَولَ المَحِیلِ مَعَ یَمِینِهِ .

کړئ دئ هغونه قرض دمَحِیل څخه دوصولولوحق لري .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول ده چي ښکاره علامت دچاسره وي دهغه خبره به منل کیږي .

[١٤٥٨](٧) که مَحِیل دمُحتَالٌ لَهُ څخه مطالبه وکړه دهغه دَین کوم چي حَوَالَ کړې وُ.او مَحِیل وویل چي مَا په دې وجه حَوَالَه کړئ وُ چي هغه قرض زُومَا په قبضه کي راکړي.او مُحتَالٌ لَهُ وویل چي تَا دهغه دَین په وجه حَوَالَه کړئ وُ کوم چي زُومَا پرتَا باندي وُ.نو دمَحِیل خبره به سره دقَسَم منل کیږي .

تشریح : مُحتَالٌ لَهُ دمُحتَالٌ عَلَیهِ څخه هغه قرض وصول کړئ کوم چي پرمَحِیل وُ.چي څَه وخت ئې و صول کړئ نو مَحِیل ومُحتَالٌ لَهُ ته وویل چي کوم قرض تا دمُحتَالٌ عَلَیهِ څخه وصول کړئ دئ هغه مَا ته راګه.ځکه چي ستا پرما باندي هیڅ ډَوَل قرض نَه وُ.دا خو پرمُحتَالٌ عَلَیهِ باندي زُومَا قرض وُ دهغه دوصولولو لپاره پرتا باندي حواله کړئ وُ.چي دمُحتَالٌ عَلَیهِ څخه وصول کې او مَا تَه راکې. او دمُحتَالٌ لَهُ وَینَا داده چي زُومَا پرتا باندي قرض وُ دهغه په وجه تا دا حواله کړې وه نوځکه کوم قرض چي مَا وصول کړئ دئ هغه زَه تاته نَه درکوم.نو دمَحِیل خبره به سره دقَسَم منل کیږي .

وجه : (١) دحَوَالَه کولو ځخه دا ضروري نَه ده چي دمُحتَالٌ لَهُ دي پرمَحِيل باندي قرض وي.دا اِمکان لري چي مُحتَالٌ عَلَيهِ دي دقرض دوصولولو لپاره حَوَالَه اِستِعمَال کړې وي او مُحتَالٌ لَهُ دې وکيل جوړکړئ وي ددې لپاره چي دئ دوکالت په حَيث دمُحتَالٌ عَلَيهِ ځخه رَقَم وصول کړي مَحِيل ته ورکړي.نوځکه دمَحِيل خبره به منل کيږي (٢) مُحتَالٌ لَهُ پر مَحِيل دقرض دعوْي کوي او پردې باندي دئ بَيِّنَه هم نَه لري او مَحِيل ددې ځخه مُنکِردئ نوځکه سر دقَسَم به دده خبره منل کيږي .

[١٤٥٩](٨) وَيُکرَهُ السّفَاتِجُ وَهُوَ قَرضٌ اِستَفَادَ بِهِ المَقرُوضُ اَمنَ خَطَرِ الطّرِيقِ .

[١٤٥٩](٨) سَفَاتِج مکروه دئ او هغه قرض دئ چي دهغ ورکونکئ د لاَرِي دخطرې ځخه محفوظ سي .

تشريح : دسَفَاتِج صورت دادئ چي مثلاً په لَندَن کي پونډپه قرض ورکړي او ورته ووائي چي مثلاً په اِنډيَا(هندوستان) کي دا قرض وفُلاَنِي سړي ته بېرته ورکه.او قرض اَخستونکئ دا قبول کړي نو دا مکروه دئ .

وجه : (١) وقرض ورکونکي ته اُوس دا خطره نسته چي زُومَا پُونډُونَه دي ضائِع سي.ځکه چي اُوس هرڅَه ضائِع کيږي هغه به دقرض اَخستونکي دا ضائِع کيږي. قرض ورکونکي قرض ورکړي دا ګټه تر لاَسَ کړه چي خپل مَال ئې دلاَرِي دخطراتُ ځخه محفوظ کړي (٢) په اَثَرکې د دارنګه کولوځخه منع کړې ده عَن زَينَبَ قَالَت اَعطَانِي رَسُولُ اللهِﷺخَمسِينَ وَسَقًا تَمَرًا بِخَيبَرَ وَعِشرِينَ شَعِيرًا قَالَت فَجَآءنِي عَاصِمُ بِنِ عَدِيٍّ فَقَالَ لِي هَل لَکَ اَن اُوتِيکَ مَالَکَ بِخَيبَرَ هٰهُنَا بِالمَدِينَةِ فَاَقبَضَهُ مِنکَ بِکَيلِهِ بِخَيبَرَ فَقَالَت لاَ حَتْي اَسأَلَ عَن ذَالِکَ قَالَت فَذَکَرتُ ذَالِکَ لِعُمَرَبِنِ الخَطّابِ فَقَالَ لاَ تَفعَلِي فَکَيفَ لَکَ بِالضّمَانِ فِيمَا بَينَ ذَالِکَ (الف) (سنن للبيهقي.باب ماجاء في السفاتج، ج٥ ص٥٧٦نمبر١٠٩٤٥)په دې اَثَرکي حضرت عُمَرددې ځخه منع کړې ده چي په خَيبَرکي مَال ورکړي په مدينه کې بېرته ځيني واخلي (٣) په اَثَرکي راغلي دي عَن فُضَالَةَ بِنِ عَبِيدٍ صَاحِبِ النّبِيِّ اَنّهُ قَالَ کُلّ قَرضٍ جَرّ مَنفَعَةً فَهُوَ وَجهٌ مِن وُجُوهِ الرِّبَا (ب)

حاشيه : (الف) حضرت زَينَب فرمائي چي حضور مَاتَه پِنځوس وَسَق خُورمَا او شَل وَسَق وُربُشِي په خَيبَرکي را کړې.فرمائي چي عَاصِم بن عَدِي مَاتَه راغلئ او وويل چي آيا دخَيبَرپه بَدلَه کي په مَدِينَه کي مَال درکړم؟ او زَه دهغه په بَدلَه کي دهغه په اَندَازَه پيمَانَه په خَيبَرکي ستاځخه قبضه کړم.وفرمائل چي نَه.ترڅوچي زَه دهغه په باب پوښتنه ونَه کړم.فرمائي چي ددې تذکره ئې دحضرت عُمَربن خَطّاب په مخکي وکړه نو هغه وفرمائل چي دارنګه مَه کوه.ځکه چي هغه ضَمَان به څَه رنګه وي کوم چي په لاَرَه کي دئ (ب) دحضور صحابي فُضَالَه بن عُبَيدفرمائي چي هرهغه قرض چي دهغه په وجه نَفعَ واخلي هغه دسُود د اَقسَامُو ځخه يَو قِسم دئ .

(سنن للبيهقي.باب کل قرضٍ جَرّ منفعة فهو رِبًا.ج٥ص٥٧٣نمبر١٠٩٣٣\ مصنف ابن ابي شيبة ٧٩من کره کل قرض جرمنفعة ج٥ص٨٠) ددې اَثَرځخه معلوم سوچي هرهغه قرض چي نَفعَ په اخستل سوې وي هغه د سُود يو قِسم دئ.او دلته دلاَرِي دحفاظت ګټه ځيني اخستل سوې ده.لِهٰذَا دا به هم دسُود يوقِسم وي چي مکروه دئ .

پام لرنه : که چيري بغيره دشرط داسي وَکَل چي په لَندَن کي قرض واخستئ او په هندوستان کي اداَء کړئ نو دا بيا مکروه نَه دئ.ددې دليل دا اَثَردئ اَنّ عَبدَاللهِ بِنِ الزّبَيرَ کَانَ يَأخُذُ مِن قَومٍ بِمَکّةَ دَرَاهِمَ ثُمّ يَکتُبُ بِهَا اِلْي مَصعَبَ بِنِ الزّبَيرَ بِالعِرَاقِ فَيَأخُذُونَهَا مِنهُ فَسُئِلَ اِبنَ عَبّاسٍ عَن ذَالِکَ فَلَم يَرَ بِهِ بَأسًا فَقِيلَ لَهُ اِن اَخَذُوا اَفضَلَ مِن دَرَاهِمَ قَالَ لاَ بَأسَ اِذَا اَخَذُوا بِوَزنِ دَرَاهِمِهِم (الف) (سنن للبيهقي.باب ماجآء في السفاتج ج۵ص۵۷۷نمبر۱۰۹۴۷) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي بېله شرطه وي نو دهغه ګُنجائش سته .

حاشيه : (الف) عبدالله بن زُبَير به په مکّه مُکَرّمه کي دخلګوڅخه دِرهَم اخستل.بيا به دهغه تَصدِيق ومصعب بِنِ زُبَير ته ليکئ چي په عِرَاق کي مِېشت وُ.نوخلګو به دمَصعَب بِنِ زُبَيرڅخه رَقَم اخستئ.نو د دې په باب دعبدالله بن عَبّاس څخه پوښتنه وسوه نوهغه په دې کي هيڅ دِوَل حرج وَنَه ګاڼَئ.بيا ده ته وويل سو چي ددې څخه ښَه دِرهَم اَخلِي.نو وفرمائل چي که د دِرهَم په وَزَن کي برابر وي نو هيڅ دحرج خَبَرَه نَه ده .

..... كِتَابُ الصّلحِ.....

[۱۴۶۰](۱) اَلصّلحُ عَلْي ثَلْثَةِ اَضرُبِ صُلحٌ مَعَ اِقرَارٍ وَصُلحٌ مَعَ سُکُوتٍ وَهُوَ اَن لاَيُقِرّ المُدّعِي عَلَيهِ وَلاَيُنکِرُ وَصُلحٌ مَعَ اِنکَارٍ وَکُلّ ذَالِکَ جَائِزٌ .

..... كِتَابُ الصّلحِ.....

ضروري پام لرنه : دصُلح معنْي ده مَصَالَحَت کول.دا دمُخَاصَمَت ضِد او مُقَابِل دئ.د صُلحِ دجواز دليل دا آيت دئ وَ اِن اِمرَ أ ةٌ خَافَت مِن بَعلِهَا نُشُوزًا اَو اِعرَاضًا فُلاَجُنَاحَ عَلَيهِمَا اَن يُصلِحَا بَينَهُمَا صُلحًا وَالصّلحُ خَيرٌ (الف) (آيت۱۲۸سورة النسآء۴) او حديث دئ عَن بَرَآ ءَ بِنِ عَازِبٍ قَالَ صَالَحَ النّبِيّ المُشرِکِينَ يَومَ الحُدَيبِيّةَ عَلْي ثَلْثَةِ اَشيَآءٍ (ب) (بخاري شريف.باب الصلح مع المشرکين ص ۳۷۱ نمبر۲۷۰۰) ددې حديث څخه هم معلوم سوچي صُلح جائزده. او په ابوداؤدشريف کي دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ اَلصّلحُ جَائِزٌ بَينَ المُسلِمِينَ. زَادَ اَحمَدُ اِلاّ صُلحًا حَرّمَ حَلاَلاً اَو اَحَلّ حَرَامًا (ج) (ابوداؤد شريف.باب في الصلح ص۱۵۸ نمبر۳۵۹۴) ددې حديث څخه هم دصُلحِ جواز معلوميږي .

[۱۴۶۰](۱) صُلح پر درې قِسمَ ده.د اِقرَار سره صُلح.او په پَټَه خُولَـه صُـلح.هغه داده چي مُدّعْي عَلَيهِ نَه اِقرَار کوي نَه اِنکَار کوي.او د اِنکَار سره صُلح.او دغه درې سره صورتونه جائزدي .

تشريح : دصُلح درې صورتونه دي.اَوّل صورت دادئ چي مُدّعِي دعوْي وکـړه چـي زُومَـا پر تَاباندي زَر دِرهَم دي.مُدّعْي عَلَيهِ اقرار وکـئ چي هُو سته.لېکن د زَرو په . بدله کي يَوَه غُوَا درکوم پر دغـه صُـلح راسـره وکـه مُـدّعِي دا ورسـره ومنـل نـو دا د اِقرَار سره صُلح سوه.يائې داسي وويل چي زَر دِرهَم خو دي لېکن پر اَتَـه سـوه صُـلح راسره وکه او دُوَه سوه دِرهَمَ پرېږده نو دا هم د اِقرَارَه سره صُلح ده او صُـلح بِجِنسِـهِ ده.دُوَم صـورت دادئ چـي مُـدّعِي دعـوْي وکـړي چـي زُومَـا پرتـا بانـدي زَر دِرهَـم دي.مُدّعْي عَلَيهِ پرهغه باندي نَه اِنکَار وکـئ نَه اِقرَار وکـئ بلکه خاموش پاتـه سـو.بيائې وويل چي ددې په بدلـه کـي غُـوَا درکـوم پـردې صُـلح راسـره وکـه مُـدّعِي دا ورسـره ومنل.دا صُلح مَعَ السّکُوت سوه.او دريم صورت دادئ چـي مُـدّعِي دعوْي وکـړه چـي زُومَا پرتا باندي زَر دِرهَم دي.مُدّعْي عَلَيهِ انکار وکـئ چي ستا پـر مَابَانـدِي هـيڅ شـيئ نَسته.وروسته وويل چي چلو ددې په بدلـه کـي يَـوَه غُـوَا درکوم.مُـدّعِي ومنـل ودې تـه صُلح مع اِنکَار وائي چي د اِنکَار کولو وروسته صُلح وکي.دغه درې سـره صـورتونه جائزدي .

[۱۴۶۱](۲) فَـاِن وَقَـعَ الصّـلحُ عَـن اِقـرَارٍ اُعتُبِـرَ فِيـهِ مَـا يُعتَبَـرُ فِـي البَيَاعَاتِ اِن وَقَعَ عَن مَالٍ بِمَالٍ .

وجه : (۱) دتېر حديث ,,اَلصّلحُ جَائِزٌ بَينَ المُسلِمِينَ,, څخه معلوم سوچي صُلح جائزده او دا حديث مُطلق دئ نوځکه په دي کي دصُلحِ درې سره قسمونه داخل دي.يعنـي حـديث دصُـلح پر درې سره قِسمو باندي دَال دئ (۲) دصُلح مع السکوت او صُـلح مـع انکـار مطلـب دادئ چي داشيئ خو ستا نَه دئ لېکن خو زَه د دعوې او اخـتلاف څخـه دځـان ژُغوَرَلُـو لپـاره دا صُلح کوم.نوځکه مال درکوم خپل ځان او خپل عِزّت ساتل غُوَاړَم.او مَال دمُـدّعْي عَلَيـهِ دئ نوځکه دئ هغه خرچ کولائي سي.نوځکه صُلح مَعَ السکوت او صُلحَ مَعَ انکار هم جائز دي .

[۱۴۶۱](۲) که چيري صُـلح پـه اِقـرَار سـره واقـع سـوې وي نوپـه دي کـي بـه دهغـه اُمُورُو اعتبار کيږي دکومو اُمُور چي په خريد وفروخت کـي اعتبـارکيږي. کـه چيـری واقع سوې وي په مَال سره د مَال په بدله کي .

حاشيه : (الف) که يَوَه ښځه دمېړه څخه دنافرمانئ يا داِعرَاض خوف ولري نو پر دُوئـي دُوَاړُو هـيڅ حـرج نسـته چي په خپل مينځ کي صُلح وکي.او صُلح خَير ده (ب) حضورﷺ دصُلحِ حُدَيبِيّې په ورځ دمُشرِکانُوسره پـر درې خبرو صُلح وکړه (ج) حضورﷺوفرمائل دمسلمانانو ترمينځ صُلح جائز ده مَاسِوَا دهغـه صُلحِ چـي حـلال حـرام کړي يا حرام حلال کړي .

[۱۴۶۲](۳) وَاِن وَقَعَ عَن مَالٍ بِمَنَافِعَ فَيُعتَبَرُ بِالاِجَارَاتِ .

تشريح : مُدّعِي دعوْي وکړه چې پر تا باندي زَر دِرهَم دي.مُدّعْي عَلَيـهِ اقـرار وکـئ. بيائې د زَرو په بدله کي پر يَوَه غُوَا باندي صُلح سره وکړه نـو و دواړو خُـوَا تـه مَـال دئ او مُدّعْي عَلَيهِ اقرار هم کړئ دئ نو ګواکه د زَر دِرهَم په بدله کې غُوَا وَاخَستَه.او دمُدّعِي او مُدّعْي عَلَيهِ ترمينځ دبَيعِ معامله وسوه.نوځکه په بيع کي چې دکومو کومو شيانو اِعتِبَار کيږي په دغه صُلح کي به هم دهغو اُمُورُ اِعتِبَـار کيږي.مثلاً کـه چيـري مځکه خرڅيږي په هغه کي دشُفعې حَق ثابت وي.نوپـه دې صُـلح کـي بـه هـم دشُـفعې حَق ثابت وي.که په غُوَا کـي يَـو عيـب وي نودخِيَارِعَيب تحت غُـوَا وبـائع تـه وَاپَـس کولائي سي.که د مُدّعِي يا مُدّعْي عَلَيهِ څخه يـوه خِيَارِشَـرط اخستئ وي نودخِيَارِشَـرط تحت ئې هم وَاپَس کولائي سي.که مُدّعِي دغه مبيعه غُوَا نَه وي ليدلې نـو دخِيَارِرُؤيَـت تحت ئې هم وَاپَس کولائي سي .

وجه : (۱) داِقرَار وروسته صُلح سوې ده نوګواکه مُدّعِي مُشتَرِي سـو او مُـدّعْي عَلَيـهِ بائع سو.او د دُوَارُو ترمينځ دبيعِ وشِرَآء معامله وسوه.نوځکه کوم اُمُور چي پـه بَيـعَ او شِرَآء کي مُعتَبَردي هغه اُمُور به دلته پـه دې صُـلح کـي هم مُعتَبَـر وي چـي مثـال ئـې مخته تيرسو (۲) په دې اَثَرکي ددې ثبوت سته عَن عُمَرَبنِ سَلَمَةَ عَـن اَبِيـهِ قَـالَ صُـولِحَت اِمـرَأ ةُ عَبـدِالرّحمْنَ بِـنِ عَـوفٍ مِـن نَصِـيبِهَا رُبـعِ الـثّمَنِ عَلْـي ثَمَـانِينَ اَلفًـا (الـف) (سـنن للبيهقي.بـاب صـلح المعاوضـة وانـه بمنزلـة البيـع يجوزفيـه مـايجوز فـي البيـع ولايجوزفيـه مالايجوزفي البيع ج۶ص۱۰۷نمبر۱۱۳۵۵) په دې اَثَرکـې پـر خپلـه برخـه او خپلـه حِصّـه باندي په اَتيَا زَرَه دِرهَمَ صُلح کړې ده چي دبيع په شان ده .

[۱۴۶۲](۳) او که صُلح واقع سوې وي دمَـال څخـه دنَفـعِ پـه مقابلـه کـي نـو داُجـرَت اِعتِبَار به کيږي .

حاشيه : (الف) عُمَربن سلمه فرمائي چي دعبدالرحمْن بن عَوف مينې خپله برخه ثَلُورَمَه برخه په اَتيَا[80000] زَرَه صُلح وکړه .

[۱۴۶۳](۴) وَالصّلحُ عَنِ السّکُوتِ وَالاِنـکَـارِ فِـي حَـقِّ المُـدّعْي عَلَيـهِ لاِفتِدَ آءِ اليَمِينِ وَقَطعِ الخُصُومَةِ وَفِي حَقِّ المُدّعِي بِمَعنْي المُعَاوَضَةِ .

تشريح : که چيري يَو طرف ته مَال وي بَل طرف ته نَفعَ وي نو پردې صُـلح بانـدي د اُجرَت احکـام جـاري کيږي.مثلاً مُـدّعِی دعـوْي وکـړه چـي زُومَـا پرتابانـدي زَر دي. مُدّعْي عَلَيهِ دهغه اقرار وکئ. بيائې وويل چي ددې په بدله کي تريَـوې مياشـتي پـوري ستا فُلانَئ کار کوم.نو دمُدّعِي لخوا زَر مَال دئ او دمُدّعْي عَلَيهِ لخوا کار او منـافع دي نـو دا داُجـرَت يـو شـکل سـو.او پـه دې صُـلح کـي بـه داُجـرَت دتولـو اُمُـورُ رِعَايَـت

کيږي.مثلاً دنَفعِ د ورکولو مُدّت به معلوميږي.چي د دواړو ښخه يَو مَړ سي نو صُلح باطليږي ځکه چي په اُجرَت کي هم دغه رنګه کيږي .

اُصُول : صُلح عَنِ الاِقرَار دبيع يا اِجَارې په شان وي .

[۱۴۶۳](۴) او د پټي خولې کېدو وروسته صُلح يا دِانګَار کولو وروسته صُلح د مُدّعْي عَلَيهِ په حَق کي دقَسَم دفِديې ورکولولپاره او دِاخـتِلاَف دختم کولو په حَيث وي.او دمُدّعِي په حق کي دمُعَاوضې په درجه کي دئ .

تشريح : مُدّعِي دعوْي وکړه چي پرتا باندي زَر درهم دي.مُدّعْي عَلَيهِ پردې خبره باندي پټه خوله سو يائې انکار وکئ.بيائې پريَوَه غُوَا صُلح سره وکړه نو دا صُلح به دمُدّعْي عَلَيهِ په حق کي داسي ګڼل کيږي چي پرمُدّعْي عَلَيهِ باندي هيڅ شيئ نَه وُ.البته دمُقَدّمې او دعدالت ښخه دځان خلاسولولپاره اودقَسَم ښخه دځان ژُغوَرَلو لپاره ئې خپل مَال په فِديَه کي ورکئ.په حقيقت کي پر ده هيڅ شيئ لازم نَه وُ.

وجه : (۱) ده اِنکار کړئ وُ يا پټه خوله سوئ وُ او مُدّعِي دګواه په ذريعه پرده هيڅ شيئ ثابت نَه کړئ نوځکه په حقيقت کي پرمُدّعْي عَلَيهِ باندي هيڅ شيئ لازم سوئ نَه وُ.او هرڅَه چي دصُلح په توګه ورکړي دي هغه ئې دځان دخلاسولو لپاره ورکړي

[۱۴۶۴](۵) وَاِذَا صَالَحَ عَن دَارٍ لَم يَجِب فِيهَا الشّفعَةُ .

دي (۲) په حديث کي ودې ته اِشَارَه سوې ده چي د اِنګَار باوجودپه دُنيا کي دخپلو ورونړو سره صُلح کول په کار ده عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺمَن کَانَت لَهُ مَظلَمَتُهُ لأخِيهِ مِن عِرضِهِ اَو شَيئٍ فَليَتَحَلّلهُ مِنهُ اليَومَ قَبلَ اَن لاَيَکُونَ دِينَارًا وَلاَ دِرهَمًا (الف) (بخاري شريف.باب من كانت له مظلمة عندالرجل فليحللها له هل يبين مظلمته؟ ص۲۴۴۹) په دې حديث کي دئ چي په دې دُنيا کي پرخپلو ورونړوباندي کړئ ظُلم حلالول په کار دئ.دا ښکاره خبره ده چي په ظُلم کي خو سړئ اِنګَار کوي.خو دهغه سره سره ئې دصُلح کولو تَرغِيب ورکړئ دئ نودا معلوم سوچي دانکار باوجود صُلح کولائي سي.او دمُدّعِي په حَق کي دمُعَاوضې په معنْي ده .

وجه : ځکه چي مُدّعِي په دا ګُمان دئ چي پرمُدّعْي عَلَيهِ باندي زُومَا شيئ وُ دهغه په بدله کي دده شيئ اَخلَم .

[۱۴۶۴](۵) که صُلح وکړه د مکان ښخه نوپه هغه کي شُفعَه نَه واجبيږي .

تشريح : مُدّعِي پرمُدّعْي عَلَيهِ باندي دعوْي وکړه چي دا مکان زُومَا دئ.مُدّعْي عَلَيهِ انکار وکئ يا پټه خوله سو.بيائې د دغه مکان په عِوَض کي څَه روپۍ ورکړې او صُلح ورسره وکړه نو په دې مکان کي څوک دشُفعې حَق نَه لري .

وجه : مُدّعْي عَلَيهِ په دا ګُمَان دئ چي دا مکان د اَوّله ښخه زُومَا دئ.دا روپۍ خو دجګړې دختم کولو لپاره ورکوم.د دې روپۍ په بدله کي مکان نَه رانيسم.نو چي مکان رانيول مُتَحَقّق نَه سو نو په دې کي شُفعَه هم نَه سي راتلائي .

اُصُول : دا مسئله پر دې اُصُول مُتَفَرّع ده چي په کوم ځائ کي رانيول موجودسي نو هلته به په جائداد کي شُفعَه وي.په کوم ځائ کي چي رانيول نَه سي مُتَحَقّق هلته حَق دشفعې نسته .

حاشيه : (الف) حضورﷺ وفرمائل پر يَوچَا باندي د وُرُور لخوا ظُلم وسي دهغه دعِزّت په باب يا ديو بَل شِي په باب نو هغه نَن ورځ حلالول په کار دئ.دهغه ورځي ښخه مخکي چي نَه دِرهَم وي نَه دِينَار .

[۱۴۶۵](۶) وَاِذَا صَالَحَ عَلْي دَارٍ وَجَبَت فِيهَا الشّفعَةُ[۱۴۶۶](۷) وَاِذَا كَانَ الصّلحُ عَن اِقرَارٍ فَاستَحَقّ بَعضَ المَصَالَحَ عَنهُ رَجَعَ المُدّعْي عَلَيهِ بِحِصّةِ ذَالِکَ مِنَ العِوَضِ .

[۱۴۶۵](۶) او که پر مکان صُلح وکړه نوپه هغه کي شُفعَه واجب ده .

تشريح : مُدّعِي دعوْي وکړه چي پر تَا باندي زَر دِرهَم دي.مُدّعْي عَلَيـهِ پته خوله سو يائې انکاروکئ بيائې د زَر دِرهَم په بدله کي يومکان ورکړئ صُلح ورسره وکړه نو په دې مکان کي دشُفعې حَق سته .

وجه : مُدّعِي دغه مکان د زَر دِرهَم په بدله کي رانيسي.نو ددې مُدّعِي په حَق کي مکان دزَر دِرهَمَ په بدله کي رانيول مُتَحَقّق سو لِهْذَا په مکان کي شُفعَه سته .

اُصُول : اُوس مخته تير سو .

[۱۴۶۶](۷) که د اِقرَار وروسته صُلح سوې وي بيا دصُلح دشِي په بعض حِصّه کي مُستَحِق راغلئ نو مُدّعْي عَلَيهِ دي د عِوَض ښخه دهغه دحِصّې مُوَافِق ببِرته واخلي .

تشريح : دمِثَال دلاري په دې مسئله ځان پوه کئ.مثلاً دعُمَرپه قبضه کي يومکان دئ.زَيدمُدّعِي دعوْي وکړه چي دا مکان زُومَا دئ عُمَرمُدّعْي عَلَيهِ ووِيل چي هُو دغه رنګه ده.بيائې يوه غُوَا ورکړه صُلح ورسره وکړه.بيا هغه مکان چي مَصَالَح عَنهُ وُ يعني چي دهغه لکبله صُلح سوې وه په هغه کي نِيمَئ حِصّه دبَل مَالِک ثابته سوه نو عُمَر به د زَيد ښخه دخپلي ورکړې غُوَا نِيمَئ حِصّه ببِرته اَخلِي .

وجه : صُلحَ ورسره وکړه نو دا دخريدوفروخت په شان يوعَمَل سو.نوځکه چي د مَبِيع يا ثَمَن مُستَحِق را وُوزِي نو به دهغه موجود سړي ښخه وصولوي.دلته دمکان نِيمَئ حِصّه مُستَحَقّه سوه نو غُوَا کوم چي ددې مکان قيمت وَه دهغې نِيمَئ به د زَيد ښخه ببِرته اَخلِي .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چي د اِقرَار وروسته صُلح دبَيع په شان ده .

[۱۴۶۷](۸) وَاِذَا وَقَعَ الصّلحُ عَن سُكُوتٍ اَو اِنكَارٍ فَاستَحَقّ المُتَنَازَعَ فِيهِ رَجَعَ المُدّعِي بِالخُصُومَةِ وَرَدّ العِوَضَ وَاِن اُستُحِقّ بَعضُ ذَالِکَ رَدّ حِصّتَهُ وَرَجَعَ بِالخُصُومَةِ فِيهِ .

[۱۴۶۷](۸) که چیري دپټي خولې یا دانکار وروسته صُلح سوې وه بیا دمُتَنَازَع فِیهِ شِي یوحقداره را وَوزِي نومُدّعِي به مُقَدّمَه کوي وصولوي به. او عِوَض به وَاپَس کوي.او که چیری په هغه کي دبعض حِصّې مُستَحِق رَاوَوَاتَئ نودحِصّې مُوَافِق دي وَاپَس کړي په هغه کي دي خُصُومَت وکړي .

تشریح : په دې مسئله هم د مثال دلاَرِي ځان پوه کړئ.مثلاً دعُمَرپه قَبضه کي یَومکان وُ.زید دعوْي وکړه چي دا مکان زُومَا دئ.عُمَر پر دې خبره پټه خوله سو یائې اِنکار وکئ.وروسته عُمَر مُدّعْي عَلَیه یوه غُوَا ورکړه پر دې دعوْي ئې صُلح ورسره وکړه.ددې وروسته مکان د یَو بَل چا مُستَحَق ثابت سونو عُمَرمُدّعْي عَلَیه به دزیدمُدّعِي څخه خپله غُوَا بېرته اَخلِي او زَید مُدّعِي به اُوس دمُستَحِق سره مُقَدّمَه او کښ کوي دهغه اِستِحقَاق به ختم کوي یابه دئ وحقدار ته حَق ورکوي .

وجه : (۱) عُمَرمُدّعْي عَلَیه که څَه هم پټه خوله سو ئُوُ یائې اِنکَار کړئ وُ لېکن ده و زَید ته دمکان په بدله کي غُوَا په دې وجه ورکړې وه چي دمکان یو حقداره را مینځ ته نَه سي او مکان بېله خُصُومَت دده سره موجود پاته سي.دلته خو حَقدَارَه هم را پیدا سو او خُصومَت ئې هم وکئ نو د غُوَا ورکولو هیڅ فائده وَنَه کړه.نوځکه د زَیدڅخه به بېرته غُوَا اَخلِي.اُوس به زَید دحقداره سره په خپله معلوموي.ځکه چي حقداره اُوس دمُدّعْي عَلَیهِ عُمَر په درجه کي سو.نوځکه ددغه سره به خُصُومَت کوي یابه خپل حق وَاپَس ځیني اخلي یا به قاضي فیصله کوي نو دده حق به حقدار ته ځي (۲) دلته به هم معامله دبیع په شان سي او دعُمَر مَبِیع (مکان) سَالِم نَه سوپاته نوځکه دخپلي غُوَا قیمت به دزَیدڅخه وَاپَس اخلي. او نِیمَئ مکان دبَل چا

[۱۴۶۸](۹) وَ اِن اِدّعْي حَقّاً فِي دَارٍ وَلَم یُبَیِّنهُ فَصُولِحَ مِن ذَالِکَ عَلْي شَيئٍ ثُمّ اِستُحِقّ بَعضَ الدّارِ لَم یُرَدّ شَیئًا مِنَ العِوَضِ لاَنّ دَعوَاهُ یَجُوزُ اَن یَکُونَ فِیمَا بَقِيَ .

مُستَحَق ثابت سوئ وُ نو نِیمَئ غُوَا به عُمَر ته وَاپَس ورکوي.او زَید به دنِیمَئ مکان مُقَدّمَه د مُستَحِق سره کوي او دهغه څخه به اَخلِي .

اُصُول : مخته تیر سو .

لُغَت : اَلمُتَنَازَعُ فِیهِ : ددې څخه مراد هغه مکان دئ په کوم کي چي زَید عُمَر او دهغه وروسته مُستَحِق جګړه کوله او چي دهغه په وجه صُلح سوې وه. رَجَعَ المُدّعِي بِالخُصُومَةِ : څخه مراد مُدّعِي دئ چي دمُستَحِق سره به مُقَدّمَه کوي خپلِه حِصّه به ځیني وصولوي. رَدّ العِوَضَ : مکان.د مَصَالَح عَنهُ په عِوَض کي عُمَرچي کومه غُوَا ورکړ ې وه هغه غُوَا به زَید دعُمَر لطرف بېرته اَخلِي .

[۱۴۶۸](۹) که مُدّعِي په مکان کي دحَق دعوْي وکړه او دهغه تفصيل ئې بيان نَه کړئ.او دهغه په بدله کې پر يَو شِي باندي صُلح سره وکړه.بيا دبعض مکان يَومُستَحِق رَاوَوَاتَئ نو دعِوَض څخه به هيڅ شيئ نَه وَاپَس کوي.ځکه چي دده دعوْي کېدلائي سي چي په مَابَقِيَ کي وي .

تشريح : مثلاً زَيد وعُمَر ته وويل چي ستا په قبضه کي چي کوم مکان دئ په هغه کي زُومَا حق سته.لېکن څومره حَق دئ ؟ دائې بيان نَه کئ.بيا عُمَر وزَيدته غُوَا ورکړه صُلح ورسره وکړه.وروسته په دې مکان کي د يَوچَا څَه حَق ثابت سو نو عُمَر دزَيد څخه غُوَا بېرته نَه سي اخستلائي .

وجه : ځکه چي دعُمَر سره چي دمکان څَه حِصّه باقي پاته ده زَيددا ويلائي سي چي زُومَا دغونه حَق وُ چي ستا سره پاته دئ او پردغه باندې صُلح کړې ده غُوَا ئې ځينې اخستې ده. لېکن که چيري دټوله مکان يومُستَحِق رَاوَوَاتَئ نوعُمَراُوس دزيدڅخه

[۱۴۶۹](۱۰) وَالصّلحُ جَائِزٌ مِن دَعوْي الأَموَالِ وَالمَنَافِعِ وَجِنَايَةِ العَمَدِ وَالخَطَأِ وَلاَيَجُوزُ مِن دَعوْي حَدٍّ .

غُوَا وَاپَس اخستلائي سي.ځکه چي کله ټوله مکان د بَل چَا حَق ثابت سو نومعلوم سوچي دزَيد لَږ څَه حِصّه هم په مکان کي نَه وَه او ده چي دعُمَرڅخه کومه غُوَا اخستې وه هغه غُوَا ئې ببِله څَه حَق اخستې وه.نوځکه عُمَر دزَيدڅخه خپله ورکړې غُوَا بېرته اخستلائي سي .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چي که دمُدّعِي اومُدّعْي عَلَيهِ په خَبُرُوکي جوړ راتلائي سو نو دجوړ کوشش به کيږي که نَه نو وروسته به فيصله کيږي .

[۱۴۶۹](۱۰) صُلح جائز ده دمَال د دعوې څخه او دمَنَافِع د دعوې څخه.دجَنَايَتِ عَمَد او دجِنَايَتِ خَطَآء د دعوې څخه.او د حَد د دعوې څخه جواز نَه لري .

تشريح : يوچا دمَال دعوْي وکړه.دهغه په بدله کې څَه ورکړل صُلح ورسره وکړه نو دا جائزدئ.او دا دبَيعِ په درجه کي دئ.يا يوچَا دمَنَافِع دعوْي وکړه او دهغه په بدله کې څَه ورکړل صُلح ورسره وکړه دا جائزدئ.او دا صُلح د اِجَارې په درجه کي ده.د دې دُوَاړُو دليل مخته تېرسوئ دئ.د جِنَايَتِ عَمَد مطلب دادئ چي يَوچَا په قصدسره دبَل چَا اَندَام پرې کړئ چي دهغه لکبله پر ده باندي دعُضوِ او اَندَام پرېکولو قِصَاص لازم سوئ وُ.ددې قِصَاص په بدله کي دُوَاړُو صُلح سره وکړه نو دا جائز ده.او د جِنَايَتِ خَطَآء صورت دادئ چي په غَلَطِي کي يَوچَا دبَل چَا يَو اَندَام پرېکړئ چي دهغه په نتيجه کي پر ده باندي د دِيَت مَال واجب وُ.لېکن وروسته قَاطِع او مَقطُوع پر لَږ څَه مال صُلح سره وکړه نو دا جائز ده .

وجه : (۱) دقَاطِع مال دئ چي مال خرچ کړي خپل اندام په ساتلائي سي.او مَقطُوع دا حق لري چي قِصَاص معاف کړي پر مَال راضي سي (۲) په آيت کي ددې ثبوت سته يَا اَيّهَا

الّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيكُمُ القِصَاصُ فِي القَتْلٰي اَلحُرّ بِـالحُرِّ وَالعَبـدُ بِالعبـدِ وَالاُنْثٰـي بِـالاُنْثٰي فَمَـن عُفِيَ لَهُ مِن اَخِيهِ شَيئٌ فَالتِّبَاعٌ بِالمَعرُوفِ وَ اَدَ آ ءٌ اِلَيهِ بِاِحسَانٍ ذَالِکَ تَخفِيفٌ مِن رَبِّكُم وَرَحمَةٌ (الف) (آيت ١٧٨سورة البقرة٢) په دې آيت كي دئ چـي قِصَـاص او جِنَايَـتِ عَمَـدمعاف كولائي سي او دهغه په بدله كي څَه اخستلائي سي. نو قِيَاس پر دغه باندي دجِنَايَتِ خَطآء په بدله كـي هم څَـه اخستلائي سـي او صُلح كـولائي سـي (٣) دجِنَايَـت او د دِيَـت پرمعـافولو اودصُلح پركولوبانـدي دا حـديث دلالـت كـوي اَنّ اَنَسًـا حَـدّثَهُم اَنّ الرّبِيـعَ وَهِـيَ اِبنَـةَ النّضـرِ كَسّرَت ثَنِيّةَ جَارِيَةً فَطَلَبُوا اَلاَرشَ وَطَلَبُوا اَلعَفوَ فَاَبَوا فَاَتَوُا النّبِيّﷺفَاَمَرَهُم بِالقِصَاصِ فَقَالَ اَنَسُ بِنِ النّضَرِ اَتَكسِرُ ثَنِيّةَ الرّبِيعِ يَا رَسُولَ اللهِ ؟ لاَ وَالّذِي بَعَثَـکَ بِـالحَقِّ لاَتَكسِـرُ ثَنِيّتَهَـا فَقَـالَ يَـا اَنَسُ كِتَابُ اللهِ اَلقِصَاصُ فَرَضِيَ القَومُ وَعَفَوا فَقَالَ النّبِيّﷺ اِنّ مِن عِبَادِاللهِ مَن لَو اَقسَمَ عَلْي اللهِ لأَ بَرّأ هُ (ب) (بخاري شريف.باب الصلح فـي الديـة ص٣٧٢نمبـر٢٧٠٣) پـه دې حـديث كې قِصَاص معاف كړئ دئ پر اَرش باندې صُلح كړې ده.ددې څخه دصُلحِ جواز معلوم سو .

او دحَد په ثابتولو كي دي تلوار نَه كوي بلكه دلږ شُبهې په وجه بايد ساقط كړي. لـېكن چـي كله حَد ثابت سي نو نَه خوهغه معافولائي سي او نَه دهغه په بدله كي پر څَـه رَقَـم او پيسـو باندي صُلح كولائي سي .

وجه:(١)حَد په اصل كي دالله حَق دئ.او دالله حَق الله معافولائي سي بَل څوک ئې نَـه سـي معافولائي.نوځكه نَه خو دا معافولائي سي اونَه پردې باندي صُلح كـولائي سـي(٢) دصُـلح پرنَه كولو اوپرنَه معافولوباندي هغه حديثونه دلالت كوي كوم چـي حضـورﷺ لـره دسـفارش لپاره حضرت اُسَامَه تشريف راوړئ نوحضور خطبه ولوستل او وفرمائل كه

حاشيه : (الف) ائ مؤمنانوپرتاسوباندي قِصَاص فرض كړل سوئ دئ دمَقتُول پـه بـاره كـي.آزاد د آزاد پـه بدلـه كي.غُلاَم دغُلاَم په بدله كي.ښځه دښځې په بدله كي.كه چيري د وُرُور لجانب څَه معاف كړل سي نو په پاته كي به د قاعدې مطابق تقاضاكيږي.او وده ته به سره د اِحسان اداَء كيږي.دا ستاسو د رَب لجانـب تَخفِيـف دئ او رحمـت دئ (ب) رَبِيع بِنتِ نَضَـرفرمـائي چـي دې ديـوې مينځـي غَـاښ ورمـات كړئ.نوخلكو د اَرش غُوښتَنَه وكړه او معافي ئې وغوښته.نو اِنكار ئې وكئ.نو دُوئي حضورﷺ ته راغلو.نو وڈوئي ته دقِصَاص حُكم وركړئ.نواَنَـس بِـن نَضَروفرمائل ائ دخدائ پيغمبره! آيا د رَبِيع غَاښ به ورماتوي؟ قَسَم په هغه ذَات سره چي تَه ئې پـه حَـق سـره رَا اَستَوَلَئ ئې.تَه به دده غَاښ ور مَـات نَـه كړې.حضـورﷺ وفرمائـل ائ اَنَـس د الله فـرض خـو قِصَـاص دئ.بيـا قـوم راضي سو او معاف ئې كئ.حضورﷺ وفرمائل د الله په بندګانو كي داسي خلګ هم سته چي قَسَم وخوري نـو الله هغه بَرِيَان كوي .

[١٤٧٠](١١) وَاِذَا اِدّعْـي رَجُـلٌ عَلْـي اِمـرَاَةٍ نِكَاحًـا وَهِـيَ تَجحَـدُ فَصَالَحَتهُ عَلْي مَالٍ بَذَلَتهُ حَتْـي يَتـرُکَ الـدّعوْي جَـازَ وَكَـانَ فِـي مَعنْـي الخُلعِ .

زُومَا لُورفاطمې غلا كړې وائ نو مَا به دهغـې لاَس هم پرېكـړئ واِئ.دحـديث ټكـړه دا ده عَن عَائِشَةَ اَنّ قُرَيشًا اَهَمّتهُمُ اَلمَرأ ةَ المَخزُومِيّةَ اَلّتِي سَرَقَت ... فَقَالَ يَا اَيّهَا النّـاسُ اِنّمَـا ضَـلّ مَن كَانَ قَبلَكُم اِنّهُم كَانُوا اِذَا سَرَقَ الشّرِيفُ تَرَكُوهُ وَاِذَا سَرَقَ الضّعِيفُ فِيهِم اَقَامُوا عَلَيـهِ الحَـدّ

وَاَيمُ اللهِ لَو اَنّ فَاطِمَةَ بِنتَ مُحَمّدٍ سَرَقَت لَقَطَعَ مُحَمّدٌ يَدَهَا (الف) (بخاري شريف.باب كراهية الشفاعة في الحداذا رفع الْي السلطان ص۱۰۰۳نمبر۶۷۸۸) په دې حديث كي پرحَد باندې دسفارش كولو څخه حضورﷺ ناراضګي ښكاره كړې ده. نو ځكه دثابتېدو وروسته پر حَدباندې صُلح نَه سي كېدلائي .

اُصُول : دا مسئلې پردې اُصُول مُتَفَرّع دي چي پربَشَرِي حقوقُ باندي صُلح كېدلائي سي.پر حُقُوقُ الله باندي صُلح نَه سي كېدلائي .

[۱۴۷۰](۱۱) يوه سړي پريوه ښځه باندې دنكاح دعوه وكړه او هغه اِنكاركوي.بيا ښځي د نَرسره پر مَال باندې صُلح وكړه چي هغه دې مَصرَف كړئ ددې لپاره چي نَردعوْي پريږدي نو جائزدئ او دا صُلح دخُلعِ په حُكم كي ده .

تشريح : يوه سړي پريوه ښځه باندي دعوْي وكړه چي ددې سره زُومَا نِكاح سوې وه.لېكن ښځه دده سره دنِكاح كولوڅخه اِنكار كوي.وروسته ښځي دځان د خلاسولو لپاره څَه مال وركړئ صُلح ورسره وكړه چي نَر دنِكاح دعوه پريږدي نودښځي دغه مَال وركول جائزدئ .

حاشيه : (الف) قُرَيش ته دمَخزُومِيّې ښځي په باب فكرلاحِق سوكوم چي غلا ئې كړې وه ... نوحضورﷺ وفرمائل ائ خلګو! د تاسوڅخه مخكي چي كوم خلګ ګُمرَاهَان سو هغو به دارنګه كول چي كله به شريف خلګوغلاوكړه هغه به پرېښوئ اوچي كمزوري به غلا وكړه نوپرهغه به حَدقائموئ.قَسَم په خداۍ كه فاطمې بنت محمدغلا كړې وائ نومحمدبه دهغې لاَس ضرور پرې كړئ وائ .

[۱۴۷۱](۱۲) وَاِذَا اِدّعَت اِمرَأ ةٌ نِكَاحًا عَلْي رَجُلٍ فَصَالَحَهَا عَلْي مَالٍ بَذَلَهُ لَهَا لَم يَجزِ .

وجه : (۱) ښځه دمقدمې څخه دځان دخلاسولو لپاره مَال وركوي.مَال خو ددې دئ نودځان دخلاسولولپاره دا خرچولائي سي.دښځي لخوا مال وركول به دغه سي ګڼل كيږي چي دا بَس صرف ځان خلاسوي (۲) دنَرلخوا به داسي ګڼل كيږي لكه ده چي نكاح كړې وي اوښځه ګواكه خُلع ورسره كوي او دخُلعِ په حَيث دغه مال ماته راكوي.نوځكه دده لپاره دغه مال اخستل جائزدئ .

[۱۴۷۱](۱۲) كه ښځي پرنَر باندي دنكاح دعوه وكړه.نَر دښځي سره پرمَال باندي صُلح وكړه چي هغه مَال نر دښځي لپاره خرڅ كړئ دئ نودښځي لپاره جواز نَه لري .

تشريح : په دې مسئله كي دمسئلې نمبر ۱۱ عَكس دئ.هغه دا چي ښځي دعوه وكړه چي ددې نَرسره زُومَا نكاح سوې ده.او نَرددې څخه انكار وكړئ.وروسته وښځه ته مَال وركړئ صُلح ورسره وكړه چي ځان ځيني خلاس كړي نو دښځي لپاره مَال اخستل جواز نَه لري .

وجه : نَرخو په دا ګُمان دئ چي دځان خلاسولو لپاره دا مَال وركوم.پاته سوه ښځه په كوم حَيثِيّت اخلي؟.كه چيري په دا خيال ځيني اَخلِي چي نكاح سوې وه دجدائي او

فِرَاق په وجه اَخلَم نودجدائي لپاره دنَر لخوا هيڅ ډَوَل مَال نَه ورکول کيږي.او که چيري ددې دا خيال وي چي نکاح خو نَه وه سوې هسی دا مَال ځيني اَخلَم نو بيا بغيره دنکاح مَال اخستل جواز نَه لري.نوځکه دښځي لپاره دا مَال اخستل جواز نَه لري .

پام لرنه:په يوه بله نُسخه کي دئ چي دښځي لپاره مَال اخستل جائزدئ.دهغه تأويل به داوي چي دښځي داخيال دئ چي نکاح سوې ده اونَرچي دصُلح په حَيث کوم مَال راکوي هغه په مَهرکي زياتوب دئ.ګواکه ژُومَاهغه خپل مَهرئې زيات کړئ دئ هغه راکوي .

[۱۴۷۲](۱۳) وَاِن اِدّعْي رَجُلٌ عَلْي رَجُلٍ اَنّهُ عَبدُهُ فَصَالَحَهُ عَلْي مَالٍ اَعطَاهُ جَازَ وَكَانَ فِي حَقِّ المُدّعِي فِي مَعنْي العِتقِ عَلْي مَالٍ

[۱۴۷۳](۱۴) وَ كُلّ شَيئٍ وَقعَ عَلَيهِ الصّلحُ وَهُوَ مُستَحَقّ بِحَقِّ المُدَايَنَةِ لَم يُحمَل عَلْي المُعَاوَضَةِ وَ اِنّمَا يُحمَلُ عَلْي اَنّهُ اِستَوفْي

[۱۴۷۲](۱۳) که يوه سړي پربَل سړي باندي دعوه وکړه چي دا ژُومَا غُلاَم دئ.بيا هغه پرمَال باندي صُلح ورسره وکړه چي وده ته ورکړئ نودا جائزدئ.او دا دمُدّعِي په حَق کي پر مَال باندي د آزادولو په حُکم کي دئ .

تشريح : يوه سړي پريوه بَل سړي باندي دعوه وکړه چي دا سړئ ژُومَا مَرَيَئ دئ. هغه انکار وکئ.وروسته څَه ورکړل صُلح ورسره وکړه نودمُدّعِي لپاره دا رَقَم اخستل جائز دئ .

وجه : غُلام خوپه دا خيال دئ چي زه دځان دخلاسولو لپاره ورکوم.او دمُدّعِي په حق کي به داسي ګڼوچي دا وَاقِعَة دده غُلاَم وُ او مُدّعِي دصُلحِ مال واخستئ دئ ئې ګواکه آزاد کئ.او چي مَال واخلي آزاد ئې کي دا جائزدئ.نوځکه دمُدّعِي دغه مَال اخستل جائز دئ .

اُصُول : مخکي داخبره تېره سوې ده چي دمُدّعِي او مُدّعْي عَلَيه ترمينځ په کوم کوم ځائ کي جوړ راتلل مُمكِن وي نوخبره به منل کيږي او په کوم ځائ کي چي جوړ نَه سي راتلائي هلته به جلا فيصله کيږي .

[۱۴۷۳](۱۴) هرهغه شئ چي صُلح پرسوې وي او په هغه کي دئ د دَين په عَقدسره مُستَحِق وي نوهغه به پرمُعَاوَضَه نَه حمل کيږي بلکه پر دې به حمل کيږي چي بعض حق ئې واخستئ او هغه پاته حق ئې ساقط کړئ.لکه ديوچا چي پر بل چاباندي زَرعُمدَه دِرهَم وي.نودهغه سره پر پنځه سوه ګُوټَه دِرهَم باندي صُلح وکړه نو جائزدئ.او دارنګه سولکه دئ چي دبعض حَق څخه بَرِي کړئ وي .

بَعضَ حَقّهُ وَ اَسقَطَ بَاقِيهِ كَمَن لَهُ عَلْي رَجُلٍ اَلفُ دِرهَمٍ جِيَادٍ فَصَالَحَهُ عَلْي خَمسِ مِائَةٍ زُيُوفٍ جَازَ وَصَارَ كَاَنّهُ اَبرَاَ هُ عَن بَعضِ حَقِّهِ .

تشريح : دعَقدِمُدَايَنَت مطلب دادئ چي دِرهَم دِينَار ئې په قرض ورکړي وي يا يَو بَل شئ ئې د دِرهَم دِينَار په بدله کي خرڅ کړئ وي او پرمُشتَرِي باندي قرض وي. اُوس د دِرهَم يا دِينَار چي قرض دي دهغه په بدله کي صُلح کول غُوَارِي نو کـه چيري دعَدَدپـه اِعتِبَـار يـا دصِفَت په اِعتِبَار يا دمُدّت په اِعتِبَار سره پر لَږ او ښکـاره بانـدي صُلح کـوي نـو دا بـه د دِرهَم په بدله کي دِرهَم نَه شمارو او مُعَاوَضَه به نَه ورته وايو. ځکه چي که مُعَاوَضَـه ورته ووايو نو دهغه خو برابر والئ ضـروري دئکـه نَـه خـو سُـود بـه لازم سـي چـي حرام دئ.نوځکه دارنګه تأويل به کوو چي مُدّعِي ځَه حَق واخستئ او ځَـه ئـې سـاقط کړئ.مثلاً ديوه سړي پربَل سړي زَر عُمدَه دِرهَم قرض وُ.ده پر پنځـه سـوه ښکـاره او کوټه دِرهَم باندي صُلح وکړه نو دا به داسي ګڼو لکه دعَدد په اِعتِبَار چي ده پنځه سـوه دِرهَم پرې ايښي وي او دصِفَت په اِعتِبَار ئې عُمده پرېښول رَدِّي او ښکاره واخستل.دا رنګه به نَه وايو چي د زَر په بدله کې پنځـه سـوه دِرهَم واخسـتل.که داسـي ووايـو نـو سُود به لازم سي چي حرام دئ .

وجه:دعدد په اِعتِبَاردقرض دساقطولو ثبوت دا حديث دئ عَن كَعبِ بنِ مَالِكٍ اَنّهُ كَانَ لَهُ عَلْي عَبداِللهِ بنِ اَبِي حَدردِ الاَسلَمِيّ مَالٌ فَلَقِيَهُ فَلَزِمَهُ حَتْي اِرتَفَعَت اَصوَاتُهُمَا فَمَرّبِهِمَـا اَلنّبِـيّﷺ فَقَـالَ يَاكَعبُ فَاَشَارَ بِيَدِهِ كَاَنّهُ يَقُولُ اَلنّصفُ فَاَخَذَ نِصفَ مَالَهُ عَلَيـهِ وَتَـرَکَ نِصـفًا (الـف) (بخـاري شريف.باب هل يشيرالامام بالصلح ص۲۷۳نمبر۲۷۰۶)په دې حديث کي دحضورﷺپه وينا سره حضرت کَعب پرنِيمِي دَين باندي صُلح وکـړه.او پـه حـديث کي د,,تَرَکَ نِصفًا,,څخه معلوم سوچي نِيمَئ ئې پرې ايښئ دئ .

[۱۴۷۴](۱۵) وَلَو صَالَحَهُ عَلْي اَلفٍ مُؤجّلَةٍ جَازَ وَ كَـاَ نّـهُ اَجّـلَ نَفسَ الحَقِّ .

[۱۴۷۴](۱۵) او که صُلح وکړه پر زَر باندي په ځنډسره نـو دا هـم جائزدئ.ګواکـه ده نَفسِ حَق مؤخّر کړئ .

تشـريح : ديوچاپربَـل چـا بانـدي زَر فَـورِي وې.چـي سَـم دَسـتِي بـه ورکـولې.لېکن پـه ځنډسره ورکولوباندې صُلح وکړه نوکـه چيـري دا مُعَاوَضَـه وګڼـو بيـاخو پردغـه زَرو باندپه مجلس کي قبضه کول ضروري ده که نَـه خـو سُـود بـه لازم سـي.ځکه چـي زَر دزَرو په بدله کي سي نو په مجلس کي قبضه کول ضـروري ده.لِهْذَا داسـي تأويـل بـه کوو چـي دمُـدّعِي حَـق خـو فَـورِي او سَـم دَسـتِي وُ لـېکن ده پـه خپلـه پرېښـوئ او پـه ځنډسره ورکولو باندي راضي سو .

حاشيه : (الف) كعب بن مَالِک فرمائي چي زُومَا پرعبدالله بن حَدرَد باندی ځَه مَال وُ،نوحضرت کعب دهغه سره ملاقات وکئ او په هغه پسي سو.تر دې حَده چي د دُوَاړُو آوازونه لُوَړ سو.نوهلته حضورﷺ راتيرسو او وويـل ای ګَعب! او په لاَس ئې اِشَارَه ورته وکړه.ګواکه فرمائل چي نِيمَئ قرض ځيني واخله.نوپر ده چې کـوم مَـال وُ دهغـه نِمَئ ئې ځيني واخستئ او نِيمَئ ئې پرېښوئ .

وجه : په ځنډسره ورکولو ثبوت په دې حديث کي دئ عَن جَابِرِبنِ عَبدِاللهِ اَنّـهُ اَخبَـرَهُ اَنّ اَبَاهُ تُوُفِّيَ وَتَرَکَ عَلَيهِ ثَلْثِينَ وَسَقًا لِرَجُلٍ مِنَ اليَهُودِ فَاستَنظَرَهُ جَابِرٌ فَاَبي اَن يَنظُرَهُ فَکَلّمَ جَـابِرٌ رَسُولَ اللهِ لِيَشفَعَ لَهُ اِلَيهِ فَجَاءَ رَسُولُ اللهِ وَكَلّمَ اليَهُودِيّ لِيَأخُذَ ثَمَرَنَخلِهِ بِالّتِي لَهُ فَاَبْي (الف) (بخاري شريف.باب اذا قاض اوجازفه في الدَينِ تمرًا بتمرٍ او غيره ص۳۲۲نمبر۲۳۹۶) پـه دې حديث کي حضرت جـابر د دَيـن دځنـډولو درخواسـت کـړئ دئ لـېکن يَهُـودِي نَـه ومنل ددې څخه معلوم سوچي دقرض پرمُؤخّرکولو باندي صُلح کېدلائي سی .

حاشيه : (الف) حضرت جابر فرمائي چي زُومَا پلار وفـات سـو او پـرده بانـدي ديـوه يهودي دېـرش(۳۰) وَسَـق خُورمَا قرض وُ چي پرېښوئ.نوحضرت جَابِرمُهلَت وغوښتئ.يهودي انکار وکئ.بيا حضرت جابردحضورﷺ سـره خبره وکړه چي سفارش وکي.نوحضورﷺ تشريف راؤړئ او ديهودي سره خبره وکړه چي دخپل قرض په بدله کي ديوې خُورمَا د درختي مېوه واخله.لېکن يهودي انکار وکئ .

[۱۴۷۵](۱۶) وَلَـو صَـالَحَهُ عَلْـي دَنَـانِيرَ اِلْـي شَـهرٍ لَـم يَجـزِ

[۱۴۷۶](۱۷) وَلَوکَانَ لَهُ اَلفٌ مُؤجّلَةٌ فَصَالَحَهُ عَلْي خَمسِ مِائَـةٍ حَالّـةٍ لَم يَجزِ .

[۱۴۷۵](۱۶) او که صُلح وکړه پردَنَانِيرُ باندي تريوې مياشتي پوري جوازنَه لري .

تشريح : ديوه سړي پربَل سړي باندي زَر دَرَاهِم فَورِي قرض وُ.هغه ديوې مياشتي پـه ځنډولو سره پرځَه دَنَانِيرُ باندي صُلح وکړه نو دا جواز نَه لري .

وجه : واجب خو دِرهَم وُ دَينَار خو نَه وُ.نوچي د دِرهَم په بدله کې پردِينَار صُلح وکړه دا اِسقَاط نَه سو.بَدلَه سوه.نواُوس د دِرهَم په بدله کـي دِينَـار سـو او دا دُوَارَه ثمَنَين دي نوځکه په مجلس کي قبضه کول ضروري ده او ده ديوې مياشتي پـه تأخِيرسـره صُـلح پرکړې ده نو دا خو سُود سو.لِهٰذَا په دې صورت کي دمياشـتي پـه تـأخيره صُـلح کـول جواز نَه لري .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چي په کوموصورتو کي مُعَاوَضَه سُود واقـع سي هغه صُلح جواز نَه لري .

پام لرنه : که ديوې مياشتي تأخيرنَه وائي کړئ او فَورًا ئې د دِرهَم په بدله کي پـر څَـه دِينَارُ باندي صُلح کړې وائ او په مجلس کې پردِينَارُ باندي قبضه کړې وائ نو دې به جواز پيدا کړئ وائ.ځکه چي د دِرهَم په بدله کي دِينَار کَم وبِېش اخسـتلائي سـي.البته په مجلس کي قبضه کول ضروري ده چي سُود نَه سي .

[۱۴۷۶](۱۷) او که د يَوچَا زَر په تأخيرسره وي.دهغه څخه پرپِنځَه سوه فَورِي باندي صُلح وکړه نو جواز نَه لري .

تشريح : ديَوچَا پريَوچَا زَر دِرهَم وُ.لېکن په هغه کي دا شرط وُ چي په تأخير سـره بـه ادآء کوي.بيا ده پرپِنځَه سوه دِرهَم بانـدي صُـلح ورسـره وکـړه.لېکن خـو دفَـورِي ادآء کولو شرط ئې ولګاوئ نو دا جواز نَه لري .

[۱۴۷۷](۱۸) وَلَوكَانَ لَهُ اَلفُ دِرهَمٍ سُودٍ فَصَا لَحَهُ عَلْـي خَمـسِ مِائَـةِ بِيضٍ لَم يَجزِ .

وجه : (۱) دتأخيرقيمت گَم دئ او د ژَر اداٌء كولـو قيمـت زيـات دئ.نـوچي دتأخيرپـه بدله كې د ژَر اداٌء كولو شرط ولګاوئ نوكه د زَر په بدله كـي پِنځَـه سـوه اخسـتي وي خو دتَأخِيرپه بدله کې ژَر اخستي دي نو دا اِسقَاط نَه سو او معافول نَه سو بلكه بدله او معاوضه سوه.اوچي كله د دِرهَم په بدله كي دِرهَـم وي نوبايـدبرابربرابر وى. زيـاتوب او كمبوت سُود دئ لِهْذَاجوازنَه لـري(۲)پـه اَثَركـي ددې مُمَانَعَـت راغلـئ دئ عَن اَبِـي صَالِحِ عُبَيدٍ مَولْي السّفَاحِ اَنّـهُ اَخبَرَهُ اَنّـهُ بَـاعَ بَـزًّا مِـن اَصـحَابِ دَارٍ بَجلَـةَ اِلْـي اَجَـلٍ ثُـمّ اَرَادَ الخُرُوجَ فَسَأَلَهُم اَن يَنقِدُوهُ وَيَضَعُ عَنهُم فَسَأَلَ زَيدُبِنُ ثَابِتٍ عَن ذَالِکَ فَقَالَ لاَ آمُرُکَ اَن تَـأ کُلَ ذَالِکَ وَلاَتُوكِلُهُ (الف) (مدونة مالک ج۳ ص۱۹۱/اعلآءالسنن نمبر۵۲۰۷)

اُصُول : مختته تيرسوچي دسُود صورت وي نوصُلح جواز نَه لري .

لُغَت : مُؤجّلَةٌ : په تأخيرسره.حَالّةٌ : په تلوار سره.في الحال.سَم دستي .

[۱۴۷۷](۱۸) كه ديوچَا زَر كوټه دِرهَم وُ.پر پِنځَه سوه عُمدَه دِرهَم باندې صُلح وكـړه نو جائز ده .

وجه : د کُوټَه دِرهَم قيمت گَم دئ او دعُمدَه دِرهَم قيمت زيـات دئ چـي كلـه دكوټـه پـه بدله كي عُمده واخستل نو سَاقِط كړي نَه دي بلكه بدل ئې كـړل او معاوضـه ئـې كـړل او چي كله دِرهَم د دِرهَم په بدله كي وي نو بايد برابر برابر وي كه نَه نوسُود بـه لازم سي.دلته د زَر په بدله كي پِنځَه سوه دِرهَم دي نوځكه دسُود دلازمېدو په وجه جواز نَه لري .

حاشيه : (الف) حضرت ابوصالح عُبَيد د دَارِبَجلَه پرخلګوباندي کپړه خرڅه کړه تريـوه مُدّت پوري.بيـائې دهغـه ځائ څخه د وَتلُو اراده وكړه.نوهغه خلګو ته وويل چي نَقد رَقَم وركئ زَه به دهغه څخه ځَه رَقَم كَم كړم.نو ددې په باب ئې دحضرت زَيد څخه پوښتنه وكړه هغه وفرمائل زَه ددې حُكم نَه دركوم چي تاسو دا په خپلـه وخورئ يـائې په بَل وخورئ .

[۱۴۷۸](۱۹) وَمَن وَكّلَ رَجُلاً بِالصّلحِ عَنهُ فَصَا لَحَهُ لَم يَلـزِمِ الوَكِيـلَ مَاصَالَحَهُ عَلَيهِ اِلاّ اَن يَضمَنَهُ وَالمَالُ لاَزِمٌ لِلمُوَكِّلِ .

اُصُول : مختته تيرسوچي دسُود په صورت كي صُلح جواز نَه لري .

لُغَت : سُودٌ : تُور.كُوټَه دِرهَم. بِيضٌ : سُپِين.عُمدَه دِرهَم.چلېدونكي دِرهَم .

[۱۴۷۸](۱۹) يوچـا يوڅـوک دخپـل جانـب څخـه دصُـلح كولـو وكيـل جوړكړئ.وكيـل صُلح وكړه نو پر وكيل هغه شئ نَه دئ لازم كوم چي صُلح پرسوې ده.مګر كه چيري وكيل دهغه ضَامِن جوړسي او مَال پر مُؤكِّل لازم دئ .

تشريح : دصُلحِ دوه صورتونه دي.يوه هغه صُلح چي په هغه كي دصُلح په ذريعه خپل ځَـه حقوق ساقطول وي.لكه دا چي زَر روپۍ قرض وُ دهغه څخه ځَـه ساقط كړل پِنځَـه سوه روپۍ ئې واخستلې.يائې قَتلِ عَمَدكړئ وُ چي دهغه لكبله قِصَاص لازم وُ اوهغه ساقط كړي ځَه رَقَم اَخلِي.نو د اِسقَاط پـه صـورتوكي دصُلح كولـو وكيـل سَفِيرِمَحض وي دئ صـرف دمُؤكِّل خبره مختـه رسوي.په دغه وجه دصُلح دمَال ذِمّه دَارِي پر ده باندي نَه راځي.بلكـه د مَـال ذِمّـه دَارِي پرمُؤكِّـل بانـدي ده.مګر ! كـه چيـري وكيـل دصُـلح د مَـال ضَـامِن جوړسي نو دضَمَانَت په وجه پرده باندي ذِمّـه دَارِي راځـي هسـي پـرده ذِمّـه دَارِي نَـه راځي.لكه ځَه رنګه چي په نكاح كي وكيل سَفِيرِمَحض وي د مَهر او نَـان ونَفَقـې ذِمّـه دَارِي پر خَاوَنديعني مېړه باندي وي .

او د صُلح دُوَم قِسم دادئ چي په هغه كي اِسقَاط نَه وي بلكه دبَدَل او مُعَاوَضې صـورت وي لكه د اِقرَار وروسته د مَال په بدله كي پر مَال باندي صُلح وكړي نو په دې صُلح كي وكيل ذِمّه دَارَه وي .

وجه : دا د بَيعِ صورت جوړيږي او په بيع كي په خپله وكيل ذِمّـه دَارَه وي.نوځكـه پـه دې صُلح كي كه چيري وكيل ضَامِن نَه وي خوبيا هم د صُلح كولوپه وجه وكيل ضَامِن ګـرزي.

په صُلح كي دوكيل جوړولوثبوت هغه حديث دئ چي حضرت اَمِيرمُعَاوِيَـه عبدالرحمْن بـن سَمُرَه اوعبدالله بن عامربن كُرَيزدصُلح وكيلان جوړكړل حضرتحَسَن بن عَلِي ته

[١۴٧٩](٢٠) فَاِن صَالَحَ عَنهُ عَلْي شَيئٍ بِغَيرِ اَمـرِهِ فَهُـوَ عَلْـي اَربَعَـةِ اَوجُهٍ اِن صَالَحَ بِمَالٍ وَضَمّنَهُ تَمّ الصّلحُ وَكَذَالِكَ لَوقَالَ صَالَحتُكَ

تـه رَاوَاستَوَل.او هغوهر قِسم ذِمّه دَارِي واخستل چي په نتيجه كې دحضرت حَسَن او حضرت مُعَاوِيَه ترمينځ صُلح وسوه چي دهغې په باب حضورﷺ پرممبرباندي خوشخبري وركړې ده چي زُومَا دغه زُوئ به د دُوُ غَتُو جَمَاعَتُو ترمينځ صُلح كوي.دحديث ټكړه داده قَـالَ سَـمِعتُ الحَسَنَ يَقُولُ اِستَقبَلَ وَاللهِ الحَسَنُ بِنِ عَلِيّ مُعَاوِيَةَ بِكَتَائِبَ اَمثَالِ الجِبَـالِ ... فَبَعَـثَ اِلَيـهِ رَجُلَـينِ مِن قُرَيشٍ مِن بَنِي عَبدِشَمسٍ عَبدِالرّحمْنِ بِنِ سَمُرَةَ وَعَبدِاللهِ بِنِ عَامِرَ بِنِ كُرَيزٍ فَقَالَ (مُعَاوِيَـةُ) اِذهَبَا اِلْي هٰذَا الرّجُلِ فَاَعرَضَاعَلَيهِ وَقُولاَ لَهُ وَاَطلَبَااِلَيهِ فَاَتَيَاهُ فَدَخَلاَ عَلَيـهِ فَتَكَلّمَـا (الـف) (بخاري شـريف.باب قول النبـيّ لِلحَسَـنِ بـن عَلِـيٍّ اَنّ ابنـي هٰذَا سَيِّدٌ ولعلّ اللهُ ان يصلح بـه فئتين عظيمتين ص٣٧٢نمبر٢٧٠۴) په دې حديث كي حضرت معاويـه دُوَه كسـان دصُـلح وكـيلان جوړكړي ديحضرت حَسَن ته وَراَستَوَلِي دي. ددې څخه دا معلوم سوچي دصُلح لپاره وكيل جوړولائي سي .

[١۴٧٩](٢٠) كه چيري صُلح وكړه دده لجانب څخه پريو شِـي بانـدي دده دحُكم بغيـره نـو هغه پرځلور صورته ده (١) كه پر مَال صُلح وكړه او دهغه ضَامِن جوړسو نو صُـلح پـوره سوه (٢) او دغه رنګه كه وويل مَا ستا سره زُومَا پردغه زَر باندي صُلح كـړې ده.يـا زُومَـا پردې غُلاَم باندي مي صُلح درسره كړې ده نو صُلح پوره سوه.او پروكيل لازم دئ چي وده

ته مَال سُپرد کړي (۳) او دغه رنګه که وويل چي مَا ستا سره پر زَر باندي صُلح کړې ده او هغه زَر ئې وده ته سُپرد کړې .
تشريح : يوسړي ته مُجرِم يا مُؤكِّل دصُلح كولو حُكم نَه دئ كړئ.هغه دخپل جانبَ

حاشيه : (الف) حَسَن بن عَلِي به فرمائل چي ده دحضرت مُعَاوِيَه اِستِقبَال په دُومرَه خَطُونُ سره كړئ دئ چي دغَرَه په اندازه سول ... نوحضرت معاويه حضرت حَسَن لره دقُرَيشُ دبَنِي عَبدِشَمس دوه كسان راواستول عبدالرحمٰن بن سَمُرَه اوعبدالله بن عَامِر.نوحضرت معاويه وفرمائل دغه سړي لره وَرسَئ او هغه ته صُلح وُړَاندِي كړي.او وهغه ته زَارِي وكئ.او هغه مَاتَه رَاوُلَئ.نو دُوئي دواړه حضرت حَسَن ته راغلو او وهغه ته داخل سو او خبرې ورسره وكړې .

عَلْي اَلفِي هٰذَا اَو عَلْي عَبدِي هٰذَا تَمّ الصّلحُ وَلَزِمَهُ تَسلِيمُهَا اِلَيهِ وَكَذَالِکَ لَوقَالَ صَالَحتُکَ عَلْي اَلفٍ وَسَلّمَهَا اِلَيهِ .

دفُضُولِي په حَيث صُلح وكړه.نوكه چيري دصُلح دمَال ذِمّه دَارِي واخستله.يائې خپل مَال ومُدّعِي ته حَوَالَه كړئ نوبيا خو به دمُدّعْي عَلَيهِ د اِجَازَت بغيره هم صُلح مكمّله سي.او كه چيري فُضُولِي دمَال ذِمّه دَارِي پرخپل ځان نَه كړه او نَه ئې خپل مَال وركړئ نوبيا به صُلح دمُؤكِّل پر اجازت موقوف وي.چي هغه اجازت وركړي بيا صُلح مكمله كيږي.او كه اجازت وَرنَه كړئ نو صُلح به بَاطِل سي .
وجه : په كوم صورت كي چي فُضُولِي ذِمّه دَارِي پرخپل ځان كړه نوبيا درَقَم وركولومعامله پرمُؤكّل نَه سوه پاته نوځكه دده د اِجَازَت بغيره هم صُلح مكمله كيږي.ځكه چي فُضُولِي صُلح كړې ده او رَقَم ئې هم وركړئ دئ .
مصنف دفُضُولِي دذِمّه دَارَئ اخستلو درې صورتونه بيان كړي دي (۱) فُضُولِي پرمَال باندي صُلح وكړه او دمَال حواله كولو ذِمّه دَارِي ئې په خپله واخسته (۲) زُومَا پر دې زَر باندي صُلح كوم يا زُومَا پردې غُلاَم باندي صُلح كوم نوپه خپله پرخپل غُلاَم باندي صُلح وكړه نو دغُلاَم يا د زَر وركولو ذِمّه دَارِي ئې په خپله واخسته.اُوس دمُؤكّل پراِجَازَت باندي موقوف نَه پاتيږي (۳) دريم صورت دادئ چي دخپل غُلاَم يا دخپلو زَرُ نوم ئې نَه واخستئ بلكه مُطلَقًا پرزَر باندې صُلح وكړه. لېكن دخپل جانب څخه زَر وركړې نو دفُضُولِي ذِمّه دَارِي خو اداَء سوه نو ځكه هم صُلح مكمله سوه .
اُصُول : چي يوڅوک دصُلحِ دمَال د وَركولو ذِمّه دَارِي واخلي نودمُؤكّل د اِجَازَت بغيره صُلح مُكَمّله كيږي .
لُغَت : سَلّمَهَا : سُپرد ئې كړئ .

[۱۴۸۰](۲۱) وَاِن قَالَ صَا لَحتُکَ عَلْي اَلفٍ وَلَم يُسَلِّمهَا اِلَيهِ فَالعَقدُ مَوقُوفٌ فَاِن اَجَازَهُ المُدّعْي عَلَيهِ جَازَ وَلَزِمَهُ الاَلفُ وَاِن لَم يَجزِهِ بَطَلَ

[۱۴۸۱](۲۲) وَ اِذَا كَـانَ الـدّينُ بَـينَ الشّـرِيكَينِ فَصَـالَحَ اَحَـدُهُمَا مِـن نَصِيبِهِ عَلْـي ثَـوبٍ فَشَـرِيكُهُ بِالخِيَـارِ اِن شَـآ ءَ اِتّبَـعَ الّـذِي عَلَيـهِ الـدّينُ بِنِصفِهِ وَ اِن شَآ ءَ اَخَـذَ نَصـفَ الثّـوبِ اِلاّ اَن يَضـمَنَ لَـهُ شَـرِيكُهُ رُبـعَ الدّينِ .

[۱۴۸۰](۲۱) او كه وويل چي زَه ستا سره صُلح كـوم پـر زَر بانـدي او هغـه تـه زَر سُپرد نَه كړې نو عَقدِصُـلح بـه موقـوف وي.كـه چيـري مُـدّعْي عَلَيـهِ اجـازت وركـړئ نوجواز به پيدا كړي اوپرمُدّعْي عَلَيه به زَر لازم سي اوكه اِجَازَت وَرنَه كړئ نوباطـل به سي .

تشريح : په دې صورت كي فُضُولِي دا نَه دي ويلـي چـي خپـل دِرهَـم بلكـه مُطلقًـا زَر دِرهَم ئې ويلي دي او زَر ئې سُپُرد كـړي هـم نَـه دي نـو ځكـه پرخپلـه ذِمّـه دَارِي ئـې صُلح نَه ده كړې.لِهْذَا دا به دمُدّعْي عَلَيهِ پر اِجَازَت موقوف پاته وي.چي هغـه اجـازت وركړي نوصُلح به مكمل كيږي او پر ده بـه زَرلازم سـي.او كـه اجـازت وَرنَـه كـړئ نوصُلح به باطل سي .

وجه : مُدّعْي عَلَيهِ نَه وفضولي ته حكم وركړئ وُ او نَه وروسـته ورسـره منلـې ده.نـو ځكه دده ذِمّه دَارِي نَه جوړيږي. نوځكه صُلح به باطل سـي. دا هغـه څلـورم صـورت دئ .

[۱۴۸۱](۲۲) كه دَين د دُوُ شريكانُ ترمينځ وي د دُوئـي څخـه يـوه دخپلـي حِصّـې پـه بدله كي پركپړه باندي صُلح وكړه نو دده وشـريک تـه اِختِيَـار سته.كه خُوَښَـه سـي پـه هغه سرِي دي پسي سي پركوم چاچي دَين دئ دخپل نِيمِ دَيـن لپـاره او كـه خُوَښَـه سـي نِيمَ كپړه دي وَاخلِي.مګركه چيري دده شريک دڅلورمي حِصّې دَين ضَامِن سي .

[۱۴۸۲](۲۳) وَ لَو اِستَوفْي نِصفَ نَصِيبَهُ مِنَ الدّينِ كَـانَ لِشَـرِيكِهِ اَن يُشَارِكَهُ فِيمَاقَبَضَ ثُمّ يَرجِعَانِ عَلْي الغَرِيمِ بِالبَاقي .

تشريح : په دې مسئله كي درې صورتونه دي چی پريَوَه ځائ ئې بيان كړي دي. مـثلاً دزَيد او عُمَر پرخَالِدباندي زَر روپئ دَين وُ.زَيد دخپلي حِصّې يعنى پنځه سـوه پـه بدلـه كي صُلح وكړه كپړه ئې ځيني واخستله.اُوس وعُمَـر شـريک تـه دُوَه اِختِيَـار سته.ياخو دي خپله حِصّه (پنځه سوه دِرهَم) براهِ راست دخَالِدڅخه وصول كړي او په هغـه دي پسي سي .

وجه : ځكه چي دعُمَرقرض په اَصل كي پرخَالِدوُ چـي كپـړه ئـې وركـړې ده.نوځكـه دهغه څخـه وصـولولائي سـي.او دُوَم اِختِيَـار دادئ چـي دده شـريک چـي زَيـددئ چـي

دخپلي حِصّې کپړه ئې اخستې ده په هغه کپړه کي دي شريک سي او بيا دي پـه دُوَاړُو دخَالِدڅخه دپنځه سوه مطالبه وکي .

وجه : ځکه چي دَين دشِرکَت دَين وُ چی دده شريک زَيد قبضه کړئ دئ.نوځکه عُمَـر دا اِختِيَار لري چی دزَيد په قبضه کړې کپړه کـي پـه نِيمَـئ ور شـريک سـي. او دريـم صورت دادئ چي زَيد دخپلي حِصّې نِيم قرض وصول کړئ نوځکه دهغه دنِيمِي يعني دتېوله قرض ديوې څلـورمي حِصّـې ذِمّـه دَارَه دي زَيـد سـي او و عُمَـرشـريک تـه دي ووائي چي ستا څلورمه قرض زَه ورکوم.پـه دې صـورت کـي عُمَـر دزَيـد پـه اخسـتې کپړه کي نَه سي شريک کېدلائي.البته زَيدخو دقرض څلورمه حِصّه وعُمَرتـه ورکـړې ده نوځکه اُوس به په دُوَاړو دخَالِدڅخه نِيم قرض وصولوي .

[١۴٨٢](٢٣) که خپله نِيمَئ حِصّه قرض وصول کړئ نوشـريک تـه جـواز سـته چـي هرڅومره قبضه کړئ دئ په هغه کي شريک سي.بيا په دُوَاړُو بَاقِي مَاندَه د مقـروض څخه وصول کړي .

تشريح : مثلاً زَيد او عُمَر سره شريکان وُ.زَيد دخپلي حِصّې روپۍ وصول کړې او قرض ئې وصول کړئ دهغه په بدله کې پريَوبَل شِي بانـدي صُلح نَـه ده کړې.نـو دده وشريک عُمَرته دا اِختِيَار سته چي دزَيد په وصـول کـړي قـرض کـي شـريک سـي او نِيمَئ روپۍ دزَيد څخه واخلي .

[١۴٨٣](٢۴) وَلَـو اِشـتَرْي اَحَـدُهُمَا بِنَصِـيبِهِ مِـنَ الـدَّينِ سَـلعَةً كَـانَ لِشَرِيكِهِ اَن يَضمَنَهُ رُبعَ الدّينِ .

وجه : په عَين قرض کي دواړه سره شـريکان وُ.او يـوه شـريک عَـين قـرض وصـول کړئ چي د دواړو حَق وُ نو هغه بَل شريک ددې څخه دنِيمَـئ اخسـتلو حَـق لري.ځکـه چي دده نِيمَئ مَال ئې هم وصول کړئ دئ.وروسته دي په دواړو دمَقرُوض څخه خپـل نِيمَئ حَق وصول کړي .

وجه : ځکه چـي د دواړو نِيمَـئ قـرض تـر اُوسَ دمَقـرُوض سـره پاتـه دئ نوځکـه پـه دواړو به وصولوي .

[١۴٨٣](٢۴) او که د دواړوڅخه يَوَه دخپل قرض په حِصّه باندي سـامان رَانِيـوَئ نـو دده شريک اِختِيَار لري چي دئ د دَين دڅلومِي حِصّې ذِمّه دَارَه جوړ کړي .

تشريح : مثلاً زَيد او عُمَر په هغه دَين کي سره شريکان وُچي پرخَالِدوُ.بيا زَيد د خپلـي حِصّې په بدله کي سَامَان رَانِيوَئ نوعُمَر دا حَق لري چي زَيد د دَين دڅلـورمِي حِصّـې ضَامِن کړي .

وجه:دصُلحِ په صورت کي خو دمعافئ خُـوَا غَالِـب وه نوځکـه هلتـه عُمَروَنَـه تُوَانېدَئ چي زَيددقرض ضَامِن جوړکي.لېکن په دې صورت کي خو د دَين دحِصّې پـه بدلـه کـې سَـامَان اَخَستَئ دئ.نوګواکه پوره پوره قرض ئې وصول کړئ دئ.او دا قاعده ده چي شريک اَصـل

قرض وصول کړي نو هغه بَل شریک ته ددې ثخه دنِیمَـئ اخستلوحَق سته.دلته د دَین پـه بدله کي سامان اخستئ دئ نوځکـه یا خـو دي پـه سـامان کـي شـریک سـي یـا دي شـریک دقرض دځلورمِي حِصّې ذِمّه دَارکړي .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چي عَینِ قَرض ئې وصول کړئ وي نودهغه

[۱۴۸۴](۲۵) وَاِذَا کَـانَ السّـلَمُ بَـینَ الشّـرِیکَینِ فَصَـا لَـحَ اَحَـدُهُمَا مِـن نَصِیبِهِ عَلْـي رَاْسِ المَـالِ لَـم یَجـزِ عِنـدَاَبِي حَنِیفَـةَ وَمُحَمّـدٌ رَحِمَهُمَـااللّٰهُ تَعَالْـي وَقَالَ اَبُویُوسُفَ رَحِمَهُ اللّٰهُ تَعَالْـي یَجُوزُ الصّلحُ .

ثخه نِیمَئ به دهغه بَل شریک وي .

لُغَت : سَلعَةٌ : سَامَان .

[۱۴۸۴](۲۵) که بَیعِ سِلَم وي د دُوُ شریکانُ ترمینځ دهغوثخه یَوَه دخپلي حِصّې ثخـه پـر رَأسُ المَـال باندې صُـلح وکـړه نـو د امـام ابوحنیفـه او امـام محمدپـه نېزجـواز نَـه لري.او امام ابویوسف وفرمائل چي جائز دئ .

تشریح : مثلاً زَید او عُمَرپه دُوَاړُو دخالدسره بَیعِ سِلَم وکـړه.او دواړو سَل دِرهَـم اداَء کړل یعني پنځوس دِرهَم زَید او پنځوس دِرهَم عُمَر چي رَأسُ المَال ورته وائي.او عَقد هم یو دئ. وروسته یوه شریک مثلاً زَید دخپلي حِصّې پر بېرته اَخَستلُو بانـدي دمُسلِم اِلَیهِ یعني بائع سره صُلح وکړه نو د امام ابوحنیفه او امام محمدپـه نېز دده دغـه صُـلح کول او خپله حِصّه وَاپَس اخستل د شریک د رضامندئ بغیره جواز نَه لري .

وجه : (۱) په دواړو ئې عَقدِسِلَم سره کړئ دئ لِهٰذَا چي یوخپلـه حِصّـه وَاپَس واخلـي عَقدِسِلَم ختم کول وغواړي نـو دا جـواز نَـه لري.ځکـه چـي ددې ثخـه تَفرِیقِ صَفقَه لازمیږي چي جواز نَه لرى (۲) دا یـوه رنګـه دُوکـه هـم ده چـي عَقدِسِلَم دواړو سـره کړئ دئ او اُوس ئې یَو په خپله مَرضِي سره ختم کوي .

اُصُول : ددې حضرات اُصُول دادئ چي که دبَل چا نُقصَان وي نوپه خپل مَال کـي هـم تَصَرّف نَه سي کولائي.حضرت دبَل ونُقصَان ته نَظَر کړئ دئ .

امام ابویوسف فرمائي چي دیوه شریک صُلح کول او رَأسُ المَال اخستل جائزدئ .

وجه : دئ فرمائي چي نِیمَئ حِصّه دهغه شریک خپل ذَاتِي مال وُ نو لکه ثَه رنګه

[۱۴۸۵](۲۶) وَ اِذَا کَانَتِ التّرَکَةُ بَینَ وَرَثَةٍ فَاَخرَجُوا اَحَدَهُم مِنهَا بِمَالٍ اَعطُوهُ اِیّاهُ وَالتّرَکَةُ عِقَـارٌ اَو عُـرُوضٌ جَـازَ قَلِـیلاً کَـانَ مَـا اَعطُـوهُ اَو کَثِیرًا .

چي په خپل نُور ذَاتِي مال کي په خپله مرضـي تصـرف کـولائي سـي.دغه رنګـه دلتـه هم دخپلي حِصّې صُلح وکي دمُسلِمِ اِلَیهِ یعني بائع ثخه وَاپَس اخستلائي سي .

أُصُول : د ده أُصُول دادئ چي په خپل مال کي دبَل دمرضئ بغيره هم تصرف کولائي سي.دې حضرت وخپل نُقصَان ته نظرکړئ دئ .

[١٤٨٥](٢٦) که تَرَکَه دڅو وَارِثَانُوترمينځ وه.دُوئ ددې څخه يوه ته څَه مَال ورکړئ دتَرَکي څخه وَيَاستَئ که تَرَکَه مځکه وه يا سامان وُ نو جائزدئ.چي هر څَه ئې ورکړي دي که زيات وي که کَم .

تشريح : يو سړئ وَفَات سو دهغه ډېر وَارِثَان وُ.لېکن ددې وَارِثَانُ څخه يوه څَه نَقدرَقَم واخستئ د وَرَاثَت خپله حِصّه ئې پرېښوه او صُلح وکړه.نودغه څَه اخستل اوخپله حِصّه پرېښول جائزده.بيا په تَرَکَه کي که مځکه وي که سامان او چي پرکوم شِي صُلح سوې ده هغه نَقدوي نو دغه نَقد د وَرَاثَت دحِصّې څخه زِيات وي که کَم وي دواړه صورتونه جائز دي .

وجه : (١) د وَرَاثَت حِصّه او دصُلحِ نَقد دواړه يَوجنس نَه دي نوځکه دزياتوب او دکمبوت څخه سُود او رِبوا نَه لازميږي.نو ځکه دواړه صورتونه جائز دي .

چي څَه واخلي او تَرَکَه پرېږدي دې ته ,,تَخَارُج,, وائي.ددې ثبوت په دې اَثَرکي دئ وَقَالَ اِبنُ عَبّاسٍ لاَ بَأسَ اَن يَتَخَارَجَ الشّرِيکَانِ فَيَأخُذَ هٰذَا دَينًا وَهٰذَا عَينًا فَاِن تَوْي لاَحَدِهِمَا لَم يَرجِع عَلْي صَاحِبِهِ (الف) (بخاري شريف.باب الصلح بين

[١٤٨٦](٢٧) فَاِن کَانَتِ التّرَکَةُ فِضّةً فَاَعطُوهُ ذَهَبًا اَو ذَهَبًا فَاَعطُوهُ فِضّةً فَهُوَ کَذَالِکَ .

الغرمآء.واصحاب الميراث والمجازفة في ذالک ص٣٧۴نمبر٢٧٠٩) په دې اَثَرکي دئ چي څَه واخلي تَخَارُج کولائي سي (٢) په يوه بَل اَثَرکي دئ چي دعبدالرحمٰن بن عَوف بِي بِي خپل وَرَاثَت پرېښوئ او پر اَتيَا زَرَه دِرهَم باندې صُلح وکړه عَن عُمَربِنِ اَبِي سَلَمَةَ عَن اَبِيهِ قَالَ صَالَحَت اِمرَأ ةُ عَبدِالرّحمٰنَ مِن نَصِيبِهَا رُبعَ الثّمَنِ عَلْي ثَمَانِينَ اَلفًا (الف) (سنن للبيهقي.باب صلح المعاوضة واَنّه بمنزلة البيع يجوزفيه مايجوزفي البيع الخ ج۶ص١٠٧نمبر١١٣٥٥/مصنف عبدالرزاق.باب المرأة تصالح علْي ثمنهاج٨ص٢٨٩ نمبر١۵٢۵۶) په دې اَثَرکي دحضرت عبدالرحمٰن څلور بي بي ګان وې چي دهغه لکبله ويوه بي بي ته په ټوله وَرَاثَت کي د اَتَمِي حِصّې څلورمه يعني دُوَه دېرشَمَه حِصّه ملاؤسوه.او په خپله د وَرَاثَت څخه تَخَارُج وکئ پر اَتيَا زَرَه صُلح وکړه .

لُغَت : عِقَارٌ : مځکه .

[١٤٨٦](٢٧) او که چيري تَرَکَه سُپين زَر وُ او وده ته سرَه زَر ورکړل.او سرَه زَر وُ و ده ته سُپين زَر ورکړل نو دا هم دغه رنګه دئ يعني جائز دئ .

حاشيه : (الف) حضرت ابن عباس وفرمائل هيڅ دحرج خَبَرَه نَه ده چي دُوَاړَه شريکان رَاوَوزِي.دا قرض واخلي او دا عَين واخلي.که ديوه لپاره دچَا حَق ضائع سو نودخپل شريک څخه نَه سي وصولولائي .

تشريح : په تَرَکَه کي سُپِين زَر دي او تَخَارُج کونکي او وَثُونکِي ته سرَه زَر ورکړل صُلح ورسره وکړه.یا په تَرَکَه کي سرَرَه زَر دي او سُپِين زَر ئې ورکړل تَخَارُج ئې وکړ نو دا جائز دئ .

وجه : په تَرَکَه کي سُپِين زَر دي سَرَه زَر ئې ورکړه تَخَارُج ئې وکړئ که چيري څَه زِيَات و کَم وي نو هم هيڅ دحرج خَبَرَه نَه ده ځکه چي دُوَه جِنس وي نو دکَمِي او زِيَاتُوب څخه سُود نَه لازميږي. لِهٰذَا جائز دئ .

اُصُول : دا مسئله پر دې اُصُول مُتَفَرّع ده چي که دُوَه جلاجنس وي نودکَمِي او زِيَاتُوب څخه سُود نَه لازميږي .

حاشيه : (الف) دحضرت عبدالرحمٰن بن عوف مينې دخپلي اَتَمِي پرځَلُورَمَه باندي صُلح وکړه پر اَتيَا زَرَه .

[١۴٨٧](٢٨) وَاِن كَانَتِ التّرَكَةُ ذَهَبًا وَفِضّةً وَغيرَ ذَالِكَ فَصَالَحُوهُ عَلْي ذَهَبٍ اَو فِضّةٍ فَلاَ بُدّ اَن يَكُونَ مَا اَعطُوهُ اَ كثَرَ مِن نَصِيبِهِ مِن ذَالِكَ الجِنسِ حَتْي يَكُونَ نَصِيبُهُ بِمِثلِهِ وَالزِّيَادَةُ بِحَقِّهِ مِن بَقِيّةِ المِيرَاثِ .

[١۴٨٧](٢٨) او که تَرَکَه سَرَه زَر او سُپِين زَر وي او ددې څخه علاوه وي.نوصُلح وکړه پر سَرَه زَر يا سُپِين زَر باندي نو لازم دئ چي څَه ئې ورکړي دي هغه به زِيَات وي دهغه دجِنس تر حِصّه چي ددې حِصّه دهغه سره برابره سي او چي کوم زِيَات دئ هغه دده دميراث سره د دا پاته حَق په مقابله کي راسي .

تشريح : د مِثَال دلاري په دې باندي ځان پوه کړئ.مثلاً کوم څوک چي دميراث د حِصّې څخه ځان اِستَل غُوَاړِي دهغه حِصّه دسُپِينُ زَرُو څخه پِنځه سوه دِرهَم. د سرُوزَرُو څخه شَل دِينَارَ او په جائيدادکي هغه ته پِنځَه غُوَاوِي رسيږي.اُوس دئ سُپِين زَر اَخلِي پرخپله حِصّه باندي صُلح کول غُوَاړِي نوسُپِين زَر بايد دپِنځَه سوه دِرهَم څخه زيات وي چي پِنځَه سوه دِرهَم دهغه دپِنځوسو دِرهَم په بدله کي راسي کوم چي ده ته په وَرَاثَت کي ملاويږي اوکوم سُپِين زَر چي زِيَات دي هغه دشَل دِينَار او پِنځو غُوَاوُ په مقابله کي راسي.او که پردِينَار باندي صُلح کوي نو بايد د شَل دِينَار څخه زِيَات وي.چي په وَرَاثَت کي کوم شَل دِينَار ده ته ملاويږي دا شَل دِينَار دهغه سره برابر سي او چي کوم زِيَات دي هغه دپِنځَه سوه دِرهَم او غُوَاوُ په مقابله کي سي.د شَل دِينَار څخه پر کَم باندي صُلح جواز نَه لري .

وجه : چي پِنځَه سوه سُپِين زَر دپِنځَه سوه سُپِين زَرُو سره برابر سي.او شَل دِينَار دشَل دِينَار سره برابر سي.اودجِنس ديَووَالِي په وجه سُود لازم نَه سي .

اُصُول : دا مسئله پر دې اُصُول مُتَفَرّع ده چي جنس يَو وي نوبرابر والئ ضروري دئ چي سُود لازم نَه سي.نوځکه دهغه دحِصّې څخه پر زِيَات باندي صُلح کول ضروري ده .

[۱۴۸۸](۲۹) وَاِذَا كَانَ فِي التّرَكَةِ دَينًا عَلْي النّاسِ فَاَدخَلُوهُ فِي الصّلحِ عَلْي اَن يَخرُجُوا المَصَالَحَ عَنهُ وَيَكُونَ الدّينُ لَهُم فَالصّلحُ بَاطِلٌ .

پام لرنه : چي ځومره سَرَه زَر دسُرُوزَرُو په بدله كي يا سُپِين زَر دسُپِينُ زَرُو پـه بدلـه كي وي په مجلس كي پرهغه باندي قبضه كول هم ضروري ده چي سُود لازم نَـه سـي .

[۱۴۸۸](۲۹) كه په تَرَكه كي پرخلګوباندي دَين وي.وَارِثَانُ هغه پـه صُـلح كـي داخـل كړئ په دې شرط چي صُلح كونكئ د دَين څخـه وَبَاسِـي او دَيـن د پاتـه وَارِثَـانُ لپـاره سي نوصُلح باطل ده .

تشريح : ددې مسئلې دپوهني لپاره په يوه قاعده ځـان پـوه كـول ضـروري دئ.هغـه دا چـي دقـرض مَالِـک هغـه څـوک جـوړولائي سـي پركـوم چـاچي قـرض دئ يعنـي مَقرُوض.بَـل څـوک دقَـرض مَالِـک نَـه سـي جـوړولائي.او مَقـرُوض دقـرض مَالِـک جوړولومطلب دادئ چي وهغه ته قرض ور معاف كړي .

صُورَتِ مسئله : مثلاً زَيد وفـات سو ترشـائې پِنځَـه هَلګَـان وارثـان پرېښـول.او دزَيـد پرخَالِدباندي پِنځَه سوه دِرهَم قرض دئ.او نور څَه جائيداد ئې دئ چي دهَلګَانُ تـرمينځ تقسيم كول دئ.اُوس دپِنځُو هَلګَانُ څخه يَـوعُمَر دوَرَاثَـت څخـه ځـان باسـي او پـر څَـه روپۍ باندي صُلح كول غُوَارِي.او د دَين ذِمّه دَارِي هم پر دا نورو ورونو باندي اَچَوَل غُوَارِي چي د دَين په بدله كي مَاتَه څَه راكئ او زُومَا دحَق دَين يعني سَل دِرهَم دَين هم تاسو دخَالِدڅخه وصول كړئ.نو فرمائي چي د دَيـن پـه بدلـه كـي څَـه وَاخلِـي او دا پاته نور څلور وُرُونَه د دَين مَالِكان جوړول جواز نَه لري .

وجه : مختته قاعده تېره سوه چـي صِـرف مَقرُوض د دَيـن مَالِـک جـوړولائي سـي بَـل څوک نَه سي جوړولائي.نوځكه د دَين په بدله كي عَين اَخستَل او نـور وَارِثَـان دهغـه مَالِكان جوړول جواز نَه لري .

[۱۴۸۹](۳۰) فَـاِن شَـرَطُوا اَن يَبـرَأ الغُرَمَـآ ءَ مِنـهُ وَلاَ يَرجِـعُ عَلَـيهِم بِنَصِيبِ المَصَالَحَ عَنهُ فَالصّلحُ جَائِزٌ .

پام لرنه : د دَين د مَالِک نَه جوړولو وجه داده چـي څـوک دعَين شِـي مالـک جـوړول كيږي د دَين دا نَه سي جوړېدلائي.هغه خو صرف يوه وَعدَه ده .

[۱۴۸۹](۳۰) كه چيري وَارِثَانُو شرط ولګـاوئ چـي قـرض اَخستُونكِي بـه دده څخـه بَرِيَان سي او وَارِثَان به دده څخه دصُلح كونكي حِصّه نَه وصولوي نو جائز دئ .

تشريح : وَتُونكِي او تَخَارُج كونكي وَارِث دارنګه ويـل چـي د دَيـن څخـه زُومَـا چـي كومه حِصّه ده زَه هغه د مَقرُوضَانُ څخه معافوم.زُومَا هغه حِصّـه دا پاتـه وَارِثَـان هم

دمَقرُوضَانُ څخه نَه سي وصولولائي.په دغه شرط سره چي کوم حاضر جائيداد دئ دهغه په بدله کې صُلح وکړه نو جائز ده .

وجه : دلته پر کوم چاچي قرض وُ هغه ئې دقرض مَالِک جوړکړئ يعني معاف ئې کئ نوځکه دې جواز پيدا کئ.په اَثَرکي راغلي دي وَهَبَ الحَسَنُ بِنِ عَلِيٍّ عَلَيهِمَا السّلاَمُ دَينَهُ لِرَجُلٍ وَقَالَ النّبِيّﷺ مَن كَانَ لَهُ عَلَيهِ حَقّ فَليُعطِهِ اَو لِيَتَحَلّلَهُ مِنهُ وَقَالَ جَابِرٌ قُتِلَ اَبِي وَعَلَيهِ دَينٌ فَسَئَلَ النّبِيّ غُرَمَاءهُ اَن يَقبِلُوا ثَمَرَ حَائِطِي وَيُحَلِّلُوا اَبِي (بخاري شريف.باب اذا وهب دينًاعلْي رجلٍ ص۳۵۴نمبر۲۶۰۱) په دې حديث کي د دَين دمعافولو تذکره ده چي جائز دئ .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چي پرکوم چاچي دَين وُ هغه ئې د دَين مَالِک جوړکئ يعني معاف ئې کئ نو دا جائز دئ .

حِيلَه :ددې حِيلَه داده چي دا نور پاته وَارِثَان دي ومَقرُوض ته دُوبَارَه قرض ورکړي او مَقرُوض دي هغه رَقَم و تَخَارُج کونکي وَارِث ته ورکړي او تَخَارُج کونکئ وَارِث دي هغه رَقَم ببړته و دا پاته وَارِثَانُ ته ورکړي نو اُوس خو د دا پاته وَارِثَانُ قرض بَرَاهِ رَاست پر قرض والا باندي سو نوځکه هغه ئې وصولولائي سي .

..... كِتَابُ الهِبَةِ.....

[۱۴۹۰](۱) اَلهِبَةُ تَصِحّ بِالاِيجَابِ وَالقَبُولِ وَتَتِمّ بِالقَبضِ .

..... كِتَابُ الهِبَةِ.....

ضروري پام لرنه:ومُفت ورکولوته هِبَه وائي.په دې آيت کې ثبوت سته لاَ يَنهْكُمُ اللهُ عَنِ الّذِينَ لَم يُقْاتِلُوكُم فِي الدِّينِ وَلَم يُخرِجُوكُم مِن دِيَارِكُم اَن تَبَرّوهُم وَتُقسِطُوا اِلَيهِم اِنّ اللهَ يُحِبّ المُقسِطِينَ (الف) (آيت ۸ سورة الممتحنة ۸) په دې آيت کي دئ چي دکافران سره هم دبِرّ او نېکئ معامله کوئ او هِديَه وتُحفَه ورکوئ نوخدائ پاک تاسو ددې څخه نَه منع کوي.بلکه الله تعالْي دا خُوَښَه وي. حضرت امام بخاري رحمة الله تعالْْي عليه ددې آيت څخه اِستِدلاَل کړئ دئ چي ومُشرِکانُ ته هِديَه ورکولائي سي.په حديث کي دئ عَن عَائِشَةَ قَالَت كَانَ رَسُولُ اللهِ يَقبِلُ الهَدِيّةَ وَيُثِيبُ عَلَيهَا (بخاري شريف.باب المكافات في الهبة ص۳۵۲ نمبر۲۵۸۵) په دې حديث کي هم دهِديّې ثبوت سته (۲) عَن اَبِي هُرَيرَةَ عَنِ النّبِيِّ قَالَ تَهَادُوا تَحَابّوا (ب) (سنن للبيهقي.باب التحريص علْي الهبة والهديّة صِلةٌ بَينَ النّاسِ ج۶ص۲۸۰نمبر۱۱۹۴۶) ددې حديث څخه هم دهِدِيّې ترغيب معلوميږي .

[۱۴۹۰](۱) هِبَه صحيح کيږي په اِيجَاب وقَبُول سره او پوره کيږي په قبضه سره .

تشريح : دهِبې دمکمل کېدو درې اَجزآء دي.يو خو دا چي هِبَه کونکئ اِيجَاب وکي او هِبَه دې کي .

وجه : (۱) دده مَال دئ.چي دئ ئې وَرنَه کړي بَل څوک ئې څَه رنګه اخستلائي سـي؟ نوځکه اِيجَاب ضروري دئ (۲) هِبَه عَقددئ او يَوعَقدهم د اِيجَـاب او قبـول بغيـره نَـه سي پوره کيږلائي.نوځکه اِيجَاب ضروري دئ.   دُوم جُزء دئ قبلول .

حاشيه : (الف) الله دنيکئ کولوڅخه نَه منع کوي دهغه خلګوسره چي په دِين کـي ستاسو سره قِتَـال نَـه کـوي او تاسو دکورو څخه نَه رَابَاسِي.او نَه دهغوسره د اِنصَاف کولوڅخه تاسو منع کوي.او الله اِنصَاف کونکي خُوَښَـه وي (ب) حضور ﷺوفرمائل هَديَه ورکوئ مُحَبّت به زِيَات سي .

وجه : (۱) اُوس تيرسوچي هِبَه عَقددئ نوځکه په دي کـي دقبلولـو هـم ضـرورت سـته (۲) په حديث کي ودې ته اِشَارَه سوې ده عَن اَنَسٍ قَالَ اِنفَجنَا اَرنَبًـا بِمَـرِّ الظّهـرَانَ فَسَـعْي القَومُ فَغُلِبُوا فَادرَكتُهَا فَاَخَذتُهَا فَاَتَيتُ بِهَا اَبَـا طَلحَـةَ فَـذَبَحَهَا وَبَعَـثَ اِلْـي رَسُـولِ اللهِ بِوَرِكِهَـا اَو فَخِذَيهَا.قَالَ فَخِذَيهَا لاَشَكّ فِيهِ فَقَبِلَهُ قُلتُ وَاَكَلَ مِنهُ؟ قَالَ وَاَكَلَ مِنهُ ثُمّ قَالَ بَعدَ قَبُولِهِ (الـف) (بخاري شريف.باب قبول الهديـة الصـيدص۳۰۵نمبـر۲۵۷۲) پـه دې حـديث کـي دئ چـي حضـور د سُـوئ غُوښَـه قبولـه کـړه.ددې څخـه دا معلـوم سـوچي پـه هِبَـه کـي قبلـول ضروري دئ (۲) مختـه دحضرت عائشې پـه حـديث کـي و,, كَـانَ رَسُولُ اللهِ يَقبِلُ الهَدِيّـةَ وَيُثِيبُ عَلَيهَا ,,ددې څخه هم معلوميږي چي په هَديَه کي قبلول ضـروري دئ.او دريـم جُـزء دئ چي پرهِبَه قبضه وکړي نوهِبَـه مکملـه کيـږي او دمَوهُـوبٌ لَـهُ ملکِيّـت بـه راسـي.اوچي قبضه ونه کړي نودهغه مِلكِيّت نَه راځي او هِبَه به باطلَ سي .

وجه : (۱) دهِبې په بدله کي هـيڅ شـئ نَـه راځـي نوځکـه دمَوهُـوبٌ لَـهُ دقبضـې څخـه مخکي به دوَاهِب مِلكِيّت وي نولدې وجه دئ اِنکَار کـولائي سـي (۲) پـه اَثَـر کـي دئ چي دقبضې څخه مخکي دمَوهُوبٌ لَهُ ملكِيّت نَه راځي عَن اَبِي مُوسْي الاَشعَرِيِّ قَالَ قَـالَ عُمَرُبِنِ الخَطّابِ اَلاِنحَالُ مِيرَاثٌ مَا لَم يُقبَض وَعَـن عُثمَـانَ وَابـنِ عُمَـرَ وَابـنِ عَبّـاسٍ قَـالُوا لاَ تَجُوزُ صَدَقَةٌ حَتّي تُقبَضُ وَعَن مَعَاذِبِنِ جَبَلٍ وَشُرَيحٍ اَنّهُمَا كَانَا لاَ يُجِيزَانِهَا حَتّي تُقبَضُ (ب) (سنن للبيهقي.باب شرط القبض في الهبة ج۶ص۲۸۱نمبر۱۱۹۵۱) په دې اَقوَالُ کـي دئ چي دقبضې څخه مخکي دمَوهُوبٌ لَهُ ملكِيّت نَه راځي بلکـه کـه چيـري وَاهِـب مَړسـو نودهغه دوَارِثَانُوترمينځ به تقسيم کيږي(۳)بلکه دهِبې معامله

حاشيه : (الف) حضرت اَنَس فرمائي چي موږ په مَرّالظّهرَان کي وُ چي يَو سُوئ وغُوَرزېدَئ قوم پـه هغـه پسـي ميدان کړل اوهغه ئې ستړئ کړئ.مَا هغه وموندئ او ومونيوَئ.نوهغه مِـي ابوطلحـه تـه رَاوړَئ.هغـه حـلال کـړئ اوحضور لره دهغه وُرُون رَاوَاستَاوَئ.رَاوِي وائي چي هيڅ شَک نسته چـي د ,,فَخذ,, لفظ ئـې ووايئ.مَـا پوښـتنه وکړه چي حضور هغه وَخُوَاړَئ؟وويل چي هغه ئې وَخُوَاړَئ او قبول ئې کړئ (ب) حضرت عُمَر وفرمائـل هِبَـه به ميراث وي ترڅوچي پرهغه قبضه وَنَه کړي.اوحضرت عُثمان،ابن عُمَر او ابن عَبّاس وفرمائل چي صَدقَه جواز نَه لري ترڅوچي قبضه ئې نَه کړي.او معاذ بن جبل اوشُرَيح هِبَه جائز نَه ګڼل ترڅو چي پرهغه قبضه وَنَه کړي .

[۱۴۹۱](۲) فَاِن قَبَضَ المَوهُوبُ لَـهُ فِـي المَجلِـسِ بِغَيـرِ اَمـرِ الوَاهِـبِ جَازَ وَاِن قَبَضَ بَعدَالاِفتِرَاقِ لَم تَصِحّ اِلاّ اَن يَأذَنَ لَهُ الوَاهِبُ فِي القَبضِ .

خو دومره کمزورې ده چي دقبضې وروسته که چيري مَوهُوبٌ لَهُ دهبې په بدله کي و وَاهِب ته هيڅ شئ وَرنَه کړئ او هغه دهبې شئ بِعَينِهِ د مَوهُوبٌ لَهُ سره موجود وي نو دغه دهِبې شئ دمَوهُوبٌ لَهُ څخه وَاپَس اخستلائي سي.په حديث کي دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ اَلوَاهِبُ اَحَقّ بِهِبَتِهِ مَالَم يُثِب مِنهَا (الف) (دارقطني. کتاب البيوع ج٣ص٣٩نمبر٢٩٥٢/سنن للبيهقي.باب المکافات في الهبة ج۶ ص١٨١) ددې حديث څخه معلوم سوچي دقبضې څخه مخکي دهبې شئ دمَوهُوبٌ لَهُ مِلکِيّت نَه سي کېدلائي .

فائده : امام مالک فرمائي چي دقبلېدو وروسته دقبضې څخه مخکي دمَوهُوبٌ لَهُ ملکِيّت ګرزي.لکه په بَيعَ کي دقبلېدو وروسته دمُشتَرِي ملکِيّت ګرزي.که څَه هم تر اُوسَه قبضه نَه وي کړې .

[١۴٩١](٢) که چيري مَوهُوبٌ لَهُ په مجلس کي قبضه وکړه د وَاهِب دحُکم بغيره نوجائزده.او که دجلاکېدو وروسته قبضه وکړه نو نَه صحيح کيږي مګر دا چي هِبَه کونکئ ده ته دقبضې کولو اِجَازَه ورکړي .

تشريح : کوم چا ته چې هِبَه کړې ده که چيري هغه سړي په دغه مجلس کي دهِبَه کونکي د اِجَازَت بغيره قبول کړئ قبضه ئې وکړه خو ښَه خبره ده.او چي مجلس ختم سي که دهغه وروسته مَوهُوبٌ لَهُ قبضه کول غُوَاړِي نوچي کله وَاهِب اِجَازَت ورکړي بيا دئ قبضه کولائي سي.او که چيري دُوبَارَه اِجَازَت وَرنَه کړي نوقبضه ئې نَه صحيح کيږي.په داسي صورت کي دُوبَارَه اجازت ضروري دئ .

حاشيه : (الف) حضورﷺ وفرمائل هِبَه کونکئ دهِبې زِيَات حقداره دئ ترهغه وخته چي ددې بدله نَه وي ورکول سي .

[١۴٩٢](٣) وَتَنعَقِدُ الهِبَةُ بِقَولِهِ وَهَبتُ وَنَحَلتُ وَاَعطَيتُ وَاَطعَمتُکَ هٰذَا الطّعَامَ وَجَعَلتُ هٰذَا الثّوبَ لَکَ وَاَعمَرتُکَ هٰذَا الشّيئَ وَحَمَلتُکَ عَلٰي هٰذِهِ الدّابّةِ اِذَا نَوٰي بِالحَملاَنِ اَلهِبَةَ .

وجه : د اِيجَاب په مجلس کي خالص اِيجَاب کول دقبضې کولولپاره کِفَايَت کوي. لېکن چي مجلس ختم سو نو د اِيجَاب اجازت دمجلس دختم کېدو سره ختم سو.نو ځکه اُوس دقبضې لپاره دُوبَارَه د اِجَازَت ضرورت سته .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چي د اِيجَاب اجازت تر مجلس پوري بَقَآء لري او دمجلس دختم کېدو سره هغه اجازت هم ختم کيږي .

[١۴٩٢](٣) هِبَه مُنعَقَدکيږي په دې وَينَا سره چي مَا درته هِبَه کړئ.مَا درلره درکړئ.مَا دروَبَاخښئ.مَادغه ډُوډَئ په تاوَخُوړَه.مَا دغه کپړه ستا لپاره وګرزوله.دټول عُمر لپاره مِي دغه شئ تاته درکړئ.پر دغه سُوَارلَئ مِي تَه سُپُور کړې که چيري دسَپَرُوُلُو څخه مقصدهِبَه کول وي .

تشـريح : پـه دې عِبَـارت كـي دا درښـايي چـي پـه كوموكومـو جملوسـره هِبَـه منعقـد كيږي.چي دهغه لپاره مصنف اُوَه (۷) جُملې استعمال كړي دي.دهري جملـې تَصـرِيح او دليل ستاسوخدمت ته وُړَاندِي كيږي (۱) د ,,وَهَبتُ,, جمله دهبې لپاره صريح جمله ده.نوځكـه پـه دې بانـدي هِبَـه منعقـدكيږي (۲) د,,نَحَلـتُ,, پـه جملـه بانـدي هـم هِبَـه منعقدكيږي دليل ئې دا حديث دئ عَن نُعمَانَ بِنِ بَشِيرٍ اَنّ اَبَاهُ اَتْـي بِـهِ اِلْـي رَسُـولِ اللهِ فَقَـالَ اِنّي نَحَلتُ اِبنِي هْذَا غُلاَمًا فَقَالَ اَكُلّ وَلَدُكَ نَحَلتَ مِثلَهُ؟ قَالَ لاَ قَالَ فَارجِعهُ (الـف) (بخـاري شريف.باب المكافات في الهبة ص۳۵۲نمبر۲۵۸۶) په دې حديث كې پـه,,نَحَلـتُ,,وجملـه سره وخپل زُوئ ته هِبَه كړې ده.ددې څخه دا معلوم سو چي د,,نَحَلتُ,, په لفظ سره هِبَـه مُنعَقِـدكيږي (۳) د ,,اَعطَيـتُ,, جملـه هـم د هِبَـه كولـو لپاره استعماليږي.خلګ وائي اَعطَاكَ اللهُ د وَهَبَكَ اللهُ په معنْي دئ(۴) د خوراک په اړه ويل كيږي ,,اَطعَمتُكَ هْذَا الطّعَـامَ,, نو دا هم هِبَه ده.ځكه چي د ډُوډَئ په خوړلو كي عَين شَئ هلاک كيږي.نوځكه په دې جُمله سره د عَينِ ډُوډَئ مالک جوړېدل راغلئ.لِهْذَا پـه دې جُمله سره هم د ډُوډَئ هِبَه كول ثابت سو (۵) ,,جَعَلتُ هْذَا الثّوبَ لَكَ,, د,,لَـكَ,, لفظ دمِلكِيّت لپاره راځي.ځكه په دې سره هم هِبَـه ثـابتيږي (۶) پـه ,,اَعمَرتُـكَ هْذَا الشّـئ,, باندي هم هِبَه ثابتيږي.ځكه چي په حديث كي دئ چي څـوک اَعمِرُ عُمـرْي لَـهُ وَلِعَقَبِـهِ ووائي نوكه څَه هم دعُمرْي معنْـي ده ټولـه عُمـر.لېكن پـه دې وينـا سـره هغـه شئ پـه مكمله توګه دده د لاَس وُزِي او چي كوم چا تـه دټولـه عُمَرلپـاره وركـړئ دئ دهغـه د وَارِثَانُ ترمينځ به تقسيم كيږي.په حديث كي دئ عَن جَـابِرِ بِـنِ عَبـدِاللهِ اَنّ رَسُـولَ اللهِ قَـالَ اَيّمَا رَجُلٍ اَعمَرَ عُمرْي لَهُ وَلِعقَبِهِ فَاِنّهَا لِلّذِي اَعطِيَهَا لاَتَرجِعُ اِلْـي الّـذِي اَعطَاهَـا لاَنّـهُ اَعطْـي عَطَآ ءً وَقَعَت فِيهِ المَوَارِيثُ (الف) (مسلم شريف.باب العُمرْي ص۳۷نمبر۱۶۲۵) په دې حديث كي د عُمرْي لفظ دهِبې لپاره استعمال سوئ دئ(۷) د,,حَمَلتُكَ عَلْـي هْـذَا الدّابّـةِ,, دُوې معنْي ګان دي يوه معنْـي داده چـي دڅَـه محـدود وخـت لپـاره مِـي رِعَـايَـةً دغـه حيـوان دسُپَارلَئ لپاره تاته در كړئ دئ. او دومه معنْي دادئ چي پـه مكملـه توګـه سـره دا حيـوان تاته دركوم او هِبَه كوم. نوځكه كه چيري د دُوَمِي معنْي نِيّت وكئ نو دُومَه معنْـي بـه ځينـي مراد وي.او په دې جمله به هِبَه مُنعَقدسي (۱) خلګ وائي,,حَمَلَ الأمِيـرُ فُلاَنًـا عَلْـي فَـرَسٍ,,او ددې څخه دامعنْي اَخلِي چي اَمِير په مكمله توګه وفُلاَنِي ته آس وركئ او ورته هِبَه ئې كړئ.ددې جملې څخه هم هِبَه ثابتيږي (۲) په حديث كي دئ,,حَمَلتُ عَلْي فَرَسٍ فِـي سَـبِيلِ اللهِ,,په دې كې ټوله آس د الله په لاَرَه كي صدقه كول مراد دئ. قَالَ عُمَرُ حَمَلتُ عَلْـي فَـرَسٍ فِي سَبِيلِ اللهِ فَرَأيتُهُ

حاشيه : (الف) حضرت بَشِيرحضورﷺ ته راغلئ او وويـل چـي مَـا ودې زُوئ تـه غُـلاَم هِبَـه كـړئ. حضورﷺ پوښتنه ځيني وكړه تا وبَل زُوئ دغه رنګه غُلاَم هِبَه كړئ دئ؟وويل نَه.حضور وفرمائل بيا نو هِبَه وَاپَس كه .

حاشيه (الف) حضور وفرمائل چي يوڅوک عُمْري وکي نوهغـه شئ بـه دده لپاره وي.اودهغـه څخـه د وروسته خلګولپاره به وي.ځکه چي دا دهغه دئ چاته چې ورکړئ دئ.دا ورکونکي سړي تـه بېرتـه وَاپَس نَـه راځي.ځکه چي دارنګه عَطِيّه ئې ورکړې ده چي په هغه کې وِرَاثَت چلېږي .

[۱۴۹۳](۴) وَلاَ تَجُوزُ الهِبَةُ فِيمَا يُقسَمُ اِلاّ مُحَوّزَةً مَقسُومَةً .

يُبَاعُ فَسَألتُ رَسُولَ اللهِ فَقَالَ لاَ تَشتَرُوهُ وَلاَ تَعُدفِي صَدَقَتِکَ (بخاري شريف.باب اذا حمل رجل علْي فرس فهو کالعُمْري والصدقة ص۳۵۹نمبر۲۶۳۶) په دې حديث کې د ,,حَمَلتُ عَلْي فَرَسٍ,, څخه مکمل آس صَدَقَه مراد اَخستې ده .
[۱۴۹۳](۴) په قَابِلِ تقسيم شِيَانُو کي هِبَه جواز نَه لري مګر دا چي دحقوق څخه فارغ سوي وي او تقسيم سوي وي .
تشريح : مخته راروانِ ځومسئلو مَدَار پردې دئ چي مَوهُوبٌ لَـهُ دهبې پرشِـي بانـدي مکمله قبضه وکي نوبيا دده مِلکِيّت ګرزي که نَه نـو نَـه.او دمکمـل قبضـه کولـو لپـاره قاعده داده چي که چيري هغه شئ مُشتَرَک وي او تقسيم کېدلائي سي نو بايدهغه تقسيم سوئ وي.اودبَل چاد دَين اوحقوق څخه به فارغ وي نو بيا پرهغه شِي باندي دمَوهُوبٌ لَهُ قبضه مکمله شمېرل کيږي.ځکه خو مصنف وفرمائل چي کـوم شـئ تقسـيم کېـدلائي سي دهغه شِي هِبَه جواز نَه لري.مګر دا چي دحقوق څخه به فارغ وي او تقسيم سـوئ به وي .
وجه : (۱) ددې دليل دا اَثَر دئ کَتَبَ عُمَرُ بِنِ عَبدِالعَزِيزِ اَنّهُ لاَيَجُـوزُ مِـنَ النّحـلِ اِلاّ مَـا عَـزَلَ وَ اَفـرَدَ وَ اَعلَـمَ (الـف) (مصـنف عبـدالرزاق.باب النحـل ج۹ص۱۰۴نمبـر ۱۶۵۱۴) په دې اَثَرکي دئ چي ,,نَحل,, يعني هِبَه ترهغه وخته جواز نَه لـري ترڅـو چي هغه ئې جلاکړې نَه وي.او دپېژندلو لپـاره نِشـان پـر لګـولئ نَـه وي (۲) عَـن اِبـنِ شِبرِمَةَ قَالَ اِن لَم يَجزِ کُلّ وَاحِدٍ مِّنهمَـا مَـا وَهَـبَ لَـهُ صَـاحِبُهُ فَلَيسَ بِشَـيئٍ (ب) (مصـنف عبدالرزاق.باب حيازة ماوهب احدهما لصاحبه ج۹ص۱۱۶نمبر۱۶۵۷۰) په دې اَثَرکي هـم دغه دئ چي که شَئِ مَوهُوب مُحَوّز نَه کړئ نو قبضه نَه ده (۳) په سنن بيهقي

حاشيه : (الف) حضرت عُمَربن عبدالعزيز وليکل چي هِبَه جواز نَه لري مګر دا چـي هغـه جلاکړي اوعلْيحدئې کړي او د پېژندلولپاره نِشَان پر ولګوي (ب) اِبنِ شِبرِمَه وويل چي هرڅَه ئې هِبَه کړل او د نـورو څخـه جلا نَـه کړل نوهيڅ شئ نَه دئ يعني هِبَه نَه صحيح کيږي .

[۱۴۹۴](۵) وَهِبَةُ المُشَاعِ فِيمَا لاَ يُقسَمُ جَائِزَةٌ .

کي دحضرت عُمَربن خَطّـاب دا قـول راغلـئ دئ لاَ نَحلَـةَ يَجُوزُهَـا اَلوَلَـدُ دُونَ الوَالِـدِ (سنن للبيهقي.بـاب يقـبض للطفـل ابـوه.ج۶ص۲۸۲نمبـر۱۱۹۵۳) ددې څخـه دا معلـوم سـوچي ترهغه وخته پوري هِبَه نَه ده ترڅوچي دا دحقوق څخه جلا کړې نَه وي .
فائده : د امام شافعي په نيز دادئ چي که شَئِ مَوهُوب دخپلي حصّي څخه جلا نَه کړي او تقسيم ئې نَه کړي خو بيا هم دمَوهُوبٌ لَهُ مِلکِيّت ګرزي.

وجه : (١) دده دليل دا حديث دئ وَقَد وَهَبَ النَّبِيّ وَ اَصحَابُهُ لِهَوَازِنَ مَاغَنِمُوا مِنهُم وَهُوَ غَيرُ مَقسُومٍ (الف) (بخاري شريف.باب الهبة المقبوضة وغيرالمقبوضة والمقسومة وغيرالمقسومة ص٣٥٤نمبر٢٦٠٣) چي د هَوَازِن قبيلې څَه خلک اَصحَابَانُو قيدکړي ؤُ او دهغوځخه مَالِ غَنِيمَت تر لاَسَ کړئ ؤُ. بيائې هغه ټوله و هَوَازِن قبيله ته بېرته وَاپَس ورکړئ.حالانکه د وَاپَس کولو پرمَحَال غَنِيمَت او قَيدِيَان مُشتَرَک ؤُ.ددې څخه دا معلوم سوچي تقسيم سوئ نَه وي هغه مَال هم هِبَه کولائي سي (٢) په حديث کي دئ عَن سَهلِ بِنِ سَعدٍ اَنّ رَسُولَ اللهِ اُتِيَ بِشَرَابٍ وَعَن يَمِينِهِ غُلاَمٌ وَعَن يَسَارِهِ اَشيَاخٌ فَقَالَ لِلغُلاَمِ أتَأذَنُ لِي اَن اَعطِيَ هٰؤلآءِ؟ فَقَالَ الغُلاَمُ لاَ وَاللهِ لاَ أُثِرُ بِنَصِيبِي مِنکَ اَحَدًا فَتَلّهُ فِي يَدِهِ (ب) (بخاري شريف.باب الهبة المقبوضة وغيرالمقبوضة والمقسومة وغيرالمقسومة ص٣٥٤نمبر٢٦٠٥) په دې حديث کي شَرَاب او اُوبَه تقسيم سوي نَه وې خو دهغه باوجود وټولو ته هِبه کېدلي.ددې څخه دا معلوم سوچي قَابِل دتقسيم شئ هم چي تقسيم سوئ نَه وي خوبيا هم هِبَه کولائي سي .

[١٤٩٤](٥) او دمُشتَرَک شِي هِبَه چي نَه سي تقسيم کېدلائي جائز ده .

[١٤٩٥](٦) وَمَن وَهَبَ شِقصًا مُشَاعًا فَالهِبَةُ فَاسِدَةٌ فَاِن قَسّمَهُ وَسَلّمَهُ جَازَ .

تشريح : کوم شئ چي نَه سي تقسيم کېدلائي مثلاً حَمّام او غُسل خَانَه چي تقسيم کېدلائي نَه سي او چي تقسيم ئې کې نوبيا په هيڅ ډَوَل کار هم نَه سي رَاتلائي نو هغه بېله تقسيم کولو هِبَه کول جائز دئ .

وجه : (١) کوم شئ چي نَه سي تقسيم کېدلائي او چي تقسيم ئې کې بيا په هيڅ کار او ګټَه هم نَه وي.دهغه په هِبَه کولو کي چي دتقسيم شرط ولګوې نو هغه شئ به ضائع سي.نوځکه دهغه دقبضې لپاره چي هرڅونه اِمکان وي په هغه اندازه کوشش به کيږي.او دتقسيم شرط به نَه لګول کيږي (٢) حضرت قَتَادَه حِمَارِوَحشِي ښکار کړئ وټولو اَصحَابَانُو ته په ګډه هِبَه کړئ.تقسيم کړئ ئې نَه دئ اوحضور هغه ته جواز ورکړئ.ځکه چي دا ډېر مُشکِل کار ؤُ چي تقسيم کړئ ئې واۍ بيا ئې غُوَښَه يَخ کړې واۍ.نوځکه مُشتَرَکَه هِبَه ته جواز ورکړئ. دحديث ټکړه دا ده عَن عَبدِاللهِ بِنِ اَبِي قَتَادَةَ السّلَمِيّ عَن اَبِيهِ ... فَشَدّدتُ عَلْي الحِمَارِ فَعَقَرتُهُ ثُمّ جِئتُ بِهِ وَقَدمَاتَ فَوَقَعُوا فِيهِ يَأكُلُونَهُ ثُمّ اِنّهُم شَکَوا فِي اَکلِهِم اِيّاهُ وَهُم حُرُمٌ (الف) (بخاري شريف.باب من استوهب من اصحابه شيئًانمبر٢٥٧٠) په دې حديث کې وټولو اصحابانو ته په ګډه توګه د حِمَارِوَحشِي غُوښَه

حاشيه : (الف) چي څَه دهَوَازِن څخه په غنِيمَت کي ملاؤسوي ؤُ حضور او اصحابانُو هغه هِبَه کړل کوم چي تقسيم سوي نَه ؤُ (ب) حضور ته شَربَت رَاوړَل سو او دحضور پر ښِي جَانِب يَوځوان ؤُ اوپر کِڼ جَانِب باندې مَشَرَان سُپِينږيري خلک ؤُ نو ده ته وويل سو. آيا اِجَازَ ت ورکوې چي ودې خلکو ته ورکړم نو هَلَک وويل نَه. په الله دي مِي قَسَم وي چي ستا لجانب پرخپله حِصّه باندې وهيڅ چاته به ترجيح وَرنَه کړم. نو دده په لاَس کې ورکړئ .

هِبَه کړې ده.ددې ښخه معلوم سوچې کوم شئ نَه سي تقسیم کېدلائي دهغه په ګډه توګـه هِبَـه کول هم جائز دئ.مخته هم دمُشتَرَګه هِبې څوحدیثونه تېرسوي دي .

[۱۴۹۵](۶) که دمُشتَرَک شي څَه حِصّه هِبَه کړه نوهِبَـه فاسدده.بیا کـه چیـري هغـه تقسیم کړئ او سُپُرد ئې کړئ نوجائز دئ .

تشریح : د تېرسَوُو آثارُ په رُونَا کي مُشتَرَک شئ باید تقسیم کړي بیائې هِبَه کړي.

حاشیه : (الف) حضرت ابوقتاده فرمائي چي مَا پرحِمَارِ وَحشِي حمله وکړه او دهغه پښَـه مِي پرېِ کړه.بیا مِي هغه رَاوُړَئ په داسي حال کي چي دئ مَړ وُ.نواَصحَابَانُ دهغه خُـوَرَاک شـروع کـړئ بیـا هغـوددې پـه خُوَړلُوکي شکایت وکئ.ځکه چي دُوئي مُحرِمَان وُ .

[۱۴۹۶](۷) وَلَو وَهَبَ دَقِیقًا فِي حِنطَةٍ اَو دُهنًا فِي سِمسِمٍ فَالهِبَةُ فَاسِـدَةٌ فَاِن طَحَنَ وَسَلَّمَ لَم یَجزِ .

لېکن که بغیره دتقسیم کولو هِبَه کئ نوهِبَه فاسد ده.لېکن که چیري وروسته تقسیم کـړئ و مَوهُوبٌ لَهُ ته قبضه ورکړه بیا هم جواز پیدا کوي .

وجه:(۱)اصل قاعده خوداده چي دقبضې په وخت کي دهِبې شئ بایدتقسیم سوئ وي.که څَـه هم دهغه ښخه مخکي نَه وي تقسیم سوئ.لِهٰذَا چي دقبضـې پـه وخـت کـې دهِبـې شـئ تقسیم کړئ ورئې کړئبیاهم هِبَه جوازپیداکوي (۲) په اَثَرکي ددې ثبـوت سـته سَـأَلتُ اِبـنَ شِـبرِمَةَ عَنهُ فَقَالَ اِذَا سَمّي فَجَعَلَ لَهُ مِائةَ دِینَارٍ مِن مَالِهِ فَهُوَجَائِزٌ وَ اِن سَمّي ثُلُثًا اَو رُبُعًا لَم یَجزِ حَتّـي یُقَسِّمَهُ (الـف) (مصـنف عبـدالرزاق.باب الهبـات ج۹ص ۱۰۸نمبـر۱۶۵۳۱) پـه دې اَثَرکـي اِشَارَه سته چي تقسیم ئې کي نوهِبَه جواز پیدا کوي .

پام لرنه : چي دقبضې په وخت کې هم تقسیم نَه کړي نوهِبَه فاسد پاته کیږي .

لُغَت : شِقصًا : یَوَه حِصّه. مُشَاعًا : مُشتَرَک .

[۱۴۹۶](۷) که وَړَه هِبَه کړل په غَنَمُوکي یا تېل په کُنجَتُوکي نوهِبَه فاسدده.که چیري وُړَه کړه او هِبَه ئې کړل نو جواز نَه لري .

تشریح : وُړَه ئې په داسي حال کي هِبَه کړل چي هغه په غَنَمُوکي دَنَنَه دي یائې د کُنجَتُوتېـل هِبَه کړل په داسي حال کي چي هغه لا تر اُوسَه په کُنجَتُوکي دَنَنَـه دي.نـو دا هِبَـه جـواز نَـه لري.که چیري غَنَم مَیدَه کړل وُړَه ئې کړل هِبَه کړل بیا هم جواز نَه پیدا کوي یـائې کُنجَتِـي مَیدَه کړې تېل ئې ځیني وَیَستَل او هِبَه ئې کړل بیا هم جواز نَـه پیـدا کـوي.مګر کـه دُوبَـارَه وُړَه او تېل هِبَه کړل بیا صحیح دئ او دا به دُوَمَه هِبَه وي .

وجه : دلته دهبې په وخت کي وُړَه او تېل مُشتَرَک نَـه دي بلکـه مَعـدُوم دي.او دا دُوَاړَه خـو دمَیدَه کېدو وروسته وُجُود ته راغله.او دمَعدُوم شِي هِبَه خو جواز هم نَه لري نوځکه د

حاشیه : (الف) مَا د اِبنِ شِبرِمَه ښخه پوښتنه وکړه.وویل چي که معلوم کړي او دمَـال سَـل دِینَـارَ نـوهِبَـه جـائزده اوکه دَرَیَمَه یا څلورمَه معلومَه کړي نوجواز نَه لري تر هغو چي تقسیم ئې کړي .

[۱۴۹۷](۸) وَاِذَا کَانَتِ العَینُ فِي یَدِالمَوهُوبِ لَهُ مَلَکَهَا بِالهِبَـةِ وَاِن لَـم یُجَدِّد فِیهَا قَبضًا .

مَیدَه کېدو وروسته هم هِبَه جواز نَه پیدا کوي .

پام لرنه : په مسئله نمبر۵ کي دمُشتَرَک شِي هِبَه دتقسیم وروسته ځکه جواز پیدا کړئ ؤ چي هغه خو دهبې په وخت کي موجود دئ صرف تقسیم سوئ نَه دئ.او په دې موجوده مسئله کي وَړَه او تېل دهبې په وخت کي موجود هم نَه دي بلکه مَعدُوم دي.نوځکه د وَړُو او تیلُ دجوړېدو وروسته هم هبې جواز پیدا نَه کړئ .

اُصُول : دا مسئله پر دې اُصُول مُتَفَرّع ده چي دمَعدُوم شِي هِبَه نَه صحیح کیږي .

لُغَت : دَقِیقٌ : وَړَه.وُړَه. سِمسَمٌ : کُنجَتِي. طَحَنَ : مَیدَه ئې کړل .

[۱۴۹۷](۸) که هِبَه سوئ شَئ دمَوهُوبٌ لَهُ په لاَس کي وي نوهغه په هِبَه کولوسره مَالِک ګرزي که څَه هم پرهغه باندي نوې قبضه نَه وي کړې .

وجه : (۱) د اَوّلَه څخه لاَ دمَوهُوبٌ لَهُ په قبضه کي دئ.نوځکه دُوبَارَه بیا دبلي نَوِي قبضې کولوضرورت نسته.ځکه چي قبضه چي شرط دئ هغه شرط دمخکي څخه لاَ موجودسوئ دئ (۲) عبدالله بن عمرپر مضبوط وُښ سپُوروُ.هغه حضورځیني رانیوئ حضور قبضه نَه کړې چي بېرته وعبدالله بن عُمَرته هِبَه کړئ.اوعبدالله بن عُمَر ته دمکمل قبضې لپاره دوباره دنوي قبضې ضرورت پېښ نَه سو.ددې څخه دا معلوم سوچي که دهبې شَئ د اَوّلَه څخه دمَوهُوبٌ لَهُ په قبضه کي وي نو دهبې د مِلکِیّت لپاره دُوبَارَه دقبضې ضرورت نسته. په حدیث کي دئ عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ کُنّا مَعَ النّبِيِّﷺ فِي سَفَرٍ وَکُنتُ عَلْي بِکرٍ صَعبٍ فَقَالَ النّبِيّﷺ لِعُمَرَ بِعنِیهِ فَابتَاعَهُ فَقَالَ النّبِيّﷺ هُوَ لَکَ یَاعَبدَاللهِ (الف) (بخاري شریف.باب اذا وهب بعیرا الرجل وهوراکبه فهوجائزٌص۳۵۶ نمبر۲۶۱۱)

[۱۴۹۸](۹) وَاِذَا وَهَبَ الاَبُ لِاِبنِهِ الصّغِیرِ هِبَةً مَلَکَهَا الاِبنُ بِالعَقدِ وَاِن لَم یُوجَد فِیهَا قَبضًا .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چي دمخکي څخه قبضه وي نودوباره بیا د قبضې ضرورت نسته .

[۱۴۹۸](۹) که پُلاَر وخپل کِشنِي زُوئ ته یَوشَئ هِبَه کړئ نوزُوئ په عَقدکولو سره دهغه مَالِک ګرزي که څَه هم پرهغه باندي قبضه موجود نَه سي .

تشریح : پُلاَر وخپل کِشنِي زُوئ ته یَوشَئ هِبَه کړئ نوچي څَه رنګه عَقد وکي سَم دَستِي دا کِشنَئ زُوئ دهغه مَالِک ګرزي.پُلاَرته جلا دبَلِي قبضې ضرورت نَستَه .

وجه : دکِشنِي بَچِي لجانب خوبه ببرته پُلاَر قبضه کوي.ځکه چي دبَچِي وَلِي خو هغه دئ.اودمخکي څخه لا دهغه شئ دپُلاَرپه قبضه کي موجوددئ نوځکه دُوبَارَه دقبضې ضرورت نَستَه.لِهْذَا چي څَه رنګه عَقدِهِبَه وکي سَم دَستِي بَچَئ دهغه شَئِ مَوهُوب مَالِک

حاشیه : (الف) حضرت ابن عُمَرفرمائي چي موږدحضورسره په یوه سفرکي وُ.او زَه پریوه مضبوط وُښ سپُور وَم.حضور وعُمَرته وویل دا پر مَا خرڅ کَه.نوحضرت عُمَر پرخرڅ کئ.بیا حضور وفرمائل ائ عبدالله دا وُښ ستا دئ .

ګرزي (۲) اُوس مخته حديث تيرسوچي شَئِ مَوهُوب دمَوهُوبٌ لَهُ په قبضه كي وي نودوباره دقبضې ضرورت نسته.او دبَچِي لجانب پُلاَر دهبې پرشِي باندي دقبضې كولووَلِي دئ ددې دليل دا اَثَردئ عَن عُثمَانَ بِنِ عَفّانَ اَنّهُ قَالَ مَن نَحَلَ وَلَدًا لَهُ صَغِيرًا لَم يَبلُغ اَن يَحُوزَ نَحلَهُ فَاَعلَنَ بِهَا وَاَشهَدَ عَلَيهَا فَهِيَ جَائِزَةٌ وَاَنّ وَلِيّهَا اَبُوهُ . په يوبَل رِوَايَت كي راغلي دي.فَشَكْي ذَالِكَ اِلْي عُثمَانَ فَرَأيْ اَنّ الوَالِدَيَحُوزُلِوَلَدِهِ اِذَا كَانُواصِغَارًا(الف) (سنن للبيهقي.باب يقبض للطفل ابوه.ج۶ ص۲۷۲نمبر۱۱۹۵۲/مصنف عبدالرزاق.باب النحل ج۹ص۱۳۰ نمبر ۱۶۵۱۱/ ۱۶۵۱۰) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي دكِشنِي بَچِي لپاره به پُلاَرقبضه كوي.او چي شَئ دمخكي څخه لا دده په قبضه كي دئ نوځكه دنَوِي قبضې ضرورت نَستَه.لِهْذَا چي څَه رنګه عَقدِهِبَه وكي كِشنَئ بچئ به دهبې مَالِک سي .

حاشيه : (الف) حضرت عُثمَان بن عَفان وفرمائل كوم چاچي ونابالغ كِشنِي بچي ته هِبَه وركړه نودهغه پرهِبَه دي قبضه وكي.كه چيري دهغه اِعلاَن وكئ او پرهغه ئې ګواه جوړكئ نوجائزدئ.او دكِشنِي وَلِي دهغه پُلاَردئ.وحضرت عُثمَان ته دهغه شكايت وكئ نوهغه مشوره وركړه چي پُلاَر دي دخپل بَچِي لپاره قبضه وكي كه چيري هغه كِشنِيَان وي .

[۱۴۹۹](۱۰) فَاِن وَهَبَ لَهُ اَجنَبِيٌ هِبَةً تَمّت بِقَبضِ الاَبِ [۱۵۰۰](۱۱) وَاِذَاوُهِبَ لِلِيَتِيمِ هِبَةٌ فَقَبَضَهَا لَهُ وَلِيّهُ جَازَ .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چي دكِشنِي بچي لجانب به پُلاَر يا دبچي وَلِي قبضه كوي .

پام لرنه : دبچي وَلِي يا وَصِي وي او هغه ودې بچي ته يَوشَئ هبه كول غُوَارِي نو دپُلاَر په شان دعَقدِهِبې كولو سره سَم دَستِي بچئ دهغه مَالِک ګرزي.دوباره د قبضې كولوضرورت نَستَه ځكه چي هغه شَئ دوَلِي يا دوَصِي په لاَس كي دئ .

[۱۴۹۹](۱۰) اوكه اَجنَبِي وبَچِي ته شئ هِبَه كئ نوهِبَه به مكمله سي دپُلاَردقبضې كولو څخه .

تشريح : يوه اَجنَبِي وبچي ته شَئ هِبَه كړئ او بچئ دپُلاَر په وِلاَيَت كي دئ نوپُلاَر به دبچي لجانب قبضه كوي او دهغه په قبضه سره بچئ ددې شِي مَالِک ګرزي. و بچي ته دجلا قبضې كولوضرورت نَستَه .

وجه : مخته اَثَرتيرسو چي دبچي لجانب څخه به پُلاَرقبضه كوي فَرَأيْ اَنّ الوَالِدَ يَحُوزُ لِوَلَدِهِ اِذَا كَانُوا صِغَارًا (سنن للبيهقي.ج۶ ص۲۸۲ نمبر۱۱۹۵۴).

[۱۵۰۰](۱۱)كه ويَتِيم ته يوشَئ هِبَه كړل سو اودهغه وَلِي هغه قبضه كئ نوجائزدئ.

وجه : (۱) يتيم دكِشنِي وَالِي لكبله قبضه نَه سي كولائي او پُلاَرئې نَستَه چي قبضه وكي.نوځكه ديتيم چي كوم وَلِي ياوَصِي دئ دهغه قبضه ديَتِيم دمِلكِيّت لپاره كفايت كوي (۲) مخته اَثَرتېرسوئ دئ اَنّ وَلِيّهَا اَبُوهُ (سنن للبيهقي.باب يقبض للطفل ابوه ج۶ص۲۸۲نمبر۱۱۹۵۲) ددې څخه معلوم سوچي كوم دده وَلِي دئ دهغه قبضه دهبې دمكمل كېدو لپاره كافي ده .

[۱۵۰۱](۱۲) فَـاِن كَـانَ فِـي حِجـرِ اُمِّـهِ فَقَبضُـهَا لَـهُ جَـائِزٌ

[۱۵۰۲](۱۳)وَكَذَالِكَ اِن كَانَ فِي حِجرِاَجنَبِيٍّ يُرَبِّيهِ فَقَبضُهُ لَهُ جَائِزٌ

[۱۵۰۳](۱۴) وَاِن قَبَضَ الصَّبِيّ الهِبَةَ بِنَفسِهِ وَهُوَ يَعقِلُ جَازَ .

[۱۵۰۱](۱۲) كه يَتِيم د مُور په كَفَالَت كي وي نو د مُور قبضه ديتيم لپاره جائز ده .

تشريح : يتيم دمُور په نِگرَانِي او كَفَالَت كي دئ نوديتيم پر هِبَه باندي دمور قبضه كول دمِلكِيّت لپاره كافي ده .

وجه : مخته قاعده تېره سوې ده چي دبَچي چي كوم وَلِي دئ دهغه قبضه كول كافي ده.دلته مور وَلِيّه ده ځكه دهغې قبضه كول كافي ده .

[۱۵۰۲](۱۳) دغه رنګه كه يَتِيم داَجنَبِي سړي په رُوزَنَه كي وي چي دهغه پَالَنَه كوي نودهغه قبضه ديَتِيم لپاره جائز ده .

وجه : اَجنَبِي خو وَلِي جوړسو نوځكه چي پرهِبَه باندي داَجنَبِي وَلِي قبضه راسي نوديَتِيم مِلكِيّت به مكمل سي .

اُصُول : دا تولي مسئلي پردې اُصُول دي چي كوم څوک د كِشنِي وَلِي وي دهغه دقبضې څخه هِبَه مكمله ګرزي .

[۱۵۰۳](۱۴) او كه كِشنِي په خپله پرهِبَه قبضه وكړه اودئ سمجداره وي نوجائز دئ .

تشريح : بَچَئ سمجداره دئ پرهِبَه ئې قبضه وكړه نوجائزدئ اوبَچِئ مَالِک ګرزي .

وجه : (۱) دسمجدارئ په وجه دئ دخريد او فروخت وكيل جوړولائي سي نوځكه پرهِبَه باندي دده قبضه هم دمِلكِيّت لپاره كافي ده (۲) دا خو دده دفائدې لپاره دئ نوځكه دخپلي فائدې كار كولائي سي (۳) په حديث كي راغلي دي چي سمجداره بَچِي وحضور ته وويل زَه ستا پَس خُورَدَه وهيڅ چاته نَه سم وركولائي او حضور وهغه ته خپله پَس خُورَدَه هِبَه كړه اوهغه په خپله قبضه كړه دهغه مَالِک سو.ددې څخه دا معلوم سوچي سمجداره بَچِئ پرهِبَه باندي په خپله قبضه كولائي سي. د حديث ټُكړَه دا ده عَن سَهلِ بِنِ سَعدٍ ... فَقَالَ مَاكُنتُ لأُوثِرَ بِنَصِيبِي مِنکَ يَارَسُولَ اللهِ اَحَدًا فَتَلّهُ فِي

[۱۵۰۴](۱۵) وَاِن وَهَبَ اِثنَانِ مِن وَاحِدٍ دَارًا جَازَ [۱۵۰۵](۱۶) وَاِن وَهَبَ وَاحِدٌ مِن اِثنَينِ دَارًا لَم تَصِحّ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالاَ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالْي تَصِحّ .

يَدِهِ (الف) (بخاري شريف.باب هبة الواحدللجماعة ص۳۵۴ نمبر۲۶۰۲) مكمل حديث مخته تېرسوئ دئ .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول ده چي سمجداره بَچِي ته هم دقبضې حَق حاصل دئ .

[۱۵۰۴](۱۵) كه دُوُ كسانو ويوه سړي ته يَومكان هِبَه كړئ نو جائز دئ .

وجه : دُوُ کسانوویوه سړي ته يَومکان هِبَه کړئ نو په دي کي شِرکَت او شُيُوع نَه راغلئ کوم چي دهبې لپاره مَانِع دئ نوځکه دا هِبَه جائز ده .

[١٥٠٥](١۶) او که يَوَه سړي و دُوُ کسانو ته يَومکان هِبَه کړئ نو د امام ابوحنيفه په نېز نَه صحيح کيږي. او صاحبين فرمائي چي صحيح ده .

تشريح : د يَوَه سړي يَو مکان دئ.ده و دُوُ کسانُو ته په ګډه نيمـئ نيمـئ هِبَه کړئ نو جواز نَه لري .

وجه : (١) و دُوُ کسانو ته يَو مکان هِبَه کړئ نو د دُوئي دواړو ترمينځ شُيُوع او اِشتِرَاک راغلئ.او مخته تېرسوي دي چي دشُيُوع سره هِبَه نَه صحيح کيږي.نوځکه دا هِبَه نَه صحيح کيږي (٢) په اَثَرکي راغلي دي کَتَبَ عُمَرُ بِنِ عَبدِالعَزِيزِ اَنّهُ لاَيَجُوزُ مِنَ النّحلِ اِلاّ مَا عَزَلَ وَ اَفرَدَ وَ اَعلَمَ (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب النحل ج٩ ص١٠۴نمبر١۶۵١۴) (٣) سَألتُ اِبنَ شِبرِمَةَ عَنهُ فَقَالَ اِذَا سَمّي فَجَعَلَ لَهُ مِائَةَ دِينَارٍ مِن مَالِهِ فَهُوَ جَائِزٌ وَاِن سَمّي ثُلُثاً او رُبُعًا لَم يَجزِ حَتّي يُقَسِّمَهُ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب الهبات ج٩ص١٠٨نمبر١۶۵٣١) ددې دُوَاړُو آثارُڅخه معلوم سوچي مُشتَرَک شَئ هِبَه کول جواز نَه لري.او دلته خو و دُوُ کسانو ته په ګډه توګه يَومکان هِبَه کړئ د ئ نوځکه جواز نَه لري .

فائده : صاحبين فرمائي چي يَوسړئ و دُوُ کسانو ته يَومکان هِبَه کړي داجائزدئ .

وجه : (١) دهبې په وخت کي يَوجائيداد دئ او يَوعَقددئ.البته تقسيم او اِشتِرَاک خو دهبې وروسته واقع سوي دي ځکه هِبَه صحيح ده (٢) په حديثوکي ددې ثبوت سته وَقَالَت اَسمَآءُ لِلقَاسِمِ بِنِ مُحَمّدٍ وَابنِ اَبِي عَتِيقَ وَرِثتُ عَن اُختِي عَائِشَةَ بِالغَابَةِ وَقَد اَعطَانِي بِهِ مُعَاوِيَةُ مِائَةَ اَلفٍ فَهُوَ لَکُمَا (ب) (بخاري شريف.باب هبة الواحد للجماعة ص٣۵۴نمبر٢۶٠٢) په دې اَثَرکي حضرت اَسمَآء يَو لَک (١٠٠٠٠٠) و دُوُ کسانُو ته په ګډه توګه هِبَه کړل (٣) مخته حديث تيرسو چي حضور خپله پَس خُورِدَه په ګډه توګه دمَشَرَانُ او ځوانانو ترمينځ هِبَه کړه او ځوان خپله حِصّه وبَل چاته وَرنَه کړه. حديث دا دئ عَن سَهلِ بِنِ سَعدٍ اَنّ النّبِيّ اُتِيَ بِشَرَابٍ فَشَرِبَ وَعَن يَمِينِهِ غُلاَمٌ وَعَن يَسَارِهِ الاَشيَاخُ فَقَالَ لِلغُلاَمِ اِن اَذِنتَ لِي اَعطَيتُ هٰؤلاَءِ فَقَالَ مَا کُنتُ لاُوثِرَ بِنَصِيبِي مِنکَ يَارَسُولَ اللهِ اَحَدًا فَتَلّهُ فِي يَدِهِ (ج) (بخاري شريف. باب هبة الواحدللجماعة ص٣۵۴نمبر٢۶٠٢) په دې حديث کې په ګډه توګه شَربَت هِبَه کړئ دئ.ددې څخه معلوم سو چي په ګډه توګه هِبَه کول جائزدئ (۴) حضرت قَتَادَه حِمَارِوَحشِي ښکار کړئ او په ګډه توګه ئې وټولو اَصحَابَانُو ته هِبَه کړئ چي ثبوت ئې په حديث کي سته (بخاري شريف.نمبر٢۵٧٠)

اُصُول : دصاحبينُ په نېز دمُشتَرَک شِي دهبې ګُنجَائش سته .

حاشيه : (الف) هغه ځوان وويل ستا لجانبه پر خپله حِصّه وبَل چاته ترجيح نَه ورکوم ائ د الله رَسُولَ! نو دده په لاَس ئې ورکړه (ب) هِبَه جواز نَه لري مګر چي جلاکړې وي علْيحيده کړې وي او نِشَان ئې پرلګولئ وي .

حاشیه : (الف) مَا د اِبنِ شِبرِمَه څخه پوښتنه وکړه.وویل چي که معلوم کړي دا رنګه چي د مَال سَل دِینَارَ هِبَه کوي نوجائزده اوکه مُتَعَیّن کړي دارنګه چي دَرَیمَه یا څلورمَه ده نوجواز نَه لري تر هغو چي تقسیم ئې کړي (ب) حضرت اَسمَآء وقاسم بن محمد او اِبنِ اَبِي عَتِیق ته وویل چي زَه دخپلي خُور عائشي لخوا پـه مقام غَابَـه کـي وَارِث سوې یَم. او حضرت مُعَاوِیَه وماته یَو لَک دِرهَم راکړي دي دا ستاسو د دُوَاړُو دي (ج) حضور ته شَربَت رَاوړَل سو او دحضور پر ښِي جَانِب یَوځوان وُ اوپر کِڼ جَانِب باندې مَشَرَان سُپینږیري خلګ وُ نو ته وویل سو. آیا اِجَازَ ت ورکوې چي ودې خلګو ته ورکړم نو هَلَک وویل نَه. په الله دي مِي قَسَم وي چي ستا لجانب پرخپله حِصّه باندي وهیڅ چاته به ترجیح وَرنَه کړم. نو دده په لاَس کې ورکړئ .

[۱۵۰۶](۱۷) وَ اِذَا وَهَبَ لاَجنَبِيٍّ هِبَةً فَلَهُ الرّجُوعُ فِیهَا [۱۵۰۷](۱۸) اِلاّ اَن یُعَوّضَهُ عَنهَا .

[۱۵۰۶](۱۷) که و اَجنَبِي ته یَوَه هِبَه ورکړه نوبېرته اَخستَل جائز دئ .

تشریح : ویَو اَجنَبِي ته یَو شَئ هِبَه کړئ نوهِبَه کونکئ حق لري چي هغه شئ وَاپَس واخلي.لېکن که هغه شئ هلاک سي نوبیائې بېرته نَه سي اخستلائي.یا دهغه شِي یَوَه بدله ورلره ورکړي نو وَاپَس ئې نَه سي اخستلائي.یا هغه سړي عزیز او رشته دار وي نو په دې صورتوکې وَاپَس نَه سي اخستلائي .

وجه : په حدیث کي ددې ثبوت سته عَن اَبِي هُرَیرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ اَلرّجُلُ اَحَقّ بِهِبَتِهِ مَالَم یُثِب مِنهَا (الف) (دارقطني کتاب البیوع ج۳ص۳۹نمبر۲۹۵۱/ سنن للبیهقي.باب المکافاة في الهبة ج۶ص۳۰۰نمبر۱۲۰۲۴) ددې حدیث څخه معلوم سوچي تر څوپوري دهبې بدله نَه وي ورکول سوې ترهغه وخته پورې وَاهِب وَاپَس اخستلائي سي.البته هِبَه وَاپَس اخستل مکروه ده.په حدیث کي دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ عَنِ النّبِيِّ قَالَ اَلعَائِدُ فِي هِبَتِهِ کَالعَائِدُ فِي قَیئِهِ (ب) (ابوداؤدشریف.باب الرجوع في الهبة ج۲ص۱۴۳نمبر۳۵۳۸/ترمذي شریف.باب ماجآءفي کراهیة الرجوع في الهبة ص۲۴۲نمبر۱۲۹۸) ددې حدیث څخه معلوم سوچي هِبَه خو وَاپَس اخستلائي سي لېکن وَاپَس اخستل مکروه دئ .

[۱۵۰۷](۱۸) مګر دا چي دهبې بدله ورکړي .

تشریح : چي دهبې څَه بدله ورکړي نو وَاهِب بیا دا وَاپَس نَه سي اخستلائي .

وجه : (۱) دبدلې ورکولو وروسته دا دبَیعِ صورت سو.اوچي بدله ملاؤسوه نوبیا هِبَه څَه رنګه بېرته اَخلِي ؟ (۲) مخته حدیث تیرسو چي,,مَالَم یُثِب مِنهَا,,چي ترڅَه

حاشیه : (الف) حضور وفرمائل اِنسَان دهبې زِیَات حقداره دئ ترڅوچي دهغه بَدلَه ئې نَه وي ورکړې (ب) حضور وفرمائل هِبَه وَاپَس اَخستُونکئ دارنګه دئ لکه بَاګئ (قئ) چي بېرته وَخُورِي .

[۱۵۰۸](۱۹) اَویَزِید زِیَادَةً مُتّصِلَةً .

وخته بدله وَرنَه کړي ترهغه وخته پوري هِبَه وَاپَس اخستلائي سي.ددې مطلب دا سوچي دبدلې اَخستَلُو وروسته وَاهِب هِبَه وَاپَس نَه سي اخستلائي .

فائده : امامِ شافعي فرمائي چي مَوهُوبٌ لَهُ بدله ورنَه کړي هم وَاهِب ئې وَاپَس نَه سي اخستلائي .

وجه : دده دليل دا حديث دئ عَن اِبنِ عُمَرَ وَاِبنِ عَبّاسٍ عَنِ النّبِيّﷺ قَالَ لاَيَحِلّ لِرَجُلٍ اَن يُعطِيَ عَطِيّةً اَو يَهِبَ هِبَةً فَيَرجِعَ فِيهَا اِلوَالِدُ فِيمَا يُعطِيَ وَلَدَهُ وَمَثَلُ الّذِي يُعطِي العَطِيّةَ ثُمّ يَرجِعُ فِيهَا كَمَثَلِ الكَلبِ يَأ كُلُ فَاِذَا شَبِعَ قَآ ءَ ثُمّ عَادَ فِي قَيئِهِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب الرجوع في الهبة ص١٤٣نمبر٣٥٣٩/ترمذي شريف.باب ماجآءفي كراهية الرجوع في الهبة ص٢٤٢نمبر١٢٩٨) ددې حديث څخه معلوم سوچي هِبَه وَاپَس اخستل حلاله نَه ده.صرف د وَالِديعني پُلاَر لپاره حلاله ده چي دئ وخپل بَچِي ته ورکړې هِبَه وَاپَس اخستلائي سي .

[١٥٠٨](١٩) يا په هغه کي داسي زِيَادَتِي وکي چي مُتّصِل وي .

تشريح : دهبې په شِي کي يو دارنګه زِيَاتُوب وسي چي دهبې سره مُتّصِل وي نو اُوس وَاهِب دهبې شَئ وَاپَس نَه سي اخستلائي .

وجه : (١) کوم شَئ چي زِيَات سوئ دئ چي هغه ځيني جلا کي وَاپَس ئې نَه سي اخستلائي.ځکه چي هغه خو دهبې دشِي سره مُتّصِل دئ.او دهغه سره ئې نَه سي وَاپَس کولائي.ځکه چي هغه خو د وَاهِب شَئ نَه دئ.هغه خو دمَوهُوبٌ لَهُ سره زِيَات سوئ دئ (٢) په اَثَرکي راغلي دي عَن طَاوُسَ عَنِ الشّعَبِيّ قَالاَ فِي الهِبَةِ اِذَا اِستَهلَكَت فَلاَ رُجُوعَ مِنهَا (الف) (مصنف عبدالرزاق.نمبر١٦٥٥٠/مصنف ابن ابي شيبة ٢١١ في الرجل يهب الهبة فيريد ان يرجع فيها ج٥ ص٤٢٥نمبر ٢١٧٠٢) او د اِستِهلاَک تفسيردادئ عَن سُفيَانَ قَالَ تَفسِيرُاِستِهلاَكِ الهِبَةِ اَن يَبِيعَهَا اَو يَهِبَهَا اَو يَأ كُلَهَا اَو يَخرُجُ مِن يَدِهِ اِلْي غَيرِهِ فَهْذَا اِستِهلاَكٌ. قَالَ سُفيَانُ وَكَانَ بَعضُ مَن يُشَارُ اِلَيهِ يَقُولُ اِذَا تَغَيّرَت اَو اُحدِثَ فِيهَا حَدثًافَلاَ رُجُوعَ فِيهَا مِن نَحوِ اَرضٍ وَهَبَت لَهُ فَزَرَعَ فِيهَا زَرعًا اَو ثَوبًا صَبَغَهُ اَو دَارًا بَنَاهَا اَو جَارِيَةً وَلَدَت اَو بَهِيمَةً وَلَدَت(ب)(مصنف عبدالرزاق.باب الهبة اذا استهلكت ج٩ص١١٢نمبر ١٦٥٥١)په دې اَثَرکي دئ چي دهبې شَئ هلاک سي بيائې دهلاکت تفصيل بيان کړئ دئ چي دهبې شَئ خرخ کړي يائې هِبَه کړي يائې وَخُورِي يادهبې په شِي کي يَوبَدلُون راسي.اودبَدلُون په تفسيرکې وفرمائل چي مثلاً په مځکه کي کَښت وَکَړِي يا کپړه ورنګوي يا په مځکه کي مکان جوړکړي يا مينځه بَچَئ وَزيږَوي يا حيوان بَچَئ وَزِيږَوِي نو دا ټوله شيان د هبې په شِي کي دبَدلُون صورتونه دي او زِيَاتُوب دئ.نوځکه که دهبې شَئ هلاک سي ياپه هغه کي بَدلُون راسي ياپه هغه کي مُتّصِل يوه زِيَادَتِي راسي نو وَاهِب بيا دا وَاپَس نَه سي

[١٥٠٩](٢٠) اَو يَمُوتَ اَحَدُ المُتَعَاقِدَينِ .

حاشيه : (الف) حضورﷺ وفرمائل هيڅ چاته حلال نَه دئ چي عَطِيّه ورکړي يا هِبَه ورکړی بېرته هغه وَاپَس وَاخلِي.مګر څَه چي وخپل زُوئ ته ورکړي يعني هغه وَاپَس اَخستَلاَئي سي.او دهغه سړي مثال داسي دئ چي عَطِيّه ورکړي بېرته وَاخلِي لکه سپَئ چي خُورَاک وکي.بيا چي څَه وخت ئې نَس ډک سي نو قَئ ئې کړي بيائې بېرته څَټِي .

اَخَستَلاَئي.ځکه چي په اَثَرکي تېرسوي دي چي هِبَه هلاکه سدي نوهغه وَاپَس نَه سي اخستلائي .

[۱۵۰۹](۲۰) يا دمُتَعَاقِدَينُ څخه يَو وَفَات سي .

تشريح : يعني هِبَه کونکئ يا د مَوهُوبٌ لَهُ څخه يو مَړسي نووَاهِب وَاپَس هِبَه نَه سي اخستلائي .

حاشيه : (الف) دحضرت شَعَبِي څخه دهبې په اَړَه نقل سوئ دئ چي هغه هلاکه سي نومَوهُوبٌ لَهُ هغه وَاپَس نَه سي اَخَستَلاَئي (ب) حضرت سُفيَان دهلاکت په تفسيرکي وويل دا چي دهبې شَئ خرڅ کړي.ياهغه هِبَه کړي.ياهغه وَخُوري.يادده دلاَس څخه وَوزِي دبَل لاَس ته وُلاَړسي نو دا اِستِهلاَک دئ.حضرت سُفيان وفرمائل هغه بعضُ خلګوچي اِشَارَه ورته کيږي هغوفرمائل که هِبَه بدله سي يا په هغه کي نَوَئ شَئ پيدا سي نوهِبَه وَاپَس نَه سي اَخَستَلاَئي.مثلاً مځکه هِبَه کړې وه په هغه کي ګَبنت وَګَارَئ.يائي کپړه هِبَه کړې وه هغه ته رَنګ ورکړئ.يائي پرمځکه مکان تَعمِيرکړئ.يا مينځي بَچَئ وَزيږَاوَئ.يا حيوان بَچَئ وَزيږَاوَئ (نو په دې هِبَه کي ګواکه نوئ شَئ پيدا سو) .

[۱۵۱۰](۲۱) اَو يَخرُجَ الهِبَةُ مِن مِلکِ المَوهُوبِ لَهُ .

وجه : (۱) که مَوهُوبٌ لَهُ وفات سونو دهبې شئ دده د وَارِثَانُ مِلکِيّت سو.او مِلکِيّت ونورو ته مُنتَقِل سو.او مختته تيرسوچي په هِبَه کي مِلکِيّت بَدَل سي نوهِبَه وَاپَس نَه سي اخستلائي.لِهٰذَا چي مَوهُوبٌ لَهُ مَړ سي نو وَاهِب دهبې شَئ وَاپَس نَه سي اخستلائي. او که وَاهِب مړ سي نو اُوس به د وَاهِب وَارِثَان هِبَه وَاپَس کوي.او وَارِثَان خو د عَقدِهبې څخه اَجنَبِيَان دي.دُوئي خو و مَوهُوبٌ لَهُ ته نَه وُ ورکړئ چي ببرته ځيني اَخلِي.نوځکه دُوئي ئې وَاپَس نَه سي اَخَستَلاَئي (۲) په اَثَرکي هم ددې تذکره موجود ده عَن عُمَرَ مِثلَهُ يَعنِي مِثلَ حَدِيثِهِ الّذِي ذَکَرنَافِي الفَصلِ الّذِي قَبلَ هٰذَا الفَصلِ وَزَادَ يَستَهلِکَهَا اَو يَمُوتَ اَحَدُهُمَا (الف) (شرح معاني الأثار (طحاوي) ج۲ص۲۲۳) په دې اَثَرکي دئ چي د دُوَاړُوڅخه يَو وفات سي نوهِبَه وَاپَس نَه سي اَخَستَلاَئي .

[۱۵۱۰](۲۱) ياهِبَه دمَوهُوبٌ لَه دمِلکِيّت څخه وَوزِي .

تشريح : چي هِبَه دمَوهُوبٌ لَهُ دمِلکِيّت څخه وَوزِي نوهِبَه وَاپَس نَه سي اخستلائي .

وجه: (۱) دمَوهُوبٌ لَهُ سره هِبَه پاته نَه سوه نو چِش به وَاپَس کوي؟ (۲) مختته اَثَر تېرسوئ دئ عَن طَاوُسَ عَنِ الشّعَبِيِّ قَالاَ فِي الهِبَةِ اِذَا اِستَهلَکَت فَلاَ رُجُوعَ مِنهَا (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب الهبة اذا استهلکت نمبر ۱۶۵۵۰/مصنف ابن ابي شيبة ۲۱۱ في الرجل يهب الهبة فيريد ان يرجع فيها ج۵ ص۴۲۵نمبر ۲۱۷۰۲) په دې اَثَرکي دئ چي هِبَه هلاکه سي نو وَاپَس ئې نَه سي اَخَستَلاَئي.اوچي د مَوهُوبٌ لَهُ دمِلکِيّت څخه وَوَاتَئ نو دغه خو هلاکت دئ.هسي خو هم دهلاکت تفسيرتېرسوئ دئ چي دهبې شَئ ئې خرڅ کړئ.يائې هِبَه کړئ.يائې وَخُوَاړَئ بيا هم هلاکت دئ.چي دهغه لکبله هِبَه وَاپَس نَه سي اَخَستَلاَئي .

حاشيه : (الف) دحضرت عُمَرپه رِوَايَت کي دا زِيَاتُوب هم سته چي دهبې شَئ هلاک سي يا دعَاقِدَينُ څخه يو مَړ سي (ب) دحضرت طَاؤس او شَعَبِي څخه دهبې په باب نقل سوئ دئ چي که هغه هلاک سي نو هغه وَاپَس نَه سي اَخَستَلاَئي .

[١٥١١](٢٢) وَاِن وَهَبَ هِبَةً لِذِي رَحِمِ مَحرَمٍ مِنهُ فَلاَ رُجُوعَ فِيهَا
[١٥١٢](٢٣) وَكَذَالِکَ مَاوَهَبَ اَحَدُالزّوجَينِ مِنَ الآخَرِ .

[١٥١١](٢٢) که و ذِي رَحمَ مَحرَم ته يوشَئ هِبَه کړئ بيائې هم وَاپَس نَه سي اَخَستَلاَئي .
تشريح : که وخپل ذِي رَحمَ مَحرَم رِشتَه دَار ته يوشَئ هبه کړئ بيائې هم دهغه څخه وَاپَس نَه سي اَخَستَلاَئي .
وجه : (١) ددې هبې مقصدصِلَه رَحِمي ده اوهغه حاصله سوه.نوځکه وَاپَس ئې نَه سي اَخَستَلاَئي (٢) په حديث کي دئ چي وذِي رَحِمِ مَحرَم ته شئ هِبَه کړي نوبېرته نَه سي اَخَستَلاَئي عَن سَمُرَةَ عَنِ النّبِيِّ قَالَ اِذَا كَانَتِ الهِبَةُلِذِي رَحِمٍ لَم يَرجِع فِيهَا (الف) (دارقُطني.کتاب البيوع ص٣٩نمبر٢٩٥٥/سنن للبيهقي.باب المكافات في الهبة ج٦ص٣٠٠نمبر١٢٠٢٦) ددې حديث څخه معلوم سوچي وذِي رَحِمِ مَحرَم ته هِبَه ورکړي نووَاپَس ئې نَه سي اَخَستَلاَئي .
[١٥١٢](٢٣) دغه رنګه که مَيني او مېړه يَو وبَل ته هِبَه ورکړه .
تشريح : که مَيني ومېړه ته يا مېړه ومَيني هِبَه ورکړه نو يو ئې هم بېرته وَاپَس نَه سي اَخَستَلاَئي .
وجه : (١) ددې هبې مقصدصِلَه رَحِمي ده اوهغه حاصله سوه. نوځکه وَاپَس ئې نَه سي اَخَستَلاَئي (٢) په آيت کي ددې اِشَارَه سته چي که په خپله خوشحالي او رضامندي سره هِبَه کړي نو بېرته وَاپَس نَه سي اَخَستَلاَئي په آيت کي دئ وَ آ تُوا النّسَآءَ صَدُقْتِهِنّ نِحلَةً فَاِن طِبنَ لَكُم عَن شَئٍ مِنهُ نَفسًافَكُلُوهُ هَنِيئًا مَرِيئًا (ب) (آيت٤ سورة النسآء٤) په دې آيت کي دئ چي که په خوشحالي سره هِبَه کړي نو خُوَړلاَئي سي. ددې مطلب دا سوچي ښځه بېرته وَاپَس نَه سي اَخَستَلاَئي (٣) په اَثَرکي ددې فيصله سته قَالَ اِبرَاهِيمُ جَائِزَةٌ

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل که و ذِي رَحِمِ مَحرَم ته هِبَه ورکړي نو هغه بېرته نَه سي وَاپَس کولائي (ب) و ښځو ته د دُوئي مَهر په خوشحالي سره ورکوئ.بيا که چيري دُوئي په رَضَامَندِي سره څَه درکړي نوهغه په مَزَه مَزَه وَخُورَئ .

[١٥١٣](٢٤) وَاِذَا قَالَ المَوهُوبُ لَهُ لِلوَاهِبِ خُذ هٰذَا عِوَضًا عَن هِبَتِکَ اَو بَدَلاً عَنهَا اَو فِي مُقَابَلَتِهَا فَقَبضَهُ الوَاهِبُ سَقَطَ الرّجُوعُ
[١٥١٤](٢٥) وَاِن عَوّضَهُ اَجنَبِيٌ عَنِ المَوهُوبِ لَهُ مُتَبَرِّعًا فَقَبَضَ الوَاهِبُ العِوَضَ سَقَطَ الرّجُوعُ .

وَقَالَ عُمَرُ بِنِ عَبدِالعَزِيزِ لاَ يَرجِعَانِ (الف) (بخاري شريف.باب هبة الرجل لِاِمرأته وَالمَرأ ةُ لِزَوجِهَانمبر۲۵۸۸) ددې اَثَر ثخه معلوم سوچي يَودبَل ثخه هِبَه وَاپَس نَه سي اَخستَلاَئي.اودحضرت اِبرَاهِيم دقول ,,جَازَ,, مطلب هم دغه دئ چي جائزدئ چي وَاپَس ئې نَه وَاخلِي .

[۱۵۱۳](۲۴) كه مَوهُوبٌ لَهُ و وَاهِب ته وويل چي دا دخپلي هبې په عِوَض كي وَاخلَه ياپه بدله كي دا وَاخلَه يادهغه په مُقَابَلَه كي وَاخلَه.نو وَاهِب پرهغه باندي قبضه وكړه نو درُجُوع حَق به ساقط سي .

تشريح : مَوهُوبٌ لَهُ وهِبَه كونكي ته باقاعده وويل چي دا دهِبې بَدلَه ده دا وَاخلَه. د دې خبري وروسته هِبَه كونكي هغه دبَدلې شَئ وَاخَستَئ نو اُوس دوباره دهبې اَخَستَلُوحَق ساقط سو .

وجه : (۱) چي پربَدلَه ئې قبضه وكړه نو دوَاپَس اَخستَلُوحق ساقط سو (۲) مختته حديث تېرسوئ دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ اَلرّجُلُ اَحَقّ بِهِبَتِهِ مَالَم يُثِب مِنهَا (ب) (دارقطني.كتاب البيوع ج۳ص۳۹نمبر۲۹۵۱/سنن للبيهقي .باب المكافاة في الهبة ج۶ص۳۰۰نمبر۱۲۰۲۴)

[۱۵۱۴](۲۵) او كه دمَوهُوبٌ لَهُ لخوا يوه اَجنَبِي د اِحسَان په توګه دهبې بدله وركړه او هِبَه كونكي پرعِوَض باندي قبضه وكړه نودرُجُوع حَق ئې ساقط سو .

حاشيه : (الف) ابراهيم وفرمائل هِبَه جائزده.عُمَربِن عبدالعزيز وفرمائل دُوَاړَه رجوع نَه سي كولائي (ب) حضور وفرمائل سړئ د هبې زِيَات حَقدَارَه دئ تر څو چي دهغه بدله نَه كړي اداَء .

[۱۵۱۵](۲۶) وَاِذَا اِستَحَقّ نِصفَ الهِبَةِ رَجَعَ بِنِصفِ العِوَضِ .

تشريح : په خپله مَوهُوبٌ لَهُ و وَاهِب ته دهبې بدله نَه ده وركړې بلكه بَل اَجنَبِي سړي د اِحسَان او تَبَرّع په توګه دهبې بدله وركړې ده او وَاهِب قبوله كړه نوبيا هم د وَاپَس اَخَستَلُوحق ساقطيږي .

وجه : و وَاهِب ته خو دهبې بَدلَه په كار ده هغه كه هرڅوك وركړي.نوځكه داَجنَبِي دبَدلَه وركولوڅخه هم د وَاپَس اَخَستَلُوحق ساقطيږي.ځكه چي و وَاهِب ته خوبدله ورسېدل.حديث مختته تيرسو .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چي دهبې بَدلَه هرڅوك وركولائي سي.دا د رُجُوع دحَق دساقطولولپاره كافِي دئ .

خلاصه دا چي دهبې دوَاپَس اَخَستَلُو حق په دې اُوَه(۷)وجه سره ساقطيږي (۱) بَدلَه وركړي (۲) په هِبَه كي زِيَاتُوب وسي (۳) دمُتَعَاقِدَينُ څخه يومَړسي (۴) هِبَه دمَوهُوبٌ لَهُ دمِلكِيّت څخه وَوزِي (۵) وذِي رَحِمِ مَحرَم ته هِبَه كړي (۶) مېړه ئې ومَينَه ته يا مَينَه ئې ومېړه ته هِبَه كړي (۷) چي اَجنَبِي دهبې بَدلَه وركړي نوحقِ رُجُوع ساقطيږي .

[۱۵۱۵](۲۶) که دنِيمَئ هبې حقداره را وَوَاتَئ نونِيمَئ عِوَض به بېرته اَخَلِي .

تشريح : مَوهُوبٌ لَهُ دهبې په بَدلَه کي و وَاهِب ته يوشَئ ورکړئ وُ چي مثلاً زَر دِرهَم وُ.وروسته دمَوهُوبٌ لَهُ سره چي کومه هِبَه وَه په هغه کي نِيمَئ دبَل چا رَاوَوَتَه نو مَوهُوبٌ لَهُ دا حق لري چي هغه نِيمَئ شَئ دوَاهِب څخه بېرته وَاخلِي کوم چي ده ورکړئ دئ چي زموږ په مثالِ مذکور کي پِنځَه سوه دِرهَم دي .

وجه : چي مَوهُوبٌ لَهُ دهبې بَدلَه ورکړه نو دا يوقِسم خريد او فروخت وسو.او ددې لپاره ورکړه چي هِبَه دده په لاَس کي سَالِمَ پاته سي او دلته نِيمَئ هِبَه دبَل چا رَاوَوَتَل نوځکه خپل ورکړئ نِيمَئ عِوَض بېرته اَخستَلاَئي سي .

[۱۵۱۶](۲۷) وَاِن اِستَحَقّ نِصفَ العِوَضِ لَم يَرجِع فِي الهِبَةِ بِشَيءٍ اِلاّ اَن يَرُدّ مَابَقِيَ مِنَ العِوَضِ ثُمّ يَرجِعُ فِي كُلِّ الهِبَةِ .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چي دبدلې ورکولو وروسته هِبَه دبَيعِ په شان سوه .

[۱۵۱۶](۲۷) او که دنِيمِي عِوَض يوحَقدَارَه رَاوَوَاتَئ نودهِبې څخه به هيڅ شَئ وَاپَس نَه اَخلِي مګر دا چي هغه پاته عِوَض وَروَاپَس کړي بيادي تولِه هِبَه وَاپَس وَاخلِي .

تشريح : وَاهِب دمَوهُوبٌ لَهُ څخه مثلاً دهبې په بدله کي په زَر دِرهَمَ غُوَا اَخستې وه. وروسته دهغه عِوَض يعني نِيمَئ غُوَا حَقدَارَه راغلئ نو وَاهِب دا حق نَه لري چي نِيمَئ هِبَه دمَوهُوبٌ لَهُ څخه وَاپَس واخلي. هُو! دا کولائي چي دا نوره نِيمَئ غُوَا کوم چي د وَاهِب سره ده هغه ومَوهُوبٌ لَهُ ته وَاپَس کړي بيادي تولِه هِبَه وَاپَس واخلي .

وجه : که په شروع کي مَوهُوبٌ لَهُ نِيمَئ غُوَا هم په بدله کي ورکړې وائ نو هم به دهبې بَدلَه سوې وائ.نوځکه چي په مينځ کي نِيمَئ غُوَا سوه بيا هم هغه دهبې بَدلَه ده.لِهٰذَا وَاهِب نِيمَئ هِبَه وَاپَس نَه سي اَخستَلاَئي.لېکن ده خو دعِوَض د لاَلَچ په وجه هِبَه کړې ده نوځکه ده ته ګُنجَائِش ورکړئ دئ چي که چيري بَل حَقدَارَه رَاووزِي نودهغه دحِصّې وروسته چي کومه حِصّه پاته سوه هغه دي هم ومَوهُوبٌ لَهُ ته بېرته وَاپَس کړي.نو اُوس خوهِبَه بغيره دبَدلې پاته سوه نوځکه اُوس پوره هِبَه وَاپَس اَخستَلاَئي سي .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چي که لَږځَه بدله هم د وَاهِب سره موجود وي نوهِبَه وَاپَس نَه سي اَخستَلاَئي.البته که تولِه عِوَض دده دلاَس څخه وَوزِي نواُوس هِبَه وَاپَس اَخستَلاَئي سي .

[۱۵۱۷](۲۸) وَلاَيَصِحّ الرّجُوعُ فِي الهِبَةِ اِلاّ بِتَرَاضِيهِمَا اَو بِحُكمِ الحَاكِمِ [۱۵۱۸](۲۹) وَاِذَا تَلَفَتِ العَينُ المَوهُوبَةُ ثُمّ اِستَحَقّهَا مُستَحِقٌ فَضَمّنَ المَوهُوبَ لَهُ لَم يَرجِع عَلْي الوَاهِبِ بِشَئٍ .

[۱۵۱۷](۲۸) او په هِبَه کي رُجُوع نَه صحيح کيږي مګر د دُوَاړُو په رضامندي يا دقاضي په فيصله سره .
تشريح : چي وَاهِب او مَوهُوبٌ لَهُ دُوَاړَه دهبې پروَاپَس کولو راضي سي نوبيا هِبَه وَاپَس اَخستَلاَئي سي.يا دقاضي په ذريعه دوَاپَس کولو فيصله وکړئ نوبيائې اَخستَلاَئي سي که نَه نو نَه سي اَخستَلاَئي .
وجه : هِبَه وَاپَس کول مُختَلَفٌ فِيهِ مسئله ده.د امام شافعي په نېز هِبَه بالکليه نَه سي وَاپَس کولائي.د وَاپَسَئ دکَرَاهِيّت حديث مخته تېرسوئ دئ نوځکه د وَاپَس کولو لپاره د دُوُخبرو خخه يَوَه بايد وي.يا دُوَاړَه بايد په راضي وي يا دقاضي فيصله وي نوبيا وَاهِب وَاپَس هِبَه اَخستَلاَئي سي .
[۱۵۱۸](۲۹) که هِبَه سوئ شَئ ضَائِع سي بيا دهغه يَوحَقدَارَه رَاوَوزِي او مَوهُوبٌ لَهُ ئې ضَامِن کړي نود وَاهِب ځخه هيڅ شَئ نَه سي اَخستَلاَئي .
تشريح : دهبې شَئ دمَوهُوبٌ لَهُ سره دئ چي هلاک سو وروسته دهغه شِي يوحقداره رَاوَوَاتَئ او مَوهُوبٌ لَهُ ئې دهغه ضَامِن وګرزاوئ.ځکه چي هغه شَئ هلاک سوئ وُ نومَوهَوبٌ لَهُ دوَاهِب ځخه هغه ضَمَان نَه سي وصولولائي .
وجه : په بُنيَادِي توګه دهبې په شِي کي بدله نَه اخستل کيږي بلکه هغه خو وَاهِب دتَبَرّع او اِحسَان په توګه ورکوي.نوځکه وَاهِب دهبې دشِي دسَلاَمَتَئ ذِمّه دَارَه نَه دئ.چي دئ دسَلاَمَتَئ ذِمّه دَارَه نَه دئ نومَوهُوبٌ لَهُ دوَاهِب ځخه ضَمَان نَه سي وصولولائي.ددې بَرعَکس په بَيعَ کي بيا بَدلَه وي نوځکه هلته مُشتَرِي دسَلاَمَتَئ ذِمّه دَارَه وي.لِهْذَا چي دقيمت يوحَقدَارَه رَاوَوزِي نودمُشتَرِي ځخه به دهغه ضَمَان

[۱۵۱۹](۳۰) وَاِذَا وَهَبَ بِشَرطِ العِوَضِ اُعتُبِرَ التّقَابُضُ فِي العِوَضَينِ جَمِيعًا وَاِذَا تَقَابَضَا صَحّ العَقدُ وَكَانَ فِي حُكمِ البَيعِ يُرَدّ بِالعَيبِ وَخِيَارِالرّؤيَةِ وَيَجِبُ فِيهَا الشّفعَةُ .

اَخستَل کيږي.هِبَه خو خالص تَبَرّع او اِحسَان وي.نوځکه دوَاهِب ځخه به ورکړئ ضَمَان بېرته نَه وصولوي .
اُصُول : په تَبَرّع او اِحسَان کي اِحسَان کونکئ دشِي دسَلاَمَتَئ ذِمّه دَارَه نَه وي .
لُغَت : تَلَفَ : تَلف سي.هلاک سي .

[۱۵۱۹](۳۰) که دعِوَض په شرط سره هِبَه ورکړه نوپر دُوَاړُو عِوَضُو باندي قبضه کول ضروري ده.اوچي دُوَاړُوقبضه وکړه نوعَقدبه صحیح سي او دا دبَیعِ په حُکم کي دئ چي دخِیَارِعَیب او خِیَارِرُؤیَت په وجه وَاپَس کېدلائي سي او په هغه کي شُفعَه وَاجِب ده .

تشریح : وَاهِب په دې شرط سره هِبَه ورکړې ده چي ددې بَدلَه به راکوې نودا هِبَه دُوَه جِهَتَه او دُوَه اَړَخَ لري.دلفظ په اِعتِبَار هِبَه ده لېکن دمعنْي په اِعتِبَار دا بَیعَ ده.نوځکه په دې هبه کي د دُوَاړُو رِعَایَت ضروري دئ.دهبې په اِعتِبَار پر دُوَاړُو عِوَضُوباندي قبضه ضروري ده.چي قبضه وکي نوعَقدصحیح کیږي که نَه نونَه صحیح کیږي.اوهِبَه خو ددُوَاړُو خُوَاوُ سوې ده نوځکه پردُوَاړُوعِوَضُوباندي قبضه هم ضروري ده .

وجه : مخته اَثَرتېرسوئ دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالُوا لاَتَجُوزُ صَدَقَةٌ حَتْي تُقبَضُ (الف) (سنن للبیهقي.باب شرط القبض في الهبة ج۶ص۲۸۱نمبر۱۱۹۵۱) ددې ثخه معلوم سوچي پرهِبَه باندي قبضه ضروري ده.او دبدلې په شرط سره هِبَه کړې ده نوځکه دمعنْي په اِعتِبَار دا بَیعَ ده.نودبَیعِ دشَرطُونُ رِعَایَت به هم کیږي.لِهٰذَا په دي کي به خِیَارِعَیب او خِیَارِشَرط جاري وي.او ددې په وجه هِبَه وَاپَس کېدلاَئي سي. که مځکه په هِبَه کي وي نوپه هغه مځکه کي شُفعَه هم چلیږي.تفصیل مخته تېرسوئ دئ .

[۱۵۲۰](۳۱) وَالعُمرْي جَائِزَةٌ لِلمُعَمّرلَهُ فِي حِیَاتِهِ وَلِوَرَثَتِهِ بَعدَ مَوتِهِ .

اُصُول : حَتّيْ الاِمکَان به دلفظ او معنْي دواړو اِعتِبَار کیږي .

فائده : امامِ شافعي او امامِ زُفَر دلته دمعنْي اِعتِبَارکوي ځکه دُوئي فرمائي چي دا اِبتِدآءً اواِنتِهَآءً صرف بَیعَ ده.نوددُوئي په نېزپه مجلس کي قبضه کول ضروري نَه ده .

اُصُول : د دُوئي اُصُول دئ چي صرف دمعنْي اِعتِبَاربه کیږي .

..... د عُمرْي بیان .....

[۱۵۲۰](۳۱) عُمرْي جائزده دمَعمَرلَهُ لپاره.دده په ژُوَندکي به وي او دده دوَارِثَانُ لپاره به وي دده دمرګه وروسته .

تشریح : دعُمرْي لفظي معنْي ده چي ستا تر ژُوَندَپوري داشئ وتاته درکوم لېکن ستا دمرګه وروسته بېرته وَاپَس اَخلَم.دا شَئ به ستا د وَارِثَانُ ترمینځ نَه تقسیم کیږي.لېکن دحدیث ثخه معلومیږي چي که دعُمرْي په لفظ سره هِبَه وکړه نوهغه شَئ په مکمله توګه دمَوهُوبٌ لَهُ چي مُعَمّرلَهُ ورته ویل کیږي مِلکِیّت ګرزي.او دمُعَمّرلَهُ دوفات وروسته دهغه د وَارِثَانُ ترمینځ تقسیم کیږي .

حاشیه : (الف) حضرت ابن عباس وفرمائل صدقه جائز نَه ده ترخوچي پرهغه قبضه وَرنَه کړي .

وجه : (۱) په حديث كي راغلي دي عَن جَابِرِ بِنِ عَبدِاللهِ اَنّ رَسُولَ اللهِ قَالَ اَيّمَا رَجُلٍ اَعمَرَ عُمرْي لَهُ وَلِعَقِبِهِ فَاِنّهَا لِلّذِي اُعطِيَهَا لاَتَرجِعُ اِلْي الّذِي اَعطَاهَا لاَنّهُ اَعطْي عَطَآ ءً وَقَعَت فِيهِ المَوَارِيثُ (الف) (مسلم شريف.باب العمرْي ص۳۷ نمبر ۱۶۲۵/ابوداؤدشريف.

حاشيه : (الف) يوڅوک عُمرْي وکړي او دهغه وروسته خلګولپاره هم عُمرْي وکړي نوهغه مَال دهغه لپاره دئ دچالپاره چې ورکړئ دئ.و ورکونکي ته بېرته وَاپَس نَه راځي.ځکه چي دارنګه ورکړئ دئ چي په هغه کي دمُعَمّرلَهُ وَرَاثَت چليږي .

[۱۵۲۱](۳۲) وَالرّقبْي بَاطِلَةٌ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالْي وَقَالَ اَ بُويُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ جَائِزَةٌ .

باب في العمرْي ص۱۴۴نمبر۳۵۵۱) ددې حديث څخه معلوم سوچي عُمرْي كول جائزده او د مَعَمّرلَهُ دمرګه وروسته به دده دوَارِثَانُ ترمينځ تقسيم كيږي (۲) ددغه رَاوِي څخه په يَوبَل حديث كي رِوَايَت دئ عَن جَابِرٍ عَنِ النّبِيِّﷺ اَنّهُ قَالَ اَلعُمرْي مِيرَاثٌ لاَهلِهَا (الف) (مُسلم شريف.باب العمرْي ص۳۷نمبر۱۶۲۵/بخاري شريف.باب ماقيل في العمرْي والرقبْي ص۳۵۷نمبر۲۶۲۵) ددې حديث څخه هم معلوم سوچي دعُمرْي شَئ به د مُعَمّرلَهُ دوَارِثَانُ ترمينځ تقسيم كيږي .

[۱۵۲۱](۳۲) رَقبْي باطله ده د امام ابوحنيفه او امام محمدپه نېز او امام ابويوسف وفرمائل چي جائز ده .

تشريح : درَقبْي صورت دادئ چي وَاهِب ووائي دا شَئ وتاته هِبَه كوم په دا ډَوَل چي كه زَه مخكي مَړسوم نو دا شَئ به ستا وي او كه تَه مخكي مړسوې نو دا شَئ به زُومَا وي.نوپه دې صورت كي ددې شِي اِنتِظَار وي چي اَوّل به څوک مَړكيږي په دې وجه ودې ته رَقبْي وائي.په دې صورت كي وَاهِب اَوّل دمَوهُوبٌ لَهُ دمرګ اِنتِظَار كوي چي دا شَئ وده ته ورسيږي او مَوهُوبٌ لَهُ دوَاهِب دمرګ اِنتِظَار كوي چي دا شَئ ومَوهُوبٌ لَهُ ته ورسيږي.دا يَودبَل دمرګ دتَمَنّاطريقه ده ځكه د امام ابوحنيفه په نېز دا جواز نَه لري .

وجه : دحديث څخه كَرَاهِيّت ښكاره كيږي عَن زَيدِبِنِ ثَابِتٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ مَن اَعمَرَشَيئًا فَهُوَلِمُعَمّرِهِ مَحيَاهُ وَمَمَاتُهُ وَلاَتَرقَبُوا فَمَن اَرقَبَ شَيئًا فَهُوَسَبِيلُهُ (ب) (ابوداؤدشريف.باب في الرقبْي ص۱۴۵نمبر۳۵۵۹/نسائي شريف.كتاب الرقبْي ص۱۱۹

حاشيه : (الف) حضورﷺ وفرمائل عُمرْي دمُعَمّرلَهُ مېراث دئ (ب) حضورﷺ وفرمائل كوم چاچي عُمرْي وكړه هغه دمُعَمّرلَهُ لپاره دئ دهغه په ژُوَنداو دهغه دمرګه وروسته.رَقبْي مَه كوئ.خوبيا هم چاچي رَقبْي وكړه نوهغه په رَقبْي كي ځي .

[۱۵۲۲](۳۳) وَمَن وَهَبَ جَارِيَةً اِلاّ حَملَهَا صَحّتِ الهِبَةُ وَبَطَلَ الاِستِثنَآ ءُ .

نمبر۳۷۳۸) په دې حديث کې درَقبْي کولوڅخه منع کړې ده.په دغه وجه د امام ابوحنيفه په نيز رَقبْي جواز نَه لري .

پام لرنه : خو بيا هم که رَقبْي وکړه نوچي دکوم چالپاره رَقبْي کړې مَال به پـه مکمّلـه توګـه دهغه سي .

د امام ابويوسف په نيز رَقبْي جواز نَه لري .

وجه : دده دليل دا حديث دئ عَن جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺ اَلعُمرْي جَـائِزَةٌ لاَهلِهَـا وَالرّقبْـي جَـائِزَةٌ لاَهلِهَـا (الـف) (ابوداؤدشـريف.باب فـي الرقبْـي ص۱۴۵نمبـر۳۵۵۸/ نسـائي شـريف.کتاب الرقبْـي ص۱۱۹نمبـر۳۷۳۶) ددې حـديث څخـه معلـوم سـوچي رَقبْـي کـول جائزده.او د رَقبْي معنْي دده پـه نيـز داده چـي ژُومَـا دمرګـه وروسـته دا شَـئ سـتا دئ.او دا دجواز صورت دئ .

[۱۵۲۲](۳۳) يوچا مِينځَه هِبَه کړه مګر دهغه حَمل نوهِبَه صحيح ده او اِستِثنَآء باطلـه ده .

تشريح : يَوچَا مِينځَه هِبَه کړه لېکن وويل چي ددې حَمَل نَه هِبَه کـوم نوهِبَـه بـه دڅُولِي مينځه وي او دحَمَل نَفِي او اِستِثنَآء کول صحيح نَه ده .

وجه : (۱) حَمَل دمينځي جُزء دئ اوجُزء دکُل څخـه جلانَـه سـي هِبَـه کېدلائي.نوځکـه چي مينځه هِبَه کي حَمل به هم سي (۲) په بَيعَ کي دا تېرسـوي دي چـي مينځـه خرڅـه کړي اوحَمَل مُستَثنْي کړي دا جواز نَه لري دهبې معامله هم دغـه رنګـه ده.البتـه هلتـه بَيعَ فاسدېدله لېکن هِبَه دشرطِ فَاسِدپه وجه نَه فاسديږي نوځکـه هِبَـه صـحيح ده (۳) پـه حديث کي ددې ثبوت سته عَن جَابِرِبنِ عَبدِاللهِ قَالَ نَهْي رَسُولُ اللهِﷺ عَنِ المُزَابَنَةِ وَعَنِ المُحَاقَلَةِ وَعَنِ الثّنيَا اِلاّ اَن يَعلَمَ (الف) ابوداؤدشـريف.باب فـي المخـابرة ص۱۲۷نمبر۳۴۰۵/ترمذي شريف.باب ماجآء في النهي عن الثنيا ص۲۴۲نمبـر۱۲۹۰) په دې حديث کې دمَجهُولِ اِستِثنَآء څخه منع کړې ده.نوځکه حَمل دهِبې څخه اِسـتِثنَآء کول جواز نَه لري .

[۱۵۲۳](۳۴) وَالصّـدَقَةُ کَالهِبَـةِ لاَتَصِـحّ اِلاّ بِـالقَبضِ [۱۵۲۴] (۳۵) وَلاَتَجُوزُ الصّدَقَةُ فِي مُشَاعِ الّذِي يَحتَمِلُ القِسمَةَ .

..... د صدقې بيان .....

[۱۵۲۳](۳۴) صَدَقَه دهبې په شان ده نَه صحيح کيږي مګردقبضې وروسته .

تشريح : لکه څَه رنګه چي دهبې حُکم دئ په هغه ډَوَل دصَدَقې حُکم هم دئ.يعني هبـه دقبضې وروسته مکمّله کيږي دغه رنګه صدقه دقبضې وروسته مکمله کيږي.

حاشيه : (الف) حضورﷺ وفرمائل دمَعمَرلپاره عُمرْي جائزده.او رَقبْـي دهغـه لپـاره جـائزده دچالپـاره چـې رَقبْـي کړې ده .

وجه : (١) صَدَقَه هم دهبې په شان تَبَرّع او اِحسَان وي او مُفت اَخَستَل کيږي.نوکه چيري صَدَقَه ورکونکي وويل چي زَه وتاته صَدَقَه درکوم نوصرف په دغه وَينَاسره صَدَقَه اَخَستُونګئ دصدقې مَالِک نَه ګرزي ترڅوچي پرصَدَقَه باندي قبضه وَنَه کړي (٢) په اَثَرکي راغلي دي چي دقبضې بغيره دصدقې مَالِک نَه ګرزي عَن عُثمَانَ وَاِبنِ عُمَرَ وَاِبنِ عَبّاسٍ اَنّهُم قَالُوا لاَتَجُوزُصَدَقَةٌ حَتّي تُقبَضَ وَعَن مُعَاذِبنِ جَبَلٍ وَشُرَيحٍ اَنّهُمَا كَانَا لاَ يُجِيزَانِهَا حَتْي تُقبَضَ (ب) (سنن للبيهقي.باب شرط القبض في الهبة ج۶ص٢٨١نمبر١١٩٥١) په دې اَثَر کي دئ چي صَدَقَه جواز نَه پيدا کوي ترڅوچي پرهغه باندي قبضه نَه وي راغلې .

[١٥٢۴](٣۵) صَدَقَه جواز نَه لري په مُشتَرَک شِي کي چي تقسيم کېدلائي سي .

حاشيه : (الف) حضور دمُزَابَنَه.مُحَاقَلَه او اِستِثنَآء څخه منع وکړه مګر دا چي مُستَثنٰي مِنهُ معلوم وي (ب) حضرت عُثمَان.اِبنِ عُمَر او اِبنِ عَبّاس فرمائي چي صدقه جواز نَه لري ترهغوچي پرهغه قَبَضَه وَرنَه کړي.او حضرت مُعَاذ او شُرَيح وفرمائل چي صَدَقَه جواز نَه لري ترهغوچي پر هغه باندي قبضه ورکړي .

[١٥٢۵](٣۶) وَاِذَا تَصَدّقَ عَلْي فَقِيرَينِ بِشَئٍ جَازَ .

تشريح : دهبې په اَړَه تېرسوچي کوم چي تقسيم کېدلائي سي هغه بېله تقسيم هِبَه کول جواز نَه لري دغه رنګه دصدقې په اَړَه دئ چي کوم شَئ تقسيم کېدلائي سي هغه بېله تقسيم صَدَقَه کول جواز نَه لري .

وجه : (١) په اَثَرکي دئ کَتَبَ عُمَرُبِنِ عَبدِالعَزِيزِ اَنّهُ لاَيَجُوزُ مِنَ النّحلِ اِلاّ مَاعَزَلَ وَاَفرَدَ وَاَعلَمَ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب النحل ج٩ص١٠۴نمبر١۶۵١۴) (٢) عَن اِبنِ شِبرِمَةَ قَالَ اِن لَم يَجزِ كُلّ وَاحِدٍ مِنهُمَا مَاوَهَبَ لَهُ صَاحِبُهُ فَلَيسَ بِشَئٍ (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب حيازة ماوهب احدهماالصاحبه ج٩ص١١۶نمبر ١۶۵٧٠) ددې دُوَاړُو اَثَرُوڅخه معلوم سوچي ترڅوچي تقسيم کړئ نَه وي هِبَه جواز نَه لري او دغه حال دصدقې هم دئ چي هغه هم بېله تقسيم جواز نَه لري .

پام لرنه : که شَئ دتقسيمېدو څخه بَربَادېدئ نو بيا مجبوري ده. بېله تقسيم هم صَدَقَه جائز ده .

[١٥٢۵](٣۶) که پردُو فقيرانُ باندي صَدَقَه وکړه نوجائز ده .

تشريح : پردُو فقيرانُ چي يَوشَئ صَدَقَه کړي نود دُوَاړُوترمينځ شِرکَت رَاځِي او دا به غَيرِتَقسِيم شُدَه صدقه وي نودقاعدې په لحاظ بايدجائز نَه وائي لېکن بياهم جائز ده .

وجه : دصدقې مَال اَوّل دالله تَعَالٰي قبضې ته ځِي بيا ګواکه دمسکين قبضې ته ځِي.او الله يَودئ نوځکه شِرکَت نَه راغلئ.نوځکه دصدقې مَال چي و دُوُفقيرانُ ته صدقه کړي نود امام ابوحنيفه په نېز دا هم جائز دئ .

پام لرنه: دصاحبين په نېزخوهسي هم ودُوُکسانُ ته هِبَه جائزوه نوځکه و دُوُکسانُ ته صَدَقَه ورکول هم جائز ده .

حاشيه : (الف) عُمَربن عبدالعزيزوليكل چي جواز نَه مګر دا چې علْحيده ئې کړي جلائې کړي او پر هغه نِشَان ولګوي (ب) حضرت اِبنِ شِبرِمَه وفرمائل که دُوَاړَه څلاجلا نَه کړل کوم چې ومَوهُوبٌ لَهُ ته هِبَه کړل نوهِبَـه نَـه سوه صحيح .

[۱۵۲۶](۳۷) وَلاَيَصِحّ الرّجُوعُ فِي الصّدَقَةِ بَعدَ القَبضِ .

وجه : حديث تېرسوئ دئ عَن سَهلِ بِنِ سَعدٍ اَنّ رَسُولَ اللهِ أُتِـيَ بِشَـرَابٍ وَعَـن يَمِينِـهِ غُـلاَمٌ وَعَن يَسَارِهِ اَشيَاخٌ فَقَالَ لِلغُلاَمِ أتَأذَنُ لِي اَن اَعطِيَ هْؤلآءِ؟ فَقَالَ الغُلاَمُ لاَ وَاللهِ لاَ أُثِرُ بِنَصِيبِي مِنکَ اَحَدًا فَتَلّهُ فِي يَدِهِ (الف) (بخاري شـريف.باب هبـة الواحدللجماعـة ص نمبـر۲۶۰۲) ددې حديث څخه مُشتَرَکَه هِبَه جائزسوه نومُشتَرَکَه صَدَقَه به هم جائز وي .

[۱۵۲۶](۳۷) دقبضې وروسته صَدَقَه وَاپَس اَخستَل صحيح کار نَه دئ .

وجه : (۱) دصدقې مقصدثواب حاصلول دئ.چي ده ته ثـواب ملاؤسـو نوګواکـه ده تـه دصدقې بَدلَه ملاؤسوه نودابېرته اَخستَل جواز نَه لري (۲) دهبې دبېرته اَخستَلُو پـه اَړَه دا حديث مخته تېرسوئ دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ قَالَ النّبِيّ اَلعَائِدُفِي هِبَتِـهِ کَالَعَائِـدُفِي قَيئِـهِ (ب) (بخاري شريف.باب لايحِل لاَحَدٍان يرجع فـي هبتـه وصـدقته ص۲۶۲۱/مسـلم شـريف.باب تحـريم الرجـوع فـي الصـدقة بعـدالقبض اِلاّ مَاوَهَبَـهُ لِوَلَـدِهِ وان سـفل ص نمبر۱۶۲۲) ددې حديث په رُوڼا کي صدقه وَاپَـس اَخسـتَل جـواز نَـه لـري قَـالَ عُمَـرُ حَمَلتُ عَلْي فَرَسٍ فِي سَبِيلِ اللهِ فَرَأيتُهُ يُبَـاعُ فَسَـألتُ رَسُـولَ اللهِ فَقَـالَ لاَتَشـتَرهُ وَلاَتَعُـدفِي صَدَقَتِکَ (ج) (بخاري شريف.باب اذا حمل رجل علْي فرسه فهوکـالعمرْي والصـدقة ص نمبر۲۶۳۶) په دې حديث کـې دصـدقې بېرتـه اَخسـتَلُوڅخه منـع کـړې ده لِهْذَا دا بېرته اَخستَل جواز نَه لري .

حاشيه : (الف) حضور ته شَربَت رَاوړَل سو او دحضور پر ښِي جَانِب يَوځوان وُ اوپر کِڼ جَانِـب بانـدې مَشَـرَان سُپِينږيري خلک وُ نو ده ته وويل سو. آيا اِجَازَ ت وركوې چي ودې خلګو ته وركړم نو هَلَک وويل نَه. پـه الله دي مِي قَسَم وي چي ستا لجانب پرخپله حِصّه باندي وهيچ چاته به ترجيح وَرنَه کړم. نو دده په لاَس کې ورکـړئ (ب) حضور وفرمائل هِبَه وَاپَس اَخستُونکَئ د قَئ بېرته اَخستُونکِي په شان دئ (ج) حضرت عُمَـرفرمـائي چـي مَـا دالله په لاَرَه کي آس وَقف کړئ.چي وَمِيلِدَئ هغه خرځېدئ. مَا دحضور څخه پوښتنه وکړه. حضور وفرمائل دا مَـه اَخلَه اوصَدَقَه وَاپَس مَه اَخلَه .

[۱۵۲۷](۳۸) وَمَن نَذَرَ اَن يَتَصَدّقَ بِمَالِهِ لَزِمَهُ اَن يَتَصَـدّقَ بِجِـنسِ مَـا تَجِبُ فِيهِ الزّکوْ ةُ [۱۵۲۸](۳۹) وَمَن نَذَرَ اَن يَتَصَدّقَ بِمِلکِـهِ لَزِمَـهُ اَن يَتَصَدّقَ بِالجَمِيعِ .

[۱۵۲۷](۳۸) کوم چاچي نَذَر وَمَانَئ چي خپل مال بـه صـدقه کـوي نـو پـرده لازم دئ چي دا ډَوَل مال صدقه کړي چي په هغه کي زکوْ ة واجبيږي .

تشريح : يوچا نَذَر وَمَانَۍ چي خپل مال به صدقه کوم نودهغه مَالُوصدقه به واجب وي چي په هغه کي پرده باندي زکوْة واجب وُ.په کومو مالوکي چي زکوْة وَاجِب نَه وُ هغه مَالُونَه صَدَقَه کول واجب نَه دي .

وجه : (۱) په محاوره کي وهررنګه مال ته مَال ويل کيږي.لېکن په شريعت کي چي دمَال لفظ وويل سي نو هغه مَال ځيني مُرَاد وي په کوم مَال کي چي زکوْ ة واجبيږي (۲) په آيت کي ودې ته اِشَارَه سوې ده خُذمِن اَموَالِهِم صَدَقَةً تُطَهِّرُهُم وَتُزَكِّيهِم بِهَا وَصَلِّ عَلَيهِم (آيت۱۰۳سورة التوبة۲) په بَل آيت کي دئ وَفِي اَموَالِهِم حَقٌّ لِلسّائِلِ وَالمَحرُومِ (آيت۱۹سورة الذاريات۵۱) په دې دُوَاړُو آيتوکې دمَال لفظ ويلئ دئ او زکوْ ة ئې ځيني مراد کړئ دئ.نوځکه دمُطلَق مَال څخه په شريعت کي مَالِ زکوْة مراد دئ او هغه به صَدَقَه کوي .

پام لرنه : چي يَوبَل علامت نَه وي قضآءً به دغه فيصله کيږي. که نَه نو په عُمُومِي توګه هسي هر يَومال مُرَادېدلائي سي .

[۱۵۲۸](۳۹) يَوچَا نَذَر وَمَانَۍ چي خپل مِلکِيّت به صَدَقَه کوي نوپر ده لازم دئ چي خپل ټوله مَال صَدَقَه کړي .

وجه : په مِلکِيّت کي خو هرډَول مالونه شامل دي.ټوله دده په مِلکِيّت کي دي نوځکه که نَذَر وَمَانَۍ چي خپل مِلکِيّت به صَدَقَه کوي نودټوله مال صَدَقَه کول لازم دئ .

[۱۵۲۹](۴۰) وَيُقَالُ لَهُ اَمسِک مِنهُ مِقدَارَ مَا تُنفِقُهُ عَلْي نَفسِکَ وَعَيَالِکَ اِلْي اَن تَکسِبَ مَالاً فَاِذَا اِکتَسَبتَ مَالاً تَصَدّقَهُ بِمِثلِ مَا اَمسَکتَ لِنَفسِکَ .

اُصُول : په مِلکِيّت کي ټوله مِلکِيّت شامل دئ .

[۱۵۲۹](۴۰) و نَذَر مَنُونکِي ته به ويل کيږي چي ترڅَه وخته پوري چي تَه مَال ګټې دُونَه مقدار دځان سره رَاوَګرزَوَه چي تَه ئې پرځان خرچوې او پرخپل اَهلُ وعَيَال ئې خرچوې.بيا چي څَه وخت تَا مَال وګټئ نودهغه برابر مَال صدقه کړه کوم چي تَا دځان لپاره رَاګَرزَوَلَئ وُ .

تشريح : دخپل ټوله مِلکِيّت دصَدَقَه کولونَذَرئې مَنَلَئ وُ نوټوله به صدقه کوي چي په نتيجه کي به دده بَچيَان دهلاکت سره مخامخ سي.نوځکه په دونه اندازه مَال دي دځان سره وَسَاتِي څونه چي دده د ذَات او اَهل وعيال خَرچَه وچليږي.بياچي څَه وخت مَال وَګَټِي نودُونَه مال دي صدقه کړي څونه چي مخکي دځان لپاره رَاګَرزَوَلَئ وُ .

وجه : ځکه چي د نَذَر په وجه ټوله مَال صدقه کول واجب وُ .

عبدالمتين قُطب

عفي عنه وعن والديه
المُكَنّيْ بِاَبِي الحُسَين

..... كِتَابُ الوَقفِ .....

[۱۵۳۰](۱) لاَيَزُولُ مِلکُ الوَاقِفِ عَنِ الوَقفِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ

..... كِتَابُ الوَقفِ .....

ضروري پام لرنه:دوَقف معنْي ده دَرِبدَل.په وَقف کي مځکه جائيداددغريبانُ لپاره دَرَوِي ځکه ودې ته دَرَوَل وائي.د وَقف اشاره په آيت کي سته يَا اَيّهَا اَلّذِينَ آمَنُوا شَهَادَةُ بَينِکُم اِذَا حَضَرَ اَحَدَکُمُ المَوتُ حِينَ الوَصِيّةِ اِثنَانِ ذَوَا عَدلٍ مِنکُم (آيت۱۰۶سورة المائدة۵) په دې آيت کي و وَصِيّت کولوته اِشَارَه ده او په وَصِيّت کي وَقف هم شامل دئ نوځکه دا آيت و وَقف ته اِشَاره ده او حديث دادئ عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّ عُمَرَبِنِ الخَطّابِ اَصَابَ اَرضًا بِخَيبَرَ فَاَتْي النّبِيّﷺ يَستَأمِرُهُ فِيهَا فَقَالَ يَارَسُولَ اللهِ اِنّي اَصَبتُ اَرضًا بِخَيبَرَ لَم اَصِب مَالاً قَطّ اَنفَسَ عِندِي مِنهُ فَمَاتَأمُرُنِي بِهِ ؟ قَالَ اِن شِئتَ حَبَستَ اَصلَهَا وَتَصَدّقتَ بِهَا قَالَ فَتَصَدّقَ بِهَا عُمَرُ اَنّهُ لاَ يُبَاعُ وَلاَ يُوهَبُ وَلاَ يُورِثُ وَتَصَدّقَ بِهَا فِي الفُقَرَ آءِ وَفِي القُربْي وَفِي الرّقَابِ وَفِي سَبِيلِ اللهِ وَابنِ السّبِيلِ وَالضّيفِ لاَ جُنَاحَ عَلْي مَن وَلِيَهَا اَن يَأ كُلَ مِنهَا بِالمَعرُوفِ وَيُطعِمَ غَيرَ مُتَمَوّلٍ (الف) (بخاري شريف.باب الشروط في الوقف.کتاب الشرط ص۳۸۲ نمبر۲۷۳۷/مسلم شريف.باب الوقف ص۴۱ نمبر ۱۶۳۲) ددې حديث څخه د وَقف جواز معلوم سو.او دا هم معلوم سو چي په کومو کوموشرطوسره وَقف کولائي سي ؟

[۱۵۳۰](۱) د وَاقِف مِلکِيّت دوَقف څخه نَه زائليږي د امام ابوحنيفه په نيز مګر دا چي حَاکِم دهغه فيصله وکي يائې پرخپل مرګ باندي مُعَلّق کړي او دا رنګه ووائي چي زَه مَړ سم نوخپل کُور مِي وفُلاَنِي ته وَقف کړئ .

حاشيه : (الف) عُمَربِنِ خَطّاب په خَيبَرکي مځکه حاصله کړه نوحضور لره دمشورې لپاره راغلئ.نووويل ائ دخدائ رَسُولَ! مَاتَه په خَيبَرکي مځکه ملاؤسوې ده.دُونَه بنَه مځکه هيڅ کله نَه وَه ملاؤسوې نو تَه څَه حُکم راکوې؟ حضور وفرمائل که دي خُوبنَه سي نو اَصل ځان ته رَاوَګرزَوَه او دهغه ګټه صدقه ګه.ويل کيږي چي حضرت عُمَرهغه صدقه کړه په دا دَوَل چي نَه به خرڅيږي نَه به هِبَه کيږي نَه به څوک وَارِث جوړيږي. او ګټه دې پرفقيرانُ.رِشتَه دَارَانُ.دمَرَيَانُ پر آزادولو.د الله په لاَرَه کي.دمُسَافَرُولپاره.دمِيلمَنُولپاره خرچ کړل سي.هيڅ دحرج خبره نَه پرهغه چي نِګرَانِي وکړي چي دا په مُنَاسِب انداز سره وَخُورِي. او ببله مَالدَارَه جوړولو ئې په بَل وَخُورِي .

رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي اِلاّ اَن يَحکُمَ الحَاکِمُ اَو يُعَلِّقَهُ بِمَوتِهِ فَيَقُولَ اِذَا مِتّ فَقَد وَقَفتُ دَارِي عَلْي کَذَا .

تشريح : د امام ابوحنيفه په نېز وَقف جائزدئ.او په وَقف کولوسره به هغه شَئ وَقف سي.لېکن چونکه دا خو جائيداد دئ نود وَاقِف مِلکِيّت هغه وخت ختميږي چي پروَقف کولود حَاکِم فيصله وسي.يا وَقف پرمَرګ باندي مُعَلّق کړي.دا رنګه ووائي چي که زَه مَړ سوم نو زُومَا مکان د فُلاَنِي لپاره وَقف دئ .

وجه : (١) دمرګه سره سَم دَستِي دتېولوشِيانُ څخه د اِنسَان مِلکِيّت ختميږي نوځکه دمرګ څخه د وَاقِف مِلکِيّت ختم سو.چي مَوقُوفٌ عَلَيهِ ته ورکړئ نوځکه د وَارِثَانُ بجاۍ به مَوقُوفٌ عَلَيهِ مالک جوړسي (٢) دغه رنګه دقاضي په فيصله سره هم دچامِلکِيّت ختميږي.نوځکه دوَقف دمَال څخه به هم مِلکِيّت ختميږي (٣) په دې حديث کي ودې ته اِشَارَه سوې ده اَنّ سَعدَبنِ عُبَادَةَ اَخَابَنِي سَاعِدَةَ تُوُفِّيَت اُمّهُ وَهُوَ غَائِبٌ فَاَتْي النّبِيَﷺ فَقَالَ يَارَسُولَ اللهِﷺ اِنّ اُمّي تُوُفِّيَت وَ اَنَا غَائِبٌ عنهَا فَهَل يَنفَعُهَا شَئٌ اِن تَصَدّقتُ بِهِ عَنهَا؟ قَالَ نَعَم قَالَ فَاِنّي اُشهِدُکَ اَنّ حَائِطِي المِخرَافَ صَدَقَةٌ عَلَيهَا (الف) (بخاري شريف.باب الاشهادفي الوقف والصدقة ص٣٨٧نمبر ٢٧٦٢) په دې حديث کي حضرت سَعدبِنِ عُبَادَه پروَقف کولوباندي ګواه ونيوئ او حضور ئې ګواه جوړکړئ ګواکه دحَتمِي وَقف لپاره فيصله هم کول ده.نوځکه ددې حديث څخه معلوم سوچي دقاضي يا دوَالِي دفيصلې وروسته د وَقف شَئ د وَاقِف دمِلکِيّت څخه وُزِي (۴) دحضرت عُمَر داَثَرڅخه هم اِشَارَه ملاؤيږي چي وَقف ورليکل په کار دئ عَن يَحيْي بِنِ سَعِيدٍعَن صَدَقَةِ عُمَرُبِنِ الخَطّابِ قَالَ نَسَخَهَا لِي عَبدُالحَمِيدِبنِ عَبدِاللهِ بنِ عَبدِاللهِ بنِ عُمَرَبنِ الخَطّابِ بِسمِ اللهِ الرّحمْنِ الرّحِيمِ هٰذَا مَا کَتَبَ عَبدُاللهِ بنِ عُمَرَفِي ثَمَغ فَقَصّ مِن خَبَرِهِ نَحوَحَدِيثَ نَافِعٍ (الف) (ابوداؤدشريف. باب ماجآء في الرجل يوقف الوقف ص۴٢نمبر ٢٨٧٩) په دې اَثَرکي حضرت عُمَر باقاعدهوَقف ليکلئ دئ.ددې څخه معلوم سوچي دليکلو وروسته د وَاقِف مِلکِيّت ختميږي .

[١٥٣١](٢) وَقَالَ اَبُويُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ يَزُولُ المِلکُ بِمُجَرّدِ القَولِ

[١٥٣٢](٣) وَقَالَ مُحَمّدٌرَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي لاَيَزُولُ المِلکُ حَتّْي يَجعَلَ لِلوَقفِ وَلِيًّا وَيُسَلِّمَهُ اِلَيهِ .

[١٥٣١](٢) امام ابويوسف وفرمائل چي مِلکِيّت صرف په وَيناَکولوسره ختميږي.

تشريح : امام ابويوسف فرمائي چي وَاقِف صرف دا ووائي چي مَا دا شَئ وَقف کړئ بَس په دغه وَينَا سره دوَقف شِي څخه دده مِلکِيّت ختميږي.که څَه هم حَاکِم فيصله نَه وي کړې يائې وَقف پرمرګ باندي نَه وي مُعَلّق کړئ .

حاشيه : (الف) دسَعدبن عباده مُور وفات سوه په داسي حال کي چي دئ غَيرحاضِروُ.نوحضور لره راغلئ او وويل ائ دالله رسول ! زُومَا مُور وفات سوه او زَه نَه وم.آيا که زَه څَه صَدَقَه ورکړم ودې ته نَفعَ رسوي؟ حضور وفرمائل هُو ! سَعد وفرمائل زَه تَا ګواه جوړوم چي دخرَاف بَاغ دمُور لپاره صَدَقَه دئ .

وجه : دده دليل هغه حديثونه دي چي په هغه کي وَاقِف دوَقف شَئ نَه پرمرګ باندي مُعَلّق کړئ دئ او نَه ئې دحَاکِم څخه فيصله پرکړې ده.مثلاً په حديث کي دئ عَن اَنَسٍ قَالَ اَمَرَالنّبِيّﷺ بِبِنَآءِ المَسجِدِ فَقَالَ يَابَنِي النّجّارُ ثَامِنُونِي بِحَائِطِكُم هٰذَا قَالُوا لاَ وَاللهِ لاَ نَطلُبُ ثَمَنَهُ اِلاّ اِلٰي اللهِ (ب) (بخاري شريف.باب اذا وقف جماعة ارضًا مشاعًافهو جائزٌص۳۸۸نمبر ۲۷۷۱) په دې حديث کي نَه دقَضَآءِ قَاضِي تذکره سته نَه ئې پرمرګ باندي مُعَلّق کړئ دئ.او دمځکي مِلکِيّت صرف دوَاقِف په وَينَا سره ختم سوئ دئ .

[۱۵۳۲](۳) او امام محمد وفرمائل چي مِلکِيّت نَه ختميږي ترهغه وخته پوري چي دوَقف لپاره يوڅوک وَلِي جوړکړي او وهغه ته دا سُپُرد کړي .

حاشيه : (الف) عُمَربِنِ خَطّاب دثَمَغ دصَدقې په اَړَه دا سي وليکل.بِسمِ اللهِ الرّحمٰنِ الرّحِيمِ دا د الله بَندَه عُمَرليکلي دي د مَقَام ثَغ په اَړَه.بيائي دحضرت نَافِع دحديث په شان بيان وکړئ (ب) دحضرت اَنَس څخه روايت دئ چي حضور دمسجد جوړولو حُکم وکړئ نو حضور وفرمائل ائ بَنِي نَجّار زُومَا سره ددې بَاغ پُلُورَنَه وکئ. هغه خلګو وويل قَسَم په خدائ ددې قيمت موږ نَه غُوَاړُو مګر د الله پاک څخه .

[۱۵۳۳](۴) وَاِذَا صَحّ الوَقفُ عَلٰي اِختِلاَفِهِم خَرَجَ مِن مِلکِ الوَاقِفِ وَلَم يَدخُل فِي مِلکِ المَوقُوفِ عَلَيهِ .

تشريح : د امام محمدپه نېز دوَاقِف مِلکِيّت هغه وخت ختميږي چي دوَقف لپاره يوڅوک وَلِي جوړکړي او وَقف وهغه ته حَوَالَه کړي.بيامِلکِيّت ختميږي .

وجه : په مخته تېرسوي حديث کي دبَنُونَجّارخلګو حضورﷺدمځکي وَلِي جوړکړئ.او وحضورﷺ ته حواله کړه بيا د دُوئي مِلکِيّت ختم سوئ وُ.لِهٰذَا چي وَلِي جوړکړي او وهغه ته حواله کړي بيائې مِلکِيّت ختميږي .

[۱۵۳۳](۴) او چي وَقف صحيح سي د دُوئي دإختِلاَف موافق نودوَاقِف دمِلکِيّت څخه به وُوزِي او نَه داخليږي دموقُوفٌ عَلَيهِ په مِلکِيّت کي .

تشريح : مخته چي د امام ابوحنيفه امام ابويوسف او امام محمد کوم اِختِلاَف تيرسوچي ددې اِختِلاَف موافق وَقف صحيح سي نو دا به سي چي دوَاقِف دمِلکِيّت څخه به دوَقف شَئ وُوزِي.لېکن کوم چاته چې وَقف کړئ دئ هغه ددې مَالِک نَه ګرزي.په دغه وجه خو د دُوَاړُوڅخه هر يَود وَقف مَال نَه خرڅولائي سي نَه ئې هِبَه کولائي سي .

وجه : (۱) دوَقف مَطلَب دغه دئ چي دوَاقِف په مِلکِيّت کي نَه سي پاته.نوځکه دده دمِلکِيّت څخه وُزِي.البته دئ دوَقف نِګرَانِي کولائي سي.او ددې سره سره ئې دا مطلب هم دئ چي مَوقُوفٌ عَلَيهِ ددې څخه ګټه وَاخلِي.دا نَه دئ چي هغه دي خرڅ کړي (۲) په حديث کي دئ عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّ عُمَرَبِنِ الخَطّابِ اَصَابَ اَرضًا بِخَيبَرَ فَاَتْي النّبِيّﷺ يَستَأمِرُهُ فِيهَا فَقَالَ يَارَسُولَ اللهِ اِنّي اَصَبتُ اَرضًا بِخَيبَرَ لَم اَصِب مَالاً قَطّ اَنفَسَ عِندِي مِنهُ فَمَاتَأمُرُنِي بِهِ ؟ قَالَ اِن شِئتَ حَبَستَ اَصلَهَا وَتَصَدّقتَ بِهَا قَالَ فَتَصَدّقَ بِهَا

عُمَرُ اَنّهُ لاَ يُبَاعُ وَلاَ يُوهَبُ وَلاَ يُورِثُ وَتَصَدّقَ بِهَا فِي الفُقَرَ آءِ وَفِي القُربْي وَفِي الرِّقَابِ وَفِي سَبِيلِ اللهِ وَاِبنِ السّبِيلِ وَالضّيفِ لاَ جُنَاحَ عَلْي مَن وَلِيَهَا

[۱۵۳۴](۵) وَ وَقفُ المُشَاعِ جَائزٌ عِندَ اَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ .

اَن يَأ كُلَ مِنهَا بِالمَعرُوفِ وَيُطعِمَ غَيرَ مُتَمَوّلٍ (الف) (بخاري شريف.باب الشروط في الوقف.كتاب الشرط ص۳۸۲ نمبر۲۷۳۷/مسلم شريف.باب الوقف ص۴۱ نمبر ۱۶۳۲)په دې حديث کي حضور داسي وفرمائل ,,حَبِستَ اَصلَهَا,, ددې ثخه اِشَارَةً دا معلوميږي چي اَصل دي دځان سره وَسَاتِي يعني مَوقُوفٌ عَلَيهِ دهيڅ چَا مِلکِيّت نَه وي .او مخته جُمله ده چي وَقف دي خرڅوي هم نَه.هِبَه کوي دې هم نَه او وَارِث دې هم څوک نَه وي نو ددې مطلب دا رَاوَوَتَئ چي هغه نَه دوَاقِف مِلکِيّت پاته سو نَه دمَوقُوفٌ عَلَيهِ.که نَه نودکوم چاپه مِلکِيّت کي چي وي هغه ئې خرڅولائي هم سي.هِبَه کولائي هم سي.او دهغه وَارِثَان دا په وَرَاثَت کي تقسيمولائي هم سي.لېکن دا رنګه نَه سي کولائي نوددې ثخه دا معلوم سوچي دا د الله ثخه علاوه دهيڅ چاپه مِلکِيّت کي نَه سو پاته .

[۱۵۳۴](۵) دمُشتَرَک شِي وَقف جائز دئ د امام ابويوسف په نيز .

تشريح : چي يَوشَئ مُشتَرَک وي او تقسيم کېدلائي سي بيا هم ببله تقسيم دهغه وَقف جائز دئ .

وجه:(۱) د امام ابويوسف په نېزد وَقف دمکمل کېدولپاره ومَوقُوفٌ عَلَيهِ ته قبضه ورکول ضروري نَه ده.صرف په وَينَاسره وَقف کيږي.چي قبضه ورکول ضروري نَه ده نومُشتَرَک شَئ هم وَقف کېدلائي سي (۲) د ده دليل مخته دحضرت عُمَر حديث دئ

حاشيه : (الف) عُمَرِبنِ خَطّاب په خَيبَرکي مځکه حاصله کړه نوحضور لره دمشورې لپاره راغلئ.نوووېل اې دخداې رَسُولَ! مَاتَه په خَيبَرکي مځکه ملاؤسوې ده.دُونَه بنَه مځکه هيڅ کله نَه وَه ملاؤسوې نو تَه څه حُکم راکوې؟ حضور وفرمائل که دي خُوښَه سي نو اَصل ځان ته رَاوَګرزَوَه او دهغه ګټه صدقه کَه.وېل کيږي چي حضرت عُمَرهغه صدقه کړه په دا دَوَل چي نَه به خرڅيږي نَه به هِبَه کيږي نَه به څوک وَارِث جوړيږي. او ګټه دې پرفقيرانُ.رِشتَه دَارَانُ.دمَرَيَانُ پر آزادولو.د الله په لاَرَه کي.دمُسَافَرُولپاره.دمِېلمَنُولپاره خرچ کړل سي. هيڅ دحرج خبره نَه پرهغه چي نِګرَانِي وکړي چي دا په مُنَاسِب انداز سره وَخُورِي. او ببله مَالدَارَه جوړولو ئې په بَل وَخُورِي .

[۱۵۳۵](۶) وَقَالَ مُحَمّدٌ لاَيَجُوزُ .

چي حضرت عُمَروخلکو ته په مُشتَرَکه توګه وَقف کړئ دئ (۳) بَنُونَجّار په مُشتَرَکَه توګه وخلکو ته دمسجدمځکه وَقف کړې ده.په حديث کي دئ عَن اَنَسٍ قَالَ اَمَرَالنّبِيّﷺ بِبِنَآءِ المَسجِدِ فَقَالَ يَابَنِي النّجّارُ ثَامِنُونِي بِحَائِطِکُم هٰذَا قَالُوا لاَ وَاللهِ لاَ نَطلُبُ ثَمَنَهُ اِلاّ اِلْي اللهِ (الف) (بخاري شريف.باب اذا وقف جماعة ارضًا مشاعًافهو جائزٌ ص۳۸۸نمبر۲۷۷۱) په دې حديث کي دبَنُونَجّار دېرشُمېرخلکوپه مُشتَرَک حَيثِيّت د مسجدمځکه وَقف کړې ده.ددې ثخه ددې جواز معلوميږي .

پام لرنه : البته په دا رنګه دمسجداو قبرستان لپاره مځکه وَقف کول جواز نَه لري چي دمځکي څَه حِصّه په مُشتَرَکَه توګه وَقف کړي او څَه حِصّه دځان سره وَسَاتِي.ځکه چي مَالِک به دا مځکه کله په خپل مَصرَف کي صرف کوي او کله به دمسجدلپاره وي.په دادَوَل دمسجد تَوهِين کيږي.بله خبره دا چي يَو وَار مسجدسوبيا هغه مځکه په بَل مَصرَف کي استعمالول جواز هم نَه لري.دغه رنګه په قبرستان کي به يَو کال مَړَئ پَټَوِي او بَل کال به د مَالِک دحِصّې په وجه په هغه ځائ کي د آس شُپُول جوړوي دا ښَه کار نَه دئ.نوځکه چي دمَالِک او دمسجديا دقبرستان مُشتَرَک ځائ وي دا د امام ابويوسف په نيز هم جواز نَه لري .

[١٥٣٥](۶) او امام محمد وفرمائل جواز نَه لري .

تشريح : د امامِ محمد په نيز د مُشتَرَک شِي هِبَه جواز نَه لري ترڅو چي تقسيم کړې نَه وي.
وجه : (١) دده په نيز ومَوقوفٌ عَلَيهِ ته قبضه ورکول ضروري ده او ببله تقسيم پوره قبضه نَه سي کېدلائي نوځکه تقسيم ضروري دئ (٢) لکه څَه رنګه چي په هِبَه او صَدَقَه کي قبضه ورکول ضروري ده (٣) په حديث کي ودې ته اِشَارَه سوې ده. حضرت ابوطلحة

حاشيه : (الف) دحضرت اَنَس څخه روايت دئ چي حضور دمسجد جوړولو حُکم وکړئ نو حضور وفرمائل ائ بَنِي نَجّار زُومَا سره ددې بَاغ پُلورَنَه وکئ. هغه خلګو وويل قَسَم په خدائ ددې قيمت موږ نَه غُوَاړُو مګر د الله پاک څخه .

[١٥٣٦](٧) وَلاَ يُتِمّ الوَقفُ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالْي حَتْي يَجعَلَ آخِرَهُ بِجِهَةٍ لاَ تَنقَطِعُ اَبَدًا .

خپل بَاغ وَقف کړئ وُ دهغه يو وُړد حديث دئ چي يَوَه ټُکړَه ئې داده اَنّهُ سَمِعَ اَنَسَ بِنِ مَالِکٍ يَقُولُ کَانَ اَبُوطَلحَةَ اَکثَرُالاَنصَارِ بِالمَدِينَةِ مَالاً مِن نَخلٍ ... قَالَ اَبُوطَلحَةَ اَفعَلُ ذَالِکَ يَارَسُولَ اللهِ فَقَسّمَهَا اَبُوطَلحَةَ فِي اَقَارِبِهِ وَبَنِي عَمّهِ (الف) (بخاري شريف.باب اذا وقف ارضًاولم يبيّن الحدودفهوجائزص٣٨٨نمبر٢٧۶٩) په دې حديث کي دئ چي ابوطلحة خپل بَاغ دخپلو عَزِيزَانُو او د اَکَا د زَامَنَانُو ترمينځ تقسيم کړئ.ددې څخه معلوم سوچي تقسيم کول ضروري دئ .

پام لرنه : کوم چي نَه سي تقسيم کېدلائي لکه حَمّام او جِيرَندَه نودهغه وَقف ببله تقسيمَ هم جائز دئ.ځکه چي مجبوري ده .

[١٥٣٦](٧) د امام ابوحنيفه او امام محمدپه نيز وَقف نَه پوره کيږي ترهغه وخته چي آخر ئې دارنګه کړي چي هيڅ کله به نَه ختميږي .

تشريح : دطَرَفَينُ په نيز وقف هغه وخت مکمل کيږي چي د وَقف مَال آخرکار دهمېشه لپاره دغَرِيبَانُو او مِسکِينَانُو وګرزي.او وَاقِف به دا تَصرِيح کوي چي دا مَال آخرکار دهمېشه لپاره دفَقِيرَانُودئ.مَا او زُومَا وَارِثَانُو لره به بېرته نَه رَاځِي .

وجه : حضرت عُمَر دمَقَامِ ثَمَغ جائيداد وَقف کړئ وُ په هغه کې ليکلي وُ چي ددې نِګرَان به حضرت حَفصَة (رَضِيَ اللهُ تَعَالْي عَنهَا) وي.او دهغه وروسته به اَهلِ رَأيَه خلک وي او

ددې فائده به وغريبانُو او مسكينانوته همېشه رسيږي.دحديث ټُكړَه دا ده اَخبَرَنِـي لَيـثٌ عَـن يَحيْ بِنِ سَعِيدٍ عَن صَـدَقَةِ عُمَـرَبِنِ الخَطّـابِ ... وَالمائَـةُ سَـهمُ الّـذِي بِخَييَـرَ وَرَقِيقُـهُ الّـذِي فِيـهِ وَالمائةُ اَلّتِي اَطعَمَهُ مُحَمّدٌ بِالوَادِي تَلِيهِ حَفصَةُ مَاعَاشَت ثُمّ يَلِيهِ ذَوِ الرّأيِ مِن

حاشيه : (الف) اَنَس بن مَالِک فرمائي چي حضرت ابوطلحة په مدينه کي په اَنصَارُ کي ترټولـو زِيَـات دخُورمَـاوُ درختي درلودې ... ابوطلحة وفرمائل زَه دا كومـه اىٔ د الله رسـول! نـو ابوطلحـة دخپلو رِشتَه دَارَانُـو او د اَكَـا د زَامَنَانُو ترمينځ بَاغ تقسيم كړئ .

[١٥٣٧](٨) وَقَالَ اَبُويُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ اِذَا سَمّي فِيهِ جِهَةً تَنقَطِـعُ جَـازَ وَصَارَ بَعدَهَا لِلفُقَرَ آءِ وَاِن لَم يُسَمّهِم .

اَهلِهَا اَن لاَيُبَاعُ وَلاَيُشتَرْي يَنفُقُهُ حَيثُ رَأيْ مِنَ السّائِلِ وَالمَحرُومِ وَذَوِي القُربْي وَلاَ حَرَجَ عَلْي مَن وَلِيَهُ اِن اَكَلَ اَو اُكِلَ اَو اِشتَرْي رَقِيقًا مِنهُ (الف) (ابوداؤدشريف. بـاب ماجـآ ء فـي الرجـل يوقف الوقف ج٢ص٤٢نمبر٢٨٧٩/دارقطني.كتـاب الاحبـاس ج۴ص١١٧ نمبـر ۴٣٧٩) پـه دې حديث كي حضرت عُمَر اَوّل وار حضرت حفصة دوقف نګران جوړه كړه بيائې اَهـلِ رَأيَـه اِنسَانَان جوړكړل او ددې صَرَاحَت ئې وكړ چي دا به دهمېشه لپاره د فقيرانُو او مسكينانُو د اِستِفَادې لپاره وي.او دا به نَه خرڅيږي نَه به رَانِيوَل كيږي .

[١٥٣٧](٨) امام ابويوسف وفرمائل كه د دارنګـه جِهَـت نـوم وَاخلِـي چي ختميږي بيـا هـم جائزدئ.دهغه وروسته به دفَقِيرَانُولپاره سي كه څَه هم دهغو نوم نَه وي اَخَستئ .

تشريح : امام ابويوسف فرمائي چي وَاقِف بايدتصريح وكي چـي دا بـه دهمېشـه لپـاره وَقـف وي.لېكن ده په وَقف كي دفَقِيرَانُو نوم نَه وَاخَستَئ صرف پـر دارنګـه خلګـوئې وَقـف كـړئ چي څو ګَالَه وروسته مَړَه سي او ختم سي.بيا هم وَقف صـحيح كيږي.البتـه چـي د وَقـف پرمَحَال ئې دكوموخلګو نُومُونَه اَخَستِي دي دهغو دمرګ وروسته دا شَئ د وَاقِف و وَارِثَـانُو ته بېرته وَاپَس نَه رَاځِي بلكه په خپله به دهمېشه لپاره د فَقِيرَانُوسي .

وجه : د وَقف مَقصدقربَت حاصلول دئ.البته دا قربَت كله پرمخصوص خلګو باندي د وَقـف كولوڅخـه حاصـليږي اوكلـه دهمېشـه لپـاره پرفَقِيرَانُـو مسـكينانوباندي د وَقـف كولـو څخـه حاصليږي نوځكه چي هرډَوَل وَقف وكي وَقف صحيح كيږي.خودوَقف مقصد

حاشيه : (الف) عُمَربِنِ خَطّاب وفرمائل هغه سَل حِصّې چي په خَيبَركي دي او مَرَيَان چي په هغه كي دي او هغه حِصّې چي حضور دخُوَړَلُولپاره وركړي دي په شَلَه كي.دهغه نِګرَانِي به حضرت حَفصَةَ كـوي ترڅـوچي ژُوَنـدَې وي.او بيابه ددې د اَهل څخه ذَوِي الرأيَه اِنسَانَان نګراني كوي.په دا ډَوَل چي نَه به هغه خرڅيږي او نَه به رَانِيـوَل كيږي.هغه به خرچوي پر سَائِل او مَحرُوم باندي چيري چې مُنَاسِب وګڼـي. او هيڅ دحـرج خبـره نَـه ده چـي كـوم څوک چي ددې نِګرَانِي كوي هغه ئې په خپله وَخُورِي يائې په بَل چا وَخُورِي يادهغه په نَفعَ باندي غُلاَم رَانِيسِي .

[١٥٣٨](٩) وَيَصِـحّ وَقـفُ العِقَـارِ وَلاَ يَجُـوزُ وَقـفُ مَـا يَنقُـلُ وَيَحُـولُ

[١٥٣٩](١٠) وَقَالَ اَبُويُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ اِذَا وَقَفَ ضَيعَةً بِبَقَرِهَا وَ اَكرَتِهَـا وَهُم عَبِيدُهُ جَازَ .

همېشه قربَت اوثواب حاصلول وي نوځکه دمخصوص خلګودمرګ وروسته به په خپله دفَقِيرَانُواومِسکِينَانُومِلکِيّت سي .

پام لرنه : د دُرُو سره اِمَامَانُوپه نېزبه دا شَئ دهمېشه لپاره دفَقِيرَانُواو مسکينانو سي. البته دطَرَفَينُ په نېزدوَقف دصِحّت لپاره دهغه صراحت ضروري دئ.اودامام ابويوسف په نېز ددې تصريح کول ضروري نَه ده بېله وَينَا به دا دمِسکِينَانُو سي .

لُغَت : جِهَةٍ تَنقَطِعُ : ددې عبارت مطلب دادئ چي پر داسي خاص خلګوباندې وَقف کړئ چي دهغه دمرګه وروسته دا سلسله مُنقَطِع سي .

[۱۵۳۸](۹) دمځکي وَقف صحيح دئ او د داسي شِي وَقف جواز نَه لري چي نَقل کيږي او بدليږي .

تشريح : د امام ابوحنيفه په نېز دمځکي او مَنقُولَه شِيَانُو وَقف کېدلائي سي.او مَنقُولَه شَئ چي وَقف کړي نو د وَقف بجائ هغه صَدَقَه ګرزي .

وجه : (۱)ددې وجه داده چي دوَقف مطلب دادئ چي اَصل شَئ پرخپل ځائ‌موجود پاته وي دهغه دنَفع څخه غَرِيبَان فائده وَاخلِي.او غَرِيبَان داَصل وَقف مَالِګَان نَه سي جوړ.او دا خبره خو په جائيداد او غَيرِمَنقُولَه شِيَانُوکي کېدلائي سي.په مَنقُولَه شِيَانُوکي خو غَرِيبَان داَصل شِي مَالِکان ګرزي.نوځکه هغه وَقف نَه سو هغه صَدَقَه سوه (۲) مخته تېرسوُوحديثوکي دمځکي اوجائيداد دوَقف تذکره راغلې ده.او کوم د مَنقُول جائيداد دوَقف تذکره چي په حديث کي ده هغه په اَصل کي صَدَقَه ده چي د اَصل شِی مَالِک جوړ سو .

[۱۵۳۹](۱۰) امام ابويوسف وفرمائل چي که مځکه وَقف کړي دهغه دغُوَيَانُو او مَزدُورَانُوسره.او هغه مَزدُورَان دده مَرَيَان وُ نو جائز دئ .

[۱۵۴۰](۱۱) وَقَالَ مُحَمّدٌ رَحِمَهُ اللهُ يَجُوزُ حَبسُ الكَرَاعِ وَالسّلاَحِ .

تشريح : امام ابويوسف فرمائي چي مځکه وَقف کول اَصل دئ لېکن دمځکي لَوَازِمَات او تَابع چي څُونَه شِيَان دي که مَنقُول دي که غَيرِمَنقُول دي چي هغه هم توله دمځکي سره وَقف کړي دا جائز دئ .

وجه : دئ فرمائي چي غُوَيَئ او دهغه مَزدُور خو په مُستَقِلّه توګه سره نَه سي وَقف کېدلائي.ځکه چي دامَنقُولِي شِيَان دي.لېکن چي دمځکي تَابِع سي بياوَقف کېدلائي سي.ځکه چي بَعض شِيَان په مُستَقِلّه توګه نَه سي وَقف کېدلائي تَبعًا هغه وَقف کېدلائي سي.لکه د اُوبُو د اُوبُوُلُو حق اَصلاً خرڅول جواز نَه لري لېکن چي تَابِع سي بيا خرڅېدلائي سي .

اُصُول : دده اُصُول دا دئ چي تَبعًا دمَنقُولِي شِيَانُو وَقف جائز دئ .

لُغَت : ضَيعَةً : د کَبنت مځکه. اَکرَةً : په کَبنت کي کار کونکي مزدوران .

[۱۵۴۰](۱۱) امام محمد وفرمائل آسُونَه او اَسلَحې دخدائ په لاَره کي وَقف کول جائز دي .

وجه : (۱) په حدیث کي د الله په لاَرَه کي د آسانُ او اَسلَحې دوَقف کولو تذکره راغلې ده عَن اَبِي هُرَیرَةَ قَالَ اَمَرَ رَسُولُ اللهِ بِصَدَقَةٍ فَقِیلَ مَنَعَ اِبنُ جَمِیلٍ وَخَالِدُ بِنِ وَلِیدٍ وَالعَبّاسُ بِنِ عَبدِالمُطّلِبِ فَقَالَ النّبِيُ مَایَنقِمُ اِبنُ جَمِیلٍ اِلاّ اَنّهُ کَانَ فَقِیرًا فَاَغنَاهُ اللهُ وَرَسُولُهُ وَاَمّا خَالِدُ فَاِنّکُم تَظلِمُونَ خَالِدًا قَد اِحتَبَسَ اِدرَاعَهُ وَاَعتَدَهُ فِي سَبِیلِ اللهِ (الف) (بخاري شریف.باب قول الله وفي الرقاب والغارمین وفي سبیل الله. کتاب الزکوٰة ص۱۹۸ نمبر ۱۴۶۸ /مُسلم شریف.باب تقدیم الزکوٰة ومنعها ص۳۱۶نمبر۹۸۳) په دې حدیث کي حضرت خَالِد

حاشیه:(الف)حضوردصدقې حُکم ورکړئ نووویل سوچي اُمّ جَمِیل،خَالِدبِنِ وَلِیداوعَبّاس بِنِ عبدالمطلب مَنعَ کړې ده.نوحضور وفرمائل دابِنِ جَمِیل غُرُور نَه دئ.مګر دا چي دئ فَقِیروُ.مګر الله او دهغه رَسُولَ دئ مَالدَارَه کئ.. بَهرحَال خَالِدتَا پر ده ظُلم کړئ دئ.هغو خپله زَغرَه او اَسلَحَه د الله په لاَرَه کي وَقف کړل .

د الله په لاَرَه کي اَسلَحَه وَقف کړې ده.ددې څخه معلوم سوچي دالله په لاَرَه کي اَسلَحَه وَقف کول جائزده (۲) په یَوبَل حدیث کي راغلي دي چي حضرت عُمَر آس د الله په لاَرَه کي وَقف کړئ اَنّ عُمَرَ حَمَلَ عَلْي فَرَسٍ لَهُ فِي سَبِیلِ اللهِ اَعطَاهَا رَسُولُ اللهِ ﷺ فَحَمَلَ عَلَیهَا رَجُلاً فَاَخبَرَ عُمَرُ اَنّهُ وَقفُهَایَبِیعُهَافَسَألَ رَسُولُ اللهِ اَن یَبتَاعَهَا فَقَالَ لاَ تُبتَاعُهَا وَلاَ تَرجِعَن فِي صَدَقَتِکَ (الف) (بخاري شریف.باب وقف الدواب والکراع والعروض والصامت ص۳۸۹نمبر۲۷۷۵) په دې حدیث کې آس وَقف کړئ دئ .

پام لرنه : امام محمدفرمائي چي په خلګوکي دکوموشِیَانُو دوَقف کولو رِوَاج عام سي دهغه وَقف کول هم جائز دئ .

وجه : (۱) دخلګوپه تَعَامُل سره هم وَقف جائزکیږي.مثلاً ومَسجِدُوکي خلګ قُرآنِ پاک وَقف کوي.ببلچه.دجنازې کَټ یعني چارپائي خلګ وَقف کوي نوځکه ددې شِیَانُووَقف کول هم جائز دئ (۲) په حدیث کي دئ چي وُښ ئې وَقف کړې دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ اَرَادَ رَسُولُ اللهِ اَلحَجّ ... فَقُلتُ مَاعِندِي مَا اَحُجّکَ عَلَیهِ قَالَت اَحُجّنِي عَلْي جَمَلِکَ فُلاَنٌ فَقُلتُ ذَاکَ حَبِیسٌ فِي سَبِیلِ اللهِ عَزّوَجَلّ قَالَ اَمّا اَنّکَ لَو اَحجَجتَهَا عَلَیهِ کَانَ فِي سَبِیلِ اللهِ (ب) (ابوداؤدشریف.باب العمرة ص۲۷۹ نمبر۱۹۹۰) ددې حدیث څخه دوُښ د وَقف کولو جواز معلوم سو (۳) دحضرت زُهري دقول څخه دنوروشِیَانُودوَقف جواز معلومیږي وَقَالَ الزّهرِيّ فِیمَن جَعَلَ اَلفَ دِینَارٍ فِي سَبِیلِ اللهِ وَدَفَعَهَا اِلْي غُلاَمٍ لَهُ تَاجِرٌ یَتّجِرُ بِهَا وَجَعَلَ رِبحَهُ صَدَقَةً لِلمَسَاکِینَ وَالأقرَبِینَ (ج)
(بخاري شریف .باب وقف الدّواب والکراع والعروض والصامت ص۳۸۹نمبر۲۷۷۵) ددې قول

حاشیه : (الف) حضرت عمرد الله په لاَرَه کي آس وَقف کړئ کوم چي حضور ورکړئ وُ.نوحضرت عُمَرخَبَر ورکړئ چي دده د وَقف مَال خرڅیږي.نودحضور څخه پوښتنه وکړه چي آیا دا رَانِیسَم؟ نوحضور وفرمائل دا مَه رَانِیسَه او خپله صَدَقَه وَاپَس مَه اَخلَه (ب) حضور دحَج اِرَادَه وکړه ... مَا وویل چي زُومَا سره هیڅ ډَول سُوَارلَئ نسته چي پرهغه حَج وکم.حضور وفرمائل پر خپل فُلاَنِي وُښ باندي حَج وکه.مَا ورته وویل هغه د الله په لاَرَه کي وَقف دئ.حضور وفرمائل که پرهغه باندي حَج وکې نو دا هم د الله په لاَرَه کي دئ (ج) دهغه چاپه اَړَه چي دالله په لاَرَه کې زَر دِینَارَه ورکړل او هغه ئې یَوَه غُلاَم ته ورکړل چي دئ په دې باندي تِجَارَت وکي او دهغه نَفعَ دمِسکِینَانُو او رِشتَه دَارَانُولپاره صَدَقَه وي .

[۱۵۴۱](۱۲) وَاِذَا صَحّ الوَقفُ لَم یَجزِ بَیعُهُ وَلاَ تَملِیکُهُ [۱۵۴۲](۱۳) اِلاّ اَن یَکُونَ مُشَاعًا عِندَ اَبِي یُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ فَیُطلُبُ الشّرِیکُ القِسمَةَ فَتَصِحّ مُقَاسَمَتُهُ .

ثخه معلوم سوچي دِرهَم او دِینَار هم وَقف کولائي سي چي په دي به تِجَارَت وکي کومه گټه چي راسي هغه به دمسکینانولپاره وَقف وي .

لُغَت : کَرَاعٌ : آسان. حَبَسَ : مَنعَ کول.وَقف کول .

[۱۵۴۱](۱۲) چي وَقف صحیح سي نودهغه خرڅول صحیح نَه دئ او نَه ثوک دهغه مَالِک جوړولائي سي .

تشریح : دوَقف دمکمّل کېدو وروسته دوَقف دجائیداد نَه ثوک مَالِک جوړولائي سي او نَه ئې خرڅولائي سي .

وجه : مخته دحضرت عُمَرحدیث تېرسوئ دئ په هغه کي دا الفاظ وُ فَقَالَ النّبِيّ تَصَدّق بِاَصلِهِ لاَیُبَاعُ وَلاَ یُوهَبُ وَلاَیُورَثُ وَلْکِن یُنفَقُ ثَمَرُهُ (الف) (بخاري شریف.باب وما للوصِي ان یعمل في مال الیتیم ومایأکل منه بقدرعمالته ص۳۸۸ نمبر۲۷۶۴) ددې ثخه معلوم سوچي دوَقف مَال نَه خرڅېدلائي سي.نَه ئې ثوک وَارِث جوړېدلائي سي او نَه هِبَه کېدلائي سي .

[۱۵۴۲](۱۳) مګر دا چي مُشتَرَک وي د امام ابویوسف په نېز او شریک دتقسیم مُطالَبَه وکي نو صحیح دئ دهغه تقسیم کول .

تشریح : د امام ابویوسف په نېزمُشتَرَک جائیدادوَقف کېدلائي سي لِهْذَا که چیري هغه مُشتَرَک وي او شریک دهغه تقسیم غُوَارِي نوتقسیم ئې جائز دئ .

وجه : دا دده خپل حَق دئ دا بَدلَه نَه ده بلکه خپله حِصّه جلاکول ده لِهْذَا جائز دئ .

حاشیه : (الف) حضور وفرمائل اَصل ئې صَدَقَه که په دې ډَوَل چي نَه هغه خرڅ سي.نَه هِبَه کړل سي او نَه دهغه وَارِث جوړ سي لېکن دهغه مېوه دي خرڅ کړي .

[۱۵۴۳](۱۴) وَالوَاجِبُ اَن یَبتَدِئَ مِن اِرتِفَاعِ الوَقفِ بِعِمَارَتِهِ شَرَطَ ذَالِکَ الوَاقِفُ اَو لَم یَشتَرِطَ .

[۱۵۴۳](۱۴) وَاجِب دئ چي شروع کړي دوَقف په گټه سره دهغه مَرَمّت.که وَاقِف ددې شرط لګولئ وي که نَه وي لګولئ .

تشریح : که وَقف کونکي دا شرط لګولئ وي که نَه وي لګولئ چي ددې جائیداد په کټه به اَوّل ددي مَرَمّت او رُوزَنَه کیږي.خوبیا هم اَوّل دوَقف په گټه ددې مَرَمّت ضروري دئ .

وجه : (۱) د وَاقِف مقصددادئ چي دوَقف شَئ همېشه پاته وي.او دا هغه وخت اِمکان لري چي د وَقف دشِي دماتېدو او خرابېدو په صورت کي دهغه مَرَمّت کیږي.که نَه نوبیاخو به ډېر ژَر هغه شَئ ختم سي.نوځکه دوَقف په مَنَافِعُ اَوّل دهغه مَرَمّت ضروري دئ (۲)

دحضرت عُمَرد وَقف په هغه وُړدَه حديث کي ودې ته اِشَارَه سوې ده عَن اَبنِ عُمَرَ ... لاَجُنَاحَ عَلْي مَن وَلِيَهَا اَن يَأ كُلَ مِنهَا بِالمَعرُوفِ اَو يُطعِمَ صِدِّيقًا غَيرَمُتَمَوِّلٍ (الف) (بخاري شريف.باب الوقف كيف يكتب ص۳۸۸نمبر ۲۷۷۲) په دې حديث کي دئ چي نِګرَان او ذِمّه دَارَه څوک ئې په مُنَاسِب انداز سره خُوَړلاَئي سي ځکه چي دئ کار کوي نو قِيَاس پردغه باندي ددې په نَفعَ سره ددې شِي مَرَمّت هم کولائي سي (۳) دحضورﷺ دپرې ايښي وَرَاثَت په اَړَه دا حديث دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺ قَالَ لاَتُقتَسَمُ وَرَثَتِي دِينَارًا وَلاَ دِرهَمًا مَاتَرَكتُ بَعدَ نَفَقَةِ نِسَائِي وَمُؤنَةِ عَامِلِي فَهُوَ صَدَقَةٌ (ب) (بخاري شريف.باب نفقة القيم للوقف ص۳۸۹نمبر۲۷۷۶) په دې حديث کي دئ چي زُومَا د کارکونکو د خرچې وروسته داصَدَقَه دئ ددې څخه دا معلوم سو چي پر وَقف باندي د کارکونکو خلګو خَرچَه به د ددې د نَفعِ څخه اِستَل کيږي بَس پردغه باندي قِيَاس دئ چي دمَرَمّت خَرچَه به هم دنَفعِ څخه اخستَل کيږي که نَه نو بيا خود وَقف شَئ همېشه نَه سي موجود پاته کېدلائي .

حاشيه : (الف) د اِبنِ عُمَرڅخه رِوَايَت دئ چي ... دحرج خبره نَه ده پرهغه کوم چي نِګرَان جوړسي دا چي وَخُورِي په مناسب انداز سره يا ببِله مالداره جوړولو په دوستانُو وخُورِي (ب) زُومَا دوَرَاثَت دِرهَم او دِينَار مَه تقسيموئ څَه چي زُومَا دبِي بِي او دنِګرَان دخرچې څخه پاته سي هغه صَدَقَه ده .

[۱۵۴۴](۱۵) وَاِذَا وَقَفَ دَارًا عَلْي سُكنْي وَ لَدِهِ فَالعِمَارَةُ عَلْي مَن لَهُ سُكنْي [۱۵۴۵](۱۶) فَاِن اِمتَنَعَ مِن ذَالِکَ اَو كَانَ فَقِيرًا آجَرَهَا الحَاكِمُ وَعَمّرَهَا بِاُجرَتِهَا فَاِذَا عُمّرَت رَدّهَا اِلْي مَن لَهُ السّكنْي .

[۱۵۴۴](۱۵) که مکان د خپل اَولاَد دوُسېدَلُولپاره وَقف کئ نو مَرَمّت پرهغو باندي دئ دکوم چالپاره چي رِهَائِش او وُسېدَنَه ده .

تشريح : د يَومخصوص اِنسَان دوُسېدُو لپاره مکان وَقف کئ نودمکان کِرَايَه خو نَسته.البته دهغه دمَرَمّت ذِمّه دَارِي پروُسېدُونکُو اِنسَانَانُوباندي ده.هغه دي په خپله آمَدَنِي او خرچه سره ددې مَرَمّت وکي .

وجه : (۱) چي دئ پکښي وَسِيږي نو د ,,اَلخَرَاجُ بِالضّمَان,, قاعدې په رُوڼا کي مَرَمّت او روزنه هم دده ذِمّه دَارِي ده (۲) لکه څَه رنګه چي دخدمت لپاره غُلاَم وي نو دهغه غُلاَم خُوَرَاک.خَرچَه پرهغه چادي دکوم چاچي خِدمَت کوي.دغه رنګه دمکان مَرَمّت پر وُسېدُونکِي باندي دئ. پر رِشتَه دَارَانُوباندي دوَقف کولوحديث دا دئ سَمِعَ اَنَسُ بِنِ مَالِكٍ ... قَالَ اَبُوطَلحَةَ اَفعَلُ ذَالِکَ يَارَسُولَ اللهِ ! فَقَسّمَهَا اَبُوطَلحَةَ فِي اَقَارِبِهِ وَبَنِي عَمِّهِ (الف) (بخاري شريف.باب اذا وقف ارضًاولم يبيّن الحدودفهوجائزوكذالک الصدقة ص ۳۸۸نمبر۲۷۶۹) ددې حديث څخه معلوم سوچي د اَولاَد لپاره هم وَقف کولائي سي .

لُغَت : سُكنْي : وُسېدنَه.رِهَائِش .

[۱۵۴۵](۱۶) که دمَرَمّت کولوڅخه مَنعَ سي يا فَقِيرسي نو حَاکِم به هغه په اُجرَت ورکوي او دهغه په اُجرَت به دهغه مَرَمّت کوي.چي مَرَمّت ئې وسي نوهغه دي وَاپَس کړي وهغه ته دکوم چاچي رِهَائِش دئ .

تشريح : وکوم چاته چې د وسېدلولپاره ورکړئ دئ هغه ئې مَرَمّت نَه کوي.يا فَقِير

حاشيه : (الف) ابوطلحه وفرمائل دا کومه د الله رسول! نوابوطلحه بَاغ پرخپلورِشتَه دَارَانُو او د آکَا پر زَامَنَانُو باندي تقسيم کړئ .

[١٥۴۶](١٧) وَمَا اِنهَدَمَ مِن بِنَآءِ الوَقفِ وَآ لَتِهِ صَرّفَهُ الحَاكِمُ فِي عِمَارَةِ الوَقفِ اِن اِحتَاجَ اِلَيهِ وَاِن اِستَغنْي عَنهُ اَمسَكَهُ حَتْي يَحتَاجَ اِلْي عِمَارَتِهِ فَيُصَرِّفَهُ فِيهَا وَلاَ يَجُوزُ اَن يُقَسِّمَهُ بَينَ مُستَحِقِّي الوَقفِ .

دئ چي دهغه لکبله مَرَمّت مُشکل وي نو دهغه صورت به دا وي چي حَاکِم به دا مکان وبل چاته په کِرَايَه ورکوي او په کِرَايَه به دهغه مَرَمّت کوي.چي مَرَمّت ئې وکي مکان پر خپل اَصل حَالَت باندي راسي نو دوباره به دا مکان وهغه فَقِير ته ورکوي پرکوم فَقِيرچي وَاقِف وَقف کړئ وُ .

وجه : وسېدونکئ سړئ ئې مَرَمّت نَه کوي او دهغه مَرَمّت ضروري هم دئ نو دهغه اِمکَانِي صورت دا دئ چي وَبَل چاته دې په کِرَايَه ورکړي دهغه څخه چي کومه آمَدَنِي راځي په هغه دې مَرَمّت وکي.او دمَرَمّت کولو وروسته په کِرَايَه ورکولو ضرورت بيا نَه سو پاته او دمَوقُوفٌ عَلَيهِ حق مُقَدّم دئ نوځکه دوباره به بېرته وهغه ته ورکوي .

لُغَت : آجَرَ : په اُجرَت ورکول .

[١٥۴۶](١٧) کوم څَه چي رَايَلَه سي دوَقف دعِمَارَت څخه او دهغه د آلې څخه نو حَاکِم به هغه دوَقف په مَرَمّت کولوکي مَصرَف کوي که چيري دهغه ضرورت وي.او که دهغه ضرورت نَه وي نوکښېدې اِږدِي ترهغه وخت چي ددې دمَرَمّت ضرورت پيښ سي چي بيائې په هغه کي مَصدرَف کړي.او جواز نَه لري چي دا دوَقف په مُستَحِقِّينُ کي مَصرَف کړي .

تشريح : که د وَقف دبِلډِنګ يعني عِمَارَت څخه خَښتِي.لَرګِي يا بَل شَئ رَايَلَه سي جلا سي نوهغه دي دهغه وَقف په مَرَمّت کي اِستِعمَال کړي.او که چيري اُوس د اِستِعمَالولو ضرورت نَه وي نوکښي دې اِږدِي چي څَه وخت بيا ضرورت راسي پر هغه وخت دي دا رَايَلَه سوي شيان بيا په هغه کي اِستِعمَال کړي.خو د وَقف د مُستَحِقّينُ ترمينځ دي دا شِيَان نَه تقسيموي .

وجه : (١) دمُستَحِقّينُ حَق په نَفعَ کي سته په عَين شِي کې حَق نَستَه.او دا خو عَينِ شَئ دئ نوځکه دا دي دهغو په مينځ کي نَه تقسيموي.او رَايَلَه سوئ شَئ هسي ضَائِع کولائي هم نَه سي نوځکه دا دي دضرورت دموقع لپاره محفوظ کښېږدي (٢) په حديثوکي راغلي دي چي دکعبې بَاقِي مَاندَه شيان ئې دمُستَحِقّينُ ترمينځ تقسيم نَه کړل بلکه دکعبې دمَرَمّت لپاره محفوظ کړل عَن اَبِي وَائِلٍ قَالَ جَلَستُ اِلْي شَيبَةَ فِي هٰذَا

المَسجِدِ قَالَ جَلَسَ اِلَيّ عُمَرُ فِي مَجلِسِکَ هٰذَا فَقَالَ هَمَمتُ اَن لاَ اَدَعَ فِيهَا صَفرَ آ ءَ وَلاَ بَيضَآ ءَ اِلاّ قَسّمتُهَا بَينَ المُسلِمِينَ قُلتُ مَا اَنتَ بِفَاعِلٍ قَالَ لِمَ قُلتُ لَم يَفعَلهُ صَاحِبَاکَ قَالَ هُمَا المَرآنِ يُقتَدْي بِهِمَا (الف) (بخاري شريف.باب الاقتداء بسنن رسول اللهﷺ ص۱۰۸۰نمبر۷۲۷۵.کتاب الاعتصام بالکتاب والسنة) په دې حديث کې دکعبې هَديَه چې وَقف وَه دخلګوترمينځ ئې نَه ده تقسيم کړې ددې څخه دا معلوم سوچي دوَقف عِمَارَت لَرګِي اوخَښتِي يابَل شَئ به د مُستَحِقّينُو تر مينځ نَه تقسيموي (۳) دَخَلَ شَيبَةُ بِنِ عُثمَانَ الحَجَبِيّ عَلْي عَائِشَةَ فَقَالَ يَا اُمّ المُؤمِنِينَ اِنّ ثِيَابَ الکَعبَةِ تَجتَمِعُ عَلَينَا فَتُکثِرُ فَنَعمِدُ اِلْي آ بَارٍفَنَحتَفِرُ هَا فَنعمِقُهَا ثُمّ نُدفِنُ ثِيَابَ الکَعبَةِ فِيهَا کَيلاَيَلبِسُهَا الجُنُبُ وَالحَائِضُ فَقَالَت لَهُ عَائِشَةُ مَا اَحسَنتَ وَبِئسَ مَا صَنَعتَ اِنّ ثِيَابَ الکَعبَةِ اِذَا نُزِعَت مِنهَا لَم يَضُرّهَا اَن يَلبَسَهَا الجُنُبُ وَالحَائِضُ وَلْکِن بِعهَا وَاِجعَل ثَمَنَهَا فِي المَسَاکِينِ وَفِي سَبِيلِ اللهِ قَالَت فَکَانَ شَيبَةُ بَعدَ ذَالِکَ يُرسِلُ بِهَا اِلْي اليَمَنِ فَتُبَاعُ هُنَاکَ ثُمّ يَجعَلُ ثَمَنَهَا فِي المَسَاکِينِ وَ فِي سَبِيلِ اللهِ

حاشيه : (الف) حضرت اَبِي وَائِل فرمائي چي زَه دحضرت شَيبَة سره په دغه مسجدکي کښېنَستَم.وويل چي حضرت عُمَر ستا په شان کښېنَستَئ.نو هغه وويل چي زَه غُوَاړَم چي هيڅ ډَوَل سَرَه زَر او سُپِين زَر په کَعبَه کي پرې نَه اِږدَم مګر دا چې هغه دمسلمانانو ترمينځ تقسيم کړم.نو مَا ورته وويل چي تَه داسي نَه سې کولائي.مَا ورته وويل چي ويلې نَه سي تقسيم کولائي؟ حضرت شَيبَة وفرمائل ستا دُوَاړُو ملګرو يعني حضور او ابوبکر داسي نَه دي کړي.حضرت عُمَر وفرمائل هغه دُوَاړَه مُقتَدَايَان دي .

[۱۵۴۷](۱۸) وَاِذَا جَعَلَ الوَاقِفُ غَلّةَ الوَقفِ لِنَفسِهِ اَو جَعَلَ الوِلاَيَةَ اِلَيهِ جَازَ عِندَ اَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ وَ قَالَ مُحَمّدٌ رَحِمَهُ اللهُ لاَ يَجُوزُ .

وَاِبنِ السّبِيلِ (الف) (سنن للبيهقي.باب ماجآء في مال الکعبة وکسوتهاج۵ ص۲۶۰نمبر۹۷۳۱) د دې اَثَرڅخه معلوم سوچي د وَقف هغه مال چي په هيڅ ډَوَل کارنَه وي هغه خرڅولائي او د مسکينانوترمينځ ئې تقسيمولائي سي .

[۱۵۴۷](۱۸) که وَقف کونکئ د وَقف آمدَنِي دځان لپاره وګرزوي يادهغه نِګرَانِي د ځان لپاره کړي نو د امام ابويوسف په نېزجائزدئ او امام محمدوفرمائل جواز نَه لري .

تشريح : وَاقِف خو وَقف وکئ لېکن دا شرط ئې هم ولګاوئ چي ددې څَه آمَدَنِي به زَه په خپله اِستِعمَالَوَم نو د امام ابويوسف په نېزجائز دئ.دغه رنګه ده دا شرط هم ولګاوئ چي ددې وَلاَيَت او تَصَرّف به زُومَا په لاَس کي وي او زَه په خپله ددې نِګرَان يم نو د امام ابويوسف په نېز دا هم جائز دئ .

وجه : دده دلائل دا حديثونه دي (۱) عَن اَنَسٍ اَنّ النّبِيّ رَأي رَجُلاً يَسُوقُ بَدَنَةً فَقَالَ لَهُ اِركَبهَا فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ اِنّهَا بَدَنَةً فَقَالَ فِي الثّالِثَةِ اَو فِي الرّابِعَةِ وَيلَکَ اَو وَيحَکَ (ب) (بخاري شريف.باب هل ينتفع الواقف بوقفه ص۳۸۵نمبر ۲۷۵۴) په دې حديث کې دوَقف پر وُښ باندي ومَالِک ته دسُپرېدو تَرغِيب ورکړې دئ ددې څخه دا معلوم سو

حاشيه : (الف) حضرت شَيبَة حضرت عائشي ته راغلي او وويل اىٔ أُمّ المُؤمِنِين! دكعبي كپړې جمع كيږي او سره ډيري سي.نو زَه ډير لُوئي كَدَىٔ كاږم بيا په هغه كي دكعبي كپړي دَفَن كوم چي جُنُب او حَائِضَه دا وَانَه غُوَندِي.حضرت عائشي وفرمائل تَا ښَه كار وَنَه كړىٔ.بَدكار دي وكئ.ځكه چي كله دكعبې كپړه وَبَاسِي نوبيا هيڅ دحرج خبره نَه ده چي جُنُب او حَائِضَه دا وَاغُوَندِي.لېكن دا خرڅ كَه او ددې رَقَم پرمسكينانوباندي تقسيم كَه.حضرت عائشه فرمائي چي ددې وروسته حضرت شَيبَة دا كپړې يَمَن ته اَستَوَلې.هلته دا خرڅېدلې بيائي دهغه قيمت پرمسكينانو او دالله په لاَرَه كي او پرمُسَافَرُوباندي خَرچَاوىٔ (ب) حضور يَو سړىٔ وليدىٔ چي د وَقف وُښ ئې رَاشَاړَىٔ نو حضور هغه ته وويل چي پر سُپُور سَه. هغو وويل اىٔ د الله رَسُولَ! دا بَدَنَه ده. حضور پر دريم يا څلورم وار وويل خُولَه دي وَچه سَه يعني ,,وَيلَکَ,, يا ,,وَيحَکَ,, لفظ ئې ووايئ .

چي دوَقف مَال په خپله هم اِستِعمَالَوَلاَئي سي(٢) فَقَالَ رَسُولُ اللهِ مَن يَشتَرِيهَا مِن خَالِصِ مَالِهِ فَيَكُونُ دَلوُهُ فِيهَا كَدِلاَءِ المُسلِمِينَ وَلَهُ خَيرٌ مِنهَا فِي الجَنّةِ (الف) (دارقطني.باب وقف المساجدوالسقايات ج٤ص١٢٣نمبر٤٣٩٤/بخاري شريف. باب اذا وقف ارضًااو بئرًا او اشترْي لنفسه مثل دلآء المسلمين ص٣٨٩نمبر٢٧٧٨) په دې حديث كې ويلي دي چي څاه يعني كُوهَىٔ دي رَانِيسِي او دا مُشتَرِي دي هم دعام مسلمانانُود سَولاَغُو په شان سَولاَغې راوكاږي ددې څخه دا معلوم سوچي وَقف كونكىٔ دوَقف مَال اِستِعمَالَوَلاَئي سي .

دُوَمَه مسئله دا ده چي دوَقف نِگرَانِي پرخپله ذِمّه واخلي نو دا اَخستَلاَئي سي كه نَه سي اَخستَلاَئي ؟ امام ابويوسف فرمائي چي دا ذِمّه دَارِي اخستلائي سي

وجه : دده دليل دا اَثَر دىٔ اَخبَرَنِي غَيرُ وَاحِدٍ مِن آلِ عُمَرَ وَآلِ عَلِيٍّ اَنّ عُمَرَ وَلّيْ صَدَقَتَهُ حَتّيْ مَاتَ وَجَعَلَهَا بَعدَهُ اِلْي حَفصَةَ وَاَنّ عَلِيّاً وَلّيْ صَدَقَتَهُ حَتّيْ مَاتَ وَوَلِّيَهَا بَعدَهُ حُسَينُ بِنِ عَلِيٍّ وَاَنّ فَاطِمَةَ بِنتَ رَسُولِ اللهِ وَلِّيَت صَدَقَتَهَا حَتّيْ مَاتَت وَبَلَغَنِي عَن غَيرُ وَاحِدٍ مِنَ الاَنصَارِ اَنّهُ وَلّيْ صَدَقَتَهُ حَتّيْ مَاتَ قَالَ فِي القَدِيمِ وَوَلّيْ الزّبَيرُ صَدَقَتَهُ حَتّيْ قَبَضَهُ اللهُ وَوَلّيْ عَمروبِنِ العَاصِ صَدَقَتَهُ حَتّيْ قَبَضَهُ اللهُ وَوَلّيْ المِسوَرُ بِنِ مَخرَمَةَ صَدَقَتَهُ حَتّيْ قَبَضَهُ اللهُ (ب) (سنن للبيهقي.باب جواز الصدقة المحرومة وان لم تقبض ج٦ ص٢٦٧ نمبر١١٩٠٢) په دې اَثَر ګَن شمېر اَصحَابَانُودخپل وَقف نِگرَانِي په خپله كړې ده.نوځكه كه وَاقِف په خپله دوَقف نِگرَانِي كول وَغُوَاړِي كولائي سي .

امام محمدفرمائي چي كه وَاقِف په وَقف كي دخپل اِستِعمَال شرط ولګوي نو دا شرط نَه سي لګولائي .

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل څوک دا په خپل خَالِص مَال رَانِيسِي؟ چي دده سَولاَغَه په دې څَاه كي دعام مسلمانانو دسَولاَغُوپه شان سي.او ده ته په جَنّت كي ددې څخه ښَه بَدلَه ملاؤسي (ب) د آلِ عُمَر او آلِ عَلِي ګڼ شمېر خلګوخبر وركړىٔ دىٔ چي حضرت عُمَر ترمرګه پوري دخپلي صدقې نِگرَانِي وكړه او دهغه وروسته دحَفصې لپاره كړه.او حضرت عَلِي ترمرګه پوري دخپلي صدقې نِگرَانِي وكړه.دهغه وروسته حُسَين بِن عَلِي دهغه نِگرَانِي وكړه.او فاطمې دخپلي صدقې نِگرَانِي وكړه.او د اَنصَارُ د ډېرو خلګو څخه دا خبر راغلىٔ دىٔ چي هغو ترمرګه پوري دصدقې نِگرَانِي وكړه.حضرت زُبَير ترمرګه پوري دصدقې نِگرَانِي وكړه.عَمرو بِنِ عَاص تر مرګه پوري دصدقې نِگرَانِي وكړه.مِسوَر بِنِ مَخرَمَه تر مرګه پوري دخپلي صدقې نِگرَانِي وكړه .

[١٥٤٨](١٩) وَ اِذَا بَنْي مَسجِدًا لَم يَـزَل مِلكَـهُ عَنـهُ حَتْـي يَفـرُزَهُ عَـن مِلكِهِ بِطَرِيقِهِ وَيَأذِنَ لِلنّاسِ بِالصّلوةِ فِيهِ فَاِذَا صَلّي فِيهِ وَاحِدٌ زَالَ مِلكُـهُ عَنهُ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ .

وجه : (١) د وَقف وروسته دا مَال دالله سو نوځکه اُوس دخپل استعمال شرط لګول جواز نَه لري (٢) په حديث کي دصدقي دوَاپَس کولوڅخه مَنع راغلي ده او دوَقف مَال خو يو قِسم صدقه ده نوځکه ددي دوباره اِستِعمَال جواز نَـه لري.پـه حـديث کـي دئ اَنّ عُمَرَ حَمَلَ عَلْي فَرَسٍ لَهُ فِي سَبِيلِ اللهِ اَعطَاهَا رَسُولُ اللهِ ﷺ فَحَمَلَ عَلَيهَا رَجُلاً فَاَخبَرَ عُمَرُ اَنّهُ وَقفُهَايَبِيعُهَافَسَأَلَ رَسُولُ اللهِ اَن يَبتَاعَهَا فَقَالَ لاَ تُبتَاعُهَا وَلاَ تَرجِعنَ فِي صَدَقَتِکَ (الف) (بخاري شريف.باب وقف الدواب والکراع والعروض والصامت ص٣٨٩نمبر٢٧٧٥) پـه دي حديث کي دصدقي دوَاپَس کولوڅخه حضور منع کړي ده.نوځکه وَقف پـه خپلـه اِستِعمَالَوَل هم جواز نَه لري.او د خپلي نِګرَانَئ شرط په دي وجه نَه سي لګولائي چي د امـام محمدپـه نېز دوَقف مَال و يوبَل نِګرَان او وَلِي ته حواله کول ضروري دئ.نوځکه په خپلـه دنِګرَانَـئ شرط نَه سي لګولائي .

[١٥٤٨](١٩) که يوچا مسجدجوړکړئ نو دده مِلکِيّت نَه زائليږي ترهغه وختـه چـي دا دخپل مِلکِيّت څخه جلا کړي سره د لاَرِي او وخلګوته په هغه کي دلمونځ کولواِجَـازَت ورکړي.که چيري په هغه کي يوه چا لمونځ وکئ نو د امام ابوحنيفه په نېز دده مِلکِيّـت زَائِل سو .

تشريح : چي مسجدجوړ کړي باقاعده ئې دخپل مِلکِيّت څخـه جـلا کـړي او وهغـه تـه د تلـو راتلو لاَرَه هم ورکړي او دحَوَالَه کولولپاره کَم از کَم يوسړئ پـه هغـه کـي لمـونځ وکـي بيـا وَقف مکمل کيږي .

حاشيه : (الف) حضرت عمرد الله په لاَرَه کي آس وَقف کړئ کوم چي حضور ورکړئ وُ.نـوحضـرت عُمَـرخَبَـر ورکړئ چي دده د وَقف مَال خرڅيږي.نودحضور څخه پوښتنه وکړه چي آيا دا رَانِيسَم؟ نوحضـور وفرمائـل دا مَـه رَانِيسَه او خپله صَدَقَه وَاپَس مَه اَخلَه .

[١٥٤٩](٢٠) وَقَالَ اَبُويُوسُفَ يَزُولُ مِلكُهُ عَنـهُ بِقَولِـهِ جَعَلـتُ مَسـجِدًا

[١٥٥٠](٢١) وَمَن بَنْي سِقَايَةً لِلمُسلِمِينَ اَو خَانًا يَسكُنُهُ بَنُو السّبِيلِ اَو رَبَاطًا اَو جَعَلَ اَرضَهُ مَقبَرَةً لَم يَزَل مِلكُهُ عَن ذَالِـکَ عِنـدَ اَبِـي حَنِيفَـةَ رَحِمَهُ اللهُ حَتْي يَحكُمَ بِهِ حَاكِمٌ وَقَالَ اَبُويُوسُـفَ رَحِمَـهُ اللهُ يَـزُولُ مِلكُـهُ بِالقَولِ وَقَالَ مُحَمّدٌ اِذَا اِستَقْي النّاسُ مِنَ السِّقَايَةِ وَسَكَنُوا الخَانَ وَالرّبَاطَ وَدَفَنُوا فِي المَقبَرَةِ زَالَ المِلکُ .

وجه : دده په نبز و وَلِي ته حَوَالَه كول ضروري دئ او دلته يومخصوص وَلِي نسته نوځكه چي دمِلكِيّت څخه جلا كړي او يَو اِنسَان په هغه كي لمونځ وكي دا هم كفايت كوي .

لُغَت : يَفرِزَهُ : دمِلكِيّت څخه علْيحِيدَه كول .

[١٥٤٩](٢٠) امام ابويوسف وفرمائل چي دده مِلكِيّت ددې څخه جلاكيږي دده د دې وَينَا سره چي ,,مَا مسجدجوړكړئ,, .

تشريح : د امام ابويوسف په نبز و هيڅ ډَوَل وَلِي ته حواله كول ضروري نَه دئ بلكه صرف دُونَه دي ووائي چي ,مَا مسجدجوړكړئ, بَس ددغه وَينَاڅخه وَقف مكمل ګرزي.

[١٥٥٠](٢١) يو چا دمسلمانانُو لپاره د چِيښَلُو سَبِيل جوړ كړئ يائې دمسافرو لپاره سرائ جوړكړئ يائې مُسَافِرخَانَه جوړه كړه يائې دخپلې مځكي څخه قبرستان جوړكړئ نو د امام ابوحنيفه په نبز دده مِلكِيّت نَه زائليږي ترهغه وخته چي حَاكِم ددې فيصله وكي.او امام ابويوسف وفرمائل صرف دده په وَينَا سره دده مِلكِيّت زائليږي.او امام محمدوفرمائل چي يوڅوک دسَبِيل څخه اُوبَه وچيښي او په سرائ خانه و مسافرخانه كي ووسيږي او په قبرستان كي پټېدل شروع كړي نومِلكِيّت به زائل سي .

تشريح : د امام ابوحنيفه په نبز دمسافرخانې وغيره لپاره چي دوَقف فيصله وكي بَس هغه وَقف ګرزي.او د امام ابويوسف په نبز صرف په وَينَاسره وَقف ګرزي.او د امام محمدپه نبز چي يَو مسافر يا مسكين هغه اِستِعمَال كړي نو بيا وَقف مكمل كيږي .

اُصُول : د امام ابوحنيفه اُصُول دا دئ چي د قاضي فيصله وي نوبيا وَقف مكمل كيږي.د امام ابويوسف اُصُول دا دئ چي صرف په وَينَا سره وَقف كړي بَس وَقف مكمل كيږي.او د امام محمد اُصُول دا دئ چي دوَينَا وروسته چي كوم چاته وَقف كړئ دئ هغه ئې قبضه كړي مثلاً په مسافرخانه كي مسافر وسېدل شروع كړي يا دسَبِيل څخه اُوبَه وچيښِي نو هغه وخت وَقف مكمل كيږي .

* * *

اَبُوالحُسَين قُطب عفي عنه وعن والديه

* * *

كِتَابُ الغَصبِ

....

[١٥٥١](١) وَمَن غَصَبَ شَيئًا مِمّا لَهُ مِثلٌ فَهَلَکَ فِي يَدِهِ فَعَلَيهِ ضَـمَانُ مِثلِهِ وَ اِن كَانَ مِمّا لاَ مِثلَ لَهُ فَعَلَيهِ قِيمَتُهُ .

كِتَابُ الغَصبِ

....

ضروري پام لرنه : د غَصب معنٰي ده په زوره ديوچـا مَـال اَخَسـتَل.دا حـرام دئ. (١) ددې ثبـوت پـه دې آيـت كـي دئ وَلاَ تَـأ كُلُـوا اَمـوَا لَكُـم بَينَكُم بِالبَاطِـلِ (الـف) (آيـت ١٨٨سورة البقرة٢) په دې آيت كي حكم دئ چي ديو چا مَال په بَاطِله طريقه سره مَـه خُورَئ.په دي كي غَصَب هم شامل دئ (٢) په حديث كي دئ عَن يَزِيـدَ اَنّـهُ سَمِعَ النَّبِـيّ لاَيَأخُـذَنّ اَحَـدُكُم مَتَـاعَ اَخِيـهِ لاَعِبًـا وَلاَجَـادًا ... وَمَـن اَخَـذَ عَصَـا اَخِيـهِ فَليَرُدّهَـا (ب) (ابوداؤدشـريف.باب مايأخذالشـئ مـن مـزاحٍ كتـاب الادب ج٢ص٣٣٥نمبـر٥٠٠٣ /ترمـذي شريف.باب ماجآء لايحل لمسلم اَن يُـرَوِّعَ مسلمًاج٢ص٣٩نمبـر٢١٦٠) ددې حـديث څخـه معلوم سوچي هيڅ څوک بايد دبَل شَئ غَصب نَه كړي.او كه غَـصب كـړئ بايـد هغـه وَاپَـس كړي .

[١٥٥١](١) كه يوچا داسي شَئ غَصب كړئ چي مِثل لـري بيـا هغـه دده پـه لاَس كـي هلاک سونو پر ده باندي ددې شِي دمِثل ضَمَان دئ.او كه دهغه څخه وي كوم چي مِثل نَه لري نو پرده باندي ددې قيمت دئ .

تشريح : كه يوچا دبَل چاشَئ غَصب كړئ نو دا حرام دئ.خوبيا هـم ده تـه پـه كـار دئ چي هغه شَئ وَاپَس كړي.او كه چيري هغه شَئ هلاک سي نو بيا كه چيري ددې شِي مِثل وي نو بايد مِثل وَاپَس كړي.مثلاً يَو مَن غَنَم ئې غَصَب كړل نو دا مِثلِي شَئ دئ لِهٰذَا يَو مَن غَنَم دي وَاپَس كړي. او كه چيري هغه شَئ مِثلِي نَه وي مثلاً غوَا ئې غَصَب كړه اوهغه مَړَه سوه نو اُوس به دغوَا قيمت وَاپَس كوي.ځكه چي يَوَه غوَا د بَلِي غوَا په مِثل نَـه وي.دا ذَوَتُ القِيَم ده ځكه قيمت به لازم سي .

حاشيه : (الف) خپل مالونه په خپل مينځ كي په بَاطِلَه طريقه سره مَه خُورَئ (ب) حضور وفرمائل ستاسو څخه هيڅ څوک دي د وُرُور سامان مَذَاقا يا حقيقة نَه اَخلِي ... او كوم چاچي دخپل وُرُور لَكَړَه وَاخَستَه هغه تـه پـه كـار دئ چي هغه وَاپَس كړي .

دلائل : (۱) د عَینِ مَغصُوب د وَاپَس کولو دلیل دا مخته تېرسوئحدیث دئ وَمَن اَخَذَ عَصَا اَخِیهِ فَلیَرُدّهَا (ابوداؤدشریف.نمبر۳ ۵۰۰) چي دیوه وُرُو لَګړَه غصب کړي نوهغه باید وَاپَس کړي (۲) په یوبَل حدیث کي دئ عَن سَمُرَةَ بِنِ جُندُبٍ قَالَ قَالَ النّبِيّ عَلْي الیَدِ مَا اَخَذَت حَتْي تُؤدِّیهِ (الف) (سنن للبیهقي.باب ردالمغصوب اذا کان باقیًاج۶ص۱۵۸نمبر۱۱۵۱۹) ددې حدیث څخه معلوم سوچي عَینِ شَئ موجودوي هغه وَاپَس کول په کار دئ .

اوچي شَئ مِثلِي وي نو د مِثل دوَاپَس کولو دلیل دا آیت دئ فَمَن اِعتَدْي عَلَیکُم فَاعتَدُوا عَلَیهِ بِمِثلِ مَا اِعتَدْي عَلَیکُم (ب) (آیت ۱۹۴سورة البقرة ۲) په دې آیت کي دئ چي څومره ظُلم سوئ وي هغونه تاسو کولائي سئ.نو قیاس پردغه باندي چي څونه غصب ئې کړئ وي هلا ک کړئ ئې وي دهغه مِثل ورکول وَاجِب دئ.په حدیث کي دئ چي حضرت عائشې پیَالَه ماته کړه نو حضور دهغه مِثل پیَالَه و مَالِک ته ورکړه. حدیث دا دئ عَن اَنَسٍ اَنّ النّبِيّ کَانَ عِندَ بَعضِ نِسَائِهِ فَاَرسَلَت اِحدَيّ اُمّهَاتِ المُؤمِنِینَ مَعَ خَادِمٍ بِقَصعَةٍ فِیهَا طَعَامٌ فَضَرَبَت بِیَدِهَا فَکُسِرَتِ القَصعَةُ فَضَمّهَا وَجَعَلَ فِیهَا الطّعَامَ وَقَالَ کُلُوا وَحَبَسَ الرّسُولَ وَالقَصعَةَ حَتْي فَرَغُوا فَدَفَعَ القَصعَةَ الصّحِیحَةَ وَحَبَسَ المَکسُورَةَ (ج) (بخاري شریف.باب اذا کسرقصعة اوشیئالغیرها ص۳۳۷نمبر۲۴۸۱) په دې حدیث کي د پیَالي مِثل بَله پیَالَه حضورﷺورکړه. ددې څخه معلوم سوچي مِثل ورکول وَاجِب دئ .

او که دشَئ مَغصُوب مِثلِي نَه وی نو دهغه قیمت وَاجِب دئ .

حاشیه : (الف) حضور وفرمائل چي څَه دي اخستي وي هغه ستا پر لاَس دي ترهغه وخته چي اداَء ئې کړې (ب) چاچي پر تَا باندي ظُلم وکئ نو تَه دهغه په مِثل ظُلم وکه یعني بدله وَاخلَه څونه چي پرتاباندي ظُلم کړئ دئ (ج) حضور دبَعضُ بِي بِي ګانُوسره وُ (دحضرت عائشې سره وُ) د اُمّهَاتُ المؤمنین څخه یَوې دخَادِم سره پیَالَه رَاوَاستوَلَه په هغه کي ډُوډَئ وه.نودهغې لاَس ئې وَوَاهَئ پیَالَه مَاتَه سوه. نوحضور هغه سره وَنِیوَل او په هغه کي ډُوډَئ کښېښوَه او وفرمائل وَخُورَه.اوحضور قَاصِد او پیَالَه رُوګاَو کړل ترهغه وخته چي د ډُوډَئ څخه فارغ سو بیائې رُوغَه پیَالَه ورکړه اومَاتَه پیَالَه ئې دځان سره کښېښوه .

[۱۵۵۲](۲) وَعَلْي الغَاصِبِ رَدّ العَینِ المَغصُوبَةِ [۱۵۵۳](۳) فَاِن اِدّعْي هَلاَکَهَا حَبَسَهُ الحَاکِمُ حَتْي یَعلَمَ اَنّهَا لَو کَانَت بَاقِیَةً لأظهَرَهَا ثُمّ قَضْي عَلَیهِ بِبَدَلِهَا .

وجه : (۱) چي مِثل نَه لري نوبېله قیمت په بَل شِي مکافات نَه سي کېدلائي (۲) دقیمت ورکولو ثبوت په دې حدیث کي دئ عَن اَبِی هُرَیرَةَ عَنِ النّبِيّ ﷺ قَالَ مَن اَعتَقَ شَقِیصًا مِن مَملُوکِهِ فَعَلَیهِ خَلاَصُهُ فِي مَالِهِ فَاِن لَم یَکُن لَهُ مَالٌ قُوّمَ المَملُوکُ قِیمَةَ عَدلٍ ثُمّ اُستُسعِيَ غَیرَ مَشقُوقٍ عَلَیهِ (الف) (بخاري شریف.باب تقویم الاشیاَء بین الشرکآء بقیمة عدلٍ ص۳۳۹نمبر۲۴۹۲.کتاب الشرکة) په دې حدیث کي دغُلاَم قیمت لګولئ دئ فیصله ئې کړې ده ددې څخه دمَغصُوب شِي دقیمت ورکولو ثبوت وسو.

[۱۵۵۲](۲) او پرغَاصِب باندي دمَغصُوب شِي عَین وَاپَس کول وَاجِب دئ .

تشریح : چي عَینِ مَغصُوب موجود وي نوعَینِ مَغصُوب وَاپَس کول وَاجِب دئ .

وجه : (۱) ځکه چي دغه شَئ ئې دمَالِک څخه غَصب کړئ دئ نوځکه دهغه وَاپَس کول ضروري دئ.دهغه مِثل يا قيمت وَاپَس کول خو دمجبورئ په درجه کي دئ (۲) اُوس مخته حديث تيرسوچي په هغه کي د عَين شِي د وَاپَس کولو حکم وُ فَمَن اَخَذَ عَصَا اَخِيهِ فَلِيَرُدّهَا اِلَيهِ (ترمذي شريف.نمبر ۲۱۶۰/ابوداؤدشريف.نمبر۵۰۰۳)

[۱۵۵۳](۳) که غَاصِب دمَغصُوب شِي دهلاکت دَعوَه وکړه نوحَاکِم به دئ قَيدکوي ترهغه وخته چي يَقِين سي که چيري موجود پاته وائ نو ضرور به ښکاره کړئ وائ بيا به پر ده باندي ددې دبَدلې فيصله کوي .

تشريح : غَاصِب دا دعوْي کوي چي شَئِ مَغصُوب هلاک سوئ دئ نوحَاکِم به فَورًا دده خبره نَه مَنِي بلکه پر دې خبره دي دده څخه علامت طلب کړي او که هغه نَه وي

[۱۵۵۴](۴) وَالِصبُ فِيمَا يَنقُلُ وَيَحُولُ [۱۵۵۵](۵) وَ اِذَا غَصَبَ عِقَارًا فَهَلَکَ فِي يَدِهِ لَم يَضمَنهُ عِندَ اَبِي حَنِيفَ◌ةَ وَ اَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُمَا اللهُ وَقَالَ مُحَمّدٌ يَضمَنُهُ .

نو بيا دي دئ قَيدکړي.او تر دومره وخته دي دئ قَيدي کړي چي که چيري واقعي هغه شَئ دغَاصِب سره موجود وائ نو ده به ښکاره کړئ وائ.لېکن دئ ئې تر اُوسَه نَه ښکاره کوي نو ددې مطلب دا دئ چي هغه شَئ وَاقِعِي هلاک سوئ دئ.اُوس دى حَاکِم ددې شِي دمِثل يا دقيمت فيصله وکړي .

وجه : اَصل خو دا دئ چي عَينِ شَئ وَاپَس کړي نو ځکه دهغه دښکاره کولو او د وَاپَس کولوبه پوره پوره کوشش کيږي .

اُصُول : دحَقِيقَتِ حَال دښکاره کولوبه پوره پوره کوشش کيږي .

لُغَت : حَبَسَ : د يَوشِي د ښکاره کولو لپاره چي کوم وَقتِيقَيد وي هغه ته حَبَس وائي .

[۱۵۵۴](۴) او غَصَب دهغه شِي وي چي نَقل کيږي او بَدلِيږي .

تشريح : کوم شَئ چي مُنتَقِل کيږي هغه غَصب کيږي.ددې مطلب دادئ چي مځکه او جائيداد چي نَه مُنتَقِل کيږي که څوک هغه غَصَب کړي نو دا په غَصَب کي نَه شُمېرل کيږي .

وجه : پر هغه خو مکمله قبضه کيږي.او هغه مُنتَقِل کيږي په خپل مِلکِيّت کې کولائي سي.مځکه اوجائيدادخوديوه ځايَه څخه بَل ځائ ته نَه سي مُنتَقِل کولائي. نوځکه پردې باندي دغَصب اِطلاَق نَه سي کېدلائي .

[۱۵۵۵](۵) او که مځکه غَصَب کړه او دده په لاَس کي هلاکه سوه نو د امام ابوحنيفه او امام ابويوسف په نېز ضَامِن نَه دئ او امام محمدوفرمائل ضَامِن دئ .

حاشيه : (الف) يَوچَا دغُلاَم حِصّه آزادَ کړه نوپر ده باندي لازم دئ چي خپل مَال ورکړي ځان آزاد کړي.که چيري دده سره مَال نَه وي نو دغُلاَم مُنَاسِب قيمت به لګول کيږي.بيا به داسي سَعيِ په کول کيږي چي پرغُلاَم باندي مُشَقّت نَه وي .

تشریح : د امام ابوحنیفه او امام ابویوسف په نېزدمځکي وقبضه کولوته غَصَب نَه ویل کیږي.نوځکه که مځکه هلاکه سي نو پرغَاصِب باندي ضَمَان نَه راځي .

وجه : (۱) مځکه چي وَاخلِي چیري به وُړي؟ چي ډېر څَه وي نومځکه ته بـه نُقصَـان ورسوي خَرَابَ به کړي.یا مکان وي نوهغه به خَرَاب کړي.نو ددې نُقصَان ضَمَان خو پرغَاصِب باندي لازمیږي لېکن پـردې بانـدي دغَصـب اِطـلاَق نَـه کیـږي (۲) د دُوئـي دلیل دا حدیث دئ عَن سَعِیدِبنِ زَیدٍ عَنِ النّبِيِّ ﷺ قَالَ مَن اَحيْ اَرضًا مَیتَـةً فَهِـيَ لَـهُ وَلَـیسَ لِعَرقٍ ظَـالِمٍ حَـقٌ (الـف) (ابوداؤدشـریف.باب فـي احیـآءالموات ص نمبـر۳۰۷۳/ترمـذي شریف.باب ماذکرفي احیآءارض الموات ص۲۵۶ نمبر۱۳۷۸) په دې حدیث کي د,,عَرقٌ ظَالِمٌ,, مطلب دا دئ چي دیَوچَا مځکه غَصَب کړه په هغه کې یَوشِین ګَښتِي وکـرل نـو هغه ته هیڅ حَق نَه سي رسېدلائي یعني دا غَصَب نَه شمېرل کیږي .

فائده : امام محمدفرمائي چي مځکه غَصَب کړي نودې ته هم غَصَب ویل کیږي .

وجه : (۱) ځکه چي دده دقبضـې وروسـته مَالِـک بېدَخلَ سـي.او د دغـه بېدَخلَئ نـوم غَصَب دئ.که څَه هم هغه ددې ځَایَه څخـه بَل ځـائ تـه نَـه مُنتَقِل کیـږي (۲) دحـدیث څخه معلومیږي چي پرمځکه قبضه وکړي نو پردې باندي هم دغَصَب اِطـلاَق کیـږي.

حدیث دا دئ عَن سَالِمٍ عَن اَبِیهِ اَنّـهُ قَـالَ قَـالَ النّبِـيّ ﷺ مَـن اَخَـذَ مِـنَ الاَرضِ شَـیئًا بِغَیرِحَقّـهِ خُسِفَ بِهِ یَومَ القِیَامَةِ اِلٰي سَبعِ اَرضِینَ (ب) (بخاري شریف.باب اِثمُ من ظلم شَیئًامن الارض ص نمبر۲۴۵۴/مسلم شریف.باب تحریم الظلم وغصب الارض وغیرهاص نمبر۱۶۱۰) پـه دې حدیث کي دئ چي یَوچَا دبَل چامځکه نَاحَقَه وَاخَستَلَه نو د قِیَامَت تر ورځـي پـوري بـه په اُوُو مځکوکي چِخَل کیږي.ددې څخه معلوم سوچي دمځکي اَخَستَل او غَصَب کېـدلائي سي.نوځکه دغَصَب کولو وروسته چي شَئَ مَغصُـوب هـلاک سـي دهغـه ضَـمَان پرغَاصِـب باندي لازم دئ .

حاشیه : (الف) حضور وفرمائل کوم چاچي شَړَه مځکه آبادَ کړه نو هغه د هغه سړي ده او دظَالِم دبېخ لپاره هیڅ حَق نسته یعني مځکه غَصب کړه او آبـاد کـړه نـو ده تـه هغـه مځکـه نَـه رسیږي (ب) حضـور وفرمائـل چـاچي دمځکي څخه څَه نَاحَقَه وَاخَستَلَه نو تر قیامته پوري تر اُوُو مځکو پوري به چِخَل کیږي .

[۱۵۵۶](۶) وَمَا نَقَصَ مِنهُ بِفِعلِهِ اَو سُـکنَاهُ ضَـمِنَهُ فِـي قَـولِهِم جَمِیعًـا

[۱۵۵۷](۷) وَ اِذَا هَلَکَ المَغصُوبُ فِي یَدِ الغَاصِبِ بِفِعلِهِ اَو بِغَیرِ فِعلِهِ فَعَلَیهِ ضَمَا نُهُ .

اُصُول : د امام محمد په نېز دغَصَـب لپـاره دهغـه شِـی مُنتَقِل کېـدل ضـروري نَـه دئ نوځکه مځکه هم مَغصُوب کېدلائي سي .

لُغَت : عِقَارٌ : مځکه .

[۱۵۵۶](۶) او چي کوم نُقص دغَاصِب دفِعل او دهغه دوُسېدَلُوڅخه راسـي نـو د ټولـو پر قَول ضَامِن دئ .

تشریح : دغَاصِب دفِعل یا دغَاصِب دوُسېدلو لکبله په مځکه کي یَونُقص رَالَـئ نـو ددې نُقص ضَمَان د دُرُو سره امامانُو په نېز پر غَاصِب باندي لازم دئ .

وجه : (۱) تَاوَان ئې رسولئ دئ ځکه ضَمَان پر لازم دئ (۲) مختته حدیث تیرسـوچي پیَالَه ئې مَاتَه کړه نو دهغه په بَدلَه کي حضور رُوغَه او صحیح پیَالَه ورکـړه عَن اَنَـسٍ ... فَدَفَعَ القَصعَةَ الصّحِیحَةَ وَحَبَسَ المَکسُورَةَ (الف) (بخـاري شـریف .بـاب اذا کسرقصـعة اوشیئًالغیره ص۳۳۷نمبر۲۴۸۱) ددې ځخه معلـوم سـوچي پـه مځکـه یامکـان کـي چـي کوم نُقص راغلئ وي نودهغه ضَمَان پرغَاصِب باندي رَځِي.

[۱۵۵۷](۷) که شَـئِ مَغصُـوب دغَاصِـب پـه لأس کـي هـلاک سـي دغَاصِـب پـه فِعل یادهغه دفِعل بغیره نو دهغه ضَمَان پر ده دئ .

تشریح : شَئِ مَغصُوب دغَاصِب په قبضه کي وُ په دغه دَورَان کي دغَاصِب یادبَـل چَـا په حرکت سره هلاک سو نو پر غَاصِب دهغه ضَمَان لازم دئ .

وجه : (۱) شَئِ مَغصُوب وغَاصِب ته حَوَالَه دئ نوکه دئ هلاک کړي یا دده په قبضـه کې بَل څوک هلاک کړي.په دواړو صورتوکي غَاصِب دضَمَان ذِمّه دَارَه دئ (۲) د پیَالي په حدیث کي حضرت عائشې پیَالَه ماته کړې وه لېکن دهغه بَدلَه حضـورورکړه . ځکه چي پیَالَه دحضورپه ذِمّه دَارِي کي وه.ددې ځخه دا معلـوم سـوچي د غَاصِـب پـه ذِمّه دَارِي کې هرڅوک هلاک کړي غَاصِب به دهغه دضَمَان ذِمّه دَارَه وي.

حاشیه : (الف) حضور رُوغَه پیَالَه ورکړه او مَاتَه سوې پیَالَه ئې کښېښوَه .

[۱۵۵۸](۸) وَ اِن نَقَصَ فِي یَدِهِ فَعَلَیـهِ ضَـمَانُ النُقصَـانِ [۱۵۵۹] (۹) وَمَن ذَبَحَ شَاةَ غَیرِهِ بِغَیرِ اَمرِهِ فَمَالِکُهَا بِالخِیَارِ اِن شَآ ءَ ضَـمِنَهُ قِیمَتَهَـا وَسَلّمَهَا اِلَیهِ وَ اِن شَآ ءَ ضَمِنَهُ نُقصَا نَـهَا .

[۱۵۵۸](۸) او که دده په قبضه کي څَه نُقصَان راسي نـوپرده بانـدي دنُقصَـان ضَـمَان دئ .

تشریح : شَئِ مَغصُوب دغَاصِب په قبضه کي وُ چي په دغه دَورَان کي شَـئِ مَغصُـوب هلاک خو نَه سو.البته په هغه کي څَـه نُقصَـان راغلـئ نـو دنُقصَـان ضَـمَان پرغَاصِـب باندي لازم دئ .

وجه : مختته تېره سوې ده.او دپیالې والا حدیث هم مختته تېر سوئ دئ .

[۱۵۵۹](۹) یَوچَا دبل چَا بُوزَه دهغـه دحُکم بغیـره حلالـه کـړه نـو دبُـوزې مَالِـک تـه اِختِیَـار سـته کـه خُوَښَـه سـي دبُـوزې دقیمـت ضَـامِن دې جـوړکړي او بُـوزَه دي وحلالونکي ته حَوَالَه کړي.او که خُوَښَه سي ددې دنُقصَان ضَامِن دې جوړ کړي .

تشریح :دحلالېدو وروسته دبُـوزې دُوَه حَیثِیّتُونَـه دي.پـه یَـوَه حَیثِیّـت داهلاکـه سـوې ده ځکه چي دا ژُوَندَئ نَه سوه پاته.او په بَل حَیثِیّت ددې غُوَښَه قَابِلَه د خُورَاک ده نوځکـه

مکمّله نَه ده هلاکه سوې.بلکه په هغه کـي نُقص راغلـئ دئ. نوځکـه ومَالِـک تـه دُوَه اِختِيَار دي که خُوَښَه سي بُوزَه دي هلاکه وګڼي دغَاصِب څخه دي دپوره بُـوزې قيمـت وصول کړي او حلاله سوې بُوزَه دي وغَاصِـب تـه ورکـړي.دوم صـورت دا دئ چـي دبُوزې غُوَښَه دي کښيږدي. د ژُوَندَئ او حلالـي سوي بُـوزې پـه قيمـت کـي چـي کـوم فرق دئ هغه دي دحلالونکي څخه وصول کړي .

[١٥٦٠](١٠) وَمَـن خَـرَقَ ثَـوبَ غَيـرِهِ خَرقًـا يَسِـيرًا ضَـمِنَ نُقصَـانَهُ

[١٥٦١](١١) وَ اِن خَرَقَ خَرقًا كَثِيراً يَبطُلُ عَامّـةَ مَنَافِعِـهِ فَلِمَالِكِـهِ اَن يَضمَنَهُ جَمِيعَ قِيمَتِهِ .

اُصُول : په کوم ځائ کـي چـي دهلاکـت او نُقصَـان دواړه حَيثِيّتُونَـه وي هلتـه د دُوَاړُو رِعايَت کېدلائي سي .

پام لرنه : که حيوان غَيرِمَأكُولُ اللّحم وي او دحلالېدو وروسته يَو بې قيمته شَئ پاته سي نـو دا هلاک شمېرل کيږي او غَاصِب به پوره قيمت اداٴ کوي .

وجه : په حديث کي دئ چي دجُرَيج ګَلِيسَا ئې ماته کړه نـو خلکو دده ګَلِيسَـا نـوې ورجـوړه کړه. دحديث ټُکړَه دا ده عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ كَـانَ رَجُلٌ فِـي بَنِـي اِسـرَائِيلَ يُقَالُ لَهُ جُرَيجٌ ... فَاَتَوهُ وَكَسَرُوا صَومَعَتَهُ فَاَنزَلُوهُ وَسَبّوهُ فَتَوَضّأ وَصَلّي ثُمّ اَتْـي الغُلاَمَ فَقَالَ مَن اَبُوكَ يَا غُلاَمُ؟ قَالَ اَلرّاعِيَ قَالُوا نُبنِي صَومَعَتَكَ مِن ذَهَبٍ. قَالَ لاَ اِلاّ مِنَ الطِّينِ (الف) (بخاري شريف.باب اذا هدم حائطًا فليبين مثله ص٣٣٧نمبر٢٤٨٢) پـه دې حـديث کـي دئ چي ګَلِيسَا ئې وَنړَوَل نو دهغه مِثل ئې بېرته ورجوړه کړه .

[١٥٦٠](١٠) يَوچَا دبَل چَا کپړه لَږڅَه ورڅيره کړه نودهغه دنُقصَان به ضَامِن وي .

وجه : لَږڅَه ئې ورڅيـري کـړې ده تـر اُوسَـه لا د اِستِفَادې قَابِلَـه ده نوځکـه کپـړه پـه مکمله توګه نَـه ده هلاکـه سوې.بلکه پـه هغـه کـي نُقصَـان راغلـئ دئ.نوځکـه مَالِـک دڅِيرَوُنکِي څخه دنُقصَان ضَمَان اخستلائي سي .

[١٥٦١](١١) او که ډېره زِيَاتَه څِيرِي کړه چي اَکثَـرَه منـافِع ئـې خـتم سـوې نـو د دې ومَالِک ته جواز سته چي ددې د پوره قيمت ضَامِن ئې جوړ کړي .

[١٥٦٢](١٢) وَ اِذَا تَغَيّرَتِ العَينُ المَغصُوبَةُ بِفِعلِ الغَاصِبِ حَتْي زَالَ اِسـمُهَا وَ اَعظَـمُ مَنَافِعِهَـا زَالَ مِلـكُ المَغصُـوبِ مِنـهُ عَنهَـا وَمَلِكَهَـا الغَاصِبُ وَضَمِنَهَا وَ لاَ يَحِلّ لَهُ الاِنتِفَاعُ بِهَا حَتْي يُؤدِّي بَدَلَهَا .

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل په بَنِي اسرائيلوکي ديوه سړي نوم جُرَيج وُ ... خلکودهغـه کلِيسَـا ور وَنـړَوَل او هغه ئې رَاوَيستَئ او ښکنځلې ورته وکړې.جُرَيج اَودَس وکئ او لمونځ ئې وکئ.بيا دهَلَک پُلاَر ته راغلئ بيا هَلَـک ته رَانژدِي سو پوښتنه ځيني وکړه چي ستا پُلاَر څوک دئ؟ وويل شپُانَه. خلکو وويل مـوږ بـه د سُرُو زَرُو کلِيسَـا درجُوړَه کړو.جُرَيج وويل نَه.د خَاوُرُ ئې جوړه کئ .

تشريح : کېږه ئې دومره زِيَاتَه څِيرِي کړه چي دهيڅ شِي قَابِلَه نَه سوه پاتـه نـو دا اُوس نُقصَان نَه دئ بلکـه دا دکپړې هلاکـت دئ نوځکـه مَالِـک ددې د پـوره قيمـت اَخَسـتَلُو اِختِيَار لري .

وجه : وجه او حديث مخته تېرسوي دي (بخاري شريف.نمبر۲۴۸۲)

لُغَت : خَرَقَ : څِيرَه کړه. يَسِيرًا : لَږ .

[۱۵۶۲](۱۲) که دغَاصِب دفِعل څخه دمَغصُوب عَين بَدَل سي تردې چي نـوم ئـې هم ختم سي يائې اَعلْي مَنَافِعِ ختم سي نو دمَغصُوب مِنهُ مِلک به ددې څخه زَائِل سـي او غَاصِب به ددې مَالِک سي.لېکن دده لپاره ددې شِي څخه فائـده اَخَسـتَل جـواز نَـه لـري ترهغه وخته چي دمَغصُوب بَدلَه اداآء کړي .

تشريح : په دې عِبَارَت کې څوخبري بيان کړي دي.يوه خو دا چي غَاصِب دمَغصُـوب شِي سره داسي حرکت وکئ چي دهغه لکبله مَغصُوب شَئ موجود خـو دئ لـېکن اُوس دهغه نوم بَدَل سو بَل شَئ سومثلاً غَنَم ئې غَصَب کړل بيائې مَيدَه کړل اُوس دهغه نـوم وَړَه (اُوړَه) سو.هغه مخکي نوم يعني غَنَم پاته نَه سو.البته معنًا غَنَم موجـود دي.دغـه رنګه دغَنَمُو مَنفَعَت يعني ګَرَل ختم سـو اُوس د وَړُو مَنفَعَت يعنـي ډُوډَئ پَخَـوَل پاتـه سو.په داسي صورت کي مصنف فرمائي چي څَه رنګه نـوم بَـدَل سـو دمَالِـک مِلکِيّـت ددې څخه ختميږي او غَاصِب به ددې مَالِک سي.لېکن ترڅوچي ددې ضَـمَان ئـې اداآء کړئ نَه وي دغَاصِب لپاره ددې څخه فائده اَخَستَل جواز نَه لري .

وجه : (۱) چي دمَغصُوب شِي نوم بَدَل سو يائې مَنَافِع ختم سوې نو اُوس دغَاصِب په ضَمَان کي داخل سو.نوځکه اُوس غَاصِب ددې مَالِک وګرزېدئ (۲) پـه يـوه حـديث کـي دې ته اِشَارَه سوې ده.حضور يَو صَحَابِي دَفَن کـړئ دقبرسـتان څخـه تشـريف رَاوُړَئ.يـوې ښځي دحضور دعوت وکئ او ديوې هَمسَايَه ښځي څخه بُوزَه راوُړل. دهغـه هَمسَـايَه ښـځي مېړه کورته نَه موجود نَه وُ ګواکه دهغه د اِجَازې بغيره رَاوُړَه او حلاله کـړه دحضـور او د اَصحَابَانُو دعوت ئې وکئ نوحضور هغه نَه وَخُوَاړَئ او وفرمائل دا و قَيديَانُ يعني بَندِيَانُو ته ورکئ.ددې حديث څخه معلوم سوچي دحلالېدو وروسته هغـه ښـځه د ددې بُـوزې مَالِکـه وګرزېده ځکه خو بُوزَه بېرته و مَالِک ته وَاپَس وَرنَه کړه.لېکن تر اُوسَه پورې ددې عِوَض ومَالِک ته نَه وُ ورکړې نوځکه دهغه بوزې اِستِعمَال حلال نَه وُ.په دغه وجه خو حضور نَه وَخُوَړَه بلکه په قَيدِيَانُو ئې وَخُوَړَل. دحدث تکړه دا ده اَخبَرَنَا عَاصِمُ بِنِ کُلَيبٍ عَن اَبِيـهِ عَن رَجُلٍ مِنَ الاَنصَارِ قَالَ خَرَجنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ فِي جَنَازَةٍ ... ثُمّ قَالَ اَجِدُ لَحمَ شَاةٍ اُخِذَت بِغَيرِ اِذنِ اَهلِهَا فَاَرسَلَتِ المراَةَ قَالَت يَا رَسُولَ اللهِ اِنِّي اَرسَلتُ اِلْي البَقِيـعِ يَشـتَرِي لِـي شَـاةً فَلَـم اَجِـد فَاَرسَلتُ اِلْي جَارٍ لِي قَد اِشتَرْي شَاةً اَن اَرسِل اِلَيّ بِهَا بِثَمَنِهَـا فَلَـم يُوجَـد فَاَرسَلتُ اِلْـي اِمرَأتِـهِ فَاَرسَلَت اِلَيّ بِهَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ اَطعِمِيهِ الأسَارْي (الف) (ابوداؤدشـريف.باب فِـي اجتنـاب الشبهات ج۲ص۱۱۶نمبر ۳۳۳۲/دارقطني.کتـاب الأشـربة وغيرهـا ج۴ص۱۸۹نمبـر۴۷۱۸) پـه دې حديث کي بُوزَه د دَعوَت کونکي ښځي مِلکِيّت وګرزېده په دغه وجه خو وَاپَس نَـه کړه. لېکن اِستِعمَالَوَل ئې ښَه کار نَه وُ ځکه حضور په خپله نَه وَخُوَړَل .

اُصُول : دشَئِ مَغصُوب په هلاکت سره غَاصِب مَالِک گرزي که څَه هم تر اُوسَه بدله نَه وي ورکړې .

حاشيه : (الف) دانصَارُ رَاوِي وفرمائل چي موږ دحضور سره جنازې ته رَاوَوَاتُو ... بياحضور وفرمائل داسي معلوميږي چي دبُوزې غُوَښَه دخپل مَالِک داِجَازې بغيره اَخَستي ده.نودعوَت کونکي ښځه رَاوَبَلَل.هغې ورويل ائ دخدائ رسول مَا ومَقَامِ بَقِيع ته دبُوزې رَانِيوَلُولپاره سړئ وَاستَاوَئ هغه و نَه مونده.نو مي خپل هَمسَايَه ته خبر ورکړئ چي بُوزَه ئې اَخَستې وه چي وماته دقيمت په بَدلَه کي بُوزَه راکه خو هغه موجود نَه وُ.بيا مَا دهغه ومَيني ته خبر ورکړئ نوهغې بُوزَه رَاوَاستَوَل نو حضور وفرمائل و قَيدِيَانُو ته دا غُوَښَه ورکئ .

[۱۵۶۳](۱۳) وَهْذَا كَمَن غَصَبَ شَاةً فَذَبَحَهَا وَشَوّاهَا اَوطَبَخَهَا اَو غَصَبَ حِنطَةً فَطَحَنَهَا اَوحَدِيدًا فَاتخَذَهُ سَيفًا اَوصُفرً فَعَمِلَهُ آنِيَةً .

فائده : امام ابويوسف فرمائي چي غَاصِب مَالِک گرزي او دضَمَان ورکولوڅخه مخکي هم اِستِفَادَه ځيني کولائي سي .

وجه : ځکه چي غَاصِب ددې مَالِک گرزېدلئ دئ. او امام شافعي فرمائي چي دشَئِ مَغصُوب دضمان ورکولو څخه مخکي غَاصِب ددې مَالِک نَه گرزي

وجه : ځکه چي مَالِک ددې پر ورکولوباندي نَه دئ راضي سوې. او نَه ئې تر اُوسَه بدله ورکړې ده .

لُغَت : اَلمَغصُوبُ مِنهُ : ددې څخه مَالِک مراد دئ ځکه چي دهغه څخه شئ غَصَب کړئ دئ .

[۱۵۶۳](۱۳) دا داسي دئ لکه چي بُوزَه ئې غَصَب کړه حلاله کړه او وَايَلُوَيَل يائې پَخَه کړه يائې غَنَم غَصَب کړل او هغه ئې مَيدَه کړل يائې وُسپِنَه غَصَب کړه او دهغه څخه تُرَه جوړه کړه يائې پيتَل غَصَب کړل او دهغه څخه لُوښِي جوړ کړل .

تشريح : په دې عِبَارَت کي د مَغصُوب شِي دنوم بدلېدو او دهغه د اَعظَمُ مَنَافِعُ د ختم کېدو څلورمثالونه ورکړي دي. او پرهغه لُوَړ اُصُول ئې مُتَفَرّع کړي دي.مثلاً بوزه ئې غَصَب کړه حلاله کړه او وَايَلُوَيَل نو اُوس ددې نوم بُوزَه نَه سوپاته.بلکه سَالَن او غُوَښَه سو چي نوم بَدَل سونو اُوس دمَالِک مِلکِيّت زَائِل سو او غَاصِب ددې مَالِک سو.يائې غَنَم غصَب کړل مَيدَه ئې کړل وُړَه ئې ځيني جوړ کړه يائې وُسپِنَه غَصَب کړه تُرَه ځيني جوړه کړه يائې پِيتَل غَصَب کړل لُوښي ځيني جوړ کړل نو د دُوئي نومونه بَدَل سو او اَعظَمِ مَنَافِعِ ئې ختم سوې او اُوس ئې نوري مَنَافِع پيدا سوې نوځکه غَاصِب ئې مَالِک سو.البته چي دهغه بَدلي ئې نَه وي ورکړې دهغه اِستِعمَال ښَه کار نَه دئ .

وجه : مختته تېره سوه .

لُغَت : شَوّاهَا : وَايَلُوَايَئ. طَحَنَ : مَيدَه ئې کړل. صَفرٌ : پيتَل. آنِيَةٌ : لُوښِي .

[۱۵۶۴](۱۴) وَاِن غَصَبَ فِضّةً اَو ذَهَبًا فَضَرَبَهَا دَرَاهِمَ او دَنَانِيرَ اَو آنِيَةً لَم يَزُل مِلكُ مَالِكِهَا عَنهَا عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ [۱۵۶۵]

(١٥) وَمَن غَصَبَ سَاجَةً فَبَنْي عَلَيهَا زَالَ مِلکُ مَالِکِهَا عَنهَا وَلَزِمَ الغَاصِبُ قِیمَتَهَا .

[١٥٦۴](١۴) او که سُپِین یا سَرَه زَر غَصب کړل او هغه ئې دِرهَم یا دِینَار جوړ کړل نو ددې څخه دمَالِک مِلکِیّت نَه ختمیږي د امام ابوحنیفه په نېز .

تشریح : اصل قاعده دا ده چي سَرَه او سُپِین زَر که د ټوټې په شکل کي وي که د سِکّې په شکل کي وي او که دلُوښي په صورت کي وي خو بیاهم هغه سَرَه او سُپِین زَر دي هغه ثَمَن ګڼل کیږي.نوځکه که سَرَه یا سُپِین زَر غَصب کړي په هرشکل کي چې وَاچَوِي دهغه اَصل نوم یعني ثمَن پاته دئ او اَعظَمِ مَنَافِع یعنی ثمَنِیّت ئې پاته دئ نوځکه دمَالِک مِلکِیّت نَه ختمیږي.او غَاصِب ددې مَالِک نَه ګرزي.دا د امام ابوحنیفه رأیَه ده .

فائده : صاحبین فرمائي چي که په سُرُو او سُپِینُ زَرُو کي داسي بَدلُون رَاوَلِي چي دهغه نوم بدل سي نو ددې څخه دمَالِک مِلکِیّت ختمیږي او دغَاصِب مِلکِیّت به سي .

وجه : ځکه چي اُوس نَه ددې نوم پاته سو او نَه ئې مَنفَعَت پاته سو .

اُصُول : دسُرُو او سُپِینُ زَرُو هم چي نوم بَدَل سي نو دمَالِک مِلکِیّت ختمیږي او دغَاصِب مِلکِیّت ګرزي .

لُغَت : ضَرَبَ : په غَالَب کي وَاچَول. وَوَهَل .

[١٥٦۵](١۵) که یَوچَاشِهتِیر غَصب کړئ اوپرهغه ئې عِمَارَت جوړکړئ نو د مَالِک مِلکِیّت دهغه څخه ختمیږي او پرغَاصِب دهغه قِیمَت لازم دئ .

تشریح : دا مسئله پر دې قاعده مُتَفَرّع ده چي شَئِ مَغصُوب نَه هلاک سوئ دئ او نَه په هغه کي بَدلُون راغلئ دئ البته د غَاصِب دمَال سره داسي وَمُبنتَئ چي که شَئِ مَغصُوب دغَاصِب دمَال څخه جلا کوُو نو دغَاصِب ډېر زِیَات نُقصَان کیږي.نوځکه په دې صورت کي هم دمَالِک مِلکِیّت زائلیږي او دغَاصِب مِلکِیّت ګرزي .

[١٥٦٦](١٦) وَمَن غَصَبَ اَرضًا فَغِرَسَ فِیهَا اَو بَنْي قِیلَ لَهُ اَقلِعِ الغَرَسَ وَالبِنَآ ءَ وَرَدّهَا اِلْي مَالِکِهَا فَارِغَةً فَاِن کَانَتِ الاَرضُ تَنقُصُ بِقَلعِ ذَالِکَ فَلِلمَالِکِ اَن یَضمَنَ لَهُ قِیمَةَ البِنَآءِ وَالغَرَسِ مَقلُوعًا .

وجه : که ومَالِک ته دهغه شَئ وَاپَس ورکوو نو دغَاصِب دېوَال نړیږي او دهغه نُقصَان کیږي او چي ومَالِک ته ددې قِیمَت ورکو نو دده نُقصَان نَه کیږي بلکه دشَهتِیر مَکَافَات به وسي نوځکه دشِهتِیر قِیمَت ورکول بِهتَر دئ .

اُصُول : چي اِمکَان وي نوغَاصِب به هم دنُقصَان څخه دسَاتَلوکوشش کیږي .

فائده : امام شافعي فرمائي چي شِهتِير دمَالِک دئ اوهغه خو نَه دئ هلاک سوئ او نَه دهغه نوم بَدَل سوئ دئ نوځکه دمَالِک مِلکِيّت نَه زائليږي نوځکه کَه وَاپَس اَخَستَل وَغُوَارِي نو دغَاصِب دِېوَال نَړَوَلاَئي سي اوځيني اَخَستَلاَئي سي .

لُغَت : سَاجَةٌ : شِهتِير.دمينځ هغه وُړد او پَندَ لرګئ کوم چي چَت پر وَلاَړ وي .

[۱۵۶۶](۱۶) يَوچَا مځکه غَصب کړه او په هغه کې شِين ګَبنتِي وَکَرَل يائې عِمَارَت پرجوړ کړئ نو ده ته به ويل کيږي چي دا کبنت دي وکاږَه او عِمَارَت دي وَنړَوَه او مځکه خَالِي کَه ومَالِک ته وَاپَس کَه.نو که په مځکه کي ددې دګَبنَلُوځخه نُقص رَاځِي نو مَالِک ته دا جواز سته چي دئ دنَړېدَلِي عِمَارَت او شِين ګَبنتَئ ضَامِن کړي .

تشريح : يَوچَا دبَل چَا مځکه غَصب کړه او په هغه کې شِين ګَبنتِي وکرل يائې عِمَارَت په کبني جوړکړئ نو مځکه خو دغَاصِب نَه ده ځکه وغَاصِب ته به ويل کيږي چي خپله شِين ګَبنتِي وکاږه او عِمَارَت وَنړَوَه او مځکه په مکمّله توګه خَالِي کَه ومَالِک ته حَوَالَه که.ځکه چي تا دمَالِک ځخه خَالِي مځکه اَخَستې وه نوځکه چي ځَه رنګه دي اَخَستې وه په هغه ډَوَل ئې ومَالِک ته بېرته حَوَالَه که.او که د دېوال په نَړَوَلُو يا د درختي په پرېکولودمځکي نُقصَان وي نو د پرې سوو درختو او نړېدلو دېوالو قيمت به لګوي وغَاصِب ته به ورکوي چي هغه به ډېر کَم وي .

وجه : (۱) ځکه چي پر ده بانْدي د درختوپرېکول او دعِمَارَت نَړَوَل ضروري وُ ځکه چي ده دمَالِک د اِجَازَت بغيره درختي لګولي او عِمَارَت ئې تَعمِيرکړئ وُ (۲) په حديث کي ددې ثبوت سته عَن سَعِيدِبنِ زَيدٍ عَنِ النّبِيِّ ﷺ قَالَ مَن اَحيَا اَرضًا مَيتَةً فَهِيَ لَهُ وَلَيسَ لِعَرَقٍ ظَالِمٍ حَقٌ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في احيآءالموات ج۲ ص۸۱ نمبر۳۰۷۳/ترمذي شريف.باب ماذکرفي احيآء ارض الموات ص۲۵۶نمبر ۱۳۷۸) په دې عِبَارَت کي د ,,لَيسَ لِعَرقٍ ظَالِمٍ حَقٌ,, معنْي دا ده چي يَوچَا مځکه غَصَب کړه يَوشَئ ئې پکبني رَاشِين کړئ نو هغه دا حَق نَه لري.ددې ځخه معلوم سو چي په تېره سوې مسئله کي غَاصِب شَئ رَاشِين کړئ يائې عِمَارَت جوړکړئ نوهغه به نَړَوِي بېرته به وَاپَس کوي (۳) په يو بَل حديث کي دئ عَن رَافِعِ بنِ خُدَيجٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ اَنّهُ مَن زَرَعَ فِي اَرضِ قَومٍ بِغَيرِ اِذنِهِم فَلَيسَ لَهُ مِنَ الزّرعِ شَئٌ وَلَهُ نَفَقَتُهُ (ب) (ابوداؤدشريف.باب في زرع الارض بغير اذن صاحبها ص۱۲۷نمبر۳۴۰۳/ترمذي شريف.باب ماجآءفي من زرع في ارض قومٍ بغيراذنهم ص۲۵۳نمبر۱۳۶۶) ددې حديث ځخه معلوم سوچي غَصب وکي نوکَبنت کونکي ته هيڅ شَئ نَه ملاؤيږي صرف دهغه مَزدُورِي به ورته ملاؤيږي (۴) دمځکي خَالِي کولو او بيا حواله کولو دليل دا حديث دئ عَن يَحْيَ بِنِ عُروَةَ عَن اَبِيهِ ... اَنّ رَجُلَينِ اِختَصَمَا اِلْي رَسُولِ اللهِ ﷺ غَرَسَ اَحَدُهُمَا نَخلاً فِي اَرضِ الآخَرِ فَقَضْي لِصَاحِبِ الأرضِ بِاَرضِهِ وَاَمَرَ صَاحِبَ النّخلِ اَن يَخرُجَ نَخلَهُ مِنهَا قَالَ فَلَقَد رَأيتُهَا وَاِنّهَا لَتُضرَبُ اُصُولَهَا بِالفُؤسِ وَاِنّهَا لَنَخلٌ عَمّ حَتّي

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل چاچي شړَه مځکه آباد کړه نوهغه مځکه دهغـه ده.لېکن دظَـالِم دبيخ لپاره هيڅ حَق نسته (ب) حضور وفرمائل چاچي دبَل مځکه دهغه د اِجَازَت بغيره وَکَرَل نوهغه ته دکَښت څخه هيڅ شَئ نَـه رسيږي.ده ته به دکَښت کولو خَرچَه ملاؤيږي .

[١٥٦٧](١٧) وَمَن غَصَبَ ثَوبًا فَصَبَغَهُ اَحمَرَ اَو سَوِيقًا فَلَتَّهُ بِسَمَنٍ فَصَاحِبُهُ بِالخِيَارِ اِن شَآ ءَ ضَمِنَهُ قِيمَةَ ثَوبٍ اَبيَضَ وَمِثلَ السّوِيقِ وَسَلّمَهُ لِلغَاصِبِ وَاِن شَآ ءَ اَخَذَهُمَا وَضَمِنَ مَازَادَ الصّبغُ وَالسّمنُ فِيهِمَا .

اُخرِجَت مِنهَا (الـف) (ابوداؤدشـريف.باب فـي احيـآءالموات ص٨١نمبـر٣٠٧۴/ سـنن للبيهقي.باب من بنْي اوغرس في ارض غيره ج۶ص١۵٠نمبر١١۴٨٨) په دې حديث کې دخُورمَا درختي دکښلو حکم دئ چي مځکه خَالِي که ومَالِک ته حواله ګه .
لُغَت : غَرَسَ : شَئ رَاشِين کول. قَلَعٌ : کښل .
[١٥٦٧](١٧) يَوچَا کپړه غَصَب کړه او هغه ته سُر رنګ ورکړئ يـائې سَتّو غَصَب کړل او په هغه ئې غُوړِي ګډ کړل نو دهغه ومَالِک ته اِختِيَـار دئ کـه خُوښَـه سـي دئ دي دسُپِيني کپړې ضَامِن کړي او دستّو دمِثل ضَامِن دې کي او وغَاصِب ته دې حَوَالَه کـړي.او کـه خُوښَـه سـي دُوَارِ◌ه دي وَاخلِـي او پـه دُوَارُو کـي چـي د رَنـګ او غُوَړيُوڅخه کوم زِيَاتُوب راغلئ دئ دهغه ضَمَان دي ورکړي .
تشريح : دا مسئله پـر دې اُصُول مُتَفَرّع ده چـي شَـئ غَصب کـړي پـه هغـه کـي دصِفَاتُ زِيَاتُوب وکي.نُقص ئې نَه دئ پکښي رَاوَستَلَئ نو مَالِک ته دوه اِختِيَـارَات حاصـل دي يـادي دخپل اَصلِي شِي قيمت وَاخلِي شَئ دي وغَاصِب ته ورکړي يادي خپـل شَـئ دغَاصِب څخـه وَاخلِي او دصِفَاتُ چي کوم زِيَاتُوب راغلئ دئ دهغه قيمت دي وغَاصِب ته حَوَالَه کړي .
وجه: دغَاصِب دزِيَاتُوب قيمت وغَاصِب ته دحواله کولو دليل دا حديث دئ عَن رَافِعِ بِنِ

حاشيه : (الف) دُوُ کسانو حضور ته خپله جګړه رَاوړه.په دُوئي کي يَوَه دهغه بَل په مځکـه کـي دخُورمَـا درختـه کَرَلِي وه.نوحضور دمځکي والا لپاره دمځکي فيصله وکړه او دخُورمَا والا لپاره حُکم ورکـړئ چـي خپلـه درختـه وَکَارِي.رَاوِي وائي چي مَاوَلِيدَئ چي دهغه په ببخو کې کَهَئ وَهَلَه او هغـه غَتَـه درختـه وه ترهغـوچي درختـه ئـې وَکَښَل .

[١٥٦٨](١٨) وَمَن غَصَبَ عَينًا فَغَيّبَهَا فَضَمِنَهُ المَالِکُ قِيمَتَهَا مَلَکَهَا الغَاصِبُ بِالقِيمَةِ .

خَ◌دِ◌يج قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ اَنّهُ مَن زَرَعَ فِي اَرضِ قَومٍ بِغَيرِ اِذنِهِم فَلَيسَ لَهُ مِنَ الزّرعِ شَئُ وَلَـهُ نَفَقَتُـهُ (الـف) (ابوداؤدشـريف.باب فـي زرع الارض بغيـر اذن صـاحبها ص ١٢٧نمبـر٣۴٠٣/ترمـذي شـريف.باب ماجـآءفي مـن زرع فـي ارض قـومٍ بغيـراذنهم ص٢۵٣ نمبر١٣۶۶) په دې حديث کې فرمائلي دي چې ببله اِجَازَتَه کَښت کونکي تـه بـه د هغـه

دکار کولو خَرچَه ملاؤیږي.ددې ځخه دا معلوم سوچي کپړه ته رَنګ ور کونکي او پـه غُوَړیُوکي سَتّو ګډَوُنکِي ته به د رَنګ او غُوَړیُو قیمت ملاؤیږي .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چي ومَالِک او غَاصِب دواړو تـه نُقصَـان نَـه وي بلکه حَتّٰي الاِمکان به دواړو ته خپل حَق رسیږي .

صُورَتِ مسئله : صُورَتِ مسئله دا دئ چي کپړه ئې غَصب کړه سُر رنګ ئې ورکـړئ. یـائې سَتّو غَصب کړل په هغه ئې غُوَړي ګډکړل نو مَالِک ته دوه اِختِیَارَات سته. یـا دي د سُپِيني کپړې او دخَالِص سَتّوقیمت وَاخلِي وغَاصِب ته دي کپړه او سَتّوحواله کړي.او دوم صـورت دا دئ چي وغَاصِب ته د رَنګ او غُوَړیُو قیمت ورکړي او خپـل سَتّو او کپـړه دي دمَالِـک ځخه وَاپَس وَاخلِي .

لُغَت:صَبَغَ:ورنګاوئ.سَوِیقٌ:سَتّو.لَتّ:وَرګډئې کړئ.پَرلَوَپیچَئ.سَمنٌ:غُوَړي.

[۱۵۶۸](۱۸) یَوچا عَینِي شَئ غَصب کړئ او هغه ئې غَائِب کـړئ او مَالِـک دهغـه د قیمت ضَامِن جوړ کړئ نوغَاصِب به دهغه قیمت ورکوي بیابه مَالِک جوړیږي .

تشریح : یَوچَا دبَل چَا شَئ غَصب کړئ او هغه ئې غَائِب کئ او مَالِک دهغه قیمـت وصـول کړئ نوغَاصِب دهغه شِي مَالِک ګرزي .

وجه :(۱)که ځَه هم غَصَب سَبَبِ مَحذُور دئ لېکن د قیمت د اداٰء کولو په وجه دمَالِک

حاشیه : (الف) حضور وفرمائل چاچي دبَل مځکه دهغه د اِجَازَت بغیره وَکَرَل نوهغه ته دکَښت ځخه هیڅ شَـئ نَه رسیږي.ده ته به دکَښت کولو خَرچَه ملاؤیږي .

[۱۵۶۹](۱۹) وَالقَولُ فِي القِیمَةِ قَـولُ الغَاصِـبِ مَـعَ یَمِینِـهِ اِلاّ اَن یُقِیمَ المَالِـکُ اَلبَیِّنَـةَ بِـاَکثَرَ مِـن ذَالِـکَ [۱۵۷۰](۲۰) فَـاِذَا ظَهَـرَتِ العَـینُ وَقِیمَتُهَا اَکثَرَ مِمّا ضَمِنَ وَقَد ضَمِنَهَا بِقَولِ المَالِکِ اَو بِبَیِّنَةٍ

مَالِک دمِلکِیّت ځخه دغَاصِب ومِلکِیّت ته مُنتَقِل کېدلائي سي.ځکه چي قیمـت ئـې اداٰء کـړئ دئ (۲) دپِیَالي په حدیث کي د صحیح او رُوغِ پیالي ورکولو وروسته هغه مَاتَه سوې پِیَالَـه ځان ته رَا وَګرزَوَلَه.ددې ځخه معلوم سوچي حضورﷺ د پِیَالي مَالِک جوړ سو.فَدَفَعَ القَصعَةَ الصّحِیحَةَ وَحَبَسَ المَکسُورَةَ (الف) (بخاري شریف.نمبر ۲۴۸۱)

فائده : امـام شـافعي فرمـائي چـي غَصَـب سَبَبِ مَحذُور دئنوځکـه دقیمـت د اداٰء کولـو وروسته هم غَاصِب ددې شِي مَالِک نَه ګرزي .

[۱۵۶۹](۱۹) او په قیمت کي به دغَاصِب قول مَنَل کیږي سره دقَسَمَ مګر دا که مَالِک دهغه ځخه د زیاتُ بَیِّنَه قائم کړي .

تشریح : دغَصَب شَئ غَائِب سو.اُوس دمَالِک او غَاصِـب تـرمینځ دهغـه پـه قیمـت کـي اِختِلاَف پیدا سو نو که چیري دمَالِک سـره بَیِّنَـه وي خـو دهغـه پـه ذریعـه بـه د زِیَـات قیمت فیصله کول کیږي.او که چیري دهغه سره بَیِّنَه نَه وي نودغَاصِب خبره بـه سـره دقَسَم مَنَل کیږي .

وجه : دلته مَالِک د زِيَات قيمت مُدّعِي دئ او غَاصِب دهغه مُنکِردئ نوځکه چي دمُدّعِي سره بَيِّنَه نَه وي بيا به دمُنکِرخبره سره دقَسَم مَنَل کيږي .

[۱۵۷۰](۲۰) که چيري عَينِ شَئ ښکاره سي او دهغه قيمت تر هغه ضَمَان کوم چي ده ورکړئ دئ زِيَات دئ او حال دا دئ چي دمَالِک په وَينَا سره ياد بَيِّني دقائمولو يا دغَاصِب دقَسَم څخه د اِنکار کولو په وجه ددي ضَمَان ورکړئ دئ نو مَالِک ته اختيار نَستَه. هغه شَئ دغَاصِب دئ .

حاشيه : (الف) حضور رُوغَه پيَالَه ورکړه او مَاتَه پيَالَه ئې کښيښوه .

اَقَامَهَا اَو بِنُکُولِ الغَاصِبِ عَنِ اليَمِينِ فَلاَ خِيَارَ لِلمَا لِکِ وَهُوَ لِلغَاصِبِ .

تشريح : شَئِ مَغصُوب غَائِب وُ په دغه دوران کي ومَالِک ته ددې قيمت ورکول سو.وروسته هغه شَئ ښکاره سو او معلوم سوچي دهغه قيمت خو زِيَات وُ.نوکه په دې درو سره صورتوکي دقيمت فيصله سوې وه نو مَالِک ته به زِيَات قيمت نَه ورکول کيږي.او نَه ومَالِک ته دهغه شِي د وَاپَس اخستلواِختِيَار سته.مثلاً دمَالِک په وَينَا چي ددې شِي قيمت دومره دئ هغه قيمت ورکول سوئ دئ نو زيات قيمت به نَه ورکول کيږي .

وجه : مَالِک په خپله دغونه قيمت لګولئ دئ.هغه وخت ده زيات قيمت وَلِي نَه لګاوئ دا خو په خپله دده غلطي ده نوځکه ده ته به زِيَات قيمت نَه ورکول کيږي.يا مَالِک پر دغونه فيصله باندي بَيِّنَه قائم کړې وه او فيصله ئې کړې وه نو ده خو په خپله پر دغه قيمت باندي ګواهي ورکړې ده او فيصله ئې کړې ده نوځکه دئ دمخکي څخه پر لَږ قيمت باندي راضي سوئ دئ.نوځکه ده ته به زِيَات قيمت نَه ورکول کيږي.يادمَالِک سره بَيِّنَه نَه وه ځکه وغَاصِب ته وويل سوچي قَسَم وَخُورَه .غَاصِب دقَسَم خُوَړَلُوڅخه اِنکار وکئ چي په نتيجه کې پر هغه قيمت فيصله وسوه څومره قيمت چي مَالِک ورته ښُووَلَئ وُ نو اُوس به هم ومَالِک ته زِيَات قيمت نَه ورکول کيږي .

وجه : (۱) دا فيصلې دمَالِک پر ښُوَلِي قيمت باندي سوې دي نوځکه که دشِي قيمت زِيَات سي هم به وده ته زيات قيمت نَه ورکول کيږي (۲) ځکه چي مَالِک پردغونه قيمت باندي راضي دئ .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چي مَالِک پر کوم قيمت مخکي راضي سوئ دئ دهغه څخه زيات به نَه ورکول کيږي او نَه ومَالِک ته دهغه شِي وَاپَس اخستلو اِختِيَار سته .

[۱۵۷۱](۲۱) وَاِن کَانَ ضَمِنَهَا بِقَولِ الغَاصِبِ مَعَ يَمِينِهِ فَالمَالِکُ بِالخِيَارِ اِن شَآ ءَ اَمضْي الضّمَانَ وَاِن شَآ ءَ اَخَذَ العَينَ وَرَدّ العِوَضَ

[۱۵۷۲](۲۲) وَوَلَدُ المَغصُوبَةِ وَنَمَاؤُهُا وَثَمَرَةُ البُستَانِ المَغصُوبِ

اَمَانَةٌ فِي يَدِ الغَاصِبِ اِن هَلَکَ فِي يَدِهِ فَلاَضَمَانَ عَلَيـهِ اِلاّ اَن يَتَعَدّٰي فِيهَا اَو يَطلُبَهَا مَالِکُهَا فَيَمنَعُهَا اِيّاهُ .

لُغَت : نُکُولٌ : دقَسَم خُوَړلُوڅخه انکار کول .

[١٥٧١](٢١) او که چيري دغَاصِب په وَينَا سره دده دقَسَم دشِي قيمت ورکول سوئ وُ نو مَالِک ته اختيار دئ که خُوَښَه سي نوضَمَان دي برقراره وساتي او که خُوَښَه سي نوشَئِ مَغصُوب دي وَاخلِي او عِوَض دي وَاپَس کړي .

تشريح : پر ښول سوي قيمت باندي دمَالِک سره ګواه نَه وُ نوځکه دغَاصِب پرخبره سره دده دقَسَم فيصله سوې وه.وروسته معلوم سوچي دمَغصُوب شِي قيمت خو ددې څخه زيات دئ نو اُوس مَالِک ته دوه اختيارات سته.يادي هغه پَخُوَانَئ قيمت برقراره وساتي او شَئ دي دغَاصِب سره دغه رنګه پرېږدي.يا خوشَئِ مَغصُوب پيدا سوئ دئ هغه دي ببېرته وَاخلِي او غَاصِب ته قيمت وَاپَس ورکړي .

وجه : په دې صورت کي خو دمَالِک پروَينَا باندي دقيمت فيصله نَه ده سوې نو ځکه ده ته د وَاپَس اخستلو حق سته .

لُغَت : اَمضْي الضّمَانَ : ضمان دي بَحَالَ وساتي.اَلعَينُ : ددې څخه مَغصُوب شَئ مراد دئ .

[١٥٧٢](٢٢) دمَغصُوبَه شِي بَچَئ او دهغه زِيَاتُوب او دمَغصُوب بَاغ مېوه دغَاصِب په لاَس کي د اَمَانَت په حَيث ده.که چيري دده په لاَس کي هلاک سي نو پر ده ضَمَان نسته مګر دا که چيري په هغه کي تَعَدّي وکي يا مَالِک هغه طلب کړي بيائې هم هغه ته وَرنَه کړي .

[١٥٧٣](٢٣) وَمَانَقَصَتِ الجَارِيَةُ بِالوِلاَدَةِ فَهُوَ فِي ضَمَانِ الغَاصِبِ فَاِن کَانَ فِي قِيمَةِ الوَلَدِ وَفَآ ءٌ جُبِرَ النّقصَانُ بِالوَلَدِ وَسَقَطَ ضَمَانُهُ عَنِ الغَاصِبِ .

تشريح : په دې عِبَارَت کي دوې خبري دي.يوه خبره خو دا چي مَغصُوب شَئ غَصب کړي نو هغه خوغَصَب دئ لېکن دغَاصِب په لاَس کي چي کوم زياتوب سوئ دئ يا بَچَئ پيدا سوئ دئ يائې بَاغ غَصَب کړئ پر هغه مېوه راغله نو دا ټوله زياتوب د غَاصِب په لاَس کي د اَمَانَت په حَيث دي .

وجه : دغَصَب مطلب دئ مَالِک بېدخل کول او دا معنْي په اَصل شِي کي امکان لري.پر زياتوب باندي خو مَالِک د اَوّله څخه هيڅ دَخل او قُدرَت نَه لري هغه خو دغَاصِب په لاَس کي پيدا سوي دي.نوځکه زياتوب به دغَاصِب په لاَس کي اَمَانَت وي.اودااَمَانَت قاعده داده چي ببله تَعَدّي هلاک سي نوضَمَان نَه لري.دومه خبره دا چي مَالِک دغَاصِب څخه ددغه زياتوب مطالبه وکي او غَاصِب د ورکولو څخه انکار وکي

نو اُوس دا زياتوب د اَمَانَت په حَيث نَه سوپاته بلکه دانکار کولو په وجه ګواکه د غَصب په حَيثُ سو.نوځکه اُوس که بېله تَعَدِّي هم هلاک سونو پر غَاصِب باندي ضَمَان لازم دئ .

اُصُول : زياتوب دغَاصِب په لاَس کي اَمَانَت وي .

لُغَت : نَمَآ ءٌ : زياتوب .

[١٥٧٣](٢٣) او په مينځه کي چي د وِلاَدَت په وجه کوم کَمبُوت راسي نوهغه دغَاصِب په ضَمَان کي دئ.بيا که چيري دبَچِي په قيمت باندي دا نُقصَان پوره کېدائي سو نود بَچِي د وجهي نُقصَان به پوره کيږي او دغَاصِب څخه ددې ضَمَان ساقطيږي .

تشريح : دمينځي په وِلاَدَت کي ګټه هم سته چي دمَالِک يو غُلاَم زيات سولېکن د

[١٥٧٤](٢٤) وَلاَ يُضمَنُ الغَاصِبُ مَنَافِعَ مَاغَصَبَهُ اِلاّ اَن يَنقُصَ بِاِستِعمَالِهِ فَيُغرِمُ النّقصَانَ .

دوِلاَدَت په وجه په مينځه کي نُقصَان هم راغلئ نودلته ديوه شِي لکبله فائده او نقصان دواړه راغلي دي نوځکه دبَچِي په قيمت به نُقصَان پوره کيږي.او چي دا پوره سي نود غَاصِب څخه به ضَمَان ساقط سي .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چي فائده او نُقصَان دواړه وي نونُقصَان به په فائده سره پوره کوي او پرغَاصِب دنُقصَان ضَمَان نَه رَاځِي .

لُغَت : وَفَآ ءٌ : پوره کېدل. جَبرٌ : دنُقصَان مکافات کول .

[١٥٧٤](٢٤) غَاصِب چي کومي مَنَافِع غَصَب کړي دي دهغه ضَامِن نَه دئ مګر دا که چيري دهغه په اِستِعمَال کي نُقصَان پيدا سي نو دنُقصَان تَاوَان به ورکوي .

تشريح : مثلاً مکان ئې غَصَب کړئ او يَوَه مياشته دځان سره په خپله قبضه کي وساتئ نَه په خپله پکښي وَ وُسېدئ او نَه ئې وبَل ته د وُسېدلو لپاره ورکړئ نو ديوې مياشتي د وُسېدلو دمَنفَعَت چي کوم اُجرَت کيږي غَاصِب دهغه ضَامِن نَه دئ. البته! که دغَاصِب د وُسېدلوپه وجه په مکان کي يَونُقص راغلئ وائ نو غَاصِب به د نُقصَان تَاوَان ورکولائي .

وجه : (١) زمونږ په نېز ترهغه وخته مَنَافِع مُتَقَوّم نَه دي ترڅو چي عَقدِاُجرَت وَنَه ګرزي. او دلته عَقدِاُجرَت نَه دي سوي نوځکه مُتَقَوّمِ نَه دي.نوځکه پرغَاصِب باندي ضَمَان نَه لازميږي.مګر! که د وُسېدلوپه وجه مکان ته نُقصَان ورسيږي نو اُوس خو عَين شِي ته نُقصَان رسولئ دئ او هلاک کړئ دئ نوځکه ددې قيمت به ورکوي (٢) دحضرت عَلِي د اَثَرڅخه معلوميږي چي دمَنَافِعُ قيمت نَه لازميږي عَن عَامِرِ الشّعَبِيِّ فِي رَجُلٍ وَجَدَ جَارِيَتَهُ فِي يَدِ رَجُلٍ قَد وَلَدَت مِنهُ فَاَقَامَ البَيّنَةَ اَنّهَا جَارِيَتُهُ وَاَقَامَ الّذِي فِي يَدِهِ الجَارِيَةَ اَلبَيّنَةَ اَنّهُ اِشتَرَاهَا قَالَ فَقَالَ عَلِيٌ يَأخُذُ صَاحِبُ

[۱۵۷۵](۲۵) وَاِذَا اِستَهلَکَ المُسلِمُ خَمرَ الذِّمِّيِّ اَو خِنزِيرَهُ ضَمِنَ قِيمَتَهَا وَاِن اِستَهلَكَهُمَا المُسلِمُ لِمُسلِمٍ لَم يَضمَن .

الجَارِيَةِ جَارِيَتَهُ وَيُؤخَذُ البَائِعُ بِالخَلَاصِ. قَالَ سَمِعتُ الشّعَبِيّ يَقُولُ لَيسَ الخَلَاصُ بِشَئٍ مَن بَاعَ مَا لاَيَملِکُ فَهُوَ لِصَاحِبِهِ وَيَتّبِعُ المُشتَرِيُ البَائِعَ بِمَا اَعطَاهُ وَلَيسَ عَلْي البَائِعِ اَكثَرَ مِن اَن يَرُدّ مَا اَخَذَ وَلاَ يُؤخَذُ غَيرَهُ (الف) (سنن للبيهقي.باب من غصب جارية فباعهاثم جآء رب الجارية ج۶ص۱۶۶نمبر۱۱۵۴۸) په دې اَثَر کي حضرت عَلي ومَالِک ته دصرف مينځي د وَاپَس کولوحکم کړئ دئ او ومُشتَرِي ته ويلي دي چي وبَائِع تـه دي څومره قيمت ورکړئ دئ هغه وَاپَس ځيني واخله.لېکن مُشتَرِي چي دمينځي څخه کومه فائده اَخَستې ده دهغه ئې هيڅ ډَوَل اُجرَت پرمُشتَرِي باندي نَه دئ لازم کړئ. ددې څخه دا معلوم سوچي تر څوچي دمَنَافِعُ اُجرَت مُتَعَيّن کړئ نَه وي تر هغه وخته پوري دهغو اُجرَت نَه لازميږي .

[۱۵۷۵](۲۵) چي مسلمان د ذِمِّي شراب يا دهغه خنزير هلاک کړي نو د دواړو دقيمت به ضَامِن وي.او که چيري دغه دواړه مسلمان د مسلمان د هلاک کړي نو ضَمَان ئې نَه رَاځِي .

وجه : د ذِمّي په حق کي شراب او حنزيرقيمتي شِيَان دي چي مسلمان هغه ضَائِع کړل نو دهغه ضَمَان به ورکوي.البته شراب ذَوَاةُ الأَمثَال دي لېکن مسلمان هغه نَه سي رَانِيوَلأَئي نوځکه ددې به هم قيت ادآء کوي.او خنزيرخو ذَوَاتُ القِيَم دئ نوځکه دهغه به قيمت ورکوي ... اوچي مسلمان دمسلمان شراب يا خنزير هلاک کړي دهغه ضَمَان نسته .

وجه : (۱) ځکه چي دمسلمان په حق کي دواړه شيان قيمتي نَه دي.نوځکه چي دا هلاک کړي ضَمَان ئې نسته (۲) په حديث کي دئ چي دا شِيَان ئې مَات کړي دي بلکه دمَاتېدُوحکم ئې ورکړئ دئ عَن سَلَمَةَ بِنِ اَكوَعِ اَنّ النّبِيّ رَأيْ نِيرَانًا تُوقَدُ يَومَ خَيبَرَ قَالَ عَلاَمَ تُوقَدُهْذِهِ النِّيرَانَ؟ قَالُوا عَلْي الحُمُرِالاِنسِيَّةَ قَالَ اَكسِرُوهَا وَهَرِّيقُوهَا (الف) (بخاري شريف.باب هل تكسرالدنان الّتي فيهاالخمر او تحرق الزقاق ص۳۳۶نمبر۲۴۷۷) په دې حديث کې دخَرَه دغُوَښُو دتَسَوُلُو او دهغه لُوښُو دمَاتَوُلُو حکم ورکړئ دئ ددې څخه دا معلوم سوچي د ناجائز شيانو د ماتولوضَمَان نسته (۳) عَن اَنَسِ بِنِ مَالِکٍ قَالَ كُنتُ اَسقِي اَبَا عُبَيدَةَ وَ اَبَا طَلحَةَ وَاُبَيّ بِنِ كَعبٍ شَرَابًا مِن فَضِيحِ

حاشيه : (الف) عَامِرشَعَبِي وفرمائل چي يَوَه سړي خپله مينځه دبَل سړي سره وَمُوندَه.هغې دهغه څخه بَچَئ زيږَوَلَئ وُ.نو ده بَيِّنَه قائمه کړه چي دا دده مينځه ده.او دکوم چاپه قبضه کي چي مينځه وَه هغه بَيِّنَه قائمه کړه چي ده رَانِيوَلي ده.نوحضرت عَلِي وفرمائل چي دمينځي والا به مينځه اَخلِي او بَائِع ته به دبَيعِ دختم کولو حکم کيږي ... دشَعَبِي څخه اوربدل سوي دي هغه فرمائل چي ,,خَلَاص,, هيڅ شئ نَه دئ.يَوچَا داسي شئ خرڅ کړئ چي دده نَه دئ نو هغه به دهغه دمَالِک لپاره وي.اومُشتَرِي به دبَائِع څخه دومره اَخلِي څونه چي ورکړي دي.او پر بَائِع باندي دهغه څخه زِيَات وَاپَس کول ضروري نَه دي څونه چي ده اَخَستِي دي.او نَه دهغه څخه علاوه اَخَستَلاَئي سي .

وَتَمَرٍ فَجَائَهُم آتٍ فَقَالَ اِنّ الخَمرَ قَدحُرِمَت فَقَالَ اَبُوطَلحَةَ يَا اَنَسُ قُم اِلْـي هٰذِهِ الجَرَارَ فَاَكسِرهَا قَالَ اَنَسٌ فَقُمتُ اِلْـي مِهرَاسٍ لَنَا فَضَرَبتُهَا بِاَسفَلِهِ حَتْـي تَكَسّرَت (ب) (سنن للبيهقي.باب من اَرَاقَ مالايحِل الانتفاع به من الخمروغيرهاوكسروعائهاج۶ص۱۶۷نمبر۱۱۵۵۲) په دې اَثَركې دشَرَابُ لُوښې مَات کړي دي او هيڅ ډَوَل ضَمَان ئې نَه دئ لازم کړئ نوځکه دحرام شِيَانُ د مَاتَوُلُو په صورت کي ضَمَان نَه لازميږي .

حاشيه : (الف) حضور وُور وليدئ چي دخَيبَر په ورځ بلېدَئ نوحضور وفرمائل دا وُور د چِس لپاره بلَوَئ ؟ وويل چي د کُورَنَيُوخُرُو لپاره. حضور وفرمائل دېګونه مَات کئ او غُوَښې تُوئي کئ(ب) اَنَس بِنِ مَالِک فرمائي چي مَا په حضرت اَبُوعُبَيدَه،اَبُوطَلحَه او اُبَيّ بِنِ کَعب دوُچُو خُورمَاوُ او د نَودُو خُورمَاوُ شراب چيښل.نو يَو راتلونکئ راغلئ او وويل شراب حرام سول. نوحضرت ابوطلحه وفرمائل اىٔ اَنَس وُلاَړِ سَه دا مَنګِيَان مَات کَه.حضرت اَنَس فرمائي چي زَه وُلاَړَم په تَبَر تبوشَه مِي هغه منګئ د لاندي خُوَا څخه وَوَاهَئ او مَات مِي کئ .

..... کِتَابُ الوَدِيعَةِ .....

[۱۵۷۶](۱) اَلوَدِيعَةُ اَمَانَةٌ فِي يَدِ المُودَعِ اِذَا هَلَکَت فِي يَدِهِ لَم يَضمَنهَا .

..... کِتَابُ الوَدِيعَةِ .....

ضروري پام لرنه : د وَدِيعَة معنْي ده امادت ايښول. يوڅوک خپل سامان د يَوچَا سره دحفاظت لپاره کښيږ دي نو دې ته اَمَانَت اِيښُوَل وائي.ددې ثبوت په دې آيت کي دئ اِنّ اللهَ يَأمُرُكُم اَن تُؤدّوا الأمَانَاتِ اِلْي اَهلِهَا (الف) (آيت۵۸سورة النسآء۴) په دې آيت کې د اَمَانَت دوَاپَس کولوتاکيدکړئ دئ. په حديث کي دئ عَن عَمرو بِنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ مَن اَودَعَ وَدِيعَةً فَلاَ ضَمَانَ عَلَيهِ (ب) (ابن ماجه شريف. باب الوديعة ص۳۴۳نمبر۲۴۰۱/دارقطني.کتاب البيوع ج۳ ص ۳۶نمبر۲۹۳۸) په دې حديث کي دئ چي يَوشَئ اَمَانَةً کښدېږدي نوچي اَمَانَت ورسره پُرُوت وي پرهغه باندي ضَمَان نسته.ددې څخه د اَمَانَت ثبوت هم وسو او دهغه حُکم هم معلوم سو چي بِېلَه تَعَدِّي هلاک سي نو ضَمَان ئې نسته .

په دې باب کي درې لفظونه دي (۱) اَمَانَت اِيښوُنکَئ چي مُودِع ورته وائي(د دال په زېرسره) (۲) دچا سره چي اَمَانَت کښېښوَل سي هغه ته مُودَع وائي (د دَال په زُوَر سره د اِسمِ مَفعُول صيغه) (۳) کوم شَئ چي اَمَانَةً کښېښوَل سي هغه ته وَدِيعَت وائي.

[۱۵۷۶](۱) وَدِيعَت د اَمَانَت اِيښُوُنکِي په لاَس کي داَمَانَت په حَيث وي.که دهغه په لاَس کي هلاک سي نودهغه ضَامِن نَه دئ .

تشريح : دچا په لاَس کې چي اَمَانَت اِيښَئ دئ هغه دهغه په لاَس کي اَمَانَت دئ.او د اَمَانَت قاعده دا ده چي که ببِله تَعَدِّي هلاک سي نو پرهغه چَا ددې تَاوَان نَه رَاځِي .

وجه : (۱) د ابن ماجه حديث مختته تيرسو مَن اُودَعَ وَدِيعَةً فَلاَ ضَمَانَ عَلَيهِ (ابن ماجه

حاشيه : (الف) الله تاسو ته حُکم درکوي چي اَمَانَت و اَمَانَت والا تـه اداٰء کـړئ (ب) حضـور وفرمائـل چـاچي اَمَانَت کښېښوئ پر هغه ضَمَان نسته .

[۱۵۷۷](۲) وَلِلمُودَعِ اَن يَحفَظَهَا بِنَفسِهِ وَبِمَن فِي عَيَالِهِ .

شريف.نمبر ۲۴۰۱) (۲) په دارقطني کي دئ عَن عَمرِوبِنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيـهِ عَن جَـدِّهِ عَـنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ لَيسَ عَلْي المُستَعِيرِ غَيرَ المُغِلِّ ضَمَانٌ وَلاَ عَلْي المُستَودَعِ غَيـرَ المُغِـلِّ ضَـمَانٌ (الف) (دارقطني.کتاب البيوع ج۳ص۳۶نمبر۲۹۳۹) (۳) قَـالَ عُمَـرُبنِ الخَطَّـابِ اَلعَارِيَـةُ بِمَنزِلَـةِ الوَدِيعَـةِ وَلاَ ضَـمَانَ فِيهَـا اِلاّ اَن يَتَعَـدّٰي (ب) (مصـنف عبـدالرزاق.باب العاريـة ج۸ص۱۷۹نمبر۱۴۷۸۵) ددې حديث او د تېر اَثَر څخـه معلوم سـوچي اَمَانَـت بېلـه تَعَدِّي هلاک سي نو پر اَمِين باندي ضَمَان نسته .

[۱۵۷۷](۲) و اَمَانَت اِيښُوُنکِي تـه جـواز سته چـي پـه خپلـه حفاظـت وکـي او پـه هغـوئې حفاظت وکي کوم چي دده په عَيَال کي دي .

تشريح : د اَمَانَت مَال په خپله هم حفاظت کولائي سـي او پـه هغـه اِنسَـانَانُ ئـې هـم حفاظـت کولائي سي کوم چي دده بَال بَچ دي يا دکوم چاچي دئ کَفَالَت کوي .

وجه : (۱) انسان هروخت په کُور کي نَه وسيږي.دباندي هم کله ضرورت پېښيږي. نوځکه چي په خپل اَهل وعَيَال باندې حِفَاظَت وَنَه کړي نو په چا بـه کـوي؟ (۲) حضـور دهِجـرَت پرموقع باندي په حضرت عَلِي باندي دااَمَانَت حفاظت کړئ دئ. بلکه دهغه په ذريعـه بانـدې اَمَانَت اداٰء کړئ دئ عَن عَائِشَةَ فِي هِجـرَةِ النَّبِـيِّ ﷺ قَالَـت اَمَـرَ تَعنِـي رَسُـولَ اللهِ ﷺ عَلِيًّـا اَن يَتَخَلَّفَ عَنهُ بِمَكَّةَ حَتّٰي يُؤَدِّي عَن رَسُولِ اللهِ ﷺ اَلوَدَائِعَ اَلَّتِي كَانَت عِنـدَهُ لِلنَّـاسِ (ج) (سـنن للبيهقي.باب ماجآء في الترغيب في اداٰء الأمانات ج۶ص۴۷۲نمبر ۱۲۶۹۶) پـه دې حـديث کي حضرت عَلِي دحضور د اَمَانَت حفاظت کړئ دئ او هغه ئې وخلکو تـه اداٰء کـړئ هـم دئ او حضرت عَلي د حضور ﷺ دعِيَال څخه وُ.نو ځکه په اَهلُ وعَيَـال بانـدې هـم حفاظـت کولائي سي .

حاشيه : (الف) حضـور وفرمائـل پـرعَارِيَت اِيښُوُنکِي بانـدي چـي زِيَـاتُوب نَـه کـوي ضَـمَان نسـته.او پـراَمَانَـت اِيښُوُنکِي باندي چي زياتوب نَه کوي ضَمَان نسته (ب) حضرت عُمَربِن خَطَّاب وفرمائل عَارِيَت د وَدِيعَت په شان دئاو په هغه کي ضَمَان نسته مګر دا چي تَعَدِّي وکي (ج) دحضور دهجرت په اړَه حضرت عائشه فرمـائي چـي حضور وحضرت عَلي ته حُکم ورکړئ چي دئ دي په مَکّه کي دده نِيَابَت وکي.تردې چي دحضور اَمَانَت دي اداٰء کړي کوم چي دده سره دخلګود پراته دي .

[۱۵۷۸](۳) فَاِن حَفِظَهَا بِغَيرِهِم اَو اَودَعَهَا ضَمِنَ اِلاّ اَن يَقَعَ فِي دَارِهِ حَرِيقٌ فَيُسَلِّمَهَا اِلْي جَارِهِ اَو يَكُونَ فِي سَفِينَةٍ وَهُوَ يَخَافُ الغَرَقَ فَيُلْقِيهَا اِلْي سَفِينَةٍ اُخرْي .

[۱۵۷۸](۳) که چيري د اَهلُ وعَيَال څخه علاوه پـه بَـل چـا حفاظـت وکـئ يـائې د بَـل چَاسره اَمَانَةً کښېښوئ نوضَامِن دئ مګر دا چي دده په کُـور کـي وُور ولګيـږي نـو دا

شَئ و خپل هَمسَايَه ته سپُرد کړي يا اَمَانَت په يَوَه گَښتَئ کي وي او دهغې د ډُوبېدُو خطره وي نو هغه په بَلَه گَښتَئ کي وَاچَوِي .

تشريح : چي دخپل اَهلُ وعَيَال څخه علاوه په بَل چا د اَمَانَت حفاظت وکي نو مُودَع دهغه ضَامِن گرزي .

وجه : مَالِک دمُودَع په حفاظت باندي راضي دئ دده څخه علاوه دبَل چاپه حفاظت باندي راضي نَه دئ. لِهٰذَا چي په بَل چائي حفاظت وکئ او شَئ هلاک سو نوضَمَان لازميږي عَن شُرَيحٍ قَالَ مَن اِستَودَعَ وَدِيعَةً فَاستَودَعَهَا بِغَيرِ اِذنِ اَهلِهَا فَقَدضَمِنَ (الف) (مصنف عبدالرزاق. باب الوديعة ج٨ص١٨٢نمبر١٤٨٠٠) په دې اَثَرکي دئ چي دمَالِک د اِجَازَت بغيره اَمِين د بَل چاسره اَمَانَت کښېښوئ او هلاک سو نو ضَامِن دئ. البته که چيري داسې مجبوري راسي چي وخپل هَمسَايَه ته ورکول ضرروي سي او چي وهغه ته ورکړي نودحفاظت زِيَات امکان وي نومُودَع ضَامِن نه دئ. مثلاً په کور کي وُور ولګېدئ په داسې صورت کې په نِيّت دحِفَاظَت د اَمَانَت شَئ دهَمسَايَه و کور ته وَرتَس کړئ او اَمَانَت ضَائِع سو نو مُودَع ضَامِن نَه دئ. دغه رنګه د اَمَانَت شَئ په گَښتَئ کي وُ او دا خطره پيدا سوه چي دا شَئ به ډُوب سي چي دهغه لکبله دحِفَاظَت په نِيّت داَمَانَت شَئ په بَلَه گَښتَئ کي تَس کړي او هغه هلاک سي نو مُودَع ئې ضَامِن نَه دئ .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چي دمجبورئ په وجه دحِفَاظَت په نِيّت

حاشيه : (الف) قاضي شُرَيح وفرمائل يَوچَا اَمَانَت کښېښوئ نوهغه دمَالِک د اِجَازَت بغيره د بَل چاسره اَمَانَةً کښېښوئ نو دئ ضَامِن دئ .

[١٥٧٩](٤) وَ اِن خَلَطَهَا المُودَعُ بِمَالِهِ حَتّي لاَ تَتَمَيّزُ ضَمِنَ [١٥٨٠](٥) فَاِن طَلَبَهَا صَاحِبُهَا فَحَبَسَهَا عَنهُ وَهُوَ يَقدِرُ عَلْي تَسلِيمِهَا ضَمِنَهَا .

دخپل اَهلُ وعَيَال څخه علاوه په بَل چا حفاظت وکي نومُودَع ضَامِن نَه گرزي .

لُغَت : حَرِيقٌ : وُور(اُور) لګېدل. سَفِينَةٌ : گَښتَئ .

[١٥٧٩](٤) که اَمَانَت اِيښُوُنکِي دخپل مَال سره داسې ګډ کړئ چي نَه سي جلا کېدلائي نو ضَامِن دئ .

تشريح : اَمَانَت اِيښُوُنکِي دغه اَمَانَت شَئ دخپل مال سره داسي ملاؤ کړئ چي اُوس ئې ځله جلاکولائي هم نَه سي نو اَمَانَت اِيښُوُنکَئ ددې اَمَانَت ضَامِن دئ او دئ به قيمت ورکوي .

وجه : د ملاؤوولو په وجه اُوس دئ اَمِين نَه سوپاته بلکه ضَامِن سو نوځکه دئ به ضَمَان ورکوي (٢) مَالِک اُوس وخپل حق ته نَه سي رسېدلائي نوځکه صورت ئې دا دئ چي دهغه قيمت ورته ملاؤ سي (٣)په اَثَرکي ددې ثبوت سته عَن اَنَسِ بِنِ مَالِکٍ قَالَ اِستَودَعتُ مَالاً فَوَضَعتُهُ مَعَ مَالِي فَهَلَکَ مِن بَينِ مَالِي فَرَفَعتُ اِلٰي عُمَرَ فَقَالَ اِنّکَ لأمِينٌ فِي نَفسِي وَلْکِن هَلَکتَ مِن بَينِ مَالِکَ فَضَمِنتَهُ (الف) (سنن للبيهقي. باب لاضمان علْي مؤتمن

ج۶ص۴۷۴نمبر۱۲۷۰۴) په دې اَثَرکې اَمَانَت دخپل مال سره ملاؤکړئ دئ او هغه هلاک سوئ دئ نوحضرت عمر اَنَس بِنِ مَالِک ضَامِن ګرزَوَلَئ دئ .

لُغَت : خَلَطَ : ملاؤ ئې کړئ. یَوځائ ئې کړئ.ګډ ئې کړئ .

[۱۵۸۰](۵) که اَمَانَت وَغُوَښتَئ دهغه مَالِک او مَنعَ کړئ اَمَانَت اِیښُوُنکِي د مَالِک څخه حالانکه ده دهغه پر ورکولو قدرت درلودئ نودهغه ضَامِن دئ .

حاشیه : (الف) اَنَس بِنِ مَالِک فرمائي چي مَا دیَوچَا اَمَانَت کښېښوئ نوهغه مِي دخپل مَال سره کښېښوئ . هغه زُومَا دمال سره هلاک سو.نومُعَامَلَه ئې حضرت عُمَرته یُوړَه هغه وفرمائل تَه د ذَات په لحاظ سره اَمِین ئې لېکن دخپل مَال سره دي هلاک کړئ دئ لِهٰذَا ته ضَامِن ئې .

[۱۵۸۱](۶) وَ اِن اِختَلَطَت بِمَالِهِ مِن غَیرِ فِعلِهِ فَهُوَ شَرِیکٌ لِصَاحِبِهَا

[۱۵۸۲](۷) وَاِن اِنفَقَ المُودَعُ بَعضَهَا وَهَلَکَ البَاقِيُ ضَمِنَ ذَالِکَ القَدرَ .

تشریح : مَالِک دااَمِین څخه د اَمَانَت مَال طَلَب کړئ او اَمِین پر ورکولو قُدرَت درلودئ دهغه باوجود ئې وَرنَه کړئ او اَمَانَت هلاک سونو اَمِین ددې مَال ضَامِن دئ .

وجه : دطَلَب کولو باوجود نَه ورکول تَعَدّي ده او مخکي اَثَر تېر سوئ دئ چي تَعَدِّي وکي نو اَمِین ضَامِن دئ قَالَ عُمَرُبِنِ الخَطّابِ اَلعَارِیَةُ بِمَنزِلَةِ الوَدِیعَةِ وَلاَ ضَمَانَ فِیهَا اِلاّ اَن یَتَعَدّْي (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب العاریة ج۸ ص۱۷۹ نمبر۱۴۷۸۵) ددې اَثَر په وجه د تَعَدِّي کولو په وجه اَمِین ضَامِن دئ .

[۱۵۸۱](۶) او که مَال د اَمِین دهیڅ کولوبغیره سره ګَد سونودئ دمَالِک سره شریک دئ .

تشریح : که د اَمِین هیڅ عَمَل دَخل نَه وُ د امانت مَال د اَمِین دمَال سره ګډسونو اَمِین به دمَالِک سره شریک سي ضَمَان نسته .

وجه : اَمِین خو نَه دئ سره ګَډکړئ بلکه په خپله سره ګډسو نوځکه دده لخوا تَعَدِّي نَه ده سوې.لِهٰذَا ضَامِن دئ.البته ددواړو مَال سره ګډسوئ دئ نوځکه دواړه به سره شریکان سي .

[۱۵۸۲](۷) که اَمَانَت اِیښونکي بَعض خرچ کړئ او هغه پاته هلاک سونو دهغه مِقدَار ضَامِن دئ .

تشریح : مثلاً زَر دِرهَم ئې اَمَانَت اِیښِي وُ د هغه څخه شُپږسوه دِرهَم اَمِین خرچ کړل

حاشیه : (الف) حضرت عُمَر وفرمائل عَارِیَت د وَدِیعَت په شان دئ او په هغه کي ضَمَان نسته مګر دا چي تَعَدِّي وکړي .

[۱۵۸۳](۸) فَاِن اَنفَقَ المُودَعُ بَعضَهَا ثُمّ رَدّ مِثلَهُ فَخَلَطَهُ بِالبَاقِي ضَمِنَ الجَمِیعَ .

او دا پاته ځلورسوه هلاک سونو هغه دامَانَت د هلاک سول.ځکه چي ده تَعَدِّي نَه ده کړې.او شُپِړسوه دِرهَم کوم چې خرچ کړل پرهغه تَعَدّي سوې ده ځکه دهغه ضَمَان لازم دئ .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چي پرڅونه باندي تَعَدِّي وکړي دهغه ضَمَان سته او پرڅونه چي تَعَدِّي وَنَه کړي هغه به اَمَانَت شمېرل کيږي .

[١٥٨٣](٨) که اَمَانَت اِيښُوُنکِي دهغه بَعض حِصّه خرچ کړه بيائې دهغه مِثل بېرته وَاپَس کړه بيائې هغه د دا پاته سره ملاؤکړه نو دټولو ضَامِن دئ .

تشريح : په تېرمثال کې زَر دِرهَم اَمَانَت اِيښِي وُ.دهغه څخه اَمِين شُپَړسوه دِرهَم خرچ کړل بيائې دخپل جانب څخه شُپَړسوه دِرهَم وَاپَس رَاوُړَل او د دا پاته دِرهَمُ سره يَوځائ کړل او ټولَ دِرهَم هلاک سول نواَمِين به اُوس دپوره زَر دِرهَمَ ضَامِن وي .

وجه : (١) اَمِين چي کوم شُپَړسوه خرچ کړي وُ ترڅوچي هغه ومَالِک ته حَوَالَه نَه کړي هغه د اَمِين دِرهَم دي.او مخته قاعده تېره سوې ده چي اَمِين د اَمَانَت مال دخپل مَال سره ملاؤکړي نود اَمَانَت ضَامِن دئ.دلته دخپلوشُپَړسوو سره ځلورسوه د اَمَانَت دا ملاؤ کړي دي نوځکه اُوس دپوره زَر دِرهَم ضَامِن وي (٢) مخکي دحضرت عُمَرقول تېرسوئ دئ.دحضرت حَسَن هم يَوقول دئ عَنِ الحَسنِ فِي الرّجُلِ يُودِعُ الوَدِيعَةَ فَيُحَرِّکُهَا يَأخُذُ بَعضَهَا قَالَ کَانَ يَقُولُ اِذَا حَرّکَهَا فَقَدضَمِنَ (الف) (سنن للبيهقي.باب لاضمان علْي مؤتمن ج۶ص۴۷۴نمبر١٢٧٠۵) په دې اَثَر کې د اَمَانَت مال دخپل ما سره يَوځائ کړئ دئ نواَمِين ئې ضَامِن ګرزولئ دئ. دغه رنګه دلته هم خپل مال د اَمَانَت دمال سره يوځائ کړئ دئ نوځکه دټوله مال به ضَامِن وي.مخکې د

[١٥٨٤](٩) وَاِذَا تَعَدّْي المُودَعُ فِي الوَدِيعَةِ بِاَن کَانَت دَابّةً فَرَکِبَهَا اَو ثَوبًا فَلَبِسَهُ اَو عَبدًا فَاستَخدَمَهُ اَو اَودَعَهَا عِندَ غَيرِهِ ثُمّ اَزَالَ التّعَدِّيَ وَرَدّهَا اِلْي يَدِهِ زَالَ الضّمَانُ .

دشُپَړسوه ضَامِن وُ اُوس ځلورسوه دِرهَم نور هم سو .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چي دامِين دخرچ کولو وروسته ترڅوچې هغه مَال ومَالِک ته سُپُرد کړئ نَه وي ترهغه وختـه د اَمِين مال ګڼل کيږي.او دومه قاعده دا ده چي دخپل مَال سره د اَمَانَت مَال ګډکړي نو د اَمَانَت ضَامِن دئ .

[١٥٨٤](٩) اَمَانَت اِيښُوُنکِي په اَمَانَت کي زِيَاتُوب وکړئ په دې ډَوَل چي حيوان وُ پرهغه سُپُورسو يا کپړه وه هغه ئې وَاغُوستَل يا غُلاَم وُ دهغه څخه خِدمَت وَاخَستَئ يائې هغه دبَل چا سره اَمَانَت کښېښوئ بيائې تَعَدِّي زَائِلَه کړه او دخپل ځان سره کښېښوئ نوضَمَان به زَائِل سي .

حاشيه : (الف) حضرت حَسَن وفرمائل چي يَوڅوک اَمَانَت کښيږدي بيا هغه ته حَرَکَت ورکړي هلاک ئې کړي او څه وَاخلِي نو فرمائل ئې چې حَرَکَت ئې ورکړئ نوضَامِن دئ .

تشريح : دا مسئله پردې قاعده مُتَفَرّع ده چې اَمِين په اَمَانَت کې زِيَاتُوب وکړې لېکن دهلاکولو بغيره بېرته زَيَادَتِي ختم کړه او اَمَانَت ئې د اَمَانَت په حَيث اِيښُوَل شروع کړل نو چې زياتوب ختم سو لِهٰذَا ضَمَان به هم ختم سي.اُوس که چيري هلاک سونوضَمَان نَه لازميږي. مصنف ددې څلور مثالون وُړَاندِي کړي دي (۱) د اَمَانَت حيوان وُ بايدپرهغه سُپُور سوئ نَه وائ لېکن پرهغه سُپُورسونوځکه دهلاکت په صورت کې پرده باندي ضَمَان لازم وُ لېکن اُوس چې ده سُپَرِبدَل پرېښول او د اَمَانَت په شان ئې ددې حفاظت او اِستِعمَال شروع کړئ نو اُوس به حيوان د اَمَانَت حيوان ګڼل کيږي لِهٰذَا اُوس دهلاکت په صورت کې ضَمَان نَه لازميږى (۲) کپړه د اَمَانَت وه هغه ئې وَاغُوَستَل (۳) غُلاَم وُ دهغه څخه خِدمَت اَخَستَل شروع کړئ بيائې خِدمَت اَخَستَل پرېښوَئ (۴) يادخپل ځان سره د اَمَانَت اِيښُوَل وُ ده دبَل ځَا سره اَمَانَت کښېښوئ بېرته وَاپَس ځيني وَاخَستَئ نوضَمَان ساقط دئ .

[۱۵۸۵](۱۰) فَاِن طَلَبَهَا صَاحِبُهَا فَجَحَدَهُ اِيّاهَا ضَمِنَهَا فَاِن عَادَ اِلْي الاِعتِرَافِ لَم يَبرَأ مِنَ الضّمَانِ [۱۵۸۶](۱۱) وَلِلمُودَعِ اَن يُسَافِرَ بِالوَدِيعَةِ وَاِن کَانَ لَهَا حَملٌ وَمُؤنَةٌ .

اُصُول : چې دتَعَدِّي وروسته تَعَدِّي ختم کړي او اَمَانَت صحيح او سَالِم پاته وي نوضَمَان ساقطيږي .

فائده : امام شافعي فرمائي چې دتَعَدِّي دختم کولوباجود ضَمَان نَه ساقطيږي .

وجه : دئ فرمائي چې يَوَار موجبِ دضمان سونواُوس هغه نَه ساقطيږي .

[۱۵۸۵](۱۰) که دهغه مَالِک اَمَانَت طلب کړئ او اَمِين دهغه اِنکار وکړئ نودئ ضَامِن دئ.بيا که بېرته اِعتِرَاف ته راغلئ نو دضَمَان څخه نَه بَرِي کيږي .

تشريح : مَالِک خپل اَمَانَت طَلَب کړئ اَمِين انکار ورته وکړئ چې ستا هيڅ ډَوَل اَمَانَت زُومَا سره نسته.بيا وروسته اِعتِرَاف وکئ چې ستا اَمَانَت زُومَا سره سته.دهغه وروسته شَئ هلاک سونوضَمَان ئې لازم دئ ددې قيمت به اداَء کوي .

وجه : د مطالبې وروسته د اَمِين د اِنکار کولو لکبله اَمَانَت ختم سو.اُوس ترڅو چې مَالِک ئې دُوبَارَه بېرته اَمِين جوړ نَه کړي ترهغه وخته اَمِين نَه ګرزي.او دوباره ئې جوړ کړئ نَه دئ ځکه د اِعتِرَاف باوجود به دئ ضَامِن وي .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چې دامِين د ختم کېدو وروسته دوباره باضابطه اَمِين جوړ نَه کړئ نودئ اَمِين نَه دئ ضَامِن دئ .

لُغَت : جَحَدَ : اِنکارئې وکئ. اِعتِرَافٌ : اقرار کول. لَم يَبرَأ : نَه بَرِي کيږي .

[۱۵۸۶](۱۱) واَمِين ته جواز سته چې سَفَروکي د وَدِيعَت سره که څَه هم په هغه کې بُوج او تکليف وي .

تشريح : اَمِين چي د اَمَانَت شَئ دځان سره پرسَفَربېول وَغُوَارِي نو بېولائي سي خو په دې شرط چي مَالِک نَه وي منع کړئ.او په لاَرَه کي دهلاکت خطره او بېره نَه وي.

[۱۵۸۷](۱۲) وَ اِذَا اَودَعَ رَجُلاَنِ عِندَ رَجُلٍ وَدِيعَةً ثُمّ حَضَرَ اَحَدُهُمَا طَلَبَ نَصِيبَهَا مِنهَا لَم يُدفَع اِلَيهِ شَيئًا عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ

که چيري مَالِک دسَفَرکولوڅخه منع کړئ وي يا په سَفَرکي دمَال دهلاکت خطره وي نو بيا چي دا شَئ ورسره وي سَفَر نَه سي کولائي.که چيري سَفَروکئ او دا شَئ هلاک سونو ضَامِن دئ .

وجه : اَمِين خو هروخت په کُور کي نَه وسيږي کله خو به سَفَرهم کوي.او مُطلَقًا حفاظت وسَفَر او حَضَر دواړو ته شَامِل دئ.چي دمنع کولوباوجود سَفَروکي نودهلاکت په صورت کي به ضَامِن وي دهغه دليل دا اَثَردئ اَنّ حَکِيمَ بِنِ حِزَامٍ صَاحِبَ رَسُولِ اللهِ ﷺ کَانَ يَشتَرِطُ عَلْي الرّجُلِ اِذَا اَعطَاهُ مَالاً مُقَارَضَةً يَضرِبُ لَهُ بِهِ اَن لاَتَجعَلَ مَالِي کَبِدَ رَطبَةٍ وَلاَ تَحمِلُهُ فِي بَحرٍ وَلاَتَنزِلُ بِهِ فِي بَطنِ سَيلٍ فَاِن فَعَلتَ شَيئًا مِن ذَالِکَ فَقَدضَمِنتَ مَالِي (دارقطني.کتاب البيوع ج۳ص۵۳نمبر ۳۰۱۴/سنن للبيهقي.کتاب القراض ج۶ص۱۸۴نمبر۱۱۶۱۰)

فائده : امام شافعي فرمائي چي دمَعرُوف اِعتِبَار به کيږي.او مَعرُوف دا دئ چي په حَضَرکي دې حفاظت وکي په سَفَرکي دې حفاظت نَه کوي.نوځکه که د اَمَانَت په پورته کولوکي بُوج اوتکليف وي که نَه وي پرسَفَرئې نَه سي ورسره وُړلاَئي.
صاحبين فرمائي چي که د اَمَانَت په پورته کولوکي تکليف وي خوپرسَفَر ئې نَه سي ورسره وُړلاَئي.ځکه چي اُوس خوبه بلاوجه دپورته کولواُجرَت اوکِرَايَه پرمَالِک باندي رَاسي.نوځکه دمَالِک د اِجَازَت بغيره پرسَفَرنَه سي ورسره وُړلائي .
لُغَت : مُؤنَةٌ : د پورته کولو اُجرَت .

[۱۵۸۷](۱۲) که دُوُ کسانو ديَوَه سړي سره څَه شَئ اَمَانَت کښېښوئ بيا دهغوڅخه يَو رَاغلَئ او دده څخه خپله حِصّه طَلَب کړه نو دې ته به هيڅ نَه ورکول کيږي د امام ابوحنيفه په نېز ترهغه وخته چي هغه بَل نَه وي رَاغلَئ.اوصاحبين وفرمائل چي ده ته به خپله حِصّه ورکول کيږي .

رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي حَتّْي يَحضُرَ الآخَرُ وَقَالَ اَبُويُوسُفَ وَمُحَمّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالْي يُدفَعُ اِلَيهِ نَصِيبَهُ .

تشريح : دُوُ کسانو ديوه سړي سره يَوشَئ اَمَانَةً کښېښوئ بيا يَورَاغلَئ وويل چي مَاتَه خپله حِصّه راکه نو د امام ابوحنيفه په نېز ده ته به خپله حِصّه نَه ورکول کيږي بلکه چي کله دُوَاړَه په ګډه يوځائ راسي نوو دواړو ته به مُکّمَل شَئ حواله کوي .

وجه : (١) دواړو په مُشتَرَکَه توګه دا شَئ اَمَانَت اِيښَئ دئ أُوس يوسړئ دا تَقسِيمَوِي خپله حِصّه غُوَاړِي او اَمِين دتقسيمولوحق نَه لري نوځکه دئ ئې دي يَوَه ته نَه سي ورکولائي (٢) اِمکان سته چي دا سړئ دي په چَالاَکِي او دُوکَه سره دا شَئ لاَس ته رَسَوَل غُوَاړِي نوځکه ده ته به خپله حِصّه نَه ورکول کيږي (٣) په اَثَرکي ودې ته اِشَارَه سوې ده عَن حَنَشٍ اَنّ رَجُلَينِ اِستَودَعَا اِمرأ ةً مِن قُرَيشٍ مِائةَ دِينَارٍ عَلْي اَن لاَتَدفَعَهَا اِلْي وَاحِدٍ مِنهُمَا دُونَ صَاحِبِهِ حَتّْي يَجتَمِعَا.فَاَتَاهَا اَحَدُهُمَا فَقَالَ اِنّ صَاحِبِي تُوُفّيَ فَادفَعِي اِلَيّ المَالَ فَاَبَت فَاختَلَفَ اِلَيهَا ثَلاَثَ سِنِينَ وَاِستَشفَعَ عَلَيهَا حَتّْي اَعطَتهُ ثُمّ اَنّ الآخَرَ جَآءَ فَقَالَ اَعطِينِي الّذِي لِي فَذَهَبَ بِهَا اِلْي عُمَرَ بنِ الخَطّابِ فَقَالَ لَهُ عُمَرُ هَل بَيِّنَةٌ ؟ قَالَ هِيَ بَيِّنَتِي فَقَالَ مَا اَظُنّکِ اِلاّ ضَامِنَةً (الف) (سنن للبيهقي.باب لاضمان علْي مؤتمن ج۶ص۴۷۳نمبر١٢٧٠١) په دې اَثَرکي حضرت عُمَر هغه ښځه ضَامِنَه ګرزولې ده کوم چي ويَوَه شَرِيک ته اَمَانَت شَئ ورکړئ وُ.نوځکه د امام ابوحنيفه په نيز و يوه شريک ته نَه سي ورکولائي .

فائده : صاحبين فرمائي چي وشريک ته به دهغه خپله حِصّه ورکوي .

حاشيه : (الف) دُوُ کسانو دقُرَيش ديوې ښځي سره سَل دِينَارَ اَمَانَةً کښښول په دې شرط چي د دُوَاړُو څخه به صرف ويوه ته نَه ورکوې ترهغه وخته چي دُوَاړَه يَوځائ نَه وي رَاغَلِي.وروسته ښځي ته يَو رَاغلَئ او وويل چي زُومَا شريک وَفَات سوئ دئ ځکه مَاتَه راکه نوهغې اِنکار ورته وکئ.نو درې کال دغه سړئ تَلَئ رَاتَلَئ او سَفَارَشُونَه رَاوُړَل.خو آخر ښځي وهغه ته اَمَانَت ورکړئ.بيا هغه دُوَم شريک رَاغلَئ او وويل چي کوم زُومَا مال دئ هغه مَاتَه راکه.نوښځه حضرت عُمَر لره بُوتلَه.حضرت عُمَر وفرمائل څَه ګواه لرې ؟ سړي وويل چي ښځه زُومَا ګواه ده.حضرت عُمَر وفرمائل چي زُومَا خيال دئ چي ښځه به ضَامِنَه وي .

[١٥٨٨](١٣) وَاِن اَودَعَ رَجُلٌ عِندَ رَجُلَينِ شَيئًا مِمّا يُقَسّمُ لَم يَجزِ اَن يَدفَعَهُ اَحَدُهُمَا اِلْي الآخَرِ وَلْکِنّهُمَا يَقتَسِمَانِهِ فَيَحفَظُ کُلّ وَاحِدٍ مِنهُمَا نِصفَهُ .

وجه : (١) دا شريک خو هغه خپل مَال غُوَاړِي کوم چي ده ورکړئ دئ نوځکه د مُطَالَبې په صورت کي به ده ته د ده اَمَانَت سُپُرد کوي (٢) په آيت کي دئ اِنّ اللهَ يَأمُرُکُم اَن تُؤَدّوا الاَمَانَاتِ اِلْي اَهلِهَا (آيت ٧٨سورة النسآء۴) نوځکه د اَمَانَت والا ته به خپل اَمَانَت ورکول کيږي .

[١٥٨٨](١٣) که يَوَه سړي د دُو کسانوسره يَو داسي شَئ اَمَانَةً کښښوئ چي تقسيم کېدلائي سي نوجواز نَه لري چي يَو ئې وبَل ته ورکړي.لېکن دُوَاړَه دې تقسيم کړي او د دُوَاړُو څخه هر يَودي دخپل نِيمِي حفاظت وکي .

تشريح : يَوَه سړي د دُوُکسانو سره يَو دا رنګه شَئ اَمَانَةً کښښوئ چي تقسيم کېدلائي سي.مثلاً زَر دِرهَم اَمَانَةً کښښول نو د امام ابوحنيفه رأيَه دا ده چي پوره زَر سره دي ويوه سړي ته دحِفَاظَت لپاره نَه ورکوي بلکه تقسيم دې کي هريَودي دنِيمِي نِيمِي حفاظت وکړي .

وجه : مَالِک د دُوَاړُو پرحِفَاظَت باندي اِعتِمَادکړئ دئ پريَوه ئې نَـه دئ کـړئ.او مَـال هم دا رنګه دئ چي تقسيم کېدلائي سي نوځکه پر يَوه ځـائ بانـدي د اِيښـُوُلُو مجبـوري هم نسته لِهٰذَا تقسيم دې کړي او هريَو دي دنِيمِي نِيمِي حفاظت وکي .

اُصُول : دده اُصُول دا دئ چي پردُوَاړُو ئې اِعتِمَاد کړئ دئ نوځکه يَو دې دځان سره نَه اِړدِي.ځکه چي پر يَوَه باندي مُکَمّل اِعتِمَاد نَه دئ سوئ .

فائده : صاحبين فرمائي چي پر دُوَاړُو باندي اِعتِمَادسوئ دئ نو په نتيجـه کـي پـر يَـوَه باندي هم مُکَمّل اِعتِمَاد سوئ دئ نوځکه ديَوَه په اِجَازَت سره پوره زَر دهغـه بَـل سـره اَمَانَت اِيښُوَلائي سي.

[۱۵۸۹](۱۴)وَاِن کَانَ مِمّا لاَيُقَسّمُ جَازَ اَن يَحفَظَ اَحَدُهُمَا بِاِ ذنِ الآخَرِ

[۱۵۹۰](۱۵) وَاِذَا قَـالَ صَـاحِبُ الوَدِيعَـةِ لِلمُـودَعِ لاَ تُسَـلِّمهَا اِلْـي زَوجَتِکَ فَسَلّمَهَا اِلَيهَا لَم يَضمَن .

اُصُول : د دُوئي اُصُول دا دئ چي پر دُوَاړُو باندي د اَمِين اِعتِمَاد کول پريَوَه باندي هم مکمل اِعتِمَاد دئ .

[۱۵۸۹](۱۴) او که اَمَانَت دا رنګه وي چي نَه سـي تقسيم کېـدلائي نوجـائزدئ چـي د دُوئي څخه يَوحفاظت وکي دهغه بَل په اِجَازَت سره .

وجه : مثلاً يَوَه غُـوَا ئـې د دُوُ کسانوسـره اَمَانَـت کښېښـوه نـو غُـوَا خـو نَـه سـي تقسيم کېدلائي ځکه دمجبورئ پر بِنَآء باندي د يَوَه اَمِين په اِجَازَت سره د دهغـه بَـل اَمِـين پـه حفاظت کې اِيښُوَلاَئي سي .

اُصُول : دمجبورئ په وجه پر يَوَه اَمِين باندي د مکمل اِعتِمَاد کولوضرورت دئ .

[۱۵۹۰](۱۵) او که اَمَانَت اِيښُوُنکِي و اَمِين ته وويـل چـي اَمَانَـت وخپلـه مَينَـه تـه مَـه حواله کوه.او ده وهغه ته حَوَالَه کړئنوضَامِن نَه دئ .

وجه : مخته تېرسـوي دي چـي د اَمَانَـت حفاظـت پـه خپـل اَهـلُ وعَيَـال بانـدي کـولائـي سي.ځکه چي د ده مجبوري ده.نو اُوس داسي شرط لګول چي پرهغه باندي عَمَل کول مُشکِل وي هغه شرط باطـل دئ.نوځکـه چـي ومَينَـه تـه حَوَالَـه کـړئ او د اَمَانَـت شَـئ هلاک سونو ضَمَان ئې نسته .

پام لرنه : که داسي شَئ وُ چـي هغـه و اَهلُ وعَيَـال تـه ورکـول ضـروري نَـه وُ بلکـه وهغو ته د ورکولوڅخه دهلاکت خطـره وَه نوبيـا د مَالِـک دا شـرط لګول صـحيح دئ چي دا شئ به و مَينَه ته نَه ورکوې.په داسـي صـورت کـي ومَينـې تـه د ورکـول څخـه ضَمَان لازميږي .

اُصُول : دا مسئله پر دې اُصُول مُتَفَرّع ده چي و اَهلُ و عَيَال ته د حفاظـت لپـاره د نَه

[١٥٩١](١٦) وَ اِن قَالَ لَهُ اِحفِظهَا فِي هٰذَا البَيتِ فَحَفَظَهَا فِي بَيتٍ آخَرَ مِنَ الدّارِ لَم يَضمَن وَاِن حَفِظَهَا فِي دَارٍ اُخرْي ضَمِنَ .

ورکولو شرط لګول صحيح دئ.ځکه چي په دي کي مجبوري ده .

[١٥٩١](١٦) او که وويل چي ددې حفاظت په دا خُونَه کي وَګَه.او ده دمکان په بَلَه خُونَه کي حفاظت وکئ نوضَامِن نَه دئ.او که دهغه شِي حفاظت په بَل مکان کي وکئ نو ضَامِن دئ .

تشريح : مَالِک ورته وويل چي ددې مکان په فُلاَنَئ کمره (خُونَه) کي دا اَمَانَت محفوظ ګَه.اَمِين د دغه مکان په بَلَه کمره کي اَمَانَت محفوظ کړئ او شَئ هلاک سو نو ضَامِن نَه دئ .

وجه : ديَوَه مکان ټُولِي کمرې دحفاظت په لحاظ يَو رنګه وي.نوځکه په بَلَه کمره کي اِيښُوَل دحفاظت خلاف نَه دئ لِهٰذَا دهلاکت په صورت کي ضَامِن نَه دئ .

اُصُول : دا مسئله پر دې اُصُول مُتَفَرّع ده چي که په حفاظت کي دواړه سره برابر وي نووشرط ته قريب قريب کول دشرط خلاف نَه دئ.البته که چيري هغه بَلَه کمره د حفاظت په لحاظ ددې کمرې ښخه کَمَه وي.مثلاً دا بَلَه کمره و چُور دروازه (دغَلَه و دروازه) ته نژدي وي نو بيا که په دې کمره کي کښيښوئ ضَامِن دئ. ... او چي په بَل مکان کي کښيږدي ضَامِن دئ. دهغه وجه دا ده چي مکانونه د حفاظت په لحاظ مُختَلِف وي نوځکه چي په بَل په مکان کې کښيږدي ضَامِن دئ .

اُصُول : دا مسئله پر اُصُول مُتَفَرّع ده چي هر مکان دحفاظت په لحاظ مُختَلِف وي .

اَبُوالحُسَين قُطب عفي عنه
ولدالحاج مولانا
محمداسحاق مرحوم

..... كِتَابُ العَارِيَةِ.....

[١٥٩٢](١) اَلعَارِيَةُ جَائِزَةٌ وَهِيَ تَملِيکُ المَنَافِعِ بِغَيرِ عِوَضٍ .

..... كِتَابُ العَارِيَةِ.....

ضروري پام لرنه : د عَارِيَت معنْي دا ده چي يَوشَئ مُفت د اِستِعمَال لپاره ورکړي او وروسته هغه بېرته ځيني واخلي.ددې ثبوت (١) په دې آيت کي دئ وَيَمنَعُونَ المَاعُونَ (آيت ٧سورة الماعون١٠٧) په دې آيت کي د کافرانو دا صِفَت بيان کړئ دئ چي دُوئي د ,,مَاعُون,, يعني د عَارِيَت دشِي ښخه هم مَنعَ کوي (٢) په حديث کي دئ چي حضور د ابوطلحه ښخه آس عَارِيَةً واخستئ او پر هغه سُپُور سوقَالَ سَمِعتُ اَنَسًا يَقُولُ کَانَ فَزعًا بِالمَدِينَةِ فَاستَعَارَ النّبِيّ فَرَسًا مِن اَبِي طَلحَةَ يُقَالُ لَهُ المَندُوبُ فَرَکِبَهُ فَلَمّا رَجَعَ قَالَ مَا رَأينَا مِن

شَيٍ وَاِن وَجَدنَاهُ لَبَحرًا (الف) (بخاري شريف.باب مَن استعار مِنَ الناس الفرس ص۳۵۷نمبر۲۶۲۷) ددې حديث څخه معلوم سوچي يَوشَئ عَارِيةً اخستل جائزدئ .

په دي كي ومَالِک جوړونكی ته ,,مُعِير,, وائي.او څوک چې مَالِک وګرزاوئ هغه ته ,,مُستَعِير,, وائي.او ودغه مَنفَعَت ته ,,عَارِيَت,, او,,مُستَعَار,, وائي .

[۱۵۹۲](۱) عاريت جائز دئ او هغه بېله عِوَضَ دمَنفَعَت مالک جوړول دئ .

تشريح : چي بغيره عِوَضَ يوَشَئ چاته وركړي چي ددې څخه نَفعَ واخله دا شَئ بېرته مَا ته وَاپَس راكه دې ته عَارِيَت ويل كيږي .

وجه : (۱) په تېرحديث كي حضور ﷺ د آس څخه نَفعَ واخسته آس ئې بېرته وَاپَس وركړئ (۲) په اَثَركي دئ عَن عَبدِاللهِ قَالَ كُنّا نَعُدّ المَاعُونَ عَلٰي عَهدِ رَسُولِ اللهِ ﷺ عَارِيَةَ الدّلوِ وَ القِدرِ (ب) (ابوداؤدشريف.باب في حقوق المال ص۲۴۱نمبر۱۶۵۷) ددې اَثرڅخه

حاشيه : (الف) حضرت اَنَس فرمائي چي په مَدِينَه كي خَوف سو نوحضور دابوطلحه څخه عَارِيَةً آس واخستئ چي مَندُوب ورته ويل كېدل.حضورپر هغه سپُورسو.چي وَاپَس راغلئ نو وفرمائل مَاخو هيڅ څوک وَنَه ليدئ.اودغه آس ئې د دَريَاب دڅپُو(لِهرُو) په شام ومونددئ (ب) حضرت عبدالله فرمائي چي موږدحضورپه زمانه كي ,,مَاعُون,, عَارِيَت ګانئ. لکه سَولاَغَه او د دېګ عارية اخستل .

[۱۵۹۳](۲) وَتَصِحّ بِقَولِهِ اَعَرتُکَ وَ اَطعَمتُکَ هٰذِهِ الأرضَ وَمَحَنتُکَ هٰذَا الثّوبَ وَحَمَلتُکَ عَلٰي هٰذِهِ الدّابّةِ اِذَا لَم يُرِد بِهِ الهِبَةَ وَ اَخدَمتُکَ هٰذَا العَبدَ وَدَارِي لَکَ سُكنٰي وَدَارِي لَکَ عُمرٰي سُكنٰي .

معلوم سوچي ويَوچَا ته سَولاَغَه او دېګ د اِستِعمَال لپاره وركول دحضور ﷺ په زَمَانَه كي ,,مَاعُون,, يعني عَارِيَت ګڼل كېدئ .

[۱۵۹۳](۲) او عَارِيَت صحيح كيږي ددې الفاظُ په وَيَلُوسره.مَا وتاته په عَارِيَت دركړئ، او مَا وتاته دا مځكه دخُوَړَلُولپاره دركړه، او مَا وتاته دا كپړه بَخشَش كړه، او مَا تَه پردې حيوان سپُور كړې كله چي ده ددې څخه دهِبې نِيّت نَه وي كړئ، او تاته مِي دا غُلاَم دخدمت لپاره دركړئ، او زُومَا كور ستا دوُسېدَلُولپاره دئ، او زُومَا كور دټوله عُمرلپاره ستا دوُسېدُو لپاره دئ .

تشريح : مصنف دلته اُوَه لفظونه استعمال كړي دي چي دهغه په وَيَلُوسره عَارِيَت مُنعَقَدكيږي.ددې څخه علاوه نورلفظونه هم سته چي دهغه څخه عَارِيَت وفَهمېدَل سي نو په هغه الفاظوباندې هم عَارِيَت مُنعَقَدكيږي.دهري جملې تشريح ستاسو خدمت ته وړَاندِ كوو. د ,,اَعَرتُکَ,, لفظ صريح استعمال سوئ دئ. ,,اَطعَمتُکَ هٰذِهِ الأرضَ,, مځكه دخُوَړَلُولپاره نَه وركول كيږي بلكه دهغې غَلّه دخُوَړَلُولپاره وركول كيږي.ددې مطلب دا سوچي دمځكي دغَلّې څخه وتاته د اِستِفَادې حق سته. د ,,مَنَحتُکَ هٰذَا الثّوبَ,, دوه مطلب دي. يو دا چي دا كپړه مِي په مكمّله توګه دركړه.دوم مطلب دا چي د څَه مخصوص وخت او اَغُوَستَلُولپاره مِي دا كپړه دركړې ده.نوځكه كه چيري

دهبې نِيّتِ نَه وي نوعَارِيَت ځيني مُرَاد دئ. دغه رنګه د ,,حَمَلتُـکَ عَلٰـي هٰـذِهِ الدّابّـةِ,, هم دوه مطلب دي. يَو دا چي پوره آس مِي در هِبَه کړئ.او دوم مطلـب دا دئ چـي پـه وَختِي توګه د سُپَارلَئ لپاره دا آس درکوم.نوځکه

[۱۵۹۴](۳) وَلِلمُعِيرِ اَن يَرجِعَ فِي العَارِيَةِ مَتٰي شَآ ءَ .

چي په مکمّله توګه دهبې نِيّت نَـه وي نـو عَارِيَت ځينـي مـراد دئ. پـه ,,اَخـدَمتُکَ هٰذَا العَبدَ,, کي خو صـاف واضـح دئ چـي دا غُـلاَم پـه وختـي توګـه دخدمت لپـاره عَارِيَـةً درکوم. په ,,دَارِي لَکَ سُکنٰي,, کي هم زُومَا مکان ستا دوُسبِدُو لپـاره دئ دا عَارِيَـت دئ. او په ,,دَارِي لَکَ عُمرِي سُکنٰي,, کي کـه چيـري صـرف ,,دَارِي لَـکَ عُمـرِي,, جمله وائ نو ددې څخه به دهبې مَفهوم اَخذ سوې وائ لکـه چـي مختـه تيرسـو.لېکن دسُکنٰي لفظ وضاحت وکئ چي دا مکان هِبَه نَه دئ بلکـه صـرف ټولـه عُمـر دوُسـبِدلو لپاره عَارِيَت دئنوځکه ددې جملوڅخه عَارِيَت مُنعَقَدکيږي .

[۱۵۹۴](۳) په عَارِيَت ورکونکي ته حق سته چي کله خُوَښَه عَارِيَت وَاپَس وَاخلِي.

وجه : (۱) شَئ خودمَالِک دي نو چي کله خُوَښَه سي اَخَستَلاَئي سي (۲) په حديث کـي دئ عَن سَمُرَةَ عَنِ النّبِيِّ ﷺ قَالَ عَلٰـي اليَدِ مَـا اَخَـذَت حَتّٰـي تُؤدِّيـهِ (سنن للبيهقـي . ج ۶ ص۱۵۸نمبر۱۱۵۱۹) او په يوبَل حديث کي دئ عَن صَفوَانَ بِـنِ يَعلٰـي عَـن اَبِيـهِ قَـالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ ﷺ اِذَا اَتَتـکَ رُسُلِي فَـاَعطِهِم ثَلاَثِينَ دِرعًـا وَثَلاَثِينَ بَعِيـرًا قَـالَ قُلتُ يَارَسُـولَ اللهِ اَعَارِيَـةٌ مَضـمُونَةٌ ؟ اَو عَارِيَـةٌ مُـؤَدّاةٌ ؟ قَـالَ بَـل مُـؤَدّاةٌ (الــف) (ابوداؤدشريف.باب في تضمين العارية ص۱۴۵نمبر۳۵۶۶/ترمذي شـريف.باب مـا جآءفي ان العارية مؤداة ص۲۳۹نمبر۱۲۶۶/دارقطني.کتاب البيوع ج۳ص۳۴ نمبـر ۲۹۲۸) ددې حديثوڅخه معلوم سوچي عَارِيَت به اداٰء کيږي نوځکه مَالِک چي څَـه وخـت وَغُـوَارِي ببِرته اَخَستَلاَئي سي .

لُغَت : مُعِيرٌ : پر عَارِيَت ورکونکئ مَالِک .

حاشيه : (الف) حضرت صَفوَان فرمائي چي ماته حضور وفرمائل که چيري تاته زُومَا قاصِد راسي نـو هغـه تـه دېرش (۳۰) زَغَرِي او دېرش (۳۰) وُښَان ورکه. مَا ورته وويـل ائ دخداىٔ رسـول! عَارِيَـت مَضـمُون دئ يـا عَارِيَت صرف اداٰء کول دي ؟ حضور وفرمائل بلکه عَارِيَت اداٰء کول دئ .

[۱۵۹۵](۴) وَالعَارِيَةُ اَمَانَةٌ فِي يَدِ المُستَعِيرِ اِن هَلَکَ مِن غَيرِ تَعَدٍّ لَم يَضمِنُ المُستَعِيرُ .

[۱۵۹۵](۴) عَارِيَت د اَخستُونکي په لاَس کـي اَمَانَـت وي.کـه ببِلـه تَعَدِّي هـلاک سـي نوعَارِيَت اخستونکئ ضَامِن نَه دئ .

تشريح : وکوم چاته چې شَئ په عَارِيَت ورکړئ دعَارِيَت شَئ دهغه په قبضه کي اَمَانَت وي.او د اَمَانَت قاعده مخته تېره سوې ده چي که بېله تَعَدِّي هلاک سي نوضَمَان ئې نَه لازميږي .

وجه : په مسئله نمبر۳ کي حديث تېرسوئ دئ قُلتُ يَارَسُولَ اللهِ أعَارِيةٌ مَضمُونَةٌ اَو عَارِيَةٌ مُؤَدّاةٌ (ابوداؤدشريف.نمبر۳۵۶۶) ددې ځخه معلوم سوچي دعَارِيَت شَئ اَمَانَت وي ضَمَانَت نَه وي. عَن عَلِيٍّ قَالَ لَيسَتِ العَارِيَةُ مَضمُونَةٌ اِنّمَا هُوَ مَعرُوفٌ اِلاّ اَن يُخَالِفَ فَيُضمِنُ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب العارية ج۸ص۱۷۹نمبر۱۴۷۸۸) ددې اَثَرځخه هم معلوميږي چي عَارِيَت امانت دئ چي بېله تَعَدِّي هلاک سي نوپرمُستَعِيرباندي ضَمَانَت نَستَه .

فائده : دبعضُوحديثوځخه معلوميږي چي عَارِيَت مَضمُون دئ چي بېله تَعَدِّي هلاک هم ئې ضَمَان لازم دئ.د امام شافعي دغه مَسلَک دئ .

وجه : عَن صَفوَانَ بِنِ اُمَيّةَ اَنّ رَسُولَ اللهِ اِستَعَارَ مِنهُ اَدرُعًا يَومَ حُنَينٍ فَقَالَ أغَصبٌ يَامُحَمّدُ ؟ فَقَالَ لاَ بَل عَارِيَةٌ مَضمُونَةٌ (ب) (ابوداؤدشريف.باب في تضمين العارية ص۱۴۵نمبر۳۵۶۲/دارقطني.کتاب البيوع ج۳ص۳۵نمبر۲۹۳۲) ددې حديث ځخه معلوم سوچي عَارِيَت که بېله تَعَدِّي هلاک سي نوهم تَاوان ئې لازم دئ ځکه چي هغه مَضمُون دئ .

حاشيه : (الف) حضرت عَلِي فرمائي چي دعَارِيَت ضَمَان نسته دا خو يَو اِحسَان دئ. مګر که مخالفت وکي نوضَامِن دئ (ب) حضور دحُنَين په ورځ زَغَرَه عَارِيَةً واخسته نوحضرت صَفوَان پوښتنه وکړه ائ محمد! آيا دغَصب په توګه اَخلِې؟ حضور وفرمائل نَه بلکه عَارِيَة ئې اَخلَم دضَمَان په توګه .

[۱۵۹۶](۵) وَ لَيسَ لِلمُستَعِيرِ اَن يُوجِرَ مَا اِستَعَارَهُ فَاِن آجَرَهُ فَهَلَکَ ضَمِنَ [۱۵۹۷](۶) وَ لَهُ اَن يُعِيرَهُ اِذَا کَانَ المُستَعَارُ مِمّا لاَيَختَلِفُ بِاِختِلاَفِ المُستَعمِلِ .

[۱۵۹۶](۵) و عَارِيَت اخستونکي چاته جواز نَستَه چي په اُجرَت ئې کښيږدي هغه شَئ کوم چې په عَارِيَت اخستئ دئ.بيا که چيري په اُجرَت کښېښوئ او هغه شَئ هلاک سونوضَامِن دئ .

تشريح : کوم شَئ چې په عَارِيَت اخستئ دئ هغه شَئ په اُجرَت باندي نَه سي اِيښولائي.که په اُجرَت باندي کښېښوئ او هلاک سو نوچاچي په عَارِيَت اِيښَئ دئ هغه ددې ضَامِن ګرزي .

وجه : (۱) په اُجرَت ورکولو کي لُزُوم دئ او ترمُتَعَيّن مُدَت پوري ورکول لازم ګرزي.او په عَارِيَت کي هيڅ ډَوَل لزوم نسته.نوځکه اُجرَت د اَعلْي درجې معامله سوه او عَارِيَت د اَدنْي درجې معامله ده نوځکه د اَدنْي درجې معامله د اَعلْي درجې ومعامله ته نَه سي شاملېدلائي (۲) مثلاً عَارِيَت ئې د درو ورځولپاره په اُجرَت

کښېښوئ نوهغه ئې د درو ورځوځخه مخکي نَه ورکوي او عَارِيَت ورکونکئ به اُوس فورًا مثلاً غُوَارِي نو تر درو ورځو پوري به څَه رنګه اِړدِي ؟ نوپه دې وجه هم دعَارِيَت والا ئې په اُجرَت نَه سي اِيښولائي .

[١٥٩٧](۶) او په عَارِيَت اِيښُونکِي ته جواز سته چي دا شَئ وبَل ته په عَارِيَت کښېږ دي خو په دې شرط چي د اِستِعمَالونکي په اِستِعمَال سره نَه مُتَغَيّر کيږِي .

تشريح : که چيري دبېلا بيلو انسانانوپه اِستِعمَال سره د شِي دخرابېدو خطره نَه وي نو په عَارِيَت اخستونکئ ئې وبَل چاته د اِستِعمَال لپاره هم ورکولائي سي .

وجه : (١) لکه ببلچَه يا تُرَه ددې چي اِستِعمَالونکي جلا جلا انسانان سي نوڅَه دېرفرق نَه پکښي رَاځي لِهٰذَا که په خپله استعمال کړي يائې ومزدور ته د استعمال لپاره ورکړي نوځه خاص فرق نَه کوي (٢) په حديث کي دئ چي حضور دحضرت صَفوَان ځخه دحُنَين په ورځ د ديرشُ ځخه تر څلوېښتُ پوري زَغَرِي عَارِيَةً واخستې او هغه ئې و اصحابانوته عَارِيَةً د استعمال لپاره ورکړې. دحديث ټکړه دا ده عَن اُنَاسٍ مِن آلِ عَبدِاللّٰهِ بِنِ صَفوَانَ ... فَاَعَارَهُ مَابَينَ الثّلاَثِينَ اِلْي الأربَعِينَ دِرعًا وَغزّ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ حُنَينًافَلَمّا هَزِمَ المُشرِكُونَ جُمِعَت دُرُوعُ صَفوَانَ فَفُقِدَ مِنهَا اِدرَاعًا (الف) (ابوداؤد شريف.باب في تضمين العارية ص١۴۵نمبر٣۵۶٣) په دې حديث کي حضور دحضرت صَفوَان څخه زَغَرَه واخستله او ونورو اصحابانو ته د اِستِعمَال لپاره عَارِيَةً ورکړه.ددې څخه معلوم سووچي په عَارِيَت ورکونکي ته جواز سته چي وبَل چاته په عَارِيَت ورکړي .

[١٥٩٨](٧) وَعَارِيَةُ الدّرَاهِمِ وَالدّنَانِيرِوَالمَكِيلِ وَالمَوزُونِ قَرضٌ .

پام لرنه : که چيري د استعمالونکي دبدلېدو څخه دشِي دخرابېدو خطره وي او ده د استعمال لپاره سرئ معلوم کړئ وي نو وَبَل ته د استعمال لپاره نَه سي ورکولائي که نَه نوضَامِن دئ .

[١٥٩٨](٧) د دِرهَم،دِينَار او کَيلِي او وَزنِي شيانو عَارِيَت قرض دئ .

تشريح :دعَارِيَت مطلب دا دئ چي هغه شَئ پرخپل ځائ بحال پاته وي اوپه عَارِيَت اخستونکئ صرف ددې شي نَفعَ واخلي بياهغه شَئ بعينه ببرته وَاپَس کړي.لکه چي په تُرَه قِتَال (جهاد) وکي او بعينه هغه تُرَه ببرته وَاپَس کړي.لېکن د دِرهَم، دِينَار او کَيلِي او وَزنِي شيانوڅخه دفائدې اخستلوصورت به دا وي چي هغه شَئ بالکل ختم سي.مثلاً دِرهَم او دِينَارخرچ سي او غَنَم و خُورمَا وَخُوَړَل سي.ددې مِثل به وَاپَس کړي نوځکه دا شيان چي دعَارِيَت په نوم ځيني واخلي هم دا قرض دي .

وجه : ځکه چي په قرض کي عَين شَئ هلاک کړي دهغه مِثل ببرته وَاپَس کيږِي .

حاشيه : (الف) حضور دحضرت صَفوَان څخه د ديرشُ تر څلويښتُ پوري زَغَرِي په عَارِيَت واخستلې او حضور په جَنګِ حُنَين کي غَزَا وکړه.چي کله مُشرِکِينُ شکست وَخُوَاړَئ نود حضرت صَفوَان زَغَرِي جمع کړل سوې.نودهغه څخه ګڼ شمېر زَغَرِي وَرَکِي وې .

[١٥٩٩](٨) وَاِذَا اِستَعَارَ اَرضًا لِيُبنْي فِيهَا اَو يُغرِسَ جَازَ [١٦٠٠](٩) وَلِلمُعِيرِ اَن يَرجِعَ عَنهَا وَيُكَلِّفَهُ قَلعَ البِنَآءِ وَالغَرَسِ فَاِن لَم يَكُن وَقّتَ العِارِيَةَ فَلاَضَمَانَ عَلَيهِ وَاِن كَانَ وَقّتَ العَارِيَةَ وَرَجَعَ قَبلَ الوَقتِ ضَمِنَ المُعِيرُ لِلمُستَعِيرِ مَانَقَصَ مِنَ البِنَآءِ وَالغَرَسِ بِالقَلعِ .

[١٥٩٩](٨) که مځکه په عَارِيَت واخستله چي پرهغه عِمَارَت جوړکړي يا درختي پر وَګَرِي نو جائز دئ .

تشريح : مځکه دعمارت جوړولو يا د درختي لګولوپاره په عَارِيَت اخستل جائز ده .

وجه : (١) ځکه چي دمَالِک په اجازت سره عمارت جوړوي او درخته لګوي (٢) په حديث کي ددې ثبوت سته عَن اِبنِ عَبّاسٍ اَنّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ لأن يَمنَحَ الرّجُلُ اَخَاهُ اَرضَهُ خَيرٌ لَهُ مِن اَن يَأخُذَ عَلَيهَا خَرجًا مَعلُومًا (الف) (مسلم شريف.باب الارض تمنح ص١۴نمبر١٥٥٠/ابوداؤدشريف.باب فِي المزارعة ص١٢۴نمبر٣٣٨٩) په دې حديث کي ترغيب ورکول سوئ دئ چي مځکه عَارِيَةً د کَرَلُولپاره ورکوئ .

[١٦٠٠](٩) اوپه عَارِيَت ورکونکي ته جواز سته چي هغه وَاپَس واخلي او مُستَعِير به دعِمَارَت دنړَوُلُو او د درختي دکښلومُکلّف کوي.بيا که چيري دعَارِيَت لپاره وخت مُتَعَيّن نه کړئ نوپرمُعِيرباندي ضَمَان نسته.او که دعَارِيَت وخت مُتَعَيّن کړئ او د وخت څخه مخکې وَاپَس واخستئ نو په عَارِيَت ورکونکئ دعَارِيَت اَخَستُونکِي ذِمّه دَارَه دئ چي څونه نُقصَان سوئ دئ د دېوَال دنړېدلو او د درختي دکښلوڅخه .

تشريح : که په عَارِيَت ورکونکي ددې عَارِيَت لپاره يووخت مُتَعَيّن کړئ نَه وُ نوبيا هر وخت دخپلي مځکي د اخستلو مطالبه کولائي سي.او دا ويلائي سي چي خپل عِمَارَت

[١٦٠١](١٠) وَ اُجرَةُ رَدِّ العَارِيَةِ عَلْي المُستَعِيرِ [١٦٠٢](١١) وَ اُجرَةُ رَدِّ العَينِ المُستَأجَرَةِ عَلْي المُوجِرِ .

دِ وَنړَوَه او درخته دِ وَګَاږَه او زُومَا مځکه مکمّله خالي وماته وَاپَس کـه.او يو خاص وخت د دُوئي ترمينځ مُتَعَيّن نَه وُ لِهْذَا د دېوال د نړېدو او د درختي دکښلو د تَاوَان ضَمَان هم دمځکي پر مَالِک باندي نَه لازميږي .

وجه :يَومُتَعَيّن وخت ددُوئي ترمينځ نَه وُنوځکه دمځکي مَالِک ومکان جوړونکي يا و درختي لګونکي ته هيڅ ډَوَل دُوکَه نَه ده ورکړئ.ځکه دمځکي پر مَالِک باندي ضَمَان نسته. او که وخت مُتَعَيّن وي بيائې د وَختِ مُتَعَيَن څخه مخکي دعِمَارَت د نړَوُلُو او د

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل چي سړئ وخپل وُرُور ته مځکه عاريةً ورکړي دا ډېرښَه دئ تر دې چي دهغه څخه معلوم اُجرَت واخلي وَرئې کړي .

درختـي دکښلـو حکـم ورکـړئ نـو دا خـو ډُوگـه ورکـړه نوځکـه دمځکـي مَالِـک بـه د عِمَارَت د نړېدو تَاوَان ورکوي او د درختي دپرېکېدو دنُقصَان ضَمَان به ورکوي .

أُصُول : دا مسئله پر دي أُصُول مُتَفَرّع ده چي کـه مځکـي والا ډُوگـه نَـه وي ورکـړې نوپر هغه ضَمَان هم نَه لازمیږي.او که ډُوگه ورکړې وي نوپرده ضَمان لازم دئ .

لُغَت : مُعِيرٌ : په عَارِيَت ورکونکئ. قَلعٌ : کښَل. وَقّتَ : وخت مُتَعَيّن کول .

[۱۶۰۱](۱۰) دعَارِيَت د وَاپَس کولو أُجرَت پر عَارِيَت اخستونکي دئ .

وجه : مُستَعِير دخپلي فائدې لپـاره مُفـت دعَارِيَـت شَـئ رَاوْړَئ وُ نـو أُوس ددې وَاپَـس کول اومَالِک ته سپُرِدکول هم دده ذِمّـه دَارِي ده نوځکـه کـه پـه وَاپَـس ورکولـو کـي أُجرَت لګېدئ نو دغه أُجرَت به پرهغه چاوي چي عَارِيَت ئې اخستئ وي .

أُصُول : دامسئله پردې أُصُول مُتَفَرّع ده چي دکوم چاذِمّه دَارِي وي أُجرَت پرهغه دئ .

[۱۶۰۲](۱۱)اوپه أُجرَت باندي داَخَستَل سوي شِي أُجرَت پرأُجرَت ورکونکي دئ.

وجه : چاچي په أُجرَت اخستئ دئ پرهغه لازم نَه دئ چي د أُجـرَت شَـئ ببرتـه وَاپَـس کړي بلکه صرف تَخلِيَه کفايت کوي.چي مَالِک په خپله دا ببرته يُوسِي.ځکه چي

[۱۶۰۳](۱۲) وَ أُجـرَةُ رَدِّ العَـينِ المَغصُـوبَةِ عَلْـي الغَاصِـبِ [۱۶۰۴](۱۳) وَ أُجـرَةُ رَدِّ العَـينِ المُودَعَـةِ عَلْـي المُـودِع [۱۶۰۵](۱۴) وَاِذَا اِستَعَارَ دَابّةً فَرَدّهَا اِلْي اِصطَبَلِ مَالِكِهَا فَهَلَكَت لَم يُضمَن .

ده په مُفتَه کـي دشِـي د اِستِعمَالَوَلو موقـع نَـه ده ورکـړې بلکـه پـه أُجـرَت ئـې ورکـړئ دئ .نوځکه وَاپَس وُړَل هم دمَالِک ذِمّه دَارِي ده.لِهٰذَا پـر مَالِـک بانـدي د وَاپَـس وُړُولُـو أُجـرَت لازم دئ .

أُصُول : مخته تيرسوچي دکوم چاذِمّه دَارِي وي أُجرَت هم پرهغه لازم دئ .

لُغَت : اَلمُوجِرُ : په أُجرَت ورکونکئ .

پام لرنه : چي شرط ئې کړي نوبيا پرمُستَأجِرباندي هم ددې أُجرَت لازميږي .

[۱۶۰۳](۱۲) او دغَصَب کړي شِي د وَاپَس کولو أُجرَت پرغَاصِب دئ .

وجه : غَاصِب په زوره سامان وَړَئ دئ نوځکه تـر مَالِـک پـوري رَارَسَول دده ذِمّـه دَارِي ده.نوځکه د وَاپَس کولو أُجرَت پر غَاصِب دئ .

[۱۶۰۴](۱۳) د وَدِيعَت د وَاپَس کولوأُجرَت پر وَدِيعَت اِيښُوُنکِي دئ .

تشريح : وَدِيعَت و مَالِک ته وَاپَس کيږي نوأُجرَت به هم پرمَالِک لازم وي ځکـه چـي اَمِـين خو مُفت په اَمَانَت کي اِيښِي دي.او دا دهغه اِحسَان دئ.او ومَالِک ته ددې ضرورت دئ چي خپل شَئ داَمِين څخه وَاپَس رِاوْړِي.نوځکه پرمَالِک به ددې أُجرت او کِرَايَه لازم وي .

[۱۶۰۵](۱۴) که حيوان عَارِيَةً واخستئ اوبيائې هغه دمَالِک و شپُالَه ته وَر وَاپَس کـئ او هغه هلاک سونوضَامِن نَه دئ .

تشريح : حيوان خوعُمُومًا ترشُپَالَه پوري رَارَسَوِي او ترشُپَالَه پوري رَاوَستَل دمَالِک قبضه شمېرل کيږي.نوځکه چي عَارِيَت اخستونکئ دمَالِک واِصطَبَل يعني شُپَالَه ته حيوان رَاوَرَسَوِي او حيوان هلاک سي نوعَارِيَت اخستونکئ ضَامِن نَه دئ .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چي عَارِيَت ئې داسي ځائ کښيښوئ چي هلته

[۱۶۰۶](۱۵) وَاِن اِستَعَارَ عَينًا وَرَدّهَا اِلْي دَارِ المَالِکِ وَلَم يُسَلِّمهَا اِلَيهِ لَم يَضمَن [۱۶۰۷](۱۶) وَاِن رَدّ الوَدِيعَةَ اِلْي دَارِ المَالِکِ وَلَم يُسَلِّمهَا اِلَيهِ ضَمِنَ وَاللهُ اَعلَمُ بِالصّوَابِ .

دمَالِک قبضه ګڼل کيږي نو دئ دهغه څخه بَرِي دئ .

[۱۶۰۶](۱۵) که يَوعَينِي شَئ په عَارِيَت واخستئ او هغه ئې دمَالِک کور ته رَاوَرَسَاوَئ او دهغه ومَالِک ته حَوَالَه نَه کړئ نوضَامِن نَه دئ .

وجه : دعَارِيَت شَئ مثلاً بېلچَه.هَل يايوبَل شَئ دا عمومًا کورته رَارَسَوِي چي مَالِک نَه وي هم و کور والا ته ورکوي او دغه دمَالِک قبضه شُمېرَل کيږي.نوځکه که ومَالِک ته وَرنَه کړئ صرف کور ته رَاوَرَسَاوئ نوهم مُستَعِيرضَامِن نَه دئ. (...اُصُول په تېره صفحه کي تېرسوئ دئ...)

[۱۶۰۷](۱۶) او که اَمَانَت شَئ دمَالِک کور ته رَاوَرَسَاوَئ او ومَالِک ته سُپُرد نَه کړئ نو ضَامِن دئ .

وجه : که چيري مَالِک دخپل کُورپراِنسَانَانُ باندي اِعتِمَاد درلودائي نو د نورو سره اَمَانَت وَلِي اِيښُوَئ؟ددې څخه معلوم سوچي په دغه وجه دبَل سره اَمَانَت کښېښوئ چي داشَئ دکُوردانِسَانُولاَس ته وُلاَړ نَه سي.اوچاچي اَمَانَت خُوندِي کړئ دئ هغه دمَالِک بجائ دکُورواِنسَانَانُوته ورکړئ نو دائې دمَقصَدخلاف کار وکئ نوځکه اَمِين به ضَامِن وي.په آيت کي ودې ته اِشَارَه سوې ده اِنّ اللهَ يَأ مُرُ کُم اَن تُؤدّوا الآمَانَاتِ اِلْي اَهلِهَا (الف) (آيت ۵۸سورة النسآء۴) په دې آيت کي ويل سوي دي چي اَمَانَت وخپل مَالِک ته وَروَرَسَوَئ. لِهْذَا چي دکُور واِنسَانُو ته وَروَرَسَوِي نو نَه بَرِي کيږي .

اُصُول : دا مسئله پر دې اُصُول مُتَفَرّع ده چي د اَمَانَت پرشِي باندي دکُور د اِنسَانَانُوقبضه د اَمَانَت ادائيګي نَه شمېرل کيږي .

حاشيه : (الف) الله تاسو ته حُکم کوي چي اَمَانَتُونَه دهغه و اَهل ته وَاپَس کړئ .

..... كِتَابُ الّلقِيطِ.....

[۱۶۰۸](۱) اَللّقِيطُ حُرّ وَنَفَقَتُهُ مِن بَيتِ المَالِ .

..... كِتَابُ الّلقِيطِ.....

ضروري پام لرنه :لَقِيط وهغه بَچِي ته وائي چي خپل مُوراوپُلاَر هسي پرېښندئ وي او دهغه دژُوَند دبچاؤ لپاره يَوڅوک هغه رَاپُورتَه کړي او پَالَنَه رُوزَنَه ئې شروع کړي.د لَقِيط ثبوت په دې آيت کي دئ فَالتَقَطَهُ آلُ فِرعَونَ لِيَکُونَ لَهُم عَدُوّ اً وَحَزَنًا (الف) (آيت ٨سورة القصص ٢٨) او په دې آيت کي هم دئ قَالَ قَائِلٌ مِنهُم لاَ تَقتُلُوا يُوسُفَ وَ اَلقُوهُ فِي غَيْبَتِ الجُبِّ يَلتَقِطهُ بَعضُ السَّيّارَةِ اِن کُنتُم فَاعِلِينَ (ب) (آيت ١٠ سورة يوسف ١٢) په دې دُوُ آيتوکي د دُوُعَظِيم نَبِيَانُو دلُقطې او پورته کولوتذکره ده .

[١٦٠٨](١) لَقِيط آزاد دئ او دهغه خرچ به دبَيتُ المَال څخه وي .

وجه : (١) دَالاِسلاَم دئ نوځکه ګُمَان دغه دئ چي دا به ديَوَه آزاد سړي بَچَئ وي.ځکه بَچَئ به آزاد شمېرل کيږي (٢) هسي خو هم پرده باندي دغُلاَمِيّت څَه علامَت نسته لِهٰذَا دا به آزاد شمېرل کيږي.ځکه چي بَنِي آدَم آزاد وي (٣) په اَثر کي ددې ثبوت سته حَدّثَنِي اَبُوجَمِيلَةَ اَنّهُ وَجَدَ مَنبُوذًا عَلٰي عَهدِ عُمَرَ بِنِ الخَطّابِ فَاَتَاهُ بِهِ فَاَتهَمَهُ عُمَرُ فَاَثنٰي عَلَيهِ خَيرًا فَقَالَ عُمَرُ فَهُوَ حُرٌ وَوَلاَؤُهُ لَکَ وَنَفَقَتُهُ مِن بَيتِ المَالِ (ج) (مصنف عبدالرزاق.باب ولاء اللقيط ج٩ص١٤نمبر١٦١٨٢) (٤) اَنّ عَلِيًّا سُئِلَ عَن لَقِيطٍ فَقَالَ هُوَ حُرٌ عُقلُهُ عَلَيهِم وَوَلاَؤُهُ لَهُم (مصنف عبدالرزاق.ج٩ص١٥نمبر١٦١٨٤/سنن للبيهقي.باب التقاط المنبوذ وانه لايجوز ترکه ضائعًا ج٦ص٣٣٢نمبر١٢١٣٣) ددې

حاشيه : (الف) آلِ فرعون حضرت موسٰي پورته کړئ چي د دُوئي لپاره دُښمَن او دغمګِينَئ شَئ جوړ سي (ب) وَيُونکِي وويل چي حضرت يوسف مَه قتل کوئ.دئ په يَوَه جَوَر څَاه کي واچوئ.يَومسافر به پورته کي يوبه سي که تاسو کونکي ياست (ج) ابوجميلې دحضرت عُمَر په زمانه کي يَو تَس کړل سوئ بَچَئ وموندئ.هغه ئې حضرت عُمَرته رَاوړئ.نوحضرت عُمَر دئ مُتهَم کړئ نو خلګو دده تعريف وکئ.نوحضرت عُمَر وفرمائل بَچَئ آزاد دئ او تاته به دده وَلآء ملاؤيږي.او دده خَرچَه به د بَيتُ المَال څخه وي .

[١٦٠٩](٢) وَاِن اِلتَقَطَهُ رَجُلٌ لَم يَکُن لِغَيرِهِ اَن يَأخُذَهُ مِن يَدِهِ

[١٦١٠](٣) فَاِن اِدّعٰي مُدّعٍ اَنّهُ اِبنُهُ فَالقَولُ قَولُهُ مَعَ يَمِينِهِ

[١٦١١](٤) وَ اِن اِدّعَاهُ اِثنَانِ وَوَصَفَ اَحَدُهُمَا عَلاَمَةً فِي جَسَدِهِ فَهُوَ اَولْي بِهِ .

اَثَرڅخه معلوم سوچي لَقِيط آزاد دئ او دهغه خرچه به دبَيتُ المَال څخه وي .

وجه : ځکه چي دده سره مَال نسته نو د داسي چا دنَفَقې ذِمّه دَارَه بَيتُ المَال وي .

[١٦٠٩](٢) که يَوَه سړي بَچَئ رَاپُورتَه کئ نو وبَل ته دا جواز نسته چي دا دده دلاَسَ څخه وَاخلِي .

وجه : (١) چي ديَوَه قبضه راغله نودبَل قبضه ساقط سوه نوځکه ببله کومي وَجهِ او د رَاپُورتَه کونکي د اِجَازَت بغيره بَل څوک ئې دده دلاَس څخه نَه سي اخستلائي (٢) مخته دحضرت عُمَرپه قول کي ودې ته اِشَارَه سوې ده.ځکه چي هغه وفرمائل

,,وَوَلآؤهُ لَکَ,, يعني چي كوم چا رَاپُورتَه كړئ دئ دبَچي ,,وَلآء,, دهغه ده.ددې مطلب دا سوچي د رَاپُورتَه كونكي حق دئ دبَل چاحق نَه دئ .

[۱۶۱۰](۳) كه چيري چا دعوه وكړه چي دا بَچَئ دده زُوئي دئ نو دده خبره به مَنَل كيږي سره دقَسَم .

تشريح : كه يَوچَا دعوه وكړه چي دا بَچَئ دده زُوئي دئ نوكه څَه هم په دي كي ددې رَاپُورتَه كونكي سرِي حَق وَهَل كيږي لېكن په دي كي دبَچي فائده ده چي ديَوچَا زُوئي سي.نوځكه دې ته به ترجيح وركول كيږي او دبَچي نَسَب به دهغه چاڅخه ثابت سي كوم چاچي دنَسَب دعوه كړې ده.البته يَوښكاره علامت نسته او نَه پردې باندي يَوَه ګواهي سته نوځكه سره دقَسَم به دده خبره مَنَل كيږي .

[۱۶۱۱](۴) كه دُوُ كسانو دزُوئي وَالِي دعوه وكړه او يَوَه دهغه په بَدَن كي علامت بيان كئ نوهغه دزُوئي زِيَات حقداره دئ .

تشريح : دُوُكسانو دلَقِيط دزُوئي وَالِي دعوه وكړه.د دُوئي څخه يَوَه دزُوئي وَالِي علامت بيان كئ او وويل چي په بَدَن كې فُلاَنَئ علامت دئ دهغه په وجه زَه وَايَم چي دا زُومَا زُوئي دئ نوددې علامت د بيانولو په وجه به دهغه سرئ څخه نَسَب ثابتيږي .

وجه : علامت بَيَانَوَل د زُوئي وَالِي لپاره وَجهِ تَرجِيح ده.په حديث كي دئ چي څوک علامت بيان كي شَئ به وهغه ته وَركَوَل كيږي جَآ ءَ اَعرَابِيٌ اِلْي النّبِيِّ ﷺ فَسَألَهُ عَمّايَلتَقِطُهُ فَقَالَ عَرِّفهَامِنهُ ثُمّ اَعرِف عِفَاصَهَا وَوِكَائَهَا فَاِن جَآ ءَ اَحُدٌ يُخبِرُکَ بِهَا وَ اِلاّ فَستَنفِقُهَا (الف) (بخاري شريف.باب ضَالّةُ الاِبِلِ ص۳۲۷نمبر۲۴۲۷) په دې حديث كې فرمائلي دي چي كه يَوڅوک راسي يَوعلامت بيان كي نوهغه ته وركئ.ددې څخه معلوم سوچي پرعلامت به فيصله كيږي .

پام لرنه : كه يَوچَامخكي دزُوئي وَالِي دعوه وكړه نودهغه څخه به نَسَب تابتيږي. ځكه چي په دې وخت كي بَل چا دعوه نَه ده كړې.په حديث كي دئ چي كوم چامخكي دعوه وكړه دهغه حَق دئ عَن حَمِيدِبنِ عَبدِالرّحمْنَ الحُمَيرِيِّ عن رَجُلٍ مِن اَصحَابِ النّبِيِّ ﷺ اَنّ النّبِيّ ﷺ قَالَ اِذَا اِجتَمَعَ الدّاعِيَانِ فَاَجِب اَقرَبُهُمَا بَابًا فَاِنّ اَقرَبَهُمَا بَابًا اَقرَبُهُمَا جِوَارًا وَاِن سَبَقَ اَحَدُهُمَا فَاَجِب اَلّذِي سَبَقَ (ب) (ابوداؤدشريف.باب اذا اجتمع داعيان اَيّهُمَا اَحَقّ؟ص۱۷۱نمبر۳۷۵۶) په دې حديث كي دكوم چاچي كور نژدې وُ دهغه دَعوَت ئې قبول كړئ دئ ځكه چي دا دقبلېدو يَوعلامت دئ.او چي يَوچَا مخكي دعوت دركړئ نو اُوس خو يَو مُزَاحِم نسته نوځكه دهغه دعوت بايدقبول كړي .

حاشيه : (الف) صَحرَائي دحضور څخه پوښتنه وكړه چي څَه رنګه لُقطَه پورته كړي ؟نو وفرمائل چي تر يَوَه كاله پورې تَعَارُف كوه بيا دهغه د تړَلُو شَئ او دهغه علامت يَاد ساته.كه چيري يَوڅوک ددې علاماتو خبر دركړي نوهغه ته وركه. كه نَه نو هغه مَصرَف كه (ب) حضور وفرمائل چي دُوَه دعوت دركونكي جمع سي نو چي

دكوم چا دروازه نژدي وي دهغه دَعوَت بايدقبول سي.ځكه چي دكوم چا دروازه نژدې ده هغه به نژدې هَمسَايَه وي.او كه د دواړو څخه يَومخكي راغلئ نو د اَوّلَنِي دعوت قبول كه .

**[١٦١٢](٥) وَ اِذَا وُجِدَ فِي مِصرٍ مِن اَمصَارِ المُسلِمِينَ اَو فِي قَرِيَةٍ
مِن قُرَاهُم فَادّعْي ذِمّيٌ اَنّهُ اِبنُهُ ثَبَتَ نَسَبُهُ مِنهُ وَكَانَ مُسلِمًا
[١٦١٣](٦) وَ اِن وُجِدَ فِي قَرِيَةٍ مِن قُرْي اَهلِ الذِّمّةِ اَو فِي بِيعَةٍ اَو
كَنِيسَةٍ كَانَ ذِمّيًا .**

[١٦١٢](٥) كه لَقِيط ومونِدل سو دمسلمانانو دښَارُو څخه په يَوَه ښَار كي يا دهغو دكَلُوڅخه په يَوَه كَلِي كي.بيا يَوَه ذِمّي دعوه وكړه چي دا دده زُوئي دئ نودلَقِيط نَسَب به دهغه څخه ثابت سي او لَقِيط به مسلمان وي .

تشريح : كه څَه هم دمسلمانانوپه ښار كي لَقِيط ومونِدل سي چي ذِمّي دعوه وكړي چي دا زُومَا زُوئي دئ نودبَچي نَسَب به دذِمّي څخه ثابت سي .

وجه : ځكه چي دنَسَب د ثابتولوضرورت دئ كه نَه خوبَچَئ به حَرَامِي سي.او دهغه د رُوزَنِي څَه خاص اِنتِظَام به نَه وي.نوځكه كه ذِمّي هم دنَسَب دعوه وكړي نو دهغه څخه به نَسَب ثابت سي.البته اِسلاَمِي ښَار دئ نو غَالِب ګمان دا دئ چي دا بَچَئ به مسلمان وي.نوځكه دئ به مسلمان شمېرو ځكه چي په دغه كي دبَچي فائده ده .

[١٦١٣](٦) او كه د ذِمّي په كَلِي كي وَمُوندَل سو يا په مَندَر يا كليسَا كي وَمُوندَل سونو هغه به ذِمّي وي .

وجه : چي د ذِمّي په كَلِي كي وَمُوندَل سو يا په كَلِيسَا يا مَندَر كي ومونِدل سو نو دا علامت دئ او غَالِب ګمان دغه دئ چي دا به د يَوَه كافر بَچَئ وي نوځكه دا به ذِمّي شمېرل كيږي .

اُصُول : چي يَو مُزَاحِم نَه وي نو پرغَالِب ګمان او علامت به فيصله كيږي .

لُغَت : بِيعَةٌ : د يهوديانو عِبَادَت خَانَه. كَنِيسَةٌ : د نَصرَنِيَانُو عِبَادَت خَانَه .

**[١٦١٤](٧) وَمَن اِدّعْي اَنّ اللّقِيطَ عَبدُهُ اَو اَمَتُهُ لَم يُقبَل مِنهُ وَكَانَ
حُرّاً[١٦١٥](٨) وَاِن اِدّعْي عَبدٌ اَنّهُ اِبنُهُ ثَبَتَ نَسَبُهُ مِنهُ وَكَانَ حُرّ اً
[١٦١٦](٩) وَ اِن وُجِدَ مَعَ اللّقِيطِ مَالٌ مَشدُودٌ عَلَيهِ فَهُوَ لَهُ .**

[١٦١٤](٧) كه يَوچَا دعوه وكړه چي لَقِيط دده غُلاَم دئ يا مِينځَه ده نو دده خبره به نَه منل كيږي او هغه به آزاد وي .

وجه : (١) مَرِيتُوب يا مينځه تُوب دبَچِي لپاره نُقصَان دئ.او ښكاره يَوعلامت نسته نوځكه بَچَئ به دچاغُلاَم يا مينځه نَه شمېرَل كيږي.لېكن كه چيري ګواهِي پيش كړي نو به

دغُلاَمِيّت فيصله کيږي (۲) مخته دحضرت عُمَراوحضرت عَلِي اَثَر تيرسوچي لَقِيط آزاددئ نوځکه صرف په دعوه کولو به دغُلاَمِيّت فيصله نَه کوي .

[۱۶۱۵](۸) که غُلاَم دعوه وکړه چي لَقِيط دده زُوئي دئ نو دلَقِيط نَسَب به دده څخه ثابت سي اولَقِيط به آزاد وي .

وجه : که څَه هم دغُلاَم څخه نَسَب ثابت سي خو بياهم دبَچِي په دي کي فائده ده. نو ځکه که غُلاَم دعوه وکړي نو دهغه څخه به هم نَسَب ثابت سي لېکن بَچَئ به آزاد شمېرل کيږي .

وجه : (۱) چي غُلاَم د آزادِ ښځي سره وَادَه وکي نودهغه څخه آزاد بَچَئ پيدا کيږي نو ځکه دا څَه ضروري نَه چي دغُلاَم بَچَئ به خامخا غُلاَم وي.لِهٰذَا نَسَب به دغُلاَم څخه ثابت سي لېکن بَچَئ آزاد شمېرل کيږي (۲) مخته اَثَرتېرسوئ دئ چي بَچَئ آزاد شمېرل کيږي .

[۱۶۱۶](۹) که دلَقِيط سره مَال تړَلَئ وموندل سو نوهغه مَال د ده دئ .

وجه : دلَقِيط سره تړَل کېدل ددې دليل دئ چي دا مَال دلَقِيط دئ.نوځکه ددې ښکاره علامت په وجه به دا مَال دلَقِيط ګڼل کيږي .

اُصُول : مخته اَثَرتېرسو چي مُزَاحِم نَه وي نوپرعلامت به فيصله کيږي.دلته هم دغه رنګه دئ .

[۱۶۱۷](۱۰) وَلاَيَجُوزُ تَزوِيجُ المُلتَقِطِ [۱۶۱۸](۱۱) وَلاَ تَصرّفُهُ فِي مَالِ اللّقِيطِ [۱۶۱۹](۱۲) وَيَجُوزُ اَن يُقبَضَ لَهُ الهِبَةُ وَيُسَلّمُهُ فِي صَنَاعَةٍ وَيُوَاجِرُهُ .

[۱۶۱۷](۱۰) جواز نَه لري دمُونُدُونکِي وَادَه کول .

تشريح : بَچَئ موندونکئ ددغه بَچِي وَادَه دځان سره وکي يائې ديَو بَل چَا سره وکي داجواز نَه لري .

وجه : (۱) د وَادَه کولو حق په درو وَجهُ وي (۱) يا رِشتَه دَار وي (۲) يائې پرهغه مِلکِيّت وي لکه د غُلاَم يا مينځي مَولْي (۳) دمُلک باچا يا حَاکِم وي. او موندونکئ د دې درو څخه يَو لا هم نَه دئ نوځکه وده ته دلَقِيط د وَادَه کولو حق نسته (۲) دبَچِي په وَادَه کولوکي اُوس دبَچِي څَه فائده هم نسته چي وده ته دي نو ددې شِي اِجَازَت ورکول سي .

[۱۶۱۸](۱۱) اوجواز نَه لري دلَقِيط په مال کي تَصَرّف کول .

تشريح : مُلتَقِط د لَقِيط لپاره د لَقِيط په مَال باندي ډُودَئ.کپړه او د ژُوَند نور ضروريات اخستلائي سي.لېکن دده مَال په تِجَارَت کي اَچَوَل اوخُرد بُرد کول جواز نَه لري .

وجه : ددې څَه ضرورت نسته او بېله څَه ضرورته دلَقِيط مال په يوشِي کي اَچَوَل ددې اِجَازَت ومُلتَقِط ته نسته .

[۱۶۱۹](۱۲) او جائزدئ چي مُلتَقِط دلَقِيط لپاره هِبَه قبضــه کړي او دئ حَوَالَـه کړي ويَو هُنَر ته او دئ په يَوَه مَزدُورِي کي ولګوي .

تشـريح : دا مسـئله پـر دې قاعـده مُتَفَـرّع ده چـي مُلـتَقِط دلَقِـيط دفائـدې کـار کـولائي سي.مثلاً لَقِيط ته څوک هِبَه ورکړي هغه قبضه کړي يا لَقِيط پر يَوَه هُنَر ولګوي چي دهغه څخه څَه ګټه رَارَوَانَه وي. يا په خپله لَقِيط پـه مَـزدُورِي کـي ولګـوي چـي دهغـه څخه څَه اُجرَت راسي او پرلَقِيط باندې مَصرَف کـړي. دا ټولـه کارونـه دلَقِيط دفائـدې کارونه دي نوځکه مُلتَقِط يعني دلَقِيط مُوندُونکئ دغه ټوله کارونه کولائي سي .

اُصُول : مُوندُونکئ دلَقِيط دفائدې لپاره کار کولائي سي.دنُقصَان کار نَه سي کولائي .

لُغَت : صَـنَاعَةٌ : پېشَــه.کاريګري.يُـوَاجِرُ : پـه اُجـرَت ئـې ورکړي.پـه مَـزدُورِي ئـې ورکړي .

اَبُوالحُسَين قُطب عفي عنه وعن والديه

..... كِتَابُ اللّقُطَةِ.....

[۱۶۲۰](۱) اَللّقطَةُ اَمَانَةٌ فِي يَدِي المُلتَقِطِ اِذَا شَهِدَ المُلتَقِطُ اَنّـهُ يَأخُـذُهَا لِيَحفِظَهَا وَيَرُدّهَا عَلْي صَاحِبِهَا .

..... كِتَابُ اللّقُطَةِ.....

ضروري پام لرنه : و يَلَه سوي مال ته لُقطَه وائي.ددې ثبـوت پـه دې حـديث کـي سـته سَمِعتُ سُوَيدَ بِنِ غَفلَةَ قَالَ لَقِيتُ أُبَيّ بِنِ كَعبٍ فَقَالَ اَصَبتُ صُرّةً فِيهَا مِائَـةُ دِينَـارٍ فَاَتَيـتُ النّبِـيّ ﷺ فَقَالَ عَرّفهَا حَولاً فَعَرّفتُهَا فَلَم اَجِد ثُمّ اَتَيتُهُ ثَلاَثًا فَقَالَ اِحفِظهَا وِعَائَهَا وَعَـدَدَهَا وَوِكَائَـهَا فَـاِن

جَآ ءَ صَاحِبُهَا وَاِلاّ فَاستَمتَع بِهَا فَاستَمتَعتُ فَلَقِيتُهُ بَعدُ بِمَكّةَ فَقَالَ لاَ اَدرِي ثَلاَثَةَ اَحوَالٍ اَو حَولاً وَاحِدًا (الــف) (بخــاري شــريف.باب اذا اخبــر رَبّ اللقطــة بالعلامــة دفــع اليــه ص۳۲۷نمبر۲۴۲۶/مسلم شريف.باب معرفة العفاص والوكاء وحكم ضالّة الغنم والابل ص۷۸نمبر۱۷۲۳) ددې حديث څخه دلُقطې حکم هم معلوم سو او ثبوت ئې هم وسو .

[۱۶۲۰](۱) لُقطَه د رَاپُورتَه کونکي په لاَس کي امانت ده که چيري ده ګواه جوړکړئ وُ چي دائې ددې لپاره پورته کئ چي حفاظت ئې وکي او دا دهغه ومَالِک ته وَاپَس کي .

تشريح : د لُقطې مال ئې پورته کئ او ګواه ئې جوړ کړئ چي دحفاظت لپاره پورته کوم نودا مال به دده په لاَس کي امانت وي.او که پرحفاظت کولو او ومَالِک ته پر وَاپَس کولو ګواه نَه ونيوئ نوپه بَعضُ صورتو کي دا دضَمَانَت مال ګرزي .

حاشيه : (الف) حضرت اُبَيّ بِنِ کَعب فرمائي چي مَا يَوَه تيلَئ پيدا کړه په هغه کي سَل دِينَار وُ.نو زَه حضور ته راغلم نوحضور وفرمائل يَوکَال ددې تَشهِيرکوه.نو مَا دهغه تَشهِيروکئ.نودهغه مَالِک نَه سوپيدا.زَه بيا راغم وفرمائل يَوکال ددې تَشهِيروکه.نو مَا دهغه تَشهِيروکئ.نو پيدا مِي نکړئ.بيا دريم وار راغلم نوحضور وفرمائل ددې لُوښَئ ياد ساته او دهغه تَعدَاد يادساته او چي په تَرِې ئې هغه يَاد سَاتَه.که چيري دهغه مَالِک راسي خو ښَه خبره ده که نَه نو دهغه څخه فائده اَخلَه.نو مَا فائده ځيني واخستله.بيا مي دده سره په مَکّه کي ملاقات وکئ نو مَاتَه ياد نَه دئ چي درې کال يا يَو کال ئې وويل .

[۱۶۲۱](۲) فَاِن کَانَت اَقَلّ مِن عَشـرَةِ دَرَاهِمَ عَرّفَهَا اَيّامًا وَاِن کَانَ عَشرَةً فَصَاعِدًا عَرّفَهَا حَولاً کَامِلاً .

وجه : (۱) پر حفاظت دګواه جوړولو حديث دا دئ عَن عِيَاضِ بِنِ حِمَارٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ مَن وَجَدَ لُقطَةً فَليُشهِد ذَا عَدلٍ اَو ذَوَي عَدلٍ وَلاَيَکتُمُ وَلاَ يَغِيبُ فَاِن وُجِدَ صَاحِبُهَا فَليَرُدّهَا عَلَيهِ وَاِلاّ فَهُوَ مَالُ اللهِ يُؤتِيهِ مَن يَشَآ ءُ(الـف) (ابوداؤدشريف. بـاب التعريـف باللقطـة ص۲۴۵نمبر۱۷۰۹/ابن ماجه شريف.باب اللقطة ص۳۵۹نمبر ۲۵۰۵) په دې حديث کي پر لُقطَه باندي دګواه نيولوحُکم دئ (۲) د ضروري پام لرني په حديث کي ,,عَرِّفهَا حَولاً,, څخه هم معلوميږي چي دلُقطې پر پورته کولو بايد ګواه ونيسي .

او لُقطَه دمُلتَقِط په لاَس کي امانت ده دهغه دليل دا حديث دئ سُمِعَ زَيدُ بِنِ خَالِدُ الجُهَنِيّ صَاحِبُ رَسُولِ اللهِ ﷺ يَقُولُ سُئِلَ رَسُولُ اللهِ عَنِ اللُّقطَةِ الذّهَبِ اَوِ الوَرَقِ فَقَالَ اَعرِف وِکَائَهَا وَعِفَاصَهَا ثُمّ عَرِّفهَا سَنَةً فَاِن لَم تُعرَف فَاستَنفِقهَا وَلِتَکُن وَدِيعَةً عِندَکَ فَاِن جَآ ءَطَالِبُهَا يَومًامِنَ الدّهرِفَاَدِّهَا اِلَيهِ (ب) (مسلم شريف.باب معرفة العفاص والوكاء وحكم ضالّة الغنم والابل ج۲ص۷۸نمبر۱۷۲۲/ ۴۵۰۲/بخاري شريف.باب ضالّة الغنم ص ۳۲۷ نمبر۲۴۲۸) په دې حديث کي فرمائلي دي چي لُقطَه دموندنکي سړي سره اَمَانَت ده .

[۱۶۲۱](۲) که چيري دلَس دِرهَم څخه کَم وه نو دهغه تَشهِير به څو ورځي کوي.او که لَس يادهغه څخه زِيَات وي نودهغه تَشهِيربه کوي پوره کال .

تشریح : چي دلُقطِي مال دلَس دِرهَم څخه کَم وي نوڅو ورځي دي تَشـهِير وکـي چـي دامَـال زُومَا سره دئ د هَرچاچي وي علامت او نِښانِي دي وَښَيِي يُودي سي .او کـه لَـس دِرهَـم يـا دهغه څخه د زِيَات قيمت وي نو يَوکال دي دهغه تَشهِير وکي .

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل که يَوچَا لُقطَه وموندل نو عَادِل سړئ بايد ګـواه کـي.او پټَـوَل نَـه دي پـه کـار او غَائِبَوَل نَه دئ په کار.که چيري دهغه مَالِک راسي نو بايدهغه ته وَاپَس کـي کـه نَـه نـو دا د الله مَـال دئ چاتـه چـې خُوَښَه سي وردې کړي (ب) دحضورڅخه د سُرُو او سُ‌ِينُوزَرُو په باب پوښتنه وکړه نو وفرمائل چـي پـه تَـړِي ئي هغه بايد يَاد وَسَاتِي.بيادي تر يَوَه کالَ پوري ددې تَشهِيروکي.بياکه پيدا نَه سي نوهغه دي مَصرَف کړي.او دا به دده سره اَمَانَت وي.بيا چي هر کَلَه طَالِب راسي هغه ته دې ورکړي .

[۱۶۲۲](۳) فَاِن جَآ ءَ صَاحِبُهَا وَ اِلاّ تَصدّقَ بِهَا .

وجه : چي لَس دِرهَم څخه کَم وي نودڅو ورځو دتَشهِير کولـو دليـل دا حـديث دئ عَـن يَعلْي بِنِ مُرّةَ قَـالَ قَـالَ رَسُولُ اللهِﷺ مَـن اِلـتَقَطَ لُقطَـةً يَسِـيرُهُ حَـبلاً اَو دِرهَمًـا اَو شِـبهُ ذَالِـکَ فَليُعَرِّفَنّهُ ثَلاَثَةَ اَيّامٍ فَاِن کَانَ فَوقَ ذَالِکَ فَليُعَرِّفهُ سِتّةَ اَيّامٍ (الـف) (سـنن للبيهقي.بـاب ماجـآء في قليل اللقطة ج۶ص۳۲۳نمبر۱۲۱۰۰/مصنف عبدالرزاق.باب احلت اللقطة اليسيرة ج۱۰ ص۱۴۲نمبـر۱۸۶۳۷) ددې حديث څخه معلوم سو چي که د لَږ ډېر قيمت شَـئ وي نـو دلَس ورځو څخه کَم تَشهِير دي وکي او که دزِيَات قيمت شَئ وي نو تريَوَه کـال پـوري دي تَشهِير وکي ددې دليل دا حديث دئ (۱) مختـه دبخاري حديث تېرسـوئ دئ چـي دا جمله پکښي راغلې وه ,,عَرِّفهَا حَـولاً,, ددې څخـه معلـوم سـوچي يَـو کـال دي تَشـهِير وکي (۲) په بَل حديث کي دئ عَن زَيدِ بِنِ خَالِدِ الجُهَنِيِّ قَالَ جَآ ءَ اَعرَابِيٌ اِلْي النّبِـيِّ فَسَـأَلَهُ عَمّايَلتَقِطُهُ فَقَالَ عَرِّفهَا سَنَةً ثُمّ اَعرِف عِفَاصَـهَا وَوِکَائَهَـا (ب) (بخـاري شـريف.باب ضـالّة الابل ص۳۲۷نمبر۲۴۲۷/مسلم شريف.باب معرفة العفاص والوکاء وحکم ضالة الغنم والابل ص۷۸نمبر۱۷۲۲) په دې حديث کي دقيمتي شِي لپاره تر يَوَه کال پوري دتَشـهِير حکـم دئ .

اُصُول : دلتـه اُصُـول دا دئ چـي مَـال څونـه قيمتـي وي او دمَالِـک د تَـلاَش امکـان وي تـر هغونه وخته پوري به دمَالِک تلاش جاري ساتي .

[۱۶۲۲](۳) که دهغه مَالِک راسي خوښَه خبره ده که نَه نو هغه دي صَدَقَه کړي .

تشريح : که دلُقطِي مالک په يَوَه کال کي پيدا سو نوهغه ته دي دا مال ورکړي او که نَه سو پيدا نو بيا دې صَدَقَه کړي .

وجه : (۱) په حديث کي دئ چي که دطَلَب اوپَلَټَنِي وروسته هم مَالِک نَه سي پيدا نودا د اَللهُ مَال دئ چي دمُلتَقِط خُوَښَه سـي هلتـه دې کښيږدي عَـن عِيَـاضِ بِـنِ حِمَـارٍ قَـالَ قَـالَ رَسُولُ اللهِﷺ ... فَاِن وُجِدَصَـاحِبُهَا فَليَرُدّهَـا عَلَيـهِ وَاِلاّفَهُـوَ مَـالُ اللهِ يُؤتِيـهِ مَـن يَشَـآ ءُ(الـف)

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل چاچي لَږ څَه لُقطَه وَمُوندَل.رَسّئ يا دِرهَم يا ددې په شَان نو دري ورځـي دهغـه تَشهِير کول په کار دئ او که ددې څخه زِيَات وي نو شپَږ ورځـي تَشـهِيرکـول پـه کـار دئ (ب) يَـو صَـحرَائِي حضور ته راغلئ او دلُقطې په اړَه پوښتنه وکړه نوحضور وفرمائل يَو کال ددې تَشهِيروکـه بيـا چـي پـه تَـړِې ئـې هغه او رَسّئ يَاد ساته .

(ابوداؤدشریف.باب التعریف باللقطة ص۲۴۸نمبر۱۷۰۹/ابن ماجه شریف.باب اللقطة ص۳۵۹نمبر۲۵۰۵) په دې حدیث کې دئ چي که مَالِک راسي نوهغه ته دې ورکړي که نَه نو صَدَقَه دې کړي (۲) اَنّ رَجُلاً مِن بَنِي رَاؤسَ وَجَدَ صُرّةً فَاَتْي بِهَا عَلِيًّا ... قَالَ تَصَدّق بِهَا فَاِن جَآ ءَ صَاحِبُهَا فَرَضِيَ كَانَ لَهُ الاَجرُ وَاِن لَم يَرضِ غَرّمتَهَا وَكَانَ لَکَ الاَجرُ (ب) (سنن للبيهقي.باب اللقطة يأكلهاالغنِيّ والفقير اذا لم تعترف بعدتعريف سنة ج۶ ص۳۱۱ نمبر۱۲۰۶۲/مصنف عبدالرزاق.كتاب اللقطة ج ۱۰ ص۱۳۹نمبر۱۸۶۲۹) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي لُقطَه به صَدَقَه کوي (۳) ومَالِک ته دي یا اَصل شَئ وَروَرَسَوِي که مُمکِن نَه وي نوصَدَقَه دې کړي دهغه ثواب دي وروَرسوي .

پام لرنه : که په خپله محتاج وي نودلُقطې مال په خپله هم خُوَړلاَئي سي .

وجه : دضروري پام لرني په وُړدَه حدیث کي دا ټکړه تېره سوې ده فَاِن جَآ ءَ صَاحِبُهَا وَ اِلاّفَاستَمتِع بِهَا فَاستَمتَعتُ (ج) (بخاري شريف.باب اذا اخبر رَبّ اللقطة بالعلامة دفع اليه ص۳۲۷نمبر۲۴۲۶) په یَوَه بَل رِوَایَت کي دئ وَاِلاّ فَاستَنفِقهَا (بخاري شريف.نمبر۲۴۲۷/مسلم شريف.باب معرفة العفاص والوكاء وحكم ضالّة الغنم والابل ص۷۸نمبر۱۷۲۲/ابوداؤدشريف.باب التعريف باللقطة ۲۴۵نمبر۱۷۰۱) ددې احادیثوڅخه معلوم سو چي پُورتَه کونکې هم خُوَړلاَئي سی .

حاشیه : (الف) حضور وفرمائل ... که دلُقطې مَالِک پیدا سي نوهغه ته وَاپَس ورکه او که نَه سي پیدا نو دا د الله مال دئ چاته چي دي خُوَښَه سي هغه ته ورکه (ب) د رَاؤس قبیلې یَوَه سړي تېلئ پیدا کړه نوهغه حضرت عَلِي ته راغلئ ... حضرت عَلِي وفرمائل دا صَدَقَه که. بیا که چیري ددې مَالِک رَاسِي او په رَاضِي سي نو هغه ته به اَجر ملاؤسي.او که رَاضِي نَه وي نو دهغه تَاوَان ورکه او تَاتَه به اَجر ملاؤ سي (ج) که دلُقطې مَالِک راسي خو ښَه خبره ده که نَه نو ددې څخه فائده وَاخلَه.نو مَا فائده ځیني واخستله .

[۱۶۲۳](۴) فَاِن جَآ ءَ صَاحِبُهَا وَهُوَ قَد تَصَدّقَ بِهَا فَهُوَبِالخِيَارِ اِن شَآ ءَ اَمضْي الصّدَقَةَ وَاِن شَآ ءَ ضَمّنَ المُلتَقِطَ .

[۱۶۲۳](۴) که چیري دهغه مَالِک رَاسِي په داسي حال کي چي ده لُقطَه صدقه کړې ده نو مَالِک ته اِختِيَار دئ که خُوَښَه سي صَدَقه دي بَدَستُور دځان هغه رنګه جاري وساتي او که خُوَښَه سي دپُورتَه کونکي څخه دي ضَمَان واخلي .

تشریح : لُقطَه ئې صدقه کړه دهغه وروسته مَالِک راغلئ پوره علامات ئې بیان کړل نو مَالِک اختیار لري که خُوَښَه سي هغه صَدَقې ته دي جِريَان ورکړي اودمُلتَقِط څخه دي دمَال تَاوَان نَه اخلي او که خُوَښَه سي دپورته کونکي څخه دي دمَال تَاوَان واخلي .

وجه : (۱) پورته کونکي دمَالِک د اِجَازَت بغیره صَدَقَه کړې ده نوځکه مَالِک دپورته کونکي څخه ضَمَان اخستلائي سي (۲) اَنّ رَجُلاً مِن بَنِي رَاؤسَ وَجَدَ صُرّةً فَاَتْي بِهَا عَلِيًّا فَقَالَ اِنّي وَجَدتُ صُرّةً فِيهَا دَرَاهِمَ وَقَدعَرَفتُهَا وَلَم اَجِدمَن يَعرِفُهَا وَجَعَلتُ اَشتَهِي اَن لاَيَجِيئَ مَن يَعرِفُهَاقَالَ تَصَدّق بِهَا فَاِن جَآ ءَ صَاحِبُهَا فَرَضِيَ كَانَ لَهُ الاَجرُ وَاِن لَم يَرضِ غَرّمتَهَا

وَكَانَ لَکَ الاَجرُ (الف) (سنن للبيهقي.باب اللقطة يأكلها الغنِيّ والفقير اذا لم تعترف بعدتعريف سنة ج۶ ص۳۱۱ نمبر۱۲۰۶۲/مصنف عبدالرزاق.كتاب اللقطة ج ۱۰ص ۱۳۹نمبر۱۸۶۲۹) (۳) په يَو بَل اَثَركي دئ عَن عُمَرَبِنِ الخَطّابِ قَالَ فِي اللُّقطَةِ يَعرِفُهَا سَنَةً فَاِن جَآ ءَ صَاحِبُهَا وَ اِلاّ تّصَدّق بِهَا فَاِن جَآ ءَ صَاحِبُهَا بَعدَ مَايَتَصَدّقُ بِهَا خَيّرَهُ فَاِن اِختَارَ الاَجرَ كَانَ لَـهُ وَاِن اِختَـارَ المَالَ كَانَ لَهُ مَالُهُ (ب) (مصنف عبدالرزاق.كتاب اللقطة ج۱۰ص۱۳۹نمبر۱۸۶۳۰) پـه دي دُوَاړُو اَثَرو كي دئ چي كه د صَدَقَه كولو .

حاشيه : (الف) د رَاؤس قبيلې يَوَه سړي تېلئ پيدا كړه نوهغه حضرت عَلِي ته راغلئ او وويل مَا يَوَه تېلئ مُوندَلې ده. په هغه كي دِرهَم دي او مَا دهغه تَشهِير كړئ دئ هيڅ څوک نَه دئ رَاتَه پيدا سوئ چي دا پېژنِي.او مَا غُوَښتَل چي پېژَندُونكِي نَه سي پيدا ... حضرت عَلِي وفرمائل دا صَدَقَه كه. بيا كه چيري ددې مَالِک رَاسِي او په رَاضِي سي نو هغه ته به اَجر ملاؤسي.او كه رَاضِي نَه وي نو دهغه تَاوَان وركه او تَاتَه بـه اَجر مـلاؤ سـي (ب) عُمَرِبنِ خَطّاب دلُقطې په اړه وفرمائل چي يَوكال دې تَشهِيروكي.كه مَالِک راسي خوښَـه خبره ده كـه نَـه نـودا دي صَدَقَه كړي.كه مَالِک دصدقې وروسته راسي نوهغه ته اِختِيَاردئ كه خُوَښَه سي ثواب دي اِختِيَار كړي ثـواب بـه ورته ملاؤسي او كه مَال اِختِيَار كړي نودده لپاره به مَال وي .

[۱۶۲۴](۵) وَيَجُوزُ اَلاِلتِقَاطُ فِي الشّاةِ وَالبَقَرِ وَالبَعِيرِ .

وروسته مَالِک راسي نو ده ته دوه اختيار دي پرخپل حالت باندي دصدقې د پرېښـولو او دپيداكونكي څخه دضَمَان د اخستلو هم .

[۱۶۲۴](۵) جائزدئ بُوزَه،غُوَا او وُښ نيول .

تشريح : د حضور په زمانه كي خلګ ښَه خلګ وُ نوځكه حضـور د وُښ د لُقطـې جوړولـو څخه منع وكړه.ځكه چي هغـه نَـه ضـائع كيږي.مَالِـک بـه پـه خپلـه يَـو وخـت بـوزي.لېكن وروسته ښَه خلګ نَه سوپاته نوځكه دحضرت عُثمَان په زمانه كي دا فتوْي وركړه چي كـه د وُښ دضَائِع كېدو خطره وه نو وُښ بايد ونيسئ او تَشهِيرئې وكـئ.وروسته هغه خـرڅ كـئ دهغه قيمت دځان سره كښېږدئ چي ددې ومَالِک ته وَروَرسَوَئ .

وجه : په اَثَر كي دئ سُمِعَ اِبنُ شِهَابٍ يَقُولُ كَانَ ضَوّالُ الاِبِلِ فِي زَمَانِ عُمَرَ اِبِلاً مُؤبّلَـةً تَنَاتِجُ لاَيَمَسّهَا حَتْي اِذَا كَانَ زَمَانُ عُثمَانَ بِنِ عَفّانَ اُمِرَ بِمَعرِفَتِهَا وَتَعرِيفِهَـا ثُـمّ تُبَـاعُ فَـاِذَا جَآ ءَ صَاحِبُهَا اُعطِيَ ثَمَنُهَـا (الـف) (سنن للبيهقي.بـاب الرجل يجد ضـالّةً يريدرَدّهَا علْـي صــاحبها لايريــد اكلهــا ج۶ص۳۱۶نمبــر۱۲۰۸۰/مصــنف عبــدالرزاق.كتاب اللقطــة ج۱۰ص۱۳۲نمبر۱۸۶۰۷) په دې اَثَركي دوُښ دنيولو فتوْي ده .

فائده : امام شافعي او امام مالک فرمائي چي وُښ دي نَه نيسي .

وجه : (۱) بَلَه دَرِندَه دانَه سي خُوَړلاَئي او ددې سره دخوراک چيښـاک شيان دي نوځكـه دبَل مَال بېله كومي وَجهِ بايد نَه ونيسي (۲) په حديث كـي دنيولـو ممانعت راغلـئ دئ عَـن زَيدِبنِ خَالِدِالجُهَنِيِّ قَالَ جَاَءَ اَعرَابِيّ اِلْي النّبِيِّﷺ فَسَئَلَهُ عَمّا يَلتَقِطُـهُ ... قَـالَ يَارَسُـولَ اللهِ فَضَا لّةُ الغَنَمِ ؟ قَالَ لَکَ اَو لاَخِيکَ اَو لِلذّئبِ قَـالَ ضَـا لّـةُ الاِبِلِ ؟ فَتَمَعّرَ وَجـهُ النّبِـيِّﷺ فَقَالَ مَالَکَ وَلَهَا ؟ مَعَهَا حِذَاؤُهَا وَسِقَاؤُهَا تَرِدُ المَآ ءَ

حاشيه : (الف) حضرت اِبنِ شهاب فرمائي چي وَرَګَه سوې وُښَه دحضرت عُمَرپه زَمَانَـه کـي يَـوَه خُـوَا بَلَـه خُـوَا ګرزېده او بَچَئ به زېږَاوَئ.په هغه هيڅ چا کار نَـه دَرلُـودئ.تردې چـي دحضـرت عُثمَـان زَمَانَـه راغلـه نـو دهغـه دپيژَندَ لُو او دتَشهِيرحکم ئې وکئ.بيابه خرڅېدله.نوچي دهغه مَالِک به راغلئ نودهغه قيمت به ورکول کېدئ .

[١٦٢٥](۶) فَاِن اَنفَقَ المُلـتَقِطُ عَلَيهَـا بِغَيـرِ اِذنِ الحَـاکِمِ فَهُـوَ مُتَبَـرِّعٌ وَ اِن اَنفَقَ بِاِذنِهِ کَانَ ذَالِکَ دَينًا عَلٰي صَاحِبِهَا .

وَ تَأكُـلُ الشّـجَرَ (الـف) (بخـاري شـريف.باب ضـالّة الابـل ص٣٢٧نمبـر٢۴٢٧/مسـلم شريف.باب معرفة العفاص والوکاء وحکم ضـالّة الغنم والابـل ص٧٨نمبـر١٧٢٢) پـه دې حديث کې دبُوزې دنيولو ترغِيب ورکړئ دئ او دوُښ دنيولوڅخه منع کړې ده .

[١٦٢٥](۶) که چيري موندونکي دحَاکِم د اِجَازَت بغيره پرلُقطَه باندي خَرچَه وکړه نـو دئ اِحسَان کونکئ دئ.او که دهغه په اِجَازَت سره خَرچَـه وکړه نـو دا بـه دده پرمَالِـک بانـدي قرض وي .

تشريح : لُقطَه پورته کونکي دحَاکِم دااِجَازَت بغيره پرلُقطَـه بانـدي خَرچَـه وکړه نـو دا پـرده باندي اِحسَان دئ.يعنـي پرمَالِـک مُقَدّمَـه نَـه سـي کـولائي او نَـه دا خرچـه ځيـنـي اخسـتلائي سي.البته که مَالِک په خپلـه ورکـړي نوکېدلائي سـي.او کـه دحَـاکِم پـه فيصـلـه سـره خَرچَـه پروکړه نو دا خَرچَه به دمَالِک پرذِمّه قرض وي.چي مَالِک راسي دهغه څخـه بـه دا قَـرض يعني خَرچَه وصولوي .

وجه : (١) وحَاکِم ته وِلاَيَتِ عَامّه حاصل دئ نوځکه دده دفيصلې وروسته به دلُقطې خرچه دمَالِک پرذِمّه قرض وي که نَه نو به اِحسان وي (٢) په اَثَرکي ددې ثبوت سته عَن اِبـرَاهِيمَ قَالُوا لَو اَنّ رَجُلاً اِلتَقَطَ وَلَدَ زِنَا فَاَرَادَ اَن يُنفِقَ عَلَيهِ وَيَکُونُ لَهُ عَلَيهِ دَينٌ فَلَيُشهِد وَاِن کَانَ يُرِيـدُ اَن يَحتَسِبَ عَلَيهِ فَلاَ يُشهِد قَالَ اَ بُوحَنِيفَةَ اَقُولُ اَنّا لَيسَ بِشَيءٍ اِلاّ اَن يُقرِضَهُ لَهُ عَلَيهِ السّلطَانُ (

ب) (مصنف عبدالرزاق.باب وَلاَء اللقيط ج٩ص١۶نمبر١۶١٨٨) په .

حاشيه : (الف) يَوصَحرَائي حضور ته راغلئ او دلُقطې پـه اَړَه پوښـتنه وکـړه ... هغوپوښـتنه وکـړه ائ دخدائ رسولَ! د وَرَکِي سوي بُوزې څَه حکم دئ؟ حضور وفرمائل ستا ده.يا ستادوُرُور ده يا دلېوَه ده.بيائې پوښـتنه وکـړه چي د وَرَکَ سوي وُښ څَه حکم دئ؟ نودحضور مُبَارَک مَخ مُتَغَيّرسو او وفرمائـل ستا ددې سره څَـه کـار دئ؟ د وُښ سره خپلې چَوَتِي ورسره دي.د چينلو اُوبَه دي.په خپله د اُوبُوچيښلو لره ځِي او د درختو پَـاڼِي خـوري (ب) حضرت ابراهيم وفرمائل چي څوک وَلَدُالزِّنَا پورته کړي او پرهغه خَرچَه کول وَغُوَارِي چي پـرده بانـدي قَـرض سي.نو بايد پرهغه ګواه ونيسي.او که غُوَارِي چي پرهغه اِحسَان وکي نو ګواه دي نَـه نيسـي.امـام ابوحنيفـه فرمـائي چي هيڅ نَستَه مګر دا چي بَاچَا پرهغه قَرض ولګوي .

[١٦٢۶](٧) وَ اِذَا رُفِعَ ذَالِکَ اِلَي الحَـاکِمِ نَظَـرَ فِيـهِ فَـاِن کَـانَ لِلبَهِيمَـةِ مَنفَعَةٌ آجَرَهَا وَاَنفَقَ عَلَيهَا مِن اُجرَتِهَـا [١٦٢٧](٨) وَ اِن لَـم يَکُـن لَهَـا مَنفَعَةٌ وَخَافَ اَن تَستَغرِقَ النّفَقَةُ قِيمَتَهَا بَاعَهَا الحَاکِمُ وَ اَمَرَ بِحِفظِ ثَمَنِهَا .

دِ اَثَرکي دئ چي که بَاچَا مُقَرّرکړي نوبيا به مُلتَقِط ته خَرچَه ملاؤيږي که نَه نو بيا دا يَو تَبَرّع دئ .

[۱۶۲۶](۷) چي دا مُقَدّمَه حَاکِم ته راسي نوپه هغه کي دي غَور وکي.که چيري دحيوان لپاره ګټه وي نوهغه دي په اُجرَت ورکړي او پر ده دي دده اُجرَت مَصرَف کړي .

تشريح : مثلاً غُوَا ئې لُقطَه کړه غُوَا هره ورځ د دُرُو دِرهَم شيدې کولې او د دُوُ دِرهَمُ پُرُوړ ئې خُوَاړَئ نوحَاکِم دي په دي کي غُور وکي چي دُوَه دِرهَم دي رُوزَانَه ومُلتَقِط ته ورکوي او يَو دِرهَم دمَالِک لپاره رُوزَانَه پاتيږي .

وجه : په دې صورت کي به لُقطَه هم ژُوَندَئ پاته وي او بُوج به نَه پرمَالِک وي نَه پر مُلتَقِط .

اُصُول:دامسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چي دټولولپاره ګټَه وَروي هغه کاربايدوسي.

لُغَت : آجَرَهَا : په اُجرَت دې ورکړي. بَهِيمَةٌ : حيوان.چَارپَايَه .

[۱۶۲۷](۸)اوکه دلُقطې لپاره مَنفَعَت نَه وي اوداخطره وي چي خَرچَه به ددې قيمت هم ختم کړي نو حَاکِم دي دا خَرڅ کړي او ددې دقيمت دحفاظت حُکم دي وکړي .

تشريح : د لُقطې مَال څَه خاص آمَدَن نَه لري او چَارَه يعني پُرُوړ وغيره دومره خَرچَه کوي چي څَه وخت بعد دچَارې خَرچَه ددې لُقطې دقيمت څخه زِيَاتيږي اومَالِک به دحيوان د اَخَستَلُوپرځاى دچَارې خَرچَه دځان څخه ورکوي.په داسي صورت کي به حَاکِم دا لُقطَه حيوان په خرڅوي.او دهغه قيمت به د يَوَه اَمِين سره محفوظ اِږدِي چي که چيري مَالِک راسي نو د حيوان پرځاى به دهغه قيمت وَرحَوَالَه کوي .

[۱۶۲۸](۹) وَاِن كَانَ الاَصلَحُ اَلاِنفَاقُ عَلَيهَا اَذِنَ فِي ذَالِکَ وَجَعَلَ النّفقَةَ دَينًا عَلْي مَالِكِهَا [۱۶۲۹](۱۰) فَاِذَا حَضَرَ مَالِكُهَا فَلِلمُلتَقِطِ اَن يَمنَعَهُ مِنهَا حَتْي يَأخُذَ النّفَقَةَ .

وجه : په مسئله نمبر۶ کي دحضرت عُثمَان يَو وُړد اَثَرتېرسوئ دئ چي ده وُښ لُقَطَه وګرزاوئ او هغه ئې په خَرڅَاوَئ قيمت ئې محفوظ کاوئ.چي که بالفرض دهغه مَالِک راسي نو دا قيمت وهغه ته حَوَالَه کړي.د اَثَر ټکړه دا ده سُمِعَ اِبنُ شِهَابٍ يَقُولُ ... حَتْي اِذَا كَانَ زَمَانُ عُثمَانَ بِنِ عَفّانَ اُمِرَ بِمَعرِفَتِهَا وَتَعرِيفِهَا ثُمّ تُبَاعُ فَاِذَا جَآ ءَ صَاحِبُهَا اُعطِيَ ثَمَنُهَا (الف) (سنن للبيهقي.باب الرجل يجد ضالّةً يريد رَدّهَا علْي صاحبها لايريد اكلها ج۶ص۳۱۶نمبر۱۲۰۸۰/مصنف عبدالرزاق.کتاب اللقطة ج۱۰ص۱۳۲نمبر۱۸۶۰۷) په دې اَثَر کي د وُښ دخرڅېدو اودهغه دقيمت دمحفوظَ کېدو حُکم سوئ دئ.ددې څخه معلوم سوچي که مناسب وي نوقيمت محفوظ اِيښُوَلاَئي سي .

[۱۶۲۸](۹) که پرلُقطَه باندي خرچ کول زِيَات مناسب وي نو دهغه اِجَازَت دي ورکړي او خَرچَه دي دهغه پرمَالِک باندي قرض کړي .

تشريح :كه حَاکِم دامناسب وګڼي چي پردي لُقطَه باندي خَرچَه کول ښَه او مناسب کار دئ نودخَرچي کولو اِجَازَت دي ورکړي اوچي هرڅُونَه خَرچَه پر کوي هغه به دلُقطي پرمَالِک باندي قرض ګرزي .

[۱۶۲۹](۱۰) بيا چي ددې مَالِک راسي نودمُلتَقِط لپاره جائزدئ چي دا مَنعَ کړي ترهغه وخته چي خَرچَه ځيني واخلي .

تشريح : دمَالِک د رَاتَګ وروسته مُلتَقِط ته دا حق سته چي ترڅَه وخته چي خپل حَق نَه وي وصول کړئ ترهغه وخته لُقطَه دځان سره وَسَاتِي .

حاشيه : (الف) حضرت ابن شهاب فرمائي چي ... تر دې چي دحضرت عُثمَان زمانه راغله نو د وُښِي دپيژَندَلُو او دهغې دتَشهِيرحُکم ئې وکئ.بيا هغه خَرڅِېدَلَه.چي کله به دهغې مَالِک راغلئ نوهغه ته به ددې قيمت ورکَول کېدئ .

[۱۶۳۰](۱۱) وَ لُقطَةِ الحِلِّ وَالحَرَمِ سَوَ آ ءٌ .

وجه : دحَاکِم په فيصله سره خَرچَه کړې ده اودده پيسې خرڅي سوي دي نوځکه ده ته د وصولولو حق سته .

[۱۶۳۰](۱۱) د حِل او حَ َرَم لُقطې سره برابري دي .

تشريح : يعني د دُوَاړُو اَحکَام سره برابر دي.لکه څَه رنګه چي دحِل لُقطَه ديَوَه کال دتَشهِير وروسته مَصرَف کولائي سي دغه رنګه دحَرَم لُقطَه ديَوَه کال دتَشهِير وروسته مَصرَف کولائي سي.دا سي نَه دئ چي دحَرَم دلُقطې لپاره به همېشه تَشهِير کوي .

وجه : دحضرت عائشې اَثَردئ اَنّ اِمرَأ ةً سَأَلت عَائِشَةَ فَقَالَت اِنِّي اَصَبتُ ضَالّةً فِي الحَرَمِ وَاِنّي عَرّفتُهَا فَلَم اَجِد اَحَداً يَعرِفُهَا فَقَالَت لَهَا عَائِشَةُ اِستَنفَعِي بِهَا (الف) (طحاوي شريف.باب اللقطة والضّوّال ج۲ص۲۵۳) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي دحَرَم لُقطَه هم دتَشهِير وروسته مَصرَف کېدلائي سي .

فائده : امام شافعي فرمائي چي ترڅَه وخته چي مَالِک نَه وي راغلئ ترهغه وخته پوري به دحَرَم دلُقطې تَشهِير کوي .

وجه : دده دليل هغه حديثونه دي چي په هغه کي دحَرَم دلُقطې دهمېشه لپاره دتَشهِير تاکيد راغلئ دئ.حديث دا دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ عَنِ النّبِيِّ قَالَ لاَيَلتَقِطُ لُقطَتُهَا اِلاّ مُعَرِّفٌ (ب) (بخاري شريف.باب کيف تعرف لقطة اهل مَکّة ص۳۲۸ نمبر۲۴۳۳) او په ابوداؤدشريف کي دئ عَن عَبدِالرّحمٰنَ بِنِ عُثمَانَ اَلتّيمِيِّ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺ نَهي عَن لُقطَةِ الحَاجِّ قَالَ اَحمَدُ قَالَ اِبنُ وَهبٍ يَعنِي فِي لُقطَةِ الحَاجِّ يَترُکُهَا حَتّي يَجِدَهَا

حاشيه : (الف) يَوې ښځي دحضرت عائشې څخه پوښتنه وکړه. وويل چي مَا په حَرَم کي وَرَکَه سوې لُقطَه موندله.او مَا دهغې تَشهِير وکئ او هيڅ څوک مِي وَنَه مُوندَئ چي دا پېژَنِي. نوحضرت عائشې وفرمائل ددې څخه نَفعَ واخله (ب) حضور وفرمائل د مَکّې لُقطَه دي نَه پورته کوي ماسوائ دتَشهِير کونکي څخه .

[۱۶۳۱](۱۲) وَ اِذَا حَضَرَ الرّجُلُ فَادّعْي اَنّ اللُّقطَـةَ لَـهُ لَـم تُـدفَع اِلَيـهِ حَتّٰي يُقِيمَ البَيِّنَةَ .

صَاحِبُهَا (الف) (ابوداؤدشريف.باب التعريف باللقطة ص۲۴۵ نمبر۱۷۱۹) ددې حديث ښخه هم معلوم سوچي دحَاجِيَانُ د لُقطې تَشهِير به همېشه کوي .

[۱۶۳۱](۱۲) که سړئ حاضرسو او دعوه ئې وکړه چي لُقطَه دده ده نـو ده تـه بـه نَـه وَرکَوَل کيږي ترهغه وخته چي بَيِّنَه قائمَ کړي .

تشريح : که سړئ حاضرسو او دلُقطې علامت ئې بيان کئ نو بَس پردغه باندي بـه ده ته د ورکولو حکم نَه کيږي تر هغه وخته چي پر دې باندې بَيِّنَه نَه وي قائم کړې چـي دا لُقطَه زُومَا ده .

وجـه : (۱) دا دبَـل چـا مَـال دده سـره اَمَانَـت دئ نوځکـه ددې پـر ورکولوبانـدي بَيِّنَـه ضروري ده (۲) پـه حـديث کـي دئ عَـن اِبـنِ عَبّـاسٍ اَنّ النّبِـيّﷺ قَـالَ لَـويُعطٰي النّـاسُ بِدَعوَاهُم لاَدّعْي نَاسٌ دِمَاءَ رِجَالٍ وَاَموَالَهُم وَلٰكِنّ اليَمِينَ عَلْي المُدّعْي عَلَيهِ (ب) (مسلم شريف.باب اليمين علْي المدعْي عليه ص۷۴نمبر۱۷۱۱) او دمُـدّعِي پـه اَړَه دا حـديث دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ عَنِ النّبِيّﷺ قَالَ اَلبَيِّنَةُ عَلْي مَن اِدّعْي وَاليَمِينُ عَلْي مَن اَنكَرَ اِلاّ فِـي القَسَـامَةِ (ج) (دارقطني.کتـاب الحدودوالـديات وغيـره ج۳ص۸نمبـر۳۱۶۵) نوځکـه دمَالِک لپاره بَيِّنَه وُړَاندِ کول ضروري ده .

پـام لرنـه : چـي د اِنسَـان زَړَه مُطمَـئِن وي او حـالات ښَـه وي نـوچي صـرف علامـت وَښَائِي هم مُلتَقِط مال ورکولائي سی.ځکه چي دلته اُوس بَل مُزَاحِم نسته .

[۱۶۳۲](۱۳) فَـاِن اَعطْـي عَلاَمَتَهَـا حَـلّ لِلمُلـتَقِطِ اَن يَـدفَعَهَا اِلَيـهِ وَلاَ يُجبَرُ عَلْي ذَالِکَ فِي القَضَآءِ .

فائده : امام شَافَعِي او امام مَالِک فرمائي چي مَالِک راسي صرف علامت بيـان کـي نـو هـم پرمُلتَقِط باندي مال ورکول وَاجِب دئ .

وجه : د دُوئي دليل دا حديث دئ چي په هغه کي دمَالِک په رَاتُلُو سره د مَال ورکولـو حُکم دئ عَن زَيدِ اِبنِ خَالِدِ الجُهَنِيِّ اَنّ رَجُلاً سَأ لَ رَسُولَ اللهِﷺ عَـنِ اللُقطَـةِ قَـالَ عَرِّفهَـا سَنَةً ثُمّ اَعرِف وِكَائَهَا وَعِفَاصَهَا ثُمّ اِستَنفِق بِهَا فَاِن جَآ ءَ رَبّهَا فَاَدِّهَا اِلَيهِ (الف) (بخاري شريف.باب اذا جـآ ء صـاحب اللقطـة بَعدَسنةٍ رَدّهَـا عليـه لاَنّهَاوديعـةٌ عِنـدَهُ ص۳۲۹نمبـر۲۴۳۶/مسـلم شريف.باب معرفة العفاص والوکآ ء وحکم ضالّةِ الغَنَمِ والابِلِ ص۷۸نمبـر۱۷۲۲/۴۵۰۲)

حاشيه : (الف) حضور دحَاجِيَانُ دلُقطې ښخه منع وکړه. حضرت اَحمَدفرمائي چي حضـرت اِبـنِ وَهَـب وفرمائـل دحَاجِيَانُ لُقطې پرېږ. دئ چي خپل مَالِک ئې ومونـدي (ب) حضـور وفرمائـل چـي کـه وسـړي تـه صِـرف د ده د دعوې په وجه وَرکَوَل سي نو خلګ به د انسانانو دوِينِي او دمَالُونَه مطالبه شروع کړي.لېکن پر مُدّعْي عَلَيه بانـدي قَسَم دئ (ج) حضور وفرمائل کوم چاچي دَعوَه وکړه پر هغه بَيِّنَه ده. او پر اِنکَار کونکي باندي قَسَم دئ مګر پـه قَسَامَت کي .

پـه دې حـديث کـي دئ چـي مَالِـک راسـي نوهغـه تـه ورکـه او دبَيِّنـې د وُړانـدِ کولـو حکـم نسته.نوځکه دبَيِّنې د پېشَوُلُو ضرورت نسته .

[۱۶۳۲](۱۳) که دهغه علامت وَښُوَئ نو ومونودنکي ته جواز سته چـي لُقطَـه وهغـه ته ورکړي لېکن دقَضَآء په حَيث دئ نَه سي مجبوره کولائي .

تشريح : دقَضَآء په توګه خو هغه وخت مجبوره کولائي سي چي مَالِـک دا بَيِّنَـه پـېش کـړي چي دا شَئ زُومَا دئ.لېکن که صرف علامت بيان کړئ نو پر وَرکَوُلُـوئې نَـه سـي مجبـوره کولائي.البته د مُلتَقِط لپاره اُوس ورکول جائز دئ .

وجه :(۱) مخته حديث تېرسوئ دئ فَاِن جَآ ءَ رَبّهَـا فَاَدِّهَـا اِلَيـهِ(بخـاري شـريف. نمبـر۲۴۳۶) (۲) د مُسلم شريف.په حديث کي دا زِيَاتُوب هم راغلئ دئ فَـاِن جَـآ ءَ اَحَدٌ يُخبِـرُکَ بِعَـدَدِهَا وَ وِعَائِهَـا وَ وِکَائِهَـا فَاَعطِهَـا اِيّـاهُ (ب) (مسـلم شـريف بـاب معرفـة العفـاص والوکـاء ص۷۸ نمبر۱۷۲۳)ددې حديث څخه معلوم سوچي علامت وَښَائي هغه ته وَر کول جائز دئ

حاشيه : (الف) يَوَه سړي دحضورڅخه دلُقطې په اَړَه پوښتنه وکړه نوحضور وفرمائل يَو کال ددې تَشهِيروکـه.بيا چي په تَړِي ئې هغه او دهغې لُوښَئ ياد ساته.بيا هغه مَصرَف که.که چيري دهغه مَالِک راغلئ نو وهغه ته اداَء ګه (ب) که يَو څوک دهغه د تَعدَاد د لُوښِي او چي په تَړِي ئې دهغه په اَړَه خبر درکړي نولُقطَه وهغه ته حَوَالَـه ګـه .

[۱۶۳۳](۱۴) وَلاَ يَتَصَـدّقُ بِاللّقطَـةِ عَلْـي غَنِـيٍّ [۱۶۳۴](۱۵) وَ اِن کَانَ المُلتَقِطُ غَنِيّاً لَم يَجزِ اَن يَنتَفِعَ بِهَا .

[۱۶۳۳](۱۴) او لُقطَه دي پر مَالدَار باندي نَه صَدَقَه کوي .

وجه : په حديث کي دئ چي صَـدَقَه دې کـړي او صَـدَقَه پـر غريبانوبانـدي کيـږي. نـو ځکه ددې څخه دا معلوم سوچي پرمَالدَارَه دې نَه صَـدَقَه کوي.پـه حـديث کـي دئ عَـن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺ وَسُئِلَ عَنِ اللّقطَـةِ فَقَـالَ لاَتَحِـلّ اللّقطَـةُ مَـن اِلـتَقَطَ شَـيئًا فَليُعَرِّفهُ سَنَةً فَاِن جَآ ءَ صَاحِبُهَا فَليَرُدّهَا اِلَيهِ وَاِن لَم يَأتِ صَاحِبُهَا فَليَتَصَدّق بِهَـا (الـف) (دارقطني.کتـاب الرضـاع ج۴ص۱۰۸نمبـر۴۳۴۳/مصـنف عبـدالرزاق.کتاب اللقطـة ج۱۰ ص۱۳۹نمبر۱۸۶۳۰) په مُصنّف کي دحضرت عُمر قول دئ.ددې حديث څخـه معلوم سوچي صَدَقَه دې کـړي او صَـدَقَه پرغَرِيـب بانـدي کيږي.نـو ددې څخـه معلـوم سوچي پر مَالدَاره دې نَه صَدَقَه کوي .

[۱۶۳۴](۱۵) اوکه مُلتَقِط مَالدَارَه وي نوجائزنَه دئ چي دلُقطې څخه نَفعَ واخلي .

وجه : (۱) يَوحديث او يَو اَثَرخو په مسئله نمبر۱۴ کي تېرسوي دي (۲) يَو اَثَـر دا هـم دئ عَن نَافِعٍ اَنّ رَجُلاً وَجَدَ لُقطَةً فَجَآ ءَ اِلْي عَبدِاللهِ بِنِ عُمَرَ فَقَالَ لَهُ اِنّي وَجَدتُ لُقطَةً فَمَا ذَا تَرْي؟ فَقَالَ لَهُ اِبنُ عُمَرَ عَرِّفهَا قَالَ قَدفَعَلتُ قَالَ زِد قَالَ قَدفَعَلتُ قَـالَ لاَ آ مُـرُکَ اَن تَـأ کُلَهَا وَ لَوشِئتَ لَم تَأخُذهَا (ب) (سنن للبيهقي.باب اللقطة يأ کلها الغنِـيّ والفقيـراذا لـم تعتـرف بعدتعريفِ سَنَةٍ ج۶ص۳۱۲نمبر۱۲۰۶۳) لُقطَه مونودنکي ښځي

حاشيه : (الف) دلُقطې په اړَه دحضور څخه پوښتنه وکړه.نوحضور وفرمائل لُقطَه نَـه ده حـلالَ. کـوم چـاچي څَـه پورته کړه هغه بايد يَوکال تَشهِير وکي.که دهغه مَالِک راغلئ نو هغه ته دې وَاپَس کي.او که دهغه مَالِک نَه راغلئ نوهغه دي صَدَقَه کي (ب) يَوَه سړي لُقطَه موندلې وه حضرت عبدالله بن عُمر ته راغلئ او هغه ته وويل چـي مَـا لُقطَه موندلې ده. نوستا څَه رأيَه ده؟ حضرت ابن عُمَر وهغه ته وويل ددې تَشهِير وکه.هغو وويل مَا کـړئ دئ.ابـن عُمَر وفرمائل نور تَشهِير ئې وکه.هغو وويل کړئ مِي دئ.ابـن عُمَـر وفرمائـل تاتـه دا حُکم نَـه دَرکـوم چـي تَـه دا وَخُورَه که چيري تا داسي غُوَښتَلائي نو دا به دي رَاپُورتَه کړې نَه وائ .

[١٦٣٥](١٦) وَاِن کَانَ فَقِيراً فَلاَ بَأسَ بِاَن يَنتَفِعَ بِهَا .

درې واره اِصرَار وکئ نوحضرت عائشې ورتـه وفرمائل. فَقَالَت (عَائِشَةُ) اَتُرِيدِينِ اَن آ مُرُکِ بِذَبحِهَا (الف) (مصنف عبدالرزاق.کتاب اللقطـة ج١٠ ص١٤٠ نمبر١٨٦٣٤) ددې آ ثَارُ څخه معلوم سوچي که په خپله مَالدَارَه وي نو دلُقطې مال دي نَه اِستِعمَالَوِي .

فائده : امام شافعي فرمائي چي که په خپلـه مَالـدَارَه وي هـم دتَشـهِير وروسـته د لُقطـې مَـال استعمالولائي سي .

وجـه:دده دليـل هغـه حديثونـه دي چـي پـه هغـه کـي حضـورﷺ ومُلـتَقِط تـه دلُقطـې دمَـال د استعمالولوحَق ورکړئ دئ.دحديث تِکړه داده عَن زَيدِبنِ خَالِدِالجُهَنِيِّ قَالَ جَآ ءَ اَعرَابِيّ اِلْـي النَّبِيِّﷺ فَسَأَلَهُ عَمّا يَلتَقِطُـهُ فَقَالَ عَرِّفهَـا سَنَةً ثُمّ اَعـرِف عِفَاصَـهَا وَ وِکَائهَـا فَـاِن جَـآ ءَ اَحَدٌ يُخبِرُکَ وَ اِلاّ فَاستَنفِقهَا (ب) (بخاري شريف.باب ضَالّةِ الغنم ص٣٢٧نمبـر ٢٤٢٧/مسلم شريف.باب معرفة العفاص والوکَاء وحکم ضَالّةِ الغَنَمِ والابـل ص٧٨نمبـر ١٧٢٢/٤٤٩٩) ددې څخه معلوم سوچي مُلتَقِط ئې په خپله هم خُوَړلائي سـي کـه هغـه مَالدَاره وي کـه غَرِيب .

[١٦٣٥](١٦) او که مُلتَقِط فَقِيروي نوهيڅ دحرج خبره نَه ده چـي پـه خپلـه نَفـعَ څينـي واخلي .

تشريح : که لُقطَه مُوندُونکئ په خپله فَقِير وي نودتَشهِير وروسته نَفعَ څيني اَخستَلاَئي سي .

وجه : مختـه تېرسوئ د امام شافعي د دليل حديث زموږ په نبز پردغه باندې مَحمُول دئ چي کـه سـړئ پـه خپلـه فَقِيـر وي بيـائې اِسـتِعمَالَوَلاَئي سـي. ,,وَاِلاّ فَاسـتَنفِقهَا,, (بخـاري شريف.نمبر٢٤٢٧/مُسلم شريف.نمبر١٧٢٢)

حاشيه : (الف) حضرت عَائشې وفرمائل آيا تَه دا غُوَاړې چي تَاتَه د بُوزې د حلالېدو حُکم دَرکړم ؟ (ب) يَو دصَحرا وُسېدُونکئ حضور ته راغلئ او دخپلي لُقطې په اَړَه پوښتنه وکړه نوحضور وفرمائل تـر يَـوَه کالَـه پـوري ددې تَشهِير وکه. بيادهغه لُوښَئ او چي په تَړِي ئې هغـه پـه يَـاد سـاته.که څـوک راسـي او تَاتـه دهغـه پـه اَړَه خبـر درکړي خو ښَه خَبَرَه ده که نَه نو دا مَصرَف که .

[١٦٣٦](١٧) وَ يَجُوزُ اَن يَتَصَدّقَ بِهَا اِذَا کَانَ غَنِيّاً عَلْي اَبِيهِ وَ اِبنِهِ وَ اُمّهِ وَ زَوجَتِهِ اِذَا کَانُوا فُقَرَ آ ءَ .

[١٦٣٦](١٧) او جائز دئ چـي لُقطَـه صَـدَقَه کـړي چـي مَالـدَارَه وي پرخپـل پُـلاَر او زُوئي او پرخپله مُور او پرخپله بِي بِي که چيري دا اِنسَانَان فَقِيرَان وي .

تشريح : مُونډُونكَۍ په ځپله مَالدَارَه دئ لېكن دده پُلاَر.مُور.زُوئي او مَينَـه غَرِيبَـان دي نو دئ پر دغه اِنسَانَانُ باندي دلُقطې مَال صَدَقَه كولائي سي .

وجـه : د خپل مَـال زكـوْة پـر خپـل پُلاَر.زُوئي.مُـور او مَينَـه بانـدي نَـه سـي مَصـرَف كولائي.لېكن دا مَال خو دمُلتَقِط نَه دئ بلكه دا خو ديَوَه اَجنَبِي دئ نوځكه د اَجنَبِي مَـال د مُلتَقِط پر فَقِير پُلاَر يا مُور يا مېره يا مَينَه باندي مَصـرَف كېدلائي سـي. پـه دي كـی هيڅ ډَوَل مُمَانَعَت نسته.او چـي پـه خپلـه فَقِيـر وي پـه خپلـه خُـوَړلاَئي سـي نـو چـي دا اِنسَانَان فَقِيرَان وي پر ډُوئې باندې وَلِي نَه سي مَصرَف كولائي ؟

اَبُوالحُسَين قُطب عفي عنه وعن والديه

.....   كِتَابُ الخُنثْي.....

[١٦٣٧](١) اِذَا كَانَ لِلمَولُودِ فَرجٌ وَ ذَكَرٌ فَهُوَ خُنثْي [١٦٣٨](٢) فَـاِن كَانَ يَبُولُ مِنَ الذّكَرِ فَهُوَ غُلاَمٌ وَاِن كَانَ يَبُولُ مِنَ الفَرجِ فَهُوَ اُنثْي .

..... كِتَابُ الخُنثْي.....

ضروري پام لرنه : دكوم اِنسَان چي دا نَه معلوميږي چي نَر دئ كه ښځه ده هغـه تـه خُنثْـي ويـل كيـږي. دا نَـر وګڼـو كـه ښَـځَه وګڼـو؟ ددې مسـائل ددې پـه خپـل بـاب كـي راروانـي دي.ددې قاعده دا ده چي د كـوم شِـي علامـت ئې قَـوِي وي هغـه بـه شـمېرل كيـږي.چي دنَروَالِي علامت ئې قَوِي وي نَروَالِي ته بـه تـرجيح وركوُ.كـه دښـځي وَالِـي علامات ئې قَوِي وي نو هغه به ښَځَه ګڼو.ددې دليل دا حـديث دئ چـي مُـزَاحِم نَـه وي او يَو بَل صـورت هم نَه وي نو وعلامت ته به كتل كيږي بيابه فيصله كيږي فَـاِن جَـآ ءَ اَحَدٌ يُخبِرُكَ بِعَدَدِهَا وَ وِعَائِهَا وَ وِكَائِهَا فَاَعطِهَا اِيّاهُ (مُسلم شريف.باب معرفـة العفـاص والوكـاءوحكم ضَـالّة الغنم والابـل ص٧٨نمبـر١٧٢٣) پـه حـديث كـې دعلامـت پـر

ښولوباندي دلُقطې مال ورکړئ دئ.ددې څخه معلوم سوچي څَه صورت نَه وي نو پر علامت به فيصله کيږي .

[۱۶۳۷](۱) چي د بَچِي فَرج اوذَکَر دواړه وي نو دا خُنثْي دئ .

تشريح : بَچَئ چي دښځي په شان شَرَمګاه هم لري اود نَر په شان ذَکَر هم لري نو دې ته خُنثْي ويل کيږي .

[۱۶۳۸](۲) که په ذَکَر بَولِي کولې نو دا هَلَک دئ او که په فَرج بَولِي کولې نو اِنجِلَئ ده .

تشريح : دواړه رنګه علامات لري نوچي په کوم اَندَام بَولِي کوي هغه به شمېرل کيږي .

[۱۶۳۹](۳) وَ اِن کَانَ يَبُولُ مِنهُمَا وَالبَولُ يَسبِقُ مِن اَحَدِهِمَا نُسِبَ اِلْي الاَسبَقِ مِنهُمَا .

وجه : په حديث کي دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺ سُئِلَ عَن مَولُودٍ وُلِدَ لَهُ قُبُلٌ وَ ذَکَرٌ مِن اَينَ يُورَثُ فَقَالَ النّبِيّﷺ يُورَثُ مِن حَيثُ يَبُولُ (الف) (سنن للبيهقي.باب ميراث الخنثْي ج۶ص۴۲۸نمبر۱۲۵۱۸/مصنف عبدالرزاق.باب خُنثْي ذَکَرٌ ج۱۰ص۳۰۸ نمبر ۱۹۲۰۴)په دې حديث اواَثَرکي دئ چي دکوم ځايَه څخه بَولِي کوي هغه به شمېرل کيږي.

[۱۶۳۹](۳) که د دُوَاړُو ځايَه څخه بَولِي کوي.او ديَوه ځايَه څخه بَولِي مخکي رَاځِي نو د دې دُوڅخه به و اَوّلَنِي ځائ ته منسُوب کيږي .

تشريح : د دُوَاړُو سُورَاخُو څخه بَولِي رَارَوَانِي وي نو چي دکوم سُورِي څخه اَوّل بَولِي رَاځِي هغه به شمېرل کيږي.مثلاً که اَوّل د ذَکَرڅخه بَولِي رارواني وي نو هَلَک به شمېرل کيږي اوکه اَوّل د فَرج څخه بَولِي رارواني وي نو اِنجِلَئ به شمېرل کيږي .

وجه : په اَثَرکي ددې ثبوت سته عَن قَتَادَةَ قَالَ سَألتُ سَعِيدَ بِنِ مُسَيِّبٍ عَنِ الّذِي يُخلَقُ خَلقَ المَرأةِ وَخَلقَ الرّجُلِ کَيفَ يُورَثُ ؟ فَقَال مِن اَيّهِمَا بَالَ وَرِثَ قَالَ فَقَالَ اِبنُ المُسَيِّبِ اَرَأيتَ اِن کَانَ يَبُولُ مِنهُمَا جَمِيعًا ؟ فَقُلتُ لاَ اَدرِي فَقَالَ اُنظُرمِن اَيِّهِمَا يَخرُجُ البَولُ اَسرَعُ فَعَلْي ذَالِکَ يُورَثُ (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب خُنثْي ذکرٌ ج۱۰ص۳۰۹نمبر ۱۹۲۰۵/سنن للبيهقي.باب ميراث الحنثْي ج ۶ ص ۴۲۷نمبر۱۲۵۱۶) په دې اَثَرکي دئ چي دکوم سُورِي څخه اَوّل بَولِي راوزي هغه به شمېرل کيږي .

حاشيه : (الف) دحضور څخه د داسي بَچِي په اَړَه پوښتنه وسوه چي فَرج هم لري او ذَکَر هم لري څَه رنګه به وَارِث جوړيږي؟ نوحضور وفرمائل د کوم سُورِي څخه چي بَولِي کوي په هغه اِعتِبَار به وَارِث جوړيږي (ب) مَا دسعيدبن مُسَيِّب څخه پوښتنه وکړه چي داسي اِنسَان چي دښځي تَخلِيق ئې وي او دنَرتَخلِيق ئې وي هغه به څَه رنګه وَارِث جوړيږي؟ وفرمائل دکوم ځايَه څخه چي بَولِي کوي په هغه اِعتِبَار به وَارِث ګرزي.اِبن مُسَيِّب وويل که په دُوَاړُو سُورَاخُوبَولِي کولې؟ مَا ورته وويل مَاتَه نَه دئ معلوم.وفرمائل ګُورَه دکوم سُورِي څخه چي ژَر بَولِي راوزي.نو په هغه اِعتِبَار به وَارِث جوړيږي .

[۱۶۴۰](۴) وَاِن كَانَا فِي السّبقِ سَوَ آ ءٌ فَلاَ يُعتَبَرُ بِالكَثرَةِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ وَقَالاَ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالْي يُنسَبُ اِلْي اَكثَرِهِمَا بَولاً [۱۶۴۱] (۵) وَ اِذَا بَلَغَ الخُنثْي وَخَرَجَت لَهُ لِحيَةٌ اَو وَصَلَ اِلْي النِّسَآءِ فَهُوَ رَجُلٌ .

[۱۶۴۰](۴) او كه په رَاوَتُلُو كي دواړه برابر وي نو د ډېرښت اِعتِبَار به نَه كيږي د امام ابوحنيفه په نېز.اوصاحبين وفرمائل وهغه ځائ ته به مَنسُوب كيږي چي ډيري بَولِي ځيني رَاځِي .

تشريح : د ذَكَر او فَرج دواړو سُورَاخُو څخه په يَوَه وار بَولِي رَاوُزِي لېكن د يَوَه سُورَاخ څخه ډيري بَولِي راځي او دبَل سُورَاخ څخه لَږ نو د امام ابوحنيفه په نېز د ډيرو او لږ بَولُو راوتلوپه وجه به و مُذَكّر مُؤنّث ته ترجيح نَه وركول كيږي .

وجه : دا د مذكراومؤنث وَالِي علامت نَه دئ بلكه د سُورَاخ د غَتېدو په وجه ډيري بَولِي راوزي او دكِشنِي وَالِي په وجه لَږ بَولِي راوزي .

فائده : صاحبين فرمائي چي دترجيح هيڅ ډَوَل لاَرَه نسته نوځكه د بَولُو زيات اوكَم رَاوَتَل به دمُذَكّر او مُؤنث ګرزولو عِلّت جوړيږي.يعني كه د ذَكَرڅخه زيات بَولِي راوزي نو نَردئ.او كه دفَرج څخه زياتِي بَولِي راوزي نو ښځه ده .

[۱۶۴۱](۵) او كه خُنثْي بالغ سي او دهغه ږيرَه رَا وَوزِي يا دئ دښځي سره صُحبَت وكي نو دا نَر دئ .

وجه : دُوَاړَه د نَرتُوب علامتونه دي.نوځكه دا نَر شمېرل كيږي .

اَبُوالحُسَين قُطب عفي عنه وعن والديه

[۱۶۴۲](۶) فَاِن ظَهَرَ لَهُ ثَديٌ كَثَدي المَرأةِ اَو نَزَلَ لَهُ لَبَنٌ فِي ثَديَيهِ اَو حَاضَ اَو حَبِلَ اَو اَمكَنَ الوُصُولُ اِلَيهِ مِن جِهَةِ الفَرج فَهُوَ اِمرَأ ةٌ [۱۶۴۳](۷) فَاِن لَم يَظهَر لَهُ اِحدَيّ هْذِهِ العَلاَمَاتِ فَهُوَ خُنثْي مُشكِلٌ [۱۶۴۴](۸) وَ اِذَا وَقَفَ خَلفَ الاِمَامِ قَامَ بَينَ صَفّ الرِّجَالِ وَ النِّسَآ ءِ .

[۱۶۴۲](۶) كه چيري دښځي په شان دده تِي (غُوَلاَنځِي) ښكاره سي يا دده دتِي څخه شِيدې رَاوَوزِي يا حَيض ورته راسي يا په اُمَيدسي يا دشرم ګاه لخوا دده سره صُحبَت مُمكِن سي نو دا ښځه ده .

تشريح : دښځي په شان دخُنثْي غُوَلاَنځِي ښكاره سوې.يائې د تَيُوڅخه شِيدې راغلې.يا حَيض ورته راغلئ.يائې حَمل په نَس سو.يا دشرمګاه لخوا ددې سره صُحبَت مُمكِن سي نو دا خُنثْي به ښځه شمېرو .

وجه : ځکه چي دا دښځي وَالِي علامتونه دي.لِهْذَا دښځي په حُکم کي به وي .

اُصُول : پر علاماتو به فیصله کیږي .

[۱۶۴۳](۷) که ددې علاماتوڅخه یَوشئ هم نَه سي ښکاره نودا خُنثْي مُشکِل دئ .

تشریح : د نَر او دښځي دعلاماتوڅخه یَو هم نَه سي ښکاره نو اُوس دیَوې خوا څخه هم دې ته تَرجِیح نَه سي ورکول کېدائي.نوځکه دا خُنثْي مُشکِل دئ .

وجه : چي نَه د نَر او نَه د ښځي علامت سته نو څَه به کوي ؟

[۱۶۴۴](۸)اوکه د امام وشاته وَلاړ وي نودنَرَانُواوښځوپه مینځ کي دي ودریږي.

تشریح : که چیري دعلامت په وجه ویَوَه جانب ته ترجیح ورکول سوې وائ نو بیا خو به دهغه احکام جاري سوي وائ.لېکن دعلامت دنیستي والي لکبله یَو جانب ته ترجیح وَرنَه کول سوه نوځکه اُوس به د نَر او ښځي په مَابَین کي وي او پرده به د دُوَاړُو د مینځ اَحکام جاري کیږي.په دغه وجه چي دئ د امام وشاته وَلاړ وي نو د نَرَانُو او ښځو ترمینځ به دریږي .

[۱۶۴۵](۹) وَتُبتَاعُ لَهُ اَمَةٌ مِن مَالِهِ تَختِنُهُ اِن کَانَ لَهُ مَالٌ فَاِن لَم یَکُن لَهُ مَالٌ اِبتَاعَ لَهُ الاِمَامُ مِن بَیتِ المَالِ اَمَةً فَاِذَا خَتَنَته بَاعَهَا وَ رَدّ ثَمَنَهَا اِلْي بَیتِ المَالِ .

وجه : ځکه چي دا نَه نَر دئ او نَه ښځه.که د نَرَانُو سره ودریږي نو دښځي توب په وجه به دده لمونځ مکروه سي.او که دښځوسره ودریږي نو د نَرتُوب په وجه به دده لمونځ خراب سي.نوځکه د دواړو په مَابَین کي دي ودریږي .

[۱۶۴۵](۹) دخُنثْي لپاره به دده په مال مینځه اَخَستَل کیږي چي دئ سُنّت کړي که چیري ده مَال درلودئ.که چیري دئ مَال نَه لري نو اِمَام دي دده لپاره د بَیتُ المَال څخه مینځه واخلي.چي کله دئ سُنّت کړي نو بیادې خرڅَه کړي او دهغې قیمت دي وبَیتُ المَال ته وَاپَس کړي .

تشریح : چي خُنثْي لُوئي سوئ وي نو دنَرلپاره دهغه سَتَر لِیدَل جواز نَه لري ځکه چي دا ښځه ده.او دښځي لپاره لِیدَل ناجائزدي ځکه چي دا نَر دئ.نوځکه آخري صورت ئې دا دئ چي که چیري دئ مَال لري نوپه هغه مَال دي مینځي ورته رانیسي.او مینځه دي دده خَتنَه وکي یعني سُنّت دې کي.یا که چیري دده سره مَال نَه وي نو اِمَام دي دبَیتُ المَال څخه دده لپاره مینځه رانیسي.او هغه مینځه دي د ده خَتنَه وکي یعني سُنّت دې کي.او دخَتنې وروسته دي مینځه خرڅه کړي او د هغې قیمت دي دُوبَارَه په بَیتُ المَال کي جمع کړي .

اُصُول : کوشش دي دا وکي چي دده سَتَر څوک نَه ویني .

اَ بُوالحُسَين قُطب عفي عنه وعن والديه

[۱۶۴۶](۱۰) وَاِن مَاتَ اَبُوهُ وَخَلّفَ اِبنًا وَخُنثْي فَالمَالُ بَينَهُمَا عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ عَلْي ثَلْثَةِ اَسهُمٍ لِلاِبنِ سَهمَانِ وَلِلخُنثْي سَهمٌ وَهُوَ اُنثْـي عِنـدَ اَبِـي حَنِيفَـةَ رَحِمَـهُ اللهُ تَعَـالْي فِـي المِيـرَاثِ اِلاَ اَن يَثبُـتَ غَيـرَ ذَالِـکَ

[۱۶۴۷](۱۱) وَقَـالاَ لِلخُنثْـي نِصفُ مِيـرَاثِ الـذّكَرِ وَ نِصـفُ مِيـرَاثِ الاُنثْي وَهُوَ قَولُ الشّعَبِيِّ .

[۱۶۴۶](۱۰) كه دخُنثْي پُلاَر وَفَات سو او يَوهَلَک او يَوخُنثْي ئې پرېښُوَل نو مَال به د دُوئي ترمينځ د امام ابوحنيفه پـه نېز دحِصّـومطابق وي.دهَلَـک لپـاره دُوې حِصّـې او دخُنثْي لپاره يَوَه حِصّه.او دا خُنثْي د امام ابوحنيفه په نېز په ميراث كي مُؤنّـث ده مګر كه چيري ددې څخه علاوه بَل څَه ثابت سي .

تشريح : د امام ابوحنيفه په نېـز دميـراث پـه سَلسلَه كـي خُنثْـي د مؤنّـث پـه حُكم كـي ده.نوځكه كه پُلاَر وفات سو يَو هَلَک او يَوَه خُنثْـي ئـې پرېښـول نوهَلَـک تـه بـه دټولـه مَـال دُوې حِصّـې ملاؤيـږي اوخُنثْـي تـه بـه يَـوَه حِصّـه ملاؤيـږي.او مَـال بـه پـر درو حِصّوتقسيم كيږي .

وجه : چي خُنثْي ښـځه سـي دا اَدنْـي درجـه ده او يقينـي ده نوځكـه پردغـه بـه فيصـله كيږي .

[۱۶۴۷](۱۱) او صاحبين وفرمائـل دخُنثْـي لپـاره بـه دمُـذَكّردميراث نِيمَـئ او دمُؤنّـث دميراث نِيمَئ وي.او دغه د امام شَعَبِي قول دئ .

تشريح : د صاحبين په نېز به خُنثْي په ميراث كـي هـم دمُـذَكّر او مُؤنّـث پـه مينځ كـي وي.نوځكه دمُؤنّث څخه زِيَات او دمُذَكّرڅخه كَم به ورته ملاؤيږي.او ددې حِسَاب بـه دارنګه وي چي ومُذَكّرته چي څومره حِصّه ملاؤيږي هغه به نِيمَئ كړي او ومُؤنّث ته چي څومره حِصّه ملاؤيږي هغه به نِيمَئ كړي او دُوَاړې حِصّي دي سره

[۱۶۴۸](۱۲) وَ اختَلَفَا فِي قِيَاسِ قَولِهِ فَقَالَ اَبُويُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَـالْي اَلمَالُ بَينَهُمَا عَلْي سَبعَةِ اَسهُمٍ لِلاِبنِ اَربَعَةٌ وَلِلخُنثْي ثَلْثَةٌ .

يَوځاى كړي وخُنثْي ته دې وركړي.نودا رنګه به خُنثْي دمُذّكّرڅخه كَم او دمُؤنّث څخـه زيات سي.او د دواړو ترمينځ چي كومه حِصّه ده هغه به ورته ملاؤسي .

[۱۶۴۸](۱۲) او اختلاف ئې وكـئ دده دقَول په قِيَاس كي.نـو امـام ابويوسـف وفرمائـل مَال به د دُوَاړُو ترمينځ پر اُوَه حِصّې كيږي.د زُوئ لپاره څلور اودخُنثْي لپاره به درې حِصّې وي .

تشريح : دا دحضرت امام شعبي دقَول تشريح ده چي خُنثْي دي دمُذَكّر او مُؤنّث ترمينځ كي.او په ذِكر سوي مثال كي پُلاَر وفات سو يَوهَلَک او يَوخُنثْي ئې پرېښول نو مسئله به د اُوُ حِصّوځخه جوړيږي.امام ابويوسف فرمائي چي كه پُلاَر وفات سوئ وائ او يَوَاځِي خُنثْي ئې ترشَا پاته سوې وائ نوخُنثْي ته به ځَه رنګه حِصّه رسېدلائي؟ په هغه اِعتِبَار به سِهَام (حِصّې) تقسيم كيږي.اود امام محمدپه نېزچي هَلَک اوخُنثْي دُوَاړَه موجودوائ نوپه ځَه ډَوَل به دُوئي ته حِصّې رسېدلائي؟ په هغه اِعتِبَار به سِهَام يعني حِصّې تقسيم كيږي.

دمسئلې تشريح دا رنګه ده چي يَوهَلَک وي نوهغه ته پوره حِصّه ملاؤيږي.او مخته تيرسو چي وخُنثْي ته به دهَلَک نِيمَئ هم ملاؤيږي او د اِنجِلَئ نيمَئ به هم ورته ملاؤيږي.او چي دواړي حِصّې سره يَوځائ كړې هغه به وخُنثْي ته ملاؤيږي. نوځكه دټوله مال دي ځلور حِصّې جوړي كړي نوخُنثْي ته به دپوره ځلورو حِصّو نِيمَئ دُوې حِصّې ملاؤيږي.او چي يَوَه اِنجِلَئ وي نود ټوله مَال نِيمَئ به ورته ملاؤيږي يعني دځلورو حِصّونِيمَئ دوې حِصّې به ورته ملاؤيږي. او وخُنثْي ته د اِنجِلَئ دحِصّو نِيمَئ هم ملاؤيږي.نوځكه د دُو حِصّونِيمَئ يَوَه حِصّه سوه نو ګواكه وخُنثْي ته د ځلورو حِصّو ځخه درې حِصّې ملاؤيږي او هَلَک ته به ځلورحِصّې ملاؤيږي

[۱۶۴۹](۱۳) وَقَالَ مُحَمّدٌ اَلمَالُ بَينَهُمَا عَلْي اِثنَئ عَشَرَ سَهمًا لِلاِبنِ سَبعَةٌ وَلِلخُنثْي خَمسَةٌ .

او د دواړو حِصّې چي سره يَوځائ كړې نو كُل د اُوُحِصّوځخه به د پُلاَرمَال تقسيم كيږي.ددې ځخه به وخُنثْي ته درې حِصّې ملاؤيږي او و هَلَک ته به ځلور حِصّې ملاؤيږي .

نَن سَبَا ټوله حسابونه په كېلكولېټر يعني دحِسَاب په مَاشِين باندي كيږي نوځكه ددې ځخه مخته مسئله به دا رنګه وي.په كېلكولېټر باندي ټوله حسابونه دسَلُو سَلُو ځخه چليږي او په اَعشَارِيَه او پُوَائنټ سره حِسَاب كوي.نوځكه هَلَک ته به دټوله مَال ځخه پوره سَل فِيصَد٪۱۰۰ رسيږي.او خُنثْي ته به دهَلَک دپوره حِصّې يعني په سَل فِيصَد٪۱۰۰ كي نِيمَئ يعني ٪۵۰ (پنځوس فيصد) ملاؤيږي. او اِنجِلَئ ته نِيمَئ ملاؤيږي يعني دټوله مَال ٪ ۵۰ (پنځوس فِيصَد)ملاؤيږي. نو ځكه ددې به هم نِيمَئ ٪ ۲۵(پنځويشت فيصَد) به ملاؤيږي. اُوس ٪ ۵۰ او ٪ ۲۵ سره يَوځائ كې ٪ ۷۵ خُنثْي ته ملاؤسوې.اُوس دهَلَک حِصّې ٪ ۱۰۰ او دخُنثْي حِصّې ٪ ۷۵ دواړه سره ملاؤ كړې نومجموعه ٪ ۱۷۵ حِصّې سوې.دا په ۱۰۰ كي تقسيم كه نو دا به دونه سي ۵۷۱۴۲۸۵ . ۰ ٪ دا يوه حِصّه سوه. اُوس دې ته په پِنځَه اَويَا(۷۵) كي ضرب وركه چي دخُنثْي حِصّه ده نو۴۲.۸۵۷۱۳۷حِصّې رَاوُزِي.چي مثلاً د پُلاَر جائداد سَل دِرهَم وي نو ددې ځخه به وخُنثْي ته ۴۲ دِرهَم او ۸۵ پيسې ملاؤيږي. او دهَلَک

حِصّې ۱۰۰ چي په ۵۷۱۴۲۸۵. ۰ کي ضَرَب ورکې۱۴۲۸۵ .۵۷ حِصّې جوړيږي. يعني چي دخُنثْي سره هَلَک وي او د پُلاَر جائداد سَل دِرهَم وي نو هَلَک ته به ددې ځخه ۵۷ دِرهَم او ۱۴ پيسې ملاؤيږي .

[۱۶۴۹](۱۳) او امام محمد وفرمائل مَال به د دُوئي دواړو ترمينځ پر دُوُلَس حِصّې وي.د زُوئي لپاره به اُوَه او دخُنثْي لپاره به پِنځَه حِصّې وي .

تشريح : د امام محمدپه نيز چي هَلَک اوخُنثْي سره ملاؤکړې چي ځَه ډَوَل حِصّې رسيږي؟ دهغه اِعتِبَار دئ. او ددې صورت به داوي چي دُوَاړَه هَلګَان فرض کړو نو دواړو ته نِيمَئ نِيمَئ رسيږي.او خُنثْي ته به دهغه هم نِيمَئ ملاؤيږي.اوچي يَوهَلَک فرض کړو اوخُنثْي اِنجِلَئ فرض کړو نوهَلَک ته دُوې دَرَيَمِي اواِنجِلَئ ته يَوَه دَرَيَمَه ملاؤيږي.او مخته تيرسو چي دغه يَوَه دَرَيَمَه به هم ځله نِيمَئ کيږي دا به وخُنثْي ته ورکوي.ددې مطلب خو داسوچي دمخکني د نِيمِي نِيمَئ حِصّه او د دُوَم د دَرَيَمِي حِصّې نِيمَئ چي سره يَوځائ کړې ددې مجموعه به وخُنثْي ته ملاؤيږي او دا پاته به وهَلَک ته ملاؤيږي.صورت مسئله ئې دا دئ .

. . . . .صُورِتِ مَسئلَه. . . . .

(۱)
(۲)
هَلَک خُنثْي(هَلَک فرض کړه) هَلَک خُنثَى(اِنجِلَئ فرض کړه)
۱ ۱
۲ ۱
۳ ۳
۴ ۲
۶ ۶
۸ ۴
دهَلَـــــــــــــــــــــک حِصّـــــــــــــــــــــه
دخُنثْي حِصّه
د اَوّل ځخـــــــــــــــــــــــه ۶
داَوّل ځخه ۶
د دوم ځخـــــــــــــــــــــــه ۸
د دومه ځخه ۴
7 = 2 14 5 = 2 10

تفصيل دا دئ چي دا حساب په غور سره وګوره. ددې تفصيل دادئ چي په اَوّل نمبرکي دهَلَک سره خُنثْي هَلَک فرض کړئ دئ نوځکه و دواړو ته نِيمَئ نِيمَئ ملاؤسو.او اَصل مسئله ئې د ۲ څخه چَلَوَلي ده او دواړو ته يَوَه يَوَه حِصّه ورکړې ده.او په مسئله نمبر ۲ کې دهَلَک سره خُنثْي اِنجِلَئ فرض کړې ده او هَلَک ته دُوې دَرَيَمِي او اِنجِلَئ ته يَوَه دَرَيَمَه ورکړې ده او اَصل مسئله ئې د ۳ څخه چَلَوَلي ده. اُوس اَوّلَه مسئله د ۲ څخه چلېدلي ده او دُوَمَه مسئله ۳ څخه چلېدلي ده.نوځکه په دواړوکي موافقت نسته ځکه و ۲ ته په ۳ کي ضَرَب ورکړئ اواَصل مسئله ئې د ۶ څخه وچَلَوَل.اُوس په اَوّلَه مسئله کي وهَلَک او خُنثْي ته درې درې حِصّې ورسېدې.او په دُوَمَه مسئله کي وهَلَک ته د ۶ څخه ۴ او خُنثْي ته د اِنجِلَئ فرض کېدو لکبله د ۶ څخه ۲ حِصّې ملاؤسوې.په دې صورت کي په اَوّلَه مسئله کي وخُنثْي ته ۳ ملاؤسوي وې هغه به نِيمَئ سي نو يَوَه نِيمَه حِصّه به سي او په تېره زمانه کي په ګسر سره حساب نَه کېدئ نوځکه دهغه پر صحيح عَدَد او پُورَه عَدَد باندي د برابرولولپاره په اَصل مسئله کي ۶ ته په ۲ کي ضَرَب ورکړئ او اَصل مسئله ئې د ۱۲ څخه چَلَوَلي وه.په دې صورت کي په اَوّلَه مسئله کي و هَلَک ته د ۱۲ څخه ۶ ملاؤسوې او خُنثْي ته دهَلَک فرض کېدو لکبله ۶ ملاؤسوې. او په دُومَه مسئله کي وهَلَک ته د ۱۲ څخه دُوې دَرَيَمِي يعني ۸ ملاؤسوې او خُنثْي ته د اِنجِلَئ فرض کېدو لکبله ۴ ملاؤسوې.اُوس وهَلَک ته په اَوّلَه مسئله کي ملاؤسوي ۶ حِصّې او په دُوَمَه مسئله کي ملاؤسوي ۸ حِصّې سره جمع کړې نو ۱۴ حِصّې سوې دا به سره نِيمَئ کړو. او۱۴ به پر دُوُ تقسيم کړونو ۷ حِصّې رَاوُزِي.چي وهَلَک ته به رسيږي.او وخُنثْي ته په اَوّلَه مسئله کي ۶ او په دُوَمَه مسئله ۴ ملاؤسوې.نوچي دواړي سره جمع کړو نو ۱۰ حِصّې جوړيږي.او ۱۰ به سره نِيمَئ کړو پر دُوُ به تقسيم کړو نو ۵ رَاوُزِي.چي دخُنثْي حِصّې به وي.ځکه چي وده ته دهَلَک نِيمَئ او د اِنجِلَئ نِيمَئ ملاؤيږي.په کېلکيولېټرسره سوئ حِسَاب دا دئ

. . . . .دکېلکيولېټرحساب. . . . .

(۱) ۱۰۰

(۲) ۱۰۰

هَلَک خُنثْي (هَلَک فرض کړي) هَلَک خُنثْي

(اِنجِلَئ فرض کړي)

۵۰ ۵۰

۶۶۶.۶۶ 33. 333

دهَلَک حِصّه

دخُنثٰي حِصّه

په اَوّلَه مسئله کي ۵۰

په اَوّلَه مسئله کي ۵۰

په دُوَمَه مسئله کي ۶۶.۶۶۶ په دومه

مسئله کي ۳۳۳.۳۳

۳۳.۵۸ = ۲ – ۶۶۶ .۱۱۶

۴۱. ۶۶ = ۲ - ۳۳.۸۳

پام لرنه : د کلکیولېټر په حساب دځان پوه کولولپاره داخبري په نظرکي ساتئ .

په کلکیولېټرباندي اَصل مسئله د ۱۰۰ څخه چلیږي.نَه ددې څخه زیات او نَه ددې څخه گم.ودې ته موږ فِیصَد وایو.په ټوله نړئ کي اُوس د ۱۰۰ حساب دئ په دغه وجه دې طریقې خُوَرَا ډېر اَهمِیّت پیدا کړئ دئ .

په دې حساب کي ونِیمِي ته ٪ 50, وڅلورَمَه ته ٪ ۲۵ , او واَتَمَه حِصّه ته ٪ ۱۲.۵۰ویل کیږي. او و دَرَیَمَه حِصّه ته ٪ ۳۳.۳۳ او و دُوُ دَرَیَمُو ته ٪ ۶۶.۶۶ او وشُپَږَمَه حِصّه ته ٪ ۶۶.۱۶ (فیصد) ویل کیږي .

اُوس وصورتِ مسئله ته په غَور سره گورئ. په اَوّلَه مسئله کي وهَلَک ته د٪ ۱۰۰ څخه ٪ ۵۰ ملاؤسوي دي.او دا چي خُنثٰي ئې هَلَک فرض کړئ دئ دهغه په وجه دهغه نِیمَئ یعني د٪ ۱۰۰ څخه ٪ ۵۰ ملاؤسو. او په دومه مسئله کي وهَلَک ته دُوې دَرَیَمِي یعني د ٪ ۱۰۰ څخه ٪ ۶۶.۶۶ یعني شُپُږ شپېټَه اَعشَارِیَه شُپُږ شُپِېټَه حِصّې ملاؤسوي دي.او چي خُنثٰي اِنجِلَئ فرض کړې ده ددې لکبله د ٪ ۱۰۰ څخه یَوَه دَرَیَمَه یعني ٪ ۳۳.۳۳ ملاؤ سوې .

اُوس دهَلَک حِصّه په اَوّلَه مسئله کي ٪ ۵۰ او په دُوَمَه مسئله کي ٪ ۶۶.۶۶ سره جمع کړه نو مجموعه ئې ۶۶ . ۱۱۶ سوه.او دا سره نِیمَئ که یعني پر دُوُ باندې تقسیم که نو ٪ ۳۳ .۵۸ رَا وُزِي یعني دپُلاَرجائداد مثلاً ۱۰۰ دِرهَم وي نو وهَلَک ته به ددې څخه٪ ۳۳ .۵۸ ملاؤیږي. یعني ۵۸ دِرهَم او ۳۳ پیسې به ملاؤسي .

او خُنثٰي ته په اَوّلَه مسئله کي دهَلَک فرض کېدو لکبله ٪ ۵۰ ملاؤسوي وُ.او په دُوَمَه مسئله کي د اِنجِلَئ فرض کېدو لکبله ٪ ۳۳.۳۳ ملاؤسوي وې. دغه دواړي حِصّې چي سره جمع کې ٪ ۵۰ او ٪ ۳۳.۳۳ نو ددې مجموعه ٪ ۳۳ .۸۳ سوه. او خُنثٰي ته خو دهَلَک او اِنجِلَئ دواړو نِیمَئ نِیمَئ ملاؤیږي.نوځکه ۳۳ .۸۳ پر ۲ باندي تقسیم که چي د دُوَاړُو به نِیمَئ سي نو ۶۶.۴۱ رَاوُزِي .

یعني که دپُلاَر جائداد ۱۰۰ دِرهَم وي نو دهَلَک سره به وخُنثٰي ته په دي کي ۴۱ دِرهَم او ۶۶ پیسې ملاؤیږي .

د دواړو امامانو ترمینځ په تقسیم کي فرق سته

هَلَک ته

خُنثْي ته
د امام ابویوسف په نیز ۵۷. ۱۴ ۲
۴۲. ۸۵ ۷
د امام محمدپه نیز ۵۸. ۳۳۳
۴۱. ۶۶۶
۱. ۱۹ ۱ (زیات
ملاؤسو) ۱. ۱۹ ۱ (کم ملاؤ سو)

اَبُوالحُسَین قُطب
عفي عنه وعن والديه

..... كِتَابُ المَفقُودِ.....

[۱۶۵۰](۱) اِذَا غَابَ الرّجُلُ فَلَم يُعرَف لَهُ مَوضِعٌ وَلاَ يُعلَمُ اَحَيٌ هُوَ اَم مَيِّتٌ نَصَبَ القَاضِي مَن يَحفَظُ مَالَهُ وَيَقُومُ عَلَيهِ [۱۶۵۱](۲) وَيَستَوفِي حُقُوقَهُ .

..... كِتَابُ المَفقُودِ.....

ضروري پام لرنه : چي يَوخوک بالکل دکورڅخه غائب سي هغه ته مَفقُود وائي. دده دمَينې او دده دمَال څَه احکامات دي؟ په دې باب کي دهغه بيان دئ.ثبوت ئې په دې حديث کي دئ عَنِ المُغِيرَةَ بِنِ شُعبَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ اِمرَأ ةُ المَفقُودِ اِمرَأتُهُ حَتْي يَأتِيهَا

الخَبَرُ (الف) (دارقطني.كتاب النكاح ج۳ص۲۱۷نمبر۳۸۰۴/سنن للبيهقي.باب من قال امرأة المفقودامرأته حتّي يأتيهايقين وفاته ج۷ ص۷۳۱نمبر ۱۵۵۶۵) ددې حديث څخه دمَفقُود ثبوت هم وسو او حُكم ئې هم معلوم سو چي د مرګ د يقين تروختـه پوري ښځه دمَفقُود بِي بِي (يعني مَينَه) ده.

[۱۶۵۰](۱) كه سړئ وُرَک سي او دده ځائ معلوم نَه وي.او نَه دا معلوم وي چي ژُوَندَئ دئ يا مَړ دئ نوقاضي به يَوځوک مُقَرّركوي چي دده دمَال حفاظت وكي او اِنتِظَام وكي .

تشريح : يوسړئ داسي غَائِب سوچي نَه دده ځائ معلوم دئ او نَه دا معلوم دئ چي ژُوَندَئ دئ كه مَړ دئ نو اُوس دي قاضي يَوسړئ مُتَعَيّن كړي چي دده دمَال حفاظت وكي او نګراني او اِنتِظَام ئې وكي .

وجه : د داسي سړي لپاره قاضي مُنتَظِم وي.نوځكه قاضي به يوځوک مُتَعَيّن كوي چي دده دمَال حفاظت وكي .

[۱۶۵۱](۲) دده لپاره دي حقوق وصول كړي .

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل دمَفقُود مَينَه دده مَينَه ده ترځوچي ښكاره خَبَرنَه وي راغلئ .

[۱۶۵۲](۳) وَ يُنفِقُ عَلْي زَوجَتِهِ وَ اَولاَدِهِ الصِّغَارِ مِن مَا لِهِ

[۱۶۵۳](۴) وَلاَيُفَرِّقُ بَينَهُ وَبَينَ اِمرَاَتِهِ .

تشريح : د مَفقُودپريَوچا باندي قرض وي يا يَوبَل حَق وي نومُتَعَيّن سوئ سړئ به هغه قرض او نورحقوق وصولوي او دا به دمَفقُود لپاره محفوظ كوي .

[۱۶۵۲](۳) اومَصرَف كوي به دده پرمَينَه او كِشنِي بَچِيَانُوباندي دده دمَال څخه .

تشريح : دمَفقُودچي كوم مَال دئ دده وَصِي به هغه دمَفقُود پر بِي بِي او كشني اولاد باندي مَصرَف كوي .

وجه : (۱) ځكه چي بِي بِي دده لپاره مَحبُوسَ ده.او دكِشنِي اَولاَد خرچه هم دده پر ذِمّه ده.نوځكه پردغه اِنسانانو به دمَفقُود دمَال څخه خَرچَه كيږي (۲) په اَثَركي دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ وَ اِبنِ عُمَرَ قَالاَ جَمِيعًا فِي اِمرَاَةِ المَفقُودِ تَنتَظِرُ اَربَعَ سِنِينَ قَالَ اِبنُ عُمَرَ يُنفَقُ عَلَيهَا فِيهَا مِن مَالِ زَوجِهَا لاَنّهَا حَبَسَت نَفسَهَا عَلَيهِ(الف) (مصنف عبدالرزاق .باب الرجل يغيب عن امرأته فلاينفق عليهاج۷ص۹۴نمبر۱۲۳۴۶/سنن للبيهقي.باب من قال تنتظراربع سنين ثم اربعة اشهروعشرا ثم تحلّ ج۷ ص۷۳۳نمبر ۱۵۵۶۹) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي دمَفقُود دمال څخه به دده پر بِي بِي مَصرَف كيږي .

[۱۶۵۳](۴) دمَفقُود او دده دبِي بِي ترمينځ به تَفرِيق نَه كول كيږي .

تشريح : ترڅو چي يَوَه حَتمِي او يقيني خبره رامينځ ته سوې نَه وي مثلاً دمرګ خَبَر راسي يا طلاق واقع سي ترهغه وخته پوري به دمَفقُود او دده دمَينې ترمينځ تَفرِيق نَه كيږي .

وجه : (١) مخته په ضروري پام لرنه کي حديث تېرسوئ دئ عَنِ المُغِيرَةَ بِنِ شُعبَةَ

حاشيه : (الف) عبدالله اِبنِ عَبّاس او عبدالله اِبنِ عُمَر وفرمائل دمَفقُود ښځه دي څلور کاله اِنتِظَار وکـي.اِبـنِ عُمَـر وفرمائل پر دې به ددې دمېړَه دمال څخه مَصرَف کيږي.ځکه چي خپل ځان ئې دده لپاره مَحبُوس کړئ دئ .

قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ اِمـرَأ ةُ المَفقُودِ اِمـرَأ تُـهُ حَتْـي يَأتِيهَـا الخَبَرُ(الـف)(دارقطني.كتـاب النكـاح ج٣ص٢١٧نمبـر٣٨٠٤/سـنن للبيهقي.بـاب مـن قـال امـرأة المفقـود امرأتـه حتْـي يأتيهـايقين وفاتـه ج٧ص٧٣١نمبر١٥٥٦٥) (٢) عَن عَلِيٍّ فِي اِمرَأةِ المَفقُودِ اِذَا قَدِمَ وَقَـدتَزَوّجَت اِمـرَأ تُـهُ هِـيَ اِمرَأ تُهُ اِن شَآ ءَ طَلّقَ وَاِن شَآ ءَ اَمسَـکَ وَلاَ تُخَيّـرُ (ب) (سـنن للبيهقي.بـاب مـن قـال امـرأة المفقودامرأته حتْي يأتيهايقين وفاته ج٧ص٧٣١ نمبر ١٥٥٦٢/ مصنف عبدالرزاق. باب اَلّتِي لاتعلم مهلک زَوجِهَا ج٧ص٩٠نمبر١٢٣٣٣) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي د دواړو ترمينځ به تَفرِيـق نَه کول کيږي ځکه چي دا دمَفقُود بِي بِي ده (٣) عَن اِبنِ جُرَيحٍ قَـالَ بَلَغَنِـي اَنّ اِبـنَ مَسـعُودٍ وَافَقَ عَلِيّاً عَلْي اَنّهَا تَنتَظِرُهُ اَبَدًا (ج) (مصنف عبدالرزاق.باب اَلّتِي لاتعلم مهلک زوجهـاج ٧ ص٩٠ نمبر١٢٣٣٣) ددې اَثَر څخه معلوم سوچي دا به همېشه دمَفقُود اِنتِظَار کوي .

فائده : امام مالک فرمائي چي هيڅ ډَوَل خبر نَه سي رَا نـو څلـور کالـه وروسـته بـه دمَفقُـود دمرګ فيصله کيږي او دڅلور مياشتي لَس شُپې عِدّتِ وَفَات تېرېدو وروسـته بـه وښـځه تـه دبَل وَادَه اجازت ورکول کيږي .

وجه : دده دليل دا اَثَر دئ عَن اِبِي عُثمَانَ قَالَ اَتَت اِمرَأ ةٌ عُمَرَبِنِ الخَطّابِ قَالَ اِستَهوَتِ الجِنّ زَوجَهَا فَاَمَرَهَا اَن تَتَرَبّصَ اَربَعَ سِنِينَ ثُمّ اَمَرَ وَلِيّ الّذِي اِستَهوَتهُ الجِنُ اَن يُطَلّقَهَا ثُـمّ اَمَرَهَـااَن تَعتَدّاَربَعَةَ اَشهُرٍ وَعَشرًا (د)(دارقطني.كتاب النكـاح ج٣ص٢١٧ نمبـر٣٨٠٣/ سنن للبيهقي.بـاب مـن قـال تنتظراربـع سـنين ثُـمّ اربعـة اشهروعشـراَثمّ تحـل ج٧ ص٧٣٢نمبـر ١٥٥٦٦/مصـنف عبدالرزاق.باب الّتي لاتعلم مهلک زوجها ج٧ ص٨٥نمبر١٢٣١٧) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي

څلور کاله تيرسي نو دمَفقُود دمرګ فيصله به کوي .

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل دمَفقُود مَينَه دده مَينَه ده ترڅوچي ښـکاره خَبَرنَـه وي راغلئ . (ب) حضـرت عَلِي دمَفقُود دمَينې په اَړَه وفرمائل.چي که مَفقُود راسـي او دده مَينـې وَادَه کړئ وي بيـا هـم دا دهغـه مَينَـه ده.کـه خُوَښَه سي طلاق دي ورکړي او که خُوَښَه سي دځان سره دې وَسَاتِي.او ښـځه تـه اِختِيَـار نسـته (ج) عَبدُالله بِنِ مَسعُود پر دې خبره د حضرت عَلِي سره مُوَافَقَت وکړئ چي دمَفقُود مَينَه به همېشه اِنتِظَار کوي

(د) يَوَه ښځه حضرت عُمَر لره راغله. ددې مېړَه پېرَانَانُو وَړَئ وُ نو دې ته حُکم ورکړئ چي څلور کاله اِنتِظَـار وکه. بيائې چي پېريَانُو وَړَئ وُ دهغه سړي و وَلِي ته حُکم ورکړئ چي ودې تـه طـلاق ورکـه.بيائې ودې تـه حُکم وکړئ چي څلور مياشتي لَس شُپې تيري کړه .

[١٦٥٤](٥) فَاِذَا تَمّ لَهُ مِائَةٌ وَعِشرُونَ سَنَةً مِن يَومِ وُلِدَ حَکَمنَا بِمَوتِهِ وَ اَعتَدَت اِمرَأ تُهُ وَقُسِّمَ مَا لُهُ بَينَ وَرَثَتِهِ المَوجُودِينَ فِي ذَالِکَ الوَقتِ .

پام لرنه : وخت خراب دئ نو دځوانِي ښځي لپاره نَن سَبَا پر دغه فتوْي ورکول کيږي .

[۱۶۵۴](۵) چي دده يَوسَل شَل كاله پوره سي دهغه ورځي څخه كوم چي دئ پيدا سوئ دئ نو دده دمرګ حُكم به كوو.او دده ښځه به عِدّت تېره وي او دده مال به تقسيم كيږي په دغه وخت دده دموجوده وَارِثَانُو ترمينځ .

تشريح : اِنسَان چي ډېر ژُوَندَئ وي ذو يَوسَل شَل كاله به ژُوَندَئ وي نوځكه د ژُوكړِي څخه ونيسي چي يَوسَل شَل كاله تيرسي نو اُوس به دده دمرګ حُكم لګول كيږي چي دئ مَړ دئ.او دغه وخت به دده مَينَه عَدّتِ وَفَات تېره وي.په دغه وخت چي كوم وَارِثَان موجود دي دهغو ترمينځ به دده مَال تقسيم كيږي .

وجه : (۱) داسي به ګڼل كيږي چي دئ اُوس وفات سوئ دئ.نوځكه په دغه وخت چي كوم وَارِثَان موجود دي دهغو ترمينځ به دده مال تقسيم كيږي. او كوم خَلَګ چي ددې څخه مخكي مَړَه دي وهغو ته به دده مَال نَه تقسيم كيږي (۲) د مرګ دفيصلې وروسته دمَال دتقسيم كولو دليل دا اَثَردئ عَن قَتَادَةَ قَالَ اِذَا مَضَت اَربَعَ سِنِينَ مِن حِينَ تَرفَعُ اِمرَأ ةُ المَفقُودِ اَمرَهَا اَنّهُ يُقَسّمُ مَا لُهُ بَينَ وَرَثَتِهِ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب الّتِي لاتعلم مهلک زوجها ج۷ص۹۰نمبر۱۲۳۲۹) په دې اَثَركي كه څَه هم دا سته چي څلور كاله وروسته به دمَفقُود دمرګ فيصله كيږي او مَال به دده د وَارِثَانُو ترمينځ تقسيم كيږي.خو دا هم معلوم سوچي د مرګ دفيصلې وروسته به دده مَال دوَارِثَانُوترمينځ تقسيم كيږي.چي هروخت دمرګ فيصله وسي.

حاشيه : (الف) حضرت قَتَادَه وفرمائل چي دمَفقُود دمَيني دمعامله راپورته كېدو وروسته څلور كاله تيرسي نو دې ته به حُكم كيږي چي دده مَال دي د وَارِثانو ترمينځ تقسيم كړل سي .

[۱۶۵۵](۶) وَمَن مَاتَ مِنهُم قَبلَ ذَالِکَ لَم يَرِث مِنهُ شَيئًا [۱۶۵۶](۷) وَلاَ يَرِثُ المَفقُودُ مِن اَحَدٍ مَاتَ فِي حَالِ فَقدِهِ .

پام لرنه : كه د يَوسَل شَل كاله څخه مخكي دغَالِب ګمان يَوَه خبره مخته راسي نو په هغه وخت هم د مرګ فيصله كېدلائي سي .

[۱۶۵۵](۶) د وَارِثَانُوڅخه كوم چي ددې څخه مخكي وَفَات سي نو دمَفقُود دهيڅ شِي وَارِث نَه سي جوړېدلائي .

تشريح : دمَفقُود دمرګ دحُكم لګولوڅخه مخكي چي كوم وَارِثَان وَفَات سي هغه دمَفقُود د هيڅ شِي وَارِثَان نَه جوړيږي .

وجه : پرمَفقُود چي دمرګ حُكم نَه وي لګېدلئ ترهغه وخته ګواكه مَفقُود ژُوَندَئ دئ.او دژُوَندِي دمَال څوک وَارِث نَه سي جوړېدلائي.نوځكه دمَفقُود دمال وَارِث نَه سي جوړېدلائي .

[۱۶۵۶](۷) او مَفقُود دهغوڅخه دهيڅ چا وَارِث نَه سي كېدلائي كوم چي وَفَات سوي وي دده د وَرَكوَالِي په زَمَانَه كي .

تشريح : مثلاً د دُوَه زَرَه ل◌َس◌َم (2010) شَمسِي كال پـه اَوّل تاريخ مَفقُود وُرَک سو ځلور كاله وروسته پر ده باندي دمرګ حُكم ولګېدئ نو د دوه زَرَه لَس څخه تر دُوَه زَرَه څُوَرلَس (2014) پوري چي دمَفقُود دمُورِث څخه كوم خلـګ مړه دي دهغو څخه ديَوَه هم دا مَفقُود وَارِث نَه سي جوړېدلائي .

وجه : دااِستِحقَاق په باب كي به دغه ګڼوچي دا د دوه زَرَه لَس (2010) په اَوّل تاريخ وفات سوئ دئ.ځكه چي دده مرګ دهغه وخته څخه مُشتَبَه ګرزېدلئ دئ.نو داسي به ګڼوچي خلګ دده دمرګ دفيصلې وروسته دده دمَال وارثان جوړيږي.او دئ به په خپله دخلګو د وِرَاثَت څخه محروم وي د تيښتي د ورځي څخه .

..... كِتَابُ الاِ بَاقِ .....

[١۶٥٧](١) اِذَا اَبَاقَ المَملُوکُ فَرَدّهُ رَجُلٌ عَلْي مَولاَهُ مِن مَسِيرَةِ ثَلْثَةِ اَيّامٍ فَصَاعِداً فَلَهُ عَلَيهِ جُعلُهُ وَهُوَ اَربَعُونَ دِرهَمًا وَاِن رَدّهُ لاَقَلّ مِن ذَالِکَ فَبِحِسَابِهِ .

..... كِتَابُ الاِ بَاقِ .....

ضروري پام لرنه:غُلاَم دمَولْي دقبضې څخه وَتَښتِي ودې ته,,اِبَاق,,وائي.څوک څوک چي دئ رَاوَلِي هغه ته به د رَاوَستَلُو اِنعَام ملاوئيږي او ودې اِنعَام ته ,,جُعل,, وائي.ددې ثبوت په دې حديث كي دئ عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ قَضْي رَسُولُ اللهِ ﷺ فِي العَبدِالآبِقِ يُوجَدُ فِي الحَرَمِ بِعَشرَةِ دَرَاهِمَ (الف) (سنن للبيهقي.باب الجُعَالَة ج ۶ ص٣٢٩نمبر١٢١٢٣/مصنف عبدالرزاق.باب الجُعل في الآبق ج٨ص٢٠٨ نمبر١۴٩٠٧) ددې حديث څخه معلوم سوچي تَښتېدلَئ غُلاَم دحَرَم څخه رَاوَلِي نو لَس دِرهَم به ورته ملاوئيږي. ددې څخه ,,جُعل,, ثابت سو .

[١۶٥٧](١) كه يَومَملُوک وَتَښتِي او يَوڅوک ئې د درو ورځو دمَسَافَت څخه دده مَولْي لره رَاوِلي يائې ددې څخه زِيَات رَاوِلِي نو دده لپاره دده مَزدُوري ده او هغه څلوېښت دِرهَم ده.او كه ددې څخه لَږ مَسَافَت څخه وَاپَس كړئ نودهغه په حِسَاب سره به وي .

تشريح : په آثَارُ كي اختلاف دئ.دبَعضُ آثارُڅخه معلوميږي چي څلوېښت دِرهَم دي وركړي نوځكه داَحنَافُ په نېزدادئ چي كه د دُرُو يا ددې څخه زِيَات مَسَافَت څخه رَاوَلِي نوڅلوېښت دِرهَم به وركوي.اوكه تر دې د لَږ مَسَافَت څخه رَاوَستَئ نوپه خپل حِسَاب سره دې وركړي .

وجه: دلَس دِرهَم حديث په ضروري پام لرنه كي تېرسوئ دئ عَن اِبنِ عُمَرَقَالَ قَضْي

حاشيه : (الف) حضور فيصله وكړه چي تَښتېدَلَئ غُلاَم په حَرَم كي ومونډي نو دهغه لپاره لَس دِرهَم دي .

[۱۶۵۸](۲) وَ اِن كَانَت قِيمَتُهُ اَقَلّ مِن اَربَعِينَ دِرهَمًا قُضِيَ لَـهُ بِقِيمَتِـهِ اِلاّ دِرهَمًا .

رَسُولُ اللهِ ﷺ فِـي العَبـدِالآبِقِ يُوجَـدُ فِـي الحَـرَمِ بِعَشـرَةِ دَرَاهِـمَ (سـنن للبيهقي.بـاب الجُعَالَـة ج۶ص۳۲۹نمبـر۱۲۱۲۳/مصـنف عبـدالرزاق.باب الجُعـل فـي الآبـق ج ۸ ص ۲۰۸ نمبر۱۴۹۰۷) او دڅلوېښت دِرهَم لپاره دا اَثَردئ عَن اِبِي عَمرِو الشّيبَانِيّ قَالَ اَصَبتُ غِلمَانًا اِبَاقًا بِالعَينِ فَاَتَيتُ عَبدَاللهِ بِنِ مَسعُودٍ فَذَكَرتُ ذَالِکَ لَـهُ فَقَالَ اَلاَجرُ وَالغَنِيمَـةُ قُلتُ هٰذَا الاَجرُ فَمَـا الغَنِيمَـةُ؟ قَـالَ اَربَعُونَ دِرهَمًـا مِن كُلِّ رَأسٍ (الـف) (سـنن للبيهقي.بـاب الجعالـة ج۶ص۳۳۰نمبر۱۲۱۲۵/مصنف عبدالرزاق. باب الجُعل فِي الآبِقِ ج۸ص۲۰۸نمبر۱۴۹۱۱) په دې اَثركي دڅلوېښتو دِرهَمُ وركولو تـذكره ده.او پـه خپـل حسـاب سـره د وركولـو تذكره په دې اَثركي ده اَنّ عُمَرَبِنِ عَبدَالعَزِيزِ قَضْي فِي يَومٍ بِدِينَارٍ وَفِي يَومَينِ دِينَارَينِ وَفِي ثَلْثَةِ اَيّامٍ ثَلاَثَةَ دَنَانِيرَ فَمَا زَادَ عَلْي الاَربَعَةِ فَلَيسَ لَهُ اِلاَ اَربَعَةٌ (مصنف عبدالرزاق.باب الجُعل فِي الآبِقِ ج۸ص۲۰۸نمبر۱۴۹۱۲) په دې اَثركي ديوې ورځې دمَسَافَت څخه رَاوَستَلَئ دئ نو ديَوه دِينَار وركولو فيصله ئې كړې ده.او يَو دِينَار لَس دِرهَم وي. نوځكـه څلـور دِينَـار څلوېښـت دِرهَـم سـو.اوچي د دُوُ ورځودمسـافت څخـه رَاوَلِـي نـو دُوَه دِينَـار بـه ملاؤيږي.اوچي د دُرُو ورځـو د مَسَـافَت څخـه رَاوَلِـي نـودرې دِينَاربـه ملاؤيږي.ددې څخه معلوم سوچي ددُرُو ورځو څخه كَم مسافت څخه رَاوَلِي نو پـه خپـل حِسَـاب سـره به اِنعَام ورته ورته ملاؤيږي .

[۱۶۵۸](۲) كه دغُلاَم قيمت دڅلوېښت دِرهَم څخه كَم وي نود وَاپَس كـونكي لپـاره بـه دده دقيمت فيصله كوو مګر يَو دِرهَم كم .

تشريح : مثلاً دغُلاَم قيمت دېرش دِرهَم وُ او وَاپَس كونكي د دُرُو ورځو دمَسَافَت

حاشيه : (الف) اَبُوعَمروالشيبانِي وفرمائل پر مَقَام عَين بانـدې تَښـتېدَلَئ غُـلاَم ومونـدئ.نوعبدالله بـن مسـعود تـه راغلئ او ددې تَذكِرَه ئې ورته وكړه نو وفرمائل چي اَجر او غَنِيمت به وي.مَا ورته وويل دا اَجـر دئ نـو غَنِيمَـت چِش دئ؟ وفرمائل څلوېښت دِرهَم د هر سړي .

[۱۶۵۹](۳) وَ اِن اَبَقَ مِنَ الّذِي رَدّهُ فَلاَشَئَ عَلَيهِ وَلاَ جُعلَ لَهُ .

څخه رَاوَستَئ نو ده تـه بايدڅلوېښـت دِرهَـم ملاؤسـوي وائ.نـو اُوس كـه پـرده بانـدي څلوېښت دِرهَم لازم كړو نو هغه غُلاَم چي دېرش دِرهَمَ قيمت لري دهغه پـه بَدلَـه كـي څلوېښت دِرهَم وركوي او دا پرمَالِک باندي بُوج دئ.نوځكه دغُلاَم چي څـومره قيمـت دئ دهغه څخه به يَو دِرهَم كـم فيصـله كيـږي.مثلاً نَوِيشـت (۲۹) دِرهَـم بـه وركـول كيږي چي وَاپَس رَاوَستُلُو والا تـه هـم مَـزدُورِي ملاؤسـي او پرمَالِـک بانـدي د غُـلاَم دقيمت څخه زِيَات بُوج هم نَه سي را .

فائده : امام ابویوسف فرمائي چي په اَثَرکي دڅلوېښتُ دِرهَمُ ذکر راغلئ دئ نوځکه چي د دُرُو ورځو دمَسَافَت څخه رَاوَستَئ نو حَتمًا به څلوېښت دِرهَم ورته ملاوېږي .

[۱۶۵۹](۳) او که دهغه سرِي څخه وَتَبنتېدَئ چي وَاپَس ئې رَاوَستَئ نوپر ده هيڅ شَئ نسته او نَه دده لپاره مَزدُورِئ سته .

تشريح : کوم چاچي غُلاَم وَاپَس رَاوَستَئ دهغه د لاَس څخه هم غُلاَم وَتَبنتېدَئ او د رَاوَستُونکي سرِي دتَعَدِّي بغيره وَتَبنتېدَئ نو پرده باندي دغُلاَم ضَمَان نسته. لېکن ده ته به مَزدُورِي هم نَه ملاوېږي.ځکه چي ده وَاپَس نَه رَاوَستَئ نومَزدُورِئ به د کوم شِي وي ؟

وجه : په اَثَرکي دئ عَن عَلِيٍّ فِي الرَّجُلِ يَجِدُ الآبِقَ فَيَأبِقُ مِنهُ لاَيَضمِنُهُ وَضَمَنَهُ شُرَيحٌ وَنَحنُ نَقُولُ بِقَولِ عَلِيٍّ اِن كَانَ الآبِقُ اَبَقَ مِن دُونِ تَعَدِّيهِ (الف) (سنن للبيهقي.باب الجُعَالَة.ج۶ص۳۳۰نمبر۱۲۱۲۷/مصنف عبدالرزاق.باب العبد الآبق يَأبِق مِمّن اخذه ج۸ص۲۰۹نمبر۱۴۹۱۵) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي که د وَاپَس رَاوَستُونکِي څخه وَتَبنتېدَئ نو پرهغه ضَمَان نسته .

حاشيه : (الف) حضرت عَلِي وفرمائل چي يَوڅوک تَبنتېدَلَئ غُلاَم وموندي او دده څخه هم وَتَبنتي نو دئ دهغه ضَامِن نَه دئ.اوحضرت شُرَيح هغه ضَامِن جوړکړئ وُ. او موږ دحضرت عَلِي قول اَخلُو که چيري تَبنتېدَلَئ غُلاَم بېلَه تَعَدِّي وَتَبنتِيږي .

[۱۶۶۰](۴) وَيَنبَغِي اَن يُشهِدَ اِذَا اَخَذَهُ اَنّهُ يَأخُذُهُ لِيَرُدّ عَلْي صَاحِبِهِ

[۱۶۶۱](۵) فَاِن كَانَ العَبدُالآبِقُ رِهنًا فَالجُعلُ عَلْي المُرتَهِنِ .

[۱۶۶۰](۴) او مناسب دئ چي پردې ګواه جوړکړي چي کله غُلاَم ونيسي چي دا ددې لپاره نِيسمَ چي وخپل مَالِک ته وَاپَس کړم .

وجه : دګواه جوړولوڅخه به دا تهمَت نَه سي پاته چي دا دځان لپاره نيسي.چي ددې په وجه به دئ دأُجرَت او مَزدُورَئ مُستَحِق سي.ځکه چي که دخپل ځان لپاره نيولئ وي نو نِيوُنګئ دمَزدُورَئ مُستَحِق نَه ګرزي .

[۱۶۶۱](۵) که تَبنتېدُونګئ غُلاَم په ګرَوُ پروت وي نومَزدُوري پرمُرتَهِن ده .

وجه : (۱) دمُرتَهِن يعني دکوم چاسره چي غُلاَم په ګرَوُ پروت دئ دهغه ذِمّه دَارِي ده چي دغُلاَم حِفَاظَت وکي.نوځکه دغُلاَم دوَاپَس کولو ذِمّه دَارِي پرمُرتَهِن ده (۲) دمُرتَهِن مَال پَسَاوُ دئ نوکوم چاچي تَبنتېدَلَئ غُلاَم وَاپَس کئ هغه سرِي دمُرتَهِن مَال بَچَاوُ کړئ نوځکه دغُلاَم د وَاپَس کولو مزدُورِي به پرمُرتَهِن وي .

اُصُول : پر کوم چاچي حفاظت لازم دئ مَزدُورِي هم پر هغه لازم ده .

اَبُوالحُسَین قُطب عفي عنه وعن والديه

..... كِتَابُ اَحيَا ءِالمَوَاتِ .....

[۱۶۶۲](۱) اَلمَوَاتُ مَا لاَيُنتَفَعُ بِهِ مِنَ الاَرضِ لِاِنقِطَاعِ المَـآءِ عَنـهُ اَو لِغَلَبَةِ المَآءِ عَلَيهِ اَو مَا اَشبَهَ ذَالِکَ مِمّا يَمنَعُ الزّرَاعَةَ .

..... كِتَابُ اَحيَا ءِالمَوَاتِ .....

ضروري پام لرنه : کومه مځکه چي هسي شړه پرته وي او هيڅ څوک ئې نَه کَرِي هغه ته مړه مځکه وائي.د دغه مځکي وآبادولو ته اَحيَاءُ المَوَات ويل کيږي.ددې ثبوت په دې حديث کي دئ عَن عَائِشَةَ عَنِ النّبِيِّ ﷺ قَالَ مَن اَعمَرَ اَرضًا لَيسَت لاَحَدٍ فَهُوَ اَحَقّ قَالَ عُروَةُ قَضٰي بِهِ عُمَرُ فِي خِلاَفَتِهِ وَقَالَ عُمَرُ مَن اَحيَا اَرضًا مَيتَةً فَهِيَ لَهُ (الف) (بخاري شريف.باب من احيارضًاميتةً ص۳۱۴نمبر۲۳۳۵/ ترمذي شريف.باب ذكرفي احياءارض الموات ص نمبر۱۳۷۸) په دې حديث کي دئ چي څوک مړه مځکه ژُوَندَئ يعني آباد کړئ نو دهغه ګرزي .

[۱۶۶۲](۱) مَوَات هغه مځکه ده چي فائده نَه سي ځيني اخستل کيږي.ددې څخه د اُوبُو دختم کېدو په وجه يا پردې باندي داُوبُو دغَلبې په وجه يا په يَوبَل سَبَب چي کَښت کول منع کوي .

تشريح : مَوَات وهغه مځکه ته وائي چي فائده نَه ځيني اخستل کيږي.ياخو په دې وجه چي هلته اُوبَه نَه رسيږي.يا په دې وجه چي پرهغه باندي بَار بَار سېلاب او رُود رَاځِي او اُوبَه ډيري وي.يا يوه بَلَه وجه وي چي دهغه لکبله کَښت او کَرهَنَه مُشکِل وي.نو ودغه مځکه ته مَړَه مځکه.شَړَه مځکه.بَنجَرمځکه او مَوَات مځکه وائي .

لُغَت : اَلزِّرَاعَةُ : کَرهَنَه. کَښت ګَرِي .

حاشيه : (الف) يَوځَا يوه مځکه آباد کړه چي دهيڅ چا مِلکِيّت نَه وه نو دئ ئې زِيَات حقداره دئ . حضرت عُروَه وفرمائل چي حضرت عُمَر په خپل خَلاَفَت کي ددغه فيصله وکړه. حضرت عُمَر وفرمائل کوم چاچي شړه مځکه آباد کړه نو هغه دهغه سړي ده .

[۱۶۶۳](۲) فَمَا كَانَ مِنهَا عَادِيًا لاَ مَالِکَ لَهُ اَو كَانَ مَملُوکًا فِي الاِسلاَمِ لاَ يُعرَفُ لَهُ مَالِکٌ بِعَينِهِ وَهُوَ بَعِيدٌ مِنَ القَريَةِ بِحَيثُ اِذَا وَقَفَ

اِنسَانٌ فِي اَقصْي العَامِرِ فَصَاحَ لَم يُسمَعِ الصّوتُ فِيهِ فَهُوَ مَوَاتٌ مَن اَحيَاهُ بِاِذنِ الاِمَامِ مَلَكَهُ .

[۱۶۶۳](۲) او کومه مځکه ددې څخه چې قَدِیم وي چې دهغې څوک مَالِک نَه وي یا په زمانه د اسلام کې مَملُوک ګرزېدلې وي لېکن یَوخاص مَالِک ئې معلوم نَه وي او هغه دګلِې څخه دومره لیرې وي چې یَوسړۍ د آبادۍ په آخِر کې ودرېږي او چَغَه وکړي نوپه هغه مځکه کې آواز نَه وَاوُرېدَل سي نو دا مَوَات ده.کوم چاچې د امام په اِجَازَت سره دا آباد کړه نو هغه ددې مَالِک ګرزي .

تشریح:دادمَوَات مځکې دُوَم اودَرَیَم تعریف دۍ چې مَوَات مځکه وکومه مځکه ته ویل کیږي؟.چې دقَومِ عَاد په شان قدیم اوزَړَه معلومیږي اوهیڅ ډَوَل مَالِک ئې معلوم نَه وي. یاپه زَمَانَه د اسلام کې څوک ددې نَه وي مَالِک سوۍ لېکن دهغه هیڅ اَتَه پَتَه نَه معلومیږي.اوددې سره سره د آبادۍ څخه دومره لیرې وي چې که دآبادۍ په آخري ګُوَنج کې څوک ودریږي او په زُورَه ږَغ وکړي نو دې مَړې مځکې ته ږَغ نَه رَارَسِیږي نو و داسې مځکه ته مَوَات وائي.دارسې مځکه چې د امام په اِجَازَت سره آبادکړي نو آبادکونکۍ ددې مَالِک ګرزي.د آبادۍ څخه دُوَه مِیلَ لیرې شرط ئې ځکه ولګاوۍ چې و آبادۍ ته نژدې مځکه که نَه وي آباد هم پر هغه مځکه دګلِې پُسُونَه او حیوانان ګرزي.قبرستان پر جوړیږي.دآسانُودځغلېدومَیدَان وي.دګلِې وَالُونورډېر ضرورتونه په پوره کیږي.نودغه مځکه مَوَات نَه سي ګرزېدلۍ او هرڅوک چې آباد کړي هغه ئې مَالِک نَه ګرزي .

وجه:عَن جَابِرِبنِ عَبدِاللهِ عَنِ النّبِيِّ ﷺ مَن اَحيَا اَرضًا دَعوَةً مِنَ المِصرِ اَو رَمیَةً مِنَ المِصرِ فَهِيَ لَهُ (الف) (مسنداحمد.مسندجابربن عبدالله ج۴ص۳۳۷نمبر۱۴۴۹۶)

حاشیه:(الف)یوچا دېنار څخه دغَشِې د تَسَوُلُو د لیرې یتوب په اندازه مځکه آباده کړه نوهغه مځکه دهغه ده .

[۱۶۶۴](۳) وَاِن اَحیَاهُ بِغَیرِ اِذنِهِ لَم یَملِکهُ عِندَ اَبِي حَنِیفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالاَ رَحِمَهُمَا اللهُ یَملِکُهُ .

ددې څخه معلوم سوچې مځکه دګلِې څخه دغَشِې د تَسَوُلُو په اندازه لیرې وي چې هغه مځکه آباد کړي نوبیائې مَالِک ګرزي.او هغه مځکه به مَوَات وي .

[۱۶۶۴](۳) که مځکه آباد کړه د امام د اِجَازَت بغره نو د امام ابوحنیفه په نېز مَالِک نَه ګرزي اوصاحبین فرمائي چې مَالِک ګرزي .

تشریح : شَرَه مځکه د امام داِجَازَت بغیره آباده کړه نو د امام ابوحنیفه په نېز مَالِک نَه ګرزي.د مَالِک جوړېدو لپاره به دُوبَارَه د امام څخه اِجَازَت غُوَاړِي .

وجه : (۱) کومه مځکه چې فَتح کړي هغه د مَالِ غَنِیمَت په درجه کې سوه.او مَالِ غَنِیمَت د امام د اِجَازَت بغیره نَه سي تقسیم کېدلائي.نوځکه د مَوَات مځکې هم د امام د اِجَازَت بغیره څوک مَالِک نَه سي جوړېدلائي (۲) دغه رنګه چې خلګ پرمځکه

قبضه کوي نو دا به ډېر مُشکِل وي.نوځکه د امام د اِجَازَت بغیره مَالِک نَـه ګرزي.پـه نَن زمـان کـي د حکومـت د رِجِسټریشَـن بغیـره خلـګ دمځکـي او جائیـداد مَالِکـان نَـه ګرزي هغه هم پر دغه قاعده دئ .

فائده : صاحبین فرمائي چي د امام د اِجَـازَت بغیـره شَړَه مځکـه آبـاده کـړي نومَالِـک ګرزي .

وجه : دُوئي فرمائي چي په حدیث کي دئ عَن سَعِیدِبنِ زَیدٍ عَنِ النّبِيّ ﷺ قَالَ مَن اَحیَا اَرضًـا مَیتَةً فَهِيَ لَهُ وَلَیسَ لِعَرَقٍ ظَالِمٍ حَقٌ (الف) (ترمذي شریف.باب مـاذکرفي احیـآءارض المـوات ص۲۵۶نمبر۱۳۷۸/ابوداؤدشریف.باب في احیآءالموات ص۸۱نمبر ۳۰۷۳/بخاري شریف.باب من احیا ارضًامیتةً ص۳۱۴نمبر۲۳۳۵) په دې حدیث کي دئ چي هرڅـوک شَـړَه مځکـه آبـاده کړي هغه ئې مَالِک ګرزي.په دې حدیث کي دمَالِک

حاشیه : (الف) حضور وفرمائل چاچي شَړَه مځکه آباد کړه نو هغه دهغه ده. اودظالم د آبادکونکي لپاره هیڅ حَق نسته .

[۱۶۶۵](۴) وَیَملِکُ الذِّمِّيُ بِالاِحیَـآءِ کَمَـا یَملِکُـهُ المُسـلِمُ [۱۶۶۶](۵) وَمَن حَجّرَ اَرضًا وَلَم یُعَمّرهَا ثَلْثَ سِنِینَ اَخَذَهَا الاِمَامُ مِنهُ وَدَفَعَهَـا اِلْـي غَیرِهِ .

جوړېدولپاره د امام اِجَازَت شرط نَه دئ.نوځکه د امام اِجَازَت ضروري نَه دئ .

پام لرنه : د دُوئي په نبز د اِنتِظَام او اِنصِرَام لپاره چي د امام څخه اِجَـازَت وَاخلِـي نـو دا ښَه کار دئ .

[۱۶۶۵](۴) ذِمّي په آبادولوسره دمَوَات مَالِک ګرزي لکه مسلمان چي مَالِک ګرزي .

تشریح : مسلمان چي شَړَه مځکه آبادکړي مَالِک ئې ګرزي دغه رنګه چي ذِمّي د امـام په اِجَازَت سره شَړَه مځکه آباده کړي نو هغه ئې هم مَالِک ګرزي .

وجه : په دَارُالاِسلاَم کي دټېکس د اداٰء کولو وروسته ذِمّي هم دمسلمان په شـان حقـوق پیدا کوي نوځکه دئ هم دمسلمان په شان دمځکي مَالِک ګرزي.په دې اَثَر کي ودي ته اِشَارَه سوې ده قَالَ (اِبنُ عَبَاسٍ) اِنّهُم اِذَا اَدّوا اَلجِزیَةَ لَم تَحِلّ لَکُم اَمـوَالَهُم اِلاّ بِطِیـبِ اَنفُسِهِم (مصنف عبدالرزاق.مایحل من اموال اهل الذِّمّةِ ج۶ص۹۱نمبر۱۰۱۰۲)

[۱۶۶۶](۵) یوچا په مځکه کي د ډَبَرِي نِشَان ولګاوئ او هغـه ئـې درې کَالَـه نَـه کـړه آبادَ نو امام به هغه دده څخه اَخلِي او بَل ته به ورکوي .

تشریح : یَوچَا پرشَړَه مځکه باندي پرڅلور طرفه د ډَبَرُو نِشَانُو وکړه او ګواکه پرهغـه ئې قبضه وکړه لېکن درې کَالَه هغه شـړه مځکـه باقاعـده آبـاده نَـه کـړه بلکـه شـړه او وِیرَانَه پَرِېښِېوَلَه نو امام به اُوس دده څخه اَخلِي بَل چاته به ورکوي .

وجه : (١) حضور وبِلاَل بِنِ حَارِث ته شَړَه مځکه ورکړې وه.هغو څو کَالَه نَه کړه آباده نوپه څونه اندازه مځکه چي هغه نَه وه آباده کړې هغه ئې دده څخه واخستله

[١٦٦٧](٦) وَلاَيَجُوزُ اِحيِا ءُ مَا قَرُبَ مِنَ العَامِرِ وَ يُترَکُ مَرعًي لاَهلِ القَريَةِ وَمَطرَحًا لِحَصَائِدِهِم .

وبَل چاته ورکړه عَنِ الحَارِثِ بِنِ بِلاَلِ بِنِ الحَارِثِ عَن اَبِيهِ اَنّ رَسُولَ اللهِ ﷺ اَخَذَ مِنَ المَعَادِنِ القَبِيلَةِ اَلصّدَقَةَ وَاَنّهُ اَقطَعَ بِلاَلُ بِنِ الحَارِثِ اَلعَقِيقَ اَجمَعَ فَلَمّا کَانَ عُمَرُ قَالَ لِبِلاَلِ اَنّ رَسُولَ اللهِ لَم يَقطَعکَ لِتَحَجّرَهُ عَنِ النّاسِ لَم يَقطَعکَ اِلاّ لِتَعمَلَ قَالَ فَاَقطَعَ عُمَرُ بِنِ الخَطّابِ لِلنّاسِ اَلعَقِيقَ (الف) (سنن للبيهقي.باب من اقطع قطيعة او تحجّرارضًاثم لَم يعمرها اولم يعمربعضهاج٦ص٢٤٦نمبر١١٨٢٤) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي که صرف نِشَان پرولګوي او آباد نَه کړي نو دده څخه به اَخستَل کيږي (٢) او د درو کَالُ قَيدپه دې اَثَرکي دئ قَالَ عُمَرُ مَن اَحيَا اَرضًا مَيتَةً فَهِيَ لَهُ وَلَيسَ لِمُتَحَجّرٍ حَقٌ بَعدَ ثَلاَثَ سِنِينَ (ب) (نَصبُ الرّايَةِ ج٤ص٢٩٠/ اعلآءالسنن نمبر٥٧٧٢) ددې اَثَرڅخه معلوم سو چي د درو کالُ وروسته دده حَق نسته (٣) دا مځکه صرف دنشان لګولوپاره نَه ده ورکړې بلکه د آبادولو لپاره ورکړې ده. نو ځکه په درې کالَ کي اندازه کيږي چي دا مځکه د آبادولو قابله ده که نَه ده.نوځکه درې کاله وروسته به بېرته ځيني اَخلِي دنورو خلګو ترمينځ به تقسيم کوي .

[١٦٦٧](٦)اودهغه آبادوَل جواز نَه لري چي آبادئ ته نژدي وي.او پرېښول کيږي به دکَلِي وَالُو دحيوانانو د کتلولپاره اودهغوئي دپرېسوو ګښت د اَچوُلُولپاره .

تشريح : و آبادئ او کَلِي ته نژدې چي کومه خَالِي مځکه ده هغه دي وچاته د آبادولولپاره نَه ورکوي .

حاشيه : (الف) حضور مَعَادِن قَبِيلَه دصدقې په حَيث واخستله او وبِلاَل بِنِ حَارِث ته ټوله مَقَامِ عَقِيق ورکړئ. بياچي دحضرت عُمَر زمانه راغله نوهغو وحضرت بِلاَل ته وويل چي حضور وتاته صرف ددې لپاره نَه وه درکړې چي تَه دخلګوڅخه وَاخلَه نِشَان پر ولګوه دځان سره کښېږده.بلکه د آبادولو لپاره نو حضرت عُمَر مَقَامِ عَقِيق وخلګو ته ورکړئ (ب) حضرت عُمَر وفرمائل کوم چاچي شړه مځکه آباد کړه نو هغه د هغه ده. او د خَالِص نِشَان لګونکي لپاره د دُرُو کالو وروسته هيڅ حَق نسته .

[١٦٦٨](٧) وَمَن حَفَرَ بِئرًا فِي بَرِيّةٍ فَلَهُ حَرِيمُهَا .

وجه : (١) هغه خو دکَلِي وَالُو دفائدې لپاره ده.مثلاً دهغوئي دحيوانانود څَړ لپاره.او چي کوم غَنَم وُربُشِي ئې پرېکړي وي دهغه داَچوُلُو او وُچوُلُو لپاره ده.نوځکه هغه دي هيڅ چا ته نَه ورکوي (٢) په حديث کي دئ عَن جَابِرِ بِنِ عَبدِاللهِ عَنِ النّبِيّ ﷺ مَن اَحيَا اَرضًا دَعوَةً مِنَ المِصرِ اَو رَميَةً مِنَ المِصرِ فَهِيَ لَهُ (الف) (مُسنداحمد.مُسندجابربن عبدالله ج٤ص٣٣٧نمبر١٤٤٩٦)په دې حديث کي دئ چي

دكَلِي ښخه يَوَه عَنوَه يـا دغَشِـي دمُښَـتُو پـه انـدازه ليـري دي مَـوَات مځـكـه آبـاد كـړي.
سَمِعتُ عِكرَمَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ اِنّ اللهَ جَعَلَ لِلزّرعِ حُرمَةً غَلوَةً بِسَهمٍ. قَـالَ يَحيْ قَـالُوا : وَالغَلـوَةُ مَـابَينَ ثَلْـثَ مِائَـةِ زِرَاعٍ وَخَمسِـينَ اِلْـي اَربَـعِ مِائَـةٍ (سـنن للبيهقي.بـاب ماجآءفي حريم الآبار ج۶ ص۲۵۷نمبر۱۱۸۷۳) پـه دې حـديث كـې يَـوَه غَلـوَه يعنـي دَرېنِيم سَوَه (350) هَتِي ليري پورې د آبـادئ كولوښخـه منـع كـړې ده.ددې لپـاره چـي دكَلِي خَلَک دغه مځكه درِفَاهِ عَام لپاره استعمال كړي.

پـام لرنـه : كـه ددې ښخـه نـژدې مځـكـه آبـاد كـړي او امـام اِجَـازَت وركـړي نوهغـه آبادونكئ سړئ ئې مَالِک جوړيږي .

اُصُول : ښَه خبره داده چي د رِفَاه عَام مځكه وچاته په مِلكِيّت ورنه كړي .

لُغَت : مَرعْي : دحيوانانو دكَتُلُو ځائ.د ,,رَعِيَ,, ښخه مُشتَق دئ. حَصَـائدُ : پرېسَوَئ كَښت. اَلعَامِرُ : آبادي .

[۱۶۶۸](۷) كوم چاچي په ځنګل كي څاه وَكِنَئ نو دده لپاره دهغه حَرِيم سته .

تشريح : دڅَاه پر څلور طرفه چي كوم ځائ پرېښول كيږي په دې خَاطِرچي بَل څوک دلته څَاه جوړ نَه كړي هغه ځائ ته د څَـاه حَـرِيم وائـي.دا ددې مقصـدلپاره وي چـي و اَوّل څَاه ته نژدې بَل څوک څَاه جوړ كړي نو ددې اُوبَه وهغه څَـاه تـه وُلاَړِي نَـه سـي او

حاشيه:(الف)يوچا دښار ښخه دغَشِي د تَسَوُلُو د ليري يتوب په اندازه مځكه آباده كړه نوهغه مځكه دهغه ده .

[۱۶۶۹](۸) فَـاِن كَانَـت لِلعَطَـنِ فَحَرِيمُهَـا اَربَعُـونَ ذِرَاعًـا وَاِن كَانَـت لِلنّاضِحِ فَحَرِيمُهَا سِتّونَ ذِرَاعًـا وَاِن كَانَـت عَينًـا فَحَرِيمُهَـا خَمسُ مِائَـةِ ذِرَاعٍ فَمَن اَرَادَ اَن يَحفَرَ بِئرًا فِي حَرِيمِهَا مُنِعَ مِنهُ .

اَوّل څَاه وَچ نَه سي.يا د دې دُوَم څَاه ګندګي وهغـه اَوّل څَـاه تـه وُلاَړه نَـه سـي.نوځكه بېله اِجَازَتَه و دې څَاه ته نژدې بَل څَاه بايدجوړ نَه سي .

اُصُول : دا مسئله پـردې اُصُـول مُتَفَرّع ده چـي بَـل چاتـه نُقصَـان بايـد ونَـه ورسـيږي ,,لاَضَرَرَ وَلاَضَ◌رَارَ,, .

لُغَت : بَرِيّةٌ : ځنګل .

[۱۶۶۹](۸) كه چيري هغه څَاه د وُښَـانُو د اُوبَوُلـو لپـاره وُ نـو دهغـه حَـرِيم څلوېښـت هَتِي دئ.او كه دكَښت د اُوبَوُلُو لپـاره وُ نودهغـه حَـرِيم شُپېتَه هَتِـي دئ.او كـه چِينَـه وُ نودهغه حَرِيم پِنځَـه سَوَه هَتِـي دئ نوكـه چيـري څوكـه ددې پـه حَـرِيم كـي څَـاه كِنـدَل وَغُوَارِي نو هغه به مَنع كيږي .

تشريح : كه ځَاه د وُښ د اُوبَوُلُو لپاره وُ نودهغه حَرِيم ځلوېښت هَتِي دئ.او كه د كَښت د اُوبَوُلُولپاره وُ نودهغه حَرِيم شُپېتَه هَتِي دئ.او كه چيري چِينَه وي نودهغه حَرِيم پِنځَه سَوَه هَتِي دئ.ځكه چي دچِينې اُوبَه ښُوَېيږِي (ښكيږي) .

وجه : (١) په دې حديث كي ددې ثبوت سته عَن عَبدِاللهِ بِنِ مُغَفّلٍ اَنّ النّبِيّ ﷺ قَالَ مَن حَفَرَ بِئرًا فَلَهُ اَربَعُونَ ذِرَاعًا عَطَنًا لِمَاشِيَتِهِ (الف) (ابن ماجه شريف.باب حريم البئر ص٣٥٩نمبر٢٤٨٦) ددې څخه معلوم سوچي د وُښ د اُوبَوُلُودځَاه لپاره ځلوېښت هَتِي حَرِيم دئ.او دا به پرڅلور طرفه ځلوېښت ځلوېښت هَتِي وي.او دكَښت د اُوبَوُلُو دځَاه پِنځُوس هَتِي حَرِيم دئ ددې دليل دا حديث دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ حَرِيمُ البِئرِالبَدِيّ خَمسَةٌ وَعِشرُونَ ذِرَاعًا وَحَرِيمُ البِئرِالعَادِيّةِ خَمسُونَ ذِرَاعًا وَحَرِيمُ العَينِ السّائِحَةِ ثَلاَثُ مِائَةِ ذِرَاعٍ وَحَرِيمُ عَينِ الزّرعِ سِتّ مِائَةِ ذِرَاعٍ (الف) (دارقطني.كتاب في الاقضية والاحكام وغيرذالک ج٤ص١٤١ نمبر٤٤٧٣/سنن للبيهقي.باب ماجاء في حريم الآبارج٦ص٢٥٧نمبر١١٨٦٩) ددې څخه معلوم سوچي عَادِي ځَاه يعني دكَښت داُوبَوُلُو دځَاه حَرِيم پِنځُوس هَتِي دئ.او دبيهقي په رِوَايَت كي دا اضافه هم راغلې ده ,,نَوَاحِيهَاكُلِّهَا,, ددې څخه معلوم سوچي چي دځَاه پر څلور طرفه پِنځُوس پِنځُوس هَتِي حريم بايد وي (٢) هسي خو هم دكَښت د اُوبَوُلُو لپاره وُښ پرڅلور طرفه ګرزي.نوځكه پرڅلور طرفه بايدپِنځُوس هَتِي حريم وي او دچينې حريم به پِنځَه سَوَه هَتِي وي ددې دليل دا مختته تېرسوئ حديث دئ حَرِيمُ عَينِ الزّرعِ سِتّ مِائَةِ ذِرَاعٍ. او بَل اَثَر دا دئ وَقَالَ الزّهرِيّ وَسَمِعتُ النّاسَ يَقُولُونَ حَرِيمُ العُيُونِ خَمسُ مِائَةِ ذِرَاعٍ (ب) (سنن للبيهقي.باب ماجاء في حريم الآبارج٦ص٢٥٧نمبر١١٨٦٩) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي دچينې بايد پِنځَه سَوَه هَتِي حريم وي .

لُغَت : عَطَنٌ : د وُښ د اُوبَوُلُو ځَاه. نَاضِحٌ : دكَښت د اُوبَوُلُو ځَاه. يا هغه وُښ چي كَښت په اُوبَوِي .

[١٦٧٠](٩) وَمَا تَرَکَ الفُرَاتُ اَوِ الدّجلَةُ وَعَدَلَ عَنهُ المَآ ءُ فَاِن كَانَ يَجُوزُ عَودُهُ اِلَيهِ لَم يَجزِ اِحيَاءُهُ .

[١٦٧٠](٩) كومه مځكه چي دفُرَات او دَجلې كارېز پرېيَښې ده او اُوبَه دهغه څخه ليري سوي دي.كه چيري دأُوبُوبېرته رَاتَلَل مُمكِن وي نودهغه آبادول جوازنَه لري .

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل كوم چاچي ځَاه وَكِينَئ نودهغه لپاره ځلوېښت هَتِي حَرِيم دئ د حيوان د اُوبَوُلُو لپاره .

حاشيه : حضور وفرمائل دصَحرآء دڅَاه حريم پنځويشت هَتِي او دځنګلَ دڅَاه حريم پنځوس هَتِي.پرمځکه بَيَدُونکِي چيني حريم درې سوه هَتِي او د ګبنت دچيني حريم شُپَږ سوه هَتِي دئ (ب) حضرت زُهرِي وفرمائل چي دخلګو وينا مي اورېدلې ده چي دچينې حريم بايد پِنځَه سوه هَتِي وي .

[۱۶۷۱](۱۰) وَاِن كَانَ لاَيُمكِنُ اَن يَعُودَ اِلَيهِ فَهُوَ كَالمَوَاتِ اِذَا لَم يَكُن حَرِيمًا لِعَامِرٍ يَملِكُهُ مَن اَحيَاهُ بِاِذنِ الاِمَامِ .

تشريح : مثلاً فرَات يا دَجلَه كارېز پر يوځائ بَيَدَئ.بيائې هغه ځائ پرېښوئ پر بَلَه خُوَا ئې بَيَدَل شروع کړه نو اندازه دي ولګوي چي دُوبَارَه بيا دې خُوَا ته د راتلو امكان لري كه نَه لري؟ كه چيري دوباره بيا هغه ځائ ته د اُوبُو د راتلو امكان وي نو هغه ځائ آبادول جواز نَه لري .

وجه : د بَيَدُلُولپاره بايد وَالَه (وِيَالَه) وي كه نَه نو دومره اُوبَه به پركومه لاَرَه ځي؟ نوځكه دا د عوامُ دفائدې ځائ دئ دغه ځائ بايد هيڅ چاته د آبادولولپاره ورنه کول سي.او كه چيري دې خوا ته د اُوبُو بېرته د راتلو اِمګَان نَه وي نو بيا دا مځكه د مَوَات په شان ده.كه د چا ددې سره خپل ذَاتِي حَق مُتَعَلّق نَه وي او د امام لخوا اِجَازَت وسي بيا چې هرڅوک آبادَ كړي هغه څوک ئې مَالِک ګرزي .

[۱۶۷۱](۱۰) او كه د اُوبُو د دُوبَارَه رَاتَګ اِمګَان نَه وي نوهغه د مَوَات مځكي په شان ده.كه د يَوَه آبادكونكي حريم نَه وي نوچي څوک ئې آباد كړي هغه ئې مَالِک ګرزي كه چيري د امام په اِجَازَت سره آباد كړه .

تشريح : چي د دَجلَه يا فُرَات په شان لُوئي لُوئي كارېزو اُوبَه ليري سوې او دوباره ئې هغه ځائ ته د راتلو اِمګَان نَه وي نو دغه ځايونه هم د مَوَات مځكي په شان دي.هرڅوک چې آباد كړي هغه ئې مَالِک ګرزي.لېكن په دې كي دُوَه شرطونه دي. يو خو دا چي هغه ځائ د يَوآباد كونكي حَرِيم نَه وي.مثلاً ديَوچَا بَند نَه وي. او دوم شرط دا دئ چي د امام په اِجَازَت سره هغه ځائ آباد كړئ وي .

وجه : د امام د اِجَازَت شرط مخكي تېرسوئ دئ.او د بَل حَرِيم به نَه وي دائې ځكه وويل چي كه پر دې باندي د يَوچَا قبضه وي نو دا مځكه د مَوَات په حُكم كي نَه سوه .

[۱۶۷۲](۱۱) وَمَن كَانَ لَهُ نِهرٌ فِي اَرضِ غَيرِهِ فَلَيسَ لَهُ حَرِيمٌ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰي اِلاّ اَن يَكُونَ لَهُ البَيّنَةُ عَلْي ذَالِکَ وَعِندَهُمَا لَهُ مَسَنّاةُ النّهرِ يَمشِي عَلَيهَا وَيُلقِي عَلَيهَا طِينُهُ .

[۱۶۷۲](۱۱) كه د بَل په مځكه كي د چَا كارېزوي نو دهغه لپاره حَرِيم نسته د امام ابوحنيفه په نبز مګر كه چيري پرهغه باندي بَيّنَه وي.او دصاحبين په نبز دهغه لپاره به د كارېز پَتِلَئ وي چي پرهغه دئ تَګ وكي او خَاوُرِي پر واچوي .

تشريح : يوخو دا دئ چي په مَوَات مځکه کي کارېز جوړکړي.نودې وخت کي به د کارېزسره حَرِيم لازم وي که نَه نو دکارېز خَتِي او خَاوْرِي به چيري اَچَوِي؟ دلته مسئله دا ده چي دبَل چا په مځکه کي د يَوچَا کارېز ثابت سو نو آيا اُوس به د کارېز دثبوت سره د حريم مځکه هم لازمًا ثابتيږي که نَه ؟ نو امام ابوحنيفه فرمائي چي بغيره د بَيّنې دحريم مځکه نَه سي ورته ملاوېدلائي .

وجه : (١) د بَل مځکه ده نوځکه د کارېز دثبوت څخه د حريم ثابتېدل ضروري نَه دئ ترڅو چي بَيِّنَه نَه وي (٢) او په حديث کي خو د څَاه او چينې لپاره حريم ثابت سوئ دئ.د کارېز لپاره د حريم ثبوت نسته نوځکه يَو پر بَل نَه سي قياسېدلائي چي د بَل چا په مځکه کي دي حريم ثابت سي .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چي دبَل په مځکه کي بغيره دبَيّنې حريم نَه سي ثابتېدلائي .

فائده : صاحبين فرمائي چي کارېز ثابت سو نو د يَوې نَرَئ پَتِړَئ ثبوت ددې د لَوَازِمَاتُ څخه دئ. که نَه نو د کارېز اُوبَه به د اُوبَوُلُو لپاره پر کومه لاَرَه ځي؟ دا کارېز صفائي او کِنَل غُوَاړِي نو ددې خَتِي به چيري اَچَوِي؟ نوځکه يَوَه نَرَئ پَتِلَئ او بَند خو به لازمًا ورکوي کوم چي ددې ضرورت دئ .

وجه : (١) ديَوشِي ثبوت دهغه شِي د لَوَازِمَاتُ سره سره وي نوځکه پَتِلَئ يعني د وِيَالِي ژَئ او کِنَارَه به ورکوي (٢) حديث تېرسوئ دئ وَحَرِيمُ العَينِ السّائِحَةِ ثَلاَثُ مِائَةِ ذِرَاعٍ وَحَرِيمُ عَينِ الزّرع سِتّ مِائَةِ ذِرَاعٍ (الف) (دارقطني.کتاب الاقضية والاحکام ج۴ص۱۴۲نمبر۴۴۷۳) چي د چينې لِپَاره درې سوه هَتِي او شُپَږ سوه هَتِي حريم دئ.نو کارېز هم د چينې يو قِسم دئ نوځکه دهغه لپاره به هم دحريم ثبوت وي .

اُصُول : د دُوئي اُصُول دا دئ چي يو شَئ ثابت سي نو دهغه لَوَازِمَات په خپله ثابتيږي.ځکه چي هغه ضروري دي .

لُغَت : مَسَنّاةٌ : د اُوبُو او رُود د رُوګاوْېدُو لپاره بند .

حاشيه : (الف) پر مځکه بَيَدُونکِي چينې حريم درې سوه (300) هَتِي دئ. او د ګَښت ګرانو دچينې حريم شُپَږ سوه (600) هَتِي دئ .

..... كِتَابُ المَاذُونِ .....

[١٦٧٣](١) اِذَا اَذِنَ المَوْلي لِعَبدِهِ اِذنًا عَامًّا جَازَ تَصَرّفُهُ فِي سَائِرِ التِّجَارَاتِ .

..... كِتَابُ المَاذُونِ .....

ضروري پام لرنه : داسي غُلاَم چي مَوْلي د تجارت كولو اجازت نَه وُ وركړئ اُوس ئې وهغه ته دتجارت اجازت وركړئ نو دې ته مَاذن غُلاَم وائي.يا و كِشنِي بَچِي ته خپل وَلِي دتجارت كولو اِجَازَت وركړئ نوهغه ته مَاذون بَچِئ ويل كيږي.ددې ثبوت په دې حديث كي دئ عَن اَنَسِ بِنِ مَالِكٍ قَالَ حَجَمَ اَبُوطِيبَةُ النّبِيّ فَامَرَ لَهُ بِصَاعٍ اَو صَاعَينِ مِن طَعَامٍ وَكَلّمَ مَوَالِيهِ فَخَفّفَ عَن غَلّتِهِ اَو ضَرِيبَتِهِ (الف) (بخاري شريف.باب ضريبة العبدوتعاهدضرائب الامام ص ... نمبر٢٢٧٧) ددې حديث څخه ثابت سوچي حضرت اَبُوطِيبَة غُلاَم وُ او مولْي وده ته په اُجرَت د كار كولو اِجَازَت وركړئ وُ.بَس په دغه ضِمن كي دتجارت معامله هم رَاځِي .

اُصُول : (١) ددې باب مسئلې پردې اُصُول مُتَفَرّع كيږي چي و مَولْي ته د غُلاَم دتجارت يا يَو كار كولو څخه نُقصَان بايد نَه وي.البته غُلاَم عاقل بالغ سړئ دئ نو كه دتجارت په دَورَان كي دئ د يَوشِي اِقرَار وكي يا يَوداسي حركت وكي چي دهغه لكبله پرده باندي جُرمَانَه لازميږي نو هغه به دده د آزادېدو وروسته وصوليږي چي ومَولْي ته نُقصَان و نَه رسيږي (٢) دا اُصُول هم چليږي چي دتجارت په دَورَان كي عُرفِي رَوَادَارِي يا په يَوچَا څَه خُوَړَل او چيښَل كوم چي په تِجَارَتِي مُعَاشَرَه كي رائِج وي هغه كولائي سي .

[١٦٧٣](١) كه مَولْي وغُلاَم ته عام اِجَازَت وركړئ نو دده تَصَرّف په هر ډَوَل تجارت كي جائزدئ .

حاشيه : (الف) حضرت ابوطيبه وحضور ته ښکَر ورولګاوئ او حضور وده ته ديوې صَاع يا د دُوُ صَاع خُوَرَاكِي مَوَاد وركولو حُكم وكئ او دده د مَولْي سره خبره وكړه نو دده په غَلّه يا تَاوَان كي تَخفِيف وكړئ .

[١٦٧٤](٢) وَلَهُ اَن يَشتَرِي وَيَبِيعَ وَيُرهِنَ وَيَستَرهِنَ [١٦٧٥] (٣) وَاِن اَذِنَ لَهُ فِي نَوعٍ مِنهَا دُونَ غَيرِهِ فَهُوَ مَاذُونٌ فِي جَمِيعِهَا .

تشريح : مَولْي چي وغُلاَم ته اِجَازَت وركاوئ نو د يَوخَاص شِي د رَانِيوُلُو يا خَرڅَوُلُو تخصيص ئې ونَه كړئ نو ده ته به عام اِجَازَت حاصل وي او غُلاَم په هرډَوَل تجارت كي

آزاد دئ.یعني دهرډَوَل تجارت کولو اَهلِیّت به دئ لري.البته تجارت دي هغه تجارت کوي کوم چي دمَولي خُوَښ وي .

وجه : په اَثَرکي راغلي دي قَالَ سُفیَانُ وَنَحنُ نَقُولُ اِذَا بَعَثَهُ بِمَالٍ کَثِیرٍ یُبتَاعُ بِهِ قُلنَا اِذنٌ لَهُ فِي التِّجَارَةِ وَغَرّالنّاسُ مِنهُ وَاِن کَانَ اِنّمَا بَعَثَ بِالدِّرهَمِ وَالدِّرهَمَینِ فَلَیسَ بِشَیئٍ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب العبدالماذون ماوقت اذنه ج۸ص۲۸۴نمبر ۱۵۲۳۰)

[۱۶۷۴](۲) و ده ته جواز سته چي رَایَنِیسِي او خرڅ ئې کړي ګَرَوْ کښیږدي او په ګَرَوْ ئې کښېږدي .

تشریح : د مَولْي لخوا دهرډَوَل تجارت کولو اجازت ملاؤسو نوځکه دئ د آزاد اِنسَان په شان هرشَئ اخستلائي سي.خپل مَال په ګَرَوْ اِیښُولائي سي.او دبَل چا مَال دځان سره ګَرَوْ اِیښُوَلائي سي.

وجه : دا ټوله کارونه دتجارت مُعَاوِن کارونه دي او په تجارت کي ددې کارو ضرورت پیښیږي نوځکه غُلاَم دغه ټوله کارونه کولائي سي .

[۱۶۷۵](۳) که وده ته اِجَازَت ورکړئ ددې ڜخه په یَوَه قِسم کي نَه په ټولو کي نو و ده ته دهغه په ټولو کي اِجَازَت سته .

تشریح : مَولْي په یَو مخصوص شِي کي دتجارت کولواجازت ورکړئ نوپه ټولو شیانو کي به وده ته د تجارت اَهلِیّت حاصل سي.د تجارت اَهلِیّت جلا شَئ دئ. البته دئ به دهغه شِي تجارت کوي کوم چي دمَولْي خُوَښَه وي .

حاشیه : حضرت سُفیَان وفرمائل که وغُلاَم ته ډېر مَال ورکړئ دخرڅولو لپاره وَاستَاوَئ نو موږ به دا وایو چي وده ته په تجارت کي اِجَازَت دئ.او خلګ دهغه ڜخه ډوکه خُوَړَلاَئي سي.او که وده ته یَو دِرهَم او دُوَه دِرهَم ورکړل وَایَستَاوَئ نو هیڅ نسته یعني دتجارت اِجَازَت نسته .

[۱۶۷۶](۴) فَاِذَا اَذِنَ لَهُ فِي شَیٍٔ بِعَینِهِ فَلَیسَ بِمَاذُونٍ .

وجه : اصل خبره دا ده چي دمَولْي د اجازت ڜخه مخکي په غُلاَم کي دتجارت کولو اَهلِیّت نَه وُ. چي ڜَه وخت ده د یَوَه قِسم د تجارت کولو اجازت ورکړئ نو په ده کي دهرډَوَل تجارت کولو اَهلِیّت پیدا سو او دئ به په هرډَوَل شیانو کي مَاذون ګڼل کیږي.او چي دهغه خرید وفروخت وکي هغه به نَافِذ وي. دا بیا جلاخبره ده چي دمَصلَحَت خلاف وي یا دمَولْي نُقصَان پکښي وي نوځکه دمُتَعَیّن شي دتجارت بغیره د بَل شِي تجارت دي نَه کوي .

فائده : امام شافعي فرمائي چي اِجَازَت دمَولْي لخوا ورکول کیږي نوځکه هغه چي دکوم خاص شِي دتجارت اِجَازَت ورکړئ دئ په هغه مخصوص شِي کي به دئ مَاذُون وي په نورو شیانو کي نَه دئ مَاذُون .

[۱۶۷۶](۴) که وده ته دیومُتَعَیّن شي اجازت ورکړئ نو دئ مَاذُون نَه دئ .

تشريح : مَوْلي وغُلاَم ته وويل چي فُلانَئ كيږه رَانِيسَه او رَايَوړَه نو په دې صورت كي دا دتجارت اِجَازَت نَه سو بلكه دا خو دخدمت لپاره يوخاص شَئ رَانِيوَل او رَاوړَل دئ.نوځكه ددې څخه دتجارت اِجَازَت نَه حاصليږي او نَه غُلاَم مَاذُون دئ .

وجه : (۱) كه چيري ددې لَږشِي په رَانِيوُلُو سره غُلاَم مَاذُون وګرزي نو دخدمت دروازه به بَند سي.نوځكه دا دتجارت اِجَازَت نَه دئ (۲) په عام معاشره كي هم تجارت كول جلاشَئ دئ كوم چي دُوكَانداري ورته ويل كيږي.او سَودَا يا سامان رَاوړَل جلاشَئ دئ.دا خو د سَودَا او سامان رانيولو او رَاوړُلُو اجازت دئ (۳) په اَثَركي دئ اَنّ شُرَيحًا اِذَا جَعَلَ عَبدَهُ فِي صِنفٍ وَاحِدٍ ثُمّ عَدَاهَا اِلْي غَيرِهِ فَلاَضَمَانَ عَلَيهِ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب العبدالماذون ماوقت اِذنُه ج۸ص۲۸۳نمبر۱۵۲۲۸) د دې څخه معلوم سو چي دكوم شِي اجازت ئې وركړئ وي په هغه كي اجازت سته (۴) په اَثَر نمبر۱۵۲۳۰ كي

حاشيه : (الف) كه وغُلاَم ته د يَوَه شِي د تجارت كولو اِجَازَت وركړئ بيائې دهغه څخه تَجَاوُز وكئ نو پرمَوْلي باندي ضَمَان نسته .

[۱۶۷۷](۵) وَاِقرَارُالمَاذُونِ بِالدّيُونِ وَالمَغصُوبِ جَائِزٌ [۱۶۷۸] (۶) وَلَيسَ لَهُ اَن يَتَزَوّجَ وَلاَ اَن يُزَوِّجَ مَمَالِيكَهُ .

راغلي وُ چي يَو دِرهَم وركړي د يَوشِيِ د رانيولو لپاره وَاستَوِي نو ددې څخه عام اجازت نَه حاصليږي .

[۱۶۷۷](۵) د مَاذُون د دَين او دغَصب اِقرَار جائز دئ .

تشريح : ماذُون غُلاَم اقرار وكي چي پر مَا باندي د فُلاَنِي سرِي دَين يا مَا دفُلاَنِي سړي شَئ غَصَب كړئ دئ چي دهغه ادآء كول پر مَاباندي لازم دئ نو دارنګه اِقرَار كول جائز دئ .

وجه : دا ټوله دتجارت لَوَازِمَات دي.نوځكه د تجارت د اِجَازَت په وجه به ددې شيانو اِجَازَت هم وي .

اُصُول : دا مسئله پر دې اُصُول مُتَفَرّع ده چي د يَوَه شي داِجَازَت په وجه دهغه د لَوَازِمَاتُ اجازت هم كيږي .

[۱۶۷۸](۶) و مَاذُون ته جواز نسته چي وَادَه وكي او نَه دا چي وخپل مَملُوك ته وَادَه وَروَ كِي .

وجه : د غُلاَم د وَادَه كولو په وجه نُقصَان دئ.ځكه چي نَان نَفَقَه به ادآء كوي.سره ددې چي دا د تجارت دكارو څخه يَو كار هم نَه دئ نوځكه خپل وَادَه نَه سي كولائي.او كه وخپل مَملُوك ته وَادَه وَروَ كِي په هغه كي هم دغه نُقصَان دئ.نو ځكه وخپل مَملُوك غُلاَم يا مينځه ته هم وَادَه نَه سي وركولائي.سره ددې چي دا دتِجَارَت لَوَازِمَات يا مُعَاوِن هم نَه دي نوځكه دا كارونه نَه سي كولائي .

فائده : امام ابویوسف فرمائي چي ومینځه ته وَادَه وروکړي نو بَچَئ به پیدا سي هغه به هم مینځه یا غُلاَم وي او دمینځي مَهر به هم څَه راسي چي دفائدې شَئ دئ نوځکه مَاذُون غُلاَم وخپله مینځه ته وَادَه ورکولائي سي .

[۱۶۷۹](۷) وَلاَیُکَاتِبُ وَلاَ یَعتِقُ عَلٰي مَالٍ [۱۶۸۰](۸) وَلاَیَهبُ بِعِوَضٍ وَلاَبِغَیرِ عِوَضٍ [۱۶۸۱](۹) اِلاّ اَن یَهدِيَ الیَسِیرَ مِنَ الطَّعَامِ اَو یُضِیفَ مَن یُطعِمُهُ .

[۱۶۷۹](۷) او نَه دي مُکاتَب جوړوي او نَه دي دمال په بدله کي آزادوي .

تشریح : مَاذُون غُلاَم خپل غُلاَم مُکاتَب نَه سي جوړولائي او نَه د مَال په بدله کي آزادولائي سي .

وجه : که څَه هم په دې صورت کي مَال رَاځي لېکن مُکاتب جوړول او د مَال په بَدلَه کي آزَادَوَل دتِجَارَت لپاره لاَزِم یا مُعَاوِن نَه دئ.نوځکه مَاذُون غُلاَم دا کارونه نَه سي کولائي .

[۱۶۸۰](۸) او نَه دي هِبَه کوي په عِوَض او نَه بېله عِوَضَ .

وجه : بېله عِوَض هِبَه کول دمَولٰي سراسر نُقصَان دئ نوځکه بېله عِوَضَ مَاذُون غُلاَم هِبَه نَه سي کولائي.او چي د عِوَض په بَدلَه کې هِبَه کړي نو دا اِبتِدَ آءً مُفت او اِنتِهَآءً بَدلَه ده نوځکه دا هم نَه سي کولائي.سره ددې چي هِبَه کول دتجارت د لَوَازِمَاتُ څخه هم نَه ده لِهٰذَا دا نَه سي کولائي .

[۱۶۸۱](۹) مګر دا چي لَږ ډُوډَئ هَدیَه کړي یا مېلمستیا وکړي دهغه چا کوم چې وده ته ډُوډَئ ورکړې ده .

تشریح : مَاذُون ته چي رُوزَانَه کومه ډُوډَئ ملاؤیږي په هغه کي دچا مېلمستیا کول وَغُوَارِي یا وچاته تُحفَه ورکول وَغُوَارِي کوم چي په مُعاشَرَه کي یَو بَل ته په عَامَ توګه ورکول کیږي نو مَاذُون هم دغه ډُوډَئ یا تُحفَه ورکولائي سي.ځکه چي په دې خو تِجَارَت زیاتیږي او ګِرَاکَان نور هم زیاتیږي.یا کوم څوک چي کله نا کله په ده باندي ډُوډَئ خوري ده هغه مېلمَه کړئ نو دا جائز دئ .

وجه:دا لَږ ډېرشَئ دمُعَاشَرتِي اِجَازَت تحت ده ته حاصل دئ لِهٰذَادې اجازت سته.

[۱۶۸۲](۱۰) وَدُیُونُهُ مُتَعَلّقَةٌ بِرَقَبَتِهِ یُبَاعُ فِیهَا لِلغُرَمَآءِ اِلاّ اَن یَفدِیَهُ المَولٰي وَیُقَسّمَ ثَمَنَهُ بَینَهُم بِالحِصَصِ [۱۶۸۳](۱۱) فَاِن فَضُلَ مِن دُیُونِهِ شَئٌ طُولِبَ بِهِ بَعدَ الحُرِّیّةِ .

[۱۶۸۲](۱۰) او ددې قرض به د مَاذُون د ذِمّې سره مُتَعَلّق وي.دئ به دقرض خُوَاهَانُ لپاره خرڅول کیږي مګر که چیري مَولْي ددې بَدلَه ورکړي.او دده قیمت به د دُوئي په مینځ کي دحِصّو مُطَابِق تقسیمیږي .

تشریح : دتجارت په وجه چي کومه قَرضَه راغلې ده دا به د مَاذُون غُلاَم پرذِمّه وي. چي په نتیجه کي به کوم مَال چي غُلاَم مخکي ګټلَئ دئ په هغه به قَرضَه اداَء کیږي.که په دې هم پوره نَه سوه نو غُلاَم به خَرڅَوِي او دده په قیمت به دخلګو قَرضَه اداَء کیږي.او هغه به هم دقَرض خُوَاهَانُ دخپلوخپلوحِصّومطابِق اداَء کوي یعني مثلاً دڅلورو خلګو پِنځَه پِنځَه سوه دِرهَم قَرضَه ده.او په قیمت کي زَر دِرهَم راغلو نو هریوه ته به دهغه دقَرضې نِیمَئ حِصّه ملاؤیږي یعني هریوه ته به دُوَه نِیم دُوَه نِیم سوه ملاؤیږي. و یَوَه قرض خُوَاه ته به ټوله نَه ورکول کیږي.ودې ته ,,تَقسِیم بِالحِصَص,, ویل کیږي.چي دقرض خواهانو نُقصَان وَنَه سي.لېکن که مَولْي دخپل جیب څخه دقرض خواهانو قرض اداَء کړي نوبیا به غُلاَم نَه خرڅوي.ځکه چي وقرض خواهانو ته خپل خپل قرض ملاؤسو عَن اِبرَاهِیمَ قَالَ یُبَاعُ العَبدُ فِي دَینٍ وَاِن کَانَ اَکثَرَ مِن قِیمَتِهِ (مصنف عبدالرزاق.باب هل یباع العبدفي دینه؟ ج ۸ ص۲۸۵نمبر۱۵۲۳۷) په دې اَثَرکي دئ چي غلام به په دَین کي خرڅوي .

فائده : امام شافعي او امام زُفَر فرمائي چي په قرض کي به غُلاَم نَه خرڅوي .

وجه : ځکه چي په دي کي خو دمَولْي دفائدې پرځائ نُقصَان دئ .

[۱۶۸۳](۱۱) که چیري دده دقرضې څخه څَه پاته سي نودهغه مُطَالَبَه به د آزادېدو وروسته کیږي .

[۱۶۸۴](۱۲) وَاِن حَجّرَ عَلَیهِ لَم یَصِر مَحجُورًا عَلَیهِ حَتْي یَظهَرَ الحِجرُ بَینَ اَهلِ السّوقِ [۱۶۸۵](۱۳) فَاِن مَاتَ المَولْي اَو جُنّ اَو لَحِقَ بِدَارِ الحَربِ مُرتَدّ اً صَارَ المَاذُونُ مَحجُوراً عَلَیهِ .

تشریح : قرض دومره وُ چي دغُلاَم دخرڅولو وروسته چي کوم قیمت راغلئ په هغه هم قرض اداَء نَه سو بلکه څَه قرض باقي پاته سونو دا قرض به دمَولْي څخه نَه وُصُولیږي ځکه چي ده خو دا قرض نَه دئ اَخَستَئ.او دده غُلاَم خو یَو وار خرڅ سوئ دئ.او چي دقرض خواهانو نُقصَان وَنَه سي نو دهغه صرف دا یَوصورت پاته دئ چي څَه وخت دا مَاذُون غُلاَم آزاد سي هغه وخت به د دغه پاته قرض مُطَالَبَه کیږي.او دغُلاَم څخه به د وصولولو کوشش کیږي .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول ده چي حَتْي الامکان دقرض خُوَاه نُقصَان وَنَه سي .

[۱۶۸۴](۱۲) که پرده باندي حِجر وکئ نو پرده حِجر نَه کیږي ترهغه وخته چي د بَازَار دخلګو په مینځ کي حِجر ښکاره سي .

تشريح : مَولْي مَاذُون غُلاَم دتجارت څخه منع کړئ او حِجرئې پروکړئ نوچي کله د بَازَار و اکثرو خلګو ته ددې عِلم وسي هغه وخت به حِجر مُعتَبَروي.که ويوه دُوُ کسانو ته دحِجر عِلم وسي نوترهغو حِجرمُعتَبَر نَه دئ.په دې دوران کي که غُلاَم تجارت وکئ نو هغه نَافِذ دئ .

وجه : چي واکثرو خلګوته عِلم نَه وي نو دا اِمکان سته چي خلک دي دده سره د خريد او فروخت معامله وکړي په دا خيال چي پرده باندي حِجر نَه دئ سوئ او دُوئي ته به نُقصَان ورسيږي.نوځکه واکثروخلګوته دحِجر عِلم کېدل ضروري دئ .

لُغَت : حِجرٌ : غُلاَم دتجارت کولو څخه منع کول .

[۱۶۸۵](۱۳) که مَولْي وَفَات سويا بېهوښَه سو يا مُرتَدسو دَارُالحَرب ته ولاړئ نو مَاذُن به مَحجور سي .

[۱۶۸۶](۱۴) وَلَو اَبَقَ العَبدُ المَاذُونُ صَارَ مَحجُورًا عَلَيهِ [۱۶۸۷](۱۵) وَاِذَا حَجّرَ عَلَيهِ فَاِقرَارُهُ جَائِزٌ فِيمَافِي يَدِهِ مِنَ المَالِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي وَقَالاَ لاَيَصِحّ اِقرَارُهُ .

تشريح : مَولْي وفات سو نوکوم غُلاَم چي مَاذُون وُ هغه اُوس تجارت نَه سي کولائي مَحجُور به سي.يا مَولْي لېوَنَئ سو يا مُرتَدسو دَارُالحَرب ته وَتَښتېدَئ او هلته سو نو په دې صورتو کي دمَحجُورولو ضرورت نسته.غُلاَم په خپله مَحجُور کيږي .

وجه : په خپله مَولْي چي اَصِيل دئ په هغه کي دتجارت کولو اَهلِيّت نَه سوپاته نو وبَل ته به دتجارت کولو اِجَازَت څَه رنګه ورکوي؟ نوځکه چي پرمَولْي باندي دغه حالات راسي فَورًا به دده مَاذُون غُلاَم محجور وګرزي .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چي په اَصِيل کي دتجارت کولو اَهلِيّت نَه سي پاته نو دفَرع څخه هم صَلاَحِيّت ختميږي .

[۱۶۸۶](۱۴) که مَاذُن غُلام وَتَښتېدَئ نومَحجُور به سي .

وجه : پرتَښتېدُونکِي غُلام به د تَاجِرَانُ څَه اِعتِمَاد پاته سي؟ اوپه خپله به مَولْي پرده باندي دتجارت اِعتِمَاد څَه رنګه کوي؟ ځکه چي دئ خو به مَال يُوسِي غَائِب به سي.نوځکه تَښتېدُونکئ غُلاَم دتَښتېدُوسره سم دستي مَحجُور ګرزي .

[۱۶۸۷](۱۵) چي پرده باندي حِجروکړي نودده اِقرَار جائزدئ دهغه مَال په اَړَه کوم چي دده په لاَس کي دئ د امام ابوحنيفه پ ه نېز.اوصاحبين وفرمائل دده اِقرَار نَه صحيح کيږي .

تشريح : مَولْي پرمَاذُون غلام باندي حِجر وکړئ.اُوس چي کوم مَال دده په قبضه کي دئ دهغه په اَړَه دئ اقرار کوي چي دا مَال دفُلاَنِي سړي امانت دئ.يا دا مَال مَا دفُلاَنِي څخه غَصَب کړئ دئ.يا پر مَا باندي دفُلاَنِي سړي دومره دَين دئ دهغه په

[١٦٨٨](١٦) وَ اِذَا لَزِمَتهُ دُيُونٌ تُحِيطُ بِمَالِهِ وَ رَقَبَتِهِ لَم يَملِکِ المَـولْي مَا فِي يَدِهِ .

بدله کي به دا مَال ورکوئ نو ددې مَال په اَړَه دغه رنګه اِقرَار کول د امام ابوحنيفه په نېز جائز دئ .

وجه : (١) د اقرار دَار و مَدَار پر قبضه دئ.او پردغه مَـال بانـدي دغُـلاَم قبضـه سـته نوځکه دا اقرار صحيح دئ (٢) مَاذُون خـو اُوس دسـتي مَحجورسـوئ دئ نوځکـه دده په اړه به دغه ګمان کيږي چي دده پر ذِمّـه دخلګوکـوم حقـوق پاتـه دي محجـور دهغـه څخه ځان فَارِغ کول غُوَاړِي نوځکه دده اقرار صحيح دئ.البتـه کـوم مـال چـي مَـولْي ځيني وَاخَستَئ او دمَاذُون غُلاَم په قبضـه کي نَه سوپاته دهغه په اړه هيڅ ډَوَل اقرار نَـه سي کولائي .

فائده : صاحبين فرمائي چـي اُوس دئ مَحجُـورسـو نوځکـه ده تـه د اقـرار کولـو اختيـار نَـه سوپاته لِهْذَا دئ اقرار نَه سي کولائي.ځکه چي کوم مَال دغُلاَم په لاَس کي دئ هغه د مَـولْي مَال دئ او دبَل چا په مَال کي اقرار کول جواز نَه لري .

[١٦٨٨](١٦) که پر مَاذُون باندي دَين لازم سي دومره چـي دده دمَـال او ځـان اِحَاطَـه وکړي نو مَولْي دهغه مَال مَالِک نَه دئ کوم چي دده په لاَس کي دئ .

تشريح : پرمَاذُون غُلاَم باندي دومره دَين لازم سوچي کوم مَال دده په لاَس کي دئ که هغه هم خرڅ کړي او په خپله غُلاَم هم خرڅ کړي او دَين اداء کـول وَغُـوَاړِي نـو هـم دَين نَه په اداء کيږي.مثلاً دغُلاَم او دده دمَال قيمت پِنځَه زَرَه دِرهَم دي او پـرده بانـدي قَرضَه شْپَږ زَرَه دِرهَم راغله نو اُوس دده جَان او مَال ټوله په قَرض کي راګير سوي دي.او ګواکه د مَولْي دغُلاَم سره هيڅ شَئ پاته نَه سوټوله دقَـرض خُوَاهَـانُ سـو.نوځکه مَولْي ددې غُلاَم دمَال مَالِک نَه سوپاته.اُوس که دئ د غُلاَم مَال مَصرَف کـول وَغُـوَاړِي نـو نَه سي مَصرَف کولائي.خوبيا هم غُلاَم اُوس هم د مَولْي دئ که څَه هـم مَـال دمَـولْي نَـه سـو پاته .

[١٦٨٩](١٧) فَاِن اَعتَقَ عَبِيدَهُ لَم تُعتَق عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالاَ رَحِمَهُمَا اللهُ يَملِکُ مَافِي يَدِهِ .

وجه : (١) مَعنًا دا مَال او مَاذُون غُـلاَم دقَـرض خُوَاهَـانُ سـو (٢) پـه اَثَرکـي ودې تـه اِشَارَه سوې ده عَنِ الحَکَمِ فِي العَبدِالمَاذُونِ فِـي التِّجَـارَةِ قَـالَ لاَيُبَـاعُ اِلاّ اَن يُحِـيطَ الـدّينُ بِرَقَبَتِهِ فَيُبَاعُ حِينَئِذٍ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب هل يباع العبـدفي دينـه اذا اذن لـه او الحر؟ ص٢٨٥نمبر١٥٢٣٨) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي عَبدِمَاذُون پـه قَـرض کـي راګير او ډُوب سي نو خرڅېدلائي سي.ددې څخه دا اندازه کيږي چـي غُـلاَم او دغُـلاَم مَال اُوس د مَولْي نَه سو پاته .

[۱۶۸۹](۱۷) که دمَاذُون غُلاَمَان آزاد کړي نو د امام ابوحنیفه په نېز نَه آزادیږي. اوصاحبین فرمائي چي مَولْي دهغه شِي مَالِک گرزي کوم چي دده په لاَس کي دئ .

تشریح : دمَاذُون غُلاَم مال په قَرض کي گیر او ختم سو او گواکه مَولْي دده دمَال مَالِک نَه سوپاته نوځکه مَاذُون غُلاَم چي کوم غُلاَم رَانِیوَلَئ دئ دغه غُلاَم که چیري مَولْي آزادول وَغُوَارِي نو نَه سي آزادولائي .

وجه : دا غُلاَم گواکه دمَولْي نَه سوپاته بلکه دقَرض خُوَاهَانُ سو نوځکه که مَولْي د مَاذُون غُلاَم غُلاَمَان آزادول وَغُوَارِي نو نَه آزادیږي .

اُصُول : دا پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چي دقَرض خُوَاهَانُ نُقصَان نَه وي .

فائده : صاحبین فرمائي چي دمَاذُون غُلاَم جَان اومَال که څَه هم په قَرض کي رَاگِیر او ډُوب سي بیا هم هغه دمَولْي مَال دئ نوځکه که مَولْي دده مَال اِستِعمَالَوَل وَغُوَارِي نو استعمالولائي سي.دغه رنگه دمَاذُون غُلاَم رَانِیوَلِي غُلاَمَان هم آزادولائي سي.البته په دې صورت کي به مَولْي دقَرض خُوَاهَانُ دقرضوذِمّه دَارَه وي .

حاشیه : (الف) دمَاذُون غُلاَم په اَړَه حضرت حَکَم وفرمائل چي هغه به نَه خرڅول کیږي مگرکه چیري قَرض دده رَقَبَه ډُوبَه کړه بیا به هغه وخت خرڅول کیږي .

[۱۶۹۰](۱۸) وَاِذَا بَاعَ عَبدٌ مَاذُونٌ مِنَ المَولْي شَیئًا بِمِثلِ قِیمَتِهِ اَو اَکثَرَ جَازَ [۱۶۹۱](۱۹) وَاِن بَاعَ بِنُقصَانٍ لَم یَجزِ .

وجه : (۱) که څَه هم دده مال او جَان په قرضو کي رَاگِیرسوي او ډُوب وي بیا هم دا دمَولْي مَال دئ نوځکه مَولْي دده مَال هم استعمالولائي سي او دده رَانِیوَلِي غلاَمَان هم آزادَوَلاَئي سي (۲) په اَثَرکي ددې ثبوت سته عَنِ الزّهرِيِّ قَالَ اِذَا اَعتَقَ الرّجُلُ عَبدَهُ وَعَلَیهِ دَینٌ فَالدّینُ عَلْي السّیِّدِ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب هل یباع العبدفي دینه اذا اذن له او الحر؟ص۲۸۶نمبر۱۵۲۴۲) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي که مَولْي غُلاَم آزادَوَل وَغُوَارِي نو آزادولائي سي.البته دهغه قَرض به دمَولْي پرذِمّه سي.ځکه چي ده گواکه وقَرض خُوَاهَانُ ته نُقصَان وړورساوئ .

اُصُول : د دُوئي اُصُول دادئ چي بَهَرکَیف دمَاذُون مَال دمَولْي مِلکِیّت دئ.او په خپل مِلکِیّت کي و اِنسَان ته دتصرف کولو حَق حاصل وي .

[۱۶۹۰](۱۸) که مَاذُون غُلاَم پرمَولْي باندي په قیمت یَوشَئ خرڅ کړئ په مِثل قیمت یا زِیَات نوجائزدئ .

تشریح : مَاذُون غُلاَم چي په دَین او قَرض کي رَاگِیر وُ پرخپل مَولْي ئې یوشَئ خرڅ کړئ او هغونه قیمت ئې ځیني واخستئ کوم چي په بَازَار کي دئ نو دا جائز دئ .

وجه : ځکه چي مَولْي د یَو اَجنَبِي په شان پوره قیمت ورکړئ او هیڅ ډَوَل نُقصَان ئې نَه دئ ورکړئ نوځکه دا جائز دئ .

[۱۶۹۱](۱۹) او که په نُقصَان خرخ کړئ نو جواز نَه لري .

وجه : مخته تیرسو چي که پرمَاذُون غُلاَم دومره قَرض وي چي دده دجَان او مَال اِحَاطَه ئې کړې وي نودده مَال اُوس دمَولْي نَه سوپاته.ځکه چي که مَولْي په کَم قیمت رَانِیسِي نو دا تُهمَت به وي چي دا خو وقَرض خُوَاهَانُ ته نُقصَان وَررَسَوِي.نوځکه پـه کَم قیمـت بانـدي دمَاذُون غُلاَم څخه رَانِیوَل جواز نَه لري .

حاشیه:(الف)حضرت زُهرِي وفرمائل که څوک خپل غُلاَم آزادکړي اوپرهغه دَین وي نودَین ئې پرمَولْي دئ .

[۱۶۹۲](۲۰) وَاِن بَاعَـهُ المَـولْي شَـیئًا بِمِثـلِ القِیمَـةِ اَو اَقَـلّ جَـازَ البَیعُ[۱۶۹۳](۲۱)فَاِن سَلّمَهُ اِلَیهِ قَبلَ قَبضِ الثّمَنِ بَطَلَ الثّمَنُ.

[۱۶۹۲](۲۰) که مَولْي پرمَاذُون غُلاَم باندي یَوشَئ په مِثل قیمت یا دهغه څخـه پـه کَم قیمت خرخ کړئ نو جائز دئ .

تشریح : مَاذُون غُلاَم په قرض کي رَاکِیر وُ په دغـه حـال کـي دده مَـولْي پـر ده بانـدي یَوشَئ خرخ کړئ نوچي په مِثل قیمَت ئې خرخ کړي هم جائز دئ او که پـه کَـم قیمـت خرخ کړي هم جائز دئ .

وجه : که په مِثل قیمت خرخ کړي خو دغُلاَم هیڅ نُقصَـان نَـه دئ نوځکـه جـائزدئ.او که په کَم قیمت خرخ کړي هم جائزدئ ځکـه چي پـه دې صـورت کـي دمَـاذُون غُـلاَم فائده سوه.او چي مَولْي فائده وروسوي نووَلِي به جائز نَه وي؟ لِهٰذَا جائز دئ .

اُصُول : اُصُول دغه دئ چي دقَرض خُوَاهَانُ نُقصَان نَه وي .

[۱۶۹۳](۲۱) که مَولْي وغُلاَم ته مَبِیـع سُپُردکړه پرقیمـت دقبضـې کولوڅخـه مخکـي نوثَمَن به بَاطِل سي .

تشریح : هغه مَاذُون غُلاَم کوم چي په قَرض کي رَاکِیرسوئ دئ مَولْي پرهغه بانـدي یَوشَـئ خرخ کړئ او دهغه پرقیمت باندي دقبضې کولوڅخه مخکي مَولْي وغُلاَم ته مَبِیع حَوَالَه کړه نو دقاعدې په لحاظ به ددې قیمت بَاطِل سي .

وجه : دا قیمت پرمَاذُون باندي قَرض سو او دا قاعده ده چي دمَولْي پرخپل غُلاَم باندي هیڅ ډَوَل قَرضَه نَه وي ځکه چي غُلاَم خو ټوله دمَولْي مِلکِیّت وي.نوځکه پـرده بانـدي به قَرضَه څَه رنګه وي؟په دې وجه قیمت باطل ګرزي.یعني که په قضَاء قاضي سره مَـولْي دخپل غُلاَم څخه دمَبِیع قیمت اَخستَل وَغُوَارِي نو نَه سي اَخَستَلاَئي. البتـه اخلاقًـا بایـد غُـلاَم قیمت ورکړي .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُـول مُتَفَرّع ده چـي پرخپـل غُـلاَم بانـدي دمَـولْي هـیڅ ډَوَل قَرض نَه وي. ځکه چي غُلاَم په خپله ټوله دمَولْي دئ .

[۱۶۹۴](۲۲) وَاِن اَمسَــکَهُ فِــي يَــدِهِ حَتْــي يَســتَوفِيَ الــثّمَنَ جَــازَ

[۱۶۹۵](۲۳) وَاِن اَعتَـقَ المَـولْي العَبـدَ المَـاذُونَ وَعَلَيـهِ دُيُـونٌ فَعِتقُـهُ جَائِزٌ وَالمَولْي ضَامِنٌ بِقِيمَتِهِ لِلغُرَمَآءِ .

[۱۶۹۴](۲۲) او که مَبِيع په خپل لاَس کي وګرزوي چي ثَمَن وصـول کـړي نـو جـائز دئ .

تشريح : مَولْي پرخپل مَاذُون غُلاَم باندي يَوشَئ خرڅ کړئ بيائې سوچ وکړئ چـي کـه اَوّل ورکړم نو دقاعدې په رُوڼا کي ددې دقيمت مُطَاَلَبَه نَه سَم کولائي نوځکه مَبِيـع ئـې په خپل لاَس کي وَسَاتَل دهغې دقيمت مُطَاَلَبَه ئې وکړه نو دا جائز دئ .

وجه : د خرڅولو پرمَحَال مَـولْي د اَجنَبِـي پـه شـان دئ نوځکـه دخپلـي مَبِيـع دقيمـت د وصولولو لپاره د مَاذُون څخه مَبِيع مَنع کولائي سي .

لُغَت : اَمسَکَ : مَنع کړي. يَستَوفِي : وصول ئې کړي .

[۱۶۹۵](۲۳) او که مَولْي مَاذُون غُلاَم آزاد کړئ او پرهغه قَرضَه وي نـو دده آزادول جائزدئ او مَولْي به دده دقيمت ضَامِن وي دقَرض خُوَاهَانُ لپاره .

تشريح : مخته تيرسوچي که څَه هم پر مَاذُون غُلام بانـدي دومـره قَرضَـه راسـي چـي دده دجَان او دده دګَتِي ټولو اِحَاطَه ئې کړې وي خو بياهم دغُلاَم جَان دمَ◌ولْـي مِلکِيّـت دئ.که څَه هم دده ګَتَه دمَـولْي نَـه شـمېرل کيږي.نوځکـه کـه چيـري مَـولْي دغـه غُـلاَم آزداول وَغُـوَارِي نوجائزدئ.البتــه دغُــلاَم چــي څــومره قيمــت دئ مَــولْي دقَــرض خُوَاهَانُولپاره دهغونه قيمت ذِمّه دَارَه دئ.او هغونه قيمت بـه مَـولْي ادآء کـوي چـي بيـا دغه دقَرض خُوَاهَانُو تـرمينځ د فِيصَـديه لِحَـاظ تقسيم کـړل سـي.مثلاً پـر غُـلاَم بانـدي شُپَږزَرَه(6000)دِرهَم قرض وُ او غُلاَم په پِنځَه زَرَه(5000)وُ.نـومَـولْي بـه پِنځَـه زَرَه وقرض خواهانو ته ورکوي .

وجه : (۱) ځکه چي مَولْي چي غُلاَم آزاد کړئ نودغونه نُقصَان ئې وقرض خواهانو

[۱۶۹۶](۲۴) وَمَا بَقِيَ مِنَ الدّيُونِ يُطَالَبُ بِهِ المُعتَقُ [۱۶۹۷] (۲۵) وَ اِذَا وَلَدَتِ المَاذُونَةُ مِن مَولْيهَا فَذَالِکَ حِجرٌ عَلَيهَا .

ته وررساوئ (۲) په اَثَرکي ددې ثبوت سته قَـالَ اَصـحَابُنَاحَمَادٌ وَغَيـرُهُ فَقَـالُوا اِذَا اَعتَقَـهُ وَعَلَيهِ دَينٌ فَقِيمَةُ العَبدِ عَلْـي السّيِّدِ وَيَبِيعُـهُ غُرَمَـآ ءُهُ فِيمَـا زَادَ عَلْـي القِيمَـةِ (الـف) (مصـنف عبدالرزاق.باب هل يباع العبدفي دَينِه اذا اذن له اوالحرج، ج۸ص۲۸۶نمبر۱۵۲۴۳) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي که مَـولْي آزاد کـړي نـوچي دغُـلاَم هرڅونـه قيمـت دئ دهغونـه قيمت به مَولْي ذِمّه دَارَه وي .

اُصُول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چي مَولْي څونـه نُقصَـان کـړئ دئ دهغـه پـه اندازه به ذِمّه دَارَه وي .

[۱۶۹۶](۲۴) او چي کوم پاته دئ دقرض څخه دهغه مُطَالَبَه به کيږي د آزاد څخه .

تشريح : دغُلاَم دقيمت څخه علاوه چي څومره زيات قَرض وي.په تېرمثال کي هغه زَر دِرهَم وُ نوهغه به دغُلاَم دآزادېدو وروسته دغُلاَم څخه مُطَالَبَه کيږي .

وجه : (۱) په اَصل کي ده دخلګوڅخه قرض اَخستَئ وُ نوځکه دقيمت څخه علاوه چي هرڅونه وي هغه به دده يعني غُلاَم څخه وصوليږي (۲) په تېر اَثَرکي ددې ثبوت سته.په تېر اَثَرکي دا جمله زياته هم راغلې ده قَالَ اَصحَابُنَا حَمّادٌ وَغَيرُهُ فَاِن فَضُلَ شَئٌ عَن قِيمَةِ العَبدِ اِبتَع بِهِ العَبدُ (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب هل يباع العبد في دينه اذا اذن له اوالحرج ج۸ ص۲۸۶نمبر۱۵۲۴۳) په دې اَثَرکي دئ چي دقيمت څخه زيات به د آزاد کړئ غُلاَم څخه وصولوي .

[۱۶۹۷](۲۵) که مَاذُونَې مينځي بَچَئ وَزِيږَاوَئ دخپل مَولْي څخه نو پر دې باندي حِجردئ .

[۱۶۹۸](۲۶) وَاِن اَذِنَ وَلِيّ الصّبِيّ لِلصّبِيِّ فِي التِّجَارَةِ فَهُوَ فِي الشّرَآءِ وَالبَيعِ كَالعَبدِ المَاذُونِ اِذَا كَانَ يَعقِلُ البَيعَ وَالشّرَ آ ءَ .

تشريح : آ قَا ومينځه ته دتجارت کولو اِجَازَت ورکړئ وُ.په دغه دَورَان کي دمَولْي څخه دمينځي بَچَئ پيدا سو اومينځه د مَولْي اُمِّ وَلَدَه سوه.او په دي کي دآزادئ شَائِبَه راغله چي دمَولْي دمرګه وروسته اُمِّ وَلَدَه آزاديږي. نوځکه اُمِّ وَلَدَه جوړېدل ددې خبري دليل دئ چي اُوس ودې ته دتجارت اِجَازَت نَستَه.او دَلاَلَة دمولْي لخوا پردې باندي حِجر راغلئ .

وجه : (۱) يَوَه وجه خو داده چي مَولْي اُوس دا په پَردَه کي سَاتَل غُوَارِي دعام مينځي په شان ددې اِختِلاَط نَه خُوَښَوِي نو ځکه ګواکه پردې حِجر وسو (۲) که پراُمِّ وَلَدَه باندي قَرض راغلئ نو دا نَه سي خرڅېدلائي ځکه چي په دي کي دآزادئ شَائِبَه راغلې ده نودقَرض ادائيګي به څَه رنګه وي؟ ددې په وجه به وقَرض خُوَاهَانُ ته نُقصَان ورسږي.او مَولْي به هم نَه ورکوي ځکه چي مَولْي خو دقرض د اداٴ کولو ذِمّّ دَارِي نَه ده اَخستي.نوځکه اُمِّ وَلَدَه کېدل حِجر شمېرل کيږي .

پام لرنه : داُمِّ وَلَدَه جوړېدو وروسته چي مَولْي دُوبَارَه دتِجَارَت اِجَازَت ورکړي نوبيا مَاذُون ګرزي.او په دې صورت کي چي پر اُمِّ وَلَدَه باندي کوم قرض وي هغه به مَولْي دخپل جېب څخه اداٴ کوي.ځکه چي ده دُوبَارَه دتجارت اِجَازَت ورکړئ دئ.او اُمِّ وَلَدَه خو نَه سي خرڅېدلائي نوځکه مَولْي به دقرض ذِمّه دَارَه وي. عَنِ الزّهرِيِّ قَالَ

حاشيه : (الف) زموږ اَصحَابُ حَمّاد او نورو وفرمائل که مَاذُون آزاد کړي او پرهغه دَين وي نودغُلاَم قيمت به پر آقَا وي او قرض خواه به هغه خرڅوي دهغه په بدله کي کوم چي دقيمت څخه زِيَات وي (ب) حضرت حَمّاد او نورو وفرمائل چي دغُلاَم دقيمت څخه دَين څَه زِيَات وي نو دغُلاَم څخه به وصولوي .

اَذِنَ لَهُ سَيِّدُهُ فِي الشِّرَ آءِ فَهُوَضَامِنٌ لِدَينِهِ (الف) (مصنف عبدالرزاق. نمبر۱۵۲۳۴)
ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې مَولٰي د اُمِّ وَلَدې دقرض ضَامِن دئ .

[۱۶۹۸](۲۶) كه دبَچي وَلِي و بَچي ته دتِجَارَت اجازت وركړئ نو دئ په رَانِيوُلـو او خَرڅَوُلُو كي دمَاذُون غُلاَم په شان دئ كه چيري دئ په خَرڅَوُلُو رَانِيوُلُوپو هېدئ .

حاشيه : (الف) حضرت زُهرِي وفرمائل آ قا د رَانِيوُلُو اِجَازَت وركړئ نودئ به دغُلاَم د دَين ضَامِن وي .

تشريح : بَچَئ د دونه عُمر دئ چي په خرڅولو رانيولو بنَه پوهيږي چي دا چِش دئ؟ او څونـه ګټَـوَر دئ؟ پـه داسـي صـورت كـي دبَچـي وَلِـي وبَچـي تـه دتجـارت اِجَـازَت وركړئ نو دا بَچِئ به دغُلاَم په شان مَاذُون سي.او په ده كي به دهرشِي دتجارت كولو اَهلِيّت راسي.خَرڅَوَل رَانِيوَل به نَافِذ وي.او كه هغه ديَوشِي دغَصَب كولـو يـا د اَمَانَـت يا د دَين اِقرَار وكي نوهغه شَئ به غَصَب.اَمَانَت يا دَين ګڼل كيږي.البتـه بَچَـئ آزاد دئ نوځكه دئ به د دَين لپاره نَه خَرڅوَل كيږي.بلكه دقرض ادآء كول دده د وَلِـي پرذِمّـه لازم دئ.لكه څَه رنګه چي مخكي دغُلاَم په اړَه اَثَر تېرسوئ دئ .

پام لرنه : بَچَئ ئې صـرف د سَودَا رَاوُړَلُولپـاره وَاستَاوَئ نـو دا خـو خِـدمَت دئ ددې څخه دتجارت اِجَازَت نَه معلوميږي.تفصيل مخكي تېرسوئ دئ. وبَچي ته د تجـارت د اِجَازَت وركولو په اړَه په دې حديث كي اِشَارَه سته چي حضـرت اُمِّ سَـلَمَة خپـل بَچَـئ عُمَر دخپلي نكاح وَكِيل جوړكړئ.فَقَالَت لاِبنِهَـا يَـاعُمَرُ قُم فَـزَوِّج رَسُـولَ اللهِ فَزَوّجَـهُ (الف) (نسائي شريف.باب انكاح الابن اُمّهُ ص۴۵۰نمبر۳۲۵۶)

حاشيه : (الف) حضرت اُمِّ سَلَمَة وخپل زُوئي عُمَر ته وفرمائـل ائ عُمَـر وَلاَړ سَـه او دحضـور سـره زُومَـا وَادَه وكړه. نوهغه دحضور سره ددې وَادَه وكړئ .

..... كِتَابُ المَزَارَعَةِ.....

[۱۶۹۹](۱) قَالَ اَبُوحَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَـالٰي اَلمَزَارَعَـةُ بِالثُّلُـثِ وَالرّبُـعِ بَاطِلَةٌ وَقَالاَ جَائِزَةٌ .

..... كِتَابُ المَزَارَعَةِ.....

ضروري پام لرنه : مَزَارَعَة د زِرَاعَت څخـه مُشتَق دئ.ددې مطلـب دادئ چـي د يَوَه سړي لخوا مځکه وي او دبَل سړي لخوا غُـوَيَئ يـا تُخـم وي.او چـي كـوم پَيـدَاوَار وي هغه د دُوَاړُو ترمينځ نِيمَئ نِيمَئ يا يَوَه دَرَيَمَه يا دُوې دَرَيَمِـي وي نـو دې تـه مَزَارَعَـت يا مَخَابَرَة ويل كيږي.مَخَابَرَة لفظ دخَيبَرڅخه مُشتَق دئ.د خَيبَـر وخلكو تـه حضـور ﷺ مځكه په كَښتګَرِي وركړې وه نوځكه ددغه ځخـه مُشتَق وكَښـتګَرِي تـه مَخَـابَرَة ويـل كيږي.په حديث كې ددې ثبوت سته عَن اِبنِ عُمَرَ اَخبَرَهُ اَنّ النّبِيّ ﷺ عَامَلَ خَيبَرَ بِشَطرِ مَايَخرُجُ مِنهَا مِن ثَمَرٍ اَو زَرعٍ (الـف) (بخـاري شـريف.باب المزارعـة بالشطرونحوه ص٣١٣نمبـر٢٣٢٨/مسـلم شـريف.باب المسـاقات والمعاملـة بجـزء مـن الثّمـر والـزرع ص١٤نمبر١٥٥١/ابوداؤدشريف.باب في المساقاة ص١٢٨ نمبر٣٤٠٨) ددې حديث ځخـه معلوم سوچي په كَښتَګَرِي مځكه وركول جائزده .

[١٦٩٩](١) امـام ابوحنيفـه وفرمائـل پـه دَرَيَمَـه يـا ځلورمـه ګَښـت كـول باطـل دئ او صاحبين وفرمائل جائز دئ .

تشريح : ګَښت په دَرَيَمَه يا ځلورمه په كَښتګَرِي وركړې چې هرڅونـه پَيـدَاوَار رَاسِـي دهغه ځخه دُوې دريمِي ستا او يَوَه دَرَيَمَه زُومَـا ده.يـا درې حِصّـې سـتا او يَـوَه حِصّـه زُومَا ده.دغه رنګه په كَښتګَرِي وركول د امام ابوحنيفه په نيز بَاطِل دئ .

وجه : (١) دده دليل دا حديث دئ زَعَمَ ثَابِتٌ اَنّ رَسُولَ اللهِ ﷺ نَهْي عَنِ المَزَارَعَةِ وَ اَمَرَ بِالمَوَاجَرَةِ وَقَالَ لاَ بَأسَ بِهَا (الف) (مسلم شـريف.باب المزارعـة والمـواجرة ص١٤ نمبر١٥٤٩) او په ابوداؤدشريف كي دارنګـه عِبَـارَت دئ (٢) عَـن زَيـدِبنِ ثَابِـتٍ قَـالَ نَهْي رَسُولُ اللهِ ﷺ عَنِ المَخَابَرَةِ قُلتُ وَمَا المَخَابَرَةُ قَالَ اَن تَأخُذَ الاَرضَ بِنِصـفٍ اَو ثُلُـثٍ اَو رُبُـعٍ (ب) (ابوداؤدشـريف.باب فـي المخـابرة ص١٢٧نمبـر٣٤٠٧) ددې حـديث ځخه معلوم سو چي حضور ﷺ په دَرَيَمَه يا ځلورمه وركولو ځخه مَنع كړې ده (٣) پـه ابوداؤدشريف كي دارنګه وَعِيد راغلئ دئ عَن جَابِرِ بِـنِ عَبـدِاللهِ سَـمِعتُ رَسُـولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ مَن لَم يَـذَرِ المَخَـابَرَةَ فَليُـؤذِن بِحَـربٍ مِـنَ اللهِ وَرَسُـولِهِ (ج) (ابوداؤدشـريف.باب المخابرة ص١٢٧نمبر٣٤٠٦) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي كه مَخَابَرَة نَه پريږدي نـو د الله او د الله د رسول لخوا دي اِعلانِ جَنـګ وكـړي.او دمخـابرې معنْـي كَښـتګَرِي ده نوځكه كَښتګَرِي ناجائز سوه .

فائـده : صـاحبين فرمـائي چـي پـه دَرَيَمَـه ځلورمـه او ددې پـه شـان پـه بَلَـه حِصّـه پـه كَښتګَرِي وركول جائز دئ.د دُوئي يَودليل خومخته تېرسوئ حديث دئ عَـن اِبـنِ عُمَـرَ اَخبَرَهُ اَنّ النّبِيّ ﷺ عَامَـلَ خَيبَـرَ بِشَـطرِ مَـايَخرُجُ مِنهَـا مِـن ثَمَـرٍ اَو زَرعٍ (د) (بخـاري

حاشيه : (الف) حضور خَيبَر په كَښتګَرَئ وركړئ دځَه حِصّې په بَدلَه كي چي كومه مېوه يا غَلّه پيدا سي .

شـريف. نمبـر۲۳۲۸/مسـلم شـريف. نمبـر ۱۵۵۱/ابوداؤدشـريف.نمبر۳۴۰۸) او بَـل اَثَـر دئعَن اَبِي جَعفَرَ قَالَ مَا بِالمَدِينَةِ اَهلُ بَيتِ هِجرَةٍ اِلاّ يَزرَعُونَ عَلْي الثّلُثِ وَالرّبُـعِ الـخ (ه) (بخاري شريف.باب المزارعة بالشطرونحوه ص۳۱۳نمبر۲۳۲۸) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي د مدينې خلګو ګَښتګَرِي کوله ددې څخه دګَښتګَرَئ جواز معلوم سو .

حاشيه : (الف) حضور دمَزَارَعَت څخه منع وکړه او د اُجرَت حُکم ئې ورکړئ او وفرمائل چي په دي کـي هـيڅ دحرج خبره نسته (ب) حضور دمَخَابَرې څخه منع وکړه.مَا وويل مَخَابَره چِش دئ؟ حضور وفرمائل چـي مځکـه د نِيمِي يا دَرَيَمِي يا څلورمِي په بدله کي واخلي (ج) حضور وفرمائل څوک چي ګَښتَګَرِي نَه پريږدي وهغه تـه د الله او د الله د رسول لخوا د جَنګ اِعلاَن وکړه (د) حضور خَيبَر په ګَښتګَرِي ورکړئ دنِيمَئ حِصّې پـه بدلـه کـي کوم چي ددې څخه مېوَه او ګَښت پيدا سي (ه) اَبُوجَعفَر فرمائي چي په مدينَه کي داسي کور نَه وُ چي ګَښت ئې نَه کاوَئ په دَرَيَمَه او څلورمه .

[۱۷۰۰](۲) وَهِيَ عِندَهُمَا عَلْي اَربَعَةِ اَوجُهٍ اِذَا كَانَـتِ الاَرضُ وَالبَـذرُ لِوَاحِدٍ وَالعَمَلُ وَالبَقَرُ لِوَاحِدٍ جَازَتِ المَزَارَعَةُ .

پام لرنه : د امام محمد په کتاب الآثار او مؤطا امام محمد کي دئ چي د امـام ابوحنيفـه په نېز په دَرَيَمَـه څلورمـه ګَښـت ورکـول مکـروه دئ.بَاطِـل نَـه دئ. مُحَمّدٌ قَـالَ اَخبَرَنَـا اَبُوحَنِيفَةَ عَن حَمّادٍ اَنّهُ سَأَلَ طَاؤسًا وَسَالِمَ بِنِ عَبدِاللهِ عَنِ الزّرَاعَةِ بِالثّلُثِ اَوِالرّبُعِ فَقَالَ لاَبَأسَ بِهِ فَذُكِرت ذَالِکَ لِاِبرَاهِيمَ فَكَرِهَهُ ... كَانَ اَبُوحَنِيفَةَ يَأخُذُ بِقَولِ اِبرَاهِيمَ وَنَحنُ نَأخُذُ بِقَولِ سَـالِمَ وَطَاؤسَ لاَنَرْي بِذَالِکَ بَأسًا (الف) (کتاب الآثار لامام محمد.باب المزارعة بالثلـث والربـع ص۱۷۲نمبر۷۷۴) او په مُؤطا امام محمدکي دئ وَكَـانَ اَبُوحَنِيفَـةَ يَكرَهُ ذَالِـکَ (مؤطاامـام محمد.باب المعاملة والمزارعة في النخـل والارض ص۳۵۷) ددې څخـه معلـوم سـوچي د امام ابوحنيفه په نېز ګَښتګَرِي مکروه ده. دعُمُومِ بَلْوِي په وجه فتوْي دصـاحبين پرقَـول ده .

[۱۷۰۰](۲) او مزارعَت دصاحبين په نېز پرڅلور طريقې دئ (۱) چي مځکه او تُخـم ديَوَه وي او مِحنَت او غُوَيَئ دبَل وي نومزارعَت جائز دئ .

تشريح : دا اَوّل صورت دئ.په دي کي مځکه او تُخم ديَوَه وي خُـوَارِي او غُـوَيَئ دبَـل فريق وي نوفرمائي چي دا صورت جائز دئ .

وجه : په دې باب کي دُوې نَظرِيې دي. اَوّلَه نَظرِيَه خو دا چـي تُخـم دچـا وي غَلّـه دي ټوله دهغه وي دهغه بَل فَرِيق شَئ ئې ګواکه په اُجرَت او کِرَايَه اَخَستَئ دئ.په تېرمثـال کي مځکه او تُخم ديَوَه دي نوځکه ټوله غَلّه به دهغـه وي او ده ګواکـه کـار کـونکئ او غُوَيَئ ورکونکئ په اُجرَت نِيوَلَئ دئ.اوکارکونکئ او غُوَيَئ ورکونکئ

حاشيه : (الف) ابوحنيفه د حَمّاد څخه خبر ورکړئ دئ چي هغه دحضرت طاؤس او سَالِم بن عبدالله څخه پوښـتنه وکړه د دَرَيَمِي يا څلورمِي په بدله کي.نو وفرمائل په دي کي هيڅ دحـرج خبـره نَسـتَه.بيائې ددې تَـذکِرَه وحضـرت اِبرَاهِيم ته وکړه نو هغو دا نَاخُوَښَه کړئ ... امام ابوحنيفه د حضرت اِبراهيم قول اَخَستَئ او موږ دسَـالِم او طـاؤس قول اخستئ.په دي کي هيڅ دحرج خبره نسته .

په اُجرَت اَخستَلاَئي سي نوځکه ګَښتګَرِي جائز سوه (۱) ټوله غَلّه به د تُخم والا وي دهغه دلیل دا حدیث دئ فَاَخبَرَهُ رَافِعٌ اَنّ رَسُولَ اللهِ ﷺ اَتّي بَنِي حَارِثَةَ فَرْي زَرعًا فِي اَرضِ ظَهِيرٍ فَقَالَ مَا اَحسَنَ زَرعُ ظَهِيرٍ قَالُوا لَيسَ لِظَهِير قَالَ أ لَيسَ اَرضُ ظَهِيرٍ؟ قَالُوا بَلْي وَلْكِنّهُ زَرعُ فُلاَنٍ قَالَ فَخُذُوا زَرعَكُم وَرَدّوا عَلَيهِ النّفَقَةَ قَالَ رَافِعُ فَاَخَذنَا زَرعَنَا وَرَدَدنَا اِلَيهِ النّفَقَةَ (الف) (ابوداؤدشریف.باب في التشدیدفي ذالک اي في المزارعة ص۱۲۵نمبر۳۳۹۹) په دې حدیث کي مځکه دحضرت ظَهِیر وه او تُخم دحضرت رَافِع وُ نو غَلّه ئې ټوله وحضرت رَافِع ته ورکړه او دمځکي و مَالِک ته دمځکي اُجرَت ورکړئ ددې څخه معلوم سوچي غَلّه به ټوله دتُخم والا وي او دمځکي ومَالِک ته به اُجرَت ملاوېږي (۲) په دې لَړ کي د امام محمدپه کتاب الآثار کي يَو اَثَر هم سته عَن مُجَاهِدٍ قَالَ اِشتَرَکَ اَربَعَةُ نَفَرٍ عَلْي عَهدِ رَسُولِ اللهِ ﷺ فَقَالَ وَاحِدٌ مِن عِندِي اَلبَذرُ وَقَالَ الآخَرُ مِن عِندِي اَلعَمَلُ وَقَالَ الآخَرُ مِن عِندِي اَلفُدَانُ وَقَالَ الآخَرُ مِن عِندِي اَلاَرضُ قَالَ فَاَلغْي رَسُولُ اللهِ صَاحِبَ الاَرضِ وَجَعَلَ لِصَاحِبِ الفُدَانِ اَجرًا مُسَمّي وَجَعَلَ لِصَاحِبِ العَمَلِ دِرهَمًا لِکُلّ يَومٍ وَاَلحَقَ الزّرعَ کُلّهُ لِصَاحِبِ البَذرِ (ب) (کتاب الآثار لامام محمد.باب المزارعة بالثلث والربع ص۱۷۲نمبر۷۷۵) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي غَلّه به ټوله دتُخم والا وي .

فائده : په دې باب کي دُوَمه نَظرِیَه دا ده چي غَلّه به ټوله دمځکي والا وي او ونورو خلګو ته به دهغو د مِحنَت یا دغُوَیِي یا د تُخم اُجرَت ورکول کیږي .

وجه : د دُوئي دلیل دا حدیث دئ عَن رَافِعِ بِنِ خُدِيجٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ مَن زَرَعَ فِي اَرضِ قَومٍ بِغَيرِ اِذنِهِم فَلَيسَ لَهُ مِنَ الزّرعِ شَئٌ وَلَهُ نَفَقَتُهُ (الف) (ابوداؤدشریف.باب في زرع الارض بغیراذن صاحبهاص۱۲۷نمبر۳۴۰۳) په دې حدیث کي ټوله غَلّه د مځکي ومَالِک ته ورکړې ده او ومِحنَت کونکي ته دهغه اُجرَت ورکړئ دئ.ددې څخه معلوم سوچي غَلّه به دمځکي دمَالِک وي اوونوروته به دهغواُجرَت ملاوېږي .

[۱۷۰۱](۳) وَاِن کَانَتِ الاَرضُ لِوَاحِدٍ وَالعَمَلُ وَالبَقَرُ وَالبَذرُ لآخَرَ جَازَتِ المَزَارَعَةُ [۱۷۰۲](۴) وَاِن کَانَتِ الاَرضُ وَالبَذرُ وَالبَقَرُ لِوَاحِدٍ وَالعَمَلُ لِوَاحِدٍ جَازَت [۱۷۰۳](۵) وَاِن کَانَتِ الاَرضُ وَالبَقَرُ لِوَاحِدٍ وَالبَذرُ وَالعَمَلُ لِوَاحِدٍ فَهِيَ بَاطِلَةٌ .

حاشیه : (الف) حضور بَنِي حَارِثَه ته راغلئ نودحضرت ظَهِیرپه مځکه کي کَښت ولیدئ.حضور وفرمائل دظَهِیر څُونَه ښَه کَښت دئ! خلګو وویل چي دظَهِیر نَه دئ.حضور پوښتنه وکړه چي دا دظَهِیرمځکه نَه ده؟ خلګو وویل بَلِي! لېکن کَښت دفُلاَنِي دئ.حضور وخلګو ته وفرمائل خپل کَښت واخلئ او دمځکي اُجرَت ورکئ (ب)حضرت مجاهدفرمائي چي دحضور په زمانه کي څلور کَسَان په کَښتګَرَئ سره شریکان سول.يَوَه وویل زُومَا لخوا تُخم دئ.دُوَم وویل زُومَا لخوا مِحنَت دئ.دَرَيَم وویل زُومَا سره غُوَيَئ دئ.اوڅلورم وویل زُومَا لخوا مځکه ده فرمائي چي حضور دمځکي مَالِک لَغو کړئ.او دغوَایَه مَالِک ته مُتَعَيّن اُجرَت ورکړئ.او مِحنَت کونکي ته د هري ورځي په بَدلَه کي يَو دِرهَم ورکړئ.او غَلّه ئې ټوله د تُخم والا ته ورکړه .

[۱۷۰۱](۳) او که مځکه دیَوَه وي او مِحنَت.غُوَیَئ او تُخم دبَل وي نومَزارَعَت جائزدئ .

وجه : په دې صورت کي دمځکي مَالِک دمځکي دغَلّې په بدله کي ګواکه مِحنَت. غُوَیَئ.او دتُخم والا ئې په اُجرَت اَخَستَي دي.نوځکه دا مَزارَعَت هم جائز دئ .

[۱۷۰۲](۴) اوکه مځکه اوتُخم اوغُوَیَئ دیَوَه وي اومِحنَت دبَل وي نودا جائز دئ.

وجه : په دې صورت کي به داسي ګڼل کیږي لکه چي دمځکي مَالِک.دغُوَایَه مَالِک.او دتُخم مَالِک دُرُو سره وُ د مِحنَت والا په اُجرَت نِیوَلَئ دئ.نوځکه دا صورت هم جائز دئ.ځکه چي تُخم دمځکي والا دئ.نوځکه غَلّه به ټوله دهغه وي او مِحنَت کونکې ګواکه د یَو څَه غَلّې په بدله کي په اُجرَت نِیوَلئ دئ .

[۱۷۰۳](۵)اوکه مځکه اوغُوَیَئ دیَوَه وي اوتُخم اومِحنَت دبَل وي نودابَاطِل دئ.

تشریح : دا ظَاهِرُالرِّوَایَت دئ.که نَه د امام ابویوسف یَوبَل رِوَایَت دادئ چي دا صورت هم جائز دئ .

حاشیه : (الف) حضور وفرمائل کوم چاچي دبَل په مځکه کي دهغو د اِجَازَت بغیره کَرهَنَه وکړه نوده ته دغَلّې څخه هیڅ نَه ملاوئیږي.دده لپاره دهغه اُجرَت دئ .

[۱۷۰۴](۶) وَلاَتَصِحّ المَزَارَعَةُ اِلاّ عَلْي مُدّةٍ مَعلُومَةٍ [۱۷۰۵](۷) وَاَن یَکُونَ الخَارِجُ بَینَهُمَا مَشَاعًا .

وجه : ددې وجه داده چي غُوَیَئ دمځکي تَابِع نَه سي کېدلائي.نوځکه دتُخم والا مځکه صرف په اُجرَت اَخستَلاَئي سي.او غُوَیَئ د پیدا سوي غَلّې په بَدلَه کي په اُجرَت اَخستَل کیږي.کومه غَلّه چي وروسته دمځکي څخه پیدا کیږي دهغه غَلّې په بَدلَه کي دغُوِیِي په اُجرَت اَخَستَلُو رِوَاج نسته.نوځکه غُوَیَئ نَه دمځکي تَابِع سو او نَه دپیدا کېدونکي غَلّې په بَدلَه کي په اُجرَت وَاخَستَل سو.نوځکه دغُوَیِي د استعمال شرط هسي مُفت سو.بَس په دغه وجه دمَزَارَعَت دغه صورت فَاسِد سو .

[۱۷۰۴](۶) او مزارعت نَه صحیح کیږي مګر چي مُدّت معلوم وي .

تشریح : سُوزبَر ئې په ګَبنت واخستئ لېکن دائې وَاضِح نَه کئ چي دڅونه وخت لپاره وَاخَستَئ نو مزارعت فَاسِد دئ .

وجه : (۱) دګَبنت والا به غُوَاړِي چي ژر ئې پرېږ ده او بَزګَر به غُوَاړِي چي وَځَنډَوَم ددې څخه به جګړه رامینځ ته سي.نوځکه مُدَت معلومول ضروري دئ (۲) ددې لپاره وَاضِح حدیث تېرسوئ دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ قَدِمَ النّبِيّ ﷺ اَلمَدِینَةَ وَهُم یَسلِفُونَ فِي الثِّمَارِ اَلسّنَةَ وَالسّنَتَینِ فَقَالَ مَن سَلَفَ فِي تَمَرٍ فَلیَسلِف فِي کَیلٍ مَعلُومٍ وَ وَزنٍ مَعلُومٍ اِلْي اَجَلٍ مَعلُومٍ (الف) (مسلم شریف.باب السلم ص۳۱نمبر۱۶۰۴) ددې حدیث څخه معلوم سوچي مُدَه باید معلومه وي .

[۱۷۰۵](۷) او دا چي پَیدَاوَار به د دُوَاړُو ترمینځ مُشتَرَک وي .

تشریح : چي هرڅُونَه غَلّه پیدا سي هغه به دمځکي دمَالِک او دګَښتګَر ترمینځ مُشتَرَکَ وي.داسي به نَه وي چي مثلاً کومه غَلّه پَیداسی دهغې څخه به دمځکي د مَالِک لپاره

سَل(100)کېلو مَخصوص وي.نور چي کوم پاته سو هغه به دُوَاړَه حِصّه کړي .

حاشیه : (الف) حضور مدینې ته تشریف رَاوړَئ په داسي حال کي چي خلګوپه مېوُو کي دیَوَه کال او دُوُ کالُ لپاره تجارت کاوئ.نوحضور وفرمائل څوک چي دخُورمَاوُ تجارت وکي باید پیمَانَه معلومَ وي.وَزَن ئې معلوم وي او مُدّت ئې معلوم وي .

[۱۷۰۶](۸) فَاِن شَرَطَا لاَحَدِهِمَا قُفزَانًا مُسَمّاةً فَهِيَ بَاطِلَةٌ

[۱۷۰۷](۹) وَكَذَالِکَ اِذَا شَرَطَا مَا عَلْي المَاذِيَانَاتِ وَالسّوَاقِي .

وجه : (۱) ځکه چي مثلاً فرض ئې کَه چي دمځکي څخه صرف سَل(100)کېلو پیدا سو نوهغه به دمځکي ومَالِک ته ملاؤسي او وکَښتګَر ته هیڅ شَئ نَه سوملاؤ. دده کار په مُفت کي وُلاَړَئ نوځکه دیَوَه لپاره دي هم یَومخصوص پَیدَاوَار نَه وي بلکه ټوله غَلّه دي سره مُشتَرَکه وي.که په څلورمه سره وي که په دَرَیَمَه سره وي (۲) په حدیث کي هم ددې څخه منع راغلې ده سُمِعَ رَافِعُ بِنِ خَدِیجِ قَالَ كُنّا اَكثَرُ اَهلِ المَدِينَةِ مُزدَرَعًا كُنّا نَكرِي الاَرضَ بِالنّاحِيَةِ مِنهَا مُسَمَّي لِسَيِّدِ الاَرضِ قَالَ فَمِمّا يُصَابُ ذَالِكَ وَتُسلَمُ الاَرضُ وَمِمّا يُصَابُ الاَرضُ وَيُسلِمُ ذَالِكَ فَنُهِينَا فَاَمّا اَلذّهَبُ وَالوَرِقُ فَلَم يَكُن يَومَئِذٍ (الف) (بخاري شریف.باب ۷ کتاب الحرث والمزارعة ص۳۱۱نمبر۲۳۲۷/مسلم شریف.باب کراء الارض بالذهب والورق ص۱۲نمبر۱۵۴۸) ددې حدیث څخه معلوم سوچي یَومخصدوص کېلو یا مخصوص ځائ مُتَعَیّن کول جواز نَه لري.ددې څخه مَزَارَعَت فاسدیږي .

[۱۷۰۶](۸) که دواړو دیَوَه لپاره مُتَعَیّن قَفِیز شرط کړئ نو دا بَاطِل دئ .

تشریح : چي څونه غَلّه رَاوَوزِي د هغه څخه به مثلاً سَل کېلودمځکي د مَالِک لپاره وي بیابه دا پاته غَلّه تقسیمیږي نو داجوازنَه لري.دلیل مخته حدیث تېرسوئ دئ .

لُغَت : قُقزَانِ : د ,,قَفِیزٌ,, جمع ده. مُسَمّاةٌ : مُتَعَیّن .

[۱۷۰۷](۹) دغه رنګه که شرط ولګاوئ چي کوم پَیدَاوَار دئ پر غَتې کارېز او پر کِشنَئ وَالُو (وِیَالُو) باندي .

حاشیه : (الف) رَافِع بن خدیج فرمائي چي موږ د مدینې خلګواکثره کَښتګَرِي کوله.موږ مځکه په کِرَایَه ورکوله.په هغه کي به یَوَه کِنَارَه دمځکي دمَالِک لپاره مخصوص وه.فرمائي چي داسي به هم کېدل چي په هغه به مَرَض پوري کېدئ او نوره مځکه به محفوظ وه.او داسي به هم کېدو چي په مځکه به مَرَض پوري کېدئ او کِنَارَه به محفوظ پاته کېده.نوځکه موږ ئې منع کړو.بَهَر کَیف دسُرُو زَرُو او سُپِینُ زَرُو په بدله کي په کِرَایَه اَخَستَل هیڅ دحرج خبره نَه ده .

[۱۷۰۸](۱۰) وَاِذَا صَحّتِ المَزَارَعَةُ فَالخَارِجُ بَينَهُمَا عَلْي الشّرطِ .

تشریح : داسي شرط ئې ولګاوئ چي دنِهر پر کِنَارَه چي کومه غَلّه پَیدَاسي هغه به دمځکي والا وي او په دا نورو پاتو غَلّوکي به دواړه سره شریکان وي.یا دکِشنَئ وَالې

(وِيَالِي) پر کِنَارَه چي کومه غَلّه پَيدَاسي هغه به دمځکي دمَالِک وي او نوري غَلّې به د دُوَاړُوترمينځ تقسيم وي نو دا جواز نَه لري .

وجه : مخته وجه او حديث تېرسوي دي.په مُسلم شريف کي باقاعده صراحت دئ قَالَ سَئَلتُ رَافِعَ بِنِ خَدِيجٍ عَن کَرَآءِ الاَرضِ بِالذّهَبِ وَالوَرِقِ؟ فَقَالَ لاَبَأسَ بِهِ اِنّمَا کَانَ النّاسُ يُوَاجِرُونَ عَلْي عَهدِ رَسُولِ اللهِ ﷺ عَلْي المَاذِيَانَاتِ وَاِقبَالِ الجَدَاوِلِ وَاَشيَآءٍ مِنَ الزّرعِ فَيَهلِکُ هْذَا وَيَسلِمُ هْذَا وَيَهلِکُ هْذَا فَلَم يَکُن لِلنّاسِ کَرَ آ ءٌ اِلاّ هْذَا فَلِذَالِکَ زَجَرَ عَنهُ فَاَمّا شَئٌ مَعلُومٌ مَضمُونٌ فَلاَبَأسَ بِهِ (الف) (مسلم شريف.باب کراء الارض بالذهب والورق ج٢ص١٢نمبر١٥۴٨) په دې حديث کي صراحت دئ چي دغَتِ نِهر پر کِنَارَه کِنَارَه رَاشنَه سوې غَلّه د يَوَه لپاره مخصوص کول جواز نَه لري.ټولي غَلّې بايد سره مُشتَرَک وي .

لُغَت : مَاذِيَانَاتِ : د,,مَاذِيَان,, جمع ده.غټه نَالَئ. سَوَاقِيُ : د,,سَاقِيَةٌ,, جمع ده. کِشنَئ نَالَئ.د اُوبُو د بهولو لاَرَه .

[١٧٠٨](١٠) چي مَزَارَعَت صحيح سي نو پَيدَاوَار به د دُوَاړُو ترمينځ د شرط مُطَابِق وي .

تشريح : چي مخته تېرسوي شرطونه ټوله موجود سي او مزارعت صحيح سي نو

[١٧٠٩](١١) وَاِن لَم تَخرُجِ الاَرضُ شَيئًا فَلاَ شَيئَ لِلعَامِلِ [١٧١٠](١٢) وَاِذَا فَسَدَتِ المَزَارَعَةُ فَالخَارِجُ لِصَاحِبِ البَذرِ .

اُوس پرکومو شرطو چي مَزَارَعَت سوئ دئ مثلاً دمځکي ومَالِک ته به دغَلّې يَوَه دَرَيَمَه ملاوېږي او دُوې دَرَيَمِي غَلّه به د کَښتګر وي.نو ددغه شرطو مطابق به د دواړو ترمينځ غَلّه تقسيمېږي .

وجه : دحضور ﷺ اِرشَاد دئ قَالَ النّبِيّ ﷺ اَلمُسلِمُونَ عِندَ شُرُوطِهِم (الف) (بخاري شريف.باب اجرالسمسرة ص٣٠٣نمبر٢٢٧۴) ددې حديث څخه معلوم سوچي مُسَلمَانَان بايد دځپلو شرطو مَرَاعَت وَسَاتِي .

[١٧٠٩](١١) او که مځکي هيڅ شَئ پَيدَا نَه کړئ نو دکار کونکي لپاره هيڅ شَئ نسته .

تشريح : په کَښتګَرِي کي داشرط لګېدلئ وُ چي کومه غَلّه پيدا سوه دهغې څخه به و کارکونکي ته څلورمه يا دَرَيَمَه ملاوېږي.او دلته خو دمځکي څخه هيڅ ډَوَل پَيدَاوَار

حاشيه : (الف) مَا دحضرت رَافِع بن خَدِيج څخه د سُرُو زَرُو او سُپِينُ زَرُو په بَدلَه کي دمځکي په کِرَايَه اَخستَلُو په باب پوښتنه وکړه. نو وفرمائل په دي کي هيڅ حرج خَبَرَه نسته.خلګو دحضور په زمانه کي په اُجرَت اخستله په دې شرط چي دنِهر نِژدې غَلّه.دنَالَيُو دمَخ غَلّه او څَه مخصوص کَښت ديَوَه لپاره وي.نوکله به هغه هلاک کېدله اودا به محفوظ پاته کېدله يا به دا هلاک کېدله او هغه به محفوظ پاته کېدله.نو دخلګو لپاره به کِرَايَه نَه وه.مګر دغه نوځکه حضور ددې څخه زَجر وکړئ.بَهرحَال يَو معلوم شَئ چي مَضمُون وي په هغه کي څَه دحرج خبره نسته .

نَه دئ رَاوَتَلَئ نوځکه و عَامِل ته به دکومه ځايَه څخه ورکوي؟ او دخپل جيب څخه د څَه ورکولو شرط خو نَه وُ لګېدلئ.نو لکه څَه رنګه چي دمځکي ومَالِک ته هيڅ شَئ نَه سو ملاؤ دغه رنګه و عَامِل يعني مِحنَت کونکي ته به هم هيڅ شَئ نَه ملاؤيږي .

[۱۷۱۰](۱۲) او که مزارَعَت فاسد سي نوپَيدَاوَار به دتُخم والا وي .

وجه : (۱) مخته حديث تېرسوئ دئ چي پَيدَاوَار په اَصل کي دتُخم والا وي.او دا نور خلګ ګواکه دکار کولو اُجرَت اومزدوري اَخلِي. عَن رَافِعِ بِنِ خَدِيجِ ... قَالُوا بَلْي وَلْکِنّهُ زَرعُ فُلاَنٍ قَالَ فَخُذُوا زَرعَکُم وَرُدّوا عَلَيهِ النّفَقَةَ قَالَ رَافِعُ فَاَخَذنَا زَرعَنَا

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل مُسلمَانان دشرطو پَابَند وي .

[۱۷۱۱](۱۳) فَاِن کَانَ البَذرُ مِن قِبَلِ رَبِّ الاَرضِ فَلِلعَامِلِ اَجرُ مِثلِهِ لاَيُزَادُ عَلْي مِقدَارِ مَا شُرِطَ لَهُ مِنَ الخَارِجِ وَقَالَ مُحَمّدٌ لَهُ اَجرُ مِثلِهِ بَالِغًا مَابَلَغَ .

وَرَدَدنَا اِلَيهِ النّفَقَةَ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في التشديدفي ذالک اي في المزارعة ص۱۲۵نمبر۳۳۹۹) په دې حديث کي تُخم دحضرت رَافِع وُ نوځکه غَلّه وهغه ته ورکړه او دمځکي ومَالِک ته دهغه اُجرَت ورکړئ.او په اَثَرکي دئ عَن مُجَاهِدٍ قَالَ اِشتَرَکَ اَربَعَةُ نَفَرٍ ... وَاَلحَقَ الزّرعَ کُلّهُ بِصَاحِبِ البَذرِ (ب) (کتاب الآثارلامام محمد.باب المزارعة بالثلث والربع ص۱۷۲) په دې اَثَرکي دئ چي غَلّه به ټوله دتُخم والا وي.نوځکه چي مَزَارَعَت فاسدسي نو غَلّه به دتُخم والا وي (۲) هسي خو هم غَلّه د تُخم په وجه غَټيږي نوپه دې وجه هم غَلّه به د تخم والا ته ورکول کيږي .

[۱۷۱۱](۱۳) که چيري تُخم دمځکي دمَالِک لخوا وي نو کار کونکي ته اُجرَتِ مِثل ملاؤيږي چي زِيَات به نَه ترهغه تَعدَاد کوم چي شرط سوئ دئ دپَيدَاوَار څخه.او امام محمدوفرمائل دده لپاره به اُجرَتِ مِثل وي چي هرڅونه ته ورسيږي .

تشريح : که چيري تُخم دمځکي دمَالِک لخوا وي او زَرَاعَت فاسد سي نوټوله غَلّه به دمځکي دمَالِک وي او وکارکونکي ته به هغه اُجرَت ملاؤيږي کوم چي په بَازَار کي ودغه رنګه کارکونکي ته ملاؤيږي.البته که په بَازَار کي ملاوېدونکئ اُجرَتِ مِثل زيات وي او په پَيدَاوَار کي چي کومه حِصّه ملاوېدله هغه کَمَه وه نو دپَيدَاوَار تر حِصّې زياته به نَه ورکول کيږي .

وجه : ځکه چي پر کَم باندي دئ په خپله راضي سوئ دئ.نوځکه که چيري دبَازَار

حاشيه : (الف) د رَافِع بن خديج څخه رِوَايَت دئ ... خلګو وويل هُومځکه دحضرت ظَهِيرده لېکن کَبنت دفُلاَنِي دئ.حضور وفرمائل خپل کَبنت واخله او ده ته دمځکي اُجرَت ورکه.حضرت رَافِع وفرمائل مَا خپله مځکه واخستله او دمځکي ومَالِک ته مِي دهغه اُجرَت ورکړئ (ب) حضرت مُجَاهِد وفرمائل څلور کسان په کَبنتګَرِي کي شريکان سو ... غَلّه ئې ټوله د تُخم والا ته ورکړه .

[۱۷۱۲](۱۴) وَاِن کَانَ البَذرُ مِن قِبَلِ العَامِلِ فَلِصَاحِبِ الاَرضِ اَجرُ مِثلِهَا [۱۷۱۳](۱۵) وَاِذَا عَقَدَتِ المَزَارَعَةُ فَامتَنَعَ صَاحِبُ البَذرِ مِنَ العَمَلِ لَم يُجبَر عَلَيهِ .

أُجرَت زِيَات هم وي خو هم دپَيدَاوَار ترحِصّې زيات به نَه ورکول کيږي.دا د امام ابوحنيفه او امام ابويوسف رَأيَه ده .

فائده : امام محمدفرمائي چي که دبَازَار اُجرَتِ مِثل د پَيدَاوَار ترحِصّې زيات وي نو زيات به هم ورکول کيږي .

وجه : چي مَزَارَعَت فاسدسو نو اُجرَتِ مِثل اصل وګرزېدئ نوځکه چي اُجرَتِ مِثل هرڅونه وي هغه به ورکول کيږي که څَه هم دپَيدَاوَار ترحِصّې زيات وي هم .

لُغَت : اَلخَارِجُ : رَاوَتُونګَئ شَئ. پَيدَاوَار .

[۱۷۱۲](۱۴) او که تُخم دکار کونکي لخوا وي نودمځکي مَالِک ته به اُجرَتِ مِثل ملاؤيږي .

تشريح : که تُخم د ګَارِيګَر لخوا وي نوټوله غَلّه به دګَارکونکي وي او دمځکي مَالِک ته به دمځکي اُجرَتِ مِثل ملاؤيږي .

پام لرنه : په دي که هم هغه اِختِلاَف دي کوم چي اُوس مخته تيرسو .

[۱۷۱۳](۱۵) که دمَزَارَعَت عَقد وکئ او دتُخم والا دکار څخه منع سونو پرکار کولو به نَه مجبوره کوي .

تشريح : عَقدِمَزَارَعَت ئې کړئ ؤ وروسته بيابَل سوچ وکئ او تُخم ئې نَه وَپَاشَئ او دتُخم دکَرَلُو او مِحنَت کولوڅخه منع سونودئ به پرتُخم کَرَلُو نَه مجبوره کوي .

وجه : د کار کولو دُوَه صورتونه دي.يَو داسي کار وي چي په هغه کي دپيسو څَه نُقصَان هم وي لکه تُخم پَاشَل چي په دي کي دتُخم نُقصَان دئ.او دُوَم کار داسي دئ چي په هغه کي څَه نُقصَان نَه وي لکه يَوې کولو يا شِيلِيَارَه کولو کي د پَيسُو نُقصَان نسته.نو قاعده داده چي په کوم کار کي دپَيسُونُقصَان وي پر هغه کار باندې حَاکِم نَه سي مجبوره کولائي.ځکه چي په دې اِجبَار کي دکارکونکي نُقصَان هم دئ.نوځکه چي تُخم نَه وَکَرِي نوحَاکِم ئې دتُخم پرکَرَلُو نَه سي مجبوره کولائي.که څَه هم چي عُذر نَه وي نو د وعدې مُطَابِق تُخم کَرَل په کار دئ .

[۱۷۱۴](۱۶) وَاِن اِمتَنَعَ اَ لّذِي لَيسَ مِن قِبَلِهِ البَذرُ اَجبَرَهُ الحَاکِمُ عَلْـي العَمَلِ [۱۷۱۵](۱۷) وَ اِذَا مَا تَ اَحَدُ المُتَعَاقِدَينِ بَطَلَتِ المَزَارَعَةُ .

[۱۷۱۴](۱۶) او که هغه سړئ دکار څخه منع سوچي دهغه لخوا تُخم نَه ؤ نوحَاکِم به هغه پرکار کولو مجبوره کوي .

وجه : ځکه چي دده په کارکولو کي نُقصَان نسته نوځکه حَاکِم به دئ پرکارکولو مجبوره کوي .

پام لرنه : البته که په کار کولو کي يَوسَخت عُذر وي چي دهغه په وجه مَزَارَعَت فَسخ کولائي سي نوبيا به حَاکِم نَه مجبوره کوي اومزارعت به فَسخ کوي ځکه چي دئ شَدِيد عُذر لري .

[۱۷۱۵](۱۷) که دمُتَعَاقِدَينُ څخه يو مَړسي نو مزارعت به بَاطِل سي .

وجه : (۱) مخکي څو واره تېرسوئ دئ چي عُقُود ټوله دمُتَعَاقِدَينُ سره تَعَلّق لري. و وَارِثَانُ ته نَه مُنتَقِل کيږي.نوځکه چي دعَاقِدَينُ څخه هسي يَووَفَات سي نوهغه عَقد بَاطِلېږي.او وَارِثَان هغه نَه سي بَحَالَه ساتلائي (۲) حديث تېرسوئ دئ ,,اِذَا مَاتَ الاِنسَانُ اِنقَطَعَ عَمَلُهُ اِلاّ مِن ثَلْثٍ,, چي انسان مَړسي نو دده عَمَل مُنقَطَع کيږي مَاسِوَائ د درو کار.نوځکه دمځکي دمَالِک يا دکاريګَر هسي ديوه دمرګه په وجه عَقدِمَزَارَعَت بَاطِلېږي .

[۱۷۱۶](۱۸) وَاِذَا اِنقَضَت مُدّةُ المَزَارَعَةِ وَالزّرعُ لَم يُدرَک کَانَ عَلْي المَزَارِعِ اَجرُ مِثلِ نَصِيبِهِ مِنَ الاَرضِ اِلْي اَن يَستَحصِدَهُ .

[۱۷۱۶](۱۸) که دمَزَارَعَت مُدَه ختم سي او کَښت لا نَه وي پَخسَوئ نو پر کَښتګوُنکِي باندي دمځکي دخپلي حِصّې اُجرَتِ مِثل لازميږي دکَښت د کاټېدو تروخته پوري .

تشريح : مثلاً کَښت ئې د دُرُو مياشتو لپاره په زَرَاعَت اخستئ وُ.په هغه کې وُرِيجِي وَکَرَلي لېکن په درې مياشتي کي وُرِيجِي نَه سوې پَخې.ترپخېدو پورې يَوَه مياشته نوره پاته ده.نو د درو مياشتو په پوره کېدو سره دمَزَارَعَت مُدَت ختم سو او ګواکه عَقدختم سو.لېکن دکَچَه کَښت په پرېکېدو کي د دواړو نُقصَان دئ نوځکه وُرِيجِي به يَوَه مياشته نور په کَښت کي پرېږ دي.او دکَښتګَرچي څونه حِصّه ده دهغه دحِصّې مُطَابِق ديوې مياشتي اُجرَتِ مِثل پر ده لازم دئ.مثلاً مَزَارَعَت په نِيمَئ نِيمَئ سره مُقَرّر سوئ وُ نوپر کَښتګَر به ديوې مياشتي د اُجرَتِ مِثل نِيمَئ لازم سي .

وجه : (۱) په دې صورت کي دمځکي دمَالِک هم فائده ده چي يوه مياشته مځکه اِستِعمَال کړه نو ديوې مياشتي اُجرَتِ مِثل ورته ملاؤ سو او دکَښتګَرهم فائده ده چي وده ته نِيمَئ غَلّه ملاؤسوه (۲) دکَښت د پرېکېدو وخت تَقرِيبًا معلوم دئ چي په نژدې زمان کي يعني په دُوې درې مياشتي کي کَښت پرېکيږي نوځکه ده ته به نور څَه مُهلَت ورکوي او په دې صورت کي به د,,صَفقَة فِي صَفقَةٍ,, قاعدې په رُونَا کي اُجرَت نَه فاسدوُ .

لُغَت : لَم يُدرِک : کَښت پَخسَوَئ نَه دئ. دَرَکٌ : مُوندَل. يَستَصحِدُ : دحَصَدٌ څخه مُشتَق دئ.کَښت پرېکول .

[۱۷۱۷](۱۹) وَالنّفَقَـةُ عَلْـي الـزّرع عَلَيهِمَـا عَلْـي مِقـدَارِ حُقُوقِهِمَـا
[۱۷۱۸](۲۰) وَاُجـرَةُ الحَصّـادِ وَالـدِّيَاسِ وَالرِّفَـاعِ وَالتّذرِيَـةِ عَلَيهِمَـا بِالحِصَصِ فَاِن شَرَطَاهُ فِي المَزَارَعَةِ عَلْي العَامِلِ فَسَدَت .

[۱۷۱۷](۱۹) او دگَښت خَرچَه پر دواړو ده د دُوَاړُو دحقوقُ په اندازه .

تشريح : دمَزَارَعَت مُدَت ختم سونوعَقد مُکمّل سو نو پر کَښتګَر بانـدي کـار کـول لازم نَه سوپاته اُوس چي هرڅَه خَرچَه کيږي هغـه بـه دمځکـي پرمَالِـک او کَښـتګَر دواړو بانـدي لازم وي.اُوس کـه دُوَاړَه پـه نِيمَـئ نِيمَـئ حِصّـه دَارَه وي نوخَرچَـه بـه هـم پـر دواړونِيمَئ نِيمَئ لازم وي.او که په يَوَه دَرَيَمَه او دُوېِ دَرَيَمِي سره حِصّـه دَارَه وي نـو چي کوم څوک په يَوَه دَرَيَمَه حِصّه دَارَه دئ پر هغه بـه يَـوَه دَرَيَمَـه خَرچَـه لازم وي او کوم څوک چي دُوېِ دَرَيَمِي حِصّه لري پر هغه به دُوېِ دَرَيَمِي خَرچَه لازم وي .

[۱۷۱۸](۲۰) او دگَښت دپرېکولو او د غُوبَل کولو او گَودُو رَاپُورتـه کولـو او د غَلّـې دصفا کولو اُجرَت پر دواړو دئ دحِصّـې مُطَابِق.نوکه په مَزَارَعَت کـي پـر کـارکونکي باندي شرط ولګاوئ نو مَزَارَعَت فاسديږي .

تشريح : اصل قاعده خو داده چي دگَښت تـر پخېـدو پـوري مَزَارَعَت بَرقَـرَارَه دئ.نـو ځکـه پـر عَامِـل او کَښـتګَرباندي کـار کـول لازم دئ.او دگَښـت دپخېـدو وروسـته بـه مَزَارَعَت ختم سي.نوځکه اُوس د دُوَاړُو حِصّـې سته.نوځکه پر هـر يَـوَه بانـدي دخپلـي خپلي حِصّې مُطَابِق اُجرت لازم دئ.مثلاً کَښـت پرېکـول.پرکښـت بانـدي غُوبَـل يعنـي مَيدَه کول.غَلّه صَفَا کول دا ټوله کارونه به دگَښت د پخېدو وروسـته وي.نوځکـه دواړه به دا کارونه کوي يا به دواړه اُجرَت اداٰء کوي.ځکه چي د دواړو حِصّې پکښي دي .

اُصُول : ددې مسئلې تعلق ددې سره دئ چـي دگَښـت دپخېـدو وروسـته عَقدِمَزَارَعَت ختميږي.نوځکه د پاته کارو ذِمّه دَارِي پر دُوَاړُو ده.او که ددې کـارو کولـو شـرط پـر عَامِل ولګوي نومَزَارَعَت فاسد ګرزي .

وجـه : دگَښـت دپخېـدو وروسـته مَزَارَعَـت ختـم سـو.اُوس چـي کـوم کارونـه دي هغـه دعَامِل پرذِمّه دي.نوځکه چي پرعَامِل شـرط ولګـوي نومَزَارَعَـت فاسـديږي.ځکه چـي ,,صَـفقَةَ فِـي صَـفقةٍ,, لازميـږي. يعنــي دمَزَارَعَـت سـره داُجـرَت معاملـه هـم داخلـه سوه.نوځکه مَزَارَعَت به فاسد سي .

فائده : امام ابويوسف فرمائي چي که په عُرف کي وي چـي دگَښـت د پخېـدو وروسـته فُلاَنَئ فُلاَنَئ کار دعَامِل پر ذِمّه وي او پر عَامِل باندې ددې کارو دکولو شرط ولګاوئ

نو په دې باندې مَزَارَعَت نَه فاسدېږي.لکه د چَمړې پرمَالِک ئې دچَوَڼُو جوړولو شرط ولګاوئ نودا دعُرف په وجه جائز دئ.دغه رنګه دلته به هم مَزَارَعَت جواز پَيدَا کې .

اُصُول : دده په نيز دادئ چې په عُرف کې کوم کارونه کيږي هغه مُعتَبَردي.او دهغه کارو ذِمّه دَارِي به پر عَامِل وي .

لُغَت : اَلحَصّادُ : کَبنت پرېکول. اَلدِّيَاسُ : غُوبَل کول. اَلرِّفَاعُ : غَلّه يَوځائ کول.او ډاګ ته رَاوړَل. اَلتّذرِيَةُ : غَلّه په هوا دُړَوَل او صَفَا کول .

اَبُوالحُسَين عبدالمتين
قُطب
عفي عنه وعن والديه

..... كِتَابُ المَسَاقَا ةِ◌ .....

[١٧١٩](١) قَالَ اَبُوحَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰي اَلمَسَاقَاةُ بِجُزءٍ مِنَ الثَّمَرَةِ بَاطِلَةٌ .

..... كِتَابُ المَسَاقَا ةِ◌ .....

ضروري پام لرنه : دمَسَاقَاة معنٰي ده په اُوبُو اُوبَوَل.دلته مطلب دادئ چې دمېوې درختي لګېدلي وي هغه ته اُوبَه ورکړي او په دُرُو مياشتو کې چې کومه مېوه رَاوَوزِي هغه مېوه د درختي دمَالِک او د اُوبَه ورکونکي او دهغه لپاره کار کونکي يعني عَامِل تر مينځ دخپلي خپلي حِصّې په اندازه تقسيم کړي.ددې څخه مخکي باب کې دکَبنت او په کَبنتګرَئ کې دشِرکَت مسئلې وې او په دې باب کې دمېوې دشِرکَت مسئلې دي ددې دجواز او عَدمِ جواز په سلسله کې.د امام ابوحنيفه او صاحبين ترمينځ هغه اِختِلاَف دئ کوم چې په كِتَابُ المزَارَعَة کې تيرسو او د دواړو دلائل هغه دي کوم چې په كِتَابُ المَزَارَعَة کې تيرسو .

[١٧١٩](١) امام ابوحنيفه وفرمائل چې دځَه مېوې په ورکولوسرهمَسَاقَاة بَاطِل دئ.

تشريح : يَو صورت دادئ چې اُوبَوُنکې اُوبَه کړي او هغه ته داُجرَت دِينَار يا دِرهَم ورکړي يا څَه پرې کړې مېوه ورکړي نو دا جائز دئ.او دوم صورت دادئ چې د اُوبَوُلُو په نتيجه کې چې په درخته کې کومه مېوه رَا پَيدَا کيږي په هغه کې دَرَيَمَه يا څلورمه ورکړي نو دا صورت د امام ابوحنيفه په نيز دمَزَارَعَت په شان بَاطِل دئ (مخته تير سو چې مَکرُوه دئ) وجه:حديث مخته تېرسوئ دئ زَعَمَ ثَابِتٌ اَنّ رَسُولَ اللهِ ﷺ نَهْي عَنِ المَزَارَعَةِ وَاَمَرَ بِالمُوَاجَرَةِ وَقَالَ لاَبَأسَ بِهَا (الف) (مُسلم شريف.باب في المزارعة والمواجرة ص١٠نمبر١٥٤٩)

حاشيه : (الف) حضور دمَزَارَعَت څخه منع وکړه او د اُجرَت حُکم ئې ورکړئ او وفرمائل چي په دي کـي هـيڅ د حرج خبره نسته .

[۱۷۲۰](۲) وَقَالاَ جَائِزَةٌ اِذَا ذُكِرَا مُدّةً مَعلُومَةً وَسَمّيَا جُزءً مِنَ الثّمَـرَةِ مَشَاعًا .

ددې حديث څخه معلوم سوچي دمَزَارَعَت او مَسَـاقَاة څخـه حضـور ﷺ منـع کـړې ده. او د ابوداؤدشريف په حديث کي دئ عَن جَابِرِ بِنِ عَبدِاللهِ قَالَ سَمِعتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ مَن لَـم يَـذَرِ المَخَـابَرَةَ فَليُـؤذِن بِحَـربٍ مِـنَ اللهِ وَرَسُـولِهِ (الـف) (ابوداؤدشـريف. بـاب المخـابرة نمبر۳۴۰۶) او ددې څخه مخکي حديث کي دئ عَن زَيدِبنِ ثَابِتٍ قَالَ نَهٰي رَسُولُ اللهِ ﷺ عَنِ المَخَـابَرَةِ قُلـتُ وَمَـا المَخَـابَرَةَ؟ قَـالَ اَن تَأخُـذَ الاَرضَ بِنِصـفٍ اَو ثُلُـثٍ اَو رُبُـعٍ (ب) (ابوداؤدشريف.باب المخابرة ص۱۲۷نمبر۳۴۰۷) ددې حديث څخه معلوم سوچي حضـور دمَخَابَرې څخه په ډېر شِدّت سره مَنعَ کـړې ده. او دمَخَـابَرې مطلـب دادئ چـي دګښـت پـه نِيمَئ.دَرَيمَه او څلورمه حِصّه بانـدي مځکـه ونيسـي.که د ګښـتګرَئ لپـاره وي کـه دمَسَـاقَاة لپاره وي .

[۱۷۲۰](۲) او صاحبين فرمائي چي جـائزدئ چـي معلـوم مُـدّت ذِکرکړئ او دواړه د مېوې څَه حِصّه په ګَدَه سره مُتَعَيّنَه کړي .

تشريح : صاحبين فرمائي چي په دُوُ شرطوسره مَسَاقاة جائز دئ.يَو خو دا چي دمَسَاقاة مُدَت مَعلُوم وي چي د څو مياشتو لپاره درخته دمَسَاقاة لپاره اَخلِي؟ او دُوَم دا چي کومه مېوه پَيـدَا سوه په هغه کي دواړه په ګډه توګه حِصّه دَارَه وي.د يَوَه لپاره يَو خاص مِقدَار معلوم نَه وي .

وجه : د دواړوشرطودلائل په کتاب المزارعة کي تېرسُو.د جـواز دليـل ئـې دا حـديث دئ اَنّ عَبدَاللهِ بِنِ عُمَرَاَخبَرَهُ اَنّ النّبِيّ عَامَلَ خَيبَرَبِشَطرِمَايَخرُجُ مِنهَا مِن ثَمَرٍ اَوزَرعٍ (ج) (بخـاري شريف.باب المزارعة بالشطرونحوه ص۳۱۳نمبر۲۳۲۸/مُسلم شريف.باب

حاشيه : (الف) مَا دحضور څخه وَاؤربدَل چي ده وفرمائل چي څوک مَخَابَرَه يعني ګښتګرِي نَه پرېږ. دي وهغو ته دالله او د الله د رسول لجانبه د جَنګ اِعلاَن وَګه (ب) حضـور دمَخَـابَرې څخـه منـع وکـړه. مَـا پوښـتنه څينـي وکړه چي مَخَابَرَه چِش دئ؟ وفرمائل چي مځکه په نِيمَئ يا دَرَيمَه يـا څلورمـه د ګښـتګرَئ لپـاره ورکـړي . (ج) حضورخَيبَر په ګښتګرِي ورکړئ دنِيمَئ حِصّي په بدله کي کوم چي دمځکي څخه مېوَهياغَلّه پيداسي .

[۱۷۲۱](۳) وَ تَجُوزُ المَسَاقَاةُ فِي النّخلِ وَالشّجَرَةِ وَالكَـرمِ وَ الرِّطَـابِ وَ اُصُـولِ البَاذَنجَـانِ [۱۷۲۲](۴) فَـاِن دَفَـعَ نَخـلاً فِيـهِ ثَمَـرَةٌ مَسَـاقَاةً وَالثّمَرَةُ تَزِيدُ بِالعَمَلِ جَازَ وَ اِن كَانَت قَد اِنتَهَت لَم يَجزِ .

المساقاة والمعاملة بجزء من الثمروالزرع ص۱۴نمبر۵۱۵۱/ابوداؤدشريف.باب في المسـاقاة ص۱۲۸نمبر۳۴۰۸) ددې حديث څخه معلوم سوچي مَسَاقاة جائز دئ .

[۱۷۲۱](۳) مساقاة جائز دئ د خُورمَا په درخته کي.په درختـه کي.پـه اَنګُور کـي پـه تَرکَارَيُو کي او په بَانجَڼُو کي .

تشريح : كومه درخته چي مېوه يا تَركَارَئ كوي په هغه ټولوكي مَسَاقاة جائزدئ .

وجه : (۱) په تېر حديث كي د ,,مِن ثَمَرٍ اَو زَرعٍ,, لَفظ راغلئ دئ چي ومېوه او تَركَارِي دوارو ته شامل دئ.نوځكه په مېوُو او تَركَارَيُو ټولوكي مَسَاقاة جائزدئ (۲) يَوبَل حديث دئ عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّ رَسُولَ اللهِ ﷺ اَعطْي اَلخَيبَرَ اَليَهُودَ عَلْي اَن يَعمَلُوهَا وَ يَزرَعُوهَا وَلَهُم شَطرُ مَا يَخرُجُ مِنهَا (الف) (بخاري شريف.باب المزارعة مع اليهود ص۳۱۳ نمبر۲۳۳۱/مُسلم شريف.باب المساقاة والمعاملة بجزءمن الثمر و الزرع ص۱۴ نمبر۱۵۵۱) په دې حديث كي دئ چي هرځَه يهود وَكَرِي په هغه كي به نِيمَئ وحضور ته وركوي.ددې څخه معلوم سوچي دخُورمَا په درخته كي.په عَامّه درخته كي.د انګورو په تَاک كي.په تَركَارَيُو او بَانجَنُو ټولو كي مَسَاقاة جائز دئ (۳) هسي خو هم په هرشِي كي دمَسَاقاة ضرورت سته نوځكه په هر ډَوَل درختوكي به مَسَاقاة جائز وي .

لُغَت : اَلكَرمُ : د اَنګُورُوتَاک. اَلرّطَابُ : د ,,رَطبَةٌ,, جمع ده تَركَارَئ. بَاذَنجَانُ : بَانجَڼ. او د,, اُصُولُ البَاذَنجَان,, معنْي ده د بَانجَڼُو بُوټَئ .

[۱۷۲۲](۴) او كه دخُورمَا درخته يا مېوه دمَسَاقاة لپاره وركړه اومېوه دعَمَل كولوڅخه زياتېدائي سول نوجائزدئ.اوكه زياتېدل پوره سوئ وُ نوجواز نَه لري .

حاشيه : (الف) حضور و يَهُود ته خَيبَر وركړئ په دې شرط چي دُوئي به كار كوي او په هغه كي به كَښتګَرِي كوي.او چي څَه پَيدَاوَار دئ په هغه كي به د دُوئي لپاره څَه حِصّه وي .

[۱۷۲۳](۵) وَ اِذَا فَسَدَتِ المَسَاقَا ةُ فَلِلعَامِلِ اَجرُ مِثلِهِ .

تشريح : په درخته كي مېوه راغلې وه لېكن په داسي حال كي وه چي كه هغه اُوبَه كړل سي او سَاتَنَه رُوزَنَه وسي نو هغه مېوه د زياتېدو اِمكَان لري.نوبيا خو په مَسَاقاة وركول جائزده.او كه چيري دمېوې زِيَاتِېدَل پوره سوئ وُ.په اُوبَوُلُو سره اُوس نوره نَه زياتيږي په داسي حال كي په مَسَاقاة وركول جواز نَه لري.اُوس چي عَامِل هر څَه عَمَل وكړي هغه به په اُجرَت شمار وي.

وجه : په مَسَاقاة كي د اُوبَوُلُو څخه عَامِل دمېوې حقداره وي.اواُوبَوَل هغه وخت شمېرل كيږي چي په هغه باندي مېوه زياته سي.او چي كله د اُوبَوُلوڅخه مېوه نَه زياتيږي نو دا بيا مَسَاقاة نَه دئ اُجرَت دئ.نوځكه كه چيري داُوبَوُلوڅخه مېوه زياته سي نو مَسَاقاة دئ اوكه مېوه نَه سي زياته بيا اُجرَت دئ.اودمېوې څخه به هيڅ حِصّه نَه ورته ملاوئيږي .

اُصُول : دا مسئله پر دې اُصُول ده چي دمَسَاقاة معنْي ده اُوبَوَل.نوځكه پردغه حقيقت به مسئله مُتَفَرّع وي .

لُغَت : اِنتَهَت : پوره سوه .

[۱۷۲۳](۵) كه مَسَاقاة فاسد سي نو دعَامِل لپاره به اُجرَتِ مِثل وي .

تشريح : هسي په يَو وجه دمَسَاقاة معامله فاسده سي.نوټوله مېوه به د درختي دمَالِک وي او وعَامِل ته به اُجرَتِ مِثل ملاوئيږي .

وجه : (۱) لکه څَه رنګه د مزارَعَت دفاسدېدو پـه وخـت کـي ټولـه غَلّـه دتُخـم والا وه دغه رنګه دمَسَاقاة د فاسدېدو په وخت کي به مېوه او غَلّـه د درختـي دمَالِـک وي (۲) حديث مخته تېرسـوئ دئ (۳) دمېـوې دپَيدَاکېـدو بُنيَـاد درختـه ده لکـه څَـه رنګـه چـي دغَلّي دپَيدَاکېدُو بُنيَاد تُخم دئ.نوځکه مېوه به د درختي دمَالِک وي.اوچي مېوه درختي دمَالِک سوه نو عَامِل خو هَم په مُفت کي کار نَه کوي بلکه ده ته به هغه

[۱۷۲۴] (۶) وَتَبطُلُ المَسَاقَاةُ بِـالمَوتِ [۱۷۲۵](۷) وَتَفسُـخُ بِالاَعـذَارِ كَمَا تَفسُخُ الاِجَارَةُ .

أُجـرَت ملاؤيـړي كـوم چـي پـه بَـازَار كـي ملاؤېـدلائي سـي.چي أُجـرَتِ مِثـل ورتـه وائي.دلائل ټوله په کتاب المزارعة کي تېرسوي دي .

[۱۷۲۴](۶) مَسَاقاة دمَرګېدو څخه بَاطِلېږي .

تشريح : لکه څَه رنګه چي نور عَقدُونَه دمُتَعَاقِدَين څخه ديَوَه پـه مـرګ بـاطلېږي دغـه رنګه مَسَاقاة هم د درختي دمَالِک يا دعَامِل په مرګ سره بَاطِلېږي او و وَارِثَانُ تـه نَـه مُنتَقِل کيږي .

وجه : په کتاب المزارعة کې وجه تېره سوې ده .

پام لرنه : که مېوه و پَخِېدُو ته نژدې وه نو وَارِثَان دي د مېوې تر پَخېـدُوپوري مَسَـاقاة بحاله وَسَاتِي.چي د درختي ومَالِک يا عَامِل ته نُقصَـان نَـه وي او چـي مېـوه پَخَـه سـي بيادې پري کړي.دمُتَعَاقِدَينُ څخه ديَوَه دمرګ باوجود دي مَعَامَلَه پـه مينځ کـي نَـه ختم کوي په دغه کي د دُوَاړُو فائده ده .

[۱۷۲۵](۷) او مَسَاقاة د عُذر په وجه فَسخ کيږي لکه اِجَارَه چي فَسخ کيږي .

تشريح : په کِتَابُ الاِجَارَه کي تيرسو چي دشَدِيد عُذر پـه وجـه اِجَـارَه فَسخ کـولائي سي.دغه رنګه چي شَدِيد عُذر وي نو مَسَاقاة هم فَسخ کولائي سـي.مثلاً عَامِـل غَـل وي يا عَامِل ناجوړه (يعني بيمار) سو نومَسَاقاة فَسخ کولائي سي که نَه نو د شَـدِيد ضَـرَر خَطرَه ده .

تمّت بِحَمدِ اللهِ

يوم الاثنين اَلخَامِس عَشَرَمن شهرذي قعدة سنة ۱۴۳۱ اَلهِجرِيّةِ من هجرة سَيّدالمرسلين
المُطَابِق لخمس وعشرين من شهر أُكتُوبَر ۲۰۱۰ من العيسوية وهووَلِيّ التّوفِيق

﴿ ... فهرستِ مضامين الشرح الثميري ... ﴾

نمبرشمار عنوانات
صفحه نمبر

١ د الشرح الثميري خصوصيات ١
٢ كتاب البيوع ٢
٣ باب خيارالشرط ٣٦
٤ باب خيارالرؤية ٤٦
٥ باب خيارالعيب ٥٦
٦ باب بيع الفاسد ٧١
٧ حكم البيع الفاسد ٩٢
٨ باب الاقالة ١٠٤
٩ باب المرابحة والتولية ١٠٨
١٠ باب الربوا ١٢٤
١١ باب السلم ١٤٧
١٢ باب الصرف ١٧٢
١٣ كتاب الرهن ١٩٤
١٤ كتاب الحجر ٢٣٢
١٥ كتاب الاقرار ٢٧٠
١٦ د استثنآء حكمونه ٢٧٩

١٧ ــــــ كتاب الاجارة ٣١٢
١٨ ــــــ كتاب الشفعة ٣٨٦
١٩ ــــــ كتاب الشركة ٤٣٤
٢٠ ــــــ كتاب المضاربة ٤٦٣
٢١ ــــــ كتاب الوكالة ٤٨٦
٢٢ ــــــ كتاب الكفالة ٥٢٨
٢٣ ــــــ كتاب الحوالة ٥٥٩
٢٤ ــــــ كتاب الصلح ٥٦٨
٢٥ ــــــ كتاب الهبة ٥٩٧
٢٦ ــــــ د عُمرْي بيان ٦٢٢
٢٧ ــــــ د صدقي بيان ٦٢٥
٢٨ ــــــ كتاب الوقف ٦٣٠
٢٩ ــــــ كتاب الغصب ٦٥١
٣٠ ــــــ كتاب الوديعة ٦٧٤
٣١ ــــــ كتاب العارية ٦٨٧
٣٢ ــــــ كتاب اللقيط ٦٩٧

٣٣ ـــــ كتاب اللقطة ٧٠٤
٣٤ ـــــ كتاب الخنثْي ٧١٩
٣٥ ـــــ كتاب المفقود ٧٣١
٣٦ ـــــ كتاب الاباق ٧٣٦
٣٧ ـــــ كتاب احياء الموات ٧٤٠
٣٨ ـــــ كتاب المأذون ٧٥١
٣٩ ـــــ كتاب المزارعة ٧٥١
٤٠ ـــــ كتاب المساقاة ٧٨٢

الشرح الثميري

..... علْي المختصرللقدوري .....

د احاديثو عظيم ذخيره

..... شارح .....

حضرت مولاناثميرالدين قاسمي صاحب دامت بركاتهم

مترجم

حضرت مولاناعبدالمتین قُطب

الجزء الثاني

ازکتاب البیوع تا کتاب المساقاة

(ناشر)

مکتبه رشیدیه سرکي روډ کوټه

دکتاب پېژندنه

موضوع : .... علم فقه
دکتاب نوم.. الشرح الثمیري جلد دوم
شارح : .... مولانا ثمیرالدین قاسمي صاحب
مترجم : .... مولانا عبدالمتین قُطب
پېشکش : .... مکتبه اسحاقیه احمد شاه ابدالي روډمحمودآباد کوئټه
کمپوز : .... قُطب کمپوزر اداره
اهتمام : .... مولانا خالد محمود
ناشر : .... مکتبه رشیدیه سرکي روډکوئټه
تعداد : .... زر(۱۰۰۰)ټوکه
ضخامت : ....۷۸۶ صفحه
تاریخ اشاعت : .... محرم الحرام ۱۴۳۲ هجري\مطابق جنوري ۲۰۱۱عیسوي
قیمت او بیه : .... ۲۸۰ کلداري

... د پیدا کېدو پتې ...

مکتبه رشیدیه سرکي رود کوئټه

مکتبه طیبه کانسي روډ کوئټه

مکتبه عُمریه کانسي روډ کوئټه

مکتبه اسلامیه میزان مارکیټ کوئټه

مکتبه حبیبیه کانسي روډ کوئټه

مکتبه اسلامیه کانسي روډ کوئټه

مکتبه حقانیه ملانعمت الله اخُوندکوئټه

مکتبه حاجي ملا فیدامحمدځنګل بازار

مکتبه اسحاقیه محمود آباد کوئټه

مکتبه قاسمیه کانسي روډ کوئټه

تاج کتب خانه پښین بازار

مکتبه علوم دینیه کانسي روډ کوئټه

مکتبه حقانیه کانسي روډ کوئټه

مکتبه رحمانیه کانسي روډ کوئټه

مکتبه نُعمانیه حزب الله اخوندکوئټه

مکتبه وَلِیّه کوځه نمبر۱۳ پښتون آباد کوئټه

تسيبا

تمّت بِحَمدِ اللهِ
اَبُوالحُسَين قُطب عفي عنه وعن والديه

♍
❀“

👌 ✉✉♌○<■ ☠

❑♦⌂◆فِ

“✉♏📖📖📖📖📖📖📖📖☼✏✉”

✍✂✍✏✈⌖✏☜

⌖اَبُوالحُسَين قُطب عفي عنه وعن والديه